

فتح الرحمن
في
ترجمة القرآن و تفسير الفرقان

مکتبہ

جامعہ تعلیم القرآن

توحید آباد ترخو
باجوڑ

★ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۔ خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۔ (سورۃ الرحمٰن)
★ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ۔ (سورۃ بنی اسرائیل)
★ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ۔ (سورۃ فرقان)

فتح الرحمٰن

فی

ترجمۃ القرآن و تفسیر الفرقان

لاحقر عباد اللہ الباری محمد عبد الجبار الباجوری

غفرلہ ولوالدیہ ولمشائخہ ولاھل بیتہ ولجمیع المؤمنین
والمؤمنات الاحیاء والاموات

جلد دوم

جامعہ دار العلوم تعلیم القرآن ترخو آباد ترخو باجوڑ ایجنسی

نـــوم : فتح الرحمٰن
فی ترجمة القرآن وتفسیر الفرقان

مصنف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد عبدالجبار حفظه الله تعالی
مدیر: جامعه تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی

زیراهتمام : ابو حسان عبدالسبحان " ظهیر"
خادم درس وافتاء جامعة هذه 0301-4054855

تـعـداد : ۲۲۰۰

پریس : الهدیٰ پرنټرز محله جنګی پیښور 2580182

چـاپ : طبع هشتم

میلاؤ یدو پتې

- الهدیٰ پرنټرز ندیم ټریډ سنټر محله جنګی پیښور
- مکتبة الزبیر پنج پیر صوابی
- اشاعت اکیډمی محله جنګی پیښور
- مکتبة الاشاعت محله جنګی پیښور
- مرکزی کتب خانه لغړئ بازار باجوړ ایجنسی
- مکتبه رحیمیه خار باجوړ ایجنسی
- اسلامی کتب خانه خار باجوړ ایجنسی
- مکتبة الخیر عنایت کلي باجوړ ایجنسی
- مکتبه زاهد الرحمن پنج پیر صوابی

ناشر

مکتبه جامعه تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ

فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا : هغوی نه او منل د اهل د کلي نه ، پس هغوی انکار اوکړو د میلمستیا نه ورکولو نه - حضرت شاه پورشیخ رحمه الله فرمائي معلومه شوه چه هغوی ضرورت وو نو سوال جائز دے. (افضل التراجم ص) تر کښي

قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ

ووئیل هغه آیا نه وو ویلي ما تا ته یقیناً ته هیچیرے طاقت نلرے

مَعِيَ صَبْرًا ۝٧٥ قَالَ إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ

ما سره د صبر کولو. ووئیل موسیٰ که چرته سوال وکړو ما تا نه د هغه شي په باره کښي

بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي ۖ قَدْ بَلَغْتَ مِن

پس د دے نه ، پس مه ملګرے کوه ما لره ، یقیناً رسیدلے یے ته ، د طرف

لَّدُنِّي عُذْرًا ۝٧٦ فَانطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا أَتَيَا

زما نه عذرته. پس تلل دوا ره ، تر دے چه راغلل دوا ره

أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَن

اهل د یو کلي ته ، نو خوراک ئے وغوښتلو د اهل د هغه نه ، پس انکار وکړو هغوی د

يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَن

میلمستیا د دوا ره نه ، پس وموندلو دوی په هغه کښي یو دیوال چه نزدے وو چه

يَنقَضَّ فَأَقَامَهُ ۖ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ

پریوځي پس نیغ کړو هغه ، ووئیل موسیٰ که چرے خوښه وے تا نو اخستے به وو دے

عَلَيْهِ أَجْرًا ۝٧٧ قَالَ هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَ

په دے باندے مزدوري. ووئیل هغه ، دا جدائي ده په ما او

بَيْنِكَ ۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِع

ستا مینځ کښي ، زر دے چه خبر به کړم تا په معنیٰ (حقیقت) د هغه چه طاقت نلرے

عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝٧٨ أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ

په هغه باندے د صبر کولو. هرچه کشتۍ ده ، پس ده

لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ فَأَرَدتُّ أَنْ

د مسکینانو چه مزدوري کوي په دریاب کښي ، پس اراده وکړه ما چه

أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ

عیب ناکه کړم هغه لره ، او وو د دوی نه وړاندے یو بادشاه چه نیسي هر یو

رحمه الله فرمائي ، په دے آیت کښي دلیل دے په خوښتلو د روزئ باندے (ایڅلي) سورت قصص کښي ذکر دي چه الله تعالیٰ نه سوال د کړو ، او د شعیب د لورنو نه ئے طلب ګڼه ملتجا نه د وو نو په عزیمت ئے عمل اوکړو او وخت مکړے درسره د وو نو په رخصت ئے عمل وکړو. سیوطی رحمه الله په الاشباه والنظائر کښي او آلوسی رحمه الله په روح المعاني کښي لیکلي دي او د شاه پور شیخ رحمه الله افضل التراجم ص او نشر المرجان ص کښي لیکلي دي چه استطعام وظیفه د سائل ده او ضیافت کاره د کوربه دے یعني واجب پرده دے - فائده: بنده نا چیزه پنځرو یه ماخذ (۱) کښي مرقی لیکلي دي چه د غم زدو دپاره د خوراک انتظام - امام ترمذي رحمه الله باب ترلیکلے دے چه باب ما جاء في ما یصنعه کښي چه د اهل میت دپاره د طعام کښي چه تیار کړے شي د مړي والو دپاره - د عبد الله بن جعفر رضی الله عنه نه روایت دے چه کله د جعفر رضی الله عنه د مرګ خبر راغے نبي صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: اصنعوا لآل جعفر طعاماً فانه قد جاءهم ما یشغلهم (ترمذي ص ابو داؤد ص مشکوٰة ص) - فائده: په دے حدیث پاک باندے فقهاء کرامو او محدثینو عظامو لیکلي دي چه خپلوانو او ګاونډیانو دپاره ښکاره دی چه د غم ځپلو د پاره تیار راولو خوراک انتظام وکړي - د نور تفصیل دپاره ملاحظه (۱) او رد بدعات ص کښي بیله شرکي ده - د مړي والو نه د طعام پخولو بندیز کله شرعه وي کله

دریمه کله جمعه وي او کله تیلي ۲ سنن ابن ماجه ص کښي د جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے ، کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة ، یعنی تقریباً شلو پورے ډکنا یو خواله دی د دے په منعه والي باندے - بیا د ملک نه ترمنځ پورے د عاصم بن کلیب د روایت نه (او د اره) جوابونه د کړشي بېشي. هغه ئے ګرځي:

هغه الرزاق، او ابتدائي دوه خضر او ستاسو مابين كښي. پښتانه والي په دويم غلط ريشتيا کيږي. يا خضر عليه السلام د وريو ابوه نا آشنا کارونو مواد نه دركوي. **لطيفه**: بعض مفسرينو اشاره کړې ده چه موسى عليه السلام خپله تيرشوي

سَفِينَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ

(ټوله) کشتۍ په زور سره. او هر چه هلک دی نو وو پس مور او پلار د هغه

مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَ

مؤمنان، پس ويره وکړه مونږ چه اوبه غورځوي دوی لره په زور سره سرکشۍ او

كُفْرًا ﴿٨٠﴾ فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا

کفر کښې، پس اراده وکړه مونږ چه بدل به کړي دوی لره رب د دوی، غوره

مِنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا الْجِدَارُ

د دۀ نه په پاکۍ کښې او ډير نژدې په رحم ولو کښې. او هر چه ديوال وو،

فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَ

پس وو د دوو هلکانو يتيمانو، په ښار کښې، او

كَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا

وو لاندې د هغه خزانه د دوی، او وو پلار د دوی نيک سړې،

فَأَرَادَ رَبُّكَ أَنْ يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا

پس اراده وکړه رب ستا چه اورسيږي دواړه ځوانۍ خپلې ته او راوباسي

كَنْزَهُمَا رَحْمَةً مِنْ رَبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُ

خزانه خپله، او دا په رحمت د رب ستا نه، او نه دي کړي ما دا کار،

عَنْ أَمْرِي ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ

د اختيار خپل نه، دا حقيقت د هغه دی، چه طاقت نه لرلو د تا

عَلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾ وَيَسْأَلُونَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ

په هغه صبر کولو. او تپوس کوي درنه، په باره د ذوالقرنين کښې،

قُلْ سَأَتْلُو عَلَيْكُمْ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ

ووايه يقينا بيانوم به تاسو ته بعضې حالات، د هغه نه شه ياد. يقينا مونږ طاقت ورکړې وو هغه ته

فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾

په مځکه کښې، او ورکړي وو مونږ هغه ته د هر شي نه سامان د ضرورت.

منزل ۴

خلاف نو بانو شو، او بيا هم بعضې هغه ډونو اعتراضونه نه کولو سره هغه. دا چه د کشتۍ په کښته سوري کولو کښې دا ونه شو، د عده شو نه عکبيدل د ډوبېدو فرق نه کله چه مونږ په صندوق کښې اچولی ؤ او په دريا کښې اچولی شوی ؤ، او صغاط د قتل د غلام واخوره نکه چه موسى عليه السلام قبطي لره قتل کړې ؤ، او صغاط د جوړولو د ديوال بلا اجورت دا نه وو د کوم حضرت شعيب عليه السلام لونړو له مزدوری اوبه کړې ؤ او بغير د طلب د اجرت نه. (احسن الكلام ۲۶۵/۳)

پيغمبرانه بلاغت او د رعايت ادب يو مثال: اوس د حضرت خضر عليه السلام په کلام باندې غور او کړئ دوی چه کله د کشتۍ د سوري کولو اراده ذکر کړه نو دا چونکه په ظاهر کښې عيب او بدي وه نو د دې اراده ئې خپل طرف ته نسبت وکړه وئے فرمايل اردت، او بيا د هلک د قتلولو اراده چه په دې کښې د ښه اولاد ورکولو ذکر دی نو په کښې قتل خو بدي وه او په بدل کښې ښه اولاد ورکول نيکي وه. د امر مشترک کيدو د وجې نه ئې د لفظ جمع د جمع متکلم وفرمائيله، ارَدْنَا مونږه اراده وکړه، د ديوال د دې په وکښې څو مره ظاهري څيز د هغه فضل طرف ته او چه کوم خير د الله طرف ته منسوب شي په دی ترجمه واقعه کښې په يو ديوال او د دوؤ لسو کښې د يتيمانو مال محفوظ کول سراسر خير خير دے. د دې پوره نسبت ئې حق تعالى طرف ته وکړه او وئے فرمايل فَاَرَادَ رَبُّكَ، پس اراده وکړه رب ستا. (معارف ج۵)

وَيَسْأَلُونَكَ الخ: د دے خائے نه شلورمه حصه ترجمه پوره د سورة کهف شروع په وکښې د دے سفرے د ذوالقرنين رحمه الله د پاره د اشاعت د دين دی. د شاه پور شيخ رحمه الله ليکلی دی دا د شلورم اعتراض جواب دے چه ذوالقرنين لوئے حکومت والا وو نو د دے نه د هم کيږي چه د دے به هم

سره منصرف وي يا به په الله تعالى باندې غالب وي نو باري تعالى جواب کړى چه ما ورله طاقت ورکړے وو په ماذ ورآور نه ؤ او په هر سفر کښې هغه عاجزه شوے ؤو. (الفضل المزاحم ...) شيخ القران رحمه الله فرمائيلي دي چه ذو القرنين
سره د غلبے او حکومت نه برعلاوه د پوهنې او د حقرى نه ... (تسهيل ...) عن ذي القرنين

فَاَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ

پس روان شو په لاره (يو طرف ته) تر دې چه ورسيد ځاى د ډوبيدو د نمر ته،

وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِىْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ

بيا ئے موند نمر ډوبيده په چينې خټو والا کښې، او بيا ئے موند

عِنْدَهَا قَوْمًا ؕ قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّاۤ اَنْ

په خوا د هغې کښې يو قوم لره، ووئيلو مونږ، اے ذو القرنينه! يا خو به

تُعَذِّبَ وَاِمَّاۤ اَنْ تَتَّخِذَ فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ

عذاب ورکوې دوی له او يا به نيولے به دوی کښې ښه معامله، ووئيل هغه

اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى

هغه څوک چه ظلم (شرک) کړى پس زر دے چه عذاب به ورکړو هغه ته، بيا به واپس کړے شي

رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ

رب خپل ته، پس عذاب به ورکړى هغه ته عذاب ناآشنا (سخت). او هغه څوک چه ايمان راوړى

وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨالْحُسْنٰى ۚ وَسَنَقُوْلُ

او عمل کوى نيک، پس د هغه لره بدله د نيکئ ده، او زر دے چه ووايو

لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى

هغه ته د حکم خپل نه اسانى. بيا روان شو په لاره بلې (يو طرف ته) تر دې چه

اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ

او رسيد ځاى د راختلو د نمر ته، بيا ئے موند نمر لره چه راختلو

عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾

په داسے قوم باندې چه نه وو ګرځولے مونږ هغوى لره د نمر نه هيڅ پرده.

كَذٰلِكَ ؕ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾ ثُمَّ

خبره همداسے ده، او يقينا احاطه کړے وه مونږ په هغه څه چه د هغه سره وو په علم خپل کښې. بيا

اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ

روان شو په لاره بله (تر دې چه) ورسيد په مينځ د دوو غرونو کښې،

حافظ ابن کثير رحمه الله څلور کسان ذکر کړى دى. دوه مؤمنان او دوه کافران. مؤمنان: سليمان بن داؤد او ذو القرنين او کافران: نمرود او بخت نصر وو.
عجيبه تاريخي غلطي: مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي: د ذو القرنين په معامله کښې دا يو عجيبه اتفاق دے چه په دے نوم سره په دنيا کښې څو کسان مشهور شوي دي او دا هم عجيبه خبره ده چه د هر زمانے ذو القرنين سره د سکندر لقب هم شامل دے. د حضرت مسيح عليه السلام نه تقريبا درے سوه کاله مخکښې يو باچا د سکندر په نوم معروف او مشهور دے چه هغه لره په سکندر يوناني، مقدوني، رومي وغيره القابو سره ياد ولے شي چه د هغه وزير ارسطو وو او د هغه جنګ د دارا سره شوے وو او هغه ئے قتل کړے وو، د هغه ملک ئے فتح کړے وو. د سکندر په نوم سره په دنيا کښې مشهور شوے اخري سړے دا وو. د ده قصے دنيا کښې زياتے مشهورے دي. بعض خلقو ورته هم په قرآن کښې ذکر شوے ذو القرنين وئيلے دے. دا سراسر غلط دے ځکه چه دا سړے آتش پرست مشرک وو. قرآن کريم کښې ذکر شوے ذو القرنين ذکر دے د هغه په نبي کيدو کښې علماؤ ته اختلاف دے مګر مؤمن، صالح کيدو باندې د ټولو اتفاق دے او مخکښې نص قرآني په دے باندې ګواه دے (معارف ...) نور حوالے الهام الرحمن ...
کښې وګورئ. ﴿مِنْ كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا﴾ او ورکړے وو مونږ هغه ته د هر شي نه سبب رسانړي (مفسرين
رحمهم الله) فرمائي چه مراد ترينه هغه شيونه دي چه دے ورته محتاجه وو په اصلاح د حکومت خپل کښې او هغه چه د دوه
د حکومت سره ئے تعلق لرلو. وګورئ ... کبير ... روح ... ﴿فِىْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ﴾ (حاشيه ...): چه د ويلو او ډيلو
په داسے چينه کښې چه خټو والا وه (خبره دا) د ګورې حد ... يعني هيڅ ... او وبه وے نو دا ئے غمت

هغه معلومیږي په نظر کښې چه نمر په ډنډ خټو او اوبو کښې پناه کیږي . (افضل التراجم ص۳۴۲) . قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ : د
ذوالقرنين په نبوت کښې اختلاف دے . څوک وائي چه نبي وو نو ګڼلنا په طریقه د وحی سره دے او څوک چه وائي ولي
وو نو قلنا په طریقه د الهام سره دے

وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ
بیا ئې بیا موندو ، د دغو دواړو څخه نه ، یو قوم ، چه نزدې نه وو چه
يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿۹۳﴾ قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ
پوهه شوے وے په وینا باندے . ووئیلے دوی که ترجمان په ذریعه اے ذوالقرنینه ! یقینا
يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْأَرْضِ
یاجوج او ماجوج ، فساد کونکي دي ، په زمکه کښې ،
فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى أَنْ تَجْعَلَ
پس آیا مقرر کړو ، تا لره ؟ خرڅ (چنده) په دے شرط چه جوړ کړے ته ،
بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿۹۴﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ
په مینځ زمونږه او په مینځ د دوی کښې دیوال ، مانع . ووئیل هغه : چه کوم ما طاقت په ورکړے
رَبِّيْ خَيْرٌ فَأَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ
رب زما ، غوره دے . پس امداد وکړئ زما په قوت سره (مزدورو سره) چه وګرځوم په مینځ ستاسو کښې
وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿۹۵﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ۖ حَتّٰٓى
او په مینځ د دوی کښې یو مضبوط دیوال . راوړئ ما ته ټوټې د اوسپنې ، تر دے چه
إِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا ۖ
برابر شو - په مینځ د سرونو د غرونو کښې . ووئیلے هغه : پو کړئ تر
حَتّٰٓى إِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ أُفْرِغْ
تر دے چه وګرځولو (هغه) اور (سور) ووئیل : راوړئ ما ته چه واچوم
عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿۹۶﴾ فَمَا اسْطَاعُوْٓا أَنْ يَّظْهَرُوْهُ
په دیوال باندے ویلې شوے تانبه . پس طاقت ئې نه لرلو چه راوخیژي په دے باندے
وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ﴿۹۷﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ
او طاقت ئې نه لرلو ، د دے لره د سوري کولو . ووئیلے هغه ، دا خاص رحمت دے ،
مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ
د رب زما د طرف نه ، پس کله چه راشي وعده د رب زما ، وبه ګرځوي دا برابر په زمکه

(احسن ص۳۷۴) . حَتّٰٓى إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ
څلورم سفر نے مغرب ته وو او دا سفر
ئے مشرق ته وے او د مطلع الشمس
نه مراد عین مشرق نه دے ځکه
چه هغه ته رسیدل امکان نه لري
بلکه دا هغه ځائے ته رسیدل چه
آبادي ختمه وه او مطلع الشمس ته
نزدے علاقه وه . لَمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ
مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ، یعنی آبادي
نه وه او نه ونې وے چه دوی
پرے پټ شوے وے . اکثر به دوی
په غارونو کښې اوسیدل . (احسن ص۳۷۴)
لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا
(حاشیه د دے مخ) : خازن رحمه الله
فرمائي : د ابن عباس رضي الله عنهما په نقل
چه نه پوهیده دوی په خبرو د چا
او خلق نه پوهیده په خبرو د دوی
رحمه الله ، تو سعدي فرمائي چه لغت د
دوی نا اشنا نامعلوم ؤ او بیا
داوګے هغه مقصد ئې حل دغه
ذوالقرنين په هره ژبه پوهیده او
نوشکه غیبان شو او جواب ئې
کښې دي چه بیا خبرے د ترجمان
په ذریعه وشوے او هغوی د
یاجوج ماجوج شکایت وکړو .
إِنَّ يَأْجُوْجَ وَمَأْجُوْجَ : د دوی په
باره کښې مفسرینو او مؤرخینو
مختلف خبرے لیکلي دي ، صحیح هغه
دي چه محققینو لیکلي دي چه دا دوه
قبیلې د یافث بن نوح علیه السلام د اولاد دي
(جواہر ص۳۷۶ ، فتح الباري ص۱۴۹) مفتي
صاحب رحمه الله د یاجوج او ماجوج
او سدّ ذي القرنين په حقله مختلف
اقوال نقل کړي دي . په تحقیق کښې
لیکلي دي چه قرآن او احادیث

ښودلے دي چه امت ته ښودلي دي په هغه عقیده لرل ضروري دي او مخالفت ئې ناجائز دے . بیا ص۳۶۷ کښې
فرمائي چه د دے په جغرافیائي بحث اسلامي عقیده موقوفه نه ده - د ښینو شیخ رحمه الله فرمائي
دا وحشي قبائل د کاکیشیا انتهائي علاقے کښې اوسیدل او د قفقاز په غرونو کښې د درے وا ریال نه په ...

ضمت راوتل دَ میدانی ملاتو په اوسیدو بکښې پسې لوټ مار کولو (جواہر ص۱۲۰)، فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّي:
کله چه راشی وعده دَ رب خما اُو به نے گرځوی برابر دَ ځمکے سره (ابن کثیر ص۱۰۳)

وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿۹۸﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ

او ده وعده دَ رب خما حقه. او پریږدو مونږه بعضې دَ مخلوق نه،

يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ

په دغه ورځ چه په بعوقی په بعضو کښې، او بو که به وشی په شپیلئ کښې،

فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا ﴿۹۹﴾ وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ

پس راجمع به کړو مونږ ټول دوی جمع کول، او ښکاره به کړو جهنم په دغه ورځ

لِلْكَافِرِينَ عَرْضًا ﴿۱۰۰﴾ الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ

دَ کافرانو دپاره، په ښکاره کول سره، دا هغه کسان دی چه وی سترگے دَ دوی،

فِي غِطَاءٍ عَنْ ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ

په پرده کښې، دَ یاد خما نه، او وو دوی چه طاقت نه وو، دَ

سَمْعًا ﴿۱۰۱﴾ أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ يَتَّخِذُوا

اوریدو دَ حق. آیا گمان کوی هغه کسان چه کفر ئے کړے دے چه نیسی دوی،

۱۱ ع ۱۹

عِبَادِي مِنْ دُونِي أَوْلِيَاءَ إِنَّا أَعْتَدْنَا

بندګان خما بغیر خما نه، معبود کاران، یقیناً مونږ تیار کړے

جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا ﴿۱۰۲﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ

جهنم دَ کافرانو دپاره، میلمستیا. ووایه آیا خبر درکړو مونږ تاسو ته

بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ﴿۱۰۳﴾ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ

په ډیر تاوانیانو دی په عملونو کښې، دا هغه کسان دی چه برباده شوه کوشش دَ دوی،

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ

په ژوند دنیاوی کښې، او دوی گمان کوی، چه یقیناً دوی

يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا

ښه کوی، عمل لره. دغه هغه کسان دی چه کفر ئے کړے

بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ

په آیتونو دَ رب خپل، او په ملاقات دَ هغه، پس برباد شوی عملونه دَ هغوی،

منزل ۴

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ: حاشیه ذَدے ځای، دَ تعریف اخری دے. بعضی مفسرینو دا دَ یاجوج ماجوج سره لګولے دے لاکن صحیح دادہ چه دَ بَعْضَهُمْ دَ ضمیر نه عام خلق مراد دی. (جواہر ص۱۳۸)

أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا: ذَدے ځائے نه تر آخره پورے تتمه دہ. اول ئے متعلق دے دَ دوؤ شبهو ځکنو سره رد دے په شرک فی العبادة بانو سره. دَ تخویف نه منع. او آخره ئے متعلق دے دَ دوؤ شبهو آخرو سره منع. او صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او دعوی دَ توحید دَ منع. دَ عِبَادِي نه مراد نیکان بندگان دی، جواب دلته محذوف دے. زجاج رحمه الله فرمائی معنی ئے داده چه آیا داخیال کوی

..چه نفع به ورله ورکړی دا کار. (قرطبی ص۶۵ ج۱۱)

فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ: امام رازی رحمه الله لیکی: شکه چه ایجو دلے شی د نیک عملو او بد عملو د مزحمت پیښو دپاره چه بیل شی مقدار د هغه ما تول او مقدار د دنیا تو د هغوی. (کبیر ص ۲۱) إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ: په دیکښی د نبی صلی الله علیه وسلم صفت د بشریت ذکر شو. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی: چه ستاسو غوندے بشر یم، نه پوهیږم په غیبو یا نو الخ (ص ۱۳ ج ۳) علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه ما ته امر شوے دے چه وګرځوم تاسو ته دا خبره لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ (ص ۷۰) ⁂

فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ

پس او به نه دروو دوی لره په ورځ د قیامت، هیڅ تول. دا

جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ

بدله د دوی دوزخ دے په سبب د کفر د دوی، او نیولی دی دوی ایتونه زما

وَرُسُلِيْ هُزُوًا ﴿١٠٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

او رسولان زما، ټوقه. یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عملونه کوی

الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ

د نیکو، وی به دوی لره باغونه د فردوس

نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

میلمستیا. همیشه به وسیږی په هغوی کښی، نه به لټوی دوی د هغوی، بدل ئی.

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ

او وایه چه که شی، دریابونه، سیاهی د پاره د کلیمو د رب زما،

لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ

نو خامخا ختم به شی دریابونه مخکښی د دے نه چه ختم شی کلیمے د رب زما،

وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿١٠٩﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا

او اګر چه راوړو موږ په مثل د هغه زیاتی سیاهی. او وایه یقیناً زه،

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ

بشر یم په مثل ستاسو، خو وحی کولی شی ما ته چه یقیناً معبود ستاسو معبود [illegible]

وَّاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ

یو دے، پس هغه څوک چه دی، امید لری د لیدو د رب خپل،

فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ

پس عمل دې کوی عمل نیک، او نه دې شریک کوی

بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿١١٠﴾

په عبادت د رب خپل، هیچا لره.

ع

امتیازات :-

۱: نفی د علم غیب د مخلوقاتو نه په څلورو طریقو سره.
۲: خساست د دنیا په درے طریقو سره.
۳: واقعه د اصحاب کهف.
۴: واقعه د موسیٰ سره د خضر علیهما السلام سره.
۵: واقعه د ذو القرنین رحمه الله.

⁂ ⁂ ⁂



تحدیث بالنعمة :

د سورۃ کهف ترجمه په پنځفیر کښی شروع شوے وه د پنځفیر نه په واپسئ د شهیدانو د خپلوانو تعزیه او بیا سالانه اجتماع راغے ونو او بیا د هغه نه پس واپسئ د اوسه پورے بیماری او تعلیمی کال شروع کیدو سره الحمد لله نن مازیګر بروز جمعه ۳/۲ بجے یکم ستمبر ۲۰۰۰ء موافق ۹ د ذوالقعده ۱۴۲۱ھ د الله په توفیق سره ختم شو.

سُورۃ مریم ۱۹ په مکه کښې نازل شوې ده پس د سورۃ فاطر نه. وجه د تسمیه ئے دا ده چه په دیکښې د حضرت
مریم علیها السلام ذکر په شروع کښې دے مختصراً. دعوٰی : تعتنی د نیکانو بندګانو الله ته څه
قال الم ۱۶ — ۴۸۷ — مریم ۱۹
اوعبرتی د توحید ۱۵.
ربطونه : (۱) په سورۃ کهف کښې نفی د علم غیب د خالص کړے شوے وه. او په دے سورت کښې د نبوت نه زیادت ذکر دے چه الله پاک ته تعتنی کوی. (۲) سورۃ کهف نے ختم کړو په توحید او نفی د شرک نو دلته فرمائی چه څوک انبیاؤ په دا الله تعالٰی عبادت کوی او شرک نه ورسره نه جوړوی. (۳) دا سورت تتمه د کهف ده په دفع د شبهاتو کښې. (۴) هلته هم نقلی دلائل وو د اولیاؤ او انبیاؤ نه، دلته هم نقلی دلائل دی د انبیاؤ د حالاتو او وقائعو. (۵) اسمی ربط دے چه یحیی ولکوه په زړونو زموږه عنکبوتی عجیبه وو د نیم کړی وه. په زړونو اصحاب کهف او مریم او صاحب خضر او نورو انبیاؤ د حالاتو. **خلاصه** دا سورت درې حصے دے. اوله برخه پوره ده په دیکښې مجمل د شپږ پیغمبرانو اشاعت ده وسے (۱) د زکریا علیه السلام ۲ (۲) د عیسی علیه السلام ۱۶ (۳) د ابراهیم علیه السلام ۲۶ (۴) د موسٰی علیه السلام ۵۱ (۵) د اسمٰعیل علیه السلام ۵۴. (۶) د ادریس علیه السلام ۵۶. په ۵۸ کښې د آدم، نوح، اسرائیل علیهم السلام ذکر اجمالاً شوے دے. دریمه حصه کښې د ملائکو معجزه ۶۴ مثلاً کښې. دریمه حصه آخره پورے په دیکښې شپږ زواجر ۶۶ ۷۳ ۷۷ ۸۱ ۸۸ او کنز تخویفات ۶۹ نه تر ۸۴ او ۹۳ او بشارات ۷۶ ۹۶ ۹۷.

سورۃ مریم مکیة	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰیاتها ۹۸ رکوعاتها ۶

كٓهٰيٰعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ
(دا ذکر د رحمت د رب ستا دی په بنده خپل باندے)
زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾ إِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ
(په زکریا باندے. کله چه آواز وکړو رب خپل ته په آواز پټ. وے ویل)
رَبِّ إِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ
(اے ربه! بیشکه زما کمزوری شوی هډوکی زما او لمبه یې کړه سر)
شَيْبًا وَّلَمْ أَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾ وَإِنِّيْ
(د سپینو ویښتو، او نه یم زه په دعا ستا اے ربه بې نصیبه محروم، او بیشکه زه)
خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَأَتِيْ
(ویریږم د خپلوانو نه پس زما نه، او ده ښځه زما)
عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَّرِثُنِيْ
(شنډه، پس راکړه ماته د طرف خپل نه وارث، چه میراث واخلی زما)
وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ
(او میراث واخلی د اولاد د یعقوب نه، او وګرځوه هغه اے ربه)
رَضِيًّا ﴿٦﴾ يٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ۨاسْمُهٗ
(خوښ کړے شوے. اے زکریا! یقیناً مونږ زیرے درکوو تا ته په هلک چه نوم به یې)
يَحْيٰى لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ﴿٧﴾
(یحیی وی، نه دے ګرځولے مونږ د هغه مخکښې هم نومے)
قَالَ رَبِّ أَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ
(وے ویل اے ربه! څنګه به وی ماته هلک، او ده)
امْرَأَتِيْ عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ
(ښځه زما شنډه، او یقیناً رسیدلے یم د زړښت آخر حد ته)

(۲) ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ، خبر د مبتدا محذوف دے. معنٰی ئے دا شوه دا یاد ذکر د رحمت د رب ستا دی په بنده خپل چه زکریا علیه السلام دے. إِذْ نَادٰى: کله چه آواز وکړو رب خپل ته په آواز پټ. عام مفسرین رحمهم الله فرمائی چه ورو دعا ماثوره ده. لکه چه دا د ریا نه او سړی د ټوفانی او اخلاص ته او د آداب په دعا کښې ده او دا په دعا عمل

صرح کړی په طریقه د ۹ وګورئ مدارک ۲۰ ، کبیر ۲۱ ، روح المعانی ۲۱ ، زاد المسیر ۲۱ ، الهام الرحمن ۳۵ .
مِن وَّرَآءِي : او دغه ویره هم د خپلوانو خپلو نه چه دین کښې به تغیر راولی. وګورئ مدارک ۲ . مطلب دا چه
ډیر غم ورسره وو . نه د صحیح کیدو ، بیرته پاتې شي لکه چه نن صباعوام کښې دا غم وی . یَّرِثُنِی : د میراث

عِتِيًّا ﴿٨﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ
انتهاء ته . ووئیلے هغه ورته شانے . وائی رب ستا چه دا کار په ما باندې
هَيِّنٌ وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ
آسان دے ، او یقینًا پیدا کړے یم ما ته تا لره مخکښې د دینه ، او نه وے ته
شَيْئًا ﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً قَالَ آيَتُكَ
څیزیے (موجود) . ووئیل دے اے ربه ! وګرځوه ما لره علامه ، ووئیل الله نښه ستا دا ده
أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ
چه خبرې به نه کوې خلقو سره ، درے شپے ، روغ جوړ برابر به یې . پس راووتلو
عَلَىٰ قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ
په قوم خپل باندې د عبادتخانے نه ، پس په اشاره یې ووئیلے دوی ته
أَن سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿١١﴾ يَا يَحْيَىٰ خُذِ
چه پاکی وایئ ، سحر او ماښام . ووئیلے موږ اے یحیٰی ! ونیسه
الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَ
کتاب لره په مضبوطیا سره ، او ورکړے وه موږ هغه ته حکمت په وړوکوالی کښې . او
حَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَ
شفقت (مهربانی) د طرف زموږ نه ، او پاکی ، او وو تقوٰی دار .
بَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَ
نیکی کوونکے د مور او پلار خپل سره ، او نه وو زورور نافرمانه . او د
سَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ
سلامتیا ده په هغه باندې په هغه ورځ چه پیدا شو ، او په هغه ورځ چه مړ شي ، او په هغه ورځ
يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ
چه پورته کیدے شي ژوندے . او یاد کړه په کتاب کښې (واقعه) د مریم
إِذِ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾
کله چه بیله شوه د خپلو کورنۍ نه ځاے ته د مشرق طرف ته .

ته هم عام مفسرین رحمهم الله د علم او د دین میراث اخلی نه د مال ځکه چه انبیاء علیهم السلام د مال میراث نه پریږدی . وګورئ معارف ۱۹ ، ابو سعود ، مدارک ، شوکانی ، تسهیل ، زاد المسیر ، تفسیر ، افضل التفاسیر ، الهام الرحمن . بخاری شریف کښې د عائشې رضی الله عنها روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ (بخاری) . حاصل دا چه شیعه ګان د مال وراثت معنٰی کوی دا صحیح نه ده . رَضِيًّا : غوره کړے شوے په دربار ستا کښې (مراح منیر) غوره کړے شوے په دربار ستا کښې قولًا و فعلًا (روح) . سَوِيًّا : (حاشیه ده دے ضمیر) په دے حال کښې چه ته به روغ اندامونو والا او ژبے والا به یې (مدارک) . فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ : پس اشاره یې وکړه دوی ته (تسهیل) . يَا يَحْيَىٰ : د بندوبی شیخ رحمه الله فرمائی چه ولمنه اندراج دے یعنې کله چه پیدا شو او لوئے شو موږ ورته ووئیل اے یحیٰی . وَاشْتَدَ اونیسه کتاب په مضبوطیا سره (جواهر) . بِقُوَّةٍ : په علم او عمل سره په وسه بانیو (تسهیل) . وَحَنَانًا : او شفقت او رحمت د دوی د مور او پلار او د نورو دپاره (مراح منیر) . وَسَلَامٌ عَلَيْهِ : حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه دے لره امان دے په دے درے احوالو کښې . سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی چه هر وحشت والانسان به درے ځایونو کښې وی کله چه پیدا شي نو وینې

ځان خپل وتو نکے د هغه ځائے نه چه وو پکښې ، او کله چه مړ شي نو وینې یو قوم چه لیدلي یې نه وو ، او کله چه د قبر نه پورته شي نو وینې ځان خپل په لوئے محشر کښې ، پس عزتمند کړو الله تعالیٰ په دے درے ځایونو کښې یحیٰی علیه السلام پس خاص یې کړو په سلامتیا خپله سره په دے ځایونو . (ابن کثیر ۳) . **فائده** : د زکریا علیه السلام عمر

عنه واقعه د ٣ آل عمران نه هم ذکر شوې. د بنو اسرائیلو عادت وو چه په خپلو دینې خدمتونو کښې به زکریا علیه السلام متصرف کړي او څلې به یې ورته وو څلې. د هغوی خیال وو چه په هیکل کښې ورته د څرق عادت په طور څیزونه ورکړے شوے

فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا ۖ فَأَرْسَلْنَا
پس جوړه کړه د هغوی نه وړاندې پرده ، پس راواستولو مونږ

إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ
هغې ته روح خپل (جبریل) ، پس صورت یې ونیولو هغې ته د سړي برابر . ووېل هغې

إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾
یقینًا زه پناه غواړم په رحمٰن سره له تا نه که یې ته متقي

قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ
ووېل هغه یقینًا زه استازے یم د رب ستا، چه وبخښم تا ته

غُلَامًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَ
هلک پاک . ووېل هغې څنګه به شي ماله هلک ؟ او

لَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ
نه دے رسیدلے ماته څوک سړے ، او نه یم زه بدکاره (زناکاره) . ووېل هغه

كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۖ وَلِنَجْعَلَهُ
دغسې دے ، ووېلي دي رب ستا چه دا په ما آسان دے ، او دې دپاره چه وګرځوو دا

آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا
نښه دپاره د خلقو او رحمت د طرف زمونږ نه ، او دے دا کار

مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا
فیصله کړے شوے . پس حمل یې واخستو د هغه ، پس لرې شوه په سبب د هغه ځای لرې ته

قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ
پس راوستله هغه لره درد د ولادت طرف د تنې د

النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا
کجورې ته ، ووېل هغې هائې ارمان کاش چه مړه شوې وے زه مخکښې د دې نه

وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا
او وے زه هیره هیره کړے شوے . پس آواز وکړو هغې ته د لاندې نه د هغې چه

د دغه څه خوارئ کولے شي. خو کواب ورته چه د څرق عادت کار الله تعالیٰ کړے وو او هغوی دخوی خوشحاله وو نو د الله تعالیٰ نه درخواست (دعا) ورته کړے وو. (ریاض الفرقان ٦/١٥)، وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ: دا دویمه قصه ده د مریم رضی الله عنها او په دې کښې ذکر د هغه واقعې دے چه مریم علیها السلام له حاملګي شوه او له موسمه پیدا ورته پاکې میوه ورکړے شوه او هغه کیږې ته چه د انبیاء ضایعات پوره شوي وي او په باري تعالیٰ به نازولې او غالبه وي نو په دې ایت کښې الله تعالیٰ د خپل عجز او بے علمې بیانوي (المظالح الهمم ٣)
إِذِ انتَبَذَتْ: کله چه ورکړلې شوله او خان له شوله (قاسمي ١٢)
رُوحَنَا: (حاشیه د دے مخ) مراد ترینه جبریل علیه السلام دے او اضافت دیاره د تشریف دے او تعبیر ترینه په روح شکه وشوه چه دین له ژوند ورکوي په داسې او په ورکړي د وحي باندې او ورکې روح
إِن كُنتَ تَقِيًّا: سوال دا دے چه مریم علیها السلام ولې په مفسرو کښې نه خو دېرېده شو نو تقي ته؟ ابوبکر رازي رحمه الله جواب ورکړي دے چه د مریم علیها السلام مراد دا د مبالغه او دېلې نو مخکې له دا شو چه څه یې پناه وغواړه ستا نه ځکه ته پرهیزګار یې نو هغه حال یې دا وي ځکه چه ته پرهیزګار یې (احسان ٣) ولا تعزض محذوف دی. شو کا في ورکړ: فلا

تعترض الي: نو ما ته رسوي په پرهیزګار رسیوي تو تعرض مکوه ما ته (روح ٣). لِأَهَبَ لَكِ: نسفي رحمه الله فرمایي چه جبریل علیه السلام لمنځ د الله تعالیٰ په اذن د الله تعالیٰ باندې. او په دې چه شو په سبب د پوکې ورکولو د جبریل کښې په یې پوکي کړلو سره په ګریوان د قمیص کښې. (٣) د ابو عمرو او نافع په قرائت کښې دي چه لِيَهَبَ لَكِ: چه وبخښي تا ته الله تعالیٰ

عسه هلک پاک (مرکزی مسته) وګوری شوری مګ ۱۵ د گذارن. بیو ځنه دهم وخت ده خنک چه نا وبلې چه نه دی تصیبلې نا شقوق مقبول او به چلاق سره (مدارک مه) په فَحَمَلَتْهُ ، د پنهیری شیخ رحمته فرمائیلی دی چه حضرت جبرئیل علیه السلام د حضرت مریمې په ګریوان کښې پوکې اوکړه نو جب دغه نه فوراً حامله شوه. بیا فرمائی چه د دوی قال نه یعنی خلقو استدلال نیولے دے چه د

تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿۲۴﴾ وَ

غمه مه کوه ، یقیناً جوړ کړی دی رب ستا ، لاندې ستا نه چینه ولړه ۔ او

هُزِّيٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ

راوشوروه خان طرف ته تنه د کهجورې ، راغورزوی به پر تا باندې

رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ

کهجورې تازه ، (اوروند) نو پس خوره ، او څښه ، او یخوه سترګې ،

فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ إِنِّيْ

پس هرکله چه وینې د انسانانو نه یو څوک ، پس وایه ، یقیناً ما

نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ

نذر منلے دے د مهربان (رب) دپاره د روژې چې ولی پس خبرې به نه کوم نن د

إِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾ فَأَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ۖ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ

هیڅ انسان سره ، پس راغله ورسره قوم خپل ته چه پورته کړے ئې وه هغه ، وویل دوی اے مریمې

لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾ يٰٓأُخْتَ هٰرُوْنَ مَا

یقیناً راغلې ئې د کړې شی نا اشنا نه ، اے خورې د هارون ! نه وو

كَانَ أَبُوْكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿۲۸﴾

دا پلار ستا سړے بد ، او نه وه مور ستا بد چلنه ۔

فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ

پس اشاره وکړه دې ماشوم ته ، وویل دوی څنګه خبرې وکړو مونږ د هغه چا سره چه دے

فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿۲۹﴾ قَالَ إِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۟ۛ

په زانګو کښې ماشوم ۔ وویل هغه ، یقیناً زه بنده د الله تعالیٰ یم ،

اٰتٰىنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿۳۰﴾ وَّجَعَلَنِيْ

راکړې ئې ما ته کتاب ، او ګرځولی ئې یم ما لره نبي ۔ او ګرځولی ئې یم ما لره

مُبٰرَكًا أَيْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَأَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ

برکتی چرته چه یم شه ، او حکم ئې کړی ما ته په مانځه ،

حمل نه بعد فوراً ورکی پیدائش وشو او صدی د دغه اوږدی وشو ۔ (ترغیب منه) لیکن حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما او د نورو مفسرینو قول دے چه موده د حمل او ګډ دوره خنګه چه د عامو ښځو وی ۔ د ابن عباس نه نهه میاشتې د ابو العالیه رضی الله عنه اووه میاشتې او د بعضو نه شپږ میاشتې منقول دی (روح منه جواهر منه) د نجمه ورومح دپاره سوره انبیاء منه او تحریم منه وګوری فَنَادٰىهَا : پس اواز اوکړو دې ته جبرئیل علیه السلام د لاندې څخه نه ۔ (روح منه) سَرِيًّا : اخاب دروند منه ، نهر و بورګ والے ورسک منه ، خازن منه ۔ رُطَبًا جَنِيًّا : کهجورې تازه ۔ دا د مریمې بی بی کرامت وو چه د وچې کهجورې نه ورته تازه میوې ملاؤ شوې عمرو بن میمون رحمته فرمائی چه نفاس والې ښځې غوره د ناسو بخښو دپاره د وچو او تازه کهجورو نه او بیا دا ایت کریمه تلاوت کړه (ابن کثیر منه) ۔ صَوْمًا : روژه ، چپ والے ۔ شاه صاحب رحمته فرمائی چه د دوی په دین کښې دا صفت درست وو چه د نه خبرو روژه به ئې هم لرله زمونږ په دین کښې دا صفت درست نه دے منسوخ شوے ۔ مفتی صاحب رحمته فرمائی چه د سکوت روژه په شریعت اسلامی کښې منسوخ شوې ده (معارف منه) يٰٓأُخْتَ هٰرُوْنَ : اے خورې د هارون : د پنهیری شیخ رحمته فرمائی چه دا رونی د حضرت مریمې

ورور له طرف نه ورور دو او د مریمې په صیز ګاره ، عابد او زاهد وو ۔ (جواهر منه) د ګوری مدارک منه ۳
اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ : یعنی فیصله نے کړے ده چه ما ته به کتاب راکوی (ابن کثیر منه) ۔ مُبٰرَكًا : خاوند د برکتونو او نفعې په دین کښې او په نیکلی کښې الله تعالیٰ ته (تعلیم ورکولو سره ئې د خلقو دپاره) (قرطبی منه) فائده : دا عسه

حسنه صفحه ۲ اسم مفعول دی معنی داشوه چه برکت یکس الله تعالی اچولے دے. مطلب ئے دادے چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به هر طرف ته به دعوت ورکوی. تی دی تیر عطاء رحمة الله فرمائی: نفع مند تعلیم ورکونکی د خیر. (روح ۳۶-۱۶)

وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ وَلَمْ

(او په زکوٰة، تر هغه پورے چه ژوندے یم تر ژوندے، او نیکی کونکے د مورِ خپلے سره او ونه

يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوْمَ

گرځولو ما لره سرکش (زبردست) او بدبخت، او سلامتیا ده په ما باندے کله چه

وُلِدْتُّ وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾

پیدا کړے شوم، او په کومه ورځ چه مړ شم، او په کومه ورځ چه بیرته ژوندے کړے شم.

ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ

دغه شان والا، عیسیٰ ځوے د مریم دے (وایم خبره) وینا د حق،

الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ

هغه چه په هغے کښ شک کوی دوی. نه دی مناسب الله تعالیٰ لره چه

يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۚ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

ونیسی، هیڅ اولاد، پاکی ده هغه لره. کله چه فیصله وکړی د یو کار،

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ

پس یقیناً وائی هغه ته، شه نو شی هغه. (وویل عیسیٰ) او یقیناً الله تعالیٰ

رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ۚ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾

پالونکے زما او پالونکے ستاسو دے، پس بندگی وکړئ د هغه، دا لاره، نیغه ده.

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْ ۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ

پس اختلاف وکړو ډلو، په مینځ خپل کښ، پس هلاکت دے

لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٣٧﴾ اَسْمِعْ

دپاره د هغه کسانو چه کفر کړے، د پیښیدو د ورځے لوئے نه. څه ښه اوریدونکی

بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ

دی، او ښه لیدونکی کله چه راشی دوی مونږ ته، لاکن ظالمان

الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ

نن ورځ په گمراهئ ښکاره کښ دی. او ویروه دوی، د ورځے

منزل ۴

مَا دُمْتُ حَيًّا، تر هغه پورے چه ژوندے یم. که څوک دا اعتراض کوی چه عیسیٰ علیه السلام په آسمان کښ ژوندے دی نو هلته هم څنگه کوی او زکوٰة څنگه ورکوی؟ جواب: جناب آلوسی رحمه الله فرمائی چه مراد د ذکر شوے موده نه هغه موده ده چه کله دے ژوندے وی په دنیا کښ څنگه چه د ژوندے متعارف دے او دا نه شاملیږی هغه موده لره چه دوی پکښ په آسمان کښ دی. (روح ۱۶). هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ: دا توحید ذکر شوے لاره نیغه ده (روح ۱۶). د عیسیٰ علیه السلام دا بیان سورت آل عمران ۳، مائده ۵ او زخرف ۴۳ کښ هم کتلے شی.

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ: پس مختلف شوے ډلے په مینځ خپل کښ. علامه قرطبی رحمه الله لیکی چه نسطوریه ډلے وئیلی وو چه دا ځوی د الله تعالیٰ دے او ملکائیو وئیلی چه دریم د دریو دے، او یعقوبیه وئیلی چه دا بعینه الله تعالیٰ دے. پس زیاتے وکړو نصاراؤ او غلو ئے وکړو او کمے وکړو یهودو او تقصیر ئے وکړو (قرطبی) وگورئ تورة متی ۱۰، مرقس ۱۶ - یوحنا ۱، ۴، ۱۹ باب کښ تحریفات دی.

يَوْمَ الْحَسْرَةِ: ویروه دوی لره د ورځے د افسوس نه چه د قیامت ورځ ده - دوی به افسوس کوی په توحید پسے تلو او د پیغمبر علیه السلام په اتباع پسے (فرقان ۲۷) او په عمل د آخرت پسے (انعام ۳۱)، او په متلو د قرآن پسے (انعام ۲۷).

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ، دَ دې علت نه دَ دې آيت طلبي جواب دے. يهودو، نصاراؤ او مشرکينو به حضرت ابراهيم عليه السلام ته منسوب کولو او هغه به یې ورته وئيلو نو دَ دې جواب ورکړے شو چه حضرت ابراهيم عليه السلام چه دَ انبياء عليهم السلام جدّ امجد دے هغه ځينې شيان پيدا ګړي نه وايي په غير الله مې بله هغه تا ته نفع نقصان نشي رسولے (جواهر ملخص).

الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ

دَ افسوس نه، کله چه فيصله شي کاروبار، او دوی به غفلت کښې وي او دوی

لَا يُؤْمِنُونَ (٣٩) إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ

نه راوړی ايمان. يقيناً مونږ، مونږ به ميراث کښې اخلو زمکه او هغه چه

عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ (٤٠) وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ

په هغې باندې وي او خاص مونږ ته راګرځولې شي دوی. او ياد کړه په کتاب کښې

إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا (٤١) إِذْ قَالَ

ابراهيم، يقيناً دے وو، رښتونے، نبي. کله چه ووئيلے

لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ

(ده) خپل پلار ته اے بابا جي! ولے عبادت کوې ته دَ هغه څيز چه نه اوري او نه ويني

وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا (٤٢) يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ

او نه دفع کوي له تا نه هيڅ څيز. اے بابا جي! يقيناً ما ته

جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي

راغلے دے دَ علم نه هغه چه نه دے راغلے تا ته، پس تابعداري وکړه زما

أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا (٤٣) يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ

او رښايم به تا ته لاره برابره. اے بابا جي! عبادت مه کوه دَ شيطان،

إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا (٤٤) يَا أَبَتِ

يقيناً شيطان دے دَ مهربان الله د پاره نافرمانه. اے بابا جي!

إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَٰنِ

يقيناً زه ويريږم چه ورسيږي تا ته عذاب دَ طرف دَ رحمن نه،

فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا (٤٥) قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ

نو شې به ته دَ شيطان دپاره ملګرے. ووئيل هغه: آيا مخ اړونکے يې ته

عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ

دَ معبودانو زما نه اے ابراهيمه! که چرے منع نشوے ته نو خامخا يقيناً ويشتلے به دې کړم

فائده ١١:

دَ ابراهيم عليه السلام په بيان کښې اول دعوت دَ توحيد ته او دَ دې صفات نے دَ الله تعالیٰ ذکر کړے دي په ٤٢ کښې چه دا غير الله له نشته. بيا په ٤٣ کښې ورته دَ اتباع دعوت ورکړے دے او دَ دفع دَ وهم دپاره فرمائي: قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ، چه ځما تابعداري څنګه وکړم چه ما ته علم او وحي راغلې ده. په ٤٤ کښې منعه دَ اتباع دَ شيطان نه څنګه چه هغه منعه کوي دَ توحيد او اتباع نه.

فائده ١٢:

په دې آيتونو کښې دَ دعوت طريقه ذکر شويده او ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته

يَا أَبَتِ: اے بابا جي ځما، دَ نرمۍ او دَ ادب لفظ وئيلے دے، ٤٢، ٤٣، ٤٤، ٤٥ کښې. ❁

وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ، او جُدا شه ځما نه اوږده زمانه (غریب القرآن ص ۲۶۰) په دې وجه ابراهیم ګښې ډېر ضد و، ځکه چې د هغه د پلار نه ابراهیم علیه السلام ته قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ، وویل ابراهیم ع په سلام وَ جُدا ایښې وو او وي پتاوا نو. د پلار جواب کښې نرمي وکړه. مفسرین رحمهم الله فرمائي چې دا سلام د رخصتۍ او د پریخودو او د جُدا ایښې دې. ګوري: شیخ زاده، مدارک ج ۳، قرطبي ج ۱۱، بیضاوي، ص ۴۹۱ جواهر ص ۲۹۳ ابو الرحمٰن. سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ ، زر دې چې بخښنه به وغواړم تا لره د رب خپله. ددې سوال او جواب په سوره توبه کښې د ایت ۱۱۴ لاندې ذکر شوې دې. لِسَانَ صِدْقٍ : او اوچت کړو لو د دوی دپاره یاد د ښېګڼې او اوچت. د لسان نه دلته معنا ذکر مراد دے ځکه چې په ژبه یادګیرنه شي. د ګنګوهي شیخ رحمه الله فرمائي: یعني سوره په ذکر کښې د دوی ښه ذکر د دوی یادګار جوړ کړو چې د دنیا ټول خلق په هره زمانه کښې دوی لره په ښه والي سره یادوي (جواهر ص ۲۹۵) دا د هغې دعا اثر دے چې ابراهیم علیه السلام دُعا هم کړې وه. ګوري سوره شعراء ایت ۸۴. فائدة ۱۸: کله چې ابراهیم علیه السلام برأت وکړو نو باری تعالیٰ پرې څلور انعامات وکړو: (۱) ځوئ اسحٰق (۲) نمسے یعقوب ئې ورکړو ص ۳۹. (۳) او ټولو لره ئې د خپل رحمت نه پوره برخه ورکړه. (۴) او د دوی نیک نامي ئې په دُنیا کښې پریخوده ده. وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰى: د دې نه مخکښې انبیاء علیهم السلام د تفصیلي ذکر کړو لو نه پس د دې نه په اختصار سره

وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿۴۶﴾ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ
او ګوښه شه ځما نه ډېره موده. ووېلې ابراهیم، سلام دې وي په تا، زر دې چې بخښنه به وغواړم
لَكَ رَبِّيْ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿۴۷﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَ
د تا دپاره د رب خپله، بېشکه هغه دے په ما باندې مهربان. او جُدا کېږم ستاسو او
مَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ
د هغو چې بلئ تاسو سوا د الله تعالیٰ نه، او بلم به رب خپل،
عَسٰٓى اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿۴۸﴾ فَلَمَّا
نزدې ده چې نه به شم په بللو د رب خپل بې بخته. پس هر کله چې
اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
جُدا شو د دوی نه او د هغو چې عبادت ئې کولو دوی سوا د الله تعالیٰ نه،
وَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا
او وبخښلو مونږ دده ته اسحٰق ع او یعقوب ع، او هر یو لره وګرځولو مونږ
نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا
نبي. او وبخښلو مونږ دوی ته د رحمت خپل نه، او وګرځولو مونږ
لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾ وَاذْكُرْ فِي
دوی لره ذکر د ښېګڼې اوچت. او یاد کړه په
الْكِتٰبِ مُوْسٰٓى اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ
کتاب کښې موسیٰ ع، بېشکه هغه وو غوره کړې شوې، او وو
رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ
رسول نبي ع. او آواز وکړو مونږ هغه ته د طرفه
الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ
د طور ښي نه او نزدې کړو مونږ هغه راز دار. او وبخښلو مونږ هغه ته
مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ
د رحمت خپل نه، رور د هغه هارون ع، نبي. او یاد کړه

ع

ئې ذکر وکړو، د حضرت موسیٰ، حضرت اسمٰعیل، حضرت ادریس علیهم السلام چې ټول ځان په مخکښې عاجزي کړې وه. نو چې څنګه عاجز او محتاج دی نو د نورو د پاره کارساز او متصرف څنګه جوړېدے شي؟ (جواهر ص ۲۹۶) فائدة: دلته د موسیٰ علیه السلام شپږ صفات ذکر دي د هغه په احتیاج او عبدیت دلالت کوي. درے په دې ۵۱ کښې دوه په ۵۲ کښې او یو په

صادق الوعد ، او رښتونے وعدے والا وو . د دے بیان سوره صٰفٰت ۱۰۲ کښې دے چه وعده د صبر د ۲ په ... ورکړې وه . فائده ۱ : په دے آیتونو کښې د حضرت اسماعیل علیه السلام شپږ صفات ذکر کړی چه د هغوئ

فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ

په کتاب کښې (صحیح بخاری) اسماعیل ، یقیناً هغه وو رښتینی

الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ

وعدې والا ، او وو هغه رسول نبي . او وو هغه چه حکم به ئې کولو

أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهِ

اهل خپل ته په مانځه کولو او زکوٰة ورکولو او وو هغه د رب خپل په نزد

مَرْضِيًّا ﴿٥٥﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ

خوښ کړې شوې . او یاد کړه په کتاب کښې ادریس ، یقیناً دا

كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

وو ډیر رښتینی نبي . او اوچت کړې شوې وو مونږ دوئ ځای ته اوچت ته

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ

دا هغه کسان دي چه انعام کړې الله تعالیٰ په دوئ باندې د

النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا

پېغمبرانو نه د اولاده د آدم علیه السلام نه ، او د اولاده د هغه چا چه مونږ سپاره کړي وو

مَعَ نُوحٍ وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ

سره د نوح نه ، او د اولاده د ابراهیم نه او یعقوب ،

وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ

او د هغه چا نه چه هدایت کړې ده مونږ او خوښ کړي دي مونږ ، کله چه به لوستلې شوې په دوئ باندې

آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ فَخَلَفَ

آیاتونه د رحمٰن ، غورځېدل به سجده کوونکي او ژړا کوونکي . پس جانشین شو

مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا

روستو د دوئ نه نا اهله ، برباد ئې کړو مانځه لره ، او تابعداري ئې وکړه

الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾ إِلَّا مَنْ

د خواهشاتو — پس زر دی چه ملاؤ به شي د سزا د سرکشۍ سره . لاکن هغه چا چه

په عبادت او دعوت الی الله باندې دلالت کوي . ۱۰ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِدْرِيسَ : په دې دوو آیتونو کښې د حضرت ادریس علیه السلام دوه صفتونه ذکر کړي چه الله تعالیٰ ورته عطا کړي وو . وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا او مونږ اوچت کړې دے هغه مرتبې او ځای ته . جناب تهانوي رحمه الله فرمائي : او مونږ هغه ډیره کمالاتو کښې اوچتې مرتبې ته اورسولو (بیان القرآن ص۲۰۱) . مولنا عثماني رحمه الله فرمائي : یعنی د قرب او عرفان ډیر اوچت مقام او اوچت ځائے ته مونږ ورسولو (عثماني ص۴۰۵) . نسفي رحمه الله فرمائي چه مراد ترینه شرف د نبوت او لزومت والے دے په دربار د الله کښې . (مدارک ص۳۲) د شاه پیور شیخ رحمه الله والي : پس د وفات نه لویه مرتبه ورله باري تعالیٰ ورکړه (انسل التراجم ص۱۲۶) . فائده : د بعض کسانو خیال دے چه دا هم د حضرت عیسیٰ علیه السلام غوندې ژوندے اسمان ته اوچت کړی شوے او سه پورې ژوندے دے او د بعضو خیال دے چه اسمان ته وختو نو روح ئې قبض شو او د دې متعلق ډیر اسرائیلیات مفسرینو نقل کړي دي . جناب عثماني صاحب او جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه ابن کثیر رحمه الله پورې تنقیح کړې ده او ویلي ئې دي چه دا خبرې د کعب الاحبار نه نقل دي او په بعضو کښې نکارت دے . (عثماني ص۴۰۵ ، معارف ج۶ ، ابن کثیر ج۳ ، الدر المنثور ص۲۴۶)

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ، دا اشاره ده ذکر شوو پیغمبرانو ته . شیخ القرآن مولانا غلام الله خان رحمه الله فرمائي چه په دے آیت کښې په شپږ وطریقو سره د دغه انبیاء علیهم السلام نه نفي د الوهیت وشوه . اول : انعم الله علیهم ، دویم : من ذریة آدم ، دریم : هدینا ، څلورم : واجتبینا ، عمه

سره پخلا او شي نو ، (اذا تتلى عليهم الخ (جواهر ص٢٦٣)). فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ : پس پيدا شو روستو
د دوی نا کاره اولاد (مراد کتب ملیح) خلف د لام په سکون سره ، نا کاره جانشين او اولاد ته ويلے شي . وګوره

تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ
توبه ئے اوبکړه او ايمان ئے راوړو او عمل ئے اوکړو ښه نيک ، پس دغه کسان
يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾
داخليږي به جنت ته او ظلم به پرے نشي کولے هيڅ شي .
جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ
باغونو د هميشه اوسيدو دغه چه وعده ئے کړے ده رحمان الله د بندګانو خپلو سره
بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا
په داسے حال چه ليدلي ئے دوی نه دي يقيناً شان دا دے چه وعده د الله پوره کړے شوے ده . نه به
يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ۖ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ
اوري دوی په هغو کښے بے فائده خبره لېکن اوري به سلام ، او د دوی دپاره وی رزق د دوی
فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ
په هغو کښے سباني او بيګاني . دغه جنت هغه دے چه ميراث به ئے ورکړو
مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ
د بندګانو خپلو نه هغه چه وي پرهيزګار . او دوي نه کوز کيږو مونږ
إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۖ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا
مګر په حکم د رب ستا د هغه دپاره دي هغه څه چه مخکښے زمونږ دی او هغه چه روستو زمونږ دي
وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ
او هغه چه په مينځ د دے کښے دي او نه دے رب ستا هير کوونکے ، رب د
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ
اسمانونو دے او د زمکے او هغه چه په مينځ د دوی کښے دي پس بندګي د هغه کوه
وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَ
او ټينګ شه په عبادت د هغه ته ، ايا پيژنے ته هغه لره انډيوال . او
يَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ
وائي انسان (کافر) ايا کله چه زه مړ شم نو زر به زه راوبه ويستلے شم

اعراف ص١٦٩ . وا د سوال مقدر جواب دے چه هر کله انبياء د عليهم السلام صرف الله ته متصرف ګنړل او بللو نو بيا د دوی نه متصرف ګنړل شوی او څنګه ورته وبلے شوے ؟ نو جواب ئے ورکړو چه د دوی نه بعد نا کاره خلقو دين او توحيد ضائع کړو . (جواهر ص٢٦٤) أَضَاعُوا الصَّلَوٰةَ : برباد ئے کړه مانځه لره چه اهم عبادت او د تمامو عبادتونو جامع عبادت دے . مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه مونږ به وختي يا بلا جماعته کول د مانځه اضاعت اوګنړو او په دا . (معارف ص٣٢) حضرت عمر رضي الله عنه خپلو ټولو عاملانو د حکومت ته دا هدايت نامه ليکلے وه چه : إِنَّ أَهَمَّ أَمْرِكُمْ عِنْدِي الصَّلَوٰةُ فَمَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ (موطا مالك ص٦) . دا حديث مشكوٰة ص٥٩ او معارف ص٣٢ کښے ليکلے شي . غَيًّا : يو ناړه ده چه ملاوشي د جهنم د سرکشی سره (كبير ص٢١٢) . إِلَّا مَن تَابَ ، (حاشيه د ونيه لحم) : مخکښے د هغه خلقو ذکر وو پس د انبياء عليهم السلام نه چه نا کاره وو نو اوس د ښو خلقو ذکر کوي او هغوی ته بشارت اخروي په ګناه اخوالو د جنت سره ذکر کوي . دا د په ملاکښے ، يو په عدلکښے ، دريم په علاکښے ، يو په صح کښے . إِلَّا سَلَامًا : لاکن اوري به سلامونو

لره . وَمَا نَتَنَزَّلُ الخ : په دے دواړو آيتونو کښے دوه حصه دي . په ويکښے عجز د ملائکو او احتياج د هغوی دے . حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت بانديز چه رسول الله صلى الله عليه وسلم جبرئيل عليه السلام ته وويلے : مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَزُورَنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورُنَا ؟ چه څه شي منعه کړے تا لره هغه

عنہ چہ ملاقات دکړے نو زمونږ د زیارت د هغه نه چه تړے زمونږ سره کوے ؟ پس دا ایت نازل شو (صحیح بخاری ۲ / ۱۰۰) او
سراج منیر ص۳ ، زاد المسیر ج۵ ، او ابن جریر ج۱۶ ، فتح القدیر ج۳ هم ذکوری. وَيَقُولُ الْإِنسَانُ مکۃ ؛

جِثِيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن
ژوندے . آیا او نه یاد وی دا انسان چه مونږ پیدا کړے دے لره مخکښې

قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ
د دے نه او نه وو دے هیڅ شے (موجود) پس په رب ستا م قسم دی بیشکه راجمع به کړو

وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ
او شیطانان نو ورو ، بیا به خامخا بیشکه حاضر کړو دوی لره چاپیره د جهنم نه

جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ
په زنګونو پرتو . بیا خامخا را وباسو مونږ به د هر یو ډلے نه ، کوم یو دوی نه چه

أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ
سخت وی په رحمٰن د پاسه باندې سرکشۍ کښې . بیا خامخا مونږ ښه پوهه یو ،

بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمْ
په هغه کسانو چه دوی ډیر لائق دی په دوزخ باندې د ننوتلو . او نشته هیڅوک ستاسو نه

إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾
مګر ورتلونکے په جهنم ته ، دے دا په رب ستا باندې لازم فیصله کړے شوے .

ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا
بیا نجات ورکوو مونږ هغه کسانو ته چه تقویٰ ئے کړے او پرېږدو به ظالمان په دے کښې

جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ
پرتہ په زنګونو . او کله چه لوستلے شی په دوی باندې ایتونه زمونږ ، ښکاره ،

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ
وائی هغه کسان چه کفر ئے کړے دے هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے ، کوم یو

الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾
د دواړو ډلو نه غوره ځائی والا دے او ښائسته مجلس والا دے .

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ
او ډیر هلاک کړی مخکښې د دوی نه ، د ډیرو زمانو چه هغوی ښائسته

د دے ځائے نه تر اخره پورے
دریمه حصه ده . خلاصه ئے
مخکښې ذکر شوے ده هلته ئے
ذکوری ۔

جِثِيًّا : (حاشیه د دے صحو)
نسکورے په ګونډو ، په ګونډو ولاړ
(تیسیر الرحمن ص) . ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ :
بیا خامخا را وباسو مونږ د هغه
ولے نه چه کوم د هغوی نه
سخت دے په مهربان باندې
د جهت د سرکشۍ نه . قرطبی رحمه الله
فرمائی چه شروع به وکړی په
عذاب د ګمراهانو په سخت
په معاش بیا په هغه چه وړاندې
دی (رضیا) صِلِيًّا : د جهنم د
ننوتلو نه (مدارک ص ۲۲ ج ۳)

إِلَّا وَارِدُهَا : دلته څو توجیه ګانے
دی یو دا چه حسن بصری رح
وائی چه مراد ترینه وړاندې
دخول نه دے . معنیٰ دا شوه
چه نشته د ے ستاسو نه هیڅوک
مګر بوږ ے وځی به په جهنم
یعنی په پل صراط باندې . وګوری
روح المعانی ج۱۶ . بله توجیه
د جابر بن عبد الله رضی الله عنهما ده
چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم
نه اوریدلی دی چه فرمائیلی
دی چه پاتے به نشی نیک
او نه بد مګر داخل به شی
دوزخ ته . پس شی به په مؤمنانو
یخ او سلامتیا څنګه چه په
ابراهیم علیه السلام اور یخ شوے او د سلامتیا وو (قرطبی ج۱۱ ص۱۳۶) مَّقَامًا په منزل او حُسْنِ کیږی ؛ مجلس (غریب ص۲۲) معنیٰ
دا شوه چه کوم یو د دواړو ډلو نه غوره دی د منزل د ځائے په اعتبار سره او د مجلس په اعتبار سره ؟

أَثَاثًا: سامان دكور. وَرِءْيًا: دَمنظر او صورت په اعتبار سره (مدارك ۳۳). فَلْيَمْدُدْ لَهُ: نسفي رحمه الله فرمائي: دا امر په معنیٰ دَخبر دے (۳۳) معنیٰ دا شوه پس مهلت ورکوی ده ته مهربان الله مهلت.

أَثَاثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ

سامان کور والا او شکل والا دی. ووایه ته څوک چه وي په ګمراهئ کښ،

فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا

پس مهلت ورکوی ده لره مهربان ته مهلت، تر دے چه کله وویني دوی هغه چه

يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ

دوی سره ئے وعده کړے شي یا عذاب لره، او یا قیامت لره، پس زر دے چه پوهه شي

مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ

څوک چه دے بد مرتبے والا، او کمزورے لښکر والا. او زیاتوي

اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى ۗ وَالْبَاقِيَاتُ

الله هغه کسانو لره چه هدایت ئے حاصل کړے، نور هدایت، او باقي پاتے کیدونکي

الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ

نیک عملونه، غوره دي په نزد د رب ستا په بدله کښي، او غوره دي

مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ

په اعتبار د انجام، ایا پس خبر یے ته د هغه کس نه چه کفر کړے په ایتونو زمونږ او وائي،

لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ أَمِ اتَّخَذَ

خامخا به ورکړے شي ما ته مال او بچي. ایا خبردے پر پټو باندے، یا نیولے دے

عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا

په نزد د رحمٰن لوظ لره. هیچرے نه، زر دے چه اوبه لیکو هغه چه

يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَ

دے وائي، او زیاته به کړو ده لره د عذاب نه، په زیاتوالي سره. او به

نَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَاتَّخَذُوا مِن

میراث کښي تر اخلو د هغه چه دے وائي او راشي به مونږ ته یو ځانته. او نیولي دي دوی

دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا

سوا د الله نه نور معبودان، چه شي هغوی دوی لره عزت ورکونکي. هیچرے نه،

مهربان الله مهلت. وَيَزِيدُ اللَّهُ: او زیاتوي الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه هدایت حاصل کړي نور هدایت ورکوي ځمونږ ته. وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ: او باقي پاتے کیدونکي نیک عملونه. وګوره کهف ۴۶.

أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ: امام بخاري رحمه الله دَخباب رضي الله عنه نه روایت ذکر کوي چه ځه اهنګروم په زمانه د جاهلیت کښ او خبا په عاص بن وائل قرض (دین) واو. ځه ورته راغلم مطالبه م ترے کوله هغه ووئیل چه نه یے درکوم تر دے چه ته کفر وکړے په محمد علیه الصلوٰة والسلام. پس ما ورته او ووئیلے چه ځه کفر نکوم په محمد صلی الله علیه وسلم باندے تر دے چه مړ کړي تا لره الله تعالیٰ بیا بیرا ژوندے کړے شے. پس هغه ووئیلے چه پرسته ما تر دے چه مړ شم او را ژوندے کړے شم، پس ما ته به مال او بچي راکړے شي پس ستا حق به درکړم نو دا ایت نازل شو. بخاري ۹۳/۲ کتاب البيوع والصلاة کتاب التفسير وګوره ابن کثير ۱۳۵/۳، ابن جرير ۹۱/۱۶، زاد المسير ۲۵۸/۵، قرطبي ۱۴۵/۱۱، روح ۱۲۹/۱۶، درمنثور ۲۸۳/۴.

لِيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا: چه شي دوی لره عزت ورکونکي امداد کونکي.

تَؤُزُّهُمْ اَزًّا: چې تېزوي دوی لره په ګناهونو باندې په تېزوالو سختو سره. (روح ج ۱۲ ص ۱۳۳) شيخ القرآن رحمه الله
به فرمايل چې تحريکوي دوی لره په تېزوالو سره. نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا: شمېرو دوی لره په شمېرلو سره. اِنَّ تَکتِيبه

سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ
زر دې چې انکار به وکړي په عبادت د دوی، او شي به مخالف په دوی باندې
ضِدًّا ﴿۸۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّآ اَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى
دښمنان. آيا نه دي ليدلي تا چې يقيناً موږ ور پرېښي دي شيطانان لره په
الْكٰفِرِيْنَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا ﴿۸۳﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ
کافرانو باندې، چې تېزوي دوی لره په تېزوالو سره. پس جلدي مه کوه په دوی باندې،
اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿۸۴﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى
يقيناً شمېرو موږ دوی لره په شمېرو سره. کله چې راجمع کړو متقيانو لره مهربان
الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَّنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى
ته، په جرګه. او وبه شړو موږ مجرمانو لره، جهنم
جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ لَا يَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ
ته، تږي. واک به نه لري دوی د شفاعت، مګر هغه څوک چې
اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ
نيولې وي په نزد د رحمٰن ژمنه لوظ لره. او وايي دوی، نيولې دې
الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا اِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ
رحمٰن، ولد لره. يقيناً راغلي يئ تاسو يو شي ته ډېر سخت ته. نږدې دي
السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ
چې اسمانونه، وچوي د دې خبرې نه، او وچوي زمکه،
وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ
او را غورځېږي غرونه په ټوټې کېدو سره. د دې دپاره چې نسبت کړی دی دوی رحمٰن لره
وَلَدًا ﴿۹۱﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾
ولد. او نه دی مناسب مهربان الله لره چې ونيسي ولد لره.
اِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّآ اٰتِي
نه دی، هغه څوک چې په اسمانونو کښې او زمکه کښې دي، مګر راتلونکي دي

رحمٰن ته چې ځانونه ورته وړاندې کړي.
عبادت کوونکي د دوی. ضِدًّا:
مخالفان اودښمنان به شي چې ستاسو
دښمنان به شي. (غريب القرآن)
تَنْشَقُّ الْاَرْضُ: چې وچوي
د دې قول د کفارو نه چې الله
ولد نيولی دی. (تسهيل ج ۲)
د دې نه خاص خطاب شو باقي د
راتلونکي په قيامت سره تعلق دی.
لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ: يقيناً راګير کړي
الله تعالیٰ دوی لره په علم کښې،
د دوی اقوال او افعال ورته
معلوم دي. فَرْدًا: شيخ القرآن
رحمه الله به فرمايل: تش تور
وُدًّا: زړه چې به ګرځوي
د دوی لره مينه، الله مينه پېدا کړي
د بندګانو شپېلو کښې. په حديث
شريف کښې راغلي دي: نبي
عليه السلام فرمايلي چې کله الله تعالیٰ د
يو بنده سره محبت ساتي نو
جبرئيل عليه السلام ته آواز وکړي
چې فلاني د نړۍ سره محبت وکړه
پس ته ورسره محبت کوه. بيا
هغه آواز وکړي په آسمان کښې
د دې لره محبت نازل شي په اهل
د زمکه کښې. (قرطبي ج ۱۱) هَلْ
تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ: آيا وينې ته
د دوی نه څوک. اويا اورې ته
د دوی ګش: رِكْزًا سرې کښې دي
آواز غلی. شيخ القرآن رحمه الله
به فرمايل چې رِکْزًا غلی
آواز ته وايي. ګش: د هغه او
قسي په کښې غلی آواز
د پښو يعني ګش دی ——

فائده: سورت په بشارت او
تخويف ختم شو.

امتيازات: (۱) تفصيل د واقعې د حضرت زکريا عليه السلام. (۲) تفصيل د ولادت د حضرت عيسیٰ عليه السلام
(۳) نصيحت د ابراهيم عليه السلام خپل بابا ته. (۴) معجزه د ملائکو عليهم السلام. (۵) رد په
هغه چا چې الله تعالیٰ لره نا اولي (اولاد) ثابتوي. (ختم شو سورت مريم په توفيق د الله سره)

په وخت د اصحابه شلو رسیدو ... ته خبره ده په توحید اباد ... غائب د سکونت کښې.
ذوالقعده ۱۴۲۶/۱۳۲۶ هـ ... دسمبر ۲۰۰۶ ... سورۃ طٰهٰ ... ۲۰ ده په ترتیب کښې، ۴۵ ده په نزول کښې

الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾ لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ

مهربان الله ته تابعدار. یقیناً راګیر کړي دي دوی او شمېرلي دي

عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾

شمارل. او ټول دوی راتلونکي دي هغه ته په ورځ د قیامت یوازې یوازې

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ

یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی او عملونه یې کړي نېک، زر ده چې وبه ګرځوي

لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

دوی لره رحمٰن مینه. پس یقیناً اسان کړی مونږ دا (قرآن) په ژبه ستا

لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿۹۷﴾

د دې لپاره چې زیری ورکړې په دې متقیانو ته او وېروې پرې قوم جګړه مار

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ۭ هَلْ تُحِسُّ

او ډېر هلاک کړي دي مونږ مخکې له دوی نه قومونه، آیا وینې ته

مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾

د دوی نه څوک یو، او یا اورې د دوی لره څه غلی اواز (پس پس)

(۲۰) سورۃ طٰهٰ مکیة	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	آیاتها ۱۳۵ رکوعاتها ۸

طٰهٰ ﴿۱﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿۲﴾

نه دی رالېږلی مونږ پر تا باندې قرآن د دې لپاره چې ته په مشقت کښې پرېوځې

اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۳﴾ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ

مګر د یادونې لپاره هغه چاته چې وېرېږي د الله نه. (قرآن) نازل شوی دی د هغه ذات نه

خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿۴﴾ اَلرَّحْمٰنُ

چې پیدا کړې یې ځمکه او اسمانونه اوچت. مهربان دی

عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿۵﴾ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ

په عرش باندې برابر دی. خاص هغه لره دي هغه چې په اسمانونو کښې دي او

ترتیباً او نزولاً پس د سورۃ مریم نه. وجه د تسمیه دا ده چې په اولنی ایت کښې لفظ د طٰهٰ ذکر دی. دعوی: تشجیع په تبلیغ باندې او د رسول الله ﷺ ته تسلي ده. شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چې د کړ سورت دعوی ده په دې باره کښې واقعه د موسی علیه السلام چې څنګه یې تبلیغ کړی دی او پاچا جابر سرکش غاغی ته او څنګه تکلیفونه یې برداشت کړي دي او بیا د تثبیت د ساحرانو ذکر کړی دی چې فرعون ته یې وویل فَاقْضِ مَآ اَنْتَ قَاضٍ (سحط المرد ...). ربطونه: (۱) سورۃ الکهف کښې نفي د علم غیب ده د ټیکا نو بندګانو نه. سورۃ مریم کښې دعوی نفي د اولاد ده او په دې کښې دعوی باندې (۲) مخکښې نفي د چو نو شو نو بندګانو نه، او دلته د زورونو نفي ده چې مصائب پرې راغلي دي. (۳) د سورۃ مریم اخر کښې تخویف ذکر شو او دلته هم تخویف دی په هلاکت د فرعون سره. (۴) هلته نفي د شفاعت قهري وه [illegible] او دلته نفي د شفاعت قهري ذکر ده. (۵) په ترتیب کښې مریم پسې راغلې ده او په نزول کښې هم ورپسې ده. خلاصه: دا سورت د توحید دی او له ترمذ پورې د تبلیغ [illegible] دوه خبرې دي: (۱) ترتیب د قرآن نه نشته او ترکیب د سورت دعوی هم ده. (۲) عقلي دلائل نقلیه، د ترمذ پورې بیا د ترمذ پورې. (۳) دعوی د توحید شته ۱۳-(۴) واقعه د موسی علیه السلام د ۹ نه. (۵) تثبیت د ساحرانو ده. (۶) تخویف ده. (۷) بشارت ده. لِتَشْقٰٓى: چې ته په مشقت او په تکلیف کښې پرېوځې بلکه د قرآن د نازلېدو مقصد پند او نصیحت دی د هغه چا د پاره چې وېرېږي د الله تعالی نه. اِلَّا استثناء منقطع ده لاکن رالېږلی دی مونږ د پاره د

پيدا شي هغه ليدلو، (ذكره ص٢٠)، استوى: سورت اعراف ٥٤ او يونس ٣ كښې تېر شوې دي، په معنا كښې ې نه حضرت
علي رضي الله عنه نه ځينو رحمه الله نقل كړي چه مذهب راجح ٢، قول د علي رضي الله عنه دے چه استوى غير مجهول دے او
كيفيت ئې غير معقول دے او ايمان

مَا فِي الْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرَىٰ ﴿٦﴾
هغه څه چه په ځمكه كښې دي، او هغه چه په مينځ د دواړو كښې دي او هغه چه لاندې د لندې خاورې دي.
وَإِن تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى ﴿٧﴾
او كه چرته ته په ښكاره وايې خبره، پس يقيناً الله تعالى پوهيږي په پټ او په پټو.
اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ ﴿٨﴾ وَ
الله، نشته هيڅ حق معبود مګر هغه، خاص هغه لره دي نومونه ښائسته. او
هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ ﴿٩﴾ إِذْ رَأَىٰ نَارًا
آيا راغلے تاته خبر د موسى عليه السلام، كله چه وليده ده اور او
فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي
پس ووئيل كور والو ته: حصار شئ، يقيناً ما وليده اور، شايد چه
آتِيكُم مِّنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ﴿١٠﴾
راوړم تاسو له د هغه نه شغله، او يا بيا مومم څه په اور باندې لارښود.
فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَىٰ ﴿١١﴾ إِنِّي أَنَا رَبُّكَ
پس هر كله چه راغے دغه اور ته آواز ورته اوكړے شو اے موسى! يقيناً زه، زه رب ستا يم،
فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ
پس وباسه پايزار خپل، يقيناً ته ئې په ميدان د ډېر لوى (پاك) كښې چه نوم ئې
طُوًى ﴿١٢﴾ وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ ﴿١٣﴾
دے طوى. او ما غوره كړې ته، پس غوږ كيږده هغه ته چه وحي كولے شي تاته.
إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَ
يقيناً زه، زه الله يم، نشته لائق د بندګۍ سوا زما نه، پس بندګي كوه زما، او
أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي ﴿١٤﴾ إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ
او درووه مونځ د پاره د ياد زما، يقيناً قيامت راتلونكے دے،
أَكَادُ أُخْفِيهَا لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾
نزدې ده چه پټ ئې اوساتم، د پاره د دې چه بدله وركړے شي هر نفس ته په هغه عمل چه كړے ئې وي.

په دے واجب دے او سوال د دې
په باره كښې بدعت دے، لا انه خالق
كان ولا مكان فهو على ما كان
قبل خلق المكان لم يتغير عما كان
(ملك ص ١١ اسماء الرحمن ص ٢٣٥).
وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ مُوسَىٰ
(حاشيه ذوت ص٢١)، الوسي رحمه الله
فرمائي چه د احكامو بيانولو نه روستو
د پاره د ترغيب نبي عليه السلام په اقتداء
كولو كښې په موسى عليه السلام پسې په
بار ذولو د ستړو مانې د نبوت او په
صبر كولو كښې په برداشت كولو د
مصيبتونو په رسولو د احكامو د
رسالت كښې الخ (ګوره روح ص ١٦٣)،
إِنِّي آنَسْتُ نَارًا: يقيناً ما وليده ما
اور. وادې ذوي ګمان كښې اور ولاړ
او مقصد ئې تو د ليدل وو. ګوره
نمل ٧ او قصص ٢٩ - د مدين
نه چه واپس شو او مصر ته روان وو
نو په لاره كښې د هغه بي بي نجوړه
شوه ډېره يخه اكيده وه په يخ ارقي او
لاره هم ذوي نه ورك شوې وه او
شپه هم وه نو موسى عليه السلام د لرې
نه اور اوليدلو (انضل التراجم ص ٣٣٥)
فائده: دا دے نه معلوميږي
شوه چه په خدمت اهل مېلاوري
موسى عليه السلام د اهل د خدمت د پاره
تلے وو، باري تعالى ورسره ځېنې
اوكړې او كليم الله جوړ شو.
فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ: پس وباسه پايزار
خپل. امام قرطبي رحمه الله په دې كښې
پنځه اقوال ذكر كړي دي. ګوره (ص ١٧٣)، حاصل ئې دا دے، كه
نجاست پكښې وي نو ويستل ئې
ضروري دي او كه نه وي نو بيا

لرې كول ئې ادب دے. طُوًى: د هغه مقام نوم دے په ١٣ آيت كښې د موسى عليه السلام د رسالت بيان دے. په
١٥ كښې اثبات د قيامت دے او مَا يُوحَىٰ كښې دے جزو نه ذكر شوي دي. دوه په ١٤ كښې، يو په ١٥ كښې. وَأَقِمِ
الصَّلَاةَ لِذِكْرِي: او درووه مونځ لره د پاره د ياد زما. يو مطلب ئې دا دے، علامه قرطبي رحمه الله فرمائي چه

منه چه وېلے شوي دي چه محافظت وکړه په مانځه باندې پس د توحيد نه او تسبيح دوه په عظمت د مانځه باندې ځکه چه
واتضرع دے الله تعالیٰ ته او ورپسې دې مخ د ځغه نه تونسائي ... دے موښو دکروے (روح ...) (نور دې عکسکي ...)

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِهَا وَ

پس وانه ړوي دې تا د دې نه هغه څوک چه ايمان نه راوړي په دې او

اتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ۝١٦ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ

تابع شوي د خپل خواهش، پس هلاک به شې. او څه دي دغه په ښي لاس ستا کښې؛

يٰمُوسٰى ۝١٧ قَالَ هِيَ عَصَايَ اَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا

اے موسیٰ؟ وويل هغه: دا امسا زما ده، تکيه لګوم په دې باندې

وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ

او پاڼې رغوم په دې سره په ګډو خپلو، او ما لره په دې کښې منفعتونه (فائدې)

اُخْرٰى ۝١٨ قَالَ اَلْقِهَا يٰمُوسٰى ۝١٩ فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا

نورې هم. وويل الله: وغورځوه دا اے موسیٰ! پس وغورځوله دا هغه، پس ناګاه

هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ۝٢٠ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ

هغه ماره وه چه منډې يې وهلې. وويل الله: ونيسه دا او مه ويرېږه؛

سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ۝٢١ وَاضْمُمْ يَدَكَ

زر دی چه واپس به يې کړو دا حالت اولني ته. او يو ځائې کړه لاس خپل،

اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوْءٍ

ترخ خپل ته، راوبه وځي سپين، بغير د ښکاري (عيب) نه،

اٰيَةً اُخْرٰى ۝٢٢ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ۝٢٣

نښه بله ده. چه وښايو تا ته د نښو زمونږ نه لويو نه.

ع ۱۰ اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ۝٢٤ قَالَ رَبِّ

لاړ شه فرعون ته، يقيناً هغه سرکشي کړې ده. وويل موسیٰ: اے ربه!

اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ۝٢٥ وَيَسِّرْ لِيْ اَمْرِيْ ۝٢٦ وَ

پرانزې ما ته سينه زما. او آسان کړه ما لره کار زما. او

احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ۝٢٧ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ۝٢٨

پرانزې غوټه د ژبې زما نه. چه پوهه شي دوی په وينا زما.

منزل ۴

بل مطلب دے حديث شريف کښې دے. پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمائي چه هر کله د مانځه نه ويده شي يا يې هېر کړي نو کله چه يې را ياد کړي، ځکه چه الله تعالیٰ فرمائي: اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ. (رواه مسلم، مشکوٰة ...) فائده: څوک چه قضائي مونځ نو قضاء يې راوړي او د رمضان شريف اخري جمعې ته چه پريږدي او وائي قضاء عمري. دا د دې ايت کريمه او د دې حديث شريف خلاف دي او د زړې کول دي. د قضاء عمري رد زيات د اختر د بدعاتو کتاب د ... نه تر ... پورې وګورئ، شکريه.

اَكَادُ اُخْفِيْهَا نږدې ده چه پټه کړمه قيامت لره. علامه خازن رحمه الله ليکي چه اکثر مفسرين فرمائي چه معنیٰ يې دا ده چه نږدې ده چه پټه يې کړمه د ځان نه، نو څنګه به يې بل چا ته ښکاره کړمه. (خازن ...) او آلوسي رحمه الله فرمائي چه دا محمول دي په هغه چه چلېدلې دي په عادت د عربو چه کله يې دا اراده وي چه مبالغه وکړي په پټولو د يو شي کښې نو وائي نږدې ده چه پټه کړمه دا د ځان نه هم. (روح ...)

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ (حاشيه د دے مخ): د دې نه مقصود ښکاره کول دي موسیٰ عليه السلام ته چه ته ورته اوګوره چه دا څه دي چه ستا په لاس کښې دي نو کله چه دا بل څه وګرځي او دې نو خبر شي چه هم دغه د الله تعالیٰ د رحمت

وې چه وې غوړ زوه دے کړه. دا د پاره د دې چه په موسیٰ عليه السلام اشتباه رانشي چه دا خو لکړه وه څه رنګه
مار شو. (...) د موسیٰ عليه السلام کلام کښې شلور جملې دي اول کښې جواب دے او په نورو کښې فوائد
ذکر کړي. فائده: د دې ايت نه معلومه شوه چه په لاس کښې امسا لرل سنت د انبياؤ عليهم

مع ملیحہ السلام دی، د رسول الله ﷺ هم داسنت دی او په دیکښ بیشماره دینی او دنیاوی فوائد دی۔ (معارف ۶/۹۳)
فائده ۱۸: د موسیٰ علیه السلام د دوؤ معجزو ذکر دے په وجه ایم توکښ. لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرَى: چه دنیا ته

وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿۲۹﴾ هٰرُوْنَ
او وګرځوه ماله، وزیر، د اهل خپل نه، هارون
اَخِيْ ﴿۳۰﴾ اشْدُدْ بِهٖۤ اَزْرِيْ ﴿۳۱﴾ وَاَشْرِكْهُ فِيْۤ اَمْرِيْ ﴿۳۲﴾
ورور زما، مضبوطه کړه په دهٔ ملا زما، او شریک کړه دهٔ په کار زما کښې۔
كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۳﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّكَ
د دې دپاره چه پاکي وایو ستا ډیره، او یاد دې کړو تا لره ډیر۔ یقینًا ته
كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿۳۵﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ
یې په مونږ باندې لیدونکے۔ او فرمایل الله، یقینًا ورکړے شوې ته، سوال ستا،
يٰمُوْسٰى ﴿۳۶﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰۤى ﴿۳۷﴾
اے موسیٰ! او یقینًا احسان کړے مونږ په تا، بل ځل،
اِذْ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰۤى اُمِّكَ مَا يُوْحٰۤى ﴿۳۸﴾ اَنِ اقْذِفِيْهِ
کله چه الهام وکړو مونږ، مور ستا ته د هغه الهام چه کیدے شو ... چه واچوه دهٔ لره
فِي التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ
په صندوق کښې، بیا واچوه صندوق لره په دریاب کښې، پس د څه ..... دریاب
بِالسَّاحِلِ يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّيْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ؕ وَ
په غاړه باندې، وبه نیسي دهٔ لره، دشمن زما، او دشمن د دهٔ، او
اَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ ۚ۬ وَلِتُصْنَعَ
واچوله ما په تا باندې، مینه د خلقو د طرف زما، او د دې دپاره چه پالنه وکړے شي ستا
عَلٰى عَيْنِيْ ﴿۳۹﴾ اِذْ تَمْشِيْۤ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ
په سترګو زما، کله چه روانه وه خور ستا، پس ویلے
هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ
آیا او ښایم تاسو ته، هغه څوک چه پالنه به وکړي د دهٔ، بیا واپس کړو مونږ تا لره،
اِلٰۤى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ؕ۬ وَ
مور خپلې ته، د دې دپاره چه یخې شي سترګې د هغې او نه غمژنه کیږي، او

مرغو ته او ته د نبانو زموږ لوئی نه، هلاکت د فرعون مراد دے (احسن التراجم ص ۲)۔ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ: کله چه موسیٰ علیه السلام ته رسالت ملاؤ شو نو شپږ دعاګانې ئے وکړې: ص ۲۵ تا ص ۳۲ تا ص ۳۴۔ جناب تهانوی رحمه الله فرمائی چه په دے کښې عدم منافات د دعا او د توکل دے (مسائل السلوک ص ۲۱)۔ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى: (حاشیه د دے مخ) یقینًا ورکړے شو تا ته سوال ستا اے موسیٰ۔ اِذْ اَوْحَيْنَاۤ: کلاصه نزول کښې وا چوله موږ مور ستا ته په طریقه د الهام سره (تا سی علی) مطلب دا چه الهام ورته وکړو۔ وګورئ مسائل ۲ ص ۸ اصل ۵۱، تقصص ص ۸۔ د شپږ و سوالونو کیلئه نه پس د الله تعالیٰ د شپږو انعاماتو په هغوی باندې ذکر وشو. ..... ۵ (د دے ..... د هغه خو) او د دا تاؤلو لکی په ص ۵۸۸ حاشیه شروع شوه۔ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا: او امتحانونه مو او سټل په تا باندې ډیر امتحانونه، مراد تربیه هغه ازمائشتونه دی چه د پیدائش نه واخله تر رسالته پورے دی۔ فائده ۲۱، حافظ ابن کثیر رحمه الله د ص ۳۵ نه او ابن جریر رحمه الله د ص ۱۹۵ نه حدیث الفتون اوږد ذکر کړے دے۔ شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه هغه سینه زوری نے کړیده۔ اِنَّهٗ طَغٰى ص ۲۴، لاړ شئ دواړه فرعون ته یقینًا دا سرکشه شویدے۔ وګورئ ص ۲۸ قصص ص ۳۹ نازعات۔ د ص ۴۳ طه نه وروسته طریقه د دعوت بنائی او تسلی هم ورکوی او د فرعون د دوؤ سوالونو جواب دے ص ۵۰ ص ۵۲۔ فَقُوْلَا لَهٗ: پس وایئ دواړه ته وینا نرمه۔ شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دا حکم په ابتداء کښې دی او کله چه په ضد ټینګ شو نو ورته سخته لهجه وه۔ وګورئ سورت اسراء

إِنَّنَا نَخَافُ: یقیناً مونږ ۲ ویریږو چه جلتی به وکړی په عقوبت زمونږ ۲ بانې او صبر به ونکړی پوره والی د دعوت او اظهار د معجزے ته (روح ﷺ) أَوْ أَن يَطْغَىٰ، او یا به زیاتوالے وکړی په سرکشی کښې چه ستا په شان کښې به نامناسبه خبرے وکړی۔ (روح ﷺ)۔ دویمه معنی: مونږ ۲ ویریږو چه جلتی به وکړی په مونږه چه خبره به نه اوری زمونږ ۲ نه او یا به سرکشی وکړی مونږ ۲ به قتل کړی (کبیر ﷺ) فائده: دا خوف طبعی دے چه د نبوت او رسالت سره منافی نه دے۔ قَالَ لَا تَخَافَا، دا تسلی ده فرمائیلے الله تعالی چه مه ویریږئ یقیناً زه تاسو سره یم اوریدونکے د خبرے ستاسو او وینم افعال ستاسو۔ ابن عباس رض فرمائی اوریدونکے د دعاء (سوال) ستاسو چه قبلومه به ئے او وینم هغه چه اراده ئے کوی په تاسو باندے۔ (مدارک ﷺ) فَأْتِيَاهُ: کښې بیان د طریقے د دعوت دے چه نخوت خبرو سره۔ په دے کښې تخویف دے۔ وَالسَّلَامُ، او سلامتیا د عذاب نه ده په دار ینو کښې په هغه چا چه تابعداری کوی د هدایت یعنی ایمان ئے راوړے وی۔ بانثه زجاج رحمه الله فرمائی چه دا دے سلام نه تحیة سلام نه دے مراد۔ وګوره زاد المسیر ﷺ فائده ۱۲: د بخاری شریف حدیث کښې هم راغلی چه نبی اکرم ﷺ چه هرقل ته کوم خط لیکلے وو هغه هم دا کے وو سَلَامٌ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ فائده ۱۳: په دے مقام کښې د فرعون اولنے سوال دے۔ په دے کښې جواب دے

فَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَاكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنَّاكَ

او ووژلو تا یو نفس لره پس خلاص کړو مونږ ته د غم نه، او امتحان مونږ وکړو ستا

فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِي أَهْلِ مَدْيَنَ

امتحان ډیر، پس ورته شوے تیر کړو تا څو کلونه په اهل مدین کښې،

ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ يَا مُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ

بیا راغلے ته په موده مقرره کښې، اے موسیٰ۔ او غوره کړم زه تا ستا لره

لِنَفْسِي ﴿٤١﴾ اذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي

د خپل ځان لره، لاړشه ته او ورور ستا په نښانو زما،

وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴿٤٢﴾ اذْهَبَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

او سستی مه کوئ په یاد زما کښې۔ لاړشئ دواړه فرعون ته،

إِنَّهُ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ

یقیناً هغه سرکشی کړیده۔ پس ووایئ هغه ته وینا نرمه، شاید هغه نصیحت قبول کړی

أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ

او یا اویریږی۔ دواړو ووئیل اے ربه زمونږه یقیناً مونږه ویریږو چه زیاتے به وکړی

عَلَيْنَا أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي

په مونږ او یا به زیات وکړی سرکشی۔ ووئیل الله مه ویریږئ یقیناً زه

مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَا إِنَّا

تاسو سره یم اورم او وینم۔ پس ورشئ هغه ته پس ووایئ یقیناً مونږه

رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا

استازی د رب ستا یو، پس پریږده زمونږ سره بنی اسرائیل،

تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ

او مه ورکوه عذاب دوی ته، یقیناً راغلی یو مونږ تا ته په نښه د رب ستا نه،

وَالسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ

او سلامتیا په هغه چا ده چه تابعداری کوی د هدایت۔ یقیناً مونږ ته وحی شوے شک

چه رب زمونږ ۲ هغه ذات دے چه هر شی ته ئے د هغه د شان مناسب پیدائش ورکړے او لار ئے ورته ښودلے ده۔ وګورئ تک مثل شمس۔ په دے کښې د فرعون بل سوال دے۔ په دے کښې جواب دے۔ قصص بکا هم وګورئ۔ وقال مائل موسیٰ علیه السلام چه علم د هغوی په نزد د رب ځما د دے

أُوحِيَ إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ

وحی شوې ده موږ ته، چې یقیناً عذاب به هغه چا دے چې دروغجن ګڼي

وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ

او مخ واړوي. ووئیل (فرعون) پس څوک دے رب ستاسو اے موسیٰ. ووئیل هغه

رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ

رب زمونږ هغه ذات دے چې ورکړې ئې هر شي ته پیدائش د هغه، بیا ئې

هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَىٰ ﴿٥١﴾

ورته لار ښوَدلې. ووئیل (فرعون) پس څه حال د پیړو د مخکنو دے؟

قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَّا يَضِلُّ

ووئیل (موسیٰ) علم د هغوی پونزد د رب زما دے په کتاب کښې، نه غلطیږي

رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ

رب زما او نه ترې هیریږي څه. هغه ذات چې ګرځولې ئې دے تاسو له

الْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَ

زمکه فرش، او چلولې ئې دي تاسو له په دې کښې لارے، او

أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ أَزْوَاجًا

رانازله کړې ئې ده د بره اوبه، او وېستل مونږ په هغې سره جوړے

مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُوا وَارْعَوْا أَنْعَامَكُمْ

د شینکو مختلفو نه. خورئ او څروئ څارویان خپل،

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي النُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ مِنْهَا

یقیناً په دې کښې خامخا نښے دي د پاره د خاوندانو د عقلونو. د هغې نه مونږ

خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ

پیدا کړي یئ تاسو او په هغې کښې به مو ورګرځوو، او د هغې نه به مو وباسو تاسو

تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ آيَاتِنَا كُلَّهَا

بل ځل. او یقیناً ښودلې وې مونږ هغه (فرعون) ته نښے زمونږ ټولے،

په کتاب د لوح محفوظ کښې. مطلب دا چې دا سوال د غیبو په باره کښې دے او د غیب علم الله تعالیٰ پورې خاص دے او دا وظیفه د رسالت نه ده، ذکر وي تاسي بیا د وحدانیت ترمیمه بیره دلائل هغه ذکر کوي۔

كُلُوا وَارْعَوْا: (حاشیه ده دے هم): خورئ (د دے نه) او څروئ (پکښې) ولګران خپل. ډیپټو ئې شیخ رحمه الله فرمائي: دا ادخال الالهي دے او دا ما قبل د پاره تنویر دے. (جواهر)

وَلَقَدْ أَرَيْنَاهُ: دا رجوع ده په طرف د اصلي موضوع (او واقعې) (جواهر) او یقیناً او ښودلے مونږ هغه ته سپینے نښے پس دروغجن ئې وګڼلے او انکار ئې وکړو. د هغو ذکر اسراء ع١ کښې تیر شوې دے. علامه قرطبي رحمه الله فرمائي چې دا دلالت کوي چې فرعون کفر عناداً کړے وو. (ص٢١٣) - ګوګوري مثل

١٤

قَالَ أَجِئْتَنَا الخ: فرعون دَ موسیٰ علیه السلام معجزه ته جادو ووئیل او دَ مقابلې دپاره ئې موسیٰ علیه السلام ته اختيار ورکړو. هغوی ورته ووئیلې چه وخت مقرر ستاسې ورځ دَ زينت: بنالست، جشن، اختر

فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ

پس دروغجن ئې وګڼلو او انکار ئې وکړو. دَ وئيل آيا راغلے ئې موږ ته چه وباسے موږ لره دَ ځمکے

أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَا مُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ

زموږ نه په جادو ستا، اے موسیٰ. پس خامخا به يقيناً راوړو تا ته جادو

مِّثْلِهِ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا

په مثل دَ دے، پس مقرر کړه په مينځ زموږ او مينځ خپل کښې، وخت مقرر چه خلاف

نُخْلِفُهُ نَحْنُ وَلَا أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾ قَالَ

نه کړو دَ هغه موږ او نه ته، ځاے، برابر. وَوئيل موسیٰ

مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ النَّاسُ

مقرر وخت ستاسو، ورځ دَ بنالست دَ اختر ده. او دا چه راجمع کړے شی خلق،

ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهُ ثُمَّ

غابنت کښې. پس واوړيدو فرعون، پس راجمع ئې کړو تدبير خپل، بيا

أَتَىٰ ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا

راغے. وَوئيل دوی ته موسیٰ، تباه به شئ، مه تړئ

عَلَى اللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ وَقَدْ

په الله تعالیٰ باندے دروغ، پس هلاک به کړی تاسو لره په عذاب باندے، او يقيناً

خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ

ناکامه شو هغه څوک چه دروغ تړي. پس اختلاف وکړو دوی دَ کار خپل په مينځ خپل کښې

وَأَسَرُّوا النَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوا إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ

او پټه ئې وکړه جرګه. ووئيل دوی يقيناً دا دواړه جادوګران دي،

يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا

اراده لري چه را اوباسي تاسو لره دَ ځمکے ستاسے نه په جادو خپل،

وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَاجْمَعُوا

او ورانه کړي طريقه ستاسو چه غوره ده. پس راجمع کړئ،

ده. او راجمع کړے شی خلق غابنت ملکے. فائده: علامه جمال الدين قاسمي رحمه الله ليکلي دي چه دا ايوه ورځ مشهوره وه دَ دوی په نزد په جمع والي دَ خلقو کښې (قاسمي). مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي چه مراد ترينه دَ اختر يا دَ کوم ميلې وغيره دَ اجتماع ورځ وه. (معارف ج٦) دَ رستم شيخ صاحب ليکلي دي: يعنی هغه ورځ چه په هغې کښې جشن کيږي دَ فرعون دَ پيدائش او يا دَ هغه دَ تاج پوشئ او په دے لفظ سره دَ مکان تعيين هم اوکړے شو ځکه چه زينت به دَ الخلافة کښې کيدو او وخت دَ غابنت ئې ځکه مقرر کړو چه خلق دَ لرے لرے ځايونو نه راورسي او بيا هم ګښے دَ پاره واپس خپلو کورونو ته دَ رسي (احسن الكلام ج٢). قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ: چه کله جادوګر راغلل نو موسیٰ عليه السلام ورته دعوت ورکړو هغوی خپل مابين کښې جرګه هم وکړه لاکن بيا دَ لالچ په بنګر مقابلے ته تيار شو، دَ شاه فور شيخ رحمه الله ليکلي دي: دَ موسیٰ عليه السلام دا جلالي کلام چه هغوی واوريدلو نو په هغوی رعب راغے. هغوی وے چه دا سړے رباني دے، دَ دے سړي مقابله نه ده بکار. فرعون دَ دے معاملے نه خبر شو نو هغه دوی پسے سړے رالېږه او دوی لره ئې طمع ورکړه او دباؤ ئې پرے هم وکړو نو دَ فرعون په تأثر سره دوی دا وے چه دوی ساحران دي او تاسو دَ ځمکے نه دَ باسي او ستاسے چلن ختموي يعني ستاسو چه کوم رواج دے چه تاسو لره مال درکوي، دوی دا رواج ختموي او خپل رواج قائم کوي يعني دين دَ دوی مقصود نه دے صرف اقتدار دنيا دوی غواړي. (افضل التراجم ج٢م) عنه

فیُسْحِتَکُم بِعَذَابٍ ط‎ ؛ هلاک به کړی تاسو لره په عذاب (شوکانی ۳/۴۹۵) اَلْمُثْلٰی ۶۳ : او بو به زړی
(ختمه به کړی طریقه ستاسی چه غوره ده) (مدارک ۳/۴۸) ؛ قَالُوْا یٰمُوْسٰی ۶۵ : حاشیه ده دے صفحې ؛

كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ
تد بیرخپل، بیا راشئ صفونه، او یقیناً کامیاب شو نن ورځ هغه څوک
اسْتَعْلَىٰ ﴿٦٤﴾ قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا
چه غالب شی. ووېل دوی اے موسٰی! یا خو ته به غورځوے همسا او یا به
أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ
شو مونږ اول هغه چا نه چه غورځول کوی. ووېل موسٰی علیه السلام بلکه تاسو غورځوئ
فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن
پس ناڅاپه رسۍ د دوی او همساګانے د دوی به خیال کړی شو موسٰی ته، د جادو
سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ
د دوی نه، چه دا منډے وهی. پس پټه پیدا کړه په زړه خپل کښې
خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ
ویره، موسٰی. ووېل مونږ، مه وېرېږه، یقیناً همیشه ته به
الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا
غالب یې. او وغورځوه هغه چه ستا په ښی لاس کښې ده، غرپ به کړی هغه چه
صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ
دوی جوړ کړی دی، یقیناً هغه چه دوی جوړ کړی دی تدبیر د جادوګر دے، او نه کامیابه کیږی
السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا
جادوګر هر ځائے ته راشی. پس وغورځولی شو جادوګر، سجده کوونکی،
قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ قَالَ
ووېل دوی، ایمان راوړے مونږ په رب د هارون او د موسٰی علیهما السلام. ووېل فرعون
آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ
ایمان راوړو تاسو ده له، مخکښې د اجازت زما نه تاسو ته، یقیناً دا خامخا مشر ستاسی دے
الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ
هغه دے چه ښودلے یې تاسو ته جادو، پس خامخا یقیناً غوڅ به کړم لاسونه ستاسی،

ووېل دوی اے موسٰی! یا خو ته خپل همسا وغورځوه او یا به شو مونږ اول غورځوونکو نه. بیضاوی رحمه الله فرمائی چه دغه دوی ته د غالب والی د اعتماد نه په خپل کار. او وئیلی شوی دی چه د دی نه مطلب د موسٰی علیه السلام سره ادب دے (روح ۱۶/۲۳۲). قرطبی رحمه الله فرمائی چه دوی ادب د موسٰی علیه السلام وکړو نو شول د اسباب د ایمان د دوی (۱۱/۲۲۲). فَاَوْجَسَ فِیْ نَفْسِهٖ : پس پټه پیدا کړه په زړه خپل کښې ویره موسٰی (غریب القرآن ۲۸۰). فائده ۱ - دا ویره یعنی خوف د موسٰی علیه السلام د خپل ځان د پاره وه نو دا مقتضا د بشریت نه وه اے کیدل د نبوت سره خلاف نه دی لاکن ظاهره دا ده چه دا ویره د خیل ځان د وجے نه نه وه بلکه د دے وجه نه وه چه ګړے په وړے مجمع کښې د ساحرانو غلبه ښکاره شی نو کوم مقصد د دعوت د نبوت چه دے هغه به پوره نشی له ځکه چه نه د دے په جواب کښې د حق تعالٰی له طرفه نه کوم ارشاد او شو په هغه کښې د اطمینان وکړو چه جادوګر نشی غالب کیدے صرف تاسو لره به فتح او غلبه حاصلیږی (معارف القرآن ۶/۱۲۲). په ۶۵ - ۶۹ کښې تسلی ده موسٰی علیه السلام لره. بیا په کښې زور نه د فرعون ساحرانو ته ده، او د هغه الزام دے چه موسٰی علیه السلام ستاسو مشر استاذ دے او ورته د پاره د هغه دی.

قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ: د دې خبرې نه ثابتېږي چې د ساحرانو د ايمان اثر ډېر مضبوط و، هغوی فرعون ته جواب ورکړو. لَا ضَيْرَ، فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ: چې څه کوې هغه دې وکړه. (رسائل الرسو منک) وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ: او هغه چې تا زور کړی په موږ باندې د جادو د کولو نه د دې نه مراد دا دی چې مقابله کښې مجبوره کړل وو. او یا فرعون په خپل ملک کښې په زور تعليم سحر جاري کړی وو. وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ: او الله تعالی غوره دے په ثواب ورکولو کښې هغه چا له چې اطاعت ئې کوي او همیشه دے په عذاب ورکولو هغه چا له چې نافرماني ئې کوي او دا رد دے د قول د فرعون دے. وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ. (مدارک منه) مُجْرِمًا: شان دا دے چې څوک چې راشي الله تعالی ته جرم کونکي. دا تخويف دے او مراد د مجرم نه کافر مشرک دے. وکوری (مدارک منه، قرطبی منه). لَا يَمُوتُ فِيهَا: نه به مري په هغه کښې او نه به ژوندي وي. د دې حاصل معنی دا ده چې نه ئې ژوند خه ژوند وي. ابوبکر رازي رحمه الله فرمائي چې نه به مري په هغه کښې په داسې مرګ چې د هغه په سبب ئې اونه به داسې ژوند وي چې نفع ورله ورکړي او لذت په سبب حاصل کړي. (رسائل منه)

طه ۲۰

وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي

او پښې ستاسې؛ اړول بدل، او خامخا به تاسې په دار کړم زه، په

جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا

ناخونو د کجورو کښې، او خامخا به معلومه شي تاسې چې کوم يو زموږ سخت دے عذاب او

وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُوا لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ

او همیشه پاتې دی. وويل دوی: هيڅکله به غوره نه کړو تا په هغه څيز چې راغلي موږ ته د

الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنتَ

ښکاره معجزو، او په هغه ذات چې پيدا کړي ئې يو موږ، پس فيصله کوه هغه چې ته ئې

قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾

فيصله کونکے، يقينا ته به فيصله کوې دے ژوند د دنيا کښې.

إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا

يقينا موږ ايمان راوړے په رب خپل چې بخښنه وکړي موږ ته د ګناهونو زموږ، او هغه چې زور کړے وو تا

عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُ

په موږ باندې په هغه باندې د جادو نه، او الله تعالی غوره دے او همیشه دے. يقينا شان دا دے

مَن يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ لَا

څوک چې راشي رب خپل ته جرم کونکے پس يقينا د هغه لره جهنم دے، نه به

يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِ مُؤْمِنًا

مري په هغه کښې او نه به ژوندے وي. او څوک چې راشي رب خپل ته مومن،

قَدْ عَمِلَ الصَّالِحَاتِ فَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ

چې عمل ئې کړے وي د نيکو، پس دغه کسان دي دوی لره درجې

الْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

اوچتې دي. باغونه د همېشوالي، بهيږي به لاندې د هغې نه،

الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ مَن

ويالې، همیشه به وسيږي په هغو کښې، او دغه بدله د هغه چا ده چې

منزل ۴

مَن تَزَكَّىٰ: او دا بدله د هغه چا ده چې ځان پاک کړي د شرک نه په وئيلو د لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ. (مدارک منه ج ۳) په دے د دواړو ايتونو کښې بشارت دے.

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ مخه: ددې ځائ نه تر آخره پورې دوهمه حصه ده او په دې کښې شپږ خبرې دي: (١) تخفيف د موسىٰ عليه السلام د قوم څخه د نه. (٢) زيارتونه د څخه (٣) تخويفات اخروي منا مکې ... او دې ...

تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾ وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلٰى مُوسٰىٓ أَنْ أَسْرِ

څوک چې پاک شو. او يقيناً وحي وکړه موږ موسىٰ ته، چه د شپې بوزه

بِعِبَادِي فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ

بندګان زما، پس ووهه دوی لره لاره، په درياب کښې،

يَبَسًا لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ﴿٧٧﴾ فَأَتْبَعَهُمْ

وچه، نه به ويريږې ته د رانيولو او نه به ويريږې ته د ډوبيدو. پس پسې ورغی

فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهٖ فَغَشِيَهُم مِّنَ الْيَمِّ مَا

دوی پسې فرعون په لښکرو خپلو سره، پس پټ کړل دوی لره د درياب نه هغه چه

غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا

پټ يې کړل دوی لره. او بې لارې کړو فرعون قوم خپل، او لاره يې ورنه

هَدٰى ﴿٧٩﴾ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ قَدْ أَنجَيْنٰكُم مِّنْ

کړه. اے بنی اسرائيلو يقيناً خلاص کړي موږ تاسو لره د

عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّورِ الْأَيْمَنَ

دشمن ستاسو نه، او وعده کړې موږ تاسو سره په طرف د طور ښي باندې،

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿٨٠﴾ كُلُوا مِن

او نازل کړي موږ تاسو باندې من (ترنجبين) او مرغان. خورئ د

طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ

پاکيزه هغو نه چه درکړي موږ تاسو ته، او سرکشي مه کوئ په دې کښې پس نازل به شي

عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي

تاسو باندې غضب زما، او هغه څوک چه نازل شي په هغه باندې غضب زما

فَقَدْ هَوٰى ﴿٨١﴾ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ

پس يقيناً هلاک شو. او يقيناً زه ډير بخښونکې يم د هغه چا دپاره چه توبه وکړي او ايمان راوړي

وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿٨٢﴾ وَمَآ أَعْجَلَكَ

او عمل وکړي نيک، بيا په لاره سمه لاړ شي. او څه شي جلد راوستلو ته لره

(٣) ذکر د موسىٰ عليه السلام او تعمت ... (٣) تسلي رسول اکرم ﷺ ته ... نه پخه امور (٥) دعوی د توحيد ... (٦) زجر ...

أَنْ أَسْرِ: چه د شپې بوزه بندګان زما (فتح ...) د سورة شعراء ... نه د موسىٰ عليه السلام د هجرت تفصيلي واقعه ذکر ده. لَا تَخَافُ دَرَكًا: چه نه به ويريږې د رانيولو د فرعون نه او نه به ويريږې د ډوبيدو د درياب نه (قرطبي ...). فَغَشِيَهُم مِّنَ الْيَمِّ: پس پټ کړه دوی لره د درياب نه هغه چه پټ يې کړل دوی لره. علامه نسفي رحمه الله فرمائي چه دا د جوامع الکلم نه دے. يعنې پټ کړه دوی لره هغه چه نه پوهيږي په حقيقت د هغه مګر الله تعالىٰ (مدارک ...).

وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ: او ګمراه کړو فرعون قوم خپل او هدايت يې ورته ونکړو. ابن جوزي رحمه الله فرمائي چه دا تکذيب د قول د فرعون دے. وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ (زاد المسير ...) وګورئ سورة مؤمن ...

يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ: ددې ځائ نه ذکر د نعمتونو دے په بنی اسرائيلو باندې چه شکر او باسي: (١) د دشمن نه يې خلاص کړي. (٢) وعده يې ورکړه د کتاب د ورکولو. (٣) من او سلوىٰ يې ورباندې نازل کړه. وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ: او سرکشي مه کوئ په دې کښې په ناشکرۍ کولو سره (١) په بدلولو او ني ... (٢) په ذخيره کولو سره (٣) د حلال نه تحريم کولو سره. وګورئ ابراهيم ... بقره ... فَقَدْ هَوٰى:

پس هلاک شو. دا تخويف دے. ثُمَّ اهْتَدٰى: او يقيناً زه بخښونکې يم د هغه چا دپاره چه توبه لے وباسي د شرک نه او خالص ايمان يې راوړے دے او عمل يې کړے وي د شرع برابر او بيا کلک شوے وي په دې تر مرګه پورې. دا بشارت دے. وګورئ حٰمٓ سجده ... وَمَآ أَعْجَلَكَ عَن قَوْمِكَ ... او څه شي ...

ځکه را رسېدلو تا ته د خپل قوم نه اے موسیٰ؟ شاه ولی الله رحمه الله لیکی چه موسیٰ علیه السلام سره د اوویا کسانو د قوم خپل نه د طور طرف ته متوجه شو. حضرت موسیٰ علیه السلام د هغوی نه وړاندې سبقت وکړو خبر ورته ورسید د

عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوسٰى ﴿۸۳﴾ قَالَ هُمْ اُولَآءِ عَلٰٓى
د قوم خپل نه، اے موسیٰ، ووئیلے هغه، دوی هغه دی را روان په
اَثَرِىْ وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿۸۴﴾ قَالَ
نقش قدم زما او جلتی راغلم تا ته اے ربه زما چه ته راضی شے. وفرمائیل الله
فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْۢ بَعْدِكَ وَاَضَلَّهُمُ
پس یقیناً په امتحان کښی واچولو موږ قوم ستا روستو د راتللو ستا نه او گمراه کړی دی
السَّامِرِىُّ ﴿۸۵﴾ فَرَجَعَ مُوسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ
سامری. پس واپس شو موسیٰ قوم خپل ته، د غصے نه ډک وو
اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا
غمژن او ووئیلے اے قومه! آیا وعده نه وه کړے تاسو سره رب ستاسو وعده
حَسَنًا ؕ اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ
ښائسته، آیا پس اوږده شوه په تاسو باندے وعده، یا اراده وکړه تاسو
اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ
چه نازل شي په تاسو باندے غضب د رب ستاسو نه
فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِىْ ﴿۸۶﴾ قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا
پس خلاف وکړو تاسو د وعدے زما نه. ووئیلے دوی خلاف نه دے کړے موږ د
مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ اَوْزَارًا مِّنْ
وعدے ستا نه په اختیار خپل، او لیکن موږ باندے بار کړے شوی وو په موږ بوجونه د ښائست
زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلْقَى السَّامِرِىُّ ﴿۸۷﴾
د گاڼو د دغه قوم، پس اوغورځول موږ هغه لره پس دغه رنگ اوغورځول سامری.
فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا
پس راوویستو دوی لره خوسی، جوثه، هغه لره آواز وو، پس ووئیلے دوی
هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوسٰى ۵ فَنَسِىَ ﴿۸۸﴾ اَفَلَا
دا معبود گوره ستاسو دے او معبود د موسیٰ هم، پس هیر کړے دے موسیٰ، آیا نه

(فتح عدم). د شاه پور شیخ رحمه الله لیکی: نو هغه مقام خاص ته چه نزدے شو نو د ډیر شوق نه موسیٰ علیه السلام ترې مخکښې اورسید نو باری تعالیٰ ترینه تپوس وکړو چه تا ولے تادی وکړه نو هغه اووے چه د دوی رغه دی را روان دی ما هم اوما تادی وکړه چه ته خوشحاله شے نو باری تعالیٰ ورته اوفرمائیل چه په دوی امتحان وکړو د دوی قوم روستو گمراه شوے او سامری د هغوی د گمراهئ سبب دے نو موسیٰ علیه السلام په قهر او افسوس سره واپس شو. مطلب دا شو چه کله سړے تا زړوا او وینی د ټول قهر ورتنی او ارمان وکړی چه وا نارو انه وے نو وا شنګ (الانبیاء د دی الحق. (افضل التراجم ۳۸۸) و گوری اصراف ۱۵۰ اید

وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِىُّ: (حاشیه د دے مخ) د دا د سامره کلی وو او ساحر او منافق وو (تسهیل ص) قتاده رحمه الله وائی: دا عظیم لوئے سړے وو په بنی اسرائیلو کښی د سامره کورنئ نه لاکن دشمن د اسلام منافق شوے وو. پس د پورے وتلو د دریاب نه سره د موسیٰ علیه السلام نه پس کله چه تیر شو بنی اسرائیل په عمالقو باندے او هغوی را جوخته شوی وو په دے نو ځکه بنی اسرائیلو وویلے

اِجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ: پس غنیمت وګڼلو سامری او یو فرصت په لاس ورغلو واخلق میلان کوی عبادت د خوسی ته پس خپل لاس ور له جوړ کړه. (قرطبی ۱۳۴) و گوری

۱۳۸ اعراف. فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا: موسیٰ علیه السلام اول د قوم سره بیا د هارون علیه السلام سره بیا د سامری سره خطاب کوی. وَعْدًا حَسَنًا: وعده ښائسته یا د توحید ده یا د تورات د ورکولو وه. بِمَلْكِنَا: د قدرت خپل نه او د اختیار خپل نه (ابن کثیر ۱۹۲) حُمِّلْنَآ اَوْزَارًا: لاکن بار کړے شوی وو په موږ د بوجونه د غله

يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا ۙ وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ

گوري دوي چه نه گرځوي ته دوي ته خبره، او نه لري دوي ته

ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِن

ضرر او نه نفع. او یقیناً ویلي وو دوي ته هارون مخکښې

قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ

دې نه، ای قومه زما! بېشکه تاسو په دې ازمیښت کړی شوي یئ، او یقیناً رب ستاسو

الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوا أَمْرِي ﴿٩٠﴾ قَالُوا

رحمن دی، پس تابعداري زما کوئ او اطاعت کوئ د حکم زما. وویلې دوي

لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا

هیڅکله به نه یو موږ لرې د دې نه ناست، تر دې چه واپس راشي موږ ته

مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ

موسیٰ. وویل موسیٰ ای هارونه! څه شي منع کړې ته کله چه ولیدل تا دوي

ضَلُّوا ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴿٩٣﴾

گمراه شو، چه تابعداري نه وکړه زما، آیا پس خلاف وکړه د حکم زمانه.

قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي ۖ

وویل هغه ای ځوی د مور زما! مه نیسه ږیره زما او سر زما.

إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي

یقیناً زه ویرېدم چه وبه وائې ته چه بېلتون دې پیدا کړو په مینځ د بني

إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا

اسرائیلو کښې، او ونه کړو انتظار د خبرې زما. وویل موسیٰ پس څه دی

خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ

کار ستا، ای سامریه! وویل هغه پوه شوم په هغه څه چه نه وو

يَبْصُرُوا بِهِ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ

پوهه دوي په هغې، پس راواخستل موټی د ځای د تابعدارۍ (نقش قدم) د

منزل ۴

کانړو د دغه قوم. د شیخ التفسیر رحمه الله فرمائي، په ویکښې دوي د بیچارگۍ او انتظار تصور پیش کړو چه وشوه واسطه چه د گڼ شانو چه کوم زیورات سو او طور استعارا اخستي وو، او س د هغوي د هلاکت نه بعد هغوي د واپس ورلو امکان نه وو او نه هغوي ته اجازه ورکړې شوي استعمالول او د هغو جائز وو. نو د سامري د خبرې دا او بچو دا هم نه وه. د هغوي نه امنوا او د گناه نه د ځان بچ کیږي لو د پاره سو. نو د زیوراتو د کوم نه او وړو باهر وغورزول او سامري وا بیا وکړو (جواهر رحمه الله). فائده: د دې نه مخلوقاتو د بېړي گناه ده او دوي په گمان کښې چه سامري او د هغه په شان د عبادت کول وو د هغه نه عاجز دی. سامري او د هغه شان کار وي. (احسن الکلام ص). فیتني پس خاند شوي د هغه نه او وسه طبري نه په طور کښې (روح ص). فائده: علامه خازن رحمه الله او امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دوي به چا پرې د خسي نه کړو لوله او داشه وپښې (په) جنال په آیت مشگری د خسي عاجزي د کړي چه نه ورسره خبرت کولې شي او نه ورله د خپله ضرر او نفع واختیار دے. ص (ا) (امداد) شعراء هم وکوري. ولقد قال لهم ص: (حاشیه د) مجو: د دې نه معلومه شوه چه هارون علیه السلام وسه تبلیغ کړې د او چپ شوې نه وو. التقیه نه شوه کړې. امداد ص هم وگوري — أفعصيت أمري: یا خلاف وکړه د امر خپله. ص: امداد، یابن ام: ای ځویه د مور، شیخ القرآن رحمه الله په فرمائیل ویکښې ترحم وسه. د شاه پور رحمه الله معنی لیکی ای د ابنې خوریه! (افضل التراجم ص). لا تاخذ بلحیتي ص: امداد ص هم وگوري. فائده: د دې آیت نه معلومه شوه چه ږیره او سر دو مره سا تل چه نیولې کیږي شي سنت د پیغمبرانو دی (احسن الکلام ص). د هارون علیه السلام دو مره ږیره وه چه نیولې کیده. (فتح القدیر) والا وائي چه د وېښته کسول د موقې نه هیڅ ادئي دي روا گرې. (افضل التراجم ص) قال بصرت: وویلې سامري: نه

مت چه پوهه شو ما په هغه چه دوی پوهه (خبر) نه وو په هغه پس راواخسته ما لږ موټی د تابعدارۍ د

رسول نه چه بیا می وغورځوله او همدغه رنګ ښه ښکاره کړه ماته نفس زما. د آ معنی په شیخ القرآن رحمه الله کړله. لوی امام رازی

قال المعرب رحمه الله د ابو مسلم نه نقل کړیده او د دې رجحان ئې کړیدې او وائی چې دی چه ښکاره ده ولیکن منکر مخالفت د مفسرینو نه لکن زموږ د تحقیق نه دا دی د نوره وجو نه صحیح...

الرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي

[illegible]

نَفْسِي ۝٩٦ قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ

[illegible]

أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا

[illegible]

لَنْ تُخْلَفَهُ ۖ وَانْظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ظَلْتَ

[illegible]

عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ

[illegible]

نَسْفًا ۝٩٧ إِنَّمَا إِلَٰهُكُمُ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا

[illegible]

هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۝٩٨ كَذَٰلِكَ نَقُصُّ

[illegible]

عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ

[illegible]

آتَيْنَاكَ مِنْ لَدُنَّا ذِكْرًا ۝٩٩ مَنْ أَعْرَضَ عَنْهُ

[illegible]

فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وِزْرًا ۝١٠٠ خَالِدِينَ

[illegible]

فِيهِ ۖ وَسَاءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِمْلًا ۝١٠١ يَوْمَ

[illegible]

يُنْفَخُ فِي الصُّورِ ۚ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ

[illegible]

منزل ۴

وغیره کښې ابن لبی رحمه الله او روح التاویل کښې قاسمی رحمه الله او السراج المنیر کښې خطیب شربینی رحمه الله او نیشاپوری رحمه الله هم دا خبره د ابن جریر رحمه الله نه نقل کړې شوېده. باقی تفصیل الهام الرحمن کښې وګورئ. فائده: سامرې مرتد شو او سزا ورله مقرر کړه شوه چه هیڅ سړی به لاس نه لګوي او نه به ورته لاس ورکوي. نسفی رحمه الله فرمائي پس منعه شوه مخالطت د خلقو نه او د ابن ورته لا مساس چه نه و هغه وګوري نو مالګه کړه او شته به هم لاس نه ورکوي (مدارک). د آیت دلیل دے په شرلو د مبتدعینو او ګناهګارو او بیا نیکانو د هغوي بائیکاټ او په دے چه اختلاط د دوی د خلقو سره (قرطبی). فائده: شیخ القرآن رحمه الله به دلته واقعه بیانوله چه ما د ربی فقیر صاحب په تائید کښې او د انګریز د تائی مخبرو شخصیاتو او علماؤ په رد کښې رساله لیکلې وه: اصح الاقوال فی التعذیر بالمال. او د نورو دلائلو نه علاوه هم به دا د سامری قصې نه استدلال کړے وو او د خان ملایانو پرې شوی وو او شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل

چه دے ملك د آزادی کوششې ما کړی دے او خپل استاد ته نو قسم دے لیلی وهی: او بنوی رعبان اته وهی (حقد الرینا من میونات سخت) قرآن ص ۲۳۲. د آخر قلمی تحریرات. فائده: په ۹۸ کښې دعوه د توحید ده، په ۹۹ کښې تسلی او ترغیب دے قرآن ته. د ۱۰۰ نه زجر معرضینو ته او تخویف دے. ذکر آثار: (۱) فیده لفظ الربت اسوه

عــه د رکوی تاته ذ طرفه خپل نه یاد . جمهور علماء فرمائی چه د ذکر نه مراد قرآن دے . وګورئ (روح ۱۵۹ / ۱۶)
او قرآن ذکر عظیم دے (مدارک ۲/۲۶) ۔ زُرْقًا : حاشیه دَ دے صفحے ، شین سترګی ، (تیسیر القرآن) ، ۱ پاره ۱ ع ۱
شِیـن ، وَیَسْئَلُونَكَ ، کرے تپوس

زُرْقًا ۝١٠٢ يَتَخَافَتُونَ بَيْنَهُمْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا

شین سترګی . په خپل منځ کښی به پټی خبری کوی چه دَ دُنیا نه وئ ایسار شوی تاسو مګر

عَشْرًا ۝١٠٣ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذْ يَقُولُ

لس ورځے . مونږ ښه پوهه یو په هغه چه دوی وائی . کله چه ووائی

أَمْثَلُهُمْ طَرِيقَةً إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا يَوْمًا ۝١٠٤ وَ

غوره دَ دوی نه په طریقه (چلن کښی) ، د دُنیا نه وئ ایسار شوی تاسو مګر یوه ورځ . او

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي

تپوس کوی دوی ستا نه د غرونو په باره کښی ، پس ووایه او به الوزوی دَ غرونو رب زما

نَسْفًا ۝١٠٥ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ۝١٠٦ لَّا تَرَىٰ

په الوزولو سره . پس پریږدی به دغه ځائ میدان هموار . نه به وینے ته

فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا ۝١٠٧ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ

په دیکښی کوږ والے او نه لوړه ژوره . په دغه ورځ روان به وی دوی

الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُ ۖ وَخَشَعَتِ الْأَصْوَاتُ

په طرف د بلونکی ، نه به وی کوږ والے هغه ته ، او ټیټے به شی آوازونه

لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ۝١٠٨ يَوْمَئِذٍ لَّا

رحمٰن ته ، پس نه به اورے ته مګر ګنګس (کس) . په دغه ورځ نفع به

تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَٰنُ

ورنکړی سفارش . مګر د هغه چا چه اجازه ورکړے وی هغه ته مهربان ،

وَرَضِيَ لَهُ قَوْلًا ۝١٠٩ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ

او راضی وی هغه لره په وینا کښی . پوهیږی الله په هغه (کارونو) چه مخکښی دی د دوی نه

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ۝١١٠ وَعَنَتِ

او په هغه چه روستو دی د دوی نه او احاطه نه ده کړے دوی په هغه د علم . او عاجزه به شی

الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ

مخونه ، ژوندی ، انتظام کونکی ته ، او یقینا نا امیده دے هغه کوم چه

ع ۱۰ ۱۲

ذکری دوی تاسته . پس ووایه . ونسفا لفظ دَ اِنَّ بدل دے قرینه جزاء کښی ق و ۲۰ . قَاعًا صَفْصَفًا ، میدان هموار . قاع هغه هموار زمکے چه او به پرے دَ پاسه روانے وی (راغبی) او صفصف هغه اوار مقام چه شینکی پکښی نه وی (غریب القرآن ۲۸۱) : دَ دَاعِیَ نه اسرافیل علیه السلام مراد دے . همس غلے آواز دَ خپو (غریب القرآن ۲۸۲) کښی دَ خپو (تیسیر القرآن) إِلَّا مَنْ ۱۰۹ : مګر شفاعت دَ هغه چا . نو مراد ترینه شفیع دے . پیچ ۱۰ صحیح واشوه مګر هغه چا لره چه اجازت دَ هغه باره کښی رحمان ایا ګرے وی نو مراد ترینه مشفوع له شو ، وګورئ ' املاء ما منّ به الرحمٰن ۲/۱۳ ' . په ۱۰۹ کښی دلیل دَ دے دے چه الله تعالیٰ مجیز دَ دوی عالم دے نو بے اجازه سفارش نشی کولے . ۱۱۰ کښی هم دلیل دے چه قیامت کښی هم ټول الله تعالیٰ ته عاجزه وی . ظَلَمَ شَمِلَ ظُلْمًا ؛ چه بار ګرے وی اخرت سره شرک (مدارک ۲/۹۶) ۱۳ لقمان . په ۱۱۲ کښی بشارت دے او ۱۱۲ بقره ، ۹۷ نحل ، ۹۴ انبیاء ، ۱۲۴ نساء ، ۴۰ مؤمن وګورئ . معلومه شوه چه دَ نیک عمل دَ قبلیدو دَ پاره شرط ایمان دے . په ۱۱۳ کښی دَ قرآن پاک دوه فائدے دی . په ۱۱۴ کښی توحید دے او ادب دَ لوستلو دَ قرآن دے . سورة قیامة ۱۶ کښی هم دی .

" په جنتونو کې

وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا: او وایه اے ربه زما! زیات کړه ما لره علم. جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه په دے جامع دعا کښې د نازل شده قرآن یاد ول هم داخل دی او د غیر نازل شده هم

حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ

بار د ظلم لره. او هر څوک چه عمل کوی د نیکو

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾ وَ

او حال دا چه هغه مومن وی پس نه به ویریږی د زیاتی نه، او نه د کمی نه. او

كَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ

دغسے رالیږلے مونږ کتاب لره او سے شوی قرآن په عربی ژبه کښې او راوړی مونږ په کښې

مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ

د ویرولو نه، د دے دپاره چه دوی تقوی اوکړی، او یا پیدا کړی دوی لره

ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ وَلَا تَعْجَلْ

پند (او ذکر). پس اوچت دے الله تعالی باچا، حق دے. او جلدی مکوه په

بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ

(لوستلو د) قرآن، مخکښې د دے نه چه پوره کړے شی تا ته، وحی د دے

وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓى

او وایه اے ربه زما! زیات کړه ما لره علم. او یقیناً حکم کړے وو مونږ، آدم

اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

ته مخکښې د دے نه، پس هیر ئے شو او نه مونده مونږ هغه لره قصد د گناه

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا

او کله چه وویل مونږ ملائکو ته چه سجده وکړئ آدم ته، نو سجده وکړه هغوی

اِلَّآ اِبْلِيْسَ اَبٰى ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا

مگر ابلیس، انکار ئے وکړو. پس وویل مونږ اے آدمه، یقیناً دا

عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا

دشمن ستا دے او د ښځے ستا، پس هیڅ کله راونه باسی تاسو لره

مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿١١٧﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ

د جنت نه، پس تکلیف به شی. یقیناً تا لره (په جنت کښې) دا چه نه به وږے کیږے

ع ١٥

او د دے په سمجهه کښې د الله توفیق هم وی. (معارف ٦/١٥٢)

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ: د دے نه مخکښې واقعه د آدم علیه السلام وه او د هغوی عذر دے. وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا: او نه مو موندلو د هغه لره قصد په گناه کولو. (فتح القدیر ٣/٤٠٦) قصد خلاف د امر الله تعالی (مدارک ٣/٥٦). شیخ القرآن رحمه الله په شفاء د قاضی عیاض رحمه الله (٢/١٦٣) معنی کوله: ای قصدا الی المخالفة: یعنی قصد مخالفت ئے نه وو کړی. فَسَجَدُوْٓا: وګورئ کهف ٥٠، حجر ٣١، اعراف ١١، بقره ٣٤.

فَتَشْقٰى ٣/٤٠٦: شیخ الهند رحمه الله فرمائی: بیا به په روزی پسے تکلیف کښې (جواهر ٤٠٥). فراء رحمه الله فرمائی چه مشقت دا دے چه خوراک کوی د محنت د لاسونو خپلو نه (قرطبی ١١/٢٥٣، معارف ٦/١٥٦). پس سترے به شے په حاصلولو د هغے کښې چه خلاص ترینه نشته. (فتح القدیر ٣/٤٠٦).

اِنَّ لَكَ: یقیناً تا لره دا ده چه نه به وږے کیږے په دے جنت کښې او نه به لغړیږے او یقیناً ته چه یے نه به تږے کیږے او نه به د گرمی کیږدی.

عَلٰی شَجَرَةِ الْخُلْدِ: (دا د تلو کی

نخ ٥١٥ سره متعلق ده): په وینا د همیشگئ او په حکومت چه نه به زوړیږی، د لعنتی وړته وسوسه په دغو طریقو سره واچوله او دغه رنگه وړته قسم هم کړے وو چه زه ستاسو د خیر خواهانو نه یم. وګورئ اعراف ٢١. وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى: او مخالفت وکړو آدم علیه السلام د امر د رب خپل نه پس پریشانه شو.

عیش بہ ناست شو. مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی: یعنی کله چه د حکم الهی په پوره کولو کښې غفلت او کوتاهي وشوه او د خپل شان سره موافق د عزم او استقلالت والا سره ثابت قدم پاتې نشو نو دغه

فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا

په جنت کښې او نه به لوڅ شې. او یقیناً ته به نه تږی کیږې په دې جنت کښې،

وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَٰنُ

او نه به د گرمۍ کیږې. پس وسوسه واچوله د ده ته، شیطان،

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ

ووئیل: اے آدمه! آیا او ښایم ایښودنه زه تا ته په ونې د همیشوالی،

وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾ فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا

او په باچاهئ چه نه به زړیږی. پس خوړل اوکړه دواړو د دغې نه، پس ښکاره شوه دواړو ته

سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن

عورتونه د دوی، او شروع شو دواړه، نښلولے یې په خپلو ځانونو باندې، د

وَرَقِ الْجَنَّةِ ۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾

پاڼو د جنت، او عصیان وکړو آدم د رب خپل، نو هیر شو، پس پریشانه شو.

ثُمَّ اجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾

بیا غوره کړو دی لره، رب د دهٔ، پس رحمت ئے وکړو په ده باندې او کلک ئے کړو.

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًۢا ۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

وفرمائیل الله تعالیٰ دواړو، د جنت نه کوزشئ، بعض ستاسو به، د بعضو دپاره،

عَدُوٌّ ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ

دښمنان وي، پس هرکله چه راشي تاسو ته، زما د طرف نه هدایت، پس چا چه

اتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ

تابعداري وکړه د هدایت زما، پس نه به لارے ورکه او نه به بدبخت کیږي. او چا چه

أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً

مخ واړو د یاد زما نه، پس یقیناً هغه لره، ژوند،

ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ

تنګ وي او راپورته به کړو هغه لره ورځ د قیامت، ړوند. وبه وائي:

په غواړئ او معصیان سره تشبیه نے تعبیر او فرما ئیلو په قاعده د حسنات الابرار سیئات المقربین، (رسکا ؎) مفسرین رحمهم الله د غوی معنی کوی عیش ئے فاسد شو او د همیشوالی د جنت نه محرومه شو: وګورئ قرطبی ؏، معارف ؏، نشر المرجان ؏، زاد المسیر ؏، الهام الرحمن ؏.

فائده ٦: مفسرینو رحمهم الله دلته د آدم علیه السلام په باره کښې دوه اهم هدایات او آداب ذکر کړیدی. یو دا چه هیچا لره دا روا نه دی چه د آدم علیه السلام په باره کښې په طریقه د اخبار مستقل سره دا جملے استعمالوی مګر هغه وخت کښې چه تلاوت د قرآن کوی یا قول (حدیث) د نبی علیه السلام ذکر کوی. دویم دا چه هغوی ته عاصی یا غاوی وائی نو دا هم جائز نه دی. وګورئ معارف ؏، روح ؏، قرطبی ؏، مسائل ؏، بحر ؏، الهام ؏. ثم اجتبه بیا ئے غوره کړو پس توبه ئے وله قبوله کړه او کلک ئے کړو. وګورئ بقره ؏، اعراف ؏. اهبطا دواړه کوز شئ: اعراف ؏ کښې اهبطوا دے، د شیطان سره خطاب دے او ؏ اعراف، ؏ بقره کښې اهبطوا دے، آدم او حوا علیهما السلام سره او د هغوی په ضمن کښې ټول اولاد د هغوی سره خطاب دے. دلته اهبطا تثنیه ده. جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه دا خطاب حضرت آدم علیه السلام او ابلیس دواړو ته هم کیدے شی او په دے صورت کښې بعضکم لبعض مضمون واضح دے. بیا روستو فرمائی چه دویم احتمال دا هم دے چه دا خطاب آدم او حوا علیهما السلام دواړو ته دے په دے صورت کښې د باهمی عداوت نه مراد د دوی په مت

اولاد کښې د ټوبل سره د دشمنۍ کولو بیان دے الخ (معارف ص٥٦٤ ج٦). فَلَا يَضِلُّ ط٢٣ : پس نه به ګمراه کیږي په دنیا کښې او نه به په بدبختۍ کښې پریوزي په اخرت کښې (بیضاوي ص٦٢). وَمَنْ اَعْرَضَ : دا تخویف دے. معنی

رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾

اے ربه زما! ولې دې راپورته کړم ړوند حالانکه زه وم (په دنیا کښې) بینا.

قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ

وبه وائي الله هغه شان (لکه چه) راغلې وې تاته ایاتونه زمونږ نو هیر کړل تا هغه، او هغه شان

الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ

نن ورځ هیر کړے شوے ته (په رحمت کښې او په عذاب کښې). او دغه شان بدله ورکوو مونږ هغه چا ته چه زیاتے کړے

وَلَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

وي او ایمان ئے نه وي راوړے په ایاتونو د رب خپل، او خامخا عذاب د اخرت

اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿١٢٧﴾ اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ اَهْلَكْنَا

سخت دے او همیشه. ایا نه دے ښکاره شوے دوی ته چه څومره هلاک کړي مونږه

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ

مخکښې د دوی نه ډیر قومونه، چه ګرځي دوی په کورونو (کنډرونو) د هغوی کښې،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ وَلَوْ

یقیناً په دیکښې خامخا نښې دي، د پاره د خاوندانو د عقلونو. او که چرته

لَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا

نه وے فیصله مخکښې لیکلې شوې د رب ستا نه، نو خامخا وه عذاب به نښتے دوی سره

وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ

(او که نه وے) نیټه مقرره. پس صبر کوه په هغه چه دوی ئے وائي،

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

او پاکي وایه په ستائنې د رب خپل، مخکښې د ختلو د نمر نه،

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ

او مخکښې د پریوتو د هغه نه، او د وختونو د شپې نه،

فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾

پس پاکي وایه او د طرفونو د ورځې نه، شاید چه ته خوشحاله شې.

ع ١٣
١٦

د اخفوله چه مونږ اوروي څوک یاد (قرآن) نه پس د دوی له به ژوند تنګ وي. په دیکښې څلور اقوال دي بعضو ویلي دي چه دا دے نه عذاب قبر مراد دے. دا ابو سعید خدري او ابن عباس رضی الله عنهما نقل دي او د ابو هریره رضی الله عنه نه یکښې مرفوع روایت دے. وګورئ قرطبي ج٢٥٩، مظهري ج١٢٢، معارف ج١٣٣. وَنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى : او راپورته به کړو دے لره په ورځ د قیامت ړوند. وګورئ ص٦٦ اسراء ٩. اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا : (حاشیه ګورئ مخ): دغه رنګ راغلي وو تاته ایتونه زمونږ پس هیر دې ووو او دغه رنګه ته پرینبودے شوے په عذاب کښې. وګورئ فرقان ص٣. او دا پرېښودل به وي ترڅو پورے چه الله تعالی ئے غواړي بیا به ئے ترې ونه وایستې. د ډه نه پس وینی به احوال د قیامت او مشاهده به د اور کوي څنګه چه الله تعالی فرمائي وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ (ص٥٣ کهف) (روح ج٢٦٥) وګورئ سورة ق ص٢٢. اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ : ایا نه دي معلوم شوي دوی ته. (غریب القرآن ص٢٨٣) فَاصْبِرْ : دا دے ځائے نه پنځه امور دي

د پاره د تسلي ص١٣٠ ص١٣١ ص١٣٢. فائده: په دے ایت کښې پنځه اوقات د مونځونو ذکر شوي دي (احسن ص٥٥٣) پنځه مونځونه د تسبیح افراد کامل دي او تسبیح په مونځونو بوے بند لا نه دے. (افضل التراجم ص٣٤٢)

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ
او مه اوږدوه (هیڅکله) سترګې خپلې طرف د هغه سامان چه نفع ورکړې مونږ په هغه
أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ
قسمونو ډولونو ته په ښائست د ژوندون دنیاوي کښې چه امتحان کړو مونږ ددوئ
فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾ وَأْمُرْ
په هغې کښې او رزق د رب ستا غوره دے او همیشه دے. او امر کوه
أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ
اهل خپل ته په مانځه باندې او ټینګ شه په مانځه باندې. نه غواړو مونږ ستا نه
رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾
رزق لره، مونږ رزق درکوو تاته. او ښه انجام دے د پرهیزګارۍ دپاره.
وَقَالُوا۟ لَوْلَا يَأْتِينَا بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّهِۦٓ ۚ أَوَلَمْ
او وائي دوئ ولې نه راوړي مونږ ته معجزه د رب خپل نه، آیا او نه دے
تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾ وَ
راغلے دوئ ته دلیل واضح د هغه څه چه په صحیفو مخکښنو کتب وو. او
لَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُوا۟
که چرے مونږ هلاک کړی وے دوئ په عذاب باندې مخکښې د راتلو د رسول نو خامخا به
رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ
وئیلي ربه زمونږه ولې نه دے رالیږلے مونږ ته استازے پس تابع کیدو به مونږ د آیتونو
مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ
مخکښې د دې نه چه ذلیل شو او رسوا شو. ووایه هر یو
مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟ ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ
انتظار کونکے دے پس انتظار کوئ، پس زر دے چه خبر به شئ، څوک دي
أَصْحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾
خاوندان د لارے برابرے دي او څوک دے چه هدایت یې موندلے.

منزل ٤

ع ٨ / ١٧

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ: ٢٨ کهف، ٨٨ حجر. وَأْمُرْ أَهْلَكَ: ٥٥ مریم. نَحْنُ نَرْزُقُكَ: ٥٨ ذاریات، ٦ هود. وَقَالُوا۟ (١٣٣): په دیکښې زجر دے په فرمائشي معجزو غوښتلو باندې او جواب دے. حاصل د جواب دا دے چه قرآن حکیم د مخکنو کتابونو اسمانیو خلاصه دے نو دا معجزه د ټولو معجزو نه لویه معجزه ده. وګوره عنکبوت ٥١.

وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم: دفع د سوال او حکمت د رالیږلو د رسول ﷺ دے. وګوره ٩٥ اسراء، ٤٧ قصص، ١٥ اسراء.

امتیازات:—

(١) تفصیل واقعه د موسیٰ علیه السلام د ٩ نه. (٢) تثبیت د ساحرانو ٧٠. (٣) بیان د عذر د آدم علیه السلام ١١٥. (٤) سوځول د خدای د سامري ٩٧. (٥) بعض احوال د قیامت ١٠٢.

(الحمد لله نن په ورځ د یکشنبې ٦/٧ بجے پس د مانځه د مازیګر نه په تاریخ ١٧ د دسمبر ٢٠٠٦ء ٢٥ ذو القعده ١٤٢٧ھ په مجازي کور توحید آباد کښې سورة طٰه د الله تعالیٰ په توفیق سره ختم شو).

او د تصحیح مطالعه نن بروز چارشنبه ٢١ رمضان ١٤٢٨ھ مطابق ٣ اکتوبر ٢٠٠٧ء هم د غلته ختمه شوه: فالحمد لله اولاً و آخراً، غفر له.

سُورَتِ اَنبِيَاءِ: ترتيب كښې ۲۱ يم، دَ سُورَهٔ طٰهٰ نه او نزول كښې ۷۳ يم دَ سُورَتِ ابراهيم نه: وجهٔ تسميه ئے داده چه په دې كښې دَ ۱۶ انبياء عليهم السّلام ذكر دے، دَ ۴۰ نه ترڅلوېښتو پورې اګر چه لفظ دَ انبياء پكښې نشته.

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاۤءِ مَكِّيَّةٌ ... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ...

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ
نزدې شو دے خلقو ته: حساب دَ دوى، او دوى: په غفلت كښې:
مُّعْرِضُوْنَ ﴿۱﴾ مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ
مخ اړوونكى دى (دَ حق نه). نه راځي دوى ته: څه نصيحت، دَ جانبه
رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۲﴾
دَ رب دَ دوى، نوے: مګر غوږ نيسي دې ته، او حال دا چه دوى لوبې كوي:
لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ
غافله دى: زړونه دَ دوى، او پټې كړې: خبرې، هغه كسانو چه
ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ
ظلم ئے كړے: (وائي) نه دے دا، مګر بشر (انسان) په شان ستاسو: آيا پس (راځئ)
السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۳﴾ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ
سحر له، او تاسو پوهيږئ: ووئيل دې رسول، رب زما پوهيږي:
الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ
په هره وينا: په آسمان كښې: او زمكه كښې: او هغه اوريدونكے (دَ هر څه) دے،
الْعَلِيْمُ ﴿۴﴾ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ بَلِ
پوهه (په هر څه): بلكه وائي دوى: دا ګډ وډ: خوبونه دى: بلكه
افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۖ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ
دَ ځانه جوړ كړي، بلكه دے شاعر دے: پس را دې وړي مونږ ته معجزه (لكه) څنګه چه
اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۵﴾ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ
ليږلى شوي وو مخكني رسولان. ايمان نه دے راوړے مخكښې دَ دوى نه هيڅ
قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا
كلي دَ اوسيدونكو هلاك كړي مونږ هغه: آيا پس دوى به ايمان راوړي: او نه دي ليږلي مونږ

دعوے: (۱) تذكيرهٔ غافلينو. (۲) ذكر دَ انبياء عليهم السلام سره. ربطونه: (۱) كهف كښې نفي دَ علم غيب، مريم كښې دَ ځانونو نفي الله تعالىٰ ته. طٰهٰ كښې تشجيع په تبليغ باندې نبي وته فرمائيلي، دَ كَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ۹۰ ته. (۲) هلته نفي دَ شفاعت قهري وه، دلته ۲۸ نو دلته هم دے. (۳) هلته زجر دَ معرضينو ته دے، ۴۲ نو دلته هم دے. (۴) هلته نقل دَ موسىٰ او هارون عليهما السلام نه دے، نو دلته هم دَ دعوىٰ نه ۴۸. (۵) هلته ذكر دَ موسىٰ او هارون دے، او آدم عليهم السلام نو دلته دَ نورو انبياء عليهم السلام ذكر دے.

خلاصه: شيخ القرآن رحمه الله فرمائيلي دي چه په دې كښې شپږ بابونه دي: (۱) ترڅلوېښتو پورې، دويم تر ۵۰ پورې، دريم تر ۷۷ پورې، څلورم تر ۹۳ پورې، پنځم تر ۱۰۶ پورې، شپږم تر آخره پورې. (جواهر القرآن مختصراً)

تفصيل: اول باب ۴۵ آيتونو كښې دے، په دې كښې څلور خبرې دي: (۱) تذكير دَ غافلينو او شپږ قرينې دَ غفلت ذكر شوي دي. (۲) تخويف اخروي او دنياوي: ... (۳) زجر معرضينو دَ رسالت له. (۴) او معرضينو دَ قرآن له ... او شبه: قدح په رسول باندې. (۵) ترغيب قرآن ته ...

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ: نزدې شو خلقو ته وخت هغه چه دوى سره پكښې حساب كولے شي په عملونو دَ دوى، دَ خلقو نه مراد يا مشركان دي او يا عام مخلوق دي. دَ كورطبي ملخص.

وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ: او دوى مخ اړوونكي دي. ابو العتاهيه صاحب وائي: اَلنَّاسُ فِيْ غَفَلَاتِهِمْ، وَرَحَى الْمَنِيَّةِ تَطْحَنُ: چه خلق په غفلتونو كښې دي او ميچنه دَ مرګ ئے دړه كوي (ابن كثير ملخصاً). مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ: نه راځي دوى ته پند، نصيحت، دَ جانبه دَ رب دَ دوى نه نوے، تر و تازه، مګر چه غوږ ورته ږدي او دوى لوبې كوي، منه

مسئله سوال: پذکر نه مراد قران دے او عقیده د اهل سنت او جماعت دا ده چه قران پاک مخلوق نه دے
کدیم دے نو ملوث شکمشو؟ جواب: ذکر او وادے چه په نازلیدلو کښ نو څه (مسائل رازی ملا)

قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِىٓ إِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوٓا۟
مخکښ ستا نه : مگر سړی ، چه وحی کوله مونږ ، هغوی ته : پس تپوس وکړئ
أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ⑦ وَ
د خاوندانو د علم نه ، که چرے یئ تاسو چه نه پوهیږئ ، او
مَا جَعَلْنَٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ ٱلطَّعَامَ
نه دی گرځولی مونږ هغوی (دا سے) بدنے چه نه خوړلو : طعام لره
وَمَا كَانُوا۟ خَٰلِدِينَ ⑧ ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ
او نه وو هغوی : همیشه اوسیدونکی ، بیا رښتیا کړو (پوره کړو) مونږ هغوی سره
ٱلْوَعْدَ فَأَنجَيْنَٰهُمْ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا
وعده ، پس بچ کړه مونږ هغوی لره ، او هغه چا لره چه خوښوله مونږ ، او هلاک کړو مونږ
ٱلْمُسْرِفِينَ ⑨ لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا
زیاتی کوونکی ، یقیناً را لیږلے مونږ ، تاسو ته ، کتاب
فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ⑩ وَكَمْ
په هغه کښ نصیحت (یادونه) ستاسو ده آیا پس د عقل نه کار نه اخلئ؟ او ډیر
قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَ
هلاک کړی مونږ ، د کلو والو نه ، چه وو : ظلم کوونکی ، او
أَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ⑪ فَلَمَّآ
پیدا کړی مونږ ، روستو د هغوی ، قومونه نور ، پس هر کله چه
أَحَسُّوا۟ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ⑫
ولیدلو هغوی ، عذاب زمونږ ، ناڅاپه هغوی د هغه نه منډے وهلے
لَا تَرْكُضُوا۟ وَٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ
منډے مه وهئ ، او واپس شئ ، هغو مالونو ته چه مستی کړے شوی وئ
فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ⑬
په هغه کښ ، او کورونو خپلو ته ، شاید چه ستاسو نه تپوس وکړے شی .

رکوع ۱

یاد اچه د نبی علیه السلام په بیا نونو کښ نوے دے . یا دا چه د منکرینو په زعم کښ نوے دے (اسنی الکلام ...)
د اَسَرُّوا النَّجْوَى ، دلته ګڼ ترکیبونه دی (۱) اَلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا بدل دے د اَسَرُّوْا د ضمیر نه . معنیٰ دا شوه چه پټه خبرے کوی هغوی یعنی ظالمان . (۲) اَلَّذِیْنَ مبتدا ، موخر دے : او اَسَرُّوا النَّجْوَى خبر مقدم دے ، معنیٰ دا شوه او هغه کسان چه ظالمان دی پټه خبرے کوی . وګوره کبیر (ج ۲۲) + فَسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ (حاشیه د دے مخ) : نحل سره کښ دا هم وو : مسئله تفسیر قرطبی کښ دی چه د دے آیت نه معلومه شوه چه د جاهل بنیادم د پاره چه احکام د شریعت ورته معلوم نه وی په هغه باندے د عالم تقلید واجب دے چه د عالم نه معلومات وکړی او د هغه مطابق عمل وکړی . (معارف ج ۵) هغوی دا هم فرمائی چه اجماع کړیده علماؤ په دے چه پوند له لاس ی د ... د تقلید د غیر نه چه اعتماد ئے وی په هغه لوده ... چه مشتبه شوے وی په ده باندے . (قرطبی ج ۱۱)
لَقَدْ اَنْزَلْنَا اِلَيْكُمْ الخ : ترغیب دے قران ته . یقیناً رالیږلے مونږ تاسو ته کتاب چه په هغه کښ شرافت ستاسو دے . (مظهری ج ۱۱) چه په هغه د کار روانولو د دین ستاسو او د احکامو د شرعے ستاسو دے . (قرطبی ج ۱۱) چه په هغه کښ پند او نصیحت ستاسو دے (فتح ملا ۳۹ او الفضل الرحیم ...) - اِلٰى مَا اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ : منډے مه وهئ او واپس شئ هغه ځائے ته چه تاسو ته عیش درکړے شوے وو په هغه کښ . (ترجمه جواهر ملا ۶) ۞

وَمَا خَلَقْنَا (۱۶): دَ دې خلقه نه دوېم باب دے ترڅو پورې. په دېکښې اوۀ اُمور دي (۱) عقلي دلائل ۱۶ تا ۱۹ (۲) نقلي دليل دَ ملائکو نه ۲۰ تا ۲۱ (۳) نقلي اجمالي اجمالي دَ ټولو رسولانو نه ۲۵ (۴) رد دَ مشرکانو ۲۶ تا ۲۷

قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا

دوئ ووئيل هائے ارمانه شو په مونږه. يقيناً وُو مونږه. ظلم کوونکي. پس هميشه

زَالَتْ تِلْكَ دَعْوَاهُمْ حَتَّىٰ جَعَلْنَاهُمْ

وه دغه: چغې د دوئ، تر دې چې وګرزول مونږه دوئ لره

حَصِيدًا خَامِدِينَ ﴿١٥﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ

دَ لو شوي کښت په شان، مړه شوي: او نه دي پېدا کړي مونږه آسمان

وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ ﴿١٦﴾ لَوْ

او زمکه: او هغه څه چې ددواړو ترمنځ دي، په داسې حال چې لوبې کوونکي وو. که چرې

أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا لَاتَّخَذْنَاهُ مِنْ

اراده کړې وې مونږه چې ونيسو مشغله: نو خامخا به نيولې وه مونږه هغه د طرف

لَدُنَّا إِنْ كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٧﴾ بَلْ نَقْذِفُ

خپل نه، که چرې وے مونږه دا کار کوونکي: بلکه: ولو مونږه

بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا

حق لره: په باطل باندې، پس زخمي کوي ماغزه د هغه: پس ناګهانه

هُوَ زَاهِقٌ ۚ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾

هغه ختميدونکے وي: او تاسو لره هلاکت دے د هغه څه چه بيانوئ تاسو يې

وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَنْ

او خاص الله لره اختيار دے هغه چا لره چې په آسمانونو او زمکه کښې دي: او هغه ملائک

عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَ

چې د هغه سره نزدې دي تکبر نه کوي: د عبادت د هغه نه: او

لَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَ

نه ستړي کيږي: تسبيح وائي: د شپې: او

النَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴿٢٠﴾ أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً

د ورځې، په سستي نه کوي: آيا نيولي دي دوئ: معبودان:

۲۱ تا ۲۴ (۵) ترغيب قرآن ته ۲۴ (۶) نفي د شفاعت قهريه ۲۸ (۷) الزام په مشرکانو باندې ۲۹ (سمط الدرر ملا۔) لَهْوًا: ولد يا ښځه (مدارک ۲۲) ولو به ئې يعني خوښه (فتح ۲۸۹) نعمت (افضل ۳۲۹) فَيَدْمَغُهُ (۱۸): زخمي کوي دماغ د هغه (احسن ۳۴) تر سر مات کړي د هغه (افضل ۳۵، فتح الرحمن ۳۸۹). پس ماتوي ئې او مغلوبه کوي حق باطل لره (مدارک ۲۲).

وَلَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ (۱۹): او خاص الله تعالی لره دی. آلوسي رحمه الله فرمائي: او خاص الله تعالی لره ټول مخلوقات دي په پيدا کښې او په ملک کښې او په تدبير کښې او تصرف کښې او په ژوندي کولو کښې او په مړه کولو کښې او په عذاب ورکولو او په ثواب ورکولو کښې بغير د دې نه چه شي د يو کښې ورکوي خدوخله. په دېکښې په مستقل طريقه او با تبعاً (روح ۲۱). وَمَنْ عِنْدَهُ (۱۹): او هغه ملائک چه د الله تعالی دربار کښې دي. نقلي دليل دے د دعوی د. حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي يعني ملائک عليهم السلام (۲۱). اَمِ اتَّخَذُوا (۲۱): دا زورنه د و يعني په زمکه کښې د الله تعالی سره مقابل جوړ وي. که په زمکه او آسمان کښې بل إله وے نو دواړه به ورهم برهم شوي وي. قانون دے چه په يو ملک کښې د دوو بادشاهانو اتفاق نه راځي. يو به وائي چه نن دا کار کوو بل به وائي

چه نن دا نه کوو نو په دے تبيل مقابل کښې به هر څه فنا شوي وے نو د فنا د خونه شتے، نو مالک صرف الله تعالی دے، نه بل معبود شته او نه په الله تعالی خولئ زوږ او رشتے، د الله تعالی نه ئې يو شي ليکې او د کل مخلوق نه ئې يو شي کيدے شي (افضل التراجم ۵۷) دا برهان دے په وحدانيت د الله تعالی او ضمير په فِيهِمَا عائد

منه کښې) اسمانونو او زمکې نه دے او "الا الله" صفت د "الهة" دے او "الا" په معنی د "غیر" دے (تسهیل ج۲ ص ۹
لګېدلے) (حاشیه ودود ص۴) ابن جوزه رحمه الله فرمائي چې هر کار چه صادره شي د دوؤ نه بس د هغه نه

مِنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَوْ كَانَ
د زمکې والو نه : چه هغوی ژوندی کوونکي شي ، که چرې وے :
فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ
په دغه دواړو (اسمانونو او زمکه) کښې خدایان سوا د الله تعالی نه : خامخا وران شوي به نظام د دواړو : پس پاکي ده
اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا
الله تعالی لره چه رب د عرش دے : د هغه څه نه چه دوي يې بيانوي : تپوس نشي
يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَمِ
کیدے د الله تعالی نه : د هغه کار چه هغه يې کوي : او دوي (مخلوق) نه به تپوس کولے شي ، آیا
اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ۭ قُلْ هَاتُوْا
نیولي دي دوي ، سوا د الله تعالی نه : معبودان (حقدار د عبادت) ووايه : راوړئ :
بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ
قوي دليل خپل : دا یاد (وعظ) د هغه چا دے چه زما سره دي ، او پند د هغه
مَنْ قَبْلِيْ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ
چا دے چه مخکښې تر ما وو : بلکه زیات د دوي نه ، نه پوهیږي ،
الْحَقَّ فَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا
په حق ، پس دوي مخ اړوونکي دي : او نه دے رالیږلے مونږ :
مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ
مخکښې ستا نه ، هیڅ رسول (۲۴) ، مګر وحي کوله مونږ :
اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾
هغه ته چه شان دا دے چه نشته حقدار د عبادت مګر زه یم : پس خاص بندګي زما کوئ تاسو :
وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۭ
او وائي دوي : نیولے دے رحمن (رحم کوونکي) بچي : پاک دے هغه :
بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ
بلکه بندګان ، عزتمن کړے شوي دي : نه مخکښې کیږي د هغه نه :

نو ساتلے نه پاتې کیږي د خلاف
نه وزر (السیر ج۲) هٰذَا ذِکْرُ
مَنْ مَّعِيَ ۔ دا قرآن پند د هغه چا
د ملګرو دے او ذکر د هغه چا دے
چه مخکښې تیر شوي دي ۔ مطلب دا دے
چه د دې زما د ملګرو د پاره د دعوت
او د تشریع د احکامو په لحاظ
سره ذکر دے او د پخوانو د پاره
ذکر په معنی د دې دے چه د دې
په ذریعه د پخوانو احوال او
معاملات او قصص ژوندي دي
(معارف ج۶) هٰذَا ۔ دا اشاره د شرک
ده ۔ مراد دا دے چه دا مسئله
د توحید د ټولو پیغمبرانو او کتابونو
الهیه مسئله ده (احسن ص۴)
فائده ۴ ۔ دا اعجاز دے
چه خپل دلیل پیش کړئ چه هغه
شرک شي لائق د عبادت یا په
الله تعالی باندې غالب ۔ دا د توحید
مسئله نوې نه ده خپل ملګرو
او د پخوانو تر منځ یو واسطې ده
خو اکثر خلق نه پوهیږي په د حق
نو مخ ترینه اړوي هغه ۔ (انفس
ص۴) وَمَآ اَرْسَلْنَا ۔ دا دلیل نقلي
اجمالي د ټولو پیغمبرانو نه دے ۔
سورة نحل ص۳ او زخرف ص۴۵ هم
وګورئ ۔ فَاعْبُدُوْنِ ۔ پس ما یو
وګنړئ او صرف زما عبادت
وکړئ (مدارک ص۲) د جمع صیغه
نے د معنی په وجه ذکر کړه او ګوري
(نهر ص۲) مطلب دا چه په مِنْ
رَّسُوْلٍ کښې معنی د جمع ده نو
ایت اخر کښې نے د جمع صیغه
راوړه ۔ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ
وَلَدًا ۔ په دې کښې د هغه ټولو مشرکانو
رد دے چه الله تعالی ته د اولاد
حقیقي یا حکمي نسبت کوي او یا د نیکانو او د ملائکو د راتلو صفات ذکر کوي : دوه په ص۲۶ کښې ، دوه په ص۲۷ کښې
دریم په ص۲۸ کښې ، یو په ص۲۹ کښې ۔

وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ: او دوی د هیبت د الله تعالیٰ نه ویریدونکی دی (معارف ج۶) وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ: او چا چه وویلے
د دوی نه چه ځه معبود کارېږم بېرته د الله تعالیٰ نه. سورة آل عمران ۷۹ص ذکورځی. فائده ۱:- او دا دلیل دے چه

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ

په وینا سره؛ او دوی په امر د الله تعالیٰ عمل کوی؛ پوهیږی الله

مَا بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا

په هغه چه مخکښی د دوی نه دی؛ او په هغه چه روستو د دوی نه دی؛ او سفارش

يَشْفَعُوْنَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ

نشی کولے؛ مګر هغه چا لره چه راضی وی الله تعالیٰ ترے او دوی؛ د

خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿٢٨﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ

هیبت د الله تعالیٰ نه ویریدونکی دی؛ او څوک چه ووائی؛ د دوی نه؛

إِنِّيْ إِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ؕ

یقیناً زه معبود کارېږم بېرته د الله تعالیٰ نه پس هغه کس چه دے بدله ورکوو دغه له جهنم؛

كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾ أَوَلَمْ يَرَ

دغه رنګ بدله ورکوو مونږ ظالمانو ته؛ آیا نه دی کتلی

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

هغه کسانو چه کفر ئے کړے؛ یقیناً آسمانونه؛ او زمکه

كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَجَعَلْنَا

دواړه وو؛ بند؛ پس پرسیره کړه مونږ دواړه؛ او پیدا کړی مونږ؛

مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ؕ أَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٠﴾

د اوبو نه؛ هر شے؛ ژوندے؛ آیا پس دوی ایمان نه راوړی؛

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيْدَ

او پیدا کړی مونږ په زمکه کښی؛ مضبوط غرونه؛ چه نه خوزی زمکه

بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ

په دوی باندی؛ او جوړ کړے مونږ په هغی کښی فراخه لارے؛ د پاره د دے چه دوی

يَهْتَدُوْنَ ﴿٣١﴾ وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا

مقصد ته ورسی؛ او جوړ کړے مونږ؛ آسمان؛ چت؛

ملائک اګرچه اکرام نے شوی په عصمت سره بیا هم عبادت کوونکی دی او نه دی مضطر شوی عبادت ته څنګه چه ئے ګمان کوی بعض جاهلان (قرطبی ج۱۱). نو اوس دے په هغه چا باندی چه وائی چه بعض بزرګان په بزرګئ کښی داسے حد ته ورسی چه هغه لره جائز وی چه: اَنَا الْحَق، یا سُبْحَانِیْ مَا اَعْظَمَ شَانِیْ وائی یا د الوهیت د نور صفت دعویٰ کوی دا بتول کفر او ظلم دے ځکه چه الله تعالیٰ په دے آیت کښی هیچوک د دے نه مستثنیٰ کړی نه دی. په هیچا لره دعویٰ د صفت د الوهیت جائز دی (احسن ج۳) خاکی هغه وائی چه په دیکښی رد د هغه چا هم دے چه وائی چه ملائک بابا په مرکبیدو نو وائی ئے ویلے شو چه په ملائکو امر فرمائیلے او مانه ئے اونه عذر ظاهر دے (الیا ذاتش)
فائده ۲:- د ښکاره پور بغیر رهنما بیکلی دی: سُبْحٰنَهٗ اول جواب دے. لَا يَسْبِقُوْنَهٗ دویم جواب دے: يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ دریم دے. وَلَا يَشْفَعُوْنَ څلورم دے. وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ پنځم دے. وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ شپږم دے. د ټولو جوابونو حاصل دا دے چه ملائک په الله تعالیٰ غالب او نازیدونکی نه دی. (افضل الترجم ۲۹۳)
اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ ۳۰: نه تر ۳۳ پورے دریم باب دے او په دیکښی ۱۸ آیتونه دی او پنځه امور دی:
(۱) دلائل عقلیه ۳۰ نه تر ۳۳ پورے. (۲) تخویف دنیاوی ۳۴ نه تر ۳۵ پورے. (۳) زجر منکرینو د رسالت او معرضینو د قرآن نه ۳۶ او د توحید نه ۴۴. (۴) تخویف اخروی ۴۷ تر ۴۸. (۵) تسلی رسول الله ﷺ ته ۴۱.
كَانَتَا رَتْقًا: وو دواړه بند پس پرسیره کړه مونږ دواړه. شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه

سره چه بریښنا کول د اسمانونو د زلزلو د باران دي او بریښنا کول د ژمکي راتلو ګول د کیاڼه دي د دېینه (الخ)
الوسي رحمه الله فرمائي چه اسمان ته په سیر ۶/۹ په باران سره او ژمکه په تنګولو سره ۶ او بیا فرمائي چه وجه دا

مَحْفُوظًا ۚ وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿٣٢﴾
چت ګرځولي شوی (زیات) او دوی د نښو د هغه نه مخ اړونکي دي ؛
وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ
او الله هغه ذات دے چې پیدا کړې ده شپه او ورځ ؛ او نمر ؛
وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَا
او سپوږمۍ ؛ ټول په څانګ د چورلیدو کښې لامبو وهي ؛ او نه دی
جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَاۡئِنْ
ګرځولے مونږ هیڅ بشر د پاره مخکښې ستا نه همیشه ژوندون ؛ نو بیا که مړ شې
مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ
مړ شې نو آیا دوی به همیشه وسیدونکي دي ؟ هر یو نفس ؛
ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَ
څکونکي د مرګ دے ؛ او امتحان کوو ستاسو مونږ په تکلیف ؛ او
الْخَیْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَاِذَا
خیر سره د آزمائښت ؛ او خاص مونږ ته به واپس کړے شئ تاسو ؛ او کله چه
رَاٰكَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اِنْ یَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا
ووینی تا هغه کسان چې کفر یې کړے ؛ نه نیسي دوی تا لره ؛ مګر
هُزُوًا ؕ اَهٰذَا الَّذِیْ یَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَ
توقه (او وائي) آیا دا هغه سړے دے چه عیب ذکروي د خدایانو ستاسو ؛ او
هُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ
دوی په ذکر د مهربان ؛ دوی کفر کونکي دي ؛ پیدا کړے شوے
الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِیْكُمْ اٰیٰتِیْ
انسان ؛ د جلتۍ نه ؛ زر دے چه وبه ښایم تاسو ته نښې خپلې ،
فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٣٧﴾ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا
پس تلوار مکوئ په غوښتلو د عذاب کښې ؛ او وائي دوی : کله به وي : دا ؛

ذهاب کړے اکثرو مفسرینو (روح ۱۷) د وینډۍ شیخ رحمه الله فرمائي یعنې ژمکه او اسمان موجود شو او بلکه په حالت د عدم کښې وو فَفَتَقْنٰهُمَا نو مونږ ۲ وبے لرۍ اوژمونږ بیا اکول. (۳/۲ ابن کثیر ۱۸، روح ۱۷) وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ (ملخا): او پیدا کړے دے مونږ د اوبو نه هر شے ژوندے امام قرطبي رحمه الله فرمائي دوه تاویلونه دي ، یو ترجمه دا چه الله تعالی پیدا کړے هر شے د اوبو نه ، دویم صفاقت له کړیږي ژوند هرشي په اوبو سره . دویم پیدا کړے مونږ د اوبو د نطفې نه هر شے ژوندے دا قطرب وئیلي دي او جَعَلْنَا معنی د خَلَقْنَا ده . (قرطبي ۱۱/۲۸۴) اجمالاً مفتي صاحب رحمه الله فرمائي : مراد دا دے چه د هر جاندار په تخلیق کښې د اوبو دخل ضرور دے او جاندار او ذی روح داخل محققو په نزد صرف انسان او حیوانات نه دي بلکه نباتات بلکه جمادات کښې روح او حیات د محققینو په نزد ثابت دے او ظاهره ده چه اوبو لره د دے ټولو شیزونو په تخلیق او ایجاد او پروړنه والی لویه دخل ده (معارف ۱۹۲/۶ ، الجامع الرحمٰن ۳۹۳) اَنْ تَمِیْدَ بِهِمْ : چه ونه خوځي په دوی . لا یکفن بیت ده . ﴿ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا (حاشیه د دے مخ) چت چه کړے شوے د را غورزیدو نه . او دی سره د ماتیدو نه . یا پیچ کړے شوے محفوظًا کړے شوے د شیطانانو نه . وګوری مجرکا . صفت مکه

فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ ۝ په خانه د چاپیره کرزیدو کښې لامبو وهي (ښوئي روان دي) مراد ترینه مدار دے مفتي صاحب رحمه الله فرمائي : فلك په اصل کښې هرے دائرے او ګول شي ته وئیلے شي . دا دے وجے نه په څرخه کښې چه کومه غونډ لرګي (ګول) څرمنه کیږدے دی هغې ته فلکة المغزل وائي (روح) او د دے وجے نه عمه

اسمان ته هم فلك ویلے شی. ولے مراد د نمر او د سپوږمۍ هغه مدارونه دی چه په هغو کښې هغوی حرکت کوی. په الفاظو د قرآن کښې د دے څه تصریح نشته چه دا مدارونه د اسمان کښې دننه دی یا باهر فضاء کښې. موجود غلافي تحقیقاتو دا واضحه کړې چه دا مدارونه په خلاء او فضاء کښې د اسمان نه لاندے دی. (معارف ۶/۱۸۰). په کومو ایتونو کښې چه ذکر کړے شوی چه نمر او سپوږمۍ په اسمان کښې دی نو مراد ترینه طرف د اسمان دے. (احسن ۲/۱۳۵). وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ: دا ژوندونه دی منکرانو ته چه د نبي ﷺ په وفات خوشحالي کوی نو دوی به هم مری. (افضل التراجم ۲۵۴) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی: یقیناً دلیل نیولے شی په دے ایت کریمه باندے چه ذهاب کړے شوے دے ته چه خضر علیه السلام وفات شوے او ژوندے نه دے ترا اوسه پورے ځکه هغه بشر دے، که ولی دے که نبی دے او که رسول (ربیع ۳/۱۸۴).

فائده: په سورة کهف باندے د اسلاف مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی. جمهور علماء کرام فرمائی چه وفات شوے (عمرو، قرطبی ۱۱/۲۸۲) وګورئ روح ۱۶/۵۱، جواهر ۶۶۱، معارف ۶/۱۸۳، الهام الرحمن ۳۶۵). حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه په ژوند کښې ئے څه صحیح روایت نشته (ربیع ۳/۱۸۴). او ډیر مشهور ترینه حدیث د تعزیے دے خو سند د هغه ضعیف دے (مظهری ۶/۱۷۶). كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۳۵: سورة ال عمران ۱۸۵ هم اوګورئ. ځینو وائی: شاید په مرګ د بل خوشحالي کړو مرګ شمال دے هر څوک نه خوروینه؛ امام شافعی رحمه الله فرمائی:

الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ

وعده؛ که یئ تاسو؛ رښتیا ویونکی. که چرے خبر وے؛

الَّذِينَ كَفَرُوا حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن

هغه کسان چه کفر ئے کړے؛ هغه وخت؛ چه نه به منع کړے شی؛ د

وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ وَلَا

مخونو خپلو نه؛ اور؛ او د شاګانو خپلو نه؛ او نه به

هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً

دوی مدد ورکړے شی؛ بلکه راپیښه شی دوی ته قیامت؛ ناڅاپه؛

فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا

پس حیران به کړی دوی لره؛ پس طاقت به نه وی دوی؛ د واپس ګرځولو د هغې؛ او نه به

هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ

دوی ته مهلت ورکړے شی؛ او یقیناً توقے شوی وے؛ په ډیرو رسولانو پسے

مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُم

مخکښې ستا نه؛ پس چاپیره شو په هغه کسانو باندے چه مسخرے ئے کولے دوی نه؛ هغه

مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ مَن

څه چه وو دوی؛ په هغه پسے توقے کولے؛ دوی ته ووایه؛ څوک

يَكْلَؤُكُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ

ساتنه کوی ستاسو؛ د شپے؛ او د ورځے؛ د عذاب د مهربان نه؛

بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾

بلکه دوی؛ د یاد د رب خپل نه؛ مخ اړونکی دی؛

أَمْ لَهُمْ آلِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا لَا

آیا شته دوی لره؛ خدایان؛ چه بچ کړی دوی لره؛ بغیر زمونږ نه؛ طاقت

يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا

نه لری؛ د امداد د ځانونو خپلو؛ او نه دوی به د زمونږ له طرفه

منزل ۴

تمنی رجال ان اموت وان امت — فتلك سبيل لست فيها باوحد (روح ۱۷/۴۷، ابن کثیر ۳/۱۸۴). يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ: په عیب نکوی په بدو ایا نو ستاسو. (مدارك ۳/۸۲). مِنْ عَجَلٍ: پیدا شوے دے انسان د تادئ نه، د جلدئ نه یعنی تادی د دوی شوی دے. (افضل التراجم ۳۵۶) پیدا شوے دے انسان د جلتئ نه. د خمیر کولی

لغت دے (مدارک ۳/۹۱) فَتَبْهَتُهُمْ (حاشیه وګیږشوی لغو ۱۳) پس حیران به کړی دوی لره . (زاد المسیر ۳/۱)
مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ : دوایه ځوک به حفاظت وکړی ستاسو اسدیث ذ ... التعریف کښ رازی چه ... اللیل

يُصْحَبُوْنَ ﴿۴۳﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ
ملګرتیا کولے شی ، بلکه نفع ورکړے ده مونږ ، دغو خلقو او پلارانو ددوی لره ،

حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۭ اَفَلَا يَرَوْنَ
تر دے چه اوږد شو په دوی باندے عمر ، آیا پس نه ګوری دوی چه

اَنَّا نَاْتِى الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ۭ
مونږ راځو ، زمکے ددوی ته ، چه کمه ئے کړو ، د طرفونو د هغے نه ،

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ
آیا پس دوی به زورور شی ؟ ووایه : یقیناً ویره ورکوم تاسو لره

بِالْوَحْىِ ڮ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا
په وحی (قرآن) سره ، او نه اوری کونړو بلنه لره ، کوم وخت چه

مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ
دوی ویرولی شی ، او که چرے ورسیږی دوی ته لګ ښکرو ،

مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا
د عذاب د رب ستا نه ، نو یقیناً وائی دوی ، هلاکت دے مونږه ، یقیناً

كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ
وو مونږ ظالمان ، او کیږدو به تلے

الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ
د انصاف ورځے د قیامت ، پس ظلم به نشی کیدے په هیڅ یو نفس

شَيْئًا ۭ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ
څه شی ، او که وی (عمل) په اندازه د دانے د

خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ۭ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿۴۷﴾
اوری ، راوړو به هغه لره ، او کافی یو مونږ حساب کوونکی ،

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ
او یقیناً ورکړے وو مونږ ، موسیٰ ؑ او هارون ؑ ته ، کتاب فرق کوونکے

ته نبی ﷺ وفرمائیل : اُکْلَؤْنَا اللَّیْلَ (مشکوٰة ۳۳۳) وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ۞ او نه دی دوی زمونږ له طرفه ملګری کړے شوی یعنی امداد کړے شوی (تیسیر القرآن) بِالْوَحْیِ : (حاشیه کړے صفحه) یقیناً ویره ورکوم تاسو لره په وحی سره چه قرآن دے . وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ : شیخ الحدیث محمد یار شاه صاحب مد ظله العالی داسے معنی کوی، په دوران درس کښ (۱) کافی یو مونږ حساب کتاب کوونکی بل معاون ته ضرورت نشته (۲) کافی یو مونږ حساب کتاب کوونکی پس د حساب د الله نه بیا نظر ثانی ته ضرورت نشته ، الله تعالیٰ نه خطا کیږی .
وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى ۞ : دَ دے ځائے نه شروع تر ۹۲ آیت پورے دلائل نقلیه دی په دعوے د سورت بانو . د ۱۷ انبیاؤ علیهم السلام جزئی او اجمالی دلیل ذکر شو . (۲) دلیل د شرک کوونکو (۳) او اختتام په دے دعوے شو . (۴) زجر په اختلاف شو دلته د موسیٰ او هارون علیهما السلام نه نقلی دلیل دے . دلته اجمالاً دے ، سورة طٰهٰ کښ تفصیلاً ذکر دے .
فُرْقَان : د حق او باطل په مابین کښ فرق کوونکے .

ضِيَآءً : پوره رڼا ، ذکر ، پند ، یادداشت ؛

وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ: ترغیب دے قرآن ته او دا دلیل دے مطلب دا چه تورات هم ذکر وُو او قرآن هم۔
وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ: دَ دے ځائے نه ترسته چوبیشے نقلی دلیل دَ ابراهیم علیه السلام دے چه پلار او قوم ته ئے

وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ
او روښانه او نصیحت : دَ پاره دَ متقیانو : هغه کسان چه
يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ
ویریږی : دَ رب خپل نه : غائب شان : او دوی : دَ
السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ
قیامت نه : ویریدونکی دی : او دا (قرآن) نصیحت دے :
مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ؕ اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾
برکتونو والا : چه رالیږلے مونږ دا : آیا پس تاسو ده له منکریږئ ؟
وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ
او یقینا ورکړے وُو مونږ : ابراهیم ته : پوهه دَ ده : مخکښ دَ رسالت نه
وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَ
او وُو مونږ په هغه باندے عالمان : کله چه ووئیلے : پلار خپل ته : او
قَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ
قوم خپل ته : څه دی دا : شکلونه : هغه چه تاسو
لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا
دے له (عبادت کیدو کښے) ناستی ئی : ووئیل دوی : موندلی دی مونږ پلاران خپل :
لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ
دے له عبادت کونکی : ووئیل ابراهیم : یقینا یئ : تاسو
وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوْٓا
او پلاران ستاسو : په ښکاره ګمراهئ کښ : ووئیل دوی :
اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿٥٥﴾
آیا راغلے ته مونږ ته په حقه : یا ته : دَ لوبو (توقو) کونکو نه :
قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
ووئیل ابراهیم : بلکه رب ستاسو : رب دَ آسمانونو : او دَ زمکے دے :

منزل ٤

حق دلیل ورکړو۔ او ترسته نمرودیانو شرے وژل او هجرت ئے وکړو
فائده :- دَ تولو دلائلو متحصل دا دے چه دوی بتان دَ خو حاجات ترینه مونږ غواړئ، حاجات پوره کونکی نه وُو۔ په هر څه عالم او قادر صرف الله تعالیٰ دے، نه دوی۔ (انفعل الترجم ص٥٢٥)
رُشْدَهٗ : دَ رشد نه مراد ایمان او توحید دے۔ مِنْ قَبْلُ : مخکښ دَ نبی کیدو نه او یا دَ بلوغ نه (مراغی تفسیر قرطبی) وګورئ انعام ص۸۰۔ یا مراد ترینه نبوت دے او دَ مِنْ قَبْلُ معنیٰ دا ده چه مخکښ دَ موسیٰ او هارون علیهما السلام نه۔ یا مخکښ دَ محمد صلی الله علیه وسلم نه (مرکب ص٨١)
مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ : څه دی دا بتان هغه چه تاسو ورته چپلے کونکی او مغروران یئ۔ قرطبی رحمه الله فرمائی چه تمثال نوم اینبودلے شویدے دَ هغه جوړ شوی شی دپاره چه مشابه وی دَ یو مخلوق سره دَ مخلوق تو دَ الله تعالیٰ نه۔ (قرطبی) دغه رنګے زاد المسیر کښ هم دی (ص٣٢٢) دَ ابراهیم علیه السلام قوم دَ ستورو په شان جوړ کړی وُو او دغه دَ ډیکانو سنګانو۔ او ګورئ انعام ص۷۹۔
قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا : ووئیلے دوی چه مونږ لیدلی دی مونږ پلاران خپل په دوی عبادت کونکی وُو۔ دا دَ هر مشرک دلیل دے په مقابله دَ پیغمبرانو کښ۔ وګورئ زخرف ص٢٣ او ۲۲۔ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ

اَصْنَامَكُمْ : (بحاشیه دَ راتلونکی مخ ته ۵۲۶) او قسم په الله تعالیٰ باندو چه تدابیر به جوړ کړم بُتانو ستاسو ته پس دَ هغه نه چه وګرزئ تاسو شاګانو دَ تلو دپاره خپلو ته۔ دا خبره هغه پټه به زړه کښ وکړه (انفعل ص٥٢٦)۔ یا بعض کسانو دَ هغوی آوریدلے وه۔ (احسن ص٣٣٣) اَصْنَامَكُمْ : جمع دَ صنم ده۔ او اوثان جمع دَ وثن ده۔

هغه شي ته وائي چه د هغه عبادت کيدے شي يعني باري تعالى ته کم کتلے وي او که پيريان وي او که انسان وي او که ګټي وي او که ونه ډيګري وي او که زيارت وي. (فصل الترجم ص۳) فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا : پس ويې ګرځول هغوی ماتګرے ټکړے

الَّذِي فَطَرَهُنَّ ۖ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ

هغه ذات چه پيدا کړي دي دغه (اسمانونه او ځمکه) او زه په دې (خبره) د ګواهي

الشَّاهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم

کوونکو نه يم ، او قسم په الله دے چه خامخا تدبير به جوړ کړم بتانو ستاسو ته

بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ

پس د هغه نه چه وګرځئ تاسو شا کوونکي ، پس ويې ګرځول هغوی ټکړې

جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ

ټوټے ټوټے مګر غټ بت د هغوی ، ښايي چه دوی د دے ته

يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ قَالُوا مَن فَعَلَ هَٰذَا

رجوع وکړي ، وويل دوی : چا کړے دے دا کار

بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُوا

د معبودانو زمونږ سره يقيناً دے خامخا د ظالمانو نه دے ، وويل دوی :

سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ﴿٦٠﴾

اوريدلي دي مونږ يو ځوان چه عيب لګولو دوی ته ، ويلے کيږي هغه ته ابراهيم

قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ

وويل دوی : راولئ هغه ، په مخ د سترګو د خلقو

لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ

د دے دپاره چه دوی ګواهي وکړي ، وويل دوی اې ابراهيم : کړے دے تا

هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ

دا کار د خدايانو زمونږ سره اے ابراهيم ، وويل هغه بلکه کړے دے دا

كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِن كَانُوا

لوئي د دوی نه چه دا دے پس تپوس وکړئ د دوی نه که چرے وي دوی چه

يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوا إِلَىٰ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوا

خبرے کوي ، پس واپس شو دوی خپلو ځانونو ته (سوچ ئې وکړو) پس وويل

هغوی ورا ګرځے ټکړے ، تشريح :
هغوی وته واپس شي ، يو کم مني
واګيدے شي چه د اصل نه پرګ
امید باندې ډیر چه تشابه تعلق لرى
ټکړے ټکړے ونيی د دوی په خپل
ګټی په راتی چه داوجه د رتون
نه وي بيا به دوی د حضرت ابراهيم
عليه السلام ته رجوع وکړي ، او بعضو
فرمائيلي دي چه الیه ضمير
کبیر طرفته راجع دے او معنی دا
چه کله راشي خلق واپس راشي نو ل
بتانو ګټي ګورئ شه او غټ بت
صحيح سالم او ګوري ، وګه باتي
ټکړے شوي دي وبي نو بيا به دي
د غټ بت طرفته رجوع اوکړي او
د هغه نه تپوس وکړي چه دا چا
ولے اوشو ، هغه به هغه جواب ورکړي
نو د هغه عاجزي به ورته ورکه
شي ، (معارف بحث) فائده :
ابراهيم عليه السلام دا کار هغه وخت کړے
کړے وو چه دوی خپل جشن ته
د ښار نه بهر وتلي وو او ابراهيم
عليه السلام ته ئې هم دعوت ورکړے
ورکړے وو خو هغوی فرمائيلي وو
إِنِّي سَقِيمٌ : دوی چه واپس راغله
او عبادت خانے ته داخل شو نو
حالات ئې بدل وکتو ، نو ونے ويلے
چا دا کار کړے دے زمونږ کارساز
سره يقيناً دا ظالمانو نه دے
د دوی د خيال باطل عقيده په وجه نو
تحقيق ئې شروع کړو . سورة شعراء
د سلطان ونوري ، يَذْكُرُهُمْ :
وويل هغه کسانو چه د ابراهيم
عليه السلام قسم ئې اوريدلے وو چه
اوريدلي مونږ يو ځوان چه عيب
لګولو په دوی باندې چه ويلے شي هغه ته ابراهيم . يذکرهم : يعيبهم ، چه عيب لګوي په دوی او
زوړ يې بدو وائي وينا ته . (مدارک ص۴ ، سراج منير ص۲۳۲) پس شايد چه هغه به دا کار کړے وي . (روح ص۶)
فَأْتُوا بِهِ : وويلے دوی چه راولئ هغه روبرو مخامخ د سترګو د خلقو چه دوی پرے ګواهي وکړي

ګیا تماشه لے وکړی او عبرت ترینه واخلی۔ امام رازی رحمه الله فرمائی چه دوی به کفر ته چه وئے نیمی پغیره دَ کفر دلیل نه پس اراده نے وکړه چه راولی دا به مخ ځو دَ ستر ګو دَ خلقو ترپاره دَ وه چه خلق په ده ګواهی وکړی په ویناؤ دَ اسلوب شی په حجت تر نعل دَ دوی۔

إِنَّكُمْ أَنتُمُ الظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا
یقیناً هم تاسو ظالمان یئ۔ بیا نسکور کړے شو
عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ
په سرونو خپلو (وئے ویل) یقیناً پوهیږے ته چه دا دی دوی چه
يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ
خبرے کوی۔ وویل ابراهیم آیا پس عبادت کوئ تاسو سوا دَ الله نه
اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾
ته دَ هغه چه نفع نشی درکولے تاسو ته دَ هیڅ شی او نه ضرر (زیان) درکولے شی تاسو ته
أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ
ذلالت دے وی تاسو لره او هغو لره چه عبادت یے کوئ تاسو سوا دَ الله نه
اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَ
آیا پس نه پوهیږئ تاسو۔ وویلے دوی وسوزوئ دا لره او
انصُرُوٓا ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾
امداد وکړئ دَ خدایانو خپلو که چرے یئ تاسو کوونکی دَ دے کار۔
قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾
وویل موږ اے اورہ شه یخ او سلامتیا په ابراهیم باندے۔
وَأَرَادُوا بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾
او اراده وکړه دوی په هغه دَ تدبیر پس وګرځول موږ دوی لره تاوانیان۔
وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِى بَٰرَكْنَا
او خلاص کړو موږ هغه او لوط ته زمکے هغه ته چه برکت اچولے دے موږ
فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ
په هغے کښے دَ پاره دَ خلقو۔ او وبخښلو موږ هغه ته اسحٰق
وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾
او یعقوب زیاتی نمسے او هر یو وګرځول موږ نیکان۔
منزل ۴

(آل عمران) بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا: دا ځائے مشکل دے۔ وجه دَ اشکال دا ده چه ابراهیم علیه السلام دَ خپل فعل نسبت مشر لوئے بت ته کوی حالانکه دا دروغ دی او دا ګناه کبیره ده او پیغمبران علیهم السلام دَ ګناهونو نه معصوم او پاک دی۔ جواب کښ مفسرینو رحمهم الله خبرے توجیګانے کړی دی۔ دَ اکثر (الهام الرحمن ص۲۰۲ ج۲) وکوری۔ ابوبکر رازی رحمه الله فرمائی چه دا په طریقه دَ استهزاء او تمسخر ویلے دی۔ دویم دَ غضب بت زیات قصه کړے دَ دوی نو باعث او سبب ته ئے نسبت وکړو۔ دریم کلام معلق دے په شرط متصل یا نه نه طلق۔ مطلب دا چه دَ غضب به کړے وی که چرے دَ شرط کښے دوی خبرے کولے شی پس تپوس ترے وکړئ۔ (مسائل ص۲۳۳)۔ جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی دا اسناد مجازی دے۔ کوم کار چه ابراهیم علیه السلام په خپل لاس سره کړے دے هغے له ئے بت طرفته په طور دَ اسناد مجازی منسوب کړه ځکه چه په دے کار باندے حضرت ابراهیم علیه السلام لره آماده کړه لو بانو دا بت دے او دَ دے تخصیص شاید دَ دے وجے نه وو چه دَ دے قوم دَ دے بت تعظیم ډیر کولو الخ۔ (معارف ص۱۷۱ ج۶)۔ ثُمَّ نُكِسُوا: په حاشیه دَ کشف: بیا نسکور شو په سرونو خپلو یعنی وشرمیدل۔ خو لکه چه غلطه خبره کوی نو شرمیږی۔

(النسل ۵۳) قَالُوا حَرِّقُوهُ: په دَ دلیل کښ خو په لاشو نو دَ زور نه کار اخلی۔ سعدی بابا رحمه الله فرمائی: چون حجت نماند جفا جوئے را ۔ بپیکار بر کشد سر زروئے را ۔ یعنی چه دلیل دَ ظالم سره نه وی نو جنګ شروع کړی (النسل ص۵۳) وګورئ بیان القرآن ص۳۴۔ قُلْنَا يَٰنَارُ: دَ پښتو شیخ القرآن رحمه الله لیکلی دی: عنه

چه نمرود ابتلا کړه او ور ته او شو او قيمت ګڼه بلند چار ديوالي جوړه کړه او په دې کښې ئې ډېر خشک
خشاك راجمع کړو او وغورځوئے اور ورته کړو. کله چه اور بے لیے شروع کړے او د هر طرف نه دغه لمبې د

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا وَ

اَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ

الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا

عٰبِدِيْنَ ﴿٧٣﴾ وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا

وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ

تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ۗ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ

فٰسِقِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۗ اِنَّهٗ

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾ وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى

مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَ

اَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنٰهُ

مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۗ اِنَّهُمْ

كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٧٧﴾

آسمان سره ښېر نه شروع کړے
نو حضرت ابراهيم علیه السلام ته به
دغه ګښې او فورو ولو. کله چه سخ به
دغه اورکښې د غورزو ولو نو جبرئيل
کولے چه دغه وخت کښې د الله نه
خليل د ما سوى الله نه هم اړ نه
خيل سرني او اقامت په مناجات
کښې مصروف وو او د آسمان فرښتې
ئے هم کړے عرض نه کړلو. اللهم
انت الواحد في السماء وانا الواحد
في الارض ليس احد يعبدك غيري
حسبي الله ونعم الوكيل. په
روايت کښې دا الفاظ هم دي لا
اله الا انت سبحانك رب العالمين
لك الحمد ولك الملك لا شريك
لك (القرطبي) او د ګور کف
ابن کثير ... فائده ۲: ابراهيم
علیه السلام د الله تعالی د پاره اور ته
واچولے شو او هغه ته معلوم وو
چه سوز ذاتي صرف الله تعالی د
ته او د لکه مرګ صرف الله د
شو وري. کوم خلق چه انبياؤ
ته غيب ته ل د ... تعوو
پېغمبر ... چه ابراهيم
علیه السلام ته مکمل معلوم وو چه دا
اور به نه ... نو به اور ته
تله د الله تعالی د ... کمال ته
او پکه هغه ته د معلوم وو چه
اور د وی اور ته د الله د پاره
نو کمال واده. (الفضل ...)
ونجّيناه. او نجات ورکړو د لوط او
لوط علیه السلام ته يعني د عراق نه
هم ... شام ته چه هغه کښې
برکات ... او په ... د
(الفضل ...) ...
لوط علیه السلام ذکر نه شته ورکړه په

دغه وخت کښې ورسره د تصديق اعلان په نازيتو کښې صرف لوط علیه السلام کړے وو. د عنکبوت. ووهبنا له اسحٰق.
په وسے ايتونو کښې د اسحاق او يعقوب علیهم السلام ذکر دے او د هغوی صديت او اصلاح ذکر دی. نافلة:
زيانې نعمت حکه د دعا کړے وي په باره کښې د اسحاق علیه السلام کښې او زيات شو يعقوب پېغمبر د دعا نه لوی ګوی ګڼه دامت

صحه زياتي شو په سوال وده، دوی ويلي وو: رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۔ او نسبي تـ هم نالقله وېلې شي حكه دا زياته عطيه ده دی په ولد ـ بيې باندې (ترمذي ۲۹۵۶) ۔ د لوط ۷۴ (حاشيه د تيسير شوی تم شو ۵۵)؛ د لوط عليه السلام نه

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ

او ياد كړه داؤد او سليمان ـ كله چې فيصله كوله دواړو ـ په باره د فصل كښې:

اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا

كله چې د شپې خرڅ شوې په هغه كښې گډې : د يو قوم : او وو موږ :

لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ

فيصلې د دوی ته : حاضر څارونكي ؛ پس ورته مو وپوهاوه دغه فيصله : سليمان ته :

وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۖ وَّسَخَّرْنَا

او هر يو ته وركړې وه موږ پيغمبري : او علم : او تابع كړي وو موږ :

مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۚ

داؤد سره : غرونه : تسبيح به يې ويله : او مارغان هم :

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ

او وو موږ كوونكي دغسې كار : او ښوولې وه موږ ده ته : جوړول د :

لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَاْسِكُمْ ۚ

جامو (زغرو) تاسې لپاره : چې بچ وساتي تاسې لره : د جنگ ستاسې نه :

فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ

پس آيا : تاسې : شكر كوونكي يئ ؟ او تابع كړي وو موږ سليمان ته :

الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى

سيلۍ : تېزه : چليده به : په امر د هغه : زمكې

الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۚ وَكُنَّا بِكُلِّ

ته : چې بركت اچولی وو موږ په هغې كښې : او وو موږ په هر

شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾ وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ

شي باندې : عالم پوهه : او تابع كړي وو موږ ده ته د شيطانانو : هغه چې

يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ

غوټې به يې وهلې ده لره : او كول به يې : كارونه : سوا

منزل ۴

نقلي دليل دے چه حكمت او علم ما وركړے وو، او نجات ما وركړے وو، او په خپل رحمت كښې ما داخل كړے وو۔ د نوح عليه السلام نه نقلي دليل د گورئ نوح عليه السلام ما ته زاري او ما هغه بچ كړے وو نو هغه ما ته محتاج دے او كارساز نه دے او په ما غالب نه دے نو ځكه د هغه نه حاجات مه غواړئ۔ (فضل ۴۳)، مِنْ قَبْلُ: مخكښې د وخت ذكر شوو پيغمبرانو نه (روح ۱۷/۸۵) كمزري، نوح هغه ته وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ: (حاشيه دے تحت): دليل نقلي تحيم۔ په داؤد او سليمان عليهما السلام ته نعم ما وركړے وو او داؤد عليه السلام سره غرونه ما تابع كړي وو او زغره ورته ما ښوولے وه يعني دا خوارق او دا اشنا كارونه د باري تعالى دي نو حاجات هم صرف د الله تعالى نه غواړئ۔ (فضل ۴۵) اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ كله چه خوره شوې وې شپه كښې د وت د شپې په وخت فصل كښې گډې د يو قوم۔ قرطبي رحمه الله فرمائي چه نفش څرېدل دي د شپې، په ورځ شپو كښې نه (قرطبي) فَفَهَّمْنٰهَا: د ها ضمير په ظاهر كښې مفقود دے او د هغه فيصلې ته راجع دے او معني دا شوه چه كوم فيصله د الله تعالى په نزد غوره وه الله تعالى هغه سليمان عليه السلام ته وښووله۔ د د دے مقصد دے او فيصله صورت مخكښې خلاصه تفسير كښې راغلے دے چه

د هغه نه معلومېږي چه د حضرت داؤد عليه السلام فيصله هم د مخه د قانون شرعي نه غلطه نه وه مگر كومه فيصله چه الله تعالى سليمان عليه السلام ته وښووله په هغې كښې د دواړو رعايت او مصلحت وو۔ د دے وجے نه د الله تعالى په نزد هغه پسنديده مقرر كړے شوه۔ (معارف ۲۰۴)۔ فائده ۱:- يعني داؤد عليه السلام اراده وكړه چه سه

عده مالك دَ فصل ته نږدے کړے بیزے ورکړی خکه دا ته معلومه شوه چه قیمت دَ څخه دَ فصل سره برابر دے
او سلیمان علیه السلام فیصله وکړه چه مالك دَ فصل ته کړے بیزے ورکړی چه هغه ترینه فائده اخلی ترڅو وخت پورے

ذٰلِكَ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاَيُّوْبَ اِذْ

دَ دوی نه. او وو موږ دَ دوی ته حفاظت کوونکی. او یاد کړه ایوب، کله چه

نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الضُّرُّ وَاَنْتَ

آواز وکړو رب خپل ته چه یقیناً ماته رسیدلے دے ضرر (مرض) او ته

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا

ډیر رحم کوونکے یې دَ رحم کوونکو نه. پس قبول کړو موږ دعا دَ هغه، پس لرے موږ کړو

مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ

هغه څیز چه وو په هغه باندې مرض نه او ورکړو موږ هغه ته اهل دَ هغه او ورسره دَ هغوی

مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى

دَ هغوی سره، دَ وجے دَ رحمت دَ طرف دَ موږ نه او دَ یادونې دَ پاره

لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ

دَ عبادت کوونکو. او یاد کړه اسمٰعیل او ادریس

وَذَا الْكِفْلِ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَ

او ذوالکفل: ټول وو دَ صبر کوونکو نه. او

اَدْخَلْنٰهُمْ فِىْ رَحْمَتِنَا اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾

داخل کړی وو موږ دوی په رحمت خپل کښې، یقیناً دوی وو دَ نیکانو نه.

وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ

او یاد کړه ذوالنون کله چه لاړو دَ غصے نه (دَ قوم) پس ګمان یې وکړو چه

لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِى الظُّلُمٰتِ

هیڅ کله به تنګی نه راولو موږ په ده. پس آواز (فریاد) یې وکړو په تیارو کښې

اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّىْ كُنْتُ

چه نشته حاکم بغیر ستا نه، پاکی ستا ده، یقیناً زه وم

مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَ

دَ ظالمانو نه (ځان سره). پس قبول کړو موږ دعا دَ هغه. او

چه مالك دَ کډو بیزو دَ فصل
تربیت وکړی ترڅو پورے چه
زوړ حالت ته ورسی او بیا دَ فیصله
کښ دَ دواړو باسو خیر او فائده
وه او داود سلیمان علیهما السلام اشه تعالیٰ
وخوښوله ځکه دا دَ دے چه دَ دواړو
فضیلت او علم پلار ته ښکاره شی
هغه په خوشحاله شی تنګ چه دَ اولاد
په ترقی شی سره پلار خوشحالیږی
(احسن التبیان) داش صنعۃ
لبوس یعنی جوړول دَ زغرو (فتح
ح) ولسلیمن الریح : او تابع کړے
وه موږ سلیمان ته سیلئی (ازکړ
(۲۹) وایوب : دلیل نقلی شیږم
دَ ایوب علیه السلام دعا صرف الله تعالیٰ
قبوله کړے وه او دَ هغه تکلیف
صرف الله تعالیٰ لرے کړے وو.
(الفضل ۴۵) مولانا دریا آبادی
رحمه الله فرمائی چه ایوب علیه السلام
اسرائیلی خو نه وو، اسحاق او
ابراهیمی وو. یعنی دَ حضرت ابراهیم
علیه السلام په نسل کښ دَ حضرت
اسحاق علیه السلام دَ مشر څوی او دَ حضرت
یعقوب علیه السلام دَ مشر رور عیص
په اولاد کښ وو. (ماجدی ۵۰) او
دا انتهائی په صبر کښ وو او بیا
شی مثال دَ دوی په صبر کښ (روح
۹۶) بالاخر هغه داسے صورت
پیښ شو چه دوی ته په دعا کولو
مجبوره کړو، او دا دعا وه ځکه
بے صبری نه وه. حق تعالیٰ دَ دوی
په خصوص انو نعمانو کلام کښ ډیر
ورحلو وئے فرمائیلی، (انا
وجدنه صابرا) (معارف ۶۸۹
سورة ص) دَ ستړی نه وکوری.
ومثلهم معهم : ابن مسعود رضی الله عنه
فرمائی چه کوم اولاد دنا ریته او دَ کوم اولاد دَ هغه نه مړه وو هغه چه جوړ شو، هغه دا ژوندی شو او دَ زیږیدلو نی پې
دَ دوی اولاد خنس او اولاد لونه وو. (قرطبی ۸۷) واسمٰعیل : دا اووم دلیل نقلی دے چه دا درے واړه
پیغمبران خو ما خپل رحمت ته بوتلی وو او دوی صابران او صالحان وو خو ما ته محتاج وو، دَ مخلوق حاجت مه

نَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

خلاص مو کړو ده لره د غم نه : او دغه رنګې نجات ورکوو مونږ مومنانو لره

وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِى

او یاد کړه زکریا کله چې آواز وکړو رب خپل ته : اے ربه زما ! مه پریږده ما لره

فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾ فَٱسْتَجَبْنَا

یو ځاے ، او ته غوره د وارثانو نه یې : پس قبوله کړه مونږ دعا

لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ

د ده : او وبخښلو مونږ ده ته یحیٰی ، او قابله مو کړه ده لره ښځه د ده

إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَ

یقیناً دوی وو چې جلدي به ئې کوله په نیکو کښې : او

يَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا

بللو به ئې مونږ لره په امیدونو : او په ویره : او وو دوی مونږ ته

خَٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

عاجزي کونکي : او یاد کړه هغه ښځه چې بچ کړے ساتلې وو عورت خپل

فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنَٰهَا وَ

پس پو کړے وو مونږ په هغې کښې : د روح د طرف خپل نه ، او وګرځوله مونږ هغه او

ٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿٩١﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ

ځوے د هغې نښه د پاره د عالمونو : یقیناً دا دین د انبیاؤ دین ستاسو دے

أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾

دین یو : او زه رب ستاسو یم : پس خالص بندګي وکړئ زما

وَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ إِلَيْنَا

او ټکړے کړو دوی دین خپل په منځ خپل کښې : ټول به مونږ ته

رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾ فَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ

راګرځیدونکي دي : پس چا چې عمل کړے وي د نیکو

د حاشیې تفسیر:

سه پوره کولو نه ئې مونږ او ونه به ما زورولے او رد کړو (افضل ص) وَذَا النُّونِ ره : دا اثبات دلیل نقلي دے چې یونس علیه السلام خو خان د دریاب نه هم بچ کړو (افضل ص) اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا ، کله چې لاړو په دے حال کښې چې غصه کونکے وو په قوم خپل د وجه د کفر د هغوي نه ئې خفا . د قاضي عیاض ره نبراء (ان لن نقدر علیه) : چې هیڅ به تنګي نه راولو په ده باندې (قرطبي ۲) د کورني منازعه نه روم ، مسطلاق شیخ القرآن رحمه الله په دغه معنی کوله . (۱/۲) فائده ۱ : په دے آیت کریمه کښې ورته اوراد د دعا دي . وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ (حاشیه د دے اثر) : او هم داسې نجات ورکوو مومنانو لره . او داسې که چې دعا وکړي په دے ډول مسره په حالت د مصیبت کښې (ابن کثیر ۲) د سعد رضی الله عنه نه روایت دے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چا چې دعا وکړه په دُعا د یونس علیه السلام باندې قبوله به ئې شي هغه لره (ابن کثیر) وَزَكَرِيَّآ : دا اثبات دلیل نقلي دے چې زکریا علیه السلام خو بخښنه کونکے نه وو او محتاج د بچي حاجت ئې پوره کولے او نه په الله تعالیٰ غالب کیدے شي (افضل ص) اِنَّهُمْ كَانُوا خَاشِعِينَ : دا د ټولو انبیاؤ اثبات اعمال دي چې دا ټول انبیاء کوي نه حاجات غواړي او ښه نه طمع لري او حاجات د به عاجزي کوي (افضل ص) وَالَّتِىٓ اَحْصَنَتْ : دا د الله تعالیٰ د وحدانیت اثبات دلیل دے د مریمې نه چې بې د پلاره بچے ورکولے شي نو دغه پاچا د هر څه کولے شي (افضل ص) اِنَّ هَٰذِهِۦٓ اُمَّتُكُمْ : دا اشاره ده دین اسلام ته او ملت د ټولو انبیاؤ دے . (مارکنزم) وَتَقَطَّعُوٓا : دا د یو سوال جواب دے هر کله چې د ټولو انبیاء علیهم السلام دین یو وو او ټول په توحید باندې متفق وو او د ټولو د توحید اشاعت کولو نو بیا په دوی کښې شرک د کوم ځاے نه راغلو (جواهر ص) فائده ۲ : په دے کښې د اختلاف نه بعد نیکانو لره بشارت دے او د شرک نه بدانو لره تخویف دے .

(ربع ۶)

د حُرۡمٌ : دلته څو معنې دي (۱) د حرام معنی منع ده او لَا يَرۡجِعُونَ په معنی د مصدر سره او مطلب دا شو چه منع شوې ده په هغه کلو والو چه مونږ هلاک کړي دي عدم رجوع او نه واپسي د هغوی د بیا دپاره يعني ضرور به رجوع کوي خوا ته زمونږ

وَهُوَ مُؤۡمِنٌ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِ ۚ وَإِنَّا

او دا ایماندار وي، پس نشته ناشکري کوشش د هغه لره او یقینًا مونږ

لَهُ كَاتِبُونَ ﴿٩٤﴾ وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَاهَا

هغه لره لیکونکي یو، او مقرر شوې ده په کلي والو چه هلاک کړي مونږ هغه

أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتۡ

چه یقینًا دوی به نه راواپس کیږي دنیا ته، تر دې چه پرانستلی شي

يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ

یاجوج او ماجوج، او دوی د هرې پوټې (لوړې) نه

يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَاقۡتَرَبَ الۡوَعۡدُ الۡحَقُّ فَإِذَا

راخوشیږي، او نږدې شي وعده رښتیا، پس ناڅاپه

هِيَ شَاخِصَةٌ أَبۡصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا

پورته به وي سترګې د هغه کسانو چه کفر یې کړی دی

يَا وَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِي غَفۡلَةٍ مِّنۡ هَٰذَا بَلۡ

(وائي) ای افسوس زمونږ یقینًا وو مونږ په غفلت کښې د دې نه بلکه

كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٩٧﴾ إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن

وو مونږ ظالمان، یقینًا تاسو او هغه چه عبادت یې کوئ تاسو

دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۖ أَنتُمۡ لَهَا

د الله نه ماسوا، خشاک د جهنم یئ، تاسو هغې ته

وَارِدُونَ ﴿٩٨﴾ لَوۡ كَانَ هَٰؤُلَاءِ آلِهَةً مَّا

ورتلونکي یئ، که چرې وې دوی خدایان نو نه به وې

وَرَدُوهَا ۖ وَكُلٌّ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمۡ

داخل شوي په هغې کښې، او ټول به په هغې کښې همیشه اوسیدونکي وي، دوی لره به

فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ إِنَّ

په هغې کښې چغې وي او دوی به په هغې کښې څه نه اوري، یقینًا

خوا ته رازي - (روح ۱۷ ج) (۲) حرام په معنی د واجب دی معنی دا شوه چه واجب او لازم دی په هغو کلو چه هلاک کړي دي مونږ چه نه راواپس کیږي يعني توبه نه وباسي - وګورئ قرطبي ۳۴ ج ۱۲ - (۳) او مقرر شوی دی په هغو کلو والو باندې چه مونږ هلاک کړي دي چه هغوی نه رازي دنیا ته - (شیخ الهند) حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتۡ : دا غرض اخروي دی - د هُمۡ ضمیر نه ټول خلق مراد دي یا صرف یاجوج او ماجوج - په اول صورت کښې مطلب دا شو چه د دوی نه شیله نه پس به خلق د زمکې د لوړو ځایونو نه راخوشیږي او په تیزۍ سره به ځي ابتدئ او موقف طرف ته په منډه وځي - په دوېم صورت کښې مطلب دا شو چه کله د قیامت نږدې یاجوج او ماجوج آزاد کړی شي نو د زمکې هر حصه کښې به د غرونو او د شیرو نه راخوشیږي او هر طرف ته به شر او فساد قائم کړي او ټوله تباهي به خوروي (خواص ۷ ج ۵) وَاقۡتَرَبَ الۡوَعۡدُ الۡحَقُّ : او شي نږدې وعده رښتیا وعده حقه مراده ورځ د قیامت ده - إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ : تاسو او هغه چه تاسو یې عبادت کوئ خشاک د جهنم به یئ (شیخ القرآن) د دې ځای نه ترڅلور رکوعه پنځم باب دی - په دې کښې بشارت د مومنانو لره ۱۰۱ تا ۱۰۳ - تخویف دی مشرکانو لره ۹۸ تا ۱۰۰ او زجر ۹۸ تا ۹۹ - فائده : ۹۹ آیت کښې دلیل دی په ابطال د الوهیت د غیر الله - که چرې دوی الهه وي نو دوی به عبادت کونکي به دوزخ ته نه ځي - په ۱۰۱ کښې جواب د هغه وهم دی چه اٰلِهَةً لفظ خو شامل دی نیکانو لره هم - نو جواب دا دی چه چا له د جنت فیصله شوې ده هغه به دوزخ نه لرې وي او د جنت د تللو نه بعد به یې کښې هم نه اوري - یونس ۲۶ وګورئ ۰

كطي السجل للكتب: سجل په لغت د حبشو كښې سړي ته ويلے شي. دا زجاج رحمه الله ويلي دي. (كبير ۲۳۳) يا هر صحفه شي ته ويلے شي چه ليك پكښې كړے شي (راغب ۲۳۰) په اول صورت كښې معنى دا شوه كله چه رانغاړو په

الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ

هغه كسان چه مخكښې مقرر شوې وه هغوى ته زمونږ له طرفه نيكي (جنت) دغه كسان

عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ

به د جهنم نه لرې كړے شوي وي؛ به نه اوري اواز (ګش) د جهنم؛

وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

او دوى به په هغو كښې چه خواهش ئې نفسونه د دوى كوي؛ هميشه اوسيدونكي وي؛

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ

نه به غمژن كوي دوى ويره؛ لويه؛ او ملاقات به كوي د دوى سره

الْمَلَائِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ

ملائك؛ (وائي به) دا ورځ ستاسو هغه ده؛ چه وئ تاسو چه

تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاءَ كَطَيِّ

وعده به درسره كيدله؛ كله چه رانغاړو مونږ؛ اسمانونه؛ پشان د رانغښتلو

السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ

ملائكي ليكلو شوي كاغذونو لره؛ لكه چه شروع كړې ده مونږ اول پيدائښت

نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾

اعاده به ئې وكړو؛ وعده ده په مونږ باندې؛ يقيناً يو مونږ د كولو كار

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ

او يقيناً ليكلې ده مونږ په زبور كښې؛ پس د؛ ذكر (تورات) نه

أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾

چه بيشكه زمكه؛ وارث كيږي ئې بنده ګان زما؛ نيكان؛

إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ ﴿١٠٦﴾ وَمَا

يقيناً په دې (قرآن) كښې خامخا تبلیغ دے د قوم د پاره چه بندګي كوونكي دي؛ او نه دے

أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ

راليږلے مونږ تا؛ مګر رحمت؛ د پاره د مخلوقاتو؛ ووايه

منزل ۴

اسمانونو لره پشان د رانغښتلو د منشي ليكلو شوي كاغذونو لره. په دويم صورت كښې معنى دا شوه چه رانغاړو اسمانونه پشان د رانغښتلو د كتابچه رجسټرو د پاره د ليكلو شوي ليكو او مضامينو. كما بدأنا اول خلق نعيده ـ ۱۰۴: شكه چه اول ځل مو پيدا كړي يئ بيا به مو اعاده وكړو. (مراق ۱۷۲ دكوري). ولقد كتبنا في الزبور ـ ۱۰۵: د زبور نه مراد د حضرت داود عليه السلام كتاب دے او د ذكر نه تورات يا صحيفې د ابراهيم عليه السلام مراد دے او د زمكې نه جنت زمكه. نو بشارت اخرويه شو مومنانو له ۲/ يا د زمكې نه مراد بيت المقدس او شام دے او د نيكانو بندګانو نه امت د محمد صلى الله عليه وسلم مراد دے. نو دا بشارت دنيوي شو ـ قرطبي رحمه الله فرمائي چه اكثر مفسرين په دے باندې دي چه مراد د عباد و صالحين نه امت د محمد صلى الله عليه وسلم دے. (قرطبي ۳۴۹) فائده ۱۰: دا وعده د عمر بن خطاب رضي الله عنه په زمانه كښې پوره شوه. زمكه د شام فتح كړے شوه او والي د شام معاويه رضي الله عنه مقرر كړے شو او معلومه شوه چه معاويه رضي الله عنه د دے صالحينو په ډلي كښې شمار دے. (احسن الكلام ۲۰) ملا علي قاري رحمه الله فرمائي: وليس الصالحون الا اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم چه ډير لوئ صالحين لښكر ملګري د محمد صلى الله عليه وسلم (تفسير مظهري ۸) وما ارسلناك ـ ۱۰۷: د دے ځائے نه شپږم باب دے په

دلیلونو صداقت د رسول عليه السلام او بشارت دے ۱۰۱ (۲) اصلي مسئله د توحيد ده ۱۰۸ (۳) تخويف دے په قلما ۱۱۲ ـ مناسبت: دا سورت شروع شوے وو په تخويف او ختم شو په تخويف (سماط الدرر) عملي ايتونو كښې صلاحيت او عبادت ذكر شو نو اوس فرمائي چه دا موقوفه دي په تابعدارۍ د رسول الله صلى الله عليه وسلم او عقيدې

منه د توحيد بانوا ئے مـ١٠٢ـ. فائده: تاسمى رحمة الله ليكي چه نبي عليه السلام ته رحمت مبالغة ويلے شوي دے. او داهم كيدے شي چه رحمة مفعول له دے يعني مونږ نه دے ليږلے تا لره مگر د پاره د رحمت د مومنانو.

إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

يقيناً وحي كولے شي ماته: بيشكه حقدار د عبادت ستاسو معبود يو ذات دے،

فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ

پس ايا تاسو مسلمانان يئ؟ پس كه دوي مخ وارړولو نو ووايه

آذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ

خبر كړو ما تاسو برابر؛ او نه پوهيږم زه آيا نژدے دے

أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ

يا لرے هغه عذاب چه وعده ئے كولے شي تاسو سره: يقيناً الله پوهيږي په زوره

مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ

وينا: او پوهيږي په هغه چه تاسو ئے پټوئ؛ او نه

أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

پوهيږم زه كيدے شي دا امتحان وي ستاسو دپاره؛ او فائده اخستل وي تر يو وخت پورے.

قَالَ رَبِّ احْكُم بِالْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ

ووئيل دے اے ربه زما! فيصله وكړه په حقه سره؛ او رب زمونږ مهربان دے

الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾

مدد ترينه غوښتے شي په برداشت د هغه چه تاسو ئے بيانوئ؛

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ

اے خلقو! وويريږئ د ربه خپله: يقيناً زلزله

السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا

د قيامت شے لوئے دے: هغه ورځ چه وينئ دغه لره

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَ

غافله به شي هره شيدې وركونكے: د هغه چه شيدو وركوي: او

(مـ١٠٩ـ) آذنتكم على سواء: (حاشيه د دے لفظ) خبر مے دركړو تاسو ته برابر او پوره. مراد ترينه بيان د توحيد دے. وان ادري مـ١١١ـ: دفع د وهم دے چه سهيا د عذاب موجود دے نو ولے نه راځي؟ قل رب: وائي پيغمبر عليه السلام چه اے ربه زما! فيصله وكړه په حقه سره، شر كلمه چه په وخت د مهلت كښې مخالفينو سخته مقابله كوله. نو نبي عليه السلام دا دعا غوښتله. فائده: په ايتونو مـ٩٠ـ كښې نفي د علم غيب ده د نبي عليه السلام نه او په مـ١١٢ـ كښې نفي د شرك في التصرف وغيره.

امتيازات: بشارت خاصه دے امت د پاره ده مـ٩٠ـ (١) فيصله د داؤد عليه السلام مـ٧٩ـ (٢) دعا د ذا النون عليه السلام مـ٨٧ـ (٣) ابتلاء د ابراهيم عليه السلام مـ٦٨ـ (٤) اجمالي دليل د ټولو انبياؤ عليهم السلام نه مـ٩٢ـ ختم شو تفسير د سورة الانبياء.

سورة الحج ٢٢ دے په ترتيب كښې پس د سورة الانبياء نه ١٠٣ دے په نزول كښې پس د سورة نور نه. وجه د تسميه ئے دا ده چه په مـ٢٧ـ كښې لفظ الحج راغلے دے.

دعوى: رد د شرك اعتقادي مـ٣ـ تا مـ٦٦ـ مكيه. او رد فعلي مـ٦٧ـ او تشريح د علوم مثلو (١) تحريمات الله مـ٣٠ـ (٢) تحريمات العبادة مـ٢٩ـ (٣) النذر رفته مـ٣٤ـ (٤) النذر والعبادة مـ٢٦ـ. ربطونه (١) سورة الانبياء كښې رد د شرك اعتقادي وو نو دلته رد د شرك فعلي دے (٢) هلته تخويف وو په راتلو د قيامت نو دلته ئے يو نمونه ذكر كړه چه زلزله ده مـ١ـ (٣) هلته تذكير وو غافلينو ته نو دلته اعلان د جهاد دے او هجرت دے مـ٣٩ـ. (٤) هلته د اولني انبياؤ نقلي دلائل ذكر وو دلته هم د ابراهيم عليه السلام نه نقلي دليل دے مـ٢٦ـ (٥) مخكښې سورت په تخويف ختم شو، نو دا په تخويف شروع شو.

منه شو (۵) محکمې سورت په اخرکښې وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ ذوا او دې په اخرکښې فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ دے
خلاصه : په دے سورت کښې پنځه بابونه دي : اول ترے پورے ، دویم ترمنځه پورے ، دریم ترے پورے ،

تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى
وبه غورځوي : هره خاوندې د حمل : خپل حمل لره ، او وبه وینې ته
النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ
خلقو لره نشه (او حال دا) چه نه به وي دوي نشه ، او لاکن
عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ② وَمِنَ النَّاسِ مَنْ
عذاب ، د الله تعالٰی سخت دے ، او بعض د خلقو نه هغه څوک دي چه
يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ
جګړه کوي په توحید د الله کښې بغیر د علم نه ، او تابعداري کوي د هر
شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ③ كُتِبَ عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ
شیطان : سرکښه ، مقرر شوي په باره د هغه کښې چه شان د دغه دا دے چه ،
تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ
دوستي وکړه د هغه سره پس یقینًا هغه ګمراه کوي د هغه لره او بوځي هغه ته : د عذاب د
السَّعِيْرِ ④ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ
سوزونکي اور : اے خلقو ! که چرے یئ تاسو په
رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ
شک کښې : د دوباره ژوندي کیدو نه ، نو د ورکړئ دليل چه یقینًا پیدا کړي مونږ تاسو د
تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ
خاورې نه ، بیا د نطفې نه ، بیا د ټوټې د وینې نه ، د
ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ
بیا د ټکړې د غوښې نه چه پوره اندامونو والا (او کله) غیر پوره اندامونو والا ،
لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ؕ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ
چه بیان کړو تاسو ته : او کراروو په رحمونو کښې ، څومره وخت چه مونږ وغواړو
اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ
تر نیټې : مقررې پورې ، بیا راوباسو تاسو لره : ماشومان ، بیا
منزل ۴

څلورم ترمنځه پورے ، پنځم تر اخر ۲ پورے . په اول باب کښې ورے څلور خبرے (۱) تخویف په زلزلے سره دے (۲) زجر مجادلینو لره دے (۳) دوه دلائل عقلیه دي د باره د توحید او اثبات د قیامت نه عکس : يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ : اے خلقو ! ویریږئ د رب خپله نه یقینًا زلزله د قیامت شي لوئے (هیبتناکه) دے . امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا لفظ استعمالیږي په هیبتناکه شي کښې . او ویلے شوي دي چه معروفه زلزله صفت د چه نوے د ملامو د قیامت حقونو دا چه په دنیا کښې به وي مخکښې د وړے د دنیا مشتمه د اقول د جمهورو دے (ابن کثیر) د ګورئ زلزال نه ته . يَوْمَ تَرَوْنَهَا کله چه وینئ دا زلزله او یا قیامت (مدارک حطبه) ګرځے د زلزلے نه هول او هیبت د قیامت مراد شي نو بیا د مرضعة او حاملے نه فرضي مثال دے او که د زلزلے نه زلزله د قیامت نه مخکښې مراد وي نو بیا ترینه حقیقي معنیٰ مراد ده (۲) وَمَا هُمْ بِسُكٰرٰى : (حاشیه د دے شوي) او نه به وي دوي په حقیقت کښې نشه لاکن عذاب د الله تعالیٰ سخت دے (قاسمي رحمه الله) خلق به داسے معلومیږي لکه چه نشه وي (فتح القدیر) وَمِنَ النَّاسِ مَنْ : زجر دے مجادلینو لره او په مخکښې تخویف دے — حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي : او دا حال د اهل بدعت او د ضلالت دے چه اعراض کوي د حق نه او تابعداري کوي د باطل ، پریږدي هغه چه رالیږلے الله تعالیٰ په رسول الله د حق ښکاره ته او تابعداري کوي د اقوالو د سردارانو د ضلالت چه بلونکي وي بدعاتو ته په خواهشاتو او رایو کانو خپلو . (ابن کثیر) يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اے خلقو ! که چرے یئ په شک کښې د قیامت نه نو الله کوټے عمه

عمه دَ شك صوا دے چه وګورئ په اول سر کښ پیا انش خپل کښ (مدارک ۳/۱۳) دا دلیل عقلی دے او

لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى

(تربیت کوو) تر څو چه ورسیږئ طاقت (کمال) ته (ځوانئ) ته: او بعضے ستاسو هغه څوک دی چه مړه شی:

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا

او بعضے ستاسو نه هغه دی چه واګرځولی شی ناکاره عمر ته (انجام نه دانئی) چه نه

يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۗ وَتَرَى الْاَرْضَ

پوهیږی پس د علم نه په هیڅ شی باندے: او وینے به ته زمکه

هَامِدَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ

اوچه: پس کله چه راوګوزو مونږ په دے باندے اوبه: تازه شی:

وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝۵

او بوګه شی: او زرغون کړی: د هر قسم ښائسته تازه نه:

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ

دا ځکه چه یقیناً الله تعالیٰ: دا الله حق دے: او دا الله تعالیٰ ژوندی کوی:

الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶

مړو لره: او یقیناً الله تعالیٰ: په هر شی باندے: قدرت والا دے:

وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَاَنَّ

او یقیناً قیامت: راتلونکے دے: نشته شك په دے کښ: او یقیناً

اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝۷ وَمِنَ

الله تعالیٰ به راژوندی کړی هغه څوك چه په قبرونو کښ دی: او بعض د

النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

خلقو نه هغه دی چه جګړه کوی په توحید د الله تعالیٰ کښ: بغیر د علم پوهے نه:

وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝۸ ثَانِيَ

او بغیر د هدایت نه او بغیر د کتاب رڼا کونکی نه: اړونکے دے:

عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ لَهٗ

د ورمیږ خپلے چه لارے کړی د لارے د الله تعالیٰ (خلقو لره): د ده لره

او دَوَهُ انقلابه او مختلف حالات
د انسان بیان ذکر دی ؛
وَتَرَى الْاَرْضَ : (حاشیه دَ دے
۴) دویم دلیل دپاره د اثبات
د قیامت. هَامِدَةً : اوچه بنجر
اهْتَزَّتْ : خوشحاله شی ستاره
شی په شینکو. وَرَبَتْ :-
اوچته سیږی ، بوګه شی : په
دے مه ایت کښ د توحید او
اثبات قیامت دپاره پنځه
شمیرے ذکر کوی . په غور سره
وګورئ . وَمِنَ النَّاسِ : دا
د دے ځائے نه دویم باب
دے . په دے کښ اوه شبهے
خبرے دی . زجر و نه مشرکانو
لره شته ۸ . ۱۳ (۲) مطالبه ترینه
په څو د دریو دلیلونو باندے شوے
(۳) تخویفات ، ۱۰ . ۱۱ . ۱۳ .
(۴) بشارات ، ۱۴ . ۲۳ (۵) علاج
د شرك ۱۵ (۶) ترغیب قرآن ته
۱۶ (۷) عقلی دلیل ۱۸ . بِغَيْرِ
عِلْمٍ : او بعض د خلقو نه
هغه څوك دی چه جګړه کوی په
توحید د الله تعالیٰ کښ په غیر د
علم نه ، دلیل عقلی نه ۳/۲ او
بغیر د کتاب روښانه دلیل نقلی
نه . وګورئ جواهر ۱۲۳/۲)
ثَانِيَ عِطْفِهٖ : اړونکے وی
د ورمیږ خپلے لره . (انفال
۲/۲۳) بل د ژوندکی دی طرف

د ښت خپل لره (فتح ۱۷/۸) . اړونکے وی ښت خپل لره . (مدارک ۳/۹۹) ؛

وَمِنَ النَّاسِ الخ : بعض د خلقو نه هغه څوک دي چه عبادت کوي د الله تعالیٰ په شک سره : ابن کثیر ج ۳ ص ۲۰۹
یو طرف د دین باندې نه په مینځ او زړه د دین کښې او د امتثال د دې ډیره د ګیډه د دوی د پریشانتیا
او اضطراب کښې د دین نه په
سکون او اطمینان کښې (ابن کثیر ج ۳ ص ۲۰۹)
يَدْعُوا لَمَنْ ضَرُّهُ الخ ، دا
آیت مشکل دے . اشکال لفظی
کښې هم دے او معنوی هم،
لفظي کښې دا دے چه لَمَنْ
ضَرُّهُ الخ مفعول به دے يدعوا
سره نو لام بي ځایه داخل
شو . ابن جوزي رحمه الله فرمائي
چه بعض علماء وائي چه لام
زیاتي دے معنی دا شوه : يَدْعُوا
مَنْ ضَرُّهُ الخ . او زجاج رحمه الله
د کوفیینو او بصریینو نه نقل
کړے دے چه د لام معنی
روسته ده . معنی دا شوه :
يَدْعُوا مَنْ لَضَرُّهُ أَقْرَبُ مِنْ
نَّفْعِهٖ ، (زاد المسير ج ۵ ص ۴۰۸) او
معنوي اشکال دا دے چه مخکښې
مخ آیت کښې فرمائي چه بللي
دوي بوا د الله تعالیٰ نه هغه
څوک چه نه ورته ضرر رسولے
شي او نه نفعه ; او دے آیت
کښې فرمائي چه بللي دوي
هغه څوک چه ضرر ئې ډیر
نزدے دے د نفع نه : د دې
تناقض ګنړ جواب ورنه دي ;
ئیو تر ټولو ښه دا دے : امام
رازي او علامه خازن رحمهما الله
فرمائي چه دوی ورته
ضرر او نفعه نشي رسولے
په اعتبار د ذات د دوی سره
لاکن عبادت (او بلنه) د هغوی
سبب د ضرر دے او دا کافي دي په اضافت د ضرر کښې هغوی ته . (کبير ج ۲۳ ص ۱۳ ، خازن ج ۳ ص ۲۹۶) - الْعَشِيرُ :
ملګرے . (جواهر القرآن ج ۲ ص ۴۳) ۞

فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَنُذِيقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
په دُنیا کښې : رسوائي ده ، او وبه څکوو ده ته په ورځ د قیامت :
عَذَابَ الْحَرِيقِ ۝٩ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ
د عذاب د اور سوزولو ، دا په وجه : د هغه عملونو چه مخکښې کړي دي
يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝١٠
لاسونو ستا : او یقیناً الله تعالیٰ نه دے : ډیر ظلم کوونکے په بندګانو باندې :
ع ۱/۸
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى
او بعض د خلقو نه : هغه څوک دي : چه بندګي کوي د الله تعالیٰ : په شک
حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ اطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ
باندې : پس که چرې ورسیږي ده ته خیر (خوشحالي) نو مطمئن شي په هغه دے :
وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ انْقَلَبَ عَلٰى
او که چرې ورسیږي ده ته تکلیف : نو واپس ګرځي ، په مخ
وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ۭ ذٰلِكَ
خپل باندې : تاوان ئې کړو دنیا : او آخرت خپل : دغه
هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ۝١١ يَدْعُوْا مِنْ
همدا : تاوان : ښکاره دے : بللي دي : سوا
دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ۭ
د الله تعالیٰ نه ، هغه چه ضرر نشي رسولے ده ته : او هغه چه نفع ورکولے نشي ده ته
ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ۝١٢ يَدْعُوْا لَمَنْ
دغه : همدا ګمراهي لرې ده (د حق نه) ، بللي دي هغه څوک چه ضرر ئې
ضَرُّهٗٓ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ۭ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى
ضرر ئې د هغه نزدے دے د نفع د هغه نه ، خامخا بد دے ، دوست :
وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ۝١٣ اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ
او خامخا بد : ملګرے دے : یقیناً الله تعالیٰ به داخل کړي :

مَنْ كَانَ يَظُنُّ ﴿۱۵﴾: دا ایت کریمه هم مشکل دے. اوتنهے توجیه گانے پکښ دي، ښځے پکښ دادي. دَ پنډي
شیخ رحمه الله فرمائي چه: جمهورو مفسرینو ﴿يَّنصُرَهُ﴾ دَ ضمیر مرجع دَ هغوی حضرت ﷺ ذات گرامي مقرر کړے دے نو چه دَ قرآن الوتلو

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

هغو کسانو لره چه ایمان یې راوړے دے او عملونه کوي د نیکو: باغونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه بهیږي به لاندے د ونو د هغو نهرونه، ویالے: یقیناً الله تعالیٰ

يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ

کوي هغه: چه اراده یې اوکړي: څوک چه وي: چه گمان کوي:

اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

چه هیچرے به امداد اونکړي د هغه سره الله تعالیٰ په دنیا: او اخرت کښ

فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ

پس اوږده دے کړي: رسۍ: طرف د اسمان ته: بیا دے پرے یې کړي:

فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾

بیا دے اوگوري دے: آیا بوزي رخصتوي تدبیر د دهٔ: هغه څه دے چه غصه کړي

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ

او دغه رنگ: رالیږلے دے مونږ: دا قرآن ایتونه واضحه: او یقیناً الله تعالیٰ

يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ﴿۱۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

هدایت کوي: هغه چا ته چه اراده یې اوکړي: یقیناً هغه کسان: چه ایمان یې راوړے دے

وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئِيْنَ وَالنَّصٰرٰى

او هغه کسان چه یهود دي: او صابئین دي: او نصاری دي

وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ

او مجوسیان دي: او هغه کسان: چه شرک یې کړے دے: یقیناً

اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ

الله تعالیٰ به فیصله اوکړي: په مینځ د دوي کښ: په ورځ د قیامت: یقیناً

اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۷﴾ اَلَمْ

الله تعالیٰ په: هر شي باندے: حاضر دے: ایا نه

گمان دے شوے چه دَ قرآن الوتلو په وخت کښ دَ هغوی تصور په ذهن کښ راځي. دَدے وجے نه چه دَ قرآن اولنی مخاطب دي او مطلب دا دے چه الله تعالیٰ په دنیا او اخرت کښ دَ خپل پیغمبر ﷺ امداد کوي...... لیکن کوم سړي چه دَ وجے دَ بغض او حسد نه داگمان ري چه الله تعالیٰ دَ هغوي په دنیا او اخرت کښ مدد نکوي نو دغه دِ دَ بغض او حسد په اور کښ سوځیږي نو ایا دَ کینے او دَ دشمنۍ په جذبه کښ به دَ دهٔ خپه سخت اقدام کولو مثلاً دَ خپل وژن لو نه په دَدهٔ دَ سینے اور یخ شي. دَ اَلسَّمَآءِ نه چهت مراد دے او لِیَقْطَعْ په معنی دَ لِیَخْتَنِقْ دے یعنی چهت کښ رسۍ زوړنده کړي او ځان وسر کړي (جواهر ۳۵۰، روح ۱۳۳، خازن ۳۴۸، معارج ۲۴۹، قاسمي ۴۲۶، الهام ۳۲۰). (۲) بعض مفسرینو لیکلي دي، مطلب دا دے چه کوم سړي ته دا خبره خوښه نه وي چه الله تعالیٰ دِ دَ خپل پیغمبر مدد وکړي نو که دَدهٔ دَ غصے کولو طاقت وي نو اسمان ته دِ وختیږي او دَ مدد سرچشمه دِ بنده او قطع کړي بیا دِ اوگوري چه په دے حیلے سره مدد بندیږي که نه، خپله غصه یخولے شي (جواهر ۳۵۰، قرطبي ۱۸، شوکاني ۴۲۳، زادالمسیر ۴۱۷، الهام ۳۲۰). فائده: په دے کښ ترغیب دے قرآن ته. په ۱۷ کښ تخویف دے او بشیر: چلے پکښ ذکر دي. ﴿يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ﴾: فیصله به وکړي په مینځ دَ دوي کښ پس دَ کافرانو دَیاره به اور وي او دَ مومنانو دَیاره به جنت وي. (قرطبي ۲۲/۱۲) لکه ایات ۱۹ نه تر ۲۲ پورے او ۲۳ مستقل پورے ترینه دي.

ترَ أَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ
ترجمه: يقينا الله ته سجده كوي هغه ټول چه په اسمانونو كښ دي،
وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ
او هغه ټول چه په زمكه كښ دي؛ او نمر؛ او سپوږمۍ؛
وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ
او ستوري؛ او غرونه؛ او ونې؛ او ژوندي ساه؛
وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ
او ډير د خلقو نه؛ او ډير دي چه ثابت شوي په هغه باندې
الْعَذَابُ ۗ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهُ مِنْ
عذاب؛ او چا لره چه سپک كړي الله تعالیٰ پس نشته هغه لره هيڅوك
مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ⑱ هٰذٰنِ
عزت وركوونكي؛ يقينا الله تعالیٰ كوي هغه چه غواړي؛ دا دوه
خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِي رَبِّهِمْ ۖ فَالَّذِينَ
ډلې دي چه جګړه كوي په باره د رب خپل كښ؛ پس هغه كسان چه
كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ
كفر يې كړيدې جوړې به كړے شي دوي لره جامے؛ د اور نه؛
يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ⑲
اچولے به شي د پاسه؛ د سرونو د دوي نه؛ ګرم اوبه؛
يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ⑳
ويلې كولے به شي په هغې سره هغه چه په ګيډو د دوي كښې دي، او څرمنې د دوي؛
وَلَهُمْ مَّقٰمِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ㉑ كُلَّمَآ
او دوي لره به وي پلكونه؛ د اوسپنې؛ هر وارے چه
أَرَادُوْآ أَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيْدُوْا
اراده وكړي دوي چه راووځي د اور نه، د وجې د غم نه؛ واپس كولے به شي

نصف

سجدة

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ عِنا: دے آيت كښ دليل عقلي دے: اياته نه ګوري چه الله تعالیٰ چه دے سجده كوي هغه لره اسمانونو والا او زمكے والا. سجده نه ذلل او انقياد د أمر د الله تعالیٰ ته (قرطبي)

(عا) قُطِّعَتْ لَهُمْ: دَ دے ايت نه تخويف تفصيلي دے. جوړې به كړے شي دوي لره جامے د اور. يُصْهَرُ: ويلے كولے به شي: مَقَامِعُ، پلكونه: ګرزونه د اوسپنے به وي. أُعِيدُوا فِيهَا: واپس كولے به شي په دغه كښ (الم سجده آيت ٢٠).

إِنَّ اللّٰهَ عند: (حاشية رتلو كي مخ ٥٣٥)، دے ايت كريمه كښ بشارت دے. أَسَاوِرَ: بنګړي يې لاسونو كښ او لُؤْلُؤًا: او ملغلرے به پيغول ګانې وي څنګه چې على حده ذكر كړي: كهف ٣١. فاطر ٣٣. وَهُدُوا: او ښودنه كړے شوے وه دوي ته د پاكے وينا په دنيا كښ (فتح ٢٣). چه كلمه د توحيد ده او هدايت ورته كړے شوے ؤو د لارے د ستايلي شوي ذات: چه اسلام دے. (مدارك ٤٩/٣) په دے ايت كښ ئے ورله سبب د بشارت ذكر كړو: إِنَّ الَّذِينَ عد: دے ايت كريمه كښ تخويف دے. د ښپنو في شيخ

منزل

رحمه الله فرمائي چه واو د يَصُدُّونَ كښ زيادتي دے او خبر دے. يا يَصُدُّونَ د مبتدا محذوف خبر دے يعني وَهُمْ يَصُدُّونَ: په دے صورت كښ به د كَفَرُوا د فاعل نه حال شي او د إِنَّ خبر محذوف

5

وے په تړمینځ د اخری ایت "ثم لیقضوا" (اشرف جواهر) معلوم داشوه: هغه کسان چه کافران دی اړوی خلق
د لارے د الله تعالیٰ نه الخ. (۲) هغه کسان چه کافران دی او حال دا دے چه دوی اړوی، منع کوی خلق د

فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ
په دیکښی (اونهٔ کړ شی به دوی): څکوئ عذاب د اور سوزونکی: یقینًا

اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
الله تعالیٰ: داخل به کړی: هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کوی

الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا
د نیکو: باغونو ته: چه بهیږی به لاندے د دوی نه هغو نه

الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن
ویالے: ښائسته کولے به شی دوی په دیکښی: په بنګړو (سرو) کښی: د

ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾
سرو زرو: او په ملغلرو: او جامے د دوی به په هغو کښی ریښم وی:

وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَ
او هدایت شوے دے دوی ته: د پاکے: وینا نه: او

هُدُوا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ
هدایت شوے دے دوی ته: طرف د لارے د الله ستائیلی شوی: یقینًا هغه کسان چه

كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
کفر ئے کړے دے: او اړوی (منع کوی) خلق: د لارے د

اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ
الله تعالیٰ: او د جمات عزتمن نه: هغه چه مونږ ګرځولے دے هغه

لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ وَ
د خلقو دپاره چه برابر دی: او سیدونکے په هغه کښی: او مسافر: او

مَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ
چا چه اراده وکړه په هغه کښی: د کږوالی: په ظلم سره: وبه څکوو هغه ته: د

عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ
عذاب دردناک نه: او کله چه اوښودلو مونږ: ابراهیم علیه السلام ته

لارے د الله تعالیٰ نه او د جمات
عزتمند نه هغه جمات چه ګرځولے
دے مونږ هغه لره برابر دی په کښی
او سیدونکی او مسافر. او په څکوو
دوی ته د عذاب دردناک نه.
بِإِلْحَادٍ: په کږلیج: یعنی په ظلم
سره. تاسیس حضرت والی چه الحاد
شاملیږی شرک کولو لره او منع
کولو د خلقو لره د ابا دی دوے نه
او کولو د ګناهونو لره (الخ). حدیث
کښی راغلی د ابن عباس رضی الله عنه نه
چه رسول الله ﷺ فرمائی چه
ډیر مبغوض د خلقو په الله تعالیٰ
درے قسمه خلق دی (۱) الحاد
کونکے په حرم کښی (۲) او لټونکے په
اسلام کښی طریقے د جاهلیت لره
(۳) او طلبونکے د وینو د سړی
مسلمان په ناحقه سره چه تو یو کی
وینے د هغه (بخاری مشکوٰة شریف)
وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ: دوے
ځلے نه ترجمے پورے درګم باب دے
په دیکښی نقلی دلیل د ابراهیم
علیه السلام نه دے، او ځینو مسئلے
نه رشه تم دے: تحریمات الهیه
ښه دے، نه لغیرالله، او
تحریم لغیرالله نه دے. او حال د
مشرکانو دے. د شیخ الهندی شیخ رحمه الله
فرمائی یعنی حضرت ابراهیم
ته مونږ د خانه کعبے اصل ځائے
وخودلو چه هلته تعمیر وکړی چه
راتلونکی نسلونه هلته خالص
عباده کوی (جواهر شریف)
أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا: اعانتیه
دراتلونکی مخ: چه مه شریکوه
ما سره هیڅ شے. حضرت خو
معصوم وو. دیکښی تعریض دے
مشرکانو ته. وَطَهِّرْ: او پاک کړه کور زما د پاره د طواف کونکو. سورة بقره کښی تیر شوی دی ع۱۵. وَأَذِّن
فِي النَّاسِ: او اعلان وکړه په خلقو کښی په حج کولو سره: دیکښی د سورت وجه د تسمیه راغله: او د اعلان
توحید نه بعد اعلان د حج دے چه حاجی به د حج کښی نه د شرک نه پاک وی. فائده: بغوی، ابن ابی حاتم

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړے شوی دی چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام ته د حج د فرضیت د اعلان حکم
وشو نو هغوی الله عز وجل ته عرض وکړو چه دلته خو خلق میدان دے، خوک آوري لو والا نشته؟ څرته چه

مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا
ځائے د بیت الله (د دې چه مونږ) چه مه شریکوه ما سره هېڅ شي لره

وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَ
او پاک ساته کور زما د پاره د طواف کوونکو او ودرېدونکو او

الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ
رکوع کوونکو سجده کوونکو: او اعلان وکړه په خلقو کښې

بِالْحَجِّ يَأْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ
په حج کولو باندې: راځي به تاته پیاده: او سواره په هر څه خوار اوښ

يَّأْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿۲۷﴾ لِّيَشْهَدُوْا
چه راځي به د هر لارې لرې نه: د پاره د دې چه حاضر شي دوی

مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ
فائدو خپلو ته: او یاد کړي دوی نوم د الله تعالی: په

أَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ
ورځو معلومو کښې: په هغه چه ورکړی دی دوی ته الله تعالی: د

بَهِيْمَةِ الْأَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا
بې ژبو څاروو نه: پس خورئ د هغې نه: او خوراک ورکړئ

الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿۲۸﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ
بد حاله (اوږي) فقیر ته: بیا دې لرې کړي دوی خیرې خپل

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ
او پوره دې کړي نذرونه خپل: او طواف دې وکړي دوی د کور عتیق

الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ
(آزاد شوي) نه: دا (اوري): او چا چه تعظیم وکړو: د عزتمند شیونو

اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَأُحِلَّتْ
د الله: پس دا غوره دی ده لره په نزد د رب د ده: او حلال کړے شوي

منزل ۴

اباد دی د ده دلته به ما آواز څوک
آوري؟ الله تعالی ورته وفرمایل
چه ستا دنده صرف اعلان
کول دي، د دنیا ټولو کونجونو ته
رسول زما کار دے. او حضرت ابراهیم علیه السلام په مقام
ابراهیم اودریدو او اعلان ئے
وکړو چه خلقو! الله تعالی درباندې
حج فرض کړو. او بعض روایاتو
کښې دي چه هغه غره (ابي قبیس)
ته اوختلو او اعلان ئے وکړو
په طور د نوکښې ئے گوتې غوږونو
کښې کیښودې او مخ ئے وشرقا
وغربا ته دا آواز اوکړو چه
ای خلقو! ستاسو رب خپل
کور جوړ کړے دے او په تاسو
د دې کور حج فرض کړے دے
نو تاسو ټول د خپل رب د حکم
تعمیل وکړئ. په دې روایت
کښې دا هم دي چه د ابراهیم
علیه السلام دا آواز الله تعالی ټولې
دنیا کښې خور کړو او صرف د
هغه وخت ژوندو انسانانو
ته نه بلکه کوم انسان چه په اسنده
کښې تر قیامته پورې پیدا کیدونکي
وو، بطور معجزه هغه ټولو ته دا
آواز اورسولے شو او د چا په
قسمت کښې چه الله تعالی حج کول
لیکلي وو د هغه ټولو نه هر یو
د دې آواز په جواب کښې
لبیک اللهم لبیک ووئیلو:
یعني د حاضریدو اقرار ئے وکړو
حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائي
چه د حج د تلبیې اصل بنیاد
د آواز ابراهیمي جواب دے.
(قرطبي ج۱۲، مظهري ج۶، معارف ج۶)

عَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ: په هره خوارے اوښ چه راځي په د لارې لرې نه (مظهري) واقعه: محمد بن یاسین وائي چه ما یو بوډا په طواف کښې ولیدلو چه د کوم ځائے نه راغلے ئے؟ نو ما ورته ووئیل د خراسان، هغه ووئیل ځمونږ د
مسافت مسافه ستاسو او د بیت الله په مابین کښې؟ ما ووئیل دوه میاشتې یا درې، هغه ووئیل چه تاسو

عه خو کله ونو یان دَ بیت الله یې ځي . پس ما وړنه وویلے چه تهٔ دَ کوم ځائے نه راغلے یې؟ هغهٔ وویلے چه دَ مروِ
دَ ښځو که ځم نه ، او راوُسے زهٔ رام او وخت راغلے دے پس بوځ اشوم . ما وویلے قسم په الله تم ! دا طاعت بنائستهٔ
او محبت رښتونے دے . پس هغهٔ وویلے

لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

تاسو لره : ورکړ ۍ شوي دي څاروي : مګر هغه چه لوستلے شي : په تاسې باندې :

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ

پس ځان وساتئ تاسو : دَ پلیتۍ نه : چه بتان دي : دَ بتانو

وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ۝٣٠ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ

او ځان وساتئ تاسې : دَ وینا دَ دروغو نه : کلک تلونکي اخلاص کوونکي الله ته : نه

مُشْرِكِينَ بِهِ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ

شریک کوونکي دَ هغهٔ سره : او چاچه شریک وګرځولو دَ الله تعالیٰ سره :

فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ

پس ګویا که راوغورزیدهٔ دَ اسمان نه ، پس وتختوي هغه لره ، مارغان :

أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ۝٣١

او یا بګتهٔ وغورزوي دَ هٔ لره : سیلئ په ځائے لرے کښې :

ذَٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا

حکم دغه شان دے ، او چاچه تعظیم وکړو دَ یادګارونو دَ الله تم : پس یقیناً دا دَ

مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ ۝٣٢ لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ

پرهیزګارئ دَ زړونو نه ده : تاسو لره په هغې کښې نفعې دي :

إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ

تر نیټې : مقرر پورې : بیا ځائے دَ حلالیدو دَ هغو : انتها دَ کور

الْعَتِيقِ ۝٣٣ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا

پخواني ته دے ، او دَ هر امت دَ پاره : مقرر کړے مونږ : طریقه دَ قربانئ :

لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُمْ

چه یاد کړي دوي : نوم دَ الله تعالیٰ : په هغه چه ورکړي دي دوي ته الله تم :

مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۗ فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ

دَ بے ویینا : څارویو نه : پس معبود ستاسو : معبود دے :

ع ۴

منزل ۴

دَرشن ضرورت وان شئت بلغاته انا
وخال می دوبند حجت واستار
لایستطلع بعد عن زیارته ..
ان المحب لمن یهواه زوار (تفسیر مدارک ۳۰۸ ج ۳). منافع لکم : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي نفع دَ دنیا او اخرت ته ، هرچه نفع دَ اخرت دي پس رضا دَ الله تم او هرچه نفع دَ دنیا دي پس هغه دي په دوي ورته رسیدري دَ قربانۍ دَ څارویو او دَ نورو اوتجارتونو (ابن کثیر ۲۱۴ ج ۳). ثم لیقضوا تفثهم بیا دې لرے کړي خیرے خپل (مدارک ۸۴ ج ۳) بیا دې پوره کړي کارونه دَ حج خپل (روح ۱۴۳ ج ۱۷).

فاجتنبوا الرجس الخ : پس ده وکړئ دَ ګند ګئ نه چه عبادت دَ بتانو دے . یعنی دَ بیانیه ده ګویا چه دے (روح ۱۴۸ ج ۱۷). ومن یشرک : علامه نسفي رحمه الله فرمائي چه دا تشبیه مرکبه او مفرقه شي . که تشبیه مرکبه شي پس ګویا که فرمائي چا چه شرک وکړو دَ الله تم سره پس هلاک ئے کړو ځان په پوره هلاکت سره پس مشابه ئے کړو حال دَ دهٔ په حال دَ هغه چا چه دَ اسمان نه راولیږي پس وتختوي دَ لره مرغان پس خورشي ټوټے ټوټے په ځپڅ و دوي کښې یا پرته تیزے سیلئ واوړوي چه وئے غورځوي په بعضے ځایونو دَ هلاکت لرے کښې . او که تشبیه مفرقه بیا شي پس مشابه کړے دے ایمان په اوچتوالي کښې دَ اسمان سره او دَ هغهٔ چا چه شرک کوي دَ الله تم سره په رابرېوتونکي دَ اسمان نه او خواهشات هلاکونکي دَ مرغانو سره او شیطان هغه چه غورځوي ئے په ګمراهئ کښې دَ تیزے سیلئ هغے سره چه غورځول کوي په بعضو دښتو هلاکونکو کښې . (مدارک ۸۴ ج ۳) . ثم محلها الخ : بیا ځائے دَ نازلیدلو دَ اجل دَ دے یعني ځائے دَ

عـه قربانۍ ورکوي. رسيدونکې وي کوم چې اوس ده. (مظهري ص۲۲) مراد ځای د حلالولو او د ذبح کولو وی او د
بَیْتُ الْعَتِیْقِ نه مراد حرم دے او په هغے کښې خاص منۍ کښې د ذبح کول افضل دي. (احسن ص۲) . وَلِكُلِّ اُمَّةٍ:

مَنسک او نُسک د عربۍ ژبې په اعتبار سره دا څو معناګانو ته ویلے شي. یو د جانورو قربانۍ او دویم ټول افعال د حج او دریم معنی د مطلقې عبادت ده. په قرآن کریم کښې په مختلفو ځایونو کښې دا لفظ په دې درې معنو کښې استعمال شوي دے. دلته درې واړه معناګانې مراد ویلے شي (معارف ص۲۶۹). ربط: هر کله چې الله تعالیٰ د قربانو ذکر وکړو نو ګمان ورته پیدا شو چې دا د مشرکانو عادت دے نو فرمایي چې دا به پیدا شي نه د هغوی په طریقه (قرطبي ص۵۵). فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ پس حقدار د عبادت یو ذات دے پس یاد وئ په ذبحه کښې یوازې د الله تعالیٰ نوم (مدارک ص۱۰۵). په اَلَّذِیْنَ ص۳۵ په دې آیت کریمه کښې بشارت دے عاجزي کوونکو تواضع کوونکو ته او د هغوی پنځه صفات (انفال ع۲ کښې) ذکر وو. او هر کله چې د حج د ټولو احکامو بیان وشو. په عاجزي سره ده نو ځکه د مُخْبِتِیْنَ لفظ ذکر کړو. وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ: ویریږي زړونه د دوي. امام قرطبي رحمه الله فرمایي: دا د هغه چا صفت دے چې کوم عوام جاهلان او بدعتیان وي. د چیغو او د زیږو ... او وهل ... چې مشابه دے د هغې ... (ص۵۵) سورة زمر ګوره ص۲۳. په دې آیت کریمه کښې د بدعتیانو د وجد ... رد وشو. وَالْبُدْنَ: اوښان غټ وي ... ځکه چې د الله تعالیٰ فرمايي: کوم اوښ یا غوا ... د بیت الله

وَاحِدٌ وَاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِیْنَ ﴿۳۴﴾

یو دے پس خاص هغه ته تابع شئ. او زیرے ورکړه عاجزي کوونکو ته.

الَّذِیْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَ

هغه کسان چې کله یاد کړے شي الله نو ویریږي زړونه د دوي. او

الصّٰبِرِیْنَ عَلٰی مَاۤ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِیْمِی

صبر کوونکي په هغه مصیبت چې رسیدلي وي دوي ته. او پابندي کوونکي

الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَ

د مانځه دي. او بعضې د هغه مال نه چې ورکړے مونږ دوي ته خرچ کوي. او

الْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ

غټ څاروي ګرځولي دي مونږ هغه تاسو له د نښانو د الله تعالیٰ نه.

لَكُمْ فِیْهَا خَیْرٌ ۖۗ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَیْهَا

تاسو له په هغو کښې خیر دے. پس یاد وئ نوم د الله تعالیٰ په هغو باندې.

صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا

چې قطار ولاړ وي. پس کله چې راپریوځي اړخونه د هغوی، پس خورئ

مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ؕ كَذٰلِكَ

د هغې نه او خوراک ورکړئ صابر ته او بې قراره ته. همدغه رنګ

سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۳۶﴾ لَنْ

تابع کړي مونږ هغه تاسو له دپاره د دې چې تاسو شکر اوباسئ. هیڅ کله به

یَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ

نه رسیږي الله تعالیٰ ته غوښې د هغو او نه وینې د هغو. او لاکن

یَّنَالُهُ التَّقْوٰی مِنْكُمْ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

رسیږي الله تعالیٰ ته تقوی (اخلاص) ستاسو نه. همدغه رنګ تابع کړي دي الله تعالیٰ تاسو له

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰی مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَبَشِّرِ

چې تکبیر ووایئ د الله تعالیٰ په هغه طریقه چې ښوولې ده تاسو ته. او زیرے ورکړه

د الٰهي شي. هغوي ته بُدْن وائي. دا د خدای د عزت علامه ده (افضل ص۳۲۹). دلته د هغو شلور احکام بیانوي. فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ: پس یاد وئ نوم د الله تعالیٰ په هغو باندې. چې صف بسته وي (معارف ص۲۷۵) چې قطار سره ولاړ وي. (افضل ص۳۳) چې ولاړ وي په درې خپو او کسه خپه ئې تړلې شوې وي. عـه

الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ

نیکی کوونکو ته. یقینا الله تعالی لری کوی (دفع کوی) د هغو چه

آمَنُوا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ

ایمان ئی راوړی دی (غوره ئی کړی). یقینا الله تعالی نه خوښوی هر خیانت کوونکی

كَفُورٍ ﴿٣٨﴾ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ

ناشکره ته. اجازت ورکړی شو هغو ته چه جنګ ورسره کیږی په دې سبب چه دوی

ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

مظلوم شوی. او یقینا الله تعالی په مدد د دوی باندې خامخا قادر دی.

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ

دا هغه کسان دی چه ویستلی شوی دی د کورونو خپلو نه بغیر د

حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا

حق (جرم) نه، لاکن چه وائی دوی رب زمونږ الله تعالی دی. او که چرې نه وې

دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ

دفع کول د الله تعالی خلقو لره بعضو لره په بعضو سره

لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَ

خامخا نړولی شوی به وو خانقاوې او کلیساګانې او [illegible]

مَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ

جماتونه چه یادولی شی په هغوی کښې نوم د الله تعالی ډیر.

وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ

او خامخا امداد به کوی الله تعالی د هغه چا چه مدد کوی د دین د ده. یقینا الله تعالی

لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي

خامخا قوت والا زورور دی. دا هغه کسان دی چه که واک ورکړو مونږ دوی ته په

الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ

زمکه کښې، ودروی دوی مانځه لره او ورکوی زکوة لره

من (ابن کثیر) . فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا: پس کله چه وغورزیږی اړخونه د دوی په زمکه باندې (یعنی ساه ترینه ووځی) [illegible] وخت، د هغوی دی (زاد المسیر). الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ: او په دې دواړو کښې فرق دا دی چه هغه څوک او هغه مسکین [illegible] او تغیر او سوالګر او محتاجه هغه دی چه ورکړی شی [illegible]. وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ: او لاکن رسیږی هغه ته زړه او د ستاسو نه (اخلاص) ستاسو. (احسن)

پرهیزګاری ستاسو (فتح القدیر) [illegible]

(۱) إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ: د دې آیات نه تر ۴۸ پورې شپږ مضمونونه بیان دی. په دې کښې اول خبره دی: (۱) اعلان د قتال دی (۲) بشارت محمدی (۳) امور عظمت (۴) تخویف دنیوی کفارو ته سره د تسلی نه او د هلاک شوی قومونو نومونه اخلی (۵) صداقت د رسول علیه السلام (۶) بیان د عبادت د شیطان (۷) تخویف ورځ اود بشارت ده.

إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ: یقینا الله تعالی دفع کوی د مومنانو نه ضرر د دشمنانو د دوی (فتح) په دې کښې تسلی ده مومنانو ته یعنی کله دوی سفر کوی یا د جهاد کوی نو الله تعالی به د دوی د کور او د اهل وعیال حفاظت کوی او د دوی د نفسونو حفاظت به کوی. ځکه دوی د الله تعالی دوستان دی او د دوی دشمنان خوانه کفور دی. (احسن البیان)

أُذِنَ لِلَّذِينَ: حکم کیږی شو د جهاد (معارف) دلته سوال راځی چه ماذون فیه څه شی دی؟ جواب ئی دا دی چه قتال دی او دلیل په دې يُقَاتَلُونَ دی او حال په هم دلیل دی ورکوی. مسائل القرآن سعیدی

إِلَّا أَن يَقُولُوا: دا استثناء منقطع ده. لاکن چه وائی دوی رب زمونږ الله تعالی دے. او یا استثناء متصل ده: مګر چه وائی رب زمونږ الله تعالی دے او دا مدحه مشابه د ذم ده. لکه شاعر وائی. ولا عیب فیهم غیر ان سیوفهم ۞ بهن فلول من قراع الکتائب [illegible]

عبد ۵۳۳ : په دے ایت کښې علت د مشروعیت د جهاد دے. بقره ۲۵۱ وګورئ. صَوَامِعُ : عبادتځائے د
پیپانو (رهبانو) بِيَعٌ : عبادتځائے د نصاراو. صَلَوَاتٌ : عبادتځائے د یهودو. وګورئ مدارک ۳/۱۲۱ . وَلَيَنصُرَنَّ

وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَ
او امر کوی به نیکو باندے : او منعه کوی د بدو نه : او

لِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٤١﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ
خاص الله ته دی د ټولو کارونو انجام : او که چرته دروغژن ګڼی تا (اے محمده!) نو بیشکه

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾
یقینا دروغژن ګڼلی وو مخکښې د دوی نه : قوم د نوح ؑ او عادیانو او ثمودیانو :

وَقَوْمُ إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَابُ
او قوم د ابراهیم ؑ : او قوم د لوط ؑ : او اوسیدونکو

مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ
د مدین [illegible] او دروغژن ګڼلے شو موسی ؑ : پس مهلت مے ورکړو کافرانو ته،

ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن
بیا ونیول ما هغوی لره : پس څنګه وو عذاب زما؟ : پس ډیر

مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ
د کلو نه : هلاک کړی دی مونږ هغوی لره : او هغوی ظلم کونکی وو : پس هغه

خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَ
پریوتی دی [illegible] : او ډیر کوهیان شړ شوی دی : او

قَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ
ماڼئ [illegible] : آیا پس نه ګرځی دوی : په زمکه کښې :

فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ
پس چه شی : دوی لره زړونه : چه پوهیږی په هغو باندے : او یا غوږونه :

يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ
چه اوریدل کوی په هغو سره : پس یقینا قصه دا ده : نه ړندیږی سترګے (د دوی)

وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾
او لاکن ړندیږی : زړونه د دوی هغه چه په سینو کښې دی :

الله : دا اعلان د فتحے دے پس د جهاد نه. په (افضل التراجم ۲۹۸) کښې دی : دا اعلان فتحه دے چه خوک د الله دین امداد کوی نو الله تعالی د هغه سره هم امداد کوی. اَلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ : په دے ایت کښې امور مصلحه او صفات د مجاهدینو دی. ضحاک رحمه الله فرمائی چه دا شرط دے چه مقرر کړے الله تعالی په هغه باندے چه بادشاهی ورله ورکړی. (قرطبی ۱۲/۷۳) او په دے کښې دلیل دے په صحت د امیر د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم د غونډ (روح ۱۷/۱۶۳). د دے وجے نه علماء فرمائی چه دا ایت د دے دلیل دے چه خلفاء راشدین ټول د دے بشارت مصداق دی او کوم نظام د خلافت چه د هغوی په زمانه کښې قائم شوے وو هغه حق او صحیح او عین د الله تعالی د ارادے او د رضا او د دے ځکښې خبر مطابق وو. (معارف ۶/۲۷۱) ❊

وَإِن يُكَذِّبُوكَ : په دے ایت کښې تسلی ده نبی کرم صلی الله علیه وسلم ته او د حال ذکر شو قومونو شومو نه اخلی. سورة هود کښې د دے قومونو تکذیب ذکر شوے وو او د ابراهیم علیه السلام د قوم نه تکذیب په سورة انبیاء کښې ذکر شوے وو ۵۵ ❊

كَأَلْفِ سَنَةٍ ۴۷ : دا وعید دے دوی لره په اوږد والی

د عذاب د دوی باندے په اخرت کښې زر کاله (قرطبی ۱۲/۷۷). الم سجده ۵ کښې هم زر کاله دی او معارج ۴ کښې پنځوس زره کاله دی. انشاء الله تعالی د دے تطبیق به د الم سجده ۵ په تفسیر کښې راشی. وَمَا أَرْسَلْنَا
۵۲ : د دے ځائے نه عداوت د شیطان او د هغه منلو وجه ذکر کوی. دا ایت مشکل دے. وجه

دا دہ چہ دلتہ بعضے کتابونو کښں یوہ غلط قصہ نقل شوے دہ چہ یو ځل نبی علیہ السلام ؑ بیت اللہ شریف
پہ خوا کښں د سورۃ نجم تلاوت کولو اصلمانان او مشرکان موجود وو ، کلہ چہ نبی علیہ السلام ؑ ومنوۃ الثالثۃ
الاخری تہ اورسید نو شیطان ستاسو د هغوی پہ ژبہ مبارکہ دا کلمے جاری کړے: تلک الغرانیق العلی وان شفاعتھن لترتجی: او د وے نہ مشرکان خوشحالہ شو چہ زمونږ د معبودانو تعریف وکړہ ـ بیا جبرئیل علیہ السلام راغلو او نبی علیہ السلام تہ ئے اطلاع ورکړہ ـ دا قصہ بالکل غلطہ او د نبوت سرہ منافی دہ ـ ورکوی خصہ محمد [illegible] بحر عظ ، اسراء [illegible] یونس [illegible] ، فرقان [illegible] ، حاقہ [illegible] شعراء [illegible] ـ دا قصہ زندیقانو جوړہ کړے دہ ـ (کرمانی [illegible] پہ الہام الرحمن [illegible] کښں اکثر د کتنو مفسرینو حوالے ذکر کړی حلتہ ئے وکورئ ـ شیخ القرآن رحمہ اللہ بہ فرمائیل: دلتہ تفسیر کښں راوتنہ شوی ـ سورۃ نجم [illegible] دے او مکی دے او سورۃ حج [illegible] ادے او مدنی دے نو څنګہ د مرکوړ پس جواب راغے ـ الوسی رحمہ اللہ فرمائی: واستغفت قلبک ان کذبت ذلک بتجیم: چہ فتوی وغواړہ د زړہ خپل نہ کچرے نہ تہ د روح زړہ والا ـ (روح [illegible]) او کوم روایت چہ پکښں راغلے دے د هغہ بارہ کښں علامہ قرطبی فرمائی چہ هیچ ئے ترینہ صحیح نہ دے ـ (قرطبی) فائدہ: دلتہ تمنی پہ معنی د قرا او تلاوت دے او امنیتہ: تلاوت تہ دے ـ (غریب القرآن [illegible] مدارک [illegible] بیضاوی [illegible] ، قرطبی [illegible] ، ابوسعود [illegible]) مفسرینو د اشعر عثمان رضی اللہ عنہ پہ مرثیہ کښں پیش کړے دے:

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُّخْلِفَ
او جلدی کوی دوی ستا نہ: پہ غوښتو د عذاب: او هیچرے خلاف نہ کوی:
اللّٰهُ وَعْدَهٗ ۭ وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ
اللہ د وعدے خپلے نہ: او یقینا یوہ ورځ پہ نزد د رب ستا پشان د زرو
سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝۴۷ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ
کالو دہ: د هغے نہ چہ تاسو ئے شمار کوئ: او ډیر د کلو نہ:
اَمْلَيْتُ لَهَا وَهِىَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ اَخَذْتُهَا ۚ وَ
مہلت ورکړے ما هغوی تہ او هغوی ظلم کونکی وو: بیا ونیول ما هغوی لرہ: او
اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ۝۴۸ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَآ اَنَا
خاص ما طرف تہ واپسی دہ: ووایہ: اسے خلقو! یقینا ځم:
لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۴۹ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
تاسو لرہ ویروونکے ښکارہ ویم: پس هغہ کسان چہ ایمان ئے راوړے: او عملونہ ئے کړی
الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝۵۰
د نیکو: دوی لرہ بخښنہ: او رزق عزتمند دے:
وَالَّذِيْنَ سَعَوْا فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ
او هغہ کسان چہ کوشش کوی پہ ایتونو زمونږ کښں عاجزہ کونکی اللہ تہ پہ خیال خپل کښں:
اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝۵۱ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ
خاوندان: د دوزخ دی: او نہ دی رالیږلی موږ: مخکښں ستا نہ:
مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى
هیڅ رسول او نہ نبی: مگر هر کلہ چہ هغہ لوستل کول: غورځول بہ
الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا
شیطان: او سکے د هغہ پہ زړہ [illegible] لوستلو کښں: پس زائلہ کړے اللہ هغہ وسوسے
يُلْقِي الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۭ وَاللّٰهُ
چہ غورځولے وے شیطان: بیا محکم وساتل اللہ تعالی: ایتونہ خپل: او اللہ

دے: تمنی کتاب اللہ اول لیلۃ: تمنی داؤد الزبور علی رسل: او دا شعر د حسان رضی اللہ عنہ دے:
تمنی کتاب اللہ اول لیلۃ ❊ واخرہ لاقی حمام المقادر: شیخ القرآن رحمہ اللہ بہ فرمائیل چہ صحیح
معنی د ایت کریمہ دا دہ: چہ نہ دے لیږلے مونږ هیڅ رسول او نبی مگر کلہ ئے چہ قرات او تلاوت سرہ

سره اوریان کړل نو غور ږدونکي به شیطان غلطي او وسوسې په زړونو کې د اورېدونکو غلط فهمي کښي، پس
لرې به کړي ارادته به کړي الله تعالی حضور وسوسې چه غوږونو ته به شیطان، بیا به یې محکم کړي،

عَلِيمٌ حَكِيمٌ (۵۲) لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ
پوهه حکمت والا دی، د دې لپاره چه وګرځوي هغه څه چه غورځوي شیطان:
فِتْنَةً لِلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَ
امتحان: د هغه کسانو دپاره چه په زړونو د هغوی کښي مرض دی: او
الْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَفِي
هغه چا لره چه سخت دي زړونه د هغوی: او یقیناً ظالمان: خامخا په
شِقَاقٍ بَعِيدٍ (۵۳) وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا
مخالفت لرې کښي دي: او د دې دپاره چه یقین وکړي هغه کسان چه ورکړے شوے
الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ
علم: چه یقیناً دا حق دے د رب ستا نه: پس ایمان راوړي په دے:
فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ
پس نرم شي: دے ته زړونه د دوی: او یقیناً الله تعالی: خامخا لارښوونکي
الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (۵۴) وَلَا
هغه کسانو لره چه ایمان یې راوړے: لارے نیغې (برابرے) ته: او همیشه
يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِنْهُ
به وي: هغه کسان چه کفر یې کړے دے: په شک کښین: د دے نه،
حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ
تر دې چه راشي دوی ته: قیامت: ناڅاپه: او یا راشي دوی ته:
عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ (۵۵) الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ
عذاب: د ورځې شنډې: باچاهي: په دغه ورځ صرف الله لره ده:
يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۚ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
فیصله کوي: په مینځ د دوی کښې: پس هغه کسان چه ایمان یې راوړے: او عملونه کوي:
الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ (۵۶) وَالَّذِينَ
نېک: په باغونو د نعمتونو کښې به وي: او هغه کسان چه

سره الله

کلك کړه آیتونه منبل ؛
لِيَجْعَلَ متع ۵ (حاشیه د دے
کلمې) د دے خاصه نه د دریو
ولوبیان دے. ځکه چه سورة
بقره مثلا آیت نه ملکښ د دریو
ولوبیان دے. د ینتروي شیخو
رحمهم الله فرمائي چه لِيَجْعَلَ، د
اَلْقَى سره متعلق دے یعنې
شیطاني وسوسے د منافقینو
او مشرکانو د پاره د زیاتې
ګمراهئ باعث جوړیږي او د
اَلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ
نه منافقان مراد دي او د
اَلْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ نه مشرکان
مراد دي. او لِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ
اُوْتُوا الْعِلْمَ د فَيَنْسَخُ اللّٰهُ
سره متعلق دے. (جواهر مکۂ)
اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ، حکومت
په دغه ورځ صرف د الله لره دے.
قاضي ابو سعود رحمه الله فرمائي،
چه یک یوالے الله تعالی له حکومت
دے، شریك ورسره بالکل
نشته (بیان) د کورئ متع فاتحه
مثلا مومن، ملا انفطار. په
راتلونکو آیتونو کښې بشارت
او تخویف دے ؛ وَالَّذِيْنَ
هَاجَرُوْا متع ۵ (حاشیه د
راتلونکي مخ متع ۵۴۵) د دے
علمے نه تر آخره پورے پنځم
باب دے. په دیکښې پنځه
خبرے دي: (۱) ترغیب هجرت
او جهاد ته متع ۵ متع (۲) غلو دے
عقلي دلائل متع متع متع متع
(۳) زجر مشرکانو ته متع
(۴) مثال د شرك متع ۵. (۵)
او آخر کښې ترغیب جهاد ته دے.

لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ: خامخا یقیناً روزي به ورکړي دوی ته الله تعالی روزي ښه. نحل عکک
هم وګورئ ؛ ذٰلِكَ متع: دا زیرے پردے وجه دے. دے آیت کریمه کښې بشارت د نوي

دے پس د بشارتِ اُخروی نه. ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ ۲۲: دا اولنئ علت دے د پاره د نصرت د
مہاجرینو چه هر کله الله تعالیٰ په انقلاب د ورځے او شپے قادر دے نو په نصرت کولو هم قادر
دے شو.

كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ
کفر ئے کړے وو او دروغ ئے ګڼل آیتونه زمونږه پس دغه کسان دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ
شرمونکے دے. او هغه کسان چه هجرت ئے کړے: په لاره د الله

اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ
کښې بیا قتل کړے شو او یا مړه شول خامخا رزق به ورکړی دوی ته الله تعالیٰ

رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٥٨﴾
رزق ښه ښائسته او یقیناً الله تعالیٰ خامخا غوره روزی ورکونکے دے

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ
خامخا یقیناً داخل به کړی دوی لره ځائے د داخلیدو چه دوی به خوشحاله وی په هغه: او یقیناً الله

لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿٥٩﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ
خامخا پوهه: صابر دے. حکم دا دے: او چا چه بدله واخسته په شان د

مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ
هغه چه عذاب ورکړے شو ده ته بیا ظلم وکړے شو په ده باندے خامخا یقیناً مدد به کوی

اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿٦٠﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ
الله تعالیٰ. یقیناً الله تعالیٰ خامخا معاف کونکے بخښونکے دے. دا په دې وجه چه یقیناً الله تعالیٰ

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي
ننه باسی شپه په ورځ کښې: او ننه باسی ورځ: په

الَّيْلِ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ
شپه کښې: او یقیناً الله تعالیٰ: اوریدونکے لیدونکے (د هر څه) دے: دا په دې

بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ
وجه چه یقیناً الله تعالیٰ: هغه حق دے: او یقیناً هغه چه بلی ئے دوی:

مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ
سوا د هغه نه: دا باطل دی: او یقیناً الله تعالیٰ: هغه

ذٰلِكَ ۲۲: حاشیه د
باتشلو کی مخ ۳۵۳ دی. دا دویم
علت دے د پاره د نصرت
چه الله تعالیٰ مددګار حق دے
او نور الٰهه باطل دی. الله تعالیٰ
مدد کونکے شی نور ئے نشی کولے.
اَلَمْ تَرَ: دا دلائل عقلیه دی
په توحید د باری تعالیٰ
باندے او په رد د شرک باندے.

وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ
تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ ۲۵:
او حصار وی آسمان لره د
راغورزیدلو نه په
زمکه باندے. دلته اَنْ
مصدریه دے. مضارع
ته مصدر رجوع وی نو
ځکه ئے د راغورزیدلو
معنیٰ وشوه. دا د نحوے
عامه قاعده ده: د دے دلائلو
عقلیو نور تائیدات په ۲۲
بقره ۱۶۴ آل عمران، ۱۹۰ بقره
۶۵ روم وغیره کښې وګوری.

لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا: دا
مضمون ۳۴ کښې تیر شو. هلته
نسک او منسک د قربانئ
په معنیٰ راغلے دو په ضمن د
احکامو د حج کښې او دلته د
وجه نه ئے په واو سره وَلِكُلِّ اُمَّةٍ فرمائیلی وو. دلته د منسک بلد معنیٰ او مفهوم مراد دے
او دا یو مستقل حکم دے. د دے وجے نه د عطف بیان ونشو. (معارف ۲۸۲/۶) شاه ولی الله رحمه الله

فرمائی: د هر امت د پاره مُعیَّن کړے دے مونږ شریعت چه دوی عمل کوونکی دی په هغه (فتح ۳۰۹) فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ: پس مناسب دی چه جګړه ونه کړی تا سره او بلنه کوه طرف د پروردګار خپل ته. اقرب،، (فتح ۳۰۹). وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۱۶۰ او بلنه کوه توحید د رب خپل ته او دین د هغه ته او ایمان راوړلو ته په هغه باندی. (قرطبی ۹۳/۱۲)

الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ۞ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ
اوچت دے، لوئی دے. ایا نه ګوری ته چه یقیناً الله تعالی را ښکته کړی دی

السَّمَاءِ مَاءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً
اسمان (وریځ) نه اوبه: پس شی زمکه: شنه

إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ۞ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ
یقیناً الله تعالی مهربان: خبردار دے: خاص هغه لره هر هغه څه دی چه په اسمانونو

وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ
او هغه چه په زمکه کښی دی، او یقیناً الله تعالی، خاص هغه، غنی (بے حاجته)

ع ۱۵

الْحَمِيدُ ۞ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا
ستائلے شوے: ایا نه ګورے ته چه یقیناً الله تابع کړی دی تاسو لره هغه څه چه

فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ
په زمکه کښی دی: او کشتئ: چلیږی: په دریاب کښی:

بِأَمْرِهِ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَن تَقَعَ عَلَى
په حکم د هغه، او حصار کوی اسمان لره، چه راپرپوځی: په

الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ
زمکه باندی، مګر په اذن د هغه: یقیناً الله تعالی په خلقو باندی

لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۞ وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ
خامخا نرمی کوونکے مهربان دے: او الله هغه ذات دے چه ژوندی کړی یئ تاسو لره

ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ الْإِنسَانَ
بیا به مړ کوی تاسو لره، بیا به ژوندی کوی تاسو لره: یقیناً انسان:

لَكَفُورٌ ۞ لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ
خامخا ناشکره دے: د هر امت د پاره ګرځولے مونږ (طریقه) د بندګئ: چه دوی

نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ ۚ وَادْعُ
چلیدونکی دی په هغه: پس مناسب دی چه جګړه ونه کړی تا سره: په دی کار کښی: او دعوت

منزل ۴

وَإِن جَادَلُوكَ ۱۶۸ (حاشیه د راتلونکی مخ صفحه ۵۵): یعنی که د دعوت حقه نه پس هم دوی جګړه کوی نو د الله تعالی علم ته ئے پریږده ځکه دوی عنادیان دی. په ۱۶۹ کښی مناد یانو ته جواب دے. په ده کښی دلیل عقلی دے چه الله تعالی ته په هر څه پوهیږی نو ستاسو د اختلاف فیصله کوونکے دے. وَيَعْبُدُونَ ۷۱: په دیکښی زجر دے په شرک فی العبادت باندی. تائید کښی سورة یوسف ۴۰، انعام ۵۱، آل عمران ۱۵۱، نجم ۲۳ وګورئ چه د مشرکانو سره هیڅ دلیل په شرک باندی نشته. وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ ۷۲: او کله چه لوستلے شی په دوی باندی ایتونه زمونږ ښکاره (واضح) پیژنے به ته په مخونو د هغه کسانو کښی چه کافران دی (بدی) ترش والے نااشنا والے، خفګان. جناب تهانوی رحمه الله فرمائی چه په دیکښی اشاره ده ذم د شیخانو هغه کسانو ته چه کله واوری هغه ایتونه چه رد کوونکی دی په دوی باندے ښکاره کیږی په دوی باندی خفګان او بدې والے، او دوی زمونږ ه په زمانه کښی ډیر

دی. پس إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ د: (مسائل السلوک ص۲۳۲ بیان القرآن) :- قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ
مِّن ذَٰلِكُمُ: (حاشیه د راتلونکي صفحه ۵۵): او وایه آیا خبر درکړم تاسو ته په ډیر ناکاره د دغه

إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾
په طرف د رب خپل: یقینا ته خامخا په هدایت سیده برابر یې :
وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾
او که چرته جګړه کوي تا سره: پس ووایه الله ته ښه عالم دے په هغه کارونو چه تاسو کوئ
اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ
الله به فیصله وکړي په مینځ ستاسو کښې په ورځ د قیامت کښې په هغه شي کښې چه تاسو
فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ
په هغه کښې اختلاف کوئ: آیا نه پوهیږې ته: چه یقینا الله ته پوهیږي:
مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي
په هغه شیانو چه اسمان کښې دي او زمکه کښې دي: یقینا دغه په لوح د کتاب
كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾
لوح محفوظ کښې دي: یقینا دغه په الله تعالی باندې اسان دي :
وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ
او عبادت کوي دوی سوا د الله نه د هغه چا چه نه دے رالیږلے الله
بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا
په هغه باندې هیڅ دلیل: او د هغه چه نشته دوی لره په هغه هیڅ پوهه: او نشته
لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ
د ظالمانو دپاره: هیڅ مددګار: او کله چه لوستے شي په دوی باندې
آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ
آیتونه زموږ واضح: پیژنې به ته په مخونو د هغه کسانو کښې: چه
كَفَرُوا الْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ
کفر ئے کړے: ناآشنا والے نخکان: نزدې دے دوی به حمله وکړي
بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ
په هغه کسانو باندې چه لولي په دوی باندې آیتونه زموږ: ووایه

بِشَرٍّ

النَّارُ: تفسیر مدارک ص۱۱۱ کښې دي چه دا خبر د مبتدا محذوف دے: یعني هغه اور دے. شیخ القرآن رحمه الله په کنړي صفحه کولے، لک النار تا لره اور دے. فیک النار په تا کښې اور دے. منک النار ستا نه اور دے، د خطاب او ورا خیږي. یا ایها الناس: په دے آیت کریمه کښې تو عجیبه مثال دے د مشرکانو تبرونو د پاره. سید آلوسي رحمه الله په دے ځائے باندې اوږد ولیک کړے د هغه عبارت احقر په الهام الرحمن ص۳۰۱ کښې نقل کړے دے او حضرت تهانوي رحمه الله مسائل السلوک ص۲۳۲ او سهسواني رحمه الله صیانة الانسان ص۱۹۲ کښې نقل کړے دے. او د پنج پیري شیخ رحمه الله جواهر ص۲۳ کښې هم نقل کړے دے. د هغو کتابونو ته رجوع وکړئ. هغوی فرمائي چه په دے کښې اشاره ده د ذم د هغه جماعت چه غلو زیاتے کوي په باره د اولیاء د الله کښې لکه چه فریاد ورته کوي په تکلیفونو کښې: غفلت کوونکي دي د الله تعالی نه او نذرونه مني د هغوی د پاره الخ (روح المعاني ۱۷/۱۲۸). حاصل د مثال دا شو چه یو مچ هم نشي پیدا کولے مرچه ورته ټول راجمع شي: او دا خو لا پریږده چه مچ ترینه څه خوراکي شیزونه وتختوي نو نشي ترینه خلاصولے. کمزوره دے طلب کوونکے عبادت کوونکے د غیر الله او طلب کړے شوے یعني معبود د دوی. فائده:- د مجرور تخصیص نه شکه وکړه چه دا ناقص الخلقه دے. ملا عبد المؤمن رحمه الله

په اَلنّار باندې بَس دَ مَنجور معنٰی کړے دے۔ واقدي: الْمَنجور مکس بے حیا: چه منجور بے حیا مچ دے۔ شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه مچ ناقص پیدا کړے والا دے، بانه ئے نشته، خټ ئے نرے دے۔

أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ النَّارُ

آیا خبر درکړم تاسو ته په بدتره ددې نه: اور دے

وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ

وعده کړے ده الله تعالٰی دهغه کسانو سره چه کفر ئے کړے دے: او بد ځائے

الْمَصِيرُ ۝٧٢ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ

د واپسی دے۔ اے خلقو! بیان کړے شی یو مثال:

فَاسْتَمِعُوا لَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ

پس غوږ کیدئ هغه ته: یقینًا هغه کسان چه تاسو ئے بلئ:

مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ

سوا د الله تعالٰی نه، هیچرے نشی پیدا کولے دوی یو مچ لره: او اګرکه

اجْتَمَعُوا لَهُ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ

راجمع شی دوی هغه ته: او که چرے او تختوی د دوی نه: مچ

شَيْئًا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ

لږ شی لره: نشی خلاصولے دوی هغه لره د هغه نه: کمزورے دے

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ۝٧٣ مَا قَدَرُوا اللَّهَ

طلب کوونکے: او طلب کړے شوے: قدر او نکړو دوی: د الله تعالٰی

حَقَّ قَدْرِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٧٤

پوره قدر د هغه سره: یقینًا الله تعالٰی خامخا قوت والا زورَاور دے:

اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَ

الله تعالٰی غوره کوی: د ملائکو نه: استازی: او

مِنَ النَّاسِ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ۝٧٥

د خلقو نه. یقینًا الله تعالٰی اوریدونکے لیدونکے (د هر څه) دے

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ

پوهیږی په هغه څه چه مخکښې د دوی نه دی: او په هغه څه چه روستو د دوی نه دی:

منزل ۴

حریص دے۔ مچ و ختی یاغی او خپه وهی، په هر څه کینی، پاک او ناپاک نه ګوری؛ منجوران هم شوک ئے بی وی، خولګ غوړی وی، شولګ ئے کالی وی او شوک شلی وی، مچ وختی چارو وهی، د زیارت نه غلا کوی، حرام او حلال

نه ګوری۔ مَا قَدَرُوا اللَّهَ: تعظیم ونکړو دوی د الله تعالٰی پوره تعظیم (فتح الرحمٰن ص ۳۰۷) دلیل رد دے مشرکانو له چه دوی د الله تعالٰی قدر او نکړو چه د کمزوری مخلوق نه حاجت غواړی۔ انعام ۹۱ ګورئ او ۶۷ زمر هم ګورئ۔ اَللّٰهُ يَصْطَفِي: الله تعالٰی غوره کوی د ملائکو نه استازی او د خلقو نه۔ مطلب دا چه اختیار ئے چا الله تعالٰی دے ورکړے او رسالت ورکوی۔ ۱ فاطر هم ګورئ۔ وَإِلَى اللَّهِ: او خاص الله تعالٰی ته واپس کیږی ټول فیصلے۔ ۲۱۰ بقره ګورئ۔ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ: د مشرکانو د حال بیانولو نه بعد د مؤمنانو سره خطاب دے په کارونو د فلاح د نصرت بانو۔ نهه اوامر دی دوی ته (۱) رکوع (۲) سجده (۳) عبادت (۴) فعل د خیر (۵) جهاد (۶) تابعداری د ملت ابراهیمی (۷) مونځ (۸)

زکوٰة (۹) اعتصام بالله باندې۔ وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ: قاضی ابوسعود رحمه الله فرمائی: جهاد وکړئ په دین د الله تعالٰی کښې داسے جهاد چه په هغه کښې حق خالص وی د الله تعالٰی د پاره (ص ۱۲۳)۔ اندلسی رحمه الله فرمائی چه دا شامل دے جهاد لره د کفارو او باغیانو سره (بحر ص ۶۰) قاسمی رحمه الله فرمائی چه

عام وے په جهاد د کفارو او ظالمانو او د نفس کښې بېشکه تهانوی رحمه الله فرمائي چه شامل دے
تولو انواعو د مجاهدے لره او په دغه کښې جهاد د نفس هم وے . (مسائل السلوک ص۳۲۴) ـ

وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٧٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ
او خاص الله ته . واپس کېږي ټول کارونه : اے هغه کسانو چه
آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا
ایمان راوړے دے : رکوع کوئ ، او سجدے کوئ ، او بندګي کوئ د
رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٧٧﴾
رب خپل : او کوئ کارونه د خیر : د پاره د دے چه تاسو کامیابه شئ :
وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ
او جهاد کوئ په لاره د الله کښې : پوره جهاد د هغه : هغه
اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ
غوره کړي يئ تاسو لره : او نه دے ګرځولے په تاسو باندې ، په دین کښې :
مِنْ حَرَجٍ ۚ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ
هیڅ تنګسيا : تابع شئ د دین د پلار خپل : چه ابراهيم عليه السلام دے
هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ ۙ مِنْ
الله خو نوم ایښودلے تاسو لره : د مسلمانانو ، مخکښې د دے
قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ
قرآن نه : او په دے قرآن کښې چه شي : رسول عليه السلام
شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى
ګواهي ورکونکے په تاسو باندې : او شئ تاسو : ګواهي ورکونکي : په
النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ
خلقو باندې : پس ودروئ مانځه لره : او ورکوئ زکوٰة لره :
وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ
او منګولے ولګوئ په دین د الله کښې : الله مالک (مدد ګار) ستاسو دے : پس ښه
الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾
مالک دے هغه : او ښه امداد کوونکے دے هغه ؛

مِلَّةَ أَبِيكُمْ: تابع شئ د دین د پلار خپل چه ابراهيم عليه السلام دے . (مدارک ص۱۱۲) . هُوَ سَمَّاكُمْ: الله تعالی نوم ایښے تاسو لره د مسلمانانو مخکښې د دے نه په زړو کتابونو کښې او په دے قرآن کښې . (مدارک ص۱۱۳) . لِيَكُونَ الرَّسُولُ: چه شي رسول عليه السلام په تاسو ګواه چه تاسو ته دے رسولے دے پیغام د رب خپل او تاسے ګواهان شئ په تبلیغ د رسولانو باندې پیغامونو د الله تعالی لره خلقو ته او کله چه خاص کړي په دے کرامت او غوره والي بانديا فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ الخ : (مدارک ۳/۱۱۲) ؛

امتیازات :- (۱) احکام د حج ص۵۲ (۲) خاص مثال د مشرکانو ص۷۲ (۳) عداوت د شیطان او وسوسے د هغه ص۵۵ (۴) اعلان د فرضیت د قتال ص۵۹ (۵) ذکر د لوئے زلزلے ص۱ ؛ ؛ ؛

(الحمد لله نن په شپه د یکشنبې (اتوار) ۱۰ ذوالحجه ۱۴۲۷ھ ۸/۵۰ بجے ـ د سورة الحج تفسیر ختم شو په داسے وخت کښې چه په منی کښې د حاجیانو صاحبانو ګنړه ده او دوی نن د حج زیات اعمال وکړو او پرون بروز جمعه ئے وقوف عرفات وکړو ، الله پاک دے ورله قبول کړي . تفسیر د سورة حج مے دلته توحید اباد کښې ولیکلو او زړه مے په مقاماتو مقدسو کښې ګرزي ـ یا الله تعالی ! بار بار مے حرمینو شریفینو ته بیا بیا بوزه . الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات . (اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالديهما ولمن سعى فيه ـ آمین)

سورة مؤمنون: ۲۳ دے په ترتیب کښې پس د سورة حج نه او ۷۴ دے په نزول کښې پس د سورة انبیاء نه. وجه د تسمیې: په اولنۍ ایت کښې دوه چه لفظ المؤمنون پکښې راغلے دے. دعوٰے: نفي د شرك في البركات ده. او تفصیل د توحید په ... . ربطونه: (۱) مخکښې زد د شرك فعلي وشو، قد افلح (۱)

سورة المؤمنون مكية بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۱۱۸ آياتها ركوعاتها ۶

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ① الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ
يقيناً كامياب دي مؤمنان: هغه كسان چه دوى په
صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ② وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ
مونځونو خپلو كښې عاجزي كوونكي دي. او هغه كسان چه دوى د بېځايه
اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ③ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ
خبرو نه مخ اړوونكي دي. او هغه كسان چه دوى زكوٰة لره وركوونكي دي.
وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ⑤ اِلَّا عَلٰى
او هغه كسان چه دوى د عورتونو خپلو حفاظت كوونكي دي. مگر د ښځو
اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ
خپلو نه، او د هغه وينځو چه مالكان دي ښي لاسونه د دوى، پس يقيناً دوى نه دي
مَلُوْمِيْنَ ⑥ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ
ملامت كړے شوي. پس هر چا چه ولټول علاوه د دې نه، پس هغه كسان
هُمُ الْعٰدُوْنَ ⑦ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ
دوى تيرې كوونكي دي. او هغه كسان چه دوى د امانتونو خپلو او د لوظونو خپلو
رٰعُوْنَ ⑧ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ
لحاظ كوونكي دي. او هغه كسان چه دوى په مونځونو خپلو باندې
يُحَافِظُوْنَ ⑨ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ⑩ الَّذِيْنَ
ساتنه كوي. دغه كسان دوى ميراث اخستونكي دي. هغه كسان چه
يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ⑪ وَ
ميراث كښې به واخلي جنت فردوس، دوى به په هغې كښې هميشه اوسېدونكي وي. او
لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ⑫
يقيناً پيدا كړے دے مونږ انسان د خلاصې (راټولې) د خټې نه.

نو دلته زد د شرك اعتقادي كوي. (۲) هلته ئې زلزله ذكر كړه نو دلته هغه اعمال ذكر كوي چه نجات پرې د عذاب نه راځي. (۳) هلته زد د شرك فعلي وشو نو دلته د هغه د صحداو ترديد كوي چه شرك في البركات ده. (۴) مخكښې كښې اوصاف د مشركانو ذكر شو نو دلته اوصاف د مؤمنانو ذكر كوي. (۵) مخكښې كښې تحلي ذكر شوه: نو دلته تحلي په ښو صفاتو ذكر كوي. خلاصه: په دے سورة كښې شپږ بابونه دي: اول ترمه ۱۱ پورے، دويم ترمه ۲۲ پورے، دريم ترمه ۵۰ پورے، څلورم تر ۷۷ پورے، پنځم تر اخره پورے دے. په اول باب كښې اوه صفات دي د مؤمنانو او هغوى لره بشارت په اول او اخر دا كښې. قَدْ اَفْلَحَ: فلاح كاميابي ده په مقصود باندې او خلاص د مكروه او د مرهوب نه يعني كامياب شو په هغو باتونو چه دوى ئې غوښتل او خلاص شو د هغو نه چه دوى ترينه تختېدو او ويريدل (ابو السعود ۴۳۸ ص ۲۰). يعني هغه مؤمنان چه موصوف وي په دې صفاتو باندې (ابن كثير). خٰشِعُوْنَ: د خشوع محل زړه دے. كه چه زړه عاجزه شي نو ټول اندامونه عاجزه شي د وجه د خشوع د دغه نه كه چه دائے باچا دے. (قرطبي). عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ: چه د لغو بېفائده كارونو او خبرو نه مخ اړوي. كه شرك وي كه گناه وي. حسن بصري وائي مراد ترينه ټول گناهونه دي. وكورئ قرطبي. بې فائده اقوال او افعال. (ابن كثير ص ۳). لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ: اكثر مفسرين په دے دي چه مراد د زكوٰة نه زكوٰة د مال ده اگر چه دا سورت مكي دے او دا احتمال هم لري چه مراد ترينه پاكولے د نفس ده.

د شرك او د خيرو نه او دا احتمال هم لرى چه دواړه ترينه مراد شى پاكوالے د نفسونو او زكوٰة د مال
كړه واهه دې كوالى د نفس، نو دى او مومن كامل حقه وه چه دا هم كوى او وا هم . د كورى تفسير ابن كثير

ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِىْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ
بيا موږ گرځولو دا (انسان) نطفه په ځائے د قرارى مضبوط كښې : بيا
خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ
پيدا كړه موږ دا نطفه لړه د وينه (غوښه) پس پيدا كړه موږ هغه وينه
مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا
په ټوټه د غوښې پس جوړ كړه موږ دا ټوټه هډوكى پس اغوستل موږ
الْعِظٰمَ لَحْمًا ۗ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ۗ فَتَبٰرَكَ
هډوكو ته غوښه بيا پيدا كړو موږ هغه بل پيدائښت پس برکت والا دے
اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴿١٤﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ
الله چه ښائسته دے د ټولو جوړونكو : بيا يقيناً تاسو : پس د دے
ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
نه خامخا مړه كيدونكى يئ ، بيا يقيناً تاسو به په ورځ د قيامت : دوباره
تُبْعَثُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ
راژوندى كړے شئ . او يقيناً پيدا كړى موږ ستاسو د پاسه اووه
طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿١٧﴾ وَ
لارے (آسمانونه) او نه يو موږ د مخلوق نه ناخبره : او
اَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى
رالېږلو موږ د آسمان نه اوبه په اندازے سره پس ځائے كړې هغه په
الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿١٨﴾
ځمكه كښې ، او يقيناً موږ په بوتلو (ختمولو) د دے باندے خامخا قادر يو :
فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ
پس پيدا كړل موږ تاسو له په هغے سره باغونه د كجورو نه : او د
اَعْنَابٍ ۘ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا
انګورو نه : تاسو لره په هغے كښې ميوے ډيرے دى ، او د هغے نه

منزل ۴

ربع

شح ۱۳: تا نجيد ونه عت انعامر ئ
د شمس : شرح حلت حجه
وراء ذلك : يعنى پس له دے نه
د وى كامل وى په تيرى كولو كښې
او په د يكښ دليل دے په حرامى د
نكاح متعه او نغم اختش په ورکوی
د يارلارادے د شهوت . بدرک
منيا) په د يكښ زنا هم دا غله
دا او کوه پخه چه په د شرعا
حرامه دا د ځنځ سره نيكاح هم په
حکم د زنا کښې دا او د ښځے ځى
يا د ښځے سره په حالت د حيض او
نفاس كښې په غير فطرتى طور باندې
جماع كول هم په د يكښ داخل دى
يعنى كرم سرى په خلك سره يا كرم
ځنا روى سره شهوت پوره كول هم
(معارف القرآن) يحفظون د جناب
مفتى صاحب رحمة الله فرمائى چه دا
خبره قابل د نظر ده چه د اولا
صفتونو شروع په صلوٰة نه شوه نه
وكړه او ختموله په هم په صلوٰة
وكړه ۲۴ په د يكښ اشاره ده چه
مونځ د ماڅه په طريقه سره پابندى
او ادا يو سره او اكر ته شى نو ټولى
او صاف په د يكښ پخپله پيدا كيږى
او خپلېږى (معارف القرآن) هم
الوارثون ۵ : بيان د فلاح د هغوى
او مراد د وراثت نه استحقاق د
لك وارث حقدار د ميراث وى
نو دا رنګ دوى حقدار د جنت دى
(احسن البيان) په لفظ د وارث كښې
اشاره ده دے طرف ته لكه څنګه
د مورث (مرى) مال د وارث
ته رسيدل قطعى او لازمى دى ،
دغه رنګ د دے او صافو والو جنت
كښې داخله لازمى ده (احسن البيان)

د ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه نشته ستاسو نه يو كس مگر حقه لره
دوه منزله دى يو منزل په جنت كښې او بل منزل په اور كښې . كله چه مړشى او اور ته ورنوزى نو
ميراث كښې واخلى جنت والا منزل د هغه پس دغه دا قول د الله تعالىٰ اولٰئك هم الوارثون دغه

صه (ابن کثیر ۲۳) (ابن جریر) (در منثور) (فتح القدیر) وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ ۱۲ د دې ځای نه تر ۲۲ پورې
دوهم باب دے او په دې کښې شپږ دلائل عقلیه دي د وړاندې ذکر شوي دعوې او په مکه کښې دعوې د توحید او د صفاتو
قد افلح ...

تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاءَ
خوراک کوئ. او پیدا کړه مونږ ونه چه راوزي د غره سیناء نه،
تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِنَّ
راټوکوی تیل لرونکی او ښکروي ډوډۍ د خوراک کوونکو: او یقیناً
لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي
تاسو لره په څارویو کښې خامخا عبرت دے، څښوو مونږ تاسو ته هغه څه چه په
بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا
ګیډو د هغوی کښې دي او تاسو لره په هغوی کښې نفعې ډیرې دي او د هغوی نه
تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾
خوراک کوئ. او په هغوی او په کشتو باندې سوره کړی شئ.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ
او یقیناً لیږلے وو مونږ نوح قوم د هغه ته، پس وویل هغه: اے قومه زما!
اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا
بندګي وکړئ د الله، نشته تاسو لره هیڅ معبود سوا د هغه نه، ایا پس نه
تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن
ویریږئ؟ تاسو پس ووئیل مشرانو هغه کسانو چه کفر کړے وو د
قَوْمِهِ مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ
قوم د هغه نه: نه دے دا مګر انسان دے ستاسو په شان، اراده لري
أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنزَلَ
چه غوره ولاړ او فضیلت لري په تاسو باندې، او که چرې غوښتلي الله خامخا رالیږلي به وو
مَلَائِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾
ملائک لره، نه دي اوریدلي مونږ دا خبره په پلارانو خپلو مخکنو کښې:
إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ
نه دے دا مګر سړے دے چه په هغه باندې لیونتوب دے پس انتظار کوئ په هغه باندې

ع ۱

د سورت د وو مسائلو، د خلاصه د خلقت نه (فتح ۲۱۰) ترجمه ختمه چه دا به موقف کښې وساتلے شي او زور وا اکرے ... او د دې ونو کښې ښتو زاوري نو هغوي نه شلولو والي. (احسن ...)
فائده ۵: د پیدا الائلو د انسان او د وو وړت (معارف ...) کښې ۳ دلائلو نه هم اوره انقلاب ذکر شوي دي: (حاشیه د تیسیر القرآن ۵۵۵):
بیا تنسه د هغو ژونکو صورت جوړولو اندازه د انکوڼه. (زاد المسیر ... ابن کثیر ...) لفظ ارنګوو: بیا تاسو خاندا و ... ګیډو، ونګی بیانی بیا تاسو به ورځی د قیامت به وو بیا راژوندي کولی شي. د قبر ژوند ... د دلائلو ثابت دے خو مستقل نه دے نو ځکه ئې ذکر نکړه. فکښې نوره کښې ۷ څیر شوی دو سبع طرائق، او وړه اسمانونه او اوو لارې. طرائق: اسمانونو ته ځکه ویلې شوي چه توپین د یو بل ... بعضو نه دی او یا ذرے وجې نه چه لارے د ملائکو دي. (قرطبي ...) عن الخلق ... پیه لرے ګوتو د دے (النجم ...) په ... د (احسن ...) په خښتو ... د (النمل ...) تکیمنا: سورة ملک ... حاشیه د دے طور، کلمو سینین ته ... د غره د سیناء نه. مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه سیناء او سینین د هغه مقام نوم دے په کوم کښې چه کوه طور واقع

دے. (معارف ...) او طور سیناء هر څه غرته ویلې کیږي چه په هغه کښې ډیرې ونې او بوټي او میوې وي او په هغه سره لا بنسته ښکاره کیږي. (احسن ...) وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا: د دې ځای نه تر ۵۱ پورې
دریم باب دے. په دې کښې شپږ دلائل نقلیه دي: (۱) د نوح [illegible] (۲) د هود [illegible] (۳) د موسی [illegible]

حتی (۳) هٔ روزن رهٔ (۵) عیسیٰ ۳ رکوع ۶ کښې اجمالي دلیل ۳۳: او نفي د شرک فی البرکات په طور
تفریع ۳۴. فائده:- هر کله چه الله سبحانه د کشتۍ ذکر وکړو نو روستو ئې پسې د نوح علیه السلام ذکر وکړو

حَتّٰى حِيْنٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا
ترخه وخته پورې ؛ وویل نوح ای ربه زما ؛ امداد وکړه زما ؛ په سبب د دې چه
كَذَّبُوْنِ ﴿٢٦﴾ فَاَوْحَيْنَاۤ اِلَيْهِ اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ
دروغجن ئې کړم ؛ پس وحې مو وکړه ده ته ؛ چه جوړه کړه ؛ کشتۍ لره ؛
بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ
په حفاظت د سترګو زمونږ ؛ او مطابق د وحې زمونږ ؛ پس کله چه راشي حکم زمونږ ؛ او جوش وکړي
التَّنُّوْرُ فَاسْلُكْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ
تنور ؛ پس ننباسه په دې کښې ؛ د هر قسم حیوان ؛ جوړې یعنې
اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ
دوه ؛ او اهل خپل ؛ مګر هغه چه مخکښې شوې په هغه باندې
الْقَوْلُ مِنْهُمْ وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ
وینا (فیصله) د هغوی نه ؛ او مه کوه خبرې ما سره ؛ په باره د هغه کسانو کښې چه
ظَلَمُوْا اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٧﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ
ظلم ئې کړے ؛ یقیناً هغوی به ډوبولی شي ؛ پس کله چه برابر شوې ته
اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ
ته ؛ او هغه څوک چه ملګري ستا وي ؛ په کشتۍ باندې ؛ پس ووایه چه
الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ
حمد ثنا دی الله هغه ذات لره چه خلاص ئې کړو مونږ ؛ د قوم
الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٨﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا
ظالمانو نه ؛ او ووایه ای ربه زما ؛ کوز کړې ما لره ځائ د کوزیدو
مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿٢٩﴾ اِنَّ فِيْ
مبارک نه ؛ او ته غوره د کوزوونکو نه ئې ؛ یقیناً په
ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ
دې کښې ؛ خامخا نښې دي ؛ او یقیناً مونږ خامخا امتحان کوونکي یو ؛ بیا

څنګ چه د اولنی هغه خوله وه
چه کشتۍ ئې جوړه کړې وه.
(شوکانی ۳۹۲) ما سَمِعْنَا بِهٰذَا :
نسبت د هغه فرمائي: مونږ نه دي
اوریدلي دا یعنې ـــ رَاَيْجُلُوْدَ
بشر لره نه کول او هغه توحید
چه وړاندې ئې مونږ ته امر کوي
(مدارک ۱۰۸). زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ
(حاشیه وده ۳۰) : د هر قسم
نه جوړه د دوه شیونه. یعنی
دوه فرده جوړه . اثنین
تفسیر دے په دې باندې چه د
زوجین نه دوه فرده مراد دي
د کورۍ ابوالسعود ۱۵۴. فَقُلِ
الْحَمْدُ (۱۵۵) : دا امر دے
په حمد ویلو باندې په
هلاکت د دوی او په
خلاصي سره د دوی نه.
(مدارک ص ۱۰۸ ج ۳).
قاضي بیضاوي رحمه الله
فرمائي چه دا پښتان د
۱۵۵ انعام باندې دے.
(مدارک) ⁂

فائده ۵ :- د نوح
علیه السلام تفصیلي واقعه
سورة هود کښې تیره شوې
ده. ⁂

أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿۳۱﴾

پیدا کړے مونږ ؛ پس د دوی نه ؛ پیړئ ؛ نور ے ؛

فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا

پس راولیږلو مونږ په دوی کښې ؛ استاذے د جنسه د دوی نه ؛ چه عبادت کوئ ؛

اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿۳۲﴾

د الله ؛ نشته تاسو لره لائق د عبادت بل دا هغه نه ؛ آیا پس تاسو نه ویریږئ ؛ شرک نه ؛

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَ

او ووئیل مشرانو ؛ د قوم د هغه نه ؛ هغه کسانو چه کفر ئے کړے و ؛ او

كَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ

دروغژن ئے ګڼلو پیښی د آخرت ؛ او عیش ورکړے و مونږ هغوی ته په ژوند

الدُّنْيَا مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يَأْكُلُ

دنیاوی کښې ؛ نه دے دا ؛ مګر انسان دے ؛ په شان ستاسو ؛ خوراک کوی

مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿۳۳﴾

د هغه چه تاسو خورئ د هغه نه ؛ او څکل کوی د هغه نه چه تاسو ترې څښکل کوئ ؛

وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ ﴿۳۴﴾

او که چرے تابعداری وکړه تاسو ؛ د یو انسان په مثل ستاسو ؛ یقیناً تاسو به دغه وخت کښې تاوانیان یئ

أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا

آیا وعده کوی تاسو سره چه یقیناً تاسو به کله مړه شئ ؛ او شئ خاوره ؛ او هډوکی ؛

أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ ﴿۳۵﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا

یقیناً تاسو به راایستلی شئ ؛ لرے ده ؛ لرے ده ؛ هغه چه

تُوعَدُونَ ﴿۳۶﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

تاسو سره ئے وعده کولے شی ؛ نه دے دا ؛ مګر ژوند زمونږ ؛ دنیاوی دے ؛

نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿۳۷﴾ إِنْ

مرو به ؛ او ژوندی کیږو به ؛ او نه یو مونږ دوباره ژوندی کړے شوی ؛ نه دے

فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ ۳۲ : اکثر مفسرین رحمهم الله فرمائی چه د قَرْنًا آخَرِينَ نه مراد قوم د هود علیه السلام او د رَسُولًا نه هود علیه السلام مراد دے - وګورئ تفسیر شوکانی ص ۳ ، زاد المسیر ص ۳ ، مدارک ص ۱۱۹ . هَيْهَاتَ ۳۶ ، لرے ده لرے ده هغه چه تاسو سره وعده کولے شی ؛ لام زائده دے او مَا تُوعَدُونَ فاعل د هَيْهَاتَ دے او هیهات اسم فعل په معنی د بَعُدَ دے . وګورئ مدارک ص ۱۱۹ - تنبیه اعتراض په نبی دا وو چه دا بشر دے او دے ایت کښې بل اعتراض دے په نبی باندې په باره د نبی مت کښې چه دا عقل نه لرے او خلاف خبره ده چه دائے موږد ته وائی او وعده ئے راکوی - اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ۳۷ ، مفتی صاحب رحمه الله ترجمه دا سے کوی چه پس ژوند خو دا زمونږ دنیاوی ژوند دے چه په مونږ کښې به څوک مری او څوک به پیدا کیږی .
(معارف ۶/۳۱۱)

فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً (اعلیٰ ۵): پس اوگرځول مونږ دوی لره خس او خاشاک. لغات: خس او خاشاک دی چه کیږی په ډاګ او بوږ باندې سره روان دی. (جواهر ۲۴۳) ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ (۲۴۲): بیا مو پیدا کړے پس ددوی نه پیړئ نورے. دا

هُوَ اِلَّا رَجُلُ ِۨافْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّ

دا مګر یو سړے چه تړلی دے په الله باندې دروغ او

مَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ

نه یو مونږ د ده لره ایمان راوړونکی: ووئیل هغه اے ربه زما! امداد وکړه زما

بِمَا كَذَّبُوْنِ ۝ قَالَ عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ

په سبب د هغه چه دروغژن کړے یم ما. ووئیل الله: روستو د لږ وخت نه خامخا شی به دوی

نٰدِمِيْنَ ۝ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ

پښیمانه: پس ونیول دوی لره چغې په رښتیا سره

فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝

پس وګرځول مونږ دوی لره خس او خاشاک: پس هلاکت دے دغه قوم لره چه ظالمان دی.

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ۝

بیا پیدا کړے مونږ روستو د هغوی نه پیړئ نورے.

مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ۝

نه مخکښی کیږی هیڅ امت د نېټې خپلې نه او نه روستو کولی شی.

ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا

بیا ولیږل مونږ استازی خپل پرله پسې هر کله چه راغے هر امت ته استازے د هغوی

كَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ

دروغژن به ئې ګڼړو هغه: پس پسې کړل مونږ بعضې د دوی بعضو پسې: او وګرځول مونږ هغوی لره

اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ ثُمَّ

قصې د عبرت: پس هلاکت دے هغه قوم لره چه ایمان نه راوړی. بیا

اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَ

ولیږلو مونږ موسی او ورور د هغه هارون په نښانو خپلو او

سُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

په دلیل ښکاره سره: فرعون ته او درباریانو د هغه ته

دلیل نقلی اجمالی دے. په دیکښی مراد هغه قومونه او رسولان دی چه د قوم عاد نه تر فرعون پورے په مینځنی زمانه کښی راغلی وو. (احسن ۱۷۴)

مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ (۲۴۳): دا مضمون سورة یونس ۴۹ او اعراف ۳۴ کښی تیر شوے وو.

ثُمَّ اَرْسَلْنَا (۲۴۴): بیا مو ولیږل رسولان خپل پرله پسې. لغات: تَتْرَا خبر ورنه چه اوریدلے شی او تعجب ترینه کولے شی (مدارک ۱۲۲) مراد ترینه واقعات د عبرت دی او دا لفظ اکثر په شر او عذاب کښی استعمالیږی (احسن ۱۷۴)

ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى (۲۴۵): دا دلیل نقلی دے د موسیٰ او هارون علیهما السلام او د هغوی د کتاب نه. د پنجپیر شیخ رحمه الله فرمائی چه حضرت موسیٰ علیه السلام په دلته دربار کښی فرعون او قوم د فرعون ته د توحید دعوت ورکړو لیکن هغوی د حکومت او دولت او اقتدار په نشه کښی مست شول (جواهر ۵۵۸)

وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ۝ (حاشیه د راتلونکی مخ ۴۶): او وو هغوی قوم لوی کونکی. قَصَص ۳۷ کوری.

وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ: او قوم د هغوی مونږ لره تابعدار دے (جواهر ۵۵۸) او قوم د هغوی مونږ لره خدمت کونکی دی (فتح ۱۴۳): او قوم د دوی زمونږ نوکران دی. (افضل ۵۳)

فائده: د موسیٰ علیه السلام تفصیلی واقعه سورة اعراف او سورة طٰه کښی ذکر شوے وه. فائده ۲: فرعون د بنی اسرائیلو نه خدمتګاران جوړ کړی وو لکه سورة شعراء کښی دی: اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ (۲۲) (احسن ۱۷۴) - وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ ۵۰: دا هم

دلیل نقلی دے دَ عیسیٰ علیه السلام او دَ مور دَ هغه نه چه دوی په برکا نو کښی الله تعالیٰ ته التجاء کړی وه (احسن الکلام ملخصًا) چه کله بادشاه تعالیٰ نه یې پسلا ... نو دَ ... پوره ... کولے شی (افضل الرحیم ملخصًا)

فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿۴۶﴾ فَقَالُوا
پس لوئی یې وکړه او وو دوی قوم تکبر کوونکی، پس وویل دوی
أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا
آیا ایمان راوړو دوه بنیادمو له چه مثل زمونږ دی او قوم دَ هغوی مونږ له
عَابِدُونَ ﴿۴۷﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿۴۸﴾
خدمتګار دی، پس دروغژن یې کړل هغوی، پس شول دَ هلاک کړی شوو نه
وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿۴۹﴾
او یقینًا ورکړے وو مونږ موسیٰ ته کتاب، دَ پاره دَ دے چه دوی هدایت بیاموی
وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا
او وګرځولو مونږ ځوئے دَ مریم او مور دَ هغه لره نخه، او ځائے ورکړو مونږ هغوی ته
إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿۵۰﴾ يَا أَيُّهَا
اوچت ځائے خاوند دَ قرارۍ او چینه دار، اے
الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا
پیغمبرانو! خورئ دَ پاکیزه وُنه او عمل کوئ
صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿۵۱﴾ وَإِنَّ
نیک، یقینًا زه په هغه عملونو چه تاسے کوئ، پوهه یم، او یقینًا
هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ
دا دین ستاسو دے دین یو، او زه رب ستاسو یم
فَاتَّقُونِ ﴿۵۲﴾ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ
پس ویریږئ زما نه، پس ټوټے ټوټے کړو دوی دین خپل په مینځ خپل کښی
زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿۵۳﴾
ټوټے ټوټے، هره ډله په هغه چه دوی سره دے خوشحالی کوونکے دی
فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿۵۴﴾
پس پریږده دوی لره په غفلت دَ دوی کښی تر یو وخت پورے

دَ رُبوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ ومَعِين: او ځائے دَ اوسیدو، او دَ دوی لره ځنګ او چینه څاوره قرارۍ او دَ اوبو جارۍ (روح ۴۳/۱۸) دَ ربوے په باره کښی مختلف اقوال دی، دَ بولو نه روایات صحیح قول دا دے چه دَ ربوے نه مراد دَ بیت المقدس زمکه ده چه هغه دَ نورو علاقو په نسبت اوچته هم ده او په هغے کښی دَ ویالے هم دی، دا قول دَ ابن عباسؓ، امام قتادهؒ او ضحاکؒ، دَ کعبؒ نه منقول دے (رحواهر ص۱۷۲) دَ کوری خازن ص۳۴۲، ابن کثیر ص۲۴۲، بحر ص۳۴۱ - فائده: او دَ دے سبب دا دے چه یهودی ظالم بادشاه دَ هغه اراده وکړه چه عیسیٰ علیه السلام لره قتل کړی نو مریم او عیسیٰ علیهما السلام دواړو هجرت وکړو دَ پاره دَ حفاظت دَ خپلے ځان (احسن ص۳۸۱) وګورئ روح ص۳۸ ج۱۸)

يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ ص۵۱: دَ دے ځائے نه تر ۶۷ پورے تخویف اخروی باب دے، په دے کښی پنځه خبرے دی: (۱) نقلی اجمالی اجماعی دلیل دَ ټولو پیغمبرانو نه ۵۲ (۲) زجر سره دَ تخویف نه ۵۴ (۳) صفات دَ مومنانو او ۶۱ او مقابله کښی صفات دَ مشرکانو ۶۳ - (۴) بیا مسلسل زواجر دَ ۶۵ نه (۵) اخر کښی تخویف.

كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ: آلوسی رحمه الله فرمائی چه دا حکم دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په طریقه دَ اجمال سره دَ هغه نه چه خطاب یې کړے شوے دے هر رسول ته په زمانه دَ هغه کښی (روح ص۴۴ ج۱۸) حدیث کښی دَ ابو هریره رضی الله عنه نه نقل شوے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه یقینًا الله تعالیٰ پاک دے، نه قبلوی مګر

هغه منکر بالله او یقینا الله تعالیٰ امر کړے دے مؤمنانو ته په هغه باندې چه امر ئے کړے دے رسولانو ته:
يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا ... او فرمائیلی دی الله تعالیٰ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ

أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَ
آیا ګمان کوی دوی: بیشکه هغه چه مونږ زیاتوو ورله ... د هغه: د مالونو او

بَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَل لَّا
ځامنو نه: جلدی کوو دوی لره: په نیکو کښې: بلکه نه

يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ
پوهیږی دوی: بیشکه هغه کسان: چه دوی: د ویرے د ربه

رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِ
خپل نه: اندیښنه لری: او هغه کسان: چه دوی په ایتونو د

رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾ وَالَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ
رب خپل باندې: ایمان لری: او هغه کسان: چه دوی د رب خپل سره

لَا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا
شرک نکوی: او هغه کسان: چه ورکوی: هغه: چه ورکوی

وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ
او زړونه د دوی: ویریږی: چه بیشکه دوی: رب خپل ته:

رَاجِعُونَ ﴿٦٠﴾ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ
راګرځیدونکی دی: دغه کسان دی: چه جلدی کوی: په نیکو کارونو کښې:

وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا
او دوی هغوته وړاندې تیریدونکی دی: او تکلیف نه ورکوو هیڅ یو نفس ته مګر

وُسْعَهَا ۖ وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ ۚ وَهُمْ لَا
په قدر د وس د هغه: او زمونږ سره کتاب دے: چه خبرې کوی په حق سره: او دوی به

يُظْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ
ظلم نشی کولے: بلکه زړونه د دوی: په غفلت کښې دی: د دے

هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ
نه: او دوی لره: عملونه دی: سوا د دے نه: چه دوی

بقره: بیا ئے یاد کړو یو سړے
چه اوږد ئے سفر کړے وی،
پریشانه به وی، د وړے به پټ
پړسے وی، لاسونه به اوږد وی
آسمان طرف ته: یا رب یا رب
ومطعمه حرام ومشربه حرام
وملبسه حرام وغذی بالحرام
فانی یستجاب لذلک: (مشکوٰۃ،
ابن کثیر، قرطبی، روح المعانی، ...) فائدہ:
د دے نه معلومه شوه چه د
عبادات او دعا په قبولولو کښې
حلال خوراک ډیر دخل لری ځکه
چه خوراک حلال نه وی
نو د عبادت او دعا د مقبولیت
استحقاق نه پاتے کیږی.
(معارف ...). فَتَقَطَّعُوا اَمْرَهُمْ
: په دین کښې ئے ډلې ډلې
تفرق پیدا کړو. فائدہ: هرکله
چه په دعا او عبادت کښې
تفرق شو نو د دوستانو او
زیات تفرق نه ګوره نو د دے
وجې نه سورة انبیاء ۹۳ کښې
وَتَقَطَّعُوا ... او سره ذکر کړے
دے او زُبُرًا ورسره نه دے
ذکر کړے او په دے ځائے او
اعمالو کښې مخالفت زیات شروع
شوے دے او په هغه سره
ډیرے ډلے پیدا شوے دی
نو ځکه وجه په دے ایت کښې
تَقَطَّعُوا: او زُبُرًا دواړه ذکر
کړے شو. (الحسن ...) اَيَحْسَبُوْنَ
حاشیه د دے ځای: په دے
ایتونو کښې د حالتونو
د منکرینو ذکر کوی چه هغوی نه
او ځامن ورته ورکړی په ... نعمتونو
زیاتیږی. دا ګمان د نیکوی چه دا د دوی د نیکو عملونو اثر دے بلکه دا د دوی د پاره استدراج دے
وګورئ آل عمران ۱۷۸. د آیت ۵۷ نه د مؤمنانو اوه صفات ذکر کوی تر ۶۱ پورے. مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ
د ویرے د رب خپل نه مینه کوونکی دی. خَشْيَة د زړه حال دے او مُشْفِقُوْنَ د ظاهر حالت دے ...

عمه چه د وړیے اثر په ظاهري اندامونو باندې ښکاره شي، دا دوه صفتونه دي. (احسن ۴۸۵) د ژړیے د رب خپل نه ویریږي (افضل ۳۵۲) د ژړیے د رب خپل نه پریشانه وي (فتح ۲۱۵) لَهَا عٰمِلُوْنَ ۶۳ اعمال

لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَخَذْنَا مُتْرَفِیْهِمْ

هغو لره کوونکي دي: تر دې چې کله اونیسو موږ خوشحاله د دوی،

بِالْعَذَابِ اِذَا هُمْ یَجْــٴَـرُوْنَ ﴿۶۴﴾ لَا تَجْــٴَـرُوا

په عذاب سره: ناڅاپه دوی فریاد به کوي: چیغې مه وهئ

الْیَوْمَ اِنَّكُمْ مِّنَّا لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَدْ كَانَتْ

نن، یقیناً تاسو به زموږ د طرف نه مدد اونه شئ کړے: یقیناً وو

اٰیٰتِیْ تُتْلٰى عَلَیْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰۤى اَعْقَابِكُمْ

آیتونه زما لوستلے شو په تاسو: پس وئ تاسې چه په پوندو خپلو

تَنْكِصُوْنَ ﴿۶۶﴾ مُسْتَكْبِرِیْنَ ﴿ۖۗ﴾ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴿۶۷﴾

اوړېدونکي: تکبر کوونکي وئ په دے قرآن: قصے کوونکي وئ په شپه خبرې کوونکي

اَفَلَمْ یَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ یَاْتِ

آیا پس سوچ نه کوي په وینا (قرآن) کښې: آیا راغلي دي دوی ته هغه چه نه وه راغلي

اٰبَآءَهُمُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿۶۸﴾ اَمْ لَمْ یَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ

پلارانو د دوی مخکنو ته: آیا نه پیژني رسول خپل:

فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ

پس دوی هغه لره ناآشنا ګڼونکي دي: آیا وائي دوی: په دهٔ باندې لیونتوب دے:

بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَ اَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ

بلکه راغلی دے دوی ته حق: او زیات د دوی نه: حق لره

كٰرِهُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَ لَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ

بد ګڼونکي دي: او که چرته تابع وے حق د خواهشاتو د دوی سره، نو خامخا خراب شوي به وو

السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ وَ مَنْ فِیْهِنَّ ؕ بَلْ

آسمانونه: او زمکه: او هغه څوک چه په دوی کښې دي: بلکه

اَتَیْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۱﴾

ورکړے موږ دوی ته: پند د دوی: پس دوی د نصیحت خپل نه مخ اړونکي دي:

چې کوي هغه چه کوي (او دا لفظ تولو اعمالو د خیر او نیکئ لره شامل دے. (جواهر ۱۴۶) وګورئ بحر ۴۱۲ - ور کوي هغه چه ور کوي د زکوٰة او صدقو نه. (مدارک ۱۲۶). وَلَا نُكَلِّفُ ۶۲: جمله معترضه ده. كِتٰبٌ: یعني عملنامه ده (فتح ۲۱۵) بَلْ قُلُوْبُهُمْ: د دے ځائے نه بیا صفات د منکرینو شروع شو. مُتْرَفِیْهِمْ: خوشحاله د دوی (مخ) آسوده ګان د دوی. (فتح ۲۱۵، جواهر ۴۶۲) پر تمه د دوی (احسن ۴۸۰) عیش ناک د دوی (افضل ۳۵۲) مُسْتَكْبِرِیْنَ بِهٖ: لوئي کوونکي دي په قرآن عظیم، په نبي علیه السلام، په امر د الله تعالیٰ، په بیت الله - وګورئ اسلام ۴۰۲. سٰمِرًا: په دے ځائے کښې سامر په معنیٰ د سامرین د جمع ده، استعمال شوے (معارف ۳۲۲، بحر ۴۱۲ ق). تَهْجُرُوْنَ: دا لفظ د هجر نه په پیښ د ها سره مشتق دے، چه معنیٰ ئے فضول بکواس او ګنځل منځل دي او دلته حال دے (معارف ۳۲۲)، وګورئ مدارک ۱۲۶ ، غریب القرآن ۲۷۰. اَفَلَمْ یَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ: آیا پس دوی سوچ نه کوي په قرآن کښې، سورة ص ۲۹، سورة محمد ۲۴ هم وګورئ: وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ ۷۱: که چرے تابع وے حق د خواهشاتو د دوی سره. د شاه رفیع الدین رحمه الله فرمائي: که دین د دوی د خواهشاتو تابع وے نو په زمکه او آسمانونو کښې به فساد راغلے وے ځکه چه آسمانونه او زمکه او هغه څوک چه په دوی کښې دي دا ټول د الله تعالیٰ د توحید نه په توحید ختم شوي وي او د دوی خواهشاتو د دوی نه نو دا هر څه به ختم شوي وے. (افضل التراجم ۴۵۲)

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَهُوَ
[illegible] ؛ او الله تعالیٰ
خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ
[illegible] ؛ او یقیناً ته ... بلنه ورکوې دوی ته ؛ طرف د لارې
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ
برابرې سمې ؛ او یقیناً هغه کسان چې ایمان نه راوړي په اخرت باندې
عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا
د سمې لارې نه ؛ خامخا اوړېدونکي دي ؛ او که چېرې رحم وکړو مونږ په دوی باندې ؛ او لرې کړو
مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾
[illegible]
وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا
او یقیناً نیولي وو مونږ دوی په عذاب باندې ؛ پس نه وو تابع شوي دوی
لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰ إِذَا فَتَحْنَا
رب خپل ته ؛ او نه دوی عاجزي وکړه ؛ تر دې چې کله پرانیستو مونږ
عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ
په دوی باندې دروازه ... د عذاب سخت ؛ ناڅاپه دوی به په هغې کې
مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾ وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ
نا امیده کېدونکي وو ؛ او الله هغه ذات دی چې پیدا کړې دی تاسو له ؛ غوږونه
وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾
او سترګې ؛ او زړونه ؛ ډېر لږ شکر اداء کوئ تاسو ؛
وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ
او الله هغه ذات دی چې پیدا کړي یئ تاسو په زمکه کښې ؛ او خاص هغه ته به
تُحْشَرُونَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَ
راجمع کړې شئ ؛ او الله هغه ذات دی چې ژوندي کول کوي ؛ او مړه کول کوي ؛ او

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا ... [illegible] ... دلائل عقلیه ، ورے محضه او ورے اعتراض [illegible] ... تخویف [illegible] ... تبلیغ [illegible] ... تخویف اخروي تفصیلي [illegible] او بشارت [illegible]

(۲) دعوی د توحید تفریع په ټول سورت باندې [illegible] د اول ایت نه دلائل عقلیه محضه .

⁂ ⁂ ⁂

لَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۸۰﴾

تاس هغه لره ده بدلول: د شپې او د ورځې دي: آیا پس ولې د عقل نه کار نه اخلئ؟

بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۸۱﴾ قَالُوْٓا

بلکه وائي دوی په مثل د هغه چه وئیلي به: مخکنو ... وائي دوی:

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۸۲﴾

آیا کله چه مړه شو مونږ: او شو مونږ خاورې او هډوکي: آیا مونږ به خامخا دوباره ژوندي کولی شو

لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَاۗؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ

یقیناً وعده کړې شوې مونږ سره او د پلار نیکونو سره د دې: مخکښې د دې نه:

اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ لِّمَنِ

نه دي دا: مګر قصې د مخکنو دي: ووایه: چا لره دي

الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۴﴾

زمکه: او هغه څوک چه په دې کښې دي: که چرې یئ تاسې چه پوهیږئ؟

سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ۭ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۵﴾

ژر به وائي دوی: چه الله لره: ووایه پس ولې نصیحت نه قبلوئ تاسې؟

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ

ووایه: څوک دې رب د آسمانونو: اوو (۷): او رب

الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ۭ قُلْ

د عرش: لوئي: ژر به وائي دوی الله تعالی لره: ووایه:

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ

آیا پس ولې نه یرېږئ: ووایه څوک دې چه په لاس د هغه کښې بادشاهي د

كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ

هر شي ده: او هغه پناه ورکوي: او پناه نشي ورکولې په هغه: که چرې

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ۭ قُلْ

یئ تاسې پوهیږئ: ژر به وائي دوی چه الله تعالی لره دي: ووایه:

بَلْ قَالُوْا: ملا ۹۰ تر ۱۰۵ کښې زجر دے په انکار د رد لیب عنت ۴ نو. قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ ۸۴ په دے آیتونو کښې دلائل اعترافي دي: دا سے اعترافي دلائل سورة یونس کښې تېر شوي دي او عنکبوت کښې به راشي. فائده :- مشرکان باري تعالی منی او لوئے لوئے کارونه هم د هغه مني خو وائي چه د بعضو کارونو تصرفات باري تعالی دے اولیاؤ ته حواله کړي دي خکه د هغوي د مجسمو تعظیم کوو. او د هغوي خو د سرنه الله تعالی نه مني (انفال التراجم ملك). وَهُوَ يُجِيْرُ ۸۸: او هغه پناه ورکوي، او پناه نشي ورکیدے د هغه په مقابله کښې: جناب مفتي صاحب رحمته الله علیه د امام قرطبي رحمته الله علیه په حواله لیکي: یعني الله تعالی چه چا له وغواړي د عذاب او مصیبت رنځ او تکلیف نه پناه ورکوي د هیچا مجال نشته چه د الله تعالی په مقابله کښې چا له پناه ورکړي او هغه د عذاب او تکلیف نه بچ کړي. دا خبره د دنیا په اعتبار سره هم صحیح ده چه الله تعالی چا له خیر نفع رسول غواړي د هغه هیڅوک نشي منع کولے او چا له چه ضرر تکلیف او عذاب ورکول غواړي هغه څوک بچ کولے نشي او د آخرت په اعتبار هم دا مضمون صحیح دے چه چا له هغه عذاب کښې مبتلا کړي هغه هیڅوک بچ کولے نشي، او چا له چه جنت او راحت ورکړي هغه څوک نشي منع کولے. (معارف ص ۳۲۳ ج ۹۴)

فَاَنّٰی تُسْحَرُوْنَ: پس دَ کوم ځائے نه دهوکه کړے شئ تاسو او اړولی شئ تاسو دَ توحید دَ الله تعالیٰ نه او دَ اطاعت دَ هغهٔ نه او څنګه خیال کړئ تاسو چه حق ته په شکل باطل سره (خازن ...) مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ وَّلَدٍ: دا زور دے په اتخاذ الولد باندې چه الله تعالیٰ هیڅ نا اړولی نیولی نه دے.

فَاَنّٰی تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾ بَلْ اَتَیْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَ
پس دَ کوم ځائے نه دهوکه کړے شئ تاسو: بلکه راوړے مونږ دوی ته: حق: او
اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾ مَا اتَّخَذَ اللهُ مِنْ وَّلَدٍ
یقیناً دوی خامخا دروغژن دی: نه دے نیولے الله: هیڅ: ولد:
وَّمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ
او نشته دَ هغهٔ سره: څوک اِلٰه: په دغه وخت کښې به وړلے وو: هر یو
اِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ
معبود: هغه چه پیدا کړے ئے وو: او خامخا زور اور شوے وو بعضو دَ هغوی په بعضو باندې:
سُبْحٰنَ اللهِ عَمَّا یَصِفُوْنَ ﴿۹۱﴾ عٰلِمِ الْغَیْبِ
پاکی ده الله ته لره دَ هغه نه چه دوی ئے بیانوی: خبر: په پټو
وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ قُلْ
او ښکاره وو دے: پس اوچت دے دَ هغه نه چه دوی ئے شریکوی: وو وایه:
رَّبِّ اِمَّا تُرِیَنِّیْ مَا یُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا
اے ربه زما! که وے ښائے ماته هغه عذاب چه دوی سره وعده کړے شوی ده اے ربه زما! پس مه
تَجْعَلْنِیْ فِی الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۹۴﴾ وَاِنَّا عَلٰٓى
ګرځوه ما لره: په قوم: ظلم کوونکی کښې: او یقیناً مونږ په دے باندې:
اَنْ نُّرِیَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ
چه وښایو تا ته: هغه چه وعده کوو دوی سره: خامخا قدرت والا یو: دفع کوه:
بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ نَحْنُ اَعْلَمُ
په هغه طریقه چه هغه ښائسته وی: بدی لره: مونږ ښه پوهیږو:
بِمَا یَصِفُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُبِكَ
په هغه چه دوی ئے بیانوی: او وایه اے ربه زما! پناه غواړم تا سره:
مِنْ هَمَزٰتِ الشَّیٰطِیْنِ ﴿۹۷﴾ وَاَعُوْذُبِكَ
دَ وسوسو دَ شیطانانو نه: او پناه غواړم تا سره:

مِنْ ذٰلِكَ عٰلِمٍ: دا زور دے په اتخاذ الولد باندې چه الله تعالیٰ هیڅ نا اړولی نیولی نه دے.

فائده: حاصل دَ دلیل دا دے چه اِلٰه مستقل اختیار والا نه وائی نو که بل څوک اِلٰه وے نو هغه به پیدا اتش کړے وے او بیا به ئے خپل مخلوق دَ بل نه ضرور جدا کړلے دَ پاره دَ دے چه مستقل تصرف پکښې وکړی او په دغه وخت به ئے دبل اِلٰه په برخه باندې فروض غلبه او تسلط کړلے او جګړه به ئے ورسره کړلے ځکه چه یو اِلٰه دَ بل اِلٰه حق او تصرف نه مني ځکه چه دَ دے په الوهیت کښې نقص راځي او هر کله چه یو غلبه په بل باندې کړله نو هغه مغلوب اِلٰه نشي کیدے او دا دلیل یقیني قطعي دے لکه چه دَ دے تفصیل سورة انبیاء ۲۲ کښې تیر شوے دے (احسن الکلام ...) قُلْ رَّبِّ ... ۹۳: دا دَ عذاب دُنیاوی بیان دے چه اے مومنی! که ته عذاب راولے په مخالفینو باندې مونږ ته ئے درښئه وسائی ته. باری تعالیٰ فرمائی چه عذاب په مخالفینو راتلل شروع شو دَ عذاب دَ پاره وخت مقرر دے (الفضل ...). اِدْفَعْ بِالَّتِیْ ... ۹۶: دا دَ تبلیغ طریقه ده یعنی داعی به دَ خلقو دَ بد په مقابله کښې نیکي کوي. دا به دَ انسان سره سلوک وی او دَ شیطان سره به طریقه دا وی چه دَ الله تعالیٰ نه پناه غواړي دَ شیطان دَ وسوسو نه ځکه چه دَ شیطان سره خوږ نیکی نه ده مناسب، هغوی دَ نیک سلوک قابل نه دی (الفضل ۳۸۵)

فائده: دَ تبلیغ طریقے تفکیر: نحل ۱۲۵، اسراء ۵۳ کښې هم تیرے شوے دے او حمٓ سجده ۳۴ او عنکبوت ۴۶ کښې به راشي.

حَتّٰی اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ: دا آیت تعلق لری دَ مخکښ سره او تخویف دے یعنی دوی شرک او کفر کښې مشغول دی
ترمرګه پورے بیا به پروخت دَ مرګ کښې ارمان کوی چې واپس کیدو دُنیا ته (احسن البیان). قرطبی رحمه الله فرمائی چه دا دَ

رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾ حَتّٰۤی اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ

اے ربه خما دَ حاضریدو دَ دوی نه ما ته. (دوی به همدغسی کوی) ترڅو چه راشی یو دَ دوی ته

الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّیْۤ اَعْمَلُ

مرګ نو وائی به اے ربه خما! واپس کړه ما (دنیا ته) دَ دے دپاره شاید عمل وکړم

صَالِحًا فِیْمَا تَرَکْتُ کَلَّا ؕ اِنَّهَا کَلِمَةٌ هُوَ

نیک په هغه (عمر) کښې چه ما پریخی دی هیچرې نه: دا یوه خبره ده دا چه دا

قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰی یَوْمِ

وائی ئې او مخکښ دَ دوی نه یو پرده ده تر هغه ورځ پورے چه

یُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَلَاۤ اَنْسَابَ

دوی به راژوندی کړے شی. پس کله چه پو کړے شی په شپیلئ کښې پس نه به وی نسبونه

بَیْنَهُمْ یَوْمَئِذٍ وَّلَا یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ

په مینځ دَ دوی کښې په دغه ورځ او نه به یو بل تپوس کوی. پس هغه څوک چه درانه شو

مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ

تلل شوی عملونه دَ هغه نو دغه خلق دوی کامیاب به وی. او هغه څوک چه

خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِکَ الَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا

سپک شو تلل شوی عملونه دَ هغه پس دغه کسان دی چه تاوان کښې اچولی دی

اَنْفُسَهُمْ فِیْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ

ځانونه خپل. په دوزخ کښې به همیشه اوسیدونکی وی. سوزوی به مخونه دَ دوی

النَّارُ وَهُمْ فِیْهَا کٰلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾ اَلَمْ تَکُنْ اٰیٰتِیْ

اور او دوی به په دغه کښې بد شکله وی. آیا نه وو آیتونه خما چه

تُتْلٰی عَلَیْکُمْ فَکُنْتُمْ بِهَا تُکَذِّبُوْنَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوْا

لوستل شوی دَ تاسو په مخکښ پس تاسو به دغه دروغ ګڼل. وائی به

رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَیْنَا شِقْوَتُنَا وَکُنَّا قَوْمًا

اے ربه زمونږه! غالب شوه په مونږ بدبختی زمونږه او وو مونږه قوم

منزل ٤

اِذَا یَئِسُوْا سره لګی یعنی دوی نیښلې دی په دے ترمخه چه راتلی به دوی ته مرګ یقین به وکړی په خپل ګمراهئ او معائنه به وکړی دَ هغه ملائکو چه قبض کوی روح ... (مظهری)

رَبِّ ارْجِعُوْنِ: دَ ارجع ضمیر دَ تکرار دلالت ... معنی دا شوه: اے ربه خما! واپس کړه ما واپس کړه ما شاید چه زه عمل وکړم دَ نیکئ

فِیْمَا تَرَکْتُ: په هغه عمر کښې چه ما پریخی دی. (انفعل ...) په دغه کښې ... چه ما پریخے دی (...) کَلَّا: هیچرې دا نشی واپس کیدے دُنیا ته. (زاد المسیر ...) دا دَ عذاب اخروی بیان دے، یعنی اوس خو دے نه منی خو چه کله مرګ راشی نو بیا به وائی اے ربه خما! ما واپس کړه ځکه به بیا نیکی کوم. وائے نشی کیدے دَ مرګ نه پس عالم برزخ دے تر قیامته پورے. دَ برزخ معنی ده پرده یعنی مړے به ژوندی نه او دا ژوندی به دَ مړی نه په پرده کښې شی تر قیامته. په قیامت کښې به بیا نسب نه کار ورکوی، بلکه خپل عمل به کار ورکوی. (انفعل ...).

فائده:— معلومه شوه چه کوم خلق وائی چه بیا دَ مرګ نه پس بیا راځی. دا قول غلط دی. قیامت کښې به باقی. دَ دے نه فکښې هرګز نشته. (سورة ... فَمَنْ ثَقُلَتْ ...) اعراف کښې دا مضمون تیر شوے دے.

اِخْسَئُوْا فِیْهَا:

حاشیه (...): ګوری شی (اے سپو!) په دے دوزخ کښې او خبره مکوئ ځما سره. راغب فرمائی چه خَسَأْتُ الْكَلْبَ په هغه وخت کښې وئیلے شی چه سپی ته ووائی چه لرے شه. (مفردات ...).
اِنَّهٗ کَانَ فَرِیْقٌ: دَ دے آیت کریمه نه مخکښ چه دَ عذاب ذکر کوی چه مونږ خدایه ... مسخرے

کوئلے. سورۃ ق ص ۳۵، او مطففین ص۳۱ کښې به هم راځي. حَتّٰۤى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ: ترڅو پورې چه غافله یې کړي
تاسو د توحید څخه (احسن ص۳۰) ترڅو پورې چه هیر کړو هغو ستاسو نه یاد زما (فضل ص۳۴)، او تحفة الرحمن ص۳۱.

ضَآلِّيْنَ ﴿۱۰۶﴾ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا

ګمراهان : اے ربه زمونږه! راوباسه مونږه : د دې نه، پس که بیا وګرځو مونږ (کفر ته)

فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ اخْسَـُٔوْا فِيْهَا وَلَا

پس یقیناً مونږ به ظالمان یو : وبه وائي الله: ګوري شئ ای سپو په دې کښې : او مه کوئ

تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ

خبرې ما سره : یقیناً وه : یوه ډله : د بندګانو زما نه :

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَ

وبه ویل دوی: اے ربه زمونږه: ایمان راوړو مونږ، پس بخښنه وکړه مونږ ته، او رحم وکړه په مونږ

اَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا

او ته غوره د رحم کوونکو یې : پس ونیولو تاسو هغوی ته ټوکې مسخرې :

حَتّٰۤى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

ترڅو پورې هیر کړو هغوی ستاسو نه یاد زما او وئ تاسو په هغوی پسې چه خندا مو کوله

اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْۤا اَنَّهُمْ هُمُ

یقیناً ما بدله ورکړه هغوی ته نن ورځ په سبب د صبر د هغوی، یقیناً دوی : هم دوی

الْفَآئِزُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ

کامیابه دي : وبه وائي الله: څومره پاتې شوي یئ تاسو په زمکه کښې : شمیر د

سِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ

کلونو : وبه وائي دوی: پاتې شوي یو مونږه یوه ورځ او یا بعضې د ورځې نه :

فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا

پس تپوس وکړه د شمېر کوونکو نه : وبه وائي الله: نه دئ پاتې شوي تاسو : مګر

قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا

لږ وخت : که چیرې وئ تاسو چه پوهیدلئ : آیا پس ګمان کړے وو تاسو چه یقیناً

خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

پیدا کړي وو مونږ تاسو بې فائدې او یقیناً تاسو مونږ ته نه راګرځولې شئ :

خطیب شربیني رحمه الله فرمائي چه نسبت د هیرولو مؤمنانو ته وکړے شو، چه دوی یې سبب جوړ شو د دې د ورمشغولیا د کفارو نه په استهزاء کولو د مؤمنانو باندې (سراج منیر ص۵۰۲)، شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه اَنْسَوْكُمْ په معنیٰ د تَرَكْتُمْ دے، معنیٰ دا شوه چه پریښودلو تاسو یاد زما. قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ: د تپوس شیخ القرآن رحمه الله وائي چه کوم کافر وښيانه دا وایي چه لَبِثْنَا فَاخِرُوْا د هغه نه به د کیامت په ورځ سوال وشي چه وشایئ تاسو دنیا کښې څومره کلونه وسیدلي وئ (جواهر ص۲۰). فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ: پس تپوس وکړه د شمار کوونکو نه. د دې نه مراد حساب دان خلق دي یا ملائک کراماً کاتبین دي، یعنې د دې حیرت او حیرانتیا د وجې نه د اصل جواب نه غافله دي (احسن ص۳). اَفَحَسِبْتُمْ: دا زورنه ده. فَتَعٰلَى اللّٰهُ: (حاشیه د راتلونکي مخ نه ده): دا د سورت حاصل دے چه الله تعالیٰ پوهولے دے د هغه شریک نشته ایله د هغه نه بل څوک د هغه ځای نشته او بیا څوک د هغه ځای نشته (فضل ص۳۰). اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ: امام رازي رحمه الله او علامه نسفي رحمه الله او خطیب شربیني رحمه الله د سورت آخر ربط د اول سره داسې ذکر کړے دے چه الله تعالیٰ ذکر کړو شروع د سورت قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ او اخر کښې لَا يُفْلِحُ

الْكٰفِرُوْنَ، دا پس په دواړو کښې فرق دے په مینځ د فاتحې او خاتمې کښې (کبیر ص۱۲۱، مدارک ص۱۳۱، سراج منیر ص۵۶۳)
وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ: دا ارشاد دے د الله تعالیٰ له طرفه نه د دے دعا (ابن کثیر ص۳۰) او د اِغْفِرْ او
اِرْحَمْ مفعولونه ئې حذف کړه د پاره د عام والي د دعا په مغفرت سره چه کفالت کوي دے لرلوي

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

پس اوچت دے الله : باچا : حق دے ، نشته هیڅ معبود بغیر د هغه نه

رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ (۱۱۶) وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ

رب د عرش : عزتمند دے . او څوک چه بلي ، د الله سره ،

اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

مدد گار بل : نشته دليل هغه لره په دې باندې ، پس يقيناً حساب د هغه

عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ (۱۱۷) وَقُلْ

نزد د رب د هغه دے يقيناً شان داسې دے کاميابه کيږي نه کافران : او وايه

رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ (۱۱۸)

اے ربه زما ! بخښنه وکړه ، او رحم وکړه ، او ته غوره د رحم کونکو نه يې :

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍ

دا سورت دے چه نازل کړے مونږ ، او فرض کړي مونږ احکام د دې ، او نازل کړي مونږ په دې کښې آيتونه

بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ (۱) اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ

ښکاره : د دې د پاره چه تاسو نصيحت قبول کړئ : بدکاره ښځه : او بدکار سړے :

فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۠

پس ووهئ : هر يو د دوى دواړو نه : سل سل درے :

وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ

او نه دې نيسي تاسو لره په دوى دواړو باندې ترس (خفګان) په دين د الله کښې :

اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ

که يئ تاسو چه ايمان لرئ : په الله تعالى : او په ورځ د روستنۍ :

وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ (۲)

او حاضر دې شي عذاب د دوى دواړو ته : يوه ډله د ايمان دارو نه :

د توبو او ضرر و نو لره او په رحمت سره چه ژر نکوکي دے . توبو منافقو لره (مظهري ۳۶۸) **امتيازات** :- (۱) ګنړ صفات د مؤمنانو (۲) شپږ دلائل نقليه د پېغمبرانو عليهم السلام نه (۳) نقلي اجمالي د توبو او زجرونو نه ۵۱ (۴) درے امتزاقي دلائل د ۳۶ نه . (۵) ذکر د عالم برزخ ۱۰۱ . (۶) تحفه رحمه ۷ د قرآن چه الله په د وړو او وړاندې لے سهو ګورئ ۱۱ . (الحمد لله سورة المؤمنون په وخت ۵ مشته په ۷ بجي سحر بروز پنجشنبه ۱۳ ذوالحجه ۱۴۲۷ھ ۳ جنوري ۲۰۰۷ء په توفيق د الله تعالی ختم شوه) ❁ ❁ ❁

د عقل نه کار واخلئ : یقیناً مؤمنان : هغه کسان دي چه ایمان ئې راوړے په الله
وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ
او په رسول د هغه، او کله چه وي دوی د هغه سره په یو کار د جمع کولو باندې : نه
يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ
ځي د هغه نه : تر دې چه اذن وغواړي د هغه نه : یقیناً هغه کسان چه
يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ
اجازت غواړي ستا نه : دا هغه کسان دي چه : ایمان لري :
بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ
په الله او په رسول د هغه : پس کله چه اجازت وغواړي تا نه : د پاره د بعضې
شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ
کار خپل، پس اجازت ورکړه هغه چا ته چه ستا خوښه شي د دوی نه، او بخښنه غواړه
لَهُمُ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٦٢ لَا تَجْعَلُوْا
دوی له د الله نه، یقیناً الله تعالی بخښونکے مهربان دے : مه ګرځوئ تاسو
دُعَاۗءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاۗءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ۭ
بلنه د رسول ﷺ : په مینځ خپل کښې، په شان د بلنې د بعضې ستاسو بعضو لره :
قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ
یقیناً پیژني الله تعالی : هغه کسان چه پټ وځي : ستاسو د مجلس نه پناه اخلي
فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ
پس وډار دې شي هغه کسان چه مخالفت کوي : د امر د الله تعالی، چه

چه په چلتي ووزي ستاسو نه پناه اخلونکي (فتح ص۴۳۳) شیخ القرآن رحمه الله معنی کوله : چه خوشیږي ستاسو نه په پټه سره . فِتْنَةٌ : یعني محنت په دنیا کښې او یا ورسیږي دوی ته عذاب په آخرت کښې . (ابوالسعود ص۱۹۰)

فائده : دے آیت کریمه کښې درے حکمے دي ، په اوله کښې عظمت د شان د نبي علیه السلام دے او په دویمه کښې حال د منافقانو دے او په دریمه کښې بیان د تخویف دے . اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ ... په دے آیت کریمه کښې د دعوے د توحید ذکر شو ، د کومے د وجې نه چه منافقانو تښتیدنه کوله . ———

امتیازات : (۱) ذکر د خلورو احکامو د پاره د بندولو د بے حیائي د ملا نه ؛ (۲) او څلور مبادي د د فع د فحشاء د پاره د ملا نه ؛ (۳) صفائي د عائشے رضی الله عنها د ملا نه ؛ (۴) درے مثالونه د ملا نه . (۵) درے اداب د ملا نه .

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ! نن په ورځ د پنجشنبے ۱۱:۳۰ بجے ۱۱ جنوري ۲۰۰۷ ع او ۲۱ ذوالحجه ۱۴۲۷ھ وخت د تعطیلاتو د مدرسے کښې په مدرسه توحید آباد کښې د سورة نور تفسیر د الله تعالی په فضل او کرم او توفیق او اعانت سره ختم شو . فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ عَلٰى ذٰلِكَ و صَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ .

سُوْرَۃُ الْفُرْقَانِ : ترتیب کښې ۲۵ دے پس دَ سورۃ نُور نه او نزول کښې ۴۲ دے پس دَ سورۃ یٰسٓ نه. وجه دَ تسمیے اولنی ایت کښې ده. **دعوے** : نفی دَ شرک فی البرکات ۱ تا ۳ ، دَ شرک فی العبادۃ ۵۵. نفی دَ شرک فی الدعا ۶۸. نفی دَ شرک فی التصرف ۲. **ربطونه** : (۱) هر کله چه نفی دَ شرک اعتقادی په لویو کارونو کښې وشوه په مخکښې سورتونو کښې نو تفریع ئے کړله په دغه باندې نفی دَ شرک فی البرکات. (۲) ما قبل کښې دَ شرک اعتقادی ذکر نو دلته لاوده میګه دَ شرک فعلی کوی. (۳) مخکښې منعه وه دَ اوصافو دَ منافقانو نه نو دلته منع کوی دَ اوصافو دَ مشرکانو نه (۴) هلته په اخر کښې دعوه دَ توحید ذکر شوه نو دے سورت کښې په دے دلائل عقلیه ذکر کوی. (۵) اسمی ربط دے: نُوْرُ قُلُوْبِنَا بِسُوْرَۃِ الَّذِیْ نَزَّلَ بِهِ الْفُرْقَانَ. **خلاصه** : په دے سورۃ کښې خلور بابونه دی اول ترمثله پورے، دویم تر مثله پورے، دریم تر مثله پورے، څلورم تر اخره پورے. په اول باب کښې پنځه خبرے دی: (۱) دعوه دَ سورۃ ۲. (۲) شپږ دلائل عقلیه په دعوے باندې ۲. (۳) رد په مشرکانو په شپږو طریقو باندې ۳. (۴) زجر په انکار دَ قرآن او شپږ اعتراضونه دَ هغوی په قرآن باندې ۵. (۵) زجر په انکار دَ رسول ﷺ او شپږ اعتراضونه په هغه باندې ۷. **فائده** : علامه شوکانی رح ویلی دی چه بیان کړے دے الله سبحانه وتعالی په دے سورت کښې توحید، ځکه چه دا مخکښې او اهم دے بیا نبوت ځکه چه دا واسطه ده بیا اخرت ځکه چه دا خاتمه ده. (فتح القدیر ۶۳/۴) **تَبٰرَكَ** : رائسکه کړی الله تعالیٰ په هر برکت او خیر او ویلے شوی دی چه معنے ئے ده لوئے خیر غاونده دے. (خازن ۶۲/۳) برکت ډیروالے دَ خیر او زیاتوالے دَ دے دے (مدارک ۴۵۱ سراج منیر ۳۳۶/۲)

تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَا

وبه رسیږی دوی ته تکلیف او یا به رسیږی دوی ته عذاب دردناک : خبردار

إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ

یقیناً الله تعالیٰ لره دی هغه چه په اسمانونو او زمکه کښې دی : یقیناً پوهیږی

مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم

په هغه چه تاسو یئ په هغه باندې او کومه ورځ چه ورګرځولے شی دوی الله ته پس خبر به ورکړی دوی

بِمَا عَمِلُوا ۗ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٤﴾

په هغه عملونو چه دوی کړی دی او الله تعالیٰ په هر شی باندې پوهه دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ

ډیر برکت والا دے هغه ذات چه نازل کړے ئے دے فرق کوونکے کتاب په بنده خپل باندې

لِيَكُونَ لِلْعٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴿١﴾ الَّذِي لَهُ مُلْكُ

چه شی دے ټولو مخلوقاتو ته ویروونکے : هغه ذات چه خاص هغه لره بادشاهی دَ

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ

اسمانونو او دَ زمکے ده او نه ئے دے نیولے ولد : او نشته

يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ

هغه لره څوک شریک په بادشاهی کښې : او پیدا کړے ئے دے هر

شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ﴿٢﴾ وَاتَّخَذُوا مِن دُونِهِ

شے : پس اندازه کړے ئے دے خاصه اندازه : او نیولی دی دوی سوا دَ الله تعالیٰ نه

آلِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا

مددګاران چه نشی پیدا کولے هیڅ شی لره او دوی پیدا کړے شوی دی : او ورلره

يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا

نه دی دوی دَ ځانونو خپلو دپاره دَ هیڅ ضرر او نه دَ هیڅ نفع : او ورلره

يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيٰوةً وَلَا نُشُورًا ﴿۳﴾ وَقَالَ
نه دي : د مرګ : او نه د ژوند : او نه د بیا پورته کېدلو : او وائي :
الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هٰذَا إِلَّا إِفْكٌ افْتَرٰىهُ وَ
هغه کسان چه کفر ئې کړې دې : نه دې دا قرآن : مګر دروغ دي چه جوړ کړي ئې دي هغه : او
أَعَانَهُ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُونَ فَقَدْ جَاءُوا ظُلْمًا
امداد کړې دې ده سره په دې کار : نورو خلقو : پس راوړې دي : ظلم :
وَّزُورًا ﴿۴﴾ وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا
او دروغ لوئي : او وائي : چه قصې د مخکنو دي : چه لیکلې دي ده لره :
فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّأَصِيلًا ﴿۵﴾ قُلْ
پس دا لوستلې شي : په ده باندې : سحر : او ماښام : وواپه
أَنْزَلَهُ الَّذِي يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَ
رالېږلې دې دا هغه ذات : چه پوهېږي په پټو خبرو : په اسمانونو : او په
الْأَرْضِ إِنَّهُ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿۶﴾ وَقَالُوا
زمکه کښې : یقیناً الله دې : بخښونکي : مهربانه : او وائي دوی
مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي
څه دي دې پیغمبر لره : چه خوري طعام : او ګرزي
فِي الْأَسْوَاقِ لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ
په بازارونو کښې : ولې نه نازل کړې شي ده ته : فرښته : پس شي به
مَعَهٗ نَذِيرًا ﴿۷﴾ أَوْ يُلْقٰى إِلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ تَكُونُ لَهٗ
ده سره ډارونکي : او یا ورته راغورځولې شي ده ته خزانه : او یا شي ده لره
جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ الظّٰلِمُونَ إِنْ
باغ : چه خوراک کوي ده هغه نه : او وائي ظالمان : چه تابعداري
تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿۸﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ
نه کوئ تاسې : مګر د یو سړي : چه جادو کړې شوی : وګوره : څرنګه :

عه فائده ۲ : دا لفظ نه استعمالیږي مګر د یک یو الله تعالیٰ دپاره ۲ او استعمال شوې دې نه ماضي ده فقط (مدارک شرح) لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا : چه نه ئې نیولې دې ځان ته صیانه په منزله د ولد او د روح (تفسیر بحر المحیط) لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا : چه نشي پیدا کولې هیڅ شی لره او دوی پخپله پیدا کړې شوې دي : وګورئ ځ سفحه نحل ۱۷ . لقمان ۱۱ دا زورنه ده چه معبود دې ګولانه دوی غیر الله ته اله او برکات ورکوونکي وائي او دوی هیڅ څه نشي پیدا کولې او پخپله مخلوق دي او ځان نه نقصان نشي رسه کولې او نفع نشي حاصلولې او نه څوک مړه کولې شي او نه څوک ژوندي کولې شي : وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا الخ : (حاشیه د دې لغو) : زجر دې په نه منلو د قرآن او شبهو اعتراضونه د کفارو او په دې کښې صداقت د قرآن دې او د دعوی د شبهو اعتراضونو جواب دې .

وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ الخ : دا دې خلاصه نه شبهو اعتراضونو د کفارو په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې په دې کښې جواب دې چه دا اعتراضونه الاخطاء شوي دي چه د هدایت امید نشته ❖ ❖ ❖

تَبٰرَكَ الَّذِیْ حلہ: قدوے ځائے نہ دویم باب دے ترمتہ پورے. پہ دیکښ اووۀ خبرے دی: (۱) دَمرو دَسورت ارۀ توحید حلہ (۲) زجراو تخویف دمنکرینو قیامت پہ اوۀ طریقو سرہ (۳) بشارت چہ اووۀ طریقو

ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

بیان کړی دی: تالرہ: مثالونہ، پس بے لارے شوی، پس طاقت نہ لری دوی

سَبِيْلًا ۝۹ تَبٰرَكَ الَّذِیْٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ

لارے: برکت والا دے: هغہ ذات: چہ کہ وغواړی: ورلہ کړی تالرہ

خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا

غورہ: دَدے نہ: باغونہ: چہ بهیږی لاندے دَونو دَ هغو نہ

الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ۝۱۰ بَلْ كَذَّبُوْا

ویالے: او ورلہ کړی تالرہ: ماڼۍ: بلکہ دروغژن ګڼلے دی

بِالسَّاعَةِ ۫ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ

قیامت لرہ: او تیار کړے مونږ: دَ هغہ چا دپارہ چہ دروغژن ګڼی: قیامت

سَعِيْرًا ۝۱۱ اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ ۭ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا

اور بل کړے شوے: کلہ چہ ووینی اور دوی لرہ: دَ ځائے لرے نہ: اوری بہ دوی

لَهَا تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ۝۱۲ وَاِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا

هغہ لرہ غوسہ او چغے: او کلہ چہ وغورزولے شی دوی پہ هغے کښ ځائے

ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ۝۱۳ لَا

تنګ کښ: چہ تړلی شوی بہ وی: نو بہ دوی وغواړی پہ هغہ ځائے کښ: هلاکت لرہ: (او بہ ورتہ وئیلے شی) مہ

تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا

غواړئ نن ورځ: هلاکت یو: او وغواړئ: هلاکتونہ

كَثِيْرًا ۝۱۴ قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ

ډیر: ووایہ: آیا دا غورہ دے: کہ جنت دَ همیشوالی

الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۭ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّ

هغہ چہ وعدہ ئے کړے شوے دہ متقیانو سرہ: دَے دَ دوی دپارہ بدلہ: او

مَصِيْرًا ۝۱۵ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ خٰلِدِيْنَ ۭ

ځائے دَ ګرځیدو: دوی لرہ بہ وی پہ هغے کښ هغہ څہ چہ دوی ئے غواړی: همیشہ بہ وی

(۴) تنبیہ دَ الٰهو دَ مشرکانو ورکړہ: (۵) دَ دریو منکرانو جوابونہ حلہ (۶) تخویف اخروی تفصیلی دَمنکرانو (۷) میدانِ حشر تسلی حلہ:

اِنْ شَآءَ حلہ: امام رازی رحمہ اللہ فرمائی چہ معنیٰ ئے دا دہ چہ اللہ قادر دے پہ دے باندے نہ دا چہ اللہ تہ شک کوونکے دے ځکہ چہ شک جائز نہ دے پہ اللہ تعالیٰ باندے (کبیر ۵۳/۲۳) بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ حلہ: پہ دے ځائے کښ زجر او تخویف دے منکرانو دَ قیامت لرہ اووۀ حالات ذکر شوی دی. قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ حلہ دے دوی اینونو کښ بشارت دے متقیانو لرہ او دَ هغوی هم اووۀ حالات ذکر شوی دی. دَ شاہ پور شیخ رحمہ اللہ فرمائی: دا زیرے دے منکرانو تہ چہ خوراک دَ خپل مرضی نہ ورکړی دَ هغوی دپارہ دا چې جنت تیار دے. دا ذکر دوی ډیر دا دوی دپارہ جنت کښ هغہ څیزونہ دی چہ دَ دوی پہ خوښہ وی او پہ جنت کښ بہ همیشہ وی. دا کار دوی دپارہ پہ اللہ تعالیٰ وعدہ دہ دوی بہ دَ دے مطالبہ کوی. (افضل صفحہ ۵۰) وَعْدًا مَّسْئُوْلًا: (حاشیہ دَ راتلونکی مخ ۵۸۸)

مفسرینو رحمهم اللہ پہ دیکښ دیرے وجے ذکر کړی دی. یوہ ترتیبہ دا دہ چہ متقیانو سوال کړے وو دَ اللہ تعالیٰ نہ پہ وعدہ قول خپل سرہ: رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ: او دویمہ ترتیبہ دا دہ چہ ملائکو دَ اللہ تعالیٰ نہ سوال کړے دے پہ زبان حال سرہ ځکہ چہ دوی کلہ بار کړو سخت مشقتونو پہ طاعت دَ اللہ تعالیٰ کښ نو داقائم شو پہ ځائے دَ سوال باندے. (کبیر ۲۴/۲۴) وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ: دا تخویف

اخروي دے ؛ او برائت د الهو د مشرکینو مے د دوي نه ؛ او د مَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ نه مراد
نیکان بندګان انبیاء ، عیسیٰ ، عزیر ، ملائکه علیهم السلام دي . وګورئ : مدارک (٣/١٦١) ، کبیر ، بحر
محیط ، قرطبي ، جواهر

كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔوْلًا ﴿١٦﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ
دا په رب ستا باندې ، وعده غوښتل شوې ، او په کومه ورځ چه راجمع کړي دوي
وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ
او هغه څوک چه دوي ئې عبادت کوي سوا د الله نه ، پس ووائي الله : آیا تاسو
اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰٓؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ﴿١٧﴾
ګمراه کړي وو بندګان زما ، دا ؛ آیا دوي پخپله ګمراه شوي وو د لارې نه ؟
قَالُوْا سُبْحٰنَكَ مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ
وبه وائي دوي : پاکي ده تا لره نه دي چه ښائسته وي موږ لره ؛ چه ونیسو ؛
مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ مَّتَّعْتَهُمْ وَ
سوا ستا نه ، مددګاران ؛ او لاکن نفع ورکړې وه تا دوي ته او
اٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿١٨﴾
پلارانو د دوي ته ، تر دې چه هیر کړو یاد ستا ، او وو دوي قوم هلاکیدونکي ؛
فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ
پس یقیناً دروغژن ئې کړئ تاسو په هغه څه چه تاسو وائي پس طاقت نلرئ تاسو
صَرْفًا وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا
د اړولو د عذاب ، او نه د مدد کولو ؛ او چا چه ظلم کړے وي ستاسو نه وبه څکوو هغه ته عذاب
كَبِيْرًا ﴿١٩﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ
لوئے ؛ او نه دي رالیږلي موږ مخکښې ستا نه ، پیغمبران ، مګر
اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي
یقیناً هغوي خامخا خوړل به خوړو طعام لره ؛ او ګرځیدل به په
الْاَسْوَاقِ ۭ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۭ
بازارونو کښې ؛ او ګرځولي دي موږ بعضي ستاسو د پاره د بعضو ، امتحان ؛
اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ﴿٢٠﴾
آیا صبر کوئ تاسو ؛ او دے رب ستا ؛ لیدونکے (د هر څه) ؛

ع ٢

تفسیر: اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ : آیا تاسو ګمراه هغه ته بللي وو بندګان
زما ؟ دا استفهام د پاره د توبیخ د کفارو دے .
قَالُوْا سُبْحٰنَكَ : دا جواب دے چه موږ ګمراهئ ته دعوت نه دے ورکړے بلکه سبب د ګمراهئ ئې دا دے چه تا دوي ته او د دوي مشرانو پلارانو ته نفع او فائدے ورکړے وے نو دوي خیال وکړو چه شرک حق دین دے نو هیر ئې کړو یاد ستا او توحید لره .
وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ : دا خطاب عام دے ټولو مکلفینو ته (جواهر —)

وَمَآ اَرْسَلْنَا : دا تسلي ده نبي علیه السلام ته او جواب د اعتراضونو د کفارو دے د کوم چه اول سره لګي .
فِتْنَةً : ګډ اصابه کړي شول دي . رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه چه د دي پیغور ورکولو په غریبۍ او په بازارکښې ګرځیدلو باندې یعنې الله تعالیٰ ګرځولي دي غنیان امتحان د پاره د فقیرانو پس غني کوي چا له چه خوښه شي او فقیر کوي چا له چه ئې خوښه شي .
(مدارک ١٦٢/٣)

(بعد از نماز عصر : ٢١ ذو الحجه ١٤١٦ هـ)
خاکي غفر له ولوالدیه ولمن تحب واحسن الیه .

وَقَالَ الَّذِينَ ﷲ: زجر دے کفاروتہ دَ حضری پہ غلطو مطالبو باندې: پہ ﷲ کښې جواب دے: پہ ﷲ کښې دفع دَ
یو وَهم دہ چہ دوی خپل عملونہ کړی دی: جواب دا دے چہ دَ شرک پہ وجہ ئے عملونہ دوړ دشوی دی:

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا لَوْلَا

اوو وائی هغه کسان: چہ طمع نہ لری: دَ ملاقات زمونږ: ولې نہ

أُنزِلَ عَلَيْنَا الْمَلَائِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ

نازل کړے شی پہ مونږ باندې: ملائک: او یا ولے اُونہ وینو رب خپل: یقیناً

اسْتَكْبَرُوا فِي أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْا عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾

لوئی وګڼله دوی: پہ زړونو خپلو کښې: او سرکشی وکړه دوی: سرکشی لویه:

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ

پہ کومہ ورځ چہ وینی: ملائک: نشتہ زیری خوشالی: پہ دغہ ورځ:

لِّلْمُجْرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾

دَ پارہ دَ مجرمانو: او و وائی بہ دوی: منع شوے خوشالی پہ منع کیدو لوے:

وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ

او قصد کړے مونږ: هغہ تہ چہ دوی کړی دی: دَ کوم عمل نہ:

فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ

پس کړه ولو مونږ هغہ لرہ دوړه اُوزوے شوے: خاوندان دَ جنت:

يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴿٢٤﴾

پہ دغہ ورځ: غوره بہ وی: پہ ځائے دَ اوسیدو کښې: او ښائستہ بہ وی پہ ځائے دَ آرام کښې:

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ

او پہ کومہ ورځ چہ وچوی: آسمان: پہ وریځو سره: او نازل کړے شی

الْمَلَائِكَةُ تَنزِيلًا ﴿٢٥﴾ الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ

ملائک: پہ نازلیدو سره: بادشاهی: پہ دغہ ورځ

الْحَقُّ لِلرَّحْمَٰنِ ۚ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكَافِرِينَ

حق دہ: دَ پارہ دَ مهربان: او دا ورځ: پہ کافرانو باندې

عَسِيرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ

سختہ دہ: او هغہ ورځ چہ چیچی بہ ظالمان: پہ

ﷲ کښې بشارت دے دَ ﷲ ایت سره لګی. فائده: دَ شاګرد شیخ رحمہ اللہ فرمائی چہ دا دَ هغه بنځے ګیلے دَ پارہ ۲ ذکر دے: پہ دیکښې زیات دت دے چہ مونږ دَ اللہ تعالیٰ وو وینو او دلته جواب هم ذکر دے چہ ملائک راتلی نو بیا بہ تر بیا ډکوی دری او عمل دَ مشرکانو پہ سبب دَ شرک لاس ختم دے نو دَ شرک اثر دا دے چہ مشرکان بہ دوزخ تہ ځی اول آو همیشہ بہ وی پہ هغہ کښې او دَ مشرک دَ نیک عمل هیڅ اعتبار نشتہ. او دَ توحید اثر دا دے چہ جنت تہ بہ ځی نو نیک عمل دَ موحد دَ توحید اثر نشی ختمولے یعنی موحد بہ جنت تہ ځی اګر کہ پہ کښې روګناه پہ پہ عذاب شی، یا اللہ تعالیٰ بہ موحدین معاف کړی دَ توحید دَ وجہ نہ. (افضل التراجم ...) ﷲ سورة بنی اسرائیل ئے تائید کښې وګورئ. وَيَقُولُونَ ﷲ: او بہ وائی ملائک کفاروتہ چہ منع شوے دہ خوشالی پہ تاسو باندې پہ منع والی سره (زاد الحیات ۱۶۳/۳) دویمہ معنیٰ دا دہ چہ کافران بہ ملائکو تہ وائی: پہ ګال راګیرئ مونږ تہ پوره پناه لاکن پناه بہ ورتہ نہ ملاویږی. (احسن الکلام ...) وَقَدِمْنَا: او قصد وکړو مونږ. (ابن کثیر ...) هَبَاءً مَّنثُورًا: ګرد اُوړوے شوے. یعنی باطل بہ شے ګرد شواب بہ ئے نہ وی دَ وجہ دَ نه والی دَ شرط دَ ثواب نہ چہ ایمان دے

او اخلاص دے اللہ تعالیٰ لره. (مظہری ...) وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاءُ ﷲ: دَ دے ځائے نہ بیا تخویف دے پہ ذکر کولو دَ اوو هیبتونو دَ قیامت. دَ ۲ پہ ﷲ کښې، دَ ۳ پہ ﷲ کښې، دَ ۴ پہ ﷲ کښې، بیا پہ ﷲ کښې، ...

سه دِ پښتو شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه غمام: سپینه وریځ، مراد فرښتې دی. فرښتې به په دوه مره
ویروالی سره نازلیږی چه د هغوی مجموعی هیئت به د سپینو وریځو په طور په نظر راځی: نزّل الملٰئكة
د ما قبل بیان دے او واک د

يَدَيْهِ يَقُولُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ
لاسونو خپلو: وائی به: هائے افسوس کاش چه نیولے ما وے: سره د
الرَّسُولِ سَبِيلًا ﴿٢٧﴾ يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِي لَمْ
رسول لاره: (زما تباهی) هائے افسوس: ارمان کاش چه نه ما وے
اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ اَضَلَّنِيْ
نیولے: فلانی لره: دوست: یقیناً اوګمراه کړے یم د دے
عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِيْ ۗ وَكَانَ
د یاد د الله تعالیٰ نه پس د هغه چه راغلے وُو ما ته: او دے
الشَّيْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ
شیطان: د پاره د انسان: شرموونکے: او وائی
الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا
رسول: اے ربه زما: یقیناً قوم زما: ګرځولے دے: دے
الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا ﴿٣٠﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا
قرآن لره: پریښودلے شوے: او همداسے ګرځولی دی موږ
لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ ۗ وَكَفٰى
د هر نبی د پاره: دښمنان: د مجرمانو نه: او کافی دے
بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ
رب ستا: لارښوونکے: او امداد کوونکے: او وائی هغه کسان چه
كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً
کفر ئے کړے: ولے نه نازل کړے شی په ده باندے: قرآن: په یو
وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ
ځل: د غه رنګه (نازل کړے مو) چه مضبوط کړو په ده باندے زړه ستا:
وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ
او واضح کړے (لوستے) مونږ دا په پوره وضاحت سره: او نه راوړی دوی تا ته: څه مثال لره:

تفسیر د پاره دے (جواہر ص۸۰۷)
ویوم یعض الظالم: په قیامت کښې به ظالم ارمان کوی چه ما د نبی صلی الله علیه وسلم اتباع کړے وے او د مشرکانو او بدمتیانو تابعداری نه وے کړے (افضل ص۴۰۵) فلان نه مراد عام شیطانان دی که انسی وی که جنی وی. فلانی ئے د دے وجے نه دے ویلے چه صیبت د وجے نوم د هغه ترینه هیر شوے وی یا د توهین او بے عزتی د پاره ئے او ویل (احسن ص۵۹۹).
وقال الرسول: (حاشیه) د دے معنیٰ: د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د قرآن نه. اکثر مفسرین رحمهم الله فرمائی چه دا قول واقع شوے دے په دنیا کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه: او ابو مسلم وائی چه بلکه مراد دا دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا وائی په آخرت کښې او د دا شان د دے قول دے
فکیف اذا جئنا من کل امة بشهید (النساء) خو اول خبره بهتره ده ځکه چه دا موافق ده د لفظ سره: او له دے وجے نه چه الله تعالیٰ ذکر کړے قول ئے: وکذلك جعلنا لکل نبی عدوا من المجرمین: د پاره د تسلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم: او دا لائقه نه ده مګر هله چه دا خبره واقع شوے وی دوی نه په دنیا کښې (کبیر ص۲۲/۲۳) مهجورا: علامه ابن کثیر کښې لیکلی دی چه هجران د قرآن عام دے: د قرآن د بیان په وخت کښې شور و شغب کول، په ګوسه ایمان نه راوړل، په ډیکښې
سوچ او فکر نه کول، په دے باندے عمل نه کول، د دے په بدل کښې نورو علومو او کتابونو ته توجه ورکول، د دے نه مخ اړول: دا ټول په هجران د قرآن کښې داخل دی (وګورئ ص۲/۳) حافظ ابن القیم رحمه الله هم لیکلی دی

عه چه ځواب دقران په څو قسمه دے ، اول پرځوول د اوریدو او دا ایمان او خوړ الیتو دلو نه وی . دویم پرځوول د عمل په دے او د ورید و په نزو د حلالو او حرامو دو ے اګر که لولوګل او ایمان پرے راوړی ، دریم

إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾
مګر راوړو مونږ تاته جواب حق : او ښا ئسته په بیان ګښی ؛

ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ
هغه کسان چه راجمع کړے شی دوی : په مخونو خپلو : جهنم

جَهَنَّمَ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ
ته ، دغه کسان بد دی ، په مکان کښی : او خطا دی :

سَبِيلًا ﴿٣٤﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَ
د لارے نه : او یقینا ورکړے وو مونږ موسیٰ ته : کتاب : او

جَعَلْنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا
ګرځولے وو مونږ د هغه سره ورور د هغه هارون وزیر (مددګار) : پس ووئیلے مونږ

ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا
لاړ شئ : قوم هغه کسانو ته ، چه دروغژن ګڼلی : ایتونه زمونږ

فَدَمَّرْنَٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا
پس هلاک کړل مونږ هغوی په هلاکولو سره ، او قوم د نوح ؑ هر کله چه

كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَٰهُمْ وَجَعَلْنَٰهُمْ
دروغژن ئے ګڼل رسولان ، ډوب کړل مونږ هغوی ؛ او وګرځول هغوی

لِلنَّاسِ ءَايَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا
د خلقو دپاره : نښه ؛ او تیار کړے مونږ : د ظالمانو دپاره : عذاب :

أَلِيمًا ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَٰبَ
دردناک ؛ او هلاک کړل مونږ عادیان ؛ او ثمودیان ، او خاوندان د

ٱلرَّسِّ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾ وَ
کوهی ، او پیړئ ، په مینځ د دے کښی : ډیرے : او

كُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَٰلَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا
هر یو ، بیان کړے وو مونږ هغه لره : مثالونه ؛ او هر یو تباه کړے وو مونږ :

پرځوول د فیصلے کولو په وجه او فیصلے ورکولو نه وجے نه په اصول د دین باندے او فروعو د دین کښی او دا عقیده ساتل چه دا یقین نه ورکوی او دلائل ئے لفظی دی نه احساسوی علم لره . ځلورم پرځوول د سوچ کولو او د فهم حاصلولو او د معرفت د هغه نه چه متکلم ترینه اراده کړے وی . پنځم پرځوول د شفاء حاصلولو او دوائی کولو په دے باندے په ټولو مرضونو د زړونو کښی ، پس طلبوی شفاء د مرض خپل د بل ځه نه او پریږدی دوائی کول په دے باندے . (محاسن التاویل ج ۱۳) وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا او څنګه چه مونږ ګرځولی دی دښمنان د مشرکانو د قریشو ګرځولی دی دغه شان ئے مونږ ګرځولی هر نبی لره دښمنان د مجرمانو نه (مظهری)

فائده : هر کله چه دا قسم هجران د نبی ﷺ په زمانه کښی قریشو او غیرو کړے وو نو ځکه د قوم تخصیص ئے وکړو (احسن البیان) وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ دا هم زجر دے منکرینو د قران ته او د هغوی د شبهے درے جوابونه دی ، په هغے کښی تخویف دے په دریو طریقو سره . مثل بنی اسرائیل هم اوری

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ : او نه راوړی دوی تاته هیڅ اعتراض (احسن) او نه پیش کوی دوی تاته یو مثل (مثه د اعتراض) او راتلل نکوی دوی تاته په څه شبهے (اشرف القرآن) : د تفسیر

ءَاتَيْنَا مُوسَى (حاشیه د دے ځائے نه دریم باب ترمنځ پورے ، په دے کښی شپږ خبرے دی : (۱) اول دلائل نقلیه دپاره د تخویف دنیاوی ترمنځ پورے : او د هلاک شوی قومونو ذکر ، عه

ربط (۲) زجر منکرینو ؤ رسالت لره ۳ او ؤ توحید لره ۴ - (۳) دلائل عقلیه دے ۴ نه تر ۵۰ پورې (۴) تسلی نبی علیه السلام ته ۵۱ نه تر ۵۵ - (۵) رد په مشرکو ؤ ۵۶ - (۶) زجر په انکار د توحید ۶۰ - د شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله

تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ أَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِي

هلاکول سخت: او یقیناً تیر شوی دی دوی: په کلی: هغه باندې چه

أُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا ۚ

باران کړے شوے ؤ په هغوی باران بد: ایا پس نه دی چه وینی هغه لره

بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾ وَإِذَا رَأَوْكَ

بلکه دی دوی، چه عقیده نه لرلو د بیا پورته کیدلو: او کله چه دوی وینی تا لره

إِنْ يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي

نه نیسی دوی تا لره: مګر ټوقې: وائی ایا دا هغه کس دے چه

بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ

لیږلے دے الله هغه: استاذے: یقیناً نزدې ؤ چه وا به یې ړولو مونږ د

آلِهَتِنَا لَوْلَا أَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ وَسَوْفَ

خدایانو زمونږ نه، که چرې نه وے ټینګ شوی مونږ په هغو باندې: او زر دے چه

يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ

پوهه به شی: کله چه وینی دوی: عذاب لره: چه څوک دے

أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ

ډیر خطا ؤ د لارے نه: ایا خبر یې ته د هغه چا نه چه نیولے معبود خپل

هَوَاهُ أَفَأَنْتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾

خواهش خپل لره: ایا پس ته به شے په هغه باندې: ذمه دار

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ

ایا خیال کوے ته چه یقیناً زیات د دوی نه: اوری: او یا

يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ

پوهیږی: نه دی دوی: مګر پشان د څارویو: بلکه دوی

أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ

ډیر خطا دی د لارے نه: ایا نه ګورے ته قدرت د رب خپل ته: څنګه

ع ۴

فرمائی چه "دے نبیانو خو خپل دشمن نشو هلاکولے نو دوی خو د ځان نه ضرر نشو لرې کولے نو نورو خلقو ته به څه برکت او فائده اورسوی؟ نو معلومه شوه چه فائده رسولے صرف الله صرف باری تعالی دے. د نبیانو علیهم السلام کمال دا دے چه دوی لره خدائی تعالی نیم کړی د عذاب نه. (افضل التراجم ص ۵) وزلنا: وزارت منافی د نبوت نه دے (شوکانی ص) وَأَصْحَابَ الرَّسِّ: راجح دا ده چه د قوم ثمود څه باقی مانده خلق وو چه په کوم کوهی باندې آباد وو (معارف ص، ابن جریر طبری ص) دا غوره کړے ده چه مراد د اصحاب الرس نه اصحاب الاخدود دی کوم چه په سورة بروج کښې ذکر شوی دی (ابن کثیر ص ۳۱۹ ج ۳) اصحاب الرس ته شعیب علیه السلام لیږلے شوے وو. (جواهر ص) الْقَرْيَةِ: (حاشیه ددے مخ) سدوم چه لوئے کلے د قوم د لوط علیه السلام وو (مدارک ص): هُزُوًا: دیکښې زجر دے په انکار د رسول او په استهزاء کولو په هغه پسے. اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ: چه نیولے دے معبود خپل خواهش خپل لره جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه د شرع نه خلاف د خواهشاتو پیروی یو قسم بُت پرستی ده. (معارف ص) أَلَمْ تَرَ: د دے ځائے نه عقلی دلائل ذکر کوی آلوسی رحمه الله فرمائی: ایا نه ګورے ته صنیع د رب خپل ته. (روح ص ۲۵ ج ۱۹) - د پښتو شیخ رحمه الله فرمائی چه د الله تعالی قدرت کامله ته ګوره چه څنګه ئے سورے غوړولے دے. (جواهر ص) ؎

مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ

[illegible]

جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ

[illegible]

إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ

او الله هغه ذات دے چه گرځولے ئے دی [illegible]

لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَ

ستاسو دپاره شپه جامه او خوب آرام او

جَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ

گرځولے ئے دے ورځ [illegible] او هغه هغه ذات دے چه رالیږی

الرِّيَٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِۦ ۚ وَ

[illegible] د رحمت خپل نه او

أَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْـِۧيَ

[illegible]

بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَا

[illegible]

أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ

[illegible]

بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ النَّاسِ

[illegible]

إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ

[illegible]

قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكَٰفِرِينَ وَ

[illegible]

ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ: بیا مو گرځولے دے نمر په وجه د سیوری باندے علامه. شاه صاحب رحمه الله فرمائی یعنی چه په کوم صفت بے نور تعالٰی [illegible]

وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ: او یقیناً گرځولی دی موږ دے اوبو لره. دا آیت متعلق دے ځکه چی آیت سره او ضمیر راجع دے اوبو ته چه کوم نازل شوی ذکر نه شو چه ځکه چی د واره ضمیرونه دی. یعنی اوبه د باران په قسم قسم طریقے سره گرځوو. په بعض ځمکه باران اوشی او بعض باندے او نشی او بعض باندے لږ باران اوشی او په بعض باندے ډیر اوشی. وگوری روح [illegible]

(۲) مفتی صاحب فرمائی چه باران موږ نازلوو او چرته لوند کله په یو ښار کښے کله په بل ښار کښے (معارف ۲۸۵/۶)

(۳) قرطبی رحمه الله لیکلی دی یعنی قرآن لره او د قرآن ذکر په اول سر د سورت کښے چلیدلے دے (ق ۵/۱۳) وگوری اسرار علے [illegible].

وَلَوْ شِئْنَا: په ما بعد د دلائلو عقلیو کښے. په [illegible] کښے تسلّی او تشجیع د نبی علیه السلام ده.

وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا: او جهاد کوه دوی سره په سبب تولو د قرآن سره جهاد لوئے: مفسرین رحمهم الله فرمائی چه په کښې ضمیر قرآن پاک دے: وګورئ (قرطبی ص۵۹، ابوالسعود ص۲۲۵، سراج منیر ص۲۹،

روح ص۳۴، شوکانی ص۱۱۵، خازن ص۳۴۲، ابن کثیر ص۳۱۷، ابن جریر ص۱۹)

جٰهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيْرًا ﴿٥٢﴾ وَهُوَ

جهاد کوه دوی سره په دې قرآن: جهاد: لوئے: او الله هغه

الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ

ذات دے چه یو ځائ کړی ئې دوه دریابونه، دا یو خوږ ماتونکے

فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا

د تندے: او دا بل مالګین بے خونده دے: او ګرزولې ده په مینځ د دواړو کښې

بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

پرده: او مانع: مضبوط کړے شوے. او الله هغه ذات دے چې

خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهٗ نَسَبًا

پیدا کړے ئې د اوبو نه: انسان: پس ګرځولے ئې دے: نسب والا

وَّصِهْرًا ۭ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُوْنَ

او سخرګنۍ والا: او دے رب ستا: قدرت والا. او عبادت کوی دوی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا

سوا د الله نه: د هغو چا چه نشی رسولے نفع دوی ته: او نه

يَضُرُّهُمْ ۭ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰي رَبِّهٖ

ضرر ورکولے شی دوی ته او دے: کافر: په مخالفت د رب خپل:

ظَهِيْرًا ﴿٥٥﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّ

امدادی د شیطان: او نه دے رالیږلے مونږ تا لره: مګر زیرے ورکونکے: او

نَذِيْرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔــلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ

ویروونکے: و وایه: نه غواړم ستاسو نه په دے تبلیغ باندې: هیڅ

اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَاۗءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ

اجر: مګر څوک چه غواړی: چه ونیسی: رب خپل ته

سَبِيْلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَي الْحَيِّ الَّذِيْ

لار: او توکل وسپاره: په ژوندی هغه ذات باندې چه

جهاد بالقرآن یعنی د قرآن دعوت لوئے جهاد دے (معارف ص۴۸۵) مولانا حسین علی رحمه الله فرمائیلی چه په ضمیر د قرآن مجید نه کنایه ده یعنی په دلائلو د دے، یعنی د قرآن دعوت او د دے دلائل ښه واضحه کړه دوی ته ورسوی (جواهر ص۶۵۸) او جهاد کوه د دوی سره په حکم د قرآن جهاد لوئے (انفتل ص۱۰۰) وَهُوَ الَّذِيْ مرج: کښې عقلی دلائل دی، عَذْبٌ فُرَاتٌ: خوږ قطع کونکے د تندے ډیر خوږ والی د وجے نه (ابوالسعود ص۲۲۵) ډیر خوږ (مدارک ص۱۶۱)، وَهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ او دا مالګین ډیر ترخه (مدارک)، بَرْزَخًا: پرده چه او د ځمکه ده. وَحِجْرًا مَّحْجُوْرًا او مانع منع کړے شوے چه ویشلی یو د دویم نه بل ته (ابن کثیر ص۳۲۷)، وَيَعْبُدُوْنَ الخ: دا زورنه ده په شرک فی العبادة باندې. عَلٰي رَبِّهٖ ظَهِيْرًا: او دے انسان په ګناه د رب خپل امداد کونکے د شیطان (مدارک ص۱۶۲) یعنی مګر ګروب د شیطان کوی په دشمنئ کولو د الله تعالی او په شرک کولو د هغه سره (ابن کثیر ص۳۲۲) وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ الخ: په دیکښې تسلی او صداقت د رسول صلی الله علیه وسلم دے او په دیکښې ادب د تبلیغ دے چه په اخلاص سره ئې کول پکار دی:

اِلَّا مَنْ شَاۗءَ الخ: استثناء منقطع ده او جزاء د مَنْ پټه ده: فَلْيَفْعَلْ: پس زما تابعداری دې وکړی یا اِلَّا استثناء متصله ده یعنی څه غواړم اجر د تابعداری د هغه چې چه زما په دعوت سره ایمان عمل

عه راوړي لکه چه دعوت کوونکي ته ابجملاوړي ي په مقدار دهغه چاسره چه کړه دعوت قبول کړي (احسن ۳۶۹)
په ۵۸ کښې نور دوه اډونه دي ۶: ۵۹ کښې دليل عقلي دے ۷: فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيرًا: (حاشيه وروسته مخ): دا به په

لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ۚ وَكَفٰى بِهٖ

نه مري: او پاکي وايه سره د ستاينے د هغه: او کافي دے الله تعالیٰ

بِذُنُوبِ عِبَادِهٖ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ الَّذِي خَلَقَ

په ګناهونو د بندګانو خپلو: خبردار: هغه ذات چه پيدا کړي:

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي

اسمانونه: او زمکه: او هغه چه په مينځ د دوي کښې دي: په

سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ

شپږو ساعتونو کښې: بيا: برابر دے: په عرش باندې:

اَلرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيرًا ﴿٥٩﴾ وَاِذَا قِيلَ

رحمٰن دے: پس تپوس کوه د هغه په باره کښې د خبردار نه: او کله چه ووئيلے شي

لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ

دوي ته: سجده وکوئ: مهربان ته: وائي: او څه دے رحمٰن:

اَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُورًا ۩ ﴿٦٠﴾

ايا سجده وکړو مونږ هغه شي ته چه ته امر کوے مونږ ته: او زيات کړو دوي ته نفرت:

تَبٰرَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاۗءِ بُرُوجًا وَّ

برکت والا دے هغه ذات: چه پيدا کړي: په اسمان کښې: غټ غټ ستوري: او

جَعَلَ فِيهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾ وَهُوَ

پيدا کړي په هغه کښې: ډيوه (لمر) او سپوږمۍ رڼا کوونکے: او الله هغه

الَّذِي جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ

ذات دے چه ګرزولے: شپه: او ورځ: يو بل پسے: د هغه چا د پاره چه

اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُورًا ﴿٦٢﴾ وَ

اراده لري، چه نصيحت واخلي: او يا اراده لري، د شکر کولو: او

عِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْاَرْضِ

بندګان د مهربان (الله) هغه کسان دي، چه ځي: په زمکه باندې:

معنیٰ د عنه دے. د کوم عارف خبرداره نه د الله تعالیٰ د رحمت په باره کښې تپوس کوه. يا د خبير نه مراد الله تعالیٰ دے او په ضمير به د کرشو و شيونو نه راجع دے يعني د کرشو او شيونو باره کښې د الله تعالیٰ نه سوال کوه چه هغوله ښه پيژني. (جواهر ملخص) سوال کوه په وسيله د اسم د رحمٰن او خبير حال دے. (احسن ۳۶۹)

وَاِذَا قِيلَ لَهُمُ: دا زجر دے په نه منلو د رحمٰن او په نه کولو د سجدے هغوئ ته.

تَبٰرَكَ الَّذِي ملا: د دے ځاے نه تر اخره پورے خلورم باب دے، په دے کښې پنځه خبرے دي: ۱: دعوٰی د سورة په دويم محل علا. ۲: په دے د دوه دلائل عقليه علا علا کښې. ۳: د ۵ اصفات د عباد الرحمٰن د ۱۳ نه. ۴: اشارت دوي له وشي. ۵: اخر کښې تخويف ملاء. بُرُوجًا: منزلونه د ستورو چليد وکو: (مدارک ملخص) جناب مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي: ن صباهر کله چه خلائي تجربو دا ثابته کړيده چه دے ستورو ته رسيدل ممکن شي نو د دے نه د فيثاغورس د نظريے تائيد وکړے شو چه ستوري اسمان کښې پيوسته نه دي ځکه چه د قران کريم او د احاديثو صريحو د تصريحاتو د ځنه نه اسمان دا سے يو چهارکلعه

ده چه په هغه کښې دروازے دي او په دروازو باندې د فرشتو پهره ده، په د غوهر کس داخلید سے نشي. د دے مشاهدے او تجربے په بناء د ذکرشوي ايت دا مفهوم مقرروَلے شي چه ستوري په عنه

قضاء اسمائي کښې بيد اشوی دی او داخته تاویل نه دے بلکه دداو مفهومونو نه د ئیو تعیین دے (معارف طبالي) خِلفَة: يو بل پسے، د يو بل نائب: حديث شريف کښې راځي: چه څوک په شپه کښې خپل ورد (وظيفه) د ورځې پاتے شی نو د شپے دے وکړی او چا نه چه ورد د شپے پاتے شی نو د ورځے دے وکړی: (مجموعه مشکوٰة ۱۱۲/۱

هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا

په ډمه: او کله چه خبرې کوی ورې سره جاهلان: وائي ورې چه

سَلَامًا ﴿۶۳﴾ وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ

سلام پرتاسو: او هغه کسان چه شپه تیروی د پاره د رب خپل:

سُجَّدًا وَقِيَامًا ﴿۶۴﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ

سجدې کوی او ودریږی : او هغه کسان چه وائی:

رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ

اے ربه زمونږه: واړوه زمونږ نه: عذاب د جهنم: یقینًا

عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿۶۵﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ

عذاب په هغه دے: تاوان: یقینًا دا: بد دے:

مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿۶۶﴾ وَالَّذِينَ إِذَا

ځای د قرار: او د اوسیدو: او هغه کسان چه کله

أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ

خرچ کوی: نو زیاتے نکوی: او نه کمے کوی: او دی

بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿۶۷﴾ وَالَّذِينَ لَا

په مینځ د دے کښې: برابر: او هغه کسان چه نه

يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ

بللی دوی: د الله نه سره: معبود بل: او نه وژنی

النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا

نفس هغه چه حرام کړے الله تعالیٰ (وژل د هغه) مګر په حق سره: او نه

يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿۶۸﴾

زنا کوی: او چا چه وکړه: دا کارونه: ملاقات به شی د سزا د ګناه سره:

يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ

زیاتولے به شی د ده له: عذاب: په ورځ د قیامت: او همیشه به وی:

منزل ۴

ابن کثیر ۳۲۲/۳) وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ: مخکښې ذکر شو چه په دنیا کښې برکت ورکوونکے صرف الله تعالیٰ دے اوس دلته ذکر کولے شی چه په آخرت کښې برکت ورکوونکے او رحمت کوونکے بندګان الله تعالیٰ دی: عباد الرحمٰن مرکب اضافي مبتدا دے او د دے نه پس د ټولو ایتونو روستو د یولسم ایت په سر کښې د دے خبر ذکر شوے دے، اولئک یجزون الغرفة (جوابر ۲/۲۹۰) عکبری رحمه الله فرمائی: وعباد الرحمٰن: مبتدا دے او په خبر کښې دوه وجې دی، یو دا الذین یمشون دویم اولئک یجزون او الذین یمشون صفت دے (املاء منّ ۲/۱۶۳) فائده: دلته نه مخکښې صفات د عباد الرحمٰن ذکر کوی دے په درے کښې، څلورم په ۶۴ کښې، پنځم په ۶۵ کښې، شپږم او اووم، اتم په ۶۶ کښې، نهم لسم، یولسم په ۶۷ کښې دولسم او دیارلسم په ۶۸ کښې څوارلسم په ۶۹ کښې، پنځلسم په ۷۲ کښې: هَوْنًا: په دمه تلو سره. (غریب القرآن ۳) قَالُوا سَلَامًا: (حاشیه کوم دے مخ): وائی چه تسلیم او براءت دے زمونږه ستاسو نه. (شوکانی ۹۵/۴) (وګوری قصص ۵۵). وائی دوی نیغه وینا چه روغ وی په سے، یو ګناه پکښې نه وی. (غریب ۵۵) کَانَ غَرَامًا: دے هلاکت: (غریب

شر همیشه. (فضل ۵) تاوان. (احسن ۳/۶۲) لَمْ يُسْرِفُوا: خرچ کول بغیر د طاعت د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ نه اسراف دے او بخل کول د خرچ نه په طاعت کښې التارد دے (بحر ۵/۱۲۸) یُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ: دا تخویف دے او دلیل دے په دے چه دا تیر شوی کارونه د حالت د شرک او د کفر دی.

إِلَّا مَنْ تَابَ: دا ترغیب دے توبې ته، مګر هغه څوک چه توبه او باسي د ګناه څخه نه. (خازن ۳)
يُبَدِّلُ اللهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ: بدل به کړي الله تعالیٰ بدۍ د دوی په نیکو باندې. په افضل التراجم کښې

فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَ

په هغه کښې ذلیل کړے شوے. مګر هغه څوک چه توبه ئې ایستلې او ایمان ئې راوړے وي او

عَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ

عمل ئې کړے وي عمل نیک، پس دغه کسان: بدل به کړي الله تعالیٰ

سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا

بدۍ د دوی په نیکو سره: او دے الله تعالیٰ بخښونکے

رَحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ

مهربان، او چا چه توبه وکړه او عمل ئې وکړو نیک، پس یقیناً دا

يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾ وَالَّذِينَ لَا

ګرځي الله تعالیٰ ته په ګرځیدو سره، او هغه کسان دي چه ګواهي

يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا

نه کوي د دروغو، او کله چه تیریږي په لغو باندې تیریږي

كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ

عزتمند، او هغه کسان دي چه کله نصیحت ورکړے شي په ایتونو د

رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾

رب خپل، نه پریوځي په هغو باندې کاڼه او ړانده.

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ

او هغه کسان دي چه وائي: اے ربه زمونږه! را وبخښه مونږ ته د

أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا

بیبیانو زمونږ او اولاد زمونږ نه یخوالے د سترګو، او وګرځوه مونږ

لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ

د پاره د پرهیزګارانو پیشوایان. دغه کسان: به جزا ورکړے شي دوی ته

الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا

بالاخانې، په سبب د صبر د دوی: او ملاقات به ورکړے شي دوی ته په هغو کښې

دی د دوی په ځائے به ورله بارئ تعالیٰ د نیکو توفیق ورکړي.

وَمَنْ تَابَ: تیرشوي ایت کښې توبه د مشرکانو وه، په دې کښې توبه د مؤمنانو ده.

فَإِنَّهُ يَتُوبُ: پس یقیناً دا واپس کیږي به الله تعالیٰ ته په ښه واپسۍ سره. (خازن ۳)

پس یقیناً دا توبه وباسي په ښې توبې سره یعني محمود کوونکے د عقاب او حاصلوونکے د ثواب (ابو السعود ۶)

وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ: معنیٰ ئې دا ده چه ګواهي نکوي د دروغو، او بله معنیٰ ئې دا ده چه نه حاضریږي د دروغو او ګناهونو ځایونو او مجلسونو ته. وګورئ عمر ۲۳۵، قرطبي ۱۳/۷۹. کذب نه مراد د کفارو، مشرکانو عیدونه، اخترونه، ګډسونه، میلې وغیره دي. وګورئ معارف ۶/۵۰۵، ابن کثیر ۳، اقتضاء صراط مستقیم ۱/۱۸۱، احسن الکلام ۲۷.

مَرُّوا كِرَامًا: تیریږي عزتمند، یعني مخ اړوي او نکي انکار کوونکي، نه غوره کوونکي کینا ستونکي. وګورئ قرطبي ۱۳/۸۱.

قُرَّةَ أَعْيُنٍ: یخوالے د سترګو: د الله په دا د ورور او خوښا لئي نه. (نسفي ۳)

إِمَامًا: وګرځوه مونږ لره د متقیانو د پاره امامان چه اقتدا او کړے شي په مونږ نیکے په خیر کښې (ابن کثیر ۳)

لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ: (حاشیه د راتلونکي مخ ۵۹۸) او وایه څه کوي په ستاسې رب خپل که چرے نه وي بلنه د هغه تاسو لره، ۲: که چرے نه وي عبادت ستاسې هغه لره. جواب ئې پټ دے. فَقَدْ كَذَّبْتُمْ: نو عذاب به درکړے شي. یعني اے خپل پیغمبره! تاسې ورفرمائي چه خپل رب له ستاسې پروا نشته، که چرے تاسو لره د

الله تعالیٰ له طرفه نه د توحید دعوت نه وے نو تاسو به ئے جلد هلاک کړی وې لاکن د الله تعالیٰ
قانون جاري دادے چه تر تبلیغ او دعوت نه مخکښې څوک نه هلاکوي. (جواهر بلانه، وګورئ اسلوب ۱۵)

تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ﴿٧٥﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ حَسُنَتْ

تحیه او سلام سره، همیشه به اوسیږي په هغې کښې، ښائسته ده

مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ

ځائی د قرار او د اوسیدو؛ ووایه: څه کوی به پروا ستاسو

رَبِّيْ لَوْلَا دُعَاۗؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ

رب زما که چرې نه وې بلنه (دعوت) ستاسو لره؛ پس یقیناً تکذیب وکړو تاسو،

فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

پس زر دے چه شي به عذاب نښتي به تاسو پسے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

طٰسۗمّۗ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾

دا آیتونه دي د کتاب روښانه دي؛

لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾

شاید چه ته وژونکے یې د نفس خپل لره د دې وجه نه چه دوی ایمان نه راوړي.

اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ اٰيَةً

که مونږه اوغواړو (نو) راولیږو به په دوی باندې د بره طرف نه نښه،

فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿٤﴾ وَمَا

پس شي به څټونه د دوی، هغې ته عاجزي کوونکي؛ او نه

يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ

راځي دوی ته هیڅ نصیحت، د رحمٰن نه نوے (تازه)

اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ﴿٥﴾ فَقَدْ كَذَّبُوْا

مګر دي دوی د هغه نه مخ اړوونکي؛ یقیناً دروغ اوګڼلو دوی

فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰۗؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ

پس زر دے چه راشي دوی ته خبرونه (حقیقت) د هغه څه چه وو دوی په هغې پورې

امتیازات د سورة الفرقان

(۱) نفی د شرک فی البرکات، وړومبے خطبه؛ (۲) د عباد الرحمٰن یوولس صفات؛ (۳) د مشرک ظالم ارمان مَطر؛ (۴) د پیغمبر علیه السلام درخواست مَطر؛ (۵) قرآن بیا نازل لوی جهاد دے مَطر.

سورة الشعراء: دا مکی سورة دے، ترتیب کښې ۲۶ پس د سورة فرقان نه، نزول کښې ۴۷ پس د سورة واقعه نه. وجه د تسمیه: په شعراء سره ئے دا د چه دا لفظ په آیت ۲۲۴ کښې ذکر دي.

دعوی: تسلی ده نبی علیه السلام لره په نجات د مؤمنانو او په هلاکت د مشرکانو باندې. مخ تا اود تسلی د پاره ئے اوه واقعات د انبیاء علیهم السلام او په آیت ۲۱۳ کښې دعوی د توحید ده.

ربط: (۱) په نفی د شرک فی البرکات مخکښې سورت کښې عقلي دلائل ذکر شو نو دلته په دے نقلي دلائل ذکر کوي؛ (۲) مخکښې سورت په تخویف دنیاوي ختم شو نو دلته ئے هم ذکر کوي؛ (۳) هلته صداقت د رسول علیه السلام او نو دلته تسلي ورکوي؛ (۴) هلته ئے وفرمائیل چه برکات د هغه الله تعالیٰ دے، دلته فرمائی چه په پیغمبرانو کښې برکات الله تعالیٰ اچولي وو؛ (۵) هلته ئے وفرمائیل قل ما یعبؤا بکم نو دلته ئے وضاحت او شو په دے قول سره ما یاتیهم من ذکر الآیة مَطر.

خلاصه: په دے سورت کښې ووه بابه دي: اول تر ۸ پورے، دویم تر ۱۹۲ پورے، دریم تر آخره پورې. په اول کښې خلور خبرے دي (۱) ترغیب قرآن ته مَطر (۲) تسلي او دعوه د سورت مَطر (۳) تخویف او زجر مَطر (۴) عقلي دلیل مختصر مَطر. المبین: په دے کښې اشاره ده چه په دے سورت کښې زیات تره دلائل نقلیه واقعات د انبیاء علیهم السلام دي. باخع نفسک: مَطر

شاتیں ته وژړونکے وګرځان نه د دوی د پاره په ترجمه نه کیږي ای دوی ایماندار - اِنْ نَّشَاْ اٰیَةً د فوارہ معونه لاودېلې
په دوی باندې برلاسه نه په پس د به گرزي گرځېدونه د دوی ، ډیلے د دوی ، مظهر اٰیة دوي د كوري قرطبی معنگ .

يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ
ټوکې کولې : آیا نه گوري دوی زمکې ته څومره

اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝٧ اِنَّ
زرغونې کړې موږ په هغې کښې د هر قسم ښه ښه : یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ
په دې کښې دلالت لښېدلې ده : او نه وو زیات د دوی نه

مُّؤْمِنِيْنَ ۝٨ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ
مؤمنان : او یقیناً رب ستا خامخا هغه زورور او رحم کوونکی

الرَّحِيْمُ ۝٩ وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰۤى اَنِ
مهربان دے او کله چې آواز وکړو رب ستا موسیٰ ته چې

ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝١٠ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ
لاړشه : قوم ظالمانو ته : چې قوم د فرعون دے :

اَلَا يَتَّقُوْنَ ۝١١ قَالَ رَبِّ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ
آیا نه ویرېږي دوی : ووئیل ده اے ربه زما یقیناً زه ویرېږم چې

يُّكَذِّبُوْنِ ۝١٢ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ
دروغژن به مې وگڼي دوی او تنگه به شي سینه زما او نه به چلېږي :

لِسَانِيْ فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ۝١٣ وَلَهُمْ عَلَيَّ
ژبه زما ، پس ولیږه پیغام هارون ته : او د دوی په ما باندې

ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ۝١٤ قَالَ كَلَّا ۚ
دعوه د قتل ده پس ویرېږم زه چې دوی به قتل کړي ما لره : ووئیل الله هیڅکله نه

فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَاۤ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ۝١٥ فَاْتِيَا
پس لاړشئ دواړه په معجزو زمونږ یقیناً موږ تاسو سره اورېدونکي یو : او ورشئ دواړه

فِرْعَوْنَ فَقُوْلَاۤ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٦
فرعون ته : نو ووایئ چې یقیناً موږ رالیږلي شوي د رب د مخلوقاتو یو :

ع ٥

محذوف ، تو جمع په نزول کښې د کوري سورة انبیاء ۵۵ د زوج کریمه : ای تشبیه د دې معنی : د هر قسم شته نفع مندو ، وبرو ، لقمه والانه امنڈک شي ، اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ ۲۰ ۵۸ یقیناً په دې کښې لښه د قدرت ده او نه وو زیات د دوی نه مومنان او یقیناً رب ستا زورور او ره منکر ستونه عذاب ورکونکے شي مهربان دے مومنانو لره بخښونکے شي د عذاب نه ،

فائدہ : او د دا آیتونه په دې سورت مبارکه کښې الثلثه عشر اخلی دی ، وَاِذْ نَادٰى عنا د دې نه اسے نه ترعطا ۱۹۱ پورے دویم باب دے او په دې کښې د اوو پیغمبرانو علیهم السلام نه دلائل نقلیه دي ، په دعوه د سورة فرقان چې برکات د هغه الله تعالیٰ دے ، او په دعوے د دې سورة چې تسلي ده نبي اکرم صلی اللہ علیہ وسلم لره او مومنانو لره چې الله تعالیٰ نجات ورکونکے دے دوی لره د عذاب د دنیا او آخرت نه او د دے آیت کریمه نه ترعطا پورے اوله واقعه ده د موسیٰ علیه السلام ده دپاره د تسلي چې فرعون ته حقه مسئله رسونکے وه او د فرعون د تباهي بیان هم دے . فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ : یعني جبرئیل ورولیږه او نبي ئے وګرځوه چې ځما امانت وکړي په پیغام رسولو کښې (مدارک علیہ)

فائدہ : د اطاعت د پاره

د صاورن اسباب طلبول بجانه لیول نه دي (معارف علیہ) وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ : او دوی لره په ما باندې دعوه
د قتل ده (شیخ الهند) د دوی په خیال کښې ځکه د دوی مجرم یم (ماجدی علیہ) دوی لره په ما باندې جرم دے
د دوی په خیال کښې (کبیر علیہ ، روح ۲۷) فائدہ : په عطا کښې اول خوف او په عطا کښې دویم دے

أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَآءِيلَ ﴿١٧﴾ قَالَ

چه راپرېږده ! موږ سره : بني اسرائيل ، ووېل فرعون

أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا

ايا نه يې ته مونږ تا لوی کړی په کور کښې زموږ په واړوکوالي کښې : او اوسېدلی ئې ته په موږ کښې

مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ

د عمر ستا نه : ډير کلونه ، او وکړې تا : کار ستا :

الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾ قَالَ

هغه چه کړی وو ستا : او ته يې د ناشکرو کسانو نه ، ووېل موسىٰ

فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ

کړی وو ما هغه کار په هغه وخت کښې : او زه وم د ناخبرو نه : پس لاړم زه د

مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا

ستاسو نه کله چه وويريدم ستاسو نه : پس ورکړه ماته ، رب زما : پوهه (علم)

وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ

او وګرځولو ما لره : د پيغمبرانو نه ، او دا احسان دی

نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَآءِيلَ ﴿٢٢﴾

چه ته يې په ما باندې ګوتې ږدې : چه غلامان دې جوړ کړي دي بني اسرائيل لره

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ

ووېل فرعون : او څوک دی رب د عالمينو ؟ : ووېل موسىٰ

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

اختيار والا د اسمانونو : او د زمکې : او د هغه چه په مينځ د دواړو کښې دي

إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ

که يئ تاسو يقين کوونکي : ووېل فرعون هغه ته چه چاپېره د هغه وو

أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ

ايا تاسو نه اورئ ؟ ووېل موسىٰ : رب ستاسو دے او رب

سره خوف د موسىٰ علیه السلام ذکر کړو ے . په علاوه ئې دوه مقصدونه د رسالت ذکر شوي دي . چه دا وائي د فرعون شبهه دی . وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ د (حاشيه د دے مقام): علامه خازن رحمه الله او اکثر مفسرين فرمائي چه : ته يې د انکار کوونکو نه نعمت حق لره او حق د تربيت زما لره . (خازن ج۳) . قَالَ فَعَلْتُهَا : دويم اعتراض چونکه په عصمت کښې عيب لګولے وو ، د دے وجے نه دے د جواب مکمل کړو . (جواهر ص۲۱۱) فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ، کړے وو ما دغه کار په دغه وخت کښې او زه د ناخبرو نه وم او چه شروع په قتل ته رسيدو ئې څکه چه شروع وهل د ياره د ادب کولو وو او کوم دي . روح . مدارك جلد ۱ . کبير ص۲۲ ؛ فائده : جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي خلاصه دا دے چه د نبوت منافي قصدي قتل دے او دا قتل بلا اراده شوے دے چه منافي د نبوت سره نه دے . حاصل دا شو چه ولله د ضلال معنى ناخبري ده او دلته نه مراد د قبطي قتل کول بلا اراده دي . د دے معنے تائيد د حضرت قتاده او ابن زيد د روايات نه هم کيږي چه په اصل کښې په عربي کښې د ضلال څو معنے رازي او په هر ځائے کښې د دے معنى ګمراه هو نه کيږي ، د دے وجے نه ترجمه ګمراه کول درست نه دي (معارف ج۶) . فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ : پس لاړم ستاسو نه يعني وتلم د مينځ ستاسو نه مدين ته وګورئ (قصص ۲۱) (شرکان ص۹۱) وَتِلْكَ نِعْمَةٌ : دا جواب د اولے شبهې دے . د تيسير شيخ رحمه الله فرمائي : يعني ستا دا احسان لشته د دے وجے نه چه تا زما قوم ذليل او رسوا کړے وو ، تا په دوی ظلم او ستم کولو ، تا به ځما د قوم نوي پيدا شوي ماشومان وژل ؛ د دے وجے نه ستا ظلم او عدوان واضح حالت دے ، اګر چه ځما مور او پلار ځما تربيت نشو کولے چرے ستا د ظلم او جور نه پس نو ځما پرورش به ځما مور او پلار کولے (جواهر ص۸۱۳) دا استفهام تقريري دے

سه یعنی اقرار دے په احسان د فرعون ہانو چه تا د نورو بنی اسرائیلو نه خدمتګاران جوړ کړی وُو او څه
وِ د دے نه معاف کړے وُم. د احسان ستا منم. (۲) استفهام انکاری دے : یعنی دا څه احسان دے چه په

أَبَآئِكُمُ الْأَوَّلِينَ (٢٦) قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي
د پلارانو ستاسو مخکینو دے. وویل فرعون: یقیناً رسول ستاسے، هغه چه :

أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ (٢٧) قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ
لیږلے شوے تاسو ته، خامخا لیونے دے. وویلے موسٰی رب د مشرق :

وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ إِنْ كُنْتُمْ
او د مغرب دے : او هغه چه په مینځ د دوی کښ دی: که یئ تاسو :

تَعْقِلُونَ (٢٨) قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا
چه عقل لرئ. وویلے فرعون: که چرے وبنیولو تا : معبود کار :

غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ (٢٩)
بغیر زما نه، خامخا یقیناً و به ګرځوم تا (په) د قیدیانو څخه شوو نه :

قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُبِينٍ (٣٠) قَالَ
وویلے موسٰی: آیا اګرچه پیش کړمه تا ته شئ (دلیل) : واضحه ؛ وویلے فرعون :

فَأْتِ بِهِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ (٣١)
پس راوړه هغه، که یئ ته : د رښتونو نه :

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُبِينٌ (٣٢)
پس وغورزوله امسا خپله : پس ناګهانه هغه، اژدها ښکاره وه :

وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ (٣٣)
او راوویستو لاس خپل. پس ناګهانه هغه سپین وو : د پاره د کتونکو :

قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ (٣٤)
وویلے فرعون سردارانو ته چه چاپیره وو د ده نه : یقیناً دا ، خامخا جادوګر پوهه دے :

يُرِيدُ أَنْ يُخْرِجَكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِ
اراده لری، چه راوباسی تاسے له د زمکے ستاسے نه، په جادو خپل :

فَمَاذَا تَأْمُرُونَ (٣٥) قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ
پس څه امر کوئ تاسے ما ته ؛ وویلے دوی : مهلت ورکړه ده ته او ورور د ده ته

ماہانہ زبا تو ہے بلکہ تا خو قوم اختتل د بنی اسرائیلو نه نسو هغوی په زمیندارئ وغیره خدمتونو کښ مال ګټلو نو تا به هم خوړله او خکله نو حقیقت کښ د بنی اسرائیلو احسان دے ستا باندے او په ما باندے. وګورئ احسن الکلام ملـ۲۲۲ مـلـ۳ ج ۳، قرطبی ملـ۹۵ ۹۶. شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل یعنی زما قوم ګټلے دے او تا غصب کړے دے یعنی ته د قوم دوی په ما زیاتے دے ، د اکمال مناظره ده. (الفتح الرحمان ملـ۱۶۸).

قَالَ رَبُّكُمْ : دا اول سوال دے فرعون وه : او بیا د موسٰی علیه السلام جواب کښ دلائل عقلیه بره ، نکته او مینځنی دی.

قَالَ لَا : دا بعینه طریقه د ابراهیم علیه السلام د نمرود سره وه. وګورئ ملـ۲۵۸ بقره : کسیلسل معراج منیر مـا. لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا (حاشیه ګورے محمو) ؛ بل خدائی (الفضل) بل اختیار رضی (احسن) بل حاکم (جواهر) أَوَلَوْ جِئْتُكَ : معنی دا ده : آیا ته به دا کوے اګرچه زه را غلے یم تا ته په دلیل واضح. (خازن مـلـ۳) په ملـ۳۲ ملـ۳۳ کښ د موسٰی علیه السلام دوه معجزے دی ؛ د ملـ۳۴ نه الزامه د فرعون دے په موسٰی علیه السلام . په انفضل التراجم ملـ۵۵ کښ دی : یعنی د ملک قبضه کوی او کرسئ غواړی ، د دین د ده غرض نه دے ـ

منزل ٥

قَالُوا أَرْجِهْ : سورة اعراف ملـ۱۱۱ وګورئ ؛

وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ
او ولیږه په ښارونو کښې : راجمع کوونکي : چې راولي تاته
بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ
هر ښه جادوګر پوه : پس راجمع کړے شو جادوګر د وخت مقرر د
يَوْمٍ مَعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنْتُمْ
ورځې معلومې ته ، او وویلے شو خلقو ته ، آیا تاسو
مُجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ
راجمع کیدونکي یئ ؟ شاید مونږ تابعداري وکړو د جادوګرو ، که چرې
كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ
شي دوی : غلبه کوونکي : پس هر کله چې راغلل جادوګر :
قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِنْ كُنَّا
وویلے دوی فرعون ته : آیا مونږ لره به خامخا بدله وي ، که چرې شو
نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا
مونږ غالب : او وویلے هغه : آو : او یقیناً تاسو به بیا خامخا
لَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُمْ مُوسَىٰ أَلْقُوا
خامخا د نزدې کړے شوو نه یئ ، وویلے دوی ته : موسیٰ : وغورځوئ
مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَ
هغه چې تاسو یئ غورځونکي ، پس وغورځولے دوی رسۍ خپلې : او
عِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ
همسا ګانے خپلې : او وویلے : په عزت د فرعون باندې : یقیناً مونږ خامخا مونږ
الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا
غالب یو ، پس وغورځوله موسیٰ همسا خپله : پس ناڅاپه
هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِيَ
هغه ، تیروله ، هغه چې د ګمان نه دوی جوړ کړي وو ، پس وغورځولے شو

لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَعْلُومٍ : سورة طٰه ۵۹ وګورئ :

فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ : معلومه شوه چې باطل پرست د دنیا غرضیان وي . قَالَ لَهُمْ مُوسَىٰ : دلته پټ عبارت دے . وګورئ طٰه ۶۵ اعراف ۱۱۵ : بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ : او دا قسم د قسمونو د جاهلیت دے (روح المعاني)

فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ : دا مضمون سورة طٰه کښې د ۶۹ نه وګورئ

❊ ❊ ❊

السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ
جادوگر : سجده کوونکی ؛ ووېل دوی : ایمان راوړے مونږ په رب د
الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالَ
مخلوقاتو ؛ چه رب د موسیٰ او د هارون دے ؛ ووېل فرعون
اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ
آیا ایمان راوړو تاسو ده ته ؛ مخکښې د اجازت ورکولو نه تاسو ته ؛ یقیناً دا
لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ
خامخا مشر ستاسو دے ؛ چه ښودلے دے تاسو ته جادو ؛ پس یقیناً زر دے چه
تَعْلَمُوْنَ ۬ؕ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ
پوهه به شئ تاسے ؛ خامخا یقیناً پرې به کړم لاسونه ستاسو ؛ او پښې ستاسو ؛
مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٤٩﴾
اړول سره ؛ او خامخا یقیناً به دار کړم تاسو ټول لره ؛
قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿٥٠﴾
ووېل دوی ؛ هیڅ پروا نشته ؛ یقیناً مونږ به رب خپل ته ؛ واپس کیدونکی یو ؛
اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ
یقیناً طمع کوو ؛ چه وبښي مونږ ته ؛ رب زمونږ ؛ ګناهونه زمونږ ؛ یقیناً
كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥١﴾ ۧ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى
یو مونږ ؛ اول ؛ د مومنانو نه ؛ او وحي وکړه مونږ ؛ موسیٰ ته
مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٥٢﴾
چه ؛ د شپې بوزه ؛ بندګان زما ؛ یقیناً تاسے به د تعقیب کړې شئ ؛
فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى الْمَدَآئِنِ
پس ولیږل ؛ فرعون ؛ په ښارونو کښې ؛
حٰشِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ
راجمع کوونکی ؛ یقیناً دا کسان ؛ خامخا ډله

ع ٢

قَالُوْا لَا ضَيْرَ : ساحرانو ووېل پروا نشته مونږ به خپل مولیٰ ته واپس شوو زمونږ د خپل مولیٰ نه طمع ده چه خدای زمونږ ګناهونه معاف کړي ځکه مونږ به دے موقعه د ټولو نه اول ایمان راوړو ۔ فائده : دا خپل عمل وسیله کول دی معافۍ ته ۔ (فضل ترجم ص...)

وَاَوْحَيْنَآ : د دے آیت نه بیان نجات د مومنانو دے د فرعون نه ... او د غرق نه ... او بیان د فرعون د هلاکت ...

لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ : دا بني اسرائیل و لږ شپږ لکه وو (غریب القرآن ص...) او دا هم کیدے شي چه مراد د قلت نه ذلت دے ، نه قلت د شمیر (کبیر ص...)

✣ ✣ ✣ ✣

وَإِنَّهُمْ لَنَا ۵۵: او یقیناً دوی مونږ لره خامخا غصه راوستونکی دي. (الشیخ القرآن) وَإِنَّا لَجَمِيعٌ: او
یقیناً مونږ ټول ډله دي نه خطره لرو. (الشیخ الهندی) او مونږ یو جماعت یو بیدار تیار. (الشیخ) او مونږ

فَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَ
لږ کسان دي: او یقیناً دوی مونږ لره غصه راوستونکي دي: او

إِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن
یقیناً مونږ ټول یو بیدار تیار: پس راوویستلو مونږ دوی لره، د

جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ
باغونو، او د چینو نه: او د خزانو، او ځای

كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾
عزتمند نه: دغه شان وو کار، او په میراث کړل مونږ دغه بني اسرائیلو ته:

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ
پس روان شو دوی په شا پسې د نمر ختلو وخت کښې: پس هرکله چه مخامخ شو دواړه ډلې

قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾
وویل: ملګرو د موسیٰ: یقیناً مونږ خامخا راګیر کړے شو:

قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾
وویل موسیٰ: هیڅ کله: یقیناً ما سره رب زما دے: یقیناً زر به وښائي ماته

فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب
پس وحی وکړه مونږ: موسیٰ ته: چه وواهه:

بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ
په امسا خپله دریاب: پس اوچوده: پس شو هر

فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ
ټکړه په شان د غونډۍ لوئي: او نژدې کړه مونږ هلته:

ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن
نور کسان: او خلاص کړه مونږ موسیٰ او هغه چه

مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٦﴾
ملګری وو د ده: ټول: بیا ډوب کړه مونږ: نور و لره:

ټول ډله دي نه ویریږو. (الشیخ) فَأَخْرَجْنَٰهُم: سورة دخان ۲۵ ۔ ۲۸ کښې وګورئ. وَأَوْرَثْنَٰهَا ۵۹: سورت اعراف ۱۳۷ کښې بیرشوی دی او دخان ۲۸ کښې راغلی. فَأَتْبَعُوهُم: پس روان شو فرعونیان په بني اسرائیلو پسې په داسې حال کښې چه نمر ختونکی وو دوی په وخت د ختلو د نمر کښې، حاصله معنیٰ داده چه ورپسې شو په وخت د سحر حال: إِنَّ مَعِىَ رَبِّى: یقیناً ما سره رب زما دے په امداد کولو سره په دشمن باندې. (قرطبی ۱۳۷ ج ۱۳) په نصرت کولو او لار به ښودلو سره. (الشوکانی ۱۰۸ ج ۴) فَٱنفَلَقَ: د دې نه مخکښې عبارت پټ دے، یعنې دریاب ئے او واهلو پس اوچود شو.

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ: (حاشیه د راتلونکی مخ ۶۰۴): دا دواړه آیتونه په دویم ځل ذکر شو. یعنې په دې واقعه د فرعون کښې عبرت دے.

وَٱتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَٰهِيمَ ۶۹: دا دلیل نقلی دریم نمبر د ابراهیم علیه السلام نه چه دا مسئله د توحید نو ے مسئله نه ده، ابراهیم علیه السلام چه تاسو منئ هغه دا مسئله قوم ته کړې ده چه دا غیر الله نه نفع رسولے شي او نه ضرر. نو معلومه شوه چه برکات ورکول نیکے بے د الله تعالیٰ نه بل څوک نشته (افضل ۲۵۶): مَا تَعْبُدُونَ: "ما" سره تپوس د وجے د عبادت مقصد دے یعنې څه وجه

(بقيه دَ دے مخ): او دليل دے دَ دوی په عبادت باندې او دَ دعوی دَ جواب حاصل دا دے چه دا دَ
بزرګانو او دَ کواکبو (ستورو) دَ روحانيت مرکزونه دی چه دَ دوی تعظيم په مونږ باندې لازم دے ۔ (احسن

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم
يقيناً په دېکښې : خامخا نښه ده ؛ او نه وو : زياتے دَ دوی نه
مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ
ايمان راوړونکي : او يقيناً : رب ستا خامخا هغه : زورور دے : او
الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾
مهربان دے : ولوله : په دوی باندې : خبر دَ ابراهيم ؏
إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٧٠﴾
کله چه ئے وويل : پلار خپل ته : او قوم خپل ته : دَ څه عبادت کوئ تاسو ؟
قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَاكِفِينَ ﴿٧١﴾
وويلے دوی : عبادت کوو دَ بتانو : پس هميشه يو دوی ته : چپه ګوټ کښيني :
قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿٧٢﴾
وويل ابراهيم : آيا اوري دوی ستاسو : کله چه بلل ئې دوی لره ؟
أَوْ يَنفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا بَلْ
او يا نفع درکوی تاسو ته : او يا ضرر رسوی تاسو ته : وويلے دوی : بلکه
وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ
موندلی دی مونږ : پلاران خپل چه دغه رنګے ئې : کول به : وويل ابراهيم
أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمْ وَ
آيا خبر يئ تاسو د هغې : چه تاسو ئے عبادت کوئ : تاسو : او
آبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ
پلاران ستاسو : پخواني : پس يقيناً دوی : دښمنان دی
لِّي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿٧٧﴾ الَّذِي خَلَقَنِي
ځما : لاکن : رب دَ مخلوقاتو : هغه ذات دے چه پيدا کړے ئے يم زه
فَهُوَ يَهْدِينِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَ
پس هغه لاره ښائي ماته : او هغه ذات دے چه هغه خوراک راکوی ماته : او

مکي ع٣) سورة ١ إنا مکنهم هم دا مضمون ذکر شوے دے. لَنَظَلُّ : پس همیشه به يو دوی سره جخت ناست يو (موضح ١٦) خکه چه دوی به ئے عبادت کاوه دَ ورځے نه تر شپے پورے (بحر ک ١٦) پس هميشه يو دوی له راجخت. لَنَظَلُّ ولته په معنیٰ دَ نَدوم دے. (مظهری ٥٦)، قَالُوا وَجَدْنَا : مطلب دا چه نه اوري او نه نفع ورکوے شی او نه ضرر : او مونږ ئے عبادت دَ وجے دَ يو شی دَ دغو نه کوو بلکه مونږ موندلی مو دی شان خپل چه دغه ئے کول، پس تقليد مو وکړو دَ دعوی (ابن کثير ١٤٠) ابراهيم عليه السلام ورته په جواب کښې اوفرمائي چه دغه دليل نه دے کيدے ؛ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي : کله چه مشرکانو دَ خپلو معبودانو دَ عجز اعتراف وکړو نو حضرت ابراهيم عليه السلام وفرمائيل چه دَ کوم معبودانو تاسو او ستاسو پلاران اونيکونه عبادت کوئ چونکه دغه دَ خپلو عبادت کونکو او ازنه اوری او نه دَ دوی نفع نقصان دَ دوی په اختيار کښې دے دَ دے وجے نه ما ته دَ دا سے معبودانو نه سخت نفرت او عداوت دے، إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ : مستثنیٰ منقطع ده البته دَ رب العلمين دَ عبادت او دَ ده نه نفرت نشته (ابو الجرير ٢٤) : يا معنیٰ دا شو چه کوم
خلق چه دغو عبادت وکړم نو دا به ځما دښمنان جوړ شی - قرينه ئے دا دَ سورت احقاف دے.

فائده : دَ دے نه دَ رب العلمين اته صفات ذکر کوی : دوه په عدم کښې ، دوه په ملک کښې يو په ملک کښې ، دوه
په ملک کښې او يو په عدم کښې ۔

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ: دلته سوال راځي چه مرض هم د الله تعالی له طرفه دے نو ولے ئے ځان ته نسبت وکړو. علامه خازن رحمه الله فرمائي چه نسبت د مرض ئے ځان ته وکړو د پاره د استعمال د ادب اګرچه مرض او شفاء دواړه د الله نه دي. (خازن ۳/۴۴) دغه رنګے امام قرطبي رحمه الله هم لیکلي دي. (قرطبي ۱۳/۱۱۱) وَالَّذِي أَطْمَعُ: او هغه ذات د چا نه چه طمع لرم چه و به بخښي ما ته خطا. طمع یعني امید لرم. (قرطبي ۱۳/۱۱۲) خطاء نه مراد ترك الاولی دے (ابن کثیر) ځکه چه د پیغمبر نه ګناه نه وي اګرچه صغیره وي. (فضائل ص ۳۱۵) رَبِّ هَبْ لِي: جوهر علما ليکلي دي چه د حکم نه مراد کمال په علم کښې او الحقني بالصالحين نه مراد کمال په عمل کښې. لِسَانَ صِدْقٍ: ژبه د رښتیا ده يعنے ذکر د خير (ابن عباس) ثناء د خير. لستکي رحمه الله فرمائي: قول دیندار دي سره دوستي لري او ثناء وائي په دوي باندې او ګیخو سے شو لسان په ځنے د قول ځکه وینا په ژبه کیږي. (مرقاة) نیکي ئي ما لره راکړه چه خلق زما تا بعداري کوي په دين کښې. (تفسیر ابن کثیر) وَاغْفِرْ لِأَبِي: ابراهیم علیه السلام خپل بابا لره دعا د وجه د يو وعدے نه کړے وه. سورت مریم کښې تیر شوي دي، باقي سوال او جواب سورت توبه ۱۱۴ کښې تیر شویدے. وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ: او مه شرموه ما لره په هغه ورځ چه دوي دوباره را ژوندي کړے شي.

يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ
خو دغه شفا راکوي ما لره : او کله چه ناجوړه شم زه : پس هغه :
يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ
شفا راکوي ما ته : او هغه ذات چه مړ کوي ما لره : بیا
يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي
ژوندي کوي ما لره : او هغه ذات چه طمع لرم : چه بخښنه به وکړي ما ته
خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِي
د خطا ځما : په ورځ د بدلے : اے ربه زما او بخښے ما ته :
حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَل
فیصله : او پیوسته کړه ما لره : نیکانو سره : او وګرځوه :
لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَ
ما لره ذکر د رښتیا : په روستنو خلقو کښې : او
اجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾
وګرځوه ما لره : د میراث والو نه : د جنت د نعمتونو :
وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾
او بخښنه وکړه پلار زما ته : یقیناً وو دے : د ګمراهانو نه :
وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ
او مه شرموه ما لره : په کومه ورځ چه را پاڅولے شي خلق : په هغه ورځ چه نفع نه ورکوي
مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ
مال : او نه ځامن : مګر هغه څوك : چه راشي الله تعالی ته :
بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ
په زړه : روغ پاك : او نزدے به کړے شي : جنت :
لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾
پرهیزګارانو ته : او ښکاره به شي : دوزخ : سرکشانو ته :

فائده: په دې کښې دعا ده د شرمندګۍ نه خپل دي او دا رنګه شرمندګي د عذاب د پلار ده دوه په مخکښې یوه صحیح حدیث کښې راځي. مضمون ئے دا دے چه ابراهیم علیه السلام به خپل پلار لره په نا کاره حالت کښې وویني نو دعا به وکړي چه اے ربه! تا ما سره وعده کړے وه چه تا به قیامت کښې نه شرمنده کوم چه

ف٥ یعنی د دعا د څما قبوله کړے وه نو د دے نه لوئے شرم کوم دے چه څما پلار څما په وړاندو
په دا سے بد حالت کښې جهنم ته ورځي نو الله تعالی به د پلار د ابراهیم علیه السلام صورت بدل کړي په ناکاره

وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَمَا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن

او وبه ویلے شي دوي ته: چرته دي هغه: چه تاسو یے عبادت کوئلو: سوا

دُونِ اللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ

د الله تعالی نه: ایا امداد کوي ستاسو: او یا

يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوا فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُونَ ﴿٩٤﴾

بدله اخستے شي؟ پس نسکور به کړے شي دوي به دوزخ کښې: او سرکشان:

وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا وَهُمْ

او لښکرے د ابلیس: ټول: او به وائي دوي: او دوي به

فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي

په هغه کښې: جګړے کوي: قسم دے الله تعالی: یقیناً وو مونږ: خامخا په

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ

ګمراهئ: ښکاره کښې: کله چه برابر وو مونږ تاسو: د رب د

الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾

مخلوقاتو سره: او نه دي بے لارې کړي مونږ: مګر مجرمانو:

فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ

پس نشته مونږ لره: سفارش کونکي: او نه دوست:

حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ

ګرم (خالص): پس که چرے وے مونږ لره: واپسي دنیا ته: نو شو به مونږ: د

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَ

ایمان والو نه: یقیناً په دے کښې: خامخا نښه ده: او

مَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ

نه وو: زیات د دوي نه: ایمان دار: او یقیناً

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ كَذَّبَتْ

رب ستا: خامخا: زور اور: مهربان دے: دروغجن ګڼلي وو

ع ٥

شکل سره ترو ے چه د ابراهیم علیه السلام به ترے نفرت پیدا شي او جهنم ته به وغورزولے شي او ابراهیم علیه السلام به بے په دغه حالت کښې تر پیژني نو د شرمندګئ نه به په دا سے طریقے سره بچ شي. (حسن الکلام ۳۳۸/۲) (ختم وائي ډګوري دا حدیث په ۳/۳ ابن کثیر کښې. بقلب سلیم) په خالص وي د شرک او د شرک نه. (خازن ۳۹/۳) ف٦ کښې بشارت مختصر او بیا ف٧ نه تخویف تفصیلي دے. فکبکبوا: (حد شیه ډ ده ف٨). پس نسکور به کړے شي په دوزخ کښې. (غریب ۴۱۶/۳) فما لنا من شافعین: ف٩ ف١٠ کښې د دے طریقے د جګړے ذکر کوي خو دوي ته هیڅ فائده نشي رسولے، شفاعت، دوستانه او نه ورته بیا واپسي. کذبت قوم نوح: ف١١ دا د رسم ولید نقلي دے د نوح علیه السلام نه او د عذاب د دنیا وي بیان هم دے. په دے بیان کښې اصیبت د توحید د مسئلے دے چه دا دا لویه مسئله ده چه د دے نه منونکي الله تعالی هلاک او د دے منونکي باري تعالی بچ کړي نو په دے بیان کښې نبي علیه السلام او هم داعي

ته روستو د نبي علیه السلام نه تسلي ده چه مخالفین به ضرور ډیل کیږي او داعي لره به الله تعالی کامیاب بوي. (افضل التراجم ۵۱۵/۳)

قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ۝١٠٥ إِذْ قَالَ لَهُمْ

قوم د نوح (علیه السلام) لېږلي شوي لره : کله چې ووېلے : دوی ته

أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۝١٠٦ إِنِّي لَكُمْ

ورور د دوی : نوح (علیه السلام) : ایا تاسو نه وېرېږئ د الله نه ؟ یقیناً زه تاسو لره

رَسُولٌ أَمِينٌ ۝١٠٧ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝١٠٨

استازے : امانتدار یم : پس وېرېږئ د الله نه : او تابعداري وکړئ زما :

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ

او نه غواړم زه له تاسو په دې تبلیغ : هیڅ اجر : نه دے اجر زما :

إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝١٠٩ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَ

مګر په : رب د عالمونو باندې : پس وېرېږئ د الله نه : او

أَطِيعُونِ ۝١١٠ قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ

تابعداري وکړئ زما : ووېلے دوی : ایا ایمان راوړو مونږ : او حال دا چې تابعداري کړې

الْأَرْذَلُونَ ۝١١١ قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا

سپکو خلقو : ووېلے نوح (علیه السلام) : او نشته علم زما په هغه چې دوی به

يَعْمَلُونَ ۝١١٢ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي

کول : نه دے حساب د دوی : مګر په رب زما :

لَوْ تَشْعُرُونَ ۝١١٣ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ۝١١٤

که چرې تاسو پوهېدلئ : او نه یم زه : شړونکے د مؤمنانو :

إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ ۝١١٥ قَالُوا لَئِنْ

نه یم زه : مګر وېروونکے : ښکاره : ووېلے دوی : که چرې

لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ۝١١٦

منع نشوې ته اے نوحه (علیه السلام) : یقیناً شې به ته : د رجم کړے شوو نه :

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ۝١١٧ فَافْتَحْ

ووېلے نوح (علیه السلام) : اے ربه زما : یقیناً قوم زما دروغژن کړم زه : پس فیصله وکړه :

الْمُرْسَلِينَ : تاسو جمع ځکه فرمائی چې تکذیب د یو پیغمبر ټولو پېغمبرانو تکذیب دے ځکه چې اتفاق د ټولو دے په اصولو د شرائعو کښې چې هغه نفی د شریک ده او اثبات د باری تعالیٰ او توحید د هغه دے . (محاسن التاویل ص١٣)

الْأَرْذَلُونَ : جمع د أرذل ده یعنی کم په مرتبه او مال کښې (ابن مسعود ص٢) سورة هود ع٣ وګورئ :

وَ فَتْحًا بَيْنِي : هر کله چې نا امید وشو د ایمان د قوم خپل نه په سبب د وحی د الله تعالیٰ هغه ته : لکه هود ع٣ کښې دی نو بنیرے ئے وکړے د هلاکت د پاره د کفارو او دعا ئے وکړه د پاره د نجات د مؤمنانو : نو الله تعالیٰ ئے د واړه دعاګانے قبولے کړے ع١١ مثلاً کښې : وګورئ هود ع٣ ع٤ ، سورة نوح ع٢ ع٢٥ ✧

✧ ✧ ✧

بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَنْ
په منځ زما او په منځ د دوی کښې فیصله او بچ کړه ما او هغه څوک چه
مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن
ملګری زما دی د مؤمنانو نه پس بچ کړو موږ هغه او هغه څوک
مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا
ملګری د ده وو په بیړۍ ډکه کړے شوے کښې بیا ووب کړل موږ
بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً
پس د دے نه باقی خلق لره یقیناً په دے کښې خامخا نښه ده
وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ
او نه وو زیات د دوی نه ایمان دار او یقیناً
رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ كَذَّبَتْ عَادٌ
رب ستا خامخا هغه زورور مهربان دے دروغ ګڼړل قوم عاد
الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ
پیغمبرانو لره کله چه ووئیل دوی ته ورور د دوی هود
أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾
ولے نه ویریږئ د الله نه یقیناً زه تاسو لره استازے امانت دار یم
فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ
پس ویریږئ د الله نه او زما منئ خبره او نه غواړم زه د تاسو نه
عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ
په تبلیغ باندے څه مزدوری نه ده بدله زما مګر په
رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ
رب د مخلوق ترباندے آیا جوړوئ تاسو په هره غونډۍ
آيَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ
نښه بے فائدے کارکوئ او جوړوئ تاسو ماڼۍ

كذبت عاد ١٢٣: دا څلورم دلیل نقلی دے د هود علیه السلام نه او په دے دلیل کښې د عذاب دنیاوی هم بیان دے۔ (افضل التراجم ص٩١٩) او ١٢٣، ١٢٥، ١٢٦، ١٢٧ ایتونه پشان د مخکنو ایتونو دی کوم چه د نوح علیه السلام په واقعه کښې تیر شوی دی۔ بكل ريع ١٢٨: هره غونډۍ (شیخ القرآن رحمه الله) په لوړ ځائے (جواهر القرآن)۔

مَصَانِعَ: بنګلے، ماڼۍ عالی شان محلات۔

وَإِذَا بَطَشْتُمْ : محکښې بَطَشْتُمْ شرط او دویم جزا ده او جَبَّارِيْنَ دَ دویم بطشتم دَ فاعل نه حال دے . یعني دَ دولت او ریاست په نشه کښې په غریبانانو باندې ظلم او جبر هم کوئ (جواهر القرآن)

لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ﴿١٢٩﴾ وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ

دَ همېشه پاره چه تاسو به همېشه اوسئ : او کله چه حمله کوئ تاسې ، نو حمله کوئ تاسې :

جَبَّارِيْنَ ﴿١٣٠﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوْنِ ﴿١٣١﴾

ظلم کوونکي : پس ویرېږئ تاسې دَ الله تعالیٰ نه : او اطاعت وکړئ زما :

وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾

او ویرېږئ دَ هغه ذات نه : چه امداد ئے کړے ستاسې : په هغه نعمتونو چه تاسې پرې پوهېږئ

أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنّٰتٍ وَّ

امداد ئے کړے تاسو : په څارویو او په ځامنو : او په باغونو : او په

عُيُوْنٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّيْٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

چینو باندې : یقیناً زه وېرېږم : په تاسو باندې : دَ عذاب دَ ورځے :

عَظِيْمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ

لوئے : ووئیل دوی : برابر دی په مونږ باندې : که وعظ کوے ته او یا

أَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿١٣٦﴾ إِنْ

او که نه کیږے ته : دَ وعظ کوونکو نه : نه دی

هٰذَآ إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ

دا : مګر عادتونه (دروغ) دَ مخکښنو دی : او نه یو مونږ :

بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَأَهْلَكْنٰهُمْ إِنَّ

عذاب کړے شوی : پس دروغژن ئے ګڼو هغه : پس هلاک کړو دوی مونږ : یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۚ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ

په دې کښې : خامخا نښه ده : او نه وو : زیات دَ دوی نه :

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

ایمان راوړونکي : او یقیناً رب ستا : خامخا هغه زورور دے :

الرَّحِيْمُ ﴿١٤٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾

بخښونکے دے : دروغژن کړی دو ثمودیانو : پیغمبران :

ع ١٩

أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٢﴾ : امداد ئے کړے ستاسې په هغه نعمتونو چه تاسې ئے پېژنئ . په ﴿١٣٣﴾ ﴿١٣٤﴾ کښې ئے تفصیل دے . په ﴿١٣٥﴾ کښې تخویف دے ، په ﴿١٣٦﴾ کښې دَ هغوی دَ سرکشۍ بیان دے چه نبي ته وائي چه ستا وعظ په مونږ اثر نه کوي . په افضل التراجم ﴿١٤٩﴾ کښې دي چه هسې شان مه ګرځوه ، مونږ ستا خبره نه منو . إِنْ هٰذَآ إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٣٧﴾ : نه دی دا مګر عادات دَ پخوانو دی . (فتح الرحمٰن ﴿٣٢٤﴾) نه دی دا مګر دروغ دَ پخوانو دی (فتح القرآن ﴿٢﴾) امام رازي رحمه الله فرمائي : نه دی داهغه چه مونږ په کښې یو ، دَ ژوند او مرګ نه مګر ستو عادت دے چه همیشه په خلق دی په پخوانئ زمانه کښې . او یا نه دی هغه چه تا پرې راتلله کړی دَ دروغونه مګر عادت دَ اولنو دے . (الکبیر ﴿١٤٥﴾ ﴿٢٤﴾) هٰذَآ اشاره ده عذاب ته یعنی (قحط وغیره) چه ته ئے عذاب ګڼې ، دا عذاب نه دے بلکې دا عادت او ګردش دَ زمانې په مخکښنو خلقو باندې هم راغلے دے . یا اشاره ده آبادئ او ظلمونو ته چه دا زمونږ دَ مشرانو طریقه ده . (احسن الکلام ﴿٣٤﴾)

فائده : دا ایتونه ﴿١٢٩﴾ ﴿١٣٠﴾ مخکښې تېر شوي دي او دلته په پنځم ځل ذکر شو . كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ ﴿١٤١﴾ : دا پنځم دلیل نقلي دے دَ صالح علیه السلام نه چه دا

دَ توحید مسئله نوشه نه ده ، مخکښې صالح علیه السلام هم قوم ته دا مسئله کړے ده چه صرف دَ خپل مولیٰ نه ویرېږئ او حاجت صرف دَ خدائے نه غواړئ ، برکات ورکوونکے صرف هغه دے او په

عسه وسے دلیل کښې دَعذابِ دُنیا وی هم بیان وسے او (النمل ص۵۰) **فائده** : دَ ص۳۵ پورے اَیتونه
پښان دَ مکلښتو نبیانو دی کوم چه په واقعی دَ هود او نوح علیهما السلام کښې ذکر شو بدی چه بنځی خبرے وکه

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾
کله چه ورته ووې ته : ورور دَ دوی : صالح ، ولے نه ویریږئ دَ الله څخه ؛
إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَ
یقینا ځه تاسو له ، رسول : امانت دار یم ، پس ووېریږئ دَ الله نه : او
أَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ
ومنئ خما ، او نه غواړم زه ستاسو نه په دے تبلیغ باندے : هیڅ بدله ؛
إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾
نه ده بدله خما : مګر په رب دَ مخلوقاتو باندے ؛
أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَا آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِي
آیا پریخودلے شئ تاسو : په هغه نعمتونو کښې چه دلته دی : امن والا : په
جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ
باغونو کښې : او چینو کښې : او په فصلونو کښې : او په کجورو کښې ؛
طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ
چه ځیلی دَ هغو نرم دی : او تو بنوی تاسو : دَ غرونو نه :
بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾
کورونه چه استاذان یئ : پس ووېریږئ دَ الله نه : او ومنئ خما ؛
وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ
او تابعداری مه کوئ : دَ حکم دَ زیاتی کوونکو : هغه کسان تو :
يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾
چه فساد کوی : په زمکه کښې : او نه کوی اصلاح ؛
قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا
ووېلے دوی : یقینا ته : دَ جادو کړے شوو نه یے : نه یے
أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا فَأْتِ بِآيَةٍ إِنْ
ته : مګر انسان دَ زمونږ په شان یے ، پس راوړه معجزه : که یے

اَتُتْرَکُوْنَ (حاشیه وه ده) : آیا پریخودے به شئ تاسو په هغه نعمتونو کښې چه دلته دی امن والا : دا اجمال دَ او تفصیل دَ نعمتونو دَ ص۱۴۷ نه دے . طَلْعُهَا هَضِیْمٌ : چه کونګوری دَ هغو نرم ، پاخه دی (مدارک ص۱۵۹) نازک دی (فتح الرحمٰن ص۴۸۲) تازه دی (لغات القرآن ص۵۲۱) نرم خلقت دی (ربیع القرآن) وَتَنْحِتُوْنَ : او توږئ ، دَ غرونو نه کورونه : فٰرِهِیْنَ : تجربه کار هوښیار یئ (روح ص۱۳۶) استاذکاران یئ (ربیع القرآن) **فائده** : فا نا ، دا ناکے پیشے (کسبونه) دَ خدائے تعالیٰ انعامات دی په دے شرط چه دغه په بدو کارونو کښې مستعمل نکړی : (معارف ص۵۴۳) وَلَا تُطِیْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِیْنَ : او تابعداری مکوئ دَ فرمان ، حکم ، دَ زیاتی کوونکو : چه هغه نهٔ به معاشان وی چه فساد به نے کولو په زمکه کښې او اصلاح به ئے نه کوله یعنی دَ صالح علیه السلام دَ تابعداری نه به ئے خلق منع کول . وګورئ سورة نمل ص۴۸ هم : او په ص۱۵۳ ، ۱۵۴ کښې دَ نه منلو

دوه وجے ذکر شوے ، په ص۱۵۵ کښې دَ معجزے ذکر دے دَ هغوی دَ مطالبے په وجه :

لَهَا شِرْبٌ : د پښتو ني شیخ رحمه الله فرمائی اوس په طور د امتحان د پابندی او لګیدله چه د څښلو به یوه ورځ د دوی اوښه څښکی او په خپلو څارپایانو به نے سکوی او یوه ورځ به د اوښے د پاره خاص ؤ

كُنتَ مِنَ الصّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ
ئے ته : د رشتونیکو نه : وویل هغهٔ : دا

نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ
اوښه ده : دې لره وار د اوبو دے : او تاسو لره : وار : د ورځے

مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ
معلومے : او مهٔ رسوئ دے ته څه تکلیف : پس وبه نیسی تاسو لره

عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا
عذاب د ورځے : لویے : پس زخمی ئے کړه هغه :

فَأَصْبَحُوا نٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ
پس شو دوی : پښیمانه : پس ونیول دوی لره : عذاب

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم
یقینا په دے کښې : خامخا نښه ده : او نه وُو : زیات د دوی نه

مُّؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ
مؤمنان : او یقینا ربه ستا : خامخا هغه : زورور

ع ٨
الرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾
مهربان دے : دروغژن ګڼلی وُو قوم د لوط : پیغمبران :

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾
کله چه وویلے دوی ته : ورور د دوی : لوط : ولے نهٔ ویریږئ د الله نه

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ
یقینا زهٔ تاسو لره : رسول : امانتدار یم : پس ویریږئ د الله نه

وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ
او زما خبره منئ : او نهٔ غواړم زهٔ له تاسو نه په دے تبلیغ باندے : څه

أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾
بدله : نه ده بدله زما : مګر په رب د مخلوقاتو :

بیا لیکی چه د اوبو د بوے ورځے د ناغے د وجے نه دوی ته تکلیف شولو نو د اوښے د قتل کولو د پاره ئے پروګرام جوړ کړو او په خوشئ سره د دے کار د پاره ئے پوه تن مقرر کړو (انوار البیان ۸۴۲۳) فَعَقَرُوهَا : پس زخمی کړه دوی هغے لره (الفضل منزل) پس پښے پرے پریکړے دوی د هغے (فتح منزل) نسبت د زخمی کولو نے ټولو ته شوے دے ځکه چه زخمی کولو کښې زخمی کوونکی سره هر څوک رازی وو او پس وروستو ټولو ته عذاب راغلو (ابوالسعود ۲۱) كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ منزل : دا شپږم نقلی دلیل دے د لوط علیه السلام نه او په دې کښې د عذاب دنیوی هم بیان دے ... هغوی په ښارونو د منلو په لوط علیه السلام د باره د کړو نو باری تعالی د هغه قوم هلاک کړو او د لوط علیه السلام خان باری تعالی بچ کړو او د هغه بنګه باری تعالی هلاک کړه ځکه چه هغه منافقه وه : نو معلومه شوه چه وسیله اتباع د دوا توقا مثلو دی نه نفس نسب او تعلق باندے کار نه کیږی (ماخذ منزل) فائده : دلته هم څه خبره دی (سورة اعراف کښې نے د لوط علیه السلام باره کښې اَخُوهُمْ نه دے ذکر کړے ځکه چه هلته د آخ نه مراد قومی ورور وَلی ده او لوط علیه السلام د هغه قوم نه نه وو او په دے سورت کښې نے اَخُوهُمْ ذکر کړے دے ځکه چه دلته مراد د ورور نه خیرخواه او ناصح دے او هر پیغمبر د قوم خپل خیرخواه وی (احسن منزل) زجاج رحمه الله فرمائی یعنی دا راغلے دوی ته بشر د دوی په شان د اولاد د پلار د دوی نه چه آدم علیه السلام دے (لسان العرب منزل)

أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَ

آيا راځئ : تاسو ته د وياړه او شهوت : د خلقو نه : او

تَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ ؕ

پرېږدئ : هغه چه پيدا کړي تاسو ته رب ستاسو : د ښځو ستاسو نه :

بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوا لَئِنْ

بلکه تاسو : قوم تجاوز کوونکي يئ : ووېل دوی : که چرې

لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ

منع نشوې ته : اے لوطه : خامخا يقينًا شے به ته : د

الْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُمْ مِّنَ

ويستلو شوو نه : ووېل لوط : يقينًا زه عمل ستاسو له : د

الْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا

بد ګڼونکو نه يم : اے ربه زما : بچ کړه ما : او اهل زما د هغه عذاب نه

يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾

چه دوی يې کوی : پس بچ کړه موږ دا : او اهل د ده : ټول :

إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغٰبِرِينَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا

مګر بوډۍ : په پاتې کېدونکو کښې وه : بيا هلاک کړل موږ :

الْآخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ

نورو لره : او راوورولے وو موږ په دوی : باران :

فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ﴿١٧٣﴾ إِنَّ فِي ذٰلِكَ

پس بد دے : باران : د وېرولو شوو : يقينًا په دې کښې :

لَاٰيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾

خامخا نښه ده : او نه وو : زياتې د دوی نه : مؤمنان :

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾ ع

او يقينًا رب ستا : خامخا هغه زورور دے : مهربان دے :

ع ٩ ١٦ ١٣

مِنَ الْقَالِينَ : يقينًا خپه عمل ستاسو له زه د بغض کوونکو نه يم (ابو السعود ٣٦٩) تاسو بيا سورة ضحى، او دا آيت ١٦٨ کښې دعا د نجات ده، په ١٦٩ کښې قبوليت د دعا، د دې دعا نه هلاکت د قوم د هغوی دے، مَطَرًا : د کاڼو باران په هغوی باری تعالی او وراوه ؛ (الفضل الرحيم ٣٠٦) سورة هود ٨٢ وګورئ ؛

كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ ﴿١٧٦﴾: وليل نقل او ومر خبر د شعیب علیه السلام نه سره د عذاب دنیاوي نه.
(انفعال ملا ٥) د شعیب علیه السلام په بیان کښ پنځم خبره دی: د قتاده پور شیخ رحمه الله فرمائی چه شعیب علیه السلام
ایکه او مدین دواړو ته لیږلے شوے وو. مدین مرکزی ښار وو او ایکه د هغه متعلقات وو (انفعال ١٥) د پنجپائی شیخ رحمه الله فرمائی: د حضرت شعیب علیه السلام نسبی تعلق چونکه د اهل مدین سره وو اصحاب الأیکة سره نه وو، ددې وجه نه ئے

كَذَّبَ أَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ
دروغژن ګڼل وو خاوندانو د ځنګل : پیغمبران : کله چه
قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّيْ
ووئيل دوی ته : شعیب علیه السلام : ولې نه وېرېږئ د الله تعالی نه : یقیناً زه د
لَكُمْ رَسُوْلٌ أَمِيْنٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ
تاسو لره : رسول امانتدار یم : پس ووېرېږئ د الله تعالی نه : او
أَطِيْعُوْنِ ﴿١٧٩﴾ وَمَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ
زما منئ : او نه غواړم زه ستاسو نه په دې تبلیغ باندې څه بدله :
إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٠﴾
نه ده بدله زما : مګر په رب د مخلوقاتو :
أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ﴿١٨١﴾
پوره ورکوئ پیمانه : او مه کېږئ د کمي کوونکو نه :
وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا
او تول کوئ په تله : برابره : او مه
تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا
کموئ د خلقو نه : شیونه د دوی : او مه ګرځئ
فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿١٨٣﴾ وَاتَّقُوا
په زمکه کښې : فساد کوونکي : او وېرېږئ
الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِيْنَ ﴿١٨٤﴾
د هغه ذات نه چه پیدا کړي یې دي تاسو : او خلق : پخواني :
قَالُوْا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٨٥﴾ وَمَا
ووئيل دوی : یقیناً ته : د جادو کړي شوو نه یې : او نه یې
أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ
ته : مګر بشر په شان زموږ : او یقیناً ګمان کوو موږ ستا باندې : خامخا د

دلته: اخوهم شعیب ونه فرمایل او کوم ځائے کښ چه اهل مدین ته دوی د بعثت ذکر کړے دے هلته فرمائی: وإلىٰ مدين أخاهم شعيباً (هود ٨٤) (جواهر ١٨٢ مدارك ١٢٥ ج ٣) ::
فائده: غور وداد کا چه دا بل قوم دے سوا د اصحاب مدین نه ځکه چه د دوی عذاب هم جدا دے عذاب د مدین والو نه (احسن الکلام ٣) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه اصحاب ایکه دوی مدین والا دی او نبی د الله تعالی شعیب علیه السلام د دوی د قوم نه وو او دلته ئے اخوهم شعیب اونه وئیلے ځکه چه د دوی نسبت عبادت د ایکه ته کیبت شو چه دا ونه وه او یا ګورے ونے وے بلکه ئے بیا دوی یه نه عبادت کولو. له دے وجے نه ئے دلته کذب اصحب الأيكة المرسلين وئیله فرمایل. اذ قال لهم اخوهم شعیب بلکه وئے فرمایل اذ قال لهم شعيب، پس قطع کړه نسبت د ورورولئ په مینځ د دوی کښ د وجے د هغه معنی نه چه د دوی نسبت ورته شوے وو. اګرچه دا ئے ورور نسبي وو. او بعض د خلقو نه هغه دی چه نه دی پوهه شوے په دے نکتے پس خیال ئے کړے دے چه خاندان د ایکه غیر د مدین والو نه دی پس ګمان ئے کړے دے چه شعیب علیه السلام د دوی

(د) مدینه ته لیږلے وو الله تعالی (ابن کثیر ٣٣٣) دغه رنګ قاسمي هم. إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٨٥﴾ منع

عـه يقيناً ته د جادو کړے شوؤ نه ئے: (فتح ۱۵) ته د هغه چا نه ئے چه خوراک او څکاک کوی. (قرطبی ۱۳۶) ته لکه زمونږ (خاڅیه د دے ځنو) (پس راغورځوه دری له ۲ عذاب د ورځے د سائبانی: یعنی اوریشتکل د سائبان

الْكٰذِبِيْنَ ﴿۱۸۶﴾ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا
دروغژنو څخه: پس راوغورځوه په مونږ ټوټے
مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۷﴾
د اسمان نه: که چرے ئے ته: د رشتینو څخه
قَالَ رَبِّیْۤ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾
ووئیل شعیب: رب زما ښه پوهه دے: په هغه عملونو باندے چه تاسے ئے کوئ
فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ
پس دروغژن ګڼړلو دوی هغه: پس ونیولو دوی له ۲: عذاب: د ورځے
الظُّلَّةِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۸۹﴾
د سوری: یقیناً دا ؤ: عذاب: د ورځے لوئے
اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ
یقیناً په دیکښ: خامخا نښه ده: او نه وو: زیات د دوی نه
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ
ایمان راوړونکی: او یقیناً رب ستا خامخا هغه: زورور دے
الرَّحِيْمُ ﴿۱۹۱﴾ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۹۲﴾
مهربانه دے: او یقیناً دا قرآن: خامخا نازل کړے شوے دے د رب د مخلوقاتو د طرف نه
نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ﴿۱۹۳﴾ عَلٰى قَلْبِكَ
نازل کړے دا: روح: امانتدار: په زړه ستا باندے
لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۱۹۴﴾ بِلِسَانٍ
چه شے ته: د ویرونکو نه: په ژبه
عَرَبِیٍّ مُّبِيْنٍ ﴿۱۹۵﴾ وَاِنَّهٗ لَفِیْ زُبُرِ
عربی: واضحه: او دا قرآن: خامخا په صحیفو د
الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۹۶﴾ اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً
مخکینو کښ دے: او ایا نشته: دوی له ۲: نښه:

ع ۱۲

منزل ۵

شیخاره شو او هلاک کړے شول: (فتح ۱۵) مفتی صاحب رحمه الله فرمائی: د هغه مجرم په خپلو خیمو کښ وه ته د وارخته شوو نه وو. (معارف ۵۲۳) په هغوی عذاب راغے داسے چه ځمکه هم زلزله راغله او په دوی ګرمی زیاته شوه نو دوی د غه ورېځے لاندے روان شو نو په عذاب کښ هلاک شول (الفتح ۲۵۵) وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ ۱۹۲: د دے ځائے نه تر اخره پورے دریم باب دے او په دیکښ شپږ خبرے دی (۱) صداقت د قرآن د ۱۹۲ نه (۲) زجر ونه او تخویفات د ۲۰۰ نه (۳) د دوو شبهو جوابونه ۲۱۰ نه او ۲۲۱ نه (۴) تسلی او تیزئی په تبلیغ کښ ۲۱۳ نه (۵) اخیر کښ تخویف ۲۲۷: وَاِنَّهٗ ضمیر د اِنَّهٗ منصوب د دعوے د ضمر کړنه کښ به ادا په دعوے د ضمر که بانی دلیل ذکر دے. یا د دے ضمیر نه مراد قرآن دے: (جواهر ۹۲۶)
فائده: په ۱۹۲ کښ صداقت د قرآن دے په ۱۹۳ کښ د نازلونکو ملائکو یعنی د مسند او د واسطے ذکر دے په ۱۹۴ کښ ئے حکمت د نزول ذکر دے: په ۱۹۵ کښ د هغه ژبے ذکر دے چه قرآن پاک پرے نازل شوے دے. په ۱۹۶ کښ پرے نقلی دلیل د مخکینو کتابونو نه او په ۱۹۷ کښ پرے نقلی دلیل د مخکینو علماؤ نه دے او په ۱۹۸ کښ جواب
د هغه شبهے دے چه په عجمی ژبه ولے نه دے نازل شوے. وَاِنَّهٗ لَفِیْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ ۱۹۶: او یقیناً ذکر د قرآن خامخا په مخکینو کتابونو کښ شته. (روح ۱۹) او یقیناً خبر د دے په کتابونو د مخکینو کښ شته. (فتح ۲۵) یا مطلب دا دے چه د قرآن اکثر (زیات) مضامین په کتابونو د مخکینو کښ موجود دی. (جواهر ۹۲۶)

وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ ﴿١٩٨﴾: دګوري ختم سجدة ﴿١٩٨﴾ : كَذٰلِكَ : دغه رنګه داخل کړے دے موږ ، شرك او تکذيب په زړونو د مجرمانو کښې (مظهري ﴿٢٠٠﴾) دګوري سورة حجر ﴿١٢﴾ : فَائِدَه : د شاه رفيع الدين (رحمه الله) ليکلي دي ، د ا

أَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٩٧﴾ وَ

چه پيژني دي په صداقت د ده علماء د بني اسرائيلو : او

لَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ﴿١٩٨﴾

که نازل کړے وے موږ قرآن په بعضو : عجميانو باندې :

فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٩﴾

پس لوستے وے ده په دوی باندې ، نه وو دوی په دے : ايمان راوړونکي :

كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٠٠﴾

دغه رنګه : ننباسو دا تکذيب په زړونو ، د مجرمانو کښې :

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ

ايمان نه راوړي په دے ، تر هغے چه اووينې دوی : عذاب :

الْاَلِيْمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا

دردناك : پس راشي دوی ته ناڅاپه : او دوی به خبر

يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُوْلُوْا هَلْ نَحْنُ

نه وي : پس اووائي : ايا : موږ

مُنْظَرُوْنَ ﴿٢٠٣﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٢٠٤﴾

مهلت ورکړے شوي يو : ايا په عذاب زموږ دوی تلوار کوي :

اَفَرَءَيْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِيْنَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ

ايا پس خبر نه ئے ته ، که ګټه اخستو ورکړو موږ دوی لره څو کلونه : بيا

جَآءَهُمْ مَّا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ﴿٢٠٦﴾ مَآ اَغْنٰى

راشي دوی ته هغه عذاب چه وو دوی پرے وعده کړے شو : منع به نکړي دا عذاب

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا

د دوی نه : هغه چه وو دوی چه نفع پرے ورکولے شو : او نه دي هلاك کړي موږ

مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا مُنْذِرُوْنَ ﴿٢٠٨﴾ ذِكْرٰى

هيڅ کلي ، مګر هغه لره وېرونکي وو : د پاره د نصيحت :

منزل ٥

کمان نه مکوه چه دا قرآن نبي عليه السلام د ځان نه جوړ کړے دے (أو دا ګمان هم مکوه چه جبرائيل عليه السلام به ئے ښه عذر کړے وي) او دا ګمان مکوه چه نبي عليه السلام به پرے نه پوهيږي ، قرآن خو نبي عليه السلام ته په صاف عربي راغلے دے ، او دا ګمان مکوه چه د قرآن مسئله نوے ده بلکه دا مسئله په مخکنو کتابونو کښې هم ده او علماء د بني اسرائيلو دا قرآن پيژني ؛ دا پوره دليل دے د قرآن د حقيقت او په عجمي هم نه دے راغلے چه عربو لره ترينه تکبر ورځي او دا عرب د قرآن کمال پيژني خو د ضد د وجے نه ايمان نه راوړي . ايمان به راوړي کله چه عذاب راشي خو دغه ايمان به منظور نه وي . بيا په مخلوق خوارۍ او عذاب که راشي څه زمانه پس نو بيا د دوی اسباب د عيش دوی نشي بچ کولے . (انفال ﴿١٣﴾) .

ذِكْرٰى : د پاره د پند حاصلولو . (شوکاني ﴿٤١﴾) .

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ،

حاشيه د راتلونکي مخ ﴿٦١﴾ : دا د اول اعتراض جواب دے چه دا ته شيطان راوړي . جواب دا دے نه ده ، د شيطان سره دا قرآن مناسب نه دے ، دا د اوريدو د قرآن نه لرے کړے شوے دے . (انفال ﴿٤٢٣﴾) .

فَلَا تَدْعُ : دا نهى دا چه هر کله تصرف والا صرف الله تعالى دے او مخالفينو لره هغه هلاك کړل او قرآن هغه راليږلے دے او دا د توحيد مسئله د شيطان نه ده او نو صرف باري تعالى لره بلنه او خپله قبيله ته هم دا مسئله کوه او د تابعدارانو لحاظ کوه او د مخالفينو پرواه مه ساته او د هغوئ نه جدا

(بقیه) وړے شوي شه او هغوی خدای تعالیٰ ته وسپارۀ هغۀ ته ستا حال معلوم دے کله چه ته د موعظه او انذار له ...
اطلاع شیطان درولو نو خلقو ته رازي او اکثر دروغ ورته رازوړي (انفعل تفسیر ...) ذاکر غیر تلک ...: او ویروه کورنئی خپله

وَمَا كُنَّا ظٰلِمِیْنَ ﴿۲۰۹﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ
او نۀ یو موږ ظالمان (ظلم کوونکي): او نۀ دے نازل کړے (دا قرآن):
الشَّیٰطِیْنُ ﴿۲۱۰﴾ وَمَا یَنْۢبَغِیْ لَهُمْ وَمَا یَسْتَطِیْعُوْنَ ﴿۲۱۱﴾
شیطانانو: او نۀ دے مناسب دوی لره: او نۀ یې طاقت لري:
اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿۲۱۲﴾ فَلَا تَدْعُ
یقیناً دوی د اوریدو (قرآن) نه خامخا لرے کړے شوي دي: پس مۀ رابله:
مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ
د الله تعالیٰ سره بل معبود: پس شے به: د
الْمُعَذَّبِیْنَ ﴿۲۱۳﴾ وَاَنْذِرْ عَشِیْرَتَكَ
عذاب کړے شوو نه: او ویروه: کورنئی خپله:
الْاَقْرَبِیْنَ ﴿۲۱۴﴾ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ
نږدے (نسب کښې): او ښکته ساته: وزر خپل: هغه چا ته چه
اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲۱۵﴾ فَاِنْ عَصَوْكَ
تابعداري کوي ستا: د ایماندارو نه: پس که چرے خلاف کوي ستا:
فَقُلْ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ وَتَوَكَّلْ
پس ته ووایه یقیناً زۀ بیزار یم د هغه عملونو نه چه تاسو یې کوئ: او خان وسپارۀ:
عَلَى الْعَزِیْزِ الرَّحِیْمِ ﴿۲۱۷﴾ الَّذِیْ یَرٰىكَ
په هغه زورور او مهربان باندې: هغه ذات: چه ویني تا لره:
حِیْنَ تَقُوْمُ ﴿۲۱۸﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِی السّٰجِدِیْنَ ﴿۲۱۹﴾
کله چه ته پاسے: او ستا اړول راړول ساته: په سجده کوونکو کښې:
اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۲۲۰﴾ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ
یقیناً الله هم اوریدونکے او پوهه پوره دے: آیا خبر درکړم تاسو ته،
عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّیٰطِیْنُ ﴿۲۲۱﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى
په هغه چا چه راکوزیږي پرے: شیطانان: راکوزیږي په:

نږدے . ډوے نۀ معلومه شوه چه دعوت د کورنئی خپلوانو نه شروع کول پکار دي. د کورنئی طرف ته هم . مفتی صاحب رحمه الله فرمائي چه غور او شي نو به وکښې د دعوت او تبلیغ اسان او مؤثر طریقه بنودلے شوے ده چه د هغې اثار لرے رسید ونګی دي او هغه دا دے چه د خپلے کورنئی وخاندان خلق د خپلے خپلولئی په بناء د صحه حقدار هم دي. چه به هر خیر کښې او په بنه کارکښې د نورو نه مخکښې شي. بیا مفتی صاحب رحمه الله پوره تفصیل کړے دے . وګورئی معارف القرآن ج ۶ ص ۵۵۰ . الَّذِیْ یَرٰىكَ: هغه ذات چه وینی تا لره کله چه ته د ماخته تهجد باندے او ویني لو ختل او ختل ستا د یو حال نه بل حال ته کله کیناستل او سجده کول نو پاشیدل شویه موخکښا او تبلے کله چه ورلیه بیا منتي کړے (روح ۱۹/۱۳۰) یعني کله چه ته د تهجد وته پاسے او د منکرو خبر اخلے چه په یاد کښې دي که غافل . (موضح القرآن ص ۳۳)
وَالشُّعَرَآءُ: (حاشیه د رانلو نکی مخ ۶۱۸): دا د دویم اعتراض جواب دے ، سوال چه دے شاعر دے: جواب د شاعرانو تابعدار ان خو ګمراهان وي او غلط خیالي خبرے کوي په عمله او دا پیغمبر خو دا سے نۀ دے ، د ده تابعداران خو صحیح خلق دي او دے خو صحیح خبرے کوي نۀ غلطے خیالي خبرے (انفعل تفسیر ۵۲۳) سورة یس ۶۹ وګورئی. اَصل لغت کښې شعر هر هغه کلام ته ویلے شي چه په هغه کښې محض خیالي او غیر تحقیقي خبرے بیان کړے شوي دي الخ (معارف ص ۵۵۵) اِلَّا الَّذِیْنَ: علامه نسفي رحمه الله فرمائي چه د ذکر الله تعالیٰ او تلاوت د قرآن غالب وي

(بقیه ددے مخ) په دوی باندې د شعر نه اوچته کلا شعروانو واقې لې په توحید د الله تعالی کښې او په شعاد وشیلوکښې په حقه باندې او په حکمت کښې او په وعظ کښې او په زهد او په ادب کښې او په بدحے د

كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿۲۲۲﴾ يُلْقُونَ السَّمْعَ وَ

هر دروغژن گنهگار ته: چه غوږ ږدی: او زیات ئے شرے خبرے: او

أَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ ﴿۲۲۳﴾ وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ

زیات د دوی نه دروغ وائی: او شاعران، روانیږی پسے دوی پسے

الْغَاوُونَ ﴿۲۲۴﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ

سرګشته خلق: آیا نه ګورې ته چه دوی: په هر یو کنده کښې

يَهِيمُونَ ﴿۲۲۵﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ ﴿۲۲۶﴾

سرګردان دی: او یقیناً دوی: وائی هغه: چه نه ئے کوی دوی:

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَ

مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړے: او عملونه ئے کړی: د نیکو: او

ذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ

یاد ئے کړو: الله تعالیٰ ډیر: او بدله ئے واخلی: پس د هغه نه

مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا

چه ظلم وشی په دوی: او زر دے چه پوهه به شی هغه کسان: چه ظلم ئے کړے دے:

أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴿۲۲۷﴾

چه کوم ځائے د واپسئ ته دوی اوړی به:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

طس ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ

الله به پوهیږی په مطلب د دے حروفو: دغه ایتونه د قرآن: او د کتاب:

مُّبِينٍ ﴿۱﴾ هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿۲﴾

ښکاره کونکی دی: هدایت دے: او زیرے دے: د پاره د مومنانو:

الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ

هغه کسانو: چه ودروی: مانځه لره: او ورکوی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه تو او تابعینو د امت کښې او په مثل د دے کښې د هغه نه چه ګناه وکښی نه وی (مدارک تفسیر) وَانتَصَرُوا: او انتقام اخلی پس د هغه نه چه ظلم پرے اوشی. حافظ رحمه الله فرمائی لکه نبی علیه السلام به حسان رضی الله عنه ته وئیلے هجوه کوه د کفارو او جبریل علیه السلام به ستا ملګرے وی. (ابن کثیر ص ۳۵۵)

امتیازات: (۱) او وه واقعات تفصیلی د انبیاء علیهم السلام (۲) تقسیم د شاعرانو ص ۲۲۴ (۳) ویروُل د خپلو اولادو (۴) تکرار د دے الفاظو: اِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً الخ. اته ځلے. (۵) تفصیلی بیان د صدق اَیَت قرآنی د معنی نه، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَظِیْمِ۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فن یه ورحم د بخښنے او منته وریجے د شمر ما غفر نه مکلبی په ۱۲ محرم ۱۴۲۸ه بیکم فروری ۲۰۰۷ع: د دیر مصروفیاتو باوجود چه د هغه سبقونه او د حاجیانو صاحبانو سلام تو نه او ځائے په ځائے جنازے دی: د سورة شعراء ترجمه او تفسیر ختم شو: یا الله د باقی لیکلو توفیق هم راکړے: عاجی غفرله توحید آباد ﴿ ﴾

سُورَةُ النَّمْلِ

په ترتیب کښې ۲۷: په نزول کښې ۴۸: ترتیب او نزول دواړو کښې روستو د شعراء نه دے: وجه د تسمیه په نمل سره ۲ ایت ۱۸ کښې ذکر دے.

دعوے: (۱) غیب علم نو الله دے ص ۶۵ (۲) سلامتیا او نجات ورکولو والا یو الله تعالیٰ دے ص ۵۹.

ربطونه: (۱) دا سورت په نزول کښې روستو د شعراء نه دے او هم په ترتیب کښې هم د هغه نه روستو ذکر شو. (۲) د هغه سورت سر کښې هم صد اقت د قرآن پاک ذکر او دلته هم: (۳) هلته د اوو پیغمبرانو علیهم السلام نه دلائل نقلیه ذکر شو دلته هم د ځلورو نه نقلی دلائل ذکر شو: (۴) هغه سورت په تخویف ختم شو ...

مه او د اهم په تحریف ختم شو. (۸) محکمې کښې په دعوے د تبلیغ ولائل ذکر شو نزولاته ورله د ۲ وجې بیانوي
په برکات ایۀ معکے په الله شروسته شک چه قلیبه ان صرف هغه وسه او سلامتیا ورکا شکے هم صرف هغه وسه؛

حاصل دَ سُورت :

الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۳﴾

زکوٰة ؛ او دوی په آخرت باندے : دوی یقین کوی

اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا

یقینًا هغه کسان ؛ چه ایمان نه لری ؛ په آخرت باندے ؛ ښائسته کړی مونږ

لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۴﴾ اُولٰٓئِكَ

دوی ته عملونه د دوی ؛ پس سرګردانه دی ؛ دا هغه

الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي

کسان دی ؛ چه دوی لره ناکاره عذاب دے ؛ او دوی ؛ په

الْاٰخِرَةِ هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ﴿۵﴾ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى

آخرت کښې ؛ دوی تاوانیان دی ؛ او یقینًا ته چه ، ما خودر کولے شې تاته

الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ﴿۶﴾ اِذْ

قرآن ؛ له طرفه ؛ د حکمت والا ؛ پوهه ذات نه ؛ کله چه

قَالَ مُوْسٰى لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا

ووئیل موسٰیؑ ؛ اهل خپل ته ؛ یقینًا ما ولیدلو ؛ اور ؛

سَاٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ

زر دے چه راوړم تاسو ته د هغه نه خبر ؛ او یا به راوړم تاسو ته ؛ شغله

قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿۷﴾ فَلَمَّا جَآءَهَا

راخستے شوے د یاره د دے چه تاسو تاؤده شئ ؛ پس کله چه راغے او رته ؛

نُوْدِيَ اَنْۢ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ

اواز ورته وکړے شو ؛ چه برکت ورکړے شوے هغه ته چه په طلب د اور کښې دے او هغه چه

حَوْلَهَا وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸﴾

چاپیره د اور دی ؛ او پاکی ده الله تعالٰی لره ؛ چه رب د مخلوقاتو دے ؛

يٰمُوْسٰٓى اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۹﴾

اے موسٰیؑ ؛ یقینًا شان دا دے چه الله یم ؛ زورور ؛ حکمت والا ؛

تیسیر القرآن (رحمه الله) فرمائی دی: چه را اوړے د ۲ دپاره د اثبات د اولے دعوے، واقعه د موسٰی علیه السلام چه هغوی په حقیقت د هسے خیلے خبر نه وو کله چه و ګرزید و تاله کوښکے ورځله رنګے سلیمان علیه السلام لره علم په مملکت د سبا نه وو تر دے چه هدهد ورته راغلو بیں خبر ئے کړو - او واقعه د صالح علیه السلام او لوط علیه السلام د لالت کوی په دے باندے چه مرتبه د انبیاء او سلامتیا د د الله تعالٰی د طرف نه - پس تمره د اولو د وارو قصوے روښتو ذکر کړے په دے قول سره: قُلْ لَّا يَعْلَمُ ۶۵ : او د آخیر د وارو د دے اول ذکر کړے په دے قول سره قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۵۹ په طریقه د لف او نشر غیر مرتب سره؛ (سطالب رضی الله عنه).

خلاصه په دے سورت کښې درے بابه دی اول تر ۶ پورے ، دویم تر ۵۸ پورے دریم تر آخره پورے.

په اول کښې خلور خبرے دی: (۱) صداقت د قرآن او خلور صفات ئے. (۲) خلور صفات د مومنانو. (۳) تخریف اخروی تر ۵ . (۴) تسلّی نبی صلی الله علیه وسلم لره تر ۶ (حاشیه د دے ځنی) وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ: او یقینًا در کولے شې تا ته قرآن (رفع ۳) او تاته ایږده کولے کیږي قرآن: (الفضل ۵۱۵)؛ آمام رازی رح فرمائی: دا ایت توطیه او تمهید دے د پاره د بیانولو د مابعد واقعاتو. (کبیر ۱۸) اِذْ قَالَ مُوْسٰى: د دے څائے نه تر ۵۹ پورے دویم باب دے او په دے کښې خلور واقعات دی: ۱: د موسٰی علیه السلام، ۲: د سلیمان علیه السلام: او دا اولے دعوے سره متعلق دی: ۳: د صالح علیه السلام: ۴: د لوط علیه السلام: او دا دواړه دویمے دعوے سره

جه سره متعلق دی. بِشِهَابٍ قَبَسٍ: په شُغله د اور سره چه راخستلے شوے وی د اصل نه (روح ۱۵۸) اَنۡ بُوۡرِکَ مَنۡ فِی النَّارِ: چه برکت اچولے شوے دے په هغه چا کښې چه په ځائے د اور کښې دے چه موسیٰ علیه السلام دے او په هغه چا کښې چه چاپیره د اور نه دی چه ملائک دی. مولٰنا عثمانی رحمه الله فرمائی چه غالبًا دا ئے د موسیٰ علیه السلام د مانوس کولو دپاره بطور د اعزاز او اکرام وفرمایلے. (عثمانی ص۵۱۳) ۞

وَاَلۡقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهۡتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ
او وغورځوه امسا خپله. پس هر کله چه اولیده هغه چه خوځیږی لکه هغه چه ماروی
وَّلّٰى مُدۡبِرًا وَّلَمۡ يُعَقِّبۡ ؕ يٰمُوۡسٰى لَا تَخَفۡ
واوړیده شا کوونکے: او نه راګرزیده وروسته اے موسیٰ! مه ویریږه
اِنِّىۡ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿١٠﴾ اِلَّا مَنۡ
یقینًا زه چه نه ویریږی نزدے ما ته رسولان: لیکن هغه څوک
ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسۡنًۢا بَعۡدَ سُوۡٓءٍ فَاِنِّىۡ
ظلم وکړی او بیا بدل کړی نیکی پس د بدئ نه: پس یقینًا زه
غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿١١﴾ وَاَدۡخِلۡ يَدَكَ فِىۡ
بخښونکے مهربان یم: او ننباسه لاس خپل: په
جَيۡبِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوۡٓءٍ
ګریوان خپل کښې: راوبه وزی سپین: په غیر د څه عیبه نه
فِىۡ تِسۡعِ اٰيٰتٍ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهٖ ؕ
لاړ شه په نهه معجزو سره: فرعون ته: او قوم د هغه ته
اِنَّهُمۡ كَانُوۡا قَوۡمًا فٰسِقِيۡنَ ﴿١٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ
یقینًا دوی: دی قوم: نافرمان: پس هر کله چه راغلی دوی ته
اٰيٰتُنَا مُبۡصِرَةً قَالُوۡا هٰذَا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿١٣﴾
معجزے زمونږ ښکاره کوونکے: وئیل وویل: دا جادو: ښکاره دے
وَجَحَدُوۡا بِهَا وَاسۡتَيۡقَنَتۡهَاۤ اَنۡفُسُهُمۡ
او انکار وکړه دوی په هغو: او یقین کړے وو په هغو: زړونو د دوی
ظُلۡمًا وَّعُلُوًّا ؕ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ
د وجے د ظلم او لوئی نه: پس وګوره: څنګه: وو: انجام
الۡمُفۡسِدِيۡنَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا دَاوٗدَ وَسُلَيۡمٰنَ
د فساد کوونکو: او یقینًا ورکړے دے مونږ: داود او سلیمان ته
منزل ۵

كَاَنَّهَا جَآنٌّ: حاشیه وګورے ص ( ). ګویا که اژدها روان په سپکوالی د حرکت کښې او په بل ځائے کښې ثُعۡبَانٌ خا مار ورته وئیلے دے د وجے د لوئے والی (شوکانی ص۱۴۱) اِلَّا مَنۡ ظَلَمَ: دا استثناء منقطع ده په نزد د ډیرو عالمانو او په ځائے کلام ختم شو اِنِّىۡ لَا يَخَافُ لَدَىَّ الۡمُرۡسَلُوۡنَ: معنیٰ دا شوه لیکن هغه څوک چه ظلم وکړی د غیر د انبیاؤ نه بیا نیکی وکړی پس د بدئ نه پس یقینًا زه بخښونکے مهربان یم: وګورئ قرطبی ص۱۶۲ مدارک ص۲۰۱، روح ص۱۶۰، شیخ القرآن رحمه الله په نزد بیا چه نه ویریږی ځما په دربار کښې پیغمبران شوی بلکه غیر د دوی ویریدونکی دی: فِىۡ تِسۡعِ اٰيٰتٍ: یعنی لاړ شه په نهه (۹) معجزو کښې (مدارک ص۲۰۱) وګورئ اسراء ۱۰۱: وَجَحَدُوۡا بِهَا او انکار وکړه دوی په د معجزو باندې په ژبو خپلو او یقین کړے وو په دوی په زړونو او ضمیرونو خپلو کښې. (مدارک ص۲۰۲) وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا: د دے ځائے نه دویمه واقعه د پاره د اولے دعوے ده چه غیبدان صرف الله تعالیٰ دے. عِلۡمًا:
(حاشیه د راتلونکی مخ): مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی چه دا په شرافت د علم او په شرافت د اهل علمو باندې دلیل دے او په دے چه نعمت د علم د لوئی نعمتونو نه دے. وګورئ مدارک ص۲۰۲، قرطبی ص۱۶۴، کبیر ص۱۸۵، فتح القدیر ص۱۲۸، ابوالسعود ص۲۸۲: فَضَّلَنَا: یعنی دا زمونږ غوره کول صرف د الله تعالیٰ

(بقیه د دے مخ) کار دے (افضل ص۲۹۵) دَ وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ: دَ وراثت نه مراد وراثت دَ علم او نبوت او حکومت دے او مراد ترینه وراثت دَ مال نه دے ځکه چه پیا خو به نه خاص کړلے شو سلیمان علیه السلام

عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ فَضَّلَنَا

خاص پوهه، او ویلے دواړو چه ستائنه الله لره ده هغه ذات لره، چه غوره کړی موږ دواړه

عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۵ وَ

په ډیرو دَ بندګانو خپلو: مؤمنانو نه او

وَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا

میراث واخستو سلیمان علیه السلام دَ داؤد نه (دَ علم نبوت) او ویلے اے

النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا

خلقو! ښودلے شوی دی موږ ته خبرے دَ مرغو او راکړے شوی ده موږ ته

مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ۭ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ

دَ هر شی نه، یقیناً دا: خامخا دا فضل (دَ الله تعالیٰ)

الْمُبِيْنُ ۝۱۶ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ

ښکاره دے، او راجمع کړے شوی سلیمان ته لښکرے دے دَ

الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ۝۱۷

پیریانو او انسانانو او مارغانو نو بیا دوی راحصاروَلی شو لو روتله

حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ

ترد دے چه کله راغلل دوی په میدان دَ میږیانو باندے نو ویلے

نَمْلَةٌ يّٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ

میږئ: اے میږیانو! ننوزئ کورونو خپلو ته

لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ

چه ونه نکوی تاسو لره سلیمان او لښکرے دَ هغه او دوی به

لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۱۸ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ

خبر نه وی، پس مسکے شو سلیمان علیه السلام خندیدو وینګے (تعجب کولے) دَ

قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ

وینا دَ هغه نه او ویلے اے ربه زما! توفیق راکړه ماته چه شکر اوباسم

دَ نبوت او اولاد دَ داؤد علیه السلام نه او دا وراثه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ورکړے شوے ده (روح المعانی، ابوالسعود ص۲۹۶، مدارک ص۲، ابن کثیر ص۳، خزائن ص۱۲، روح ص۱۷۰ ج ۱۹)

فائده: دا مسئله هم په سورة مریم کښ ذکر شوے ده چه مراد دَ میراث نه میراث دَ دین، علم، نبوت دے ځکه چه دَ انبیاء علیهم السلام نه دَ مال میراث نه پاتے کیږی.

عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ: ښودلے شوی دی موږ ته خبرے دَ مارغانو او دا دَ دوی معجزه ده ځکه چه عُلِّمْنَا مجهول صیغه ده یعنی ښودونکے یے صرف الله تعالیٰ دے. مِنْ كُلِّ شَيْءٍ: او راکړے شوی دی موږ ته دَ هر شی ضروری نه: یعنی کوم شے چه دَ دوی حاجت او ضرورت ؤو. جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی: لفظ دَ کل دَ اصل لغت په اعتبار سره تمول افراد او دَ جنس لره عام کیږی مګر ډیر واقعاتو کښ عموم دَ کل مراد نه وی بلکه دَ کوم خاص مقصد دَ حده پورے عام وی لکه دلته دَ هغه شیونو عموم دے چه دَ کومو سلطنت او حکومت کښ ضرورت وی او کوم داسے شی نو ظاهره ده چه هوائی جهاز، موټرے، ریل وغیره دَ دوی سره نه وو (معارف ص۵۶۰)

فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ: پس دوی ډیاره دَ رسیدلو دَ بعضو او دَ ودرولے او حصاروَلے شو چه تمول راجمع شی. (فتح ص۹۵ مدارک ص۲۰۳) عَلٰى وَادِ النَّمْلِ: په دښته او میدان دَ میږیانو: بقاعی رحمه الله په نظم الدرر کښ ویلی دی چه دا وادی په طائف کښ ده او ما لیدلے ده او بیضاوی رحمه الله وائی چه په شام کښ ده. (احسن ص۲) وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ: او دوی به خبر نه وی: فائده: امام رازی رحمه الله

عنه فرمائي چه واخیره ارے لوئے دے په راجب رائي ذ جزم په عصمت دانبیا علیهم الصلوٰة والسلام
باندې (کبیر ص۱۴۴) ، قاضي ابوسعود رحمه الله فرمائي چه اراده وکړه سیرۍ په خبرو د کولو دے چه دا پوهه ده د
پشان د سلیمان او نورو انبیاؤ علیهم السلام چه دوی معصوم دي د ظلم او ضرر رسولو نه . (ص۱۸۴)

نِعْمَتَكَ الَّتِيٓ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَأَنْ

د نعمت ستا : هغه چه احسان کړے دے تا : په ما باندې : او په مور پلار زما باندې : او چه

أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ

عمل او کړم نیک : چه ته خوښ یې هغه لره : او داخل کړه ما په سبب د مهربانۍ ستا

فِي عِبَادِكَ الصَّٰلِحِينَ ﴿١٩﴾ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ

په بندګانو ستا : نیکانو کښې : او حاضري واخسته د مرغو :

فَقَالَ مَا لِيَ لَآ أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ

بیا وې ویل : څه دي ما لره چه نه وینم ، هدهد ګک : یا دے

مِنَ الْغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا

د غائبینو نه : خامخا یقیناً عذاب به ورکړم ورکړم : عذاب

شَدِيدًا أَوْ لَأَاْذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي

سخت : او یا به خامخا یقیناً ذبح کړم هغه لره : او یا به راوړي ما ته :

بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ فَقَالَ

دلیل : ښکاره : پس هغه ایسار شو لږ وخت ، بیا راغے پس وې ویل

أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ

چه خبر شوے یم په هغه چه ته احاطه نه ده کړې په هغه : او راوړے مې دے تا ته : د سبا ښار نه :

بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ

خبر یقیني : یقیناً ما موندلے ده : یوه ښځه چه حکومت کوي په هغوی

وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ

او ورکړې شوې ده هر څیز : د هر ضروري شي نه : او هغې لره : تخت

عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ

لوئے شان والا دے ، وموندله ما هغه لره : او قوم د هغې لره : چه سجدې کوي :

لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ

نمر لره : سوا د الله تعالیٰ نه : او ښائسته کړي : هغوی ته :

فائده : علامه الوسي رحمه الله فرمائي : کاشکې خولې چه طعن کوي په اصحابو د نبي علیه السلام کښې رضي الله عنهم و ترے راضي شي ؟ د هغوی اقتداء نه کوي ؟ او منع شوے وے د طعن نه او ښه ادب یې کړے وے . (روح ص۱۸۴) فَتَبَسَّمَ : پس مسکے شو چه خندیدو ورنکے ولو د وینا د هغه . اَوْزِعْنِیْٓ : زړه کښې واچوه ما لره . (غریب القرآن ص۲۷۳) . لَأُعَذِّبَنَّهٗ : (حاشیه د وسے مخ) : په اکلیل د سیوطي رحمه الله کښې دي ، چه دلیل نیولے شوے په دے آیت باندې چه جائز دي ادب ورکول حیواناتو او چارپایانو ته په وهلو سره په وخت د تقصیر په تللو کښې او یا په وخت د جلتۍ کولو کښې او په مثل د دے . (روح ص۱۸۴ ، معارف ص۵۸۶) .

اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ : عالم شوے یم په هغه شي چه ته پرے نه یې عالم . (افضل ص۴۲۸)

فائده : په دے کښې دلیل دے په باطلوالي د دے وینا د شیعګانو چه امام باندې هیڅ شے نه پټیږي . (مدارک ص۲۰۱ ، سراج منیر ص۷۰) د دے نه معلومه شوه چه د ملاچرګک هم دا عقیده وه چه سلیمان علیه السلام عالم الغیب نه وو . (جواهر ص۴۲۳)

وَاُوْتِیَتْ مِنْ کُلِّ شَیْءٍ : او ورکړے شوے دے د هر شي نه (ضروري) (افضل ص۴۲۸) د عموم نه مراد خصوص دے . (تسهیل ص۹۵) د اسبابو د دنیا نه او هغه چه روا دے شان سره لائق دي . (مدارک ص۲۰۲) د هغې شیزونه چه دا ورته په مملکت کښې محتاجه ده . (قرطبي ص۱۸۳) ⁂

اَنْ لَّا يَسْجُدُوْا: ولے سجده نکوي دوی، مفسرین رحمهم الله فرمائي دا اوقوم ده دے مجوس وو، د نمر عبادت ئے کولو (کبیر ۲۴/۱۱۹) دا اوقوم ده دے مجوس وو د ستورو عبادت ئے کولو (کمر ۲۴). **فائده**: د سبا

الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ
شیطان عملونه د دوی، پس منع کړل دوی هغوی د سمې لارې نه،

فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٢٤﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ
پس هغوی لاره نه مومي: ولے سجده نه کوي الله ته هغه ذات ته چه

يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ
راوباسي پټ شیونه په اسمانونو او زمکه کښې او پوهیږي

مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا
په هغه څیزونو چه پټوئ او په هغه څیز چه ښکاره کوئ ئے تاسو: الله دے نشته معبود مګر

هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٦﴾ قَالَ سَنَنْظُرُ
هغه رب د عرش لوئے دے: ووئیل سلیمان علیه السلام: یقینًا ګورو مونږ

اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ اِذْهَبْ
چه رښتیا ووائې که: او که ته ئے: د درواغژنو نه، یوسه

بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ
خط زما: دا، پس وغورځوه دا: هغوی ته بیا په څنګ شه د دوی نه:

فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا
پس وګوره چه څه جواب واګرځوي دوی: ووئیل ښځې (بلقیس) اے

الْمَلَؤُا اِنِّيْۤ اُلْقِيَ اِلَيَّ كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٩﴾ اِنَّهٗ مِنْ
سردارانو: یقینًا زه چه را وغورځولے شو ما ته: خط معزز ډیر: یقینًا دا د

سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٣٠﴾
سلیمان (علیه السلام) د طرف نه دے او یقینًا مضمون ئے دا دے: په ابتدا د نوم د الله چه رحمان رحیم دے:

اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ
چه لوئي مه کوئ په ما باندې او راشئ ما ته، مسلمانان: ووئیل ښځې:

يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْۤ اَمْرِيْ مَا كُنْتُ
اے ډلے مشرانو د قوم! اصلاح راکړئ ما ته په کار زما کښې: نه یم ما

وقف لازم

ع ١٧ / ١٤

سیاسی حال بیان شو او نه بعد د هغوی مذهبی حال بیان کړی چه دا خلق مشرکان دی او باوجود د سبا او ده دے قوم د نمر عبادت کوی (الوجیز ملخصا). **فائده**: چونکه د هُدهُد کار هم دا وی چه هغه زمکه کښې او په وګیښ پټ چیزونه معلومولې راوباسي او خوری ئے: ده دے وجے نه دلته د الله تعالیٰ هم دا صفت بیان کړو چه دا پټ شیونه د غیبے راوباسي۔ (ابوالسعود ۸/۴۵) قَالَ سَنَنْظُرُ: دا هم دلیل دے چه سلیمان علیه السلام په غیبو باندې نه پوهیدل د حقیقت معلومولو د پاره ئے خط اولیږلو۔ تحقیق سفر الی **فَتَنَظَّرْ**: بیا په دې ده شو ډ دی نه: مفتی صاحب رحمه الله فرمائي: چه مشرکانو ته خط لیکل او هغوی ته لیږل جائز دی او د انسانی اخلاقو رعایت په هر مجلس کښې مناسب دے اګرچه هغه مجلس د کفارو هم وی. (معارف ۶/۵۷۸) **قِصَّه**: هُدهُد لاړو سبا ته هلته لوئے محل وو، په روشندان کښې لاړو او کاغذ ئے د بلقیس په مخ باندې راګوزار کړو او هغے د غرے او امر کاوه او هغه ډیره احتیاطی کړلو هغه حیرانه شوه: بیا هغې هُدهُد اولیده په روشندان کښې ځے تدبیته ولکیده چه کاغذ دے راوړے دے نو هغې ځان په کاغذ پوهه کړه بیا ئے

مهرانو ته ولوسته (افضل ۸/۳۱۶) كِتٰبٌ كَرِيْمٌ: ئے ښتا او غوره ئے ولے نو مانه خط عزتمند: (رازي ۲۴/۸۲) ۲: خط مُهر زده یعنی چه مهر او نه په پرے وهلے شوے ده. (روح ۱۹/۱۹۳، قاسمی ۱۳/۹۷). اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ: دا التفصیل د خط دے، **فائده**: خط مختصر، جامع، بلیغ او مؤثر انداز سره

مېلمنو ليکل پکار دي. (معارف ۴۶) او خطونه د انبياء عليهم السلام هم شروع په لنډوالي او اختصار سره کړي.
فائده: جناب مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي چه نبي عليه السلام به په خپلو خطونو کښې بسم الله هم ليکله.

قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿۳۲﴾ قَالُوْا نَحْنُ
فيصله کوونکې د يو کار، تر هغې چه حاضر نشئ تاسې ما سره؛ دوی ووېل: مونږ
اُولُوْا قُوَّةٍ وَّ اُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ۬ وَّ الْاَمْرُ
خاوندان د قوت، او خاوندان د جنګ سخت يو، او اختيار سپارلې شوی
اِلَيْكِ فَانْظُرِيْ مَاذَا تَاْمُرِيْنَ ﴿۳۳﴾ قَالَتْ اِنَّ
تاته دې؛ پس وګوره چه په څه امر کوې ته؛ ووېل هغې: يقيناً
الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا وَ
باچاهان؛ چه کله داخل شي، يو کلي ته (په جنګ)، نو وران کړي هغه کلی لره، او
جَعَلُوْا اَعِزَّةَ اَهْلِهَا اَذِلَّةً ۚ وَ كَذٰلِكَ
ګرځوي: عزتمند او سپين ږيري د هغه؛ ذليلان، او دغه شان
يَفْعَلُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَ اِنِّيْ مُرْسِلَةٌ اِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ
کوي دوی؛ او يقيناً زه لېږونکې يم دوی ته؛ څه هديه،
فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا جَآءَ
پس ګورم چه په څه جواب واپس کيږي؛ لېږلي شوي؛ پس هر کله چه راغلې استازی
سُلَيْمٰنَ قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ فَمَاۤ اٰتٰىنِۦَ
سليمان ؑ ته؛ ووېل سليمان ؑ: آيا امداد کوئ تاسو ما سره په مال؛ پس هغه چه راکړې ما ته
اللّٰهُ خَيْرٌ مِّمَّاۤ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ
الله ﷻ غوره دی د هغه نه چه تاسو له درکړې دي؛ بلکه تاسې په هديه خپله
تَفْرَحُوْنَ ﴿۳۶﴾ اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ
خوشالي کوئ؛ واپس لاړ شه؛ دوی ته، پس خامخا راوړو دوی ته
بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَ لَنُخْرِجَنَّهُمْ
لښکري؛ چه نه به وي طاقت دوی لره په مقابله د هغې؛ او خامخا به يې وباسو دوی
مِّنْهَاۤ اَذِلَّةً وَّ هُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ قَالَ يٰۤاَيُّهَا
د کلي نه؛ ذليل، او دوی به بې عزته وي؛ ووېل سليمان ؑ: اې

منزل

ليکله. ولې هم بسم الله مخکښې وه ليکن بلقيس چه کله خپل قوم ته دا خط اوروو نو هغې د قوم د اګاهۍ د پاره د سليمان عليه السلام نوم مخکښې ذکر کړو. قرآن کريم کښې چه څه راغلي دي دا د بلقيس قول دے. قرآن کريم کښې کوم تصريح نشته چه د حضرت سليمان عليه السلام په اصل خط کښې بسم الله مقدمه وه يا د سليمان عليه السلام نوم. (معارف ۶۶)

قَالُوْا نَحْنُ: د مشرانو جواب څه دا شو چه تشدد نه وو. د دغه نه د خوشامندۍ او د نيازمندۍ بوی راځي. (جواهر ۲۴۲)

وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ: دا تصديق د پاره د بلقيس دے د جهته د الله تعالیٰ نه چه غالبا او لويه د (روح ۲۹۹). ديته ادخال الهي ويلے کيږي. (کوردي انعام الرحمن ۵۰۵)

فَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ: او روايت شوي دے چه دے ووېلے قوم خپل ته که چرے دا د دنيا وي باچا وي نو راضي به کړي دا لره مال او هغه به د هغې مناسب عمل ورسره وکړو. او که نبي وي نو راضي به نه کړي مال او مناسب دي چه تابعداري ئے وکړے شي په دين د هغه کښې. (روح ۳۰۱)

اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ: دلته مخکښې عبارت پټ دے چه سليمان عليه السلام قاصد ته ووېلے چه واپس شه او بلقيس او قوم ته ئے دوايه چه ايمان راوړي. الوسي رحمه الله فرمائي: ګويا که او ويلے شو دوی ته چه واپس شه دوی ته پس راځي ما ته مسلمانان او که نه وي نو زه به راتلو کوم دوی ته په داسے لښکرو (روح ۳۰۲).

أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن
ملګرو: کوم يو ستاسو: راوړي به ماته، تخت د هغې، مخکې د دې نه چې
يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ
راشي ماته، مسلمانان: ووېيل: طاقتور: د
الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن
پېريانو نه: زه به راوړم تاته: هغه مخکې د دې نه چې ته پاڅې: د
مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ
ځای خپل نه: او يقيناً زه: پر دې باندې خو طاقت والا امانتدار يم: ووېيل
الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا
هغه کس چې هغه سره: پوهه د کتاب وه: زه به
آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ
راوړم تاته هغه: مخکې د دې نه چې واپس شي: تا ته: نظر ستا:
فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُ قَالَ هَٰذَا مِن
پس هر کله چې ولید هغه تخت: برابر پروت: خوا خپله کښې: وويل: دا: د
فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ
فضل د رب خما نه دی: چې امتحان کوي په ما: چې شکر کوم: او که ناشکري کوم
وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن
او چا چې شکر اوکړو: پس يقيناً شکر کوي: د ځان د فايدې د پاره خپل: او چا چې
كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا
ناشکري وکړه: پس يقيناً رب زما: بې پروا: عزتمند دی: ووېيل سليمان: ناآشنا کړئ
لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِي أَمْ تَكُونُ
د هغې لره تخت د دې: ګورو موږ: آيا هدايت مومي: او يا کېږي
مِنَ الَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾ فَلَمَّا جَاءَتْ
د هغه کسانو نه: چې هدايت نه مومي: پس هر کله چې راغله:

قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ: ووېيل يو طاقتور پېري چې زه به راوړم تاته دغه تخت مخکښې د پاڅېدلو ستا نه د ځای د ستا نه، ابن کثير رحمه الله ليکلي دي چې دا به ګينا سليمان د قضا د فيصلو پاره او د پاره د طعام د اول شره د زوال د نمر پورې (ابن کثير ٣/٣٦٢) ناست وه.

قَالَ الَّذِي عِندَهُ: په ده کښې درې اقوال دي: (١) يو دا چې د دې نه مراد آصف خوئي د برخيا کاتب او وزير د سليمان عليه السلام دے: (ګورئ مدارك ٢/٢٠٧، ابن کثير ٣/٣٦٣، قرطبي ١٣/٢٠٣، روح ٢٠١/٢٣١)، لاکن دا قول ضعيف دے ځکه چې کرامت د ولي په اختيار کښې نه وي: دريم قول دا دے چې د دې نه مراد جبرئيل عليه السلام دے: (ګورئ کبير ١٩٧/٢٤، روح ٢٠٤/١٩) وغيره وخت جبرئيل عليه السلام حاضر وو او جبرئيل له ډير طاقت ورکړے شوے وے: د شيخ المشائخ مولانا حسين علي رحمه الله په نزد دا قول راجح دے. (ګورئ جواهر ص ٨٣٠). دريم قول دا دے چې مراد ترې نه سليمان عليه السلام پخپله دے، امام رازي رحمه الله فرمائي چې دا قول ډير الاقرب دے د ګڼو وجهو نه. (کبير ١٩٧/٢٤) دا معجزه د سليمان عليه السلام وه ځکه چې د خپل تخت په هوا تلل معجزه وه نو د بل چا د تخت راوړل هم معجزه وه او نسبت د معجزے کله کله نبي ته مجازاً کيدے شي: (ګورئ ١٠٣ آل عمران، ٩٣ يوسف: شيخ القرآن نور الله مرقده به دا رو ستني دره قوله غوره ګڼل)، نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا: ناآشنا کړئ دے لره تخت د دے مونږ اهم شے کښې دي چې په دے تخت کښې څه جزوي تبديلي وکړئ د دے شکل بدل کړئ. او په افضل التراجم کښې دي، نو سليمان عليه السلام چې هغه تخت وليده نو هغه شکر اوويسته بيا سليمان عليه السلام لوے چې د دے تخت رنګ بدل کړئ، څه د اعلم کوم چې دا مسه

هو ښباره ده او صلاحیت د هدایت پکښې شته یا کم عقله ده . نو چه کله هغه راغله او دوی ترینه تپوس وکړه چه ستا تخت داسې دے ؟ نو هغې ووے هم دا هغه تخت دے او موږ ته ستا رسالت مخکښې د دے معجزے نه معلوم شوے وو او موږ اوس صحیح مسلمانان شو ئو.

قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ وَ

وویلے شو : آیا داسے دے تخت ستا ؟ ووییلے هغې : گویا که دا هغه دے ؛ او

أُوتِينَا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾

راکړے شوے وو موږ ته علم (د نبوت) مخکښې د دے نه ؛ او شوی وو موږ مسلمانان ؛

وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ

او منع کړې وه دا (د هغې نه) چه وه دا چه عبادت به ئے کولو سیوا د الله تعالیٰ نه

إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا

یقیناً وه دا ، د قوم کافرو نه ؛ ووییلے شو دے ته ،

ادْخُلِي الصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً

ننوزه ، بنگلے ته ؛ پس هر کله چه ولید هغه گمان ئے وکړو چه ډنډ د اوبو دے ؛

وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ

او وچته ئے کړه جامه د پنډو ئي خپلې نه ؛ ووییلے سلیمان : یقیناً دا بنگله ده ؛

مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي

چه جوړه کړے شوې ده د شیشو نه ؛ ووییلے هغې اے ربه زما ! یقیناً ما ؛

ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ

ظلم کړے وو په ځان خپل ؛ او تابع دار کړو ځان خپل سره د سلیمان نه : الله

رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ ثَمُودَ

رب د مخلوقاتو ته ؛ او یقیناً رالیږلے وو موږ ، ثمودیانو ته ؛

أَخَاهُمْ صَالِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ فَإِذَا هُمْ

ورور د هغوی ، صالح ، چه بندگي کوی د الله تعالیٰ ؛ پس ناڅاپه دوی ؛

فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَا قَوْمِ لِمَ

دوه ډلے شوے ، جګړه ئے کوله ؛ ووییلے صالح : اے قومه زما ! ولے

تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا

جلتي غواړئ ؛ عذاب ، مخکښې د خوشالئ نه ؛ ولے

ع ۳

د (هغې) صحیح مسلمانان شو ئو. (حاشیه د ربے مع) : او منع کړې وه دے ته الله تعالیٰ منعه کړې وه دے ته سلیمان علیه السلام (یا ربنا) . قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ؛ وویلے شو دے ته چه داخله شه بنگلے ته . د شاه شیخ رحمه الله فرمائي چه مقصود د سلیمان علیه السلام دا وو چه تاته زنانه ئے نه لره ستر پټکار دے او بل د هغه مقصد دا وو چه ورته معلومه شی چه صاحب د شیشے او اوبو فرق او نکړو نو ولے به د معبود حق او د معبود باطل فرق نو کړے . (افضل منه) . غرض ترینه دا وو چه خپل لوړ سلطنت ورته وښائی چه ستا هغه بې تدبیر حشمه ضرورت لرے . وګورئ ابن کثیر ج ۳ ، ۲۶۶ .

فائده : باقی دا خبره چه پیر یا نو ورته ویلی وو چه د دے پنډو ئی بیرے دی . د نکاح ئي بل نه ده . حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا قصے د اهل کتابو نه اخستلے شوی دی (ج ۳ ، ۲۶۶) ، او نسفی رحمه الله فرمائي چه محققینو رحمهم الله فرمائي چه دا احتمال نشته چه سلیمان علیه السلام د پردې ښځے د پنډو لیدلو دپاره حیله وکړی نو د دا ایسے نه مثل قول نو صحیح کیږی .

فائده : که څوک د دے واقعے نه د ښځو حکومت ثابتوی نو دا صحیح نه ده ځکه چه د کافر قوم عمل په دے دلیل نشی جوړیدے : دا د بخاری شریف د صحیح حدیث نه خلاف دے ؛ دا مسئله مخکښې هم سورة نساء کښې ذکر شوے ده

لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا

ته غواړئ بخښنه : د الله تعالىٰ نه : د پاره د دې چه تاسو باندې رحم وکړے شي : دوئ ووئيل :

اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ۚ قَالَ طٰٓئِرُكُمْ

بد فالي نيسو مونږ ستا او په هغه چا چه ستا سره دي ، ووئيل صالح : بد فالي ستاسو

عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ

په نزد د الله تعالىٰ دے ، بلکه تاسو ، قوم یئ چه امتحان کولے شي ستاسو ، او وو

فِى الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِى

په دغه ښار کښې : نهه (٩) کسان : چه فساد به ئې کولو : په

الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا

زمکه کښې ، او اصلاح به ئې نه کوله : دوئ ووئيل : قسمونه وکړئ :

بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ

په الله : چه خامخا يقيناً د شپے حمله وکړو په ده او په اهل د ده باندې : بيا به خامخا يقيناً وايو

مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾

نه يو حاضر شوي مونږ : هلاکت د اهل د ده ته او يقيناً مونږ خامخا رښتوني يو

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٠﴾

او فريب وکړو دوئ ، فريب : او تدبير وکړو مونږ ، تدبير : او دوئ نه پوهيدل :

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا

پس وګوره : څنګه : وو : انجام : د چل ول د دوئ : يقيناً مونږ

دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ

هلاک کړل دوئ لره : او قوم د دوئ : ټول : پس دغه دي :

بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةًۢ بِمَا ظَلَمُوْا ۗ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

کورونه د دوئ : راونړيدلي دي په سبب د ظلم کولو د دوئ : يقيناً په دے کښې :

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ

خامخا نښه ده : د هغه قوم د پاره چه پوهيږي : او خلاص مو کړل هغه کسان : چه

٣ واردات

عنه د ٢٧ ، وګورئ دا لته ماجدي ٦٦٢ ، معارف ٦٠٦ ، بيان ٢٢٢ ، روح ٢١٢ ، قرطبي ٢١٥ ، الهام الرحمٰن ٢٣٣ -

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا : د دے خلاصه د ريله واقعه د دوييمے دعوے د پاره مقصودي جمله ده ګښې وګورئ ❊

اَطَّيَّرْنَا بِكَ : (حاشيه د دے شخ) : بد فالي نيسو ستا : ځکه په دوئ قحط راغلے وو په وخت د بعثت د ده کښې د وجے د تکذيب د دوئ نه نو نسبت ئې وکړو ده ته . (مدارك ٢١٥) ❊ ❊

تَقَاسَمُوْا : يا امر دے - معنىٰ دا شوه : قسمونه وکړئ يو بل ته : يا د ماضي صيغه ده نو وويلے دوئ او حال دا دے چه قسمونه وکړل دوئ ❊

(روح ص ٢١٣ ج ١٩)

❊ ❊ ❊

❊ ❊

❊

وَلُوطًا: دا څلورمه واقعه ده په دویمه دعوی باندې مقصود دی جمله یکښې په ایت ۵۹ کښې ده ❊

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ
ایمان یې راوړې وو: او وو دوی چه تقوی یې کوله: او لیږلې مونږ لوط: کله چې وویلې
لِقَوْمِهٖۤ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ
قوم خپل ته: ایا راځئ تاسو بې حیایئ ته: او تاسو
تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ
پوهیږئ: ایا یقینًا تاسې خامخا راځئ کوئ: سړو ته:
شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ۚ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ
په ارادې د شهوت: سوا د زنانو نه، بلکه تاسو قوم یئ چه د
تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ اِلَّآ
جهل کار روزه کوئ: پس نه وو: جواب: د قوم د ده، مګر
اَنْ قَالُوْۤا اَخْرِجُوْۤا اٰلَ لُوْطٍ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ
دا چه وویلې: او باسئ: کورنۍ د لوط، د کلي خپل نه،
اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ
یقینًا دوی، دا سړی خلق دی: چه ځان پاک ګنړي: پس خلاص کړه مونږ ده لره
وَاَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۫ قَدَّرْنٰهَا مِنَ
او اهل د ده لره: مګر ښځه د ده: مقرر کړې وه مونږ هغه لره: د
الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ
پاتې کیدونکو نه په عذاب کښې: او وراوروو مونږ په هغوی باندې: باران،
فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ قُلِ الْحَمْدُ
پس بد وو: باران: د ویروکو شوو: وو ایه چه ټول صفتونه
لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ
الله لره دي: او سلام دې وي په بندګانو د الله: هغه چه غوره کړي دي
آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾
ایا الله غوره دی که هغه چه دوی شریکوي د الله سره:

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ: دوم مقالے نه تر اخره پورے دوم سورت دریم باب دے او په دیکښې شپږ خبرے دی: (۱) دوام دعوے ۵۹ (۲) پنځه دلائل اختراعی د ۶۰ نه: (۳) زواجر په انکار د قیامت د ۶۶ نه: (۴) تسلی د ۷۰ نه (۵) ترغیب قران ته د ۷۶ نه (۶) دلیل وحی ۹۱: مسئله: د دے ایت نه د خطبے اداب هم ثابت شو چه د الله تعالی حمد او په انبیاء علیهم الصلوة والسلام باندې د درود او سلام نه شروع کول مناسب دی د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ټولو خطبو کښې دا معمول چلیدلے دے بلکه د هر اهم کار په شروع کښې د الله تعالی حمد او په رسول الله ﷺ باندې درود او سلام مسنون او مستحب دے. (معارف ج ۶ ص ۵۹۰) دګوری دوم پیج: الهام ص ۴۹۲.

آٰللّٰهُ خَيْرٌ: علامه خازن رحمه الله فرمائی: په دیکښې دلیل کول د مشرکانو دی او الزام د حجت دے په هغوی باندې پس د هلاکت د کفارو نه: معنی دا شوه: الله تعالی غوره دے د هغه چا د پاره چه عبادت ئے کوی او که بتان غوره دی د هغه چا د پاره چه عبادت ئے کوی؟ (ص ۳۸۹ ج ۳) ❊ ❊

(نظر دپاره د تصحیح د جناب کاتب صاحب د لیکلو نه بعد په ورځ د یکشنبے ۳ فروری ۲۰۰۸ — ۲۴ محرم الحرام ۱۴۲۹ھ پس د ماسخوتن د مانځه نه ۱۰/۲۳ بجے په توفیق د الله تعالی په مقام توحید اباد کښې پوره شوه) خاکی عفرلہ.

اَمَّنْ خَلَقَ: اصل کښې اَمْ مَنْ دې او دا اَمْ منقطعه ده په معنی دَ بَلْ. وګورئ جواهر ص۲۲۸ کبیر ص۲۰۵ ج۲۴۔ معنی دا شوه بلکه غوره ده هغه ذات چه پیدا کړی یې اسمانونه او زمکه. فتقه خلاصه نه یئحه دلائل عقلیه دی. ذَاتَ بَهْجَةٍ: ښائسته او تازګئ: یعنی تر و تازه، ښئسته ښائسته او رحمت طاقت چه زرغون کړئ د ونې د باغ. وګورئ لسن ص۳۴: ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ: ذکر دلیل نه بعد دا سوال د شرک شوے دے، د دې نه ذکر کانو د لاجواب کیدلو اظهار مقصود دے۔ (جواهر ص۲۲۵) او دغه کښې ءَاِلٰهٌ د ما قبل سره لګی او په دے کښې معنی د اِلٰه ته اشاره ده او دا د سورة امتیاز دے۔

لطیفه: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه تا کله قرآن اوده کړه او سلف ته لار نه تو سیین ګیدی یا ته بیا روانے لموځنی بابا، چا شل ګرځا نه دی رالګه چه دوا ره لا شل ګرو. هغه به د وائي چه څنګړو ته به ورته وویلے چه د شیلے پار ے ایښو نه به د وایبو: او ته به بیا شروع شے. وَجَعَلَ لَهَا: او ګرځولی دی د زمکے د تیکوالی د پاره غرونه. وګورئ ننلقتا. شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دا ښیی چه زمکه د غونډی په شکل ولاړه ده او دا د هغه وائی عقیده ده۔ د هغوی د رد نوے کتاب کښې ذکر دے۔ اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ: بلکه غوره دے هغه څوک چه قبلوي سوال د عاجزی لګی پریشانه حاله او لرے کوی تکلیف. وګورئ انعام ص۴۱، یونس ص۲۲۔

لطیفه: زه د طالبعلمی په زمانه کښې د خپل استاذ محترم مولانا ... سره

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ

بلکه هغه ذات چه پیدا کړی یې اسمانونه او زمکه، او را اوروی

لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ

ستاسو د پاره د اسمانه اوبه، پس راشنه کړو ... په دے سره

حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ

باغونه تر و تازه، نشته طاقت تاسو لره

اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ

چه را زرغون کړئ د ونو د هغو؟ ایا شته معبود ملګرے سره د الله نه؟ بلکه

هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ۞٦٠ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ

دوی یو قوم دے چه اوړوی له حق نه. بلکه هغه ذات چه ګرځولی یې ده زمکه

قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ

قرار والا، او ګرځولی دی په مینځ د دے کښې ویالے او ګرځولی دی

لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ

د دے لره غرونه، او ګرځولی ده په مینځ د دوه دریابونو کښې

حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

پرده؟ ایا شته بل کار ساز سره د الله نه؟ بلکه زیات د دوی نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ۞٦١ اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا

نه پوهیږی. بلکه غوره دے هغه ذات چه سوال قبلوي د پریشانه حاله کله چه

دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ

وبلی هغه لره، او لرے کوی تکلیف لره، او ګرځولی دی تاسو لره

خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِيْلًا

خلیفه ګان د زمکے، ایا شته بل اِلٰه سره د الله نه؟ ډیر لږ

مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۞٦٢ اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ

نصیحت قبلوئ تاسو. بلکه غوره دے هغه ذات چه سمه لار ښائی تاسو ته په

منزل ۵

مه د دارالعلوم تعلیم القرآن پنج پیر کښې یو ورځ اجتماع له تلے وم. د شیخ الحدیث مولانا عبد الرحمٰن رحمه الله سره ملاقات وشو. هغوی یو رښتو کی نصیحت خپل ته وو ے د دے ایت څه معنی ده. هغه ما شرم وویلے لا غوث الا الله. خُلَفَآءَ: خلیفه ګان د زمکے، جانشین د پخوانو۔ (فتح ص۲۹۲)

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ: وَاوَايه راوړئ دليل خپل. فائده: برهان وائي يقيني دليل ته يعني ثابت شوي وي وحي ولائل دي يا نور يقيني. (الفصل ص ۴۳۵) فائده: په دې آيتونو کښې تخلص صفات عقليه د إِلٰه ذکر شو. او بيا تولو کښې جواب به نفي الآ. مراد دے. نو حاصل دا شو چه دا ټول کارونه د رب لره دي او څوک بې له الله تعالیٰ نه اوردا معنی ده د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ.

ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ

تورتمونو د وچې او د دریاب کښې: او هغه ذات چه رالیږي

الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ءَاِلٰهٌ

بادونه: زیرې ورکوونکي مخکښې د رحمت خپل نه: آیا شته بل معبود

مَّعَ اللّٰهِ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۳﴾

سره د الله تعالیٰ نه لوی دے الله تعالیٰ د هغه نه چه دوی ورسره شریک جوړوي

اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ

بلکه څوک دے هغه ذات چه شروع کوي پیدا ښت، بیا به یې دوباره پیدا کوي: او هغه ذات

يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ءَاِلٰهٌ

چه رزق درکوي تاسو ته د آسمان او د زمکې نه: آیا شته بل معبود

مَّعَ اللّٰهِ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ

سره د الله تعالیٰ: او وایه راوړئ دلیل خپل: که چیرې

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ

یئ تاسو رښتوني. وایه چه نه پوهیږي: هغه څوک

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ

چه په آسمانونو او زمکه کښې دي په غیبو باندې لیکن یو الله تعالیٰ

وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ

او نه پوهیږي دوی چه کله به دوی دوباره راژوندي کولی شي: بلکه

ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ بَلْ هُمْ

ورک شوې علم د دوی په باره د آخرت کښې: بلکه دوی

فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿۶۶﴾

په شک کښې دي د هغې نه، بلکه دوی د آخرت نه ړانده دي

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا

او وائي: کافران: آیا کله چه شو مونږ: خاورې

(احسن بیان) قُلْ لَا يَعْلَمُ: په دې آیت کریمه کښې اوله دعوی د سورت ذکر ده چه نفي د علم غیب ده د مخلوق نه او دا تفریع ده په واقعه د موسیٰ او سلیمان علیهما السلام باندې. د غیب نه مراد هغه شیونه دي چه په څیز سبب سره معلوم شوي نه وي نه په عقل سره او نه په حواسو سره او نه په وحې سره. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه الله تعالیٰ امر کوي خپل رسول ﷺ ته چه ووایه په ذات د الله چه ټول مخلوق نه پوهیږي په غیبو مګر د آسمانونو او زمکې والو نه بغیر د الله تعالیٰ نه. (مختصر) فائده: علامه خازن رحمه الله وائي: د آسمانونو والا ملائک او زمکې والا انبیاء دي او نور إِلَّا اللّٰهُ: لاکن یو الله تعالیٰ پوهیږي. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي: دا استثناء منقطع ده (مختصر). او سوال رازي چه دلته استثناء په رفع ده، خلاف نسفي رحمه الله فرمائي چه دا ارفع دے په لغت د بني تمیم باندې کوم کښې چه استثناء منقطع جاري په غیر د مستثنیٰ باندې (روح المعاني) حاصل دا شو چه إِلَّا اللّٰهُ بدل دے د مَنْ نه او هغه په محل د رفع کښې دے نو خود مرفوع شو. فائده: حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه څوک دا خیال کوي چه نبي ﷺ پوهیږي په هغه چه صبا به کیږي نو لوئے دروغ ئے په الله تعالیٰ جوړ کړه ځکه چه الله تعالیٰ فرمائي: قُلْ لَا يَعْلَمُ الخ: (ابن کثیر رحمه الله، روح المعاني، بخاري، مسلم)

وَاٰبَآؤُنَآ اَئِنَّا لَمُخۡرَجُوۡنَ ﴿٦٧﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا

او پلاران زمونږ (آیا) مونږ به خامخا راویستلے کیږو : یقیناً وعده شوې وه کړ زمونږ سره

هٰذَا نَحۡنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنۡ قَبۡلُ ۙ اِنۡ

د دے : مونږ ته هم : او پلارانو زمونږ ته هم : مخکښ د دے نه : نه دی

هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِیۡرُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿٦٨﴾ قُلۡ

دا : مګر : قصے : د پخوانو : ووایه :

سِیۡرُوۡا فِی الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا کَیۡفَ کَانَ

وګرزئ : په زمکه کښې : پس وګورئ : څنګه : وو :

عَاقِبَةُ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَیۡهِمۡ

انجام : د مجرمانو : او مه غمژن کیږه : په دوی باندې :

وَلَا تَکُنۡ فِیۡ ضَیۡقٍ مِّمَّا یَمۡکُرُوۡنَ ﴿٧٠﴾ وَ

او مه کیږه : په تنګوالي کښې : د هغه څه چه دوی یې مکرونه کوي : او

یَقُوۡلُوۡنَ مَتٰی هٰذَا الۡوَعۡدُ اِنۡ کُنۡتُمۡ

وائي دوی : کله به وي : دا : وعده : که چرے یاست تاسو :

صٰدِقِیۡنَ ﴿٧١﴾ قُلۡ عَسٰۤی اَنۡ یَّکُوۡنَ

رشتینی : ووایه : نزدے ده : چه شي به :

رَدِفَ لَکُمۡ بَعۡضُ الَّذِیۡ تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿٧٢﴾

پیوسته بتاسے پسے : بعضې : هغه عذاب چه تاسے یې جلتي غواړئ :

وَاِنَّ رَبَّکَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَی النَّاسِ

او یقیناً رب ستا : خاوند د فضل دے : په خلقو باندې :

وَلٰکِنَّ اَکۡثَرَهُمۡ لَا یَشۡکُرُوۡنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ

او لاکن : زیات د دوی نه : شکر نه وباسي : او یقیناً

رَبَّکَ لَیَعۡلَمُ مَا تُکِنُّ صُدُوۡرُهُمۡ وَمَا

رب ستا : خامخا پوهیږي : په هغه چه پټ لے ساتي : سینے د دوی : او په هغه

صفحه ۶۳۱ شرکائی تیر ۱۹ : مرکب شو ۱۹ ونفسل الت ۲۰ مرتبه کی ، (ایام الرحمن سلام ۴۲) بَلِ ادّٰرَکَ ، بلکه فانی شوے وه نه ختم شوے د علم د دوی : (ادرک تیر ۱۹) د دې معنی : مضبوط شوے او کامل شوے وه : او دا یا طور د استهزاء و رته ویلی شوې وګوره جواهر مختلف ...

وَقَالَ الَّذِیۡنَ ۶۶ : زواجر دی کفارو لره په منع منکر د قیامت باندې او تصحیح نه ګښې تسلی ده نبي علیه السلام ته ::

زیرق لکم (رما شبه ده دے مجح) : پیوسته به شي تاسو پسے ، په مخکښ سوره ګښې دلیل عقلي وه د رد د شرک فِی الۡعِلۡمِ د باره او دا اول دعوه سره تعلق لري : د نه ترغیب قرآن ته ده ::

❖ ❖ ❖

تَوَكُّل: داهم تسلي دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لره : نه ملا کښې هم تسلي دی، فائده: یعني
بې پروا شه دا مشرکان نه منني نو ته ئې غم مه کوه، په الله تعالیٰ بهروسه وکړه او خپل کار کوه : إِنَّكَ عَلَى
الْحَقِّ الْمُبِينِ ۔ او إِنَّكَ لَا
تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ: دَ ما قبل دَپاره
علت نه دی ۔ (جواهر صـ٨٢٤)۔

يَعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَ
چې ښکاره کوي : او نشته هیڅ : پټ : په آسمان : او
الْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٧٥﴾ إِنَّ
زمکه کښې : مګر په کتاب ښکاره کښې دی : یقیناً :
هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ
دا قرآن : بیانوي په بني اسرائیلو :
أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَ
زیات هغه چې دوی : په هغه کښې اختلاف کوي : او
إِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾
یقیناً دا خامخا هدایت او رحمت دے : دَپاره دَ مؤمنانو :
إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ بِحُكْمِهِ وَهُوَ
یقیناً رب ستا : فیصله به وکړي : په مینځ دَ دوی کښې په حکم خپل سره او هغه
الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ
زورور پوهه په هر څه دے : پس ته بهروسه کوه : په الله تعالیٰ :
إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾ إِنَّكَ لَا
یقیناً ته : په حق ښکاره (ښکاره) یې : یقیناً ته نشې
تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ
اورولے مړو ته : او نشې اورولے کوڼو ته : بلنه لره
إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَا أَنْتَ
کله چې وګرځي دوی : شا کونکي : او نه یې : ته
بِهَادِي الْعُمْيِ عَنْ ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِنْ
هدایت کونکے : ړندو ته : دَ ګمراهۍ دَ هغوی نه : او نه اورولے
تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ
نشې ته : مګر هغه چا ته چې ایمان راوړي : په آیتونو زمونږ نو : هغوی
مسلمان دي

فائدہ: داهم تسلي ده او
جواب دَ وهم دے چې هر کله
دَ رسول دعوت حق دے
نو دا په دے خلقو کښې
اثر ولے نکوي؟ نو جواب ئې
حاصل دا چې ستا بیان بې دوی
کښې تاثیر نکوي ۔ دَ دوی مانع
دَ دوی طرف نه دے ستا له طرفه
نه هیڅ نقصان نشته . هغه
دا چې دوی پشان دَ مړو دي
او دَ هغوی قوتي حواس او عمل
بے کاره دي یعنې نه اوري او
وینې او نه پوهیږي په عقل
سره او دا رنګ دوی پشان
دَ کڼو دي او دَ کوڼو حاسه
یې استعمال نه کړه دا او
دوی پشان دَ ړندو دي چې
حاسه دَ لیدلو ئې بیکاره ده
یعنې دَ علم اسباب نې بې
(عقل) ئې غوږ و نه او نکړے
دی او هغه لکه چې دَ مړی او
کوڼو او ړندو بیکاره دي ،
دا سے دَ دے کافرانو هم دي ۔
تاثیر مثلاً بقره ۔ (احسن صـ٣٢٢)

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ:
حاشیه دَ رانلونکي مخ سره (٩٣):
او کله چې پوره شي فیصله دَ
عذاب په دوی ۔ نسفي رحمه الله
فرمائي، مراد نزدے والے
دَ قیامت دے (ایضاً)۔

دَابَّةً مِنَ الْأَرْضِ: یو ځناور دے دَ زمکې نه ۔ آلوسي رحمه الله دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل کوي چې دابه هغه
وخت کښې وځي چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر به پریخودے شي ۔ (روح معاني)۔ فائده: ابن کثیر رحمه الله

مع البقیه دَ وسے ۹۴): وغیرَوُ په دے ځائے کښې دَ دابة الارض دَ هیئت او دَ کیفیت او دَ حالاتو
متعلق مختلف روایات نقل کړی دی چه دَ هغو نه اکثر قابلِ اعتماد نه دی، له دے وجه نه مونږ ه

مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَیْهِمْ
منونکی وی ؛ او کله چه راتلونکے وشی په دوی باندے خبره ؛
اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُکَلِّمُهُمْ
راوباسو مونږ دوی دپاره یو ځناور دَ زمکے نه ، خبرے به کوی دوی سره
اَنَّ النَّاسَ کَانُوْا بِاٰیٰتِنَا لَا یُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾
چه یقیناً خلق دَ وو به ایتونو زمونږه چه یقین به ئے نه کولو ؛
وَیَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ کُلِّ اُمَّةٍ فَوْجًا
او کله چه راجمع کړو دَ هر امت نه یو ډله ؛
مِّمَّنْ یُّکَذِّبُ بِاٰیٰتِنَا فَهُمْ یُوْزَعُوْنَ ﴿۸۳﴾
دَ هغو خلقو چه دروغژن ګڼل ایتونه زمونږ پس دوی به جلا جلا کړے شی ؛
حَتّٰۤی اِذَا جَآءُوْ قَالَ اَکَذَّبْتُمْ بِاٰیٰتِیْ
ترڅو چه راشی دوی ، وبه وائی الله : ایا دروغژن مو ګڼل ایتونه زما
وَلَمْ تُحِیْطُوْا بِهَا عِلْمًا اَمَّا ذَا کُنْتُمْ
او احاطه مو نه وه کړے تاسو په هغو دَ علم : ایا څه وو هغه چه وئ تاسو
تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَیْهِمْ بِمَا
چه کولو مو ؛ او ثابته به شی فیصله په دوی باندے په سبب دَ
ظَلَمُوْا فَهُمْ لَا یَنْطِقُوْنَ ﴿۸۵﴾ اَلَمْ یَرَوْا اَنَّا
ظلم دَ دوی ، پس دوی به خبرے نشی کولے ؛ ایا نه ګوری دوی چه یقیناً
جَعَلْنَا الَّیْلَ لِیَسْکُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ
مونږ ګرزولے ده شپه دپاره چه ارام وکړی دوی په دیکښې او ورځ ؛
مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ
دَ رڼا والا ، یقیناً په دیکښې ښکاره نخښے دی دَ هغه قوم دپاره
یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَیَوْمَ یُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ
چه ایمان راوړی ؛ او په کومه ورځ چه پو به کړے شی په شپیلئ کښې ؛

خبره چه دَ قرآن دَ ایت او دَ احادیث صحیحه نه ثابته ده هغه دا چه دابة الخلقة عجیبه وی به به دَ قرآن او تناسل نه به دَ زمکے نه راوزی - دَ دے خروج به په مکه مکرمه کښې وی بیا به په ټوله دنیا کښې ګرزی دا به کافر او مؤمن پیژنی او دَ دوی سره به خبرے کوی پس په دومره خبره باندے دَ عقیده ولرے شی - دَ زیاتو کیفیاتو او حالاتو تحقیق او تفتیش نه ضروری دے او نه دَ څه فائده شته (معارف ۶۰۲): تُکَلِّمُهُمْ : خبرے به کوی دَ خلقو سره په دے چه خلق په ایتونو دَ رب زمونږ یقین نکوی ، وَیَوْمَ نَحْشُرُ الخ : دَ دے ځائے نه تخویف اُخروی دے -

حَتّٰۤی اِذَا جَآءُوْ : چه محشر ته راشی نو باری تعالیٰ به تنبیه تپوس وکړی چه بے تحقیقه تاسو څنګه ایتونه دروغژن کړل یا څه کار وو ستو دَ خدائے تعالیٰ عذاب به په دوی مقرر شی نو به دَ عذر خبرے نشی کولے - (النمل ت ۵۲۵): اَلَمْ یَرَوْا : دا دلیل عقلی دے : "الوسی" فرمائی چه مشهوره دا ده چه په دے ایت کښې صنعت احتباک دے او تقدیر ئے دا دے چه ګرزولے مونږه شپه تورتم والا چه دوی ارام وکړی په دیکښې او ورځ دَ رڼا والا چه خوارئے شی دوی په دیکښې (روح ص۲۰ ۲۰) ✣ ✣ ✣

إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ: دا د عذاب د آخرت بیان وسے چه کله چه شپیلئ کښې پو کړے وشي نو د آسمانونو او زمکے خلق به ا ودریږي مګر حاملین د عرش او بعض نور ے ملائک به په امن وي او ټول خلق به

فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ

پس پریشانه به شي هغه څوک چه په آسمانونو کښې دي او هغه څوک چه په زمکه کښې دي

إِلَّا مَن شَاءَ اللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ ﴿۸۷﴾

مګر هغه څوک چه وغواړي الله تعالی د هغه او ټول به راشي هغه ته عاجزي کونکي،

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ

او وبه وینې غرونه، خیال به کوے ته چه هغه ولاړ دي؛ او هغه به

تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي

تیریږي په شان د تیریدلو د وریځو؛ کاریګري د الله تعالی؛ هغه ذات چه

أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا

مضبوط کړے یې هر شی لره؛ یقیناً الله تعالی خبردار دے په هغه کارونو

تَفْعَلُونَ ﴿۸۸﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ

چه تاسو یې کوئ؛ چا چه راتلل وکړل په نیکئ پس د هغه لره،

خَيْرٌ مِّنْهَا وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ

غوره به له هغې نه؛ او دوی به د ویرے د دغه ورځے نه،

آمِنُونَ ﴿۸۹﴾ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ

امن والا وي؛ او چا چه راتلل وکړل په بدئ؛ پس نسکور به کړے شي

وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا

مخونه د دوی؛ په اور کښې؛ بدله به نشئ ورکولے تاسو ته؛ مګر

مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۹۰﴾ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ

د هغه عملونو چه وئ تاسو چه کړل به مو؛ یقیناً امر شوے ماته؛ چه

أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي

بندګي وکړم؛ د رب د دے ښار ؛ د هغه ذات چه

حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ ۖ وَأُمِرْتُ

حرمت ورکړے یې دے؛ او هغه لره اختیار د هر شي دے؛ او امر کړے شوے ماته

د الله تعالی د دبارہ عاجز راتلی او غرونه خوځیږي او س وینے ولاړ خو دا به د وریځے په شان الوزي (الفضل ص۲۳۵) ځکه فقط ابن کثیر رحمه الله فرمائي؛ او دوی شهداء دي (مجم ۳)۔ یا مراد تر ینه کامل مؤمنان دي په قرینه د ۸۹ آیت؛ او دغه آیت کښې بشارت وے؛ او ۹۰ آیت کښې تخریف اخروی دے؛ إِنَّمَا أُمِرْتُ؛ دا وحی دلائل دي۔ نبي علیه السلام فرمائي، ځکه مامور یم په توحید او په لوستلو د قرآن او منل د خلقو خپله فائده ده او که څوک نه مني نو په ما څه ضرر وبال دی، (الفضل ص۳۶۵) ۞ ۞ ۞

وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ: (حاشیه د راتلونکي مخ ص۶)؛ او چه همیشه وکړم په لوستلو د قرآن په خلقو باندې په طریقه د تکرار د صورت سره او په بار بار ارشاد سره د وجه د کافي والي د قرآن نه په ښودلو کښې لاره د هدایت نه۔ (روح ج۲۰)، وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ: دا دعوی د توحید ده لکه چه دا تفریع ده د ذکر کړے شوو احوالو د انبیاء علیهم السلام باندې په مونږ کښې نو او س دا تفریع شوه په دلیلونو د توحید او په ذکر د احوالو د قیامت باندې؛ (احسن الکلام ص۲۴) امتیازات ۱-۱۱؛ (۱) د دابة الارض بیان ملته۔ (۲) تفصیل د مسئلے د إِلَٰه د ځان نه۔ (۳) واقعه د بلقيس ملته (۴) ذکر د هُد هُد ملته (۵) تفصیلي واقعه د سلیمان علیه السلام د ځان نه؛

(اظهار تشکر): الحمدلله یو کال مکمل شو په ۱۳ محرم ۱۴۲۵ھ د قرآن حکیم دا ترجمه او فوائد شروع شوي وو: نن په ورځ د یکشنبې ۲۳ محرم

(بقیه دَ دې مخ) ۳۲۸ اهـ سورة النمل په ختمولو سره دَ ما زیګر نه مخکښې ختم شو. نو لس پارې ختمې او په نشلي کښې لیک روان دے: یا الله دَ باقي لیکلو توفیق هم راکړے آمین. (ن)

أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنْ أَتْلُوَا

چه: شم زه: دَ مسلمانانو نه: او چه: تلاوت کوم:

الْقُرْآنَ ۖ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي

قرآن کریم: پس چا چه هدایت قبول کړو پس یقینًا هغه هدایت موندي

لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَا أَنَا

دَ ځان دَ پاره: او څوک چه ګمراه شو: پس ووایه یقینًا زه

مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ

دَ ویروونکو نه یم: او ووایه: حمد وثنا دې الله تعالیٰ لره:

سَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَتَعْرِفُونَهَا ۚ وَمَا رَبُّكَ

زر دے چه وبه ښائي تاسو ته خپلې نښې پس تاسو به پیژنئ هغه لره: او نه دے رب ستا

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾

ناخبره: دَ هغو نه چه تاسو یې کوئ:

(۹۳ عـ ۷)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

طسم ﴿١﴾ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ﴿٢﴾

دَ دې معنیٰ الله تعالیٰ ته معلوم ده: دغه آیتونه: دَ کتاب: وضاحت کوونکي دي:

نَتْلُو عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَ

لوستل کوو مونږ: په تا باندې: بعضې دَ خبر: دَ موسیٰ علیه السلام: او

فِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ

دَ فرعون نه: په حقه (رښتیا) سره: دَ پاره دَ تسلي دَ هغه قوم چه ایمان راوړي: یقینًا

فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ

فرعون لوئي کړے وه: په زمکه کښې: او جوړ کړي وو:

أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً

اهل دَ زمکې: ډلې ډلې: کمزورے کړے یې وه: یوه ډله:

سُورَةُ الْقَصَصِ:- مکي سورت دے، په ترتیب کښې ۲۸ دے پس دَ نمل نه او په نزول کښې ۴۹ هم پس دَ نمل نه: وجه دَ تسمیې دا ده چه مثلًا آیت کښې دا لفظ ذکر دے.

دعوے:- تسلي ده او تشجیع ده نبي علیه السلام ته په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام سره او (۲) دعوی دَ توحید علاوه دَ دې مربوطونه: (۱) مخکښې سورتونو کښې مسئله بیان شوه دَ برکت نو دلته نیزي ورکوي په رسولو دَ صحف. (۲) دَ سورة نمل په آخر کښې حمد دَ الله تعالیٰ ذکر شو دلته دَ هغه حکمت او علت بیانوي چه دَ دشمنانو هلاکوي او اتباع کوونکو نبیانو لره نجات ورکوي. (۳) دَ هغه سورت په اول کښې صفت دَ کتاب ذکر او دَ دې په اول کښې هم. (۴) دَ هغه سورة آخیر کښې ترغیب دَ قرآن ته شو دلته اول کښې دے (۵) یا نزول کښې دَ مستر دَ هغه سورة نه وو نو په ترتیب کښې هم روستو دَ هغه سورة نه شو.

خلاصه:- دا سورت درې بابه دے، اول تر ۴۳ پورې دویم تر ۷۵ پورې دریم تر آخره پورې، په اول باب کښې دیے خبرې دي: ۱: ترغیب قرآن ته شي ۲: اجمالي واقعه دَ موسیٰ علیه السلام ذکر ده: ۳: تفصیلي واقعه او پنځه مقامات ذکر دي:

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ ... یقینًا فرعون لوئي کړے وه په زمکه کښې، ګوري تکبر او نازونه یې کول شِيَعًا ډلې ډلې (فتح ص۳۲۷) دَ تیموري تفسیر رحمه الله فرمائي چه فرعون په زمکه دَ مصر کښې سرکشي کړے وه او ظلم او تجاوز کښې انتها نه رسولے وو، دَ مصر خلق یې مختلفو جماعتونو کښې تقسیم کړي وو او دَ دوی نه یو

مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ
ذ هغوى نه، حلالول ئے : ځامن ذ هغوى ؛ او ژوندى ساتلے ئے : ښځے
نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ④
ذ ښځو ذ هغوى ، يقيناً دا وو : ذ فساد كوونكو نه :
وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ
او اراده لرله مونږ : چه احسان وكړو : په هغه كسانو : چه
اسْتُضْعِفُوْا فِى الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ
كمزورى كړے شوى وُو : په زمكه كښې : او جوړ كړو دوى لره
اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ⑤ وَ
مشران دينى : او جوړ كړو دوى لره وارثان ذ زمكے : او
نُمَكِّنَ لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَنُرِىَ
چه طاقت وركړو دوى لره په زمكه كښې : او اوښايو
فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ
فرعون ته : او هامان ته : او لښكرو د دواړو ته : ذ بنى اسرائيلو نه
مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ⑥ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى
هغه چه دوى وو : ترينه ويريدے ذ كوله : او زړه كښې مو واچوله : مور
اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا
ذ موسىٰ ؑ ته : چه شيدے وركوه ده ته ؛ پس كله چه
خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِى الْيَمِّ وَلَا
وويريدے ته : په ده باندے ؛ پس واچوه ده لره په درياب كښې : او مه
تَخَافِىْ وَلَا تَحْزَنِىْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ
ويريږه : او مه غمژنه كيږه ، يقيناً مونږ واپس كوونكى يو ده لره تا ته :
وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ⑦ فَالْتَقَطَهٗ
او جوړوونكى يو ده لره : ذ رسولانو نه : پس راپورته كړو ده لره

مه قيا قسم سخت اوګران
خو منځونه اخستل ، يا مطلب
داوے چه رعيت ئے مختلفو
ډلو كښې تقسيم كړو او د دوى
په مابين كښې ئے ذ بغض
او عداوت تخم وكرلو چه
هغوى متفق نشى او په خپل
اندرونى اختلافاتو كښې ولګى
او ذ ده په بنو او بدو كار د خو
پاتے ذ چا ذ پاره ذ تنقيد او
تبصرے موقعه ملاؤ نشى ،
ذ انګريزانو بعينه دا پاليسى
وه بلكه هر ظالم او جابر
حكمران دا پاليسى اختيار كړيا ؟
(جواهر سقف) ، وګوره روح معنى
حصه ٢٠ ص ٢٠٥) ؛ وَنَجْعَلَهُمْ
اَئِمَّةً :(حاشيه ذ دے مخ)
او اوګرزو مونږ دوى لره
مقتدا الخ ، يعنى په دين او دنيا كښې
(روح معنى) ، وَاَوْحَيْنَا ؟ او الهام
وكړو مونږ مور ذ موسىٰ ؑ ته
(فتح منان) . ذ دے خائے نه
تر دے پورے اول مقام ذ
چه موسىٰ عليه السلام ذ فرعون
كورته تشكه ورسيدو ؛
په دے آيت كريمه كښې
ذكر ذ امتحان ذ مور ذ
موسىٰ عليه السلام او هغے
لره بشارتونه دى ؛

⁂ ⁂ ⁂

لِيَكُونَ لَهُمْ: دا لام عاقبت دے یعني دوئ موسیٰ علیه السلام راوچت کړو خو په انجام کښ دَ دوئ دَ غم او دَ خفګان باعث جوړ شو ځکه دَ دوئ غرض دا نه وُو: (روح المعاني ۴۹) لَا تَقْتُلُوْهُ:

آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّ

کورنئ دَ فرعون : چه شي دے : دوئ لره : دشمن : او

حَزَنًا ۭ اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَ

غم : یقینًا فرعون : او هامان : او

جُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٔیْنَ ۝ وَقَالَتِ

لښکرے دَ دوئ : وو : خطا کار : او ووئیلے

امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَیْنٍ لِّیْ وَ

ښځے : دَ فرعون : یخوالے دَ سترګو : ما او

لَكَ ۭ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ عَسٰۤى اَنْ یَّنْفَعَنَاۤ

ستا دے : مه وژنئ دَه لره : نزدے ده : چه شي به راکړي مونږ ته

اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ۝٩

او یا به ونیسو دَه لره : په ځوئ : او دوئ : نه پوهیدل :

وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا ۭ اِنْ

او وګرځیده : زړه دَ مور دَ موسیٰ : خالي : تحقیق نزدے وه

كَادَتْ لَتُبْدِیْ بِهٖ لَوْلَاۤ اَنْ رَّبَطْنَا

دا چه اظهار به کړے وے هغه : که نه وے دا چه : مونږ تړلے وو

عَلٰى قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝١٠

په زړه دَ دے : چه شي دا : دَ ایمان والو نه :

وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّیْهِ ۫ فَبَصُرَتْ بِهٖ

او ووئیلے خور دَ موسیٰ ته : چه ځه دَه پسے : پس کتل هغه دَه ته

عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ۝١١ وَ

دَ لرے نه : او دوئ : نه پوهیدل : او

حَرَّمْنَا عَلَیْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ

منع کړے وُو مونږ : په دَه باندے دَ تي ورکونکے ښځے : مخکښ دَ دے نه :

منزل ۵

مه وژنئ دَه لره: په دیکښ خطاب دے فرعون ته ښکاري یا چاپیانو سره خطاب کړے شي: یا خطاب دے اردلیانو ته: (مدارک) فائده: فرعون دے تنقلولو نه ځکه ورته ووے چه دے مه تنقلوئ ولئ زمونږ دَ سترګو یخوالے دے: دے به زمونږ دَ نفع شي یا به دے ځیل ځوئ ګرځوو: او دوئ دَ دے نه خبر نه وُو چه دا خو دَ فرعون هغه دشمن دے: هلته دَ موسیٰ علیه السلام دَ مور زړه که بے قراره وُو، قریب وُو چه هغه خپله بے قراري ښکاره کړے وے او دَ موسیٰ علیه السلام حال هغه ویلے وے چه دے ځما ځوئے دے خو باري تعالیٰ دَ هغے په زړه تسکین راوسته دَپاره دَ دے چه دَ هغے یقین راشي چه باري تعالیٰ خپلے وعدے ضرور پوره کوي: (الفضل ۵) قُصِّیْهِ: چه زه به دے پسے روستو: (فتح ۴۳): وَحَرَّمْنَا: او منع کړے وے مونږ په دے دي باندې شودو ورکونکے ښځے: (مدارک ۴۳) وګورئ آل عمران ۵۳ چي تحریم په معنیٰ دَ منع راغلے دے:

فرد دَ دے: (حاشیه دَ راتلونکي مخ ۳۳): پس واپس کړه موږ دَه لره مور خپلے ته الوسي رحمه الله فرمائي: پس واپس نے راوړو کور خپل ته په دغه ورسته او فرعون امر وکړه چه جاري کړئ دغے لره نفقه: (روح ۳۹): فائده: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دَ موسیٰ علیه السلام مور دَ باچا خواله نه ځي اوتنو ځي: حدیث کښ دَ آخري زمانے عالمانو ذکر دي: عُلَمَآءُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ اَدِیْمِ السَّمَآءِ مع

(بقیه ذده ۴): (مشکوٰة ص۳۵) چه عالمان به بے ناکاره وی لاندے دُ څرمنے دُ آسمان نه: مراد
ترینه حقه عالمان دی چه دُ امیرانو خوالو دُ دنیا دپاره ځی: ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ أَشُدَّهُ: او کله چه ورسیده

فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ

پس ووئیلے دے: آیا او ښایم تاسو ته: یو کور والا

يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾

چه پرورش به کوی دده ستاسو دپاره: او هغوی به دُ ده دپاره خیر خواه وی:

فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَ

پس واپس کړو موږ ده لره: مور خپلے ته: دُ دپاره چه یخے شی سترګے دُ هغے: او

لَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ

نه غمژنه کیږی: او پوهه شی: چه یقیناً وعده دُ الله تعالیٰ

حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ ع

حقه ده: او لاکن زیات دُ خلقو نه: نه پوهیږی:

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ءَاتَيْنَٰهُ

او کله چه ورسیده دُ موسیٰ ځوانئ ځان ته: او برابر شو: ورکړو موږ ده ته

حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى

حکمت: او پوهه: او دغه رنګے: بدله ورکوو موږ

ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ

نیکی کوونکو ته: او راننوتو: ښار ته: په

حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا

وخت دُ غفلت: دُ اوسیدونکو دُ هغه ښار: پس بیا ئے موندل په دغه کښ

رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ

دوه سړی: چه جګړه ئے کوله: دا یو دُ کورنئ دُ ده نه وو:

وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ

او دا بل (دویم): دُ دُښمن دُ ده نه وو: پس امداد وغوښتلو دُ ده نه

ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ

هغه کس: چه دُ ده دُ ډلے نه وو: په هغه کس چه دُ ده دُ

موسیٰ علیه السلام انتهائی ځوانئ ته: (ابن کثیر) حُكْمًا وَعِلْمًا: ورکړو موږ ده ته حکمت او پوهه پس پوهه شو موسیٰ علیه السلام او فیصلے کولے مخکښ دُ نبوت نه لو ته (معالم التنزیل، جواهر ص۵۹) دا مخکښ دُ موسیٰ علیه السلام دُ وړوکوالی حالات وو نو کله چه موسیٰ علیه السلام طاقت ته ورسید نو باری تعالیٰ فرمائی چه هغه ته حکم او علم ورکړو او دا خپل قانون دے چه څوک مخلص وی نو هغه ته علم ورکوو (انفال ۲۹) فائده: دے ځائے نه ترځائے پورے دُویم مقام دے چه موسیٰ علیه السلام مدین ته ځنګه ورسید او دُ موسیٰ علیه السلام ځوانئ حالات دی.

وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ: هر کله چه موسیٰ علیه السلام دُ دین دُ فرعون نه نفرت کولو نو دُ هغوی سره ئے تعلق نه لرلو بلکه دُ هغوی نه جُدا به ګرځید لو: دُ دے وجے نه ښار ته دُ غرمے په وخت کښ دُ یو ضرورت دپاره داخل شو په دغه وخت عام خلق اوده وو او لفظ دُ غفلت دلیل دے چه دُ غفلت وخت کښ قصداً وو (احسن ص۲۴) په غرمه کښ موسیٰ علیه السلام دُ ښار ګشت کاوه ظالمان او مظلومان معلومول نو یو قبطی اسرائیلی ته وهلے چه د ارګی سرکاری قطعو ته یوسه نو هغه موسیٰ علیه السلام ته فریاد وکړو نو موسیٰ علیه السلام قبطی ته ووئیل چه دے پریږده او دا ناجائزه خبره ده

نو هغه ورته وویل چه دا لرګی بوځه نو موسیٰ علیه السلام دُ ډیره غصه په شو او وواهه نو هغه مړ شو، موسیٰ علیه السلام دُ قتل اراده نه وه کړے خو بے احتیاطی وشوه نو بخښنه ئے وغوښته نو الله هغه له معاف کړو. (افضل ص۵۳۹)

هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ رکوع: دا قتل چه حاصل شو بغیر دَ قصد نه (مدارک ص۲۳۱): دا عمل دَ مقتول دَ عمل دَ شیطان نه وے (کبیر ص۲۳۴) شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل: دا اجنبي دَ دوی عمل دَ شیطان دے۔ فَاغْفِرْ لِيْ: پس بخښنه وکړه ما ته پس بخښنه وکړه الله تعالیٰ دَهٔ ته، فائده: مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله (دَ سوال په جواب کښې) لیکلی دی: مُتَّهم چه قبطی حربی کافر وو، ظالم وو او دَ موسیٰ علیه السلام نیت هم محض دَ ادب ورکولو وو دَ روح ایستلو وهل نهٔ وو مګر ظاهره ده چه په دَغه وخت کښې نهٔ څهٔ معرکه دَ جهاد وه او موسیٰ علیه السلام قبطی قوم ته څهٔ اَلْتِیْ مُبَتَّیم نه وو ورکړے بلکه مصر کښې دَ دوی دَ اوسیدو لوکوم طرزِ عمل وو دَ دغه نه خلق مطمئن وو (ملخصًا) فائده:- دَ موسیٰ علیه السلام دَ قبطیا نو سره معاهده وه حالا۔ نو مثلًا نو ځکه هغهٔ دا قتل نا کاره وګنړلو —: فائده: دَ پیغمبر علیه السلام نه اجتهادی غلطی کیږی او په هغې زجر هم کیږی او دَ هغې اصلاح کیږی دَ باری تعالیٰ له طرفه، دَ پیغمبر شان لوے دے (افضل ص۲۸۹) فَلَنْ اَكُوْنَ: آلوسی رحمه الله فرمائی چه اهلِ علمو په دے آیت دلیل نیولے دے په منع والی دَ اعانت او دَ خدمت دَ ظالمانو باندی (روح ص۵۳) بیا یې ډیر افسوس کوی او فرمائی:—

عَدُوِّهٖ ۚ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ

دَ دښمن دَ دَهٔ نه وو، پس په سوک ووهلهٔ دَوَهٔ موسیٰ؛ پس ختم ئې کړو دَ هغهٔ

قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۖ اِنَّهٗ

ووئیل موسیٰ: دا : دَ عمل دَ شیطان نه دے : یقینًا دا :

عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ

دښمن، خطاکوونکے، ښکاره دے : ووئیلے وو: اے ربه زما! یقینًا ما

ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ۗ

ظلم وکړو: په ځان خپل؛ پس بخښنه وکړه ما له: پس بخښنه ئې وکړه دَهٔ ته؛

اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ

یقینًا دا الله هُو: بخښونکے، مهربان دے: ووئیلے وو: اے ربه زما!

بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا

په سبب دَ هغه انعام چه کړے دے تا په ما؛ پس هیڅ کله به نه شم : امداد ګر

لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٧﴾ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ

دَ جرم کوونکو دَ پاره : پس صباح ئې کړو: په دغه ښار کښې :

خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ

ویریدونکے : انتظار ئې کولو : پس ناګهانه هغه کس چه امداد ئې غوښتے وو دَ دَهٔ

بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ۗ قَالَ لَهٗ

پرون : چغې وهلے دَهٔ ته : ووئیلے : دَهٔ ته :

مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّآ

موسیٰ هو، یقینًا ته خامخا ګمراه ئې ښکاره : پس هر کله

اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ

چه اراده وکړه دَهٔ : چه راښکل (لاس اوږد) وکړی په هغه کس چه هغه دښمن

لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ

دَ دواړو دے : ووئیلے هغه: اے موسیٰ! آیا اراده لرے ته: چه مړ کړے ما لره؟

فَيَا حَسْرَتَا عَلٰى مَنْ بَاعَ دِيْنَهٗ بِدُنْيَاهُ ؛ وَاشْتَرٰى رِضَا الظَّلَمَةِ بِغَضَبِ مَوْلَاهُ : قَالَ يٰمُوْسٰٓى: ووئیلے هغه اسرائیلی (معارف ص۲۲۳) ځکه قبطی ووئیلے او دا قصه ئې دَ اسرائیلی نه معلومه کړه او ظاهره دا وجه ده. (کبیر ص۲۳۶ ج ۲۴) ؛

وَجَآءَ رَجُلٌ: دَ مخکښی مرلیٔ نه څوک خبر نهٔ وُو۔ هر کله چه هغه راز ښکاره کړو نو دَ فرعون مشران پیښے جرګه شو او پیتولو اتفاق فیصله وکړه دَ موسیٰ علیه السلام دَ مرلیٔ نو دَوے مهبرانو نه یو کس په لتون لا ر راغے چه تخنه ستا په سَر دَ قتل فیصله شوے ده الخ (الفضل منتخب ۵)

كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ ۖ إِن تُرِيدُ

څنګه چه ووژلے دې پرون یو نفس : پرون : اراده نه لرے ته

إِلَّا أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا

مګر چه شے ته زور اور : په زمکه کښی : او اراده

تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ ﴿١٩﴾

نه لرے ته : چه شے ته : دَ اصلاح کونکو نه :

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا الْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ

او راغلو یو ساړے : دَ لرے طرف : دَ ښار نه : منډے وهلے

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ

وویلے هغه : اے موسیٰ : یقیناً مشران دَ مشورے : جرګه کوی

بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ

ستا په باره کښی : چه مړ کړی تا لره : پس اوزه : یقیناً زه تا لره :

مِنَ النَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا

دَ خیر خواهانو نه یم : پس ووتلو دَ هغه ښار نه : ویریدونکے

يَتَرَقَّبُ ۖ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ

انتظار ئے کولو : وویلے اے ربه زما : خلاص کړه ما : دَ قوم :

الظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ

ظلم کونکی نه : او کله چه مخ کړو : په طرف : دَ

مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي

مدین : وے ویلے : زر ده چه رب زما : وښائی ماته :

سَوَآءَ السَّبِيلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ

برابره : لار : او هر کله چه ورسیدو : او بو :

مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ

دَ مدین ته : بیا ئے موند له په هغه باندے : یوه ډله : دَ خلقو

یأتمرون بك: یعنی امر کوی بعضے بعضو ته په قتل ستا او یا مشورے کوی په سبب ستا۔ (مدارک منتخب)

فائده: دَ دے ترسړی ذکر سورة مؤمن منتخب ۲ نه وګورئ: وَلَمَّا تَوَجَّهَ منتخب ۱ دَ دے ځائے نه ترمنتخب پورے وریم مقام دے چه موسیٰ علیه السلام مدین ته څنګه ورسیده او هلته ئے څو مره ژوند تیر کړو:

مَدْيَنَ: مدین دَ حضرت شعیب علیه السلام ښار وُو: دا ښار دَ فرعون دَ سلطنت نه باهر وُو او مصر ته نزدے هم وُو۔ دَ دے وجے نه ئے مدین ته مخ کړو۔ لاره ورته څرنګه صحیح معلومه نهٔ وه: دَ دے وجے نه محض دَ اندازے نه ئے یوه لاره ونیوله او دَ الله تعالیٰ په بهروسه بانے روان شو چه هغه ئے په خپله صفرباندی په سید ها لاره بوزی (جزیرہ منتخب)، وَوَجَدَ: (حاشیه دَ راتلونکی مخ منتخب): مشهور قول دا دے چه دا دوا ړه زنانه دَ حضرت شعیب علیه السلام لوڼړه وے۔ دَ مسئلے دَ توحید دَ وجے نه مشرکانو ته حضرت شعیب علیه السلام سره دومره ضد وُو چه هغوی انسانی مروّت او اخلاق هم دَ طاق دَ پاسه ایخودلی وُو۔ هغوی نه دَ حضرت شعیب علیه السلام دَ بوډاتوب خیال کولو او نهٔ دَ هغه دَ لوڼړو دَ ضعف صنفی خیال کولو بلکه خپلو خارووُ لره به ئے اوبهٔ ورکړے دَ کوهی ځاله به ئے هم په ډبرے دَ ړنګے بانده

(بقیه دَ دے مخ): بند ه کړ ه او بوګه هم د و ړ ه قدرسه ورنه وه چه هغه به څوطا تتور وکښا نو راوخکله ۔ (جواهر ص۶۰۴) ۔ فَسَقٰى لَهُمَا: دَ حضرت تهانوی نے اوبه کړه او جینکئ زر واپس شوے او

النَّاسِ يَسْقُونَ ۥ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ

ته ، چه خړوبول ئے (څاروی) ؛ او بیا موندے دِ بخوا دَ هغوی نه ،

امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ؕ

دوه ښځے ، چه منعه کول ئے (څاروی) ؛ ووئیل دا څه دے کار ستاسو ؟

قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ٚ

ووئیل هغوی: اوبه نه ورکوو موږ ، ترڅو چه واپس لاړ شی شپونکی ،

وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ

او پلار زموږ بوډا زوړ دے ، پس اوبه کړه دوی لره (څاروی دَ دوی) بیا

تَوَلّٰۤى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَاۤ

وګرځیده سوری ته ، پس وئے وئیل: اے ربه زما ! یقیناً زه هغه ته چه

اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾ فَجَآءَتْهُ

راوے لیږے ته: ما ته دَ خیر د الله نه محتاج یم ؛ پس راغله دوی ته

اِحْدٰىهُمَا تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ٚ

یوه تنه دَ هغوی نه: راتلله ؛ په حیاء سره ؛

قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ

ووئیلے : یقیناً پلار زما ، رابلی تا لره ؛ چه بدله درکړی تا ته ؛

اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَ

بدله دَ هغه ؛ چه اوبه کړی تا موږ ته ، پس کله چه راغے دا هغه ته : او

قَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ٚ

بیان ئے کړه په ده باندے بیان پوره ؛ وے وئیلے: مه ویریږه ؛

نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَتْ

خلاص شوے ته ؛ دَ قوم ؛ ظلم کوونکی نه ؛ ووئیلے

اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ؗ اِنَّ

یوے تنے دَ هغوی نه: اے بابا جی ؛ په مزدوری ونیسه دهٔ لره ، یقیناً

خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٢﴾

د دوی نه، هیڅ شے لره؛ یقیناً دوی خامخا دروغ وائی

وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ

او خامخا یقیناً بار به کړی، پیټی خپل؛ او پیټی د گمراه کولو سره د

اَثْقَالِهِمْ ۡ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

پیټو خپلو نه؛ او خامخا یقیناً پوښتنه به وکړے شی د دوی؛ په ورځ د قیامت

عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

د هغه چه وو دوی: دروغ به یې ویل؛ او یقیناً رالیږلے وو مونږ

نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ

نوح علیه السلام؛ قوم خپل ته؛ پس حصار شو په هغوی کښې

اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ۭ

زر: کاله؛ سوا د پنځوسو: کالو نه

اوستاسو گناهونه کلاوی نو هغه به هغوی پورته کړی او باری او وړله جواب ورکوی چه دوی دروغ وائی دوی د بل گناه نشی پورته کولے البته خپل پیټی د گناه او پیټی د گمراه کولو د خلقو به دوی ضرور پورته کړی. (افضل ص ۸۰) وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ او خامخا یقیناً دوی به بار کړی پیټی د گمراهئی خپلے او پیټی د گمراه کولو د خلقو سره د پیټو خپلو نه (کبیر ۲۵) فائده: د گناه د دعوت ورکونکو او الاهم گناه لګرد دے. گناه کونکو ته چه کوم عذاب رسی هغه به د دوی نه هم وی. (معارف ۶۹) وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا: د دے ایت کریمه نه تر اخره پورے دویم باب دے. په دے کښې پیغمبرانو نبیانو احوال او د پخوانو قومونو احوال ذکر کوی. د دوایم دعوے د وضاحت د پاره د نوح علیه السلام واقعه کښې صبر او د ابتلاء ذکر کوی ۱۴، د ابراهیم علیه السلام واقعه کښې کیفیت د ابتلاء ذکر کوی ۱۶، د لوط علیه السلام واقعه کښې مجاهده ده چه استهزاء پرے شوے ده ۲۸. د شعیب علیه السلام تکذیب شوے وو. د نبیا د عادیانو، ثمودیانو، فرعون او هامان او قارون ذکر دے چه دا الله تعالیٰ تباه کړه او د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ نشو د دویمے دعوے د پاره وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ۳۹. فائده: ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه په دے قصه کښې تسلی ده نبی علیه السلام ته، ځکه چه الله تعالیٰ خبر ورکړو چه په نبیانو امتحانونه راغلی وو مخکښې د ده نه. (زاد المسیر ۲۳) فائده: د دے سورة په دے ایت کښې مرود د تبلیغ د نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله ذکر شوے ده او دا د دے سورت امتیاز هم دے.

فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُونَ ﴿۱۴﴾
پس ونیول دوی لره : طوفان : او دوی وو ظالمان :
فَأَنجَيْنٰهُ وَأَصْحٰبَ السَّفِينَةِ
پس بچ کړو موږ هغه : او خاوندان (ملګری) د کشتۍ :
وَجَعَلْنٰهَا آيَةً لِّلْعٰلَمِينَ ﴿۱۵﴾ وَ
او وګرځوله موږ کشتۍ : نښه : د پاره د خلقو : او
إِبْرٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا
لیږلے مو وو ابراهیم : کله چه وویل : قوم خپل ته : عبادت وکړئ د
اللّٰهَ وَاتَّقُوهُ ۖ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ
الله تعالیٰ : او وویرېږئ د هغه نه : دا : غوره دی : تاسو لره :
إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۱۶﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ
که چرے یئ تاسو چه پوهیږئ : یقیناً عبادت کوئ تاسو :
مِن دُونِ اللّٰهِ أَوْثٰنًا وَتَخْلُقُونَ
سوا د الله تعالیٰ نه : د بتانو : او جوړوئ تاسو :
إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن
دروغ لره : یقیناً هغه کسان : چه عبادت کوئ تاسے د هغوی : سوا
دُونِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ
د الله تعالیٰ نه : واک نه لري : تاسو لره :
رِزْقًا فَابْتَغُوا عِندَ اللّٰهِ الرِّزْقَ
د روزۍ : پس ولټوئ : د طرف د الله تعالیٰ نه : رزق لره :
وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ۖ إِلَيْهِ
او بندګي کوئ د هغه : او شکر وباسئ : هغه لره : خاص هغه ته به
تُرْجَعُونَ ﴿۱۷﴾ وَإِن تُكَذِّبُوا فَقَدْ
واپس کړے شئ : او که چرے تاسو دروغ ګڼئ (ما لره) پس یقیناً :

وَإِبْرٰهِيمَ : په دے آیت کښې دوه امرونه سره د بیان د فائدے د عملو د توحید ، بیرته کښې ورګرځه او امر دی او زور د شرک دے . فائده : سورة انبیاء کښې تفصیلي واقعه د ابراهیم علیه السلام ذکر شوے ده :

وَإِن تُكَذِّبُوا : د دے آیت کریمه نه تر مخه پورې دوه احتمالونه دي : اول دا چه داخل دي په واقعه د ابراهیم علیه السلام کښې خو په طریقه د خطاب او خو په طریقه د غائب سره په التفات سره ، او خو په طریقه د حکایت کولو سره د قول د باري تعالیٰ نه او دوهم احتمال دا دے چه دا آیتونه په مینځ د واقعه د ابراهیم علیه السلام کښې په طور د جملے معترضه او د خیال الٰهي سره بیان د حال د منکرینو د دے امت دے ، علامه نسفي رحمه الله دواړه احتمالونه ذکر کړي دي - وګورئ مدارک (ج ۳ ص ۲۵۳) وغیره . دواړه توجیهات خطیب شربیني رحمه الله ذکر کړي ، وګورئ سراج منیر (ج ۳) . حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه ظاهره د سیاق نه دا ده چه دا ټول د کلام د ابراهیم علیه السلام نه دي چه حجت قائموي په قوم خپل باندې د پاره د اثبات د قیامت او دلیل پرے دا قول د الله تعالیٰ دے روستو دے نه په مخه کښې فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ الخ .

(ابن کثیر ص ۳۲۳) ؛

أَوَلَمْ يَرَوْا ۙ: مخکښې اثبات د توحید اوشو. اوس دے ایت کښې اثبات د قیامت کوي چه فکر وکړئ په خپل پیدائش کښې. او په ۲۰ کښې فرمائي چه نظر وکړئ په نورو مخلوقاتو کښې. ۲۱ تفریع په ما قبل ایت دے او تخویف او بشارت پکښې ذکر دے او ۲۲ کښې علت د عذاب دے چه عذاب په دے وجه ورکوي ځکه چه د الله تعالی سره څوک مقابله نشي کولے. ۲۳ ایت کښې هم تخویف دے ÷ ÷ ÷

كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ ۖ وَمَا

دروغجن ګڼلي وو ډیرو امتونو: مخکښې ستاسې نه: او نشته

عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ⑱

په رسول دمه باندې: مګر رسول: ښکاره؛

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ

او آیا دوي نه دي کتلي: څنګه اول پیدا کوي: الله تعالی: مخلوق لره؛

ثُمَّ يُعِيدُهُ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ

بیا به دوباره پیدا کوي: یقینا دا کار: په الله تعالی باندې

يَسِيرٌ ⑲ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ

آسان دے: ووایه: وګرځئ: په زمکه کښې؛

فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ ۚ ثُمَّ اللَّهُ

بیا وګورئ: څنګه شروع کړے ده الله تعالی د پیدائش: بیا به الله تعالی

يُنشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ

پیدائش وکړي: پیدائش: روستني لره؛ یقینا الله تعالی: په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ⑳ يُعَذِّبُ مَن

هر څیز باندې: قدرت والا دے: عذاب به ورکوي: چا لره چه

يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ ۖ وَإِلَيْهِ

وغواړي: او رحم به کوي په هغه چا باندې چه وغواړي: او خاص هغه ته به

تُقْلَبُونَ ㉑ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ

واګرځولی شئ تاسې: او نه یئ تاسو: عاجزې کونکي الله لره

فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ۖ وَمَا لَكُم

په زمکه کښې: او نه په آسمان کښې: او نشته تاسو لره

مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ㉒ ع ۹ / ۱۳

سوا د الله تعالی نه: څوک یو کار کونکے: او نه امداد ورکونکے

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ: (حاشیه د راتلونکي مخ ص۶۶۳) تر آوسه د ابراهیم علیه السلام تقریر وو د توحید: اوس قوم جواب کوي چه اور ته ئے واچوئ یا د ئے عمر کړئ نو باري تعالی هغه لره بچ کړه. معلومه شوه چه بچ کونکے صرف باري تعالی دے. نو ګویا ابراهیم علیه السلام دوهم لوئے پیغمبر دے، په سلسله د نبیا نو کښې دوئیم نمبر دے څرګان نشي بچ کولے نو نور خلق به څه اوکړي: (افضل ص۵۵۵) إِنَّمَا اتَّخَذْتُم ۲۵: دوئیم مفعول ئے محذوف دے او مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ: مفعول له دے معنی دا شوه چه یقینا جوړکړي دي تاسو بتان (مجسمے د نیکانو) د محبت د پاره د دوستانے په ما بین خپل کښې: د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائي چه ابراهیم علیه السلام فرمائي چه تاسو د شرک یوه وله تیاره کړیده خو دا صرف دُنیاوي ده په قیامت کښې بیا تاسو په یو بل لعنت وایئ: (افضل التراجم ص۵۵۵) عمد

عه(بقیه ددے مخ): وګورئ یونس ۵۰، اعراف ۳۵، فی ظلال لوط ۱۲؛ د اور د امتحان نه بعد پرے بل امتحان د هجرت راغلو: آلوسی رحمه الله فرمائی چه تصدیق سره د ابراهیم علیه السلام وکړو په نبوت لوط لا نو د هغه او یا په نبوت د هغه باندې، کله چه دعوه د نبوت وکړه او تصدیق په توحید کښ نه دے مراد ځکه چه هغه مؤمن او پاک وو د کفر نه. وګورئ روح ۱۵۲/۲۰

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ
او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے په آیتونو د الله تعالی او په ملاقات د هغه:
اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَ
دغه کسان نا امیده کړی دی، د رحمت زما نه؛ او
اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا كَانَ
دغه کسان دوی لره عذاب دے دردناک دے؛ پس نه وو
جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ
جواب د قوم د هغه؛ مګر دا چه ووئیلے دوی، مړ کړئ دا لره،
اَوْ حَرِّقُوْهُ فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ
او یا وسوزوئ دا لره، پس خلاص کړو دۀ لره الله تعالی؛ د اور نه؛
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾
یقینا په دیکښ؛ خامخا نښے دی د پاره د هغه قوم چه ایمان لری؛
وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ
او ووئیل ابراهیم؛ یقینا جوړ کړی دی تاسو؛ بغیر د الله تعالی:
اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي
نه: بتان په طاعت کښ، د پاره د دوستئ په مینځ ستاسو کښ؛ په
الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
ژوند د دنیا کښ؛ بیا به په ورځ د قیامت؛
يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ
انکار کوی؛ بعضے ستاسو؛ په بعضو؛ او لعنت به وائی؛
بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۟ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ
بعضے ستاسو؛ په بعضو: او ځائے ستاسو؛ اور دے
وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَاٰمَنَ
او نشته تاسو لره؛ هیڅ مدد ګاران؛ پس تصدیق وکړو:

وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ: (حاشیه د راتلونکی مخ ۶۶۴): او ووئیل ابراهیم علیه السلام یقینا زه هجرت کونکے یم رب خپل ته، ابراهیم علیه السلام د کوفې د سواد الکوفه نه سره د لوط علیه السلام نه او ساره د خپلې ترۀ لور سره حران ته بیا د هغه نه شام ته لاړو، پس نازل شو په یو کلي د فلسطین کښ او نازل شو لوط علیه السلام سدوم ته او دغه مؤتفکه ده په اندازه د مسافت د یو شوارورز د کلي د ابراهیم علیه السلام نه او عمر یې په دغه وخت کښ ۷۵ کاله وو لکه په کشاف او بحر کښ دي او دا اولنے د هغه چا نه وو چه هجرت ئے کړے په دین د الله تعالی کښ: وګورئ روح ۱۵۸/۲۰، جواهر ۶۶۴، الهام ۲۷۵، نو لوط علیه السلام میدان ته راووتلو او د ابراهیم علیه السلام تعاون هغه شروع کړو چه زه ستا سره د الله تعالی په لاره کښ یم او باری تعالی زبردست او حکمت والا دے د دا اے لوئ باد شاه په لاره کښ ټوله کامیابي ده. نو کله چه ابراهیم علیه السلام د الله تعالی د دین د پاره کور پریښودۀ نو باری تعالی ورله اسحق علیه السلام ورکړو او نمسے ورله باری تعالی

ف (بقيه ورځ مخ): يعقوب عليه السلام ورکړه او پيغمبري خدای تعالی ده ته په اولاد
کښې مقرره کړه او ذوداره جهانونو کښې مياني باري تعالی ده لره ورکړه: دغه چه څوک د
باري تعالی فرمان منی

لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى
ده ته لوط او ووئیل ابراهیم: یقینا زه هجرت کونکے یم طرف د
رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٦﴾
رب خپل: یقینا هغه، زورآور: حکمتونو والا دے۔
وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ
او وبخښلو مونږ هغه ته: اسحق علیه السلام او یعقوب علیه السلام
وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ
او وګرځولو مونږه: په اولاد دهغه کښې: نبوت
وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي
او کتابونه: او ورکړو مونږ هغه ته: بدله دهغه: په
الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ
دنیا کښې: او یقینا هغه په اخرت کښې: خامخا د
الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ
کامل نیکانو نه دی: او (ولیږلو) لوط: کله چه ووئیل: قوم خپل ته
اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۡ مَا
یقینا تاسو خامخا راتلل کوئی: بے حیائی ته: نه ده
سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ
مخکښې کړې تاسو نه: په هغې: هیچا
الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اَىِٕنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ
خلقو نه: ایا یقینا تاسو خامخا راځئ
الرِّجَالَ وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ڏ وَ
سړو ته: او شوکوئ: لارے: او
تَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ۭ
راتلل کوئ: په مجلسونو خپلو کښې: بدو کارونو ته

نو خدای تعالی دهغه سره
په دواړو جهانو بنه کوی.
(افضل ص۵۵۵): وَلُوْطًا:
دا دریمه واقعه ده په
دیکښې ابتلا په استهزاء او
مطالبه د عذاب سره ده:
وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ:
او راتلل کوئ په مجلسونو
خپلو کښې بدو کارونو ته،
په افضل التراجم ص۵۵۵
کښې دی هم ناروا کوے او
په ډاګه کوے: فائده:
ناروا کول یو ګناه ده او
په ډاګه کول بله ګناه ده.
فائده: دا عام لفظ دے
شامل دے فاحشه کول
د خلقو په وړاندې او په
کا نړوبا ندې ويشتل د خلقو
او په خلقو پسے ټوکې کول
او شپیلی وهل وغیره:
(احسن ص۲۵۸): په دے ایت
کښې پس د نا امیدئ نه
دعا د نصرت ده: او په
دے کښې قبولیت د دعا دے

اول ملائکه علیهم السلام
ابراهیم علیه السلام ته
د اسحاق علیه السلام
زیرے اوړوی او بیا د
لوط علیه السلام د
د قوم د هلاکت بیان

دے: دا مضمون مخکښې سورة هود کښې هم ذکر شوے وو او سورة حجر کښې هم۔

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ

پس نه وو : جواب دَ قوم دَ هغهٔ ، مګر : دا چه ؛

قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ

ورېله هغوی : راوړه موږ ته ، عذاب دَ الله تعالیٰ ، که چیرې ئې ته ،

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ

دَ رښتیا وئیونکو نه : او ووېلې لوط ؏ : اے ربه زما !

ع ٩ / ١٥

انْصُرْنِيْ عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٣٠﴾

امداد وکړې زما ، په دغه قوم : فساد کوونکي باندې ،

وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ

او هر کله چه راغله ، استازي زموږ : ابراهیم عليه السلام ته ؛

بِالْبُشْرٰى ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ

په زیری باندې ، ووېلې دوی ، یقینًا موږ هلاکوونکي یو ؛ دَ اهل

هٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۚ اِنَّ اَهْلَهَا كَانُوْا

دَ دې ؛ کلي لره ، یقینًا اهل دَ دې ، دي ؛

ظٰلِمِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا ۭ

ظلم کوونکي ؛ ووېلې ابراهیم ؏ ، یقینًا په دغه کښې ؛ لوط ؏ دے ؛

قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيْهَا

ووېلې ملائکو ، موږ ښه پوهه یو ، په هغه چا چه په هغه کښې دي ؛

لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ

خامخا یقینًا به ئې موږ ژغورو هغه : او اهل دَ هغه ، مګر ښځه دَ هغه ؛

كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَلَمَّآ اَنْ

وی به ، دَ پاتې کیدونکو نه په عذاب کښې : او هر کله چه

جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَ

راغله : استازي زموږ ، لوط ؏ ته ، غمژن کړے شو په دوی باندې ؛ او

وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا ، او هر کله چه راغله استازي زموږ لوط عليه السلام ته ، غمژن کړے شو په راتلو دَ دوی : سورة هود ؏ کښې هم ذکر شوی دی : ملائك عليهم السلام ښکلي ورکوي په بڼه وو ، په دې موږ باندې او هغه غمژن کیږي ، چه دَ دوی به عذاب باندې ، ❊ ❊ ❊

اِنَّا مُنَجُّوْكَ : اِمْرَاَتَهٗ د راتلونکي مخې ته : موږ به بچ کوونکي لره ، مطلب دا چه دالله تعالیٰ په حکم لکه سورة نمل کښې دی ، نَا اَجِئْنَهُ وَاَهْلَهٗ ، اِنَّا مُنْزِلُوْنَ : د بشارت دَ نجات نه بعد په آيت کريمه کښې اِنذار دے په عذاب باندې . وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَا او یقینًا پرېخودلو موږ د هغې کلي نه نښه ښکاره : فائده ۴ : دَ نښانې نه مراد دَ هغه ښار نښه شوی کلي ، اِنَّا باقي دی ، ځکه تور بے اوبه کوسې چه ونه دَ لوط ؏ ښکاره شوي دي ، یا هغه ګټې چه په دوی باندې وربیدلے وې . بعض مفسرینو رحمهم الله لیکلي دي چه دا اِنوِل مراد دي په ریکښې تعالیٰ رض لښتنه (جواهر القرآن ، قرطبي مترجم) : قرآني حکایتونه ٣٦ : دا شلورمه واقعه ده او د لته اِبتلاء په تکذیب سره ده چه دَ هغه

سه (بقيه د دے مخ): شعيب عليه السلام قوم د هغه تكذيب كړے وو. هغوئ ورته دعوت د توحيد وركړے وو او د آخرت ياددهانې وركړے وو؛ او د هر قسمه فساد نه ئې منعه كوله هغوي لره:

ضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا لَا تَخَفْ

تنګ شو په سبب د دوئ په وجه زړه ئې: او ووئيل ملائكو: مه وېرېږه؛

وَلَا تَحْزَنْ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَ

او مه غمجن كيږه؛ يقيناً موږ بچ كوونكي ستا او

أَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ

اهل ستا لره: مګر ښځه ستا؛ وي به

مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿۳۳﴾ إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَىٰ

د پاتې كيدونكو نه؛ يقيناً موږ رالېږونكي يو په

أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِنَ

اهل د دې كلي باندې؛ سخت عذاب؛ د طرفه د

السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿۳۴﴾ وَلَقَدْ

آسمان نه؛ په سبب د دے چه دوی نافرماني كوله: او يقيناً

تَرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِقَوْمٍ

پريخودو موږ؛ د هغه كلي نه: نښه؛ ښكاره؛ د پاره د هغه قوم

يَعْقِلُونَ ﴿۳۵﴾ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ

چه عقل لري: او (لېږلے وو موږ) مدين ته؛ ورور د دوی؛

شُعَيْبًا فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ

شعيب لره؛ پس وئې ويل؛ اے زما قومه؛ بندګي وكړئ د الله تعالىٰ؛

وَارْجُوا الْيَوْمَ الْآخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِي

او اميد ولرئ؛ د ورځ؛ روستنۍ؛ او مه ګرځئ؛ په

الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۳۶﴾ فَكَذَّبُوهُ

زمكه كښې؛ فساد كوونكي؛ پس دروغجن ئې كړو دوی هغه لره؛

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي

پس ونيولو دوی لره: زلزلې؛ پس وګرځېدل دوی؛ په

فائده ۱۷: د دا قيع اولحر د اولے دعوے سره لګي، او آخر سره ئې د دويمے دعوے سره تعلق لري. د شعيب عليه السلام واقعه سورة اعراف او هود او شعراء كښې هم ذكر شوے ده.

الرَّجْفَةُ: نسفي رحمه الله فرماني چه رجفه سخته زلزله او يا چغه (كريكه) د جبرئيل عليه السلام ده خكه زړونه ئې ترې وخوزيدل. (مدارك ص ۱۹۴)

وَعَادًا وَثَمُودَا: (حاشيه د راتلونكي مخ ص ۶۶۶): دا باقي قصے د دويم اعلان سره تعلق لري بالذات، چه لے عالغيبو؛ تا سو د باري تعالىٰ د عذاب نه نشئ بچ كيد ے وګورئ چه عاديان، ثموديان قارون، فرعون، هامان د باري تعالىٰ د عذاب نه بچ نشو (افضل ص ۵۵). زجاج رحمه الله وائي وَعَادًا وَثَمُودَا او هلاك كړي موږ عاديان او ثموديان. (زاد المسير ص ۲۶۳)

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ: شيطان دوی ته بد عمل په صورت د عبادت كښې ښكاره كړے وو. د بد عمل نه خو خلق توبه وباسي نو هغه معاف كيږي. نو شيطان لعين دا چال جوړ كړو چه بدعتي توبه ونه باسي لو خكه بدعت د هغه ګناه نه غټه ګناه ده خكه بلے ګناه ده ته هغه ګناهګار ګناه واني او بدعت ته خو دے دين وائي نو توبه ترينه څنګه وباسي. (افضل ص ۵۵)؛ وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ ص ۶۴۶؛ او وو دوی بصيرت والا او هوښيار ان: دا ئې ورته د دنيا په لحاظ سره ويلي دي او بيدين [illegible]

عدد (بقیله دوسے مجی) او حضرت کښن ورته (وَ تَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ) مثلا منافقون ملا عنکبوت وېلی دی نو تعارض نشته ؛
وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ (او نه وو دوی سبقت کوونکی) (فتح ۴۲۷) د آدو دریسې دعوے سره ایت مره لګی ؛ آرد او وجه

 13

دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَّثَمُوْدَاۡ وَ

کور کی خپل کښن نسکور پراته مړه : او هلاک کړل موږ عادیان او ثمودیان او

قَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ وَ

بیکاره شوی تاسو ته حالات د کورونو د هغوی نه : او

زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

ښائسته کړی وو دوی ته شیطان عملونه د دوی ؛

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا

پس اړولی وو دوی لره د سیده لارے نه : او وو دوی ؛

مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ

هوښیاران : او هلاک کړے دے موږ قارون ، او فرعون :

وَهَامٰنَ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى

او هامان : او یقینا راغلے وو دوی ته موسی علیه السلام

بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ

په ښکاره معجزو ، پس لوئی وکړه دوی ؛ په زمکه کښن ؛

وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا

او نه وو دوی ؛ مخکښن کیدونکی : پس هر یو لره ونیولو موږ

بِذَنْۢبِهٖ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ

په سبب د ګناه د هغه ، پس بعضے د دوی هغه دی چه رالیږله موږ په هغه باندې

حَاصِبًا وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ

سیلئی د کانړو : او بعضے د دوی نه هغه دے چه ونیولو هغه لره ؛

الصَّيْحَةُ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ

تیزے چغے ؛ او بعض د دوی نه هغه دے چه ښخول موږ هغه لره ؛

الْاَرْضَ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَغْرَقْنَا

په زمکه کښن ؛ او بعض د دوی نه هغه دے چه ډوب کړه موږ هغه ؛

قصه دا او د دریسے دعوے سره متعلق ده : دوی ته موسی علیه السلام د دلائل او معجزات راوړے وو : دالحق د دولت او حکومت په نشه کښن وو . د هغوی خبره دا چه نه کیدو انبیا نو د تبلیغ لو د حق نه تے ګکبر وکړو . (جواهر ۱۱۹): فَكُلًّا اَخَذْنَا : په دے ایت کښن د څلور قسمه عذابونو ذکر دے . فائده ۵ :- حَاصِبًا : عذاب د سیلئی چه کانړی ولی : او دا عذاب د عادیانو او د قوم لوط وو : الصَّيْحَةُ : دا عذاب د ثمودیانو او د اصحاب مدین وو : خَسَفْنَا : دا عذاب د قارون وو ؛ اَغْرَقْنَا : دا عذاب د قوم نوح او د قوم د فرعون او هامان وو : او سبب د عذاب د ظلم لو دا دے : وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ، ۰ ؛ (احسن ۲۰۹۶) ؛

مَثَلُ اِلٰى يَلْعَنُ ملا : (حاشیه د راتلونکی مخ ۱۶۹) : د دے ایت مبارکه نه تر ایت ۴۵ پورے د رحیم باب دے . په دیکښن بطور خلاصه اوه خبرے دی : ۱ : مثال د پاره د مشرکانو ۴۱ : ۲ : عقلی دلائل ۴۴-۴۳ ، ۳ : وحی دلیل او امور مصلحه ۴۵ : ۴ : طریقه د تبلیغ د ۵ : صداقت د رسول علیه السلام او د قرآن ۴۸ : ۶ : زجر منکرینو

د رسول الله لره ۵۰ : ۷ : زجر په جلد عوښتلو د عذاب ۵۵ : كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ : ثعلب رحمة الله فرما فی چه عنکبوت مونثه ده او بعض عرب نے مذکر ذکر کوی . (زاد المسیر ۳۳۲): ښځینه کښن ورته غڼه یا جولاګے وائی عدد

عه (بقیه دَ دے قصّو)؛ دَ دے سورت وجه دَ تسمیه په عنکبوت سره په دے وجه ده چه په دے ایت کښې دَ لا اودا دَ دے
سُورت امتیاز هم دے ۔ قرآن رحمه الله فرمائی چه داامثال الله تعالی بیان کړے دے دَ هغه ۱۰ دپاره

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ
او نه دے ورته الله تعالی چه ظلم ئے کړے وے پرے او لیکن

كَانُوٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝٤٠ مَثَلُ
وُو دوی پخپله په نفسونو خپلو باندے ظلم ئے کړو ۔ مثال

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ
دَ هغه کسانو چه نیولی دی سوا دَ الله تعالی نه مددګاران

كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ
پشان دَ جولاګی دے چه جوړ کړے دے کور لره

وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ
او یقینًا ډیر کمزور دے دَ کورونو نه خامخا کور

الْعَنْكَبُوْتِ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝٤١ اِنَّ
دَ جولاګی دے ارمان که چیرته دوی پوهیدلے یقینًا

اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ
الله تعالی پوهیږی په هغه چه دوی بلی سوا دَ الله تعالی نه

مِنْ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٤٢
دَ هر شی نه او هغه زورآور حکمتونو والا دے

وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ
او دغه مثالونه بیانوو مونږ دغو لره دَ پاره دَ خلقو

وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ۝٤٣ خَلَقَ اللّٰهُ
او نه پوهیږی په دے باندے مګر عالمان پیدا کړی الله تعالی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ اِنَّ
اسمانونه او زمکه په حقه سره یقینًا

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٤٤
په دے کښې خامخا دلیل دے دَ پاره دَ مؤمنانو

منزل ۵

ع ۴ ۱۶

چه نیولی ئے دی سوا دَ الله تعالی نه مددګاران چه نه ورته نفع رسولی شی او نه ضرر، ځکه چه کور دَ جولاګی نشی بچ کولے هغه لره دَ ګرمئی او نه دَ یخنئی نه ۔ (قرطبی ۳۴۵)

فائده: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل چه دا مثال دَ مشرك دَ رشتے دَ غیرالله سره دے لکه جولاګے جاله جوړه کړی، ابادی خوځیا دَ دوی پاره وی چه دَ باران نه چرته شی لکه کور نه ، نیا دَ ګرمئی نه چرته شی لکه غیر، نیا دَ دشمن نه لکه قلعه ؛ دَ عنکبوت په جاله کښې دا یو فائده هم نشته، چه عنکبوت ئے چه نیسی نجبے یکښې اتول شی او راګیرشی ۔ (مقتدالرمانه من فیوضات شیخ القرآن ۲ ص۱۴۹)؛ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ : دا دلیل دَ رد دَ شرك دے او دَ الله تعالی درے صفتونه یکښې ذکر دی؛ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ : په دے ایت کښې دَ مثالونو فائده دی په افضل التراجم ص۵۳۵ کښې دی، دا ډیر واضح مثالونه دَ توحید دَ اثبات دپاره باری تعالی بیانوی خو عاقلان پرے پوهیږی نه جاهلان ؛ او دَ عمرو بن مره نه نقل دی چه ځه به نه تیریدم په یو ایت دَ کتاب الله نه چه پوهه پرے نشم مګر غمژن کوی ما لره ځکه چه ما یقینًا اوریدلی دی دَ الله تعالی نه چه فرمائی : وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ الخ : (درمنثور ۳۴۵، ابن کثیر ۴۱۳)؛ په ۴۴ کښې هم دلیل عقلی دے دَ رد دَ شرك دپاره ؛ (نظرثانی تصحیح ۱۹ فروری ۲۰۰۸ ع — ۱۲ صفرالمظفر ۱۴۲۹ هـ)

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ: دليل وحي او اراب ته دعوت دی. دغه په دے ایت کښی او دغه په راروان ایت کښی، وښاو په پرشیخ رحمه الله فرمائی. لکه څنګه چه عقل او نقل د خدائي تعالیٰ د وحدانیت یقینی دلیل دے

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَ

لوله: هغه چه وحي کړے شوے ده تاته: د کتاب نه: او

اَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ

قائم ساته مانځه لره: یقینا مونځ: منع کوي: د

الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ

بے حیایئ: او ناروا ونه، او خامخا ذکر د الله تعالیٰ ډیر لوئ دے

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝٤٥ وَلَا تُجَادِلُوْٓا

او الله تعالیٰ پوهیږي په هغه څه چه تاسو یے کوئ: او جګړه مه کوئ

اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۖ

د اهل کتاب سره، مګر په هغه طریقه چه هغه ډیره ښائسته وي،

اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا

مګر هغه کسان چه ظلم یے کړے، د دوي نه: هغه، او وائي ایمان مو راوړه:

بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَ

په هغه چه نازل شوي دی مونږ ته: او نازل کړے شوي تاسو ته: او

اِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ

او زمونږ او ستاسو معبود یو دے: او مونږ هغه لره

مُسْلِمُوْنَ ۝٤٦ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ

تابعداریو: او همدارنګه: نازل کړی مونږ: تاته:

الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

کتاب لره، پس هغه کسان: چه ورکړے مونږ هغوی ته: کتاب:

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ

ایمان راوړي په دے باندے: او بعض د دے کسانو نه: هغه خلق دي چه

يُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا

ایمان راوړي په دے: او انکار نه کوي د ایتونو زمونږ نه: مګر:

منزل ۵

نوټ: اسم مجرد د قرآن لوله او د اوستو جدي ساته، اوګ خلق اعتراض نه کوی چه دا مسئله هغه بیا نوو، اوړه په خبره پوریږي ورته وایه چه ځه مجبور رویه ساته فرمان دے د بیان الخ، (ربط ۵ د افضل) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه الله تعالیٰ امر کوي خپل رسول خپل او مومنانو ته په تلاوت د قرآن او د اوستلو ددے دی او رسول دوے دی خلقو ته (ابن کثیر).

وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ: ارمشولے کوه په اقامت د مانځه باندے (مدارک ۱۹۵). اِنَّ الصَّلٰوةَ: یقینا مونځ منع والے کوي د بے حیائئ او بدو کارونو نه، (شاه عبدالقادر رحمه الله فرمائي: څو مره وقت چه په مونځ کښې وی نو دومره وقت خو د هر ګناه نه بچ شولو. امید دے چه ایند ه کښی په هم بچ شي او د الله تعالیٰ یاد لره د دے نه زیات اثر دے یعنی د ګناه نه بچ شي او اعلیٰ درجو ته به ارتقی کړی (مرح ۲۹۵) وښاه ډیور شیخ رحمه الله فرمائي، صحیح مونځ منع کوي د ناروا ونه، (افضل ۵۵۵). وَلَا تُجَادِلُوْٓا: د طریقه د تبلیغ ده چه په ښه طریقه سره بیان کړه او د ظالمانو سره لره سختي پکار ده، (افضل ۵۵۵) په تشریح کښی مثل د ... په سوال سهیږي: شیخ القرآن رحمه الله په فرمایل: مطلب دا چه په اماماتي جګړه مکوه: سورة نحل ۱۲۵، اسراء ۵۳، حم سجده

۲۳ وکوري. وَقُوْلُوْٓا: بقره ۱۳۶ وګورئ. وَكَذٰلِكَ الخ: د دے ایت نه صداقت د رسول ﷺ او د قرآن د دے په ورے طریقو سره، عبا مقید ۲۲ ۵

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ

کافران : او نه وې ته : چه لوستې د وې تا : مخکښې

قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ

د دے قرآن نه : هیڅ کتاب : او نه دوې لیکلے کتاب ته ، په ښي لاس خپل

اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ بَلْ هُوَ

په دغه وخت کښې خامخا شک به کولې باطل پرستو : بلکه دا قرآن :

اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

ایتونه ښکاره دی : په سینو د هغه کسانو کښې : چه ورکړے شوے دے

الْعِلْمَ ۭ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا

علم : او انکار نه کوي : په ایتونو زمونږ : مګر

الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

ظالمان : او وائي دوی : ولے نه نازل کړے شي : په دهٔ باندے

اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ

معجزے د جانب د رب د دهٔ : ووایه : یقینًا د معجزو اختیار :

عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

په نزد د الله تعالی دے : او یقینًا زهٔ : وېروونکے : ښکاره یم :

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ

ایا دا دوی کافی دی لره : چه یقینًا مونږ رالیږلے : په تا باندے :

الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

کتاب : لوستلے شي په دوی باندے : یقینًا په دے کښې :

ع ۱ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۱﴾ قُلْ

خاص رحمت او نصیحت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان راوړي : ووایه :

كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ

کافی دے الله تعالی : په مینځ زما : او مینځ ستاسو کښې ، ګواه :

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ: زجر دے اعتراض کونکو لره په قرآن باندے. قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ الخ: اول جواب دے چه معجزے د الله تعالی په اختیار کښې دی، څه واکدار د هیڅ د څخونه نه یم. وګورئ مدارک ۳/۲۶۱، مظهري ۱۰/۲۱۰ — او وګورئ ۳۷ انعام، ۷۸ مؤمن، ۲۷ رعد. اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ الخ: دا دویم جواب دے. قرطبي رحمة الله فرمائي: دا جواب د دے قول د دوی: لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ: (احسن ۱۳/۵۵م)

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ الخ: دا ثمره د ماقبل ده، چه شهادت د الله تعالی کافی دے په صداقت د رسول علیه السلام باندے او د قرآن، بیا زجر دے هغه چا لره چه د دے شهادت باوجود نه منی او هغه تاوانیان دی ۞

۞ ۞ ۞

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ (۵۳) دا زجر وشو په جلد غوښتلو د عذاب، او جواب ئې داد ے چه عذاب نخیله نیټه باندې راځي.
په ایت ۵۴ کښې هم زجر د ے په جلد غوښتلو د عذاب باندې او د ر لره تخویف د ے په شلو د ځرنګو سره په ۵۳

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَالَّذِينَ
پوهیږي په هغه څه چه اسمانونو کښې دي : او په زمکه کښې : او هغه کسان
اٰمَنُوا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوا بِاللّٰهِ ۙ أُولٰٓئِكَ
چه ایمان ئې راوړے په باطل باندې : او کفر ئې کړے په الله تعالی باندې : دغه کسان :
هُمُ الْخٰسِرُونَ ۝۵۲ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ۚ
خاص دوی تاوان والا دي : او په جلتی سره غواړي دوی ستا نه عذاب (د دنیا)
وَلَوْلَا أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ۚ
او که چرته نه وے نیټه مقرر شوے : خامخا راغلے به وو دوی ته عذاب :
وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝۵۳
او خامخا یقینًا راشي دوی ته ناڅاپه : او دوی به نه پوهیږي :
يَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ
په جلتی غواړي دوی ستا نه ، عذاب لره : او یقینًا دوزخ :
لَمُحِيطَةٌ بِالْكٰفِرِينَ ۝۵۴ يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ
خامخا احاطه کونکے دے په کافرانو باندې : په هغه ورځ چه پټ کړي دوی لره
الْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ
عذاب : د پاسه د دوی نه : او لاندې :
أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ
د پښو د دوی نه : او وبه وائي الله (او ملائکی سزا) د هغه عملونو چه تاسو
تَعْمَلُونَ ۝۵۵ يٰعِبَادِيَ الَّذِينَ اٰمَنُوٓا
کول : اے بندګانو زما هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے
إِنَّ أَرْضِي وٰسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ ۝۵۶
یقینًا زمکه زما : فراخه ده : پس خاص ما لره عبادت کوئ :
كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۖ ثُمَّ إِلَيْنَا
هر ساه والا : څکونکے د مرګ دے : بیا به خاص مونږ ته

په ۵۳ کښې - يٰعِبَادِيَ الَّذِينَ اٰمَنُوٓا ؛ دوے کاسے نه تر اخره پورے خلورم باب دے د سورت دے او په دے کښې پنځه خبرے دي : (۱) ترغیب الی الهجرة او بشارت هجرت کونکو لره ترمه پورے : (۲) اطلال حقیقه اعتراضیه ترمه پورے : (۳) تزهید فی الدنیا په ۶۴ کښې (۴) زجر عشو کانوته ترمه پورے :
(۵) دعوی د سورت ۶۹ : فائده : یعنی کافران تاسو د الله تعالی عبادت نه پریږدي : بل ځائے ته لاړ شئ هلته د باری تعالی عبادت کوئ . (افضل ۵۶۵) :
حدیث کښې د زبیر رضی الله عنه په نقل راغلي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : البلاد بلاد الله والعباد عباد الله فحیثما اصبت خیرا فاقم . (ابن کثیر) فائده ۲ : سهل رحمه الله فرمائی چه کله په یو ځائے کښې ګناهونه او بدعتونه پیدا شي نو ووځئ د هغه ځائے نه او د طاعت کونکو ځائے ته لاړ شئ (مدارک ۳۰۹/۳) دغه شان الوسي رحمه الله هم په باب الاشارات کښې لیکلي دي (روح) فائده ۳ : شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه څو د الله تعالی زمکه فراخه ده ، څکه خدا تنګ نیست : پائے مرا لنګ نیست . او کله ته وائي چه څو لاړ شم مرګ به راشي نو جواب ورشه : كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؛ ته . چه هر ساه والا څکونکے د مرګ دے او کله ته وائي چه کور به را نه پاتے شي نو جواب د جنت بنګلے او بالاخانے به درکوم

دي ، او که ته وائي چه تا به خورم ؟ جواب ۶۰ کښې دے : مرغو له رزق څوک ورکوي ؟ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ ... :
(حاشیه د راتلو نکي مخ ۶۶۲) : نسفی رحمه الله فرمائی چه کله امر وکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو د مکے نه په هجرت کولو نو هغوی او ویریدل د فقر او بربادئ نه نو دا ایت نازل شو (مدارک ۳۰۹/۳) ، او صحیح حدیث کښې دي

ف (بقیه د ۵۶) نبي ﷺ ته راغلی دی: که چیرته تاسو توکل وکړی په الله تعالی باندې پوره توکل نو رزق به درکوی تاسو ته شنګه چه رزق مرغو ته ورکوی. تغدوا خماصا وتروح بطانا ترمذی ... ابن ماجه ... مشکوة ...

ترجعون ۞۵۷ والذين امنوا وعملوا

واپس کړے شئ: او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عملونه ئے کړی:

الصلحت لنبوئنهم من الجنة

د ښیګړو: خامخا ځائے ورکوو دوی ته: د جنت نه:

غرفا تجري من تحتها الانهر

(اوچتې) بنګلې بهیږی به: د لاندې د هغې نه: ویالې:

خلدين فيها نعم اجر العملين ۞۵۸

همیشه به وسیږی په هغې کښې: ښه دے بدله: د عمل کونکو:

الذين صبروا وعلى ربهم يتوكلون ۞۵۹

هغه کسان چه صبر ئے کړے: او خاص په خپل رب باندې: توکل کوی:

وكاين من دابة لا تحمل رزقها

او ډیر: د ژوندی به وو: نه: نه شی پورته کولے: روزی خپله:

الله يرزقها واياكم وهو السميع

الله ئے روزی ورکوی خپل: او تاسو ته هم: او هغه اورېدونکے:

العليم ۞۶۰ ولئن سالتهم من خلق

پوهه په هر څه دے: او که ته: تپوس وکړے ترې: څوک دے هغه چه پیدا ئے کړی:

السموت والارض وسخر الشمس و

اسمانونه: او زمکه: او په کار ئے لګولی: نمر: او

القمر ليقولن الله فانى يؤفكون ۞۶۱

سپوږمۍ: خامخا به وائی دوی: الله دے: نو چرته واوړولی شی د حق نه:

الله يبسط الرزق لمن يشاء من

الله فراخه کوی: رزق: چا له ئے چه رضا وشی:

عباده ويقدر له ان الله بكل

بندګانو د خپلو نه: او تنګوی رزق لره ئے: یقینًا الله تعالی: په هر

قرطبی ښتخ ۔ سرته سیرلیږی وکړی.

تناسب ۵۸: د او دائل تقیات ... دی وبیارلو د توحید: ده عمل نے واوئے چه روزی د الله تعالی نه ګټګ ټنګ هغه خلق بعد تر روزی تقسیموئی او اسباب د روزی پیداکوونکے دے. په هغه کښې اولو د رحم دوچه پیداکړے د روزی دے خو ننګ نه ژاړی بیا هم او رافلی شو ازالد وهم و شو چه داهم د الله تعالی په اختیار کښې دی په ... کښې فرمائی چه اسباب د روزی. باران ورول او زمکه د زرغونه کول هم د الله تعالی په اختیار کښې دی. لطیفه: شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل یعنی پاخه مارغه شه والوتو او مسئله بیان کړه او ګه ئے داوشه دلته ... شاګردان ... ښکاری خپه د مسخرې نو جواب ئے کښې دے او په ... کښې دی باران د رحمت شه په ... مالت ... او ... او د ... د باران د سمندر نه څخه نو ... لاریشه ... الا لهو و لعب (حاشیه د راتلونکی مخ ۶۴): د دے ځائے نه تر ۶۹ پورې شلو زورونې او دلتې دی. په دے آیت کښې رټنه ده په ... چه دوی علم نه لری د دنیا په فنا. په ۶۵ کښې دو ... رټنه ده په دوی چه سمندری سفر کښې خو خپل دعا الله تعالی ته خو چه بیا خلاص شی نو شرک کوی. په ۶۶ کښې د رلیم زجر دے چه سره د امن د دوی نه په حرم کښې په باطل باندې ایمان لری: او په ۶۸ کښې خلور زجر دے چه شرک کوی او افتراء په الله تعالی باندې کوی: فاذا رکبوا ... د کور د یونس ۲۲، لقمان ۳۲، بنی اسرائیل ۶۷. فائده ۱: یو عجیبه خبره دا وزه چه بعض نام نهاد مسلمانان خو د مشرکانو نه هم ...

عـه (بقیه د دے مخ) یو قدم مخکښې دی، دوی خو په دریاب او سختئ کښې با ہاګان یا دوی چه پیو باپا!
په سختئ د خدائ را اوړے، نه هغوی د دهٔ آواز آوری او نه راوسیدلے شی، اهم ادکونه صرف باری تعالی

شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن
شی پاندې: پوهه دے. او که ته تپوس وکړے دوی نه: چا
نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ
راوروی: د بره نه: اوبهٔ: پس تازه کوی: په هغی سره:
الْأَرْضَ مِن بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ
زمکه: پس د وچوالی د دے نه: خامخا به وائی دوی: الله
قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا
ووایه ته: صفتونه الله لره دی: بلکه زیات د دوی نه: عقل
يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾ وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا
نهٔ لری: او نه دے دا: ژوند دُنیا وی:
إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ
مګر تو ګی: او لو بے دی: او یقینًا کور: د روستئ:
لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾ فَإِذَا
خامخا هغه: ژوندی دے: که چرے دوی په پوهه شے: پس کله چه
رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ
سوارهٔ شی دوی: په کشتئ کښې: بلی دوی الله لره: خالص کونکی
لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ
هغهٔ لره: د بندګی: پس هر کله چه بچ کړی دوی لره: اوچے ته:
إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا
ناڅاپه دوی شرک جوړوی الله تو سره: چه کفر وکړی په هغه نعمت چه
آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾
ورکړے مونږ دوی ته: او فائدہ اخلے لری: پس زر ده چه پو هه به شی دوی:
أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا
او آیا نه ګوری دوی چه یقینًا مونږ ګرځولے دے مونږ: حرم لره: امن والا:

(النحل ۵۵). حَرَمًا آمِنًا: وګورئ قصص ۵۷، قریش ۴.
أَفَبِالْبَاطِلِ: (حاشیه د ابتدائی
محمد ۱۲): وګورئ نحل ۷۲،
وا ترغیب دے اتباع ته چه
ما دوی سره د حرم عهد وانئ
کړیدی چه په حرم کښې په
امن دی او چاپیره خلق
هلاکیږی، دوی بیا شرک کوی
او د باری تعالی د نعمتو نه
انکار کوی. (النحل ۵۵). فَمَنْ
أَظْلَمُ ۶۸: وګورئ ۲۱ انعام.
أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ ۶۸: دا د
عذاب د آخرت بیان دے چه
څوک د حق نه انکار کوی هغو
د دوزخ د هغوی ځائے دے.
(النحل ۵۵). وَالَّذِينَ جَاهَدُوا
فِينَا: د سورة په سرکښې اعلان
وو چه یواځی په آمَنَّا کار نهٔ
کیږی بلکه محنت به کوے لکه چه
دغه ښیا تو چه تکلیف برکړه
تو اوس خدائی تعالی سورت
په دغه مضمون باندې ختموی چه
څوک د الله تعالی د دین د پاره
ځان کښې وی نو الله تعالی به
هغوی ته خپله د رضا لار ورښائی
نبل الله تعالی به د هغوی ملګرے
شی. وَإِنَّهُمْ هغه د باری تعالی
په دربار کښې محسنانو به فهرست
کښې وی. (النحل ۵۵). شیخ
القرآن رحمه الله به فرمائیل:
وَخَتَمَ السُّورَةَ بِتَسْلِيَةِ الْمُؤْمِنِينَ
لِأَنَّهَا كَانَتْ دَعْوَى السُّورَةِ
(سطع الدرر رحمه الله) فائدہ:

منزل ۵

ابن عطیه رحمه الله وائی چه دا جهاد عام دے په دین د الله تعالی کښې او په طلب د رضا د هغه کښې (شرح فی امال).
حسن رحمه الله وائی جهاد مخالفت د خواهش دے. او فضیل بن عیاض رحمه الله وائی چه هغه کسان چه ځان
کوی په طلب د علم کښې نو خامخا به ورته ښایم لارے د عمل په هغه باندې. (سراج منیر ۲۱۲/۳) عـه

عده (بقیه د وړاندې مخ): فِينَا: په شان زموږ کښې او زموږ د پاره او زموږ د خالص رضا د پاره (روح جـ۲۱) لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ: او یقیناً خاص الله تعالی ملګرې د محسنانو سره دے په نصرت او امداد کولو سره (زاد المسیر جـ۶) د محسنانو نه

وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ

او تښتولې شي خلق: چاپیره د دوی نه: ایا په باطل باندې

يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَ

یقین لري دوی: او په نعمت د الله تعالی باندې: ناشکري کوي دوی: او

مَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ

څوک لوی ظالم دے: د هغه چا نه: چې تړي: په الله تعالی باندې

كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ ۚ

دروغ: او دروغ ګڼي اوکي: په حق: کله چې راشي دی ته:

أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾

ایا نشته: په دوزخ کښې: ټیکانه: د پاره د کافرانو:

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ

او هغه کسان چې کوشش کوي دوی: په رضا زموږ کښې: خامخا ښایو به دوی ته:

سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

لارې خپلې: او یقیناً الله تعالی: خامخا ملګرې د ښه عمل کوونکو دے:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الم ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿٢﴾ فِي أَدْنَى الْأَرْضِ

الم: مغلوب کړے شول رومیان: په نژدې زمکه کښې عرب ته:

وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾

او دوی پس د مغلوب والي د دوی نه: زر ده چې غالبه به شي:

فِي بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن

په څو کلونو کښې: خاص الله تعالی لره اختیار دے: مخکښې

قَبْلُ وَمِن بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ

د دے نه: او پس د دے نه: او په هغه ورځ: خوشحاله به شي:

هغه کسان مراد دي چې عمل ئے وکړو په وخت سورت د ښو (احسن جـ۶) امتیازات: (۱) ذکر د عنکبوت وغیره د وخلو په مثال کښې، (۲) بیان د مودے د تبلیغ د نوح علیه السلام، (۳) ترغیب هجرت ته په عجیب انداز سره د ملائکه نه، (۴) امتحان په مختلفو طریقو سره، (۵) محبت خاصه محسنینو سره ملګرتیا (ختم شو بعون الله تعالی بوقت ۵ د ماسپښین ... بروز شنبه ... (ترجمه ... غفر له) ❁ ❁ ❁

سورة الروم: سورة روم مکی سورت دے: ۶۰ ایتونه دي په ترتیب کښې پس د سورة عنکبوت نه او ۸۴ دے په نزول کښې پس د سورة انشقاق نه: وجه د تسمیه ئے په روم سره دا ده چې دوهم ایت کښې دا لفظ راغلے دے: دعوی: بشارت دے مومنانو لره په فتح او نصرت سره ایت ۳، ۴ او دعوه او ثمره د توحید په عالم ... ۳۰ کښې ده: ربطونه: (۱) ما قبل کښې ترغیب و جهاد ته ئے ورکړو او د دلته زیرے ورکوی په فتحې سره (۲) مخکښې ترغیب و جهاد ته ؤ او دلته اشته اصول د مضبوطیا ذکر کوی، (۳) مخکښې کښې مسئله د توحید وه او دلته پرے ګڼ دلائل عقلیه ذکر کوی، (۴) ما قبل کښې ذکر د ابتلا ګانو ؤ

او دلته فرمائی چې د مصائبو برداشت کولو نه پس به فتح راځی، (۵) مخکښې سورت په بشارت باندې ختم شو او د دے سر کښې هم بشارت ذکر کوی: خلاصه: د دے سورت کښې دوه بابه دي اول ترغیب پورے، دوهم ترغیب پورے: په اول باب کښې شپږ اوګوره خبرے دي ...

عـه (بقیه وُتیر مخ): (۱) مثال دَ پارهٔ دَ دعوے دَ سورت په واقع دَ رومیانو سره دے (۲) دعوی دَ سورت
ګ مخ ۵ : (۳) دلیل عقلی مختصر مخ ۱ (۴) زجر منکرینو ته مخ ۱ (۵) تخویف دُنیوی او اُخروی مخ ۱ (۶)
بشارت مخ ۱ (۷) دعوی دَ توحید خاص خاص. غُلِبَتِ الرُّومُ: مغلوب به شو رُومیان. (فی البر) دا مثال دے دَ پارهٔ دَ دعوے دَ سورت دَ پارهٔ دَ تسلّئ دَ مومنانو او دَ فارس او دَ روم جنګ ته اشاره ده. تفصیل ئے دا دے چه په زمانه دَ نزول دَ قرآن کښې په دُنیا کښې دا دوه بادشاهئ وے چه دیرلوئے مملکتونه وُو یو فارس وُو دَ عجمو بادشاه ته به کسری وئیلے کیدلو او هغه وخت ایران، افغانستان او اکثر مشرقی ملکونو باندې دَ هغوی بادشاهی وه او دوی مجوسیان وُو، او مجوسیان کتابیان نه دی بلکه دَ اور او دَ رڼا او دَ نمر، سپوږمئ، ستورو وغیره عبادتونه کوی او اُمّیین دی، دوی پشان دَ مشرکین عرب وُو. دوهم روم وُو چه دَ هغوی بادشاه ته به قیصر وئیلے کیدلو. اکثر مغربی ملکونه تر شام پورے دَ دوی دَ بادشاهئ لاندے وُو، او دوی نصاری (اهل کتاب) وُو، دَ دوی دواړو په مینځ کښې به اکثر وخت جنګونه وُو لیکن کوم وخت دَ فارس بادشاه چه نوم ئے شاپور وُو دَ جنګ دَ رومیانو دَ پارهٔ لوئے لښکر ولیږلو او لوئے جنګ وکړے شو چه په هغه کښې رومیان کمزوری شو او فارس والو دَ هغوی نه دَ شام علاقه اذرعات، بُصریٰ او بلاد جزیره

الْمُؤْمِنُونَ ۝۴ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ
مؤمنان : په امداد دَ الله تعالیٰ سره : امداد کوی الله تعالیٰ چاله چه اراده ئے وفرمائی
وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝۵ وَعْدَ اللَّهِ
او الله تعالیٰ زورور : مهربان دے ، وعده وکړے الله تعالیٰ وعده
لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ
خلاف نکوی ، الله تعالیٰ دَ وعدے خپلے نه او لیکن : زیات
النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ۝۶ يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا
دَ خلقو نه ، نه پوهیږی ، پوهیږی دوی : په ښکاره
مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ
دَ ژوندون : دُنیاوی : او دوی دَ آخرت نه
هُمْ غَافِلُونَ ۝۷ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي
دوی غافله دی : او آیا دوی فکر نکوی : په
أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ
ځانونو خپلو کښې : چه نه دی پیدا کړی الله تعالیٰ : آسمانونه : او زمکه :
وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ
او هغه چه مینځ دَ دواړو کښې دی مګر په حقه سره : او په نیټے مقرر شوے سره ۵ :
وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ
او یقینًا ډیر : دَ خلقو نه : په ملاقات دَ رب خپل :
لَكَافِرُونَ ۝۸ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ
خامخا انکار کوونکی دی ، او آیا نه ګرزی دوی : په زمکه کښې :
فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ
پس وګوری دوی ، څرنګه وُو : انجام : دَ هغه کسانو چه
مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً
مخکښې دَ دوی نه وُو : وُو هغوی سخت دَ دوی نه : په قوت کښې :

باندې غلبه وکړله، رومیان صرف دَ روم او قسطنطنیه علاقے ته محدود شول، دا خبره چه مشرکانو مکه واورېده نو هغوی ډیر خوشاله شول او دَ ملګو دَ مؤمنانو خلاف ئے پروپیګنډه شروع کړه او وئیلے چه زمونږ رونړه ستاسو په رونړو باندې غالب شو نو نزدے ده چه مونږ به هم پتاسو غالب شو، هغه

خه ۱ وستاسو دین به ختم کړو. او مؤمنان به دے باندې ډیر خفه شو، نو دغه وی د تسلئ دپاره دا ایتونه
نازل شول. حاصل دا دے چه رومیان اګرچه اوس مغلوب شول لیکن لږ وخت د وستو به غالب شی او
دغه اوشوه ځکه چه اووم کاله

وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ

او اړولے وه هغوی زمکه : او آباده کړے وه زمکه ، زیاته

مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

د هغه نه چه دوی آباده کړے وه : او راغلی وو هغوی ته رسولان د هغوی

بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَ

په ښکاره دلیلونو سره پس نه دے : الله تعالیٰ چه ظلم ئے کړے وے په دوی باندې او

لَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ ثُمَّ

لاکن : وو هغوی په ځانونو خپلو ئے : ظلم کوونکو۔ بیا

كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ

شو : انجام : د هغه کسانو چه کړی وو ئے بد ، ډیره ناکاره د ځکه

أَنْ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَكَانُوا بِهَا

چه دوی دروغ ګڼلی کړی وو : په ایتونو د الله تعالیٰ : او وو دوی : په هغه ټوکې

يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾ اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ

مسخرې کوونکي : الله تعالیٰ اول ځل پیدا ئے خلق کوی : بیا به

يُعِيدُهُ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ

اعاده ئے کوی دوی : بیا به ښاص الله تعالیٰ ته واپس کړے شئ : او کله چه

تَقُومُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ الْمُجْرِمُونَ ﴿١٢﴾

قائمه شی : قیامت : نا امیده به شی : مجرمان :

وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ مِنْ شُرَكَائِهِمْ شُفَعَاءُ وَ

او نه به وی : دوی لره : د شریکانو د دوی نه : سفارشیان : او

كَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ كَافِرِينَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ

شی به دوی : د شریکانو خپلو نه انکار کوونکي : او کله چه قائمه شی

السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا

قیامت : په دغه ورځ به جدا جدا شی دوی : پس هغه

روستو بیا لوئے جنګ اوشو او رومیان غالب شو په فارس والو باندې او د دوی د غلبے ورځ هغه ورځ وه چه مومنان په غزوه بدر کښې په مشرکینو د مکے باندې غالب شول نو په مشرکانو باندې د دوی خفګان نه راغلل او په مومنانو باندې دوه خوشالئ راغلے (احسن ص) فِي أَدْنَى الْأَرْضِ: یعنی په دغه زمکه کښې چه د فارس په نسبت عرب ته زیاته نزدے وه (مرام ص) او په کثرت طریقو سره راغلی دی چه جنګ په منځ د اذرعات او بصری کښې وو او ابن عباس رضی الله عنه او سدی رحمه الله فرمائی چه اردن او فلسطین کښې وو (روح ص) وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ: او دوی به پس د مغلوبوالی د دوی نه زر ده چه زور او رسی (اشرف القرآن) فِي بِضْعِ سِنِينَ: په څو کلونو کښې (فتح ص) فائده: په دے سورت کښې کثرت دلائل عقلیه دی د سورة انعام او نحل نه بعد دا دریم نمبر دے په ذکر د دلائلو عقلیه کښې شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه دکښې ۱۲ دلائل عقلیه دی ۸ ، ۹ ، ۱۱ ، ۱۹ ، ۲۰ ، ۲۱ ، ۲۲ ، ۲۳ ، ۲۴ ، ۲۵ ، ۲۷ ، ۲۸ ، ۴۰ ، ۴۸ ، ۵۴ (اسحاط ص) وَأَثَارُوا الْأَرْضَ ... او اړولے وے زمکه د پاره د کرلو (اشرف القرآن ص) اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ۱۱ : دا د ثبوت د قیامت د پاره دلیل دے

چه قیامت حق دے چه اول باری تعالیٰ مخلوق پیدا کړے دے نو دوباره هغه بیا
پیدا کولے شی ؛ (افضل المتراجم ص ۵٦۳) ؛

سُبْحٰنَ اللّٰهِ: دا تقریر دے چه باری تعالیٰ به تا سو له وړے در کړی خو تا سو ذ باری تعالیٰ توحید بیانوئ. فائدہ:- تسبیح معنیٰ دا ده چه په منځ کښې وی او که پهروی او په وړے اوقات خلق جمع کیږی

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ

کسان چه ایمان ئے راوړے او عمله ئے کړی دی نیکو : پس دوی به:

فِیْ رَوْضَةٍ یُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَاَمَّا الَّذِیْنَ

په باغچه کښې : خوشحاله کړے شی : او هغه کسان چه

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ

کفر ئے کړے : او دروغ ئے ګڼلی : آیتونه زمونږ او ملاقات د آخرت:

فَاُولٰٓئِكَ فِی الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

پس دغه کسان : په عذاب کښې به : حاضر کړے شی :

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِیْنَ تُمْسُوْنَ وَحِیْنَ

پس پاکی ده الله پاک لره : کوم وخت چه بیګاه کوی تاسو : او کوم وخت چه

تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ فِی السَّمٰوٰتِ

صباح کوی تاسو : او خاص هغه لره حمد وثنا دی : په آسمانونو :

وَالْاَرْضِ وَعَشِیًّا وَّحِیْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾

او زمکه کښې : او مازیګری کښې : او کوم وقت چه ماسپخین کوی تاسو :

یُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ وَیُخْرِجُ

راوباسی ژوندی لره : د مړی نه : او راوباسی

الْمَیِّتَ مِنَ الْحَیِّ وَیُحْیِ الْاَرْضَ

مړے : د ژوندی نه : او تازه کوی : زمکه

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَمِنْ

پس د مرګ ئے د هغے نه : او همدغه شان به راویستلے شئ تاسو : او بعض

اٰیٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ

د نښو د قدرت د الله نه : دا چه پیدا کړی ئے یئ تاسو : د خاورے نه : بیا

اِذَاۤ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَمِنْ

بیا په دغه وخت کښې تاسو انسانان شوئ : چه خوریږئ : او بعض د

نوځکه په دے څلورو وختونو کښې توحید بیانوئ او د دغه څلورو وختونو ذکر په دے آیت کښې شوی دی او دا اوقات مقرر شوی دی. ځکه چه په دے وختونو کښې په عالم کښې تغیر راځی او کله چه تغیر راشی نو پکار دی چه خلق باری تعالیٰ ته واپس شی لګ چه په سوکړه کښې یا په جمع کښې. (افضل ماخذ)

فائده:- د نصرت او فتح نه بعد تسبیح او حمد ویل پکار دی. ګورئ سورۃ النصر.

فائده:- اتفاق کړے دے مفسرینو رحمهم الله چه پنځه مونځونه داخل دی په دے آیت کښې او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه نه دی ذکر شوی پنځه مونځونه مګر په دے آیتونو کښې. (قرطبی، جواهر ۵۹) وَعَشِیًّا: او په مازیګری کښې. دلته ئے طرز د کلام بدل کړو ځکه چه د دے نه فعل په معنیٰ د دخول په وقت د عشی کښې نه دی مستعمل شوے پشان د دغه نورو وقتونو او ګورئ قاسمی (۱۴): یُخْرِجُ الْحَیَّ: دا دے آیت نه ترمه پورے دویم باب دے په دے کښې شلور خبرے دی: (۱) پولسمی دلائل: (۲) ما بین کښې مثال د بیاره د توحید ۲۴ کښې. (۳) اَنْه اصول د باره د رفع د هزیمت او د حصول د نصرت د ۴۲ نه تر ۴۵ پورے. پهرته کښې ورے، په ۴۷ کښې شلور، په ۴۷ کښې یو: (۴)

زجر ۶۰: فائده:- په دے آیتونو کښې او وه ځله وَمِنْ اٰیٰتِهٖ ذکر شوے دے او دا د دے سورت امتیاز هم دے: او معنیٰ ئے دا ده او بعض د نښو د قدرت د الله تعالیٰ نه دا دی. ❖ ❖ ❖ ❖

اٰيٰتِهٖۤ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ
ویرنو ؤ هغه نه - دا چه پیدا کړی ئی ستاسو دپاره د جنسه ذ نفسونو ستاسو نه ؛
اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْۤا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ
بیبیانې ؛ چه آرام حاصل کړی هغوی ته ؛ او ګرځولی ئی په مینځ ستاسو کښې ؛
مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ
دوستانه ؛ او رحم کول ؛ یقینًا په دے کښې ؛ خامخا دلائل دی ؛
لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ
د هغه قوم دپاره چه فکر کوی ؛ او بعض د نښو د الله قدرت ؛ چه پیدا کړه دی
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ
اسمانونه ؛ او زمکه ؛ او جدا والے ؛
اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ
د ژبو ستاسو ؛ او د رنګونو ستاسو ؛ یقینًا په دے کښې خامخا دلیلونه دی ؛
لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ
دپاره د عالمانو ؛ او بعض د دلیلونو د هغه نه ؛ خوب ستاسو دے
بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَآؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ
د شپے ؛ او د ورځے ؛ او لټول ستاسو دی ؛ د فضل د هغه نه ؛
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾
یقینًا په دے کښې خامخا دلائل دی ؛ د هغه قوم دپاره چه اوری حق ؛
وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ
او بعض د نښو د هغه نه ؛ چه ښائی تاسو ته ؛ بریښنا ؛ د یره د ویرے ؛ او
طَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً
د طمع ؛ او را نازلوی ؛ د بره نه ؛ اوبه ؛
فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ
پس تازه کوی په دے ؛ زمکه ؛ پس د وچوالی د دے نه ؛ یقینًا

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ الخ ؛ او ګرځولی ئی په مینځ ستاسو کښې دوستی او مهربانی ، جناب مفتی صاحب رحمۃ اللہ فرمائی چه دوه لفظونه ئے غوره کړه ، یو مودت دویم رحمت ؛ ممکنه ده چه اشاره دے طرفته وی چه د مودت تعلق د ځوانئ په هغه زمانه کښې وی په کوم کښې چه د طرفینو خواهشات د یو بل سره په محبت او الفت مجبوره کړی او په بوډاتوب کښې چه کله دا جذبات ختم شی نو په مابین کښې رحمت او مهربانی طبعی طور سره کیږی (معارف ج ۷) ؛ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ الخ کښې اَنْفُسِی دلیلونه وو او دا اٰفاقی دلیل دے او په دے کښې بل اٰفاقی دلیل دے چه متعلق دے د زمانیا تو سره او په دے کښې بل دلیل دے چه پکښې عوارض اٰفاقی

ذکر کوی ؛ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ الخ ۲۵ (حاشیه د راتلونکی مخ ؟) ؛ اسمان او زمکه د هغه په حکم ولاړ دی او پس د مرګه ژوندي کول هم هغه دے ۔ (الفتح ؟)

وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ الخ ؛ دا بل دلیل دے ، د اسمان او د زمکے مخلوق د هغه دی اول پیدا کول ئے او دوباره پیدا کول ئے صرف هغه دے او هر څه د هغه په قبضه کښې

(بقیه د دے مخ): لګیا دے او د زمکے او اسمانونو تصرفات هم صرف د هغه دی **فائده**: اول
باری تعالی فرمائی چه د باری تعالی وحدانیت د دے دلائلو نه معلومیږی هغه خلک دی چه فکر

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ

په دې کښې خامخا نخښې دی: د هغه قوم د پاره چه عقل لری: او بعضې

آيَاتِهِ أَنْ تَقُومَ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ بِأَمْرِهِ ۚ

د دلائلو د الله تعالی نه دا چه ولاړ دی اسمانونه: او زمکه: په حکم د هغه:

ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِنَ الْأَرْضِ

بیا چه کوم وخت راوبلی تاسو لره: په بلنه سره: د زمکے نه:

إِذَا أَنْتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُ مَنْ فِي

ناڅاپه تاسو به: راوځئی: او خاص الله تعالی لره هغه څوک دی چه

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ ﴿٢٦﴾

اسمانونو: او زمکے کښې دی: ټول هغه ته تابعداری دی:

وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ

او الله تعالی هغه ذات دے چه اول پیدا ئش کوی: بیا به ئے دوباره پیدا ئش وکړی

وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ

او دا اسان دی په هغه باندې: او خاص هغه لره شان اوچت دے:

فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ

په اسمانونو: او زمکه کښې: او هغه زورور او

الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ لَكُمْ مَثَلًا مِنْ

حکمتونو والا دے: بیان کړے دے الله تعالی ستاسو د پوهې د پاره، مثال: د

أَنْفُسِكُمْ ۖ هَلْ لَكُمْ مِنْ مَا مَلَكَتْ

جنسه ستاسو نه: ایا شته دے ستاسو لره: د هغو چه مالکان دی:

أَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ

ښی لاسونه ستاسو: څوک حصه داران: په هغه مال کښې چه ورکړے مونږ تاسو ته

فَأَنْتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ

پس تاسو: په دې کښې شئ برابر: ویریږئ د هغوی نه، لکه ویره د ځانونو ستاسو:

کوی. بیا فرمائی چه فکر
بریدونکو خلکو ته پوهه پکښې دی:
بیا فرمائی چه پوهه بریدونکو
چه اوریدونکی دی ورله دی. بیا
فرمائی چه اوریدونکو بریدونکو
خلکو ته عقل پکښې دی نو ددے
دلیلونو نه د باری تعالی
وحدانیت معلومول لیکن
معلومه شوه چه څوک
وحدانیت نه معلوموی نو
هغه بے عقله ګڼل دی. نو
انسان. (الفضل ص۵۶۵):

وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ: د
تولو نه لوئے صفت یعنی
وحدانیت الله تعالی لره
مخصوص دے هغه په ذات
او صفاتو کښې منفرد او
یو دے او په زمکه او اسمان
کښې هیڅوک د هغه شریک
نشته. (جواهر ص۹۵).

ضَرَبَ لَكُمْ ۲۸: هرکله چه
اثبات د توحید وشو په
ګنړو دلائلو عقلیو سره نو
اوس ئے وضاحت کوی په
مثال سره: معنی دا ده چه
بیان کړے دے الله تعالی
مثال د جنسه ستاسو نه،
(یعنی ستاسو د پوهې د پاره)
د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی
چه ستاسو مملوک ستاسو
برابر نه دی نو څنګه مملوک به
خالق سره برابر شی؟ (الفضل
ص۵۶۶) علامه نسفی رحمه الله فرمائی
پس هرکله چه تاسو نه راضی
کیږئ په دے باندې د خپلو غلامانو د پاره پس څنګه راضی کیږئ لرب الارباب ومالک الاحرار و
العبید ان تجعلوا له شرکاء: (مدارک ص۱۶۷ ج۳) ۞

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا: په ویکښ زورنه ده. فَأَقِمْ وَجْهَكَ: دا شروع د توحید ده او دوست خلقو ته اشاره د اصول د پاره ده چه صلو او د نصرت ذکر کول شی. عدمه ئے فوری. حکم فرمائی که چه حق واضح شو او ظاهر ئے شو وجه ئے بیان ورو ئے شبیل. او اتبعوا الحق وظهرت الوحدانیة.

أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ

يَعْقِلُونَ (۲۸) بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا

أَهْوَاءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِي

مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ (۲۹)

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ

فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ

لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ

الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ (۳۰)

مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا

الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۳۱)

مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا

شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ

فَأَقِمْ الخ: امر شو او عبر حنیف. فِطْرَتَ اللَّهِ: لازم شی د فطرت دین د الله تعالیٰ هغه سره چه پیدا کړی خلق په هغه باندې (مدارک ۲۸۳). حدیث شریف کښې راځی رسول الله ﷺ فرمائی چه هیڅ ماشوم مګر پیدا کولے شی په فطرت (په دین د توحید) باندې پس مور او پلار ئے یهودی کوی یا نصرانی کوی یا مجوسی کوی. (مشکوٰة ۲۱ متفق علیه) لَا تَبْدِيلَ ۳۰: نشته بدلول دے دین د الله پاک لره. (فتح ۲۳۴) یعنی حرمت ئے مه بدلوی (افضل ۲۶۶) دین خو دغه توحید دے خو اکثر خلق تربنه خلاف کوی. په دے کښې د فطرت بیان دے وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۳۱: دا د مُنِيبِينَ بیان دے. دا نه دی چه مونځ نکوی نو هغه مشرک دے. (افضل ۲۶۶) دا د مُنِيبِينَ تفصیل دے یعنی حاجات کښې صرف د الله تعالیٰ طرف ته رجوع کوئ او د هغه عبادت دعا او پناه کښې هیڅ لره شریک مه جوړوئ (جواهر ۹۵) مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا ۳۲: د هغه کسانو نه چه ګډوډ کړے دے دین خپل او شوی دی ډلے ډلے (فتح ۴۱۰) او دوی یهود او نصاریٰ دی؛ او ویلے شوی دی چه دوی خاوندان د بدعاتو دی (خازن ۳۱۳). ۳۱ اخیر وګورئ. فائده:- دا بیان دے د مشرکانو د کارنامو، فریقے په یو بل طعن کوی او هر یو په خپله خبره خوشاله وی او د مسلمانانو پنځه فریقے دی خلور هغه دی چه تقلید کوی د خاص امام لکه احناف، حنبلیان، شوافع، ...

فَرِحُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ
خوشحالي کوي: او کله چه ورسي (رسيږي) خلقو ته: ضرر:
دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ ثُمَّ اِذَآ
بلي رب خپل لره: رجوع کوونکي وي هغه ته: بيا چه کله:
اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ
وڅکوي دوی ته: الله تعالی د خپل طرفه رحمت: ناڅاپه يو ډله: د دوی نه:
بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ
د رب خپل سره شرک کوي: چه ناشکري وکړي: په هغه نعمت چه ورکړي مونږ دوی ته:
فَتَمَتَّعُوْا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ اَنْزَلْنَا
پس نفع حاصل کړئ: پس زر دی چه معلوم به شي: آيا نازل کړي دي مونږ:
عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا
په دوی باندې: څه دليل: پس هغه خبرې کوي: په هغه چه دوی وو:
بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ
د الله سره شريکوي: او کله چه او څکوو مونږ: خلقو ته:
رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ
رحمت: خوشحاله شي په دې: او که چرې ورسيږي دوی ته:
سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ
تکليف: په سبب د هغه چه مخکښې کړي لاسونو د دوی: ناڅاپه دوی:
يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ
نااميدي کوي: او آيا نه گوري دوی: چه يقيناً الله تعالی: فراخه کوي:
الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ اِنَّ
رزق: چا لره چه وغواړي: او تنگوي يې: يقيناً
فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۳۷﴾
په دې کښې ډير دليلونه دي: د هغه قوم د پاره چه ايمان لري:

سه مالکيانې او پنځمه اصل حديث: دوی د خاص امام خبره نه مني. دا قول صحيح خلق دی چه په دوی غلو او د امرض د طعن نه دی بلکه د دوی په درميان کښې اختلاف د دليل دی نه د خواهش الخ ❊ ❊ (افضل التراجم ص۵۶۵) ❊

وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ: حديث د دے مخه: زور رنه د ۷:

سُلْطٰنًا: آيا نازل کړي دے مونږ په دوی باندې څه دليل. (فتح ص۹۴). اَوَلَمْ يَرَوْا ص۳۷: دليل عقلي دے ۳۷ رعد وګوره ❊ ❊

فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى ص۳۸: (حاشيه د راشتونکی مخ ص۶۸۲): دا آخر اصل دے د هغو اصولونه چه د ص۳۰ ايت نه شروع شوی دو. فائده ۷: عذاب دفع کيږي په د ډيرو کارونو سره چه شرک نه کوي او ظلم نه کوي او احسان کوي. د شرک رد خو تير شو، دا اوس د احسان بيان دے چه کاميابي داده چه د حقدار حق ورکړے شي، وَمَآ اٰتَيْتُمْ دا بيان دے چه ظلم نه کوي ...

(بقیه نوٹ ۴)
هغه چه په سود کښ برکت نشته. (انفال ص۹۶) وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا: دا منع کول دي د مقابل د احسان نه چه ربکو او ربا ده او په دے آیت کښ تقابل دے د ربکو او د زکوٰة په خلاف د گمان د خلقو سره. نو یو هغه خلق گمان کوي چه په ربکو سره مال زیاتیږي نو وئے فرمائیل: فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ او گمان کوي چه په زکوٰة سره مال کمیږي: نو پیه فرمائیل: فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ. (احسن ص۲)

فائده:- جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه په دے آیت کښ د یو ناکاره رسم اصلاح کړے شوے ده چه په عام خاندانونو او اهل قرابت کښ چلیږي، هغه دا چه عام طور په دے خپلو دوستو خلق نیوبل نه څه ورکوي په دے نظر لري چه هغه به زمونږ په وقت کښ څه راکړي بلکه رسمي طور بانډ به څه زیات راکړي خصوصاً د نکاح، واده وغیره تقریبونو کښ چه څه ورکولے اخستے شي د هغه هم دا حیثیت وي چه هغه ته په عرف کښ نوته (نیوته) ویلے شي. (معارف ص۳) فَلَا يَرْبُوْا د باب د ربیم نه اخره پورے په دیکښ شپږ خبرے دي: (۱) ثبوت عقلي ولائل ملا ص۳ ... (۲) تخویف دنیاوي ... (۳) تخویف اخروي ... (۴) بشارت ... (۵) زجرونه ... (۶) تسلي نبي عليه السلام لره ... ۔

فَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ
پس ورکوه خپلوانو ته حق د هغه، او مسکین ته:

وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ
او مسافر ته، دا غوره دي د هغه کسانو دپاره:

يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ
چه اراده لري د رضا د الله تعالیٰ، او همدغه کسان هم دوی

الْمُفْلِحُوْنَ ۝۳۸ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا
فلاح موندونکي دي: او هغه چه ورکوئ تاسو څه سود مال:

لِّيَرْبُوَاۡ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا
په نیت د زیاتوالي چه زیات شي په مالونو د خلقو کښ، پس نه زیاتیږي:

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ
په نزد د الله تعالیٰ: او هغه چه ورکوئ تاسو څه زکوٰة چه اراده لرئ

وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ۝۳۹
د رضا د الله تعالیٰ، پس همدغه کسان دوی دي چه دوچندونکي دي مالونو خپلو لره:

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ
الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړي تاسو، بیا رزق درکوي تاسو ته، بیا

يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ هَلْ مِنْ
وژني به تاسو، بیا ژوندي کوي تاسو لره؛ آیا شته

شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ
شریکانو ستاسو نه څوک چه وکړي څه د دے کارونو نه څه

شَيْءٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝۴۰
شي لره: پاک دے الله تعالیٰ او اوچت دے د هغه نه چه دوی شریکان جوړوي:

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ
ښکاره شو فساد په وچه، او په دریاب کښ، بسبب د هغه عملونو چه کړي

بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ: ظاهر شوے دے فساد په وچه او دریاب کښ په سبب د هغه چه کوي ئے لاسونه د خلقو. علامه نسفي رحمه الله فرمائي په سبب د گناهونو او شرک د خلقو (مدارک ص۲) جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه په دنیا کښ لوئے لوئے مصیبتونه او آفتونه د انسانانو د گناهونو په سبب سره راځي. (معارف ص۵ ج۶)

فَأَقِمْ وَجْهَكَ (آیت ۴۳): دا متعلق دے دَ (۳۰) آیت سره، او ما قبل سره ئے ربط دا دے چه دَ شرک دَ وجے نه عذاب راځی نو ته دَ غان دَ شرک نه بچ کړه. وګورئ افضل التراجم صفحه ۵۶۸. په (۴۲) کښې دَ دواړو ډلو ذکر دے. په (۴۳) کښې دلیل عقلی دے شه

أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي

لاسونه دَ خلقو: چه وڅکوی دوی ته، بعض سزا دَ هغه عملو

عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيرُوا

چه کړی دی دوی: دَ دے دَ پاره چه دوی ګرځی راشی: ووایه ګرځئ:

فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په زمکه کښې: پس وګورئ چه، څنګه وو: انجام:

الَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم

دَ هغه کسانو چه وو دوی نه مخکښې وو: وو: زیاتِ دَ هغوی نه:

مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ

شرک کوونکی: پس برابر کړه، ځان خپل: دِین:

الْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ

نیغ ته: مخکښې دَ دے نه: چه راشی یوه ورځ، چه نه به وی واپسی

لَهُ مِنَ اللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن

هغے لره، دَ طرفه دَ الله تعالیٰ: په هغه ورځ به جدا جدا شی دوی، چا چه

كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا

کفر کړے وی: پس په هغه سزا دَ کفر دَ هغه ده، او چا چه عمل کړے وی: نیک:

فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ

پس دَ ځانونو خپلو دَ پاره تیارے کوی: دَ پاره دَ دے چه بدله ورکړی الله

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِن

هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے او عملونه نیک: دَ

فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَمِنْ

فضل خپل نه، یقیناً الله تعالیٰ نه خوښوی: کافرانو سره، او بعض دَ

آيَاتِهِ أَن يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ

نښو دَ الله تعالیٰ دا چه رالیږی بادونه: زیرے ورکوونکی:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا (آیت ۴۷): (حاشیه دَ راتلونکی مخ ۶۹۴): په دے آیت کریمه کښې صداقت دَ رسول علیه السلام دے او دلیل دَ ختم نبوت (تسلی ده ۲)، وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا ۱ او دے لازم په موږ ۲ امداد دَ مؤمنانو ۳ دَ رستم شیخ القرآن حفظه الله فرمائی: دا حق الله تعالیٰ په ځان باندے لازم کړے دے په سبب دَ وعدے خپلے سره او دیته حق تفضلی وئیلے کیږی دا حق واجبی نه دے پشان دَ وجوب په بندګانو باندے (احسن صفحه ۳۵) مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه دَ مؤمنانو نه مراد هغه مجاهدین فی سبیل الله دی چه خالص دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره دَ کفارو سره جنګیږی. (معارف ۹/۲) امام رازی رحمه الله فرمائی چه کافر کیدے شی وکړی غلبه په بعضو اوقاتو کښې، دَ غه نصرت نه دے ځکه چه بیا انجام دَ هغوی لره نشته. (الکبیر صفحه ۱۳۲ ج ۲۵). اللّٰهُ الَّذِي: دلیل عقلی دے، الودق شاڅکی دَ باران. (فتح القدیر)

مِن قَبْلِهِ: دا تکرار دَ پاره دَ تاکید دے. (روح المعانی ص ۵۳ ج ۲۱). عکبری رحمه الله فرمائی چه اولی دا ده چه هٰ ضمیر په دے کښې وئیلے ته، او یا بادونه او یا کسف ...

(بقیه د تیر مخ) :- (بقیه د وړاندې مخ) :- (پیغمبرانو) ته راجع دے او معنی داشو او اګرچه وو دوی مخکښې د رالیږلو د باران نه مخکښې د وریځې او یا مخکښې د رسیدلو نه الخ (امداد رشید) یعنی یو ځل د خوشحالۍ نه تکرار لازم نشو (الفتح ملخصاً) په

وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ

او چه ورڅکوي تاسو ته څه خوند د رحمت خپل نه، او دپاره د روانې دي

الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ

کښتۍ په حکم د هغه، او دپاره د دې چه ولټوئ تاسو د فضل د هغه نه،

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

او دپاره د دې چه تاسو شکر وباسئ، او یقیناً رالیږلي دي مونږ

مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَاءُوهُم

مخکښې ستا نه پیغمبران، قومونو خپلو ته، پس راوړي ئې وو دوی ته

بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا

ښکاره دلیلونه، پس بدله واخسته مونږ د هغه کسانو نه چه جرم ئې کړے وو،

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾

او وو لازم په مونږ باندې مدد کول د مومنانو،

اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيحَ فَتُثِيرُ

الله هغه ذات دے چه رالیږي بادونه، پس پورته کوي،

سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ يَشَاءُ وَيَجْعَلُهُ

ورېځې، پس خوروي ئې الله په آسمان کښې څنګه چه وغواړي او کوي ئې

كِسَفًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ

ټوټې ټوټې، پس وینې ته څاڅکي د باران، چه راوځي د مینځ د

خِلَالِهِ ۖ فَإِذَا أَصَابَ بِهِ مَن يَشَاءُ

هغې نه، پس هرکله چه ورسوي الله دا باران چاله چه وغواړي،

مِنْ عِبَادِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾

د بندګانو خپلو نه، ناڅاپه هغوی خوشحالیږي،

وَإِن كَانُوا مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم

او اګرچه وو دوی، مخکښې د رالیږلو د باران نه په دوی باندې

منزل ۵

دا آیت کښې بل دلیل عقلي په توحید کښې زجر دے :- فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ :- حاشیه د راتلونکي مخ (۲۰) :- د مشرکانو د عناد او مکابرې نه بعد حضرت ﷺ ته تسلي ورکړے شوه چه کوم واضح دلائلو باوجود مشرکانو د انکار او تکذیب نه واپس نه راځي ستاسو په انذار او تبلیغ کښې هیڅ قصور نشته الخ ... (بیان) او یا د مشرکانو په باره کښې مثالونه ذکر شوي دي. فائده :- د سماع الموتی مسئله کښې ډیر اختلاف دے. په سورة الفاطر کښې فرمائي. وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ، که بالفرض واوري هم نو ستاسو حاجت نشي پوره کولے حاجت روا صرف باري تعالی دے (الفتح ملخصاً). فائده :- د سماع موتی مسئله د زمانې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه اختلافي راچلیدلې ده. دا مسئله د اعتقاداتو ضروریاتو نه نه ده چه د هغې په نفی یا اثبات باندې د کفر او د اسلام مدار دے، بلکه علمي او تحقیقي بحث دے چه په هغه کښې د بحث او مباحثې او نظر او د تحقیق ګنجائش شته د امت محمدیه علی صاحبها الصلوٰة والسلام د علماؤ په مابین کښې په دې مسئله کښې همیشه دوه رایګانې چلیدلې دي. د ځینو علماؤ رائے دا ده چه مړه اوري او نورو علماؤ د خپل تحقیق په بنا د سماع موتی نفي کوي. د علماؤ کرامو د دوه وړو جماعتونو سره دلائل شته چه په هغو باندې دوی خپله رائے او تحقیق بنیاد ونه مضبوط کړي دي. کوم علماء چه د سماع موتی نفي کوي د هغوی استدلال د ظاهري آیتونو د قرآن او د احادیثو صحیحو نه دے او کوم چه د سماع هم د صحیح احادیثو استدلال

صحه البقیه ده دے صنح: کوی ا جواهر القرآن ص) **فائده:** مسئله د سماع موتی چه صری وه د نباه والرخیئ اوری او که نه اوری؛ مقام د دے مسئلے (د صر وسے نه اوریبال خبرو د ژوندو دلره) د اتفاقی مسئله ده. قول ائمه ناقی:

مِنْ قَبْلِهِ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَانْظُرْ إِلَىٰ آثَارِ

مخکښې د دے وخت نه خفګان ناامیده ؤ دوی؛ پس وګوره ته نښې

رَحْمَتِ اللَّهِ كَيْفَ يُحْيِ الْأَرْضَ بَعْدَ

د رحمت د الله ته: چه څنګه تازه کوی زمکه؛ پس د

مَوْتِهَا ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ

وچیدو د دے نه یقینا دغه ذات: خامخا ژوندی کونکے د مړو دے، او هغه

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا

په هر شی باندے قدرت والا دے؛ او که چرته راولیږو موږ

رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَظَلُّوا مِنْ

سیلئ؛ پس وګوری دوی فصل زیړ شوے، خامخا شی به دوی؛ پس

بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ

د هغه نه کفر به کوی؛ پس یقینا ته نشې اورولے

الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا

مړو ته؛ او نشې اورولے کڼو ته؛ بلنه؛ کله چه

وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَا أَنْتَ بِهَادِ الْعُمْيِ

وګرځی دوی شا کونکی؛ او نه یے ته هدایت کونکے ړندو ته

عَنْ ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ

د ګمراهئ د هغوی نه؛ نشے اورولے ته مګر هغه چه یقین لری

بِآيَاتِنَا فَهُمْ مُسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾ ۞ اللَّهُ الَّذِي

په ایتونو زموږ؛ پس دوی تابعداری کونکی دی؛ الله هغه ذات دے چه

خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ

پیدا کړی یی تاسو له د کمزورئ نه؛ بیا ګرځولی دی؛ پس د

بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ

کمزورئ نه طاقت؛ بیا یے ګرځولے؛ پس د

ذ امام شافعی رحمه الله او د امام احمد رحمه الله په مغنی د ابن قدامه ص۲ او په تکمله د شرح مهذب للنووی ص۹ کښې ذکر کړے، او د حنفی دلیل نے ایت د سورة فاطر وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ ذکر کړے دے. او د امام ابو حنیفه رحمه الله په الکوکب الدری شرح ترمذی ص۲ کښې او په تفسیر مواهب الرحمن ص۲ کښې او تفهیم المسائل ص کښې ذکر کړے دے او او لیکلے په تفسیر د ایت: إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ وَالْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ (انعام ص۳) التفسیر خازنی ص التفسیر نیشاپوری ص تفسیر ابن جریر ص کښې لیکلی دی چه مړی نه اوری او د رکتب فتح القدیر ص کتاب الجنائز کښې لیکلی دی چه د اکثرو علماؤ د احنافو قول دا دے. د علامه عینی په عمدة القاری ص کښې لیکلی دی چه مړی نه اوری. شیخ رشید احمد ګنګوهی رحمه الله لیکلی دی چه دا قول د عائشې رضی الله عنها او ابن عباس رضی الله عنهما دے او دا قول د ملا علی قاری رحمه الله دے. شرح فقه اکبر ص او دا قول د تفتازانی دے (شرح مقاصد ص۲) او د دے نه علاوه نور هم د فقهاؤ او محدثینو دا قول دے (احسن الکلام ص ج۲).

فائده: حال اختلاف د اهل علمو په دګښې شته چه مواضع منصوصه کښې سماع ثابته ده او که نه ده. ګنړا خدافی وغیره مواضع منصوصه کښې هم د سماع قول نه دے کړے بلکه د هغې تاویلونه یے کړیدی (احسن ص) **فائده:** د دے مسئلے پوره تحقیق او د مواضع منصوصو پوره تاویلونه او جوابونه د شیخ القرآن نور الله مرقده په مایه ناز تصنیف "البصائر" او د علامه

سره نیلوی رحمه الله قابل دید کتاب "شفاء الصدور" کښې دی. هغه ې وګورئ. اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ: دیکښې
دلیل عقلی دے، دَ مخې نه تخویف اخروی دے، په مخه کښې زورنه او رتیه دلته

قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَيْبَةً ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ
قوت نه: کمزوری: او بوډاوالے، پیدا کوی څه چه غواړی:
وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴿۵۴﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ
او الله پوهه دے هر څه: قدرت والا دے. او کله چه قائمه شی،
السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا
قیامت، قسمونه به کوی، مجرمان: چه نه وو ایسار شوی دوی
غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾
غیر دَ یو ساعت نه: دغه رنګے وو دوی: اړولی شو دَ حق نه:
وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ
او وبه وائی هغه کسان: چه ورکړے شوے دے علم: او ایمان:
لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ
یقینًا درنګ تېر کړے دے تاسو په (علم) دَ کتاب دَ الله کښې، تر ورځے دَ
الْبَعْثِ ؗ فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ
قیامته پورې: پس دا: ورځ دَ قیامت ده: او لاکن تاسو
كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنْفَعُ
وئ: چه نه پوهیدلئ: پس په دغه ورځ: نفع به ورنکوی:
الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ
هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړے: بهانې دَ دوی: او نه به وی دوی:
يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ
چه توبه ئے قبوله کړے شی: او یقینًا بیان کړی دی موږ دَ پاره دَ خلقو:
فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ
په دے قرآن کښې: دَ هر قسم مثال نه: او که چیرے
جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا
راوړے ته دوی له څه دلیل: نو خامخا یقینًا وائی: هغه کسان چه کفر ئے کړے دے

(حاشیه دَ زړاګلوګی محو شی) او دیکښې تسلی ده نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لره، وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ او بے همته دِ نکړی تا لره: مراد دے نه کړے بے صبری دَ وجے نه عذاب غوښتل دی په تلوار سره او دعوت او تبلیغ پریخودل دی. (احسن الکلام). او باعث دِ نکړی تا لره په جلدی کولو سره په بشیرو کولو باندے دوی هغه کسان چه یقین نه لری. (احکام القرآن) مسئله:- په بعضو کتابونو کښې په ذرو شریف دَروایت شیعه ملا صاحب مقتدا باقر نه سورة عنکبوت او روم ویلو او دے ته به دِ قرآن شیعه ویلو او دا ډیرے ثواب ګنړلو حالانکه تخصیص دَ اوقاتو او دَ ډیرو مخونو په عبادتونو کښې حق دَ شارع دے او دَ خان نه تخصیص کول دا بدعت دے. احقر په "رد بدعات" کښې دَ مخ ۵ نه دا مسئله لیکلې ده هغه ته رجوع وکړئ: افسوس چه مسلمانان دَ قرآن او احادیثو نه هسې نه خبریږی او دَ اغیارو تقالی کوی. دَ شیخ عباس القمی شیعه کتاب مفاتیح الجنان چه په ۲۰۰ صفحو مشتمل دے او تول دَ خرافاتو، شرکیاتو او بدعاتو نه ډک دے دَ صفحه ۱۹۰ کښې وی: وروی ابو بصیر عن ابی عبد الله علیه السلام قال من قرء سورة العنکبوت والروم فی شهر رمضان فی لیلة ثلاث وعشرین فهو والله یا ابا محمد من اهل الجنة لا استثنی منه ابدا ولا اخاف ان یکتب الله علیّ فی یمینی اثما الخ: دغه بے سنده دے مجهول او نه په هیڅ صحیح حواله شته بکه دا دَ اسپیاز ات دی.

(۱–۴) کښې دلائل عقلیه: (۲) اصول ثلاثه نیه دَ پاره دَ فتح: (۳) پخه وختونه ...

سره (بقیه ددے مخ) : دَ فرضي مونځونو ذکر دے (۳) دَ فتحے او شکست دَ رومیانو ذکر دے : (۵) دَ مثالونو دَ پاره دَ مشرکانو دَ رد دَ پاره : (ختم شد بتوفیق الله تعالیٰ بشب جمعه ۱۹ ربيع المظفر ۱۴۰۲ ه عم بختم)

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ

چه نه یئ تاسو مګر باطل ویونکي : دغه رنګ مهر لګوي :

اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٩﴾

الله تعالیٰ په زړونو دَ هغه کسانو چه نه پوهیږي :

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا

پس صبر کوه ته یقیناً وعده دَ الله تعالیٰ حقه ده او بے حیثه

يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

دِ نه کړي تا لره هغه کسان چه یقین نه لري :

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾

الله تعالیٰ په مراد دَ دے حروفو پوهیږي دا آیتونه دَ کتاب دي چه والا دَ حکمتونو دے

هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ﴿٣﴾ الَّذِينَ

هدایت او رحمت دے دَ پاره دَ نیکي کوونکو : هغه کسان چه

يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَ

دروي : مانځه لره او ورکوي زکوٰة لره او

هُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُولَٰئِكَ

دوي په آخرت باندې دوي یقین لري : دغه کسانو والا

عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ

په هدایت دي دَ رب خپل نه او دغه کسان دوي

الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن

بریمومونکي دي او بعض دَ خلقو نه هغه څوک دي

يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن

چه اخلي لغو خبرے : چه واړوي خلق دَ

سُورَةُ لُقْمَٰنَ مَكِّيَّةٌ

(ربط) په ترتیب کښي (۲۱) پس دَ سورة روم نه او په نزول کښي ۵۷ ده پس دَ سورة صٰفّٰت نه دے. وجه دَ تسمیے په لقمان سره دا ده چه دا لفظ دوه ځله په دے سورة کښي ذکر شوے : دعوے : (۱) بشارت په فلاح سره دے (۲) رد دَ شرک په ۱۲ ځایه کښي : ربطونه : (۱) عنکبوت سورة کښي دلائل عقلیه وو په توحید او دلته درے قسمه دلائل عقلي نقلي وحي راوړي په وحدانیت دَ الله باندې (۲) دَ دے سورة دَ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ دَ صفت سورة دَ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ سره لګي (۳) هلته ئے فرمایلي وو فاصبر ۶۰ : دلته هم دَ لقمان ﷺ په وصیت کښي دي وَاصْبِرْ ۱۷ : (۴) هلته دَ کښي ترغیب وو قرآن ته دلته سر کښي ترغیب دے قرآن ته : (۵) عنکبوت کښي وفرمایل جهاد وکړئ، روم کښي وفرمایل فتحه به تاسو وي نو دلته فرمائي چه مجاهد وکړئ شان دَ لقمان غوندے.

خلاصه : په دے سورة کښي دوه بابونه دي اول تر ختا پورے او دویم تر آخره پورے. په اول باب کښي شپږ خبرے دي (۱) سر کښي ترغیب قرآن ته او دَ صفه خلو صفات : (۲) بشارت اهل قرآن ته او دَ هغوی خلور صفات : (۳) زجر منکرینو دَ قرآن ته دَ ۶ : (۴) دَ هغوی په مقابل کښي بشارت ۸ : (۵) عقلي دلیل ۱۰ : (۶) نقلي دلیل دَ لقمان رحمه الله نه ۱۲ ته

فائده : دَ مومنانو دا قسم بشارت او صفات دَ بقرے سر کښي هم ذکر شوي دي : لَهْوَ الْحَدِيثِ : سره

عمه محکښې وَنیکانو دَپاره بشارت وُو، اوس دَبدانو دَپاره زجر او تخویف او دَ هغوی دَ بدې حالتونه
ذکرکوی، لَهْوَ الْحَدِیْثِ کښې اضافت بیانیه دے، معنیٰ ئې دَ غفلو دَ خبرې دی: حسن بصری رحمه الله

سَبِیْلِ اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ ۖ وَّ یَتَّخِذَهَا
لاره د الله تعالیٰ نه: بے دَ څه پوهې نه: او سَپینی ئې لره:
هُزُوًا ۚ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ۝٦
ټوقه: دغه کسان: دوی لره عذاب: خوار ونکے دے:
وَاِذَا تُتْلٰی عَلَیْهِ اٰیٰتُنَا وَلّٰی مُسْتَكْبِرًا
او کله چه لوستلے شی: په ده باندې: آیتونه زمونږ: وګرځی لوئی کوونکے:
كَاَنْ لَّمْ یَسْمَعْهَا كَاَنَّ فِیْٓ اُذُنَیْهِ
ګویا که نه دی اوریدلی ده هغه لره، ګویا که په غوږو دَ ده کښې:
وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ ۝٧ اِنَّ
دروندوالے دے: پس زیرے ورکړه ده لره په عذاب دردناک سره: یقیناً
الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ
هغه کسان چه ایمان ئې راوړے: او عملونه کوی: دَ نیکو: دوی لره
جَنّٰتُ النَّعِیْمِ ۝٨ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ۭ وَعْدَ
باغونه دَ نعمتونو دی: همیشه به وسیدونکی دوی: په هغو کښې: وعده کړیده
اللّٰهِ حَقًّا ۭ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝٩
الله: حقه: او هغه: زوراور: حکمت والا دے:
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَیْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا
پیدا کړی دی هغه: آسمانونه، بغیر دَ ستنو نه: وینئ تاسو هغه:
وَاَلْقٰی فِی الْاَرْضِ رَوَاسِیَ اَنْ
او اچولی دی: په زمکه کښې: مضبوط غرونه: چه
تَمِیْدَ بِكُمْ وَبَثَّ فِیْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۭ
ونه خوزیږی ستاسو سره: او خوارهٔ کړیدی په دې کښې: دَ هر رنګ ځناورو نه:
وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا
او را ورولو مونږ: د بره طرف نه: اوبه: پس راوزرغونه وَکړو:

منزل ۵

فرمائی چه مُراد دَدے نه هر هغه شے دے چه غافله کوی تا لره دَ عبادت دَ الله تعالیٰ نه او دَ ذکر دَ هغه نه چه قیصې دی او خندا کانے دی او قیصې دی او غږونه او لوبې وغیره دی... وګورئ: روح بیځ ۲۱ لیکو هغه شی نه ویلے شی چه سړے دَ خپل مولیٰ نه غافله کوی لکه دَ شپې بے فائدے قیصې، خندا کانی او سرودونه (اقتباس) دَ ضحاک رحمه الله نه نقل دی چه مراد تری نه شرک دے او ځینې شوی دی چه جادو دے: (روح ۲۱) علامه آلوسی او امام قرطبی رحمهما الله دَ څلورو اماموانو رحمهم الله اجماع او اقوال په حرامولی دَ ګانے بجانے او دَدے په آلاتو نقل کړی دی. وګورئ: روح، قرطبی (الهُ الحیٰوة) خطیب شربینی رحمه الله لیکی ویلے شوی دی چه غنا سبب دَ ختمیدلو دَ مال او سبب دَ خفه کولو دَ رب او سبب دَ بربادئ دَ زړهٔ دے (سراج منیر ۲۰). فائده: په دې آیت کښې درے نوع قبائح دَ منکرینو دَ قران سره دَ تخویف نه ذکر کوی او په ۸ او ۹ کښې بشارتونه دی او په ۱۰ کښې عقلی دلیل، په ۱۱ کښې تفریع په عقلی دلیل ده ❖ ❖ ❖

اَنْ تَمِیْدَ بِكُمْ: (حاشیه دَ دے مخ): قرطبی رحمه الله فرمائی چه معنیٰ ئې داده چه ونهٔ خوزی په تاسی باندې: لِئَلَّا تَمِیْدَ بِكُمْ: (ص ۵۸ ج ۱۴) ❖
❖ ❖ ❖

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ: دا تیلهر ذکرشوی شیزونه خو د الله تعالیٰ مخلوق دے. (جواهر ص۹۱، وګورئ جـ ص۳۳،
احقاف ص۳، فاطر ص۳۰). وَلَقَدْ اٰتَيْنَا: دا دلیل نقلي دے. الوسي رحمه الله فرمائي چه دا کلام مستاًنف دے

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿١٠﴾ هٰذَا خَلْقُ
په هغې کښې د هر جنس نه فائده والا. دا پیدا کړی
اللّٰهِ فَاَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ مِنْ
د الله تعالیٰ دے پس وښایئ ماته څه پیدا کړی دی هغه کسانو چه سوا د
دُوْنِهٖ ۭ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿١١﴾
الله تعالیٰ نه دی بلکه ظالمان په ګمراهئ ښکاره کښې دی
وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ
او یقینًا ورکړے وو مونږ لقمان ته پوهه د دین دا چه شکر وباسه
لِلّٰهِ ۭ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ
الله تعالیٰ لره او څوک چه شکر وباسي پس یقینًا شکر کوي د ځان د فائدې دپاره
وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿١٢﴾
او چا چه ناشکري وکړه پس یقینًا الله تعالیٰ بے پروا ستائیلے شوے دے
وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ
او کله چه ووئیل لقمان خپل ځوی ته او هغه وعظ کولو هغه ته
يٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۭ اِنَّ الشِّرْكَ
اے بچیه زما مه شریکوه د الله تعالیٰ سره یقینًا شرک
لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴿١٣﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ
خامخا ظلم لوئے دے او وصیت کړے مونږ انسان ته
بِوَالِدَيْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى
په حق د مور او پلار د ده کښې پورته کړے وو هغه مور د هغه په کمزورئ د پاسه
وَهْنٍ وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ اَنِ
د کمزورئ نه او د ئي نه جدا کول ئے په دوه کاله کښې دی دا حکم ورکړو چه
اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ ۭ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ ﴿١٤﴾
شکر کوه زما او د مور پلار خپل ته خپل طرف ته واپس ستا سے دی

رکوع ۱۱ · ۲

حلولے شوے د پاره د باطلوالي د شرک په نقلي دلیل سره پس دا اشارے ته باطلوالي د شرک نه په عقلي دلیل سره: وګورئ روح جـ ص۸۳) د لقمان رحمه الله په باره کښې اختلاف دے چه نبي وو او که ولي وو؛ صحیح خبره دا ده او اکثر مفسرین رحمهم الله فرمائي چه دا حکیم پاکباز، متقي انسان او ولي وو. وګورئ جواهر ص۹۱، عثماني ص۲۸، مدارك ص۲۸، قرطبي جـ ص۵۹، روح جـ ص۸۳. باقي کوم روایت کښې چه راغلي دي چه دے نبي وو د هغه په سند کښې جابر بن یزید جعفي دے، حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا ضعیف دے. (ابن کثیر ص۳۴) اَلْحِكْمَةَ: دا دانشمندي یو څه علم، پوهه د دین، عقلمندي. تفسیر سلف دا روستو دے او د هغه حکمت نمونے ذکر دي: فائده: د دے ځائے نه تر ص۱۹ پورے لس اوامر او خلور نواهي ذکر دي. شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل: حکیم الدنیا اوله نسخه لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ بنوولے ده. لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ د دے آیت نه معلومه شوه چه شرک په ټولو ګناهونو کښې لویه ګناه ده او دیته ئے ظُلْمٌ عَظِيْمٌ وئیلے دے باقي د شرک اقسام د انعام الرحمٰن جـ ص۳ نه وګورئ: وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ: دا ادخال الٰهي دے. حضرت لقمان رحمه الله خپل ځوی ته د الله تعالیٰ د حق ادا کولو نصیحت وکړو نو د دے نه پس الله تعالیٰ د مور او پلار د حقونو د ادا کولو او د دوی سره د ښه سلوك کولو حکم وکړو. (جواهر ص۹۱) ❁

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا
او که دوی کوشش کوی درته ډیر: چه شریک جوړ کړې زما سره: هغه چه
لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَ
نشته تا لره: په هغه پوهه: پس اطاعت مکوه د دوی: او
صَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ
ملګرتیا کوه د دوی سره: په دنیا کښې: په ښه طریقه: او تابع شه
سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ
د لارې د هغه چا: چه رجوع کوی ماته: بیا خاص ماته:
مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ⑮
واپس راتلل ستاسو دی: پس خبر به درکړم تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو به کول:
يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ
اې بچیه زما: یقیناً نیکي یا بدي که چرته وي په اندازه د دانې
مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ
د اوري: پس وي دغه: په کمره کښې: او یا
فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا
په اسمانونو: او یا په زمکه کښې: راوبه وړي هغې لره
اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ⑯ يَا بُنَيَّ
الله تعالی: یقیناً الله تعالی باریک بین: خبردار دی: اې بچیه زما:
أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ
ودروه مونځ لره: او امر کوه: په نیکئ:
وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا
او منعه کوه: د بدئ نه: او صبر کوه په هغه مصیبتونو: چه
أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ⑰
رسیږي تاته: یقیناً دغه: د مضبوطو کارونو نه دی:

وَإِنْ جَاهَدَاكَ: د مور او پلار لوئي حق دے خو خلاف شرع خبره به لے نه منې. (افضل ۳۰۰) وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ: او تابع شه د لارے د هغه چا چه رجوع کوی ماته په توحید او په اخلاص د طاعت سره. (روح ۳۰) دا وصیت دے تول عالم لره ګویا که مامور شوے دے په دے باندے هر انسان. (قرطبی ۳۴) يَا بُنَيَّ: دا بیا کلام د لقمان رحمه الله دے. په دیکښې یو طرفته جزاء او سزاء ته اشاره ده او بل طرفته د الله تعالی د علم کلي او د هغه د قدرت کامله بیان دے او إِنَّهَا ضمیر نه مراد حسنة (نیکي) او سیئة (بدي) مراد ده: يَا بُنَيَّ: دیکښې امور مصلحه ذکر کړی: وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ: چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوی نو ضرور به تکلیف وی نو د صبر تلقین دے د اے نه: (افضل ۵۰۳) وګوره آل عمران ۱۸۶، شوری ۴۳ ❖

❖ ❖ ❖
❖ ❖
❖

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ : او مه اړوه مخ خپل د خلقو نه په تکبر سره (مدارک ۳۶۲) د عبادتونو پس حضرت لقمان رحمه الله خپل فرزند ارجمند ته د مکارم الاخلاق او د ښه معاشرت نصیحت فرمائی :

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ

او مه تاوه : انګے (مخ) خپل : د خلقو نه : او مه ځه :

فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ

په زمکه کښې : مست : یقینا الله تعالیٰ نه خوښوی : هر

مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ

لوئی کونکی : فخر کونکی سړی : او میانه روی کوه په تللو خپلو کښې :

وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنْكَرَ

او ښکته ساته : آواز خپل : یقینا ډیر ناکاره :

الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿١٩﴾ أَلَمْ تَرَوْا

د آوازونو : خامخا آواز : د خرو دے : آیا نه ګورئ تاسو

أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

یقینا الله تعالیٰ په کار لګولی دی : تاسو لره : هغه څه چه په آسمانونو کښې دی :

وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ

او هغه څه چه په زمکه کښې دی : او پوره کړې دی په تاسو باندې : نعمتونه خپل :

ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ

ښکاره او : پټ : او بعض د خلقو نه : هغه څوک دی

يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى

چه جګړه کوی : په توحید د الله کښې بغیر د علم یو شی نه : او بې د هدایت :

وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ

او بې د کتاب روښانه نه : او کله چه ووئیلے شی : دوی ته :

اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ

تابع شئ د هغه چه رالیږلی الله تعالیٰ : وائی دوی : بلکه تابعداری کوو

مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ أَوَلَوْ كَانَ

د هغه چه موندلی مونږ : په هغه باندې پلاران خپل : آیا اګرچه وی

(جواهر ۲۲۹) وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ : اندلسی رحمه الله فرمائی چه وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ اشاره ده افعالو ته او وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ اشاره ده اقوالو ته. پس تنبیه ئے وکړه میانه روی ته په افعالو کښې او په کموالی کښې د فضولو خبرو ته. (بحر ص ۱۸۹ ج ۷) :

إِنَّ أَنْكَرَ الْأَصْوَاتِ : یقینا بدترین آوازونه (خامخا) آوازونه د خرو دی (روح ۹۳) دا جمله د ما قبل د پاره تعلیل (دلیل پیش کول) دی (جواهر ۲۲۹). أَلَمْ تَرَوْا ۲۰ : د دے ځائے نه تر آخره پورے دویم باب دے په دې کښې څلور خبرے دی : (۱) اثبات د لائل عقلیه ۲۰ ۲۵ ۲۶ ۲۷ ۲۸ ۲۹ ۳۰ ۳۱ ۳۲ : (۲) زجرونه ۲۰ ۲۱ ۲۳ : (۳) تخویف اخروی ۳۳ ۳۴ : (۴) دعوه د توحید ۳۰ :

وَمِنَ النَّاسِ ۲۰ : دا زورنه ده چه ځینے داسې خلق شته چه د دے دلائلو سره د باری تعالیٰ په توحید کښې جګړه کوی او د هغه سره نه دلیل عقلی او نه نقلی شته او نه هغه ته کتاب رالیږلے شوے بلکه د هغه دلیل دا دے چه څه د پلار

نیکه زړه خبره تپینکوم نو د پلار او نیکه صحیح خبره تپینکول پکار دی د هغوی شیطانی خبره پریښودل لازم دی، شیطان خوشحاله او رته بلی - (صفحه ۱ افضل) ۞ ۞ ۞ ۞

الشَّيْطٰنُ يَدْعُوْهُمْ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿٢١﴾
شیطان دی بلی دوی لره : عذاب د اور سوزونکی ته :
وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَى اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ
او څوک چه تابع کړی مخ خپل : الله ته او دے اخلاص کوونکے وی پس یقینًا
اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ؕ وَاِلَى
کلکه یې ونیوله : کړی : مضبوطه : او خاص الله
اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿٢٢﴾ وَمَنْ كَفَرَ
ته وا پسی د ټولو کارونو دی : او چا چه کفر وکړو :
فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ؕ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ
پس ته د غمژن نه کړی تا لره ، کفر د هغه : خاص موږ ته واپسی د دوی ده : پس خبر به ورکوو موږ
بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ
په هغه چه دوی کوی : یقینًا الله تعالیٰ : پوهه دے په رازونو د
الصُّدُوْرِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ
سینو دے : نفع ورکوو موږ دوی ته : لږ وخت دپاره ، بیا به
نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿٢٤﴾ وَلَئِنْ
راکاږو موږ دوی لره : عذاب سخت ته : او که چرے
سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ
تپوس وکړے ته د دوی نه : چا پیدا کړی دی : اسمانونه : او زمکه :
لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ
خامخا یقینًا وبه وائی دوی الله : ووایه حمد ونډه دی الله تعالیٰ لره : بلکه
اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ لِلّٰهِ مَا فِى
زیات د دوی نه : نه پوهیږی : خاص الله تعالیٰ لره دی هغه چه په
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ
اسمانونو او زمکه کښې دی : یقینًا الله تعالیٰ : دا بے پروا :

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ ﴿٢٥﴾ : دا دلیل
عقلی امتزاجی دے۔
وَلَوْ اَنَّ مَا : (حاشیه د
راتلونکی مخ صفحه ۶۹۳) : دا ایت
کریمه مشکل دے۔ د پښتو
شیخ رحمه الله نے ترکیب
دا سے لیکلے دے : فرمائی
لَوْ شرطی دے : مَا فِي الْاَرْضِ
اسم د اَنَّ دے : مِنْ
شَجَرَةٍ بیان د مَا دے
اَقْلَامٌ خبر د اَنَّ دے،
وَالْبَحْرُ مبتداء د يَمُدُّهٗ الخ
جمله ئے خبر دے۔ دا جمله
د ما موصوله یا فِي الْاَرْضِ
مقدر متعلق نه حال دے
مَا نَفِدَتْ الخ د لَوْ جواب دے
او د مَا نَفِدَتْ نه مخکښې د
کلام مقدر دے : ای و
كُتِبَتْ بِتِلْكَ الْاَقْلَامِ وَ
بِذٰلِكَ الْمِدَادِ كَلِمٰتُ اللّٰهِ
مَا نَفِدَتْ . (جواہر صفحه ۹۱۳) :
فائده ۱:- دومره لوئے
علم دے د باری تعالیٰ که
د تمامے دنیا ونے ...

(بقیه د دے عوم) قلمونه شی او دا دریاب د دنیا او اووهٔ دریابونه نور هم شی او ټول سیاهی شی او د باری تعالیٰ معلومات پرے لیکلے کیږی نو ختم به نشی دغه معلومات ځکه دا غیر نه

الْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ

ستائیلے شوی دے : او که چرے یقیناً نو هغه چه په زمکه کښې دی :

شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِنْ بَعْدِهِ

ونے : قلمونه : او سمندر زیاتے کړی دهٔ لره : پس وروستو دهٔ نه :

سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ

اووهٔ (۷) : سمندرونه ختم به نشی : کلمے (د معلوماتو) د الله تعالیٰ :

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا

یقیناً الله تعالیٰ زورور حکمتونو والا دے : نهٔ دے پیدائش ستاسو : او نهٔ

بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِنَّ اللَّهَ

دوباره ژوندی کول ستاسو : مګر په شان د نفس : یو واحد : یقیناً الله تعالیٰ :

سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ

اوریدونکے : او لیدونکے دے : آیا نه ګورے ته : چه یقیناً الله تعالیٰ : داخلوی :

اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي

شپه : په ورځ کښې : او داخلوی : ورځ : په

اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ

شپه کښې : او تابع کړی : نمر : او سپوږمۍ : هر یو

يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى وَأَنَّ اللَّهَ

چلیږی : تر نیټے مقرر شوے پورے : او یقیناً الله تعالیٰ

بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ

په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ : خبردار دے : دا په دے وجه چه یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ

حق دے : او بیشکه هغه چه بلی ئے دوی : سوا د هغهٔ نه :

ع ۳ ۱۲

الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾

باطل دی : او بیشکه الله تعالیٰ دے اوچت صفتونو والا : لوئے دے :

محدود دی او علم د خدائی تعالیٰ غیر محدود دے (انفس مثث ۵۵). ذٰلِكَ مث۳: دا ثمره د دلائلو ده : یعنے دا بیان په دلائلو سره ځکه دے لِتَسْتَيْقِنُوا چه تاسے یقین وکړئ چه الله تعالیٰ معبود په حقه دے. (جواهر مثث ۹۱۹) ❊ ❊

أَلَمْ تَرَ مث۴: (حاشیه د راتلونکی مخ مث۱۹): دا دلیل عقلی دے : وَإِذَا غَشِيَهُم مث۳: دا زورنه ده چه په سختئ کښې خو صرف باری تعالیٰ ته آوازونه کوئ او کله چه آرام وی نو بیا خو نیکان د پیرکم وی او خلق زیات بیا نورو خلقو ته آوازونه کوی. فائده: بعض نامرتبه مسلمانان خو په سختو کښې هم یا کاکان یکلی. یا الله : مونږ د شرک نه وساتے. آمین. (انفس مثث ۵). يَا أَيُّهَا النَّاسُ مث۳: دلته تخویف اخروی دے : فائده :- دا خبره د مشرکانو ده او مسلمانان خو په ډیر سختئ چه له کوی او باری تعالیٰ ته به سفارشونه کوی پس د شفاعت لوئے نه د نبی علیه السلام او پس د اذن نه. (انفس مثث): إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ مث۴: دلیل عقلی دے

د سند ی شیخ رحمه الله فرمائی چه په دے آیت کریمه کښې د پنځو امورو علم په الله تعالیٰ پورے مخصوص طور سره ذکر شوے دے : وګورئ جواهر مث۹۱۵ : الوسی رحمه الله فرمائی او نه دی دے

عـه (بقیه د ګذشته مخ): مغیبات بند کړے شوي په دے پنځو کښې او یقیناً د دے پنځو ذکر چه خاص طور
باندې شوے دے د وجې د وقوع د سوال نه د دیو په باره کښې. (روح ۲۱/۱۳) : بخاري شریف ۲/۵۰۸ کښې
راغلي چه رسول الله ﷺ

اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ

آیا نه ګورې ته: چه کشتۍ: چلیږي: په دریاب کښې:

بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ

په نعمت د الله سره: چه وښائي تاسو ته: ځینې د نښو خپلو: یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾

په دې کښې خامخا دلیلونه دي: د هر صبر کوونکي: او شکر کوونکي لره:

وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ

او کله چه پټ کړي دوئ لره څپې: په شان د سیورو: بلي دوئ الله لره

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى

خالص کوونکي: خاص هغه لره: د دین: پس کله چه نجات ورکړي الله دوئ لره تر

الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَا

وچې: پس ځینې د دوئ نه: میانه روي کوونکي دي: او انکار نه کوي: په آیتونو زمونږ

اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

مګر هر دوکه باز: ناشکره: اے خلقو!

اتَّقُوْا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِيْ

وېرېږئ: د رب خپل نه: او وېرېږئ د هغه ورځې نه: چه به کفایت نه کوي

وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ ۫ وَلَا مَوْلُوْدٌ هُوَ جَازٍ

پلار د ځوي خپل نه: او نه پیدا شوے: دا د فائده کوونکي:

عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

د پلار خپل نه: هیڅ شي لره: یقیناً وعده د الله تعالی حقه ده:

فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ٙ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ

پس دهوکه دې نه کړي تاسو لره: ژوند د دنیا وي: او دهوکه دې نه کړي تاسو لره:

بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۳۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ

په الله تعالی باندې: دهوکه ورکوونکے: یقیناً الله تعالی: خاص هغه سره: پوهه:

فرمائي چه د قیامت علم په صفه پنځو کښې دے لَا يَعْلَمُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ چه نه پوهیږي پرې څوک مګر الله تعالی (فقط) ابن کثیر رحمه الله فرمائي دا کنجیانے د غیبو دي چه خاص دے الله تعالی په علم دیو پس نه پوهیږي پرے هیڅوک مګر پس د خبر ورکولو د الله تعالی نه په دیو باندې (۳/۵۶۶) فائده: د قیامت پیښ صرف یو الله تعالی ته معلوم دے. دا تو جزئي او معین امور دے البته دا نور شلور امور کلیه دي د دے لانو دیر جزئیات دي: د هغو بعضو علم نبي علیه الصلاة بطور معجزه ورکړے شوے وو نو غیب یا غے نشو: فائده: ماهرین د موسمیاتو د آلاتو او علامتونو په ذریعه د باران پیشنګوئي کوي نو دغه ته علم غیب نشي ویلے ځکه چه علم غیب خو هغه وي چه بغیر د واسطے د اسبابو نه حاصل وي او په طور د شک وي چه کله ورکوي د هغه علم ورته حاصل نشي: وګورئ جواهر ۱۹۱) : فائده: د مَا فِي الْاَرْحَامِ نه مراد د بچي د پوره حالاتو علم دے او هغه صرف الله ته د حیثیت دے الاتو په ذریعه معلوم شوي وګورئ احسن شرح ۴: (متنیاترات ۱-۱۱) شرک لوګے ظلم دے ۱۳۰ (۲) مواعظ د لقمان حکیم: (۳) ذکر د مفاتح الغیب ۳۴ (۴) زجر په غرور د والي د لهو الحدیث ۶: (۵) او په ذکر د لوټے والي د علم د الله تعالی ۳۴ پاره ختم شد بفضل الله بروز دوشنبه ۲۲ صفر المظفر ۱۴۲۸ھ بوقت ۷/۵ صبح) ؛

سُوْرَةُ السَّجْدَة: دا مکي سورة ده. ۳۲ په ترتیب کښې پس د سورة لقمان دے. په نزول کښې پس د سورة مؤمنون نه. وجه د تسمیې دا ده چه په دے کښې لفظ د سجدة راغلے دے. **فضیلت**: د جابر رضي الله عنه روایت دے فرمائي چه نبي ﷺ به نه ویده کیدو تر دے چه وبه ئې لوستلو الٓمٓ السجدة او تبارک الذي بیده الملک. (مشکوٰة ۱۸۸، ابن کثیر ۳، قرطبي ۱۴، روح ۲۱، سراج منیر ۳، شوکاني، سمط الدرر). **دعویٰ**: نفي د شفاعت قهري مخکښې ذکر شوي ده. **ربطونه**: (۱) هر کله چه رد د شرک مخکښې وشو نو دلته د مبني د شرک تردید کوي چه شفاعت قهري دے. (۲) مخکښې رد د شرک لاوشو نو دلته دفع د سوال کوي چه موږ خو ئې سفارشیان ګڼړو. (۳) هلته هم مخکښې صداقت د قرآن وو دلته هم مخکښې ترغیب د قرآن پاک ته. **خلاصه**: په دے سورة کښې دوه بابونه دي اول تر ۱۴ پورے، دویم تر آخره پورے. په اول باب کښې اته خبرے دي: (۱) ترغیب قرآن ته ۳، (۲) زجرونه، (۳) درے عقلي دلائل ۵-۶، (۴) زجر په انکار د آخرت ۱۰، (۵) تخویف اخروي ۱۲، (۶) بشارت ۱۷، (۷) تقابل په مابین د صفاتو د مومنانو او کافرانو کښې ۱۸ نه. تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ: آلوسي رحمه الله فرمائي: هغه جمله د نحو رحمه الله کوم دا دی چه تنزیل الکتب مبتدا دے او لاریب فیه جمله معترضه دلا محل د اعراب ورله نشته

الساعة ويُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي
د قیامت دے؛ او رالیږي؛ باران؛ او پوهیږي په هغه چه په

الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ
رحمونو کښې دي؛ او نه پوهیږي؛ هیڅ نفس؛ چه څه به کوي دا؛

غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ
صباله؛ او نه پوهیږي؛ هیڅ نفس؛ چه په کومه زمکه به؛

تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿۳۴﴾
مړکیږي؛ یقیناً؛ الله تعالیٰ؛ پوهه؛ او خبردار دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ
د دے معنیٰ الله ته معلومه ده؛ نازلول د دے کتاب؛ "نشته شک په دے کښې"؛

مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿۲﴾ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرٰىهُ ۚ
له طرفه د رب د مخلوقاتو نه؛ آیا وائي دوي چه جوړ کړے دے دا قرآن

بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ
بلکه دا حق دے؛ د ربه ستا نه؛ چه ویره ورکړے ته؛

قَوْمًا مَّا أَتٰهُمْ مِّنْ نَّذِيرٍ مِّنْ قَبْلِكَ
هغه قوم چه نه دے راغلے هغوي ته؛ ویره ورکونکے؛ مخکښې ستا نه؛

لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِي خَلَقَ
د پاره د دے چه دوي لار ته راشي؛ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړي دي

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي
آسمانونه؛ او زمکه؛ او هغه چه په مینځ د دوارو کښې دي؛ په

سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۖ
شپږو ورځو کښې؛ بیا برابر شوے دے؛ په عرش باندې؛

او مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِينَ ئې خبر دے او ضمیر د فِيهِ راجع دے مضمون د جملے ته یعني کیدل د قرآن چه نازل کړے شوے د رب د مخلوقاتو نه. (روح ۲۱) مِنْ قَبْلِكَ: د دے سورة او سورة یٰسٓ نه وغیره هغه آیتونه چه د کومو نه دا ثابتیږي چه قریش عرب کښې د هغوي نه مخکښې کوم نذیر نه دے راغلے

ع۱ راغلے ضروري دا چه په دېكښې د نذير نه مراد اصطلاحي معنى په اعتبار سره رسول او نبي وي او مراد دا دے چه په دے قوم كښې د هغوئ نه مخكښې كوم نبي او رسول نه وو راغلے

مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ
نشته تاسو لره سوا د هغه نه ؛ هيڅ مددګار ؛ او نه سفارشي ؛

اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤﴾ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ
ايا پس نصيحت نه قبلوئ تاسې ؛ تدبير كوي الله تعالى د هر كار ؛ د

السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ
اسمان نه په طرف د زمكې ؛ بيا خيژي كار هغه ته ؛ په ورځ

يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗٓ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا
ورځ چه اندازه د هغې ؛ زر كاله دي ؛ د هغه نه چه

تَعُدُّوْنَ ﴿٥﴾ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ
تاسو يې شماركوئ ؛ دغه ذات ؛ خبر په پټه ؛ او ښكاره

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٦﴾ الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ
زورور ؛ رحم كونكے دے ؛ هغه ذات چه ښائسته جوړ كړې : هر

شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ
شے چه پيدا كړے يې هغه ؛ او شروع يې كړه پيدائش د انسان ؛

مِنْ طِيْنٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ
د خټې نه ؛ بيا يې جوړ كړے نسل د هغه لره ؛ د

سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿٨﴾ ثُمَّ سَوّٰىهُ
نچوړ ؛ د اوبو ؛ سپكو نه ؛ بيا برابر كړو هغه لره ؛

وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ
او پو كړې په هغه كښې ؛ د روح خپل نه ؛ او پيدا كړې ؛ تاسو لره

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَةَ ؕ قَلِيْلًا
غوږونه ؛ او سترګې ؛ او زړونه ؛ ډير لږ

مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٩﴾ وَقَالُوْٓا ءَاِذَا ضَلَلْنَا
شكر وباسئ تاسو ؛ او وائي دوى ؛ ايا كله چه ورك شو مونږ ؛

منزل ۵

اګرچه دعوت د ايمان او د توحيد دے په نورو ذريعو سره هم رسيدلے وي (معارف ص...) : اليه : بيا خيژي هغه كار په طرف د الله تعالى. (فتح ص...) : الف سنة : (حاشيه د دوهم مخ) : سورة حج ع۶ كښې هم زر كاله ذكر دي او معارج ع۱ كښې پنځوس زره كاله ګنې ابوبكر رازي رحمه الله فرمائي چه دريم جواب دا دے چه زر كاله په حق د عوامو مؤمنانو او پنځوس زره كاله په حق د كافرانو كښې د وجې د سختۍ د هغو چه دوى برداشت كوي د هيبتونو او محنتونو نه او پښيمان د تو ساعت د ورځو د دنيا په حق د خواصو مؤمنانو كښې : او تائيد كوي هغه حديث چه روايت ئے شوے دے چه عرض وشو اے د الله تعالى رسوله! دا ورځ چه مقدار ئے پنځوس زره كاله دے څومره اوږده ده نو هغوى وفرمائيل : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَيُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ عَلَيْهِ اَخَفَّ مِنْ صَلٰوةٍ مَّكْتُوْبَةٍ يُصَلِّيْهَا فِي الدُّنْيَا : (الرازي ص...) او دا حديث شريف مشكوة ص... كښې هم كتلے شي. ع۲ اِذَا ضَلَلْنَا :

ايا كله چه ورك شو مونږ په زمكه كښې (فتح ص...) په دے آيت كريمه كښې زجر دے په نه منلو د قيامت باندې په ع۱۱ كښې ئې جواب دے ❖ ❖ ❖

مَلَكُ الْمَوْتِ: ولته مَلَكُ الْمَوْتِ مفرد دے، دَ بهشتی شیخ رحمه الله فرمائی دی چه اهل بدعت دَ دے
ایت نه استدلال کوی چه هر ځای مَلَكُ الْمَوْتِ یو دے او هغه په یو وخت کښې دَ دُنیا په مختلفو حصو کښې
اختیارات لری!!

فِي الْأَرْضِ ءَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۚ بَلْ
په زمکه کښې : ایا مونږ به خامخا په پیدا کولو نوی کښې یو : بلکه
هُم بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ كَافِرُونَ ⑩ قُلْ يَتَوَفَّاكُم
دوی په ملاقات دَ رب خپل انکار کونکی دی : ووایه ساه به واخلی ستاسو
مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ
ملک الموت : هغه چه مقرر کړے شوے دے پاسو : بیا به رب
رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ⑪ وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ
ستاسو ته واپس کړے شئ تاسو : او که ته وینې ته کله چه : مجرمان
نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا
ټیټوونکی دی : سرونو خپلو لره : په نزد دَ رب خپل (وائی به) اے ربه زمونږه
أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا
ولیدل مونږ : او واوریدل مونږ : پس واپس کړه مونږ : عمل به وکړو نیک :
إِنَّا مُوقِنُونَ ⑫ وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا كُلَّ
یقیناً مونږ یقین کونکی یو : او که مونږ غوښتے وے : خامخا ورکړے به مو وو : هر
نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي
نفس ته : هدایت دَ هغه : او لیکن ثابت شوے دے فیصله زما نه :
لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ
خامخا یقیناً ډکه به کړم دوزخ : دَ پیریانو : او خلقو :
أَجْمَعِينَ ⑬ فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ
ټولو نه : پس وڅکئ په سبب دَ هیرولو ستاسو : ملاقات دَ
يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ ۖ وَذُوقُوا عَذَابَ
ورځې ستاسو دے چه دا دے : یقیناً مونږ به هیر کړئ تاسو : او وڅکئ : عذاب
الْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ⑭ إِنَّمَا يُؤْمِنُ
دَ همیشوالی په سبب دَ هغه عملونو چه تاسو کول : یقیناً ایمان راوړی

په زمکه کښې : روحونه قبض کولے شی نو حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم او اولیاء الله هم وغیره دَ کله په یو وخت کښې په مختلفو ځایونو کښې حاضریدے شی، نو جواب ئے دا دے چه دَ روح قبض کولو والا فرښتے په زرګونو دی کوم چه دَ عزرائیل علیه السلام ماتحت دی او وخت په حکم سره دَ دُنیا په مختلفو ځایونو کښې دَ خلقو روحونه قبض کوی لفظ دَ ملک الموت اسم جنس دے چه دے ټولو لره شامل دے دَ قرآن مجید نورو ایتونو هم دَ دے په تائید کښې شته: (جواهر ص۱۰) وګورئ ۲۳ اعراف ۶۱ نساء ، ۵۰ انفال ، ۹۳ انعام ، ۲۸ و ۳۲ نحل ، او که مراد ترینه خاص عزرائیل علیه السلام شی نو بیا مفسرین رحمهم الله فرمائی چه دَ دے په ماتحتی کښې ډیر ملائک کار کوی فرمائی : دَ لیدلو انوان او دَ لره امانت کونکی منکری دی بیا ئے دانا دے : وګورئ ابن کثیر رحمه الله روح المعانی ، معارف رحمه الله : وګورئ: دَ دے ځائے نه تحریف دَ دوی په طلب دَ واپسئ کوی دُنیا ته خوکار به نه ورکړے کیږی وګورئ مومنون ۹۹ انعام ۲۸ : اعراف ۵۳ : إِنَّا نَسِينَاكُمْ : مونږ به ستاسو سره معامله وکړو تاسو سره معامله دَ هیر ونکی . (ابن کثیر رحمه الله) دَ مونږه

په بے پروائئ سره به عذاب کښې (روح ۱۳۲) إِنَّمَا يُؤْمِنُ ۱۵ : دَ ایماندارو صفتونه او هغوی لره بشارت
دے : په اول ایت کښې ئے دَ ورځے او په دویم کښې دَ شپے احوال ذکر کړی او ټول شپږ صفات دی
سورة ال عمران ۱۷ او ذاریات ۱۷ هم وګورئ؛

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ الخ: مطلب ئې دا دے چه نه پوهیږي هیڅ یو نفس په حقیقت د هغو نعمتونو چه پټ تیار شوي دي د دوي د پاره، او د کوم نعمتونو چه ذکر شوے دے په قران کښې نو هغه صرف تعبیرات دي د پاره د پوهې د هغه لاتر،

بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا

په ایتونو زمونږ: هغه کسان چه کله نصیحت ورکړے شي په دے سره: پرېوځي سجده کوونکي

وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۝١٥

او تسبیح وائي: سره د حمد د رب خپل سره: او دوي تکبر نه کوي

تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ

جدا کیږي اړخونه د دوي: د خوبونو د ځایونو نه: بلي

رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ

رب خپل: په وېره: او په طمعه: او ځيني د هغه نه چه ورکړي مونږ دوي له

يُنفِقُونَ ۝١٦ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم

خرچ کوي: پس نه پوهیږي هیڅ یو نفس په حقیقت د هغه نه چه پټ کړے شوے دے دوي له

مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝١٧

د یخوالي د سترګو نه: جزاء ورکړے شي: په سبب د هغه چه دوي به کول

أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا

آیا هغه څوک چه وي مؤمن: په شان د هغه چا دے چه وي نافرمانه:

لَّا يَسْتَوُونَ ۝١٨ أَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

نه دي برابر: هرچه هغه کسان دي چه ایمان ئې راوړے: او عملونه ئې کړي

الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ جَنَّاتُ الْمَأْوَىٰ نُزُلًا

ښیګڼې: پس دوي لره باغونه د اوسېدو دي: میلمستیا ده

بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝١٩ وَأَمَّا الَّذِينَ فَسَقُوا

په سبب د هغه عملونو چه دوي به کول: او هرچه هغه کسان دي چه فسق ئې کړے

فَمَأْوَاهُمُ النَّارُ كُلَّمَا أَرَادُوا أَن يَخْرُجُوا

پس ځاے د اوسېدو د دوي اور دے: هرکله چه اراده وکړي: چه ووځي

مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا

د هغې نه: واپس ګرځولے به شي په هغې کښې: او وئیلے به شي دوي ته: وڅکئ

حسن بصري رحمه الله فرمائي چه دوي پټ عمل نه کړي وو په دنیا کښې نو الله تعالی ورله پټ وسائل هغه نعمتونه چه نه سترګو لیدلي دي او نه غوږو اوریدلي دي. (مدارک بغوی): ابن کثیر رحمه الله فرمائي ځکه چه جزاء د جنس د عمل نه وي. (ابن کثیر): حدیث قدسي کښې راځي الله تعالی فرمائي: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَىٰ قَلْبِ بَشَرٍ: (متفق علیه. مشکوٰة ص۴۹۴ بروایت ابو هریره): أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا: د دے ځائے نه تقابل دے په مابین د صفاتو د مؤمنانو او کافرانو کښې او د هغوي د جزاء او سزا او د ذکر یعني الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ: (حاشیه د ازالوي نمبر ۶۴)، د دے نه مراد عذاب د دنیا دے: او د عذاب اکبر نه مراد د اخرت عذاب دے او بعض وائي چه مراد عذاب قبر دے: (کوره تفسیر ابن کثیر، روح المعاني، مدارک، بغوي): وَمَنْ أَظْلَمُ: مطلب دا دے چه په معرضینو کښې لوے ظالم هغه څوک دے چه د الله تعالی د ایتونو نه اعراض کوي: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ الخ: دا دویم باب دے او په دے کښې څلور خبرې دي: (۱) نقلي دلیل د کتاب د موسی علیه السلام نه: (۲) تخویف دنیوي ئې دے: (۳) عقلي دلیل سره د زجر نه ئې دے: (۴) تسلي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لره ئې دے: مِن لِّقَائِهِ په دے کښې: په معنی د لقاء په ضمیر د هغه کښې او په اضافت کښې څو قسمه اقوال دي: (۱) لقاء په معنی د ملاقات: (۲) تلقي یعني قبلول: (۳) اضافت او مؤ اضافت مفعول ته

منه ربقيه دُ دشه مخو : ته دے ، منه إضافت فاعل وته او ضمير راجع دے موسیٰ علیه السلام ته یا راجع دے کتاب ته یا رب ته ، تفصیل دَ معانیو داد ے . نه یس مه کیږه په شك کښې دَ قبلولو دَ موسیٰ علیه السلام نه دغه کتاب لره . پس مه کیږه ته په شك کښې دَ اخستلو ستا نه په مثال دَ دغه کتاب لره . پس مه کیږه په شك کښې دَ مخامخ کیدو ستا نه پښان دَ موسیٰ علیه السلام دَ مصیبتونو سره : پس مه کیږه په شك کښې دَ ملاقات کولو ستا نه موسیٰ علیه السلام سره په شپه دَ معراج کښې . (احسن ﷺ) : اخذ دوائي چه مدارك : او املاء ، او معارف ، هم وکوري :

عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾

عذاب دَ اور : هغه چه وئ تاسو : په هغه باندې تکذیب کوونکي :

وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ

او خامخا به ورته وڅکوو : دَ عذاب نږدې سره مخکښې : دَ لوي

الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَ

دَ عذاب : لوی نه : دَ پاره دَ دې چه دوی راوګرځي : او څوک دی

مَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ

زیات ظالم : دَ هغه چانه : چه پند ورکړې شي : په ایتونو دَ رب خپل : بیا

أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ

مخ واړوي دَ هغونه : یقینا مونږ : دَ مجرمانو نه :

مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ

بدله اخستونکي یو : او یقینا ورکړې مونږ : موسیٰ ته : کتاب :

فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ ۖ وَجَعَلْنَاهُ

پس مه کیږه : په شك کښې : دَ ملاو یدو دَ هغه نه : او ګرځولي دي مونږ دغه

هُدًى لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ

هدایت : دَ پاره دَ بني اسرائیلو : او ګرځولي مونږ : دَ هغوئ نه

أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَ

امامان : چه ښودنه به کوله : په امر زمونږ : کله چه صبر کړې وو : او

كَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ

وو دوی : په ایتونو زمونږ : یقین لرونکي : یقینا رب ستا : دا :

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا

به فیصله وکړي : په مینځ دَ دوی کښې : په ورځ دَ قیامت : په هغه کښې : چه وو دوی

فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

په هغه کښې اختلاف کوونکي : او ایا نه دَه ښکاره شوي دوی ته : چه څومره

منزل ٥

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً : دَ کوم قوم دَ مقتدا او امام جوړیدو دَ پاره دوه شرطونه دي ، ١ : اول صبر کول ، ٢ : دویم په ایتونو الهیو باندې یقین کول . (معارف) خلاصه دا ده چه دَ امامت او دَ پیشوایئ لائق دَ الله تعالیٰ په نزد صرف هغه خلق دي چه عمل کښې هم کامل وي او په علم کښې هم : او دَ عملي کمال دَ علمي کمال نه مخکښې بیان وفرمایلو او په ترتیب طبعي کښې علم دَ عمل نه مقدم وي په دے کښې اشاره ده طرفته دَ چه دَ الله تعالیٰ په نزد هغه علم قابل اعتبار نه دے کوم سره چه عمل نه وي (معارف) : حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه بعضو عالمانو فرمایلي دي : بالصبر واليقين تنال الامامة في الدين (ص) ،

حافظ ابن قيم رحمه الله هم فرمائي : فدل على أن بالصبر واليقين تنال الامامة في الدين : (اغاثة اللهفان)

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ : ایا نه دَه بیان شوے او ښکاره شوے دوی ته (سراج منیر) په دے ایت او په دے بعد کښې زجرونه دي منکرینو لره په دې کښې جواب دے چه دَ فیصلے ورځ راهم شي نو ایمان دَ دوی نه قبلیږي .

فَأَعْرِضْ: د تفریع رویه ما قبل او تسلي ده (یعني) ته د دوی نه مخ واړوه، د دوی د اعتراضونو پروا مه
ساته. (الفتح لتذلیل) امتیازات (۱) تفریق په مینځ د مؤمن او کافر کښې ۱۸ (۲) ذکر د ملک الموت ۱۱ (۳) ذکر
د اماماتو د بني اسرائیلو ۲۴

(۴) ذکر د ابتداء او پیدا ئښت د انسان ۷ (۵) مقدار د ورځې د قیامت ۵ (۶) اختم شده په ورځ د سجدې ۲۲ (۷) د منافق ۱۳ مارچ ۲۰۰۶ په وخت د ماښام ۵ بجې ۲۵/۳/۱۶.

سُوْرَةُ الْأَحْزَاب

(۱) مدني سورة ده. په ترتیب کښې ۳۳ یں ده سورة سجده نه پس او په نزول کښې ۹۰ یں ده سورة آل عمران نه پس ده. وجه د تسمیه په احزاب سره دا ده چه دا لفظ په ده سورت کښې د ډیرځله راغلے دے په ۲۰ ۲۲.

دعوی: (۱) تیزي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تبلیغ باندې ده ۲ (۲) رد د رسوماتو باطله ده ۴ (۳) توحید ۲۵.

ربطونه: (۱) مخکښې سورت کښې رد د شفاعت قهریه وه او په ده سورت کښې رد د هغې ذریعو ته اشاره ده. (۲) مخکښې اثبات التوحید وو دلته ذکر د اتباع الرسول صلی الله علیه وسلم دے په دې کښې (۳) ما قبل کښې رد د شرک وو او دلته رد د رسوماتو کوي (۴) مخکښې د نبي په صفت کښې وجه د الله تعالی پاکي بیانوي او دلته امر کوي په تسبیح باندې.

امتیازات: (۱) د اول خطابونه نبي صلی الله علیه وسلم ته (۲) د اول خطابونه امت ته (۳) ذکر د غزوه احزاب ۹ (۴) واقعه د بني قریظه ۲۶ (۵) ذکر د زینب رضي الله عنها ۳۷ (۶) امر په درود د نبي ۵۶ وغیره.

خلاصه: (۱) سورة تقسیم د څلورو بابونو ده:

الأحزاب ۳۳

أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ

هلاک کړي موږ مخکښې د دوی نه ډیر قومونه: چه ګرځي دوی

فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا

په کورونو د هغوی کښې: یقیناً په دې کښې خامخا نښې دي: ایا پس نه

يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ

اوري دوی: آیا او نه ګوري دوی چه بیشکه موږ چلوو اوبه

إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا

زمکې شاړې ته: پس راوباسو موږ په هغې سره فصل:

تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ ۖ أَفَلَا

چه خوري د هغې نه څاروي د دوی او ځانونه د دوی: ایا پس نه

يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ

ویني دوی: او وائي دوی: کله به وي دا فیصله:

إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ

که یئ تاسو رښتوني: ووایه په ورځ د فیصلې

لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا

نفع به نه ورکوي هغه کسانو ته چه کفر ئې کړے: ایمان راوړل د هغوی او نه

هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ

به هغوی ته مهلت ورکړے شي: پس مخ واړوه د دوی نه:

وَانْتَظِرْ إِنَّهُمْ مُنْتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

او انتظار کوه: یقیناً دوی هم انتظار کوونکي دي:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ

اے نبي! (قیښته) ویریږه د الله نه او مه منه خبره د کافرانو:

منزل ۵

اول ترڅه پورې دے دویم ترڅه پورې دے، دریم ترڅه پورې، څلورم تر آخره پورې دے. په اول باب کښې څلور خبرې دي:
(۱) دعوی د سورت ده ۲ (۲) پنځه خطابات نبي صلی الله علیه وسلم ته دي ۱-۷ (۳) درې مثالونه دي ۴ (۴) اول خطاب
مومنانو ته دے. **الحاصل**: شیخ القرآن رحمه الله په "سمط الدرر" کښې لیکلي دي چه په دې

منه سورة کښې ۲۳ خطابونه نبي علیه السلام ته دي ... : او دوه لس خطابونه مؤمنانو ته دي ... : يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ ـ : دلته

وَالْمُنٰفِقِيْنَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ①
او منافقانو : يقيناً الله تعالیٰ دے پوهه حکمت والا :
وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۗ
او تابع اوسه د هغه چې وحي کړے شي : تاته : د جانبه د ربه ستا نه :
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ②
يقيناً الله تعالیٰ دے : په هغه عملونو چه تاسې کوئ : خبردار :
وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۗ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ③
او خان وسپاره : په الله تعالیٰ او کافي دے الله تعالیٰ : کارجوړونکے :
مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ
نه دي پيدا کړي : الله تعالیٰ : هيڅ يو سړي لره : دوه زړونه : په
جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ الّٰٓئِ
سينه د هغه کښې : او نه دي ګرځولي : بيبيانې ستاسې : هغه چه
تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ
ظهار کوئ تاسې : د هغو سره : ميندې ستاسې : او نه دي ګرځولي :
اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ۗ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ
بللي زامن ستاسې : خامن ستاسې : دا : وينا ستاسې ده :
بِاَفْوَاهِكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ
په خولو ستاسو : او الله تعالیٰ وائي حقه خبره : او هغه
يَهْدِي السَّبِيْلَ ④ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآىِٕهِمْ
ښوونه کوي : لار د حق ته : بللي وي تاسې : پلارانو د دوي ته :
هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا
دا ډيره انصاف ده په نزد د الله تعالیٰ : پس که چرے نه پيژنئ تاسو :
اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَ
پلاران د دوي : پس ورونه ستاسې دي : په دين کښې : او

منزل ۵

سوال وارد شي چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خو د تقوٰی او چت نمونه وه ؟ نو ځکه ورته الله تعالیٰ فرمائي چه ويرېږه ؟ د الله تعالیٰ نه او تقوی اختيار کړه . حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه دا تنبيه و رکول دي په اعلیٰ سره ادنیٰ ته (يعني امت ته) (ابن کثیر ۳/۴۶۵) پښتانه وائي : لور ته وايم او اينګور دې ترې غوږ ږدي . او علامه نسفي رحمه الله فرمائي چه ثابت پاتے شه په تقوی د الله تعالیٰ باندې او هميشګي پرې وکړه (مدارک ۳/۱۴۸) سيد آلوسي رحمه الله فرمائي چه مقصود ترې نه دوام او اثبات دے . (روح ۲۱/۱۴۲) وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ : دا د تخلیٰ تفسير دے يعني اطاعت د کافرانو مکوه په شرک منکرينو او د منافقانو اطاعت مکوه په صراحت او د حق بيان پرېښودو کښې : وګوره قلم ۸ : فَاَشْرَكَ لَا : د کافرانو جرګه (د احد واقعه نه روستو) راغله نبي علیه السلام ته چه زمونږ د معبودانو سفارش رد مه چه دوي به الله تعالیٰ زمونږ کار روا نه کوي ، نو رته خپل تبليغ کوه نو دا حکم راغے چه د دوي خبره مه منه بلکه د الله د حکم تابع شه او په الله تعالیٰ ځان وسپاره او صاف ووايه چه بغير د الله تعالیٰ نه تصرفاتو والا ټيڅ نشته او نه په الله تعالیٰ غالب شته . (الفضل ۱۸۲ والدر ۶/۵۶۵ سراج منير ۳/۲۱۰ مظهري ۷/۲۸۴) مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ : (حاشيه د رسم لمعوني) :
او تابع شه د هغه چه وحي کولے شي تاته د قرآن او سنت نه (ابن کثير ۳/۴۶۵) په توحيد او د اخلاص عبادت کښې . (مظهري ۷/۲۸۴) وَكِيْلًا : کارجوړونکے حفاظت کوونکے : مَا جَعَلَ اللّٰهُ : شيخ القرآن رحمه الله فرمائي : ساط الدلائل
۹ کښې ليکلي دي چه يقيناً بيان کړي دي الله تعالیٰ درې مثالونه چه دوي غلط شوي دي په عمل

سره اصولو او فروعو کښې چېرته شکمنه نه کېږي. د یو سړي د پاره دوه زړونه نه دي د غه رنګه نه کېږي په عالم کښې دوه الهان، او څنګه چې بلې شوې مورګانې نه ګرځي نو دغه رنګه چې تا سره نه خدلې ګرځي زوي هغه د الله نه

مَوَالِيكُمْ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا

ازاد شوي ستاسو دي، او نشته په تاسو باندې څه ګناه په هغه کښې چې

أَخْطَأْتُم بِهِ وَلَٰكِن مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ

خطا شوي تاسو په هغه کښې، او لیکن په هغه کښې چې قصد وکړي زړونه ستاسو

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝ النَّبِيُّ أَوْلَىٰ

او دی الله تعالی بخښونکی رحم کونکی، نبي علیه السلام ډېر لائق (مهربان) دی

بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ

په مؤمنانو باندې د ځانونو د دوی نه، او بیبیانې د هغه

أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ

میندې د دوی دي، او خاوندان د خپلولۍ، بعض د دوی نه

أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ

ډېر لائق دي په بعضو په میراث کښې په حکم د کتاب د الله کښې، د

الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلَّا أَن تَفْعَلُوا

مؤمنانو او مهاجرینو نه، مګر دا چې وکړئ تاسو

إِلَىٰ أَوْلِيَائِكُم مَّعْرُوفًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِي

د دوستانو خپلو سره نیکي (وصیت)، دی دا حکم په

الْكِتَابِ مَسْطُورًا ۝ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ

کتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلی شوی، او کله چې واخستو مونږ د

النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ

نبیانو نه لوظ د هغوی، او ستا نه، او د نوح علیه السلام نه

وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ

او د ابراهیم علیه السلام نه، او د موسی علیه السلام نه، او د عیسی علیه السلام ځوی د

مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ۝

مریم نه، او واخستو مونږ د دوی نه لوظ محکم

منزل ۵

ګرځي او څنګه چې بېځه مور نه ګرځي نو دغه ماسوا د الله نه الهان او شریکان نه ګرځي. د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دي چې یو منافق به ویل چې د محمد صلی الله علیه وسلم دوه زړونه دي. (قرطبي)

فائده: د ظهار بیان په سورة مجادله کښې راځي. أدعياء د دعي جمع ده: بلې شوي ستاسو متبنی ګانې: چې پردي ځوی په ځوی ونیسي. فائده: اجماع کړې ده مفسرینو رحمهم الله په دې باندې چې دا آیت نازل شوی دی په باره د زید بن حارثه رضي الله عنه کښې: روایت کړی امامانو چې ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چې مونږ به نه بللو زید بن حارثه مګر په زید بن محمد باندې تر دې چې دا آیت نازل شو ادعوهم لآبائهم هو أقسط عند الله. او د زید رضي الله عنه په باره د صغر د ایت چې د انس رضي الله عنه او نورو نه شوی چې دا قید کړې شوې وروستو ام نه قید کړې وو سوره ورځ پس اسلام ته راغلی او حکیم بن حزام رضي الله عنه هغه بخښلی و خپلې ترور ته، حضرت خدیجې رضي الله عنها ته، هغې بخښلی و نبي علیه السلام ته پس هغه ئې ازاد کړی و او په ځوی ئې نیولی و (قرطبي) امام قرطبي رح ئې پیا د پلار او تره راتلو واقعه ذکر کړې ده، او د دوی د پلار حرف اشعار ئې ذکر کړي دي چې دوی په خپل کښې ویلي وو: حاصل دا چې نبي علیه السلام ورله اختیار ورکړی او هغه

نبي علیه السلام غوره کړو او د پلار سره لاړو، نو نبي علیه السلام ازاد کړو او په ځوی ئې ونیولو. وګورئ قرطبي: او اشعار ئې په احکام القرآن د ابن عربي کښې هم وګورئ (العلم الرحمن): نبي علیه السلام وو چې ته زمونږ ورور ئې او ورور ئې پیا په ده د نسبت کېږي پلار ته نو ځکه باري تعالی د زید

صه (بقیه دَ مخکښ جاري ده) : (مظهري) نوم په قرآن کښې والمستدلا چه د دغه نښې چه دَ دهٔ نسبت دَ نبي علیه السلام ته ختم شو. (صاوي) (٥) فائده ۵ : دې آیت کښې زړه دَ رسم اطلاع اوشو نو په مخکښې فرمائي چه

لِّيَسْـَٔلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَ

دَ پاره دَ دې چه تپوس وکړي الله د رښتنو نه دَ رښتیا وینا دَ هغوي : او

اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿٨﴾ يٰٓاَيُّهَا

تیار کړې دې الله دَ کافرانو دَ پاره عذاب دردناک : اے هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

کسانو چه ایمان ئے راوړې دې : یاد کړئ نعمت دَ الله تعالی چه کړې دې

عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

په تاسو ؛ کله چه راغلل تاسو ته لښکرې ؛ پس ولیږلو مونږ په هغوي باندې

رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ

سیلئ : او لښکرې چه تاسو نه لیدلې هغه : او دے الله تعالی

بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿٩﴾ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ

په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ ، لیدونکے : کله چه راغلل تاسو ته دَ پاسه

فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ

طرف ستاسو نه : او دَ ښکته طرف ستاسو نه : او کله چه

زَاغَتِ الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ

کږې شوې سترګې : او ورورسیدل زړونه :

الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ﴿١٠﴾

مرئ ګانو ته : او ګمانونه کوئ تاسو په الله تعالی ګمانونه :

هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا

په دغه وخت کښې امتحان کړے شو په مؤمنانو باندې او ؤ خوځولې شو

زِلْزَالًا شَدِيْدًا ﴿١١﴾ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ

په خوځیدو سخت سره : او کله چه وئیلے منافقانو سره و

وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا

او هغه کسانو چه په زړونو دَ هغوي کښې مرض وو وعده نه وه کړې مونږ سره

منزل ۵

نبي علیه السلام ورته مهربان دے چه امت باندې او بیبیا نے دَ هغوي دَ امت میندے دي لیکن دَ میراث حق نے نشته ځکه چه دَ میراث تعلق دَ نسب سره دے او بیا په دې کښې پیغمبر خطاب دے دَ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم سره ۲ او سبب دَ ما قبل نے وبنودو چه دا نبي علیه السلام دا لي وے او دا ئي شفیق وي: اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۳ دیر شفقت کونکے او مهرباني کونکے دے په مؤمنانو باندې دَ نفسونو دَ دوي نه ځکه چه بلې ئے هدایت او نجات طرف ته : نو دَ پلار او نه هم زیات شفقت کونکے دے وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ : او بیبیا نے دَ هغه میندے دَ دوي دي : مفسرین رحمهم الله فرمائي چه میندې دي په حرمت او احترام او توقیر او اکرام او تعظیم کولو کښې او ګلا کښې خلوت ورسره جائز نه دے او نه خوریدې دا حرمت لونړو او خویندو دَ هغوي ته په اجماع سره (ابن کثیر رحمه الله) په حرامولو دَ نکاح دَ هغوي کښې او په وجوب دَ تعظیم دَ هغوي کښې او کرخته پیرا دَ دې نه دي لکه میراث او دَ دې په مثل نو دوي په شان دَ اجنبیا تو دي او لرې کو چې نه ته رسیږي حرمت لونړو دَ دوي ته (مدارک رحمه الله) (روح، قرطبي رحمه الله، ابو السعود رحمه الله) : اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا : لاکن کول ستاسو دَ دوستانو سره

نیکي جائز ده یعنی خبر ئے محذوف دے . (روح رحمه الله) مراد دَ اولیاء نه دوستان په سبب دَ ایمان او دَ هجرت سره دي او دَ معروف نه مراد وصیت کول ، هدیه ورکول او احسان کول دي او دا استثناء منقطع ده . (حسن رحمه الله) : يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا ... : (حاشیه دَ دې نه مخکښ) : دَ دې ځائے نه تر غزا پورې عمه

عـه دوییم باب دے او په دیکښ پنځه خبرے دي: (۱) دوه خطابونه مؤمنانو ته ۹ نه ۱۰، (۲) زجر منافقانو ته او د هغوی ۳ قبائحو بیان ۱۲ نه ۲۰، (۳) والی د احزاب ذکر نه، (۴) د بني قریظه ۲۶ نه ۲۷، (۵) مینځ کښې ترغیب اتباع د رسول اکرم ﷺ ته ۲۱

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿١٢﴾ وَاِذْ قَالَتْ

الله او رسول د هغه: مگر د دهوکے: او کله چه: ووئیلے

طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يٰٓاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ

یوے ډلے د دوی نه: اے اهل د یثرب (مدینے والو) نشته ټیکیدل تاسو ته

فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ

پس واپس شئ: او اجازت غواړي: یوه ډله: د دوی نه

النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا

د نبي ﷺ نه: وائي دوی: یقیناً کورونه زمونږ خالي دي: او نه دي

هِيَ بِعَوْرَةٍ ۛ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ﴿١٣﴾

هغه خالي: اراده نه لري دوی: مگر د تیښتے:

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ

او که چرته داخل کړے شي لښکر په دوی باندے: د طرفونو د مدینے نه: بیا

سُئِلُوا الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَآ

سوال وکړے شي د دوی نه د شرک: ضرور راځي به هغه ته: او حصار به نشي په دیکښې

اِلَّا يَسِيْرًا ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ كَانُوْا عَاهَدُوا اللّٰهَ

مگر لږ وخت: او یقیناً وو دوی: چه وعده ئے کړے وه د الله سره

مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ۗ وَكَانَ

مخکښې د دے نه: چه نه به گرځوي دوی: شا ګانے: او دے

عَهْدُ اللّٰهِ مَسْئُوْلًا ﴿١٥﴾ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ

وعده د الله نه: تپوس کړے شي: ووایه: هیچرے نفع به درکوي تاسو ته

الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ الْقَتْلِ

تیښتے: که وتښتئ: د مرګ نه: او یا د وژلو نه:

وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَنْ

او په دغه وخت کښې نفع به ورکړے نشي تاسو ته: مگر لږ: ووایه څوک دے:

منزل ۵

فائدہ :- د دے ځائے نه د غزوۂ احزاب او د خندق بیان دے او د شیخ شیخ القرآن رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ۵ھ یا ۴ھ کښې د عربو مشرکانو او یهود متحد شو فیصله ئے وکړه چه د عربو ټولے قبیلے د یو لوئے فوج تیاری وکړي په مدینه د حمله وکړي او مسلمانان همیشه د پاره ختم کړے شي. چنانچه د مختلفو قبیلو خوانان د خپلو سردارانو زیر کمان د مدینے په جانب باندے روان شو. د قریشو قائد ابوسفیان بن حرب، د بنو اسد طلیحه، د غطفان عیینه، د بنو عامر عامر بن طفیل، د بنو سلیم ابو الاعور سلمي، د بنو قریظه کعب بن اسد وو. د دوی د مجموعي تعداد د لښکرو او پښکښتو زره یې ما بین کښې وو کله چه نبي علیه السلام ته د دوی د روانیدو علم وشو نو هغوی د سلمان فارسي رضي اللہ عنه په مشوره باندے د مدینے منورے نه چاپیره د خندق کنستلو کار شروع کړو کوم چه د شپږ ورځو په موده کښې مکمل شو. د مسلمانانو شمیر صرف درے زره وو. د دواړو لښکرو مخامخ کیدل وشو په مینځ کښې خندق حائل وو په دے حال کښې تقریبًا یوه میاشت تیره شوه او په دغه دوران کښې د ګټو وړو لو او غشو ویشتلو نه بغیر کوم باقاعده جنګ او نشو بغیره یو څو انفرادي جرپونو نه مشرکینو د مدینے د خلورو طرفونو نه ګیره وهلے وه او هر طرفته ویره او ترهه خوره شوه او منافقانو به خپل قول او فعل سره کا به مسلمانانو کښې د بې ولئ او بے اعتمادي فضا پیدا کولو پوره کوشش وکړو. په دے

Scanned by CamScanner

ذَا الَّذِیْ یَعْصِمُکُمْ مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ
هغه څوک چه بچ کوي تاسې ؛ د الله نه ؛ که چرې اراده وکړي ؛
بِکُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِکُمْ رَحْمَةً ؕ وَلَا
په تاسې د مصیبت ؛ او یا اراده وکړي په تاسې د رحمت (نو څوک به یې بند کړي؟) او
یَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِیًّا
بیا به نه مومي ؛ د ځانونو د پاره ؛ سوا د الله څخه ؛ دوست ؛
وَّلَا نَصِیْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ یَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِیْنَ
او نه امداد ګر ؛ یقیناً پیژني الله تعالی ؛ منع کوونکي (د جهاد نه) ؛
مِنْکُمْ وَالْقَآئِلِیْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ
ستاسې نه ؛ او ویونکي ؛ د وروڼو خپلو ته ؛ چه راشئ
اِلَیْنَا ۚ وَلَا یَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۱۸﴾
موږ ته ؛ او نه راځي دوی ؛ جنګ کولو ته ؛ مګر لږ ؛
اَشِحَّةً عَلَیْکُمْ ۚ فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ رَاَیْتَهُمْ
بخیلان دي ؛ ستاسې پاره ؛ پس کله چه راشي ؛ ویره ؛ وینې ته دوی لره
یَنْظُرُوْنَ اِلَیْکَ تَدُوْرُ اَعْیُنُهُمْ کَالَّذِیْ
چه ګوري په ؛ تا ته ؛ چورلي به سترګې د دوی ؛ په شان د هغه چا چه
یُغْشٰی عَلَیْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ
بې هوشي راځي په هغه ؛ د مرګ نه ؛ پس کله چه لاړه شي ؛
الْخَوْفُ سَلَقُوْکُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ
ویره ؛ خبرې کوي تاسو ته ؛ په ژبو ؛ تېزو ؛
اَشِحَّةً عَلَی الْخَیْرِ ؕ اُولٰٓئِکَ لَمْ یُؤْمِنُوْا
بخیلان دي ؛ په خیر (مال) ؛ دغه کسان ؛ ایمان یې نه دی راوړی
فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ؕ وَکَانَ ذٰلِکَ
پس برباد کړي الله تعالی ؛ عملونه د دوی ؛ او دے دا کار ؛

عه (بقیه د ص ۵۰۶ جاري ده): د دے حالاتو کښې الله تعالی د امداد د پاره د فرښتو فوج رالیږلو او ورسره ئې تیز او سخت طوفاني سیلئ رالیږله چه په هغه سره د دوی د خیمو میخونه وخښل، رسئ ئې وشلیدے، اسونو ئې د ویرے نه تیخته شروع کړه، د دوی سترګے د خاورو نه ډکے شوے او د دوی په زړونو د اسے رُعب راغلو چه د مشرکانو فوجونه تس او نس شو او شکست ئې وخوړو (تحقیق ل: (جواهر ص ۹۳۳)): ولو دخلت علیهم: (حاشیه د تیر مخ نه) یو لا معنی داده، که چرے را داخل کړې شي لوا ګورونه په دوی د طرفونو د مدینے نه: بله معنی داده که چرے را ننوتلے شي دغه فوجونه په دوی د طرفونو د مدینے نه او بیا د دوی نه مطالبه وشي د شرک کولو نو راضي به شي شرک ته، د ګورئ روح ص ۱۶۱/۲۱ ج ۲۱

اَشِحَّةً عَلَیْکُمْ: (حاشیه د دے مخ): بخیلان دي ستاسې پاره په خرڅ کولو او نصرت کولو سره (روح ۲۰/۲۱) سَلَقُوْکُمْ: مخامخ کیږي تاسو سره (ابن کثیر ص ۲۱/۲۵) مخاطبه کوي (خبرے کوي) تاسو سره مخاطبه سخته (مدارک ص ۲۹۰/۳) لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا آیت کریمه قانون لوئے دے په اقتدا او کولو کښې په رسول صلی الله علیه وسلم پسے په بتولو اقوالو او افعالو او احوالو د هغوی کښې الخ (ص ۳/۴): سید آلوسي رحمه الله فرمائي چه دا آیت اګرچه چلیدلے دے په اقتدا کولو کښې په نبي علیه الصلوٰة والسلام پسے په کار عه

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ
په الله تعالٰی باندې اسان : ګمان کوي دوی : چه ډلې د کافرانو چه
لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا
لا نه دي تللي هغوی : او که چېرې راشي ډلې : نو خوښوي به دوی
لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِى الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ
ارمان چه دوی : او سیده شوي وې : په بانډو کښې : تپوس به کوله
عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ۭ وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا
د خبرو ستاسو نه : او که چېرې وي دوی : په تاسو کښې : نو جنګ به
قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٢٠﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِىْ
نه وو کړی دوی : مګر لږ : یقیناً شته وه : تاسو لره : په
رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ
رسول د الله تعالٰی کښې : نمونه : ښائسته : د هغه چا د پاره چه دی :
يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ
امید ساتي د الله تعالٰی : او د ورځې : روستنۍ : او یادوي الله تعالٰی
كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ
ډیر : او هر کله چه ولیدل : مؤمنانو : ډلې د کافرانو :
قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ
وویلې دوی : دا هغه دی : چه وعده یې کړې وه موږ سره الله تعالٰی : او رسول د هغه :
وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۡ وَمَا زَادَهُمْ
او رښتیا ویلي الله تعالٰی : او رسول د هغه : او زیات نه کړه دوی لره :
اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
مګر ایمان : او فرمانبرداري : بعضې د مؤمنانو نه :
رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۚ
سړي دي چه رښتیا کړه هغه عهد لوظ چه ورسره کړی و الله تعالٰی سره : په هغه

ع ۱۸

مه د جنګ کښې چه ثابت قدمي ده او د دې په مثل : خو دا عام دے په ټولو افعالو د حضوري صلی الله علیه وسلم کښې کله چه شوی معلومه شوے چه دا د خصوصیاتو د هغوی نه دي، لکه نکاح کول زیات د څلورو بیبیانو نه شو (روح جلد ۲۱ ص ۱۹۷، او کورئ جواهر ص ۹۳، ماجدي ص ۹۴۳، او الهام الرحمٰن ص ۶۴۷)

مَنْ قَضٰى نَحْبَهٗ : (حاشیه د راتلونکي مخ ص ۲۷) : او بعضې د دوی نه هغه دي چه پوره يې کړه لوظ خپل، نذر خپل، اجل خپل — قرار داد خپل : او کورئ فتح ص ۵۰، ابن کثیر ص ۲۶۵، مدارک ص ۲۹۹ : یعني شهید شو : (فتح ص ۵۰) وَمَا بَدَّلُوْا : او بدل يې نکړو عهد خپل لره په بدلولو سره (سراج منیر ص ۲۳۳) : فائده : په دې آیت کښې بشارت دے او په دې کښې تخویف دے :

وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظٰهَرُوْهُمْ : د غزوه احزاب نه پس نبي کریم صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته حکم وکړو نو د بنو قریظه د یهودو د قلعه کلا نو محاصره

فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ
پس ځینې د هغوی هغه دي چې پوره یې کړ اجل خپل، او ځینې د دوی هغه دي چې
يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ
انتظار کوي، او نه یې دي بدل کړي (وعده) هیڅ بدلول؛ د دې لپاره چې بدله ورکړي
اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ
الله تعالیٰ صادقانو ته؛ په صدق د هغوی؛ او عذاب ورکړي
الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ
منافقانو ته؛ که چیرته وغواړي؛ او یا مهرباني وکړي په دوی باندې؛
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ
یقیناً الله تعالیٰ دے بخښونکے، رحم کوونکے؛ او واپس کړل
اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا
الله تعالیٰ هغه کسان چې کفر یې کړی و په غصه د هغوی؛ چې ونه موندله
خَيْرًا ۭ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۭ
هیڅ خیر؛ او بس کړه الله تعالیٰ مومنانو ته د جنګ کول؛
وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ﴿٢٥﴾ وَاَنْزَلَ
او دے الله تعالیٰ قوت والا؛ زورور؛ او راکوز یې کړل
الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
هغه کسان چې امداد یې کړے و د دوی سره؛ د اهل کتابو نه
مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ
د قلعو د هغوی نه، او وې غورځوله په زړونو
قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ
د هغوی کښې ویره (هیبت)؛ یوه ډله وژله تاسو
وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ﴿٢٦﴾ وَاَوْرَثَكُمْ
او بندي کول تاسو یوه ډله؛ او وارث کړل تاسو

ممه (بقیه د دے مخ) : محاصره ئې وکړه کوم چې د مشرکانو محاصره وکړے وه ٢٠٠ ١٥ ورځې محاصره جاري وه په دې کښې یهودیان مجبوره شو او د دوی په زړونو کښې الله تعالیٰ د مسلمانانو هیبت وغورځولو او دوی پخپله د قلعو نه د بهر راتللو پیشکش وکړو او د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه فیصله یې قبوله کړه۔ حضرت سعد د قبیلې د اوس نه وو کوم چې د قریظو دله ایزو وو؛ حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه فیصله وکړه چې د دوی سړی دې قتل کړے شي او د دوی ښځې او بچي دې بندي او غلامان شي او د دوی مالونه او ملکونه دې په مسلمانانو کښې تقسیم کړے شي. چنانچه نبي علیه السلام د حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه فیصله باندې عمل وکړو : (روح وغیره : بواهر ص ٩٣٦) ؛

وَاَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوْهَا مثلا : حاشیه د راتلونکي مخ (٥) چې هغه مکه ده او یا فارس او روم دي او یا خیبر دے او یا هره هغه زمکه چې فتح کړلے شي تر ورځې د قیامته پورې (مدارک ص ٣٩٦)

عنه ابلجیه ډوډی محمد ﷺ: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ ۱۰: ذوړے خانې نه تړلے پورے درګیم باب دے په دے کښې څلور
خبرے دی (۱) دریے خطابات دی نبی علیه السلام ته: ۲۸، ۴۵، ۵۰ (۲) څلور خطابات دی ازواج مطهراتو ته

أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَ
زمکه ډهغوی: او کورونه ډهغوی: او مالونه ډهغوی: او (وارث کړی)
أَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ
هغه زمکه چه نه وه ګرځیدلی تاسو په هغې: او دے الله تعالی پر
كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا (٢٧) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل
هر شی باندې قدرت والا: اے نبی (علیه السلام): ووایه
لِّأَزْوَاجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ
بیبیانو خپلو ته: که چرے یئ تاسې: چه اراده لرئ
الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ
ډ ژوند ډ دنیا: او ډهغې ښکلا ډوګړے: پس راشئ تاسې
أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا
چه سامان درکړم تاسې ته: او ازاد دې کړم تاسو لره: په ازادیدو
جَمِيلًا (٢٨) وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَ
ښه سره: او که چرے یئ تاسې: چه اراده لرئ ډ الله تعالی: او
رَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ
ډ رسول ډهغه: او ډ کور: ډ وروستنی: پس یقینا الله تعالی
أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا (٢٩)
تیار کړے دے نیکی کوونکو ډپاره: چه تاسې یئ: اجر لوے
يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ
اے بیبیانو ډ نبی علیه السلام: هغه چه راشی وکړی ستاسې نه: په بې حیائی
مُّبَيِّنَةٍ يُضْعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ
ښکاره سره: زیات به کړے شی هغې لره: عذاب: دوچنده
وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا (٣٠)
او دے: دا کار: په الله تعالی باندې: اسان

ع ۱۹

(۳) بشارت اولئک صفات ۳۵ (۴) دوه خطابونه مومنانو ته ۳۶ ۳۷.

کله چه فتوحات وشو او په مسلمانانو ارام راغے او د نبی علیه السلام کره تنګی وه نو ازواج مطهراتو د نبی علیه السلام نه د وسعت عیش ادرښ وکړو نو دا فرمان راغے نو هغوی په اتفاق سره ووے چه زمونږ الله تعالی او د هغه رسول ﷺ او اخرت پکار دے (فضل التراجم ۱۰).

فائده: په دیکښې احادیث راغلی دی او دے ایتونو ته ایتونه د تخییر وئیلے شی. نبی علیه السلام په دغه ورځو کښې د اس نه هم راولیدلے وو او زخمی شوے هم وو او پښه ئے خوږه هم وه، دغه میاشت د ۲۹ ورځو وه. قسم ئے د میاشتې کړے و او په ۲۹ ډیالا ئے نه راکوز شو. حدیث کښې راغلی اول ئے عائشې رضی الله عنها ته دا ایتونه ووئیل نو هغې ووئیل: فانی اُرِیدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ: او بیا ټولو بیبیانو هم دغه رنګ وکړو، وګورئ بخاری مختصر، ترمذی ۱۵۷.

مِنكُنَّ لا ۲۰: دا مِنْ د بیان د پاره دے او مراد ترینه ټولے بیبیانے دی. مَن يَأْتِ مِنكُنَّ: حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه فاحشه نافرمانی او بد اخلاقی ده: او دا په هر تقدیر دا شرط دے او شرط تقاضا د وقوع نکوی لکه په دے قول د الله تعالی کښې (۸۱ زخرف) (ابن کثیر ۳/۴۸۱) ضِعْفَيْنِ: د عالم د عمل صالح ثواب هم د نورو نه زیات وی او د هغه د ګناه سزا هم زیاته وی (معارف ۱۳۰/۷) وګورئ جصاص ۳/۳۵۹، امداد ۱۲/۳۰.

فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ: پس طمع به وکړي هغه څوک چه په زړه ئې د هغه کښې شک اګڼا وي، او هیلان ئې بخوانه (مکمل عثمانیٔ اسماعیل) ابوبکر جصاص رحمه الله فرمائي چه په دې کښې دلیل دے چه ترڅه خبره نه ښځه سره نه

وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَ

او چا چه تابعداري وکړه ستاسو نه د الله تعالى او د رسول د هغه او

تَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ

عمل ئې وکړو نیک نو ورکړو به مونږ هغې ته اجر د هغې دوه چنده

وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَا نِسَاءَ

او تيار کړے مونږ هغې لره رزق عزتمند اے ښځو د

النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ إِنِ

نبي (صلى الله عليه وسلم) نه یئ تاسو په شان د یو تن د نورو ښځو نه، که چرې

اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ

پرهیزګاري کړئ تاسو پس مه کوئ نرمي په خبرو سره پس طمع به وکړي

الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا

هغه څوک چه په زړه د هغه کښې مرض وي او وایئ وینا

مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا

ښه او ویسیږئ په کورونو خپلو کښې او مه

تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَ

ښکاره کوئ ښکلا په شان د ښکاره کولو د جاهلیت مخکښني او

أَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ

ودروئ مونځ تاسو او ورکوئ زکوة تاسو او اطاعت کوئ

اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ

د الله او د رسول د هغه یقیناً اراده لري الله تعالى

لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ

چه لرې کړي ستاسو نه پلیتي اے کورنئ د نبي (صلى الله عليه وسلم)

وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ

او پاک کړي تاسو پاکول او یادوئ هغه چه لوستے شي

نکوي په دا سے طریقے سره چه طمع راولي په دوي کښې شیطان خنق، او په دې کښې دلالت دے په دا حکم د عامو ښځو دے چه منع شوي دي د نرمو خبرو نه سره ته چه طمع پکښې راوړي د ګیا نو خلقو، او دلیل او ښائي دي په رغبت د ښځو کښې سره ته. او دلالت دے په دے چه ایښی ښځو لره روا دي چه بې ضرورته کوي او از خپل په دا سې طریقه چه سړي نے اوري او په دې کښې دلالت دے چه ښځه منع کړے شوې ده د اذان نه او دغه رنګه رطي دي اصحابو رضوان الله علیهم او د الله تعالى آیت کښې فرمائي: ولا يضربن بارجلهن ليعلم ما يخفين من زينتهن: پس هر کله چه منع شوے ده د اوریدلو د اواز د پائزیب خپل نه پس ښځه د دے چه کله بخیله وي او ویاړ وي د طرفه د دے نه د فتنے د پرانیځ دي منع کول د دے نه (احکام القرآن للجصاص)

ربط: د دے وروستو نه د پیغمبر علیه السلام سره د ګنې د کورنئ معاملې کښې هغه کله نه ډیر زور ته خپه اختیار ورکړ او هغوي خپله د اخرت ژوند او په پیغمبر د نبي مرضي وړاندې دا د خپل مسلكي د طلاق شرعي في ذ ته د ح خبرو د منع کولو حکمونه ستا سه ده لمنه ته ئې پليتئ منافقانو ته پته ولګی نو هغوي به خوشاله شي چه ختمي د معنو زمونږ مقصد پوره شو د پیغمبر (صلى الله عليه وسلم) په کور کښې ځه خي کښې شکر اوشو او د نرمو ګفتګو نه ځانے با لکل صاف او سپيڅلې الفاظ کښي وویلي چه پیغمبر علیه السلام چه ختم کړیدي د الله تعالى په حکم سره ئې کړیدي او بالکل درست او صحیح دي او په هغه کښې د هیڅ اعتراض ګنجائش نشته (ګواهر تفسیر) وَقَرْنَ: او وسیږئ په کورونو خپلو کښې: یعنې پیوسته شئ په کورونو خپلو کښې پس مه راوځئ بغیر د حاجت نه (ابن کثیر رحمه الله)، آلوسي رحمه الله

سره فرمائی : او کله حرام وی په دوی باندی وتل بلکه کله کبیره گناه وی لکه وتل د دوی زیارت د قبرونو ته چه کله نے فساد لوئے وی او وتل د دوی اگر چه جماعت ته وی او خان نے خوشبوئی کړے او ښائسته کړے وی

فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ ؕ
په کورونو ستاسو کښی : د ایتونو د الله نه : او سنت نبوی نه :

إِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿۳۴﴾ إِنَّ
یقینا الله تعالیٰ دے : لطف کوونکے : خبر دار : یقینا

الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ
مسلمانان سړی : او مسلمانانے ښځے : او مومنان سړی :

وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِينَ وَالْقٰنِتٰتِ وَ
او مومنانے ښځے : او بندګی کوونکی سړی او تابعداری کوونکے ښځے : او

الصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِينَ
رښتونی سړی : او رښتونے ښځے : او صبر کوونکی سړی :

وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِينَ وَالْخٰشِعٰتِ
او صبر کوونکے ښځے : او عاجزی کوونکی سړی : او عاجزی کوونکے ښځے :

وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ
او صدقه ورکوونکی سړی : او صدقه ورکوونکے ښځے :

وَالصّٰٓئِمِينَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِينَ
او روژه نیوونکی سړی : او روژه نیوونکے ښځے : او حفاظت کوونکی سړی :

فُرُوجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِينَ
د عورتونو خپلو : او حفاظت کوونکے ښځے : او یاد د کوونکی سړی :

اللّٰهَ كَثِيرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ أَعَدَّ اللّٰهُ
الله تعالیٰ لره ډیر : او یادوونکے ښځے : تیار کړے الله تعالیٰ :

لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيمًا ﴿۳۵﴾ وَمَا
دوی لره : بخښنه : او اجر : لوئے : او نه دی

كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى
مناسب : مومن سړی : او مومنے ښځے لره : کله چه فیصله وکړی :

ع ۱

کله چه یقین د فتنے وی او کله چه گمان وی نو د اخرام دی او کبیره نه وه ، او مکروه وتل چه روا وی هغه وتل نیځ ته او ملاقات د مور او پلار او عیادت د مریض ته او تعزیه د خپلوانو مړو وغیره. پس یقینی خبره دا ده چه فتنه شرطونه چه ذکر شو دی په فیصله عمل کیږی. (روح المعانی)

وَلَا تَبَرَّجْنَ : حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه تبرج دا دے چه ښځے به سر لوڅ ووځی او ګلونه چه پټ کړی اصیل د دے او صدر د دے او غاړه د دے او دا ټول پټ نه ساتل (ابن کثیر ۳/۴۸۲). لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ : چه لرے کړی ستاسو نه ګندګی یعنی ګناهونه (روح المعانی). وَالْحِكْمَةِ : یعنی قرآن او سنت وګوری ده ارشاد : ابن کثیر رحمه الله، روح المعانی، بخاری شریف. فائده : په دے ایتونو کښی ښځو او امرا د دوی ته حکم دی. إِنَّ الْمُسْلِمِينَ ، په دے ایت کریمه کښی لس صفات خبره د سړو او ښځو ذکر وی. جناب مفتی صاحب رحمه الله لیکلی دی چه په قرآن کریم کښی په عام احکامو کښی اګر چه سړی او ښځے دواړه شامل دی مګر عموما خطاب سړو ته کیږی ښځے په دے کښی ضمنا شامل وی ، په هر ځائے کښی چه يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا الفاظ استعمال کړی نو ښځے د دے په ضمن کښی مخاطب کړے شی . ددے کښی اشاره ده چه د ښځو ټول معاملات په ستر او پرده پوشی باندی بناء وی او په دے کښی د دوی اعزاز او اکرام دے خصوصا په

ټول قرآن کښی چه غور وکړے شی نو معلومه به شی چه د حضرت مریم بنت عمران نه سیوا د کومے ښځے نوم په قرآن کښی نه دے اخستے شوے (الا معارف القرآن). فائده : د حضرت ام سلمے رضی الله عنها نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو نبی علیه السلام ته : مالنا لا نذکر فی القرآن کما یذکر الرجال فلم یرعنی منه شیئا ذات یوم الا نداؤه علی

سه المنبر وهو يقول ان المسلمين والمسلمات الخ (روح المعاني ص۲۲) وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ: او یاده کوونکی سړی د
الله تعالیٰ لره ډیر په تسبیح او تحمید او لا اله الا الله ویلو او په تکبیر او په لوستلو د قرآن سره او مشغولیدل په
علم د ذکر نه دی. (مدارک ۳/۲۴۳)

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ
الله تعالیٰ او رسول د هغه د یو کار: چه ... نه وی لره د
الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَّعْصِ
اختیار: په کار د دوی کښې او چا چه نافرمانی وکړه د
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا
د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نو پس یقیناً گمراه شو: په گمراهئ
مُّبِيْنًا ﴿۳۶﴾ وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْۤ اَنْعَمَ اللّٰهُ
ښکاره سره: او کله چه وئیلے تا هغه کس ته چه انعام کړے وو الله تعالیٰ
عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ
په هغه باندې او انعام کړے وو تا په هغه باندې: او ساته د ځان سره د
زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ
ښځه خپله: او وویریږه د الله تعالیٰ نه: او پټوله تا په
نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ
زړه خپل کښې هغه څیز چه الله تعالیٰ ښکاره کوونکے وو: او ویریدلے د خلقو نه:
وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى
او الله تعالیٰ ډیر لائق دے چه وویریږے ته د هغه نه: پس هر کله چه پوره کړه
زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْ لَا
زید رضی الله عنه د هغې نه حاجت: نو مونږ نکاح کښې درکړه هغه تا ته: دے د پاره چه
يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْۤ اَزْوَاجِ
نه وی: په ایمان والو باندې تنګسیا: په باره د ښځو د
اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَ
د بللو ځامنو خپلو کښې: کله چه پوره کړی: د هغوی نه حاجت: او
كَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ عَلَى
دے حکم: د الله تعالیٰ کړے شوے: نشته: په

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ ۳۶: دا په ذکر او د اطاعت تعریف او کښې دے. مؤمن سړی او مؤمنے ښځے له دا اختیار نشته چه کله الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ فیصله وکړی نو د ځان په مسلوکښې رو سټو ځکښې کوی. (جواهر ص۳۲۶) مِنْ اَمْرِهِمْ: چه تاسی دوی لره اختیار رشکول په کار نو ضمیر کښې نسقی رحمه الله فرمائی چه د جمع ضمیر په لهم کښې څکه راوړه چه مؤمن او مؤمنه لاندے د لا نافیه نه راغلی دی نو عام دی هر مؤمن او مؤمنے لره (مدارک ۳/۲۴۳) وَاِذْ تَقُوْلُ: او کله چه وئیل تا هغه سړی ته چه انعام ئے کړے وو الله په اسلام سره چه لوئے د نعمتونو نه دے او انعام کړے وو تا په هغه باندې په آزادولو او په خوی سره ئیولو باندې او هغه زید بن حارثه رضی الله عنه دے. (مدارک ۳/۲۴۳) فَائِدَه:- د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه دا ایت په شان د زینب بنت جحش رضی الله عنها او زید بن حارثه رضی الله عنه کښې راغلے دے. (بخاری ۷۰۶/۲) فَائِدَه:- نبی علیه السلام د خپل حقیقی ترور د لور حضرت زینب رضی الله عنها نکاح د خپل متبنی حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه سره کړے وه لیکن د خاوند او بی بی په مینځ کښې موافقت ونشو. د دے وجے نه حضرت زید رضی الله عنه د طلاق ورکولو فیصله وکړه او د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او د دے

اظهار ئے وکړو. حضرت زید رضی الله عنه ته عتاب او فرمائیلو او په تخت سره فے حکم وکړو چه د خدائی نه ویریږه او ښځے لره ته طلاق مه ورکوه. اصل کښې نبی علیه السلام زید لره د طلاق ورکولو نه د دے وجے نه منع فرمائیلے ده که چرے زید طلاق ورکړی نو د زینب آزار زیات شی او زړه علاج صرف په دے صورت کښې دے چه دوی ورسره لا عملا

حضرت زینبؓ سره نکاح وکړی لیکن داسې هم نه غوښتل څکه چې په دیکښې د منافقانو د پروپیګنډې ویره وه. الله تعالیٰ ته دا منظوره وه چې دا رسم د جاهلیت د صحوی په عمل سره ختم کړی الخ (جواهر) وتخفی في نفسك؛
اوپټ وساته په زړه خپل کښې هغه

النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ ۖ

نبی باندې : څه تنګسیا : په هغه کښې چې مقرر کړې دی الله تعالیٰ ورله

سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ ۚ

دستور دی د الله تعالیٰ : په هغو کسانو کښې چې تېر شوی دی مخکښې له دې نه

وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا ﴿٣٨﴾ الَّذِينَ

او دی حکم د الله تعالیٰ : اندازه کړې شوې مقرر کړې شوې ٣٨ هغه کسان

يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا

چې رسوی : پیغامونه د الله تعالیٰ : او ویرېږی د هغه نه : او نه

يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ

ویرېږی : د هیچا نه : سوا د الله تعالیٰ نه : او کافی دی الله تعالیٰ

حَسِيبًا ﴿٣٩﴾ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن

حساب کوونکی ٣٩ نه دی : محمد ﷺ : پلار د یو کس : د

رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ

سړو ستاسو نه : او لاکن استازی دی د الله تعالیٰ : او مهر

النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

د نبیانو دی : او دی الله تعالیٰ : په هر : شی باندې

عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا

پوهه ٤٠ : اې : ایمان والو : یاد کړئ

اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَ

الله تعالیٰ لره : په یادولو ډیر سره ٤١ : او پاکی بیانوئ د هغه : صباح : او

أَصِيلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَ

بیګاه ٤٢ : الله تعالیٰ هغه ذات دی چې رحمت رالیږی په تاسو : او

مَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَىٰ

ملائکې د هغه دعا کوی : د پاره د دې چې اوباسی تاسو د تیارو نه : طرف د

چې الله تعالیٰ به ښکاره کوونکی دی —
مفتی صاحب رحمه الله فرمائی: هغه دا اراده وه چې زید طلاق ورکړی نو د حکم الٰهی مطابق به هغوی د دې سره نکاح کوی. (معارف)
بعض مؤرخینو او غیر محققینو مفسرینو لیکلی دی چې د دې نه مراد دا دی چې د نبی ﷺ په زړه کښې د زینبؓ سره محبت وو لیکن په ظاهر کښې هغوی حضرت زینبؓ ته ویلی چې دا مه طلاق کوه. لیکن دا مرا سر غلط او باطل دی او د نبی ﷺ د شان سره مناسب نه دی. (جواهر)
فائده: د دې غلط قصې رد محققینو مفسرینو او محدثینو رحمهم الله کړی دی. امام ابن جریر الطبری رحمه الله کښې ګڼې حوالې ذکر کړی دی. خو هغه رجوع وکړه تر څو چې په ظهور د مشان (معارف ، روح ، بحر ، ابن کثیر ، قرطبی ، جمل ، ماجدی ، فیض الباری ، فتح الباری وغیره).
وتخشی الناس: او ویرېدلې چې خلق به اعتراض او خبرې وکړی ستا په باره کښې. (ماجدی)
فلما قضى زید منها وطرا: کله چې پوره کړه زید د ښځې نه حاجت، د وطر نه مراد طلاق دی. (جواهر)
فائده: د یو کس د صحابو نه نوم په قرآن کښې غیر د زید بن حارثهؓ نه دی ذکر شوی. (تسهیل)
زوجناکها: په دیکښې اشاره ده چې د دې سره نکاح د نبی ﷺ د وجې د شهوت نه وه بلکه د پاره د بیان د شریعت وه په فعل خپل سره څکه چې شرعاً بیان د فعل او د قول د نبی ﷺ سره دی. (کبیر)
ما كان محمد: حاشیه نبی ﷺ د سړو پلار نه دی بلکه نبی د ده او د ټولې امت دی نو د زید صاحب پلار نشو نو د ده ملکوحه چې ده ته ورکړې شوې نو په نبی ﷺ حلاله ده (انفس) دویم اعتراض: څه ضرورت وو چې د زینب سره نکاح

(مقصد دا دے چه) کوله اګرچه اینګورئے نه وو؟ جواب وشو ولکن رسول الله : یعنی دا مسئله رسول ضروری دی او دے پیغمبر دے په دے باندې د رسول فرض وی. د ربیع اعتراض، خاصه ضرورت وو چه ووه اخیره رسول بلکه وص یلت

ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ

ته : او دے هغه په مؤمنانو باندې رحم کوونکے . تحفه د دوی

يَوْمَ يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا

کله چه ملاقات وکړی دوی د الله سره سلام به وی : او تیار کړے الله دوی دپاره اجر

كَرِيمًا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ

عزتمند : اے نبی ! یقیناً مونږ لیږلے دے ته ای لږ ،

شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٤٥﴾ وَدَاعِيًا

بیان کوونکے او زیرے ورکوونکے : او ویروونکے : او بلونکے

إِلَى ٱللَّهِ بِإِذْنِهِۦ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ﴿٤٦﴾ وَبَشِّرِ

الله طرف ته په حکم د هغه سره : او چراغ رڼا کوونکے : او زیرے ورکړه

ٱلْمُؤْمِنِينَ بِأَنَّ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَضْلًا

مؤمنانو ته : چه یقیناً دوی لره د طرف د الله نه ، فضل

كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ

لوئے دے : او مه منه خبره د کافرانو : او منافقانو :

وَدَعْ أَذَىٰهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ

او پریږده تکلیف د دوی : او توکل وکړه په الله باندې : او کافی دے

بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٤٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا

الله کارساز : اے ایمان والو : کله چه مو

نَكَحْتُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن

نکاح وکړه د ایماندارو ښځو سره : بیا طلاق ورکړئ تاسو ښځو لره ، مخکښې

قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ

د مسه کیدو د هغوی نه : پس نشته تاسو لره : په ښځو باندې

مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ۖ فَمَتِّعُوهُنَّ وَ

هیڅ عدت : چه تاسو یې شمیرئ : پس فائده ورکړئ هغوی لره او

ذوؤ نه روستو بل پیغمبر راتلے وے نو هغه به رسول وے نو جواب وشو . وخاتم النبیین الخ (احسن بیان) وختم النبیین ، په قرآت د تے په زور باندې دے په معنیٰ د ټاپه (مهر) او آخر بانه . بل خاتم د تے په زیر باندې معنیٰ ئے ختم کوونکے د نبیانو دے ، او بل قرآت کښې ماضی دے ، وختم النبیین : او ختم کړی دی نبیانو لره . مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه خاتم کله په زیر د تے وی او کله په زور ، دواړو معنیٰ آخرهم رازی او د ټاپه په معنیٰ هم . (معارف القرآن) فائده : حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه دا آیت نص دے په دے کښې چه بل نبی پس د نبی صلی الله علیه وسلم نشته او حرکله چه نبی نشته نو رسول پس د هغه نه نشته په طریقه اولیٰ او احریٰ سره ځکه چه مقام د رسالت خاص دے د مقام د نبوت نه ځکه هر رسول نبی وی او عکس ئے نشته او په دے احادیث متواتره راغلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د ډیرو صحابو د جماعت (ابن کثیر رحمه الله) مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه اختصار د دے مسئلے په پوره تفصیل سره تو یو مستقل کتاب ختم نبوت لیکلے دے چه په هغه کښې د سلو آیتونو او د ۲۱۰ سلو احادیثو نه زیات احادیثو او په سلو نو اقوالو او آثارو د سلفو او د خلفو سره د دے مسئلے وضاحت کړے دے او د قادیانی د دجل د شبهو مفصل

جواب ورکړے (معارف القرآن) اختصار وائی نو د حوالے الهام الرحمن ۲ / ۳۰۵ - ۳۰۸ کښې وګورئ : یایها الذین امنوا الخ : د دے ځائے نه تر آخره پورے د سورت تر باب دے . په دے کښې پنځه خبرے دی . (۱) شلور خطابات نبی صلی الله علیه وسلم ته ۴۵ ، ۵۰ ، ۵۵ ، ۵۹ ، (۲) پنځه خطابات مؤمنانو ته ۴۹ ، ۵۳ ، ۵۶ ، ۶۹ ، ۷۰ ، (۳) شلور تخویفات ۵۷ ، ۵۸ ، ۶۱ ، ۶۳ ، (۴) زجر ۶۰

فائده: ذکر د الله تعالیٰ داسې عبادت دې چې په هر حال کښې فرض او د ذاکرینو دپاره د قیامت په ورځ (۵) بشارت مؤمنانو لره ذکر شوې ده، او په دې ایت کریمه کښې تیزي
دې چې په هر حال کښې فرض او د ذوبیر والی حکم دې (معارف ۱)

سَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ﴿٤٩﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ
آزاد ئې کړئ ښکلي آزادول : اے نبي (علیه السلام)!
إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ
یقیناً مونږ حلال کړي دي تا لره : بیبیانې ستا : هغه چې ورکړي دي تا :
أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا
مهرونه د هغوی : او هغه وینځې چې مالک دې ښي لاس ستا د هغه (غنیمت) نه
أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَ
چې راګرځولي دي الله تعالیٰ په تا باندې : او لونړه د تره ستا : او
بَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ
لونړه د ترورو ستا : او لونړه د ماما ستا : او لونړه
خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً
د ماشي ګانو ستا : هغه چې هجرت ئې کړی : ستا سره : او زنانه
مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ
ایمانداره : که چرته وبخښي ځان خپل : نبي (علیه السلام) ته :
إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً
که چرته اراده وکړي نبي (علیه السلام) : چې نکاح وکړي د هغې سره (د نکاح بې مهره) خاص
لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ قَدْ عَلِمْنَا
تا لره دي : سوا د نورو مؤمنانو نه : یقیناً پوهه یو مونږ :
مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا
په هغه چې فرض کړي دي مونږ په دوي باندې : په باره د بیبیانو د دوي کښې : او په باره د هغه
مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ
وینځو کښې چې مالکان دي د هغې لاسونه د دوي : د پاره د دې چې نشي : په تا باندې :
حَرَجٌ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٥٠﴾ تُرْجِي
څه تنګي : او دې الله تعالیٰ : بخښونکے : مهربانه : روستو کولے شې ته :

ورکول دي چې د بیروالي ذکر دې
پاتو. (ابن کثیر رحمه الله) د عبد الله بن
بسر رضی الله عنه روایت دې چې یو سړي
عرض وکړو اے د الله رسوله!
یقیناً شریعتونه (حکمونه) د اسلام
ډیر شوي دي په ما باندې پس خبر
راکړه ما ته په یو داسې څیز چې زه به
چه ټینګ پرې منګولې اولګوم
هغوی وفرمایل : لا به زال لسانک
رطباً من ذکر الله (ترمذی علیه
مشکوة ۱) (ابن کثیر رحمه الله) معارف
(۱) نفس زیات ارشاد د ذکر
ذکور دي په (انفال ۴۵ احزاب)
فائده: په دې کښې دویم امر
دې چې هر وخت تسبیح وایئ او
ذکر وکړئ د ده پس د عام نه
په ۴۳ کښې بشارت ورکړې
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ (۴۵-۴۶) : دا ټیم
خطاب دې نبي (علیه السلام) ته او د
هغوی پنځه صفتونه او هغوی ته
درې امرونه او منهي دي او د
تیره صورت سره لګي (شاهد)
اے نبي! مونږ تا لره لیږلي یو د ګواهي
(مرتبه) ګواهي کوونکي په هغه چا
چې ته لیږلے شوے یې هغوی ته
(مدارک) ګواهي کوونکے په
لا اله الا الله سره (روح المعاني)
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا (۴۹) : دا خطاب
دې مؤمنانو ته. د شاه رحمه الله
فرمایي : که تا سو نکاح وکړه
او بیا مو هغه طلاق ورکړه د مخکښې
بنځه وي او که بلا یعنې د جماع نه
نو په هغې عدت نشته تو ماسره
ورکوئ هغې لره (انفل منقول)
فائده : په دې ایت کښې د
احکام ذکر شوي دي وګوره
معارف (۵۰) يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ : دا خطاب د نبي (علیه السلام) ته په وسعت د منکوحاتو او د وینځو کښې چې
قدیم په رسولو کښې هغوی ته اسا انبیا راغلي. شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل : دلته د څلور قسمونه ذکر
کړي دي : (۱) هم هغو چې هغوی لره مهر ورکړے شوے وي (۲) هغو کے چې په غنیمت کښې حاصلې شوې دي

(۲) حُبلوا ئے مهاجرے. (۳) هو هو بے یا واهیبے چه ځان ئے پغیر د مهر نه نبي علیه السلام ته بخښلے وی. خالِصَةً لَّكَ: پغیر د مهر نه نکاح کول واصرف ستا سو دَ پاره خاص حکم وے د نورو مؤمنانو دَ پاره دا جائز نه دی. (جواهر ۳۳)

مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِىٓ إِلَيْكَ مَن

هغه چه خوښه وی ته: د دوی نه (وخت د) او ځائے ورکوے خوا کښې ځان ته هغه چه

تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ٱبْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا

ته ئے خوښه وې: او هغه چه طلب کړے ته ئے او هغه چه جدا کړے دې (بیا راوغواړې)

جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن تَقَرَّ

نشته ګناه په تا باندې: دا طریقه ډیره نزدے ده دې ته: چه یخې شي

أَعْيُنُهُنَّ وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ

سترګے د دوی: او نه به خفه کیږي او راضي کیږي به په هغه شي چه

ءَاتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِى

ورکوے ته دوی ته ټولو: او الله پوهیږي په هغه څه چه په

قُلُوبِكُمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَلِيمًا ﴿٥١﴾

زړونو ستاسو کښې دي: او دے الله تعالیٰ: پوهه: حلم والا:

لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ وَلَآ أَن

نه دي حلالے تا له ښځې: روستو د دے نه: او نه دا چه:

تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَٰجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ

بدل کړے ته په دوی نورے ښځے: که څه هم خوښ شي تا له ښائست د

حُسْنُهُنَّ إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ ۗ وَكَانَ

ښائست د هغوی، مګر هغه چه مالکه شي ښے لاس ستا: او دے

ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ رَّقِيبًا ﴿٥٢﴾ يَـٰٓأَيُّهَا

الله تعالیٰ: په هر شي باندې: نګهبان: اے

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ

هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے: مه داخلیږئ کورونو د نبي علیه السلام ته

إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَـٰظِرِينَ

مګر چه اجازت ورکړے شي تاسو ته: دَ پاره د طعام په داسې حال کښې چه نه یئ انتظار کوونکی:

ترجي من تشاء (الآیة) ابوبکر جصاص رحمه الله فرمائي چه دا آیة دلیل دے په دے چه قسم (تقسیم مقرر کول) نه وو واجب په نبي علیه السلام او هغوی په دے کښې اختیار مند وو. (احکام القرآن) لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم د دے اجازت باوجود به هم په عمل کښې برابري اختیارولو. حدیث کښې راغلي دعا کښې رسول په نقل چه: ان النبي صلی الله علیه وسلم كان يقسم بين نسائه فيعدل ويقول اللهم هذا قسمي فيما املك فلا تلمني فيما تملك ولا املك. (رواه الترمذي وابوداود والنسائي وابن ماجه والدارمي - مشكوة) په ابوداود شریف کښې دی یعني القلب ابوداود رحمه الله وائي چه مراد ترینه د زړه محبت دے. من بعد: حلالے نه دی تا له ښځې پس د دغه نهو ښځو نه. مجاهد رحمه الله وائي چه پس د صفتونو چه ذکر شوے تا ته. (ابن کثیر) یعني پس د دغه قسمونو چه مخکښې ذکر شول. (قرطبي) یعني د دغه نهو ښځو نه علاوه تا له بیا نه دي حلالے البته کولے شې وینځې (قرطبي). (الفضل): بیا په دے طریقه سره دا آیت منسوخ نه دے بلکه محکم دے. (جواهر) لکه یهودیه، نصرانیه، مجوسیه، وثنیه، او چه مؤمنه وي خو هجرت ئے نه وي کړے او نه اعرابیه او نه غریبه. (احسن)

شیخ القرآن رحمه الله فرمایلي چه پاتے شوي په حریت کښې مشرکانو او غیر مهاجر. یٰٓأَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا (الآیة): دا اہل خطاب دے مؤمنانو ته: په دے کښې د دے او امر او نهي ذکر دي او په دے کښې د دعوت د طعام آداب ذکر دي: جصاص رحمه الله فرمائي چه دا حکم اګرچه خاص نازل شوے په باره د نبي علیه السلام او بیبیانو د هغوی کښې خو

خو معنی ئے عامه ده په هغوی او نوروکښې (تفسیر جصاص)؛ حاصل ئے درې آداب دی: (۱) الآ ان یؤذن لکم: (۲) غیر نٰظرین اِنٰهُ: (۳) فانتشروا، او درې احکام دی: (۱) لاتدخلوا بیوت النبي (۲) واذا سالتموهن الخ (۳) وما کان لکم ان تؤذوا الخ

إِنَاهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا

د پخلې د هغې؛ او لیکن کله چه وبللے شوئ تاسو: پس ورننوزئ؛

فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ

پس کله چه خوراک وکړو تاسو: پس خوارۀ شئ؛ او مه کېنئ د مینې کولو کښې؛

لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ

د خبرو د کولو؛ یقیناً دا کار؛ د سې چه ضرر رسوی نبي علیه السلام ته؛

فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ ۖ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ

پس حیا کوی؛ ستاسو نه؛ او الله تعالیٰ حیا نه کوی؛ د بیانولو

الْحَقِّ ۚ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا

د حق نه؛ او کله چه غواړئ د دوی نه؛ څه سامان؛

فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ

پس غواړئ د دوی نه؛ شا د پردې نه؛ دا طریقه

أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ۚ وَمَا كَانَ

ډیره پاکه ده زړونو ستاسو لره، او زړونو د دوی لره؛ او نه دی روا

لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن

تاسو لره؛ چه ضرر ورکړئ رسول د الله ته؛ او نه دی روا چه

تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْدِهِ أَبَدًا ۚ

نکاح وکړئ د بیبیانو د هغه سره؛ پس د مرګ د هغه نه هیچرې؛

إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا ﴿٥٣﴾ إِن

یقیناً دا کار دے؛ په نزد د الله تعالیٰ لوئی کار دے؛ که چرې

تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ

ښکاره کوئ تاسو څیز؛ او یا یې پټ کړئ؛ پس یقیناً الله تعالیٰ دے؛

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٥٤﴾ لَّا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ

په هر څیز باندې؛ ښه پوهه؛ نشته څه ګناه په دوی باندې؛

(۴) وما کان لکم ان تؤذوا الخ: غیر نٰظرین: چه نه یئ تاسو انتظار کوونکی د پخلې د طعام (روح المعاني) (۵) واذا سالتموهن: جناب مفتی صاحب رحمه الله معارف کښې د پردې مسئله ډېره تفصیلی ذکر کړې ده هغه دلته د کورنۍ په ۳ صفحو کښې فرمائی د بحث د پردې متعلق د قرآن مجید اووه آیتونه او د احادیثو اویا روایتونه حاصل دا معلومیږی چه اصل مطلوب د شرعی حجاب اشخاص دے یعنی د ښځو وجود او د دوی نقل او حرکت په د سړو د نظر نه پټ وی کوم چه د کورونو چاردیواری یا د خیمو او پردو په ذریعه بانديکیدے شی د دے نه بیوا چه څو قسمونه د پردے منقول دی هغه ټول د ضرورت په بناء باندې په وقت د ضرورت او په قدر د ضرورت باندې مقید او مشروط دی۔ ولا ان تنکحوا: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه ټولو علماؤ اجماع کړیده چه د کومو بیبیانو نه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شویے د هغوسره د بل چا نکاح کول حرام دی پس د هغوی نه علاوه چه هغه بیبیانے د هغوی دی په دنیا او آخرت کښې او د امت میندے دی ... فائده: په دې کښې ترغیب او ترهیب دے عمل کوونکو او نه کوونکو لره او په دې کښې ایت سره لګی په دې کښې د اوو قسمونو اشخاصو ذکر دے چه د دوی د نه داخلیدو نه شی؛

(۶) ولا نساءهن: او نه په ښځو د جنس کښې (ابن کثیر) یعنی ښځے (القرطبي). مراد پرے ښوده د مزکل دی د ښځو ایمان دار او نه (ابن کثیر) ولا ما ملکت: او نه په هغه وینځو کښې چه هغوی نبی لاسونه ستا دے. سعید بن مسیب رحمه الله فرمائی: مراد په دے باندې وینځے دی فقط: (ابن کثیر)

(بقیه د ے مخ): (اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ ﴿۵۶﴾): ابوالعالیه رحمه الله وائی چه صلوٰة الله ثناء د الله تعالیٰ ده په نبی علیه السلام باندې نزد ملائکو او صلوٰة الملٰئکة دعا غوښتل دی د هغه دپاره. (بخاری ۷۰۶/۲)، وګورئ ابن کثیر ۴۶۳/۳ فتح القدیر ۳۰۴/۴، روح ۷۷/۲۲.

فِىٓ ءَابَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ

په پلرانو د دوی کښې او نه په ځامنو د دوی کښې او نه په ورونو د دوی کښې

وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ

او نه په ځامنو د ورونو د دوی کښې او نه په ځامنو د خویندو د دوی کښې

وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ ۗ

او نه په ښځو د جنس د دوی کښې او نه په هغه څه کښې چه مالکان شوی دی لاسونه د دوی

وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ

او ویریږئ د الله تعالیٰ نه، یقیناً الله تعالیٰ دے په هر شی

شَىْءٍ شَهِيدًا ﴿٥٥﴾ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ

باندې ګواه (حاضر ناظر): یقیناً الله تعالیٰ او ملائک د هغه

يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟

درود لیږی په نبی علیه السلام: اے ایمان والو!

صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ

درود وائی په هغه باندې او سلام وائی په سلام پوره سره: یقیناً

ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَعَنَهُمُ

هغه کسان چه تکلیف رسوی الله تعالیٰ ته او رسول د هغه ته لعنت په کړے

ٱللَّهُ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ

الله تعالیٰ په دنیا او آخرت کښې او تیار کړے دے دوی لره

عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ

عذاب خوارونکے: او هغه کسان چه تکلیف رسوی

ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ بِغَيْرِ مَا ٱكْتَسَبُوا۟

مؤمنانو سړو او مؤمنو ښځو ته بغیر د هغه جرم نه چه دوی کړے وی:

فَقَدِ ٱحْتَمَلُوا۟ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾

پس یقیناً پورته کړو دوی بهتان (په ځان): او ګناه ښکاره:

رکوع ۴

درود شریف

فائده: جصاص رحمه الله فرمائی چه امر په درود شریف په نبی علیه السلام باندې دا تقاضا د وجوب کوی: او دا فرض دی ژوند کښې یو ځل: کله چه درود وائی انسان یو ځل په مانځه کښې یا غیر د مانځه نه نو فرض ئے پوره کړو او دا پشان د کلمے د توحید او د تصدیق په نبی علیه السلام باندې چه په عمر کښې یو ځل وائی نو فرض ئے ادا کړو.

فائده: ابوهریره رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: من صلی علیّ واحدة صلی الله علیه عشرا (مسلم، مشکوٰة ۸۶) فائده: لفظ د صلوٰة (درود) د انبیاء علیهم السلام نه سوا د چا دپاره استعمالول د جمهورو علماؤ په نزد جائز نه دی. امام بیهقی رحمه الله تخیل ستن کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دا فتوی را نقل کړے ده: لا یصلی علی احد الا علی النبی صلی الله علیه وسلم لکن یدعی للمسلمین والمسلمات بالاستغفار. (معارف ۲۳۵/۷)

فائده: او هرچه درود په غیر د انبیاؤ باندې وئیلے نو که په طریقه د تبعیت وی نو دا جائز دے په اجماع سره. وګورئ ابن کثیر ۵۱۵/۳. فائده: یو درود مشهور شوے دے چه هغه ته درود تاج وائی په هغه کښې شرکی الفاظ دی: دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم. مولانا ګنګوهی رحمه الله فرمائی د دے وظیفه کول ممنوع دی. پس تعلیم د درود تاج په تحقیق سره زهر قاتل دے عوامو ته سم ارزان دی چه په ګمراهو خلق به په فساد د عقیدے شرکی کښې مبتلا شی او سبب د هلاکت د دوی به وګرځی (فتاوی رشیدیه ۱۴۵) فائده: الفاظ د درود به صحیح معتبر وی کوم چه صحیح احادیثو سره نقل دی. د ګو هو الفاظو چه نقل نشته لکه ...

دَ درود تاج، دَ درود لکهي یا الصلوٰة علیك یا رسول الله نو دَ دے لوستل منع دی حکم چه بناء دَ عبادتو او اذکارو په نقل او اتباع بانـدې دی (احسن ص۲۸۸) . فائدة، اے مومنانو نبي ﷺ ته غلط رسمونه مه نسبتوی

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ

اے نبي! ووایه بیبیانو خپلو ته، او لونړو خپلو ته،

وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن

او ښځو دَ مومنانو ته: چه رانږدې دې کړي په ځانو خپلو دَ لوئیو

جَلَـٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ

څادرو خپلو نه؛ دا ډیره نږدې ده دې ته چه دوی به وپیژندلے شي،

فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾

پس نه به تکلیف ورکولی شي دوی، او دے الله تعالیٰ بخښونکے رحم کونکے.

۞ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِى

که چرے منع نشو منافقان، او هغه کسان چه په

قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْمُرْجِفُونَ فِى

زړونو دَ هغوی کښې مرض دے، او دَ دروغو خبرو خورونکي (اګلونکي) په

ٱلْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ

مدینه کښې، خامخا به مسلط کړو تا لره په دوی، بیا به نه اوسیږي دوی ستا سره

فِيهَآ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوٓا۟

په دې کښې مګر لږ؛ لعنت کړے شوي به وي دوی، چرته چه بیا موندے شي،

أُخِذُوا۟ وَقُتِّلُوا۟ تَقْتِيلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ ٱللَّهِ

وبه نیولی شي او وبه وژلی شي په وژلو سره، دستور دَ قانون دَ الله دے

فِى ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن

په هغه کسانو کښې چه تیر شوي دي مخکښې دَ دے نه، او هیڅ به

تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ

بیا نه مومې قانون دَ الله دپاره بدلول: تپوس کوي ستا نه

ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا

خلق (٦١) باره دَ قیامت کښې، ووایه یقیناً علم دَ هغې

نو تاسو به هغه ته دُعا کانے کوئ لکه باري تعالیٰ چه نبي ﷺ رحمت کوي او ملائک ورته دُعاګانې کوي نو څکه چه هغه غلط رسمونه ورته نه کوی. (النضل ص۴۴۵) : إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱللَّهَ : دَ دُعا په ځائے کوم کسان چه نبي ﷺ ته په خبرو تکلیف ورکوي نو هغه لره باري تعالیٰ دَ ذلت عذاب تیار کړے دے او په دنیا او اخرت کښې په هغه باندې لعنت کړے دے. دَ لعنت معنیٰ دَ رحمت نه محرومول دي. (النضل ص۵۹۵) يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل : په دې ایت کریمه کښې خطاب دے نبي ﷺ ته او دَ کورنۍ دَ ضرورت په بناء کړل او تلو طریقه ښائي چه لوئے څادر سره په ځانو نو را دَ ګرځي او دَ دفع دَ ضرر او اذیت طریقه هم ښائي: ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ : دا طریقه ډیره نږدې ده چه دوی به دَ څادر په وجه او وپیژندلی شي چه دا ښځه اصیله شریفه او پردې داره ده نو ضرر به ورته نشي رسیدے او تکلیف به نشي. فائده ۲: په دې مقام کښې منافقانو لره زجر او تخویف دے، ٱلْمُرْجِفُونَ : دَ دروغو خبرو خورونکي (اګلونکي) لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ : مسلط به کړو تا لره په دوی باندې، مقرر به کړو تا لره په دوی باندې بیا به یو ځائے اوسیدې نشي تا سره په دې ښار کښې. (فتح ص۴۸۸) يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ۖ : دا دَ عذاب دَ اخرت بیان دے یعني منکرینو هغه تپوس کوي دَ قیامت. (النضل ص۵۹۶) په دے ایتونو کښې ورله په ګنړو طریقو سره تخویف دے.

عِندَ اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ
په نزد د الله تعالیٰ دے ؛ او څه شی خبر کړے ته لره ؛ چه شاید قیامت
تَكُونُ قَرِيبًا ۝٦٣ إِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِينَ
موجود به شی ؛ نزدے ؛ یقیناً الله تعالیٰ ، لعنت کړے په کافرانو ؛
وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ۝٦٤ خٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ
او تیار کړے دی لره ، سوزونکے اور ؛ همیشه به وی په هغه کښې ؛ تل تر تل ،
لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ۝٦٥ يَوْمَ
نه به بیا مومی دوی ؛ څوک دوست ، او نه امداد دی ؛ په دغه ورځ
تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ
اړولے راړولے (ورتې) به کیږی مخونه د دوی ؛ په اور کښې ؛ وائی به دوی ؛
يٰلَيْتَنَا أَطَعْنَا اللّٰهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ۝٦٦
هائے ارمان زمونږ ، چه تابعداری کړے وے مونږ د الله تعالیٰ او تابعداری کړے وے مونږ د رسول علیه السلام ؛
وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَ
او وائی به دوی اے ربه زمونږه تابعداری کړے وه مونږه ، د سردارانو خپلو ؛ او
كُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ۝٦٧ رَبَّنَا
د مشرانو خپلو ، پس بے لارے کړو دوی مونږه د سمے لارے نه ؛ اے ربه زمونږه ؛
آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ
ورکړه دوی ته دوچند ؛ د عذاب نه ؛ او لعنت وکړه په دوی ؛
لَعْنًا كَبِيرًا ۝٦٨ يٰأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا
لعنت لوئے ؛ اے ایمان والو ؛ مه
تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسٰى فَبَرَّأَهُ
کیږئ ، په شان د هغه کسانو چه تکلیف ئے ورکړو موسیٰ ته ، پس پاک کړو هغه لره
اللّٰهُ مِمَّا قَالُوا ۚ وَكَانَ عِندَ اللّٰهِ وَجِيهًا ۝٦٩
الله تعالیٰ ، د هغه څیز د وی وئیل ؛ او وو ؛ په نزد د الله تعالیٰ ، محترم ؛

رکوع ۵

سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا : طاؤس رحمه الله وائی ، سادتنا یعنی اشراف وکبراءنا یعنی عالمان (ابن کثیر ص۵۱۹ ج۳) او مولد تریه هغه عالمان دی چه دوی ته یے د کفر تلقین کړے وُو او دوائے ورته نها ښسته کړے وُو (روح ص۱۲۹ ج۲۲) ورته ظاهره دا ده چه دا عام دے په قائدینو او سردارانو د شرک او ګمراهئ کښې . (قرطبی ص۲۳۹ ج۱۴)

فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا ، پس ګمراه ئے کړو مونږ د سمے لارے نه چه هغه توحید دے (قرطبی ص۲۴۹ ج۱۴)

اعرابی ص۲۹ وګورئ : آذَوْا مُوسٰى : د شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه په نبی علیه السلام تهمت لګوی چه هغه زمونږه د ژړانو په مخکے صاف اوو اینی چه نبی علیه السلام په زمونږه وړانوی نو دے د مؤمنانو خیرخواه دے ، د بنی اسرائیلو ښان هم کیږی چه هغوی په موسیٰ علیه السلام تهمت ولګولو چه په ده برګے دے ، (الفضل ص۵۲۵) فائده :- د بخاری شریف په اوږد حدیث کښې راغلی حاصل ئے دا دے چه موسیٰ علیه السلام حیاناک او پرده پوش سړے وُو - د حیا د وجے نه به ئے د څخرمن (بدن) څه حصه نه لیدلے کیږی شوه نو بنی اسرائیلو پرے تهمت اولګولو چه په ده باندی یا برګے مرض دے او یا اودرو انداموسیٰ په سید دی . یو ځل ئے غُسل کاوو کښې جامے تربیه کیئے وکجټو لے او اوبو ... روان شو او فرمائیلے ثوبی حجر ثوبی حجر : نو بنی اسرائیلو ته معلومه شوه چه دا خو د ډیر ښائسته یید الشن والادے . پس بری کړه الله تعالیٰ د تهمت د هغوی نه . وګورئ بخاری ص۴۸۲ ج۱ ، م۵۸۰ مشکوٰة ص۵۰۸ ، الهام الرحمٰن ،

ص۴۳۲ کښې ګنړے حوالے دی ، فائده : د موسیٰ علیه السلام په کپړے لیسے لغړ تلل د مجبوری د وجے نه وُو او شاید دا خیال ئے هم نه وُو چه کپړه به جمع نه شی او او دریږی به او د کپړے دا حرکت په طور د خرق عادت وُو (عثمانی ص۵۶۳) علامه عینی رحمه الله لیکلی دی : لغړ لامبل د هغوی په شرع کښې جائز وُو او هرچه د موسیٰ علیه السلام

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَقُولُوا۟

اے ایمان والو ! او وېرېږئ د الله تعالیٰ نه : او وایئ

قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَٰلَكُمْ

وینا : نیغه ؛ نېک به کړي تاسو لره عملونه ستاسو ؛

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ

او بخښنه به وکړي تاسو ته ګناهونو ستاسو ؛ او چا چه تابعداري وکړه د الله تعالیٰ

وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾

او د رسول د هغه : پس یقیناً کامیاب شو په کامیابۍ لویې سره ؛

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَ

یقیناً وړاندې کړه موږ ؛ ذمه واري ؛ په اسمانونو ؛ او

ٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا

زمکه ؛ او غرونو باندې ؛ پس انکار یې وکړ د خیانت کولو په هغه کښې

وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ

او وېرېدل د خیانت نه ؛ او خیانت وکړه په هغه کښې انسان ؛

إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِّيُعَذِّبَ ٱللَّهُ

یقیناً دا دے ؛ ډېر ظالم او نا پوهه ؛ چه عذاب ورکړي الله تعالیٰ ؛

ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ

منافقانو سړو ؛ او منافقانو ښځو لره ؛ او مشرکانو سړو ؛

وَٱلْمُشْرِكَٰتِ وَيَتُوبَ ٱللَّهُ عَلَى

او مشرکانو ښځو لره ؛ او توفیق د توبې ورکړي الله تعالیٰ

ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ

مومنانو سړو ؛ او مومنانو ښځو لره ؛ او دے الله تعالیٰ ؛

غَفُورًا رَّحِيمًۢا ﴿٧٣﴾

بخښنه کونکے ؛ رحم کونکے ؛

حسبکم الله خاصۃ کښې لاصیل دو
نو د وجے د حیا نه دی او دا احتمال
هم لری چه په دوی باندې نوی نزے
دی الخ (عمدة القاري ص) .

الامانة : (حاشیه د دے ص) :
امانت داری ذمه واری : طاعت
شاه صاحب رحمه الله فرمائی : استعداد
تو مکلف کیدل د اوامرو او نواهیو
(موضح ص) ؛ فائده : ۱ - دے
ایت کریمه کښې اشکال دے چه
ظاهری معنی نے دا ده چه امانت
او طاعت انسان بار کړو نو بیا ولې
ظلوما وجهولا وئیلے دی ؟ جواب
دا دے چه دلته حمل په معنی د
خیانت دے او د انسان نه مراد
کافر او منافق دے . معنی دا
شوه چه خیانت پکښې وکړو الخ
وګورئ جواهر ص ، قرطبي ص
مدارک ص ، سراج منیر
ص ، قاسمي ص ، الهام
ص ، قرینه په دے مطلب
ختم جمله دے :
فائده : سورة په تخویف او
بشارت ختم شو . ❖ ❖ ❖

ختم شد یکم ربیع الاول ۱۴۲۸ھ
۲۱ مارچ ۲۰۰۷ء : ــــــ

نظر ثانی بروز یکشنبه ۳ ــ
ربیع الاول ۱۴۲۸ھ ؛ ۲۵ مارچ
۲۰۰۷ء بمقام مسجد ډبری پیر
(خاکی غفر له)
❖ ❖ ❖
❖ ❖

سورة سبأ: مکي سورت دے. په ترتیب کښې ۳۴ دے پس د سورة احزاب نه او په نزول کښې ۵۸ پس د سورة لقمٰن نه. وجه د تسمیه په سبأ سره په ۱۵ ایت کښې ده. ربط د سورة: ... څلورم حصه د قرآن پاک ...

(۳۴) سُورَةُ سَبَإٍ مَكِّيَّةٌ (۵۸) — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰياتها ۵۴ رکوعاتها ۶

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

هغه صفتونه ټول د اللہ دي هغه ذات لره چه هغه لره دي هغه څه چه په اسمانونو کښې دي

وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي

او هغه څه چه په زمکه کښې دي: او صرف هغه لره دي صفتونه دي: په

الْاٰخِرَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ① يَعْلَمُ

اخرت کښې: او هغه حکمتونو والا: خبردار دے: پوهیږي

مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا

په هغه څه چه ننوځي په زمکه کښې: او په هغه څه چه راوځي د زمکې نه:

وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاۗءِ وَمَا يَعْرُجُ

او په هغه څه چه راکوزیږي د اسمان نه: او په هغه څه چه ختلې شي

فِيْهَا ۭ وَهُوَ الرَّحِيْمُ الْغَفُوْرُ ② وَقَالَ

په اسمان کښې: او هغه رحم کوونکے: بخښونکے دے: او ووئيل

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِيْنَا السَّاعَةُ ۭ قُلْ

هغه کسانو چه کفر ئې کړے دے: نه راځي مونږ ته: قیامت: ووایه ته

بَلٰى وَرَبِّيْ لَتَاْتِيَنَّكُمْ ۙ عٰلِمِ الْغَيْبِ ۙ

ولې نه؟ قسم دے په رب زما: ضرور خامخا راتلونکې ده تاسو ته: پوهه دے په غیبو:

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي

نشي پټیدلے د هغه نه په اندازه د ذرې: په

السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَلَآ اَصْغَرُ

اسمانونو کښې: او نه په زمکه کښې: او نه ډیر وړوکے

مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

د دے نه: او نه لوئے: مګر په کتاب:

منزل ۵

تر اخره پورے: په دے کښې پوائیات سورتونه دي: شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چه په دے کښې نفي د شفاعت قهري او احوال د قیامت دي تر څو الفتح د څه سورتونو د څلورم حصه په الحمدلله سره شروع کړې ګویا که تحمید اول د پاره د افتتاح د مقصد اول او دویم د پاره د دویم دے. اصطلاحي: دعوی: نفي د شفاعت قهري ده په دفع د شبهو: یعنې رد د هغه څلورو کارونو چه ربوبیت ئې شرک ته منتج: ربطونه: (۱) مخکښې سورت کښې مثالونه وو د پاره د نفي د شفاعت قهري نو دلته ئې نفي ده په دفع د شبهاتو: (۲) مخکښې ترغیب وو اطاعت د رسول الله ﷺ ته نو دلته ترغیب د توحید ته دے: (۳) مخکښې سورت ختم شو په تخویف د منکرانو او منافقانو نو دلته ئې وجه بیانوي چه توحید نه مني: (۴) مخکښې سورت ختم شو په بشارت نو دلته هم په ګڼو کښې بشارت دے: (۵) دریمه حصه ختمه شوه نو شروع وشوه په څلورمې حصه کښې. فائدې: تر اخره پورے څلور بابونه دي په اول باب کښې دوه سورتونه دي: سبأ، فاطر، یٰس: خلاصه: دے سورة کښې دوه بابونه دي: اول تر ۲۱ پورے دویم تر ۵۴ پورے، دویم تر اخره پورے په اولني باب کښې پنځه خبرے

دي: (۱) دعوی د توحید او په هغه دوه دلائل دي (۲) زجر په انکاره اخرت ۷ (۳) بشارت ۱۰ (۴) تخویف دنیوي او اخروي ۱۴ (۵) نقلي دلیل د اهل علمو نه ۲۱: الحاصل اثبات د څلورو اصولو او زجر او تخویف نه منونکو لره: (۱) توحید (۲) قیامت (۳) صداقت د قرآن (۴) صداقت ...

مُبِينٍ ﴿۳﴾ لِّيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
روښانه کښی دی : د پاره د دې چه جزا ورکړي الله هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړے او عملونه ئې کړي
الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ
نیک : دغه کسان : د دوئ د پاره بخښنه ده : او رزق
كَرِيمٌ ﴿۴﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا
عزتمند : او هغه کسان چه کوشش کوي : په ایتونو زمونږ کښی
مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّن
مقابله لرونکی : دغه کسان : د دوئ د پاره عذاب دے : د سخت
رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴿۵﴾ وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ
عذاب درد ناک : او ګوري دا هغه کسان چه ورکړے شوے دے هغوي ته علم
الَّذِي أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ هُوَ
په هغه کتاب چه نازل کړے شوے تاته : د ربه ستا نه : هغه
الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ
حق دے : او ښودنه کوي : لارے د زور اور : ستا یلي شوي
الْحَمِيدِ ﴿۶﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ
ذات ته : او وائي هغه کسان چه کفر ئې کړے دے : ایا
نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ
وښايو مونږ تاسو ته : داسے سړے چه خبر درکوي تاسو ته : کله چه ټوټے ټوټے شئ
كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿۷﴾
په پوره ټوټے کیدو سره، یقینًا تاسے به خامخا په پیدائش نوي کښی یئ
أَفْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَم بِهِ جِنَّةٌ
ایا تړی دے په الله تعالیٰ باندې دروغ (قصدي) یا په ده باندې لیونتوب دے
بَلِ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ
بلکه هغه کسان چه ایمان نه راوړي : په اخرت :

منزل ۵

د رسول علیه السلام ت : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ : دا شلورم سورت دے د قرآن کریم نه چه په سر کښی ئې دعوٰی د توحید په لفظ د الحمد لله سره راغلے ده، په سلسله کښی عقلی دلائل : چه کوم ځائونو بیول شیونه او د زمکے بیول شیونه صرف صرف د هغه په قبضه او قدرت کښی او په اخرت کښی هم، تسلی رحمه فرمائي : عقلی رملیکا وَ قرمزا فان حقیقت باتی الحمد سره وجهی (مارک حرم) ذکر ری سورة اسراء ۴۴ او سورت زمرت ۴۴ : يَعْلَمُ مَا يَلِجُ : پوهیږي الله تعالیٰ په هغه چه ننوځي په زمکه کښی لکه اوبه، تخم هری مالونه : وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا : او هغه چه راوزي د زمکے نه لکه نونه اوبه، بوټي وغیره : وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاءِ : او هغه چه نازلیږي د بره نه لکه ملائک، وحی، باران ګلئ وغیره : وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا او هغه چه ختلي ځي بره اسمان ته لکه ملائک، نیک عملونه دعا ګانے پاکے کلمے د نیکانو روحونه وغیره : وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا : دا ورو ده په نه منلو د قیامت باندې : فائده : حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا ایت یو د هغه دریو ایتونو نه دے چه څلورم نشته چه الله تعالیٰ امر کړے خپل رسول الله ﷺ ته چه قسم وکړي په خپل رب عظیم باندې په واقع کیدو د قیامت باندې وغیره : فائده : شیخ القرآن فرمائي دي چه د دغه ایت نه علت بیا کړي حکمه چه د واقعاتو نه دے چه مزدور مزدوري کوي نو هغه ته د عمل مزدوري ورکولے شی او انبیاء علیهم السلام بیان کړے دے او نیکانو پرے عمل کړے دے او سختئ ئې برداشت کړي دي نو ضرور به یوم الجزاء به راځي . (عقد الدرین ۱۶۱) ۞ ۞ ۞ وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ : (حاشیه د الطوکي نمبر ۲۲۲) : د دے ځائے نه تر ۲۲ پورے دریم باب دے په دې کښی څلور خبرے دي : (۱) نقلی دلیل د داؤد او سلیمان علیهما السلام نه : (۲) حال د جناتو، بس تخویف دنیاوي، او قصه د سبا او نو ۱۵ : (۳) او علاوت د شیطان ۲۰ : شیخ القرآن رحمه الله

دبگیه د وشه محوئ، فرمائی ، د حضرت داؤد او سلیمان علیهما السلام معجزې ذکر کړی چه دوی د نبوت سره باچاهان
هم ؤو. د شاه فورشیو رحمه الله فرمائی ، دا د اولې شبهې جواب دے چه داؤد علیه السلام بیشکه پیغمبر ؤو او معجزات
ورسره ؤو

فِي الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيدِ ﴿٨﴾ أَفَلَمْ
په عذاب کښې دي : او په ګمراهئ لرې کښې : ایا پس نه

يَرَوْا إِلٰى مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ
ګوري دوی: هغه شي ته چه مخکښې د دوی نه دي: او هغه شي ته چه روستو د دوی نه دي

مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ إِن نَّشَأْ نَخْسِفْ
چه اسمان : او زمکه ده ، که چیرې وغواړو مونږ : ننوځو به کړو و

بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا
دوی لره په زمکه کښې : او یا به راغورځوو مونږ په دوی باندې : ټکړې

مِّنَ السَّمَاءِ ۚ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً
د بره نه : یقیناً په دے کښې : خامخا نښه ده :

لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوُودَ
د هر بنده رجوع کوونکي د پاره : او یقیناً ورکړے وو مونږ داؤد ته

مِنَّا فَضْلًا ۖ يٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ ۖ
د طرف د خپل نه بهتري : اے غرونو : تسبیح وایئ د دهٔ سره : او اے مرغوا

وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ اعْمَلْ
او نرم کړے وو مونږ د دهٔ د پاره : اوسپنه : چه جوړوه :

سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ ۖ وَاعْمَلُوا
زغرې : او اندازه کوه په یو ځائے کولو د کړو کښې : او عمل کوئ

صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾ وَ
نیک : یقیناً زهٔ په هغه عملونو چه تاسې کوئ : لیدونکے یم : او تابع کړے وو

لِسُلَيْمٰنَ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّ
مونږ سلیمان لره : باد لره : تلل د سحر د هغهٔ په قدر د میاشتې ؤو : او

رَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ
تلل د ماښام د هغهٔ په قدر د میاشتې ؤو : او بهیولے مونږ د هغهٔ د پاره : چینه د تانبې :

ع ۲ ... ۱۴

الله تعالیٰ د هغه په لاس بکاره کړی وو. خو هغه متصرف او برکت ورکوونکے نو په الله تعالیٰ باندې غالب نه وو. شرافت هغه له ډیر ورکړے وو، غرونه او مارغان ما د هغه تابع کړی وو چه هغه به تسبیح ویله نو غرونو او مارغانو به هم تسبیح ویله او اوسپنه ما نرمه کړے وه. (افضل التراجم ص ۵۹۵)، اَوِّبِي: امر دے تسبیح وائی د دهٔ سره (الغریب ص ۳۵۳) وَ الطَّيْرَ: دا عطف دے په محل د جبال سخن دا شو چه او اے مرغونو تسبیح وائی د دهٔ سره (فتح القدیر ۳/۳۷) وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيحَ: او تابع کړے وو مونږ سلیمان علیه السلام لره باد. غُدُوُّهَا شَهْرٌ: حسن بصری رحمه الله فرمائی چه سلیمان علیه السلام به سحر په تخت روان شو د دمشق نه نازل به شو په اصطخر باندې او ناشته به ئے هلته وکړه او ماښام به روان شو د اصطخر نه پس شپه به ئے تیره کړه په کابل کښې. (ابن کثیر ص ۲۷۹ ج ۳) او قرطبی ج ۱۴ ص ۲۲۹) د میاشتې منزل دے. یعنی د دمشق او اصطخر په مینځ کښې د میاشتې مزل وو او د اصطخر او کابل په مینځ کښې هم د میاشتې مزل وو. عَيْنَ الْقِطْرِ: چینه د تانبې یعنی تانبه به مثل د اوبو د چینې بهیدل. او د هغې نه به ئے زیاره د ابادئ وغیره به ورانې د ویلې کیدلو ضرورت نه وو او دا هم معجزه وه (احسن ج ۳ ص ۲۳۱)

دا د دویم اعتراض جواب دے چه بیشکه سلیمان علیه السلام لوئے باچا وو خو متصرف او برکت ورکوونکے او په الله تعالیٰ باندې غالب نه وو، هوا او ورله ما تابع کړے وه او چینه د تانبې ورکړه ما او پیریان ورله ما تابع کړی وو. (افضل التراجم ص ۵۹۶) ❊ ❊ ❊

وَمِنَ الْجِنِّ: او تابع کړي وو موږ ده ولره د پېريانو نه هغه څوک چه عمل (محنت) يې کولو مخې ته (ده لګ ضيم)
وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا، او څوک چه به کوږ شو ودوي نه د حکم ځما نه. فائده: آمر د سليمان عليه السلام امر د الله دے

وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ
او د پېريانو نه : هغه څوک چه عمل يې کولو : مخې د ده ته :

بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ
په حکم د رب د هغه : او څوک چه کوږ شي د دوی نه : د حکم

اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ ﴿١٢﴾
ځمونږ نه : او به څکوو هغه ته : د عذاب د اور لمبو والا نه :

يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ
جوړول به دوی هغه له چه به هغه غوښتل : د قلاګانو نه :

وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَ
او د نقشونو نه : او کاسو (غانګونو) نه : پشان د حوضونو : او

قُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ۭ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ
دېګونو کېنتو نه : ولاړ په ځاې خپل : عمل کوئ : اے اولاده د داؤد

شُكْرًا ۭ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿١٣﴾
د شکر : او لږ دي : د بندګانو ځما نه : شکر کوونکي :

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ
پس کله چه فيصله وکړه مونږ : په هغه باندې د مرګ : نو ونه ښودلو دوی ته

عَلٰي مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ
په مرګ د هغه : مګر ونيته : د زمکې : چه خوړله يې

مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ
همسا د هغه : پس هر کله چه راپرېوتو : ښکاره شو حال د پېريانو

اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا
چه که دوی چه پوهيدے : په غيبو باندې : ونه به پاتې کيدے

فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿١٤﴾ ۭ لَقَدْ كَانَ
په عذاب : خوارونکي کښې : يقيناً : وو :

ده . د عذاب السعير نه مراد اور د جهنم مراد په دنيا کښې چه ملائک په دے جنانو مقرر وو چا چه به د حکم د سليمان عليه السلام نافرماني وکړله نو د اور په چابک باندې به وهلو: ليکن اکثر مفسرين رحمهم الله فرمائي چه ددے نه د آخرت عذاب مراد دے. د کور دې څواهر شتا ١٥٥ : محاريب: عاليشان محلات: تماثيل: په ديوالونو باندې نقش او نګار. (جواهر شتا ١٥٥) اَلمَذَاق جناب مفتي صاحب رحمه الله ولسته شرح نيکلے ده: د پېريانو د مسخر کولو مسئله: د پېريانو د مسخر کولو چه په دے ځاې کښې ذکر شوے شو دا د الله تعالى په حکم مسخر وو نو په دې کښې څوک سوال نه کيږي او د بعض صحابه کرامو متعلق چه کوم روايات کښې دي چه پېريان د هغوی مسخر او تابع وو نو دا تسخير هم ددے قسم تسخير باذن الله وو چه په طور د کرامت دے حضراتو ته ورکړے شوے وو. په دې کښې د څه عمل او د وظيفې دخل نه وو څنګه چه شربيني رحمه الله خپل تفسير سراج منير کښې ددے آيت لاندې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه، ابي بن کعب، معاذ بن جبل، عمر بن الخطاب، ابو ايوب انصاري، زيد بن ثابت وغيره متعدد واقعات نقل کړي دي چه د هغوی سره چه پېريانو به د دوی اطاعت او خدمت کولو مګر دا بول محض د الله تعالى فضل او کرم وو چه د سليمان عليه السلام په شان غير پېريان د دوی مسخر کړي وو. (معارف القرآن)

بيا هغوی د عمليانو په خوله د پېريانو د مسخر کولو مسئله په ١٣٦ کښې ليکلے ده. آخر کښې بطور خلاصه فرمائي چه خلاصه دا ده چه د پېريانو مسخر کيدل لکه د چا د پاره بغير د قصد او عمل محض د جانب د الله تعالى نه وشي لکه سليمان عليه السلام او د بعض صحابو متعلق ثابت دي نو دا خو معجزه يا کرامت کښې داخل دي او کوم تسخير چه د عمد

مسه عملیا تو په وجه کبیری گڼړے پوه شي کښ د کفر کلمے یا د کفر مشعور دي لو کفر او کله صرف په گناه مشتمل وي منو
گناه کبیره ده او چه په کوم عملیاتو کښے الفاظ استعمالوے شي چه د هغو معنے معلومه نه وي د فوته فقهاؤ کرامو په گ

لِسَبَإٍ فِىْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ
وَ یاره وسبا لره په ځائے د اوسیدو د هغوی کښے نښه : باغونه دوه : د ښی

يَّمِيْنٍ وَّ شِمَالٍ ۬ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ
طرف او گس طرف نه : خورئ : د رزق د رب خپل نه

وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ
او شکر وباسئ هغه لره : ښار پاکیزه دے ، او رب

غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ
بخښونکے دے پس مخ وا ړولو دوی نو را ولیږلو موږ په دوی باندې سیلاب

الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ
د بند ترې شوي او ورکړل موږ دوی ته په بدل د باغونو د دوی کښې : نور باغونه :

ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّ اَثْلٍ وَّ شَيْءٍ
خاوندان : د میوے بے مزے : او غزان : او یو قسم :

مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ﴿۱۶﴾ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا
د بیرو : لږ نه : دغه سزا ورکړه موږ دوی ته په سبب د

كَفَرُوْا ؕ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾
کفر کولو د دوی : او دا سزا نه ورکوو موږ : مگر هغه ناشکره ته :

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ
او گرزولي وو موږ : په مینځ د دوی او په مینځ د کلو : هغو کښې چه

بٰرَكْنَا فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا
برکت اچولے وو موږ په هغو کښې : کلي : ښکاره : او اندازه کړے وو موږ

فِيْهَا السَّيْرَ ؕ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَاَيَّامًا
په هغو کښې : مزل : ځئ راځئ په هغو کښې : په شپو : او ورځو کښې :

اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ
امن والا : پس و ویل دوی : اے ربه زمونږه ! لرے واچوه لرے په مینځ

بناؤ کولو ورکړے دي چه کیسه نے چه په دغو کښې د کفر او شرک یا په گناه مشتمل کلمے وي ...... او کله د تسخیر عمل العمل د اسماء الهیه او قرآني آیتونو په ذریعه وي او په دیکښې د نجاست استعمال وغیره د معصیت عمل نوي نو په دے شرط سره جائز دي چه مقصود د دے نه یو او د ضرر رسه خان یا نورو مسلمانان بچ کول وي یعنی دفع د مضرت مقصود وي نه جلب د منفعت الخ : ما دَلَّهُمْ عَلىٰ مَوْتِهٖٓ : دا د دریم شبهے جواب دے چه جنات په غیب خبر نه دي . د سلیمان علیه السلام د مرگ نه خبر نه شو تر هغه پورې حاجت پوره کړي یا په الله تعالیٰ غالب شي . (انفس خلاف) دوم سبب دا وو چه سلیمان علیه السلام چه د جناتو په ذریعه د بیت المقدس بناء کول آغاز وه او باندي د هغې په ژوند کښې ختمه شوه لیکن د هغه د اکمال او اتمام باره کښې خپل د ډیر پانویلے وو نو هغه د الله تعالیٰ نه دعا وکړه چه خپل مرگ د جناتو نه پو کال پورے پټ وساتے د پاره د دے چه دا کار پوره کړي څنگه چه هغوي د سلیمان علیه السلام د ویرے نه کار روانه کول (اسرار) تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ : ښکاره شو پیریان خلقو ته یعنی واضح او گرځیدے دوی په غیب پوهیدلے . تسهیل (ص۱۴) کښې دي چه ان لو کانوا بدل دے د الجن نه . لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ : دا د عذاب دنیا وي بیان دے

(انفس ۳۲۵) ربط :- هر کله چه الله تعالیٰ بیعلیٰ حال د بعض شکر کوونکو د نعمتونو د هغه ذکر کړو نو وروستے ذکر د حال د بعض منکرینو د نعمتونو د هغه (شوکانی ص۲۰۷) . دا د عضر د قبیلے قوم وو چه نوم نے عبد شمس بن یشجب بن یعرب بن قحطان وو ، ذکر کړے دے ابن کثیر ص۱۵۷ . دا قوم د یمن لوئے دولتمند او د اقتدار والا قوم وو چه سوړو نو

ملګرو نو پورے بنځے ورځا واو جلال پرو حکومت کولو (عثماني ؒ) بَلْ كَافِيَّةً: د اکلام مستانفه دے یعنی دا
بنا ر مزید ارد ے هیوے پښن و په وي: بنورۀ نه وے ؛ زهرېله شیونه پکښ نشته وے او نه د چه هوا

أَسْفَارِنَا وَظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ فَجَعَلْنَاهُمْ
د سفرونو زمونږ ښ ؛ او ظلم وکړو دوي په ځانونو خپلو ؛ نو وګرځول مونږ دوي لره ؛

أَحَادِيثَ وَمَزَّقْنَاهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۚ إِنَّ
قصے د عبرت ؛ او ټس ټس کړل مونږ دوي لره په ټس ټس کولو سره ؛ یقیناً

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿١٩﴾
په دے کښې خامخا نښے دي ؛ د پاره د هر ډیر صبر کونکي ډیر شکر کونکي ؛

وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ إِبْلِيسُ ظَنَّهُ
او یقیناً رښتونے کړو په دوي باندے شیطان ګمان خپل ؛

فَاتَّبَعُوهُ إِلَّا فَرِيقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٠﴾
پس تابع شو دوي د هغه ؛ مګر یوه ډله ؛ د ایماندارو نه ؛

وَمَا كَانَ لَهُ عَلَيْهِم مِّن سُلْطَانٍ إِلَّا
او نشته د هغه د پاره په دوي باندے هیڅ غلبه ؛ مګر د پاره د دے چه

لِنَعْلَمَ مَن يُؤْمِنُ بِالْآخِرَةِ مِمَّنْ
چه معلوم کړو مونږ ؛ هغه څوک چه ایمان راوړي په اخرت ؛ د هغه چا نه چه

هُوَ مِنْهَا فِي شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلَىٰ كُلِّ
هغه د دے نه ؛ په شک کښې وي ؛ او رب ستا ؛ په هر

شَيْءٍ حَفِيظٌ ﴿٢١﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ
شي باندے ؛ حفاظت کونکے دے ؛ ووایه را وبلئ ؛ هغه کسان چه

زَعَمْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ ۖ لَا يَمْلِكُونَ
خیال کوئ تاسو چه معبودان دي سوا د الله تعالیٰ نه ؛ واک اختیار نه لري ؛

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ
په اندازه د ذرے ؛ په اسمانونو کښې ؛ او نه په زمکه کښې ؛

وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِن شِرْكٍ وَمَا لَهُ
او نشته د دوي لره په دواړو کښې ؛ هیڅ برخه ؛ او نشته د الله تعالیٰ لره

ذوقه نه: مجاهد ؒ وائي چه واصف وه ؛ وګورئ قرطبي ؒ. مفسرينو ويلي دي چه دا د صنعاء يمن نه وریے فرسخه لرے مارب مقام ته نښائي محققینؒ ويلي دي چه د هغه علاقے او صحرا د نه صنعاء ته نږدے وه. (احسن ؒ) فَاَعْرَضُوْا: دا سبب د عذاب وے. حافظ ؒ فرمائي چه هغوئ ورانه والوته توحید د الله تعالیٰ نه او د عبادت د الله نه او د شکر د الله تعالیٰ نه په هغه نعمتونو چه په دوي لے کړي وو. او تیاو زے کرے وو عبادت د نمر ته سوا د الله تعالیٰ نه (ابن کثیر ؒ) وګورئ سورة نمل ۲۴. سَيْلَ الْعَرِمِ: پس را ولیږلو مونږ په دوي باندے سیلاب د بند. (عثماني ؒ) چه نن صبا ورته د پیسے ویلے شي. (معارف ؒ) دا ذکر د عذاب وے یعنی دوي پرلو لے بند جوړ کړے وو په هغه کښ لے باران اوبه یا کړو سیند اوبه جمع کړے وے او د هغے نه نهرونه جدا کړے وو. په هغے سره باغونه فصلونه او پټی لول او د دیته وسیم ویلے کیدي ی نو هغه بند (دیوال) هیش سوری شو او بند مات شو او بیا د سیلاب په طور د دوي په باغونو او ابادو باندے راغلے او هر څه د عذاب الهي وو نو هغه اوبو کښ زهر یلی مار د هم پیدا شو هغه باغونه لے بیکاره کړل او د هغو د میوو نه خوړو والے ختم شو او بے خوندہ شو. (احسن ؒ) وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ: دا دوه قسمه دي یوته بېره ؒ وپلے کیږي ؒ د هغے میوه کړکڅنه دي او بل قسم تنجاره و ویلے کیږي. په هغے کښ ازغي زیات وي او دانے پکښ نه وي یا بیکاره وي او په صحرا کښ وي. دلته دا روسته قسم مراد دے او هغه هم ډیرے لږے وے ځکه چه شَيْءٍ او قَلِيلٍ دواړه په لږ والي دلالت کوي. (احسن ؒ) فَائِدَہ: په ۱۵ ایتکښ تفصیلاً عرض شوے دے او د جزاء نه مراد د هغه

مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ

ذوی نه: څوك مدد ګار: او نه فائده رسوی: سفارش:

عِنْدَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ حَتَّىٰ إِذَا

په نزد د الله: مګر هغه چا ته چه اجازت ورکړی هغه ته: تر دی پورې چه کله

فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ

لرې کړې شی ویره د زړونو د دوی نه: وبه وائی دوی: څه وویلی دی:

رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾

رب ستاسو: وبه وائی هغوی ویلی دی حق او الله تعالیٰ اوچت او لوئی دے:

قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاوَاتِ وَ

ووایه څوك رزق درکوی تاسو ته: د اسمانونو: او

الْأَرْضِ قُلِ اللَّهُ وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ

زمکې نه: ووایه الله تعالیٰ: او مونږ او یا تاسو:

لَعَلَىٰ هُدًى أَوْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿٢٤﴾ قُلْ

خامخا په هدایت باندې یو: او یا په ګمراهئ ښکاره کښې: ووایه

لَا تُسْأَلُونَ عَمَّا أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْأَلُ

تپوس به نشی کیدے ستاسو د هغه څه چه جرم کړے مونږ: او تپوس به نشی کیدے زمونږ نه

عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٥﴾ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا

د هغه عملونو چه تاسې کوئ: ووایه جمع والے به وکړی په مینځ زمونږ کښې رب زمونږ:

ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ

بیا به فیصله وکړی په مینځ زمونږ کښې په حقه سره: او الله تعالیٰ ښه فیصله کوونکے

الْعَلِيمُ ﴿٢٦﴾ قُلْ أَرُونِيَ الَّذِينَ أَلْحَقْتُمْ

پوهه دے: ووایه را اوښایئ ماته هغه کسان چه پیوسته کړی تاسو

بِهِ شُرَكَاءَ كَلَّا بَلْ هُوَ اللَّهُ الْعَزِيزُ

د الله سره شریکان: هیڅ نشو کیدے: بلکه الله تعالیٰ زورور:

عذاب ورکړی شو. په دغه ایت کښې د بل انعام ذکر دے او د هغوی د ناشکرئ په وجه د عذاب بیان دے.

فَقَالُوا رَبَّنَا بَاعِدْ: امام قرطبی رحمه الله فرمائی هر کله چه مست شو او سرکشی ئې وکړه او سفر کښې د ښورو راحت نه او صبر ئې ونکړو په عافیت نو ارزو ئې وکړه د اوږدوالی د سفر او د مشقت په معیشت کښې لکه چه بنی اسرائیلو وکړی وه (رد البقره) (قرطبی ۱۴/۲۸۹) په دی ایت کښې فرمائی چه اعراض او ناشکری پرے وکړے د متابعت د شیطان سره ئې وکړه. وګورئ اعراف ۱۷، حجر ۳۹، اسراء ۶۲. نسلی ښکاره

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ ۲۲: دی ځائی نه تر اخره پورې دریم باب دے. په دی کښې لس خبرې دی اول بند والے د هغه طریقو دے چه رسیږی شرك ته چه معبود یا مالك وی او یا شریك وی د مالك سره او یا امداد د هغه وی او یا زورور وی په هغه باندې او وانتول منتفی دی د مخلوق نه او سفارش ازی په اذن سره او دریم ځواب د ملائکو دے ۲۳: بیا دلیل عقلی دے په توحید کښې: بیا اثبات د رسالت دے په دغه کښې: او صداقت د قران دے ۳۱: او اثبات د قیامت دے په ما بین د دواړو کښې سره د زجرونه په مینځ کښې او تخویف د اخروی مشرکینو دکا د دوی نه ۳۲: تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم لره ۳۴: زجر مسرفینو ته دے او اهانت د دنیا ۳۷: دلائل عقلیه بیا توحید دے د ملائکو نه او نفی د شفاعت قهری ده ۴۱: او زجر منکرینو د رسالت لره او د قران او اخرت لره: پس اول سره د سورت په اثبات د خلورو مقاصدو کښې دے او زجر دے منکرینو د هغو لره او دغه رنګ اخر سره د سورت دے. (احسن الربط ۹۵-۹۶)

فائده: دا د څلورم شبهې جواب دے چه ملائك متصرف نه دی او نه په الله تعالیٰ باندې غالب دی یعنی مالکان نه دی د ذرې: او شریك هم نه دی او مخلوق سره په تصرف کښې مددګار هم نه دی او شفاعت

سره یعنی الله تعالیٰ بانډې غالب وی. (افضل ۹۹۵) فائده: امر د پاره د تو بیخ دی. (جواهر ۹۶)
فائده: والله ارشاد دی د هیڅ شی په مستقل طریقې سره او نه په طریقه د شرکت سره (ابن کثیر ...)

الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً
حکمتونو والا دے : او نه یو لیږلی مونږ تا لره : مګر د ټولو

لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ
خلقو د پاره : زیری ورکوونکے او وېروونکے : او لیکن : زیات

النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ
د خلقو نه : نه پوهیږی : او وائی دوی : کله به وی

هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٩﴾
دا : وعده : که چرې یئ تاسې : رښتونی

قُل لَّكُم مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ
و وایه تاسو لره : وعده مقرره د یوې ورځې ده : چه نشئ روستو کیدے تاسو

عَنْهُ سَاعَةً وَلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾ وَ
د هغې نه : یو ساعت : او نه مخکښې کیدے شئ تاسو : او

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن نُّؤْمِنَ بِهَٰذَا
وائی هغه کسان چه کفر ئې کړے : هیچرې ایمان نه راوړو به : دې

الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ
قرآن : او نه په هغه کتاب کوم چه مخکښې د دې نه وو

وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ
او که ته ووینې : کله چه ظالمان : ودرولی شوی وی

عِندَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَىٰ
په نزد د رب د دوی : واپس کوی به : بعض د دوی نه : بعضو

بَعْضٍ الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا
ته : جوابونه : وائی به هغه کسان چه کمزوری ګڼلی شوی وو

لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنتُمْ لَكُنَّا
هغه کسانو ته چه لوئی ئې کړې وه : که چرې نه وی تاسو : ضرور وے به مونږ

ومن ظهیر: (حاشیه د تیر مخ صفحه ۴۸) : خو الله امداد چه امداد ورسره وکړی په تدبیر د مخلوق د هغه کښې (مدارک ۳۳۲). ولا تنفع الشفاعة نفی د شفاعت قهریه ده (اګاه ۵۵، بقره، عشا طه، مکث مریم). حتی اذا فزع: تردې چه لرې کړې شی ډار د زړونو وییره (ابن کثیر ۳/۵۳۶) د دما قبل نه ترقی ده یعنې د فرښتو د زړونو سفارش کیدل یو طرفته پریږده هغوی چه د الله حکم واوری نو زړه پیږی د هیبت نه (جواهر ۹۶۰)
فائده: د باری تعالیٰ د ډیرې لوئې قدرت او هیبت دے چه کله یو حکم وکړی نو د اسمانونو مخلوق ورپیږی او بې هوښه شی ترد چه دوی کله په خود شی نو کوز صلاتک ستپوس وکړی د برو چه مولیٰ څه حکم صادر کړو. نو هغوی ورته وائی چه فلانی حکم وشو نو د داسې لوئی بادشاه په دربار کښې څوک به د اذن د هغه نه خلاف شی بیرته کولے (افضل ۹۹۵) —
فائده: په ۴ کښې الزامی عقلی دلیل ذکر کړی په آخر کښې نے طریقه د تبلیغ ده. په ۵ کښې دویمه په ۶ کښې دریمه طریقه د ۷: په ۸ کښې ثمره ده

په ۹ کښې پس د اثبات د توحید نه اثبات د رسالت دے ❊ الا کافة للناس (حاشیه د دے مخ): عکبری رحمه الله فرمائی چه کافة د ارسلناک مفعول په د حال دے او ها زیاته ده

مُؤْمِنِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا
مؤمنان : وبه وائي هغه کسان چه لوئي ئې کړې وه :
لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ
هغه کسانو ته چه کمزوري ګڼلي شوي وو : آيا مونږ منعه کړي وئ تاسو لره
عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ
د هدايت نه : پس د هغه نه چه راغلې وو تاسو ته ؛ بلکه
كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ
وئ تاسي جرم کوونکي : وبه وائي : هغه کسان ، چه
اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ
کمزوري ګڼلي شوي وو : هغه کسانو ته چه لوئي ئې کړې وه : بلکه
مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ تَأْمُرُوْنَنَآ اَنْ
فريب ستاسو وو په شپه او ورځ کښې : کله چه امر کولو تاسو مونږ ته : چه
نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ۭ وَ
کفر وکړو مونږ په الله تعالیٰ : او وګرځوو : هغه لره حصه داران : او
اَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۭ
پټه به کړي دوی : پښيماني : هر کله چه وويني دوی عذاب لره :
وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ
او وابه چوو : طوقونه : په څټونو د هغه کسانو کښې چه
كَفَرُوْا ۭ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا
کفر ئې کړی : بدله نشي ورکولې دوی ته ، مګر د هغه عملونو چه دوی
يَعْمَلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ
کول : او نه دی رالیږلي مونږ : په هيڅ يو کلي کښې :
مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا
ويروونکے : مګر ويلي به مالداراانو د هغه : يقينًا مونږ

ځه شوے وه د صباځې د پاره او للناس متعلق ځه په ده پوره دے ، معنیٰ ئې دا شوه او رسولي نړدے ليږلے تا لره مګر منعه کوونکے خلقو لره د کفر او ګناهونو نه (املاء ١٩٥/٢) ... دويمه توجيه دا ده چه دا په معنیٰ د عامة او جميعًا دے : او د الناس نه حال دے مخکښې شوے د پاره د اهتمام ، معنیٰ دا شوه او نه دے ليږلے مونږ تا لره مګر د پاره د خلقو عامو ، ټولو : وګورئ سراج منير ٣٢٣ ج ٣

فائدة :- په ٣١ کښې زجر دے منکرينو د قيامت لره ، په ٣٢ کښې ئې جواب دے : په ٣٣ کښې زجر دے منکرينو د کتابونو لره او تخويف دے او بيا تبرّي ذکر ده د مشرانو او د کشرانو د يو بل نه : ولو ترى ٣١ : جواب ئې محذوف دے لرايت حالا فظيعة وامرًا منكرًا (سراج منير ٣٢٣ ج ٣)

بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٣٤﴾ وَقَالُوا۟

په هغه څه چې تاسو لېږل شوي یئ په هغه؛ کفر کوونکي یو ؛ او وايي دوی

نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا وَمَا نَحْنُ

مونږ ؛ ډېر یو په مالونو ؛ او په اولادونو ؛ او نه یو مونږ ؛

بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ

عذاب کړے شوي ؛ ووايه يقيناً رب زما ؛ فراخوي ؛

ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

روزي ؛ چا لره چې وغواړي ؛ او تنګوي يې ؛ او لاکن زياتر

ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَآ أَمْوَٰلُكُمْ

د خلقو نه ؛ نه پوهيږي ؛ او نه دي مالونه ستاسو ؛

وَلَآ أَوْلَٰدُكُم بِٱلَّتِى تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا

او نه اولاد ستاسو ؛ په داسې طريقه چې رانږدې کړي تاسو ؛ په نزد زمونږ

زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا

په نږدېکت سره ؛ مګر هغه څوک چې ايمان يې راوړے ؛ او عمل کوي نېک ؛

فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ ٱلضِّعْفِ بِمَا

پس دغه کسان ؛ دوی لره بدله ؛ دو چنده ده ؛ په سبب د هغه څيز

عَمِلُوا۟ وَهُمْ فِى ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴿٣٧﴾

چې دوی کړي ؛ او دوی به په بالاخانو کښې ؛ امن والا وي ؛

وَٱلَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ

او هغه کسان چې کوشش کوي ؛ په آيتونو زمونږ کښې ؛ مقابله کوونکي ؛

أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ

دغه کسان به په عذاب کښې به حاضر کړے شوي وي ؛ ووايه

إِنَّ رَبِّى يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ

يقيناً رب زما فراخه کوي ؛ روزي ؛ چا لره چې وغواړي ؛

ع
١٠

عسه وګورئ ص٣٢ اعراف ،
ص٤٢ قصص ، ص٢٧ ابراهيم ،
فائدة :- په ص٣٣ کښې
زجر دے په انکار د
رسالت باندې ، په ص٣٦
کښې دوېم جواب دے
او نيکانو لره بشارت دے ؛
په ص٣٨ کښې تخويف دے
په ص٣٩ کښې دوېم جواب
دے


مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۚ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ
دَ بندګانو خپلو نه ؛ او تنګوي ، هغه لره ؛ او هغه چه خرج کړئ تاسو
مِّنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَيْرُ
دَ هر قسمه شي نه ؛ پس الله تعالیٰ عوض به ورکوي دَ هغه ؛ او الله تعالیٰ غوره
الرّٰزِقِيْنَ ﴿٣٩﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا
رزق ورکوونکو دے ؛ او کله چه راجمع کړي الله ټول دوی لره ؛ بیا به
ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ
ووائی ملائکو ته ؛ ایا دا هغه کسان دی چه تاسو لره
كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ ﴿٤٠﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَكَ اَنْتَ
دوی عبادت به ئے کولو ؛ وبه وائی ملائک پاکی دے تا لره ؛ ته
وَلِيُّنَا مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ
کارساز زمونږ ئے بیرته دوی نه ؛ بلکه دوی دوی به بندګی ئے کوله
الْجِنَّ ۚ اَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُّؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ
دَ پیریانو ؛ زیات دَ دوی نه په هغوی باندې عقیده لرونکي وو ؛ پس نن ورځ
لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا
نه دی واکدار ؛ بعض ستاسو نه ؛ دَ پاره دَ بعض دَ څه نفع ؛ او نه
ضَرًّا ۗ وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا
دَ څه ضرر ؛ او وبه وایو مونږ هغه کسانو ته چه ظلم ئے کړے وو ؛ وڅکئ
عَذَابَ النَّارِ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿٤٢﴾
عذاب دَ اور ؛ هغه چه وئ تاسو ؛ په هغه باندې تکذیب کوونکي
وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا
او کله چه لوستلے شي ؛ په دوی باندې ؛ ایتونه زمونږ ؛ واضحه ؛ وائی دوی
مَا هٰذَآ اِلَّا رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ
نه دے دا ؛ مګر یو سړے دے ؛ چه اراده لري ؛ چه وا دَ روي دَ تاسو لره

فَهُوَ يُخْلِفُهٗ ؛ پس الله تعالیٰ عوض ورکوي دَ هغه ، نفقه عوض ورکوونکے سوا دَ هغه نه یا جلد په مال سره او یا په نیت په ثواب سره. (مدارک ص٣٣٣) ؛
حدیث شریف کښې دَ ابوهریره رضي الله عنه په روایت راغلي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي:
مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ اِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ اَحَدُهُمَا اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الْاٰخَرُ اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا ؛
(متفق علیه مشکوٰة ص١٦٤) ؛
فائده : کوم خرچ چه دَ شریعت مطابق نه وي دَ هغه دَ بدل لوعده نشته. (معارف ص٣٠٣) ؛ فائده ؛
په ٤٠ کښې تخویف دے او رد دَ مشرکانو بالملائکة دے ، په ٤١ کښې دَ ملائکو جواب دے : په ٤٢ کښې ئے نتیجه ده : په ٤٣ کښې زجر دے په هغه

عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُكُمْ ۚ وَقَالُوْا مَا هٰذَآ
ورځنه کوم څه چه ئې عبادت کولو پلارانو ستاسو : او وائي دوی : نه دی دا
اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ؕ وَقَالَ الَّذِيْنَ
مګر دروغ د ځان نه جوړ کړے شوی : او وائي : هغه کسان
كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّا
کفر ئې کړے په باره د حق کښې : هرکله چه راغلو دوی ته : نه دے دا مګر
سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۴۳﴾ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ
جادو : ښکاره دے : او نه دي ورکړي مونږ دوی ته : کتابونه
يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ
چه لولوي دوی هغه لره : او نه دے رالیږلے مونږ : دوی ته
قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ﴿۴۴﴾ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ
مخکښې ستا نه : هیڅ ویرولکے : او دروغ ګڼلي وو هغه کسانو
مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ
مخکښې ددوی نه وو : او نه دي رسیدلي دوی : لسمې حصې د هغه ته چه
اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ
ورکړے وو مونږ هغوی ته : پس تکذیب کړے وو هغوی د رسولانو زما : پس څنګه وو
نَكِيْرِ ﴿۴۵﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ ع ۵
عذاب زما : ووایه : یقیناً وعظ کوم تاسو ته : په یوه خبره
اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ
چه ودریږئ تاسو الله له دوه دوه : او یو یو : بیا
تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ
فکر وکړئ تاسو : نشته په ملګري ستاسو : هیڅ لیونتوب :
اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ
نه دے دا مګر : ویرولکے تاسو لره : مخکښې د

انکار د قرآن او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او د دغې اعتراضونو د کفر رد، په دې کښې فرمائي چه د دوی سره هیڅ دلیل نشته، په دې کښې تخویف دنیاوي دے ۞۞

وَمَا بَلَغُوْا: او نه دي رسیدلي دا موجوده خلق لسمې حصې د قوت او د مال او هنر او اوږدوالي د عمر د پخوانو ته: تائید د انعام. قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ: په دې کښې د تبلیغ شلورمه طریقه، په دې کښې پنځمه، په دې کښې شپږمه، په دې کښې اوومه په دې کښې اتمه طریقه د تبلیغ ده ۞ (افضل التراجم ۲۶۰)



يَقْذِفُ بِالْحَقِّ: دوا یه یقینا رب زما ولی حق لره د پاسه د باطل نه یعنی باطل ختموي: د کوري د انبیاء
وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ: او نه پیدا کیږي باطل او نه یې اعاده کیږي: ځکه چه شروع او

عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَأَلْتُكُم

عذاب سخت نه: دوا یه هغه چه غوارم ستاسو نه

مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى

څه اجر (مزدوری) نو پس هغه ستاسو لپاره دی: نه دی مزدوری زما مګر په

اللَّهِ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾

الله باندې: او الله تعالی په هر شي باندې: حاضر دی

قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَّامُ

دوا یه یقینا رب زما: ولي (باطل لره) حق سره: ښه پوهیدونکی دی

الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ

په غیبونو باندې: دوا یه راغلو حق: او نه پیدا کیږي

الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ إِن

باطل: او نه یې اعاده کیږي: دوا یه: که چیرې

ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ وَ

بې لارې شوم زه: پس یقینا بې لارې کیږم زه په ضرر د ځان خپل: او

إِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ

که چیرې هدایت موندلی وي ما: پس په سبب د هغه چه وحي کوي ما ته

رَبِّي ۚ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ ﴿٥٠﴾ وَلَوْ تَرَىٰ

رب زما: یقینا هغه اوریدونکی دی: نږدې دی: او که چیرې ووینې ته

إِذْ فَزِعُوا فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا مِن

کله چه وبیریږي دوی: پس نه به وي خلاصیدل: او ونیولی شي دوی: د

مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٥١﴾ وَقَالُوا آمَنَّا بِهِ وَ

ځای نږدې نه: او وبه وائي دوی ایمان راوړو موږ په دغه حق: او

أَنَّىٰ لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

چرته به وي دوی لره: راخستل د حق: د ځایه لرې نه

اعاده د صفاتو د ګروندی نه دی: پس نشته لپاره د کوم عبارت دې د هلاکیدو نه او معنی ئې د اشعره: جاء الحق وزهق الباطل: (بنی اسرائیل ۸۱) مدارک: د کور رقی اعراد ملاء: په ملک کښې تخویف دی: وَأَنَّىٰ لَهُمُ التَّنَاوُشُ: او د کوم ځائے نه به شي دوی لره راخستل د توبې د ځائے لرے نه (مدارک ۲۴۳ ج ۳) ۲: د کوم ځائے نه به شي واپس کول دوی د مکان لرے نه: (قرطبي ۳۱۶/۱۴): (۳) د کوم ځائے نه به شي دوی لره اخستل د ایمان (ابن کثیر ۵۴۳)

وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ: او ویشتل کوي دوی په ګمان او اټکل سره: دا د ځکښې د پاره وجه ذکر کوي: په ملک کښې تخویف دی: فائده: یعني دوی به په آخرت کښې د ایمان خواهش کوي خو دا خواهش به د هغوي نه پوره کیږي: د دوی نه مخکښې کافران به هم دغه خواهش کوي خو بې فائدې به وي ځکه چه دوی په دنیا کښې په شک کښې وو چه دوی د هغه نه په اضطراب کښې وو (فضل ۸۲): استنباطات: ۱: قسم په راتللو د قیامت (۳) رد د تګلو وطریقو چه رسیږي تمراو ته ۱۲۳: (۳) واقعه د سبأ د قوم

۴: (۴) خاص انعامات په داؤد او سلیمان علیهما السلام د منته: (۵) نفي د علم غیب د پیریانو نه ... ☆
الحمد لله سورة سبا په ۲ منټه ۵ بجې پس د ماښام د ښګرنه په ورځ د سه شنبې ۱۳ ربیع الاول ۱۴۲۵ھ
۳ اپریل ۲۰۰۴ء باندې ختم شو د الله تعالی په توفیق او امداد سره ☆ عمه

(بقیه تکمله ۴۳): **سُوْرَةُ فَاطِر** ۱: دا سورة د ۴۳ سورة ده په ترتیب کښې پس د سورة سَبَأْ نه او ۴۳ ده په نزول کښې پس د سورة فرقان نه. وجه د تسمیه ئې په فاطر سره د اول ایت نه ښکاره معلومیږی

وَقَدْ كَفَرُوا بِهِ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ

او حال دا چه کفر کړے وو دوی په دے باندے مخکښې د دے نه، او ویشتل کوی دوی

بِالْغَيْبِ مِن مَّكَانٍ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَحِيلَ

په نه لیدو د مکان لرے نه، او پرده به وشی

بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ

په مینځ د دوی او مینځ د هغه څه کښې چه خواهش کوی دوی، لکه چه دا کار شوے دے

بِأَشْيَاعِهِم مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا

په ملګرو د دوی مخکښې د دے نه، یقیناً دوی وو

فِي شَكٍّ مُّرِيبٍ ﴿٥٤﴾

په شک پوره شک کښې

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

هغه صفتونه د ټولو کمالاتو خاص دی الله لره چه پیدا کونکے د اسمانونو او د زمکے دے

جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي

جوړونکے د ملائکو دے استازی، خاوندان

أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۚ يَزِيدُ

د وزرو دوه دوه، او درے درے، او څلور څلور، زیاتوی

فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ

په پیدائش کښې هغه څه چه خواړی، یقیناً الله تعالیٰ په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ مَّا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ

هر شی باندے قدرت والا دے، هغه چه پرانزی الله د خلقو د پاره

مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا

د رحمت نه، پس نشته منع کونکے هغه لره، او هغه

منزل ۵

دعوی: ۱: نفی د شرک فی الالوهیة په دلائلو کښې، ۲: دعوی د توحید علم ۱۳، ربط ونی: ۱: د هغه سورت شروع کښې الحمد لله وو، نو دلته هم هغه ذکر دے، ۲: هلته نفی د شفاعت قهری وه، نو دلته پرے ډیر دلائل عقلیه ذکر کوی، ۳: هلته دلائل نقلیه ذکر وو، دلته عقلیه ذکر کوی، ۴: هلته نفی د شفاعت قهری وه، نو دا سورت پرے تفریع شو چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک قابل د بللو نشته. خلاصه: په دے سورت کښې دوه بابونه دی، اول تر ۲۵ پورے، دوېم تر ۳۸ پورے، دریم تر اخره پورے. په اول باب کښې اته خبرے دی، ۱: دعوی د توحید ۲: اثبات د دلائل عقلیه، ۳: ۱۱، ۱۲ تسلی، ۴: تذهیب د دنیا نه، ۵: تخویف اخروی، ۶: بشارت، ۷: زجر، ۸: دعوی د توحید او رد د شرک فی الالوهیة.

فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ: یعنی پیدا کونکے د اسمانونو او زمکے دے او ایجاد کونکے د دیو دے بغیر د مثال مخکښې نه، (او ګوره سراج منیر ص ۱۵ ج ۳) او مراد په ذکر د اسمانونو او زمکے ټول عالم دے او تنبیه ئې ورکړه په دے باندے چه یقیناً هغه ذات چه قادر دے په ایجاد باندے هغه قادر دے په اعاده باندے. (قرطبی ص ۳۱۹) مِن رَّحْمَةٍ: دلته لفظ د رحمت عام دے په دیکښې دینی او اخروی نعمتونه داخل دی لکه ایمان او علم او عمل صالح او نبوت او ولایت وغیره او دنیاوی نعمتونه هم، لکه رزق او اسباب او ارام راحت او صحت او تندرستی

يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ ۚ
چه بند یې کړي ، پس نشته بېرته کوونکی هغه لره ؛ پس له هغه نه ؛
وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ
او هغه زورور ؛ حکمتونو والا دی ؛ اې خلقو ؛
اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ مِنْ
یاد کړئ ، نعمت د الله تعالیٰ ؛ په تاسو باندې ؛ آیا شته دی ؛
خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ
پیدا کوونکی غیر د الله تعالیٰ نه ؛ چه رزق درکوي تاسو ته ؛ د بره ؛
وَالْأَرْضِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ
او ځمکې نه ؛ نشته حق د بندګۍ سوا د هغه نه ؛ پس کوم خوا ؛
تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ
اړولی شئ تاسې ؛ او که چېرې دروغژن نسبت کوي تا لره ، پس یقیناً
كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى اللَّهِ
دروغژن نسبت کړې شوی وو رسولانو ؛ مخکښې ستا نه ، او خاص الله تعالیٰ ته ؛
تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ
واپس کولی شي ټول کارونه ؛ اې خلقو ؛ یقیناً
وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ
وعده د الله تعالیٰ ؛ حقه ده ؛ پس دهوکه دې نکړي تاسو لره ؛ ژوند ؛
الدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٥﴾
دنیاوي ؛ او دهوکه دې نکړي تاسو لره ؛ په الله تعالیٰ ؛ دهوکه کوونکی ؛
إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ
یقیناً شیطان ؛ تاسو لره ، دښمن دے ؛ پس ونیسئ هغه لره ؛ دښمن ؛
إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ
یقیناً بلي هغه ؛ ډلې خپلې ؛ چه شي ؛ د څښتنانو ؛

منه او مال او عزت وغیره شو ، دغه رنګ د دویمه جمله وَمَا يُمْسِكْ هم عام ده چه د دنیا مصائب او د دوزخ نه هم داخل دي الخ . (معارف ...) وکوری د انعام ، ... یونس . فائده : د مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر فرض مانځه نه روستو به یې ویل :

لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ : متفق علیه مشکوٰة ... :

وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ : د توحید نه بعد صداقت د رسول صلی الله علیه وسلم دے او تسلي ده ، وکوری ... انعام ... رعد ... حج : په دې کښې اثبات د قیامت دے او بې رغبتي ده د دنیا نه ، وکوری حج ... لقمان ... :

فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا : پس ونیسئ هغه لره دښمن : په عقائدو او اعمالو خپلو کښې . (مدارک ... سراج منیر ...)

أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ ٣: ايا هغه څوک چه ښائسته کړے شوے وي ده ته ناکاره عمل ده و په ښائسته کولو د شيطان سره، کَمَنْ لَمْ يُزَيَّنْ لَهُ: پشان د هغه چا دے چه نه وي ښائسته کړے شوے ده ته. منکر ...

السَّعِيرِ ۝ الَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ عَذَابٌ

د اور لمبو الاننه: هغه کسان چه کفر ئے کړے: دوي لره عذاب:

شَدِيدٌ ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

سخت دے: او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے: او عملونه ئے کړي:

الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ۝

د نيکو: دوي لره بخښنه: او بدله لويه ده:

أَفَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ

ايا پس هغه څوک ښائسته کړے شو هغه ته بد عمل د هغه: پس ويې ليده هغه لره

حَسَنًا ۖ فَإِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَاءُ

ښه: پس بيشکه الله تعالى ګمراه کوي: چا لره چه وغواړي:

وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ

او هدايت کوي: چا لره چه وغواړي: پس لاړ نه شي:

نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ

ساه ستا: په دوي باندې: د وجه د افسوسونو نه: يقيناً الله تعالى

عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ۝ وَاللَّهُ الَّذِي

پوهه دے په هغه کارونو چه دوي ئے کوي: او الله تعالى هغه ذات دے:

أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ

چه رالېږي بادونه: پس پورته کوي ورېځے: پس چلوو موږ هغې لره

إِلَىٰ بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الْأَرْضَ

ښار مړ شوي ته: پس تازه کوو موږ په هغې سره: زمکه

بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ النُّشُورُ ۝ مَن

پس د وچوالي د هغې نه: دغه رنګ دوباره پورته کول د مړو دي: هغه څوک

كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ

چه وي: چه اراده لري د عزت: پس الله تعالى لره (اختيار) د عزت:

ع ۱۴

پيدا کبر زورنه ده مشرکانو په مقابله لره: د کوري کهف ...
خطيب شربيني رحمه الله د سعيد بن جبير رحمه الله په حواله وائي چه نازل شوے دے دا ايت په باره د اصحابو د خواهشاتو او بدعاتو کښي. (سراج منير ج۳ ص...)

فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ: دا تفريع ده: يعني هرکله چه د دوي هدايت او ضلال په اختيار د الله تعالى کښي دے نو د مره غمژن کيږه مه چه د غم د وجه نه مړ شے. (احسن ۲۵/۳) تائيد ورنه: سورة هود ... شعراء ...

مَن كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ: د شاه پور شيخ رحمه الله فرمائي، يعني که ته تاسو غير معبود جوړ کړے وي د عزت د پاره نو د عزت حاصلول صرف خدائي تعالى ته دے. (المفصل ...) د کوري نساء ... مريم ... منافقون ...

إِلَيْهِ يَصْعَدُ: خاص الله تعالى ته خيرځي کلمے پاکے. نسفي فرمائي: يعني محل د قبول او د رضا د هغه ته. (مدارک ...)

وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ: ضمير مرفوع الله تعالى ته او منصوب عمل صالح طرفته راجع دے او ... په وجه ... عمل صالح لره قبلوي (احسن ...) او: فاعل ضمير د عمل دے او هغه ضمير راجع دے کلم ته: يعني نيک عمل پورته کوي کلمے پاکے لره (الابرار ...): ۳: جناب محقق صاحب رحمه الله فرمائي: د دے وجے نه خلاصه د دے جملے دا شوه چه کلم طيب: خواه کلمه د توحيد وي يا نور اذکار، تسبيح او تحميد وغيره، د دي نه صيغے بغير د عمل صالح نه عند الله: نشي قبليدے په دې کښې د عمل صالح اهم جزء ...

(بقیه د وړومبي مخ): تصدیق قلبي دے یعنې د زړونه په الله تعالیٰ باندې او د هغه په توحید باندې ایمان راوړل دا مطلق د اعمالو د قبولیت د پاره شرط لازمه دے. د دے نه بغیر نه کلمه د لا اله الا الله؛ قبوله ده نه نور ذکر او د عمل صالحه نور اجزاء: مونځ روژه وغیره اعمال صالحه او د محرماتو او مکروهاتو نه پرهیز کول؛ دا اګرچه مطلقًا د قبولیت شرط نه دے مګر د قبولیت تامه د پاره شرط دا اعمال هم دي: (معارف ص ۳۲۲ ج ۷) وَمَا يُعَمَّرُ: او عمر نشي ورکیدے هیڅ یو خاوند د عمر ته: ابوبکر رازي رحمه الله فرمائي چه معمر سړے ورته په اعتبار د مایؤل الیه وفرمائیلو: وګورئ مسائل ص ۳۳ ، وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ: وګورئ فرقان ۵۳ ❖ وَتَرَى الْفُلْكَ: نحل ۱۴ يُولِجُ اللَّيْلَ: وګورئ ال عمران ۲۷: فائده: دا اتم دلیل عقلي دے او د دے اته حیثونه کښې شمره تفریع ده د نفي د شرك في التصرف او نفي د شرك في الدعاء: وګورئ سبا ۲۲: إِن تَدْعُوهُمْ: په دے ایت کریمه کښې د سورة دعوي ده؛ فائده: په روح المعاني ص ۱۸۴ کښې دي چه دا استثنائي کلام دے واضح کوي حال د هغه شیونو چه د دوي نه بلي چه هغه جماد دي نشته د شان د هغوئ او دلیل دے چه کلام د بت پرستو سره دے او احتمال هم لري چه کلام د بت پرستو او عبادت کونکو ملائکو او د عیسیٰ علیه السلام او نورو مقربینو سره وي:

فاطر ۳۵ ـــ پ ۲۲

جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَ

ټول دے. خاص الله تعالیٰ ته خیژي: کلمے: پاکے: او

الْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ۚ وَالَّذِينَ

عمل: نیک: پورته کوي الله تعالیٰ هغه لره: او هغه کسان چه

يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ

مکرونه کوي: د بدو عملونو: هغوي لره عذاب: سخت دے:

وَمَكْرُ أُولَٰئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُم

او تدبیر د دغو کسانو، دا هلاک کیږي، او الله تعالیٰ پیدا کړي یئ تاسو

مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ

د خاورې نه: بیا: د نطفے نه: بیا ئې جوړ کړي تاسو

أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا

جوړه جوړه: او نه بارداري: هیڅ یوه ښځه: او نه

تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ

زیږوي دا مګر په علم د الله سره: او عمر نشي ورکیدے عمر والا ته

وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ

او نشي کمولے د عمر د هغه نه، مګر په کتاب (لوح محفوظ) کښې

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِي

یقینا دا کار په الله تعالیٰ آسان دے: او نه دي برابر

الْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَائِغٌ

دواړه دریابونه: دا یو خوږ تنده ماتونکے دے، تیریدونکے دے اسانه

شَرَابُهُ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ

اوبه ئې: او دا بل تریو، تریخ دے: او د هر یو نه

تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ

خورئ تاسو: غوښه: تازه: او راوباسئ تاسو:

منزل ۵

فائده: دا ایت قطعي الدلالت دے په دے مسئله کښې چه مړي بزرګان د مشرکانو شرکي او ازونه بالکل نه اوري که نزدے وي او که لرے وي. لفظ د دعا د ګو په دے باندې دلیل دے چه مراد د دے نه حاجت غوښتل دي او هر چه په مسئله د نفي د سماع موتي مطلق کښې ده نو دا صریح نه دے بلکه احتمال دے: بس

(بتکیه دُ دے مخ)؛ دُ دے وجے نه عائشه رضی الله عنها او امام ابو حنیفه رحمه الله دا آیت په دلیل دُ نفی دُ سماع موتیٰ کښی نیولے دے ذکر کړے .(احسن ص۱۸۱)؛ دُ لَوْ سَمِعُوْا: لَوْ دُ فرض او تقدیر دَپاره دے. (سراج منیر ص۱۸۲) معنیٰ دا شوه که بالفرض واورے ورئ نو قبول ئے نشی کولے تاسو لره؛ او په ورځ دُ قیامت کښی به انکار وکړی په شرک ستاسو سره.

حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ

گانړه چه اغوندئ تاسو هغو لره؛ او وینے به ته کشتئ په دریاب کښی

مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ

شلوونکے د اوبو چه ولټوئ تاسو دُ فضل دُ الله تعالیٰ نه، او دَپاره دُ دے چه تاسو

تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ

شکر اوباسئ؛ ننباسی؛ شپه په ورځ کښی؛ او ننباسی

النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَ

ورځ؛ په شپه کښی؛ او په کار لګولے ئے؛ نمر؛ او

الْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۚ

سپوږمئ؛ هر یو چلیږی؛ دَپاره دُ نیټے مقرر شوے؛

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ

دغه صفتونو والا الله ستاسو رب دے؛ خاص هغه لره باچاهی ده، او هغه کسان چه

تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِنْ

تاسو ئے بلئ؛ سوا دُ الله تعالیٰ نه؛ نه دی مالکان؛ دُ پوستکی

قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا

دُ هډوکی دُ کهجورے؛ که چرته اوبلئ تاسو هغوی لره؛ نه ئے اوری؛

دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ

بلنه ستاسو؛ او که بالفرض واورے ورئ؛ نو نشی قبولولے ورباندے ستاسو؛

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ

او په ورځ دُ قیامت؛ انکار به وکړی په شرک ستاسو؛

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾ يَا أَيُّهَا

او نشی خبر ورکولے تا ته؛ په مثل دُ خبیر ذات (الله)؛ اے

النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَاللَّهُ

خلقو! تاسو ټول محتاجان یئ؛ الله ته؛ او الله تعالیٰ

بانو؛ دُ دے آیت نه معلومه شوه چه غیر الله ته دا شرک دے لکه فتح القرآن رحمه الله په فرمایلی: او په سورة احقاف ۵ کښی دُ غیر الله چغے والا تر اخره غفلت کښی اوبیلے دے او په ۱۳ رعد کښی ورته انکار ورکړے شو او فرمائی مشرکانو ته انتفاعی کړے دی :

فائده: او انکار دُ نیکانو مشرکانو نو بانیه سورة احقاف ۶ یونس ۲۸ کښی هم ذکر شوی دے.

وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ: او خبر نشی ورکولے تا ته هیڅوک کښی په مثل دُ خبیر ذات ((فتح ۵۲۵)) مراد دُ خبیر نه الله تعالیٰ دے یعنی که څوک سوچ او استجابت دُ دے معبودانو من دون الله ثابتوی په اقوالو دُ اهل بدعتو وغیره سره نو جواب داده چه دُ هغوی قول دُ خبیر ذات په مقابله کښی هیڅ حیثیت نلری. (احسن ۱۸۱)

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ۱۵: دُ دے ځائے نه ترخ ۲۶ پورے دویم باب دے په دے کښی شپږ خبرے دی: (۱) دوه عقلی دلائل ۱۵ تر ۱۷: (۲) تخویف اُخروی ۱۸ ته: (۳) پنځه مثالونه دُ شرک او دُ توحید دَپاره دُ ۱۹ نه: (۴) تسلی ۲۳ ۲۵: (۵) بشارت نیکانو لره دُ ۲۶ نه. (۶) تخویف دُ ۲۶ نه: قاضی ثناء الله رحمه الله فرمائی: اے خلقو: تاسو یو ره محتاج یئ الله تعالیٰ ته همیشه په موجود والی کښی او په توابع دُ دے کښی او په باقی والی کښی او په خلاصی کښی دُ اور نه او په ثواب ورکولو دُ جنت کښی او غیر دُ دے نه (مظهری ص۵)

لطیفه: جناب نقیب احمد رحمه الله دُ اوچ دیره والا لیکلی دی: استعاره دُ مستعیره: لکه بیے چه وږی غوږی داری دُ فقیره: فائده: افسوس چه نا پوهه خلقو دُ غنی باچا

دَ دوباره پیدا کېدو وے او دَ محتاجو او فقیرانو نه حاجتونه غواړی حالانکه مړهٔ دَ ژوندو دُعا ته په انتظار دی حدیث شریف کښ راځی، دَ رسول الله ﷺ فرمائی: ما المیت فی القبر الا کالغریق المتغوث ینتظر دعوة تلحقه من اب او ام او اخ او صدیق فاذا لحقته کان احب الیه من الدنیا وما فیها. (مشکوٰة ۲۰۶/۱) ❊ ❊

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ

دا غنی (بے حاجته) ستایلے شوے دے: که وغواړی: بوځی تاسو لره

وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى

او راپه ولی: مخلوق: نوے: او نه دے دا کار: په

اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ

الله تعالیٰ باندې ګران (سخت): او نه شی بارولے یو بار وړونکے: بوج دَ بل نفس:

وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ

او که چرې راوبلی: بوج وړونکی بار والا: پیټی خپل ته: نو بار به کړے نه شی:

مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۗ إِنَّمَا

دَ هغه نه هیڅ شے: او اګر که وی پیټے شوے خاوند دَ خپلولئ: یقینًا

تُنْذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ

ډېروے ته: هغه کسانو لره: چه ویرېږی دَ خپل رب نه: په پټه سره:

وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ ۚ وَمَنْ تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا

او قائموی مانځه لره: او چاچه پاک کړو ځان خپل، پس یقینًا

يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

پاک کول دَ پاره دَ نفس خپل دی: او خاص الله تعالیٰ ته واپسی ده:

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا

او نه دی برابر: ړوند: او لیدونکے: او نه

الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا الظِّلُّ وَلَا

تورتمونه: او نه رڼا: او نه سورے: او نه

الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا

ګرمی: او نه دی برابر: ژوندی: او نه

الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ ۖ

مړی: یقینًا الله تعالیٰ اورول کوی، چا لره چه یے خوښه شی:

منزل ۵

إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ: ملا ابراهیم (۳۶ محمد، ۳۸ انبیاء، ۳۳ انعام) کښ ورکړی دَ دې نه مشکو شوی ګد.

وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ: دا دَ موحد او دَ مشرک مثال دے چه موحد بینا او مشرک ړوند دے حق نه وینی او شرک تیره دی او توحید او سُنت نور دے او دَ ایمان انجام سورے یعنی مزیدار دے او دَ شرک او بد عت او دَ رسمونو او دَ معاصیو انجام اور دے او موحدین ژوندی او مشرکان مړه دی لیکن دا کافران پښان دَ مړو دی حق نه اوری حق موحد اوری چه ژوندی دے. (الفضل ۹۰۶)

وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ: په دے غلو مثال کښ مایستوی ئے دوباره ذکر کړو دَ دے وجے نه چه دَ مړی او دَ ژوندی په مینځ کښ ډېر اوجه فرق دے او هر چه مخکښې ذکر دی نو کله یو بل ته نږدے کیدے شی لکه چه دا عمی دَ باره دَ ذره بصیرت نوی نو بصیرته نږدے شی او چه په تیرو کښ چراغ ولګی نو نور ته نږدے شی او چه په ګرمئ کښ دَ یخنئ اسباب استعمال شی نو سوری ته نږدے شی لیکن په مړه کښ دا دے تغیر نشی راتللے چه هم دَ مړه دے وی او هم دَ به هغه کښ دَ ژوندی صفات پیدا شی او مراد دَ حیات نه حیات دُنیوی دے. (احسن ۱۹۵) امام رازی رحمه الله فرمائی: واما الاحیاء والاموات فالتفاوت بینهما اکثر اذ ما من میت یساوی فی الادراک حیا من الاحیاء الخ (کبیر ص ۱۶ ج ۲۶) ❊ ❊ ❊ ❊ ❊

وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ، دا پخـم مثال دے سره د تسلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، مولٰنا
عثمانی رحمه الله فرمائی یعنی الله تعالیٰ چه غواړی نو مړو ته هم اورولے شی ، دا قدرت بل چا لره نشته ۔

وَمَآ أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ
او نه ئے ته : اورولے هغه چا ته چه په قبرونو کښی دی : نه ئے
أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ
ته : مگر ویروونکے : یقیناً مونږ رالیږلے یے ته لره : په حقه سره،
بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا
زیری ورکوونکے او ویروونکے : او نشته هیڅ امت : مگر
خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ
تیر شوے په هغه کښی ویروونکے : او که چرے دروغژن گوی تا لره : پس یقیناً
كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَآءَتْهُمْ
دروغژن ویلی وو ایسارلوته هغه کسانو چه مخکښی د دوی نه وو : راغلی وو هغوی ته
رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلْكِتَٰبِ
استازی د هغوی، په ښکاره دلیلونو : او په صحیفو : او په کتاب :
ٱلْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذْتُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ
رڼا کوونکی باندے : بیا ونیول ما : هغه کسان : چه کفرئے کړے وو :
فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ
پس څنگه : وو : عذاب زما : ایا نه گورے ته چه بیشکه الله تعالیٰ
أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ
رالیږلے : د بره نه : اوبه : پس را او باسو مونږ په هغه سره :
ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ
میوے الگے چه مختلف دی : رنگونه د هغو : او د غرونو نه :
جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا
حصے دی : سپینے : او سرے : مختلف دی : رنگونه د هغو :
وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ
او تور دے دی : چیرے تورے : او د خلقو نه :

ع ۱۴ / ۱۵

دغه شانے ډیکنری چه د
پیغمبر کار نه دے نه او خو بیو نه
خبر ول دی کوم زړونه مړه
کافر دو خبره وانه وری نو
دا د هغه د طاقت خبره نه
ده (مشاه ۲۲)؛ فائده :-
په قبر کښی صرف بدن پروت
دے هغه بالکل نه اوری او روح
روح دے نو په قبر کښی نشته
او حیات او اوریدل خو په روح
سره کیږی؛ (احسن ۲۲) په ۲۳
کښی صداقت د رسول ۲۴ : په
۲۵ کښی تسلی ده ، په ۲۷ کښی
دلیل عقلی دے ؛ وَغَرَابِيبُ
سُودٌ ۲۷ : جمع د غربیب ده
او دا تاکید د اسود دے ؛
(مدارک ۲۷) ؛ پښتو کښی معنے
ده تک تور ؛ ۲۸ ؛ إِنَّمَا يَخْشَى
اللَّهَ ۲۸ : یقیناً ویریږی د الله نه
نه د بندگانو د هغه نه عالمان ؛
فائده :- چا کښی چه ویره
د الله نه وی هغه دیاره په
حقیقت کښی د عالم ویلو حقدار
نشته ، (عثمانی ۲۸) ؛ د عالمانو
نه اصطلاحی عالمان مراد نه دی
چه فلانی فلانی کتابونه ئے لوستی
وی، یا د فلانی امتحان سند
لری ، بلکه هغه کسان ترینه
مراد دی چه د الله تعالیٰ او د
هغه د احکامو معرفت لری
او د هغه عمل هم د هغه د
علم او معرفت د مرتبے مناسب
وی ؛ (ماجدی ۲۸) ؛ فائده :
دلته فرمائی چه د الله تعالیٰ
په بندگانو کښی د الله عالمان
ویریږی او په سورة بینه
کښی رازی چه جنت د هغه چا د پاره دے چه ویریږی د رب خپل نه : فائده : په ۲۸ ایت کښی
فرمائیلی دی یعنی ته : ویرو لے ئے هغه کسان چه ویریږی د رب خپل نه په غیب سره : عمل

حه (بقیه د دے مخ): په دغه کښې نبی کریم ﷺ له د تسلئ ورکولو نه پاره وفرمايل چه ستاسو د انذار او تبلیغ فائده خو صرف هغه خلق وچتوی چه خاښا نه د الله تعالٰی نه خوف او خشیت لری: د دغه

وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ

او د ژوندو ساکانو نه او د څارویو نه: مختلف دی: رنګونه د هغوی

كَذٰلِكَ ۗ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ۗ

دغه رنګ: یقیناً ویریږی د الله تعالٰی نه د بندګانو د هغه نه: عالمان:

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿٢٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

یقیناً الله تعالٰی زور اور بخښنه کوونکے دے: یقیناً هغه کسان: چه

يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَ

لولی: کتاب د الله تعالٰی: او اودروی مانځه لره: او

اَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

خرچ کوی د بعضې هغه نه چه ورکړے مونږ دوی ته: پټ: او په ښکاره:

يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ ﴿٢٩﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ

امید لری: د سوداګرئ: چه هیڅکله به نه هلاکیږی: چه پوره ورکړی الله دوی ته

اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۗ اِنَّهٗ

بدلے د دوی: او زیات کړی دوی لره: د فضل خپل نه: یقیناً الله تعالٰی

غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ﴿٣٠﴾ وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ

مغفرت کوونکے: قدردان دے: او هغه چه وحی کړے مونږ: تا ته:

مِنَ الْكِتٰبِ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا

چه کتاب دے: دا حق دے: رښتیا کوونکے د هغه کتابونو چه

بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ

مخکښې د دے نه دی: یقیناً الله تعالٰی په بندګانو خپلو: خامخا خبرداره:

بَصِيْرٌ ﴿٣١﴾ ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ

لیدونکے دے: بیا په میراث کښې ورکړو مونږ: کتاب لره: هغه کسانو ته:

اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ

چه غوره کړی مونږ: د بندګانو خپلو نه: پس بعضې د دوی نه ظلم کوونکی دی:

پهٔ مناسبت سره ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾: کښې د هغه خلقو ذکر وکړو چه هغوی ته د الله تعالٰی خشیت حاصل وی. (معارف ج ۳) **فائده**: د آیت ۲۸ نه د هغوی صفات او هغوی له د بشارت ذکر کوی: په ۳۱ کښې د کتاب الله صداقت ذکر کوی پس د دے صفت د عالمانو نه چه ﴿يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ﴾: ﴿ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ﴾: په دے آیت کښې د خاتم الانبیاء قرآن د رسے درجے ذکر کوی او ښکاره د پاره د تعقیب ذکر کړے: معنٰی دا شو چه بیا د هغوی نه روسته چه ورکړے دے مونږ کتاب خپل لره هغه کسانو ته چه غوره کړی دی مونږ: د بندګانو خپلو نه: ﴿فَمِنْهُمْ﴾: دا د تقسیم دے درېئو ډلو ته: مراد د ظالم نه هغه مؤمن دے چه ګناهونه ئے زیات وی د نیکو اعمالو نه او مقتصد نه مراد هغه دے چه ګناهونه او طاعتونه ئے برابر وی. او سابق هغه دے چه ګناهونه ئے لږ وی په نسبت د طاعاتو: په دے کښې ثعلبی او قرطبی نزدے شپږ ویشت اقوال ذکر کړی (احسن ملخصاً): نسفی رحمه الله هم ګنړ اقوال نقل کړی دی: د سهل رحمه الله په حواله لیکی: السابق العالم والمقتصد المتعلم والظالم الجاهل: (مدارک ۳/۳۴۱): شیخ القرآن

رحمه الله به فرمائيل چه ظالم په معنٰی د کمی دے: مطلب دا چه په خپله عمل وکړی په قرآن باندے او مقتصد چه په خپله پرے عمل وکړی او کورنئ ته ئے وښائی: او سابق بالخیرات: مطلب دا چه د دنیا ته ورسوی قرآن لره: **فائده**: او حدیث شریف کښې راغلی دی چه دا ټول د دے امت نه دی او ټول به جنت

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ

په ځانونو خپلو ؛ او بعضې د دوی میانه رو حال دي ؛ او بعض د دوی مخکښې کېدونکي دي

بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ

په نېکو کښې ؛ په حکم د الله تعالیٰ سره ؛ دا چه ذکر شو ؛ دا فضل

الْكَبِيْرُ ﴿۳۲﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

لوی دے ؛ باغونه د عدن ؛ داخلېږي به دوی هغو ته ؛

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّ

اغوستلے به شي دوی ته په دغو کښې بنګړي ؛ د سرو زرو ؛ او

لُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۳۳﴾ وَقَالُوا

ملغلرے ؛ او جامے د دوی به په دغو کښې ؛ ریښم وي ؛ او وائي به دوی

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ؕ

حمد دے دی الله تعالیٰ ذات لره چه لرے کړو ؛ زمونږ نه ؛ غم ؛

اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا دَارَ

یقیناً رب زمونږ خامخا بښونکے قدر دان دے ؛ هغه ذات چه نازل کړی یو مونږ په کور د

الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا

همېشه اوسېدو ته ؛ د رحمت د فضل خپل نه ؛ نه به رسيږي مونږ ته په دغې کښې ؛

نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا لُغُوْبٌ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيْنَ

تکلیف ؛ او نه به رسيږي مونږ ته په دغې کښې څه ستړیتوب ؛ او هغه کسان چه

كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ

کفر یے کړے دے ؛ دوی لره اور د دوزخ دے ؛ نه به حکم کولے شي فیصله په دوی

فَيَمُوْتُوْا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ؕ

چه مړه شي ؛ او نه به سپکولے شي ؛ د دوی نه ؛ د عذاب د هغه نه ؛

كَذٰلِكَ نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿۳۶﴾ وَهُمْ

دغه رنګے به بدله ورکوو مونږ ؛ هر قسم ناشکره ته ؛ او دوی به

ته جنت ته داخلېږي ؛ (روح ص، قرطبي ص، جواهر ص، معارف ص، البحر الرحمن ص)

فائده :- په آیت ۳۲، ۳۳، ۳۴ کښې بشارت دے د درې واړو قسمونو لره ☆ ☆ ☆

وَلُؤْلُؤًا : دا عطف دے په محل د اَسَاوِر باندې ؛ معنیٰ دا شوه وابه اغوستلې شي دوی ته بنګړي او ملغلرے (مدارک ص، کهف ح)

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ : اعراف ، یونس : دلته حمد ذکر دے پس د ختمونو نه ؛ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا : په دے آیت کریمه کښې تخویف دے پس د بشارت نه ، او په دے کښې په درې طریقو سره ، او په آیت کښې په څلورو طریقو سره تخویف دے ☆ ☆ ☆

اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ : دا دے ځائے نه تر آخر سر د سورت پورے دریم باب دے ؛ په دے کښې درې خبرے دي : (۱) درې عقلي دلائل : (۲) زجر مشرکانو لره : (۳) پس تخویف دنیاوي

يَصْطَرِخُوْنَ فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ

چغې وهي په دوزخ کښې او وائي: اے ربه زمونږه! راوباسه مونږ لره، عمل به وکړو

صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ؕ اَوَلَمْ

نيک، غير د هغه نه چه وو مونږ چه کولو به مونږ. آيا او نه وو

نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ

درکړې مونږ تاسو ته دومره عمر چه حاصل کړے وې په هغه کښې هغه چا چه پند اخستلو

وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ؕ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ

او راغلے وو تاسو ته ويرونکے؛ پس وڅکئ؛ پس نشته د ظالمانو د پاره

مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ

هيڅ امداد کونکے؛ يقيناً الله تعالىٰ پوهه دے په پټو

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ

د آسمانونو او د زمکے؛ يقيناً دا الله پوهه دے

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۳۸﴾ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ

په هغه رازونو چه په سينو د خلقو کښې وي؛ الله تعالىٰ هغه ذات دے چه ګرځولي دي تاسو

خَلٰٓئِفَ فِي الْاَرْضِ ؕ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ

يو بل پسے آبادوونکي په زمکه کښې؛ پس چا چه کفر وکړه؛ پس په هغه باندې

كُفْرُهٗ ؕ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ كُفْرُهُمْ

سزا د کفر د هغه ده؛ او نه زياتوي کافرانو لره؛ کفر د هغوي

عِنْدَ رَبِّهِمْ اِلَّا مَقْتًا ۚ وَلَا يَزِيْدُ الْكٰفِرِيْنَ

په نزد د رب د هغوي مګر غصه؛ او نه زياتوي کافرانو لره

كُفْرُهُمْ اِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

کفر د هغوي مګر تاوان؛ ووايه خبر راکړئ

شُرَكَآءَكُمُ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

د شريکانو ستاسو، هغه کسانو چه بللي دي تاسو، بغير د

حاشيه (بقيه د دے مخ):

فائده ۱:- په ۳۸ کښې ذکر دي چه الله تعالىٰ عالم الغيب دے نو په ۳۹ کښې ترغيب دے چه تاسو ته ئے ستاسو د استعداد موافق خلافت درکړے چه يو بل پسے آبادوونکي يئ په زمکه کښې: سورة انعام ۱۶۵ هم وګورئ؛ قل ارءيتم ۴۰: دا د مخالفينو د دليل عقلي مطالبه ده چه د باري تعالىٰ د وحدانيت دلائل خو ما تاسو ته واورېدل نو تاسو ما ته د خپلو معبودانو د حقيقت دليل پيش کړئ چه څه هغوي په زمکه کښې پيدا کړي دي يا په آسمانونو کښې د هغوي څه حصه ده؛ دا دواړه خبرے غلطے دي:

افضل التفاسير (جز ۳۰۹):

وګورئ سبا ۲۲؛ احقاف ۴

✤ ✤ ✤

✤ ✤

✤

ربع ۱/۲ پاره ۲۲

اَللّٰهِ ؕ اَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ

الله نه: را وښایئ ما ته چه څه شی پیدا کړی دی، د زمکې نه:

اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِی السَّمٰوٰتِ ۚ اَمْ اٰتَیْنٰهُمْ

او شته دوی لره برخه: په آسمانونو کښې، یا ورکړې مونږ دوی ته:

كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰی بَیِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ

کتاب: پس دوی په ښکاره دلیلونو دی د هغه نه: بلکه

اِنْ یَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا اِلَّا

وعده نه کوی ظالمان: بعضې ددوی نه د بعضو سره، مګر

غُرُوْرًا ﴿۴۰﴾ اِنَّ اللّٰهَ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ

د دهوکې: یقینا الله تعالی رانیولی دی، آسمانونه:

وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا ۚ۬ وَلَىِٕنْ زَالَتَاۤ

او زمکه: د زائله کیدو د دوی نه: او که چرې اوخزیدې دواړه:

اِنْ اَمْسَكَهُمَا مِنْ اَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ

نه شی نیولی دواړه: هیڅوک، پس د ده نه:

اِنَّهٗ كَانَ حَلِیْمًا غَفُوْرًا ﴿۴۱﴾ وَ اَقْسَمُوْا

یقینا الله تعالی دی صابر، بخښونکې: او قسمونه کوی دوی:

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَیْمَانِهِمْ لَىِٕنْ جَآءَهُمْ

په الله تعالی: پوره قسمونه خپل، که چرې راغی دوی ته:

نَذِیْرٌ لَّیَكُوْنُنَّ اَهْدٰی مِنْ اِحْدَی

ویروونکې: خامخا یقینا شی به دوی هدایت والا، د هر یو، د

الْاُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ نَذِیْرٌ مَّا زَادَهُمْ

امتونو نه: پس هر کله چه راغې دوی ته، ویروونکې زیات نه کړه دوی لره:

اِلَّا نُفُوْرَا ﴿۴۲﴾ اسْتِكْبَارًا فِی الْاَرْضِ وَ

مګر نفرت: د وجې د لویې کولو نه: په زمکه کښې: او

اَمْ اٰتَیْنٰهُمْ كِتٰبًا: د دلیل نقلی مطالبه. بَلْ اِنْ یَّعِدُ الظّٰلِمُوْنَ یعنی دلیلونه نشته بلکه وعدې کوی ظالمان بعضې د بعضو سره مګر د دهوکې. (منة المنان)

اِنَّ اللّٰهَ یُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ الخ: دا اوومې سورت اخری دیارلسم دلیل عقلی دے، چه کښې د دوی د معبودانو عاجزې ښکاره شوه نو اوس د الله تعالی عظمت شان بیانوی، وَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ الخ: دا زورنه ده چه دوی سخت قسمونه کوی که راشی دوی ته ویروونکې رسول نو دوی به ډیر ښه شی نو چه کله رسول راغی نو دوی نفرت او تکبر او بد فریب روانه کړو. (الفضل منلك) مِنْ اِحْدَی الْاُمَمِ: په دې کښې اضافت استغراقی دے یعنی یعنی د هر امت نه به ښه لاره موندونکی شی. (جراهر ص ۵۵۵)

وَلَا یَحِیْقُ الْمَكْرُ السَّیِّئُ: او نه نازلیږی سزا د تدبیر ناکاره مکر په اهل د هغه (ج ۳ ص ۱۵) نو نازلیږی عاقبت د شرک مکر په هغه چا چه شرک نے کړے وی (قرطبی ج ۱۵) خصوصا چه خولے نے په داسے کس باندې وکړی چه بے کس، بے بس وی په بدنے اخستلو قدرت نه لری یا سره د وجود د قدرت د انتقام نه صبر کوی، په ده د بانډې ظلم کویال نه په دنیا کښې هم د چا بچ کیدل نه شی کیدے:

بس تجربه کردیم درین دیر مکافات ☆ با دُرد کشان هر که در افتاد بر افتاد ☆ (معارف ص ۳۵۵ ج ۵)

ایخیه دا دے ظلم؛ تَبْدِیْلًا: بدلیدل د هیڅ نه چه راشلل وکړی په بے طریقے سره د صحیح په ځای له ګښ
ځکه چه عوض ورکوونکے الله تعالیٰ لره نشته. تَحْوِیْلًا: اوړیدل د یو حالت نه بل اسانے طریقے ته کول

مَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ

د چل د ډیر ناکاره ؛ او نه نازلیږی بد چل ؛ مګر

إِلَّا بِأَهْلِهِ ۚ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ

مګر په اهل خپل ؛ پس انتظار نکوی دوی ؛ مګر د طریقے

الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ

د مخکنو ؛ پس هیچرے به نه مومے ؛ طریقے د الله تعالیٰ لره

تَبْدِيلًا ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾

بدلیدل ؛ او هیچرے به نه مومے طریقے د الله تعالیٰ لره ؛ اوړیدل ؛

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا

ایا نه ګرځی دوی ؛ په زمکه کښی ؛ پس وګوری دوی ؛

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

څنګه شو ؛ انجام د هغه کسانو چه مخکښی د دوی نه وو ؛

وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ

او وو هغوی ؛ ډیر سخت د دوی نه په قوت کښی ؛ او نه دے

اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ

الله چه عاجز ئے کړی دا لره ؛ هیڅ شے ؛ په اسمانونو کښی

وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾

او نه په زمکه کښی ؛ یقیناً الله تعالیٰ ؛ پوهه ؛ قدرت والا ؛

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا

او که چرے نیولے ؛ الله تعالیٰ خلقو لره ؛ په سبب د هغه عملونو چه دوی کړی دی نو به نه

تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن

وه پریښے ؛ په شا د زمکے ؛ هیڅ ژوندے سرے ؛ او لاکن ؛

يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَاءَ

روستو کوی دوی لره ؛ تر نیټے مقرر شوی پورے ؛ پس کله چه راشی

نه ځکه چه نشته وابس لیجے د الله تعالیٰ لره (اسرار مبرقم) اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا: دا هم تخویف دنیاوی دے. سورۃ سبا ۴۵ کے راواخستلو. وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ: دا هم داخل دے په تخویف کښی. د پیغمبر ﷺ رشته فرمائی چه دا الله تعالیٰ د حلم بیان دے چه هغه په هره ګناه باندے نیول نکوی او نه ګنهګار فوری نیسی. (جواهر ص۹۴۹): محل د وګوری: د آ د ق نون بیان دے باری تعالیٰ د ګناهونو فیصله کولے په دنیا کښی نو اکثر خلق غلط دی نو انسان به هغه ختم کړے وے او نور ژندی سر خو د انسان د پاره دی نو هغه به هم ختم شوی وے نو چه کله نیته راشی د حساب نو باری تعالیٰ به هر چاته د هغه جزا او ورکړی هغه ته هر څه معلوم دی. (افضل ص...) ⁂ ⁂

امتیازات: (۱) دیرلس دلائل عقلیه (۲) غیرالله ته وائل کول شرک دے ص... (۳) بشارت د پاره د وارثانو د کتاب ص... (۴) کنز مثالونه د ص... (۵) د باری تعالیٰ د حلم بیان ص۴۵ ⁂ ⁂

(د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره سورة فاطر په ۲/۲۵ بجے په ورځ د پنجشنبے ۱۶ ربیع الاول ۱۴۲۸ھ ۵ اپریل ۲۰۰۷ء په توحید اباد ترخو کښی ختم شو) ⁂ ⁂

سورۂ یس: نوم کړے شوے سورت اول ایت کښې ذکر دے او دا ۳۰ دے ترغیبا او ۲۳ دے یس د سورۃ جن نه روستو نازل
فضیلت: د معقل بن یسار رضی اللہ عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: یس قلب القرآن

أَجَلِهِمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾

نیټے د دوی: پس یقینا الله تعالیٰ دے په بندګانو خپلو لیدونکے

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يس ﴿١﴾ وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ

الله عالم دے په مراد د خپل (قسم) شاهد دے قرآن په ډک د حکمت نه: یقینا ته خامخا د

الْمُرْسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٤﴾

لیږلے شوو نه یې: په لار دے نیغې باندې:

تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٥﴾ لِتُنذِرَ قَوْمًا

(نازل کړے شوے) په نازلیدو د زورور او مهربان نه: چه ویروې ته دا قوم چه

مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ فَهُمْ غَافِلُونَ ﴿٦﴾ لَقَدْ

نه دی ویرولی شوی پلاران د دوی: پس دوی غافله دی: یقینا

حَقَّ الْقَوْلُ عَلَىٰ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا

ثابت شوے دے وینا (حجت) په ډیرو د دوی باندې: پس دوی: ایمان

يُؤْمِنُونَ ﴿٧﴾ إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ

نه راوړی: یقینا مونږه ګرځولی دی موږ: په څټونو د دوی کښې

أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُم

طوقونه: پس دا رسیدلی دی تر زنو د دوی پورې: پس دوی

مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ

سرونه پورته کړیدی: او ګرځولی ده مونږ مخې د دوی نه

سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ

دیوال: او روستو د دوی نه: دیوال: پس پټ کړیدی مونږ دوی لره:

فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾ وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ

پس دوی هیڅ نه وینی: او برابر دی په دوی باندې:

چه سورۃ یس زړه د قرآن کریم دے (روح المعارف ۳/۲۱): مسئله: مفتی صاحب رحمه الله لیکلی دی چه یس نوم د ښاغلی رو نوم ایخودل ښکاره دی، بیا ئې امام مالک رحمه الله مکروه نه دی ګڼړه کړی څکه چه معنی ئې نه ده معلومه اسماء الٰهیه شوے او د کومو صحیح معنی معلومه نشی د سره ډیره نه مکنه دا چه شاید دا د معنی ځے وی چه د الله تعالیٰ سره مخصوصه وی لکه خالق رازق وغیره البته چه د لفظ تاکو یاسین په رسم خط سره ولیکلے شی نو دا د نوم انسان د پاره نوم ایخودل جائز دی. حکیم قرآن کښې راغلی دی: شلګو آل یاسین: (الصافات ۱۳۰) په ذکر شوی ایت کښې معروف قرآت (إِلْيَاسِين) دے مګر په بعض قرآتو کښې آل یاسین هم راغلے دے: (معارف ۲/۳۶).

ربط: ... د شلا حت ... توحید ... (الطور ۴۹): ۱: هغه سورۃ کښې په ذکر شوی عقلی دلائل ذکر شو او دلته په نقلی ذکر کوی: ۲: هغه کښې مسئلۂ توحید ثابته شوه په دلائلو باندې او دلته طریقه د تبلیغ بیانوی: ۳: هغه کښې مسئله واضحه شوه او دلته د منکرو لره د تخویف دنیاوی او اخروی بیان پیش کوی (ملا ۴۲): ۴: د هغه سورۃ سر کښې دعوی د توحید وه او دلته صداقت د قرآن او د رسول صلی الله علیه وسلم بیانوی: ۵: هغه کښې سورۃ شروع شوے دے په توحید او سورت ختم شو په توحید باندې. خلاصه: په دې سورت کښې دوه باب دی: اول ترغیب پورې دویم ترهیب پورې دویم تر اخره پورې: په اول باب کښې اوه خبرې دی: ۱: صداقت د کتاب سره د صداقت د رسول صلی الله علیه وسلم نه په ذکر او دیو شاهد سره ترغیب پورې: (۲) تخویف اخروی او دنیاوی ... ؛ (۳) زجر منکرینو لره ... ؛ (۴) بشارت مومنانو لره ... ؛ (۵) مختصر دلیل عقلی ... ؛ (۶) نقلی دلیل د ډیرو پیغمبرانو نه ... ؛ (۷) عقلی ...

حم وغیره د صاحب یخ نه دوشنا نه : او د هغه نه بها وری ، وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِیْمِ ، دا قسم دے په دے ایت کښې جواب
د قسم دے ، عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ : دا دوئیم خبر دے یعنی ته د نیغې لارې باندې یې او بل د لارې نه نه بانیې په (قرطبي)
تَنْزِیْلَ ، ای انزل تنزیل : یعنی رالیږلے شوے دے په دا لیږلو سره د طرف د زورور او مهربان نه قات نه (روح المعاني)

ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ⑩

ویره ورکړې ستا دوی لره ؛ او نه ویره ورکړې ستا دوی لره ؛ ایمان نه راوړي دوی :

اِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ

یقینًا ویره ورکوې ته : هغه چا لره چه تابعداري کړي د نصیحت : او ویره کړي :

الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّ

د رحمٰن نه ؛ په غیب سره ؛ پس زیرے ورکړه ده لره ؛ په بخښنه : او په

اَجْرٍ كَرِيْمٍ ⑪ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى

اجر عزتمند ؛ یقینًا موږ ؛ ژوندي کوو ؛ مړي او لیکو :

وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ وَكُلَّ

او لیکو موږ هغه عملونه چه دوی مخکښې لیږلي ؛ او روستو کارونه د دوی ؛ او هر

شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ⑫

شے ؛ حساب کړے موږ هغه لره ؛ په کتاب واضحه کښې :

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ م

او بیان کړه دوی ته مثال ؛ د خاوندانو د کلي :

اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ⑬ اِذْ اَرْسَلْنَآ

کله چه راغلل هغه ته پیغمبران : کله چه راولیږل موږ :

اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا

دوی ته ؛ دوه کسان ؛ پس دروغژن کړل دوی هغه دواړه ؛ پس مضبوط کړل موږ

بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ⑭

په دریم سړي ؛ نو ووئیل دوی ؛ یقینًا موږ ؛ تاسو ته لیږلي شوي یو :

قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا لا

دوی ووئیل ؛ نه یئ تاسو ؛ مګر انسانان ؛ په مثل زموږ ؛

وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ مِنْ شَيْءٍ لا

او نه دے رالیږلے ؛ مهربان ؛ هیڅ ؛ شے :

ءَاَنْذَرْتَهُمْ : یقینًا اچولي دي موږ په غاړو د دوی کښې طوقونه پس
دغه رسیدلي دي ژامو ته پس دوی د
سر اوچت کړي شوي دي ، په
تفسیر مظهري کښې دي چه دا
د دوی د یاره یو مثال ذکر کړل دے
ویکندوی شیخ رحمه الله فرمائي چه دا
د دوی د ایمان نه راوړلو علت دے
یعنی د مهر جبارت ته اولے مثال
دے . وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ
دا دوئیم مثال دے : (جواهر)
د شاه ولي الله شیخ رحمه الله فرمائي یکار
خو دا دے چه خلقو ته په خوځالي
سره د رحمت د خدائي امر قبول
کړے وے لیکن په ژبانو خلقو باندې
د باري تعالیٰ د قهر مهر لګیدلے دے
نو د دے نه خدائي تعالیٰ د ایمان
لیاقت ختم کړے دے په سبب د بد عمل
د دوی سره : وَجَعَلْنَا الخ : دا
عبارت دے د مهر د قهر د باري تعالیٰ
نو اوس د دوی ته ویرول او نه ویرول
برابر دي . (افضل مثالے ثابت نه شي)
پس بیت کړے دي موږ دوی لره ،
(فتح شاه) یعني پټې کړې دي موږ
سترګې د دوی د حق نه . (ابن کثیر)
مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ : یقینًا فائده نه کړي
ویره ورکول ته هغه چا ته چه پیروي
کوي د نصیحت ، حافظ ابن کثیر رحمه الله
فرمائي چه هغه قرآن دے (۳/۵۶۷)
اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ : دا دلیل عقلي دے بعث
دا دے : یقینًا موږ به ژوندي کوو
مړي لره او لیکو موږ هغه عملونه چه
دوی مخکښې لیږلي دي په ژوند کښې او
هغه چه روستو دوی پریښې دي ، شیخ
الوسي رحمه الله فرمائي : لکه ځنګه چه علقمه

بنودلے دي او یا ئې کتاب تالیف کړے وي او یا ئې وقف شے وقف کړے وي او یا ئې اباد کړې وي فی سبیل الله کړې وي او داسے نور د
کارونو نیکونه او بد ونه لکه جوړول د قانون د ظلم او د کمداوان او مرتب کول د اسبابو د شر او د فساد په مابین کښې د
بند کالو کښې شو وغیره الخ (روح المعاني) او مطابق هم ذکر شوي دي (او معارف ۲۶/۷) قم : یاد دے چه اثار کښې مراد هغه موږ سره دي دي لکه

حدیث شریف کښې راغلي چه کله بنو سلمه اراده وکړه چه مسجد نبوي ته نږدې رانقل شي نو نبي علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل: دیارکم تکتب آثارکم دیارکم تکتب آثارکم. چه خپلو کورونو کښې وسیږئ ستاسو قدمونه لیکلې شي ...
(او دسمرقندي کوري تفسیر عثماني ...) واضرب لهم: د دې مثال ... نقل دې د دوو رسولانو شوې. حافظ ابن کثیر ...

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿١٥﴾ قَالُوا

نه یئ تاسو : مګر دروغ وایئ : ووئیل دوی :

رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾

رب زمونږ ، ښه پوهیږي : چه یقیناً مونږ تاسو ته : لیږلي شوي یو :

وَمَا عَلَيْنَا إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٧﴾

او نشته په مونږه باندې : مګر رسول : ښکاره ره دی :

قَالُوا إِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ لَئِن لَّمْ

ووئیل دوی : یقیناً مونږ د سپیره شوي یو تاسو باندې : که چرې منع

تَنتَهُوا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُم

نشوئ تاسو : خامخا یقیناً به کلوخې ولو تاسو لره : او خامخا یقیناً به رسیږي تاسو ته

مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨﴾ قَالُوا طَائِرُكُم

زمونږ د طرفه ، عذاب دردناک : ووئیل دوی : سپیره والی ستاسو

مَّعَكُمْ ۚ أَئِن ذُكِّرْتُم ۚ بَلْ

تاسو سره دے : آیا که چرې پند درکړے شي تاسو ته (نو بد فالي نیسئ تاسو) : بلکه

أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿١٩﴾ وَجَاءَ

تاسو : قوم : زیاتي کوونکي یئ : او راغلو

مِنْ أَقْصَا الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ

د آخر طرف : د ښار نه : یو سړے چه منډې وهلې

قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾

ووئیل هغه : اے قومه زما : تابعداري وکړئ : د پیغمبرانو :

اتَّبِعُوا مَن لَّا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُم

تابعداري وکړئ د هغه چا : چه نه غواړي تاسو نه : مزد بدله : او هم دوی دي

مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾

هدایت موندونکي :

فرمائي چه کوم پروسلفنو. وانفل شوي دي چه ولکې انطاکیه ... او دا ورته کسان استولي او شاګردان د عیسیٰ علیه السلام وو او بیا فرمائي چه په دې کښې نظر (اعتراض) دے چه ... طریقه ... اوبیا نه دے طریقه ذکر کړې. پس حاصل دا دے چه دا نو کلي د کوم ښار وو او دا دے وايه رسولان د الله تعالیٰ له طرفه لیږلي شوي وو. وګورئ ابن کثیر ... جواهر ... قاسمي ... الم ... آرشید القرآن ... ابن کثیر ...

حوالجیش کوله ٢٠ اِنَّا تَطَیَّرْنَا بِکُمْ: یقیناً مونږه سپیره حاله شو ستاسو په وجه؛ یعني چه تاسو راغلئ نو په مونږه تکلیف شروع شویے. واستاسو بد فالي وه ... (افضل ...) ... انسان ... اعرافهم وګورئ. فائده: او عادت د جاهلانو دا دے چه نیک فالي نیسي په هغه شي باندې چه میلان وي هغه ته او قبلوي د طبیعتونو د دوی او بد فالي نیسي په هغه شي باندې چه نفرت کوي د هغه نه او بد ګنړي هغه لره (مدارک ...) اَئِن ذُکِّرْتُمْ: جواب د شرط پټ دے تطیرتم معنیٰ دا شوه آیا که چه نصیحت درکړے شي تاسو ته نو بد فالي نیسئ تاسو؛ وګورئ مدارک.

وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِیْنَةِ: د رجل نه حبیب نجار ... مراد دے (جواهر ...) شیخ القرآن رحمه الله فرمایل چه صاحب یس ته ... رجل نارینه ویلې دے او په بیان کوم کښې لنګ منزله دي ... ... او ... منزل قِیْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ دے.

او قیل مجهوله صیغه ده چه څرګند شوے چه ورته وشو: داخل شه جنت ته؛ وئیلې شي: داخل شه جنت ته او کرامات شهادت دے ده په بیان د میسیلي د توحید باندې.

وَمَا لِيَ لَا: په دې کښې دعوت دے توحید ته په احسن طريقې سره، ځو دے وجې نه چه د خپلې نفس طرف ته نسبت شروع کوي د پاره د دے چه مخاطب نے نه اوښکنري او د خپلې اخیر مخاطب ته اړوي. (احسن)

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ

او څه دلیل دے ما لره چه نه عبادت کوم هغه ذات چه پیدا کړے يم زه، او خاص هغه ته

تُرْجَعُونَ ٢٢ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً

واپس کړے شئ تاسو، آيا ونیسم زه سوا د هغه نه معبودان

إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي

که اراده وکړي زما رحمٰن د څه ضرر، نه لرے کولے شي له ما نه

شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَلَا يُنقِذُونِ ٢٣ إِنِّي

سفارش د دوی هیڅ شے ضرر، او نه دوی خلاصولے شي ما لره، یقیناً زه

إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ٢٤ إِنِّي آمَنتُ

په دغه وخت کښې خامخا په ګمراهئ ښکاره کښې يم، یقیناً ما ایمان راوړے

بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ ٢٥ قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ

په رب ستاسو، پس واورئ زما خبره، وویلے شو داخل شه جنت ته

قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ ٢٦ بِمَا

وویلے هغه کاشکې چه قوم زما په پوهیدے، په هغه چه

غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ٢٧

بخښنه وکړه ما ته رب زما او وګرځولم زه د عزتمندو کړے شوو نه

۞ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِ مِن بَعْدِهِ مِنْ

او نه دی رالیږلی مونږ په قوم د هغه پس د مرګ د هغه نه، هیڅ

جُندٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ ٢٨

لښکر د آسمان نه، او نه یو مونږ رالیږونکي

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ

نه وه هلاکت مګر چغه یوه، پس ناڅاپه دوی

خَامِدُونَ ٢٩ يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا

سړه شو، هائے افسوس په دا بنده ګانو باندې، نه

أَأَتَّخِذُ ۲۳: دا د سورت مقصد دے چه په الله تعالیٰ غږ او غالب نیغے (افضل)

إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ: مشرکانو په هغه باندې حمله وکړه نو هغه په دغه حال کښې خپل قوم ته خطاب کوي او کښې خپل اخري اعلان وکړو. زما قومه! واورئ ما ستاسو خالق او مالک الله په توحید باندې ایمان راوړے تاسو لره هم په دے باندې ایمان راوړل مناسب دي. يا خطاب رسولانو ته دے چه کله مشرکانو د دوی قتل کول وغوښتل نو دا رسولانو ته خطاب وکړو وئے ویل چه ګواه اوسئ تاسو الله پورې هغه باندې ما ایمان راوړے دے. د دے وجې نه ما اقرار او اعلان واورئ او په دے باندې ګواه شئ. (جواهر)

قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي: په جنت کښې هم د قوم د ایمان ارمان وکړو، دا د نهایت اخلاص دے. امام بغوي لیکي چه ابن عباس رضي الله عنهما فرمایلي دي، نصح قومه حیا ته وقال (یقوم اتبعوا المرسلين) وبعد مماته في قوله (یا لیت قومي یعلمون) الآية. ابن کثیر: رحمة الله ورضي عنه فلقد كان حريصا على هداية قومه (ابن کثیر)

وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ: د کرم معنی ده عزتمندی، د مرګ نه روستو معلوم شو چه الله تعالیٰ ده لره عزت ورکوي په جنت کښې نو چه د هغه په قبر باندې شرک نه کیږي.

وَمَا أَنزَلْنَا: د حبيب نجار د قوم د بد انجام بیان دے. إِن كَانَتْ: په دے کښې عذاب د هغه قوم دے. آلوسي رحمه الله لیکلي دي چه الله تعالیٰ ورته جبرئيل عليه السلام راولیږلو او چغه یې کړه د دروازے درشل نه ونیولو او یو داسې هیبتناکه چغه یې ووهله چه ټول هلاک شو. (روح، جواهر)

مه یحسّرة دَ مثل الیتَ و . حاله افسوس په دلے بندګانو باندې . تسلی جلالین لیکي چه دوی لائق دی چه افسوس پرې
وکړی افسوس کونکی انټې) . **لطیفه** : دَ جناب شیخ القرآن ولی الله حفظه الله کابل کرامو والا یو تحریر کتاب

مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ
نه راځي دوی ته : هیڅ یو رسول : مګر دوی به هغه سره
يَسْتَهْزِئُونَ ﴿۳۰﴾ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا
استهزاء کوی : ایا نه ګوری دوی : څومره هلاک کړی دی موږ
قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿۳۱﴾
مخکی دوی نه : د پیړو نه ، چه هغوی دوی ته نه راواپس کیږی
وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿۳۲﴾
او نشته هیڅ یو مګر ټول : زموږ مخې ته : حاضر کړے شوی
وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا
او نښه د قدرت دوی لره : زمکه مړه ده : چه تازه کړو هغې لره
وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ﴿۳۳﴾
او راوباسو موږ : د هغې نه دانې : نو ځینې د هغو نه خوری دوی
وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَ
او پیدا کړی دی موږ په دیکښې باغونه : د کجورو نه : او د
أَعْنَابٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ ﴿۳۴﴾
انګورو نه : او روان کړی دی موږ په هغې کښې : د چینو نه
لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ
چه وخوری دوی : د میوې د هغو نه : او نه دی جوړه کړے هغه لاسونو د دوی
أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿۳۵﴾ سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ
ایا پس شکر نکوی دوی : پاکی ده هغه ذات لره : چه پیدا کړی دی
الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَ
جوړے : ټول : د هغه نه چه راټوکوی زمکه : او
مِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ﴿۳۶﴾ وَآيَةٌ
د نفسونو د دوی نه : او د هغو نه چه دوی پرې نه پوهیږی : او دلیل د توحید

د غم په حدِ هغه وخت وايي چه د ژړا وچه ... اوره
ضروري مسائلو باندې لیکلے وے
په ۴۰۰ صفحو مشتمل دے : نوم ئے
دے : یحسرة علی العباد . فائده :
دا د ماضی استمراری په
معنیٰ کښې دے یعنی د دوی خوا ته
چه کوم یو رسول راتللو نو دوی
به په هغه پسې استهزاء کوله . د
نه حال یا استقبال مراد نه دے
چه فوت شوے په جاری والی د نبوت
استدلال وکړے شی څنګه چه د
مرزایانو خیال دے . (جواهر ص ...)
أَلَمْ يَرَوْا : د دے ایت نه تر
مخه پورے موضوع باب دے . په دیکښې
شپږ خبرې دی (۱) زجر ده : (۲)
بیا هغه دلائل ترمکا پورې په زور د
شفاعت قهری (۳) او دے قسمه
زجرونه . ملا شه کښې : (۴)
بشارت ده : (۵) تخویف اخروی
د منکرانو نه او ... نه : (۶) جواب
د شبهه ده : أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ
امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه دا رد
د هغه چا په خیال کوي
چه بعضې مخلوق ته هغه دې چه
واپس کیږی په پس د مرګ نه دنیا
ته مخکښې د قیامت نه (قرطبی) . د
عقیدې تناسخ په باره معروف دی
(روح البیان) ابن کثیر رحمه الله فرمائي :
چه دا دهریان دی (منکرین) د دے
نه د عقیدې د رجعت د رد افضو
بطلان هم واضح شو چه جوړ دی
حضرت علي رضي الله عنه او د بعضو
نورو امامانو د قیامت نه مخکښې
دنیا ته د رجعت قائل دي :
(جواهر ص ... ، ذکر رجعت روح ... ص ...)
وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ : جمهور

منزل ۵

مفسرین رحمهم الله ما د نفی د پاره ګڼلې (معارف ص ...) د هغه معنیٰ لاندې لیکلې شوې ده . تابعین نے په حنه نقل کښې
ذکر کړي . امام ابن جریر رحمه الله فرمائي چه ما موصوله دے . (ابن کثیر ص ...) معنیٰ ئے دا شوه او د هغو نه چه جوړ کړي
لاسونو د دوی ، جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائي : لکه مثلا د میوو نه قسما قسم حلوا ګانے ، اچار ، مربه

عبد چکنی تیاریږي او د بعض میوو نه تیل وغیره راوباسل کوم چه د انسان کسب او عمل نه چه دے.
(معارف ۳۰۴ ج۷) سُبْحٰنَ: دا خبری د توحید دے په لفظ د تسبیح سره اخری ایت ته کښ په هم راغلی دے.
رومانی ۲۲

لَّهُمُ الَّيْلُ ۖ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ
دوی لره شپه ده : چه راوباسو موږ د هغې نه ورځ : پس ناڅاپه دوی
مُّظْلِمُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۭ
په تیاره کښې دي : او نمر : چلیږي د پاره د حد مقرر شوي د هغې
ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٣٨﴾ وَالْقَمَرَ
دغه اندازه ده : د زورور او پوهه ذات ده : او سپوږمۍ
قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ
مقرر کړي موږ د هغې لره منزلونه تر دے چه واپس ګرځي پشان د زاړه ښاخ د کجورے
الْقَدِيْمِ ﴿٣٩﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ
زوړ : نه نمر : مناسب دي د هغې لره : چه
تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۭ
راګیره کړي سپوږمۍ : او نه شپه مخکښې کیدونکې ده : د ورځے نه
وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ
او هر یو په ځائے د ګرځیدو کښې : لامبو وهي : او نښه د توحید دوی لره ده
اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ
چه یقیناً موږ سپاره کړي دي : نسل د دوی : په بیړۍ
الْمَشْحُوْنِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ
ډکه کړے شوي کښې : او پیدا کړي دي موږ د دوی لره : د هغې مثل د دوی نه
مَا يَرْكَبُوْنَ ﴿٤٢﴾ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا
هغه چه دوی سوریږي پرې : او که مونږ وغواړو : نو ډوب به کړو دوی لره پس
صَرِيْخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِلَّا
نه به وي فریادرس دوی لره : او نه به دوی خلاص کړے شي : مګر دا
رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴿٤٤﴾ وَاِذَا
د رحمت د موږ له اړخه : او د نفع نه : تر یو وخت پورے : او کله چه

لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا: د مستقر نه مراد د سفر د ختمیدو ځائے دے یعنی لا انتها مرکز ته یا زمانې دے یعنی وقت مقرر شوي خیال د دے او ګوري ابن کثیر (تفسیر ۵۸۳ ج۵): مراد د دے نه تحت العرش دے چه یو وخت د زمینې کیږي و د نمر د شه د مغرب نه چه هغه قریب د قیامت د دے او په دے دوارو باندے حدیث صحیح دلیل دے: تنبیه: سوال: حدیث دلالت کوي چه د شمس (نمر) سجده کوي لاندے د عرش نه بیا اذن طلب کوي د الله نه نو اذن ورته کیدے شي او حال دا چه حسًا او عقلًا معلومیږي چه د شمس (نمر) په هیڅ ساعت کښې حرکت نه بریږي دي بلکه هر وخت روان دے اګر چه د زمینے علاقه نه غائب شي لیکن په بله علاقه کښې غائب نه وي: نو د دے حدیث څه مراد دے؟ جواب دا دے چه سجده د شمس (نمر) د حرکت د هغه سره منافات نه لري یعنې الله حرکت کوونکے هم تابع د حکم د الله دے او د اذن طلب کولو نه مراد دا دے چه په هره لمحه کښې په اذن د الله تعالیٰ سره روان دے (احسن البیان) جناب مفتي صاحب رحمه الله د دے تفصیلي بحث کړے دے او پښه د غیبیاتو اسناد و مولینا شبیر احمد عثماني رحمه الله بهترینه مقاله د ذکر کړے ده: وګورئ معارف القرآن

فِيْ فَلَكٍ: مراد ترینه مدار دے: ځائے د چورلیدو. سورة انبیاء ۳۳ کښې هم تیر شوي دي او هغه لاندے د اسمان نه دے: مَا يَرْكَبُوْنَ: مفتي صاحب رحمه الله دلته سرخي لیکلے ده: فرمائي په قرآن کښې د هوائي جهاز ذکر (معارف ۳۰۹ ج۷): فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ: عام مفسرین رحمه الله فرمائي چه غوث او مغیث سره

قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا
دو ته نو ووايي شي چه ويريږئ د هغه عذاب نه چه مخي ستاسي ته دي : او د هغه نه چه
خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝٤٥ وَمَا تَأْتِيهِمْ
روستو ستاسي دي، ددې دپاره چه رحم وکړي شي په تاسو باندي : او نه راځي دوي ته :
مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا
هيڅ نښه : د نښو د رب د دوي نه ، مګر دي دوي د هغي نه
مُعْرِضِينَ ۝٤٦ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا
مخ اړوونکي : او کله چه ووايي شي دوي ته : خرڅ کړئ :
مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا
د هغه نه چه درکړي دي تاسو ته الله تعالیٰ : وايي هغه کسان چه کفر يي کړي دي :
لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ
هغو کسانو ته چه ايمان يي راوړي : آيا طعام ورکړو موږ هغه چا ته چه که خوښه کړي :
اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ
الله تعالیٰ نو خوراک به يي ورکړي : نه يئ تاسي مګر په ګمراهئ
مُّبِينٍ ۝٤٧ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ
ښکاره کښي : او وايي دوي : کله به وي دا : وعده د قيامت
إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝٤٨ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا
که چيري يئ تاسي : رښتوني : انتظار نکوي دوي : مګر
صَيْحَةً وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ
د يوې چيغې : چه ونيسي دوي لره : او دوي به
يَخِصِّمُونَ ۝٤٩ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً
جګړې کوي : پس طاقت به نلري دوي : د وصيت کولو :
وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ۝٥٠ وَنُفِخَ
او نه به اهل خپل ته ، واپس ګرځيدلي شي دوي : او پوکي به وکړي شي :

ع ۱۸ ۲

عه قرينه د رَحْم او خلاصون کيږي د ويريدونه په وړاندي سوا د الله تعالیٰ نه نه دي : وګوري مدارک ص ، ابن کثير ص ، قرطبي ص ، ابو السعود ص ، روح ص ، تسهيل ص ، کبير ص ، مظهري ص ، قاسمي ص ، سراج منير ص ، الهام الرحمٰن ص ۳۹۹—۵۰۰ ۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ عه : دا د شرط جزاء محذوف ده : يعني اعرضوا : دوي مخ اړوي : قرينه يي د مخکښي مُعْرِضِينَ ده ، وګوري معارف ص ، ابو السعود ص ، فائده :- په آيت ۴۵ کښي زجر په اعراض د دوي ده او په ۴۶ کښي په استهزاء د دوي او په ۴۷ کښي په انکار د قيامت باندي : أَنُطْعِمُ :- ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چه په مکه کښي زنديقان وو چه کله به ورته امر د صدقي په مسکينانو باندي وشو نو ويلي به يي نه دا دي قسم په الله تعالیٰ چه فقيران کوه به يي الله تعالیٰ او طعام به درکوو موږ . (مدارک ص)

فائده :- په ۴۸ کښي جواب د دريم زجر دي چه تفصيل د قيامت دي د ۵۱ نه تخويف تفصيلي دي ۔

مِنْ مَّرْقَدِنَا: دَ ځاے دَ خوبه راپورته نه، دَ ښتنو شيخو رحمة فرمائي، دَ قيامت منظر دومره ځناک او ويره راوستونکے دے چه دَ کفارو به دَ قبر و عذاب هير کړے شي او خيال به وکړي چه موږ ته اوسه وهائي ۲۳

فِي الصُّوْرِ فَإِذَا هُمْ مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلٰى
په شپيلۍ کښې: پس ناڅاپه دوى به: دَ قبرونو څخه راوتونکي: رب
رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿٥١﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ
خپل ته: زغلیدونکي: وائي به وګلاے افسوس زموږ: چا
بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ
راپورته کړو مونږ لره دَ ځاے دَ خوب زموږ نه: دا هغه وخت دے چه وعده ئے کړے وه
الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٢﴾ إِنْ
رحمٰن: او رښتيا ويلي وو پيغمبرانو: نه ده
كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيْعٌ
دا مګر چغه: يوه: پس ناڅاپه دوى: ټول
لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ
زموږ دربار کښې به حاضر کړے شي: پس نن ورځ: ظلم به نشي کيدے
نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ
په هيڅ نفس: دَ هيڅ شي: او به بدله نشي ورکولے تاسو مګر د هغه عملونو چه تاسو
تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٤﴾ إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ
کړل: يقيناً خاوندان: دَ جنت: نن ورځ:
فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿٥٥﴾ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ
په مشغولتيا کښې به خوشحاله دوى: دوى: او بيبيانے دَ دوى:
فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى الْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿٥٦﴾ لَهُمْ
په سورو کښې: په تختونو باندي: تکيه وهونکي به وي: دوى لره
فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿٥٧﴾ سَلٰمٌ
په هغه کښې ميوه به وي: او دوى لره هغه دي چه دوى ئے غواړي: سلام دے
قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿٥٨﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ
ويلے به شي دوى ته: دَ رب مهربان نه: او بيل شئ: نن ورځ

پورے او ددے نه اول (جواهر ﷺ) دَ عذاب دَ آخرت په نسبت به دوى ته عذاب دَ قبر آرام ښکاره شي (نعنل ﷺ) کفار اګرچه په قبرونو کښې هم په عذاب کښې مبتلا وو هغه ته آرام نه وو مګر دَ قيامت دَ عذاب په مقابله کښې به هغه تکليف عذاب کالعدم معلوم شي، ددے وجے نه به چغے کړي: مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا، چه هغه او سکے نو بيا به وسه: فرښتے يا عام مؤمنان به جواب ورکړي

هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ الخ: (معارف ﷺ) فِيْ شُغُلٍ: دا ئې ئے دے چه جنتيان به په جنت کښې په مزو کښې وي او څه چه غواړي هغه به وي او باري تعالیٰ به په هغوى سلام کوي (افضل ﷺ): دا عام دے په مشغولتيا دَ دوى کښې په ټولو لذتونو سره: وګوري تسهيل ﷺ: سَلٰمٌ: اى لهم سلام: يعني دوى لره به سلام وي: (قاسمي ﷺ)

قَوْلًا: اى يقال لهم قولا يعني ويلے کيږي به دوى ته وينا دَ جهته دَ رب مهربان نه (مدارک ﷺ) دَ جنتيانو دَ پاره دا دَ ټولو نه لوئے اعزاز دے چه باري تعالیٰ به دوى ته پخپله سلام وائي: (جواهر ﷺ) دَ ﷺ نه تر ﷺ پورے تخويف دے

أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾ أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ

اے جرم کوونکو : ایا پوخ نوطه نه وو کړی حکم تاسو ته :

يَا بَنِي آدَمَ أَنْ لَا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ إِنَّهُ

اے اولاده د آدم چه بندګی مه کوئ د شیطان : یقیناً دا

لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ اعْبُدُونِي

تاسو لره دشمن ښکاره دے : او بندګی کوئ خما :

هَٰذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ أَضَلَّ

دا : لاره : نیغه ده : او یقیناً بے لارے کړې

مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾

ستاسو نه چلے ډیرے : ایا پس نه وئ تاسے چه عقل مو کړے وه اخلی :

هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾

دا جهنم هغه دے چه وئ تاسے چه وعده به درسره کیدے شوه

اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾

ننوزئ دے ته نن ورځ په سبب د دے چه تاسو کفر کولو :

الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا

نن ورځ مهر به ولګوو مونږ په خلو د دوی : او خبرے به کوی مونږ سره

أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا

لاسونه د دوی : او ګواهی به کوی پښے د دوی په هغه عملونو چه وو دوی

يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ

چه کول به : او که چرے وغواړو مونږ : نو ړانده به کړو مونږ :

أَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَأَنَّىٰ

سترګے د دوی : پس منډے کیږی به دوی لارے ته : پس د کوم ځائے نه به

يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ عَلَىٰ

لیدل کوی دوی : او که چرے وغواړو مونږ : نو بدل به کړو شکلونه د دوی : په

وقف غفران

وَأَنِ اعْبُدُونِي : یعنی وګنړئ
مالره او اطاعت وکړئ خما :
(مدارک ج۴ ، جلالین ص۳۷۰) :
وَلَقَدْ أَضَلَّ یقیناً ګمراه کړه
شیطان ستاسے نه چلے ډیرے :
الْيَوْمَ نَخْتِمُ : وګورئ سورة
حٰمٓ سجده ۲۰ ، وَلَوْ نَشَاءُ :
دا تخویف دنیاوی دے :
او که چرے وغواړو مونږ :
نو د دوی سترګے به محو
کړو او د دوی د سترګو
ځائے به د مخ سره هوار
کړو الخ :
(جواهر ج۹)

لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى مَكَانَتِهِمْ (فِي الْخَلْقِ) : اپوښته په کړو و ولړه په ځای اَنښ کښ (حَتّى القرآن) وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ : کافرانو اعتراض کاوه چه دا کلام د دوی شعر دے نو باری تعالیٰ جواب کوی چه دا قرآن شعر نه دے بلکه دا نصیحت دے او وصف قرآن دے الخ

مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوا مُضِيًّا وَّلَا

ځای د دوی کښ ، پس طاقت به نه لری د دوی د تللو ، او نه به

يَرْجِعُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي

را واپس کیږی ، او څوک چه ورله عمر زیات کړو نو را ګرځوو هغه لره په

الْخَلْقِ ۭ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ

پیدائښت کښ : آیا پس نه پوهیږی دوی ؛ او نه دی ښودلی مونږ نبی (ﷺ) ته

الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

شعر جوړول ، او نه مناسب دی دهٔ لره ؛ نه دے دا کتاب مګر نصیحت دے

وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا

او قرآن واضحه ، د پاره د ویرې ورکړی هغه چا لره چه ژوندے وی ،

وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧٠﴾ اَوَلَمْ

او ثابته شی حجت په کافرانو باندې ؛ آیا او نه

يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ

ګوری دوی چه مونږ پیدا کړی دی دوی لره د هغه څیز چه جوړ کړی دی لاسونو زمونږ

اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا

چارپایان ، پس دوی هغو لره مالکان دی ؛ او تابع کړی مونږ هغه

لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿٧٢﴾

د دوی د پاره ، پس بعضے د دغو سورلئی د دوی دی ؛ او د دغو نه خوراک کوی ؛

وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۭ اَفَلَا

او د دوی د پاره په دغو کښ نفعے دی ، او د څښکو څیزونه دی ؛ آیا پس دوی

يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

شکر نه کوی ؟ ؛ او جوړ کړی دی دوی ، سوا د الله تعالیٰ نه ،

اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

معبودان ، د دې د پاره چه د دوی مدد وکړے شی ؛ طاقت نه لری

وصف قرآن دے الخ (النحل ص٢١٦) ، فائدہ : شعر نوملے نظم ته نه وائی بلکه شعر وائی وهمی کلام ته چه د پاره د خوشالولو یا خفه کولو د چا وی ، نو د وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ معنے دا ده چه نه دے مناسب نبی علیه السلام لره چه د دوی په کلام کښ خیالی او فرضی مضامین وی چه د هغو حقیقت نه وی صرف د خوشالولو د پاره وی بلکه د نبی علیه السلام مضامین هغه دی چه پیش کوی خبرے واقعی نه فرضی اعتباری ، (النحل ص٢١٦) ؛ مَنْ كَانَ حَيًّا : چه عاقل فکر کونکے وی (المراغی) ، اَوَلَمْ يَرَوْا : دا اخره پوره دریم باب دے ؛ په دیکښ څلور خبرے دی : (١) عقلی دلائل (٢) زجر ونه په شرک (٣) په انکار د قیامت سره متصل دے (٤) دعوی د توحید ؛ فائدہ : دغه نه عقلی دلائل دی او دا قسم دلائل سورة نحل ... کښ تیر شوی دی ؛ وَاتَّخَذُوْا : په دیکښ رد دے په شرک باندې او د لَا يَشْكُرُوْنَ تفصیل دے ۞ ۞

وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ او دا کفار د معبودانو د پاره لښکرے حاضرے کړے شوی دی خدمت نے کوی او دفاع کوی

د دوی نه ؛ (مدارک ص...) ؛ (٢) شیخ المشائخ مولینا حسین علی رحمه الله فرمائی او دا معبودان د دوی د کفارو د پاره لښکرے دی په خیال د دوی کښن حاضر دی سفارش کوی د دوی د پاره ؛ (بلغة الحیران ص٣٩٣)

(تبچه دوے څو)؛ وګورئ جواهر القرآن ص۹۸۱ ، فَلَا یَحْزُنْكَ : د تسلّی دہ دا ئی د حق نه چه د دوی په
خبرو څه خفه کیږه ۲ څه دوی نه خبر یم (انفس ص۲۱) په دے کښ زجر دے په نه منلو د قیامت

نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ۝٧٥

د مدد کولو ګوری : او دوی هغوی له : لښکرے حاضرے کړے شوے دی :

فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ

پس نه دے غمژن کړی تا لره ، وینا د دوی : یقیناً مونږ پوهیږو په هغه څه چه دوی پټوی

وَمَا يُعْلِنُونَ ۝٧٦ أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا

او هغه چه دوی ښکاره کوی : آیا او نه ګوری : انسان : چه یقیناً مونږ

خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ

پیدا کړے دے دا لره : د نطفے نه : پس ناڅاپه دے : جګړه مار

مُّبِينٌ ۝٧٧ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ

ښکاره دے : او بیانوی مونږ ۲ لره : مثال : او هیر کړے ئے : پیدائش خپل

قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ۝٧٨

وائی څوک به ژوندی کړی ، هډوکی : او هغه به ریزه ریزه وی :

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ

ووایه : ژوندی به ئے کړی هغه ذات چه پیدا کړی ئے دا : اول

مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ۝٧٩ الَّذِي

ځل : او هغه په ټولو مخلوق باندے پوهه دے : دا هغه ذات

جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا

چه پیدا کړی تاسو لره : د ونے : شنے نه : اور : نو ناڅاپه :

أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ۝٨٠ أَوَلَيْسَ الَّذِي

تاسو د هغے نه : اور بلوی : آیا او نه دے هغه ذات : چه

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ

پیدا کړی دی : آسمانونه : او زمکه : قدرت والا : په دے

أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ

چه پیدا کړی : په شان د دوی ؟ ولے نه ؟ او هغه ډیر پیدائش کونکے :

منزل ۵

باندو او دے کښ بیان د خصومت د هغه دے : او په دے کښ جواب دے : په دے کښ دلیل دے : مِنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ : (۱) مراد د دینه هره شنه ونه ده (۲) څکه د ویلی دی په هره ونه کښ اور شته سوا د عناب (مرخنړی) نه او دا وجه ده چه د عجلی تاریخه شنے ونے کښ شاتب (کرنټ) پیدا کوی څکه چه دوه اوږه ونه یو ځائے شو (حسن ص۲۳۱) : (۲) په عربو کښ دوه ونے معروفے وے : یوه مرخ ده بله عفار ، د عربو خلقو په دے دواړو ونو نه دوه څانګے په مثل د مسواک پریکړے چه بالکل به د تازه اوبو نه ډکے وے : د یو به بل باندے سر لوږلو نو په ترینه اور پیدا شو : (معارف ص۳۹۳) .
مثالونه : په مثل د دوی : وګورئ : ص۹۹ اسراء : ص۳۳ احقاف : کُن فَيَكُونُ : ۴۰ نحل ص۱۱ وګورئ : او ص۱۱۷ بقره هم : فَسُبْحَانَ الَّذِي : دا شیخه او شرو د توپلو دلا شلو ده او د تمام سورت حاصل دے . (متبا نزلت) : (۱) د دریو رسولانو واقعه ص۱۳ : (۲) مجادله د صاحب یٰس ص۲۰ : (۳) نفی د شاعری د نبی صلی الله علیه وسلم نه : ص۶۹ ، (۴) ذکر د نفخے د شیطانی کښ ص۵۱ : (۵) ذکر د ضیحے په ص۵۳ : او د نطفے په ص۷۷ کښ :
لطیفه : شیخ القرآن رحمه الله به فرمایل : پیدائش د نطفے

دائیله په صیحه ، مرګ به په صیحه ، ځي به په صیحه ، پاڅي به په صیحه (چیغه) نو ولے شرک کوے ؟ (الحمد لله د الله تعالیٰ
په توفیق سورة یٰس ژباړو د یکشنبه ۸ ـ اپریل ۲۰۰۴ء مطابق ۱۹ ربیع الاول ۱۴۲۵ھ په کمره د سکونت
مجازی توحید آباد کښ په ۲/۳۰ بجے سورة یٰس ختم شو ـ الاحقر محمد عبدالجبار عفی لهٔ)
☆ ☆ ☆ ☆

سُوْرَةُ الصّٰفّٰتِ: (مکي سورت دے، په ترتيب کښې ۳۷ دے د سورة يٰس نه او په نزول کښې ۵۶ دے د سورة انعام نه. نوم ئے په اول آيت کښې راغلے دے. دعوىٰ: عِبَادَ الْمُصْطَفِيْنَ. د چونړو شوو بندګانو عاجزي

الْعَلِيْمُ ۝٨١ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ

پوهه دے: يقيناً حکم د هغه چه کله اراده وکړي د يو شي

يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝٨٢ فَسُبْحٰنَ الَّذِيْ

ووائي هغه ته: شه نو شي: نو پاکي ده هغه ذات لره چه

بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝٨٣

په لاس د هغه کښې بادشاهي د هر شي ده: او خاص هغه ته به واپس کړے شئ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۝١ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۝٢

قسم دے په هغو ملائکو چه صف تړونکي دي په صفونو: پس قسم دے په شړونکو په شړلو سره:

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝٣ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝٤

پس په لوستونکو د ذکر لره: بېشکه معبود ستاسو يو ذات دے:

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

پالونکے د آسمانونو او د زمکې دے: او د هغه څه چه په مينځ د دواړو کښې دي

وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝٥ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ

او پالونکے د مشرقونو دے: يقيناً مونږ ښائسته کړے دے آسمان

الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ الْكَوَاكِبِ ۝٦ وَحِفْظًا

نزدې ته په ښائست د ستورو: او ساتنه

مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۝٧ لَا يَسَّمَّعُوْنَ

د هر شيطان نه: سرکش نه: نه شي غوږ نيولے

اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ

مجلس برتر ته: او ويشتلي شي دوي: د

كُلِّ جَانِبٍ ۝٨ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ

هر جانب نه: د شړلو دپاره: او دوي لره عذاب

په چونړو ملائکو او د نبيانو عليهم السلام او عجزه د پېريانو هم ذکر دے او د موحدينو توحيد پکښې هم دے۔ (ملائکه ۱۹۰)

مناسبت: (۱) مخکښې سورت کښې نفي د شفاعت قهري وه او دلته عجزه د نبيانو ذکر کړي. (۲) مخکښې سورت کښې په مسئله باندې عقلي دلائل ور نښودلے شوي او دلته نقلي دلائل ذکر کړي. (۳) مخکښې سورت ختم شو په توحيد او دلته شروع کښې په سرکښې دعوىٰ د توحيد ده. (۴) مخکښې سورت ختم شو په تسبيح او دا سورت ختم کړے په تحميد باندې. **فائده**: دوه خانے نه د خطورے حصے دوېم باب شروع شو، په دې کښې هم دا شپږ سورتونه دي۔ **خلاصه**: د اسورت هم درې بابونو تقسيم شوے: اول ترکوع پورې او دويم تر رکوع پورې، دريم تر آخره پورې. په اول باب کښې پنځه خبرے دي: (۱) عاجزه د ملائکو ۱ لله. (۲) حال د جنات توحيد. (۳) زواجر په انکار د رسالت ۱۱. په انکار د قرآن ۱۵. په انکار د قيامت ۱۹ په انکار د توحيد باندې ۲۲. (۴) تعريف اخروي په تبري سره ۴۰ نه او بيا د ۴۱ نه تفصيلي. (۵) بشارت تفصيلي د ۴۰ نه. **وَالصّٰٓفّٰتِ**: د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دي چه د دې نه ملائک مراد دي. (ابن کثير رحمه الله) د جمهورو مفسرينو رحمهم الله په نزد د دې نه مراد فرښتے دي او د هغوي درې صفتونه بيان شوي دي

(کورې معارف ۲۶). **فائده**: دا د ملائکو حال دے چه ملائک د الله تعالى په عبادت کښې په قطار ولاړ دي او شيطانان شړي: د آوريږي د حکم د الله تعالى نه (او تلاوت کونکي دي ذکر لره) او دا وائي چه ضروريات پوره کونکے بغير د الله تعالى نه بل څوک نشته: نو دا د ملائکو حال دلالت کوي چه إلٰه د خلقو يو دے او

یه هغه ذ اسمانونو او ذ زمکے او ذ مخلوق ذ دواړو رب دے، (الفضل ملخصًا). فائده: دلته د الله تعالی قسم دے په ملائکو باندې. حافظ ابن قیم رحمه الله مستقل کتاب لیکلے دے "التبیان فی اقسام القرآن". جناب

وَاصِبٌ ﴿٩﴾ إِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ

همیشه دے ؛ مګر هغه څوک چه ... تښتوی (اوچتوی) ، تښتول ؛

فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿١٠﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ

پس پسے کیږی ورپسے ؛ شغله بلیدونکے ؛ نو تپوس ترے وکړه ددوی نه ؛

أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَنْ خَلَقْنَا ۚ إِنَّا

آیا دوی سخت دی په پیدائش کښی او که هغه چه پیدا کړی دی مونږ ؛ یقینًا ؛

خَلَقْنَاهُمْ مِنْ طِينٍ لَازِبٍ ﴿١١﴾ بَلْ عَجِبْتَ

پیدا کړی مونږ دوی لره ؛ ذ خټے نښلیدونکے نه ؛ بلکه تعجب کوے ته ؛

وَيَسْخَرُونَ ﴿١٢﴾ وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾

او مسخرے کوی دوی ؛ او کله چه نصیحت ورکړے شی دوی ته ؛ نو نصیحت نه قبلوی دوی ؛

وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾ وَقَالُوا

او کله چه وینی دوی معجزه ؛ نو مسخره ترینه جوړوی دوی ؛ او وائی دوی ؛

إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿١٥﴾ أَإِذَا مِتْنَا

نه دے دا ؛ مګر جادو ؛ ښکاره ؛ آیا کله چه مړه شو مونږ ؛

وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾

او شو مونږ خاوره ؛ او هډوکی ؛ آیا مونږ خامخا به دوباره پیدا کولے شو ؟

أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾ قُلْ نَعَمْ وَأَنْتُمْ

او با پلاران زمونږ ؛ ؟ مخکنی ؛ ووایه ؛ او ! او تاسو به

دَاخِرُونَ ﴿١٨﴾ فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ

ذلیل یئ ؛ پس یقینًا ؛ دا چغه ؛ یو به وی ؛

فَإِذَا هُمْ يَنْظُرُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا يَا وَيْلَنَا

پس ناڅاپه به دوی ګوری ؛ او وائی به ؛ هائے افسوس زمونږ ؛

هَٰذَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿٢٠﴾ هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ

دا ؛ ورځ ؛ ذ بدلے ده ؛ دا ؛ ورځ ؛ ذ فیصلے

مُفتی صاحب رحمه الله هم لته په قسمونو باندې لیک کړے دے. وګورئ معارف القرآن ص٣٩٤: زمونږ ذ شیخ القرآن نور الله مرقده نه په العرفان کښی تفصیل راغلے شوے دے: احقر په انعام الرحمٰن کښی ذ ص٣٠١ نه ذکر کړیدے: زمونږ شیوخ رحمهم الله فرمائی چه ذ قرآن مجید اکثر او بیشتر قسمونه بطور دلیل او شاهد ذکر کولے شی خکه احقر لاندے ترجمه ذ ګواهئ لیکلے ده؛ وګورئ جواهر ص٨١: سورة حجر: (وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ) په ص٣٣ ایتونو کښی عقلی دلائل دی پس ذ نقلی دلائلو ذ ملائکو نه او ذ قسم نه: قتاده رحمه الله فرمائی چه پیدا اشوی دی ستوری ذ درے فائدو ذپاره ذ شیطانانو ذ ویشتلو ذپاره او ښائست ذ چه هدایت حاصلولے شی په دوی او ښائست دے ذپاره ذ اسمان نږدے (قرطبی ص٦٥) ملک ص٥، نحل ص١٦ هم وګورئ: وَحِفْظًا: او پیدا کړی مو دی ذپاره ذ ساتنے اسمان (مظهری ص٨٦) او ساتلے مو دے اسمان په ساتنے سره ذ هر شیطان سرکش نه (فتح ص٦) ذ خوئ ذپاره ذ شرلو. (الفضل ص٢٢) ؛؛

(فاستفتهم): دا زور نه دے چه دوی خوشحاله کوی او قیامت نه منکر دی نو ترینه تپوس وکړه چه دا ستا سره دپاره پیدا کول ګران دی او که اسمانونه او زمکه او چه مالا سوال اول پیدا کړیدی ذ ځنے نه نو دوباره هم تاسو ژوندی کولے شم (الفضل ص٦٦)، بَلْ عَجِبْتَ: دا زجر دے په انکار ذ رسالت سره: وَقَالُوا: په ص٢ کښی زجر دے په انکار ذ قرآن په ص٢ کښی زجر دے په انکار ذ رسالت سره، أَإِذَا مِتْنَا: په دے ایتونو کښی زجر دے په انکار ذ بیا راژوندی کولو باندې ؛؛

الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾ احْشُرُوا ع ٥
هغه ورځ چه وئ تاسې په هغې تکذيب سره کولو : راجمع کړئ (اے ملائکو)
الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا
هغه کسان چه ظلم ئې کړی او ملګري ددوی دي، او هغه کسان چه دوی به
يَعْبُدُونَ ﴿٢٢﴾ مِن دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ
عبادت کولو : سوا د الله تعالیٰ نه : نو روان کړئ دوی :
إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمْ ۖ إِنَّهُم
لارے د جهنم ته : او ودروئ دوی، يقيناً دوی به
مَّسْئُولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ
تپوس کولے شي : څه دي تاسو ته چه يو بل امداد نه کوئ : بلکه
هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ
دوی نن ورځے غاړه ايښودونکي دي، او مخامخ به شي بعض ددوی نه
عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوا إِنَّكُمْ كُنتُمْ
په بعضو باندې، د يو بل نه به پوښتنه کوي : وبه وائي دوی، بيشکه تاسې وئ :
تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿٢٨﴾ قَالُوا بَلْ لَّمْ تَكُونُوا
راتللئ موږ ته د طاقت نه : وبه وائي (اشراف) بلکه نه وئ تاسې :
مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن
ايمان دار : او نه وه، موږ لره په تاسې باندې : څه
سُلْطَانٍ ۖ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ
غلبه : بلکه وئ تاسې قوم سرکشه : پس ثابت شو
عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾
په موږ باندې : فيصله د رب زموږ، يقيناً موږ خامخا څکونکي د عذاب يو :
فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿٣٢﴾ فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ
پس ګمراه کړي تاسو ولو موږ تاسو لره، يقيناً وو موږ ګمراهان : نو يقيناً دوی به په دغه ورځ

احْشُرُوا الَّذِينَ: په دے ايتونو کښې تخويف اخروي دے. وَأَزْوَاجَهُمْ: او ملګري ددوی: (فتح ۵۳۶) هم مشرب ددوی، (معارف ۴۳۲): دوله مثله، او تابعدار او امثال ددوی. (جواہر ۹۹۶) تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ: (۱) په زور او په طاقت سره يعني تاسو به موږ ته خپل زور ښکاره کولو. وګورئ مدارک ۴/۱۹ (۲) په قسمونو سره يعني قسمونه به مو کول چه دا شرک حق دے. (مظهري ۱۴/۸) (۳) يمين په معنیٰ د دين دے، يعني تاسو به موږ ته ګمراهي ښائسته کوله. (قرطبي ۱۵/۸۲) وګورئ قصص ۶۳، ابراهيم ۲۱

إِذَا قِيْلَ لَهُمْ عِلْمِ : د دے آیت کښې هغه څوک عذاب وړ دے او یعنے د دوی په انکار د توحید باندې : د کوري علم اسراء ، مطهري ، روح المعاني - په دے کښې د هغوی علت د عذاب وړ دے او زورونه د دوی په انکار د رسالت باندې ،

فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ (۳۳) إِنَّا كَذَٰلِكَ
په عذاب کښې به شریک وي ، یقیناً موږ : دغه رنګه
نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ (۳۴) إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ
کوو : د مجرمانو سره ، یقیناً دوی وو : چه کله به ورته ویلے شو :
لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ (۳۵) وَ
دوی ته : نشته حقدار د عبادت بغیر د الله نه : نو لوئي به کوله دوی : او
يَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ
ویلے به دوی : آیا موږ به پریږدو خپل معبودان د وجه د لیونی شاعر
مَجْنُونٍ (۳۶) بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ
لیوني نه ، بلکه راوړے دے دے حق : او تصدیق ئے کړے دے
الْمُرْسَلِينَ (۳۷) إِنَّكُمْ لَذَائِقُو الْعَذَابِ
د پیغمبرانو : یقیناً تاسو خامخا څکونکی یئ : د عذاب
الْأَلِيمِ (۳۸) وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ
دردناک ، او بدله نشي درکولے تاسو ته : مګر د هغو عملونو چه تاسو
تَعْمَلُونَ (۳۹) إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ (۴۰)
کول : مګر بندګان د الله تعالیٰ چه خالص کړے شوي دي :
أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَعْلُومٌ (۴۱) فَوَاكِهُ وَهُمْ
دغه کسان : دوی لره رزق مقرر کړے شوے : میوے دي : او دوی به
مُكْرَمُونَ (۴۲) فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ (۴۳) عَلَىٰ سُرُرٍ
عزتمند کړے شوي وي په باغونو د نعمتونو کښې : په تختونو باندې
مُتَقَابِلِينَ (۴۴) يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِنْ
مخ په مخ به وي ، چورلولے به شي په دوی باندې جامونه : د چینو د
مَعِينٍ (۴۵) بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ (۴۶) لَا فِيهَا
شرابو نه ، تک سپین خوند ورکونکي : د پاره د څښونکو ، نه به وي په هغې کښې

او په مداومت کښې پوره تخویف دے : إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ : الآیة بندګان د الله تعالیٰ خالص کړے شوي ، مراد متقین دي : د ګور کوم دا لمن ، مظهری ، د دے مخکښې ترمنځ پوره بشارت تفصیلي دے او خورلش انعامات ورله ذکر کوي . فَعَلُوم : مقرر شوي (فتح الباري) ، معلوم شوي دي بعض صفتونه د هغه چه همیشه به ورته د دے الآیة ... سره بیکرانه ورتق : مَعِين : د جاري شرابونه (فتح) د صافو شرابونه (القاسمي) . لذت : لوګے ولیدونکو شرابو نه (قرطبي) . غَوْل : درد د ګېډې (بزرګ) درد سر (ابن کثیر) . وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ : او نه به ورکېدي له دوی نه عقل (احسن) . دوی د هغې نه بالکل ټیر (المفصل) او نه به د هغو شرابو نه مستی (فتح) شراب پی مقلوفه دوی په څکلو د هغو سره (قرطبي) . ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : په شرابو څکلو کښې څلور خصلتونه دي : نشه ، سر درد ، کوزه ، متلي کول ، پس ذکر کړې الله تعالیٰ شرابو د جنت لره نو بې شان دي د دے خصلتونو نه (ابن کثیر ، قرطبي ، روح) . قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ : بندونکي د نظرونو نو خپلو باندې : نه به اوچتوي سترګے بل چا ته . او ګور ئے مدارک نسفی : دا د زنانو بهترین صفت دے په دنیا او آخرت کښې چه د خاوندانو نه علاوه بل چا ته سترګے نه اړوي . (احسن) عِين : غټو سترګو والا ګویا که دوی هګۍ د شترمرغ په پرده کښې پټے شوے دي : (فتح) الوسي رحمه الله فرمائي چه سپین والے د لمبو زیړ والي سره خلط وي نو دا په زنانو کښې ډیر مرغوب یعنی پسندیده صفت وي (روح) ذو الرمة شاعر وائي

(جنت دوے کم)، بیضاوی تہ حضرت آدم علیہ السلام : کانها فضة قدمسها ذهب ، (اسرار منیر ص۱۹۲)، **فائدہ**: شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلی دی: چه خلاصه د بدن پ سترګو کښې ده، خوشحالي، خفګان، خوږي، غم، سخاوت، سوال ګرې، ذکاوت، شهوت، مرض، دا ټول د سترګو نه معلومیږي، چا چه په بلوغ الغایه نه کلام کړے دے نو هغوي اول په سترګو (بحث) کړے (فقه القرآن ۱۹۲)، **فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ**: د دے خائے نه تر ملا پورے واهم د بشارت د جمعے شوی حکه د عذاب نه بچ کیدل او د دشمن هلاکیدل دا لوئے نعمتونه دی؛ وګوری بقره ۵۰. **یَتَسَاءَلُوْنَ**: د یو بل نه په تپوس سره کوی لکه د عادت وی چه خوراک او څکاک نه بعد ملګری د یو بل سره ګپ شپ کوی؛

غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ

سر دردی: او نه به دوی له دے نه هوښ وړل کیږی : او دوی سره به

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿٤٨﴾ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ

بند ساتونکی د نظر چه په خاوندانو: غټے سترګو والا کړی: ګواکی دا ها ګی

مَّكْنُوْنٌ ﴿٤٩﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

پټے ساتلے شوی دی: نو مخامخ به شی بعضے د دوی په بعضو باندے

يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٥٠﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّيْ

د یو بل نه به تپوس کوی: وبه وائی یو ویونکے د دوی نه: یقینا

كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ﴿٥١﴾ يَّقُوْلُ اَئِنَّكَ لَمِنَ

د زما ملګرے: ویلے به هغه: آیا یقینا ته خامخا د

الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿٥٢﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّ

تصدیق کوونکو نه یے: آیا کله چه مړه شو مونږ او شو خاوره او

عِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿٥٣﴾ قَالَ هَلْ

هډوکی: آیا مونږ به جزاء ورکولے شی؟ وبه وائی: آیا

اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿٥٤﴾ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ

تاسو ښکاره کیدونکی یئ؟ نو ښکاره به شی دا: نو وبه وینی هغه په

سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٥٥﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ

مینځ د دوزخ کښې: وبه وائی قسم په الله، یقینا نزدے وے چه

لَتُرْدِيْنِ ﴿٥٦﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ

هلاک کړے وے ته ما: او که نه وے نعمت د رب زما: خامخا وے به زه د

الْمُحْضَرِيْنَ ﴿٥٧﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿٥٨﴾

حاضر کړے شوو نه په عذاب کښې: آیا پس نه یو مونږ: مړه کیدونکی

اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿٥٩﴾

مګر مرګ زمونږ وړومبے: او نه یو مونږ عذاب کړے شوی:

وَمَا يُغْنِيْ مِنَ اللَّذَّاتِ اِلَّا اَحَادِيْثُ الْكِرَامِ عَلَى الْمُدَامِ (مدارک ص۲۳) **قَرِيْنٌ**: یقینا د و مالره ملګرے: همزولے هم عمر دے: د بندی شیخ رحمه الله فرمائی: د دنیا کښې یو انکار کوونکے د قیامت، حما ملګرے او همنشین وو مالره به ئے په آخرت باندے په ایمان راوړلو زور نه راکوله او ویل به ئے چه ته ګڼے چه قیامت به راځی؟ او کله چه مونږ مړه شو خاوره شو او هډوکی ورسے شو با وجود به مونږ دوباره پیدا کیږو او د جزاء او سزا معامله به وی، (جواهر ص۹۹۸)

فَاطَّلَعَ: پس هغه به سر ښکاره کړی نو هغه ملګرے به وینی چه مینځ د دوزخ کښې. (افضل ص۱۳۱) **اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى**: آیا نه یو مونږ به مرګ کیدونکی مګر په مرګ اول؛ وګوری دخان ۵۶ ✤ ✤ ✤

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا
يقيناً دا خامخا دا ، کامیابي لويه ده : د پاره د مثل د دې :
فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا
پس عمل دې کوي عمل کوونکي — آیا دغه غوره دی : په میلمستیا کښې
أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً
او که ونه د زقوم : يقيناً ګرځولې ده موږ دغه : امتحان
لِّلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي
د پاره د ظالمانو : يقيناً هغه ونه ده : چه راوزي : په
أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ
بيخ د دوزخ کښې : خامخا د هغې : ګوياکه دا سرونه
الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا
د شيطانانو دي : پس يقيناً دوى : خامخا خوړونکي دي ، د هغې نه
فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا
پس ډکوونکي دي دوى : د هغې نه ګېډې ولره : بيا يقيناً دوى لره : د پاسه د هغې
لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ
ګډوډ دے : د ګرمو اوبو نه : بيا به يقيناً د ايسې د دوى :
لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾ إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ
خامخا دوزخ ته وي : يقيناً دوى موندلي وو : پلاران خپل :
ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾
ګمراهان : پس دوى : په قدمونو د هغوى : زغلولي شو :
وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾
او يقيناً ګمراه شوي وو مخکښې د دوى نه : زيات د مخکنيو نه ،
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانظُرْ
او يقيناً رالېږلي وو موږ : په هغوى کښې : ويرونکي ، پس وګوره :

لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ : وګورئ آل عمران ۱۸۵ : طَلْعُهَا : ګلګوري د هغې ګوياکه سرونه د شيطانانو دي (فتح ۱۸۵) دا يوه تخيلي تشبيه ده په محاوره کښې ، چه په شکل او په صورت شيونو لره د شيطانانو او ديوانو سره تشبيه ورکولے شي (معارف ۲۲) په نفسونو کښې دا خبره ثابت شوې ده چه شيطانان قبيح شکل والا وي (ابن کثير) زجاج او فراء رحمهما الله وائي دا داسے ماران دي چه سرونه او طرفونه ورله وي او دا ډير قبيح او خبيثه او تيزو زهرو والا دي : (قرطبي) إِنَّهُمْ أَلْفَوْا ۶۹ : په دے آيتونو کښې سبب د مخکني عذاب ذکر کوي چه غلطو پلارانو او شرانو پسے تلل دي ، يُهْرَعُونَ : — زغلولے شو : په ۱۱ ، ۷۸ ، ۹۲ کښې تخويف د سے ؛

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ: دَ عذاب الٰهي نه صرف هغه خلق بچ وي چه معاندین او ضدیان نه وي بلکه منیبان او منصفان وي او الله تعالیٰ په خپل توفیق سره دوی لره د ایمان او نیک عمل د پاره چو ښتي کړي وي: (جواهر ص۹۹۹):

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا

څنګه وو انجام د ویرولو کړي شوو: مګر

عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادَانَا

بندګان د الله تعالیٰ خالص کړے شوي: او یقینًا اواز کړے وو مونږ ته

نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَ

نوح ؑ: نو ښه قبلوونکي وو مونږ: او خلاص کړو مونږ هغه او

أَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا

اهل د هغه له د مصیبت: لوی نه: او او ګرځوله مونږ

ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

اولاد د هغه: دوي پاتې په دنیا کښ: او پریښوده مونږ په هغه باندې

فِي الْآخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي

په روستنو کښ: سلام دے: په نوح ؑ: په

الْعَالَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾

ټول عالم کښ: یقینًا مونږ دغه رنګ بدله ورکوو: نیکانو ته:

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا

یقینًا د هغه زمونږ د هغه بندګانو مومنانو دي: بیا ډوب کړل مونږ

الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾

نورو لره: او بیشکه د ډلې د هغه نه: خامخا ابراهیم ؑ وو:

إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾ إِذْ قَالَ

کله چه راغے رب خپل ته: په زړه روغ سره: کله چه ئې وویل

لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾

پلار خپل ته: او قوم خپل ته: د څه شي عبادت کوئ تاسو؟

أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾

آیا دروغو معبودان: بغیر د الله تعالیٰ نه: غواړئ تاسو:

منزل ۶

ذکر کړي وي: (جواهر ص۹۹۹): وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ: مخکښ ذکر شوي خلاصه په ترتیب سره د اوو پیغمبرانو علیهم السلام عاجزي ذکر کوي: (۱) د نوح علیه السلام ذکر (۲) ابراهیم علیه السلام (۳/۴) موسیٰ او هارون علیهما السلام (۵) الیاس علیه السلام (۶) لوط علیه السلام (۷) یونس علیه السلام: فائده: دا اوله قصه د نوح علیه السلام ده چه نوح علیه السلام ما ته فریاد وکړو او ما هغه د تکلیف نه بچ کړو، صاف معلومه شوه چه نوح علیه السلام پیغمبر وو د هغه چرته بې عزتي و نکړي لیکن هغه محتاج وو الله ته نه وو او برکت ورکوونکي او په الله تعالیٰ باندې غالب نه وو: د هغه نه چرته حاجات و نه غوارئ (النحل ۲۰) وګورئ قمر ۱۰ نوح ۲۶ وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ: او یقینًا د ډلې د نوح علیه السلام نه خامخا ابراهیم علیه السلام وو: یعني هغه په اصول د دین کښ د نوح علیه السلام هم خیالے او تابع وو: وګورئ قرطبي ص۱۵ روح ص۱۰۲: جواهر ص۹۹۹: دا دویمه قصه د ابراهیم علیه السلام ده په هغه غیر الله د شرکونو نه خلق منعه کړو او هغه په ټنګه مجبور او په الله تعالیٰ غالب شي (النحل ۱۲۰) بِقَلْبٍ سَلِيمٍ: کله چه راغے رب خپل ته په زړه روغ سره د شرک نه او د شک نه: (قرطبي ص۱۵) د فساد د عقائدو نه او د ناکاره نیتونو نه او د قبیحو صفتونو نه (روح ص۱۰۲) وګورئ ۱۳۱ بقره: أَئِفْكًا آلِهَةً: د افک نه بدل دے: معنی دا شوه آیا اراده لرئ تاسو د دروغو یعني معبودان بغیر د الله تعالیٰ نه پس څه ګمان دے ستاسو په رب د مخلوقاتو باندې: (جواهر ص۹۹۹) ❊

فَنَظَرَ نَظْرَةً : یعنې په نجومو کې ئې کتل او دا کتل ورته اسمان ته چې ګواکې په ستورو کې ئې کتل د ستورو نه ئې هیڅ شي معلومولې (الفضل) اِنِّي سَقِيمٌ :
یعنې زما طبیعت خراب دے یعنې بیمار یم او ستړے یم او د ګیلو او د خپل سر چې ورته نا جوړ وم

فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً

پس څه ګمان ستاسو دے په رب د عالمونو باندې : نو نظر وکړو یوه نظر

فِي النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا

په ستورو کښې : پس وې ویل بیشکه زه نا جوړ یم : نو وګرځیدل دوی

عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ

د هغه نه شا کوونکي : پس ځغلے لاړو په معبودانو د دوی پسے نو وې ویل

أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾

ولې نه خورئ تاسو : څه دي تاسو لره چې خبرې نه کوئ

فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوا

پس وګرځیدو په دوی باندې : د وهلو په ښي لاس باندې : پس راغلل هغوی

إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا

هغه ته منډې وهونکي : وې ویل ابراهیم آیا عبادت کوئ تاسو د هغه شیو

تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

چې تراشئ ئې تاسو : او الله پیدا کړي دي تاسو لره او هغه عملونه چې کوئ

قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي

ووې ویل دوی جوړه کړئ د ده لره یوه ودانۍ : پس وغورځوئ دا لره په

الْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ

اور کښې : پس اراده وکړه دوی په هغه باندې د چل ول : نو وګرځول مونږ هغوی لره

الْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾ وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ

لاندې (ذلیلان) : او وې ویل ابراهیم بیشکه زه تلونکے یم طرف د

رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ

رب خپل ته : ژر به لاره راوښیي ماته : اے ربه : راوبخښه ماته د

الصَّالِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾

نیکانو نه : پس زیرے ورکړو هغه ته په هلک صابر باندې

ورته توریه وائي چې د متکلم مراد وي او سامع ترې بل مراد واخلي (الفضل) فائده : توریه یوه خبره کړي وي یعنې داسې خبره ویل چې د ظاهري مفهوم د واقع خلاف وي او اصلي مراد ئې مطابق د واقع وي او دا توریه ګڼلے وي یعنې داسې عمل کول چې د هغه مقصد بل څه وي او حقیقت کښې د هغه مقصد څه بل شے وي او دیته ایهام هم ویلے شي ، د حضرت ابراهیم علیه السلام ستورو ته کتل د اکثرو مفسرینو د قول مطابق ایهام وو او خپل ځان ته بیمار ویل توریه وه (معارف)

فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ : نو ځغلے لاړو هغوی خدایانو ته پټ (الفضل) یعنې پټ متوجه شو په طرف د معبودانو د دوی (ربح) أَلَا تَأْكُلُونَ : حافظ رحمه الله لیکي چې د دوی مخکښې طعام ایښودے وو چې برکت ورله پکښې واچوي (ابن کثیر) لکه نن صبا قبر پرست د زیارتونو د بنګا نو نه ، ما لنګ یا چیچې د ټبرک د پاره وا وړي او دوي ورته خوري د شریفه وائي ، ضَرْبًا بِالْيَمِينِ : په وهلو سره په ښي لاس باندې ځکه چې لاس ښي قوي وي او په ده باندې کار سخت وي ، او یا د څه د هغه قسم نه چې دوی کړے وو (قرطبي) وګوري انبياء حکه. وَمَا تَعْمَلُونَ : د خلقو د اعمالو باري تعالی خالق دے او انسان کاسب دے او کسب د قبیح قبیح دے نه خلق د قبیح

لکه د زهر ورسیدو جوړول قبیح نه دي بلکه د زهرو خوړل قبیح دي (الفضل) وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ : و وې ویل ابراهیم علیه السلام یقینا زه هجرت کوونکے یم هغه ځاے ته چې امر لے کوي ماته رب زما (ابو السعود) او ګوری عنکبوت ۲۶ : رَبِّ هَبْ لِي : خدایه د بچي د پاره ئے د اولاد دعا وکړه . وګوری مریم : بِغُلَامٍ حَلِيمٍ : نو زیرے مو ورته

عمه ورته وکړو په هغلك صابر کا بالو : په وکیښی ورته د ګنه زیری دی (۲) هلك په وی (۳) د بلوغ زمانه ته به رسی : (۴) او حلیم صبر ناك به وی (مدارک ۱۱۵) ... فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ : پس هرکله چه

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَٰبُنَيَّ إِنِّيٓ

پس هرکله چه ورسید دې ته چه [illegible] کار کولو ته : نو وې ویل : اے بچیه زما : یقینًا زه

أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ فَٱنظُرْ

وینمه په خوب کښې : چه زه ذبح کوم تا لره : نو سوچ وکړه چه

مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَٰٓأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ

څه رائے لرے ته ؟ او ویلے هغه : اے پلاره زما ! وکړه هغه کار چه امر کړے شوے

سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٠٢﴾

زر به ومومے ما : که الله وغواړی : د صبر کونکو نه

فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَٰدَيْنَٰهُ

پس هرکله چه تابع شو دواړه : او څملوو هغه لره په تندی باندے : او اواز وکړه مونږ

أَن يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ ٱلرُّءْيَآ ۚ

چه اے ابراهیمه ! یقینًا رښتیا کړو تا : خوب لره

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ

یقینًا مونږ دغه رنګے بدله ورکوو : نیکانو ته : یقینًا

هَٰذَا لَهُوَ ٱلْبَلَٰٓؤُا۟ ٱلْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَٰهُ

دا خامخا دا : امتحان : ښکاره وو : او بدله کښی ورکړه هغه

بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي

ذبح شوے (قربانی) لویه : او پریخودو مونږ : په هغه باندے : په

ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَٰمٌ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ

روستنو کښی : سلام دے په ابراهیم علیه السلام : دغه رنګے

نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا

بدله ورکوو : نیکو کارو لره : یقینًا دے : د بندګانو زمونږ نه وو

ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرْنَٰهُ بِإِسْحَٰقَ نَبِيًّا

چه ایماندار دی : او زیرے ورکړو مونږ هغه ته په اسحاق علیه السلام : نبی دے

ورسید و د هغه سره کار کولو ته ... د ښندګی شیو ... خوګی لوے شو په کار و کښی ... بلار محترم سره لاس مضبوط کو ... د الاشو او د ... (جواهر ...) ماذا ترٰی : څه رائے سنادا ... (ابو السعود ...)

فائده : ابو بکر رازی ... دَ سوال په جواب کښی فرمائی چه مشوره ئے ورسره او دَ دے دپاره نه وه کړے چه دَ هغه رائے ته رجوع وکړی بلکه دَ دے دپاره چه دَ هغه صبر معلوم کړی (احسان ...) فائده : دا دلیل دے چه دا رویا (وحی) ده دَ انبیاء علیهم السلام خوب (وحی) وی. سورة یوسف کښی هم دَ خوب واقعات دی. فائده : صحیح قول او ظاهر کرل دا دے چه ذبیح اسماعیل علیه السلام وو او دَ قرآن پاك دَ طرز نه هم دا معلومیږی دَ حضرت اسحاق علیه السلام ولادت دَ دے نه بعد شوے دے لکه چه دا ایت نه معلومیږی، وګورئ جواهر ... ابن کثیر ... روح ... مدارك ... معارف ... ابو السعود ... بیضاوی ... فائده : دَ ذبح دَ واقعے په سلسله کښی ډیر تفصیلات ذکر شوی دی چه دَ روایت او درایت په اعتبار سره ضعیف دی مثلاً دَ حضرت اسماعیل علیه السلام والدکرامی ته دا وینا چه تاسو خپلو سترګو پټی وتړئ او زما لاس ښپے هم په رسئ سره وتړئ او ځما په تندی باندی لسکور دکړه دَ طرف نه ذبح کړئ، دَ هغه شانے دَ چاړے بار بار تیره کول او بار بار په مرئی باندی چلول وغیره وغیره دا تفصیل دَ صحیح روایاتو نه ثابت نه دی. (جواهر ... وغیره) لِلْجَبِينِ : او څملولو هغه لره په اړخ لکه چه عام طور دَ حیواناتو ذبحه کولے شی (جواهر ...) بِذِبْحٍ عَظِيمٍ : او مونږ لوے ذبحه دَ ده په عوض کښی ورکړه. روایاتو ...

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰى

دَ نیکانو نه : او برکت مو اچولی وو په هغه باندې او په

اِسْحٰقَ ؕ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّ

اسحاق ؑ او دَ اولاد دَ دواړو څخه نیکي کونکي وو : او ځینې

ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى

ظلم کونکي په ځان ښکاره : او بیشکه احسان کړی وو مونږ په

مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا

موسیٰ ؑ او هارون ؑ باندې : او خلاص کړي وو مونږ دواړه او قوم دَ دوی :

مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾ وَنَصَرْنٰهُمْ

دَ غم مصیبت لوئي نه : او امداد کړې وو مونږ دَ دوی سره :

فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ

پس شو دوی زورور : او ورکړې وو مونږ دوی ته کتاب :

الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ

واضحه : او ښودلې وه مونږ دوی ته لاره :

الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى

نیغه : او پرېخې وو مونږ په دوی باندې په

الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَ

روستنو خلقو کښې : چه سلام دې وي په موسیٰ ؑ او

هٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾

هارون ؑ باندې یقیناً مونږ دغه رنګ بدله ورکوو نیکو کارو ته :

اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاِنَّ

یقیناً دا دواړه دَ بندګانو زمونږ مومنانو نه وو : او یقیناً

اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ

الیاس ؑ خامخا دَ لیږلشوو نه وو : کله چه ووئیل دَ

منزل ۶

رکوع ۸

مسئله کښې وي حضرت ابراهیم علیه السلام چه دا اسماني آواز واورېده نو آسمان طرفته ئې وکتل نو حضرت جبرئیل علیه السلام ئې ولیدلو او ستړے دَ ورا وولاړ وو (معارف ﷺ) وَبَشَّرْنٰهُ : دا دویم بشارت شو چه اوو دا اسحاق علیه السلام په باره کښې دے : وَلَقَدْ مَنَنَّا :

دا دریمه قصه ده : دا دواړه نبیان خو ما بچ کړه کړی وو دَ دوی قوم نه نو دوی خلک په ما غالبه دی : (افضل ﷺ) ولقد په دوی دواړو باندې دَ الله تعالیٰ انعاماتو ذکر دے چه دوی ګڼي الله تعالیٰ ته محتاج وو ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

وَاِنَّ اِلْيَاسَ ﷺ: دا څلورمه قصه ده چه الیاس علیه السلام خود باری تعالیٰ دَ وحدانیت دعوت ورکو او په شرک باندې رد کاوه نو هغه خلک شفیع غالب شي (افضل ص ۲۵) : روایت شوے دے دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه چه الیاس ادریس علیه السلام دے او دا قول دَ عکرمه رحمه الله هم دے : او هر چه اکثر مفسرین رحمهم الله دي نو هغوی متفقه دي په دے باندې چه دا یو نبي دَ انبیاؤ دَ بني اسرائیلو دے : (کبیر ص ۱۶۱ ج ۲۶) : قرآن کریم هم دَ حضرت ادریس او حضرت الیاس علیهما السلام تذکره جدا جدا کړے ده نو دواړو لره دَ یو کنړلو ګنجائش په نظر نه راځي : (معارف ص ۴۸۰ ج ۷) ❁ ❁ ❁ ❁

(فائده دهم ۸)

تفسیر: او ورالندې ډېرې قومونو ته (بحر ص۳۴) دا د اسرائیلو د زمانې بت وو. شل گزه اوږد و او ځلوروسترګو لره منجوران وو او شیطان به پکښې خبرې کولې او د بعل په معنی "الکبیر" اهل هم شته. لیکن د خالق

لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٢٤﴾ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّ

قوم خپل ته: ولې نه ویریږئ د الله نه؟: آیا رابلئ تاسو بعل لره؟ او

تَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخٰلِقِیْنَ ﴿١٢٥﴾ اللّٰهَ رَبَّكُمْ

پرېږدئ تاسو: بهتر د شکل جوړونکو نه: چې الله دی رب ستاسو

وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِیْنَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ

او رب د پخوانو پلرونو ستاسو: پس دروغجن وګڼلو دوی هغه لره:

فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ

نو یقیناً دوی خامخا حاضر کړې شوي به وي (عذاب ته): مګر بندګان د الله تعالی

الْمُخْلَصِیْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَیْهِ فِی الْاٰخِرِیْنَ ﴿١٢٩﴾

خالص کړې شوي: او پریخوده موږ په ده پاتې په وروستنو کښې:

سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ یَاسِیْنَ ﴿١٣٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ

سلام دې وي په الیاس (علیه السلام) باندې: یقیناً موږ همدغه رنګ

نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿١٣١﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

بدله ورکوو نېکو کونکو ته: یقیناً دی د بندګانو زموږ څخه

الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿١٣٢﴾ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ﴿١٣٣﴾

ایماندارو نه وو: او یقیناً لوط (علیه السلام) خامخا د لېږل شوو نه وو:

اِذْ نَجَّیْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِیْنَ ﴿١٣٤﴾ اِلَّا عَجُوْزًا

کله چې خلاص کړو موږ ده لره او کور والا د هغه ټول لره: مګر یوه بوډۍ شوه

فِی الْغٰبِرِیْنَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِیْنَ ﴿١٣٦﴾

په پاتې کېدونکو (د عذاب) کښې: بیا هلاک کړل موږ نور خلق:

وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَیْهِمْ مُّصْبِحِیْنَ ﴿١٣٧﴾ وَ

او یقیناً تاسو خامخا تېرېږئ په دوی باندې د صبا په وخت کښې: او

بِالَّیْلِ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٣٨﴾ وَاِنَّ یُوْنُسَ

د شپې (هم) آیا پس عقل نه کارولئ: او یقیناً یونس (علیه السلام)

ع ۸

منزل ٦

(اسم د بت وو) او د بعل د عبادت نه ئې منع کوله: او بتک د هغه

خالق د پاچا نوم وو هغه ښار له ئې بعلبک نوم

ایښودې وو: (کورئ قرطبی ۱۵/۱۰۰، ابو السعود ۲۰۳/۷، روح ۲۳/۱۳۰، ۲۳/۱۳۱، جواهر ۱۰۰۳):

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ: دا استثناء د ضمیر کذبوه نه دہ معنی دا شوه پس دروغجن کړه هغوی دوی لره مګر د هغه د قوم نه چې خالص کړې شوي وو، هغوی دروغجن نه کړه: یا لمحضرون نه استثناء منقطع ده: معنی دا شوه لیکن چې کوم د الله تعالی مخلص او برګزیده بندګان وو هغه د عذاب نه محفوظ کړې شو: (کورئ جواهر ص۱۰۰۱):

وَاِنَّ لُوْطًا ﴿١٣٣﴾: دا مختصر قصه ده په دې کښې احتیاج د لوط علیه السلام ذکر کوي په خپل نجات کښې او د اهل په نجات کښې او په هلاکت د قوم کښې سره د زجر او تخویف د منکرینو ته (احسن ص۲۶۳)

فائده: (په اسرائیلیاتو کښې) ددې په باره کښې دوه حدیث قرطبی رحمه الله او نورو ذکر کړې دي چې هغه ژوندي دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ملاقات شوې دی. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چې دا د اسرائیلیاتو څخه دي چې نه ئې تصدیق کېدې شي او نه تکذیب (البدایه والنهایه ص۳۳۴) حافظ ذهبی رحمه الله فرمائي: بل هو موضوع. (در منثور ۲۹۹/۵، معارف ص۴۷۴). وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ: دا د مشرکانو د عربو سره خطاب دی چې تاسو د صبا او د ماښام

ما ئې هم دا وخت کښې د قوم د لوط علیه السلام په تباه شوو کلو باندې تیرېږئ لیکن بیا هم تاسو عبرت نه حاصلوئ
(ت) و ان یونس لمن المرسلین، د اشیر مد قصه د یونس علیه السلام ده، هغوی هم د خپل قوم سره د هغه ماجرا سره مخامخ شو

لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٣٩﴾ إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ
(خامخا) له پیغمبرانو څخه وو. کله چې لاړ (تښتیدلی) طرف د کشتۍ

الْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ
ډکې شوې ته، نو حصه یې واچوله (پچه) پس شو د

الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ
مغلوب کړې شوو نه. نو تیر کړ هغه لویه کب (ماهي) او دی

مُلِيمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ﴿١٤٣﴾
ملامت کړی شوی (ځان ملامتونکی) وو. نو که چېرې نه وی دا چې دی و د تسبیح ویونکو نه

لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤٤﴾
نو خامخا ایسار شوی به وو په ګېډه د هغه کې تر هغه ورځې پورې چې دوباره به راژوندي کولی شي

فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَأَنْبَتْنَا
پس وغورځولو موږ دی په خالي میدان کښې او دی بیمار وو. او راوټوکوله موږ

عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾ وَأَرْسَلْنَاهُ
په دی باندې ونه د کدو نه. او ولیږه موږ دی

إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾ فَآمَنُوا
طرف د زرو خلقو ته بلکه زیات به ول دوی. نو ایمان راوړو هغوی

فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١٤٨﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ
نو فایده ورکړله موږ هغوی ته ترمعلوم وخت پورې. پس تپوس وکړه ته د دوی نه

أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ
آیا د رب ستا لپاره لونړه دي او د دوی لپاره ځامن دي. آیا

خَلَقْنَا الْمَلَائِكَةَ إِنَاثًا وَهُمْ شَاهِدُونَ ﴿١٥٠﴾
پیدا کړي دي موږ ملائک زنانه او دوی حاضر وو

أَلَا إِنَّهُمْ مِنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾
خبردار! یقیناً دوی د دروغ جوړولو د ځانه خامخا وائي

اونه هغه ځان د دریاب نه بچ کړو او نه هغه خپل خسته ځان راوباسه، نو او نه هغه ځان د مصیبت نه بچ کولی شو، نو چې کله هغه خپل مولا ته زاري وکړه نو باری تعالیٰ هغه له د مصیبت نه خلاصی ورکړه او بیا ئې هغه له بیرته د غورزولو او د کدو ونه هم ورته راوټوکوله. د دې آیتونو کاروان د باری تعالیٰ د قدرت معلومه شو چې یونس علیه السلام حق نبي وو خو غیب ئې نه زده وو او قادر په هر شي نه وو نو هغه خلک متصرف او برکت ورکوونکي او په الله تعالیٰ باندې غالب ګڼې شي. (النحل)

﴿إِذْ أَبَقَ﴾ شیخ القرآن رحمه الله فرمایل چې کله د منبر کړې کشتۍ ډکې کړې شوې ته یعنی منډې وهلې ورته دوباره د اشاعت د دین منتره رحمه الله فرمائي چې تاویل د ابق په معنی سره د منبر ډکو د کښتۍ نه. (شوکاني رحمه الله)

فائده: حضرت یونس علیه السلام چې کله په قوم باندې په تبلیغ د حق سره حجت قائم کړو او قوم په تکذیب او انکار د حق باندې بخت پاتې شو نو هغوی د الله تعالیٰ په حکم سره اعلان وکړو چې که تاسو ایمان نه راوړې نو د درې ورځو پورې به په تاسې د الله تعالیٰ عذاب نازل شي. حضرت یونس علیه السلام د دوی د ایمان نه مایوسه شوې وو او په درېیمه ورځ د دوی د عذاب راتللو نه یقین وو. له دې وجې نه په درېیمه ورځ د الله تعالیٰ له طرفه نه د اجازت نه بغیر (د خپل اجتهاد سره) د کلي نه ووتلو، دوی ته یقین وو چې د قوم به نن په عذاب سره هلاکیږي لیکن قوم چې کله د عذاب آثار ولیدل نو په ژړا ئې توبه وویستله او ایمان ئې راوړو نو الله تعالیٰ د دوی نه عذاب لرې کړو. دغه وخت یونس علیه السلام د دوران سفر کښې په دریاب باندې پورې وتلو د یاره په کشتۍ کښې سپاره

سپور شوا و (مواہرلکنا). فائدہ: هر كله چه كشتئ د دریاب منځ ته ورسیده نو كوم د ډوبیدو والی ډوبیدو نه غرقیدو لو ته نږدے شوه نو كشتئ والو فیصله وكړه چه د دے بوجه سړی كمول ضروری دی چه كشتئ سپكه شی

وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ مَا لَكُمْ ۫ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ اَمْ لَكُمْ سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۰﴾ فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ مَا اَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۶۳﴾ وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾ وَّاِنَّا لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ ﴿۱۶۵﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿۱۶۶﴾

نو د دریاب په منځ كښې د كشتئ نه خوړ كيدو ته هيڅوك تيار نه وو نو دوی اتفاق وكړو چه قرعه اندازی به وكړو چه د چا قرعه راوزی نو هغه به مجبوراً د كشتئ نه او غورزول شی نو قرعه د يونس علیه السلام راووتله. فائدہ: د حضرت يونس علیه السلام په واقعه كښې د قرعه اندازی نه جواز معلوم نه شو ځكه مقصود نه وو بلكه ډيره كشتئ د بچ كولو د پاره يونس په دریاب كښې غورزول شو د قرعے په ذريعه د هغه تعیین وشو (معارف ج ۷). مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ: په تسبیح او استغفار سره مصائب لرے كيږی (معارف ج ۷) د كوم نبی (انبیاء ۸۷). مِنَ الْمُلْتَقِطِيْنَ: حافظ ابن كثير رحمه الله وايي ذا انية ... الى الصلت شعر ليكلے دے:

فانبت يقطينا عليه برحمة من الله لولا الله الفى ضاحيا

(ابن كثير). فَارْسَلْنٰهُ: نو ليږلے مونږ ده لره سل زره كسانو ته بلكه زيات هم دی (مظهری). فائدہ: په دے كښې مقصد دوباره واپس راليږل دی خپل قوم ته اگر چه د تحقيق نه معلول دو او كوم روایت چه بعض مفسرینو نقل كړے چه د كب د خیټے د رابهر كيدو نه روستو رسول كړے شو. دا روایت ضعیف دے په دے كښې شهر بن حوشب راوی دے او هغه متروك او ضعیف دے (احسن ج ۲). فَاٰمَنُوْا: نو ایمان راوړلو هغوی: مراد ترینه تفصيلی ایمان دے او سورۃ يونس كښې چه كوم ایمان ذكر دے هغه اجمالی دے نو د وارو په منځ كښې څه تكرار او تضاد نشته. فَاسْتَفْتِهِمْ: د دے ايت نه تر اخره پورے دريم باب دے په دے كښې شپږ خبرے دی (۱) اعاده د حال د ملائكو او جناتو لكه تیر ۱۵۸ (۲) او مطالبه د كفارو نه په دليل او زجر ۱۵۸ (۳) بشارت ۱۷۱ (۴) تخويف دنيوی ۱۷۷ (۵) دعوی د توحيد مكرر ثبت په تفصيل سورت ۱۸۰.

(۶) وصولي د سورت ملک ۔ وَهُمْ شَهِيدٌ ۔ او دی ۔ وژنه حاضر وو ۔ د کوروي رخرف ۔ په ... کښ ترينه مطالبه
د دليل عقلي ... په ... کښ ترينه مطالبه د دليل نقلي ده ۔ په ... کښ ترينه مطالبه د دليل ... ده ۔

وَإِن كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿۱۶۷﴾ لَوْ أَنَّ عِندَنَا ذِكْرًا

او يقيناً دوی ۔ خامخا وائي ۔ که چيرې وې زمونږ سره ۔ يادونه

مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۶۸﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللَّهِ

د پخوانو نه ۔ خامخا وو به مونږ بندګان د الله تعالیٰ

الْمُخْلَصِينَ ﴿۱۶۹﴾ فَكَفَرُوا بِهِ فَسَوْفَ

خالص کړي شوي ۔ نو کفر وکړو دوی په دې ذکر باندې ۔ پس زر دی چه

يَعْلَمُونَ ﴿۱۷۰﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا

پوهه به شي دوی ۔ او يقيناً مخکښې شوې ده ۔ وعده زمونږ

لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۷۱﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ

د پاره د بندګانو زمونږ چه رالېږلي شوي دي ۔ يقيناً دوی ۔ خامخا دوی

الْمَنصُورُونَ ﴿۱۷۲﴾ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ

امداد کړې شوي دي ۔ او يقيناً لښکر زمونږ ۔ خامخا دوی

الْغَالِبُونَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿۱۷۴﴾

زور اور دي ۔ نو مخ واړوه د دوی نه ۔ تر يو وخته پورې

وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ﴿۱۷۵﴾ أَفَبِعَذَابِنَا

او ګوره دوی ته نو زر دی چه دوی به هم وګوري ۔ آيا په عذاب زمونږ

يَسْتَعْجِلُونَ ﴿۱۷۶﴾ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ

تلوار کوي دوی ۔ پس کله چه نازل شي عذاب په ميدانونو د دوی

فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنذَرِينَ ﴿۱۷۷﴾ وَتَوَلَّ

نو بد دی ۔ صبا د ويرولو شويو ۔ او مخ واړوه

عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿۱۷۸﴾ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ

د دوی نه ۔ تر يو وخته پورې ۔ او ګوره ۔ پس زر دی

يُبْصِرُونَ ﴿۱۷۹﴾ سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ

چه دوی به هم وګوري ۔ پاکي ده ۔ رب ستا لره چه رب د عزت دی

منزل ۶

د تهکم اد ده ۔ وارد دے په مشرکينو باندې ۔ الا عباد الله ۔ ... د الله تعالیٰ چه خالص کړي شوي دي ۔ دا د لمحضرون نه استثنا منقطع ده ۔ (دپاره) فانکم خطاب دے مشرکانو ته ۔ اے مشرکانو ۔ تاسو او ستاسو معبودان د جنو پيريانو او شيطانانو نه د خپل مکر او فريب نه د الله تعالیٰ ... څوک ګمراه کولے نشئ الا ... عليه په الله تعالیٰ باندې ۔ ... وګورئ ... يا ضمير په عليه کښ ما تعبدون ته راجع دے او على سببيه دے ۔ يعني تاسو اے کفارو او هغه چه تاسو ئے عبادت کوئ ۔ يعني تاسو په سبب د دے ګمراه کولے نشئ هيڅوک لره مګر هغه چا لره چه فيصله کړے الله هغه به دا خليږي اور ته ۔ ... وما منا ... دا متعلق د ملائکو يعني دا ملائک چه نشته زمونږ نه هيڅ يو ملک مګر هغه لره مقام معلوم دے ۔ ... دا دليل نقلي دے د ملائکو ... نه ... د مشرکانو لره ... د ... دحجت نه په دوی باندې ۔ انهم لهم المنصورون ۔ تائيد ونه ... مومن ... سوال ۔ په قرآن کښ په لشو ايتونو کښ ذکر د وژلو د انبياؤ په طريقه د اخبار شوي نو دا خو مطلع او نصرت سره مناقي دے ۔ د دے ګنړ جوابونه دي ۔ يو جواب دا دے چه دا حکم په اعتبار د اغلب سره دے نو اتفاق نه دے ۔ قتل د بعض انبياؤ او هغه ... وګورئ سراج منير ... فائده ۔ باقي جوابونه په د سورة مومن په تفسير کښ راشي ان شاء الله تعالیٰ ۔ لنحن ۔ دا جمله د ... ذکر شوه د پاره د تسلي د نبي عليه السلام ۔ افبعذابنا ۔ دا زورنه ده او د کفارو د پاره د ... دنياوي بيان هم دے ۔ سبحن ۔ دا د ټول سورة حاصل دے چه باري تعالیٰ د مشرکانو د خبرو نه پاک دے ... الا المخلصين ...

فائدة: من سرّه ان یکتال بالمکیال الاوفی من الاجر یوم القیامة فلیکن آخر کلامه فی مجلسه سبحٰن ربك رب العزة الخ (ابن کثیر، معارف) آخر خطبه معالم التنزیل کښې هم فوقانقل کړې دی (اسلام)

عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٨١﴾

د هغو څيزونه چه دوی يې بيانوی : او سلامتی دې وی په ټولو رسولانو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٢﴾

او حمد ثنا دی الله لره : رب د مخلوقاتو لره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ﴿١﴾ بَلِ الَّذِيْنَ

قسم دی په قرآن : خاوند د نصیحت : بلکه هغه کسان چه

كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ﴿٢﴾ كَمْ اَهْلَكْنَا

کفر يې کړې : په تکبر کښې دی : او په خلاف کښې : ډير مونږ هلاک کړی دی

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ

مخکښې د دوی نه : د ډيرو زمانو : پس چغې وهلې : او نه وو وخت

حِيْنَ مَنَاصٍ ﴿٣﴾ وَعَجِبُوْٓا اَنْ

وخت د خلاصې : او تعجب کړی دی دوی : چه

جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ

راغی دوی ته : ويره ورکوونکی د جنسه د دوی نه : او ووايي کافران

هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٤﴾ اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ

دا جادوګر : ډير دروغژن دے : آيا ګرځولی دی ده : ټول معبودان

اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴿٥﴾

معبود يو : يقيناً دا خامخا څيز : ډير عجيب دے

وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَ

او روان شو سرداران د دوی نه : چه ځئ : او

اصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ

صبر کوئ په (عبادت د) معبودانو خپلو : يقيناً دا خامخا څيز دے

منزل ۶

ع ۹ ۵

امتيازات: (۱) سلام په انبياء عليهم السلام باندې (۲) والقصة د يې (۳) حال د ملائکو (۴) ثبوت د شيطانانو

(په ورځ د جمعې ۱۳ د اپريل ۲۰۰۰، ۲۳ ربيع الاول ۱۴۲۰ هـ د باري تعالیٰ په توفيق سره د سورة والصّٰفّٰت تفسير پوره شو)

سورة ص: وجه د تسميه ده چه ص سره د اول آيت کريمه نه معلوميږي. مکي سورة دے په ترتيب کښې ۳۸ پس د صٰفّٰت نه او په نزول کښې هم ۳۸ هو روستو د سورة قمر. **دعوى:** ذکر د ابتلاء د مصطفينو يعنې چونړتو بندګانو يا نيانو او دعوى د توحيد په مقام کښې. **ربط:** (۱) مخکښې سورة کښې عجز د نيکانو وو او په دې کښې زيادت کوی چه نيکان هم په ابتلاء وي. (۲) هلته د کفارو انکار د توحيد ذکر شو په آيت ۳۵ کښې او دلته د کفرو سخرے دی په توحيد (۳) مخکښې سورة کښې هم قسم وو او په دې سورت کښې هم قسم دے. (۴) مخکښې سورة کښې دلائل نقليه وو او دلته هم نقلي دلائل واقعات د انبياء عليهم السلام دي (۵) مخکښې سورة ختم شو په توحيد او دلته زورنه ورکوي په منلو د توحيد. **خلاصه:** په دې سورة کښې هم درے بابونه دي: اول تر ۲۶ پورې، دويم تر ۶۴ پورې، دريم تر آخره پورې. په اول کښې درے خبرے: (۱) شهادت د قرآن ۱، (۲) زواجر د پاره د منکرينو د اصولي مقاصدو ۳، ۸، ۱۵: (۳) تخويف دنياوي په ذکر د تيرو امتونو هلاک شوو باندې ۱۲ نه. **امتيازات:** (۱) خاص امتحان په داؤد عليه السلام ۲۲: (۲) امتحان په سليمان عليه السلام ۳۴: (۳) ابتلاء په ايوب عليه السلام ۴۱: (۴) نفي د علم غيب د نبي عليه السلام په ملأ اعلیٰ باندې ۶۹: (۵) جګړه په مابين د دوزخيانو

كښې دي : وَالْقُرْآنِ ... : دا قسم دے جواب ئې محذوف دے ، تقدير ئې دا دے : إِنَّ الْقُرْآنَ مِنْ عِنْدِ اللهِ : ۲ إِنَّ مُحَمَّدًا لَصَادِقٌ (تسهيل) ۳ : إِنَّهُ لَكَلَامٌ مُعْجِزٌ (روح المعاني) ۴ : إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ... ۵ : مَا الْأَمْرُ كَمَا يَزْعُمُونَ ...

يُرَادُ ۝٦ مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ
او ورپسې شوي دي ، نه دي اوريدلي مونږه : دا په دين : روستني كښې :
إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝٧ أَأُنْزِلَ عَلَيْهِ
نه دي دا : مګر دروغ جوړ کړے شوي ، آيا نازل کړے شو په ده باندې
الذِّكْرُ مِنْ بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ
نصيحت (وحي) د مينځ زمونږه نه ، بلکه دوي په شک کښې دي :
مِنْ ذِكْرِي ۚ بَلْ لَمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ۝٨
د نصيحت زما نه ، بلکه تر اوسه نه دي څکلي دوي : عذاب زما :
أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ
آيا دوي سره : خزانې : د رحمت د رب ستا دي ،
الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ۝٩ أَمْ لَهُمْ مُلْكُ
چه زورور بخښونکے دے : آيا دوي لره : باچاهي :
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ
د اسمانونو ده : او د زمکې : او هغه څه چه په مينځ د دواړو کښې دي
فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ۝١٠ جُنْدٌ مَا
پس وخيږي دي دوي : په رسو د اسمانونو کښې : لښکر معمولي دے
هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِنَ الْأَحْزَابِ ۝١١
په دغه ځائے کښې : شکست ورکړے شوے : د ډلو نه :
كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ
نسبت د دروغو کړے و : مخکښې د دوي : قوم د نوح : او عاديانو : او
وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ۝١٢ وَثَمُودُ وَقَوْمُ
فرعون : خاوند د ميخونو : او ثموديانو : او قوم د
لُوطٍ وَأَصْحَابُ الْأَيْكَةِ ۚ أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ۝١٣
لوط : او خاوندانو د بنګړ : دغه وو : ډلې :

منزل ۶

شبهه چه د توحيد په مسئله کښې هيڅ شبهه نشته . (جواهر ص ...) . وَلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ : دا لا مشابه د ليس سره دے ، تاء د تانيث ورسره زياته شوې ده ، اسم ئې محذوف دے : وَلَاتَ الْحِينُ حِينَ مَنَاصٍ : او نه دے دغه وقت وقت د خلاصي او يا لا د نفي جنس دے حين مناص ئې اسم دے خبر ئې لهم محذوف دے معنى دا شوه او نشته وقت د خلاصي د دوي د پاره : وګوره مدارك ، تفسير بيضاوي ، تحت : وَعَجِبُوا أَنْ جَاءَهُمْ ... دا تفصيل د دے خائے نه تر بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ پورے د كفارو د ټګے د استكبار او عناد ذكر دے : (جواهر ص ...)

شانِ نزول : ابوجهل ، عتبه ، شيبه ، اميه بن خلف ، عقبه بن ابي معيط ، عاص بن وائل او نور مشران د قريشو يو وفد د ابو طالب خوا ته راغلو چه د خپل وراره د دوي د معبودانو باطلو د توحيد نه منع کړي يعني چه د مونږ د معبودانو بارې کښې وائي چه دوي هيڅ نشي کولے . د ده مونږه په خپل حال پريږدي او مونږ به دے په خپل حال پريږدو ، ابو طالب رسول الله صلى الله عليه وسلم را اوغوښتلو ورته وئې ويل زما وراره ! دا شريفان د قريشو دي د دے مقصد د پاره راغلي دي : حضور وفرمايل چه زه د دوي نه يو خبره مطالبه كوم : تَمْلِكُونَ لَهُمْ بِهَا الْعَرَبَ وَيَمْلِكُونَ بِهَا الْعَجَمَ . ابوجهل فورا پورته شو وئې ويل مونږ لس خبرې نه تيار يو حضور ورته وفرمايل هغه يوه خبره دا ده لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ، والي ئې چه ... واوريده نو ئې خپل او ويل : أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلٰهًا وَاحِدًا إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ . وګورئ روح ، قرطبي ، خازن ، معالم ، ابن كثير وغيره ، جواهر ص ... . أَأُنْزِلَ عَلَيْهِ : رد دے په منکرينو په خلورو طريقو سره : دا يو ... په شک کښې : فِي الْأَسْبَابِ : په رسو او پړو اندو شوو کښې (روح ص ...) : په پړو او لارو حقوقو کښې چه رسائي ...

پیشه کوله شي اسمان ته (مدارک ص۳۲۹): جُندٌ مَّا: ما صفت د جُندٌ دے هُنَالِكَ اشاره ده بدر ته، مَهْزُومٌ ظرف خبر دے: مِّنَ الْأَحْزَابِ یا متعلق دے د جند سره او یا د مهزوم سره، دکوري من ابله ص۲۶ معنیٰ د اشوه، او ماتی ۱۴

إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ
نه دو هیڅوك : مګر دروغژن ګڼل : رسولان ؛ نو ثابت شو دوي ته
عِقَابِ ﴿١٤﴾ وَمَا يَنظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً
عذاب زما : او انتظار نکوي دا خلق : مګر د چیغې
وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾ وَقَالُوا
یوې : نشته هغې لره : هیڅ ایسار یدل : او وائي دوی :
رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿١٦﴾
اے ربه زمونږه! جلد راکړه مونږ ته برخه زمونږ : مخکښ د ورځې د حساب نه :
اصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا
صبر کوه : په هغه باندې چه دوی وائي : او یاد کړه : بنده زمونږ،
دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾ إِنَّا
داؤد ؑ : خاوند د قوت : یقیناً دا رجوع کوونکے و (الله ته) یقیناً
سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ
تابع کړي وو مونږ غرونه : د هغه سره : تسبیح به ئې ویلے : په بیګاه :
وَالْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ
او د نمر ختلو په وخت کښې : او مرغان راجمع کړے شوي : ټول
لَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾ وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ
هغه ته راګرځیدونکي وو : او مضبوط کړے وو مونږ : حکومت د هغه : او ورکړے وو مونږ هغه ته
الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿٢٠﴾ وَهَلْ
پوهه د دین : او فیصله کوونکے خبره : او آیا
أَتَاكَ نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾
راغلے تاته ، خبر د جګړه کوونکو : کله چه ختلو دیوال د عبادت ځائے باندې :
إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ قَالُوا
کله چه داخل شو : په داؤد ؑ باندې ، نو ویریدو داؤد ؑ د هغوی نه ، دوی ووئیل هغوی :

تو شکست کړے شوے دے د لوئه، شکست کړے شوے د غلته (۲) تو شکست کړے شوے د غلته شکست کړے شوے یعنی د ډلو نه :
كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ : دا د تخویف دنیوي نمونې دي په دې کښې تخویف اخروي او اشیاعت د دنیا مت کې۔ مَا لَهَا مِن فَوَاقٍ : نه به وي د هغې له هیڅ توقف (فتح ص۱۵۵) څخه وایي بعد ۱۵ (رحمن) یو هیڅ کښې لږ وخت (الفضل ص۱۱۸) او په مدا کښې زجر دے په جملې غوښتلو د عذاب باندې : سورة انفال ص۳۳ وګورئ ؛ اصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ص۱۷ : دا دے دغه نه دویم باب دے په دې کښې شتیر خبرے دي (۱) د شیر پیغمبرانو ذکر د زبر ابتلا ګانے تفصیلي او د نورو اجمالي (۲) زجر ص۲۸ (۳) صداقت د قرآن ص۲۹ (۴) تخویف تفصیلي ص۵۵ نه (۵) دعوى د توحيد ص۶۵ (۶) نفي د علم غیب د نبي علیه السلام نه ص۶۹ ؛ فائده : دا تسلي ده دا مي ته چه څنګه داؤد علیه السلام ته تکلیف رسیدلے وو آخر هغه لره باري تعالى کامیابي ورکړه : دغه امداد به باري تعالى تا سره وکړي (الفضل ص۱۲۳) ؛ فائده : په دې آیت کریمه کښې د داؤد علیه السلام درې صفتونه ذکر شوي دي : ذَا الْأَيْدِ : خاوند د قوت په دین کښې (مدارک ص۳۳) حدیث کښې راغلي دي چه عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : صُمْ أَفْضَلَ الصَّوْمِ صَوْمَ دَاوُدَ ؑ وَكَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا (متفق علیه مشکوٰة ص۱۸۰) : په دې آیت ۱۸ کښې څلورم صفت په ص۱۹ کښې پنځم صفت په ص۲۰ کښې نور درې صفتونه ذکر کړي : وَفَصْلَ الْخِطَابِ : او صفا خبرے (الفضل) او واضحه خبرے (فتح) او فیصله کوونکي خبرے (احسن) دا لفظ شامل دے مختصر او جامع کلام ته او د حمد او صلوٰة نه روستو کلمې د أَمَّا بَعْدُ ته

حقه علم کامل نه چه د صدیقی او صدیقی اعلیه تر مینځ فیصله کولے شی (مرشم) وَهَلْ أَتٰىكَ ، او آیا راغلې ته واقعه د جګړے کونکو : راغب رحمه الله وائی چه دا اسم جنس دے یو او جمع لپاره استعمالیږی یعنی او کوری مفردات ۱۴۹)،

لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ

مه ویریږه : موږ دوه جګړه کونکی یو زیاتے کړے بعضو زموږ نه په بعض باندې

فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ

پس فیصله وکړه مینځ زموږ کښې په حقه سره : او زیاتے مه کوه : او سموه موږ

إِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ إِنَّ هٰذَآ أَخِيْ لَهٗ

د برابرے لارے ته : یقینًا دا ورور زما دے : دے لره

تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ

نهه او نوی (۹۹) : ګډے دی : او ما لره : ګډه ده :

وَّاحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ

یوه ده ، نو وائی دا چه وسپاره ما ته دا : او زور ئے راوړو په ما

فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ

په خبرو کښې : او وئیل داؤد : یقینًا ظلم ئے کړے دے په تا باندې

بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلٰى نِعَاجِهٖ ؕ وَإِنَّ كَثِيْرًا

په سبب د غوښتلو د ګډے ستا په یو ځائے کړه د ګډو خپلو سره : او یقینًا ډیر

مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

د شریکانو نه ، خامخا زیاتے کوی : بعضے د دوی نه په بعضو باندې

إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ

مګر هغه کسان چه ایمان ئے راوړو : او عملونه ئے کوی : نیک : او

قَلِيْلٌ مَّا هُمْ ؕ وَظَنَّ دَاوٗدُ أَنَّمَا فَتَنّٰهُ

ډیر لږ دی دوی : او ګمان وکړو داؤد : چه یقینًا امتحان وکړو موږ د هغه

فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ وَخَرَّ رَاكِعًا وَّأَنَابَ ۩ ﴿۲۴﴾

نو بخښنه ئے وغوښته د رب خپل نه : او پریوتو رکوع کونکے : او رجوع ئے وکړه الله تعالی ته

فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ؕ وَإِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى

نو بخښنه وکړه موږ دده نه دا : او یقینًا ده لره زموږ سره : خامخا نزدیکت دے

إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ : کله چه وختل په دیوال د عبادت خانے باندې ، داؤد علیه السلام د رضا فوذ کولو نه بعد د هغه ابتلاء او رجوع الی الله ذکر کوی : إِذْ دَخَلُوْا عَلٰى دَاوٗدَ : هر کله چه دروازے بندے وے او دوی ایسے ته محتاج وو نو په دیوال وختل او په داسے نا آشنا طریقے سره بے اجازت سبب ئے وویرے وو نو هغوی اول تسلی ورکوی چه مه ویریږه او خپله واقعه پیش کوی او د فیصلے کولو مطالبه ترینه کوی : إِنَّ هٰذَآ أَخِيْ : یقینًا دا زما ورور دے نسبی یا دینی . او دا تفصیل د خصومت دے ، محققین ایت کریمه کښې د خصماو شریک بیان ذوا او په دیکښې د بویان دے ، په ستاسے ایت کښې د تشطط بیان دے ، أَنَّمَا فَتَنّٰهُ : چه موږ د هغه امتحان وکړو نو بخښنه ئے وغوښته د الله تعالی نه او دا بخښنه غوښتل د قبیلے د حسنات الابرار سیئات المقربین نه دی : په هغه کښې د مغفرت او د داؤد علیه السلام شان ذکر کوی : فائده : مقصد اتی د فتنے تعجیل کول دی په فیصله کښې او مراد ترینه خطا کیدل دی په سبب د تعجیلت کولو سره

اګرچه دا معصیت نه دے ځکه چه د هغه په شریعت کښې دا واجب نه وو چه د بل جانب د کیس کیدے شی لیکن مناسب وو نو ترک د اولی دے چه انبیاء علیهم السلام په دے هم خفه کیږی ځکه چه حسنات الابرار سیئات المقربین یعنی د عام مومنانو نیک کار د خاص بندګانو په نسبت بد ګڼلے کیږی : یا مقصد اتی د فتنے دا دے چه داؤد علیه السلام خپل اوقات تقسیم کړی وو چه یوه ورځ به ئے فیصلے د خلقو کولے او دویمه ورځ به ئے عبادت ته وه نو هغه کښې خلوت نشینی کوله د پاره د عبادت د الله تعالی او دا د هغه اجتهاد وو لیکن په دے شرائع مره الله تم هغه ته تنبیه ورکړه چه هر کله ستا د عبادت هغه

په دریم وجه چې جګړه داسې را فیصلې شرعي نه محتاج وي نو دا فیصله ... خو لکه کوم چې حالت دا چې د شرعي فیصلې ثواب
او اجر د نفلي عبادت نه بهتر دے (الحسن الکلام ...)، فائده: د دے نه پس حضرت داؤد علیه السلام مرکز ...

وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ

او ښه ځائے د راتلو: اے داؤده! یقیناً مونږ ګرځولے یې ته تا لره

خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ

خلیفه (بادشاه) په زمکه کښې، نو فیصله کوه په مینځ د خلقو کښې

بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ

په حقه سره، او پیروي مه کوه د خواهش، پس وابه ړوي تا لره د

سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ

لارے د الله تعالیٰ نه، یقیناً هغه کسان چې اوړي د

سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا

لارے د الله تعالیٰ نه، دوی له عذاب سخت دے، په وجه د

نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاۗءَ

هیرولو د ورځ د حساب، او نه دی پیدا کړی مونږ اسمان

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۭ ذٰلِكَ ظَنُّ

او زمکه او هغه چې مینځ د دوارو کښې دی بے فائدے، دا ګمان د

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

هغه کسانو دے چې کفر یې کړے، پس هلاکت دے هغه کسانو لره چې کفر یې کړے

مِنَ النَّارِ ﴿۲۷﴾ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

د اور نه، آیا ګرځوو مونږ هغه کسان چې ایمان یې راوړے او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِى الْاَرْضِ ۡ

عمل یې کړی نیک، په شان د فساد کوونکو په زمکه کښې

اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ كِتٰبٌ

آیا ګرځوو مونږ پرهیزګاران په شان د فاجرانو، دا لوئے کتاب دے

اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ

را لیږلے مونږ دا تا ته، د برکت نه ډک دے، د دے د پاره چې سوچ وکړي په آیتونو

منزل ۶

ع ۱۱

ته د صفائي د موقع ورکولو نه بغیر خپله فیصله صادره کړه (العرش وغو: ۱۰۲/۲ بر حاشیه ۱۰۱).

فائده: صورت داوو چې داؤد علیه السلام په دربار کښې عرض وکړو چې لے پروردګاره! په شپه او ورځ کښې کوم داسے ساعت نشته چې په هغه کښې د داؤد په کور کښې کوم ذکر مونږ کښې ستا په عبادت کښې مشغول نه وي: الله تعالیٰ داسے پسند شو ارشاد لے وکړو چې داؤده! دا توفیق هم ستا د توفیق نه دی (حقاني ...)

فائده: د لته مفسرینو د اوریا د ښځے قصه ذکر کړیده دا چې داؤد علیه السلام د هغه په ښځه مئین شو او داور باربار په جنګونو ته لیږلو چې قتل شي او ښځه لے دا راخلي او په بیبیانو کښې لے شامله کړي: العیاذ بالله: دا واقعه بالکل غلطه ده او محققینو پرے رد کړیدے: الهامر الرحمن ۵۱۱ کښې احقر د ګنړو مفسرینو حوالے ذکر کړیدي هغه وګورئ: حضرت علي کرم الله وجهه فرمائي چې چا تاسو ته د داؤد علیه السلام قصه وکړه کوم چې قصه ګرو روایت کوي خو په ورله اتیا دُرے ورکوم: وهو حد الفرية على الانبياء: وګورئ مدارک ... روح ... قرطبي ... ابو السعود ... خازن ... بیضاوي ... نثر المرجان ... افضل التراجم ... جواهر ... عثماني ... ابن کثیر ...

يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً: چې ته خلیفه لے نو ښه تحقیق کوه (الفضل ص۳۳) خطیب شربیني رحمه الله لیکلي دي چې د خلیفه دوه معنے دي: اوله معنی دا ده چې الله تعالیٰ ستا د تیرو شوو انبیاو علیهم السلام نه نائب جوړ لے یې په دعوت الی الله او په سیاست د خلقو کښې: او دویمه معنی دا چې ته الله لے طاقت درکړیدے

چې احکام د الله تعالیٰ په ځمکه کښې نافذ کړے نو په دے معنیٰ باندې خلیفة الله جائز دی نو خلافت په معنیٰ حقیقي
چه او له معنیٰ دا په حق د الله تعالیٰ کښې ممتنع ده نو داسې شي وئیل کیدے چې فلانے نائب د الله دی (احسن الکلام)
وګورئ (سراج منیر ص۳۱ ج ۲).

وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوُودَ
او چې نصیحت قبول کړي خاوندان د خالصو عقلونو ۔ او بخښلې دی مونږ داؤد ته
سُلَيْمَانَ ۚ نِعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾ إِذْ
سلیمان ښه بنده دی یقیناً دا ډېر رجوع کوونکی دی الله ته ۔ کله چې
عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ ﴿٣١﴾
پیش کړے شوې هغه ته په ماښام کښې په درې پښو ولاړ اسونه
فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ
نو ووې هغه یقیناً زه مینه ساتم مینه د مال ، د وجې د یاد
رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا
د رب خپل ، تر دې چې پټ شو په پرده کښې ۔ واپس کړئ دا
عَلَيَّ ۖ فَطَفِقَ مَسْحًا بِالسُّوقِ وَالْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾
په ما باندې ، نو شروع شو چې لاس تېرولو په پنډو او په څټونو د هغو
وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ
او یقیناً امتحان کړے وو مونږ د سلیمان (ع) باندې او کېښودلو مونږ په کرسئ
كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ
د هغه باندې یو جسه بیا رجوع وکړه الله ته ، ووې هغه اے ربه زما
اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ
بخښنه وکړه ما له او راکړه ما له داسې بادشاهي چې نه ښائي بل چا له
مِنْ بَعْدِي ۖ إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾
روستو زما نه ، یقیناً ته خاص ته یې بخښونکي
فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ رُخَاءً
نو تابع کړه مونږ هغه ته هوا ، چلیدله به په حکم د هغه باندې نرمه
حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَالشَّيَاطِينَ كُلَّ بَنَّاءٍ
کوم ځاے ته چې به غوښته هغه ، او شیطانان تابع ، هر یو ودانی کوونکی

منزل ۶

فائده ، د دے ص۲۹ بیان په تفسیر د سورة بقرې کښې هم تېر شوے دی . وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ او د ۲۷ دا دلیل عقلي دی په آخر کښې د عذاب اخروي بیان دے : ص۲۸ کښې زورنه دلا په ص۲۹ کښې دنیاوي د (الفضل ص۱۶۲) ، وَوَهَبْنَا لِدَاوُدَ ص۳۰ : دا دلیل نقلي دے د سلیمان علیه السلام نه چې سلیمان علیه السلام سره د خوږه باری تعالیٰ باندې غالب دے او هلته د الله تعالیٰ عبدو او امتحان په هغه امتحان کړے وو (الفضل ص۱۶۳) دلته د حضرت سلیمان علیه السلام د دے بنه صفتونو ذکر شوے دوه په ص۳۰ کښې یو په ص۳۴ کښې ، إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ ص۳۱ : کله چې پیش شو د ده باندې په وقت د ماښام کښې په درې پښو ولاړ ښکلي تېز اسونه . فَقَالَ نو وفرمائیل هغه چې یقیناً زه محبت ساتم محبت د مال (یعنې د اسونو) د وجې د یاد د رب خپل نه ترو دے چې پټ شو آفتاب په پرده کښې . فائده : د لته خیر په معنیٰ د مال اخلیه کښې ترجمه کښې لیکلې شوې ده : امام بخاری رحمه الله فرمائي (صحیح بخاری) رُدُّوهَا عَلَيَّ ص۳۳ ، پس د زړه لاو د اسونو حکم صادر کړو چې بیرته ما ته واپس کړئ هغه چې ما نه لاو کښې وو مونږه وي . فَطَفِقَ : د دے نه مخکښې عبارت محذوف دے چې کله واپس کړے شو نو شروع شو سلیمان علیه السلام چې مسح کوله اسونو په پنډو او څټونو د هغو ۔ د دا دلیل دی چې ډېر ګران او فرمان ، نو د هغو ښکلو او ښونو هغه صفا کوله (الفضل ص۱۶۵) . شیخ القرآن رحمه الله فرمائيل چې د اس او انسان طبیعت یو شان دے چې څنګه څوک د ده سره مينه کوي (سرتو مالي) تر بنه لرے شي ۔ نو مطلب دا شو چې د وېرې ترینه ختمولے او ښکلي کړل او تېزلو لپاره : فائده : دلته د مفسرینو حضراتو ډېر اقوال دي هغه ضعیف دي ، د شیخ تفسیرو د پاسه وګورئ : یو قول دا دے

ص

پېکه اسونو په لیس شو نو سلیمان علیه السلام ورله په تورو وهلو شروع کړه او پښو او غاړو ئې پرې پرې کړې او مو نو دا رنګه ترجمه قصه شوی ده وره و امسک د الله تعالیٰ نبي ته مناسب نه ده ، امام رازی رحمه الله په شو نو ډېر زیات تردید ویلی دی. امام قرطبی رحمه الله کښې آتنځر ژغل

کړی دی: دغه شان ډیرو نورو شیخ رحمه الله په جواهر القرآن کښې نقل کړي او علامه شارح رحمه الله کښې او علامه قاسمي په محاسن التاویل ۱۲/ کښې او خطیب شربیني په سراج منیر کښې د امام رازی رحمه الله نه نقل کوی د هغه معنیٰ مختصر لیکلی وه چه مراد ترینه صحیح کړل دی نه په تورو وهل، د مسح په معنیٰ کښې امام رازی رحمه الله لیکی ، والقول بالتقدید التعجب من الناس کیف قبلوا هذه الوجوه السخیفة مع ان العقل والنقل یرد هما ولیس لهم فی اثباتها شبهة فضلا عن حجة (التفسیر الکبیر ۲۰۶/۲) ولقد فتنا : او یقینا امتحان کړے وو مونږ په سلیمان علیه السلام باندې او کېښوده وو مونږ په کرسئ (تخت) د هغه یو جوسه (بدن) بېکار او بیا رجوع وکړه الله تعالیٰ ته. فائده: دا آیت مشکل دے او په دے امتحان کښې ډیر اقوال د مفسرینو رحمهم الله نه نقل دی او اکثر اقوال ئې بې اصله هم دی : فائده : فتنه د هر چا د هغه د شان مناسب وی . د انبیاؤ فتنه (امتحان) په حکم کښې خطا اجتهادي یا سهو یا نسیان را تلل دی او دا گناه نه ده بلکه د حسنات الابرار سیئات المقربین په قانون سره سبب د خفګان د انبیاؤ علیهم السلام ګرځی ځکه چه الله تعالیٰ ته ډیر نزدې خلق دی. د دے وجې نه دیته فتنه وائی : او په باره د فتنې د سلیمان علیه السلام کښې صحیح قول دا دے چه په حدیث کښې ذکر دے

وقالی ۲۳

وَغَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾

او غوپه وهونکی : او نور چه یو ځای تړلی وو په زنځیرونو کښې .

هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ

دا بخشش زمونږ دے نو احسان کوه او یا ئې ساته : بغیر

حِسَابٍ ﴿۳۹﴾ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ

د حساب نه : او یقینا د ده لره په دربار زمونږ کښې نزدیکت دے او ښه

ع ۱۲

مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾ وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى

ځائے د واپسئ : او یاد کړه بنده زمونږ ایوب علیه السلام کله چه آواز وکړو

رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّ

رب خپل ته یقینا ما ته رسیدلے دے شیطان په مرض : او په

عَذَابٍ ﴿۴۱﴾ اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ هٰذَا مُغْتَسَلٌ

تکلیف سره : او وهه زمکه په پښه خپله : دا ځائے د غسل دے :

بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اَهْلَهٗ وَ

یخ : او اوبه د څښلو دی : او ورکړل مونږ ده ته بال بچ د ده : او

مِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى

په مثل د هغوی د هغوی سره د وجې د رحمت زمونږ نه او د پاره د نصیحت

لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾ وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا

د خاوندانو د خالصو عقلونو : او را واخله په لاس خپل کښې جارو

فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ اِنَّا وَجَدْنٰهُ

پس وهه په هغې باندې (بي بي) او ماته نه کړه قسم خپل یقینا مونږ موندلے وو هغه لره

صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾ وَاذْكُرْ

صابر ښه بنده وو (دا) یقینا دے رجوع کونکی وو (الله ته) : او یاد کړه

عِبٰدَنَآ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

بندګان زمونږ ابراهیم علیه السلام او اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام

منزل ۶

د هغې حاصل دا دے چه سلیمان علیه السلام د جهاد د محبت د وجې نه او غوښتل چه خپل اولاد نے پیدا شی او هغوی به مجاهدین فی سبیل الله وی نو وئے ویل چه څه بهٔ نن شپه په شلو بیبیانو خپلو باندې ګرځم او د هغوی نه چه اولاد پیدا شی هغوی به مجاهدین وی او انشاء الله ئے ونه ویل ترینه هیر شو نو څه صورت و راسته د ولی بوه ناقصه پیدا شوه (دلتا تمام) دا ئے نه

راوړے شو او په کرسئ ئے ورته یوه دهړه واچوله شوه صرف وا وئ دستا ئے څوک یه پیدا شو او د نورو سیبیا توهیڅ پیدا نشول - نو ده تدا یا د شو چه ځما نه انشاءالله ویل هېر شوی وو داد هغه نتیجه ده نو د الله تعالیٰ نه ئے بخښنه وغوښته او الله تعالیٰ ته ئے رجوع وکړه

اُولِی الْاَیْدِیْ وَالْاَبْصَارِ ﴿۴۵﴾ اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ

چه خاوندان د لاسونو (طاقتونو) او نظرونو وو : یقیناً مونږ خالص کړی وو دوی

بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾ وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا

په خالص خوی چه یادول د کور د اخرت دی : او یقیناً دوی په وړاندې زمونږ کښې

لَمِنَ الْمُصْطَفَیْنَ الْاَخْیَارِ ﴿۴۷﴾ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِیْلَ

خاص غوره کړے شوو د غوره کړے شوو نه وو : او یاد کړه اسماعیل

وَالْیَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْیَارِ ﴿۴۸﴾

او یسع او ذا الکفل او ټول وو د غوره خلقو نه :

هٰذَا ذِكْرٌ ؕ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِیْنَ لَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۹﴾

دا قرآن نصیحت دے او یقیناً دپاره د پرهیزګارانو خامخا ښه ځائے د واپسئ دے :

جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ﴿۵۰﴾

چه باغونه د عدن دی : په داسې حال کښې چه کولاو شوی دی دوی له دروازے :

مُتَّكِـِٕیْنَ فِیْهَا یَدْعُوْنَ فِیْهَا بِفَاكِهَةٍ

تکیه لګولے وی دوی په هغه کښې غواړی به په هغه کښې میوے :

كَثِیْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ

ډیرے او څښاک لره : او د دوی سره به بندونکے د سترګو ښځې

الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ

په خاوندانو د خپلو همزولے وی : دا هغه دی چه وعده کړے شوے تاسو سره

لِیَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ

دپاره د ورځے د حساب : یقیناً دا خامخا رزق زمونږ دے نشته دے لره هیڅ

نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾ ۚ هٰذَا ؕ وَاِنَّ لِلطّٰغِیْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ﴿۵۵﴾

ختمیدل : دا په دغه شان دے او یقیناً دپاره د سرکښانو خامخا بد ځائے دے :

جَهَنَّمَ ۚ یَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾ هٰذَا ۙ

دوزخ دے ننوځی به دوی هغه ته : نو بد ځائے د آرام دے : دا عذاب دے

فائده : الوحی رحمة الله وایی چه اظهر قول په فتنه د سلیمان علیه السلام کښې ویلے شوے (روح ۲۲۹/۲۳) او امام بخاری رحمه الله واحدیث ۳۴۹۵ کښې را نقل کړے دے فائده : په دے تیکلی دی چه دا حدیث د عقل نه خلاف دے نو تفهیم القرآن کښې فرقه د به فرمایلی دغه جاهل په عربئ نه پوهیږی څکه دلته مراد ابتداء د فعل ده لکه لاطوفن الليلة معنی دا ده چه شروع به وکړم طواف کولو نه شپے کښې کلها ابتداء د فعل مراد دی او کلها انتهاء په عربئ کښې لکه سورة انفال ایت کښې ابتداء او انتهاء د فعل مراد دی چه ویښتل نه دوی کړی تا د سترګو د کفارو کښې کله چه وویشتل د ګوتو (لاس مصطفیٰ) او رسول تا د موسترګو ته نه دی کړی کله چه ابتداء او ویشتل د لاس نه وکړل فائده : د دے نه علاوه چه کوم اقوال مفسرینو لیکلی دی چه سلیمان علیه السلام د ګوتے د وجے نه بادشاه لوله او شیطان په شکل د سلیمان بادشاه جوړ شوے وو او په مسلمانانو ئے حکومت کړے وو او د سلیمان علیه السلام په کور کښې د بت عبادت شوے وو وغیره دا ټول دروغ دی او د یهودو نه منقول دی د ګوري مدارک، روح، خازن، ابن کثیر، ماجدی، شفاء، الهام لَایَنْبَغِیْ لِاَحَدٍ : چه مناسب نه وی د هیچا دپاره پس ځما نه : فائده : دا سوال ئے د ځان دپاره کړے وو چه معجزه شی د هغه نه نورو د وجه د کیږی نه (مدارک) فائده : په دے کښې تواضع د ترقئ دپاره د استغفار دعا کړی او په سلیمان علیه السلام کښې د دے دعا قبول د کړے چه هوا او سرکښ پیریان ئے ورته مسخر کړل او په دے کښې د حضرت شان ذکر کړی چه په د نعمتونو دنیا وی کښې د الله تعالیٰ د نورو مالدارانو پشان لرے شوے نه وو او د اذکر عبدنا ایوب علیه السلام

دا حدیث دلیل نقلي دے د ایوب علیه السلام: او کوره په ایوب علیه السلام د الله تعالی امتحان وو چه هغه لره باري تعالی اجر کیږي وو نو هغه لوحای نشو چه ووئے اوښ د هغه په بارې کښې او ټول چلیده؟ معلومه شوه چه هغه علیه السلام ډیر واو

وماليٰ ۲

فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ ۝٥٧ وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ

نو څکل دوی دي لره گرمے اوبه او ویلے زوے. او نور عذاب په دغه شکل دوه دے

أَزْوَاجٌ ۝٥٨ هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا

قسم قسمونه. دا یوه ډله ده: ننوتونکې تاسو سره: نه دې خیر راشي

بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُو النَّارِ ۝٥٩ قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا

دوی لره. یقیناً دوی ننوتونکي دي اور ته: وبه وائي دوی: بلکه تاسو: نه دې وي

مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ

خیر تاسو لره: تاسو وړاندې کړے دے دا عذاب مونږ لره: نو بد ځاے دے

الْقَرَارُ ۝٦٠ قَالُوا رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا

ځاے د اوسیدو: وبه وائي دوی اے ربه زمونږه چا چه وړاندې کړې دي مونږ لره دا

فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ۝٦١ وَقَالُوا مَا لَنَا

نو زیات کړے هغه لره عذاب دوچنده په اور کښې: وبه وائي دوی څه دي مونږ لره

لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ۝٦٢

چه نه وینو مونږ هغه سړي چه وو مونږ شمارل به مونږ هغوی لره د شریرانو نه

أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ ۝٦٣

آیا گرځولي وو مونږ هغوی لره مسخره یا کږې شوي دي د هغوی نه سترگې زمونږ

إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ۝٦٤ قُلْ

یقیناً دغه خبره واقعي ده: جگړه د خاوندانو د اور: او وایه

ع ۴

إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ

یقیناً زه ویروونکے یم: او نشته هیڅ معبود سوا د الله نه چه یو دے

الْقَهَّارُ ۝٦٥ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

زور اور دے: پالونکے د آسمانونو او د زمکے او د هغه څه چه په مینځ د دوی کښې دي

الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ۝٦٦ قُلْ هُوَ نَبَأٌ عَظِيمٌ ۝٦٧ أَنتُمْ

زور اور بخښونکے دے: وو ایه دا خبر لوے دے: تاسو

منزل ۶

په استغفار یا نه غائب نه وو: (اسحٰق ۲) بِصَبٍ: عرض د ښدتې زمونږ: بِنُصْبٍ په مرض سره او عذاب: او دا رنځ مصیبت د اهل او مال شیطان تسلیط او بولے: دګوری کهف ۵۵، نور خالق د افعالو د خیر او د شر دوارو الله تعالیٰ دے دګوری صافات ۹۶: اُرْكُضْ: د وهه په پوښه خپله یا نوزه مکه چه چینه راپیدا شي او دا یے ورته معجزه ورکړه هٰذَا مُغْتَسَلٌ: دا غائب د لامبلو دے یعنی: په دے به دے ظاهري مرضونه ختمے شي: د شَرَابٌ: او څکل دی په دے به دے باطني مرضونه لرے شي: په د ایت کښے ورته طریقه د علاج ذکر کړه. په دے کښې قبول د دعا دے په باره د اهل کډلا کښه وَخُذْ بِيَدِكَ: او را واخله په لاس خپل کښې جاروب. وو وهه په دے سره (بی بی خپله) او قسم مه ماتوه: د دے ایت کریمه اخر کښے صفت په د صبر کولو او عبدیت سره کړی: او فرمائي چه دا رجوع کوونکے وو الله تعالیٰ ته: فائده: ایوب علیه السلام بی بی ته په خفه وو چه غصه شوے وو نو هغه د سلو قسم کړے وو چه تا به شل کړم. او وهمه: آلوسي رحمه الله فرمائي چه شیطان ورته د طبیب په شکل راغلے چه خه به ستا د مرض علاج وکړم او هیڅ ورته نه غواړم خو ته به ووائے چه تا روغ کړم؟ او یا به د غیر الله په

نوم ذبحه وکړے. دګوري روح بیان: هغه بی بی په دغه عمل نه وو کړے او نه ئے عقیده کړے وه: نو الله تعالیٰ ئے اسانتیا او وسته او د ایوب علیه السلام د باره ئے دا مخرج راولیږلو: فائده: د دے واقعے د حیلے استدلال مروجه سره هیڅ تعلق نشته ځکه چه سخا طیا لو لیکلي دي: ځکه دا خصوصیت د وه

ده ذ اتوب طلبه ﷺ او ذ هغه ذپ په ذ پاره : او که امام حکم ثنی نو ذ قسم مسئله ده او شرط پکښ واده چه قول
واندی معتبر وب ته ورسیږی ، ذ کور ری مدارک ، خازن ، جصاص ، روح ، رد مختار ، ذ شامی په
حاشیه ، فائده : الوسی رحمه الله فرمائی چه کومه حیله چه ابطال ذ حکمت شرعی واجب وی هغه نه قبلیږی (روح) : فائده : ذ اختر الهام الرحمن او رقیب عات ذ کوری : ولتنه تفصیل ګمخا الش نشته ، فائده : ذ ... ذ شتې انبیاؤ ذکر ... او ذ هغوی ... اجمالی ذکر شوی ... مخکښ سورتونو کښ ... انبیاء ، صفت وغیره ... خالص ... ذ ... پاره په خصلت خالص ... چه هغه ... ذ ... آخرت ... (مدارک) ... اولی الایدی والابصار : خاوندان ذ اعمالو ظاهره او ذ فکر باطنه ... (مدارک) فائده : ذ آیت ... نه بشارت تفصیلی او ذ ... نه تخویف تفصیلی دے او ذ دوزخیانو په مابین کښ تخاصم او جګړه ذکر شوی ده : په ... کښ دعوی ذ توحید او بیا په ... کښ دلیل عقلی دے : ذ ... نفی ذ علم غیب ذ نبی ﷺ نه او دلیل وحی دے : قل هو نبؤا عظیم : وایه دا خبر لوئے دے : ذ ما قبل آیتونو مضمون ته اشاره ده او بیان ذ عظمت ذ دعوے ذ توحید دے او زجر دے معرضینو ذ وے لره ... ما کان لی : نفی ذ علم غیب ذ نبی ﷺ نه : اذ قال ربک : ذ دے ځائے نه تر ... ذ آدم علیه السلام واقعه او ذ ملائکو علیهم السلام تابعداری او ذ شیطان علیه اللعنة نافرمانی او آخر کښ ترغیب دے قرآن ته څنګه چه اول سر کښ وو ، فائده : دا واقعه مخکښ ګنړو سورتونو کښ ذکر شوے ده ؛

عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾ مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ

ذ دے نه اعراض کونکی یئ : نشته ماله ... ... په ډله ...

الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾ إِنْ يُوحَىٰ إِلَيَّ إِلَّا

پرتلې باندې ... کله چه دوی ... جګړه کوله ، وحی نه کیږی ماته مګر ذ دے

أَنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ

چه یقینا زه ... ښکاره یم : کله چه ووئیل رب ستا ملائکو ته

إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ طِينٍ ﴿٧١﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَ

یقینا زه پیدا کونکے ذ بشر یم ذ خټے نه : پس کله چه برابر کړم ما هغه او

نَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ ﴿٧٢﴾

پو کړم ما ... په هغه کښ ذ روح خپل نه ، نو پریوزئ هغه ته سجده کونکی :

فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا

پس سجده وکړه ملائکو ټولو : په جمع سره : مګر

إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ

ابلیس ونه کړه : لوئی ئے وکړه او وو دے ذ کافرانو نه : ووئیل الله

يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ

اے ابلیسه څه شی منع کړے ئے ته ... ذ سجدے کولو نه هغه ته چه پیدا کړے ما

بِيَدَيَّ ۖ أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾

په دواړو لاسونو خپلو : ایا لوئی دې وکړه : یا یې ته ذ اوچتو نه :

قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ ۖ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَ

ووئیل هغه : زه غوره یم ذ ده نه ، پیدا کړے ئے یم ما : ذ اور نه : او

خَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

پیدا کړے دے ده : ذ خټے نه : ووئیل الله : پس ووځه ته ذ جنت نه ،

فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ

نو یقینا ته رټلے شوے یې : او یقینا په تا باندے لعنت ځما دے : تر

... نو ته ... [illegible] ... ذ دے ... او ذ آخرت ... [illegible]

قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ: ووايه نه غواړم تاسو نه په دې تبليغ څه بدله. وګورئ انعام ۹۰، هود ۲۹، يوسف ۱۰۴، شعراء ۱۰۹: وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ: او نه يم څه د دروغ جوړونکو نه (احسن) او څه ډېر ښاوټي کوونکو نه يم (معارف) يعني په دعوٰی د وحې کولو کې په خپله د تحقيق نه. (فتح ملتقطه): عن مسروق قال اتينا ابن مسعود رضي الله عنه فقال يا ايها الناس من علم شيئا فليقل به ومن لم يعلم فليقل الله اعلم فان من العلم ان يقول الرجل لما لا يعلم الله اعلم فان الله عز وجل قال لنبيكم قل ما اسئلكم عليه من اجر. (ابن كثير ...)

يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ

ورځې د بدلې پورې: او وې ويل ابليس: اې ربه زما! پس مهلت راکړه ما ته تر هغې ورځې پورې چې

يُبْعَثُوْنَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِلٰى

دوباره ژوندي کړی شي دوی: وويل الله پس بېشکه ته له مهلت ورکړی شويو څخه يې: تر

يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿٨١﴾ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَاُغْوِيَنَّهُمْ

ورځې د وخت معلوم پورې: وويل ابليس پس قسم دی په عزت ستا خامخا به ګمراه کړم دوی

اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٢﴾ اِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٨٣﴾

ټول لره: مګر بندګان ستا له دوی نه: خالص کړی شوي:

قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ اَقُوْلُ ﴿٨٤﴾ لَاَمْلَئَنَّ

وويل الله پس حق دادی: او حق وايم زه: خامخا ډکوم به

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٥﴾

جهنم ستا نه: او له هغو چې تابعداري کوي ستا: له دوی نه ټول يو ځای.

قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَآ اَنَا مِنَ

ووايه نه غواړم ستاسو نه په دې تبليغ څه بدله: او نه يم زه د

الْمُتَكَلِّفِيْنَ ﴿٨٦﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٧﴾

تکلف کوونکو: نه دی دا قرآن مګر نصيحت د پاره د مخلوق ټولو:

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿٨٨﴾

او خامخا پوهه به شئ تاسو په خبر د دې باندې پس د يو وخت نه:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿١﴾

نازلول د دې کتاب: د طرف د الله تعالی نه چې زورور او حکمتونو والا دی.

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ

يقينا نازل کړی موږ: تا ته: دا کتاب: په حقه سره: نو عبادت کوه:

سُوْرَةُ الزُّمَرِ: مکي سورة ده ۳۹ په ترتيب کښې ده د سورة ص نه او ۵۹ په نزول کښې ده د سورة سبا نه: وجه تسميه: په زمر سره او ۳ چې الفاظ دوه ځلې په دې سورة کښې راغلي دي. خلاصه دعوٰی: نفي د شرک في العبادة ... ربط: ... مخکښې سورة کښې صداقت د قرآن وو او دلته په سر کښې هم صداقت د قرآن دی: (۱) هغه ختم شو په صداقت د قرآن او دا شروع شو په دې باندې: (۲) هلته دلائل نقليه وو دلته عقليه دي. (۳) په سورة سبا کښې نفي د شفاعت قهري وه او فاطر کښې په عقلي دلائلو او سورة يٰسٓ کښې په تنوير وو په واقعه د صاحب يٰسٓ هغه کښې عجز د مخلوق وو او په سورة ص کښې ترقي ده چې مصائب هم راغلي وو نو دا سورة تفريع شو په مخکښنو فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ. خلاصه: په دې سورة کښې پنځه بابونه دي: اول

ترغيب دی، دويم تر ۲۲ پورې، دريم تر ۳۲ پورې، څلورم تر ۵۲ پورې، پنځم تر آخره پورې، په اول باب کښې اته خبرې دي: (۱) ترغيب قرآن ته: (۲) دعوٰی د توحيد: (۳) زجر مشرکانو ته: (۴) دلائل عقليه: (۵) تخويف او زجر: (۶) ترغيب اسلام ته او بشارت: (۷) دليل وحي: (۸) تقابل د اوصافو د مومنانو او مشرکانو

تنزیل: دا مبتدا ده او من الله ئے خبر دے : دیکښ صدق د قرآن مجید سره تخویف او بشارت تفصیل: شان شاعظاً: ذکر شوے دے چه حاجانو ته په صرف د
زُلفیٰ ایکه: دا د سورت مقصودي مضمون دے او په دیکښ د مقصد د نزول دے

اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ۝ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ
الله تعالیٰ لره خالص کوونکے هغه لره بندګی : خبردار! خاص الله تعالیٰ لره بندګی
الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ
خالصه ده : او هغه کسان چه نیولی دی سوا د الله نه
اَوْلِيَآءَ ۘ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ
مددګاران (وائي) : نه عبادت کوو مونږ د دوی مګر د دے دپاره چه نزدے کړی مونږ لره الله تعالیٰ ته
زُلْفٰى ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِيْ مَا هُمْ
په نزدیکت سره : یقیناً الله تعالیٰ به فیصله وکړی په مینځ د دوی کښې په هغه څیز کښې چه دوی
فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ڛ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ
په هغه کښې اختلاف کوی : یقیناً الله تعالیٰ هدایت نه کوی : هغه چا ته چه
هُوَ كٰذِبٌ كَفَّارٌ ۝ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ
هغه دروغژن ناشکره وی : که اراده کړے وے الله تعالیٰ چه ونیسی
وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۭ
اولاد : نو خامخا غوره کړے به ئے وے د هغه څیز نه چه پیدا کوی ئے هغه څه چه غواړی ئے : پاک دے هغه
هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
هغه الله تعالیٰ دے یو : زورآور دے : پیدا کړی : آسمانونه
وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَي النَّهَارِ
او زمکه : د پاره د اظهار حق : راتاؤوی شپه په ورځ باندے
وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَي الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ
او راتاؤوی ورځ : په شپه باندے : او مسخر کړے دی : نمر
وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ اَلَا هُوَ
او سپوږمۍ، هر یو چلیږی : د پاره د نیټے مقرر دے : خبردار : الله
الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ
زورآور بخښونکے دے : پیدا کړی دی تاسو لره : د نفس : یو نه

الله تعالیٰ ته خوارني (ابن کثیر ۴۵)
حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی پس عبادت کوه د یو الله تعالیٰ چه شریک ورله نشته او خلق ورته رابله الخ : (ص ۴۵) والذین تخذوا: داتنه ده مشرکانو لره او اولیاء نه مراد ملائک، عیسیٰ او بتان دی چه دوی د هغوی په شکلونو بانو جوړ کړی وو (کذا فی المظهری ص ۲۳)، ما نعبدهم: یعنی کفار وائی چه عبادت نه کوو مونږ د دوی مګر د دے د پاره چه نزدے کړی مونږ لره الله تعالیٰ ته او سفارش وکړی په دربار د هغه کښې (تسهیل ص ۳۵)، فائده: - او دا شبهه هغه ده چه اعتماد په هغه کوی مشرکانو په ټولو زمانو او زمونږ دور کښې او رالیږلی دی پیغمبران علیهم الصلوٰة و السلام ټول په رد د دے او په منع د دے نه الخ (ابن کثیر ص ۴۵)
فائده: - سورة یونس ص ۱۸ لاندے ذکر شوی وو چه دا شبهه جرړه د شرک ده : او د مشرکانو د شرک اصل وجه هم دا یو قسم سفارش منل دی، وګوری انعام الرحمن ص ۲ هم۔
لو اراد الله الخ : په دیکښ بل زجر دے چه دوی الله تعالیٰ لره اولاد ثابتوی نو جواب ئے ورکو

سبحانه الخ: په دے کښې دلائل عقلیه دی: یکور: راتاؤوی شپه په ورځ او راتاؤوی ورځ په شپه باندے : مطلب دا چه هر یو د دواړو نه پټ وی بل لره چه کله چه راشی: (مدارک ص ۵)

ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِنَ

بيا يې پيدا كړې ده له هغه نه جوړه د هغه ؛ او پيدا كړي دي تاسو لره ؛ د

الْأَنْعَامِ ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ يَخْلُقُكُمْ فِي

څارويو نه ؛ اته (٨) قسمونه ؛ پيدا كوي تاسو لره ؛ په

بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِنْ بَعْدِ خَلْقٍ

ګېډو د ميندو ستاسو كښې ؛ په پيدائش پس د بل قسم پيدائش نه ؛

فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ

په تورتمو درېو كښې ؛ دغه ستاسو الله تعالى دے ؛ پالونكے ستاسو ؛ خاص دغه لره

الْمُلْكُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ⑥

باچاهي ده ، نشته هيڅ د بندګۍ سوا د هغه نه ؛ نو كوم خوا اړولې شئ تاسو ؛

إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ وَلَا

كه چرې كفر كوئ تاسو ؛ پس يقيناً الله تعالى ؛ بې پرواه دے ستاسو نه ؛ او نه

يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ وَإِنْ تَشْكُرُوا يَرْضَهُ

خوښوي د بندګانو خپلو دپاره ؛ كفر ، او كه چرې شكر باسئ تاسو نو خوښوي هغه

لَكُمْ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ثُمَّ

تاسو لره ؛ او نه پورته كوي بار اوچتونكے ؛ بار د بل چا ؛ بيا

إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

رب ستاسو ته دے واپس ستانيدل ستاسو ؛ پس خبر به دركړي تاسو ته په هغه عملونو ؛ چه تاسو

تَعْمَلُونَ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ⑦ وَ

به كړي ؛ يقيناً هغه ښه پوهه دے ؛ په خبرو د سينو والا دى ؛ او

إِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا

كله چه ورسيږي ؛ انسان ته ؛ ضرر ؛ بلي رب خپل لره ؛ رجوع كونكے وي ؛

إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِنْهُ نَسِيَ مَا

هغه ته ؛ بيا چه كله وركړي هغه ته نعمت ؛ د خپل طرف نه ؛ هير كړي هغه چه

ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ ، اته قسمونه وګورئ انعام ١٤٢ ، ١٤٣ ؛ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ؛ په تورتمونو درېو كښې ؛ تورتم د ګېډې او د رحم او د پېړ واى ؛ او يا تورتم د شپې او د كچه دان او د پېروان ؛ (مدارک ص٢٥) ؛

إِنْ تَكْفُرُوا : دا تخويف اخروي دے ، يعنى كه تاسو د بارى تعالى احسان مننى نو هغه اى تعالى دا خبره خوښوي ؛ تاسو د پاره ، د هغه د چا شكر ته حاجت نشته (روح ، الحسن ص٣٢) ؛ د دے ايت نه معلومه شوه چه اراده د الله تعالى بېله صفت دے او رضا ئے جدا صفت دے ؛ اراده د هر څه كوي ليكن رضا ئے په هر څه پورے نه متعلق كيږي او دا مذهب د اهل سنت والجماعة دے ؛ (احسن ص٢٣٣) ؛ وَلَا تَزِرُ : وګورئ عنكبوت ١٢ و ١٣ ؛

انعام : وَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ؛ ١٢ : دا زجر دے مشرك انسان ته ؛ وګورئ ١٢ يونس ، ٦٧ اسراء ، ٥٣ نحل ، ٦٥ عنكبوت ، ٣٢ لقمان ؛

كَانَ يَدْعُوا إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ
چې ووده (الله ته) ګوښه هغه ته مخکښې دو دې نه؛ او ګرځوي الله لره
أَندَادًا لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ
حصه داران؛ د پاره د دې چې ګمراه کړي د لارې د الله عزوجل نه؛ ووایه چې نفع واخله
بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ (٨)
په کفر خپل؛ لږ ورځې؛ یقیناً ته د ځنو ملګرو د اور نه یې؛
أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَ
ایا هغه څوک چې هغه طاعت کوونکی دی په وختونو د شپې کښې؛ سجده کوونکی؛ او
قَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ ۗ
اودریدونکی دی، ویریږي د آخرت نه؛ او امید لري د رحمت د رب خپل نه؛ (ایا برابر دی د هغه)
قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَ
ووایه ایا برابر دي؛ هغه کسان چې پوهیږي؛ او
الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ (٩)
هغه کسان چې نه پوهیږي؟ یقیناً نصیحت قبلوي؛ خاوندان د خالصو عقلونو؛
قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ
ووایه اې بندګانو زما هغه کسانو چې ایمان یې راوړی؛ ویریږئ د رب خپل نه؛
لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ
د پاره د هغه کسانو چې نیکي کوي؛ په دې دنیا کښې؛ ښه حالت دی؛
وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ
او زمکه د الله تعالی فراخه ده؛ یقیناً پوره به ورکړے شي صبر کوونکو ته؛
أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ (١٠) قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ
بدله د هغوی؛ بې حسابه؛ ووایه یقیناً ما ته حکم؛ امر کړے شوی دی ما ته؛
أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ (١١) وَأُمِرْتُ
چې بندګي کوم زه د الله؛ خالص کوونکی هغه لره د بندګۍ؛ او امر کړے شوی دی ما ته؛

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ: په دې آیت کریمه کښې بالمقابل د مؤمن نو ذکر کوي او د دې عملي صفتونه یې ذکر کوي. وَيَرْجُوا رَحْمَةَ رَبِّهِ: د لته یې مقابل محذوف دی: علامه خازن رحمه الله لیکي. كَمَنْ هُوَ غَيْرُ قَانِتٍ: یعنې پشان د هغه چا دې چې دا سې نه وي. (رحمه الله). قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ: دا آیت دلیل دی په فضیلت د علم د توحید او د شریعت باندې. خطیب شربیني رحمه الله لیکي: وفي هذا تنبيه على فضيلة العلم؛ (سراج منیر ٣/٤٣١). قُلْ يَا عِبَادِ: دا ترغیب او بشارت دی. وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ: او زمکه د الله تعالی فراخه ده. علامه ابن جوزي رحمه الله تعالی فرمایلي دي چې مقصود د دې نه تېزي ورکول دي په هجرت باندې؛ (تسهیل ٣/٢٢٦) عنکبوت ٥٦ وګورئ. قُلْ إِنِّي ١١: دا وحي دلیلونه د پاره د دعوې د سورت دي.

لِاَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑫ قُلْ اِنِّیْۤ
چه شم زه: اول د مسلمانانو نه ، ووايه يقيناً زه ،
اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّیْ عَذَابَ يَوْمٍ
ویریږم که چېرې نافرمانی وکړم د رب خپل، د عذاب د ورځې
عَظِيْمٍ ⑬ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِیْ ⑭
لوی نه ، ووايه صرف د الله عبادت کوم خالص کوونکی زه لره بندګۍ خپله
فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ ؕ قُلْ اِنَّ
پس بندګي کوئ د هغه چا چه خوښه مو شي تاسو سوا د الله تعالی نه ، ووايه يقيناً
الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ وَ
تاوانيان هغه کسان دي: چه تاوان کښې اچولي دي خانونه خپل ، او
اَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ
اهل خپل په ورځ د قيامت ، خبردار ! دغه ، هم دغه تاوان ،
الْمُبِيْنُ ⑮ لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ
واضح دے: دوی لره د پاسه د دوی نه سائبانونه دی: د اور نه ؛
وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ
او لاندې د دوی نه سوري دي؛ دغه عذاب: ويره ورکوی الله تعالی په دے سره
عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ⑯ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا
بندګانو خپلو ته : اے بندګانو ما! ويريږئ ما نه : او هغه کسان چه ډډه وکړی
الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْۤا اِلَى اللّٰهِ
د طاغوت (يعنی) د بندګۍ کولو د هغه نه ، او رجوع کړی الله تعالی ته :
لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ⑰ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ
دوی لره زيرے دے: نو زيرے ورکړه بندګانو خپلو، هغه کسانو ته چه غوږ ږدي:
الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
وينا ته ، پس تابعداري کوي د ډيره ښائسته د هغې: دغه کسان هغه دي: چه

فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ: پس عبادت کوئ تاسو د هغه چا چه ستاسو خوښه وي: تسلی رحمه الله فرمائی چه دا امر د ريټنے د پاره دے (مدارک ص۸۲۹): يا پسے تعريف دے

لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ: سورة اعراف ص۴۱ وګورئ: وَالَّذِيْنَ

اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ: او هغه کسان چه ځان ساتي د طاغوت يعنی د عبادت د هغه نه ـ دا اُنيکا سنو صفتونه دي او هغوی لره بشارت تفصيلي دے ،

فائده: د طاغوت بيان بقره ص۲۵٦، پ۵ نساء، ع۳٦ نحل کښې تير شوے دے؛

فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ: مولينا حسين علی رحمه الله فرمائی: د دے نه مسئله د توحيد مراد ده: (جواهر ص۱۰۲۰): د شاه پور شيخ القرآن رحمه الله فرمائی: د باری تعالی ټولے خبرے ښائسته دی:

(افضل التراجم ص۹۳۵)

أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ: په مخکښې آيت کښې يا مقابله وه د دواړو ډلو په مابين کښې. دلته خبر محذوف دے ابوالبقاء رحمه الله وائي كَمَنْ نَجَا: يعني ايا هغه شان دے لکه هغه چه نجات موندونکے دے د عذاب نه. او زمخشري رحمه الله وائي تقدير
راوړيدے. أَفَأَنْتَ تُخَلِّصُهُ. پس ته به هغه خلاص کړې (سراج منير ج٣). أَلَمْ تَرَ ۔ دا دويم باب دے تر ركوع ٣ پورې. په دې کښې شپږ خبرې دي: (١) عقلي دليل ۔ (٢) ترغيب اسلام او قرآن ته ۔ (٣) تخويف او زجر ۔ (٤) مثال ۔ (٥) نقلي دليل ۔ (٦) تسلي.
أَفَمَنْ شَرَحَ اللَّهُ: ايا پس هغه څوک چه برسيره کړے وي الله سينه د هغه اسلام ته پس هغه به رڼا وي، د هغه به برابر خلق نه. دلته هم خبر حذف دے: كَمَنْ طَبَعَ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى قَلْبِهِ فَلَمْ يَهْتَدِ (خازن). يعني هغه شان د هغه چا دے چه مهر لګولے وي الله تعالی په زړه د هغه پس هدايت نه شي قبول کړے. او د سندهي شيخ رحمه الله د معالم التنزيل نه نقل کوي: كَمَنْ لَمْ يَشْرَحْ صَدْرَهُ: هغه شان د هغه چا دے چه نه وي برسيره کړے سينه د هغه اسلام ته (جواهر القرآن ص٣٣٤).
اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ: دا صفات د قرآن حكيم دي او ترغيب دے هغه ته او ذکر د شپږو صفاتو د قرآن دے. مُتَشَابِهًا: د دې بعض حصې د بعض سره په ښائست او ښه والي کښې مشابه او برابر شانے دي او د يو بل تائيد او تصديق کوي. مَثَانِيَ: د دې بعضو آيتونو او بعضو مضامينو لره بار بار ذکر کړے دي چه په ښه طريقه سره په ذهن کښې کيني (جواهر ص١٠٤). تَقْشَعِرُّ: پورته کيږي ويښتو د څرمنو د هغه کسانو چه ويريږي د رب خپل نه: دا کوچې د وعيد او انذار نه. ثُمَّ تَلِينُ: بيا نرميږي څرمنې د دوي او زړونه د دوي يا د ذکر د الله ته: دا کوچې د وعد او بشارت نه. (ګوره فتح الرحمن ص٥٥٥). فائده: قتاده رحمه الله دا آيت صفه

هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿١٨﴾
هدايت ورته کړے الله ۔ او دغه کسان ۔ هم دوي خاوندان د خالصو عقلونو دي
اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ۗ اَفَاَنْتَ
ايا هغه څوک چه ثابت شوې هغه باندې فيصله د عذاب (ايا به هغه د هغه چا په شان وي چه نجات ورکړے شوے) ايا ته
تُنْقِذُ مَنْ فِى النَّارِ ﴿١٩﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا
بچ به کړې هغه چه (ليږل) اور کښې دي ۔ لاکن هغه کسان چه ويريږي
رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ
د رب خپل نه ۔ خاص د دوي لره بالاخانې دي د پاسه د هغې نه بالاخانې دي جوړې کړے شوې
تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۗ وَعْدَ اللّٰهِ ۗ لَا
بهيږي لاندې د دې نه ويالې ۔ وعده کړے الله تعالی وعده ۔ نه خلاف
يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ﴿٢٠﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ
کوي الله تعالی د وعدې خپلې نه ۔ ايا نه ګورې ته چه يقينا الله تعالی
اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ
راوړوي د بره طرفه ۔ اوبه ۔ نو چلوي هغو لره چينې
فِى الْاَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا
په زمکه کښې ۔ بيا راوباسي په هغې باندې فصل چه مختلف دي
اَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ
رنګونه د هغو ۔ بيا وچ شي ۔ نو وينې ته هغه زيړ کړے شوے ۔ بيا
يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ۗ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى
ګرځوي هغه لره ذرې مات ۔ يقينا په دے کښې خامخا نصيحت دے
لِاُولِى الْاَلْبَابِ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ
د پاره د خاوندانو د خالصو عقلونو ۔ ايا پس هغه څوک چه برسيره کړے الله تعالی سينه د هغه
لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ
اسلام ته ۔ پس هغه په رڼا دے د رب خپل (هغه شان د هغه چا دے چه نه وي برسيره کړے)

ركوع ١٦

(بقیه دَ تیر مخ): تلاوت کړه نو وے فرمایل چه دا صفت دَ دوستانو دَ الله تعالیٰ دے چه غالب اولویږی دے چه ژګیږی څرمنے (خوښی) دَ دوی او ژاړی به سترګے دَ دوی او مطمئن کیږی به زړونه دَ دوی یاد وسائی ...

فَوَيْلٌ لِّلْقَٰسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ

پس هلاکت دَ هغو دپاره چه سخت دی زړونه دَ هغوی، دَ یاد دَ الله تعالیٰ نه،

أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٢﴾ اللَّهُ نَزَّلَ

دغه کسان په ګمراهئ ښکاره کښ دی: الله هم نازل کړے دی:

أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ

ډیرے ښائسته خبرے، چه کتاب یو شان دے، بیا بیا بیانیږی،

تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ

ژګیږی دَ هغه نه (دَ ویرے) څرمنے دَ هغو کسانو چه ویریږی:

رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ

دَ رب خپل نه: بیا نرمیږی څرمنے دَ هغوی او زړونه دَ هغوی:

إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي

ذکر دَ الله تعالیٰ ته: دغه هدایت دَ الله تعالیٰ دے: نیغ لار ښائی،

بِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا

په هغے باندے چه چا ته اوغواړی الله، او چا ته چه بے لارے کړی الله تعالیٰ، پس نشته

لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿٢٣﴾ أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِ

هغه لره هیڅوک لار ښودونکے، آیا هغه څوک چه بچوی ځان خپل په مخ خپل باندے

سُوءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَقِيلَ

دَ سخت عذاب نه په ورځ دَ قیامت (پشان دَ هغه چه امن کښ دے) او وبه ویلے شی

لِلظَّالِمِينَ ذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٢٤﴾

ظالمانو ته: وڅکئ عذاب دَ هغه عملونو چه تاسو کول:

كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ

دروغ ګڼلی وو هغه کسانو چه مخکښ دَ دوی نه وو، پس راغے دوی ته عذاب

مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٥﴾ فَأَذَاقَهُمُ

دَ داسے ځائے نه چه نه پوهیدل دوی: پس وڅکولو دوی ته:

منزل ۶

دَ الله تعالیٰ نه او صفت سے الله هم نه وے کړے چه عقلونه به ئے الوزی او بے خودی به پرے راځی: انما هذا فی اهل البدع وهذا من الشیطٰن (ابن کثیر ... ، سراج منیر ... ، فتح قدیر ... ، روح ... ، مظهری ... ، خازن ... ، نشر المرجان ... ، احسن ...). لطیفه :- شیخ القرآن رحمه الله دوران درس کښ وفرمایل چه زه مولینا اعزاز علی رحمه الله بلند شهر ته دَ هغه دَ زیارت دپاره لیږلے وم او دَ زیارت په ورځ به دهغه ته دَ مطالعې دپاره راتلم هغه ...لو یه کتب خانه وه هغه ته بیختون پیر هم وو: ما به ورته مسئله کوله هغه به ویلے داجذبے په مونږ کښے اختیارا راځی: نو لا ابالی طالب دَ هغه وویلے الاصاحب ورله بوزه: پیښلنوطالبانو راته وویلے داشان ورسره دا بونږ کا — الحاصل چه کله هغوی جذبه شروع کړه نو هغه به دهر یو لګنی لاه عوته ... ورولے: چه دَ پیر صاحب عمر راغلو نو وویلے بس کړئ، څه خفه را روان شوم چه دا دخه چل وکړو: هغه وویلے چه دوی څروانئ چه مونږ په ځان نه پوهیږو : فائده :- دا مسئله تفصیلی دَ ناچیزه په رد بدعات کښ لیکلے ده۔ أَفَمَن يَتَّقِي: آیا

هغه څوک چه ځان بچ کوی په مخ خپل سره دَ ناکاره عذاب نه په ورځ دَ قیامت: دلته خبر محذوف دے: کمن امن من العذاب پشان دَ هغه چا دے چه په امن کښ وی دَ عذاب نه (مدارک ...) : دَ دے ایتونو کښ تخویف دے: بیا مخ ته کښ بیا ترغیب دے قرآن پاک ته:

اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَ
اللّٰه ج : رسوائي : په ژوندون د دنیا کښې ، او
لَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾
خامخا عذاب د آخرت : ډیر لوئے دے ، ارمان چه دوی پوهیدلے
وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ
او یقینا بیان کړو : د خلقو دپاره : په دے قرآن کښې
مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ ۚ
د هر قسم مثال نه : دپاره د دے چه دوی نصیحت قبول کړی ،
قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ
قرآن عربی دے ، نه دے خاوند د کوږوالی ، دپاره د دے چه دوی
يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا
پرهیزګاره شی : بیان کړے دے الله ج : مثال د یو سړی ،
فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ وَرَجُلًا
چه دِکښې ، شریکان : مختلف دی : او بل سړے :
سَلَمًا لِّرَجُلٍ ۗ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۗ
پوره (خالص) دپاره د یو سړی دے : آیا برابر دی دوا ره په مثال کښې ؟
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۹﴾
ټول صفتونه الله ج دی : بلکه زیات د دوی نه : نه پوهیږی ،
اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَّيِّتُوْنَ ﴿۳۰﴾ ۫
یقینا ته مړ کیدونکے یے : او یقینا دوی هم مړ کیدونکی دی :
ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ
بیا یقینا تاسے : په ورځ د قیامت : په دربار د رب ستاسے کښې
تَخْتَصِمُوْنَ ﴿۳۱﴾ ع
جګړه به کوئ تاسے ،

ع ۳ / ۱۶

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا ، په دے آیت کښې مثال د مشرک او د موحد دے ، فائدہ : د موحد صرف یو رب دے ، د الله تعالیٰ او مشرک په هر در کښې ولاړ وی : د بابا ګانو نه د هغه طمع وه او د ګنګانه د هغه طمع وه او د پیرانو نه د هغه طمع وه او د ملنګ د وړلے نه د هغه طمع وه په هر مقام کښې سر پسے وهه دے : دوا ړه کله برابر وی ، (انفس ص ۶۲۹)، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ : دا د ماقبل دلیل ثمره ده : اِنَّكَ مَيِّتٌ ، دا د یو بے پښتے شبهے جواب دے چه مړ سړی نو خلاص په ترینه شو : فائدہ : دا د هغه آیتونو نه دے چه صدیق رضی الله عنه پرے دلیل نیولے وو په وقت د وفات د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې تر دے چه وصلو خلقو وفات د هغوی اسره د دے قول د الله تعالیٰ نه چه غالب او لوئے دے ، وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ (ابن کثیر ۵ / ۳) ، فائدہ : د قرآن نه صافه معلومیږی مرګ د جسم د دنیا وی ، او کوم حیات چه په نصوصو کښې د شهداؤ او انبیاؤ او اولیاؤ د لره دے نو هغه حیاتِ برزخی دے :

انفس التراجم ص ۶۳۰)

(الحمد لله چه د جناب کاتب صاحب د لیکلو نه بعد په دوه ورځو کښې پارے نظر د تصحیح د پاره په ورځ د خیالی ۵ - اپریل ۲۰۰۸ء - ۲۹ ربیع الاول ۱۴۲۹ هـ په وقت ۳۰ / ۳ بجے د ماز یګر نه مخکښې ختم شو . خاکسار غفرله ؛)

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَ

پس څوک دی ډېر ظالم له هغه چا نه چې دروغ وائي په الله تعالیٰ باندې: او

كَذَّبَ بِالصِّدْقِ إِذْ جَآءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي

دروغ ئې ګڼلي وي په رښتیا دین سره کله چې راغي ده ته: ایا نشته په

جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِينَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِي

دوزخ کښې ځائے د اوسېدو د کافرانو؟ : او هغه څوک چې

جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖٓ أُولٰٓئِكَ

راوړے ئې دے رښتیا ؛ او تصدیق ئې وکړو د هغې ؛ دغه کسان ؛

هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿۳۳﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُونَ

دوی پرهېزګاران دی؛ دوی له هغه نعمتونه دی چې دوی ئې غواړي ؛

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ ذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿۳۴﴾

په دربار د رب خپل کښې؛ دغه بدله د نیکوکارو ده ؛

لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي عَمِلُوا وَ

چې لرې کړي الله تعالیٰ له دوی نه : تا کاره بد له د هغه عمل چې دوی کړی وي: او

يَجْزِيَهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ الَّذِي كَانُوا

بدله ورکړي دوی ته ؛ د اجر د دوی په ډېره ښه طریقه سره چې دوی

يَعْمَلُونَ ﴿۳۵﴾ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ

کول ؛ ایا نه دے الله تعالیٰ کافي (بچ کونکے) بنده خپل لره ؛

وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِنْ دُونِهٖ ؕ وَ

او وېروي دوی تا لره ، په هغه کسانو چې سوا د الله تعالیٰ نه دي ، او

مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾

چا لره چې ګمراه کړي الله تعالیٰ : پس نشته هغه لره هیڅوک لاره ښودونکے ؛

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ

او چا ته چې هدایت وکړي الله تعالیٰ پس نشته هغه لره هیڅوک ګمراه کونکے ؛

فَمَنْ أَظْلَمُ ﴿۳۲﴾ : په دې کښې زورنه او تخویف دے ؛

وَالَّذِي جَآءَ بِالصِّدْقِ : چې ایمانوالو کښې بشارت دے او هغه څوک چې راتلل ئې کړي په رښتیا او لا اله الا الله یا نو چې هغه جبرئیل علیه السلام دے ، وَصَدَّقَ بِهٖ او هغه څوک چې تصدیق ئې کړے دے چې رسول صلی الله علیه وسلم دے : (ابن کثیر) نو داد لیل نقلي شو د جبرئیل علیه السلام نه : وګورئ سمط الدرر ۱۰۱ : او ایت دا عام دے په هر هغه چا کښې چې دعوت ورکوي توحید د الله عزوجل ته : قاله ابن عباس وغیره و اختاره الطبري : (قرطبي ج ۲۵ ص ۱۵۸) :

أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ : ایا نه دے الله تعالیٰ کافي بنده خپل لره " یعني ولے نه " وګورئ ص ۱۳ بقره ، ۱۸ انفال : دلته بیا مقابله ذکر د دواړو ډلو ذکر کوي :

وَلَئِن سَأَلْتَهُم لا ۳۸ : دَوے خاپے تہ تر ملا پورے ورہیم باب دے ؛ پہ دیکښ پنځہ اُمور دی : (۱) دلیل عقلی اعترافی ۳۸ (۲) اظہار دَ عقیدے پس دَ بیان نہ ۳۸ (۳) ترغیب قرآن پاک تہ ۴۱ (۴) بیا دلیل عقلی ۴۲ (۵) زجر مشرکانو لرہ ۴۳ شفاعت نشتہ اللہ
(۶) تو ګنه ملو دَ توحید ۴۳ :

أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِي انتِقَامٍ ۝٣٧ وَلَئِن

آیا نہ دے اللہ تعالیٰ ؛ زورور ؛ خاوند دَ بدلے اخستلو : او کہ چرے

سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

تپوس وکړے تہ دوی نہ ؛ چا پیدا کړی ؛ آسمانونہ ؛ او زمکہ ؟

لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ

خامخا بہ وائی دوی ؛ اللہ تعالیٰ ؛ ووایہ ؛ آیا پس خبر اوکړئ ؛ هغوی چہ بلئ تاسو

مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ

سوا دَ اللہ تعالیٰ نہ ؛ کہ چرے ارادہ وکړی ما لرہ ؛ اللہ تعالیٰ

بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ

پہ تکلیف ؛ آیا دغہ لرے کوونکی دَ ضرر دَ هغہ دی ؟ او یا

أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ

ارادہ وکړی پہ ما باندے رحمت خپل ؛ آیا دوی بندوونکے شی ؛

رَحْمَتِهِ ۚ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ ۖ عَلَيْهِ

رحمت دَ هغہ ؛ ووایہ کافی دے ما لرہ اللہ تعالیٰ : خاص پہ هغہ

يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ ۝٣٨ قُلْ يَا قَوْمِ

باندے توکل کوونکی : ووایہ : اے قومہ زما

اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ

عمل کوئ پہ خپلہ حالت باندے ؛ یقیناً زہ عمل کوونکے یم ،

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝٣٩ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ

نو زر دے چہ خبر بہ شئ : چہ چا لرہ بہ راشی هغہ تہ عذاب ،

يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ۝٤٠

چہ رسوا بہ کړی هغہ لرہ ؛ او نازل بہ شی پہ هغہ : عذاب همیشہ :

إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ لِلنَّاسِ

یقیناً مونږ نازل کړے پہ تا باندے : کتاب : دَ پارہ دَ خلقو :

فائدہ :- دا اعتراق ولائل پہ سورۃ لقمٰن ۲۵ : عنکبوت ۶۱ کښ تیر شوی دی ، او دا ۸۷ زخرف کښې بہ راځی : قُلْ أَفَرَأَيْتُم : پہ دیکښ اظہار دَ عقیدے دے او رد دَ شرک دے ۔ شیخ القرآن رحمہ اللہ فرمایل : کل ھن مراد تربیہ درکاہو نہ دی : شرک تقرب پہ درکاہو حاصلوی چہ فلانے درکاہ م پہ بنہ نیولے دے : فائدہ : دلتہ جواب پټ دے ای لا تقدر علی ذٰلک : یعنی قدرت نلری پہ دے باندے (سراج منیر ۲۵۷) تسفی رحمہ اللہ فرمائی پہ هرکلہ چہ غلی کړل نو اللہ تعالیٰ ورتہ فرمایل : قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ : ووایہ کافی دے ما لرہ (مدارک ۲۸۳) قُلْ يَا قَوْمِ ۴۰ : دا بیان دَ توکل او عقیدے دے : عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ : عادت او حالت او قوت تہ وئیلے کیږی یعنی کہ شرک او کفر کوئ او کہ ختم دَ ضرر رسولو دَ پارہ څہ قوت او مکرونہ استعمالوئ نو وئے کړئ (احسن البیان ۳۳۳) : إِنَّا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ : ترغیب دے قرآن تہ او صداقت دَ قرآن دے ۔ سورۃ یونس ۱۰۸ وګورئ ۔ اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ ۴۲ : دیکښ دلیل عقلی دے ؛ ۱۰ آیت مشکل دے : علامہ دریا آبادی رحمہ اللہ لیکلی دی چہ دَ هر انسان دَ پارہ دوہ ساہ ګانے وی یو نفس حیاتی چہ دَ مرګ پہ وخت دَ دہ نہ لرے کولے شی چہ دَ هغے نہ لو سرہ روح لا پرتہ شی ۔ دوہم نفس دادراک دہ : دا دَ خوب پہ وخت کښ جدا کیږی او دَ خوب نہ بعد واپس راځی (ماجدی ۵۷۸) : جناب مفتی صاحب رحمہ اللہ فرمائی چہ پہ تفسیر مظهری کښ دی چہ

مخ/ بقیه د دوهم) د دریم د قبض کولو معنی دا ده چې تعلق د انسان بدن نه قطع کول دي کله دا ظاهراً او باطناً بالکل منقطع کړے شي. دوهم نوم مرګ ده او کله صرف ظاهراً منقطع شي باطناً باقي وي چې د هغه اثر دا

بِالْحَقِّ ۚ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ

په حقه سره: پس چا چې هدایت بیاموند د هغه د ځان د پاره دے او څوک چې

ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَا أَنتَ

ګمراه شو پس یقیناً ګمراه کیږي په ضرر د نفس د هغه: او نه ئې ته

ع ۴ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾ اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنفُسَ

په دوي باندې ذمه وار: الله تعالی اخلي ساه ګانې

حِينَ مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي

په وخت د مرګ د هغوي: او د هغو ساه چې نه دي مړه شوي په وخت

مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا

د خوب د هغوي: نو ایساروي هغه ساه چې فیصله ئې کړې په هغې باندې

الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰ إِلَىٰ أَجَلٍ

د مرګ: او رالیږي هغه بله: تر نیټې

مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ

مقرر شوي پورې: یقیناً په دې کښې خامخا نښې دي د هغه قوم د پاره

يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ

چې فکر کوي: آیا نیولي دي: سوا د الله تعالی

اللَّهِ شُفَعَاءَ ۚ قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ

نه سفارشیان: ووایه او اګرچه دي دوي چې نه دي مالکان

شَيْئًا وَلَا يَعْقِلُونَ ﴿٤٣﴾ قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ

د هیڅ شي، او نه پوهیږي: ووایه خاص الله تعالی لره اختیار د شفاعت

جَمِيعًا ۖ لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ

ټول دے: هغه لره بادشاهي د اسمانونو او د زمکې ده:

ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٤٤﴾ وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ

بیا هغه ته به واپس کړے شئ تاسو: او کله چې یاد کړے شي الله تعالی

منزل ۶

وي چې صرف حس او ارادي حرکت چې ظاهري علامه د ژوندون ده دا قطع شي او باطناً د روح تعلق د جسم سره باقي وي چې د هغه نه وا ساه اخلي او ژوندے وي الخ. معارف ج ۷ وګورئ مظهري ج ۸. فائده: د علامه الوسي رحمه الله او نسفي رحمه الله په نکته بیان د ه، فرمائي چې تشبیه ئې ورکړے د اوده د مړو سره چې نه څه تمیز کولے شي او نه څه تصرف. تنکه چې مړي هم د هغه شانله دي. روح ۲۳/۲۳ مدارک ۵۹/۴، احسن الرحمن ص ۵۱. أَمِ اتَّخَذُوا: دا زجر دے یعني سره د دې ولا دلائلو نه مشرکان الله پاک لره شفیعه غالب جوړ وي سره د دې چې هغوي د هیڅ شي مالکان نه دي او نه په څه خبر دي. (النحل ۷۳) قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ: ووایه خاص الله تعالی لره اختیار د سفارش پیوال دے، قاضي بیضاوي رحمه الله فرمائي چې طاقت نلري هیڅوک د شفارش مګر په اذن د الله تعالی او په رضا د هغه (النجم ۲۶)، وګورئ آیة الکرسي ۲۵۵ بقره. وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ: دا پیل زجر دے په نه منلو د توحید باندې، وګورئ ۴۶ اسراء، ۵ ص، ۳۵ صٰفٰت: د کافرانو عجیب حال دے چې د توحید مسئله ذکر شي نو دوي خفه شي او چې د غیر الله بحث وشي چې ...

... په الله تعالی باندې کار و نه کوله شي نو دوي خوشاله شي. (النحل ۶۳) فائده: افسوس دا حال نن د ډیرو نوم نهاد و مسلمانانو لیدلے کیږي شي (عثماني ۱۱) د علامه الوسي رحمه الله د قبر پرستو مشرکانو بیان په عجیبه طور لیکلے دے، د احقر احسن الرحمن ص ۹۱۵ کښې ئې وګورئ: په المشرکین نے لیکلي دي چې د بعضو نرم او ربانی دي چې ... الولي اسرع مه

عه اجابة من الله عزّوجلّ: چه وَلې جلد کېږلو والادوسوال وشه دَ الله تعالیٰ نه: (روح ۲۲) ۲ قُلِ اللّٰهُمَّ: دَ
دوے خاتمے ته تر آیت ۷۵ پورے شروع باب دے: په دیکښې شپږ امور دی: (۱) دلیل وحی ۴۶ (۲) تخویف

وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ
يواځې: تنګیږي: زړونه دَ هغه کسانو چه
لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ
ایمان نه راوړي په آخرت باندې: او کله چه یاد کړے شي هغه کسان چه
مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ۴۵ قُلِ
سوا دَ الله تعالیٰ نه دي: ناڅاپه دوی خوشالي ښکاره کوي: ووایه
اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ
اے الله! پیدا کونکیه دَ آسمانونو او دَ زمکې: خبر
الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنتَ تَحْكُمُ بَيْنَ
په پټو او ښکاره: ته به فیصله کوے په میینځ دَ
عِبَادِكَ فِي مَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۴۶
بندګانو ستا کښې په هغه شي کښې چه وو دوی په هغه کښې اختلاف کوونکو:
وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا مَا فِي الْأَرْضِ
او که یقیناً دَ هغه کسانو دپاره چه ظلم یې کړے دے هغه څه چه په زمکه کښې دي:
جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ
ټول: او مثل دَ هغه ورسره: خامخا دوی به بدله ورکړي په هغه سره:
مِن سُوءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ وَبَدَا
دَ ناکاره عذاب نه: په ورځ دَ قیامت: او ښکاره به شي
لَهُم مِّنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ ۴۷
دوی ته دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه هغه حال چه نه وو دوی: چه ګمان یې کولو:
وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَحَاقَ
او ښکاره به شي دوی ته ناکاره بدلے دَ هغه عملونو چه دوی کړي وو: او چاپیره به شي:
بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ۴۸ فَإِذَا
دوی ته هغه عذاب چه وو دوی په هغه سره چه ټوقې یې کولے: پس هر کله چه

منزل ۶

مدد (۳) دلیل زجر او تخویف نه دَ
عقل نه (۴) دلیل عقلي ۵۲ :
(۵) ترغیب اعمال صالحه او
کتاب الله ته دَ ۵۵ نه (۶) تخویف
مع ۵ زجر او بیا بشارت دَ ۶۳
نه او ۷۵: فائده: دَ مشاجراتو
(اختلافاتو) دَ صحابو رضی الله عنهم
متعلق یو اهم هدایت (معارف
۵۲۹): دَ ربیع بن خیثم رحمه الله
نه دَ حسین رضی الله عنه دَ قتل متعلق
تپوس وکړے شو نو اسویلے یې
وکړو او دا آیت یې تلاوت
کړو او وے فرمایل چه کله تاته
څه شے دَ دې شي دَ هغه نه چه
چلیدلے دي په مابین دَ صحابو
کښې نو ووایه: اللّٰهم فاطر
السموٰت والارض الخ: یعنې
دا دَ هغوی دَ اداب نه دې چه
مناسب دي چه یاد کړے شي
(روح ۲۲، معارف ۵۲۹، الهام
۱۱۵): فائده: دَ لله جواب
دَ نداء حذف شوے دے:
حدیث شریف کښې راځي: ابوسلمه
فرمائي چه ما دَ عائشې رضی الله عنها
نه تپوس وکړو چه په څه باندې
به رسول الله صلی الله علیه وسلم
دُعا شروع افتتاح کوله نو هغې
اول ماته چه دا یې فرمایل:
اللّٰهم رب جبرئیل ومیکائیل
واسرافیل فاطر السموٰت
والارض (الآیة) اهدنی لما
اختلف فیه من الحق :
مشکوٰة ۱۰۴، سراج منیر ۲۴۳، جواهر
۱۳۶، خازن ۴۵، مظهري ۲۲۴
الهام ۱۱۵): فائده: دیته وائي
توسل په صفاتو دَ باری تعالیٰ (فضل
الله): دا اتم قسم وسیله جائز دَ چه دُعا دَ الله تعالیٰ نه کوي، دَ رب اضافت نبي ته او بندګانو ته وي ځکه اصل
مضاف وي: علامه سهسواني رحمه الله په جائز وسیلو کښې دا پنځم قسم شمار کړے دے: وګورئ صیانة الانسان
۴۰۱: الهام الرحمٰن ۱۳۲: وَلَوْ أَنَّ لِلَّذِينَ: تخویف دے: وګورئ آل عمران ۹۱ ۞ ۞ ۞

فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنٰهُ

ورسيږي كله انسان ته : ضرر ، بيا سوال كوي موږ ته : بيا چه كله وركړو موږ هغه ته

نِعْمَةً مِّنَّا قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهٗ عَلٰى

څه نعمت د طرف زموږ نه : وائي يقينًا راكړے شوي ماته دا په سبب د

عِلْمٍ ۭ بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ

پوهې زما : بلكه دا امتحان دے ، او لاكن

أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۴۹﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِينَ

زياتره د دوي نه : نه پوهيږي : يقينًا ويلے وه دا خبره : هغه كسانو چه

مِنْ قَبْلِهِمْ فَمَا أَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوا

مخكښ د دوي نه وو : نو رفع نكړو د دوي نه عذاب هغه عملونو چه وو

يَكْسِبُونَ ﴿۵۰﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا

كړي : پس ورسيده دوي ته : شا كاره (عاقبت) د هغه عملونو چه

كَسَبُوا ۭ وَالَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ هٰٓؤُلَاءِ

دوي كړي وو ، او هغه كسان چه ظلم ئے كړے دے د دے موجوده كسانو نه ،

سَيُصِيبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوا ۙ وَمَا هُمْ

زر دے چه ورسيږي دوي ته شا كاره (عاقبت) د هغه عملونو چه دوي كړيدي او نه به وي دوي

بِمُعْجِزِينَ ﴿۵۱﴾ أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ

عاجزه كوونكي الله تعالى لره ، او آيا دوي نه پوهيږي : چه يقينًا الله تعالى

يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ

فراخه كوي : روزي : هغه چا لره چه وئے غواړي : او تنګوي ئے :

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُونَ ﴿۵۲﴾ ع ۵ / ۲

يقينًا په دے كښې ، ښكاره دليلونه دي د هغه قوم د پاره چه ايمان راوړي :

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلٰٓى

ووايه اے زما بنده ګانو زما ، هغه كسانو چه زياتے ئے كړے دے : په

فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ : په دے كښې زجر دے مشركانو لره ؛ ذكورئ قصص ملكه : أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا : دے كښې دليل عقلي دے او د ما قبل جواب هم دے او نفي د مساوات هم ده چه فراخي او تنګي د رزق د الله تعالى سره ده ؛ ذكورئ روم ۳۷ ، رعد ۲۶ ، شورى ۱۲ ؛

لَاٰيٰتٍ ، ښكاره نښے دي ؛ د پنجپير شيخ رحمه الله فرمائي ، د ايمان والو د پاره په دے كښې د الله تعالى د قبض رزق كامله واضحه نښانے دي (جواهر ۱۰۳۵)

قُلْ يٰعِبَادِيَ ۵۳ : ثوبان رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم غلام وائي چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چه فرمايل ئے چه "يٰعِبَادِيَ" نسا تم چه ما لره دُنيا وما فيها د دے آيت په مقابله كښې نه ده ؛ (ابن كثير ۵/۱ ، ابن جرير ۱۳/۲۴ در منثور ۳۳۱/۵) ؛ په دے كښې ترغيب دے او چير د اُميد والا آيت دے ؛

إِنَّ اللّٰهَ : يقينًا الله تعالى بخښي ګناهونه ټول ، مګر عفوے سره د دے نه ، مګر شرك نه بخښي . (مدارك ۶۲/۱) ذكورئ م ۲۳ مثلا سورة نساء ۱ ، بيا مراد ترينه بخښنه ده په

(بقیه د دے مخ): توبے سره نو بیا شرک هم بخښي ـ حاصل دا دے چه دا آیت کریمه مجموعه د اخرت سره ولګي نو بیا قرینه شرک مستثنی دے د سورة نسآء په آیتونو باندې اوکه د دنیا سره ولګي نو بیا قرینه بخښنه د ټولو ګناهونو سره د شرک نه دے خو په توبے سره:

أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ ۚ

خانو نو ظلم کړی دی: مه نا امیده کیږئ : د رحمت د الله تعالیٰ نه :

إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ

یقیناً الله تعالیٰ : بخښي ګناهونه : ټول : یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾ وَأَنِيبُوا إِلَىٰ

هغه بخښونکی دی رحم کوونکی دے : او رجوع وکړئ : رب

رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن

خپل ته : او تابع شئ هغه لره : مخکښې د دے نه : چه

يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾

راشي تاسې ته : عذاب : بیا به تاسو سره مدد او نه کړے شي :

وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن

او تابعداري وکړئ د ښائسته : هغه چه نازل کړے شوی تاسو ته : د

رَّبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ

رب ستاسو نه : مخکښې د دے نه : چه راشي تاسې ته : عذاب

بَغْتَةً وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿٥٥﴾ أَن تَقُولَ

ناڅاپه : او تاسې به خبر نه یئ : دپاره د دے چه وئیل وائي

نَفْسٌ يَا حَسْرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي

یو نفس : هائے افسوس دے په هغه باندې : چه کوتاهي کړې ده ما په

جَنبِ اللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ السَّاخِرِينَ ﴿٥٦﴾

اړخ د الله تعالیٰ کښې : او یقیناً وم زه خامخا د مسخره کوونکو نه :

أَوْ تَقُولَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ هَدَانِي لَكُنتُ

او یا دا وئیل وائي که چرے یقیناً الله تعالیٰ هدایت کړے وے ما ته : نو خامخا وم زه

مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴿٥٧﴾ أَوْ تَقُولَ حِينَ تَرَى

د متقیانو نه : او یا دا وئیل وائي : کله چه وویني :

شرک نه دے خو په توبے سره: وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ : او تابعداري وکړئ د ډیر ښائسته هغه چه نازل کړے شوی تاسو ته د رب ستاسو نه چه هغه بیتول ښائسته دے او معنی د دے داده خکه چه حسن رحمه الله وئیلي دي چه لازم نیسئ د طاعت د الله تعالیٰ سره او ډډه وکړئ د معصیت د هغه نه (قرطبي ج ٢٥) ؛ أَن تَقُولَ : دلته لا مقدر دے : معنی دا شوه چه ونه وائي یو نفس (مدارک ج ٢): فائده : لفظ د أن تقول درې ځله آیتونو کښې راغلے دے په ټولو کښې لفظ د لا پټ دے : او دلته د درېو واړو نه رونو جواب دے ؛

عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنبِ اللَّهِ : اے افسوسه په هغه باندې چه کوتاهي کړې وه ما په اړخ د الله تعالیٰ کښې : دا لفظ د متشابهاتو نه دے : علامه خازن رحمه الله فرمائي : قصور م کړے وو په طاعت د الله تعالیٰ کښې او په امر د الله تعالیٰ کښې او په حق د الله تعالیٰ کښې (صلح ج ٣) ، علامه نسفي رحمه الله فرمائي په أمرۃ الله تعالیٰ کښې او په ذات د هغه کښې او ښه ذکر د هغه کښې (ج ٣) مطلب دا چه کفر او شرک م کړے وو او ګناهونه م کړي وو ، وګورئ طه ٣٣ یعني باري تعالیٰ نے بهانه ورکه کړه ؛

بَلیٰ: وَلٰهنه: دا جواب دے دَ دغه تپولو قولونو ـ خکه دَ تپو لو حاصل دا وُو چه موږ ته دَ حق نه خبر نهٔ وُو ، او هیا یٔ دوی انکار یه د ریو طریقو سره کړے وُو ، وَیَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ: په دے ایت کریمه

الۡعَذَابَ لَوۡ اَنَّ لِیۡ كَرَّةً فَاَكُوۡنَ مِنَ

عذاب لره: یکه وے ما لره واپسی: نو شم به څه: دَ

الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰی قَدۡ جَآءَتۡكَ اٰیٰتِیۡ

نیکو کاروِ نه: ولے نه؟ یقیناً راغلی وُو تا ته: ایتونه زما

فَكَذَّبۡتَ بِهَا وَاسۡتَكۡبَرۡتَ وَكُنۡتَ مِنَ

پس دروغ نسبتولی وُو تا په هغو او لوئی دِ وکړه: او وے ته: دَ

الۡكٰفِرِیۡنَ ﴿۵۹﴾ وَیَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ تَرَی الَّذِیۡنَ

کافرانو نه: او په ورځ دَ قیامت: وبه وینے ته هغه کسان لره چه

كَذَبُوۡا عَلَی اللّٰهِ وُجُوۡهُهُمۡ مُّسۡوَدَّةٌ ؕ

دروغ ئے ویلی وُو په الله تعالیٰ باندے: مخونه دَ هغوی به تور کړے شوی وی:

اَلَیۡسَ فِیۡ جَهَنَّمَ مَثۡوًی لِّلۡمُتَكَبِّرِیۡنَ ﴿۶۰﴾

آیا نشته په دوزخ کښی: ځائے دَ اوسیدو دَ تکبر کونکو دَ پاره:

وَیُنَجِّی اللّٰهُ الَّذِیۡنَ اتَّقَوۡا بِمَفَازَتِهِمۡ ۫

او بچ به کړی الله تعالیٰ: هغه کسان لره چه ځان ئے ساتلے وُو دَ شرک نه: په سبب دَ کامیابۍ دَ دوی

لَا یَمَسُّهُمُ السُّوۡٓءُ وَلَا هُمۡ یَحۡزَنُوۡنَ ﴿۶۱﴾

او نهٔ به رسیږی دوی ته هیڅ تکلیف: او نهٔ به دوی غمژن کیږی:

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیۡءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰی كُلِّ

الله تعالیٰ پیدا کونکے دَ هر شی دے: او هغه په هر شی

شَیۡءٍ وَّكِیۡلٌ ﴿۶۲﴾ لَهٗ مَقَالِیۡدُ السَّمٰوٰتِ

باندے: ذمه وار دے: خاص هغه لره دی کنجیانے دَ اسمانونو:

وَالۡاَرۡضِ ؕ وَالَّذِیۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ

او دَ زمکے دی: او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے په ایتونو دَ الله تعالیٰ باندے:

اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۶۳﴾ قُلۡ اَفَغَیۡرَ

دغه کسان: خاص دوی تاوان کونکی دی: ووایه: آیا پس غیر

ع ۱۱ ۳

منزل ۶

ورله تخویف ذکر کوی ، حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه خبر ورکوی الله دَ ورځے دَ قیامت چه تور به وی په دیکښی مخونه او سپینیږی به پکښی څه مخونه ، تورېږی به مخونه دَ خاوندانو دَ فرقت او اختلاف او سپینیږی به مخونه دَ اهل سنت والجماعة (بلفظه) وګورئ آل عمران ۱۰۶ ؛ وَیُنَجِّی اللّٰهُ الَّذِیۡنَ ملا: او خلاص به کړی الله تعالیٰ پرهیزګارانو لره دَ جهنم نه په ځائے دَ کامیابۍ دَ دوی چه جنت دے . یا په سبب دَ کامیابۍ دَ دوی چه ایمان او عمل صالح دے ؛ په دے ایت کریمه کښی بشارت دے . اَللّٰهُ خَالِقُ: دا اووم دلیل عقلی دے چه دَ هر شی خالق او ذمه وار الله تعالیٰ دے ، لَهٗ مَقَالِیۡدُ السَّمٰوٰتِ؛ دَ دے ځائے نه پنځم باب دے تر اخره پورے او په دیکښی پنځهٔ امور دی: (۱) ثمره دَ دلائلو ۶۳ ، (۲) دلیل وحی او ثمره دَ توحید تفریع په ځکښی مضمون ۶۶ ۶۵ ، (۳) تخویف دَ ۶۷ نه ، (۴) زجر او ثمره دَ توحید ۶۸ : (۵) بشارت ۷۳ ؛ قُلۡ اَفَغَیۡرَ اللّٰهِ: دا دَ سورت

مقصد باری تعالیٰ بیان کوی چه حاجات صرف دَ باری تعالیٰ نه غواړئ او زور نه ده چه جاهلان وائی چه دَ غیر الله نه حاجت غواړئ : (افضل ۶۳۵) ✤ ✤ ✤

اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّیْٓ اَعْبُدُ اَیُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾

دَ اللّٰه نه امر کوئ تاسو ما ته چه عبادت ئې وکړم: اے جاهلانو:

وَلَقَدْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ وَاِلَی الَّذِیْنَ مِنْ

او یقینًا وحی کړې شوې وه تا ته: او هغه کسانو ته چه مخکښ

قَبْلِكَ ۚ لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَیَحْبَطَنَّ

ستا نه وو: که چرې شرک وکړو تا: خامخا یقینًا برباد به شی

عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۶۵﴾

عمل ستا: او ضرور یقینًا به شې ته: د تاوان کوونکو نه:

بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۶۶﴾

بلکه خاص د الله تعالی: بندګی کوه: او شه ته د شکر ایستونکو نه:

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ

او تعظیم ونکړو دوی د الله تعالی: پوره تعظیم: او حال دا دے چه زمکه

جَمِیْعًا قَبْضَتُهٗ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَ

ټوله: موټے د هغه به وی: په ورځ د قیامت: او

السَّمٰوٰتُ مَطْوِیّٰتٌۢ بِیَمِیْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ

آسمانونه به را نغښتلے شوے وی: په ښی لاس د هغه کښ: پاکی ده الله تعالی لره:

وَتَعٰلٰی عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَنُفِخَ فِی

او ډیر اوچت دے د هغه نه: چه دوی ورسره شریک جوړوی: او پو به کړے شی په

الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ

شپیلی کښ: نو بے هوشه به شی هغه خلک چه په آسمانونو کښ دی:

وَمَنْ فِی الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ

او هغه خلک چه په زمکه کښ دی: مګر هغه خلک چه غواړی ئې الله تعالی:

ثُمَّ نُفِخَ فِیْهِ اُخْرٰی فَاِذَا هُمْ قِیَامٌ

بیا به پو کړے شی په دې کښې: بل کرت: نو ناڅاپه: دوی به ولاړ وی

وَلَقَدْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ: او یقینًا وحی شوې تا ته او هغه کسانو ته چه مخکښ ستا نه وو د توحید بېره. امام قرطبی رحمه الله وائی چه دلته لفظ د بالتوحید محذوف دے، او د إشان له کلام دے، لَئِنْ اَشْرَكْتَ الخ فائده: په دیکښ خبره کړی باری تعالی نبی صلی الله علیه وسلم ته او اوروی بے نورو ته (افضل ۲۵) وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ: او دوی قدر ونکړو د الله تعالی لائق قدر د هغه. سورة انعام ۹۱ کښ هم دا سے ذکر شوی دی: وَالْاَرْضُ جَمِیْعًا قَبْضَتُهٗ: او زمکه موټے د الله به وی په ورځ د قیامت او آسمانونه به را نغښتلی شوی وی په ښی لاس د هغه کښ، د دې متشابها توند دی. فائده: تهانوی رحمه الله وائی چه په زمکه کښ موټے او په آسمانونو کښ ښے لاس غوره کړو د پاره د رعایت د ورکوالی د زمکے او غټوالی د آسمانونو نکه چه عادت دا دے چه وړوکے شے په موټی کښ او غټ شے په لاس کښ پغیر د موټی نیولے شی اګرچه تول شیونه راپړه دی په نسبت سره ښی لاس د الله تعالی ته: دغه رنګے دا خبره په ژبه د رسول الله صلی الله علیه وسلم جاری کړه چه ورسیده دے ایت ته په درس د ترجمے د قرآن کښ: (بیان القرآن ص۱۶ ج ۳): اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ: مګر هغه خلک چه غواړی الله تعالی بقاء د هغوی: د تفتا دوه قول دائے چه د دے مصداق الله تعالی ته معلوم دے موږ ته نه دے معلوم: دوېم قول مشهور دا دے چه مراد ترینه هغه خلک دی چه الله تعالی د فناء د پاره نه دی پیدا کړی لکه حورے غلمان د جنت، او ساران لرمانان د جهنم الخ (احسن ص۲۰۴) حسن بصری رحمه الله فرمائی چه مستثنیٰ ذات د باری تعالی دے (جواهر ص۱۰۲): فائده: د دے ایت کریمه نه معلومه شوه چه شپیلئ دوه ځله ده اول د فناء د عالم د پاره او دویمه نفخه صعق ویلے شی لکه پسر د دے ایت کښ

يَنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ
کوري به ؛ او روښانه به کړه شي ځمکه ؛ په نور د
رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ
رب خپل ، او کېښودلے به شي ؛ عملنامے ، او راوړلے به شي ؛
بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ
نبيان ؛ او شهيدان ؛ او فيصله به کړه شي په مينځ د دوي کښې
بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٦٩﴾ وَوُفِّيَتْ
په حقه سره ، او دوي باندې به ظلم نشي کولے ، او پوره به ورکړے شي ؛
كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا
هر نفس ته ؛ بدله د هغه څه عمل چه کړي يې ، او الله ښه پوهه دے په هغه کار ولو ؛
يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى
چه دوي يې کوي ، او وبه شړلي شي هغه کسان چه کفر يې کړے ؛ طرف د
جَهَنَّمَ زُمَرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْهَا
جهنم ته ، ډلے ډلے ، ترڅو چه کله راشي دوي دوزخ ته ،
فُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَآ
پرانستلے به کړے شي دروازے د هغه ، او وبه وائي دوي ته ؛ ساتونکي د هغه ،
اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ
آيا نه وو راغلي تاسو ته ؛ رسولان ؛ ستاسو نه ؛ چه لوستلے يې تاسو باندې ؛
اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَاۗءَ يَوْمِكُمْ
آيتونه د رب ستاسو ، او وېرول يې تاسو لره ؛ د ملاقات د ورځے ستاسو نه ؛
هٰذَا ۭ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ
په دے ؛ وبه وائي دوي ؛ ولے نه ؛ او لاکن ثابته شوے وه ؛ فيصله د
الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٧١﴾ قِيْلَ
عذاب ؛ په کافرانو باندې ؛ اُوبه ويلے شي ؛

ع ۷ ۴

او ديته لفظ فزع هم ويلے شي او کوم وخت چه صور پوکے شو نو ټول عالم به فنا شي او دوهم وخت نفخه د بيا ژوندي کيدو ده نو هغه لکه دوه آيت اخر کښې دي او د دے دواړو ذکر په سورة يٰس کښې هم شوے دے ؛

وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ : کله چه الله تعالى ميدان حشر کښې د فيصلو د پاره جلوه افروز شي په دغه وخت به ميدان حشر د انوارو او تجلياتو نه ډير فيري ؛ (جواهر ص ۱۰۳۲) وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا : او به شړلے شي کافران دوزخ ته ډلے ډلے ترڅو چه کله راشي متصل به پرانستلے شي دوزخ ته دروازے د هغه ؛ حافظ ابن کثير فرمائي چه جلد به ورکړے شي دوي ته عقوبت د دوي ؛ (ابن کثير ص ۶۵ ج ۴)

فائده : سورة حجر ع ۲۳ کښې تير شوي دي چه اووه دروازے دي او په دے کښې اشاره ده چه دوي ته د عذاب ضرب وکښې نه دروازے نه پرانستي ؛ دا د دوي تذليل دے (احسن ص ۳۶۳ ج ۴) وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا : په دے کښې پس د تخويف نه بشارت دے ؛ وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا : او حال دا دے چه برسيره شوے به وي دروازے د هغه مخکښې د راتللو د دوي نه د پاره د تعظيم د دوي د دے د پاره چه انتظار نکوي (مظهري ج ۸ د کوم ص ۲۳۰) : وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ : دا هم بشارت دے ؛ يعنى کله چه داخل شي جنت ته ...

(بقیه د سے مخ): او دوی به وائی چه حمد وثنا دی الله تعالیٰ هغه ذات لره چه ریښتونی ئے کړه
زمونږ ۲ سره وعده خپله، هغه وعده پخسله سورة مریم کښ ذکر شوے ده؛ فائده: ولله
حمد وثنا ذکر شوی دی

اُدْخُلُوٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ
ورننوزئ تاسو دروازو د دوزخ ته: همیشه به یئ په دیکښی:
فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۲﴾ وَسِيْقَ
پس بد ځائے د اُسیدو د تکبر کونکو دے: او وبه چلولے شی
الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ
هغه کسان چه ویریدل کړے: د رب خپله نه: جنت ته:
زُمَرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْهَا وَفُتِحَتْ
ډلے ډلے: تر دے چه راشی دوی هغه ته: او به پرانستلے کړے شوی وی
اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ
دروازے د هغه: او وبه وائی دوی ته، څوکیداران د هغه: سلام دی
عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿۷۳﴾
په تاسو باندے: خوشحاله وسئ، پس ورننوزئ جنت ته همیشه به یئ تاسو:
وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ صَدَقَنَا
او وائی به دوی چه حمد وثنا دی الله تعالیٰ هغه ذات لره چه ریښتیا کړه مونږ سره
وَعْدَهٗ وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ
وعده خپله: او وارث ئے کړو مونږ د زمکے د جنت، او ځائے نیسو
مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَاۗءُ ۚ فَنِعْمَ
د جنت نه: کوم ځائے چه مونږ غواړو: نو ښه دے:
اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَتَرَى الْمَلٰۗىِٕكَةَ
بدله د عمل کونکو: او وبه وینے ته ملائک
حَاۗفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ
کیره جوړونکی چاپیره د عرش نه: تسبیح به وائی
بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ
سره د حمد وثنا د رب د دوی: او فیصله به وکړے شی به مینځ د دوی کښ په حقه سره:

پس د نعمتونو نه لکه فاطر ۳۴ او اعراف ۴۳ کښ وو:
وَتَرَى الْمَلٰۗىِٕكَةَ: او وینے به ته ملائک علیهم السلام کیره کونکی چاپیره د عرش نه: ماجدی رحمه الله فرمائی چه دا به په عین اجلاس د عدالت د حشر په وقت کښ وی (۳۳)
وَقِيْلَ: او ویلے به شی چه حمد وثنا دی خاص الله تعالیٰ لره چه رب د مخلوق تو دے: په دیکښ عموم ته اشاره ده او دا په د تلاوت او د خوند اغستلو د پاره ده وائی د کوریځی یونس ۱۰ ÷ ÷

امتیازات: (۱) عظمت د قرآن مجید ۱: (۲) دوه قسمه توفی ۴۲: (۳) ذکر د دواړو ډلو په قیامت کښ ۷۱ تا ۷۳: (۴) رد د قول د مشرکانو ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفیٰ ۳: (۵) ترغیب توبے ته په دنیا کښ او نه نا امیده کیدل ۵۳ ÷ ÷ ÷ ÷ ÷

(الحمد لله تفسیر د سورة زمر شپه ورځ د سه شنبے په ۳۰:۱۰ بجه مخکښ د ماسپخین د مونځ نه په ۲۴ اپریل ۲۰۰۷م : ۵ ربیع الثانی ۱۴۲۸ھ په مقام د سکونت توحید اباد کښ د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره ختم شو) ÷ ÷ ÷

سُوْرَةُ مُؤْمِن: مکي سورت دے، په ترتيب کښې ۴۰ او په نزول کښې ۶۰ روستو د زمر نه دے، وجه تسميه په دې سورت کښې د ... آيت نه معلوميږي، او دغه خاندانه دريم باب د حٰمٓ والو حصه د قرآن پاک شروع شو

وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ۝۷۵

او وبه ويلے شي چه ټول صفتونه او ثناګانې الله لره دي، چه پالونکے د ټولو مخلوقاتو دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ۝۱ تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ

(الله تعالیٰ پوهيږي په مراد ددې حروفو)، نازل کول د دې کتاب، د طرف د الله تعالیٰ دي

الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ۝۲ غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ

چه زورور او پوهه دے په هر څه، بخښونکے د ګناه دے، او قبلونکے د

التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ ط

توبې دے، سخت عذاب ورکونکے دے، خاوند د طاقت دے،

لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ إِلَيْهِ الْمَصِيرُ ۝۳ مَا

نشته واکدار سوا د هغه نه، خاص هغه ته واپسي ده، نه جګړه کوي

يُجَادِلُ فِيٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ إِلَّا الَّذِيْنَ

نکوي: په ايتونو د الله تعالیٰ کښې، مګر هغه کسان چه

كَفَرُوا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ۝۴

کفر ئې کړے دے، پس دهوکه دې نه کړي تا لره ګرځيدل د دوي په ښارونو کښې،

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّالْأَحْزَابُ

دروغ ګڼلي وو مخکښې د دوي نه قوم د نوح علیه السلام، او ډلو

مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۖ وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍۢ

روستو د دوي نه، او قصد کړے وو هرے ډلے

بِرَسُوْلِهِمْ لِيَأْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا

په رسول خپل باندې چه ونيسي هغه لره، او جګړه ئې کړې وه

بِالْبٰطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ

په باطله سره، چه مغلوبه کړي په دې سره حق لره:

وشه او په دې کښې اووه حوامیم سورتونه دي: فضيلت: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: ان لكل شيء لبابا ولباب القرآن الحواميم، چه يقينا د هر شي يو لباب (خالص مغز) وي او مغز د قرآن حواميم سورتونه دي (ابن کثير ...، مظهري ...، معارف ...، جواهر ...، روح ...) او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي: حواميم ريښم د قرآن پاک دي (روح ...) سعد بن ابراهيم فرمائي چه دوي ته عرائس ويلې شو، د قرآن نويکې ويلې شوي دي (قرطبي ...، روح ...): دعوىٰ: يو الله تعالیٰ وبلئ، د کور دي ... : ربطونه: (۱) هغه سورت کښې فرمائيلي وو: فاعبد الله ...: نو دلته فرمائي: فادعوا الله مخلصين له الدين ...، (۲) مخکښې سورت ختم شو په توحيد باندې، نو دلته هم دريم ايت کښې دعوىٰ د توحيد ده: (۳) هلته هم مشرکين تحريف د کتاب الله کوو او دلته هم مشرکين تحريف د هغه کړے دے: (۴) هلته هم شوه، نو دلته ئې ... منونکو تحريف ورکوي په هلاکت د فرعونيانو سره: (۵) دا سورت په نزول کښې روستو د زمر نه دے او نو په ترتيب کښې هم متصل کړو په هغه پسے: اجمالي خلاصه: په دے سورت کښې درے بابونه دي: اول ترﷺ پورے، دويم ترﷺ پورے، دريم تر اخره پورے: اهم مباحث: (۱) نفي د شرک في التصرف ...: (۲) نفي د شرک في الدعاء ...: (۳) نفي د شرک في العلم ...: (۴) نفي د شرک في العبادة ...: (۵) نفي د شرک في البرکات ...، د اول باب خلاصه: په دې کښې تنبيه ده

مه خبرې دی (۱) ترغیب قرآن ته ۱ (۲) دعوی د توحید ۳ ، (۳) زجر مجادلینولره ۴ ؛ (۴)
تخویف دنیاوی او اخروی ۵ ، (۵) بشارت مؤمنانو لره ۸ ؛ (۶) دلیل عقلی ۱۳ ؛

فَاَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ⑤ وَ
نو ونیول ما دوی لره ؛ پس څرنګه وو ؛ عذاب زما ؛ او
كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ
دغه شان ثابته شوې ؛ فیصله د رب ستا ؛ په هغو کسانو باندې چه
كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ⑥ اَلَّذِيْنَ
کفر یې کړی دی چه یقینا دوی خاوندان د اور دی ؛ هغه ملائک
يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ
چه پورته کوی ؛ عرش د الله تعالی ؛ او هغه چه چاپیره د هغه نه دی ؛
يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَ
تسبیح وائی په ستائینه د رب خپل سره ؛ او ایمان راوړی په دې باندې او
يَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ
بخښنه غواړی لپاره د هغه کسانو ؛ چه ایمان یې راوړی دی ای ربه زمونږه ! تا
كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ
د هر شی نه ؛ په رحمت او علم کښې ؛ پس بخښنه وکړه ؛
لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ
هغه کسانو ته چه توبه یې ایستلې ده ؛ او تابعداری یې کړې ده د لارې ستا ،
وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ⑦ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ
او بچ وساته دوی لره ؛ د عذاب د اور نه ؛ ای ربه زمونږه ؛ او داخل کړې دوی لره
جَنّٰتِ عَدْنِ ۣالَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ
باغونو د همیشتوب ته ؛ چه وعده کړې تا دوی سره ؛ او هغه چا لره چه
صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ
صالح وی ؛ د پلارانو د دوی نه ؛ او د بیبیانو د دوی نه ؛ او د اولاد د دوی
اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ⑧ وَقِهِمُ
یقینا هم ته ؛ زور اور ؛ حکمتونو والا یې ؛ او بچ وساته دوی

فائدہ : په سر د سورت کښې
ترغیب دے قرآن پاک ته او
عظمت د قرآن مجید دے په
ذکرکولو د ځلور صفاتو د باری تعالی
باندې ؛ فائدہ ؛ قانون داوی
چه د خط قدرېه اعتبار ذی
مرسل الیه وکی ؛ وی نو سرکښې
صفات د مرسل الیه وکی ذات ذکر
کړی لا ! او بیا فرمائی چه دے
حکمنامے کښې څه دی او څه
پیغام سره راوړے دے ؟ جواب
پیغام پکښې دادے لا اله
الا هو ، د ځنه د هغو حال
ذکرکوی چه جدال پکښې کوی او
مقابله ئه کوی او بیا ذکرښه
کړان والولر الخلور پښته د ملائکو
دعا ذکرکوی ؛ فاخذتهم نو
نو بکړم کړو او وه نیول هغوی
لره ؛ مولنا روم رحمه الله فرمائی ؛
هیچ قومے را خدا رسوا نکرد ؛
تا دلے صاحب دلے نامد بدرد ؛
(جواهر ۱۳۶۲) وګورئ زخرف ۵۵ .
يحملون العرش : هغه ملائک
چه اوچتوی عرش لره (اَلَرح الشنی)
هغه ملائک چه په رته کوی عرش
لره (شاه ولی الله) ، او هغه ملائک چه
صف ولاړ دی او مقربین دی د
عرش (الشیخ القرآن) وګورئ زمر
۷۵ ؛ و يؤمنون به : او تصدیق
کوی په دے چه الله تعالی
موجود واجب الوجود خالق د
ټولو شیونو دے ؛ احد ، صمد
لم یلد ولم یولد ولم یکن له
کفوا احد (مظهری ۲۵۹) ؛ یعنی
په وے حکمنامے باندې ئے ایمان
مستحکم وی ؛ دا توجیه د
مولنا حسین علی رحمه الله ده : وګورئ جواهر ۱۰۲۳ ؛ ومن صلح ؛ او هغه چا لره چه صالحه وی او
بناشته وی عمل د هغوی ؛ ❖ ❖ ❖

قَالُوا رَبَّنَا: وبه وائي دوی اے ربه زمونږه! مړه لرو وړاوستی دے په موږ باندې دوه ځلې او ژوندي دې کړي وو موږ دوه ځلې: وګورئ بقره ۲۸: فائده: حضرت شاه صاحب رحمه الله ليکي چې مخکښې خاورې وه بيا نطفه شوه بيا مونږ هم په هغې کښې

السَّيِّاٰتِ ؕ وَمَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ
د تکليفونو نه، او هغه څوک چې ساتلے شي د تکليفونو نه په دغه ورځ نو يقيناً
رَحِمْتَهٗ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۹﴾ إِنَّ
رحم وکړو تا په هغه باندې او دغه هم دا کاميابي لويه ده ۹ يقيناً
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ أَكْبَرُ
هغه کسان چې کفر کړي دي، آواز به ورته وکړے شي چې خامخا غصه د الله تعالیٰ لويه ده
مِنْ مَّقْتِكُمْ أَنْفُسَكُمْ إِذْ تُدْعَوْنَ
د غصې ستاسو نه په ځانونو ستاسو باندې، کله چې بللې شوئ تاسو
إِلَى الْإِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰﴾ قَالُوْا رَبَّنَا
ايمان ته نو تاسو کفر کولو ۱۰ وبه وائي دوی اے ربه زمونږه!
أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ
مړه دې کړو موږ دوه ځلې او ژوندي دې کړو موږ دوه ځلې
فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا فَهَلْ إِلٰى
پس اقرار کوو موږ په ګناهونو خپلو باندې نو آيا شته دے وتلو
خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۱۱﴾ ذٰلِكُمْ بِأَنَّهٗ إِذَا
ته څه لار؟ ۱۱ دا عذاب په دې وجه دے چې يقيناً شان داسې وو چې کله
دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ وَإِنْ يُّشْرَكْ
به بلے شو الله تعالیٰ يواځې نو تاسو به کفر کولو او که چرې شرک به کولے شو
بِهٖ تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ
د هغه سره تاسو به يقين کولو پس فيصله الله لره ده چې وچتو صفتونو والا
الْكَبِيْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ وَ
لوئے شان والا دے ۱۲ الله تعالیٰ هغه ذات دے چې ښائي تاسو ته آيتونه خپل او
يُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ وَمَا
راکوزوي تاسو لره د بره طرفه (باران) روزي او نصيحت

ع ۱ ۶

روح ورکړے شو په هغې کښې نو ژوندي شو بيا مړه شو بيا به په ژوندي راپاڅيږو: دا دي دوه ځلې مرګونه او دوه ژوندونه (عثماني ص۶۱۵، موضح ص۵۹۵): فائده: څلور عالمه دي: اول عالم ميثاق د ارواحو نه د پيدائش نه مخکښې په کوم کښې مرګ دے: دويم عالم دنيا: په دې کښې ژوند دے دريم عالم برزخ: په دې کښې بيا مرګ دے: څلورم عالم عقبی: په هغه کښې ژوند دے: ژوند وئيلے کيږي ديته چې د روح د جسم سره تعلق وي او مرګ وئيلے کيږي ديته چې دغه تعلق د جسم سره ختم شي (انفال ص۶۴۸): هَلْ إِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ: آيا شته دې وتلو ته څه لار: د دې رغبت د وجې نه به ترينه د دنيا هيره شي نو وائي به چې وتلو ته څه لاره شته او کله به دنيا ته د واپسۍ مطالبه کوي: وګورئ انعام ص۲۷، فاطر ص۳۷، شوریٰ ص۴۴، حم سجده ص۲۹: إِذَا دُعِيَ اللّٰهُ: په دې آيت کريمه کښې وجه د نه وتلو ذکر شوې ده چې د توحيد نه به مو انکار کولو او په شرک کولو باندې مو ايمان راوړلو او يقين به مو کولو: نو اوس اختيار صرف يو الله تعالیٰ لره دے: وګورئ زمر ص۴۵، بني اسرائيل ص۴۶: يُرِيْكُمْ: کښې په دې باندې عقلي دليل دے: رِزْقًا: د رزق نه

مراد باران دے ځکه چې دا سبب د رزق دے (مدارک ص۴۵) او دا د تمهيد نه بعد حکمناً مے منلو ته ترغيب دے خو بيا هم منيبان نصيحت قبلوي نه ضديان او عناديان ❊ ❊ ❊

فَادْعُوا اللّٰهَ ۱۴: د دے خلاصے نه ترمخه پورے دریم باب دے: په دیکښې اهم څلور خبرے دی:
(۱) دعوی د سورت او عظمت د هغے د مخکښ نه. (۲) تخویف اخروی منکرینو د دعوے لپاره. (۳) تخویف
دنیاوی په واقعه د فرعون او ... سره د ... نه. (۴) او تبری د الهو د کفارو: په قیامت کښې د دوی نه ۳۲. فَاَنْتُمْ، د تمهید او ترغیب نه بعد اول ځل د دعوے ذکر دے. فا فصیحه ده او د دے شرط محذوف دے، ای اذا کان الامر کما ذکر: یعنی کله چه خبره د غه شان ده لکه څنګه چه مخکښې ذکر شو. فَادْعُوا اللّٰهَ: نو بلئ الله تعالیٰ لره خالص کونکی هغه لره د بللے. ذکر د جواهر ۳۲. يُلْقِى الرُّوْحَ: رالیږی جبرئیل علیه السلام لره او یا وحی لره چه په هغے سره زړونه ژوندی کیږی. مِنْ اَمْرِهٖ: د وجے د امر خپل نه او یا په امر خپل سره (مدارک) ... حاصل ... بٰرِزُوْنَ: کله چه دوی ښکاره کیږی وی (مدارک). لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ: د الله د طرفه په شاهی اعلان وشی چه د چا د پاره باچاهی ده نن ورځ؟ نو بیا به جواب هم په خپله او فرمائی: لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ (مدارک) تا ... ملا الفطار. يَوْمَ الْاٰزِفَةِ: موصوف محذوف دے تقدیر د دا دے: يَوْمَ السَّاعَةِ الْاٰزِفَةِ: یعنی د ورځے د ساعت نزدے نه چه قیامت دے (جواهر).

يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾ فَادْعُوا اللّٰهَ
نه قبلوی نصیحت مګر هغه څوک چه رجوع کوی الله تعالیٰ ته؛ پس بلئ تاسو الله تعالیٰ لره
مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ
خالص کونکی هغه لره د بللے؛ او اګر چه بد ګنړی
الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ
کافران؛ اوچت کونکے د درجو دے؛ خاوند د عرش دے؛
يُلْقِى الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ
رالیږی؛ روح؛ د حکم خپل نه؛ په هغه چا چه
يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾
دے غواړی؛ د بندګانو خپلو نه؛ د پاره د دے چه ویره ورکړی؛ د ورځے د ملاقات نه
يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ
په هغه ورځ چه دوی به ښکاره راوتونکی وی؛ نه به پټه وی په الله تعالیٰ باندے
مِنْهُمْ شَيْءٌ ۭ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۭ لِلّٰهِ
د دوی نه هیڅ شے؛ د چا د پاره باچاهی ده نن ورځ؟ خاص د الله
الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۱۶﴾ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ
یو؛ زورور د پاره ده؛ نن ورځ به بدله ورکړے شی هر
نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ ۭ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ۭ
نفس ته؛ په هغه چه دوی کړی دی؛ نشته ظلم؛ نن؛
اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۷﴾ وَاَنْذِرْهُمْ
یقیناً الله تعالیٰ؛ جلد حساب کونکے دے؛ او ویره ورکړه دوی لره
يَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ
د ورځے نزدے نه؛ کله چه به زړونه؛ په خوا د مرغنو ...
كٰظِمِيْنَ ۥ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ
ولاړ به وی د غم نه؛ نه به وی ظالمانو د پاره؛ هیڅ یو دوست؛

منزل ۶

خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ: پو هیږی الله تعالیٰ په خیانت د سترګو باندے یعنی ما مصدریه معنیٰ د خیانت دے (مدارک). حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی د ابن عباس رضی الله عنهما په نقل باندے چه دا هغه سړے دے چه داخل شی د چا کور ته او په هغوی کښې ښائسته ...

وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ

او نه سفارشي چې خبره ئې ومنلې شي: الله پوهیږي په خیانت د سترګو

وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ يَقْضِي

او په هغه چې پټوي ئې سینې د دوی: او الله تعالیٰ حکم کوي

بِالْحَقِّ ۖ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ

په حقه سره: او هغه کسان چې بلي ئې دوی: بې له الله تعالیٰ نه

لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ ۗ إِنَّ اللَّهَ هُوَ

فیصله نشي کولے په هیڅ شي باندې: یقیناً الله تعالیٰ: دا

السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿٢٠﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي

اوریدونکے لیدونکے دے: ایا او دوی نه دي ګرځېدلي په

الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

زمکه کښې: پس چې وګوري: څنګه وو انجام

الَّذِينَ كَانُوا مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا هُمْ

د هغه کسانو چې وو: مخکښې د دوی نه: وو هغوي

أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ

ډیر سخت د دوی نه په قوت کښې او په نښو د زمکه کښې:

فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ

نو ونیول هغوي لره الله تعالیٰ: په سبب د ګناهونو د هغوي: او نه وو

لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ ﴿٢١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

هغوي لره بې له الله تعالیٰ نه: هیڅوک بچ کوونکے: دا په دې وجه چې یقیناً

كَانَتْ تَأْتِيهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ

چې وو: راتلل به دوی ته رسولان د دوی: په ښکاره دلیلونو:

فَكَفَرُوا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّهُ قَوِيٌّ

پس کفر ئې وکړو: نو ونیول دوی لره: الله: یقیناً الله تعالیٰ: قوت والا:

ع ۱۱

سره (بقیه د ۶۵) ۱۹: پتوه وي او ګورې ئې نو په خلقو باندې ښکاره ئې نکړي: نو چه هغوي غافله وي او ګوري او کله چه پرې پوهه نشي نو ښکته کړي نظر خپل د هغې نه او کله چه غافله شي هغوي نو بیا ګوري او کله چه پرې پوهه شي هغوي نو نظر ښکته کړي، (ریهقي) وګوري تورشنا: وَاللّٰهُ يَقْضِيْ: دا هم بیان د الوهیت د مسئلې دے چه توحید کي منه حکم چه باري تعالیٰ حاکم دے او غیر الله د هیڅ شي حکم نشي کولے او باري تعالیٰ هر څه اوري او هر څه ویني او غیر الله واله نه دے نو بیا ولے د هغو خبره منې (افضل ۲۶): اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا: دا تخویف دنیاوي دے او د مخکښې ایت سره لګي او د مخکښې ایت د باره دلیل دے چه مشرکانو لره خپلو معبودانو بچ نکړه: وَاٰثَارًا: او په نښانو د زمکے کښې: شاه صاحب رحمه الله فرماني چه محلونه او قلاګانه ئې جوړ کړي وو: ملا (التفسير ۶۵) وګورئ سبأ ۴۵ ۲۴

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ ۲۲: په دے ایت کریمه کښې سبب د عذاب ذکر شوے دے چه رسولانو ورته واضح دلائل راوړل خو بیا هم هغوي کفر او کړو او انکار ئې اوکړو ۞ ۞

شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا
سخت دی ا بدو رکړو نکے دے : او یقینا : لیږلے وو مونږ
مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ
موسیٰ ؑ : په معجزو خپلو او په دلیل : ښکاره باندې :
فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَقَارُونَ فَقَالُوا
فرعون : او هامان : او قارون ته : نو وویلے دوی :
سَاحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْحَقِّ
دا جادوګر : سخت دروغژن دے : پس هرکله چې راغے دوی ته په حق باندې :
مِنْ عِندِنَا قَالُوا اقْتُلُوا أَبْنَاءَ
د جانبه زمونږ نه : وویلے دوی : مره کړئ : ځامن
الَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ وَاسْتَحْيُوا نِسَاءَهُمْ
د هغو کسانو چې ایمان راوړے دے سره : او ژوندۍ پریږدئ ښځے د دوی :
وَمَا كَيْدُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ ﴿٢٥﴾
او نه وو تدبیر د کافرانو : مګر په بربادۍ کښې :
وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَىٰ
او وویلے فرعون : پریږدئ ما لره چې مره کړمه : موسیٰ لره :
وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ
او دے بلی رب خپل لره : یقینا زه ویریږمه : چې بدل به کړی :
دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ ﴿٢٦﴾
دین ستاسو : او ښکاره به کړی : په زمکه کښې : فساد کول :
وَقَالَ مُوسَىٰ إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَ
او وویل موسیٰ ؑ : یقینا ما پناه غوښتے ده په رب زما : او
رَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ
رب ستاسو باندې : د هر لوئی کونکی نه : چې ایمان نه راوړی :

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ ۲۳ : د دے ځائے نه د موسیٰ علیه السلام دلیل نقلی دے او د تخویف دنیا وی بیا نمونه ده چې فرعونیانو د سخت قوت والاوو خود موسیٰ علیه السلام مقابله نه کوله : الله تعالیٰ تباه او برباد کړل لکه مخکښې را روان دی. فائده : موسیٰ علیه السلام دا عصر پیغمبر وو چې ډیرے معجزے الله تعالیٰ ورکړے وے د دے معجزو ذکر په سورت اعراف کښې دے چې طٰهٰ دے او سورة اعراف کښې د هغو تفصیل ذکر شوے دے : إِلَىٰ فِرْعَوْنَ : فرعون د وقت صدر وو، او هامان د وزیراعظم وو، او قارون د موسیٰ علیه السلام د تره ځوئ وو، لوئے سرمایه دار او منافق وو، هغه د دشمنۍ په وجه کښې پټه وه لاکن بیا ئے ظاهره کړه : سورة قصص کښې د هغه نه واقعه تفصیلی ذکر شویده : قَالُوا اقْتُلُوا : دا دوئم ځل دے د پاره کړلو چې په د دے خوک ایمان را نه وړی لکه ۱۲۷ اعراف کښې هم تیر شوی دی : بوځلے قتل د ماشومانو هم کړے وو چې موسیٰ علیه السلام پیدا نشی لکه بقره ۴۹ کښې تیر شوی دی وَقَالَ فِرْعَوْنُ : او وویلے فرعون چې پریږدئ ما وژنم موسیٰ او بلی دے رب خپل یعنی زه ئے د بنیرو نه نه ویریږم او د ده بدنامۍ نه ویریږم چې بدل داچې ستاسو دین او قانون به بدل کړی او بل داچې په زمکه کښې به فساد ظاهر کړی : اوس هم د فرعون نسبی وارث چې دا دهشت ګرد او فسادیان دی او قانون نه منی : په فرعون باندې د موسیٰ علیه السلام رعب وو ځکه وائی ما پریږدئ کنې نو ځان دا منع کړے وو لکه مثل دے چې په جنګ کښې بے غیرته سړے غښت کوی ته لاس اچوی : وَقَالَ مُوسَىٰ : په دے کښې د موسیٰ علیه السلام جواب په نهایت بهادرۍ سره ذکر دے ۞

۞ ۞ ۞

وَقَالَ رَجُلٌ ؛ او ویلے یو سړی چه ایماندار وو د کورنۍ د فرعون نه چه پټ ئے ساتلو ایمان خپل ، د دغه کوم ته سړی د دے صفاتو نه ذکر دی : یکه جوا هر القرآن ص ۲۶ کښ وی چه دویم صفت په دریم باندے کړے شی الخ

بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿٢٧﴾ وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ
په ورځ د حساب ؛ او ویلے : سړی : ایماندار ؛

مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ
د کورنۍ د فرعون نه ؛ چه پټ ئے ساتلو ایمان خپل ؛

اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَ
آیا وژنئ تاسو داسے سړے : چه وائی هغه : رب زما الله دے ؛ او

قَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَ
یقینًا راغلے دے تاسو ته : په ښکاره دلیلونو سره : د جانبه د رب ستاسو د : او

اِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ يَّكُ
که چرے وی دے : دروغژن : نو په ده به وی وبال د دروغو د ده : او که وی

صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ ؕ
رښتونے ، نو رسیږی به تاسو ته : بعض د هغه عذابونو چه وعده ئے کوی تاسو سره

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ
یقینًا الله تعالی : هدایت نه کوی : هغه چا ته چه هغه د حد نه زیات تیریدونکے

كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ
ډیر دروغژن وی ؛ اے قومه زما ، تاسو لره بادشاهی ده : نن

ظٰهِرِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؗ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا مِنْۢ
غالب یئ : په زمکه کښی ، نو څوک به مدد د کوی زمونږ : د

بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ فِرْعَوْنُ
عذاب د الله تعالی نه : که چرے راشی مونږ ته : او ویلے : فرعون :

مَآ اُرِيْكُمْ اِلَّا مَآ اَرٰى وَمَآ اَهْدِيْكُمْ
راښایم نه درکوم تاسو ته : مګر هغه رائے چه ګورم ئے زه ؛ او نه ښایم تاسو ته ؛

اِلَّا سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ
مګر لار ؛ د کامیابئ ؛ او ویلے هغه سړی چه ایمان ئے راوړے وو

ربط : مقدم کوم وینا چه واضحه شی چه دا رجل مؤمن د کورنۍ د فرعون نه دے ؛
فائده : دا د خپل ایمان حال څکه پټ ساتلے وو چه ضرورت ورته نه وو ، بیا چه ضرورت شو نو اظهار ئے وکړو . حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه دا سړے چه ایمان خپل ئے پټ ساتلو د قوم خپل نه چه قبطیان دی پس نن ئے زور ظاهر کړے مګر په دے ورځ کله چه فرعون وویلے ، ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى نو وئیلو دے سړی له وغضب د الله عزوجل د ریسے شو او افضل جهاد کلمه د انصاف ده په دربار د ظالم کښ (مستدرک)
فائده : شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلی دی چه مضبوط ئے ساتلو ایمان خپل څکه چه قیمتی شے ایمان مضبوط او پټ ساتی : اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا : مطلب دا چه دا څیره نو څه جرم نه دے چه دا وائی رَبِّيَ اللّٰهُ ، رب زما الله تعالی دے ص ۲۲ ، بروج ع شو کوری :
حدیث شریف کښ راځی ، عروه رحمه الله وائی چه ما عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه وویلے چه خبر را کړه په ډیر سخت عمل چه مشرکانو د نبی علیه السلام سره کړے وو ؟ هغه وویل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دالان د کعبے کښ مونځ کولو چه عقبه بن ابی معیط راغلو او پیغمبر علیه السلام ئے د اوږے نه اونیولو او جامه ئے ورله په څټ کښی تاو کړه نو زندئ ئے کیکلو نو ابوبکر رضی الله عنه راغے د اوږے نه ئے ونیولو او ټیله ئے وهلو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه او وے فرمائیل : اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ : (بخاری مختصره ، ابن کثیر رحمه الله) : يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ : وبعد سیدی ص

تاسو ته بعض د هغه عذاب نه چه وعده ئے کوی تاسو سره؛ په دیکښ ملاطفه (نرمی کول) ده یعنی که ټول عذاب تاسو ته ونه رسیږی نو بعض خو به درته ورسیږی (اکوری) تسهیل ملخ ؛ او مراد د عذاب نه عذاب د دُنیا دے

يٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ

اے قومه زما! یقیناً زه ویریږم په تاسو باندے د مثل د ورځے د

الْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾ مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَ

ډلو (قبائلو) ؛ په مثل د حال د قوم د نوح او

عَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ

عادیانو او ثمودیانو او هغه کسانو چه روستو د دوی نه وُو

وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾ وَيٰقَوْمِ

او نه دے الله تعالیٰ چه اراده کوی هیڅ ظلم په بندګانو باندے ؛ او اے قومه زما!

إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ﴿٣٢﴾ يَوْمَ

یقیناً زه ویریږم په تاسو باندے د ورځے د چغو وهلو نه ؛ هغه ورځ چه

تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ اللَّهِ مِنْ

وبه ګرځئ تاسو شا ګرځونکی ؛ نه به وی تاسو لره د طرفه د الله تعالیٰ نه هیڅ

عَاصِمٍ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ

بچ کونکے ؛ او هر چا لره چه ګمراه کړی الله تعالیٰ ؛ نو نشته دے هغه لره هیڅ

هَادٍ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ

لارښودونکے ؛ او یقیناً راغلے وُو تاسو ته یوسف ؑ مخکښن د دے نه

بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِّمَّا

په ښکاره دلائلو سره ؛ پس همیشه وئ تاسو په شک کښن د هغه نه چه

جَآءَكُم بِهِۦ حَتّٰىٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ

راغلے وُو تاسو ته په هغه باندے ؛ تر دے چه کله وفات شو ؛ نو ووئیل تاسو

لَن يَبْعَثَ اللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ رَسُولًا

هیچرے به رانه لیږی الله تعالیٰ پس د هغه نه هیڅوک رسول

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ

د غه شان ګمراه کوی الله تعالیٰ ؛ هغه چا لره چه وی هغه د حد نه تیر وتلے

د ګوری قرطبی ملخ ۳۵ ؛ إِنَّ اللَّهَ : په دیکښن وقع د سوال ده چه فرعون خبره د وعظ اونکړه؟ جواب راغے (إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي ...) یِٰقَوْمِ : په دے ایت کښن ترهید عن الدنیا وسته او بیا د فرعون دَ باؤ دے. (مِثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ) مشوره ئے ورکوم تاسو ته مګر هغه راے چه خښه ئے درکوم چه هغه قتل د موسیٰ دے. (مدارک ملخ) د ګوری مؤمن ملخ ؛ وَمَا أَهْدِيكُمْ : د دے جواب سورة طٰه ۲۶ کښن تیر شوے دے ؛ بیا رجل مؤمن د ټیاره شر او قوموتو ذکر کوی د پاره د تخویف او د یوسف علیه السلام نه دلیل نقلی ذکر کوی د پاره د ترغیب ؛ او د یوسف علیه السلام ذکر خکه کوی چه هغه په مصر کښن رالیږلے شوے وو ؛ فائده : دلته د ضلالت څلور مرتبے ذکر شوی دی (۱) شک (۲) ضلالت ملخ ۳۴ (۳) جدال (۴) طبع او مهر ملخ ۳۵ ، او په افضل الترجمه ملخ ۵۵ کښن دی : حاصل دا چه اول شک بیا ګمراهی بیا جدال بیا مهر ولګی د هغوی په زړونو باندے. حَتّٰىٓ إِذَا هَلَكَ : کله چه وفات شو (افضل ملخ ۶۵) فائده : شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلی دی چه په واقعه د رجل مؤمن کښن ګنړ حکمتونه دی : بعض ترینه دا دی چه مناسب دی چه بیان په نرمئ او تثبیت او اظهار حق سره وکړی او الله تعالیٰ پیدا کوی د مبلغ د پاره هغه خلک چه مرسته ورسره کوی په دے وخت د جاهدینو کښن (سطالد ملخ ۱۰۳) مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ : په زړه د هر متکبر سرکش باندے (فتح ملخ ۵۶) اول په حقوق الله کښن او دوهم په حقوق العباد کښن ؛ (احسن ملخ) ؛ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ۱۳۶ ؛ ا خبرے فرعون د خلقو د ذهن جوړولو د پاره کوّلے چه د دوی ذهن په فرعون جوړیږی ؛ او په موسیٰ علیه السلام بد ګمان شی

(ایکیه ورته کوی) علی (المضل [illegible])، اَسْبَابَ: دروازو ته او اسمانونو ته. لاری د اسمانونو ته (ابن کثیر [illegible]) او دا نفی د رسالت د موسیٰ علیه السلام ده او تعریض نښتنه شو د صانع لیږ ونکی وه لره: د امام رازی (رحمه الله)

مُرْتَابٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيٰتِ

زړه لرونکی: هغه کسان چه جګړه کوی [illegible] ایتونو د

اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۚ كَبُرَ مَقْتًا

الله کښی بغیر د حجت دلیل نه [illegible] لوی دی [illegible]

عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِينَ اٰمَنُوا ۚ كَذٰلِكَ

په نزد د الله تعالیٰ او په نزد د هغه کسانو چه ایمان ئی راوړے دے [illegible] دغه رنګه

يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿٣٥﴾

مهر لګوی الله تعالیٰ په هر زړه د متکبر [illegible]

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِي صَرْحًا

او ویلے فرعون: اے هامانه! جوړه کړه ما لره [illegible]

لَّعَلِّي اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿٣٦﴾ اَسْبَابَ

شاید چه ورسیږم لارو ته لارو د

السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰى اِلٰهِ مُوسٰى وَ

اسمانونو ته، پس اوګورم معبود د موسیٰ ته: او

اِنِّي لَاَظُنُّهُ كَاذِبًا ۚ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ

بیشکه زه خامخا ګمان کوم په دهٔ چه دروغجن دے. او دغه رنګه ښائسته کړے شوی وو

لِفِرْعَوْنَ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ

فرعون ته: ناکاره عمل د دهٔ او ایسار کړے شوے وو د

السَّبِيلِ ۚ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ اِلَّا فِي

لارے نه. او نه وو چل ول د فرعون مګر په

تَبَابٍ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ الَّذِي اٰمَنَ يٰقَوْمِ

ع ۱۰

۹

برباد کښی وو. او ویلے هغه کس چه ایمان ئی راوړے وو: اے قومه زما!

اتَّبِعُونِ اَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادِ ﴿٣٨﴾

تابع شئ زما: او ښایم تاسو ته لاره د هدایت (کامیابئ):

(رحمه الله) وائی او هغه چه شانے شوی دی په تفسیر د دی ایت کښی چه فرعون د دهریه وو او غرض ئی د دے کلام نه شبه غورځول وو په شئ د صانع کښی هم؛ (روح [illegible]). فائده: عکس د سورة القصص په تفسیر کښی تیر شوی دی چه فرعون مشرک وو او نه دهری منکر د الله تعالیٰ نه:

وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ: او نه وو تدبیر د فرعون مګر په تباهئ او بربادئ کښی: دا ادخال الٰهی دے، د فرعون هر چل او هر فریب بے کاره او بے فائدے وو: او هغه په هیڅ تدبیر سره ګمان د ناکاره انجام نه نه کړو او اخر د بحر قلزم کښی ډوب شولو: (جواهر [illegible]):

وَقَالَ الَّذِي اٰمَنَ: او ویلے هغه سړی چه ایمان ئے راوړے وو: دا د رجل مومن د خطاب دریمه حصه ده ترڅو پورے: په دیکښی دعوت دے اتباع ته او ترهیب من الدنیا: او ترغیب الی الاخرة دے: فائده: اوله حصه د خطاب د [illegible] نه شروع: دویمه حصه ئے د [illegible] نه: دریمه حصه ئے د دے ځائے نه او خلورمه حصه ئے د [illegible] نه ده:

فائده: د رجل مومن په خطاب کښی یٰقَوْمِ لفظ شپږ ځله راغلے دے او په [illegible] کښی دا قاعده ده چه مبلغ لره لابدی ده د بیان د ترهیب من الدنیا نه (سطعة [illegible]): فائده: د [illegible] ایت نه معلومه شوه چه عمل هله قبلوی الله تعالیٰ چه کونکے ئے مومن او موحد وی: وګوری [illegible] نساء [illegible] طه، [illegible] نحل ۹۷

وَيٰقَوْمِ مَالِيْٓ: یعنې ایمان نجات دے او کفر اور دے نو زۀ تاسو جنت ته بلم او تاسو ما اور ته بلئ؛ دا غم سره غلط دے (العنان ۲۵) ، لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ: چې نشته حق د بللے هغۀ لره حکه چې حق د بللے د نبوّ الله دے؛ وګورئ رعد ۱۴، وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ: او یقیناً مشرکان خاوندان د اور دي (قرطبي ۱۵/۳۱۹) ، فَسَتَذْكُرُوْنَ (۴۴): دا خاتمه د بیان ده چې ډیره غوره ده سره د حکم اول تهدید دے په نه منلو سره حاصل دا چې اوس خو دعوت نه مني لیکن بیا به ارمان وکړي په وخت د نزول د عذاب کښې؛ بیا تفویض او توکل علی الله دے (احسن ۴۸/۳) فائده: تفسیر مدارك [illegible] کښې دي چې فرعون د دۀ د قتل اراده کړې وه د پاره د زد کسان ولیږل نو بعض کسان لیوانو مات کړه او کوم کسان چې ترینه واپس شو هغۀ فرعون وژل [illegible] کړه او [illegible] صلاحه کړی او وګورئ احسن ۴۸/۳ ، او فضل [illegible] او الهام [illegible] یعنې د نو حق پرست - الله تعالی زړۀ د لګان قربان کړه ؛ لطیفه : شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلي دي اوس هم چې امام لره [illegible] ورنکړي نو وائي وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ: او حقیقت دا دے چې وائي امین: چې [illegible] په هر څیز چې دا عبادت او کۀ [illegible] دي. فَوَقٰىهُ اللّٰهُ: پس بچ کړۀ دۀ لره د ناکاره هغۀ تدبیر او نه چې [illegible] کول او نازل شو په فرعونیانو باندې کاره عذاب مراد ترینه غرقول هغۀ عذاب دے چې په هغوی راغلی وو سره د د وبیا و نه: وګورئ اعراف ۱۳۶، ۱۳۴، اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ: په دې کښې د عذاب برزخي او اخروي بیان دے ؛ مفسرينو رحمهم الله لیکلي دي چې دا آیت دلیل دے په اثبات د عذاب قبر باندې او دا دلیل د اهل سنت او جماعت دے په وړاندې امام رحمه الله [illegible] حواله سره د عذاب [illegible] ذکر کړی دی ؛ بطور د مثال وګورئ [illegible]

يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ؗ

اے قومه زما: یقیناً دا ژوند د دنیاوي فائده ده؛

وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ (۳۹) مَنْ

او یقیناً آخرت هغه کور د همیشه اوسیدو دے: چا چې

عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ

عمل کړے وي بد نو بدله به نشي ورکولے مګر په مثل د هغې؛

وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى

او چا چې عمل کړے وي نیک نارینه وي او کۀ زنانه:

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

او حال دا چې هغه مؤمن وي، نو دغه کسان دا خلیږي به

الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ (۴۰)

جنت ته، روزي به ورکولی شي په دغه کښې بې حسابه:

وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ

او اے قومه زما! څه دي ماله، بلمه تاسو لره خلاصي ته؛

وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ (۴۱) تَدْعُوْنَنِيْ

او بلئ تاسو ما لره طرف د اور ته: بلئ تاسو ما لره:

لِاَكْفُرَ بِاللّٰهِ وَاُشْرِكَ بِهٖ مَا لَيْسَ لِيْ

چې کفر او کړم زۀ په الله باندې او شریک کړم زۀ هغۀ سره څه چې نشته ماله،

بِهٖ عِلْمٌ ؗ وَّاَنَا اَدْعُوْكُمْ اِلَى الْعَزِيْزِ

په هغې باندې هیڅ پوهه او زۀ بلمه تاسو لره: طرف د زورور او

الْغَفَّارِ (۴۲) لَا جَرَمَ اَنَّمَا تَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ

بخښونکي ته؛ خامخا هغه څوک چې بلئ ما لره: هغې ته؛

لَيْسَ لَهٗ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي

نشته هغۀ لره حق د بللو په دنیا: او نۀ په

عـه البقيه دوے صحـ): مدارك ۸۱/۴ قرطبي ۳۱۶/۱۵ ، روح ۷۲/۲۴ ، تسهيل ۱۹/۴ ، جصاص ۳۸۵/۳ ، ابن كثير ۸۱/۴ ،
تفسيرات احمدي ص ۶۳۵ - ۶۳۹ ، كبير ۷۲/۲۷ ، بيضاوي ۳۳۷/۳ ، مظهري ۱۲/۸ ، جواهر ۸۱/۸) ، فائده :

الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ

آخرت کښې ؛ او یقینًا واپسې زمونږ ؛ الله تعالٰی ته دی ؛ او یقینًا

الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾

مشرکان ؛ دوی ؛ خاوندان د اور دی ؛

فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ وَأُفَوِّضُ

پس زر دے چه یاد به کړئ تاسو هغه چه وایم تاسو ته ؛ او سپارم

أَمْرِي إِلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ

کار خپل ؛ الله تعالٰی ته ؛ یقینًا الله تعالٰی ؛ بینا دے

بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقَاهُ اللَّهُ سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا

په بندګانو خپلو ؛ پس بیچ وساتلو هغه لره الله ؛ د ناکاره هغه تدبیرونو چه دوی کول

وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾

او راګیر شو په فرعونیانو باندې ؛ ناکاره عذاب ؛

النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا

اور ؛ پیش کولے به شي دوی په هغه ؛ سحر او ماښام ؛ او یعنی هر سحر او ماښام

وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ

او کومه ورځ چه قائم به شي قیامت (وبه ویلے شي) ؛ داخل کړئ ؛

فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ

فرعونیان ؛ په ډیر سخت عذاب کښې ؛ او کله چه جګړه به کوي دوی

فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ

په اور کښې ؛ پس وبه وائي ؛ کمزوري ؛ هغه کسانو ته چه

اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ

لوئي کړې وه ؛ یقینًا وو مونږ تاسو لره ؛ تابعدار ؛ پس آیا

أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾

تاسو لرې کوونکي یئ ؛ زمونږ نه ؛ څه برخه د اور نه ؛

دوے آیت نه ډیر و مفسرینو ، محدثینو او فقهاو د عذاب قبر استدلال کړے دے ځکه چه په دے کښې خبره ده چه عذاب قبر حق دے او امام بخاري په ترجمة الباب د عذاب القبر (ص ۱۹۲) کښې دا آیت کریمه ذکر کړے دے ، په دے باب کښې او له ضروري خبره داده چه په احادیث صحیحه کثیره کښې خو لفظ د عذاب القبر راغلے دے ، او عذاب في القبر هم راغلے دے (انهما ليعذبان في قبورهما الحديث) په دے باندې دلیل دے تو د دے تعبیر نه انکار کول ګمراهي ده ، هغه تفصیلي کیفیت د هغه زمونږ د شعور او علم نه اوچت دے ، بعضې هغه تفصیلات چه صحیح احادیثو کښې راغلي دي مثلًا سوال او جواب کول او د هغه د پاره کیناستل د مري او د هغه د پاره وسعت د قبر او د هغه د پاره تنګیا د مرغوبو اجزاؤ او حواصلو کښې د روح اچول وغیره د دې منل ضروري دي ، بیا د اهل سنت والجماعة په دیکښې دوه قوله دي : اول دا چه عذاب روح باندې خپل مکان کښې ، برابره خبره ده که روح سالم دی او که ذرے ذرے وی او که ذرے په ځیټو د حیوانانو کښې وی او که دریاب کښې وی وغیره ، او بدن ته دوهمه حیات ورکړے شوے چه د عذاب احساس کولے شي لیکن تعلق د روح د بدن سره په دے باندې صریح صحیح حدیث نشته او مسئله د عود روح په سوره زمر کښې مونږ ذکر کړے ده ؛ دوهم قول دادے چه عذاب صرف روح باندې دے لیکن په شرط د جسد مثالي سره چه په هغه باندې حدیث د طیر تعلق في شجر الجنة " دلالت کوي او د عذاب

(احسن الكلام تتمہ سورۃ ۲۹) ويوم تقوم الساعة: تعلق د بدن اصلي سره لنشته په دیکښې اول قول صحیح دے.
او کله چه قائم شي قیامت، وبه ویلے شي خوکیدارانو د جهنم ته داخل کړئ فرعونیان ډیر سخت عذاب ته:

قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُلٌّ فِيْهَآ
وبه وائي هغه کسان چه لوئي کړې وه: یقیناً مونږ ټول په دیکښې پراته یو،
اِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ
یقیناً الله تعالیٰ فیصله کړې ده: په مینځ د بندګانو فیصله کښې، او به وائي
الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوْا
هغه کسان چه په اور کښې دي، خوکیدارانو د جهنم ته: وغواړئ
رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾
د ربه خپله نه چه آسان کړي له مونږ نه یوه ورځ د عذاب نه:
قَالُوْٓا اَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ
وبه وائي هغوی: آیا نه وو راغلي تاسو ته: استازي ستاسو:
بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا بَلٰى قَالُوْا فَادْعُوْا
په ښکاره دلیلونو سره؟ وبه وائي دوی ولے نه؟ وبه وائي ملائک نو دعا وغواړئ تاسو خپله،
وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾
او نه ده دعا د کافرانو، مګر په برباد ئ کښې:
اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي
یقیناً مونږ خامخا امداد کوو د رسولانو خپلو سره او هغه کسانو سره چه ایمان ئې راوړی په
الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾
ژوندون د دنیا کښې: او په هغه ورځ چه قائم به شي ګواهان:
يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَ
په هغه ورځ چه نفع به نه ورکوي ظالمانو ته: بهانے د هغوی: او
لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ
هغوی لره به لعنت وي: او هغوی لره به ناکاره کور وي: او یقیناً
اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا
ورکړے و مونږ موسیٰ ته: هدایت: او په میراث کښې ورکړے وو مونږ:

(مدارک ملخ): وَاِذْ يَتَحَاجُّوْنَ: په دے آیتونو کښې جګړه د مشرکانو ده د اهل النار خپلو سره: وګوری اعراف ع۳، احزاب ع۶، سبا ع۴، ابراهیم ع۳: وَقَالَ الَّذِيْنَ (ولا مک): کله چه په خپل مابین کښې د یو بل د مدد کولو نه نا امیده شي نو خوکیدارانو د جهنم ته به د دعاء مطالبه وکړي او په دے آیت کښې ورته د ملائکو د زوره جواب دے: وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ: او نه به وي دعا د کافرانو مګر په بربادئ او بطلان کښې یعني نه به قبلیږي: او هغه دا ده چه دا آیت په دعاء د کافرانو کښې دے ... په ورځ د قیامت کښې او یقیناً کافر چه دے کله واقع کیږي په دنیا کښې هغه څه چه داپرے دعا کړي او طلبوي د استغاثي نه روستو د دعا وخپلې نه ختګ چه ګواهي کړي په دے باندې آیتونه ډیر دي (روح ع۲۳، وګوری اعراف ع۱۵، تحریم ع۲ وغیره): اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا ع۶، کمه خاتمه ته تر آخره پورے د رکوع باب د دے سورت دے: په دیکښې اتهه خبرے اشرف دي: (۱) تسلی نبی کریم ﷺ ته ع۶: (۲) دلیل نقلی د کتاب د موسیٰ علیه السلام نه ع۶: (۳) زجر بیا مجادلینو لره ع۶: (۴) دلائل عقلیه د بیاره د اثبات د قیامت نه ع۶، سره د مثال نه ع۶: (۵) دعوی د سورت ع۶، او په دے اوګو دلائل عقلیه: ... (۶) زجر او تخویف اخروی ع۶۹: (۷) نقلی دلیل د تولو نبیانو علیهم الصلوٰۃ والسلام نه ع۶: (۸) تخویف دنیوی د ع۸ نه، تر آخره پورے:
سوال: دلته سوال رازي چه بعضې نبیان خو کفارو وژلي دي او بعضې نے مهاجر کړي دو ...

بعضو ته بے تکلیفونه رسولي وو نو څنګه د امداد وشو په دنیا کښې؟ **جواب**: ابن جریر رحمه الله ذکر کړي دي دوه جوابه کړي دي یو دا چه دا خبر عام دے او مراد ترې بعض دي او دا خبره چلیږي وتکه دغه په لغت کښې (یعنې صحیح ده): دویم دا چه مراد د نصر نه انتصار (انتقام) دے د هغه ضرور چه انبیاء ته دوی رسولي وي اود ابرابره دا که په حضور د هغوی کښې وي لکه په غیاب د هغوی کښې وي او که پس د وفات د هغوی نه وي (ابن کثیر) دریم جواب یعنې د دنیا کښې به د دوی وینا اوچتیږي او د کوم مقصد د پاره چه هغوی ودریدلي دي د الله تعالیٰ په مدد د هغه کښې کامیابه کیږي، د حق پرستو قرباني چرته نه ضائع کیږي: (عثماني ٨١١) د تیوهم نیکونو الاشهاد، او کله چه ودریږي او پیش شي ګواهان. ابخبرا؟ ...

بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى

بني اسرائیلو ته : کتاب ؛ په هدایت او نصیحت وو :

لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ

د پاره د عاقلانو د خالصو عقلونو : پس صبر کوه ، یقینا وعده د

اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ

د الله تعالیٰ حقه ده : او بخښنه غواړه د پاره د خطا خپلې : او تسبیح وایه

بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿٥٥﴾

سره د ستائنې د رب خپل : په بیګاه : او په صبا کښې ؛

اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

یقینا هغه کسان چه جګړه کوي : په ایتونو د الله تعالیٰ کښې

بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

بغیر د څه دلیل نه چه راغلے وي دوی ته : نشته په سینو د دوی کښې ؛

اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ فَاسْتَعِذْ

مګر لوئي : چه نه دي دوی رسیدونکي پوره کیدو دغې ته : نو پناه غواړه

بِاللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٥٦﴾

په الله پورې : یقینا هغه : او رب ویکې اوریدونکے ، لیدونکے دے :

لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ

خامخا پیدائش : د اسمانونو : او د زمکې : ډیر لوئی دے د پیدائش

النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا

د خلقو نه : او لاکن زیات د خلقو نه : نه

يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَ

پوهیږي ، او نه دي برابر : روند ، او

الْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

بینا : او هغه کسان چه ایمان یې راوړے : او عملونه کوي

منزل ٦

ثموت ان ٣٣ بقرة: ثلاثمان ٢١ ق، اندا انحرنه ٢٧ شوری، ٢٨ نبیخ، ٣١ حم سجده ۵

لِذَنْۢبِكَ: ٤ د پاره د کوتاهۍ (لغزش) خپلې: په عربي کښې د ذنب او اثم په مابین کښې فرق دے: په اردو کښې د ذنب مفهوم په کوتاهۍ سره ادا کولے شي (ص ٩٣٦ مجره) (٢) د ذنب نه مراد خلاف اولی دے (احسن ج ٣) (٣) لکه اجتهادي کمزوري: (افضل ص ٦٥٥) (٣) لِذَنْبِ اُمّتک: د پاره د ګناه د امت خپل (قرطبي ج ١٥ ص ٣٢٣) (٥) دا تیزي د رسول الله د امت لره استغفار بانیو: (ابن کثیر ص ٨٣) **فائده**: په دے ایت کښې د الله د اعلیٰ درے صفاته ذکر شوي دي او په ٥٦ کښې څلورم صفت "فاستعذ بالله" دے ✣ ✣ ✣ ✣

الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِیْٓءُ ؕ قَلِیْلًا مَّا
ذ نیکو : او نه بد عمل کوونکی : ډیر کم نصیحت

تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِیَةٌ لَّا
قبلوئ تاسو : یقیناً قیامت خامخا راتلونکی دے : نشته

رَیْبَ فِیْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ
شک په هغے کښې : او لاکن : زیات د خلقو نه :

لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْۤ
ایمان نه راوړی : او وئیلی دی رب ستاسو : غواړئ ما نه :

اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَكْبِرُوْنَ
قبلوم به زۀ تاسو لره : یقیناً هغه کسان چه ځان غټ گنړی :

عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ
د دُعا زما نه : زر دے چه داخل به شی : جهنم ته

دٰخِرِیْنَ ﴿۶۰﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ
ذلیلان : الله هغه ذات دے چه پیدا کړے تاسو لره :

الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ
شپه (تیاره) چه آرام وکړئ : په هغے کښې او ورځ د رڼا والا :

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَی النَّاسِ وَلٰكِنَّ
یقیناً الله خامخا خاوند د فضل دے : په خلقو باندے : او لاکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ
زیات د خلقو نه : شکر نه وباسی : دغه صفتونو والا الله تعالیٰ دے

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ ۘ لَاۤ اِلٰهَ
رب ستاسو : پیدا کوونکے د هر شی دے : نشته حقدار د عبادت

اِلَّا هُوَ ؗ فَاَنّٰی تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ كَذٰلِكَ
بغیر د هغه نه : نو کوم طرف ته اړولی شی د حق نه : دغه رنگے :

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْٓ ، دا د سورت د دعوے د پاره ذکر دے . حاصل دا دے چه حاجت صرف د باری تعالیٰ نه غواړئ او غوږ لاچه نه غواړی د الله تعالیٰ نه نو هغوی به دوزخ ته ځی . (المفصل ۲۴۵).

فائده : د عبادت نه مراد دُعا ده څکه چه د آیت کریمه مرکښې ادعونی بغیر د عبادة د اغلی دے او په آخر کښې فرمائی چه هغه خلک چه ځان غټ گنړی د عبادت څخه ئی . ابن جریر رحمه الله فرمائی د عبادتی په تفسیر کښې : عن دعائی (طبری ۱۱) ابن کثیر رحمه الله فرمائی : عن دعائی وتوحیدی (ص ۳۳) ، د نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی : ان الدعاء هو العبادة : او بیا ئے دا آیت ولوستلو ، او د انس رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی : الدعاء مخ العبادة : گوره مشکوٰة ص ۱۹۳ : ترمذی ص ۱۳۳ ، ابن کثیر رحمه الله : او حافظ رحمه الله دا شعر و شامر (؟) نقل کړیدے ، الله یغضب ان ترکت سواله : وبنی آدم حین یسئل یغضب :

فائده : د دعوے نه بعد د فتح د اثبات د پاره دلائل عقلیه ذکر شویدی : د لیل صفت مخفیا حذف دے : او د نهار صفت مبصرا ذکر کړے او متعلق ئے حذف دے چه لتبتغوا من فضله دے . چه ولتهتوی د فضل د هغه نه ، او د لتسکنوا په مقابله کښې دوه ثمرے دی چه رب او اله صرف الله تعالیٰ دے او په ۶۴ کښې بل دلیل او غلورلس لوئے انعامات د الله تعالیٰ پکښې ذکر دی او ثمره پرے تفریع ده فتبٰرک الله رب العٰلمین ؛ او په ۶۵ کښې هم دلیل عقلی دے او دوه ثمرے د دعاء او د حمد په تفریع دی ؛ په ۶۶ کښې نفی د شرک فی العبادة ده او په ما قبل تفریع ده ، په ۶۷ کښې هم دلیل عقلی دے او اووه مختلفه حالات د انسان پکښې ذکر دی : سورة حج ۵ هم

يُؤْفَكُ الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾

اړول کیږي: هغه کسان چه وو چه په نښو د الله سره انکار به یې کولو:

اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا

الله هغه ذات دے چه جوړه کړې یې تاسو لره: زمکه: قرارې والا:

وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

او آسمان چت: او صورتونه یې درکړي: نو ښائسته کړې یې صورتونه ستاسو

وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ

او روزي یې درکړې ده تاسو ته د پاکیزه شیانو: دغه ذات: الله مربي

رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٤﴾

ستاسو دے: برکتونو والا الله دے چه رب د مخلوقاتو دے:

هُوَ الْحَيُّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ

الله همیشه ژوندی دے، نشته لایق د بندګۍ سوا د هغه، پس بلئ هغه لره خالص کوونکي

لَهُ الدِّينَ ۗ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٥﴾

هغه لره د بندګۍ: صفتونه ټول خاص الله لره دي چه رب د ټولو عالمونو دے:

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ

ووایه یقیناً زه منع کړے شوے یم: چه بندګي وکړم د هغه کسانو: چه

تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَمَّا جَاءَنِيَ

بلئ یې تاسو: سوا د الله تعالیٰ نه: هرکله چه راغلل ما ته:

الْبَيِّنَاتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ

ښکاره دلیلونه د جانب د رب زما نه: او امر کړے شوے یم: چه تابع وسم

لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم

رب د مخلوقاتو ته: الله هغه ذات دے چه پیدا کړي یې دي تاسو لره

مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ

د خاورو نه: بیا د نطفے نه: بیا

سره او ګوري: البته سورة ۶ کښې مضغه ذکر کړے شوې ده او دلته نشته نو جواب دا دے چه دلته په مثلا کښې د صورت ذکر کړے شوے دے او صورت او شکل د مضغې سره تعلق لري

ثُمَّ لِتَبْلُغُوا؟ دلته يبقيكم: محذوف دے معنیٰ دا شوه چه بیا پالي تاسو لره او پاتے کوي تاسو لره چه ورسیږئ طاقت او ځوانئ خپلے ته، وګورئ مدارک صف۹ ج ۳: دغه شان ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا هم دے (مدارک): وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُّسَمًّى: دلته هم مدارک کښې دي وَ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ: او کوي دا د یاره د دے چه ورسیږئ نیټے مقررے ته: په دے آیت کښې زجر دے: وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا: او په هغه مسئله د توحید چه ما پرے لیږلي رسولان خپل

مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ
دَ ټکړې د وینې نه : بیا راوباسي تاسو لره : ماشومان ، بیا (پالي مو)
لِتَبْلُغُوٓا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا
(ﻟﺎ) چې ورسیږئ خوانۍ ته : بیا (پالي مو) چې شئ زاړه بوډاګان
وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ وَ
او بعض ستاسو نه شته چې وفات کړی شي : مخکښې د دې نه : (او پاتې کوي)
لِتَبْلُغُوٓا أَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٧﴾
(ﻟﺎ) چې ورسیږئ نیټې مقررې ته : او د دې لپاره چې تاسې د عقل نه کار واخلئ :
هُوَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَإِذَا قَضٰٓى
الله هغه ذات دی چې ژوندي کوي او مړه کول کوي : پس کله چې اراده وکړي :
أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٦٨﴾
د یو کار : نو بېشکه وایي هغه ته : شه : نو (فورًا) شي هغه :
أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ
ایا نه ګورې ته هغه کسانو ته چې جګړه کوي : په ایتونو د
اللّٰهِ أَنّٰى يُصْرَفُوْنَ ﴿٦٩﴾ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا
الله کښې : کوم خوا اړولی شي (د حق نه) : دا هغه کسان دي چې دروغ ګڼلي یې :
بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ أَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۛ
دې کتاب لوی ته : او په هغه خبرو هم چې لیږلي دي موږ په هغو پیغمبران خپل :
فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٠﴾ إِذِ الْأَغْلٰلُ فِيْٓ
پس زر دی چې پوهه به شي : کله چې طوقونه : به
أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلٰسِلُ ۭ يُسْحَبُوْنَ ﴿٧١﴾ فِي
د هغوی د غاړو کښې وي : او زنځیرونه (به هم د دوی په پښو کښې وي) راښکلي به شي : په
الْحَمِيْمِ ۙ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُوْنَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ
ګرمو اوبو کښې : بیا به په اور کښې : ورته ولګولی شي : بیا به

ع ۱۳

منزل

شه ربقیه ډوب شي) : لیږل
ولو ، وګورئ مله ۳ غل ، مله ۳
انهار ، وَالسَّلٰسِلُ ، دا د دې
خاطر نه تخریف اخرولی
تفصیل دی ، دَ السَّلٰسِلُ
خبر محذوف دی ، اصل
عبارت دا سې دی ، إِذِ
الْأَغْلٰلُ فِيْٓ أَعْنَاقِهِمْ وَ
السَّلٰسِلُ فِيْٓ أَرْجُلِهِمْ :
(جلالین ۳۹۵ ، جواهر
۱۰۵۵) ؛ ترجمه لاندې
لیکلی شوې ده : فائده :
کله به دا کرم ایښي لو
او بیا سزاء ورکولې شي چې
جوغیدي شي : او کله به د
اور عذاب ورکولې شي چې
سخې شي ، اعاذنا الله من
ذلك ✿ ✿ قَالُوْا ضَلُّوْا
عَنَّا ؛ او به وائي چې ورکه
شو له موږ نه خو دا یو
قسم اقرار د دوی دے نو
دوی به خیال وکړي چې دا
خو موږ د اقرار وکړو نو
بیا به منکر شي او و به وائي
چې نه وو موږ نه چې
دا پلے مو وو عبادت د دې
نه په دنیا کښې هیڅ شی لره

(تبصره ۳ ، الغرض ... مخاطب ...)

قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿۷۳﴾ مِن

وویله شي دوی ته: چېرته دي هغه کسان چې وئ تاسو شریکول یې (ورته) سره

دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل لَّمْ نَكُن

د الله څخه نه: وبه وائي دوی ورک شول موږ نه، بلکه نه وو موږ چې

نَّدْعُو مِن قَبْلُ شَيْئًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ

رابللو موږ مخکښې د دې نه څه شي؛ دغه رنګ بې لارې کوي

اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿۷۴﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ

الله کافرانو لره، دا عذاب تاسو له په سبب د هغه چې وئ تاسې

تَفْرَحُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا

خوشالي موکوله په زمکه کښې بغیر د حق نه، او په سبب د دې

كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿۷۵﴾ ادْخُلُوا أَبْوَابَ

چې وئ تاسې لوئي موکوله، داخل شئ تاسې دروازو د

جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى

جهنم ته همیشه به یئ په هغې کښې، پس بد دے ځائے د اوسیدو

الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ

د تکبر کونکو، پس صبر کوه یقیناً وعده د الله تعالیٰ

حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي

حقه ده، نو یا به وښایو تاته بعض هغه عذاب چې

نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿۷۷﴾

وعده مونږ کړې ده دوی سره او یا خو به وفات کړو تا لره، نو موږ ته به واپس کړے شي دوی

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم

او یقیناً لیږلي دي موږ استاذي مخکښې ستا نه، بعض د دوی نه

مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن

هغه دي چې بیان مونږ کړي دي تا ته، او بعض د دوی نه هغه کسان دي چې

عه (بقیه د صفحه ۸۱۴) دا سے انما صرف ۲ کښې هم د کړلوی دي او ختم سجده ۳۷ کښې راغلي. ذٰلکم بما کنتم: فرق د فرح او د مرح دا دے چې اول د زړه سره تعلق لري او دویم د ظاهر سره تعلق لري. دویم قول د دے برعکس د قرطبي رحمه الله، دویم فرق ته اشاره کړے ده ویلي دي په معنیٰ د "تفسحون کښې" مراد دا دے چې بنګاره کوله به تاسو خوشالي په ګناه کولو او په ډیرو مالونو او ډیرو نوکرانو او په صحت او عافیت سره: "نو په دیکښې تر سونه د پیغمبرانو هم داخل دي چه چه شرک کولو سره خوشالي بنکاره کوي او د تمرحون مراد دا دے چه په رفتار او ګرزیدلو کښې تکبر او لوئي کوي (احسن ص ۵۳) وګورئ ۳۵ اسراء ۱۸ لقمان: فاصبر، شیخ القرآن رحمه الله فرمایلي چه دا عذاب په سبب د دے دے چه وئ تاسے چه خوشالي موکوله په زمکه کښې ناحقه او په سبب د دے چه تاسے مستي کوله. فاصبر: دا نبي صلی الله علیه وسلم لره د تسلي اعاده ده چه ستا انتقام به ضرور اخلم یا ستا په ژوند او یا ستا نه د وفات نه بعد. ولقد ارسلنا: او دا نقلي اجمالي دلیل دے، وګورئ سوره نساء ۱۶۴ چه

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ ، دا دفع دَ سوال مقدر دَه چه مونږ ته مطلوبه او فرمائشي معجزه ولې نه راوړې؟
نو جواب ورکړو چه معجزه نږدول دَ هيڅ رسول په اختيار کښې نه دي بلکه دَ الله تعالىٰ په اختيار کښې دي؛

لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ

بيان مونږ نه دے کړے تا ته ؛ او نشته صحيح رسول لره :

اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ فَاِذَا

چه راوړي يو معجزه : مګر په اذن دَ الله تعالىٰ سره ؛ پس کله چه

جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ

راشي امر دَ الله تعالىٰ فيصله وکړې شي په حقه سره ؛ او تاوانی شي :

هُنَالِكَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝٧٨ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ

دغه ځائے ، باطل پرسته ؛ الله تعالىٰ هغه ذات دے چه پيدا کړي دي

لَكُمُ الْاَنْعَامَ لِتَرْكَبُوْا مِنْهَا وَمِنْهَا

تاسو لره ، څارويان ؛ چه سوارلي وکړئ دَ بعضو دَ هغې ؛ او دَ بعضو دَ هغې

تَاْكُلُوْنَ ۝٧٩ وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوْا

خورئ ؛ او تاسو لره په هغې کښې نفع دي ؛ او چه ورسيږئ تاسو

عَلَيْهَا حَاجَةً فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَعَلَيْهَا

په هغو باندې ؛ هغه حاجت ته چه په سينو ستاسو کښې دي ؛ او په هغو باندې

وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ۝٨٠ وَيُرِيْكُمْ

او په کشتو باندې ؛ سوارلي شئ ؛ او ښائي تاسو ته :

اٰيٰتِهٖ ۖ فَاَيَّ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُنْكِرُوْنَ ۝٨١

دليلونه خپل ؛ نو دَ کوم يو دليلونو دَ الله تعالىٰ نه ، انکار کوئ تاسو ؛

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا

آيا پس نه ګرځي دوي ؛ په زمکه کښې ؛ چه وګوري :

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ

څنګه دو انجام ؛ دَ هغه کسانو چه مخکښې دَ دوي نه وو ؛

كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّ

وو هغوي چه زيات دَ دوي نه ؛ او ډير سخت په قوت کښې ؛ او په

٩
ع
١٣

وګوري ابراهيم ١١ ، رعد ٣٨
انعام ١٣٣ : اَللّٰهُ الَّذِيْ : لا ئخ
نه دليلونه عقليه نور دي او
ذو ګمانونه فائده او نفع حاصلول
په هغې ذکر دي ؛ وګوري نحل ٥
٦ ، مؤمنون ٢١ : تُحْمَلُوْنَ لره
سوارلي شئ تا سره ؛ وګوري
مؤمنون ٢٢ : فائده : او دَ
تحملون نه مراد دَ مجبوري
سوارلي دَه لکه په حال دَ مرض
کښې دَ ټوخاڅه نه بلکه څه
سفر کول نو دا غير اختياري دَ
نو په صيغه دَ مجهول سره ئے
ذکر کړو ؛ (احسن الکلام) : وَيُرِيْكُمْ
اٰيٰتِهٖ : او ښائي تاسو ته دليلونه
خپل چه دلالت کونکي دي په
وحدانيت دَ هغه او قدرت
دَ هغه باندې ؛ (قرطبي ٣٣٥) :
اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا : دا تخويف دے
مخکښې ايستو کښې دَ نعمتونو ذکر
وو او اوس دَ هغه ايرونو ذکر کوي
وګوري انعام ٦ ، نسا ١٠ :
فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ : په دې ايت کريم
کښې سبب دَ عذاب دَ هغوي
دے چه تکذيب دَ رسولانو دَ
او په خپل ساوي علوم با ندې
فخر کول دي ، فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ
مراد تر ينه علم دَ دوي دے په
کارونو دَ دنيا او معرفت دَ دوي
دے په تدبير دَ هغو (مدارک ٨٤٠)
شاه صاحب رحمه الله فرمائي يعني
په علم دَ معاش (ماده فتح) دَ
پښتو شيخ رحمه الله دَ آلوسي رحمه الله
نه نقل وائي چه مراد دَ علم نه
که دے عقيدې دَ هغوي او شبهې
کمزورے دَ هغوي دي ، (روح
٨٦ ، جواهر ٤٣١) وګوري يونس ٧٣ ،

اعراف ٩٣ ، ٥٨ ، انعام ، ٣١ ، نحل : فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ : پس نه وو چه
نفع ورکړے وے دوي ته ايمان دَ دوي څکه چه ايمان اضطراري يعني په وخت دَ ليدو دَ عذاب کښې
قبول نه دے ، وګوري نسا ١٨ ، يونس ٩٠ : وَخَسِرَ هُنَالِكَ : او تاواني شو په دغه وخت کښې

(تعقیبه دَ دے عمو): کافران (فتح ۲۸۵۵) ۔ او توسی رحمہ اللہ فرمائی یعنی په وقت دَ لیدلو دَ دوی عذاب الٰہی ۔
نے ۹۳: مطلب دا چه هنالک اسم مکان دے ۔ سوالی استعمال شوید هے دپاره دَ زمانے (مدارک ۲۵۲ بحیری ۲۷۲)

اثَارًا فِی الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰی عَنْهُمْ مَّا

نښو جوړولو په زمکه کښې : پس دفع نکړو دَ دوی نه هغه عملونو

كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

چه دوی کول : پس هر کله چه راغلل دوی ته استازی دَ دوی

بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ

په ښکاره دلیلونو نو خوشاله شو دوی په هغه چه دوی سره وو : دَ علم

الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

نه ۔ او راګیر کړل دوی : عذاب هغه چه دوی پرے

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا

توقے کولے : پس هر کله چه دوی ولیدلو عذاب زمونږ : ووئیلے دوی

اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا

ایمان راوړے مونږ په الله باندے یو اځی : او انکار کړو مونږ په هغه معبودو چه وو مونږ

بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ

په هغه شریکول کونکی : پس نه وو چه نفع ورکړے دَ دوی ته

اِيْمَانُهُمْ لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ

ایمان دَ دوی : کله چه دوی ولیدلو عذاب زمونږ : نیسان طریقے دَ الله تعالیٰ

الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ

هغه چه تیره شوے ده په بندګانو دَ هغه : او تاوانی شو

هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

دغلته : کفر کونکی :

(۴۱) سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ (۶۱)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رکوعاتها ۶ ۔ آیاتها ۵۴

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾

(الله پوهیږی په مراد ددے) دا نازل کړے شوے قرآن دَ جانب دَ لوئے مهربان نه بخښونکی ندی:

الربع ۳

السجدة ۱۲ ۔ ۲۴۱

الجزء الرابع والعشرون: امتیازات: (۱) ذکر صریحی دَ عذاب قبر دَ (۲) خاص صفات الٰهیه ملاحظه: (۳) واقعه دَ رجل مومن دَ آل فرعون (۴) حملو پرښتو کعادة سلام کول مومنانو لره ۔ (۵) زجر بعا دلیلونو لره بار بار (۲۳ ځله ۳۳ مده ۷۶) ❁ ❁ ❁ (والحمد لله من پرصبح دَ جمعے مبارکے ۲۰/۱ بجے ۲۸۔ اپریل ۲۰۰۵م ۱۹۔ ربیع الثانی ۱۴۲۶ هـ دَ سورة مومن تفسیر الله تعالیٰ په امداد او توفیق او فضل او کرم سره په توحید آباد کښی ختم شو: فالحمد لله اولا و آخرا والصلوٰة والسلام علی نبیه دائما و کاملا: الاحقر محمد عبدالجبار غفرله ولوالدیه ولسائخه ولجمیع المومنین والمومنات من الانس والجنات) ❁ ❁ ❁

سُوْرَةُ حٰمٓ سَجْدَه:

دا مکی سورت دے ۔ ترتیب کښی ۴۱ او نزول کښی ۶۱ پس دَ سورة مومن نه ۔ وجه دَ تسمیے دا ده چه سر کښی حٰمٓ او مینځ کښی دَ سجدے ذکر دوه ځله راغلے دے ۔ فرق په مابین دَ دے او الم سجده کښی ښکاره دے ځکه چه هلته سر کښی لفظ دَ الٓمٓ دے باقی دَ سجدے ذکر دواړو کښی دے : دعویٰ: دفع دَ هغه شلو رو شبهو چه وارد یږی په توحید باندے: دَ کوری ۲ ۶ ۸ ۹ ۲۴: حاصل دَ شبهو ۔ معنی ستا په خبره نه پوهیږو : جواب دَ غفور رحیم او بنده دَ بنده په خبره پوهیږی او دا خبره کوم : اِنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ : چه یقیناً معبود دَ کار ستاسے معبود یو دے ، دریمه شبه: چه مونږ کا په خوبونو کښا دیریږو : جواب: وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ : او مقرر کړی دی مونږ دوی لره ملګری شیطانان یعنی هغوی ویرږی دا بابا کان نه دی: دریم شبه عربی نے اود القرآن هم عربی دے معلومه شوه چه

چې هغه نو بيا به مونږ بيلې چې دا ... چې د قرآن په ډله کښې را غلط ... ځواب ۲ کښې دی ... چې د شان نه جوړ دی ، ځواب په ... کښې دی
عجمي وی او رسول عربي وی ، ... رد کړه قرآن په ... را غلی ... مونږ به ... دی ، ځواب په ... کښې دی
ولقد اتينا موسى الكتٰب الخ : او يقيناً ورکړی وو مونږ موسیٰ علیه السلام ته کتاب په ... نو اختلاف پکښې وکړے شو :

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا
دا داسې کتاب دی چې ... بيان کړے شوې دی آيتونه د دې ، قرآن په عربي ژبه
لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا
د پاره د هغه قوم چې پوهيږي ، زيرے ورکوونکے او ډارونکے دے ،
فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۴﴾
پس مخ وا ړولو زياتو د دوی نه ، نو دوی نه اوري :
وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ
او وائی دوی : زړونه زمونږ په پردو کښې دی د هغه نه چه ته بلې مونږ د
اِلَيْهِ وَفِيْٓ اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ
هغه ته ، او په غوږونو زمونږ کښې درنوالے دے ، او په
بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ
مينځ زمونږ او ستا کښې پرده ده ، پس عمل کوه ته ،
اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ﴿۵﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ
يقيناً مونږ هم عمل کوونکي يو ، ووايه يقيناً خو زه بشر يم
مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ
په مثل ستاسې ، وحی کولے شی ماته چه يقيناً حقدار د بندګۍ ستاسې اله
وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ
يو دے ، پس سيده شئ هغه ته او بخښنه وغواړئ د هغه نه
وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ﴿۶﴾ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ
او هلاکت دے زيات د مشرکانو ، هغه کسان چه نه ورکوي
الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۷﴾
زکوٰة لره ، او دوی په آخرت باندې دوی انکار کوونکي دی :
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
يقيناً هغه کسان چه ايمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړي دی نيکو :

ربط ونظم : (۱) هغه سورة مؤمن کښې مسئله د توحيد واضحه شوه نو اوس ... د هغه مخالفينو شبهو ته جواب ورکړے شي چه دغه مسئله باندې را غلي (۲) مخکښې هم ترغيب وو قرآن ته په سر د سورت کښې نو دلته هم دے (۳) مخکښې د تخويف دنياوي تفصيلي يو مثال ذکر دلته هم دی (۴) مخکښې اثبات د مسئلې ذکر شو نو دلته ترغيب ورکوي استقامت ته چه مخې باندې (۵) دا سورت نزول کښې پس د هغه نه سو ترتيب کښې رو ستے راغے چه ترتيب او نزول دواړه برابر شول
اجمالي خلاصه : په دې سورت کښې دوه بابونه دی ، اول ترغيب ۲۵ پورې ، دويم ترغيب ۲۶ نه تر آخره پورې ؛ د اول باب
تفصيلي خلاصه : د دې نه اته خبرې او ...ئې دی : (۱) ترغيب قرآن ته او صفتونه او نومونه د هغه (۲) زجر معرضينو د قرآن ته ... (۳) ... شبهو او جواب د هغې ته (۴) ... دلائل عقليه د هغه نه ، (۵) ... د تخويف دنياوي د ... نه ، (۶) بشارت مشيرانو ته ، (۷) تخويف اخروي مشرکانو ته :
تنزيل : دا خبر د مبتدأ محذوف دے ؛ دا ... نازل کړے شوے دے ... مهربان او رحيم بادشاه د طرف نه نازله کړے شوے ده چه په دې باندې عمل کولو سره ستاسې د دين او دنيا کاميابي ده (جمل ص ۱۹۶)
فائده : د سورة مؤمن سر کښې د غفور رحيم بادشاه نه صفاته ذکر شوي وو ، هغه دے سورت او ... اتحاد کښې د ... او شوری کتاب ... ذکر شوی دی :
فاعرض : پس اعراض وکړو زياتو د خلقو نه د تدبر ، سوچ کولو او قبلولو د دې نه (روح ص ۹۳) فهم لا يسمعون : دا تفسير د اعراض دے ؛ وقالوا : د زجر نه بعد اوله شبهه ده چه ستا په خبره نه پوهيږو ... او د ... نه ... خبرے دی ، او په دې آيت کريمه کښې د مشرکانو شلور خبرے دی ؛ ... اكنة : د هغه نه چه

Scanned by CamScanner

لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٨﴾ قُلْ أَئِنَّكُمْ

د دوی لره اجر دے نه قطع کیدونکے نه شوے : ووایه : آیا تاسو

لَتَكْفُرُونَ بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي

خامخا انکار کوئ : په هغه ذات چه پیدا کړے ده : زمکه : په

يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَنْدَادًا ذَٰلِكَ

دوو ورځو کښې : او گرځوئ هغه لره : شریکان : دغه ذات :

رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ

رب د مخلوقاتو دے : او جوړ کړی دی په هغه کښې : پاخه غرونه

مِنْ فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ

د پاسه د هغه نه : او برکت ئې اچولے دے په هغه کښې : او اندازه کړی ئې

فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ

په هغه کښې : روزی د هغه : په څلورو ورځو کښې :

سَوَاءً لِلسَّائِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى

برابر شوی دی د پاره د تپوس کونکو : بیا ئې قصد وکړو : طرف

السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَ

د آسمان ته : او هغه لوگے وو : نو ورته ئې وفرمایل هغه ته : او

لِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا

زمکې ته : راشئ په خوشحالۍ سره او یا په ناخوښۍ سره : ووئیل دواړو

أَتَيْنَا طَائِعِينَ ﴿١١﴾ فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ

راغلو مونږ تابعدار په خوښۍ سره : نو پوره ئې کړو دغه لره : اووه

سَمَاوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِي

آسمانونه : په دوو ورځو کښې : او وحی ولیږله : په

كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ

هر آسمان کښې : د کار د هغه : او ښائسته کړے مونږ : آسمان :

ع ۱ ۱۵

او نه ورته پیغمبر ورلره چه توحید دی (مدارک ۱۶۶) قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ : د آیتونو د دے جواب دے چه مونږ ته خو ستاسو ستا هم پیغمبر شکلے

او بشر د پیغمبر خبره په هیڅ یو خوږه سره فرق دے چه ما ته وحی کیږی او تاسو ته نه کیږی بیا هم صرف دا وایم چه انما

الٰهکم اله واحد : چه ستاسو معبود یو صرف یو الله تعالیٰ دے او وحی رحمة فرمائی چه زه نه ملائکه یم او نه پیری چه تاسو لره ترینه خبره اخستل ممکن نه وی او زه د هغوی نه قول چه بیننا وبینک حجاب (روح المعانی) فَاسْتَقِيمُوا : نسفی رحمة فرمائی نو برابر شئ الله تعالیٰ ته په توحید سره او په اخلاص د عبادت سره مه خکشی بل طرفته او مه کس طرفته او التفات مکوی هغه ته چه شیطان کوی ئې تاسو ته شیطان چه ډول د امداد دیا نو او استغفار فیا او دی (مدارک ۱۶۶) فائده : په دے آیت کښې دوه امرونه دی او بیا زجر او تخویف د مشرکانو لره کوم چه د شرک نه توبه نه وباسی : لَا يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ : حافظ ابن کثیر رحمة الله فرمائی چه مراد د زکوٰة نه دلته پاکوالے د نفس دے د اخلاقو رذیلو نه او ډیر اهم دے نه طهارت د نفس د شرک نه (ابن کثیر) : د زکوٰة نه مراد یا د زړه پاکوالے دے او یا نفلی خیرات مراد دے ځکه چه دا سورت مکی دے او په مکه کښې زکوٰة فرض نه وه (المنار ۲/۱) یا فرضی زکوٰة ده نصاب مراد دے او دا خو مکه مکرمه کښې فرض شوے وه او ملا په مدینه منوره کښې نصاب او خاص مقدار مقرر شوی وه لکه حافظ ابن کثیر رحمة الله د سورة مؤمنون په تفسیر (۲۴۴) کښې لیکلی دی : فائده : زکوٰة نه ورکول یو طریقه د انکار

سره وی نو دا خو کفر دے ، دویم په طریقه د ترک العمل سره دی یعنی انکار د فرضیت نه کوی لیکن نه ئې ورکوی نو په دے سره کفر نه راځی لیکن عمل د کافرانو دے او هغوی سره مشابهت دے . (احسن ۱۴۴) فائده : په دے کښې بشارت دے ایمان دارو لره پس د تخویف د مشرکانو نه ، سورة تین ملا ګوری . قُلْ أَئِنَّكُمْ : د شبهے د جواب لپاره

فائده: په دې آيتونو کښې تفصيل د مسئله د توحيد په غلورو دلائلو عقليه واضح کوي په ملاحظه د ملائکو کښې. په دوه ورځو کښې زمکه پيدا کړه او پيدا ئې کړې دي اوه آسمانونه او دا وخت ... امتياز حاصل دی ...

الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ ۖ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ

نژدې ته (دنيا) په ډيوو سره (ستورو) او حفاظت ئې کړی په حفاظت سره: دغه

تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾ فَإِنْ أَعْرَضُوا

اندازه ده د زورور او په هر څه پوهه دی: پس که چيرته دوی مخ واړوي (ځان لرې کړي)

فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ

نو ووايه: ويره درکوم تاسو له د تندر (عذاب) په شان د عذاب د

عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ

عاديانو او ثموديانو: کله چې راغلل دوی ته استاذي:

مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ

د مخکښې د دوی نه او د روستو د دوی نه

أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۖ قَالُوا لَوْ شَاءَ

چې مکوئ بندګي: سوا د الله تعالى نه: دوی ويلي دي که چيرې خوښه وې

رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً فَإِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم

رب زموږ: نو خامخا راليږلي به ئې وو ملائک: يقيناً موږ په هغه څه چې ليږلي شوي يئ تاسو

بِهِ كَافِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا

په هغه کافران يو: پس هر چې عاديان دي نو لوئي ئې وکړه:

فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا

په زمکه کښې: په ناحقه سره: او وويلې دوی:

مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَلَمْ يَرَوْا

څوک دی سخت زموږ نه په قوت کښې: آيا او دوی نه ګوري چې

أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ

يقيناً الله تعالى هغه ذات: چې پيدا کړي ئې دي دوی: هغه ډير سخت دی

مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾

د دوی نه په قوت کښې: او وو دوی د آيتونو زموږ: انکار به ئې کولو:

مسئله د توحيد په غلورو دلائلو عقليه ... پيدا الله تعالى زمکه او وه آسمانونو ... او دوه ورځو کښې پيدا کړه او برکت ئې کښې واچولو: او په دوه ورځو کښې آسمانونه پيدا کړل. فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ مبارک ... کښې دي فی تتمة اربعة ايام: يعنې په پوره والي د غلورو ورځو کښې دوه ورځې وړاندې او دوه ورځې وروستو. سَوَاءً لِّلسَّائِلِينَ: د دې تعلق اکثرو حضراتو مفسرينو د اربعة ايام سره مقرر کړی دی: معنی دا ده چې دا اټول لپاره د غوښتونکو تهيل په غلورو ورځو کښې ونشو او چونکه په عرف کښې کوم چې غلور ويلې کيږي هغه کله د غلورو نه کم کله د غلورو نه زيات هم کيږي مګر کسر حذف کولی شي او هغه ته غلور ويلې کيږي: په دې آيت په دې کښې لفظ د سواء زيات کړ د دغه احتمال نه قطع کړې دا لپاره وښودل چې دا کار پوره په غلورو ورځو کښې تهيل شوی دی او د للسائلين فرمايلو معنی دا ده چې کوم خلق د آسمان زمکې پيدا کولو متعلق سوال کوي لکه چې يهود سوال کړی و تفسير ابن جرير او درمنثور کښې منقول دی دغه سوال کونکو ته دا خبر ورکړی چې دا ټول پيدا کول تهيل غلورو ورځو کښې شوي دي (الاكليل روح قرطبی معارف ...): فائده: معلوم د ورځو ذکر د دنيا يا د آخرت يا مثل د ورځو د عالم غيب مراد دي او معين وار دې د دنيا د ورځو نمر د حرکت نه پيدا کيږي چې نمر او د ورځو ختمه شي يا چې شمسي او د خيال نو ورځ شروع شي (انس ...) فائده: تفهيم القرآن ...

په فرمايل چې مراد د يوم نه ساعت الهی مراد دی، مګر په تفسير د سورة اعراف کښې تير شوي دي: وَهِيَ دُخَانٌ: او دا لوګی ؤ: د آسمان ماده وه (افضل ...): دغه ماده د لوګي په شان وه (جواهر ...): وَأَوْحَىٰ: او وحی راوليږله په هر آسمان کښې: يعنې په هر آسمان کښې فرښتې پيدا کړې او هغوی ته د خپلو امرونو خبر ...

تشریح: اقاله الشیخ قدس سرهٗ ئې مطلب دا دے چه په هر اسمان کښې دځپله حکمت بالغه مطابق فرښتے پیدا کړے او دٔ نورو امورو فیصله ئے وکړه (جواهر بحث) په دے ایت کښې ملائکو هم ذکور شته قرآن الفرعصرا ۲۱ ...

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي
نو راولیږله موږ په دوی باندې : سیلۍ تیزه : په
أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ
ورځو بې برکته کښې (په دې) : چه وڅکوو موږ دوی ته : عذاب
الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ
د رسوایۍ : په ژوند دنیاوي کښې : او خامخا عذاب
الْآخِرَةِ أَخْزَىٰ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ (16)
د آخرت : ډیر رسوا کونکے دے : او دوی به مدد ونکړے شي :
وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا
او هر چه ثمودیان وو : نو لاره موږ وښودله هغوی ته : نو هغوی غوره کړه :
الْعَمَىٰ عَلَى الْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَاعِقَةُ
ړوندوالے په مقابله د هدایت باندې : پس ونیول هغوی لره : چیغے د
الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (17)
عذاب : د ذلت په سبب د هغه عملونو چه دوی کول :
وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا
او بچ کړل موږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو : او وو چه
يَتَّقُونَ (18) وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ
خانونه ئے ساتلو د شرک نه : او کله چه راجمع کړے شي دشمنان د الله تعالیٰ
إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ (19) حَتَّىٰ إِذَا
اور ته : پس دوی به راغونډولے شي : تر دے چه کله
مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَ
راشي اور ته : گواهي به وکړي په دوی باندې : غوږونه د دوی : او
أَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا
سترگے د دوی : او څرمنے د دوی : په هغه عملونو چه

ع ۱۰ ۱۲

عذاب : دا دٔ تخویف اخروی دے ... لگی : مطلب ئے دا دے کړے دوی دا شیم یا ئے دٔ دوی په اعراض باندې او بیا دٔ دوی هلاک شوی قومونو چه عادیان او ثمودیان وو ذکر کوی دٔ پاره دٔ تخویف : فِي أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ په ورځو بد بختو کښې (ابن کثیر ص ۹۴) ، و گوری الحاقه ۸، ۲ ، سیپرے کړے شوے وے په دوی باندې (صاوی الرک ص ۱۳۷) دٔ دے دٔ نزول دٔ عذاب الٰهی نه دٔ دوی په حق کښې منحوسے (سپکے) وے (بیان ص ۱۹۲) : فَهَدَيْنَاهُمْ : پس لاره موږ وښوده هغوی ته په واسطے دٔ صالح علیه السلام لیکن هغوی دٔ اوریدو نه بعد په هدایت گمراهی غوره کړه ، فائده : په دے ایت کښې دٔ تخویف نه بعد بشارت مختصر دے او دٔ دے نه دٔ تخویف دنیاوی نه بعد ذکر دٔ تخویف اخروی دے : فَهُمْ يُوزَعُونَ : نو دوی به جماعتونه جوړ کړے شي (شیخ الهند رح) دوی به راغونډولے شي يحبس اولهم علی اخرهم (مدارک ص ۹۲) ، فائده : په شلم ایت کښې دٔ درے اندامونو شهادت په دوی باندې شوے دے : دا دے شهادت سورة نور ع ۲۴ او یٰس ع ۴ کښې هم ذکر شوے دٔ ...

وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ: وے وائی څرمنو خپلو ته: د څرمنو سره د خطاب تخصیص ئے د دے وجے نه وکړو چه واش ملے دی تولو اندامو نو ته ، او ګوری "تم" احسن . وَمَا كُنتُمْ: دا د اندامو نو کلام دے یا

يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ

دوی کړل : او وبه وائی دوی څرمنو خپلو ته ، ولے ګواهی ورکړه تاسو

عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي

په موږ باندې : وبه وائی څرمنې ګویانه کړو مونږ الله ، هغه ذات چه

أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ

ګویانه کړے ئے هر شی لره : او هغه پیدا کړی تاسو لره

أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَا

اول ځل : او خاص هغه ته به ورګرځولی شئ تاسو : او نه وئ

كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ

تاسو چه پټیدل لے د دے نه چه ګواهی به ورکړی په تاسو باندې :

سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ

غوږونه ستاسو : او نه سترګے ستاسو : او نه څرمنے ستاسو :

وَلَٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ

او لاکن ګمان کړو تاسو : چه یقینا الله تعالی نه پوهیږی ،

كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ

په ډیرو هغه کارونو چه تاسو ئے کوئ : او دغه ستاسو والا ګمان ستاسو

الَّذِي ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ

هغه والا چه ګمان کړے وو تاسو په رب خپل : هلاک ئے کړی تاسو :

فَأَصْبَحْتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن

پس وګرځیدئ تاسو : د تاوان کونکو نه : نو که چرے

يَصْبِرُوا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن

دوی صبر کوی : نو اور ځائے د اوسیدو د دوی دے : او که چرے

يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُم مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾

دوی رضا غواړی : نو نه به وی دوی : د رضا قبول کړے شوو نه :

او خپل الحج وهے د ان یشهد نه مخکښ من پټ دے یعنی تاسو د ګناه کولو په وقت کښ خو د انسانانو نه پټیدئ لیکن د خپلو اندامونو نه خو نه شئ پټیدلے : چه هغے نه ستاسے خلاف ګواهی ورکړی بلکه د ګناهونو ارتکاب تاسے په هغے اندامونو سره کولو : د دے وجے نه د دیو نه پټیدل ممکن نه وو بلکه ستاسے د اعمالونه ستاسے د آخرت د اعراض نه او د عیش په خوند وړو کښ د نتیجو نه خبر د اسے معلومیږی چه تا سو خیال کولو چه الله تعالی ته پټیدل ستاسے د اکثر وعملونو خبر نه وو یعنی پټ عملونه کول ئے نه پیژندل (اجوا بر نمبر ۳) : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه کفارو به ویل چه الله تعالی نه پوهیږی په هغه چه په زړونو زمونږ کښ دی او پوهیږی په هغه چه ظاهر دی . (خازن ۱۰۶/۲ ، ابن کثیر ۳۲۹)

فَمَا هُم مِّنَ الْمُعْتَبِينَ : نه به وی د عذر کړے شوو نه (فتح القدیر) ، نه به وی د هغوی توبه قبول کړے شوو نه (تشریح القرآن)

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ : تعلق د دے آیت نه تر ۲۹ پورے دویم باب دے په دې کښ اته خبرے دی : (۱) جواب د دویم شبهے ۲۵ : (۲) زجرا و تخویف اعراض کونکو ته د قرآن نه د ۲۶ نه (۳) ترغیب استقامت ته او بشارت د ۳۰

نه : (۴) طریقه د تبلیغ او ترغیب د دے ته د ۳۳ نه : (۵) دوه عقلی دلیلونه ۳۷ ، ۳۹ : (۶) نقلی دلیل د ملائکو نه ۳۸ : (۷) زجرا و تخویف منکرینو د کتاب الله د ۴۰ نه ، سره د صداقت د کتاب نه ۴۲ : (۸) تسلی نبی علیه السلام ته او ترغیب او ترهیب امت لره ۴۳ : حاصل د شبهے دا دے چه

(بقیه د دوے معنیٰ: ستا خبره تمو منلے وے خو هغوی په خوب کښ ورته وی: حاصل د جواب دا وو چه: د سټا چه پور شیخ رحمه الله بیان کړی دی: اصل خبره دا ده چه په دوی پسے شیطان لیږلے وو او وے نه هر قسم ګناه

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُم
او مقرر کړی وو مونږ دوی لره ملګری: نو ښائسته کړی وے دوی ته
مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَ
هغه عمل چه مخکښ د دوی نه وے او هغه عمل چه روستو د دوی نه وو او
حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ
ثابت شوه په دوی باندی وینا (د عذاب): په هغه ډلو کښ
قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ
چه تیرے شوی وے مخکښ د دوی نه: د پیریانو
وَالْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ (۲۵)
او انسانانو نه، یقینا دوی دی تاوان ګونکی
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا
او وائی هغه کسان چه کفر ئے کړی دے: مه ږدئ غوږ دے
الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ (۲۶)
قرآن ته: او شور کوئ په دیکښ: دپاره د دے چه تاسو زورور شئ
فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا
پس خامخا به څکو مونږ هغه کسانو ته چه کفر ئے کړے دے: عذاب
شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي
سخت، او خامخا به یقینا سزا به ورکړو هغوی ته: ډیر بد د هغه عمل
كَانُوا يَعْمَلُونَ (۲۷) ذَٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ
چه دوی به کولے: دغه سزا ده د دښمنانو د
اللَّهِ النَّارُ ۖ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ ۖ
الله تعالیٰ اور دے، دوی لره به په هغه کښ کور د همیشوالی وی
جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ (۲۸)
بدله به وی ګولے شی په سبب د هغه چه دوی به زمونږ د آیتونو سره انکار کولو

منزل ۶

روستو به عمل عبادت بیکاره کړی الخ (الفصل ۱۰۲) وَقَيَّضْنَا ۱۵۲: او مقرر کړی وو دوی لره ملګری یعنی شیطانان، آلوسی رحمه الله فرمائی چه چیرے دهوکه کښ وتالی دی او دا خبره چه کله د فریاد کولو مخلوقات نه حاجت پوره شی او طلب ئے حاصل شی نو یقینا دغه ابتلاء او امتحان د الله عزوجل نه دے او کله چه شی فریاد کونکی ته شکل د هغه ځائے چه فریاد ئے ورته کړے وی نو ګمان وکړی چه دا کرامت د هغه ځائے چه دا ورته فریاد کړے وو، او په دے ډول د دا خبره یقینا دغه شیطانان دی: اضلته واغوته وزینت هواه و ذلك كما يتكلم الشيطن به في الاصنام ليضل عبدتها الطغام: (روح ۲۴۰، صیانة الانسان ۱۰۳، جواهر ۱۶، الهام ۵۲۳) تائید ۶۷ زخرف وَالْغَوْا فِيهِ: او وائی کافران چه غوږ مه ږدئ دے قرآن ته او شور وکړی په دیکښ، حافظ رحمه الله فرمائی چه دا حال د دغه جاهلانو کافرانو وو او د هغه چا چه د هغوی په طریقه باندی چلیږی په وخت د اوریدلو د قرآن کښ (ابن کثیر ۴۸۲): جناب مفتی صاحب رحمه الله لیکی: د قرآن د تلاوت په وخت کښ خاموشی سره اوریدل واجب دی، خاموش نه کیدل د کافرانو عادت دے

اسعاف ۶۳: تائید نه شته ۲: اعراف، ۲۰۴: احقف: فائده: شور و شغب کول او عیبونه لګول، او اعتراضونه کول او توقف کول، ټولو ته دا لفظ شامل دے، د قرآن په مقابله کښ په نورو علمونو کښ مشغولیدل او شعرونه او نعتونه ویل او ریډیوګانو غږول وغیره دا ټول په د لفظ کښ داخل دی

جنة ۲۷: بدله به ورکړے شي دوی ته تحریف دے. فائده: په دے آیت کښې ورله تحریف دے (احسن ص ۳۲۰) فائده: په دے آیت کښې ورله ... انکار کوونکی (مدارک ص ۲۷۳) ربنا الذین: هغه دوه چه

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ

او وبه وائی هغه کسان چه کفر یے کړے دے: اے ربه زمونږه! راوښایه مونږ ته هغه دوه چه

أَضَلَّانَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ نَجْعَلْهُمَا

چه بے لارے کړی دی مونږه له: د پیریانو او انسانانو نه چه وګرځوو او کړو هغوی لره

تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ

لاندے د قدمونو خپلو نه: چه شی دواړه د ډلے د

الْأَسْفَلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا

لاندینو نه: یقینا هغه کسان چه وائی چه

رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ

رب زمونږ الله تعالیٰ دے: بیا ټینګ پاتے وی په دے باندے: نازلیږی به

عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَ

په دوی باندے: ملائکے دا چه مه ویریږئ او

لَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي

مه خفه کیږئ: او خوشالی اخلئ: په جنت هغه سره چه

كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ

دئ تاسو چه وعده کړے شوے ده سره: مونږ دوستان ستاسو یو

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ

په ژوندون د دنیا کښې: او په آخرت کښې

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ

او تاسو لره به وی کښې هغه شیونه دی چه خوښوی یے نفسونه ستاسو:

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلًا مِّنْ

او تاسو لره به وی کښې هغه دی چه خواهش کوئ تاسو: میلمستیا به درکړے شی د جانب

غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ

د بخښونکی رحم کوونکی نه: او څوک دے ډیر ښائسته

ع ۱۸

تښه په دلیله سبب د دے چه دوی دوی چه ګمراه کړی دی مونږه دلره د پیریانو او انسانانو نه: ثم استقاموا: د معنا تفسیر په مقابله کښې د مونږ کوو قرآن ذکر کوی او بشارت ورله په استو طریقو سره ورکوی: مفسرینو رحمهم الله د خلفاء راشدینو څلور یاری نه معنیٰ د استقامت ذکر کړیدی: فرمائی روایت کړے شوے دے د ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه هغه فرمائی: ثم استقاموا: نه شریکوی د الله تعالیٰ سره هیڅ شے لره او د عمر رضی الله عنه نه روایت شوے چه فرمائیلی دی چه کلک ودریږی په طریقه د طاعت د الله تعالیٰ باندے او د ګیدړ ا نو پشانے نه تښتی خوا پلی خوا پیدا کوی او عثمان رضی الله عنه فرمائی چه اخلاص سره هر عمل الله تعالیٰ له کوی: او علی رضی الله عنه فرمائی چه ټول فرائض پوره کوی: وګورئ قرطبی ص ۳۵۷/۱۵ روح ص ۱۲۳ ، مدارک ص ۲۷۳ ، ابن کثیر ص ۹۸ ، سراج منیر ص ۵۱۴ ، جواهر ص ۱۰۶ ، الهام ص ۴۲۹ :

وفی الآخرة ص ۱۱۳: او په آخرت کښې یعنی په آخرت کښې به هم ستاسو سره یو، پل صراط باندے میدان حشر کښې او په جنت کښې (جواهر ص ۱۰۶) او ابن کثیر رحمه الله فرمائی او د غه رنګے موږ به مونږ تاسو سره په آخرت کښې الفت به درکوو د وحشت نه په قبرونو کښې (ص ۹۸) نزلا: په دے حال کښې چه میلمستیا به وی د بخښونکی مهربانه نه: (مدارک ص ۲۷۴): ومن احسن ص ۳۳: دا طریقه د تبلیغ ده: ترغیب دے اتباع ته چه دوی به خوشحالوی خوښ وی درته وایه چه راشه مسئله وا وره بیا ستا اختیار دے او که مخالف بدی کوی خو ته نیکی کړه نو د غه مخالف به ستا خپل شی: د بدی په مقابله کښې نیکی کول د صابرانو او خوش قسمته خلقو کار دے: (انفال ۶)

قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ إِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ
په وینا کښې د هغه چا نه چه بلنه کوي : الله طرف ته : او عمل کوي

صَالِحًا وَّقَالَ إِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾
نېک ؛ او وائي ؛ یقیناً زه ؛ د ډلې د مسلمانانو نه یم ؛

وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ؕ
او نه برابرېږي ؛ نېکي ؛ او نه ؛ بدي ؛

اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا
دفع کوئ (بدي لره) په هغه طریقه چه هغه ډېره ښائسته وي ؛ نو ناڅاپه

الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ
هغه کس چه په مینځ ستا ؛ او په مینځ د هغه کښې دشمني وي ؛

كَأَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾ وَمَا يُلَقّٰهَآ
ګویا که هغه په دوست (ګرم) خالص دی ؛ او نشي ورکولے دا خصلت ؛

إِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَآ
مګر هغه کسانو ته چه صبر کوي ؛ او نشي ورکولے دا خصلت ؛

إِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ
مګر خاوند د لوئې برخې لوئې ته ؛ او چرته خاطر او رسېږي تا ته

مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ
د شیطان نه ؛ وسوسه ؛ نو پناه غواړه په الله تعالیٰ سره ؛

إِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنْ
یقیناً هغه اورېدونکے د هر څه ؛ پوهه په هر څه دے ؛ او بعض د

اٰيٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ
دلیلونو د الله نه : شپه او ورځ ؛ او نمر ؛

وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا
او سپوږمۍ دي ؛ سجده مه کوئ ؛ نمر ته ؛ او نه

إِلَى اللّٰهِ : یعني توحید د الله تعالیٰ ته او طاعت د الله تعالیٰ ته او ظاهره دا عموم دے چه په هر دعوت ورکوونکي کښې او د ټولو صاحب کرے دے حسن او مقاتل او یو جماعت (روح المعاني) او دا عام دے په هر هغه چا کښې چه دعوت ورکوي خیر ته الخ (ابن کثیر) فائده : په دې آیت کښې درې اداب د مبلغ او د داعي دي، وَقَالَ إِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ؛ او دا وائي چه زه د مسلمانانو نه یم ، مطلب دا دے چه په دې فخر او خوشالي کوي چه طمع د هغه دا نو قطعه شي (سراج منیر) ؛ یا په وخت د ضرورت او د تپوس کولو کښې وائي : وګورئ احسن ۳۴۳ په ۳۳ کښې دوه او یو نور د داعي دي ؛ وَمَا يُلَقّٰهَا ؛ او نشي ورکولے دا خصلت مګر صابرانو ته (فتح ۵ ۱۵) : وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ ۳۶ : دې کښې بل ادب دے : او اعراف ۲۰۰ کښې هم تېر شوي دي — فائده : په استعاذه امر رافع دے په وقت د اراده د لوستلو د قرآن کښې لکه ۹۸ نحل ؛ او په وقت د وسوسې او غصې کښې لکه دلته او اعراف ۲۰۰ کښې : لَا تَسْجُدُوْا ۳۷ : د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته سجده کول جائز نه دي : (معارف ۶۵۹) وګورئ نهل ۲۵ ⁂

لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّٰهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ

سپوږمۍ ته : او سجده کوئ الله ته هغه ذات ته چه پیدا کړي دي دا :

إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿۳۷﴾ فَإِنِ

که چرے یئ تاسے ، خاص هغه لره : بندګي کوونکي : نو که چرے :

اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِنْدَ رَبِّكَ

لویي کوي دوي : پس هغه کسان چه په دربار د رب ستا کښې دي

يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ

تسبیح وائي : هغه لره : د شپے : او د ورځے :

وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴿۳۸﴾ السجدة وَمِنْ آيَاتِهِ

او دوي نه ستړي کیږي : او بعض د دلیلونو د توحید د الله تعالیٰ نه

أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ خَاشِعَةً

دا دي چه یقیناً ته وینې : زمکه : او چه :

فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ

پس کله چه رالیږو مونږ په هغے باندے : اوبه : تازه شي :

وَرَبَتْ ۚ إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا

او لوئیږي : یقیناً هغه ذات چه تازه کړے ئے دے دا :

لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۚ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

خامخا ژوندی کوونکے د مړو دے : یقیناً هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۳۹﴾ إِنَّ الَّذِينَ

شي باندے قدرت والا دے : یقیناً هغه کسان چه

يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ

کجروي کوي : په ایتونو زمونږ کښې : نه شي پټیدے

عَلَيْنَا ۗ أَفَمَنْ يُلْقَىٰ فِي النَّارِ

په مونږ باندے : آیا پس هغه څوک چه غورځولے شي : په اور کښې :

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا : دا زجر دے په پریښودلو د سجدے د وجے د استکبار نه او نقلي دلیل دے د ملائک علیهم السلام نه : د عوی ع انبیاء علیهم السلام . إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ ، دا متعلق دے د آیت ۲۶ سره : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چه الحاد اچولو د کلام دی په غیر د ځایونو خپلو نه (ابن کثیر). جناب مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چه خلاصه دا ده چه الحاد دیو قسمه کفر د منافقت دے چه په ظاهره کښې د قرآن او آیتونو د قرآن دعوی او اقرار کوي لیکن د قرآن د آیتونو معنا کانے داسے کوي چه د نورو نصوصو قرآني او د سنت او د اصولو د اسلام سره منافي وي. امام ابو یوسف رحمه الله په کتاب الخراج کښې فرمائي : كذلك الزنادقة الذين يلحدون وقد كانوا يظهرون الاسلام : د دے نه معلومه شوه چه ملحد او زندیق دواړه په یوه معنی دي : دا داسے کافر ته ویلے کیږي چه په ظاهره کښې د اسلام دعوی کوي او په حقیقت کښې د دے د احکامو د تحمیل کولو د انحراف دا بهانه جوړه وي چه د قرآن معنے داسے چیږي چه خلاف د نصوصو او د اجماع د امت نه وي :

(معارف ص ۶۵۹ ج ۷)

اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ: مدارک کښې دی چه دا انتهاء ده په رټنه کښې او مبالغه ده په دهمکۍ ورکولو کښې (مدارک ص): اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ: خبر د اِنَّ محذوف دے ، اَی يعذبون عذابه ورله ورکړے شي (مدارک ص)؛ بيا صداقت د قرآن او تسلي ده: وَلَوْ جَعَلْنٰهُ ...: کوم خلاصه نه اخري دريم باب د دے سورت دے او په دے کښې اهم پنځه خبرے دی: (١) د دے امشلوبے شبهے جوابونه ...، (٢) دلائل عقليه ...، (٣) زجر عظيم کافرانو ته ...، (٤) زجر منکرينو د قرآن ته ...، (٥) زجر منکرينو د اخرت ته ...: شبهه:- کفارو به د ضد د وجے نه ويلے چه ولے دا قرآن په لغت د عجمو باندې نه دے راغلے؟ نو وويلے شو په جواب د دوی کښې لَقَالُوْا الخ: (مدارک ص): حاصل د جواب دا دے چه دوی به بيا ويلے چه ولے واضح نه دے بيان شوی ځکه چه کوم وضاحت په عربۍ کښې دے نو دا بهرله ژبه کښې نشته او دا به ئې ويلے آيا قرآن په عجمي ژبه دے او پيغمبر عربي دے (خوئے بد بهانه بسيار): بيا دوه فائدے او دوه نومونه د قرآن ذکر کوی: بقره ...، يونس ...، اسراء ... هم ذکر دی او بالمقابل کفارو لره سبب د روند والی دے او په غوږو ئې کښې درنښت والے دے: ... آيت کړے سورت ذکر دی:

خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِيْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ

غوره ده که هغه څوک چه راشي: امن والا: په ورځ د قيامت :

اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

عمل کوئ د هغه چه خوښه ئې ستاسو يقيناً الله تعالیٰ په هغه څه چه تاسې کوئ

بَصِيْرٌ ﴿٤٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

ليدونکے دے : يقيناً هغه کسان چه کفر ئې کړے دے :

بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ

په نصيحت (القرآن) هر کله چه راغے دوی ته : او يقيناً دا :

لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ﴿٤١﴾ لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ

خامخا کتاب زورآور دے : نه راځي ديته باطل :

مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ

د مخے د دے نه : او نه د روستو د دے نه :

تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿٤٢﴾ مَا

نازل کړے شوے دے د طرفه د حکمت والا : ستائيلي شوي نه : نه

يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ

ويلے کيږي تاته : مگر هغه چه ويلے شوي دی

لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

رسولانو ته : مخکښې ستا نه : يقيناً رب ستا :

لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٤٣﴾

خامخا خاوند د مغفرت : او خاوند د عذاب دردناک دے :

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا

او که ګرځولے وے موږ دا کتاب لوستلے شوے په عجمي ژبه نو خامخا به ئې ويلي وو

لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ ءَاَعْجَمِيٌّ

ولے واضح نه دی بيان شوي آيتونه د دے : آيا کتاب عجمي دے :

وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
او پېغمبر عربي وي. ووايه دا کتاب: دغه کسانو لره چې ايمان ئې راوړی دی
هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ لَا
هدايت: او شفاء دی: او هغه کسان چې ايمان
يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّ
نه راوړي: په غوږونو د هغوی کښې درونوالی دی: او
هُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ
دا (قرآن) په هغوی باندې پړوندوالی دی: دغه کسان:
يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾
اواز کولی شي دوی ته: د ځائې لرې نه:
وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ
او يقيناً ورکړې وو موږ: موسیٰ علیه السلام ته کتاب:
فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ
نو اختلاف وکړې شو په هغه کښې: او که چرې نه وې کلمه: چې
سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ
مخکښې مقرر شوې د رب ستا نه: خامخا فيصله کړې شوې وه په مينځ کښې د دوی:
وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾
او يقيناً دوی خامخا په شک کښې دي د دې نه: چې پوخ شک کښې:
مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ
هر چې عمل وکړو د نيکئ: نو د فائدې د ځان د پاره ئې دی:
وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ
او چا چې بدي وکړه: نو ضرر ئې په هغه دی: او نه دی رب ستا:
بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾
هيڅ ظلم کوونکی په بندګانو باندې:

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا: او دا د يو شبهې جواب دی: شبهه دا وه چې دا قرآن په پوخطو ولې نه دی نازل شوی: وګورئ فرقان ۳۲: حاصل د جواب دا شو چې موسیٰ علیه السلام ته چې تورات په يو ځل ورکړې شوی وو نو په هغې کښې هم اختلاف کړې شوی وو: د شاه صاحب او شيخ القرآن رحمه الله فرمائي دوی بل اعتراض وکړو که دا د الله تعالیٰ کتاب وی نو خلقو به ولې په دې کښې اختلاف کاوه: نو باري تعالیٰ جواب کوي چې اختلاف خو مخکښې د موسیٰ علیه السلام کتاب کښې هم شوی وو، او اختلاف خو دليل د باطلوالي نه دی:

(افضل ۱۱۱): وَلَوْلَا كَلِمَةٌ: دا جواب د سوال دی چې هر کله دا حق کتاب دی نو په انکار کوونکو عذاب ولې نه راځي؟ جواب: نه راځي د عذاب په حکم تقدير سره راځلې دی: او په ايت ۵۲ کښې د دواړو ډلو حال ذکر شوی دی: بِظَلَّامٍ: په معنیٰ د ذو ظلم دی يعنې هيڅ ظلم په بندګانو خپلو نه کوي: وګورئ يونس ۴۴ ۞

الحمدلله د کاتب صاحب د ليکلو نه بعد نظر د تصحيح د پاره په ۳/۳۵ بجې - ۱۹ - اپريل ۲۰۰۸ء په توحيد اباد کښې ختم ته ورسيده - غفرله (خ)

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ

خاص الله ته واپس کیږي پوهه د قیامت، او نه راوزي هیڅ

ثَمَرَاتٍ مِنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ

میوې د کڅوړو خپلو نه، او نه بار وړي هیڅ زنانه

وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ

او نه یې زیږوي مګر په علم د الله سره، او کله چې آواز اوکړي الله دوی ته

شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِنْ شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾

چرته دي شریکان زما، اووايي دوی خبره درکړې ده تا ته نشته زمونږ څوک ګواهي ورکوونکی

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَدْعُونَ مِنْ قَبْلُ ۖ

او ورک به شي د دوی نه هغه معبودان چې دوی به بلل پخوا

وَظَنُّوا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَا يَسْأَمُ

او ګمان به وکړي دوی چې نشته دوی لره هیڅ خلاصي، نه ستړی کیږي

الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ وَإِنْ مَسَّهُ

انسان له غوښتلو د خیر نه، او که ورسیږي هغه ته

الشَّرُّ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً

تکلیف نو ناامیده کوونکی ... وي، او که وڅکوو مونږ هغه ته رحمت

مِنَّا مِنْ بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا

د طرف خپل نه پس د ضرر نه چې رسیدلی وي ده ته، خامخا وايي دا

لِي وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُجِعْتُ

ما لره دی، او ګمان نه کوم زه چې قیامت به قائم شي، او که بیرته واپس کړی شم

إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ

رب خپل ته یقیناً ما لره به د هغه سره خامخا ښېګړه وي، پس خامخا به خبر ورکړو

الَّذِينَ كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنْ

هغو کسانو ته چې کفر یې کړی دی په هغه عملونو چې دوی کړي دي، او خامخا یقیناً به دوی ته وڅکوو

إِلَيْهِ يُرَدُّ: دا ویل حقل دي، او نفي د علم غیب ده د مخلوقاتو نه په دریو طریقو سره خاص الله تعالیٰ ته واپس کیږي علم د قیامت، او کړه اعراف ۱۸۷، او نه راوزي هیڅ میوې د غوټیو نه او حمل نه اخلي هیڅ زنانه او نه یې زیږوي مګر په علم د الله تعالیٰ، اوګورئ ۵۹ انعام ۳۴ لقمان.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ

زجره کفارو ته، اوګورئ ... ۲۲ انعام ۲۳.

لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ

وابل زجرونه، اوګورئ هود ... یونس ۱۲، زمر ...

د آیت ۵۳ حاشیه

قُلْ أَرَأَيْتُمْ ... دا آیات د تولو زړونو سره تعلق لري، چې قرآن د الله له طرفه دی او دوی ترینه انکار کوي او قسم تا ته کوي نو یقیناً دوی غټ ګمراه او په خلاف کښې دي د حق نه ... سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا دا د عذاب د دنیا بیان دی چې په دوی تکلیف راولو هم د قحط او هم د مرضونو او د مړګونو چې دوی ته پته اولګي چې بغیر د الله نه څوک متصرف نشته چې نه دوی نه دا تکلیف لرې کړي ...

أَلَا إِنَّهُمْ فِي مِرْيَةٍ ... آیت کښې زجر دی او آخر کښې تخویف دی چې د الله تعالیٰ په هر شي ...

احاطه کړیدی په هر څیز باندې د هغه نه بچ نه شي ، لهذا اووایه دوی ته چې د خپلو بدو عزائمو نه ملاو شوی [امتیازات]

① ذکر د عناد د عادیانو او ثمودیانو ② تفصیل د پیدائش د زمکې او آسمانونو ③ رد په عبادت غیرالله ٣٧ ④ طریقه د تبلیغ ٣٤ ⑤ د خاصو غلطو شبهو جوابونه ۔

عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ

د عذاب سخت نه ۔ او کله چې انعام اوکړو مونږ په انسان باندې ؛

أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ ۚ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُو

نو مخ واړوي او لرې شي په اړخ خپل ، او کله چې ورسیږي دده ته مصیبت نو خاوند

دُعَاءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ

د دعا پلنې دی ۔ او وایه خبر راکړئ ما ته که چرته وي دا قرآن د جانبه

عِنْدِ اللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُمْ بِهِ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ

د الله تعالیٰ نه ، بیا کفر کوئ تاسو په دې باندې ، نو څوک لوی ګمراه دی د هغه چا

هُوَ فِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي

چې هغه په خلاف لرې کښې وي ۔ زر دی چې وښایو دوی ته دلیلونه خپل

الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ

په طرفو د دنیا کښې او په نفسونو د دوی کښې ، ترڅو چې ښه واضح شي دوی ته

أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ

چې دا حق دے ۔ آیا او نه دے بس رب ستا ، چې یقیناً هغه په هر

كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ أَلَا إِنَّهُمْ فِي مِرْيَةٍ

شي باندې خبر حاضر ناظر دے ۔ خبردار ! یقیناً دوی په شک کښې دي

مِنْ لِقَاءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَا إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطٌ ﴿٥٤﴾

د ملاقات د رب خپل نه ۔ خبردار ! یقیناً هغه په هر شي باندې ګیره کوونکے دے ۔

سورة الشورى مكية ٤٢ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ركوعاتها ٥ — آياتها ٥٣

حم ﴿١﴾ عسق ﴿٢﴾ كَذَٰلِكَ يُوحِي إِلَيْكَ وَإِلَى

الله عالم دے په مراد د دې حروفو ، دغه رنګه وحي رالیږي تا ته ؛ او هغه

الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣﴾

کسانو ته چې مخکښې ستا نه دي ؛ الله تعالیٰ زورور ، حکمتونو والا ؛

الحمد لله د حم السجدة تفسیر ختم شو ... ربیع الثانی ... په ورځ د ... باندې په توحید د ... سورة حم السجدة تفسیر ختم شو ۔

سورة شورى ترتیب کښې ٤٢ نزول کښې ٦٢ پس د حم السجدة نه مکی سورت دے وجه د تسمیه په شورى باندې دا ده چې دا لفظ په ٣٨ آیت کښې راغلے دے

دعویٰ : دفعه د درې شبهو نو د جوابونو کښې په توحید باندې په ... کښې ۔ ربطونه : ① مخکښې سورت کښې د غلطو شبهو جوابونه ورکړی شوی دی هغه د دریو نورو شبهو جوابونه دی ② مخکښې صداقت د قرآن بیان شو نو دلته هم ③ مخکښې د شبهو بیان وو نو دلته شبهو کښې ... ④ مخکښې سورت کښې تاته شروع چې سجده یو الله تعالیٰ ته وکړئ نو دلته فرمائی چې په دې سره مشوره شوي ⑤ دا سورت په نزول کښې د مخکښې سورت نه پس وو نو ترتیب کښې هم د هغه نه روستو راغلے چې ترتیب د نزول سره موافق شي

خلاصه :- په دې سورت کښې درې بابونه دي اول تر ٢٩ پورې دویم تر ٥٣ پورې دریم تر آخره پورې په اول باب کښې اتهه خبرې بیان شوي دي ① جواب د اول شبهې ٦ ، ١٠ ② جواب ... ٣ ، ١٢ ، ٥ ③ د دویمې شبهې جواب ... ④ عقلي دلائل ١٤ ⑤ وحي دلیل ...

كَذَٰلِكَ : ترغیب دے قرآن ته او جواب د شبهې دے ۔ فتح القرآن رحمه الله فرمائیلي دي چې دا ته چې کوم خبرې کوي په کښې بیره ووې نه په دې باندې الله تعالیٰ نه دي راليږلي نو جواب یې ورکړو چې دے باندې الله تعالیٰ نورو نبیانو ته وحي کړیده نو ته

کښې عناد لمنه بیم اسطارہ ... ، نسفی رحمه الله وائی په مثل د دې وحي ۔ اوکله مثل د دغه کتاب وحي کوي تاته او هغه نبیانو ته چې مخکښې ستا نه دي ، الله زورور حکمتونو والا ۔ ... او ذکر د صفات د پاره د استمرار او بیان د عادت دے یعنی عادت د الله همیشه دپاره جاری دے چې نبیانو ته وحي کوي ۔ اوګوري جامع البیان ... جواهر ... (باقي په راتلونکي مخ کښې)

(بقیه) **فائده:** ... ذکر شویدی او په دغه کښې اثبات د تصرف وشو هغه لره او نفی د شرک فی التصرف ده ...

لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ وَهُوَ

خاص هغه لره هغه دی چه په اسمانونو کښې دی او هغه چه په زمکه کښې دی او هغه

الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝٤ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ

اوچت او لوئی شان والا دے، نزدے ده چه اسمانونه اوچوی

مِنْ فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ

د پاسه طرف د دوی نه، او ملائکې تسبیح وائی سره د حمد

رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ۗ

د رب خپل نه او بخښنه غواړی د هغه چا دپاره چه په زمکه کښې دی

اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝٥ وَالَّذِيْنَ

خبردار یقیناً الله دا بخښونکے رحم کونکے دے، او هغه کسان چه

اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ اللّٰهُ حَفِيْظٌ

نیولی یے دی بیرته د الله نه مددګاران، الله نګهبان دے

عَلَيْهِمْ ۖ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝٦ وَ

په دوی باندے، او نه یے ته په دوی باندے ذمه وار، او

كَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ

دغه شان وحی کړے مونږ تا ته قرآن د عربی ژبے والا چه وویرے

اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنْذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ

ته اصل د کلو او هغه چا لره چه چاپیره د هغے دی او وویرے خلق د ورځ د جمع کولو

لَا رَيْبَ فِيْهِ ۗ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ

چه نشته شک په هغے کښې، یوه ډله به په جنت کښې وی او یوه ډله به په

فِي السَّعِيْرِ ۝٧ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً

اور کښې وی، او که چیرته غوښتے الله نو ضرور به یے ګرځولی دوی ټول

وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ

یوه، ولیکن داخلوی چا لره چه اوغواړی په

د پاسه طرف د اسمانونو نه. چې دا چاودل به د یو بل اسمان نه شروع شی. شاه صاحب رحمه الله وائی چې د تعجیب الهی نه (توضیح)، قرطبی کښې د ابن عباس رضی الله عنه نقل یې دے او وجه ددے قول اَلْمُشْرِکُوْنَ ته چې وائی اِتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا. او کوری مریم ۹۰. وَالْمَلٰٓئِكَةُ دلیل نقلی وشو د ملائکې نه او دفع د سوال دے چې بیا ولے نه چوی نو جواب به ورکړے شی چې صافه دچاودلو نه تسبیح حمد او استغفار ملائکو کوی. لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ددے نه مراد مؤمنان دی او کوری سورة مؤمن دغه ۷ او ګوری قرطبی ...، ځکه چې کفار لره د استغفار غوښتلو ممانعت راغلے دے او ګوری (توبه ۱۱۳). **فائده:** اضافی ... وائی چې دا حدیث شریف لَاصَلٰوةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ د نزد محدثینو په بناء د امام او منفرد په ښه خاص دے او مقتدی ترینه مستثنی دے نزد د هغوی دلیل دا دے آیت دے هم کیدے شی چې کله د مَنْ کله خاصه هم راځی د وجه د قرینے نه. وَالَّذِيْنَ ... دا د دوی د عذاب د بیان نه خبر دے. وَكَذٰلِكَ دا تسلی ده چې ته ذمه وار نه یے بلکې مُنْذِر یې. وَمَنْ حَوْلَهَا او هغه چې چاپیره د مکې مکرمے نه دی. مولانا عبدالماجد رحمه الله فرمائی چې صرف د عرب قبائل مراد نه دی بلکې ټول عالم مراد دے (ماجدی ۹۶۶) **فائده:** ددے نه معلومه شوه چې نبی ﷺ عالمی پیغمبر دے او قرآن هم عالمی کتاب دے او دغه وجه ده چې مفسرین فرمائی چې

ورنه مراد ټول کلی د زمکے او ټول خلق عرب او عجم. او ګوری خازن ...، قرطبی ...، مواهب القرآن ص ۴۹۹، الهام ص ۵۳۵. وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ ددے آیت کریمه کښې دفع د سوال ده چې قرآن د هدایت کتاب دے او نبی ﷺ د انذار دپاره راغلے دے نو ټول خلق ایمان ولے نه راوړی؟ جواب ورکړے شو چې هدایت د الله په اختیار کښې دے ... په خپل رحمت کښې داخلوی او ظالمان د ظلم په وجه د هدایت نه محروم کوی ...

رَحْمَتِهٖ وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِيٍّ وَّلَا

رحمت خپل کښې : او ظالمان نشته دوی لره هیڅوک څوک کار (حمایتي) او نه

نَصِيْرٍ ﴿٨﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ فَاللّٰهُ

مددګار : آیا نیولي دي دوی : سوا د الله نه مددګاران : نو الله تعالیٰ

هُوَ الْوَلِيُّ وَهُوَ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

خاص هغه مددګار دی او هغه ژوندي کوي مړي لره : او هغه په هر شي باندې

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٩﴾ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ

قدرت والا دی : او هغه چه اختلاف کوئ تاسو په هغه کښې د هر شي نه

فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ

نو فیصله د هغه حواله ده الله تعالیٰ ته : هغه ذات الله تعالیٰ دی : رب زما : خاص په هغه

تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿١٠﴾ فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ

باندې ما توکل کړی دی او خاص هغه ته رجوع کوم زه : اول پیدا کونکی د آسمانونو

وَالْاَرْضِ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا

او د زمکې دی : پیدا کړي دي تاسو لره د جنس ستاسو نه : جوړې

وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ لَيْسَ

او د چارپایانو نه هم جوړې : خوروي تاسو لره په دې تدبیر کښې : نشته

كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿١١﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ

په مثل د هغه هیڅ شي : او هغه اوریدونکی ښه لیدونکی دی : د هغه دي خاص خزانې

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

د آسمانونو : او د زمکې دي : فراخه کوي رزق چالره چه

يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١٢﴾ شَرَعَ

خوښه شي : او تنګوي یې : یقیناً هغه په هر شي باندې پوهه دی : مقرر کړې

لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا

دي تاسو لره د دین نه : هغه چه وصیت کړی په هغه باندې نوح ته :

اَمِ اتَّخَذُوْا ﴿٩﴾ : دا د شرك نفي ده. وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ : په دې آیت کریمه کښې د دوېمې شبهې جواب دی چه پخوانو کتابونو یا علم کتابونو سره اختلاف دی. حاصل د جواب دا دی چه د ټولو اختلافاتو فیصله به په کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کوو. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه یعنې الله تعالیٰ فیصله کونکی دی په دې کښې په کتاب خپل او په سنت د نبي خپل باندې صلی الله علیه وسلم (ابن کثیر)

يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ : زیاتوي تاسو لره په دې ذکر شوي تدبیر کښې (روح المعاني، مدارك) او وګورئ نحل ٧٢، انعام ١٣٩.

لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ : او وګورئ سورة الاخلاص ٤.

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ : الزمر ٦٣ او ٦٢ او وګورئ.

شَرَعَ لَكُمْ : مقرر کړې یې دي ستاسو دپاره (فتح ٥٦).

فائده :

علامه خازن رحمه الله فرمائي چه دلته پنځو نبیانو ذکر په خصوصي طور او کړو ځکه چه دوی مشران د انبیاؤ دي او خاوندان د لوئي شریعتونو او د ډیرو تابعدارو او اولوالعزم دي. (٩٢)

أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ: چه ودروئ دين لره ، دا يا منصوب دے بدل دے د مفعول د شرع نه او د دواړو معطوفونه نه او يا مرفوع دے خبر د مبتدا محذوف دے جواب دے د سوال ، دا ذلك المشروع ؟ نو فقيل هو اقامة الدين . چه د تفرق نه منع شوے نو او وئيلے شو دا اقامت د دين دے (مدارک ص)

وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ

او هغه چه وحي کړے مونږ تا ته او هغه چه وصيت مونږ کړے په هغه باندے

إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا

ابراهيم ته او موسى ته او عيسى ته چه اودروئ

الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ

دين لره او مه جدا کيږئ په دے کښے ، گران دے په مشرکانو باندے

مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ

هغه دين چه ته يې ورته دعوت کوے ، الله غوره کوي خپل طرف ته چا لره چه

يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ ١٣ وَمَا تَفَرَّقُوا

وغواړي ، او هدايت ورکوي خپل طرف ته هغه چا لره چه رجوع کوي هغه ته ، او نه دي

إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ

جدا شوي مگر پس د هغه نه چه راغلے دوي ته علم د وجه د ضد کولو په خپل مينځ کښے

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ إِلَىٰ أَجَلٍ

او که چرے نه وے کلمه مخکښے تيره شوے د رب ستا نه تر نيټے

مُسَمًّى لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ

مقررے پورے نو خامخا به فيصله شوے وه په مينځ د دوي کښے ، او يقيناً هغه کسان چه

أُورِثُوا الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِهِمْ لَفِي شَكٍّ

ميراث کړے شوے ورکړے شوے کتاب پس د هغوي نه ، خامخا په شک کښے دي

مِنْهُ مُرِيبٍ ١٤ فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ ۖ وَاسْتَقِمْ

د هغه نه په قوي شک کښے ، نو د دے وجه نه دعوت ورکوه ، او ټينگ شه ځنگه چه

كَمَا أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ۖ وَقُلْ

امر کړے شوے تا ته ، او پيروي مه کوه د خواهشاتو د دوي ، او وايه

آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنْ كِتَابٍ ۖ وَأُمِرْتُ

چه ايمان راوړے ما په هغه چه نازل کړے الله تعالى د هر کتاب نه ، او امر کړے شوے ما ته

فائده :- د دے آيت نه مطلب دا دے چه د الله تعالى په توحيد او په تمام ضروريات د دين باندے ايمان راوړي او د دے د احکامو اطاعت اوکړي (جواهر ص، انبياء).

فائده :- اقامت د دين فرض دے او په دے کښے تفرق حرام دے (معارف ص) د آئمه مجتهدينو فروعي اختلافات په تفرق ممنوعه کښے داخل نه دي (معارف ص)

وَمَا تَفَرَّقُوا : دا دويم باب دے تر ٣٠ پورے په دے کښے فيز خبر دي (١) جواب د دويم شبهے (٢) لس امور د پاره د تثبيت او د تعميم (٣) زجرونه (٤) تخويف د آخرت او د دے کښے شبهه سره او د دويم سره متعلق دے (٥) عقلي دلائل په ١٩ ، ٢٨ ، ٢٩ کښے (٦) بشارت ٢٢ ، ٢٥ ، ٢٦ کښے . دا دفع د سوال ده چه هر کله خلقو انبياء عليهم السلام يو دين توحيد ورو نو تفرق ولے راغے . نو جواب د شروع نه راغلے دا چه ولے دوي د ضد او عناد د وجے نه اختلاف اوکړو . او گوره ١٩ آل عمران ، ١٧ جاثيه . فائده : شيخ القرآن رحمه الله فرمائي چه دريمه شبهه دا ده چه ته د ټولو خلقو نه خلاف يے ، جواب دا دے چه هغوي تفرق د وجے د بغاوت نه الله تعالى ذکر کړے دے او په کتابونو کښے ئے داسے شيونه داخل کړي دي چه اذن ئے الله تعالى نه دے ورکړے (بلغة الحيران)

فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ : پس د دے د وجے نه چه تفرق شروع شو او د دوي په وجه کفر په مختلفو طريقو سره په زړو د خلقو کښے شو ، دعوت ورکوه (روح ص) فائده :- حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه دا آيت کريمه مشتمل دے په لسو کلمو مستقلو باندے هر يو مستقل دے د مخکښنۍ نه په خپل حکم سره . علماء وائي چه د دے نظير نشته سوا د آيت الکرسي نه هغه هم لس فصلونه دي

(بقیه) پښتان دي ــــ ۹۱ ، فَذَٰلِكَ فَادۡعُ : نو ددې وجې بل خلق توحید ته . بلخلق توحید ته اوګوره ې ديونس .
یعني قام دوه ټلې ، دوه پارې د تاګیں .

لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡۖ لَنَآ
چه انصاف وکړم په مینځ ستاسو کښې ، الله رب زمونږه او رب ستاسو دے ، مونږه لره
أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡۖ لَا حُجَّةَ بَيۡنَنَا وَ
عملونه زمونږه دي ، او تاسو لره عملونه ستاسو دي ، نشته هیڅ جګړه په مینځ زمونږ کښې او
بَيۡنَكُمُۖ ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَاۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ⑮
په مینځ ستاسو کښې ، الله به جمع والے اوکړي په مینځ زمونږ کښې ، او خاص الله ته واپسي ده ،
وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا
او هغه کسان چه جګړه کوي ، په توحید د الله تعٰ کښې ، پس د هغه نه چه
ٱسۡتُجِيبَ لَهُۥ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِندَ رَبِّهِمۡ
قبول کړے شو دے هغه لره ، دلیل د دوي باطل دے ، په نزد د رب د دوي ،
وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ وَلَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٌ ⑯
او په دوي باندې غضب دے ، او دوي لره عذاب سخت دے
ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ وَٱلۡمِيزَانَۗ
الله تعٰ هغه ذات دے چه نازل کړے یې دے کتاب په حقه سره ، او تله (عدل)
وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّ ٱلسَّاعَةَ قَرِيبٞ ⑰ يَسۡتَعۡجِلُ
او څه شي خبر کړے تا لره ، چه شاید قیامت نزدې دے ، تلوار کوي په
بِهَا ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهَاۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
دې سره هغه کسان ، چه ایمان نه راوړي په دې باندې ، او هغه کسان چه ایمان یې راوړے
مُشۡفِقُونَ مِنۡهَا وَيَعۡلَمُونَ أَنَّهَا ٱلۡحَقُّۗ أَلَآ
ویریدونکي دي د دې نه ، او پوهیږي چه یقیناً دا قیامت حق دے ، خبردار
إِنَّ ٱلَّذِينَ يُمَارُونَ فِي ٱلسَّاعَةِ لَفِي
یقیناً هغه کسان چه جګړه کوي ، په باره د قیامت کښې ، خامخا په
ضَلَٰلِۭ بَعِيدٍ ⑱ ٱللَّهُ لَطِيفُۢ بِعِبَادِهِۦ يَرۡزُقُ
ګمراهۍ لرې کښې دي ، الله ډیر مهربان دے ، په بندګانو خپلو ، روزي ورکوي

(۲) وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ : یعني څنګه چه تا ته امر شوے هغے دعوت ته ودریږه . هود ۱۱۲ . (۳) وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ : او تابعداري مه کوه د خواهشاتو د دوي ۲۰ .
(۴) وَقُلۡ ءَامَنتُ الخ او په دعوت کښې دا وایه چه ایمان راوړے دے ما په هغه چه نازل کړې دي الله تعٰ د هر کتاب نه ۱۵۸ اعراف . (۵) وَأُمِرۡتُ لِأَعۡدِلَ بَيۡنَكُمُ : او ما ته امر کړے شوے دے چه عدل او انصاف وکړم په مینځ ستاسو کښې په بیانولو د کتاب او په دعوت د توحید سره ۹۰ نحل .
(۶) ٱللَّهُ رَبُّنَا الخ الله رب زمونږ او رب ستاسو دے نو څنګه مو هغه ته نه بلکم ۶۴ آل عمران . (۷) لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا الخ : مونږ لره عملونه زمونږ دي چه د شرک نه پاک دي . او تاسو لره ستاسو عملونه دي چه مرکب مشرکانه دي ۱۳۹ بقره . (۸) لَا حُجَّةَ الخ : یعني دا دعوت محض د خیرخواهۍ په بنیاد دے نو جګړه او خصومت څه وجه نشته ۱۳۹ بقره . (۹) ٱللَّهُ يَجۡمَعُ بَيۡنَنَا : الله تعٰ به جمع والے اوکړي په مینځ زمونږ کښې نو د حق پرست او باطل پرست به اوکړي فیصله ــــ .
(۱۰) وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ څنګه چه هغه ته واپسي ده ۳ مؤمن .
حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ : دلیل د دوي باطل دے په دربار د الله تعٰ کښې (ابن کثیر ۱۱۰).
وَٱلۡمِيزَانَ .
او تله نه دلیلونه دوه مراد تره نه عدل دے . دا خبره ابن عباس رضی الله عنهما او اکثرو مفسرینو کړې ده . او عدل مسمٰی شوے دے په تله باندې څکه چه تله آله د انصاف او د عدل ده (قرطبي ۱۵/۱۲۹) حدید ۲۵ اوګورئ .

مَنْ يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَنْ كَانَ

چاله چه وغواړی: او الله تعالیٰ قوت والا ؛ زورور دے ؛ څوک چه وی چه

يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ ۖ وَ

اراده لری د فصل د آخرت ؛ مونږ به ورله زیات کړو ده لره فصل هغه کښې او

مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا

څوک چه وی اراده لری د فصل ؛ د دُنیا ، ورله به کړو ده ته د هغه نه

وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴿٢٠﴾ أَمْ لَهُمْ

او نه به وی ده لره په آخرت کښې ؛ هیڅ برخه ؛ آیا شته دے دوی لره

شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ

شریکان د الله تعالیٰ چه جوړ کړی دی دوی لره د دین نه ؛ هغه څیز چه اجازه نه وی

يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ

کړے په هغه باندے الله تعالیٰ ؛ او که چرے نه وے کلمه د فیصلے ؛ نو ضرور به فیصله

بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾

شوے وے په مینځ د دوی کښے ؛ او یقیناً ظالمان دوی لره عذاب دردناک دے ؛

تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا كَسَبُوا وَهُوَ

وینے به ظالمان ویریدونکی به وی ؛ د هغه عمل نه چه دوی کړی دی ؛ او سزا د هغه

وَاقِعٌ بِهِمْ ۗ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

به واقع کیدونکی وی په دوی باندے ؛ او هغه کسان چه ایمان یے راوړے او عملونه کړی د نیکو ؛

فِي رَوْضَاتِ الْجَنَّاتِ ۖ لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ

به باغیچو د جنتونو کښے به وی ؛ دوی لره به هغه وی چه غواړی به یے دوی یے

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴿٢٢﴾

د رب د دوی سره ؛ دغه ؛ دا فضل ؛ لوئی دے ؛

ذَٰلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ

دغه ؛ هغه ؛ دے چه زیرے ورکوی الله بندګانو ته خپلو هغه کسانو ته

ع ۲

مَنْ كَانَ يُرِيدُ ع

دا ترغیب دے نیک عمل ته او ترهیب دے د دُنیا نه چه ترهیب نه یا سره د دُنیا اړوی صرف دُنیا چه غواړی هغه لره آخرت نه وی ؛ (فضل ۲۰) بقره ۲۰۰

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ

دا دَه مبحث د هرے سره نکی یعنی تولو انبیاء علیهم السلام ته څو د توحید وحی شریده دده نه ځکه د باغیانو کاره شه د الله تعالیٰ نه (فضل ۲۱)

فائده :

ابن کثیر رحمه الله معنی کړی .

ای استحرالیم اخرب القرآن ۳۹۲ تهانوی رحمه الله فرمائی چه په دے کښے ابطال د بدعت دے یعنی د ابطال د شرک کولو اسانی اسرک مای خیر القرآن رحمه الله فرمائی چه دا آیات شاطبی رحمه الله اصل کړزولے دے په رد د بدعاتو باندے .

(د ائده مخشیه)

إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ۲۳ ، د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی چه دا ترغیب دے اتباع ته چه زه غریبه تبلیغ باندے مزدوری نه غواړم نو بیا ولے خفه کیږی . استثنیٰ المنقطع ځکه د نسب د وجے نه ماسره بنه کوی نو هغه بل خیر دے (النحل ۱۲۸) پنجپیری شیخ رحمه الله فرمائی چه د القربیٰ نه قرابت مراد دے او مطلب دا دے چه تاسو خما د قرابت او رشتہ داری لحاظ او کړئ او د صله رحمی په طور زما تصدیق او کړئ یا کم از کم ما د ضرر مه رسوئ او خما

بدکار کښې بکاري مونږ خو نه وایو. او ګورئ ابن کثیر ص۱۱۳ - مظهري ص۲۲۲ - قرطبي ص۲۱ جمهورو مفسرینو دا معنی اختیار کړیده.
یا القربیٰ مصدر دے په معنیٰ د القربة بمعنیٰ تقرب لکه الزلفیٰ او الزلفة نحو او استثناء منقطع ده یعنی زۀ

ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ ۗ قُل لَّآ

چه ایمان یې راوړے او عملونه کړي د نیکو ؛ او وایه ته

أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِى الْقُرْبَىٰ ۗ

نه غواړمه تاسو نه په تبلیغ د قرآن څه بدله مګر مینه په نزدیکت کښې (الله تعالی ته)

وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُۥ فِيهَا حُسْنًا ۚ

او څوک چه کوي نیکي ؛ زیاتوو مونږ به دۀ لره په هغې کښې ښائست ؛

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰ

یقینًا الله تعالی بخښونکے ؛ قدردان دے ؛ آیا وائي دوي چه جوړ کړي دي

عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ۖ فَإِن يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَىٰ

په الله تعالی باندې دروغ ؛ نو که اوغواړي الله تعالی ؛ ټاپه به ولګوي په

قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللَّهُ الْبَٰطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ

زړۀ ستا باندې ؛ او ورانوي الله تعالی ؛ باطل لره ؛ او ثابتوي حق لره

بِكَلِمَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٤﴾ وَ

په کلمو خپلو ؛ یقینًا الله پوهه دے په هغه رازونو چه په سینو کښې دي ؛ او

هُوَ الَّذِى يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ

الله تعالی هغه ذات دے چه قبلوي توبې لره ؛ د بندګانو خپلو نه ؛

وَيَعْفُوا عَنِ السَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾

او عفوه کوي ؛ د بدو نه ؛ او پوهیږي په هغه کار چه تاسو یې کوئ ؛

وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ

او قبلوي دعاګانې د هغه کسانو چه ایمان یې راوړے ؛ او عملونه کړي د نیکو ؛

وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۚ وَالْكَٰفِرُونَ لَهُمْ

او زیاتوي دوي لره ؛ د فضل خپل نه ؛ او کافران دوي لره

عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ

عذاب ؛ سخت دے ؛ او که چرې فراخه کړے وے الله تعالی ؛ روزي د

په تبلیغ باندې ستاسو نه اجر نه غواړم لیکن دا غواړم چه تاسو مونږ ته د الله په وجه تاسو دین حق قبول کړئ او د الله تعالی د قرب د حصول لوه شوق او محبت سره د هغه اطاعت وکړئ. دا قول د ابن عباس حسن بصري، قتاده او د نورو مفسرینو نه منقول دے. خازن ص۱۱۴ ترمذي ص۲۲ . (جواهر القرآن ص۱۰۷۰).

فائده:- شیخ القرآن نورالله مرقده په ځم دا دواړه معنیٰ صحیح ګڼلے. او ګورئ دا اختیار الهام الرحمن ص۲۷۲

وَمَن يَقْتَرِفْ: دا ایت د دے جمله نه د دے شبهه تاثیر کیږي چه د القربیٰ نه اعمال صالحه او حسنات مراد دي د کوم نه چه قرب خداوند حاصلیږي. کوم کس چه د رضاء الهي د پاره نیکي کوي. الله تعالی به د دۀ په اجر او ثواب کښې اضافه وکړي (جواهر القرآن ص۱۰۷۰) يَخْتِمْ عَلَىٰ قَلْبِكَ: دا ایت په مکه کښې رحمت دے په انکار د رسول ﷺ باندې. معنیٰ هغه خبره چه مودت فی القربیٰ نه کوي. او د يَخْتِمْ معنیٰ شیخ مجاهد رحمه الله کړې چه یعني به ولګوي په زړۀ ستا باندې صبر کوم له وجه به تکلیفونو د دوي او په دے قول د دوي افتریٰ علی الله کذبا چه واخلې نشي زړۀ ستا له مشقت په تکذیب د دوي باندې. او دا کیږي بیان په معنیٰ د او اسره دے. (احسن ص۲۲۷) فائده:- ایت کریمه کښې د دے تسلي دی نبي علیه السلام لره. وَهُوَ الَّذِي: دے ایت کښې ترغیب دے توبه ته. او ګورئ ص۲۵ زمر. او بیا بشارت دے او ځکه په اخر کښې تخویف دے. وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ ص۲۲: دلته لام حذف دے معنیٰ دا ده چه قبلوي الله تعالی دعاګانې د هغه کسانو د پاره چه ایمان یې راوړے او عملونه کړي نیک (ابن کثیر ص۱۱۵) وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ ص۲۷: اعتراض: چه باري ورو مهربان دے. نو د مونږ رزق دې زیات کړي. جواب که روزي ستاسو زیاته کړي نو بیا به ګمراه شئ. (باقي په بل مخ)

(بقيه) داګه د رزق هم د مولی مهرباني ده (انوار القرآن ۱۰۰) مراد د فراخی نه د تولو د پاره يو شان فراخی ده حتی که ټول بندګان مالداره شی نو مونږ ته به حاجت پاتے نه شی - نو هر يو به شی نظام دا هم به خراب شی (حسن ص۲)

لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ

بندګانو خپلو لره نو خامخا سرکشی به یے کړے وے په زمکه کښے او لیکن رالیږی الله

بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۲۷﴾

په اندازه سره هغه څه چه وغواړی یقیناً الله خبردار دے په بندګانو خپلو خبردار لیدونکے دے

وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْۢ بَعْدِ مَا

او الله هم هغه ذات دے چه رالیږی باران لره پس د نا امیده کیدو

قَنَطُوْا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهٗ ؕ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۸﴾

د دوی نه او خوروی رحمت خپل او الله هم کارساز ستایلے شوے دے

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ

او بعض د دلیلونو قدرت هغه نه پیدائش د اسمانونو او د زمکے دے او

مَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ ؕ وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ

هغه چه خواره کړی یے په دواړو کښے د ژوندو سرو نه او الله هم په جمع کولو د دوی

اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ

کله چه او غواړی قدرت والا دے او هغه چه ورسیږی تاسو ته د څه مصیبت

فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۰﴾

نو په سبب د هغه عمل چه کړیدی لاسونو ستاسو او معافی کوی د ډیرو نه

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚۖ وَمَا لَكُمْ

او نه یئ تاسو عاجز کوونکی الله تعالی لره په زمکه کښے او نشته تاسو لره

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۳۱﴾ وَ

سوا د الله تعالی نه هیڅ حمایت کوونکے او نه امداد کوونکے او

مِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾ اِنْ

بعضے د دلائلو توحید د الله نه روانے کشتئ دی په دریاب کښے پشان د غرونو دی که

يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى

او غواړی الله نو ودروی سیلئ لره پس شی کشتئ ولاړے په

(ع ۳ رکوع)

(دوسته مخ)

وَهُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۲۸ او الله هم هغه ذات دے چه باران وروی پس د نا امیده کیدو د دوی نه. جناب مفتی صاحب فرمائی چه دلته د نا امیده کیدو نه مراد د خپلو تدبیرونو نه نا امید کیدل دی یعنی د الله نه د رحمت نه مایوسی مراد نه ده ځکه دا کفر دے (انوار القرآن ۱۰۰، وګورئ ۴۹) یوسف ۸۷ حجر ۵۶. وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا دابة په اصل لغت کښے هر هغه شی ته وئیلے کیږی چه خپل اختیار سره د تللو او حرکت والا دی روستو کښے دا لفظ خینی ځناورو د پاره استعمال شویدے. په دے ایت کښے اسمان او زمکے دواړو طرف ته نسبت کولو کښے دا وئیلے شویدی چه په دواړو کښے الله ژوندی ساکنان پیدا کړی دی - زمکه بانے نظر دا مخلوقات ښکاره دی - اسمان کښے ئے نه مراد ملائک هم کیدے شی او داهم ممکن ده چه په اسمانونو کښے هم داسے ځناور موجود دی چه ترا اوسه پورے د انسان په علم کښے نه دی راغلی (معارف القرآن) یا مراد ترے زمکه ده کله ضمیر د یو د پاره ذکر کولے شی. او ګورئ رحمن ۲۲ بقره ۱۶۴. وَمَآ اَصَابَكُمْ ۳۰ د دے خائی نه د اخیر سره سورت پورے دریم باب دے خلاصه او د خبرے دی. (۱) تخویف دنیوی ۳۰ (۲) دلائل عقلیه ۳۲ (۳) ترهید د دنیا نه ۳۶ (۴) نهه صفات د مؤمنانو د ۳۶ نه (۵) تخویف اخروی ۴۴ زجر ۴۸ (۶) صداقت د قرآن مجید ۵۱ ۵۲ - فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ دا د

عذاب د دنیا بیان دے چه مصیبت د خپل لاس ګټه ده یعنی اکثر سبب د مصیبت ګناه ده او مصیبت ورکوونکے صرف الله دے (وَمَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ (التغابن ۱۱) وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ او معافی کوی د ډیرو ګناهونو نه یعنی عقاب نه ورکوی په هغو باندے یا مصیبت جلد سره (روح ۳۴) فائده او دا ایت مخصوص دے په ګناهګارو مسلمانانو او نورو پورے ځکه چه معصومان (باقی په بل)

(بقیه) چې ګناه ورله نه وی لکه انبیاء علیهم السلام کله ورته مصیبتونه رسیږی په حدیث کښې دی. أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً
الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ. او داوی دپاره د پورته والی د درجو هغوی او دپاره نورو حکمتونو د بجه نه چه
پت شوی دی په موږ ه باندې (روح ص ۲۸ سابق الاسلوک ص ۱۳)
(د دې منځ)

ظَهْرِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ
شاه دریاب: یقیناً په دې کښې: نښې دی: د هر ډیر صبر کوونکی:
شَكُورٍ ﴿٣٣﴾ أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ
شکر ګزار د پاره. او یا به هلاک کړی کشتۍ په سبب د عملونو د دوی: او معافی کړی الله
عَنْ كَثِيرٍ ﴿٣٤﴾ وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي
د ډیرو نه: او چه پوهه شی هغه کسان چه جګړې کوی په
آيَاتِنَا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣٥﴾ فَمَا أُوتِيتُمْ
آیتونو زمونږ کښې: چه نشته دوی لره هیڅ ځای د خلاصی. پس هغه چه درکړی شوی تاسو ته
مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَمَا عِنْدَ
د هغه شیانو نه: نو فایده د ژوند د دنیاوی ده: او هغه چه په نزد د
اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَىٰ
الله غوره دی او تل پاتې دی: او همیشه دی: د هغه کسانو د پاره چه ایمان یې راوړی: او په
رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ
خپل رب باندې توکل کوی: او هغه کسان چه ځان ساتی: د
كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا
غټو ګناهونو نه: او د بې حیایو نه: او کله چه غصه شی دوی:
هُمْ يَغْفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ
نو دوی بخښنه کوی: او هغه کسان چه قبول یې کړی د احکامو د رب خپل:
وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ
او ودروی مانځه لره: او کار د دوی مشوره کول دی: په مینځ د دوی کښې
وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ إِذَا
او بعضې د هغه مال نه چه ورکړی مونږ هغوی ته خرچ کوی: او هغه کسان چه کله
أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ ﴿٣٩﴾ وَجَزَاءُ
ورسیږی دوی ته زیاتی او ظلم. نو دوی بدله اخلی: او بدله

وَيَعْلَمَ الَّذِينَ ص ۳۵، نسفی رحمه الله فرمائی چه دا منصوب دے او عطف په علت محذوفه باندې دے تقدیر یې دا دے. لِيَنْتَقِمَ مِنْهُمْ وَيَعْلَمَ. چه بدله واخلی الله تعالیٰ د دوی نه او پوهه شی هغه کسان چه جګړې کوی په آیتونو زمونږ کښې چه نشته دوی لره هیڅ ځای د خلاصی. (کوردی مدارک ص ۱۵۲) لِلَّذِينَ آمَنُوا: د دې ځای نه صفتونه د مؤمنانو ذکر کوی دوه په ۳۶ او دوه په ۳۷ کښې څلور په ۳۸ کښې او یو په ۳۹ کښې. وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ص ۳۸، او کار د دوی به د شوری مشوره وي او انفرادی رائے به نه چلوی ترڅو چه راجمع شی به هغه کار باندې سے (مدارک ص ۱۵۲) حسن رحمه الله فرمائی مَا تَشَاوَرَ قَوْمٌ إِلَّا هُدُوا لِأَرْشَدِ أَمْرِهِمْ (مدارک ص ۱۵۲) فائده: په اسلام کښې د امیر انتخاب هم په مشوره باندې موقوف کړے د زمانې د جاهلیت شخصی باچاهی کولو لره یې ختم کړی دی په کومو کښې به چه ریاست په طور د وراثت ملاویدلو. اسلام د نبوتونو هغه کښې د هغه ختم کړے د حقیقی جمهوریت بنیاد یې ایخوړلے دے مګر مغربی جمهوریت په طریقه عوامو ته هرقسم اختیارات نه دی پاتې اهل شوری باندې هم پابندی مقرر کړی دی د هغه شلنه د اسلامی نظام حکومت د شخصی بادشاهی او د مغربی جمهوریت دواړو نه جدا او نهایت معتدل دستور او قانون دے (احسن ص ۹۳۰) وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ: په دې کښې د قانون د انتقام (بدلې اخستلو) ذکر شوی دے کوم چاسره چه بدی او شی که چرته هغه د دغې بدله واخلی نو جائز دی لیکن زیاتے به نه کوی او کوم کس چه د نورو ظلم او زیاتے معاف کړی.
(باقی په بل مخ)

سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ

د بدی ؛ بدی ده ؛ په مثل د هغې ، نو چا چې عفوه اوکړه او اصلاح یې اوکړه

فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٤٠﴾

پس اجر د هغه په الله تعالی باندې دے ، یقیناً الله تعالی مینه نه ساتی د ظالمانو سره ؛

وَلَمَنِ انتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَٰئِكَ مَا

او خامخا چا چې انتقام واخستو ، پس د ظلم کیدو نه پس ده ؛ نو هغوی باندې نشته

عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى

دی باندې څه ملامتیا ؛ یقیناً ملامتیا

الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ وَيَبْغُونَ فِي

هغو کسانو دی چې ظلم کوی ، په خلقو باندې ، او فساد کوی په

الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

زمکه کښې ؛ بې ناحقه سره ؛ دغه کسان ، دوی لره ، عذاب ؛

أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ

دردناک دے ؛ او خامخا چا چې صبر اوکړو او بخښنه اوکړه ؛ یقیناً دغه خامخا د

عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن

مقصودی کارونو نه دی ؛ او هغه څوک چې لاره یې ورکړی الله ، پس نشته هغه

ع ٤

وَلِيٍّ مِّن بَعْدِهِ ۗ وَتَرَى الظَّالِمِينَ لَمَّا رَأَوُا

لره څوک کارساز پس د هغه نه ؛ او وینې به ظالمان ؛ کله چې وینی دوی

الْعَذَابَ يَقُولُونَ هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ ﴿٤٤﴾

عذاب لره ؛ وائی به دوی ؛ آیا شته دے واپسئ ته څه لار ؛

وَتَرَاهُمْ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا خَاشِعِينَ مِنَ

او وینې به دوی لره چې وړاندې به کولے شی په هغې باندې ، عاجزی کونکی د وجې

الذُّلِّ يَنظُرُونَ مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ ۗ وَقَالَ

د ذلت نه ؛ کوری به دوی ؛ د سترګو کمزوری نه ؛ او وائی به

(بقیه)

او د هغه نه بدله واخلی بلکه د هغه سره ښه اوکړی نو د ده اجر د الله سره دے الله تعالی به ده ته د دے اجر ورکړی او د ده دا عفوه او احسان به نه ضائع کیږی . داسے خلق الله تعالی خوښوی لیکن په خلقو باندې ظلم او زیاتی کونکو سره الله تعالی نه خوښوی .

(جواهر ﷺ اوګورئ بقره ۱۹۴ ، نحل ۱۲۶ .)

(دوسمه صفحه)

وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ ﴿٤٣﴾

او خامخا چا چې صبر اوکړو او بخښنه (د ګناه) یې اوکړه یقیناً دغه خامخا مضبوط او مقصودی کارونو نه دی . اوګورئ حاشیه ۵۱ ، حجرات ۵ .

لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ .

اوګورئ لقمان ۱۷ آل عمران ۱۸۶ .

وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ

دا د عذاب آخرت بیان دے

هَلْ إِلَىٰ مَرَدٍّ مِّن سَبِيلٍ .

اوګورئ مؤمن ۱۱ انعام ۲۷ سجده ۱۲ . فاطر ۳۷

مِن طَرْفٍ خَفِيٍّ

په سترګو کمزورو سره (احسن ﷺ) په پټه نظر سره (افضل ۲۹۶) په سترګو پټیتوب سره (تشریح القرآن)

فائده :

د قیامت مختلف حالتونه دی کله به نظر کمزورے وی نکه واقعه کله به راندۀ وی لکه ۱۲۴ طه کښے او کله به نظر تیز وی لکه اوګورئ سورة ق ۲۲ .

Scanned by CamScanner

الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ الْخَاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا

هغو کسانو چه ایمان یې راوړی دی: یقیناً تاوانیان هغه کسان دي چه تاوان یې کړی دی

أَنفُسَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۗ أَلَا إِنَّ

ځانونو خپلو ته او اهل خپلو ته په ورځ د قیامت: خبردار: یقیناً

الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُّقِيمٍ ۴۵ وَمَا كَانَ

ظالمانو به په عذاب همیشه کښې وي: او نه به وي

لَهُم مِّنْ أَوْلِيَاءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ

دوی لره هیڅوک ملګري چه امداد او مرسته یې وکړي سوا د

اللَّهِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن

الله تعالی نه، او هغه چا لره چه بې لارې یې کړي الله تعالی: نو نشته د هغه لره هیڅ

سَبِيلٍ ۴۶ اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ

لار د هدایت: قبول کړئ او ومنئ حکمونه د رب خپل: مخکښې د دې نه

أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ ۚ مَا

چه راشي یوه ورځ، چه نه به وي واپسي د هغې د طرف د الله تعالی نه: نه به وي

لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن

تاسو لره ځای د پناه په دغه ورځ، او نه به وي تاسو لره: انکار

نَّكِيرٍ ۴۷ فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ

کولو ته. پس که چیرته څوک وګرځي: نو نه یو لیږلی موږ تا په دوی باندې

حَفِيظًا ۖ إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلَاغُ ۗ وَإِنَّا إِذَا

نګهبان: نشته په تا باندې مګر رسول: او یقیناً موږ چه

أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۖ وَ

وڅکوو انسان ته د خپل طرف نه رحمت، خوشحالي کوي په هغې: او

إِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ

که اورسیږي دوی ته تکلیف په سبب د هغو عملونو چه مخکښې کړي دي لاسونو د دوی

فَإِنْ أَعْرَضُوا:

دا زجر دی او نبي علیه السلام ته تسلي ده چه که مشرکان ستاسو دعوت نه مني او د دې نه اعراض کوي نو تاسو غم مه کوئ ځکه چه تاسو په دوی باندې نګران نه یئ مقرر شوي چه دوی د کفر او شرک نه منع کړئ او اسلام ته یې راولئ. ستاسو فریضه خو صرف تبلیغ دعوت دی. (جواهر ملخصاً)

(د اشعار د لغت حاشیه)

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ:

دا دلیل عقلي دی. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه خلق یې پیدا کړي دي چه بعضې د دوی ته هغه دي چه لونړه ورکوي، او بعضې د دوی ته هغه دي چه نارینه ورکوي او بعضې د دوی ته هغه دي چه دواړه قسمونه ورکوي او بعضې د دوی هغه دي چه منع کوي تري نه هغه او هغه اېښي لور او ځوئ، نو دوی ته نه وي نسل او نه اولاد. (ابن کثیر)

ابن جزي رحمه الله فرمائي او ظاهر دا دی چه دا آیت عام دی په ټولو خلقو کښې ځکه چه ټول د دوی نه تعالی یې ډیر قسمونه د خلقو تاسو معلوم دي چه ذکر شو (تسهیل)

واثله بن اسقع رض فرمائي چه د ښځې برکت دا دی چه اول یې لور پیدا شي مخکښې د هلک ځکه الله تعالی ابتداء په لور کړې ده او کړی د تسهیل [illegible] مظهري [illegible] قرطبي [illegible].

إناثاً: اناثاً يې نکره او الذکور يې معرفه ذکر کړے دے چه نرينه بچي عالي او د اهتمام کچيے که او بعني پرده نشينه، چه نه پيژندلے کيږي او نارينه مشهوره وي پيژندلے کيږي (احسن ص...)

فَإِنَّ الْإِنسَانَ كَفُورٌ (٤٨) لِّلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ

نو يقيناً انسان ډير ناشکره دے. خاص الله تعالىٰ لره باچاهي د اسمانونو ده

وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ

او د زمکې ده. پيدا کوي هغه چه وغواړي. بښي هغه چاته چه وغواړي

إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ (٤٩) أَوْ

لوڼه، او بښي هغه چاله چه خوښه يې شي نارينه اولاد. او يا

يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن

دوه قسمه ورکوي هلکان او جينکۍ. او جوړوي چاله يې چه

يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ (٥٠) وَمَا كَانَ

خوښه شي شنډ. يقيناً الله پوهه قدرت والا دے. او نه کيدے شي

لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن

يو بشر لره چه خبرې ورسره اوکړي الله تعالىٰ مګر په وحي سره. او يا

وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ

اخوا ا وروستو د پردے نه. او يا را اوليږي استازے. نو وحي کوي

بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ (٥١) وَ

په حکم د الله سره د هغه چه غواړي. يقيناً الله تعالىٰ اوچت، حکمت والا دے. او

كَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا

دغه رنګے وحي کړيده مونږ تاته د روح (قرآن) د حکم خپل نه.

مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ

نه وې ته چه پوهيدلے چه څه دے کتاب. او نه په تفصيل د ايمان.

وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَنْ نَّشَاءُ

او لاکن مونږ ګرځولے دے هغه (قرآن) رڼا هدايت کوو په دے چاله چه او غواړو مونږ

مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ

د بندګانو خپلو نه. او يقيناً ته خامخا هدايت کوے لارے

فائده: واقسمونه په اعتبار د غالب او اکثر سره ذکر شوی دی نو په د سره انکار د خنثیٰ نه نه کیږي ځکه چه لفظ د يخلق ما يشاء او قدير په خنثیٰ پيدا کولو شامل دے (ايضاً)

ما كان لبشر الخ: ځکه تقسيم د ظاهري نعمتونو وو او س په دے ايت کښے د باطني نعمتونو تقسيم دے چه هغه وحي ده. په افضل التراجم ص... کښے دی يعني درے قسمه وحي ده. اول چه وحي د زړه اوغي په دغه وخت کښے نبي عليه السلام ته خبرداري او قسم مخصوص دے. دويم چه حرف اوا ز اوري لکه موسىٰ عليه السلام بطور کښے. دريم چه ملائک راشي يغيره يا په خپل شکل يا په شکل د انسان يا انسان معلوم وي يا نا اشنا.

ما الكتاب: او ګورئ يونس ۱۶ عنکبوت ۴۸.

ولا الايمان: نسفي رحمه الله فرمائي چه نه پوهيدے په شرائعو د ايمان باندے او ګورئ ص... ابن کثير رحمه الله فرمائي چه هغه تفصيل سره چه بيان يې کړيدے تاته په قرآن کښے. او شاه ديوبند شيخ رحمه الله فرمائي چه د ايمان تفصيلي احکام تاته معلوم نه وو او وګورئ ضحیٰ ۷، يوسف ۳ (افضل ص...). خطيب شربيني رحمه الله فرمائي چه نبي عليه السلام ځکه د نبوت نه اقرار کونکے وو په وحدانيت د الله تعالىٰ او د هغه په عظمت باندے هميشه او بچ او خبر په بچ کړله. او لات او عزىٰ په سبب بد ګڼړلو او هغه پوهه په نوم د غير الله سره نه غوړله (سراج منير ص...)

فائده: د دے ايت نه معلومه شوه چه ايمان تفصيلي بغير د قرآن نه نه حاصليږي نو هغه خبره چه وئيلے کيږي چه ايمان د قرآن نه مخکښے وو نو مراد د هغے نه اجمالي ايمان دے. (احسن الکلام ص...)

احتیاجات: د دریو خاصو شبهو جوابونه (۱) لس غلطے پروایت کښے د پارو د تخصیص ۱۵ (۲) ۳ غلو قسمه خلق ۴۹ ، ۵۰ .
(۲) سره په اتخاذ الاولیاء دیار بارہ ۹ ، ۲۵ ، ۳۱ ، ۴۶ ، سورة الزخرف مکی سورت ده ترتیب او نزول د دواړو کښے روستو

مُسْتَقِيمٍ ۝٥٢ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي

لاره ده الله ته هغه ذات ته چه خاص هغه لره دی

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ اَلَآ اِلَى

چه په اسمانونو کښے، او هغه څه چه په زمکه کښے دی: خبردار: خاص

اللّٰهِ تَصِيرُ الْاُمُورُ ۝٥٣

الله ته ورګرځي کېږي ټول کارونه :

سورة الزخرف مکیة ۴۳ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ | اٰیاتها ۸۹ | رکوعاتها ۷

حٰمٓ ۝١ وَالْكِتٰبِ الْمُبِينِ ۝٢ اِنَّا جَعَلْنٰهُ

الله پوهیږي په معنی د دې قسم دی د کتاب واضح بیانونکي ته (بیشکه) مونږ دا ګرځولی دی

قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝٣ وَاِنَّهُ فِي

..... لوستلے شوي په عربي ژبه، د دې دپاره چه تاسو د عقل نه کار واخلئ، او بیشکه دا په

اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ۝٤ اَفَنَضْرِبُ

اصل د کتابونو کښے زمونږ سره خامخا اوچت مرتبه والا دی حکمت والا دی؛ ایا پس واړوو مونږ

عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِينَ ۝٥

ستاسو نه نصیحت (قرآن) په اړولو سره، د دې د وجې نه چه یئ تاسو قوم زیاتے کونکے؛

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِينَ ۝٦ وَمَا

او ډیر لیږلي دي مونږ د نبیانو نه په مخکنو کښے؛ او نه

يَاْتِيهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّا كَانُوا بِهٖ يَسْتَهْزِءُونَ ۝٧

راتلو هغوی ته هیڅ نبي؛ مګر وو دوی چه هغه سره یې ټوقے به کولے؛

فَاَهْلَكْنَا اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ

نو هلاک کړل مونږ سخت د دوی نه په حمله کولو کښے؛ او تیر شوے دے مثال د

الْاَوَّلِينَ ۝٨ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ

مخکنو؛ او که چیرته ته پوښتنه او کړے ته د دوی نه چه چا پیدا کړي

ربط: ۱) د دواړو سرکښے لفظ د حٰمٓ ذکر دے (۲) د دواړو سرکښے ترغیب دے قرآن پاک ته. (۳) نزول کښے پس د هغه سورت نه وو نو ترتیب کښے هم روستو ورپسے ذکر شو. (۴) مخکښے دواړو سورتونو کښے د اروه شبهو جوابونه او شو نو دلته د اتمے شبهے جواب دے. (۵) مخکښے په سورت کښے ترمائیلي وو چه حجت د دوی باطل دے ۱۶ نو دلته په د هغوی هغه باطل دلیلونه ذکر کړل ۲۰ او ۲۲ کښے.

دعوې: د اتمے شبهے جواب چه نفي د شفاعت قهري ۸۶ کښے.

د سورت شرعي نه دے د زخرف لفظ په ۳۵ کښے راغلے دے.

خلاصه: په دے سورت کښے هم دریمه بابونه دی. اول تر ۲۳ پورے دویم تر ۶۵ پورے دریم تر اخره پورے. په اول باب کښے اهم خبرے نهه دی. (۱) ترغیب قرآن حکیم ته ۳ (۲) زجر اعراض کونکو ته ۵ (۳) تخویف دنیوی ۸ (۴) دلائل عقلیه ۹ نه (۵) زجر مشرکینو بالملائکة ته ۱۵ نه (۶) دوه باطل دلیلونه د کفارو ۲۰ ، ۲۲ کښے (۷) نقلي دلیل د ابراهیم علیه السلام د عقیدے د دلیل په مقابله کښے ۲۶ نه. (۸) زجر معرضینو د قرآن ته ۳۱ (۹) ترهیب او سبب رغبت د دنیا نه ۳۳ او د سورت نوم زخرف.

والکتٰب المبین ۝ واو قسمیه دے او جواب یې محذوف دے. انکم لمن المرسلین ۝ یا یې جواب انا جعلنٰه دے.

اُمّ الکتٰب ته وئیلے شي او په دے اوږد باره د شبهه دفع دے ...... مخکښے چه لاره دے ترجمه کښے لیکل شوي ده. د بندئ شیخ رحمه الله فرمائي چې دا د ..... ورعښا نه کتاب په دے ګواه دے او جواهر ۲۰ ترغیب دے قرآن ته او دوه ترجمه دے د کر شویدي او حکمت

(باقی په بل مخ)

(بقیه) د نزول به وشی اوګورئ یوسف ۲ وَاِنَّهٗ فِیْٓ اُمِّ الْکِتٰبِ : دا هم ترغیب دے قرآن ته او دلته به هم دوه صفتونه ذکر شوی دی . اوګورئ د ۲۲ بروج او واقعه ۷۸ . په دیکښے فراغت ذکر کول د قرآن دی . او او چتوالے د دغه دے چه

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ
آسمانونه : او زمکه : نو خامخا یقینًا وائی دوی چه پیدا کړی دی دا :
الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ﴿٩﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ
زورور : په هر څه پوهه : هغه ذات چه جوړه کړے یې ده : تاسو لره
الْاَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا
زمکه : فرش : او جوړے کړے یې دی تاسو لره په دے کښے لارے
لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ
د پاره د دے چه تاسو هدایت بیا مومئ : او هغه ذات دے چه راوے دی د
السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا
پورته : اوبه : په اندازے سره : نو تازه کړو مونږ په دے سره مړ ښار او مړه زمکه
كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١١﴾ وَالَّذِيْ خَلَقَ
دغه شان به راوویستلے شئ تاسو : او هغه ذات دے چه پیدا کړی یې دی
الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ
جوړے : ټولے : او جوړے کړے یې دی تاسو لره : د کشتو
وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿١٢﴾ لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ
او د څارویو نه هغه چه تاسو پرے سوریږئ : چه برابر شئ تاسو په شاګانو د هغے
ثُمَّ تَذْكُرُوْا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ اِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ
بیا یاد کړئ تاسو نعمت د رب خپل : کله چه برابر شئ په شاګانو د هغے :
وَتَقُوْلُوْا سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَ
او وایئ تاسو : پاکی ده هغه ذات لره : چه تابع کړے یې دی مونږ لره دا : او
مَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ ﴿١٣﴾ وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا
نه وو مونږ دے لره قابو کوونکی : او یقینًا مونږ به رب خپل ته
لَمُنْقَلِبُوْنَ ﴿١٤﴾ وَجَعَلُوْا لَهٗ مِنْ عِبَادِهٖ جُزْءًا
خامخا واپس کیږو : او مقرر کړے دی دوی الله تعالی لره د بندګانو د هغه نه ټکړه

دا د الله تعالی په دربار کښے اوچت مرتبے والا دے په تولو کتابونو باندے او اوچت دے د جوهر د شان نه او فیصله کونکے دے تولو کتابونو او فیصله کښے شبه نشته په دے چه دا په انتهائی بلاغت او وضاحت او صحیح والی د معانیو کښے دے (برهان) یا مطلب دا دے چه په لوح محفوظ کښے د دے قرآن لوړ علی حکیم دے (ګالی ۱۹ الفتح ۷۳ بیرامر مسئله).

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ : دا زجر دے او صَفْحًا مفعول من غیر لفظه دے په معنی د ضرب فعل . او اَنْ كُنْتُمْ کښے لام اجلیه پټ دے اصل کښے لان کنتم دے . معنی دا شوه آیا وا اړوو مونږ ستاسو نصیحت (قرآن) د اړولو سره د دے وجے نه چه یئ تاسو قوم زیاتی کونکی . شاه عبدالقادر فرمائی یعنی د دے سبب نه چه تاسو یئ نه منئ آیا ښیرل مونږ ترے پرږو د حکم (موضح ص ۶۹۰) اَنْ كُنْتُمْ لان کنتم اوګورئ مدارک ص ۵۲۱)

وَكَمْ اَرْسَلْنَا : دا اپیتونو کښے تخویف دے . اوګورئ شان مومنون.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ : دا دلیل اعترافی دے او روستو اپیتونو کښے هم دلائل عقلیه دی . یونس ۳۱ مومنون ۸۴ عنکبوت ۶۱ کښے هم دلائل عقلیه ذکر شوی دی .

(کذلک صبح)

مَا تَرْكَبُوْنَ : او پیدا کړی یې دی تاسو لره د بعضو کشتو او د نکرانو نه هغه چه تاسو پرے سوریږئ . کله چه بعض د سواره قلیل نه دی . مِنْ تبعیضیه شو . یا مِنْ بیانی د روستنی ما دے .

هغه معنی لاندے لیکلے شوی ده . وَتَقُوْلُوْا . فائده :- او په دیکښے اشاره ده سوریدل د خطرے وخت دے نو ته دی مناسب چه غفلت او کړے شی په دیکښے د یاد د ورځ آخرت ته (ح م ص ۶۹) فائده : مفتی صاحب په احکام القرآن ص ۸۴ کښے (باقی په بل صفحه)

(بقیه) لیکل دی چه د کشتۍ په مفهوم کښې نورې سورلۍ هم شامل شوې دي او د ټولو ذکر دا شو چه د هغې د اشتراک د ملت د وسیله شو چه امانت د دغه ټولو مصنوعاتو د پیدائش د الله سبحانه نه دی د هغه نه بغیر بل هیڅ صنم د دې کار نه لري. فائده: چه

إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ⑮ أَمِ
بېشکه انسان : خامخا ناشکري کوونکی : ښکاره دی : آیا

اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَاكُم
نیولې دي الله تعالیٰ د هغو څیزونو نه چه پیدا کوي یې لوڼه : او خوره کړې دي تاسو لره

بِالْبَنِينَ ⑯ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ
په ځامنو باندې : او کله چه زیرې ورکړې شي یو ته د دوی : په هغه څیز چه بیان کړې یې دی

لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ
مهربان لره : مثال : نو شي مخ د هغه : تور کړې شوی : او دی

كَظِيمٌ ⑰ أَوَمَن يُنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي
ډک دی د غصې : آیا او دوی نسبت کوي الله تعالیٰ ته د هغه چه پالل کېږي په ګاڼو کښې او هغه په

الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ⑱ وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ
جګړه کښې نه دی ښکاره ویونکی : او جوړ کړي دي دوی ملائکې

الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ إِنَاثًا ۚ أَشَهِدُوا
هغه کسان چه هغوی بندګان د مهربان دي : زنانه : آیا حاضر شوي وو دوی

خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ ⑲
پیدائش د هغوی ته : زر دی چه وبه لیکلې شي بیان د دوی او تپوس به وکړې شي د دوی

وَقَالُوا لَوْ شَاءَ الرَّحْمَٰنُ مَا عَبَدْنَاهُم ۗ مَّا
او وائي دوی : که رضا وې د رحمان : بندګي به نه وې کړې مونږ د دوی : نشته

لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا
دوی لره په دې باندې څه پوهه : نه دي دوی مګر

يَخْرُصُونَ ⑳ أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا مِّن قَبْلِهِ
اټکل چلوي : آیا ورکړې ده مونږ دوی ته څه کتاب : مخکښې د دې نه

فَهُم بِهِ مُسْتَمْسِكُونَ ㉑ بَلْ قَالُوا إِنَّا
نو دوی په هغې باندې منګولې لګوونکي دي : بلکه وائي دوی یقیناً مونږ

کله فرمائي په سورلۍ باندې سورېږي نو دا دعا په وائي سُبْحَانَ الَّذِي لا بیا په اوداوو وائي الحمد لله درې ځله بیا به وائي الله اکبر بیا به وائي سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ (افضل ترجمه) امام واقدي چه تفسیر ابن کثیر کښې وروسته مخکښې راغلي دي چه علي رضي الله عنه کله خپه په رکاب کښې کېښوده نو بسم الله یې ووئیله او چه برابره شو په سورلۍ باندې نو الحمد لله یې ووئیلو او په اخر کښې دا چه بیا یې وخندل او دا یې اوفرمائیل رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فعل مثل ما فعلت ثم ضحك فقلت مم ضحكت يا رسول الله فقال صلى الله عليه وسلم يعجب الرب تبارك وتعالى من عبده اذا قال رب اغفرلي ويقول علم عبدي انه لا يغفر الذنوب غيري. حاصل دا شو چه په وخت د سورلۍ دا اوږه آداب دي چه ذکر لیکل شوي مناسب دي. وَجَعَلُوا لَهُ: او مقرر کړي دي الله تعالیٰ لره (تورنه) ولد دا ترجمه مفسر کړې ده. او د آیت نه مراد لګي چه الله تعالیٰ هر څیز خالق دی او بیا د ده سره مقابل نه ثابتوي یا اولاد ورله ثابتوي لکه د ظالمانو په ویلې: الملائكة بنات الله چه ملائکې عليهم السلام د الله لونړه دي. او ګوره مدارک شریف او په راتلونکو آیتونو کښې د دوی د حماقت او جهالت بیان دی چه ځانله خو لونړه نه خوښوي او الله تعالیٰ ته یې ثابتوي (دوه مخ حاشیه)

أَوَمَن يُنَشَّأُ الخ: آیا مقرر دي دوی الله تعالیٰ لره. د شیخ الاسلام رحمه الله فرمائي چه دا هم د مشرکانو د قول بیان د ښاغت او قباحت بیان دی. آیا دوی هغه جنس لره د الله تعالیٰ طرف منسوب کړې دي چه د هغوی نشو و نما په زیوراتو کښې کیږي یعني جینکۍ. او دا دوی د نازکوالي او ضعیفوالي دلیل دی او په جنګ جګړه کښې هم هغوی په خپل مدعا باندې واضح دلیل او روښانه دلیل نشي پیش کولی دا د هغوی د عقل او ذهني (باقي په بل مخ)

(بقیه) نقصان علامت وي (ابراهیم ۱۳۹)، وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ ... دا د تضعیف او اعاده وه. وَقَالُوا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ ... دا د
کفارو دلیل باطله دی. دا زوړ دلیل د مشرکانو دی. او گوره نحل ۳۵، انعام ۱۴۸. دا د دوی بل غلط دعوه چه دوی وائی چه

وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ

موندلی دي ... پلاران خپل په یوه دین ... او یقیناً مونږ په قدم د هغوی ...

مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ

هدایت موندونکي یو ... او همدارنگه ... نه دي لیږلی مونږ ...

قَبْلِكَ فِىْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

مخکښې ستا ... هیڅ کلي کښې ... ویروونکي ... مگر ویلي دي

مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ

ویره مالداران د هغه ... یقیناً مونږ موندلي دي پلاران خپل ... په یوه طریقه

وَّاِنَّا عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ قٰلَ اَوَلَوْ

او یقیناً مونږ په قدم د هغوی اقتدا کونکي یو ... او ویل پیغمبر ایا او

جِئْتُكُمْ بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ

اگر چه راوړم ما تاسو ته ښه هدایت د هغه نه ... چه موندلي دي تاسو په هغه باندې

اٰبَآءَكُمْ ۚ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾

پلاران ستاسو ... او وائي به دوی ... یقیناً مونږ په هغه چه لیږلي شوي یئ تاسو په هغې کافران یو

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

پس بدله واخسته مونږ د دوی ... نو اوگوره چه څنگه شو ... انجام د

الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ

تکذیب کونکو ... او کله چه اووئیل ابراهیم ... پلار خپل ته

وَقَوْمِهٖٓ اِنَّنِىْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۶﴾ اِلَّا

او قوم خپل ته ... یقیناً زه بیزار یم د هغو نه ... چه تاسو یې عبادت کوئ ... مگر

الَّذِىْ فَطَرَنِىْ فَاِنَّهٗ سَيَهْدِيْنِ ﴿۲۷﴾ وَجَعَلَهَا

هغه ذات چه زه یې پیدا کړی یم ... نو یقیناً هغه به لاره ښائي ما ته ... او وگرځوله ابراهیم

كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِىْ عَقِبِهٖ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾

د کلمه پاتې ... اولاد ... د هغه کښې ... د پاره د دې چه دوی رجوع اوکړي حق ته

زمونږ ... دا سي عبادت د غیر الله ... (زخرف ۲۰) اَمْ اٰتَيْنٰهُمْ ... دوی چه دا خبره کوي زمونږ دوی لره ... د قرآن نه بل کتاب نه دی ورکړی چه دوی هغه په دلیل کښې پیش کړي (ایضاً). بَلْ قَالُوْٓا ... دا بل جواب دی باطل دلیل د مشرکانو ... بقره ۱۷۰، مائده ۱۰۴، اعراف ۲۸، لقمان ۲۱ وغیره کښې تیر شوي دي. مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله فرمائی ظاهره ده چه د دوی نه مراد هغه تقلید دی ... (انفال ۲۲) فائده: ... بلکه د دوی دلیل دا دی چه زمونږ د پلارانو طریقه ده ... کښې تقلید مذموم او تقلید محمود ... فائده: ... غیر مقلد تقلید کوي خو غیر شخصي. او مقلدین تقلید شخصي کوي او مطلق تقلید لازم دی. فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ... مذهب ... دا حق دی ... مذاهب وارد حق دي ... (د دې آیت) وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ ... دا دلیل نقلي دی. شیخ القرآن رحمه الله په دې فرمائیل که څه هم تاسو وائی چه د مشرانو ... عجم حضرت ابراهیم علیه السلام د ... او بل مشر موسی

علیه السلام دی او بل مشر عیسی علیه السلام وو ... اکابر هم خو دا نه دي وئیلي چه غیر الله را مدد کړي. اِنَّنِىْ بَرَآءٌ ... وائی چه البراء په معنی د البري دی یعنی زه بیزاره یم د هغو نه چه تاسو یې عبادت کوئ. ... وائی. اَنَا البراء منك ... چه زه بیزاره یم ستا نه ... (باقي په بل مخ)

(بقیه) اوبعثنها. ث ه ولي الله رحمته فرمائي او جوړه كړه الله هم كلمه ترحيد لره خبره پاتې په ځامنو د ده كښې (فتح منان) (زر)
مفسرين رحمهم الله فرمائي او اوګرځوله ابراهيم عليه السلام كلمه د توحيد هغه چه ويلې يې ده او هغه دا قول د هغه دی (إنني

بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى جَآءَهُمُ الْحَقُّ

بلکه نفع ورکړې ده ما دوی ته : او پلرانو د دوی ته : تر دې چه راغې دوی ته حق :

وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٩﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا

او رسول ښکاره بیانوونکې : او هر کله چه راغې دوی ته حق : او وویلې دوی : دا

سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا

جادو دې : او یقینًا مونږ په دې باندې کفر کوونکي یو : او وویل دوی ولې نه دې نازل کړې شوې دا

الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿٣١﴾ اَهُمْ

قرآن : په یو سړي د دوو کلو نه : چه لوئ وي : آیا دوی

يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ

تقسیمول کوي رحمت د رب ستا : مونږ تقسیم کړې دې په مینځ د دوی کښې

مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ

سامان د ژوند د دوی : په ژوند د دنیا دوی کښې : او پورته کړي دي مونږ بعضې د دوی نه

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا

د پاسه د بعضو نه په درجو کښې : د پاره د دې چه ونیسي بعضې د دوی نه بعضو لره

سُخْرِيًّا ؕ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿٣٢﴾

خدمتګاران (مزدوران) : او رحمت د رب ستا غوره دې د هغې نه چه دوی یې راجمع کوي :

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً

او که نه وې دا خبره چه شي به خلق : د یو دین (په کفر باندې) :

لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا

نو خامخا جوړ کړي به وو مونږ هغه چا له چه کفر کوي په رحمٰن باندې، د پاره د کورونو د دوی چتونه

مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَ

د سپینو زرو : او پوړۍ چه په هغې باندې ورختلې : او

لِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُوْنَ ﴿٣٤﴾

د پاره د کورونو د دوی دروازې : او کټونه چه په هغې باندې تکیه لګوي دوی :

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ : کلمه پاتې کیدو ښکې په اولاد کښې. پس همیشه به وي په دوی کښې هغه څوک چه به ګنړي الله تعالیٰ لره او بلنه به کوي توحید د هغه ته (ملاک کثیر) او اکثروالې جواهر، بحر، خازن، بغوي (دد صحیح) بَلْ مَتَّعْتُ : په دې ایت کښې زورنه ده په دې منکرو د قرآن او د رسول، چه سره د تیرلو دوی ته الله تعالیٰ نفع ورکړې ده نو د قرآن او رسول نه منکر شو. وَقَالُوْا : دا بل زجر دې چه دوی نبوت حق د مالدار ګنړلو. شيخ رحمه الله فرمائي چه مراد د لوئ دې د لوئ سړي د مکې نه ولید سړی د مغیره، او د لوئ سړي د طائف نه عروه سړی د مسعود ثقفی او مراد د لوئ دې چه لوئ سړی هغه دې چه خاوندان د مال او خاوند د منصب وي او نه پوهیږي په دې چه لوئ هغه کس دې چه د الله تعالیٰ په دربار کښې لوئ وي. (ملاک منثا) اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ : آیا دوی تقسیمول کوي رحمت د رب ستا. دا رد دې په دوی چه په خپله رائې سره نبوت تقسیموي. نَحْنُ قَسَمْنَا : دا د ماقبل تاکید دې چه په دې تقسیم کښې د الله تعالیٰ نه ما سوا د بل چا اختیار نشته. ابن جزي رحمه الله فرمائي چه څنګه مونږ تقسیم کړي دي روزي د معیشت الله تعالیٰ په دنیا کښې د خلقو تقسیم کړي دی مونږ او اختیار نه لري د خلقو په مابین کښې (تسهیل) وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ : د پاسه د بعضو نه د جهت د ورځې. پس کړي دي مونږ بعضې د دوی نه غنیان او بعضې د دوی نه فقیران او بعضې د دوی نه مالکان او بعضې د دوی نه مملوکان (مظهري) سُخْرِيًّا : چه ونیسي بعضې د دوی نه بعضو لره خدمتګاران (روح المعاني) چه خادمان جوړ کړي بعضې د دوی نه بعضو لره (تسهیل) فائده : په دې ایت کښې رد دې په نظریه د مساوات (سوشلزم) باندې چه بعضې خلق وائي چه ټول خلق به یو شان کښې برابر وي د غني او فقیر مرتبه به یو نه وي. - (باقي په بل مخ)

(بقیه) او د اینه نظام دے او غوڅ والی چه د امالداری ـ غریبی د اطالبانو نظام وے د تقسیم خو الله تعالی نه دے کړے نو په دے ایت کښے الله هم د اخیه کړه چه د تقسیم په تفاوت سره زما نظام وے او د هغې حکمتونه هم ذکر کړه که چیرے ټول

وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَوٰةِ

او سامان د سرو ؛ او نه دی ټول دا ، مګر ګټه د ژوند د

الدُّنْيَا ۚ وَالْأٰخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَ

دنیاوی ؛ او اخرت په نزد د رب ستا ، د پاره د متقیانو دے ؛ او

مَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ

څوک چه غافله شی ؛ د ذکر د رحمان نه ؛ مسلط به کړو د لره ؛

شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ

شیطان پس هغه به د د لره ملګرے وی ؛ او یقیناً شیطانان خامخا اړوی دوی لره ؛

عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾

د سمې لارے نه ، او خیال کوی دوی چه یقیناً دوی لاره موندونکی دی ؛

حَتّٰىٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ

تر دے چه کله راشی مونږ ته ؛ وائی دے هغه ارمان ! چه ښه وه ما او ستا ترمینځ

بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾ وَ

لرے والے د مشرق او د مغرب وے ، نو ډیر ناکاره ملګرے وے ؛ او

لَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي

هیڅ به نفع ورنکړی تاسو ته نن ورځ ؛ کله چه ظلم کړے وو تاسو ؛ او یقیناً تاسو

الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾ أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ

په عذاب کښے شریک یئ ؛ ایا پس ته اورولی شے کونړو ته

أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلٰلٍ

او یا لاره ښودلے شے ړندو ته ، او هغه چا ته چه وی په ګمراهئ

مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾ فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم

ښکاره کښے ؛ پس که چیرے یوسو تا او دے جهان نه ، نو یقیناً مونږ د دوی نه

مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾ أَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِي وَعَدْنٰهُمْ

بدله اخستونکی یو ؛ او یا به درښایو تا ته ، هغه عذاب چه وعده مو کړیده د دوی سره

ربع

خلق په مال کښے مساوی شی نو بیا هیڅوک د بل خدمت نوکری نشی کولے او کور نشی کښے به الفت او محبت او د حسد ردی وغیره اخلاق ختم شی نو د دنیا نظام به خراب شی او (بیس خ)

وَلَوْلَا أَن يَكُونَ النَّاسُ (ایات فضائله) متکو د دنیا / یعنی د دنیا دومره بے قدره په نزد د الله صیب که دا خطره نه وه چه خلق به کافر شی نو مایه کافرانو د سرو او د سپینو چتونه او اندریاپیه ورکړے وے او (احسن صلا) د مال او دولت زیاتوالے د فضیلت سبب نه دے (معارف صـ)

(ودے صخ) د زُخْرُفًا : او کړ زفلے بعیے دے دی لره سره د دے تسکر زیبا زاد المسیر، تیسیر القران ربط فضائل او د اسامان د سرو ـ وَمَن يَعْشُ ۳۶ د دے ایت نه تر ۴۵ پورے دویم باب دے په د کښے څلور خبرے ذکر دی . (۱) زجر اعراض کوونکو د قران نه ۳۹ . (۲) تسلی نبی ﷺ ته ۴۰ ، ۴۱ ، ۴۲ (۳) ترغیب قران پاک ته ۴۳ (۴) یو دلیل نقلی اجمالی ۴۵ (۵) نقلی تفصیلی د موسیٰ علیه السلام د ۴۶ نه (۶) او نقلی د عیسیٰ علیه السلام ۵۷ او د هغوی د قصے جواب

وَمَن يَعْشُ : او هغه څوک چه غافله شی د یاد د رحمن نه (فتح صـ) هغه څوک چه ړوند شی د یاد د مهربان باداشاه نه (احسن صـ) او هغه څوک چه سترګے پټے کړی (احسن صـ، الوجیز، ابن کثیر صـ، زاد المسیر صـ)

نُقَيِّضْ لَهُ شَيْطٰنًا : او کړو مونږ ترسره ۲۵ . مقرر کړو ده لره شیطان ، مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه کله د انسانانو نه وی او که د شیطانانو نه وی او ماهم فرمائی چه د الله د یاد نه اعراض کول د

ناکاره صحبت سبب دے . (صاف صـ) د يَحْسَبُونَ : او ګمان کوی دوی چه دوی هدایت مند دی ـ او کړی کوهانده ۳۹ وَلَن يَنفَعَكُمُ . او هیڅ به نفع ورنکړی تاسو ته نن ورځے چه کله تاسو ظلم او شرک کړیدے . د اخبره چه تاسو به عذاب شریک یئ شک چه عموم بلوڼ خوشحالی کوی زما لره په دنیا کښے (مدارک صـ) ، یعنی د عذاب په اخرت کښے نه ده هر یو لره به کفار او شیطانانو نه پوره پوره عذاب وی او کړی (خازن صـ)

فَاسْتَمْسِكْ ٤٣ پس منګولې اولګوه په هغه چه وحې کولے شي تاته. وَاِنَّهٗ ... پس د تسلي نه او وجبيے دا چه ٥٥
يقيناً ته په لاره سيخه باندے يې. وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ او دا قران پند (نصيحت) دے تا لره او ستا قوم لره (الفتح ملاځ)

فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾ فَاسْتَمْسِكْ
نو يقيناً مونږ په دوى باندے قدرت والا يو. پس منګولے اولګوه
بِالَّذِي أُوحِيَ إِلَيْكَ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ صِرَاطٍ
په هغه چه وحې کړے شوے ده تا ته: يقيناً ته په لاره
مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٣﴾ وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۖ
خلاصه: شیخ القرآن رحمه الله فرمائی: چه خلاصه د دے سورة دا ده چه اول ترغیب دے قران ته دے، دویم دلیل عقلی دے، دریم مطالبه ده د مشرکانو نه د یو دلیل د دریو دلیلونو نه د علوم نقل د شرک فی الدعاء د په څلورم زجر په شرک په اعراض د کتاب او په افتراء باندے په رسول علیه السلام باندے ۷، ۸، ۹، شپږم اثبات د رسالت ۹، اووم دلیل نقلی په توحید باندے ۱۰. اتم ترغیب اعمال صالحه او بشارت دے او ترغیب دے استقامة ته او زجر معرضینو ته ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶ او ۱۷ نهم په رغبتی د دنیا نه ۲۰. لسم دلیل نقلی دے د هود علیه السلام نه ۲۱. یولسم جواب د شبهے دے، ۲۸ د ترغیب نه قران ته په شان د اول سورة سورت ۲۹ ۳۴، دولسم تسلی ده. (باقی په بل مخ)

(بقيه) رسول الله صلى الله عليه وسلم لره ، ٢٥ ، (سوال ، ١١) ف اشاره ٥ : ولته غږ وه صفتونه د نازل شوي کتاب چه
الله تعالی د ذکر شوښتکه چه جاثيه کښے ذکر دی . او دريمه ايت کښے عقلی دليل ښکاره چه هغه د دريم ايت نه عقليه

وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَآءً وَّ
او کله چه راجمع کړے شي خلق نو شي به هغوی د دوی د پاره دشمنان او

كَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِينَ ۝٦ وَإِذَا تُتْلٰى
وي به شي د عبادت د هغوی انکار کوونکي : او کله چه لوستلے شي :

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا
په دوی باندے ايتونه زمونږ واضحه ، نو وائي هغه کسان چه کفر نے کړيدے

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝٧
په باره د حق کښے ، کله چه راغے دوی ته ، دا جادو ؛ ښکاره دے :

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرٰىهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ
ايا وائي دوی چه د ځان نه جوړ کړيدے (قرآن) ، او وايه که چرته جوړ کړے وي ما

فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا هُوَ
نو مالکان نه يئ تاسو زما د پاره د څه څيز د عذاب د الله نه هغه ښه

أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ كَفٰى بِهٖ
ښه پوهه دے په هغه څيز چه ننوځئ تاسو په هغه کښے : کافي دے دا الله تعالی

شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَهُوَ الْغَفُورُ
ګواهي کوونکے په مينځ زما او په مينځ ستاسو کښے : او الله تعالی بخښونکے

الرَّحِيمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ
رحم کوونکے دے : او وايه نه يم زه نوے راليږلے شوے : د

الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا
رسولانو نه : او نه پوهيږم زه چه څه به کولے شي ما سره : او نه په هغه چه کولے شي

بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحٰى إِلَيَّ وَمَا أَنَا
تاسو سره (په دنيا کښے) تابعداري نه کوم زه مګر د هغه چه وحي به کولے شي ما ته : او نه يم زه

إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝٩ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ
مګر ويرونکے ښکاره : او وايه خبر راکړئ ما ته که چرته

دلائل دی . الّا بالحق ، د پندونو شيخ رحمه الله فرمائي چه د دے نه کائناتو د هر شي پيدا کېدو اشاره ده . والاشارات د اظهار حق د پاره کښے د رااظهار او د حجت ورکولو د پاره پيدا کړے شويدي او د دے د پاره اخر فنا ده دائمي هميشه قائم په دې پاره نه دي پيدا شوي په دې کښے د غږ دی د قول "لولا محمد لما خلقت السمٰوات و الارض" او د نصارو د قول "لولا عيسىٰ لما خلقت السمٰوات والارض" هم رد دے همدغه شان د شيعو د خود ساخته حديث "لولا علي لما خلقت السمٰوات" او موضوع حديث "لولاك لما خلقت الافلاك" هم د دے ايت خلاف دے . ام لهم شرك ... ايا شته د دوی د پاره شراکت ... (التسهيل ...) او کوريف چه ... فاطر ... سبا ... لقمان ... ايتوني ... ذليله کول د دوی دي چه عاجزه کوونکو د دوی د راوړلو د سند نقلي نه دي د دليله کوونکو د دوی نه چه عاجزه کيدل د دوی د سند عقلی راوړلو نه حچيچ يعني دليل تاسو سره نشته نه نقلي او نه عقلی په دے باندے (ابن کثير) . و من اضل ... ضرک وجه ضت ... د شرک في الدعاء علوم به يو سال الله رحمه الله تعالی ... فرمائيلي دی : ... وهم عن دعائهم غافلون او هغوی غافله د دوی نه ناخبره دی د شاه ولي الله رحمه الله تعالی فرمائي چه قبول نه ... هغوی د دوی نه خبرنه دی او په قيامت کښے به ستاسو د دشمني کوی ... (افضل ... د دے صفحه) و کانوا بعبادتهم کافرين او دی به هغه شوک چه دوی ورته چغه وهله په بندګنی د چغو وهونکو انکار کوونکی قرآن تفسير نظره ... کښے دی چه د دوی تکذيب به کوی وائي به تبرأنا اليک ما کانوا ايانا يعبدون او باقی په بل مخ)

(بقيه) اوګورئ قصص ۸۵، رعد، نګے نيکان بندګان او صلاتګ ب اظهار د برامت اوکړی د د وی نه اوګورئ يونس ۳۸، سبا ۵۰، فاطر ۲۴، نحل ۴۴، ف ائده (۱) ... ايتونو کښے زجره شے په انکار د قرآن سره.

كَانَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَكَفَرْتُمْ بِهِ وَشَهِدَ

وی دا قرآن د جانبه د الله تعالیٰ، او کفر کړی تاسو په دے باندے او ګواهی

شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى

کړيده يو ګواهی کوونکی د بنی اسرائيلو نه

مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ اللَّهَ

مثل د دے باندے نو ايمان ئے راوړے او لويی کړی تاسو، يقيناً الله تعالیٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَ

توفيق د هدايت نه ورکوی قوم ظلم کوونکی ته، او وائی

الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ

هغه کسان چه کفر ئے کړيدے په باره د هغه کسانو کښے چه ايمان ئے راوړيدے که وے

خَيْرًا مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ وَإِذْ لَمْ

دا دين غوره نه به وے مخکښے شوی دوی مونږ ته، او کله چه

يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا إِفْكٌ

هدايت او نه موندو دوی په دے باندے نو ضرور وائی دوی دا دروغ

قَدِيمٌ ﴿١١﴾ وَمِنْ قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا

پخوانی دی، او مخکښے د دے نه کتاب د موسیٰ ؑ وو پيشوا

وَرَحْمَةً وَهَٰذَا كِتَابٌ مُصَدِّقٌ لِسَانًا

او رحمت، او دا قرآن کتاب دے تصديق کوونکے په ژبه

عَرَبِيًّا لِيُنْذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ

عربی، چه ويره وركړی هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړيدے، او زيری دے

لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا

د پاره د نيکی کوونکو، يقيناً هغه کسان چه وائی رب زمونږ

اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

الله تعالیٰ دے، بيا ئے ټينګ پاتے شی، نو نشته په دوی ويره به دوی باندے

ع

شَهِيدًا بَيْنِي: اوګورئ ۴۶ نساء ۴۳، رعد. قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِنَ الرُّسُلِ ۱۰ اووايه چه نه يم زه نوے راغلے د پيغمبرانو نه (فتح ۲۶) يعنی زه نوے پيغمبر نه يم بلکه پيغمبران د پخوانه راتلونکی دی او ما نه خيل او ستاسو تفصيلی حال نه دے معلوم يعنی دغری د علم غيب نه کوم. (افتنی ۲۹۹)

د مَا اَدْرِي ... او نه پوهيږم چه به کوم شی زما او ستاسو سره يعنی په دنيا کښے (فتح ۶۰) حسن رحمه الله فرمائی چه شه به کوم شی زما او ستاسو سره په دنيا کښے وی اما فی الآخرة فمعاذ الله قد علم انه فی الجنة حين اخذ ميثاقه فی الرسل (الآلوسی ۶۱۵ روح ۲۶، ابن کثير ۴، ابن جرير ۶)

فائده: الوسی رحمه الله فرمائی چه به دے ايت کښے رد دے د هغه خلقو چه نسبت کوی بعض اولياؤ ته د علم د هر شی د کليانو او جزئياتو (روح ۲۶، بيان ۳۰۴)

فائده: ام علاء انصاريه رضی الله عنها وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی: والله لا ادری والله لا ادری وانا رسول الله ما يفعل بی ولا بکم (رواه البخاری، مشکوة ۱۴۳)

(ددے مخ)

وَشَهِدَ شَاهِدٌ: دا زجره ده او د اِنْ كَانَ شرط جزاء محذوفه ده. فَمَنْ اَضَلُّ مِنْكُمْ (روح، جزا ئر ۱۳۳) بعض وائی چه د شاهد نه مراد عبد الله بن سلام رضی الله عنه دے (۲) د تفسيرونو شيخ رحمه الله فرمائی چه د شاهد نه عبد الله بن سلام مراد نه دے ځکه چه هغه په مدينه کښے اسلام راوړے وو او دا سورت مکی دے بلکه د دے نه مراد يا چا د حبشے دے چه په خيل ملک کښے مسلمان شوے وو (جزائر ۱۳۳) (۳) او زمونږ شيخ حفظه الله وائی چه غوره دا ده چه د شاهد نه موسیٰ عليه السلام او مِثْلِهِ نه مراد تورات دے. (باقی په بل مخ)

(بقیه) یعنی موسٰی علیه السلام د تورات بیان کړے دے او دا کتاب د الله تعالیٰ د طرفه نازل شوے دے او یعنی
کښے مضمون د توحید او رسالت او بعث بعد الموت دے. مثله نه مراد مماثلت دے په نزول من الله
کښې او په مضمون کښې مماثل

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ
او نه به دوی غمژن کیږی. دغه کسان ملګری د
الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا
جنت دی همیشه به اوسیږی په دغه کښې بدله په سبب د هغه چه وو دوی چه
يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ
چه دوی کول او حکم کړے دے مونږ انسان ته د مور او پلار سره د
إِحْسَانًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ
نیکی کولو. پورته کړے دے دا بره مور د ده په تکلیف سره او زیږولے دے دا
كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۚ
په تکلیف سره. او پورته کول د ده او ورته د پریکول د ده دیرش میاشتے دی
حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ
تر دے چه کله ورسیږی طاقت خپل ته او ورسیږی څلویښتو
سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ
کالو ته وائی اے ربه زما توفیق راکړه ما ته چه شکر وباسم د
نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ
نعمت ستا هغه چه کړے دے تا په ما باندے او په
وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ
مور او پلار زما باندے او چه عمل او کړم نیک چه خوښ وے ته هغه او
وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ إِنِّي تُبْتُ
اصلاحیت راکړه ما ته په اولاد زما کښے یقیناً زه توبه ویستلے ده
إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُولَٰئِكَ
تا ته او یقیناً زه د حکم منونکو نه یم دغه
الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا
هغه کسان دی چه قبلوو مونږ د دوی نه ډیر ښائسته عمل چه دوی کړیدی

د قرآن نښته په فصاحت او بلاغت کښے (احسن ص)
فائده :- شیخ القرآن رحمه الله هم فرمائی چه د شاهد نه مراد موسٰی علیه السلام دے.
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا :- دا هم زجر دے منکرینو د قرآن له. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی وأما اهل السنة والجماعة فیقولون فی کل فعل وقول لم یثبت عن الصحابة رضی الله عنهم هو بدعة لانه لو کان خیرا لسبقونا الیه لانهم لم یترکوا خصلة من خصال الخیر الا وقد بادروا الیه. (ابن کثیر)
فائده :- د دے ایت نه د بدعت شرعی تعریف معلوم شو چه داسے د شریعت قول او عمل ته بدعت شرعی نشی ویلے کیدے. لکه چه په شو کیدو تراویح کښے عمر رضی الله عنه حق ابی بن کعب رضی الله عنه مقرر کړی وو. او لکه عثمان رضی الله عنه دوهم اذان شروع کړے وو. نو دا تعریف د اهل سنت او جماعت معلوم شو چه حق دی. او هر هغه شی دعوی کوی. د دے ټولو مثال دے چه هر یو به تورات کړی چه ده نو هم. وَمِن قَبْلِهِ :- یعنی مخکښے د قرآن نه وعظ مثلاً چه دے ایت کښے دلیل نقلی دے د کتاب د موسی علیه السلام نه او ترغیب دے قرآن والو ته.
وَقَالَ الَّذِينَ ... او ګوری سنة السیهد ۳ او هود ۱۷.
د دے صفحے :- وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ ۱۵ ترغیب دے نیک عمل ته او شارع دے او د دوو قسمونو د انسانانو. اول قسم دے ګوم چه د مور او پلار سره احسان کونکی دی. وګوری بقره ۸۳ نساء ۳۶ انعام ۱۵۱ اسراء ۲۳.
(انوار ۷ مسلم)

(بقيه) وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ . اوګورئ لقرآن ... بقره ... آشنګه، د ژمی کمال قوت خیال ... آوزِعْنِيٓ ترڅ کښې وابخوه مالره ... روح ... انهس ... مدارك ... اوګورئ ... أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ... وابشارت ختم ...

وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِ

او تیریدل کوو موږ د بدو عملونو د دوی نه ، دوی به د جنت والو کښې وی

وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾

وعده د رښتینولۍ ، هغه چه دوی ته به وعده ورکړې شوې وه ،

وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ

او هغه کس چه وائی مور او پلار خپل ته ، افسوس دی وی تاسو دواړو ته ،

أَتَعِدَانِنِىٓ أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ

ایا وعده کوئ تاسو ما سره چه زه به ویستلے شم ، او حال دا دے چه تیرے شوی دی

ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِى وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ

پیړۍ مخکښې زما نه ، او دوی دواړه فریاد کوی ....

ٱللَّهَ وَيْلَكَ ءَامِنْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ

الله ته (وائی) تباه دې شے ایمان راوړه یقینا وعده د الله تعالی حقه ده ،

فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾

نو وائی دا نه دی دا مګر قیصے د مخکنو ،

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ

دا هغه کسان دی چه فیصله شوې په دوی باندې د فیصله (عذاب) د

أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ

په هغه امتونو کښې چه تیر شوی دی مخکښې د دوی نه د پیریانو

وَٱلْإِنسِ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ

او انسانانو نه ، یقینا دوی وو تاوان کونکی ، او د هر یو دپاره

دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۖ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ

درجے دی د هغه د عملونو د دوی ، او چه پوره ورکړی دوی ته بدله د عملونو

وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ

او دوی به ظلم نشی کولے ، او په کومه ورځ به چه پیش کړے شی

رکوع ٤

... د پاره د اول قسم انسانو او عام دے خاص په چا پورے نه دے .

فائده ۱ : ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کښې په سند سره د محمد بن حاطب دا روایت نقل کړے دے چه زه یو ځل د امیرالمؤمنین حضرت علی رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر وم په دغه وخت ورسره عمار، صعصعه ... حضرات هم موجود وو چه حضور په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې څه عیب او ګنزلو بیحه یاد ... حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل : کان عثمان رضی الله عنه من الذین قال الله تعالی فیهم أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ . والله عثمان واصحاب عثمان رضی الله عنهم قالها ثلاثا (معارف القرآن ... ابن کثیر ...)

(د دے مخ)

وَٱلَّذِى قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ ... او هغه کس چه او وائی مور او پلار خپل ته ... دا دوهم قسم ناخلفه انسان د مور او پلار بیان دے مفسر صاحب رحمه الله فرمائی چه مراد ترینه جنس انسان دے (روح ... مظهری ...)

فائده ۲ : دا مبتدا ده او خبرئے أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ دے او مراد د ٱلَّذِى نه جنس دے یو څوک نه ... نقول شو او دوی وائی ... چه دا خبره واقعه شوې ... څوک چه وائی چه دا د عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه په حق کښې نازل ده دا قول ضعیف دے (ابن کثیر ...) ... چه کوم صحابه روایت کړے د کوم کس مصداق دا آیت ... ګرځول منقول نه دی (معارف ...) فائده ۳ : ... آیت د دواړو ... لو ... سره ...

أَذْهَبْتُمْ ... : دا تعریف اخروي دے . ولسه لیکال یې دے . د پې و ځلے شي وو دي نه چې ضائع کړے دے تاسو مزے خپلے (موضح ص...) ځکه کړي وو تاسو خپل دنیا کښې او تفع مو پرې اخستے ده (خازن ص...) او دي تاسو خپلے مزے په ژوند دنیاوي ستاسو کښې (احسن ص...) اوګوري ص١٤ التوبة .

كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي

چې کفر یې کړے دے په اور باندې ، (وبه ویلے شي) ضائع کړې وو تاسو پاکیزه څیزونه په

حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَالْيَوْمَ

ژوند ستاسو دُنیاوي کښې ، او نفع حاصله کړې وه تاسو په هغې : نو نن ورځ

تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ

بدله درکولے شي تاسو ته عذاب د ذلت په سبب د هغه چې وئ تاسو

تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَ

لوئي به کوله تاسو په زمکه کښې په ناحقه سره ، او

بِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾ وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ

په سبب د هغې چې تاسو فسق کولو ؛ او یاد کړه (هود) ورور د عادیانو

إِذْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ

کله چې ویرولو یې قوم خپل : په احقاف کښې ، او تیر شوي وو

النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ

ویره ورکوونکي مخکښې د دے نه ، او روستو د دے نه (په دے

أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ

خبره) چې بندګي مه کوئ د هیچا بوا د الله تعالی ، یقیناً زه ویریږم په تاسو باندې د

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا

د عذاب د ورځے لویے نه ؛ او وئیل دوی آیا راغلے یې موږ ته

لِتَأْفِكَنَا عَنْ آلِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا

چې واړوے نه موږ ، د معبودانو خپلو نه پس راوړه موږ ته هغه چې ویره راکوې موږ ته

إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا

که چرته یې ته ؛ د رشتینو نه ؛ او وئیل ده یقیناً ،

الْعِلْمُ عِنْدَ اللَّهِ وَأُبَلِّغُكُمْ مَا أُرْسِلْتُ بِهِ

علم د عذاب په نزد د الله تعالی دے ، او رسوم تاسو ته هغه پیغام چې لیږلے شوے یم زه په هغه

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ ...

دا دلیل نقلي او د عذاب د دُنیا بیان دے . مراد ترې نه هود علیه السلام دے .

بِالْأَحْقَافِ : چې ویرولو هغوی خپل قوم په احقاف کښې . دا جمع د حقف ده . او دا غرۀ شګوي (ابن کثیر ص...) د شګو دیرې ته وئیلې کیږي چې اوږدې او ختلې وي لیکن غر ترې نه وي جوړ شوے . او دا یو علاقه ده د عمان نه تر مهرۀ پورے . بعضو وئیلي دي چې دا یو درې ده د شام کښې ، چې کومه علاقه کښې وي نو په هغه کښې عادۀ ځکه سیلۍ نه راځي نو معلومه شوه چې په دوی باندې د سیلۍ عذاب خارق للعادة وو . (احسن ص...)

ضیاء القرآن تفسیر بـ معنی کولو چې کله یې ویرولو قوم خپل په دهیرګرۀ د شګو کښې .

فائدہ :

په دے آیت کریمه کښې د دے سورت نوم راغلے دے یعنی احقاف او دا د دے سورت امتیاز هم دے . او په دے کښې هغوی ته د آهم مسئلے د توحید بیان دے په ... کښې د هغوی د انکار بیان او مطالبه د عذاب ده .

إِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللَّهِ : په دې کښې هغوی ته جواب دے . معنی دا شوه یقیناً علم په وخت د راتللو د عذاب په نزد د الله تعالی دے . او ما ته علم نشته په هغه وخت باندې په کوم کښې چې تاسو له عذاب مقرر کړے شوے دے . (مدارک ص...)

وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ
اولاکن زه وینم تاسو لره : قوم : چه ناپوهي کوئ ، پس کله چه ولیدهٔ دوئ هغه
عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ قَالُوْا هٰذَا
ورېځ : مخامخ راتلونکې ، میدانونو د دوئ ته ، او وئیل دوئ : دا
عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۭ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ
ورېځ ده ، باران ورونکې په موږ ، (او ویل هود) بلکه هغه شي دے چه تلوار کولو تاسو
بِهٖ ۭ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ
په هغه سیلئ ده چه په دې کښې : عذاب : دردناک دے ، هلاکوي به هر
شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا
شي په حکم د رب خپل ، نو صبا کړه دوئ داسې چه نه ښکاره کیدلا ، مګر
مَسٰكِنُهُمْ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٥﴾
کورونه د دوئ ، دغسې : بدله ورکوو موږ : قوم مجرم ګرونکي ته ،
وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَ
او یقینًا طاقت ورکړے وو موږ دوئ ته په هغے کښې چه طاقت لا ورکړے موږ تاسو ته په هغے کښې او
جَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ڮ
ورکړي وو موږ دوئ ته : غوږونه : او سترګے : او زړونه :
فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ
پس وانه ړول د دوئ نه : غوږونو د دوئ او نه سترګو د دوئ ،
وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا
او نه زړونو د دوئ ، هیڅ شي (د عذاب نه) کله چه وو دوئ
يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا
چه انکار به ئے کولو په ایتونو د الله تعالٰی ، او چاپیره شو دوئ نه عذاب د
كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا
هغه چه وو دوئ پرے ټوقے کولے ، او یقینًا هلاک کړي موږ

ع ۹ ۳

فَلَمَّا رَاَوْهُ : کله چه ولیدهٔ دوئ عذاب ورېځ . یا کله چه ولیدهٔ دوئ هغه یعنی ورېځ . په اول صورت کښې ضمیر مَا تَعِدُنَا ته رجع دے او په دویم صورت کښې مبهم دے تفسیر په عَارِضًا دے (اوګوری مظهری مجلد) عارض هغه ورېځ ده چه په پیغمبري کښې د اسمان کښې (اسراف مجلد)

بَلْ هُوَ : دا قول د الله تعالٰی دے په واسطه د هود علیه السلام سره . یا په ژبه حال سره دے (احسن مجلد)

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ : اوګورئ ذاریات ... اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ چه نه ښکاره کیده سوا د کورونو د دوئ نه ......

وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ : دا اخر د بیان باري تعالٰی اهل مکه ته راوګرزولو چه ما مخکښې قومونو ته قسم قسم نعمتونه ورکړي وو تاسو لره ما دومره نه دي ورکړي لیکن هغوی د باري تعالٰی فرمان او نه منلو نو هلاک شول د هغوی مال او عقل د هغوی نه عذاب بچ نه کړو . نو دغسے به تاسو سره اوشي په خپلو نعمتونو او عقلونو سره نازیږي بلکه د الله تعالٰی حکم او منئ دغه د بچکیدا سبب دے (افضل مجلد)

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا : ... دا تخویف د نیاوی دے .

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ دا د سورت مقصودی مسئله (نفعل منت) یعنی د یو لسمے تنبیه جواب دے، چه معبودانو باطلو را مدد ولے و نکړو د دوی چه بلنه کښے برکت او تقرب الله تعالیٰ ته دے او په دیګښے

حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ

چاپیره ستاسو د کلو نه ؛ او قسما قسم بیان کړی وو موږ ایتونه

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ

د پاره د دے چه دوی واپس شی (حق ته) ؛ پس ولے امداد و نکړو د دوی سره هغو کسانو

اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً ۖ

چه نیولی وو دوی هغوی لره ؛ سِوا د الله تعالیٰ نه ؛ د پاره د نزدیکت ، معبودګان ؛

بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ۚ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا

بلکه ورک شول د دوی نه ؛ او دغه دروغ د دوی وو ؛ او هغه د

كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾ وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا

چه دوی د ځانه جوړول ؛ او کله چه راوګرځول موږ تاته ؛ یوه ډله

مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا

د پیریانو نه ؛ چه غوږ ایښودلو ؛ قرآن ته ؛ پس کله چه

حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا ۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا

حاضر شو قرآن ته او وئیل ئے چپ شئ ؛ پس کله چه پوره شو قرآن واګرځیدل

إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا

قوم خپل ته ؛ ویروونکی ؛ او وئیل دوی اے قومه زمونږه ؛ یقینا

سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا

وآوریده مونږ داسے کتاب چه نازل کړے شوے دے روستو د موسیٰ نه ؛ رښتینے کونکے

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ

د هغه کتابونو چه مخکښے د دے نه دی ؛ ښودنه کوی حق ته او

طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ

لارے سیخے ته ؛ اے قومه زمونږه ؛ قبول کړئ (دعوت) د داعی

اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ

الله او ایمان راوړئ په دهٔ ؛ بخښنه به اوکړی الله تعالیٰ تاسو ته د ګناهونو ستاسو ؛

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ... چه معبودانو باطلو را مدد ولے و نکړو ... نیا سه خلاصه دے ... نو دا په جواب دے اسلاف رحمهم ترکیب ، د اتخذوا اول مفعول هغوی ضمیر محذوف دے راجع دے الذین ته او الهة مفعول ثانی دے ، او قربانا حال دے او یا مفعول له دے توحید کښی دے د اشاره شوے ده ۔

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ ؛ دا دلیل نقلی دے د پیریانو نه ، د پښتو شیخ رحمه الله فرمائی جنیانو هم کلام الٰهی واوریده هغه یے او منلو او د الله تعالیٰ توحید باندے ایمان راوړو او واپس لاړل او خپل قوم ته هم په تبلیغ کولو کښے ولګیدل او په دلائلو عقلی ، نقلی او وحی سره یے د قوم په مخکښے مسئله بیان کړه ۔ ابن کثیر رحمه الله د عکاظ بازار په طرف تللو په لاره کښے وادی نخله کښے د سحر مونځ کولو چه د پیریانو یو جماعت چه په اوو یا نهه افرادو په مشتمل وو دغلت تیریده کله چه د تلاوت د قرآن آواز د دوی په غوږونو کښے پریوتو نو په هغه ځائے غلی شو د دا ادب وو لوئی

اَنْصِتُوْا ، چپ شئ ، دا د قرآن ادب دے او دغه ادب د وجے نه په دوی باندے رحم اوکړے شو یعنی هدایت ورته نصیب شو او توفیق د دعوت ورته اوشو ورکړے شو لکه چه په سورة اعراف ٢٠٤ کښے ذکر دی (احسن ٣٠٥) ، د قرآن د اورېدو په وخت چپ کیدل کامیابی ده . د قرآن چه ترڅو ادب کیږی نو قرآن زړه ته ننوځی (افضل منه) دا ادب وو د دوی د ابن کثیر ، قاسمی

مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى : د عیسیٰ علیه السلام ذکر یے اونکړو د دے وجے نه چه
(باقی په بل مخ)

وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ

او بچ به کړی تاسو له ، د عذاب دردناک نه ، او هغه څوک چه قبول نه کړی

دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ وَ

د داعی د الله خبره نو نه دے عاجزه کونکے : په زمکه کښے الله لره : او

لَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءُ ۚ أُولَٰئِكَ فِي

نشته دے ده لره : بیرته د الله نه : مدد ګاران : دغه کسان په

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿۳۲﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي

ګمراهئ واضحه کښے دی : آیا او دوی نه ګوری چه یقیناً الله هغه ذات دے

خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ

چه پیدا کړی : آسمانونه او زمکه : او نه دے ستړے شوے

بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ۚ

په پیدا کول د دوی : قدرت والا دے په دے چه ژوندی کړی : مړی لره :

بَلَىٰ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿۳۳﴾ وَيَوْمَ

ولے نه ؟ یقیناً الله په هر شی باندے : قدرت والا دے ، او کومه ورځ

يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَلَيْسَ

پیش کړے شی هغه کسان چه کفر یې کړے : په اور باندے : آیا نه دے

هَٰذَا بِالْحَقِّ ۖ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ

دا حق : وبه وائی دوی ولے نه ، قسم دے په رب زمونږ ، وبه وائی

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿۳۴﴾

الله پس وڅکئ عذاب : په سبب د هغه چه تاسو کفر کولو :

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ

نو صبر کوه ، څنګه چه صبر کړے وو خاوندانو د اوچت همت : د رسولانو نه :

وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ

او جلدی مه غواړه ورکالره (عذاب) ګواکی : ګویا چه دوی به ورځ وینی

(بقیه)

دوی د عیسیٰ علیه السلام نه نه وو خبر شوی . یا د دے وجے نه چه د انجیل اصل حکم تورات وو (احسن ص۳۳ ج۴) انجیل نو نه ذکر کولو او چه هم کښے شی چه انجیل اکثر احکام کښے د تورات تابع دے او قرآن په مثل د تورات مستقل کتاب دے د دے احکام او شرائع د تورات نه ډیر مختلف دی نو دا کیدے شی چه مقصود دا شوی نه وه چه د تورات نه پس یو کتاب مستقل قرآن هم دے (معارف ص۷۹ ج۸)

(د دے مخ)

وَمَن لَّا يُجِبْ : دا زجر او تخویف دے په نه منلو د دعوت د نبی علیه السلام باندے . په ۳۳ کښے دلیل عقلی او زجر منکرینو د قیامت لره . او ګورئ سورة اسراء ۹۹ ضم او بیا په ۳۴ کښے د اثبات د قیامت نه پس تخویف دے او دا آیت هم تیر شوی .

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ : دا تسلی ده نبی علیه السلام ته . معنی دا شوه . تو صبر کوه لکه چه صبر کړے وو د پوخ عزم او کار کوونکو پیغمبرانو . قاضی رحمه الله فرمائی چه ذهاب کړے دے جمهورو مفسرینو په دے آیت کښے چه د دے نه مراد ټول رسولان دی . او من بیانیه د بیان د پاره دے (محاسن التاویل للقاسمی ص۳۲ ج۱۵)

بَلٰغٌ، دا خبره د مبتدا د محذوفے دے یعنی دا قرآن بلاغ یعنی تبلیغ دے د الله تعالیٰ نه تاسو ته (سراج منیر ص۳۳۳) دلته دوه قوله دی یو دا چه بلاغ په معنیٰ د تبلیغ دے دویم دا چه معنیٰ یے کفایت دے یعنی دا قرآن کافی دے

مَا يُوعَدُونَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن

هغه عذاب چه دوی سره یے وعده کړے شوې ده: چه دوی نه دی اوسیدلی مګر یو ساعت د

نَّهَارٍ ۚ بَلَٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾

ورځے نه. دا رسول دی: پس نه به هلاکولے شی مګر قوم بے حکمه:

سُورَةُ مُحَمَّدٍ مدنية — بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ — آياتها ۳۸ — ركوعاتها ۴

ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ

هغه کسان چه کفر یے کړے دے او اړولی (خلقو لره) د لارے د الله نه

أَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴿١﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟

برباد کړی الله تعالیٰ عملونه د دوی: او هغه کسان چه ایمان یے راوړے دے او کړی یے دی

ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَءَامَنُوا۟ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ

د نیکو: او ایمان یے راوړے په هغه (څیز) چه نازل کړے شوے دے په محمد باندے

وَهُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ

او دا حق دے د جانب د رب د دوی نه، لرے کړی الله تعالیٰ د دوی نه بدی د دوی

وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

او برابر کړی حال د دوی: دا دے وجے نه چه یقیناً هغه کسان چه کفر یے کړے

ٱتَّبَعُوا۟ ٱلْبَٰطِلَ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّبَعُوا۟

تابعداری یے کړیده د باطل: او یقیناً هغه کسان چه ایمان یے راوړے تابعداری یے

ٱلْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ

کړیده د حق او طرف د رب د دوی نه: دغه شان بیانوی الله تعالیٰ

لِلنَّاسِ أَمْثَٰلَهُمْ ﴿٣﴾ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ

د پاره د خلقو احوال د دوی: نو کله چه مخامخ شئ تاسو د هغه کسانو

كَفَرُوا۟ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ

چه کفر یے کړیدے، نو اووهئ څټونه د هغوی: تر دے چه کله

د پاره د خلقو اوګورئ زاد المسیر ص۱۲۴. تائید سورة ابراهیم ۵۲ کښے دے. د پنډی شیخ رحمه الله فرمائی چه دا اشاره تولو حرامیانو ته ده (جواهر ص۱۳۴) فَهَلْ يُهْلَكُ دا هم داخل دے په تسلی د پیغمبر علیه السلام کښے یعنی روستو د تبلیغ نه عذاب په خاص راځی په نافرمانو باندے هسے که تبلیغ اونشی نو عذاب په عام راځی (روح ص۲۹) اوګورئ انفال ۲۵.

امتیازات: (۱) ذکر د احقاف ۲۱ (۲) جواب د یو شبے ۳۳ (۳) دلیل نقلی د جنانو نه ۲۹ (۴) د اولیاء کرامو دشمنان ۲۰ (۵) لو کان خیرا ما سبقونا الیه یعنی قول د کافرانو په باره د مؤمنانو کښے. (بروز یکشنبه ۲ جمادی الاولیٰ په وقت صبح ۱۰:۳۰ بجے ختم شو بتوفیق الله تعالیٰ)

سورت محمد

دا مدنی سورت دے ۳۸ آیتونه دی. پس د سورة احقاف په ترتیب کښے او ۹۵ دے په نزول کښے پس د سورة حدید نه. د دے سورت نه د خلقو حق معلوم باب شروع دے په د بل کښے ورسره سورتونه دی.

وجه د تسمیه: دا ده چه د نبی علیه السلام د مبارک نوم محمد په ۲ آیت کښے ذکر دے. دعوی: ترغیب قتال فی سبیل الله تعالیٰ او ترهیب ۱۸. ربط: (۱) دا سورت پس د حوامیمو نبیغان د سورة انفال دے پس دا اعراض (۲) هرکله چه ترهیب ثابت شو او د شبهو جوابونه اوشو کښے نو ترغیب یے ورکړو مؤمنانو ته د قتال د پاره د دفع د شرک (۳) یا هرکله چه سورة احقاف ختم شو په تخویف د مجرمانو باندے نو دلته ترغیب دے قتال د هغوی ته چه اولا او څلورمه عذاب د لاسونو د مسلمانانو نه (سراج منیر) (۴) ما قبل کښے اوفرمایل فَاصْبِرْ ۳۵ نو دلته د هغه انتهاء بیانوی چه قتال دے. (باقی په بل مخ)

(۴) (۴) کفر خطابات دی دا پاره د ترغیب الی الجهاد نه مخ ۶ ۵ ۰ مخ ۳۸ ۴۰

(بقیه) خلاصه: په دې سورت کښې دوه بابونه دي اول باب تر ۹ پورې کښې پنځه خبرې دی (۱) تخویف او بشارت نه ۶ - (۲) انه علمتوه د جهاد ۸ ۷ ۸ ۹ (۳) بیان د قیامت ۱۰ (۵) دعوی د توحید ۱۹ ، دویم باب د اخره پورې ۳۸ کښې هم پنځه خبرې دی (۱) زجر منافقانو ته په انځالو او اقوالو د هغوی او اشتې صفات قبیحه د هغوی دوه پیر ۱۶ کښې دوه په ۲۰ کښې دوه پیر ۲۳ کښې یو په ۲۵ کښې دوه په ۲۷ کښې یو پیر ۲۹ کښې یو په ۳۰ کښې دوه په ۳۲ کښې. (۲) ترغیب قتال نه ۳۴، ۳۵ (۳) ترغیب الطاعت د رسول الله ﷺ نه ۳۳ (۴) تزهید د دُنیا نه ۳۶ (۵) ترغیب انفاق فی سبیل الله نه ۳۸ . فائده: په دې سورة کښې زیات تر تقابل د اوصافو د مؤمنانو او د احوالو د کافرانو دے. اَلَّذِیْنَ کَفَرُوْا نه دا بیان دے د حال د مشرکانو (افضل ۲۰۳) اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ یعنی کړې دی الله تعالیٰ عملونه د دوی (قرطبی ۶۴) برباد کړې دی الله تعالیٰ عملونه د دوی (شیخ القرآن) وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نه بیان د حال د مؤمنانو دے (افضل ۲۰۳) ذٰلِكَ دا سبب د ما قبل دے چې د کافرانو عمل چې برباد دے نو ځکه چې هغوی د باطل تابعداري کړې ده او دا مسلمانانو هغه چې معاف دی نو ځکه چې هغوی د حق تابعداري کړې ده (افضل ۲۰۳) فَضَرْبَ الرِّقَابِ نو او وهئ څټونه د دوی په بحث سره اصل کښې دا عبارت وو: فَاضْرِبُوا الرِّقَابَ ضَرْبًا (مدارک ۳۹) دا د هغې د سرې نه دے چې اعلان د جنګ دے او په پاره د اشاعت د توحید چې مخکښې هغوی قتل کړی چې شرک نه

اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ فَاِمَّا مَنًّا

نو ونیسئ هغوی او کلک کړئ بندونه د دوی، او ځکه کړئ تړل د هغوی، نو یا خو احسان کوئ

بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ

روستو د دې نه او یا خو به فدیه اخلئ د دوی نه، تر دې چې کیږدي جنګ سامان

اَوْزَارَهَا ۛ ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ یَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ

(وسلې) خپله ، دا خبره ده ، او که چیرته اوغواړي الله تعالیٰ نو بدله به واخلي

مِنْهُمْ ۛ وَلٰكِنْ لِّیَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ

د دوی نه او لیکن ځکه چې امتحان وکړي د بعضې ستاسو په بعضې

وَالَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَلَنْ

او هغه کسان چې قتل کړې شي، په لاره د الله تعالیٰ کښې، نو هیڅ چیرته نه

یُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝۴ سَیَهْدِیْهِمْ وَیُصْلِحُ

برباد کوي الله تعالیٰ عملونه د هغوی، ژر به لار ښائي دوی ته او ښه به کړي

بَالَهُمْ ۝۵ وَیُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝۶

حال د دوی، او داخل به کړي دوی لره جنت ته، چې معلوم کړے یې دے دوی ته

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ یَنْصُرْكُمْ

اے هغه کسانو چې ایمان یې راوړے دے که چیرې مدد او کړئ تاسو د (دین د) الله تعالیٰ نو مدد به وکړي ستاسو

وَیُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝۷ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا

او مضبوط به کړي قدمونه ستاسو، او هغه کسان چې کفر یې کړے

فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝۸ ذٰلِكَ

نو تباهي ده دوی لره، او برباد کړي الله تعالیٰ عملونه د دوی، دا عذاب دے

بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ

په وجه د دې چې یقیناً دوی بد ګڼلي هغه څه چې نازل کړي دي الله تعالیٰ، نو برباد کړي الله تعالیٰ

اَعْمَالَهُمْ ۝۹ اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا فِی الْاَرْضِ

عملونه د دوی، آیا پس دوی نه دي ګرځیدلي په زمکه کښې

کفر ختم شي یا ستاسو اختیار دے یا په ملا زه (احسان) دا زدوي او هغوی ازاد کړئ او یا تر فدیه واخلئ دا کار روستو کوئ تر هغې پورې چې جنګ ختم شي (افضل ۲۰۳) (د دې مخ) فَاِمَّا مَنًّا بَعْدُ : پس یا به احسان کړئ احسان او یا به فدیه اخلئ فدیه (مدارک [illegible]) فائده: جناب مفتي صاحب رحمه الله پس د بحث او تحقیق نه دا سے فرمائي: (باقي په بل مخ)

(بقیه) خلاصه دا دی چه د سورت محمد او سورة انفال دواړه آیتونه د جمهورو صحابو او امامانو په نزد منسوخ نه دی د مسلمانانو د حالاتو او ضرورت په امام المسلمین ته اختیار دی چه څه ورته مناسب ښکاری هغه وکړی قرطبی

فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن

نو چه اوګوری چی څنګه وو انجام د هغه کسانو چه

قَبْلِهِمْ ۚ دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۖ وَلِلْكَافِرِينَ

مخکښی وو ددوی نه، هلاکت راوستلو الله تعالیٰ په دوی باندې، او د پاره د کافرانو به

أَمْثَالُهَا ﴿١٠﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ

مثل د دی عذابونو وی: دا دی وجه نه چه یقیناً الله تعالیٰ مددګار د هغه کسانو دی

آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿١١﴾ ع ١١

چه ایمان یې راوړی، او یقیناً کافران: نشته مددګار د دوی:

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

یقیناً الله تعالیٰ، داخل به کړی هغه کسان چه ایمان یې راوړی او عملونه یې کړی

الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ

ښیکو، باغونو ته چه بهیږی به لاندې د هغو نه ویالې:

وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ

او هغه کسان چه کفر یې کړی دی، نفع حاصلوی او خوراک کوی:

كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾

څنګه چه خوراک کوی څاروی، او اور ځائې د اوسیدو د دوی دی.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن

او ډیرې کلی: چه هغه سخت وو په قوت کښی د

قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا

کلی ستا: هغه نه چه را ویستلی یې دی تا لره: هلاک کړل مونږ هغوی لره نو نشته

نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن

دوی مددګار د هغوی: آیا پس هغه څوک چه وی په ښکاره دلیل د

رَّبِّهِ كَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا

رب خپل نه، په شان د هغه چا دی چه ښائسته کړی شوی هغه ته بد عمل د هغه او تابعداری یې کړی

مناسب ګڼړی غوره دې کړی قرطبی رحمه الله د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو د عمل نه داثابت ګرځی چه جنګی قیدیان به قتل کړی شوی او کله چه غلامان جوړ کړلی شو او کله به د فدیې اخستلو نه پس پریښودل شو په فدیه اخستل کښې داهم داخل دی چه د دوی په بدله کښې مسلمان قیدیان را آزاد کړی شی او دا هم چه د دوی نه مال واخلی او پریږدی یې. د دواړو قسمو صورتونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو د عهد نه ثابت شوی دی الخ (معارف القرآن)

حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ترجمه چه جنګ کیدی بوجونه خپل. قتاده رحمه الله فرمائی ترڅو چه پاتې نه شی شرک (ابن جریر) اوګوری انفال ۳۹. فراء رحمه الله فرمائی ترڅو چه پاتې نه شی مګر مسلم او یا مسالم (صلح کوونکے) (خازن ۱۳۵) عَرَّفَهَا لَهُمْ مطلب چه ښودلے او معلوم کړے شوې دے هغوی ته (فتح ۱۰۶) او مناسب دا دی چه تیرو سره اوکړی او یا د عرف نه ماخوذ دے خوشبو دار کړے شوے دے (ماکه) اوګوری بقره ۱۵۴ او آل عمران ۱۶۹ د شهیدانو په حقله. ذٰلِكَ دا هلاکت په دې وجه دے. أَفَلَمْ يَسِيرُوا دا تحریض تبلیغ دے.

(د دې مخ) ذٰلِكَ ۱۱ یعنی امداد او د مومنانو او بد انجام د کافرانو په دې وجه دے (ماکه ۲۸) لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ۱۱ : نسفی رحمه الله معنی کوی لَا نَاصِرَ لَهُمْ یعنی نشته امدادی دوی لره (مدارک) الوسی رحمه الله فرمائی چه د دې قول د الله تعالیٰ سره نه راځی رُدُّوا إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ ځکه چه مولیٰ هلته په معنی د مالک دے (روح ۳۶) د احمد په خزانه کښې کافرانو وئیلی وو (باقی په بل مخ)

(بقیه) لنا العزی و لا عزی لکم. نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه ورته اووایئ الله مولانا ولا مولی لکم
(ابن کثیر ص ۲) کما تأکل الانعام ... دَ څاروی دَ خوړلو نه آداب نشته او حلال او حرام نه پېژني

اور هغه کافران دي (خص ۱۲)
دا عبارت دے دَ بې پروائی دَ
خوراک دَ دوی نه او دَ غفلت دَ
دوی نه (تسهیل ص) تقلب په
وریو خپلو کښې دا په کلمه دَ
کښې په فرق نه کوي دَ حرامو او
حلالو کښې په اول کښې بسم الله
نه وئیل او په آخر کښې حمد وشکر
نه کول، خوراک مقصد ګڼل او
دا رنګ ... ولاره باندې خوړل -
(احسن ص) کمن لیل تنه
سوځ ... ص، او ګوري فاطر
... کهف ص -

(ذدے ص)

مثل الجنة ... دا شه آیت
کریمه په سر کښې بشارت او په
آخر کښې تخویف دے او دا قرآن
پاک کښې دَ نهرونو ذکر شوے خو
اجمالا نو دلته تفصیل دَ هغو دَ
څلورو قسمونو عرو او وارد د
سورت امتیاز دے - ومنهم (الخ)
دا تقسیم دَ کافرانو دے چه
بعضې دا رنګه منافقان دي -
ماذا قال: چه څه اوو شے
پیغمبر اوس، دا په طریقه دَ
استهزاء دے یعنی ما په خبر
ته ... المنافقات نه دے کړے شوے
(قرطبی ص)

اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٤﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ
دَ خواهشاتو خپلو، صفت دَ جنت هغه چه وعده یې کړې شوې

الْمُتَّقُوْنَ ۭ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ
دَ پرهیزګارانو سره، چه هغه کښې نهرونه دي دَ اوبو چه نه دي بدبویه شوې

وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ
او نهرونه دي دَ شودو نه، چه نه وي شوے متغیر شوے خوند دَ هغې او نهرونه دي

مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ڬ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ
دَ شرابو نه، خوند ورکونکي څښونکو ته، او نهرونه دي دَ

عَسَلٍ مُّصَفًّى ۭ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ
ګبین نه چه صفا کړے شوے وي، او دوی لره به هغه کښې، دَ هر قسمه

الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَمَنْ هُوَ
میوه جاتو نه وي، او بخښنه ده دَ رب دَ دوی نه، (او دلته کس) په شان دَ هغه

خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ
چا په چه هغه همیشه وي په اور کښې، او څکولے شي به اوبه تودې، نو ټکړې به کړي

اَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ
کولمې دَ دوی، او بعضې دَ دوی نه هغه څوک دي چه غوږ کېدي تا ته

حَتّٰٓى اِذَا خَرَجُوْا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوْا
تر دې چه کله اوځي دَ خوا ستا نه، وائي

لِلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا ۣ
هغو کسانو ته چه ورکړے شوے ده علم، څه وئیل ده اوس

اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ
دغه هغه کسان دي چه مهر لګولے دے الله تعالی په زړونو دَ دوی

وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿١٦﴾ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا
او تابعداري یې کړې ده دَ خواهشاتو خپلو، او هغه کسان چه هدایت موندلے

زَادَهُمْ هُدًى: زیاتوی دوی لره هدایت او ورته کړی دوی ته توفیق د هدایت. او کوټی مریع...
فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا: نو یقیناً راغلی دی علامې د هغې. د نبی علیه السلام د وفات نه تر مهدی علیه السلام

زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿۱۷﴾
زیاته کړی دوی لره الله تعالی هدایت؛ او ورته کړی دوی ته توفیق د تقوی د دوی.
فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ اَنْ تَاْتِيَهُمْ
پس انتظار نه کوی دوی، مګر د قیامت چه راشی دوی ته:
بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ فَاَنّٰى لَهُمْ
ناڅاپی: نو یقیناً راغلی دی علامې د هغې: نو د کوم ځائی نه به وی دوی
اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ
لره چه راشی قیامت دوی ته نصیحت اخستل د دوی: پس پوهه شه چه یقیناً نشته
اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَ
حقدار د بندګئ سوا د الله تعالی نه؛ او بخښنه غواړه د پاره د بوج خپل؛ او
لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
ایماندارو سړو؛ او ایماندارو ښځو لره؛ او الله تعالی پوهیږی په
مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿۱۹﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ
ځائی د ګرځیدو ستاسو؛ او په ځائی د اوسیدو ستاسو. او وائی هغه کسان چه
اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ اُنْزِلَتْ
راوړی دی ایمان ولې نشی نازلیږی یو سورت: نو کله چه نازل کړے شی
سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ
یو سورت او محکمه کړے شوے او ذکر کړے شی په هغې کښې حکم د قتال؛
رَاَيْتَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ
وینې به ته هغه کسان؛ چه په زړونو د هغوی کښې مرض دے؛
يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ
ګوری به تا ته؛ په شان د نظر کولو د هغه چا چه بیهوشی راغلی وی په هغه
مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاَوْلٰى لَهُمْ ﴿۲۰﴾ طَاعَةٌ وَّ
باندې؛ د او ویرې د مرګ نه: نو هلاکت وشه دوی لره ۲ بکاره دوی لره منل؛ او

پورې د قیامت وړې نښې دی او د مهدی علیه السلام نه پس تر قیامت لویې علامې د قیامت دی. (افضل منه) په حدیث د ابوهریرة رضی الله عنه کښې راځی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: "اذا اتخذ الفیء دولا والامانة مغنما والزکوة مغرما وتعلم لغیر الدین واطاع الرجل امرأته وعق امه وادنی صدیقه واقصی اباه وظهرت الاصوات فی المساجد وساد القبیلة فاسقهم وکان زعیم القوم ارذلهم واکرم الرجل مخافة شره وظهرت القینات والمعازف وشربت الخمور ولعن اخر هذه الامة اولها فلترتقبوا عند ذلک ریحا حمراء وزلزلة وخسفا ومسخا وقذفا وایات تتابع کنظام قطع سلکه فتتابع" (ترمذی ص ۴۶، مشکوٰة ص ۴۷۰ باب اشراط الساعة)
فَاَنّٰى لَهُمْ: اخفش رحمه الله فرمائی چه تقدیر د عبارت داسې دے فَاَنّٰى لَهُمْ ذِكْرٰىهُمْ. د کوم ځائی نه به وی دوی لره نصیحت اخستل کله چه راشی قیامت دوی ته (مدارک ص ۱۳۲) فَاعْلَمْ: دا دعوی د توحید ده او دا کلمه طیبه په دے الفاظو دلته او په دوه ځایه سورة صافات ۳۵ کښې شوې ده.
لِذَنْۢبِكَ: او بخښنه غواړه د پاره د بوج خپل (احسن ص ۷۸) وئیلے شی د اجتهادی خطا لپاره چه په قانون د شریعت کښې ګناه نه وی (معارف ص ۲۲) او ذنب په نسبت سره نبی علیه السلام ته پرېښودل د هغه شی دی چه لائق دی د لوئی منصب د هغوی سره او پریښودل د هغه شی نیکی وی د بل کس نه ګناه وی د بل کس نه (روح ص ۴۷) وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ: د دے معنی نه
(باقی په بل مخ)

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ ۚ فَلَوْ

ویناؤ ؛ ښه ؛ نو کله چې مضبوط شي حکم د قتال ، نو که چېرته

صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ

رښتونې کړې وې دوی له وعدې الله تعالیٰ سره نو خامخا وو به غوره دوی لره ۔ نو یقیناً

عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي

نژدې یئ تاسو ، که چېرته اعراض وکړئ ؛ چې فساد به وکړئ ؛ په

الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾ أُولَٰئِكَ

زمکه کښې ؛ او پرې به کړئ خپلولئ خپلې ؛ دغه

الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ

هغه کسان دي ؛ چې لعنت کړی دی پر دوی باندې الله تعالیٰ ؛ نو کاڼه کړي یې دي او ړانده کړي یې دي

أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ

کتنې دوی سترګې د دوی ؛ آیا پس سوچ نه کوي دوی په قرآن کښې ؛ بلکه

عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا

په زړونو د دوی جړندې د هغو دي ؛ یقیناً هغه کسان چې واوښتل

عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

په شاګانو خپلو ؛ (د ایمان نه) پس د هغه نه ؛ چې ښکاره شوې دوی ته

الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ

هدایت ؛ شیطان ښائسته کړي دوی ته (عملونه د دوی) او مهلت یې

لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا

ورکړے دوی ته ۔ دا دوزخ څو وجې نه چې یقیناً دوی وائي ؛ هغه کسانو ته چې بد ګڼړي دوی

مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ

هغه چې نازل کړي الله تعالیٰ ؛ چې اطاعت به اوکړو ستاسو ؛ په بعضې کارونو کښې ؛

وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ

او الله تعالیٰ پوهیږي په پټو خبرو د دوی ؛ نو څنګه حال به وي کله چې روحونه قبض کړي

(بقیه)

د منافقانو صفات دي تقریباً (سلسل ۔ چې محکمې علامه کښې په نفاق دهی شوی ده ۔

مُّحْكَمَةٌ مثلا: واضح معنی والا (فتح ۳۱۲) ، چې ښکاره مراد والا دي او نه منسوخ کبیری اس منګ ، چې نسخ کښې نه وي ، قتاده رحمه الله فرمائي هره هغه سورة چې په هغې کښې ذکر د قتال وي نو هغه محکمه ده او هغه ډیر سخت د قرآن د مضامینو نه په منافقانو باندې دي (قرطبی ۲۴۵/۱۶)

(د دے صفحے)

فَهَلْ عَسَيْتُمْ : خبره ختمې اَنْ تُفْسِدُوْا د دے او شرط په مینځ د اسم او خبر کښې راغلے دے تقدیر د عبارت دا دے فَهَلْ عَسَيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْا اَرْحَامَكُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ (مدارک ۱۲۵) ، معنی لائق دے نیک شو یئ تاسو ۔ اَقْفَالُهَا : بلکه په زړونو د دوی جړندې د هغو دي ۔ یعنی جړندې د خپل ځائ نه خلاصیږي نه شي نو دغه شانته د دوی زړونو ته حقه خبره نه شي داخلیدے او د جړند د (قفلونو) اضافت په زړونو ته او کړو اشاره ده چې دا خاص جړندې دي د زړونو مناسب دي ورسره او د نورو معهودو جړندو په شانې نه دي (روح ۷۸) او ګوره فصل ۴۳ نساء ۴۳ ۔

اِسْرَارَهُمْ : او الله تعالیٰ پوهیږي په پټو خبرو وشیلو د دوی ۔ (فتح ۱۳۳)

الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ۲۷

ملائک هم : وهي به : مخونه د دوی : او شاګانے د دوی :

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوا

دا په دے وجه یقیناً دوی تابعداری کړیده د هغه کار چه خفه کړو الله تعالیٰ او ناخوښه

رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ۲۸ أَمْ حَسِبَ

رضا د الله تعالیٰ : نو برباد کړی الله تعالیٰ عملونه د دوی : ایا ګمان کوی :

الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ

هغه کسان : چه په زړونو د هغوی کښے مرض (کینه) وی : چه هیڅ کله به

يُخْرِجَ اللّٰهُ أَضْغَانَهُمْ ۲۹ وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنٰكَهُمْ

را نه باسی الله تعالیٰ : کینے د دوی : او که چیرے مونږ خواهش وکړو خامخا ... به دی

فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمٰهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ

نو ضرور به ته پیژنی دوی لره په علامو د دوی : او خامخا یقیناً پیژنے به دوی : او په طرز د

الْقَوْلِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ۳۰ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ

خبرو کښے : او الله تعالیٰ پوهیږی په عملونو ستاسو : او خامخا یقیناً امتحان به کوو ستاسو

حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِينَ

تر دے پورے چه جدا کړو جهاد کوونکی ستاسو نه : او صبر کوونکی :

وَنَبْلُوَا أَخْبَارَكُمْ ۳۱ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

او ښکاره به کړو خبرونه ستاسو : یقیناً هغه کسان چه کفر یے کړیدے :

وَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ

او اړول کوی د لارے د الله تعالیٰ نه : او خلاف کوی د رسول نه :

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى لَنْ يَضُرُّوا

پس د هغه نه : چه واضحه شوه دوی ته هدایت : هیڅ کله ضرر نه شی رسولے

اللّٰهَ شَيْئًا ۚ وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ۳۲ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ

الله تعالیٰ ته د هیڅ شی : او زر دے چه برباد کړی عملونه د دوی : اے ایمان والو :

فِي لَحْنِ الْقَوْلِ : او خامخا یقیناً پیژنے به ته دوی لره په طرز د خبرو کښے . او اسلوب طریقے د خبرو کښے په افضل التراجم کښے دی یعنی منافقان تا ته یقینی نه شاید البته ته به یے په طرز د ګفتګو سره پیژنے . په احسن الکلام کښے دی هر کله چه د منافقینو بعضے علامات او صفات ذکر شول او تول یے بیان نه کړل د دے وجه ذکر کوی په دے ایت کښے لَأَرَيْنٰكَهُمْ مراد د دے نه زړونو د بیتولو علاماتو دی . لیکن لو دلالت کوی په امتناع د دوارو جملو یعنی د الله تعالیٰ مشیت په دے باندے نشته نو ټول علامات د دوی د معرفت په تا ته نه دی ښودلی . فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمٰهُمْ دا عطف دے په لَأَرَيْنٰكَهُمْ باندے لیکن هر کله چه هغے کښے معنیٰ د احتمال ثابته شوه نو په دے جمله کښے هم معنیٰ د انتفاء ده یعنی ته یے په علاماتو سره نه پیژنے . اختصر والی ازکړی شا نشو به .

فائده

په لحن القول سره منافقان پیژندلے شی لیکن هر یو منافق په معروفت کښے لحن القول نه کولو د دے وجے نه په ټولو باندے علم د نبی علیه السلام حاصل نه شو . (احسن ص ...)

وَلَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ: په منافقت سره او یا په ریاکارۍ (مدارک ص۲۵۶) فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ: پس
هیچرې بخښنه نه کوی الله تعالیٰ دوی ته. اوګورئ نساء. وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ص۳۵: او مه

اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا
اطاعت کوئ د الله تعالیٰ او اطاعت کوئ د رسول ﷺ او مه
تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ
باطلوئ عملونه خپل، یقیناً هغه کسان چه کفر یې کړے دے او
صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ
اړولی کوی د لارې د الله تعالیٰ نه بیا مړه شی او دوی وی
كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا تَهِنُوْا
کافران نو هیچرې بخښنه نه کوی الله تعالیٰ دوی ته پس مه سستی کوئ
وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۖ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ
او مه غواړئ صلح کولو سره او تاسو یئ اوچت یئ
وَاللّٰهُ مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾
او الله تعالیٰ ملګرے ستاسو دے او هیچرې به کم نه کړی تاسو ته بدله د عملونو ستاسو
اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۗ وَاِنْ
یقیناً ژوند دنیاوی لوبې او تماشې دی او که
تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ وَلَا
ایمان راوړئ تاسو او تقوی خپله کړئ نو درکړی به تاسو ته ثوابونه ستاسو او نه
يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾ اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا
غواړی الله تعالیٰ ستاسو نه مالونه ستاسو (ټول) که چرې د غواړی ستاسو نه هغه
فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾
پس زور ورکړی به تاسو نو بخل به وکړئ او راوبه باسی کینې ستاسو
هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوْا فِيْ
خبردار یئ تاسو اے خلقو رابللے شئ چه خرچ وکړئ په
سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَمَنْ
لاره د الله تعالیٰ کښې نو بعضے ستاسو هغه دی چه بخل کوی او چا چه

مه کوئ صلحے ته. سوال: سورة انفال ۶۱ کښې راغلی چه که چرته دوی صلحے ته مائل شو نو ته هم مائل شه ورته. او ولته د صلحے نه منع راغلې. جواب: مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه هغه صلحه ممنوعه ده چه د هغے منشاء بزدلی وی. او د الله تعالیٰ په لاره کښې د جهاد د کولو نه تیښته وی نو د دے وجے نه په دواړو کښې څه تعارض نشته. (معارف القرآن ص۴۷۲)

اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۳۶: اوګورئ آل عمران ۱۸۵، عنکبوت ۶۴.

وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ: او نه غواړی الله تعالیٰ ستاسو نه ټول مالونه ستاسو (فتح ص۳۱)

فَيُحْفِكُمْ: پس مبالغه وکړی ستاسو نه په طلب د هغے کښې (جلالین ص۴۲۲) پس زور اوکړی په تاسو باندے (شیخ القرآن) (د اشد ۱۳ مخ حاشیه)

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ: صرف الله تعالیٰ غنی دے او جنس مخلوق محتاج دے که اولیاء دی او که انبیاء دی او که جنات دی او که ملائک دی او که بادشاهان دی او که زیارتونه دی. یو خیراتی په کور کښې آواز د خیر اوکړو نو صغری ورته اووے چه مونږ د محتاج خیر کړیدے او بر خوند کوی چه غریب د غنی نه سوال کوی او دې بیا بدبختا ته چه غریب د غریب نه سوال کوی؟ (انفال ص۴۲) اوګورئ د انفاطر

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا: او که چرې منافقانو لره (جواہر ص۴۵۶) په دے ایت کښې د حق تعالیٰ غنی الاغنیاء کیدل بیان
واضح کړیدی (معارف ص۴۷۲) په دے کښې ډیر اقوال دی په یو اوږد حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کښې راغلی چه
سلمان رضی الله عنه د نبی علیه السلام په خوا کښې ناست وو. صحابه کرامو رضی الله عنهم تپوس اوکړو چه دا غوک دی نو صغری

دَ سلمان رض په اوږه لاس کیښودو وے فرمائیل دا او دَده قوم . والذی نفسی بیده لوکان الدین معلقاً بالثریا لتناوله رجال من فارس (اوګورئ زاد المسیر ص، سراج منیر ص، اوګورئ ترمذی ص ج ۲)

يَّبْخَلْ ۚ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

بخل اوکړو نو یقیناً بخل کوی دَ تاوان دَ نفس خپل نه : او الله تعالیٰ

الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

غنی دے او تاسو فقیران یئ : او که چرے اوګرځیدئ تاسو

يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا

نو بدله کړے به راولی الله تعالیٰ قوم غیر ستاسو ته : بیا به نه وی هغوی

اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾

په شان ستاسو :

رکوعاتها ۴	اٰیاتها ۲۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	سورة الفتح مدنیة ۱۱۱

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۙ ﴿۱﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ

یقیناً مونږ درکړو تاته : فتحه : ښکاره : چه بخښنه اوکړی تاله

اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَ

الله تعالیٰ دَ هغه چه تیر شوی : دَ خطا ستا نه : او هغه چه روستو شوی او

يُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا

پوره کړی نعمت خپل په تا باندے : او ګلک کړی تا لره په لاره

مُّسْتَقِيْمًا ۙ ﴿۲﴾ وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ﴿۳﴾

نیغه باندے : او امداد اوکړی ستا الله تعالیٰ : امدادی قوی :

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے یے ده تسلی : په زړونو د

الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

مؤمنانو کښے : چه زیات کړی دوی : ایمان : سره دَ ایمان خپل نه :

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ

او خاص الله لره لښکرے دَ اسمانونو : او دَ زمکے دی : او دے

فائدہ ۱: دا عطف دے په ان تؤمنوا وتتقوا باندے په ص۳۶ کښے یا واو استئنافیه دے . اِن په مقابله دَ شک کښے ذکر کیږی نو معلومه شوه چه مخاطبین په صحابه کرام رض دی . هغوی مخ نه وو اړولے دَ دے وجے نه دَ هغوی په ځاے کښے دَ دین حفاظت الله تعالیٰ په بل چا باندے دَ هغوی په بدله کښے نه دے کړے . هاں هر کله چه دَ سلف صالحینو دَ زمانے تیریدو نه روستو رفته رفته عربو مخ واړولو نو الله تعالیٰ دَ دین کار عجمو ته وسپارلو (احسن الکلام ص)

امتیازات :

(۱) اَتَلس صفات دَ منافقانو (۲) ذکر دَ څلور قسمونو د نهرونو دَ جنت ص (۳) مقابله په مابین دَ صفاتو دَ مؤمنانو او کافرانو . (۴) دَ نبی علیه السلام په نام ګرامی سره سورت مسمی کیږی او دَ هغوی نوم په ص کښے ذکر کړے دے (۵) کلمه دَ توحید لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په ص آیت کښے (تلخیص) (ختم شد بحمد الله بتوفیق الله تعالیٰ ، بوقت [illegible] بجے [illegible] قبل دَ نماز فجر ۴ جمادی الاولی ۲۰ ۱۴۲ ھ)

سورة الفتح : دا مدنی سورت دے په ترتیب کښے پس دَ سورة محمد نه دے . او په نزول کښے [illegible] دے پس دَ سورة جمعه نه . نوم دَ دے سورت په ص ۱ کښے ذکر شوے دے

دعوی : زیرے دے مجاهدینو ته په فتح سره او په ص کښے سره او په ص کښے دعوی دَ توحید هم ده . (ربط وسره) (۱) هر کله چه ترغیب ورکړو جهاد ته په مخکښنی سورت کښے نو زیرے یے ورکړو هغوی ته په دے سورت کښے په فتحه او پوره والی دَ نعمت سره . (۲) شنګه چه زجر ورکړو منافقانو ته مخکښے نو دلته یے عذاب ورکولو ورکړو دے . (۳) هلته هم صفات دَ منافقانو ذکر دی نو دلته یے په بل طریقه ذکر کوی . (باقی په بل مخ)

(باقی په بل مخ)

(بقیه) (۴) هغه نوم د محمد ﷺ ذکر شوے دے په کوم کښې چې نوے مقصد د شان د هغوی ذکر کوی په ۲۹ کښې (۵) هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ذکر دے په کوم کښې چې نوے محمد رسول الله ذکر کوی په ۲۹ کښې. خلاصه: په

اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۴﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ

الله پوهه په هر څه حکمت والا. چې داخل کړی مؤمنان سړی او

الْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

مؤمنانې ښځې باغونو ته چې بهیږی لاندې د هغو نه ویالې

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ وَ

همیشه به اوسیږی په هغو کښې او لرې کړی د دوی نه بدی د دوی او

كَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۵﴾ وَّ

وی دا کار په نزد د الله تعالیٰ کامیابی لویه او

يُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ

چې عذاب ورکړی منافقانو سړو او منافقانو ښځو او مشرکانو سړو

وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ

او مشرکانو ښځو ته چې ګمان کوونکی دی په الله تعالیٰ باندې ګمان ناکاره

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

په دوی باندې دے مصیبت ناکاره او غضب کړے الله تعالیٰ په دوی باندې

وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ

او لعنت یې پرې کړے دے او تیار کړے یې دے د دوی دپاره دوزخ او ناکاره دے

مَصِيْرًا ﴿۶﴾ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ځائے د واپسۍ. او خاص الله تعالیٰ لره لښکرې د آسمانونو او د زمکې دی

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۷﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ

او دے الله تعالیٰ زور ور حکمت والا. یقیناً مونږ لیږلے یې ته

شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۸﴾ لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

حق بیانوونکے او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے. چې ایمان راوړئ په الله تعالیٰ

وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ

او په رسول د هغه او امداد وکړئ د دین د هغه او عزت د هغه وکړئ او پاکی وایئ د الله

په دے سورت کښې دریه باندې دی اول ترغیب پوره شو دویم ترغیب په وریم تر آخره پوره شو په اول باب کښې څلور خبرې دی (۱) دوه بشارتونه ما ته او په هر یو باب کښې څلور څلور نتیجې مرتبې دی. (۲) دعوی د توحید (۳) ترغیب تابعداری د رسول الله ﷺ ته د (۴) بشارت مجاهدینو ته.

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا د سورت مقصد د اعلان جنګ شروع شو. د الله اعلان فتحې دے (فضل مثلاً) اول بشارت دے په دے کښې دری او په دے کښې یو نتیجه یعنی څلور څلور نتیجې تفریع دی.

فائده: شپږمې کښې رسول الله ﷺ په خوب کښې اولیدل چې د هغوی د صحابو یو جماعت سره مکې ته تشریف راوړو داخل شوی په امن سره نه خوافی او څه کسان تښتیدلی وو ای کړی هغوی دا خوب صحابو ته واوریدو ټول هغوی ډیر خوشحاله شو. کله چې په میاشت د ذی القعدة کښې هغوی د صحابو د یو لوئے جماعت سره د بیت الله د زیارت په اراده روان شو په مقام حدیبیه کښې د موجود د صحابو شمیر څوارلس سوه (۱۴۰۰) وو. کله چې هغوی دغه ځائے ورسید نو حضرت عثمان رضی الله عنه یې خپل پیغام ورکړو او مکې ته یې ولیږلو چې دے د پاره چې دے د هغوی پیغام قریشو ته ورسوی. پیغام دا وو چې زه د څه جنګ دپاره مکې ته نه یو راغلی بلکه د بیت الله زیارت د پاره راغلی یم د جنګ ارجول په

اراده نه یم راغلی د دې وجې نه تاسو مزاحمت مه کوئ. قریشو د بیت الله د زیارت اجازت ورنه کړو او حضرت عثمان ته یې اووئیل که ته غواړې نو د بیت الله طواف کولے شې. هغوی جواب ورکړو چې دا هیڅ کله نشی کیدے چې زه به د رسول الله ﷺ نه بغیر یوائے طواف اوکړم. چنانچه حضرت عثمان رضی الله عنه د طواف (باقی په بل مخ)

(بقیه) کولونه بغیر واپس راغلو اخر د قریشو د طرفه سُهیل بن عَمرو د حضوری خوا ته راغے او یو معاهده ئے ورسره اوکړه چه د هغے شرطونه دا وو - (۱) د مشرکانو نه چه کوم یو سړی د مسلمانانو خوا ته لاړ شی نو هغه به واپس کولے شی -

(۲) که چیرے یو مسلمان د مشرکانو خوا ته ورسیږی نو هغه به نه واپس کوی (۳) دا کال به د بیت الله زیارت نه کوی بلکه راتلونکی کال به ئے راځی او شرط به دا وی چه د وسلے نه بغیر به ځکے نه داخلیږی - د دغه شرطونو نه ظاهر کیږی د مسلمانانو کمزوری ظاهرولو ، د دے وجے نه ډیر زیات مسلمانانو طبیعت متغیر شو نو د غه ځائی نه چه کله حضوری د حدیبیے مقام نه روان شو نو په لاره کښې دا سورة نازل شو (روح ، خازن ، معالم ، وغیره) (جواهر القرآن ص ۱۱۴۹)

فائده : حدیبیه کښې د بیعت رضوان تفصیلی ذکر لغطے وے او کورئ مشکوٰة ص ۳۵ ، بخاری د ص ۹۹ ، او جناب مفتی صاحب رحمه الله د ص ۶۵ نه پورے معارف کښې تفصیلی واقعه ذکر کړے ده -

فائده : مفسرین رحمهم الله فرمائی چه د فتح مبین معنی د ښکاره فتح نه مراد صلح د حدیبیے ده ځکه چه د دے په وجه ډیر خیر حاصل شو خلقو ایمان راوړو ، بعضے د جنګ نه بچ شو او مؤمنانو ته د کفارو سره خبرے اوکړے - او علم نافع خور شو - او کورئ ابن کثیر ص ۲۸۲ جزء رحمه الله فرمائی چه لویه فتح د مکے د حدیبیے نه بله نشته - اختلاط د مشرکانو سره راغلو او د حضوری خبرے ئے واوریدے او اسلام ئے په زړونو کښې ځائی ونیولو او په دربو کالو کښې ډیر خلقو اسلام راوړو او په حضوری باندے د اسلام ډله زیاته شوه (روح ص ۸۴ ج ۲۶) او کورئ قرطبی ص ۲۶۰ ج ۱۶ - لِيَغْفِرَ لَكَ

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ
سبا او بیګاه : یقیناً هغه کسان چه بیعت کوی تاسره
اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ
یقیناً بیعت کوی دوی د الله سره : لاس د الله دے د پاسه د
اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى
لاسونو د دوی نه دے : نو چا چه مات کړو بیعت نو یقیناً ماتوی به په
نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ
ضرر د نفس خپل : او چا چه پوره وفا اوکړه په هغه چه لوظ ئے کړے دے هغه د الله سره
فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٠﴾ سَيَقُوْلُ لَكَ
نو یقیناً ورکوی به هغه ته اجر لوئی : زر دے چه وبه وائی تا ته :
الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ
پاتے کیدونکی کسان : د بانډو اوسیدونکی : مشغوله کړی وو موږ
اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ
مالونو زمونږ : او اهل زمونږ : نو بخښنه اوغواړه زمونږ دپاره : وائی دوی
بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلْ
په ژبو خپلو هغه چه نشته په زړونو د دوی کښې : او وایه
فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا اِنْ
پس څوک به واکدار شی تاسو لره د طرفه د الله نه د څه شی : که چرته
اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ؕ بَلْ
اراده اوکړی په تاسو د څه ضرر : یا اراده اوکړی په تاسو د نفع : بلکه
كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١١﴾ بَلْ
دے الله : په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار دے : بلکه
ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَ
ګمان کولو تاسو چه چرته به واپس نه شی رسول ۴ او

اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ : چه بخښنه اوکړی تا ته الله د هغه چه تیر شوی د لغزش ستا - الوسی رحمه الله فرمائی چه مراد د ذنب نه هغه دی چه صادر شوی دی د حضوری نه خلاف اولیٰ په نسبت سره مقام د حضوری ته د قبیلے د حَسَنَاتُ الْاَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ او ئیا ذنب د حضوری په نظر عالی کښې اګر چه هغه نه ګناه وی او نه خلاف الاولیٰ ځکه چه (باقی په بل مخ)

(بقيه) اشاره كوي اضافت د ذنب صغيري ته (روح مبلغ جز ربستت) د شاه ولي الله صاحب معنی لكي – چه
د هغه محبت كوے نو معاف كړي تاسو الله تعالیٰ او (فصل مسئله) ځكه كه ځي وژغورل الشكنه ... دادويم بشلسته

الْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ

مؤمنان : اهل عيال خپل ته هيڅ كله او ښائسته كړے شوے

ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ

دا گمان: چه زړونو ستاسو كښے او گمان كړو تاسو گمان ناكاره

وَكُنتُمْ قَوْمًا بُورًا ﴿١٢﴾ وَمَن لَّمْ يُؤْمِن

او وئ تاسو قوم هلاك شوے او څوك چه نه زړوي : ايمان

بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ فَإِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ

په الله تعالیٰ او په رسول د هغه، نو يقيناً موږ تيار كړے دے د كافرانو د پاره

سَعِيرًا ﴿١٣﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

سوزونكے اور او خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي د آسمانونو ده او د زمكے

يَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ

بخښنه كوي چا د پاره چه وغواړي او عذاب وركوي چا له چه وغواړي

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُولُ

او دے الله تعالیٰ بخښنه كونكے رحم كونكے : زر دے چه وبه وائي

الْمُخَلَّفُونَ إِذَا انطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ

پاتے كړے شوي كسان : كله چه روان شئ تاسو غنيمتونو ته

لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ

چه واخلئ هغه لره : پريږدئ موږ چه پسے شو تاسو پسے اراده كوي

أَن يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا

چه بدل كړي خبره د الله تعالیٰ او وايه هيچرے به نه شئ پسے راتلے موږ

كَذَٰلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ

دغسے (تاسو ته وايم) ويلي دي الله تعالیٰ مخكښے د دے نه نو زر دے چه وبه وائي

بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ

بلكه كينه كوئ تاسو په موږ باندے، بلكه دي دوي چه نه پوهيږي

د شه په دے هم څلور تسبيح تعريف وي او له په دے دويم او وربه په دے او څلورمه په حمد كښے ذكر هم خلاصه د النشر په ځكه دا د ماقبل د پاره علت دے او ترغيب دے جهاد ته.

(حاشيه د صفحے)

لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ : په دے ايت كښے څلور فائدے دي، د رسول اكرم صلی الله عليه وسلم دي. په دويم او دريم ځل كښے ضمير غائب ته هم راجع كيږي او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته هم. او په تسبحوه كښے ضمير الله تعالیٰ ته راجع دے او په تسبحوه باندے وقف دے. (د كوثر احسن ص ۳۹)

(حاشيه د صفحے)

إِنَّ الَّذِينَ ... : د اصحابو د بيعت نه پس د صغرى با بعد او د سره بشارت دے. قرطبي رحمه الله فرمائي چه بيان كړي الله تعالیٰ چه بيعت د دوي د نبي عليه السلام سره يقيناً بيعت دے د الله تعالیٰ سره لكه الله فرمائي مَن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ (قرطبي ص ۲۶) سَيَقُولُ لَكَ ... : د دے خائي نه تر آخره ايت پورے دويم باب دے په دے كښے شي قسمونه د منافقانو دي او زجرونه دي په سستي سره د جهاد نه، په ۱۱، ۱۲ (۲) د صغرى د توحيد ۱۳ (۳) ذكر د دوي قسم د معذورينو د جهاد نه ۱۷. فَإِن رَّجَعَكَ ... دا زورنه د هغه منافقانو ته چه په سفر د حديبيه كښے نه وو د نبي عليه السلام سره (فصل ص ۲۶) دوي پاتے شوي د وړه د نبي عليه السلام

د رفاقت نه په قهر د الله سره چركله دوي نه دا سفر شه نه بنكاريده نو الله تعالیٰ تر دوي محروم كړل د غنيمت هر دني كار دے
چه د چا زړه غواړي نو الله تعالیٰ ور ته توفيق وركوي، د هغه كار او چا ته چه هغه ديني كار ښه نه بنكاري نو الله تعالیٰ تر دغه كس
محروم كړي (ايضاً) يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم ... د دے تفصيل په مخكښے دے يعني بَلْ ظَنَنتُمْ ... او (ودے كړه حاشيه په بل مخ او گوري)

(د تیر مخ حاشیه) لِتَأۡخُذُوهَا: د دې نه مراد غنیمتونه د خیبر دي د کوم وعده چې الله تعالیٰ په بیعة الرضوان کښې شریکیدونکو سره وعده کړې وه نو حکه چې خلکيه راغلي (جواهر صد ۲۰) يُرِيدُونَ أَنۡ يُبَدِّلُوا: اراده لري دوی چې بدل کړي کلام د الله تعالیٰ.

إِلَّا قَلِيلٗا ۝ قُل لِّلۡمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ

مګر لږ. او وايه ته وروسته کړي شوو کسانو ته د باڼو (بدویانو) نه:

سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ أُوْلِي بَأۡسٖ شَدِيدٖ

زر دی چې راوبلې شئ (جنګ) ته د داسې قوم چې خاوندان د جنګ سخت دي

تُقَٰتِلُونَهُمۡ أَوۡ يُسۡلِمُونَ فَإِن تُطِيعُواْ

جنګیږئ به تاسو دغوی سره تر څو چې اسلام راوړي دغوی. پس که اطاعت وکړو تاسو

يُؤۡتِكُمُ ٱللَّهُ أَجۡرًا حَسَنٗا وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ

ورکړي به تاسو ته الله تعالیٰ اجر ښائسته. او که چیرې اوګرځیدئ تاسو

كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا

لکه چې ګرځیدلي وئ مخکښې د دې نه، عذاب به ورکړي الله تعالیٰ عذاب

أَلِيمٗا ۝ لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى

دردناک. نشته دے په ړانده باندې څه ګناه. او نه په

ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞۗ

ګوډ باندې څه ګناه. او نه په ناجوړه باندې څه ګناه.

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ

او څوک چې تابعداري اوکړي د الله تعالیٰ او د رسول د هغه، داخل به کړي هغه لره باغونو ته

تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ وَمَن يَتَوَلَّ

بهیږي به لاندې د هغوی نه ویالې. او څوک چې مخ واړوي لره

يُعَذِّبۡهُ عَذَابًا أَلِيمٗا ۝ لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ

عذاب به ورکړي هغه ته عذاب دردناک. یقینا راضي شو دے الله تعالیٰ

عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ

د ایماندارو نه کله چې بیعت کولو دوی تاسره لاندې

ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ

د ونې نه. نو عالم دے الله تعالیٰ په هغه چې په زړونو د دوی کښې دي، نو رانازل یې لو

چې بدل کړي کلام د الله تعالیٰ. مراد ترې هغه وعده ده چې وعده یې کړې وه الله تعالیٰ حدیبیې والو سره (ابن کثیر صد ۱۹۹) او غوره کړې ده دغه خبره لره ابن جریر او کوم چې د دې تفسیر. او دا بل عام مفسرین دي (قرطبي صد ۲۷۲)

فائده: معلومه شوه چې الله تعالیٰ په وحي غیر متلو (یعني حدیث) په ذریعه رسول الله ﷺ ته اطلاع ورکړې وه چې غنیمتونه د خیبر خالصه د اهل حدیبیې والو د پاره دي او باقي کړې شو په دیکښې څه حصه نشته. (قاله الشیخ رحمه الله جواهر صد ۲۲۰) شیخ القرآن رحمه الله فرمائیل چې دا دلیل دے چې احادیث حجت دي او تردید دے په منکرینو د احادیثو باندې.

(د دې مخ حاشیه)

سَتُدۡعَوۡنَ إِلَىٰ قَوۡمٍ: زر دے چې راوبلې شئ تاسو جنګ ته د داسې قوم ته چې د سخت جنګ خاوندان به وي دغوی سره به جنګیږئ تر څو پورې چې دغوی اسلام قبول کړي. او په معنی د إِلَىٰ أَن دے (جواهر صد ۲۲۰) یعنی په مسلمانان شي او یا په جزیه قبوله کړي (الفتح صد ۲۲۸) یعنې فارس او روم. او دا معنی په زمانه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه کښې ثابت شو (روح المعاني صد ۲۱۰) نو دا دلیل دے په صحت د خلافت د شیخینو رضی الله عنهما کښې (مدارک صد ۲۲۲) كَمَا تَوَلَّيۡتُم مِّن قَبۡلُ: مخکښې چې څه ګرځیدلي وئ تاسو مخکښې د دې نه په احد، حدیبیه او نورو واقعاتو کښې. لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ: په دې آیت کریمه کښې د معذورینو استثناء ده (الکوکب صد ۲۱۱) لَقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ: د دې مخاطب نه تر اخره پورې دریم باب دے او په دې کښې پنځه خبرې دي (۱) بشارت دے مؤمنانو لره او د هغوی اَتَه صفتونه ... (باقي په بل مخ)

(بقيه) (٢) زجر كافرانو ته ﺩﻱ (٣) ﻳﻮ ﺗﻪ ﺑﻮﺷﻪ ﻓﺘﺢ ﺟﻮاب ﺩﻱ (٤) ﺷﺎﻥ ﺩ ﭘﻴﻐﻤﺒﺮ ﻋﻠﻴﻪ ﺍﻟﺴﻼﻡ ﺩﻱ (٥) ﺍﻭﻟﺴ ﺣﻘﺎً
ﺍﻭﺷﺎﻥ ﺩ ﺻﺤﺎﺑﻪ ﻛﺮﺍﻣﻮ ﺭﺿﻲ ﺍﻟﻠﻪ ﻋﻨﻬﻢ ﺩﻱ. ﻓﺎﺋﺪﻩ: ﻻﻡ ﭼﻪ ﭘﻪ ﻗﺪ ﺩﺍﺧﻞ ﺩﻱ ﺳﺮﻩ ﺩ ﺗﺎﻛﻴﺪ ﺑﻴﺎ ﺁﮐﻮﻱ ﻣﻮﺩﻟﺖ ﭘﻪ ﺯﻳﺎﺕ ﺗﺎﻛﻴﺪ ﺳﺮﻩ

السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾

الله تعالىٰ تسلي په دوي باندې او بدله ئې ورکړه دوي ته فتح نږدې

وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ

او غنیمتونه ډېر چه اخلي به دوي هغو لره او دی الله تعالىٰ

عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ

زورور حکمت والا وعده کړې ده تاسو سره الله تعالىٰ د غنیمتونو

كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ

ډېرو چه اخلئ به تاسو هغو لره نو جلتي ئې ورکړه تاسو ته دا

وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ وَلِتَكُونَ

او منع ئې کړه لاسونه د خلقو له تاسو نه او د دې دپاره چه

آيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا

نښه شي دپاره د مؤمنانو او چه مضبوط کړي تاسو لره الله تعالىٰ په لاره

مُسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾ وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا

سمه باندې او نور غنیمتونه چه قدرت نه دی موندلی تاسو په هغو باندې

قَدْ أَحَاطَ اللَّهُ بِهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ

یقیناً احاطه کړې ده الله تعالىٰ په هغو باندې حیل کښې او دی الله تعالىٰ په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢١﴾ وَلَوْ قَاتَلَكُمُ الَّذِينَ

هر څيز باندې قدرت والا او که جنګ اوکړي تاسو سره هغه کسان چه

كَفَرُوا لَوَلَّوُا الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا

کفر ئې کړی دی نو خامخا به ګرزوي شاګانې بیا به نه مومي دوي هیڅ دوست

وَلَا نَصِيرًا ﴿٢٢﴾ سُنَّةَ اللَّهِ الَّتِي قَدْ

او نه امدادي شان د قانون د الله تعالىٰ هغه چه

خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ

تېر شوی دی مخکښې د دې نه او هیڅکله به بیا نه مومې ته قانون د الله تعالىٰ لره

منزل ٦

زيږمنه ده هغه صحابه کرامو لره چه بیعت ئې کړې وو د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لاسونه ئې ورکړي وو چه دغه بیعت ته بیعة الرضوان وئیلې کیږي. په حدیث کښې راغلي دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائیلې دي لا يدخل النار ان شاء الله من اصحاب الشجرة احد من الذين بايعوا تحتها (اسلم مشكوة ص ٥٦٦ جلد ٢). فائده: دا ونه د کیکر ونه وه ابن کثير رحمه الله او الوسي رحمه الله ليکلي دي چه مشهوره دا ده چه خلق به دې ونې ته راتلل او مونځونه به ئې کولو نو هغه ته خبره اورسیده نو عمر رضي الله عنه ته اورسیده او امر ئې اوکړو چه پرې کولو ونه ئې دې وجه د ډېرې فتنې نه په دې باندې شک چه د جاهلیت د ونو په شان به هغوي ګڼي عبادت د غیر الله وي. او په بخاري او مسلم کښې د طارق بن عبد الرحمن نه نقل حدیث راغلی چه زه تلم لاپه بیرته بیرشوم په یو قوم چه مونځونه کولو مونږ اوپوښتل دا څه ځاي دي هغوي اووئیل دا هغه ونه ده چه دلته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بیعت الرضوان بیعت کړې وو نو زه سعید بن مسیب ته راغلم او خبر مې ورکړو نو هغه اووئیل چه ماته پلار حدیث بیان کړی دی چه هغه وو د هغه چا نه چه بیعت ئې کړی وو رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لاندې د هغه ونې نه وائي چه کال راروان کال شو نو هیره کړه مونږ هغه لره قادره نه شو په هغې باندې بیا ئې اووئیل ان اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم لم يعلموها وعلمتموها انتم فانتم اعلم (ابن كثير ص ١٩٠ ج ٤ وروح المعاني ص ١٠٢ ج ٢٦) فائده: لیکن افسوس په دې امت روښتني داده چه دوي د ډېرو پیرانو د څیزونو او مکانونو سره تبرکات اخلي ځکه د دې طریقې سره حصول د تبرکاتو کوي هغه دې زمانې اختل او مرضونه دغو کولو عقیده لري د هغه د پاره نذرونه او نیازونه پیش کوي. (باقي په بل مخ)

(بقیه) دَ ځه ئے خوا کښے ځرسوره هم کوی (احسن ص۳) فائده : بیعت دَ ربّانی پیر سره حلفاً وحق جائز کړی او بعضے خلق خو خپل پیرهٔ هرځای مخکښے حسابوی دا خبره غلط ده . بعض بیعت بد مناګنی دا خبره هم غلط ده . (افضل ص۳۳)

تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ

بدلول . او الله هغه ذات دے چه منع یے کړل لاسونه دَ دوی ستاسو

وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِن

او لاسونه ستاسو دَ هغوی نه په کیږ (مینځ) دَ مکے کښے پس

بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ

دَ هغه نه چه غالب یے کړئ تاسو په دوی باندے . او دے الله تعالیٰ په

بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾ هُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا

هغه عملونو چه تاسو یے کوئ لیدونکے دے . دا هغه خلق دی چه کفر یے کړے

وَصَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ

او منع کړی یے دی تاسو لره دَ جُماعات عزتمند نه او قربانو لره

مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ

بندے کړے شوے چه اورسیږی ځائ دَ حلالے خپل ته . او که نه وے دوی سړی

مُّؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُّؤْمِنَاتٌ لَّمْ تَعْلَمُوهُمْ

مؤمنان او ښځے مؤمنانے چه نه پیژنئ تاسو هغوی لره

أَن تَطَئُوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌ

چه دَ پښو لاندے به کړے هغوی . نو اُو به رسیږی تاسو ته دَ هغوی نه نقصان

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ

په غیر دَ پوهے نه . دَ دے دپاره چه داخل کړی الله تعالیٰ په رحمت خپل کښے

مَن يَشَاءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ

چا له چه یے خوښه اوشی . که چرے جُدا شوے دوی نو خامخا عذاب ورکړو مونږ هغه کسانو

كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾ إِذْ جَعَلَ

چه کفر یے کړے دے دَ دوی نه عذاب دردناک . کله چه واچولو

الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ

هغه کسانو چه کفر یے کړے دے په زړونو خپلو کښے غیرت غیرت

(دَ تیر مخ حاشیه)

کَاٰخُذُوْنَهَا ن۳ : دا اول غنیمتونه دی ترڅن وړسره یوسئه (ابن کثیر ص۱۹)

دَ اُخْرٰی ن۲ : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه دا غنیمتونه دی چه فتح شو یدی په مسلمانانو تر نن زمکه دَ فارس او دَ روم او نور ملکونه چه فتح کړیدی مسلمانانو او دا قول دَ حسن، مقاتل او ابن ابی لیلیٰ دے (قرطبی ص۲۸)

(دَ دے مخ حاشیه)

بِبَطْنِ مَكَّةَ : دلته دوه مطلب دی اول په ترمذی شریف ص۱۵۲ کښے دی چه اتیا کسان راکوز شو په رسول الله صلی الله علیه وسلم او په ملګرو دَ هغه دَ جبل تنعیم نه په وخت دَ مانځهٔ دَ صبا کښے او اراده یے دَ هغوی دَ قتل وه . نو هغوی ټول صحابو اونیول خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ازاد کړل . نو دا ایت نازل شو . نو بنا په دے دَ بطن مکے نه مراد حدیبیه ده ځکه چه دَ هغے څه حصه په حرم کښے داخله ده . دویم شاه ولی الله رحمه الله فرمائی او صحیح هغه ده چه دا ایت بشارت دے په فتح مکے باندے او راوړل دَ لفظ دَ ماضی دَ وجے دَ ثابتوالی دَ وقوع دَ دے بشارت دی . (فتح ص۱۸)

مَعَرَّةٌ : معرة نقصان دَ عارض ګناه، سختئ ته وئیلے شی دلته یے مطلب دا دے که چرے تاسو مؤمنانو په بے علمئ سره وژلی وے نو مشرکانو به بد نامی لګوله چه خپل ملګری او اهل دین یے مړه کړل . او ګوره فی معارف ص۱۰۲ قرطبی ص۲۸۵ . او بِغَيْرِ عِلْمٍ سره دَ دوی عذر ته اشاره ده .

لَوْ تَزَيَّلُوْا : که چیرے بیل او جدا شو کفار دَ مؤمنانو نه (ابن کثیر ص۱۹۲)

لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ :
دغه دَ سوال دوه . دَ شاه ولي
شيخ رحمه الله فرمائي شو
کله چه نبي عليه السلام په
صلح سره واپس شو نو بعضو
اعتراض اوکړو چه نبي عليه
السلام خو خوب ليدلے وُو
نو الله تعالىٰ جواب کوي چه
خوب رشتينے دے که څه کاله
تاسو عمره اونکړه نو بل
کال به يې اوکړئ (فتح)

هُوَ الَّذِي . . . الخ :
دا علت دَ ما قبل او صداقت
دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم
دے تاکيد کښې او کوري صفه
ي نو ربه ۳۳ .

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ
مَعَهُ : . . په دے ايت کښې
اول اثبات دَ رسالت دے .
او بيا شان دَ اصحابو کرامو
او صفات دَ صغرىٰ دي .
قرطبي رحمه الله فرمائي
چه موجود دل دَ دے
صفاتو په ټولو اصحابو
دَ نبي عليه السلام کښې
دير اشبه قول دے
(ص ۲۹۳)

⁘ ⁘ ⁘

الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ
دَ جاهليت ، نو رانازل کړو الله تعالىٰ : تسلي خپله : په
رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ
رسول خپل ، او په مؤمنانو باندے او ثابت کړو دوي باندے کلمه
التَّقْوَىٰ وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ
دَ پرهيزګارئ ، او وُو دوي ډير حقدار دے باندے او لائق دَ دے او دے
اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ لَقَدْ صَدَقَ
الله تعالىٰ په هر شي باندے ، پوهه ، يقيناً رشتيني کړے دے
اللّٰهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ
الله تعالىٰ ، رسول خپل لره ، خوب په حقه سره : خامخا يقيناً داخليږئ
الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ آمِنِينَ
تاسو جمات عزتمند ته ، که رضا اوشي دَ الله تعالىٰ ، امن والا ،
مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ ۙ لَا
خروئنکے دَ سرونو خپلو ، او لنډوونکي دَ ويښتو ، نه
تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ
ويريږئ دَ دښمن نه ، نو عالم وو الله تعالىٰ هغه چه نه پوهيدئ پرے تاسو نو اوګرځوله
مِنْ دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ
کرته مخکښې دَ دے نه ، فتح نزدے ، الله تعالىٰ
الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ
هغه ذات دے چه رالیږلے يې دے رسول خپل ، په هدايت سره ، او په دين
الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ۚ وَكَفَىٰ
حق سره ، چه غالب کړي دا ، په دينونو ټولو باندے ، او کافي دے
بِاللّٰهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ ۚ وَ
الله تعالىٰ ، ګواهي ورکونکے : محمد عليه السلام ، رسول دَ الله تعالىٰ دے ، او

ع ۳

آشِدَّآءُ الخ قاضی پانی پتی رحمہ اللہ فرمائی: زعم الفئة الروافض الذین یزعمون ان اصحٰب محمد ﷺ کانوا یتباغضون بینہم (مظہری ص۳) سِیْمَاهُمْ: دا دوی د صدق او اخلاص علامت ذ دوی په مخونو کښې د ډیرو سجدو او په عبادت باندې د همیشوالي د برکت نه نورانیت او د وقار او د خشوع او تواضع په صورت کښې ښکاره کیږي. د سجدې نښتې باندې هغه نښه مراد نه ده چې د اکثرو صوفو خلکو او د پیشنو باندې ښکاره کیږي چې په عرف کښې ورته د تندي محراب وائي ځکه چې دغه خلقان ئې حقیقي علامه نه ده (جواہر ص۱۵۹) ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ: دغه چه ذکر شو دا مثال د دوی دے په تورات کښې. او د مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِیْلِ نه جدا کلام شروع شو. فَاٰزَرَهٗ: پس قوي کړي دے لره. لِیَغِیْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ د دے متعلق محذوف دے یعنی اللہ تعالیٰ دا کار اوکړو چې غصه پرې کړي کافران (جواہر ص۱۵۹) مِنْهُمْ: عام مفسرین فرمائی چې د مِنْ د بیان د پاره دے او مراد ترې ټول صحابه کرام رضی اللہ عنہم دي او ګوره بیضاوی ص۲، ابوسعود ص۱، ابن کثیر ص۲۵، املاء ص۲۳۹ ماجدی ص۱۰۲۱. خلاصه د مثال دا دے چې اسلام په اول حال کښې ضعیف وو مسلمانان کم وو. ورو ورو غالب او ډیر شو انجام د حال د غلبه د اسلام دا شو چې په غصه کښې را وستے الله تعالیٰ کافرانو لره (فتح الرحمٰن ص۲۹) فائده: امام مالک رحمہ اللہ فرمائی څوک چې صبا کړي او په زړه کښې ئې بغض وي په اصحابو د محمد ﷺ نو هغه ته دا آیت ورسیدو. (مظہری ص۳ ج۹، روح ص۱ ج۲۶

الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ
هغه کسان چې د ده سره دي سخت دي په کافرانو باندې رحم کوونکي دي

بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ
په مینځ خپل کښې، وینې به ته دوی لره رکوع کوونکي سجده کوونکي، لټوي دوی

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِیْمَاهُمْ
فضل د الله تعالیٰ او رضا، دغه نښه د دوی په

فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ
مخونو د دوی ښکاره دي د وجې د اثر د سجدې کولو، دغه

مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۛۖۚ وَمَثَلُهُمْ فِی
صفت د دوی دے په تورات کښې او صفت د دوی دے په

الْاِنْجِیْلِ ۛ۫ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْـَٔهٗ
انجیل کښې، په شان د فصل چې راوباسي تیغ خپل

فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى
پس قوي کړي هغه، نو غټ شي، پس برابر شي په

سُوْقِهٖ یُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِیَغِیْظَ بِهِمُ
ډنډ خپل، په تعجب کښې اچوي زمیداران لره، چې غصه کړي په دوی

الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ
باندې کافرانو لره، وعده کړې ده الله تعالیٰ د هغه کسانو سره چې ایمان ئې راوړے او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ
عملونه کړي د نیکو، چې دوی دي، د بخښنې او

اَجْرًا عَظِیْمًا ۝۲۹
د اجر لوئې

ع ۱۲

سُوْرَۃُ الْحُجُرٰتِ ۴۹ مَدَنِیَّةٌ ۱۰۶ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اٰیَاتُهَا ۱۸ رُکُوْعَاتُهَا ۲

قرطبی ص۲۹۰ ج۱۶، خازن ص۱۶۳ ج۴، ماجدی ص۱۰۲۹، جواہر ص۱۵۹) مطلب دا چې هغه کافرانو غوندې کار کوونکو دالا شو اخلا ص۶۹، او د دے آیت نه امام مالک رحمہ اللہ استنباط کړے دے په کافر کیدو د هغه روافضو چې بغض کوي د صحابو رضی اللہ عنہم سره او په دے کښې د علماؤ ډیره موافقت کړے دے. او ګوره ابن کثیر ص۲۰۳. - (باقی حاشیه په بل مخ اوګورئ)

(بقیه) امتیازات فی سورة الفتح :- (۱) ذکر د بیعت الرضوان ۱۸ (۲) ذکر اوصاف د منافقانو
(۳) ذکر صفات د صحابه کرامو (۴) د فتح مکے خیبر وغیره ذکر (۵) د صحابه کرامو ته د رضاء اعلان ۱۸ .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ
اے ایمان والو! مه وړاندے کوئ خپله (ځان) مخکښے
يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ
د الله نه او د رسول د هغه نه او ویریږئ د الله نه . یقینًا
اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
الله ته اوریدونکے دے پوهه دے ښه . اے هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے
لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ
مه پورته کوئ آوازونه خپل د پاسه د آواز د
النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ
نبی علیه السلام نه او مه ئے زوره کوئ خبره ورته لکه زور د وینا
بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ
د بعضو ستاسو بعضو ته (هسے نه) چه برباد شی عملونه ستاسو
وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ② اِنَّ الَّذِيْنَ
او تاسو به خبر نه یئ . یقینًا هغه کسان
يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ
چه ښکته ساتی آوازونه خپل نزد د رسول الله نه
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ
دغه هغه کسان دی چه ازمائیلی دی الله تعالیٰ زړونه د هغوی
لِلتَّقْوٰى ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ③
د پاره د پرهیزګارئ . خاص دوی لره مغفرت او اجر لوئی دے
اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ
یقینًا هغه کسان چه آوازونه کوی تاته د شا د کوټو نه
اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ④ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا
زیات د دوی نه پوهیږی . او که چرے دوی صبر کړے وے

(درس نمبر ۱) سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ: دا مدنی سورة ده ۴۹ ده د سورة فتح نه پس په ترتیب کښے او (۱۰۶) ده په نزول کښے پس د سورة مجادله نه نوم ئے په ۴ آیت کښے ذکر شوے . دعوی: آداب د معاشرے او توحید دے . ربط: (۱) مخکښے بشارت په فتح سره وو نو دلته هغه آداب ذکر کوی چه په هغے تحقق راځی او په اتفاق خیر وی (۲) مخکښے جهاد وو نو دلته د جمعیت د تنظیم د پاره آداب ذکر کوی . (۳) مخکښے د فرمائیل اَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى ۲۶ نو دلته د اصل تقوی آداب ذکر کوی . (۴) هلته دعوی د توحید وه په ګخښے نو دلته په آخر کښے ذکر شوه . خلاصه: دغه سورت کښے دوه بابونه دی اول ترڅلور پورے دویم ترآخره پورے . په اول کښے اووه آداب دی (۱) عظمت د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم ساتل او د هغوی نه وړاندے قول فعل مه کوی لکه مشرکانو (۲) توقیر د نبی علیه السلام او کړئ او بدعت د هغوی په سنتو مه اوچتوئ لکه د بدعتیانو طریقه . (۳) تحقیق د کارونو کوئ چه بے اتفاقه نه شئ ۶ (۴) اصلاح کوئ په ما بین د اسلامی جماعت کښے (۵) توقیر د ارکانو کوئ او د دوه کوئ د اهانت د هغوی نه ۱۱ (۶) منع او کړئ د داسے کارونو نه چه رسیږی جګړے او بغض ته ۱۲ (۷) فضیلت او کرامت د ارکانو په تقوی سره دے نه په نسب سره ۱۳ (سموالاررر ۱۳) ۱۹ (۲) په دے کښے بشارت دے په دے کښے زجر . په دوئم باب کښے زجر دے منافقانو ته ۱۴ او بشارت دے مؤمنانو ته ۱۵ او دعوی د توحید ده په بل انور سره ۱۶ ۱۸ (د د منقولات ۱۳۶) امتیازات: (۱) آداب د معاشرے (۲) د شیبت کونکو مثال ۱۲ (۳) معیار د کرامت تقوی ده ۱۳ (۴) صفات د مؤمنانو ۱۵ . — (باقی په بل مخ)

حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۗ وَاللّٰهُ

تر دې چې ته راووځې دوی ته (نو) خامخا وه به دا غوره دوی لره او الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ

بخښونکی رحم کوونکی دی. اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی که

جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا

راشي تاسو ته یو فاسق په یو خبر نو تحقیق وکړئ (هسې نه) چې ورسوئ ضرر

قَوْمًاۢ بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ

یو قوم ته په ناپوهۍ سره نو شئ تاسو په هغه څه چې کړي وو تاسو

نٰدِمِيْنَ ۝٦ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ فِيْكُمْ رَسُوْلَ

پښېمانه. او پوهه شئ یقیناً په تاسو کښې رسول د

اللّٰهِ ۗ لَوْ يُطِيْعُكُمْ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ

الله تعالیٰ دی که چېرته اطاعت اوکړي ستاسو په ډېرو کارونو کښې

لَعَنِتُّمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ

نو خامخا تکلیف کښې به پرېوزئ او لاکن الله تعالیٰ محبوب کړی دی تاسو ته ایمان

وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَ

او ښائسته کړی یې دی په زړونو ستاسو کښې او بد یې کړي دي تاسو ته کفر او

الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۗ اُولٰٓئِكَ هُمُ

فسق او نافرماني دغه کسان دوی دي

الرّٰشِدُوْنَ ۝٧ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۗ

لاره موندونکي (دا) د فضل د جانبه د الله تعالیٰ او د نعمت

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝٨ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ

او الله تعالیٰ ښه پوهه او حکمت والا دی او که چېرې دوه ډلې

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا

د مؤمنانو نه جګړه اوکړي نو اصلاح اوکړئ

قانون شه یعنی د نبی صلی الله علیه وسلم ادب کوئ (افضل ص۴۵) آنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ هسې نه چې برباد شي عملونه ستاسو او تاسو بې خبره یئ. فائده: مقصد دا دے چې د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې د پورته والي د آواز او شور او غوغا د حضور د ځنې رسولو اندېښنه ده او حضور ته ضرر رسول کفر او د برباده ولو د اعمالو موجب شه ګویا ګه دا هغې د بنده په زړه د درېځ په طور ده او ضروري نه ده چې هر پورته والے د آواز سبب د ضرر رسولو د حضور شي لکه چې واقع په هغه وخت کښې ده چې پورته والے د آواز د اهانت او سپکوالي په طور باندې شه وي (جریر ص۲۰ او کوثر ص۲۰ روح ص۲۰) اِنَّ (۲۶) هدما للمدینة و حسنا ... فائده: د نبی صلی الله علیه وسلم نه پس د حضور د احادیثو اوریدلو او لوستلو په وخت هم دا آداب نافذ شه او ښکاره چې د قبر شریف نه خوا ته حاضري هلته هم د دې ادب لحاظ اوساتي. دا رنګ د حضور د خلفاؤ، علماؤ ربانیینو او د اولو الامر سره درجه په درجه د دې ادب ساتل ضروري دي. د دغه ادب سره ځکه د رانګل مناسب دي چې جماعتي نظام قائم وي د مشرانو د فرق نه کولو نه ډېر مفاسد او فتنې وړاندې کېږي (عثمانی ص۴۵) اِمْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ آزمائیلي دي الله تعالیٰ زړونه د دوی د پاره د ظاهري د تقوی (ابن کثیر) خالص کړي دي الله تعالیٰ زړونه د دوی د پاره د ادب (افضل ص۴۵) د دې آیت کښې بشارت دے. اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ: په دې آیت کښې زجر دے هغه چا ته چې د مجلس آداب لحاظ نه کوي. فائده: د بنو تمیم د بانو بچیانو یو وفد د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې مدینې ته حاضر شو چې کله هغه خلق مسجد نبوي ته ورسېدل په دې وخت حضور په یوه حجره کښې تشریف فرما وو او دوی د حضور د حجرې شریفې نه د بهر تشریف راوړلو د انتظار نه حجرې بهر نه «یا محمد اخرج الینا» وئیل شروع کړل (باقی په بل مخ)

(بقیه اړوند حواشي) فائده: چه ذکر شوے دے روستو نبي ﷺ ته آواز کوي نو هغوی بے عقله دي ځکه چه په دیکھه بے ادبي ده نو چه ورته جهان نه ورته آواز کوي بیرته نو هغوی خربیا وي بے عقله دي. (افضل ...)

بَيْنَهُمَا ۚ فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ

په مینځ د دوارو ګنی، که چیرے زیاتے کوي یوه د دغو دوو نه په بل ډله باندے

فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ

نو جنګیږئ د هغه ډلے سره چه زیاتے کوي، تر دے چه راوګرځي

أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا

حکم د الله ته، پس که چیرے راوګرځي دا ډله نو اصلاح اوکړئ په مینځ د دوارو

بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ

په انصاف سره، او انصاف کوئ، یقیناً الله تعالیٰ مینه کوي

الْمُقْسِطِينَ ﴿٩﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ

د انصاف کوونکو سره، یقیناً مؤمنان ورونړه دي

فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ

نو روغه کوئ په مینځ د دوو رونړو ستاسو کښے، او ویریږئ د الله نه

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٠﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

د پاره د دے چه په تاسو رحم اوکړے شي، اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَىٰ أَنْ

مسخرے دې نه کوي یو قوم په بل قوم پورے، نزدے ده چه

يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ

وي په هغوی غوره د دوی نه، او نه ښځے په نورو ښځو پسے

عَسَىٰ أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوا

نزدے ده چه وي هغوی غوره د دوی نه، او مه لګوئ عیب

أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ۖ بِئْسَ

په ځانونو خپلو باندے، او مه یادوئ یو بل په بدو نومونو باندے، بد دے

الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ ۚ وَمَنْ

نوم د فسق والا پس د راوړلو د ایمان نه، او چا چه

فائده: شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلي دي چه یا محمد ﷺ دي ما کار د دګرو دے یعنې د کوټو نه اخراجیږي نبي ﷺ ته آواز کوي هغه نه بے خبره دي. فائده: په دغه آیت کښے ورله ادب ذکر کړے شوے دے چه کله چه دوي ستاسو د رسول نه تلو پیدا شي صبر کړے وشي نو ډیر د به غوره دي.

(د تیرشو حاشیه)

ان جاء د کلمه فاسق کښے راشي تاسو ته خوک ګنهګار فرض شو فاسق (شاه ولي الله) په اعتبار د (شیخ القرآن) فائده: مراد د دے نه هغه څوک دے چه ارتکاب د ګناه کبیره یے کړے وي او صحیح توبه یے نه وي کړے او مسلمان وي دروغژن چغلي کوونکے مؤمنانو په مینځ کښے فساد پیدا کول، دا ټول پکښے داخل دي (حسن) علامه خازن رحمه الله دویم قول دا ذکر کړے دے چه دا آیت عام دے نازل شوے دے د پاره د بیان د تثبت او د اعتماد نه کولو په قول د فاسق باندے او دا اولی دے د حکم کولو د آیت نه په یو سړي معین باندے (خازن) او کثرو مفسرینو رحمهم الله چه دا ذکر کړے دي چه دا آیت په حق د یو صحابي ولید بن عقبه رضي الله عنه کښے راغلے دے چه نبي ﷺ د صدقے د وصولولو د پاره بني مصطلق ته لیږلے وو. او د ده او د هغوی په مابین کښے د جاهلیت په دور کښے دښمني وه او هغوی یے استقبال لپاره راووتل او دوي واپس شو په خپل خیال سره او ویل چه هغوی زکوٰة منع کړو وغیره

او بیا نبي ﷺ حضرت خالد رضي الله عنه د معلوماتو د پاره اولیږلو او دغسے واقعه نه وه. نو دا صحیح نه ده. احقر غفرله په الهام الرحمن ص ... کښے او د ده جواب نه بیکل دي. شیخ القرآن رحمه الله فرمائیلي چه په کتاب کښے غلطي او شي نو بل یے بے تحقیقه ذکر کړي نو تلو کښه غلطي راشي. فائده: کومے روایات کښے چه د ولید بن عقبه رضي الله عنه (باقي په بل مخ)

(بقیه) نوم راغلے دے ذ حضرت حبیب روایت صحیح اوذ جرح نه خالی نه دے هغه تول منقطع دی (جواهر ص۲۶۲) حاشیه
لعمرام ملا ، حدیث کنجے راغی ولید بن عقبه رضی الله عنه فرمائی ، لما فتح نبی الله مکة جعل اهل مکة یاتونه

لَمْ يَتُبْ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۱﴾

توبه اونه ویستله نو دغه کسان دوی ظالمان دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا

اے ایماندارو! ځان وساتئ ذ ډیره

مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ وَّ

گمانونو نه یقینا بعضے گمانونه گناه دی او

لَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ؕ

جاسوسی مه کوئ او غیبت دِ نه کوی بعضے ستاسو د بعضو

اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ

آیا مینه ساتی یو کس ستاسو چه اوخوری غوښه د ورور خپل

مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوْهُ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

چه مړ وی؟ نو بد گنړئ تاسو دغه لره او ویریږئ د الله نه یقینا

اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا

الله تعالیٰ ښه توبه قبلونکے رحم کونکے دے اے خلقو! یقینا

خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ

موږ پیدا کړی دی تاسو لره د یو نارینه او د یوی زنانه نه او گرزولی موږ تاسو

شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ

خاندانونه او قبیلے دِ دے دپاره چه یو بل وپیژنئ یقینا

اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ اِنَّ

ډیر عزتمند ستاسو په نزد د الله تعالیٰ ډیر تقوی دار ستاسو دے یقینا

اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ الْاَعْرَابُ

الله تعالیٰ پوهه په هر څه خبردار دے وائی بانډیچیان

اٰمَنَّا ؕ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا

چه ایمان راوړے موږ اووایه ایمان نه دے راوړے تاسو او لاکن اووایئ

بعثیا نهم فیه حوالهم بالبرکة ومسح روسهم فجئ بی وانا مخلق فلم یمسنی لاجل الخلوق (ابوداؤد ص۳۳۲ ، مشکوٰة ص۳۲۰ ، مسند احمد ص۳۲) د تفسیر شیخ رحمه الله دے د دے ذکر کولو نه پس فرمائی چه کوم سړے د فتح مکے په ورځ په ماشومانو کښے شامل وی هغه تعمر مبارځئے پس دے د قابل غوندے شوی هغه د بنی مصطلق عامل جوړیدو او اولیږلے شی . (جواهر ص۲۶۱) فائده : په دے آیت کښے اشاره ده تحقیق د خبر د فاسق ته . وان طائفتٰن په دے آیت کښے بیره فائده داده چه مؤمن په اقتتال اجنګ کولو) سره کافر نه گرځی ځکه چه سره د صفت د ایمان نه یے اقتتال ذکر کړے دے (ص ص۲۶۰) (د تیر مخ حاشیه)

وَلَا تَلْمِزُوْٓا : او طعنه مه کوئ په اهل دین خپلو باندے (مدارک ص۱۳۸)

وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ : او مه استعمالوئ (مه غورځوئ) یو بل ته بد نومے . ابن الجوزی رحمه الله فرمائی یعنی یو بل مه بلئ په بدو نومونو باندے (زاد المسیر ص۱۶۹)

بِئْسَ الْاِسْمُ : بد دے یاد ول د گناه پس د ایمان راوړلو نه اسم په معنیٰ د ذکر دے (مدارک ص۱۳۸) چه داسے وائی اے یهودیه اے نصرانیه پس د اسلام راوړلو نه او اے فاسقه پس د توبے ایستلو نه (خازن ص۱۸۸)

(د دے مخ حاشیه)

اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ : یقینا بعضے گمانونه گناه دی . زجاج رحمه الله فرمائی چه هغه گمان ستا دے په خاوندانو د نیکئی باندے د بدئی (مدارک ص۱۳۹)

وَلَا تَجَسَّسُوْا : او جاسوسی مه کوئ یعنی مه ورپسے کیږئ په عورتونو د مسلمانانو پسے او عیبونو لټولو د هغوی پسے (مدارک ص۱۳۹) ، وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا : ابو هریره رضی الله عنه وائی چه عرض اوکړے شو چه اے د الله رسوله! (باقی په بل مخ)

(بقيه) ، ما الغيبة قال صلى الله عليه وسلم ذكرك اخاك بما يكره قيل افرأيت إن كان في أخي ما أقول قال صلى الله عليه وسلم إن كان فيه ما تقول فقد اغتبته وإن لم يكن فيه فقد بهته (مسلم) ... در منثور ... ترجمه : ... زوالسيرج ... امام الرحمن ملا ...

أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي

چه اسلام راوړے مونږ : او لا تر اوسه نه دے داخل شوے ایمان په

قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ

زړونو ستاسو کښے : او که چرته اطاعت اوکړو تاسو د الله تعالیٰ او د رسول د هغه

لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ

نو کم به نه کړی ستاسو د عملونو ستاسو نه هیڅ شے : یقیناً الله تعالیٰ

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ

بخښونکے ، رحم کونکے دے : یقیناً : مؤمنان ، هغه کسان

آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَ

چه ایمان یے راوړے په الله تعالیٰ : او په رسول د هغه ، بیا شک نه دے کړے هغوی او

جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي

جهاد یے کړے دے په (ذریعه) د مالونو خپلو او په (ذریعه) د نفسونو خپلو په

سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿١٥﴾

لاره د الله تعالیٰ کښے : دغه کسان : دوی ، رښتونے دی :

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ بِدِينِكُمْ وَاللَّهُ

او وایه : آیا خبر ورکوئ تاسو الله تعالیٰ ته په دین خپل سره ، او الله تعالیٰ

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ

پوهیږی په هغه چه په آسمانونو : او په هغه چه په زمکه کښے دی :

وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٦﴾ يَمُنُّونَ

او الله تعالیٰ په هر شی باندے : پوهه دے : زیاتے کوی دوی

عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ

په تا باندے چه اسلام راوړے دوی : او وایه زیاتے مه کوئ په ما باندے

إِسْلَامَكُم ۖ بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ

د اسلام ستاسو : بلکه الله تعالیٰ احسان کړیدے په تاسو باندے

یتعارفوا ، شیخ ، سید ، مغل ، پټهان او صدیقی ، فاروقی عثمانی انصاری د ټولو سلسله په آدم او حوا علیهما السلام ختم کیږی ، دا ذاتونه او خاندانونه الله تعالیٰ د محض تعارف او شناخت د پاره مقرر کړیدی بلاشبه چاله چه الله په کرمه شریفه او لوے معزز کورنئ کښے پیدا کړے دی دغه یو موهوبی شرف دے لکه چا له چه بنائسته پیدا کړے دی ، لیکن دا شی د ناز او د فخر کولو لائق نه دے چه دا و معیار د کمال او فضیلت مقرر شی او نور و سپک او کنړی البته شکر کول پکار دی . (عثمانی ملخصاً)

قالت الاعراب : دا آرزو د بانو یحیانو ته چه د ایمان دعوی مه کوئ ځکه چه ستاسو د زړه یقین نشته بلکه اسلام دعوی او کړئ ځکه چه تاسو صرف ظاهری تابعداری کوئ . (افضل ...) فائده : په دے آیت کښے بشارت دے او په دا نور کښے زجر دے بانو یحیانو له . د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی چه دوی به نبی صلی الله علیه وسلم ته د داخل ایمان خبرے کولے نو الله تعالیٰ فرمائی چه دا د الله تعالیٰ احسان دے په تاسو که تاسو رښتیا وائی . (افضل ...) بابا سعدی فرمائی :

شکر نعمت ضرور کن مرفق ...
ز انعام و الفضل خود ... گذشت
منت منه که خدمت سلطان همی کنم
منت شناس ازو که بخدمت گذاشت

(گلستان ص ۳۳)

سُوْرَةُ قٓ: دا مکی سورت دے، په ترتیب کښے پس د حجرات نه دے او په نزول کښے ۳۴ پس د مرسلات نه، وجه د تسمیے یې په قاف سره ده او ده چه دا حرف په اول ایت کښے ذکر شوے او د وسعت مخلوق نه پښتم باب د خلوتخانے دے په دویمے دعوے ددې ځیے کښے چه هغه اثبات د قیامت دے او په دیکښے شلو رسورتونوکښے لطیفه: په دے سورت کښے داسے الفاظ چه مشتمل دی په حرف د قاف باندے اته خلویښت (۴۸) دی (احسن سې) دعوی ۱، اثبات د قیامت ۲، (۲) توحید ۳۹. ربطونه: (۱) مخکښے د جهاد او قوانینو د جهاد بیان او شروع پاره د اشاعت د توحید بیان او س منکرینو د توحید لره تخویف اخروی بیانوی (۲) مخکښے د منافقینو بیان او شو او س ذکر چه میدان قیامت کښے به ورته پته اولګی (۳) مخکښے سورت کښے توحید ذکر شو په مخکښے ولته به رد کښے ذکر شه (۴) مخکښے سورت ختم شو چه په بعثو زړونو پوهه الله دے او په دے آخر کښے فرمائي چه د دوی په وینا باندے هم پوهه الله تعالیٰ دے.

أَنْ هَدٰىكُمْ لِلْإِيْمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾

چه هدایت یې کړے تاسو ته د ایمان که چرته یئ تاسو رښتونی.

إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

یقیناً الله تعالیٰ پوهیږی په پټو څیزونو د اسمانونو او د زمکے.

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾

او الله تعالیٰ لیدونکے دے په هغه عملونو چه تاسو یې کوئ.

ع ۱۲

سُوْرَةُ قٓ ۵۰ مَكِّيَّةٌ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۵ رُكُوْعَاتُهَا ۳

قٓ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ﴿۱﴾ بَلْ عَجِبُوْٓا

الم جوړه د پیغمبر دے (قسم دے په قرآن شرافت والا چه ستا پیغمبر یې بلکه تعجب وکړو

أَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ

چه راغلے دوی ته ویرونکے د جنس د دوی نه نو وائی

الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۲﴾

کافران دا شئ عجیبه دے.

ءَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذٰلِكَ رَجْعٌ

آیا کله چه مړه شو مونږ او شو مونږ خاورے دا واپسی

بَعِيْدٌ ﴿۳﴾ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ

لرے ده د عقل نه، یقیناً پوهه یو مونږ په هغه چه کموی یې زمکه

مِنْهُمْ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ﴿۴﴾ بَلْ

د دوی نه او مونږ سره کتاب ساتونکے د عملونو دے، بلکه

كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ

دروغژن ګڼلی دی حق لره هر کله چه راغلے دوی ته نو دوی په

أَمْرٍ مَّرِيْجٍ ﴿۵﴾ أَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا إِلَى السَّمَآءِ

کار ګډوډ کښے دی، آیا پس نه ګوری دوی اسمان ته

خلاصه: په دے سورة کښے دوه بابونه دی اول تر ۳۰ او دویم تر اخره پورے. په اول کښے پنځه خبرے دی. (۱) ترغیب قرآن ته ۱. (۲) زجر منکرینو د قیامت لره ۲. (۳) دلائل عقلیه د ۶ نه. (۴) دعوی د سورة ۱۵. (۵) ذکر د ۸ قومونو د پاره د تعریف د نیا دی. د دویم باب خلاصه په روستو ذکر شی.

وَالْقُرْاٰنِ: شاه ولی الله رحمه الله فرمائی قسم دے په قرآن بزرګی والا چه پیغمبر الله سچے (فتح ص۳۰) او کوری نښی دی.

تشخیر: خاوند د شرف او بزرګئ والا دے (روح ص۲۶) مولانا حسین علی رحمه الله فرمائی چه جواب یې إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ حق او یا إِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ دے (جز ص۱۲) فائده: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه څوک دا وائی چه مراد د ق نه غر د قاف دے چه محیط دے په ټوله زمکه باندے چه دا والله اعلم، د خرافاتو د (باقی په بل مخ)

(بقیه) بنی اسرائیلو نه دی هغه چه بعضو علماؤ تره راخستے دی . بیا فرمائی وَعِنْدِي اِنَّ هٰذَا وَامْثَالَهُ وَ اَشْبَاهَهٗ مِنْ اِخْتِلَاقِ بَعْضِ زَنَادِقَتِهِمْ يَلْبِسُوْنَ بِهٖ عَلَى النَّاسِ اَمْرَ دِيْنِهِمْ اه (مختصر) او قاضی رحمه الله هم د ابن کثیر نه نقل کړیدی . حاشیه

فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا

د پاسه د دوی نه ، څرنګه جوړ کړے مونږ هغه او ښائسته کړے مونږ هغه او نشته هغے لره

مِنْ فُرُوْجٍ ۝6 وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَ

هیڅ چوَد ؛ او زمکه خوره کړے ده مونږ هغه لره ؛ او

اَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ

اچولی دی مونږ په دغے کښے مضبوط غرونه ، او راشنه کړی دی مونږ په دغے کښے د

كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝7 تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ

هر قسم ښائسته تازه ؛ د پاره د پوهه کولو او د پند حاصلولو د هر

عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ۝8 وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

بنده رجوع کوونکی ؛ او رالیږلے دی مونږ قطره قطره د آسمان نه اوبه

مُّبٰرَكًا فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ۝9

د برکت نه ، نو راشنه کړل مونږ په دغے سره باغونه او دانے د کرلے شوے ؛

وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ۝10

او اوګے د کجورو د ګچه ، چه د هغوی غوټئ پرله پسے یو په بل باندے دی ؛

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً

د پاره د روزئ د بندګانو ؛ او ژوندئ کړل مونږ په دغے سره ښار

مَّيْتًا ۭ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ۝11 كَذَّبَتْ

مړ لره ؛ دغه شان به راوتل ستاسو دی (د قبرونو نه) ؛ دروغژن ګڼلی دی

قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ

مخکښے د دوی نه قوم د نوح ؛ او خاوندانو د کوهی ؛

وَثَمُوْدُ ۝12 وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ

او ثمودیانو ؛ او عادیانو ؛ او فرعون ؛ او قوم د

لُوْطٍ ۝13 وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۭ

لوط ؛ او خاوندانو د بنړ ؛ او قوم د تبع ؛

منزل ۶

بَلْ عَجِبُوْا : دلته بیان په دے کښے تعجب کوی د دوی چه راغلے دے دوی ته رسول د دوی د جنسه نه . او کوی تعلیل هم . دغه تعجب کوی چه دوی ته یو ښکاره نشانی اکبر راغلے دی یعنی قرآن . (الخلاصة) په دے آیت کښے بیان د هغه شی دے چه دوی ورته تعجب کوی . په دے آیت کښے د دوی د تعجب او انکار رد دے په دے کښے زجر شوے دے دوی ته په تعجب باندے . مَّرِيْجٍ : په کار کښے د دوی کښے یو په بل پسے کیږی . کله وائی چه ساحر دے کله وائی شاعر دے کله وائی کاهن دے . (ابن کثیر) او کوی د انبیاء . اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا : په دے آیت کښے دلائل عقلیه دی د پاره د اثبات د قیامت . په دے کښے علوی په دے کښے سفلی په دے کښے وسطی (د دے حاشیه) وَحَبَّ الْحَصِيْدِ : او دانے د فصل هغه چه لو کولے شی لکه غنم او وربشے او غیره دے دواړه په (ظاهر متن) كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ : دا دعوی د سورت ده . شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه اثبات د قیامت اکثر په طریقه د مثال ذکر کولے شی چه څنګه د ښه زمکے نه سبزه راتوکی نو هغه شان به د قبرونو نه راوسیلے شئ . او کوی په حدیث شریف کښے راغلی چه نبی علیه السلام به سورة ق په اختر کښے لوستلو او په بل حدیث کښے راغلی چه به هره جمعه به یے د ممبر په سر لوستلو (ابن کثیر ص ۲۲۱) شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه مطلب دا دے چه یو محل به تاسو به نوو او مختلفو حالتونو کښے په اعتبار د عملونو د قبرونو نه راوځئ څنګه چه په جمعو او اخترونو کښے (باقی په بل مخ)

(بقیه) په مختلفو هیڅونو کښې راولي. كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ دا تخویف دنیوي دے او آیت فرمونه هلاکه ملاک شوي ذکر شویدي. (ردد شکوی) اَفَعَیِیْنَا ... دا زجره ده په انکار د قیامت باندے. یعنی منکرین

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾
ټولو دې خلقو دروغژن وګڼل رسولان: نو ثابت شو په دوی عذاب زما:
أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ
آیا ستړي شوي یو موږ په پیدائښت اولني باندې: بلکه دوی
فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ
په شبه کښې دي: د پیدائښت نوي نه: او یقیناً
خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ
پیدا کړے دے موږ انسان: او پوهیږو موږ په هغه چه وسوسه اچوي
بِهِ نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ
دده ته نفس دده: او موږ ډیر نزدے یو دده ته د
حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ
رګ د مرۍ نه: یاد کړه کله چه اخستل کوي دوه اخستونکي ملائکې
عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾
د ښي طرف: او د ګس طرف نه: ناست دي:
مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ
نه وباسي انسان هیڅ خبره: مګر دده په خوا کښې: نګران
عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۖ
تیار وي: او راغلي: سختي د مرګ په حق سره:
ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ
(او به وئیلے شي) دا هغه شے دے چه ته ترې تښتیدې: او پوکے به شي
فِي الصُّورِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَ
په شپیلۍ کښې: دا ورځ: د عذاب ده: او
جَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ وَ
راشي هر نفس: د هغه سره به چلونکے او

د قیامت بیا د مرګ نه پس راپورته کول نه مني ایا د دوی خیال دے چه موږ د مخلوق د اول پیدا کولو نه ستړي شوي یو او س د دوباره پیدا کولو قدرت په موږ کښې باقي نه دے پاتې شوے. بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ نه ده دا خبره نه ده موږ په قدرت کښې هیڅ فرق نه دے راغلے بلکه دوی په خپله د دویم ځل پیدائښت نه په شک او شبه کښې پریوتي دي.

(اجزاء په ستنا) وَلَقَدْ خَلَقْنَا ۱۷ دا دے غاږ نه تر آخره پورې دویم باب دے په دې کښې اووه خبرې دي. (۱) دوه دلائل عقلیه ۱۷ ۱۸ د باره د اثبات د توحید او د قیامت (۲) تخویف حالت نزع ۱۹ او د قیامت ۲۰ او د دوزخ ۲۹ (۳) بشارت ۳۱ (۴) تخویف دنیوي ۳۶ (۵) ترغیب قرآن ته ۳۷ ۴۵ (۶) تسلي ۳۹ (۷) دعوی د توحید ۴۰ سره د دلیل عقلي نه ۳۸.

فائده: دا تخویف اخروي دے د نفخه نه رو ستو خواشه مقدر دے یعني موږ انسان له پیدا کړے دے او موږ ته د زړه د نو وسوسے او خطرے هم په ښه طریقه سره پیژنو موږ به د ده محاسبه او کړو (ابو زرعه) وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مراد نزدیکت د علم د الله تعالی دے بنده ته (مدارک مبینا) جمهورو مفسرینو رحمهم الله دا مطلب مقرر کړے دے چه د قُرب نه مراد

قرب علمي او احاطه علمي ده. قُرب د مسافت مراد نه دے (معارف ښنا) او د صوفیه کرامو په نزد د قرب نه مراد په دے خاطر کښې صرف قرب علمي او احاطه علمي نه ده بلکه یو خاص قسم اتصال دے. اتصال بیچون وبیچګون: بست ربّ الناس را با جان ناس (مولانا رومی) مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ: په دې کښې اضافت بیاني دے او ورید نه مراد د زړه د حیات رګ دے. (باقي په بل مخ)

(بقيه) چه د سرګه شروع شو شو ځ د مرګ نه تیرشوے رک نه بیرې ... إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ ، ته چه واخلی دوه ملائک را اخستونکی مراد تری کرامًا کاتبین دی. مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ. نه راغورځوی

شَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ

ګواهی کونکے (ملګری) یقینًا وے ته ؛ په غفلت کښے ؛ د

هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءَكَ

دیته نه ؛ نو لرے کړے مونږ ستا نه ؛ پرده ستا ؛

فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ

نو نظر ستا ؛ نن ورځ ؛ تیز دے ؛ او وبه وائی

قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا

ملګرے د ده ؛ دا هغه عمل نامه چه ما سره ؛ تیاره ده ؛ او وبه ویلے شی (دوه ملائکو ته)

فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ

په جهنم کښے هر هغه ؛ کافر ؛ عناد کونکے ؛ منع کونکے د

لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِي جَعَلَ

خیر ؛ تجاوز کونکے ؛ شک کونکے ؛ هغه کس چه مقرر دی

مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ

د الله ته سره معبود اردے بل ؛ نو اوغورځوی دا ؛ په عذاب

الشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُ

سخت کښے ؛ وبه وائی ؛ ملګرے د ده ؛ اے زمونږ ربه نه دے ګمراه کړے ما دا

وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ

او لاکن ؛ وو دا ؛ په ګمراهئ ؛ لرے کښے ؛ وبه وائی الله تعالیٰ

لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ

جګړے مه کوئ ؛ ما مخکښے ؛ او یقینًا ؛ مخکښے لیږلے وو ما

إِلَيْكُم بِالْوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ

تاسو ته ؛ وعده د عذاب ؛ نه شی بدلیدلے ؛ وینا

لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ ع ١٦

ما سره نه ؛ او نه یم زه هیڅ ظلم کونکے په بندګانو باندے ؛ کله چه

د عَتِيدٌ نه مراد دیته مګر دا ده سره ګران ملائک تیار دی. مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه د انسان هر قول ریکارډ کیدلے شی (معارف ج ٨)

(ودے مع حاشیه)

فَكَشَفْنَا عَنكَ: پس لرے کړه مونږ ستا نه پرده ستا نو نظر ستا نن تیز دے (ابوالخ)

وَقَالَ قَرِينُهُ ٢٣: ودے نه مراد ملک بیکر نے ګواهی کونکے وغیره دی باندے (ادراک ...)

أَلْقِيَا: (١) داتثنیه د باره د تکرار ده. معنیٰ دا شوه اوغورځوه اوغورځوه په دوزخ کښے. (صاحب ...) (٢) او مولانا حسین علی رحمه الله فرمائی چه تثنیه په حقیقت باندے محمول ده او ددے نه تکرار وغیره مراد نه دے بلکه ددے نه هغه دوه فرښتے مراد دی چه د سرا وخپو نه به یے نیسی او په دوزخ کښے به یے غورځوی. (د رحمن، ج ...)

فائده:

دلته شپږ ناکاره صفتونه د باطل پرستو دوزخیانو ذکر شوی دی.

قَالَ قَرِينُهُ ۖ: دلته د قرین نه هغه شیطان مراد دے چه په ده مقرر شوے دے. (روح ...)

وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ: او نه یم زه هیڅ ظلم کونکے په بندګانو باندے. دلته ظلام په معنیٰ د ذو ظلم دے یعنی خاوند د ظلم کولو نه یم. دا هُم اوګورئ آل عمران ١٨٢، ... انفال ٥١. ختم سجده ٤٦.

هَلِ امْتَلَأْتِ: آیا ډک شوې. دا تپوس به ترټنه لپاره وي چې ځ وعده د الله تعالیٰ نه کړې وه او ګوره ځ جهنم به جواب کړي به الله تعالیٰ
معارف القرآن ح ۸ ص ۱۹۰، هود ۱۹، سجده ۱۳، حدیث شریف کښې راغلي چې د جهنم به جواب کړي

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ
(او یادوه) هغه ورځ چې وایو به مونږ دوزخ ته: آیا ډک شوې ته؟ او وبه وائي هغه
هَلْ مِنْ مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ
آیا شته زیات شته؟ او نزدې به کړې شي جنت پرهیزګارانو ته
غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ
نه به وي لرې. دا هغه دی چې وعده به کیده تاسو سره د هر
أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ
رجوع کوونکي ساتونکي لپاره. هغه څوک چې ویریږي د رحمٰن نه
بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾
په غیب سره، او راغلی وي په زړه راجع کیدونکي حق ته
ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾
(او به ورته وئیلی شي) داخل شئ جنت ته په سلامتیا. دا ورځ د همیشوالي ده.
لَهُم مَّا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾
دوی لره به هغه وي چې دوی خواړي په جنت کښې، او زمونږ سره شته زیاتي.
وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ
او ډیر هلاک کړي مونږ مخکښې د دوی نه د پیړۍ والو نه
هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا فِي
چې هغوی سخت ول د دوی نه په حمله کښې، نو ګرځیدلي ول هغوی په
الْبِلَادِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي
ښارونو کښې، آیا شته ځای د تیښتې؟ یقیناً په
ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ
دې کښې خامخا نصیحت دی هغه چا لره چې وي هغه لره زړه (عقل) یا
أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ
کیږدي غوږ، او هغه حاضر وي. او یقیناً

هَلْ مِن مَّزِيدٍ: خپل قدم اېږدي چې د هغوی د شان سره مناسب وي نو به دوزخ کښې کیږي نو جهنم به وائي بس بس بس. نو ډک به شي. او بعضې بعضې نه جوخت شي. او ګورئ بخاري مسلم کتاب المتقين وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ: د تخویف په مقابل کښې بشارت دی متقیانو لره او ځنو صفات د هغوی دي.
أَوَّابٍ حَفِيظٍ ۳۲: یونس بن خباب وائي چې ما ته مجاهد رحمه الله اووئیل آیا خبر یې د کوم سړي نه په أَوَّابٍ حَفِيظٍ باندې؟ دا هغه سړی دی چې کله ئې خپله ګناه یاده کړي نو بخښنه اوغواړي د الله تعالیٰ نه د هغې په باره کښې (روح ۱۹ ج ۲۶)
وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ: د ځلورو صفتونو په بدله کښې ځلور قسمه نعمتونه و مَزِيدٌ په باره کښې جمهور مفسرین فرمائي چې د الله تعالیٰ دیدار دی. او ګورئ مدارك ص ۱۸۵ روح ص ۱۹۰، تائید یونس ۲۶ او تهانوي رحمه الله فرمائي چې بعضې حوریګانې به وي چې هغه به وائي أَنَا مِنَ الْمَزِيدِ. رواه في الدر مرفوعا (بیان ص ۳۰)
لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ: دلته د پوهې د پاره او د پند حاصلولو د پاره دوه طریقې ذکر شوې دي. اول زړه یعني عقل او دویم غوږ کیښودل. خو په دواړو طریقو سره چې دا حاضر وي یعني بل خوا ئې توجه نه کوي. کاندهلوي رحمه الله فرمائي چې د قلب نه مراد عقل دی. معلومه شوه چې عقل په زړه کښې دی. (احکام القرآن ص ۲۰) وَهُوَ شَهِيدٌ: او دا حاضر وي په زیرکتیا سره ځکه چې د چا ذهن حاضر نه وي نو ګویا که هغه غائب وي. (مدارك ص ۱۸۵، ص ۱۹۰ ج ۲)

فَاصْبِرْ ٣٩: د اتسلي ده داعي حق ته که څه الغيبي ستاسو خلاف کوي نو ته بيان له نه وړکړه د نمر د ختو نه مخکې خلق جمع وي او د نمر د پريوتو نه مخکې خلق جمع وي او د شپې هم خلق جمع وي او هر څو هم د الله د آيتونو بيانولو يو فرد لري دے په موخو کښې هم د الله هم د آيتونو بيان سته هم اجتماعاً او هم انفراداً (نعم ملکت) (د اشده هم حاشيه)

قَدْ کړي بانشوا. اخير سره د سورت د اول سره مرتبط او تسهيل وے.

(سورة الذاريات)

دا مکي سورت دے او په ترتيب کښې پس د قاف نه او ده دے په نزول کښې پس د سورت احقاف نه نو مي دے اول آيت کښې ذکر دے دعوے اثبات د قيامت ده نه توحيد نه ده ربطونه (۱) مخکښې سورت کښې اثبات د قيامت وو کذلک الخروج ما نو دلته يې زيادت ذکر دے نه کښې (۲) مخکښې کښې د انسان د پيدائش ذکر وو په هغه کښې دلته د هغه د پيدائش حکمت ذکر کوي په دے کښې (۳) هلته يو شاهد و دنيا د اثبات د قيامت ما نو دلته خلور شواهد ذکر دي د اول سر نه (۴) هلته دعوې د توحيد ذکر وه په ده کښې دلته هم ذکر ده په دے کښې (۵) هلته د اقوامو هلاک شوي قومونو ذکر وو اجمالاً د ګټه نه. دلته د پنځه قومونو هلاکت ذکر دے تفصيلاً د ګټه نه. الحاصل په دے سورت کښې ترقي ده د ماقبل سورت نه. دا مضمون کے د هغه مضامينو د پاره چه په سورة

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا

پيدا کړي مونږ ؛ اسمانونه ؛ او ؛ زمکه ؛ او هغه چې

بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا

په مينځ د دواړو کې دي ؛ په شپږو ؛ ورځو کې ؛ او مونږ ته نه دی رسيدلی

مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا

هيڅ ستړيا ولے ؛ نو صبر کوه ؛ په هغه چه

يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ

دوی وائي ؛ او تسبيح وايه سره د حمد د رب خپل نه مخکې

طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾

د ختلو ؛ د نمر نه ؛ او مخکې د پټيدلو د نمر نه

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ

او د شپې نه ؛ تسبيح وايه د هغه ؛ او روستو د

السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ

سجدې کولو نه ؛ او غوږ کيږده ؛ کله چې آواز اوکړي آواز کوونکے

مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ

د ځاي ؛ نزدې نه ؛ په هغه ورځ ؛ آوري به دوی

الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكَ يَوْمُ

چغه ؛ په حقه سره ؛ دغه ؛ ورځ د

الْخُرُوْجِ ﴿٤٢﴾ اِنَّا نَحْنُ نُحْيٖ وَ

راوتلو ده (د قبرونو نه) ؛ يقيناً مونږ ؛ ژوندي کول کوو او

نُمِيْتُ وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ

مړه کول کوو ؛ او خاص مونږ ته ؛ راګرځيدل دي ؛ کله چه

تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ؕ

وچوي ؛ زمکه ؛ د دوی ؛ نه ؛ منډې به وهي

قاف کښې ذکر شوي وو او کوري سمط الدرر مشا ۱۲۳. خلاصه: په دے سورت کښې دوه بابونه دي اول تر ۲۳ پورې دويم تر اخره پورے په اول باب کښې څلور خبرے شوي دي (۱) خلور شواهد د اول نه (۲) اثبات د قيامت ده نه (۳) زجر منکرينو د قيامت لره د نه تر ۱۴ پورے (۴) تخويف ۱۳ نه ۱۴ (۵) بشارت د ۱۵ نه مو د پنځه صفاتو متقيانو

(۲) وړسته دلائل عقلیه دي ... ۴۳ ... ته ۴۳. په دوېم باب کښې هغه ضمیمه هم شته دی. (۱) پخپله نمونه د تباه شوو
قومونو ده (۴۶ نه ۴۲ ... ۴۶ ته). (۴) عقلي دلائل دوباره (۴۸ نه ۴۹ ته) (۳) دعوی د توحید ... (۴) زجر

ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ
دغه را جمع کول په مونږ آسان دی. مونږ ښه
أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم
ښه پوهه یو په هغې چه دوی وائي او نه یې ته په دوی باندې
بِجَبَّارٍ ۖ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَن
زور کوونکې. نو پند ورکوه په قرآن (سره) هغه چا ته
يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾
چه ویرېږي د عذاب نه زما نه.

سُورَةُ الذّٰرِيٰت مَكِّيَّة ۶۰ | بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ | آياتها ۶۰ رکوعاتها ۳

وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا ﴿٢﴾
قسم دی په ښه شان خورونکو بادونو په خورولو سره. پس بار وړونکې د وریځې بوج لره.
فَالْجَارِيَاتِ يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا ﴿٤﴾
پس چلېدونکې کشتۍ په آسانۍ سره. پس تقسیم کوونکې ملائک کار ونو لره.
إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَإِنَّ
یقیناً هغه چه تاسو سره یې وعده کېږي خامخا رښتیا دی. او یقیناً
الدِّينَ لَوَاقِعٌ ﴿٦﴾ وَالسَّمَاءِ ذَاتِ
جزاء خامخا واقع کېدونکې ده. او قسم دی په آسمان چه خاوند
الْحُبُكِ ﴿٧﴾ إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾
د لارو ستورو دی. یقیناً تاسو خامخا په وینا مختلف کښې یئ.
يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ
اړولې شي د دې نه هغه څوک چه اړولې شوی دی. تباه کړې شي
الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي
اټکل کوونکي. هغه کسان چه دوی په

د قرآن ربط ... (۱) تعریف د قیامت ... (۵) تسلي ... (۶) تعریف د نیاوی ... امتیازات:
(۱) لطور شواهد خاصه د ... (۲) حکمت د پېدائش د پېری او د انسان ده (۳) ورکړه اعاده د نوره لوط علیه السلام ... (۴) نصرت صفات د متقیانو ده ... (۵) پخپله ښه د مهلکونو ...
والذاریات ذروا: ذاریات صفت د سیلو ده او حاملات صفت د وریځو ده او جاریات صفت د کشتو ده او مقسمات صفت د ملائکو ده او دا نقل دی د عمر او علي رضي الله عنهما نه. (او گوره ابن کثیر ... روح ... او درمنثور ... قرطبي ...)
شیخ القرآن رحمه الله فرمائي شاهد دي دا غلور شیونه یعني څنګه چه دغه غلور شیونه کښې انتقال او تبدیل دی نو هم دغه شان به عالم هم بدل او لاړ شي. فائده: ...
پنجپیري شیخ رحمه الله فرمائي چه
إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ جواب د قسم دی یعني د کوم شي چه تاسو سره وعده کړې شوې ده هغه حشر او نشر دي هغه حق دی او د قیامت په ورځ به جزاء او سزاء ضرور وي. إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ د اولو دوو قسمونو سره متعلق دی یعني څنګه چه هواګانې او چتوي د غه رنګې تاسو به هم او چت شئ دا په دنیا کښې د حشر او نشر نمونه ده. وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ دا د نورو دوو قسمونو سره متعلق دی. یعني څنګه چه هوا وریځې
او چتوي او د الله تعالی په حکم سره چرته باران د رحمت کېږي او چرته مخلوق برباد کوي. دغه رنګې د قیامت په ورځ به جزاء او سزاء وي په هغوی به د باران په ځائې د الله تعالی رحمت وي او په نورو به د ګناهګارانو د الله تعالی عذاب نازلېږي.
دا په دنیا کښې د جزاء او سزا نمونه ده. (جواهر ...) فائده: د دې په تفسیر کښې غلور وارد صفتونه (باقي په بل مخ)

(بقيه) د بادونو او هوا ګانو دي . وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ . او قسم دے په اسمان چې خاوند د زینت او الاقی او یا د ستورو دے (بیضاوی ، جواهر صفحه) إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ، یقیناً تاسو په وینا مختلف کښې یئ .

په باره د قرآن او د رسول او د قیامت کښې او د الله کښې د هر یو باره کښې د منکرینو ګډے وډے خبرے دی . غمرة ما د ٢ چې دا جواب قسم دے او دغه آیت نه د منکرینو بیخه تیا لئم ذکر کوی په طریقه د زجر و رکولو سره (احسن صفحه ٣)

(د دے مخ حاشیه)

يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ : دغه کښې زجر دے منکرینو د قیامت لره په ٣ ، مګر کښې جواب دے او هغوی لره تخویف دے إِنَّ الْمُتَّقِينَ ١٥ : د متقیانو ښائسته صفات او هغوی لره بشارت دے . كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ، یهجعون په معنی د ویده کیدلو . او ما زیاتی دے د پاره د تاکید او یهجعون خبره کان دے .

(مدارک صفحه ١٢٠ ج ٢)

فائده :

په دغے کښې مشهور دوه قولونه دی اول قول دا دے چې ما نافیه دے او مطلب په دا دے چې په شپو کښې کمه شپه داسے وه چې دوی به ټوله شپه اوده کیدل بلکه و یره شپې به سیخ مونځونو کښې اوو کله کله به ټوله شپه اوده پاتے شو . دا قول ابن کثیر رحمه الله ابن عباس رضی الله عنه او مجاهد او قتاده رحمهما الله نه نقل کړیدے . او په دغه کښې د عامو اُمتیانو د پاره هم وجه سهولت دے . او دوئم قول د حسن بصری وغیره نقل کړیدے او ابن جریر هغه غوره کړیدے هغه دا دے چې ما حرف زائد دے او مراد د دینه دا دے چې د شپې به یو کمه حصه کښې اوده کیدل او په اکثره حصه د شپې کښې به یے تهجد کول او داصفت و یر اعلیٰ دے اګرچه په دغه کښې د عامو اُمت د پاره ګرانولے دے (احسن صفحه) اختصروا اوګورئ تفسیر ابن کثیر صفحه ٢ ج ٤ ، او ابن جریر صفحه ٢١٣ ج ٢٦ . وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ ٢٠ : د قیامت د اثبات د پاره دلیلونه عقلیه ذکر کړی .

غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾ يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ

جهل کښې ؛ غفلت کونکي دي ؛ تپوس کوي چې کله به وي

يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ

ورځ د بدلے ، په هغه ورځ دوی به چې اور باندے

يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُوا فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا

سوزولے شي ؛ اوګورئ په اور وعذاب خپل ؛ دا

الَّذِي كُنتُم بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿١٤﴾ إِنَّ

هغه شې دے چې وئ تاسو په دے جلتي مو کوله ؛ یقیناً

الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾

پرهیزګاران ؛ به باغونو کښې به وي ؛ او په چینو کښې ؛

آخِذِينَ مَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ

اخستونکي به وي د هغه نعمتونو چې ورکوي دوی ته رب د دوی ؛ یقیناً دوی

كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

وو ؛ مخکښې د دے نه ؛ نیکي کونکي ؛

كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾

وو دوی به ؛ برخه لږه کښې د شپې نه ؛ چې اوده کیدل به ؛

وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِي

او په وخت د پیشمنو کښې دوی ؛ بخښنه غوښتله ؛ او په

أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

مالونو د دوی کښې ؛ حق وو د پاره د سوال کونکي او بے نصیبه کړے شوي

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾

او په ځمکه کښې ؛ نښانے دي د پاره د یقین کونکو ؛

وَفِي أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَ

او په نفسونو ستاسو کښې ؛ آیا نو ولے نه ګورئ تاسو ؛ او

وَمَا تُوعَدُونَ ٢٢ : او هغه چه تاسو سره یې وعده کیدے شي. یعني د آسمان نه باران رحمت نازلیږي چه قحط نه مختلف نوعې او قسمونه د رزق پیدا کیږي. وَمَا تُوعَدُونَ یعني ټولې هم د آسمان نه راځي او جنت هم هلته دے

فِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

په آسمان کښې رزق ستاسو دے او هغه شي چه تاسو سره یې وعده کیږي

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ

پس قسم دے په رب د آسمان او د زمکې، یقیناً دا خبر خامخا حق دے

مِّثْلَ مَآ أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾ هَلْ أَتَاكَ

په مثل د هغه چه تاسو یې خبرې کوئ، یقیناً راغلے تا ته

حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾

خبر د میلمنو د ابراهیم ؑ چه عزتمند کړے شوي وو

إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ

کله چه راننوتل په ده باندې نو اووئیل دوی سلام وایو سلام، نو ده اووئیل

سَلَامٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ

سلام دې وي په تاسو، قوم نا آشنا دے، نو پټ لاړو طرف

أَهْلِهِ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُ

اهل ته، نو راوړو یې یو سخے څورب (وریت کړے شوے)، نو نزدې یې کړو

إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوْجَسَ

دوی ته، او ویې وئیل ولې نه خورئ تاسو، نو په زړه کښې پیدا کړو

مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ

د دوی نه ویره، او وئیل دوی: مه ویرېږه، او زیرے ورکړو ده ته په هلک

عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ

پوهه باندې، نو راغله مخ ته ښځه د ده په چغه کښې، نو ئې په وهلو

وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾ قَالُوا

مخ خپل ته، او وئیل یې: زړه یم، بوډۍ شنډه، اووئیل ملائکو

كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكِ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

دغه شان دې وي، وئیلي دي رب ستا، یقیناً الله تعالیٰ خاص حکمت والا پوهه دے

مثلې ۲: یا امراء ترینه جنت مراد دے اوګرځي ابن کثیر ۲۳، چه د سدرة المنتهى په خوا کښې دے نجم ۱۵. إِنَّهُ لَحَقٌّ ۲۳: ما شاهد په دعوی د قیامت دے (افضل قدت) مولانا حسین علي رحمه الله فرماي چه د زمکې او د آسمان په رب قسم چه حشر او نشر دا حق دے لکه چه تاسو خبرې کوئ او د خلوته الفاظ او باسئ دغه رنګ په تاسو هم د قبرو نه او ویستلے شي (جواهر مثلا) هَلْ أَتَاكَ ۲۴: د ابراهيم عليه السلام واقعه تمهيد ده د واقعې د لوط عليه السلام چه هغه راله نمونه د تخريف د نیا وي دے.

فائده ۵ :

په دے آیتونو کښې آداب د میلمه دی. مکمله په سورت هود ۶۹ او د حجر ۵۱ د واقعه ذکر شوې ده. فِي صَرَّةٍ ۲۹: په چغه لو په کښې (ابن کثیر ۲۳۳) په چغه کښې (غريب القرآن ۲۲۲) او هغه چغه په سورة هود ۷۲ کښې ذکر شوې ده. او دا عادت د ښځو دے چه د هر یا اشنایۍ په وخت کښې داسے کوي د ویرې او د تعجب نه (قاسمي ۹۲ / ۹)

فائده ۶ :

جاهلان شیعه ګان د دے نه ماتم ثابتوي چه سراسر جهالت او حماقت دے. د ماتم شیعه ګانو د حضرت سارة د دے فعل سره څه نسبت نشته. ماتم ——— د اظهار غم او د مصیبت د پاره په مرګ باندې کړلے شي. لیکن د حضرت سارة دا فعل د خوشحالۍ د خبر خبرۍ د اوریدو په وجه د تعجب ظاهرولو د پاره وو (جواهر ۵۷۴) حديث شريف کښې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په روايت راځي: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس منا من ضرب الخدود وشق الجيوب ودعا بدعوى الجاهلية. (متفق عليه، مشكوة ۱۵۰)

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٣١﴾

(وویل ابراهیم) نو څه دی لوی کار ستاسو اې رالیږل شوو ملائکو؟

قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿٣٢﴾

او وویل دوی یقیناً موږ رالیږل شوي یو قوم مجرم ګناهګار ته

لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ﴿٣٣﴾

چې راولیږو موږ په دوی باندې کاڼي د خټو نه

مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣٤﴾

نښه وهل شوي په نزد د رب ستا د پاره د زیاتي کوونکو

فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣٥﴾

پس راوویستل موږ هغه څوک چې وو په هغه کلي کښې د مؤمنانو نه

فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٣٦﴾

نو بیا نه موندل موږ په هغه کښې غیر د یو کور د مسلمانانو نه

وَتَرَكْنَا فِيْهَآ اٰيَةً لِّلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ

او پرېښوده موږ په هغه کښې نښه د هغه کسانو د پاره چې وېرېږي د

الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٣٧﴾ وَفِيْ مُوْسٰٓى اِذْ

عذاب دردناک نه، او په (واقعه د) موسی کښې (نښه ده) کله

اَرْسَلْنٰهُ اِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾

چې راولیږه موږ هغه لره فرعون ته په دلیل واضحه باندې

فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾

پس اوګرزېده فرعون په وجه د طاقت خپل، او وې ویل جادوګر دے یا لیونے دے

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِى الْيَمِّ

پس ونیولو موږ هغه لره او لښکرې د هغه، نو او غورځول موږ دوی په سیند کښې

وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا

او هغه ملامت کړي شوی (ځان خپل وو) او په عاد (قوم) کښې (هم نښه ده) کله چې راولیږله موږ

فَمَا وَجَدْنَا فِيْهَا (٣٦):
مراد ترینه نه کور د لوط علیه السلام دے. او د هغه ښځه ترینه نه هم خارجه ده. په دلیل د دے قول د الله تعالٰی د حجر اِلَّا امْرَاَتَهٗ، مګر ښځه د هغه.

فائده: معلوم شو چه مؤمن او مسلم یو شی دے په نزد د قرآن. (احسن ص٤٢٠)

وَفِیْ مُوْسٰی (٣٨):
او په قصه د موسٰی علیه السلام کښې نښه ده. (فتح ص٤٤٣)

فَتَوَلّٰی بِرُکْنِهٖ:
پس اوګرزېده هغه سره د قوت خپل نه یعنی د لښکر خپل سره (فتح ص٤٤٥) نو اوګرزېده د وجې د طاقت خپل نه.

عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ ﴿۴۱﴾ مَا تَذَرُ مِن
په هغوی : سیلئی : شنډه ، نه یې پرېښودله : هیڅ
شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿۴۲﴾
شی : چه راتلله په هغه باندې : مګر وبه ګرزوله هغه پشان د هډوکي ریزه ریزه
وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ
او په ثمود یانو کښې (نښه ده) کله چه اوویلے شو دوی ته : تقعه حاصله کړئ ترڅه
حِينٍ ﴿۴۳﴾ فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ
وخته پورې : پس سرکشي اوکړه هغوی د حکم د رب خپل نه : نو ونیول دوی لره
الصَّاعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُونَ ﴿۴۴﴾ فَمَا اسْتَطَاعُوا
تخې چغه : او دوی کتل ، نو طاقت نه لرلو دوی
مِنْ قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنْتَصِرِينَ ﴿۴۵﴾ وَقَوْمَ
د اودرېدو : او نه وو دوی انتقام اخستونکي (او هلاک کړو مونږ)
نُوحٍ مِنْ قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا
د نوح : مخکښې د دې نه : یقیناً دوی وو : قوم
فَاسِقِينَ ﴿۴۶﴾ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا
فسق کوونکي ، او آسمان جوړ کړے دے مونږ دا : په طاقت سره ، او مونږ
لَمُوسِعُونَ ﴿۴۷﴾ وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ
خامخا فراخه کوونکي یو ، او زمکه خوره کړې ده مونږ دا ، نو ښه
الْمَاهِدُونَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا
خورونکي یو (مونږ) ، او د هر شی نه ، پیدا کړي دي مونږ
زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۴۹﴾ فَفِرُّوا إِلَى
جوړې ، د پاره د دې چه تاسو نصیحت قبول کړئ : پس ورمنډې کړئ
اللَّهِ ۖ إِنِّي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ مُبِينٌ ﴿۵۰﴾ وَلَا
الله ته ، یقیناً زه تاسو لره د هغه د طرف نه ښکاره یرېدونکے یم : او مه

ع ۲

وَقَوْمَ نُوحٍ ۔ الخ
او هلاک موکړو قوم د نوح علیه السلام لره (فتح ص ۲۲۰)

وَالسَّمَاءَ ۔ الخ
د دې آیت نه وروسته دلائل عقلیه د پاره د اثبات د قیامت ذکر کوي ۔

فَفِرُّوا إِلَى اللَّهِ ۔ الخ
دا تفریع ده چه تا دلائل واورېدل نو ضرور د قیامت مسئله او توحید اومنه ۔ (افضل ص ۲۰۰) نسفي رحمه الله فرمائي نو اوتښتئ الله تعالیٰ ته ۔ یعني د شرک نه ایمان ته په الله تعالیٰ ۔ او د طاعت د شیطان نه طاعت د رحمان ته ۔ اوتښتئ د عذابو الله تعالیٰ نه الله تعالیٰ ته (مدارك ص ۱۸۰ ج ۴) یعني په توبه ایستلو سره د ګناهونو ستاسو نه (زاد المسیر ص ۴۱۴ ج ۸)

فائده :
دلته یې نذیر دوه ځلې ذکر کړے دے په اول ځائی کښې مراد ویرونکے د عذاب د دنیا نه او په دوېم ځائی ویرونکے د عذاب د آخرت نه دے ۔

تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ مِّنْهُ
گرزوئ د الله تعالیٰ سره معبود بل : یقیناً زه تاسو لره د هغه نه
نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۵۱﴾ كَذٰلِكَ مَاۤ اَتَى الَّذِیْنَ
ویروونکے ښکاره یم : دغه رنګ نه دے راغلے هغه کسانو ته
مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا
چه مخکښې د دوی نه وو : استازے : مګر وئیلی دی هغوی
سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ
جادوګر ـ یا لیونے دے : آیا دوی یو بل ته وصیت کړے په دې (خبره) بلکه
هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَاۤ
دوی قوم سرکشه دی : پس او ګرزه ته د دوی نه : نو نه ئې
اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى
ته ملامت کړے شوے : او پند ورکوه ته : پس یقیناً پند ورکول
تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾ وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ
نفع ورکوی مؤمنانو ته : او نه دی پیدا کړی ما پیریان
وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ مَاۤ اُرِیْدُ مِنْهُمْ
او انسانان : مګر د دے د پاره چه بندګی او کړی زما : نه غواړم د دوی نه
مِّنْ رِّزْقٍ وَّ مَاۤ اُرِیْدُ اَنْ یُّطْعِمُوْنِ ﴿۵۷﴾
هیڅ رزق : او نه غواړم د دوی نه چه طعام راکړی ما ته :
اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِیْنُ ﴿۵۸﴾
یقیناً الله تعالیٰ خاص هغه : روزی رسان خاوند د طاقت مضبوط دے :
فَاِنَّ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ
پس یقیناً د هغه کسانو د پاره چه ظلم یې کړے برخه د عذاب دی په شان برخه د
اَصْحٰبِهِمْ فَلَا یَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۵۹﴾ فَوَیْلٌ لِّلَّذِیْنَ
ملګرو د دوی : نو تلوار دې نه کوی دوی : نو هلاکت دے د هغه کسانو د پاره :

كَذٰلِكَ مَاۤ اَتَى الَّذِیْنَ ۵۲
دا د زورتیه د مشرکانو ته . او تسلی ده نبی ﷺ ته چه دا ساحر وغیره وئیل صرف تا ته نه دی . بلکه مخکښې پیغمبرانو ته هم شوی دی (افضل ص۴۲)

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۵۴ دا تسلی او تشجیع ده نبی علیه السلام ته .

وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ
دا د مخکښې د پاره علت دے چه وعظ ضرور نفع رسوی ځکه چه انسان پیدا کړے الله تعالیٰ د عبادت د پاره دے . (افضل ص۴۲)

فائده :

دلته سوال راځی چه هر کله علت شمراد عبادت په طریقه د توحید سره شی نو د پیریان او انسانانو هره توحید والا نه دی نو خلاف لازم شو د اراده د الله تعالیٰ او دا مذهب د معتزلو دے چه خلاف دے د نصوصو نه .

الجواب : (۱) مراد د پیریانو او انسانانو نه مؤمنان دی . او ګوره غریب القرآن ص۴۲ (۲) مراد د اراده نه اراده تشریعیه ده یعنی دوی ئې مکلف کړی دی په عبادت خپل او امر ورته کړے دے او ګوره سورة بینة ۵ (۳) مراد د دے نه استعداد دے د دوی د پاره د عبادت . یعنی صرف د دوی پیدائش په داسے انداز کړے دے چه په دوی کښې استعداد او صلاحیت د عبادت کولو شته دے . او ګوره مظهری ص۴۲ او معارف ص۴۲

لهام الرحمن ص۴۲ . مَاۤ اُرِیْدُ مِنْهُمْ : دا دفع د وهم ده چه ما دوی غلامان جوړ کړی نو د خپل غرض او فائدے د پاره به ئې دی جوړ کړی . فَاِنَّ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا ۵۹ : دا تخویف دے هغه چا ته چه د خپل پیدائش د حکمت نه خلاف کوی
(الحمد لله سورة ذاریات تفسیر سپا د شعرو ماښام نه په ورځ د جمعے ۲/۵۰ بجے ۱۵ جمادی الاولیٰ ۱۴۲۰ هجری ۱ جون ۲۰۰۰ م ختم شو)

سُوْرَةُ الطُّوْرِ: دا مکي سورت دے ... په ترتیب کښې ٥٢ او په نزول کښې ٧٥ دے، پس د سجدے نه نوم یې په اول آیت کښې ذکر شوې. دعوی (۱) وقوع د عذاب د قیامت کښې ده (۲) توحید ... (ربط) ... دے سورت کښې دلائل عقلیه او نقلیه ... عقلي نقلي وحي ... قسمونه دلائل ذکر کوي (۲) هلته اثبات د قیامت او شور ... کښې ... چه وصف ... عذاب د دوی دے (۳) هلته ... د آسمان او د زمکې پیدائش ... کړو ... (۴) هلته بشارت د ... تفصیل ذکر ... (۵) هلته دعوی د توحید ... ده ... سبب ذکر ... دے.

خلاصه: په دے سورت کښې هم دوه بابونه دي اول ترکوع ... پورې دویم ... باب ... کښې ... خبرے دي (۱) دے کښې قسمونه شواهد او دلائل نقلي ... وحي ... عقلي ... (۲) دعوی د سورت ... (۳) تخویف ... (۴) بشارت تفصیلي ... دعوی د توحید ... دویم باب کښې هم ... خبرے دي (۱) تسلي نبي علیه السلام لره (۲) ... زاجره ... لفظ د ... منکرینو د رسالت لره ... منکرینو د قرآن لره ... منکرینو د توحید لره ... منکرینو د قیامت لره ... (۳) تخویف د ... (۴) تسلي ... (۵) دعوی د توحید ... احتیاجات: (۱) خلاصه ... (۲) زاجره لفظ ... (۳) ... تفصیل (۴) ذکر د البیت المعمور ... (۵) توحید سبب د دخول د جنت ... دے.

كَفَرُوا مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ۝٦٠

په کفر کړې ... له دغه ورځې د دوی نه چه دوی ته وعده ورکړې شوې ده

سُوْرَةُ الطُّوْرِ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — اٰيَاتُهَا ٤٩ رُكُوْعَاتُهَا ٢

وَالطُّورِ ۝١ وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ۝٢ فِى رَقٍّ

قسم دے په طور باندې، او په کتاب لیکلي شوي باندې، په پاڼه د

مَّنشُورٍ ۝٣ وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ ۝٤ وَالسَّقْفِ

خوره ورده کښې، او په کور آباد کړې شوي باندې، او په چت

الْمَرْفُوعِ ۝٥ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ۝٦ إِنَّ عَذَابَ

اوچت کړې شوي باندې، او په دریاب ډک کړې شوي باندې، یقیناً عذاب

رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ۝٧ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ۝٨ يَوْمَ

د رب ستا خامخا واقع کیدونکے دے، نشته هغه لره هیڅ دفع کوونکے، په کومه ورځ

تَمُورُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۝٩ وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ۝١٠

چه وبه خوځیږي آسمان په خوځیدو سره، او روان به شي غرونه په روانیدو سره

فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ۝١١ الَّذِينَ هُمْ

نو هلاکت دے په دغه ورځ د تکذیب کوونکو لره، هغه کسان چه دوی

فِى خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ۝١٢ يَوْمَ يُدَعُّونَ

په باطله مشغولتیا کښې لوبې کوي، کله چه ټیله کړې شي دوی

إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ۝١٣ هَٰذِهِ النَّارُ الَّتِى

اور د جهنم ته په ټیله کولو سره (او وبه ویلې شي) دا اور هغه دے

كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ۝١٤ أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ

چه تاسو به د دې تکذیب کوئ، آیا نو جادو دے دا، یا

أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ۝١٥ اصْلَوْهَا فَاصْبِرُوٓا

تاسو نه وینئ، داخل شئ دې ته نو صبر کوئ

... د جنت دے ... وَالطُّوْرِ ربط داچه دعوی د سورت باندے اول نقلي دلیل دے د موسی علیه السلام یعنی هغه کوه طور هم شاهد دے چه حشر او نشر او جزاء او سزا حق دي ځکه چه په موسی علیه السلام باندے دا حق نازل شوې وه چه اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰى (طٰهٰ) دا ذکر (باقي په بل مخ)

(بقیه) د مېنی او د ارادے د ملکی د فیصلے نه دے. وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ ده. دا وېره دلیل نقلی دے
د محکمو کتابونو نه. رق باریک څرمن د غیره چه په هغه باندے لیکل کولے شی بعض محکمین کتابونه هم په دے شی خاص
دی لوح محفوظ.

أَوْ لَا تَصْبِرُوا ۖ سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ

او که صبر نه کوئ برابر دی پر تاسو باندے بیشکه بدله درکولے شی تاسو ته

مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ١٦ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي

د هغه عملونو چه تاسو کول. یقیناً پرهیزګاران به په

جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ١٧ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ

باغونو او نعمتونو کښے وی. خوشحال کوونکی به وی په هغه څیز چه ورکړے دے دوی ته رب د دوی

وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ١٨ كُلُوا

او بچ کړی به ئی دوی رب د دوی د عذاب د دوزخ نه. خورئ

وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ١٩ مُتَّكِئِينَ

او څکئ په خوښ هضمیدو سره په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول. تکیه وهونکی به وی

عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ

په تختونو باندے چه قطار کړے شوی دی. او جوړے به ورکړو دوی ته حورے

عِينٍ ٢٠ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم

غټ سترګو والا. او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او تابعداری کړے د دوی اولاد د دوی

بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم

په ایمان سره پیوست به کړو د دوی سره اولاد د دوی او کم به نه کړو د دوی

مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا

د عملونو د دوی نه هیڅ شے. هر یو سړے به هغه عمل چه

كَسَبَ رَهِينٌ ٢١ وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ

ئے کړے دے ګروی دے. او امداد به ورکړو دوی ته په میوو سره

وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ٢٢ يَتَنَازَعُونَ فِيهَا

او په غوښه د هغه قسم چه دوی به ئے اشتها کوی. راخلی به دوی په هغه کښے

كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ٢٣ وَيَطُوفُ

جامونه چه نه به وی بے فائدے خبرے په هغه کښے او نه ګناه. او ګرځی به په

دی چه جزا او سزا دا قسم کېږی لکه
چه په هغوی کښے هم دا مضمون
نازل کړے شوے دے. وَالْبَيْتِ
الْمَعْمُورِ دا دلیل وحی دے حق
معمور دے او دوم اسمان باندے دے د
خانه کعبے بالمقابل د فرښتو عبادت
ځائے دے چه هغه روزانه اویا زره
فرښتے د هغه زیارت کوی کومه
چه یو ځل زیارت کوی بیا ئی نه نصیب
کېږی صحیح روایت دی (صحیحین) حتی
بیت الله هم ګرا وے شی چرته چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے شوے نازل
شوے دے یعنی دے بیت معمور کښے هم
داحکم شوے دے اجر ورکړے. وَالسَّقْفِ
الْمَرْفُوعِ دا اوله عقلی دلیل دے
او د سقف مرفوع اسمان اوچت
مراد دے یعنی اسمان او چت کړے چه
په تاسو احاطه کړے دے هم ګواه دے
چه تاسو د احاطے د وتلو د دے شی
نه مستثنی نه یئی. سورة رحمٰن.
وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ دا دویم دلیل
عقلی دے یعنی دا د اوبو ډک سمندر
هم ګواه دے چه په دے طریقه
دے تاسو لره د هر طرف نه ګیر کړے دی
د هغه شان به د قیامت په ورځ د الله
عذاب تاسو لره د هر جانب نه ګیر کړی
(ابن جریر). فائده: مسجور
په معنی د مملو دے یعنی ډک کړے
شوے د اوبو او دا معنی غوره کړیده
ابن جریر طبری رحمه الله او ګوره ابن کثیر
بحر جواهر. يَوْمَ
تَمُورُ السَّمَاءُ په دے کښے وخت د
عذاب ذکر کوی. فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
په دے ایتونو کښے ذکر د مستحقینو
د عذاب دے. جمعه ٢٥ هم او ګوره
يَوْمَ يُدَعُّونَ دا د محکمے یوم نه

جزا شته او عذاب ذکر شو. أَفَسِحْرٌ هَٰذَا (١٥) او س لو بیا یی چه دا هم جادو دے او ستاسو نظر بندی کړے شوی چه
د هغوی دنیا کښے تاسو ته دا او وئیل چه نظر نه دے لیکن حقیقت هیڅ نه وی. خلکو چه تاسو به دنیا کښے د معجزو او د انبیاؤ
علیهم السلام تعبیر جادو او نظربندی سره کولو (ګوری جواهر) دا به ددوی په طریقه د تنبیه سره وائی. (د دے حاشیے پای)

(د تیر مخ حاشیه) إِنَّ الْمُتَّقِينَ ، ورته غاړې نه تفصیل بشارت اخروي دے چه په دا کښې په دوه شپږو سره زیبت دے دغه شانته په دا کښې هم دوه بشارتونه دي. دوه په ١٩ کښې دوه په ٢٠ کښې دوه په ٢١ کښې دي. وَالَّذِينَ آمَنُوا ٢١: جناب مفتي صاحب رحمة الله فرمائي چه د بزرګانو سره نسبي تعلق نفع ورکوي خو شرط د ایمان سره (معارف ٨ ص ١٩٠)

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾

دوي باندې شي هغه هلکان د پاره د خدمت د دوي، ګویا که دوي ملغلرې پټې ساتلې شوي

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾

او مخامخ به شي بعضي د دوي نه په بعضو باندې شي د یو بل نه به تپوس کوي

قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾

وائي به دوي یقیناً وو مونږ وېرېدونکي د دې نه مخکښې په اهل خپل کښې؛ وېره کوونکي د عذاب نه

فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

نو احسان اوکړو الله تعالی په مونږ باندې او بچ یې کړو مونږ لره د عذاب د ګرمې هوا نه

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ

یقیناً وو مونږ مخکښې د دې نه چه رابللو به مونږ هغه لره، یقیناً هغه ذات دے احسان کوونکے

الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ

رحم کوونکے هم دے. پس پند ورکوه ته، پس نه یې ته په نعمت (فضل) د رب ستا

بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ

نجومي او نه لیونے. آیا وائي دوي

شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ

دا شاعر دے انتظار کوو مونږ په ده باندې د مصیبت د مرګ، او وایه

تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

انتظار کوئ تاسو پس یقیناً زه هم تاسو سره د انتظار کوونکو نه یم

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا ۚ أَمْ هُمْ

آیا امر کوي دوي ته عقلونه د دوي په دې باندې بلکه دوي

قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ

قوم سرکشان دي. آیا وائي دوي چه دا قرآن ئې جوړ کړے دے

بَلْ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ

بلکه ایمان نه راوړي دوي؛ نو راوړي دوي یوه خبره

وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ، معنی یې دا ده چه کم به نکړو د پلرونو ئې په سبب د هغه نعمتونو چه اولادو ته ورکول شي بلکه اولاد د عملونو د دوي نه څه شي لره. او ګورئ (لا والمسیر ص ٢١٩) كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ، مراد د دې نه مشرکان دي. او مخکښې د بشارت کښې تعریف وشو او د مخکښې تعریف سره یې او قرینه په دې د سورة مدثر ٣٩ آیت دے. هلته فرمائي إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ، او یا عام دے چه هر چا کښې په ورکښې جواب دوهم دے هغه دا دے تر څو چه د پلار نیک عمل په وجه د اولاد ته فائده ورسیده نو ګیدے نشي چه د پلار ګناه د په وجه د بچي ته نقصان اورسي نو جواب اوشو په عمل د هر نفس ګانله دے او ګورئ (احسن ص ٣٥٠ ج ٥)

(د دې مخ حاشیه)

فَذَكِّرْ ٢٩: په دې کښې تسلي او تشجیع ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ٣٠ آیت نه ٤٣ پورې زواجر دي په لفظ د أَمْ سره پنځلس ځله او دا د دې سورت امتیاز هم دے.

۞ ۞ ۞

(د تیر مخ حاشیه) إِنَّ الْمُتَّقِينَ: د دې ځائ نه تفصیل بیان د اخروي صله په ځائ کښې په دوه شیزونو سره زمینت دے وغیره ... په کښې هم دوه بشارتونه دي ... والَّذِينَ آمَنُوا ... جناب مفتي صاحب رحمة الله فرمائي چې د بزرګانو سره نسبي تعلق نفع ورکوي خو شرط د ایمان سره (معارف ... ج ٨)

وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَيْءٍ: معنی یې داده چې کم به نه کړو د پلرونو نه په سبب د هغه نفع رسولو چې اولاد ته ورکول د بدلو د عملونو د دوی نه هیڅ شي لږو (اوګوره زاد المسیر ...) کُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ: مراد د دینه منکر دي او ... د بشارت کښې تعریف دے او د منکرینو تعریف هم وکړي او قرینه یې د سورة مدثر ... آیت دے. هغه فرمائي إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ او یا عام دے چې هرځای کښې په دې کښې جواب د وهم دے هغه دا دے لکه چې د پلار نیک عمل په وجه د اولاد ته فائده ورسیده نو کیدے شي چې د پلار د ګناه په وجه سره بولې ته نقصان اورسي نو جواب اوشو چې بد عمل د هر نفس خپل دے (اوګوره احسن ... ج ٥)

عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾

دوي باندې هلکان د پاره د خدمت د دوي، ګویا که دوي ملغلرې پټې ساتلې شوې

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾

او مخ به کړي بعضې د دوي نه په بعضو باندې، ټپوس به یو بل نه کوي

قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾

وائي به دوي یقیناً وو مونږ مخکښې د دینه په اهل خپل کښې، ویره کونکي د الله نه

فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾

نو احسان اوکړو الله تعالی په مونږ باندې، او بچ یې کړو مونږ لره د عذاب د ګرمې هوا نه

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ

یقیناً وو مونږ مخکښې د دې نه چې رابللو به مونږ الله: یقیناً هغه دے احسان کونکے

الرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ

رحم کونکے دے. پس پند ورکوه ته، نه یې ته په نعمت (فضل) د رب ستا

بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ

تروېځې او نه لیونے، آیا وائي دوي

شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ

دا شاعر دے، انتظار کوو مونږ په ده باندې د مصیبت د مرګ، او وایه

تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

انتظار کوئ تاسو، پس یقیناً زه له تاسو سره د انتظار کونکو نه یم

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا ۚ أَمْ هُمْ

آیا امر کوي دوي ته عقلونه د دوي په دې باندې، بلکه دوي

قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ

قوم سرکشان دي، آیا وائي دوي چې د ځان نه یې جوړ کړے دے دا قرآن

بَلْ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ

بلکه ایمان نه راوړي دوي، نو راوړي دې یوه خبره

(د دې مخ حاشیه)

فَذَكِّرْ ٢٩: په دې کښې تسلي او تشجیع ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته. د ٣٠ آیت نه ٤٣ پورې زواجر دي په لفظ د أَمْ سره پنځلس ځله او دا د دې سورت انتها ته هم دے.

اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ : ایا پیدا کړے شوي دي دوی بغیر د څه شي نه. یعني بغیر د دے نه چه دوی
ته څه امر او نهي اوکړے شي او ګورئ ... قیامة. اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ : ایا د دوی سره خزانے
د رب ستا دي یا دوی ئے والیان دي. چه چا ته ئے غواړي ورکوي ئے او چا ته ئے غواړي نه ئے ورکوي. اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ : د انبیاء چه شرك ئے نه دے کړے.

مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا۟

په مثل د دے که چرته وي دوی رښتوني ؛ ایا پیدا کړے شوي دي

مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ

بغیر د څه فاعل نه ؛ ایا دوی پیدا کوونکي دي ؛ یا

خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾

پیدا کړي دي دوی اسمانونه او زمکه ؛ بلکه یقین نه کوي دوی ؛

أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ

ایا دوی سره ؛ خزانے د رب ستا دي ؛ یا دوی

ٱلْمُصَۣيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ

تصرف کوونکي دي ؛ یا دوی لره درشل دے چه غوږ کیږدي په

فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾

هغے کښے ؛ نو را دې وړي غوږ ایښودونکي د دوی ؛ په دلیل ښکاره باندے ؛

أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ

ایا الله تعالی لره لونړه دي او تاسو لره زامن دي ؛ ایا غواړے ته د دوی نه

أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ

څه بدله ، نو دوی د تاوان د هغه نه درانه کړے شوي دي ؛ ایا

عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ

دوی سره غیب دے ؛ نو دوی لیکل کوي د هغه نه ؛ ایا

يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هُمُ

اراده لري دوی د څه چل ؛ پس هغه کسان چه کفر ئے کړے دے هم دوی

ٱلْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ ۚ

تدبیر کړي شوي دي ؛ ایا شته دوی لره معبود بل ؛ سوا د الله تعالی نه ؛

سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِن

پاکي ده الله تعالی لره ؛ د هغه نه چه دوی ورله شریک جوړوي ؛ او که چرته

عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ : دا د دنیا د عذاب بیان دے. (فضل ص۴۳۲) دُوْنَ : په معنی د مخکښے یا په معنی د بیرا سره دے. (احسن ص... ج ۵) یعني د قیامت د عذاب نه مخکښے هم د دوی دپاره عذاب دے لیکن دوی نه پوهیږي. د دے نه جنګ بدر کښے قتل او قید، قحط سالي او د قبر عذاب مراد دے. ([illegible])

(دَ اشْدِهِمْ حاشیه)

وَاصْبِرْ : دا نبي علیه السلام لره تسلي ده چه تاسو د دوی په تکلیفونو صبر کوئ. او د دوی پرواه مه کوئ او د الله تعالی د فیصلے مطابق په دوی باندے د راتلونکي عذاب انتظار کوئ. هغوی ستاسو هیڅ نقصان نشي کولے ځکه چه تاسو زمونږه په حفاظت او نګرانئ کښے یئ. ([illegible])

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ : دا دفع د غم د پاره امور مصلحه او دعوی د توحید دي.

حِيْنَ تَقُوْمُ : یعني کله چه د ویښے پاځئ. ټوله ورځ په اندازه د فرصت د اوقاتو د الله تعالی تسبیح او تحمید کوه. او د شرك نه د الله تعالی تنزیه کوه. وَمِنَ الَّيْلِ : او بیا په زړه شپه کښے هم. وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ : او د دے نه پس په پرازانه ورځ کښے هم. الغرض هر وخت د الله تعالی یاد او د هغه تسبیح او تحمید کښے

مصروف به اُوسه هغوسته ناصراو حامی دے هغوی سره هیڅ نقصان نشی کولے هغوی به خپله عنقریب د
الله تعالیٰ په گرفت کښے راشی وکے دے ۱۹ امر رت (۱) ف نل ۵ ۔ شوغوهم دے تسبیح بوفرود شه او په

وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا

وچې دوی ویره ټوټه د اسمان نه راغورځیدونکے ؛ وائی به دوی ؛

سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ ﴿۴۴﴾ فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا

وریځ ده ۶۱ جوخته کرے شوے ؛ پس پریږده دوی تر دے چه ملاؤ شی

يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ ﴿۴۵﴾ يَوْمَ لَا

د ورځے خپلے هغے سره ؛ چه په هغے کښے به بے خوده کړے شی ؛ ۶ هغه ورځ چه

يُغْنِيْ عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَّلَا هُمْ

به نشی دفع کولے د دوی نه تدبیر د دوی ؛ هیڅ شے ؛ او نه به دوی

يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا

به مدد کولے شی ؛ او یقیناً د پاره د هغه کسانو چه ظلم ئے کړے ؛ عذاب دے

دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾

غیر د دغه نه ؛ او لاکن زیات د دوی نه پوهیږی ؛

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْيُنِنَا

او صبر کوه د پاره د فیصلے د رب ستا ؛ پس یقیناً حضور د سترګو زمونږ دے

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿۴۸﴾ وَ

او پاکی بیانوه سره د حمد د رب ستا ؛ کله چه پاڅې ته ؛ او

مِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَاِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿۴۹﴾

د شپے نه هم ؛ تسبیح وایه د هغه ؛ او په وخت د شا ګرځیدو د ستورو کښے

سُوْرَةُ النَّجْمِ مَكِّيَّةٌ ۵۳	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۶۲	رُكُوْعَاتُهَا ۳

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ﴿۱﴾ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ

شاهد دے ستوری کله چه ښکته راپریوزی ؛ نه دے بے لارے شوے ملګرے ستاسو

وَمَا غَوٰى ﴿۲﴾ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ﴿۳﴾

او نه دے د بے لارے شوے ؛ او خبرے نه کوی دا د خواهش نه

د الله تعالیٰ په گرفت کښے راتلونکے دے ... سوغوهم دے تسبیح بوفرود شه او په ماښام کښے هم د باری تعالیٰ د وحدانیت اشاعت دے هم قولاً او هم فعلاً او خاصه ان غیرته. د ادبار النجوم په تکمیل کتاب کښے د کوانی رحمه الله نه نقل دی چه په فقهاو ویل بیوولے دے چه سحر مونځ ګول بهتر دی څکه چه د ستورو شا ګرځول نه راځی مګر دے چه پته شی د ستر ګونه انتهی او دا دلیل ښول مضبوط دی (قاسمی ۳۲) ... ۱۰

سُوْرَةُ النَّجْمِ

مکی سورت دے په ترتیب کښے ۵۳ یم د سورت الطور نه او په نزول کښے ۲۳ یم د سورة الاخلاص نه وروسته نازل شوے ده ټول ایت کښے ذکر شته. دعوی نفی د شفعاء قهریه ده نور دے دعوے رد د شرک بالعباد الصالحین دے او د شرک بالملائکه دے او د شرک بالکواکب ۴۹ توحید په اخری ایت کښے (۱) سابطونه (۱) ځکه دے سورت په شروع کښے د الله تعالیٰ د توحید دے الهٰ باطله ذکر کړی (۲) ځکه په ورو کړی هغه ته چه سورة د ایته نه صدق معلوم ده دی ده وروسته او په ... (۳) ځکه مسئله د توحید بیان شوه وروسته د په د صداقت د رسول علیه السلام ذکر کړی (۴) ځکه په صدقت ده دی په ...

او رسالت بیان شوے نو ورسته صداقت د قرآن او د رسول بیانوی (۵) ځکه په شواهد خاصه ذکر شو وروسته هم په ... نه هغه ذکر کوی ۔ اجمالی خلاصه : دا سورت ــــ دوه قسمونه پاؤ وه په بونه دی اول تر ۳۲ دوهم تر اخره پورے تفصیل خلاصه : (۱) صداقت د رسول صلی الله علیه وسلم تر ۱۸ پورے (۲) رد د الهٰ باطله (باقی بیل مخ)

(بقیه / د دوی د ۱۹ نه (۳) رد په دلیل د مشرکانو ۲۳ (۴) عجز د ملائکو ۲۶ او نفی د شفاعت قهری د ۴۲ نه. په دوه باب کښے (۱) تسلی ده نبی علیه السلام لره ۲۹ (۲) زجرونه معرضینو لره ۳۰-۳۲ (۳) تخویف
او بشارت ۳۲ نه (۴) ولائل د باره د توحید د ۳۶ (۵) تخویف او ذکر د خلورو قومونو د ۵۰ نه (۶) اثبات د قیامت ۵۶ (۷) زجر معرضینو د قران ته ۵۹ (۸) ثمره د توحید ۶۲.

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ④ عَلَّمَهُ شَدِيدُ
نه دی هغه (دا قران) مګر وحی ده چه وحی نے شوی ده ده ته. ښوولے دے ده ته سخت
الْقُوَىٰ ⑤ ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَىٰ ⑥ وَهُوَ
قوتونو والا (ملائک) خاوند د ښائست پس برابر شو (دی) او دا
بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ⑦ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ⑧
په کناره اوچته کښے ؤ بیا نژدے شو نو نژدے نژدے شو
فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ⑨ فَأَوْحَىٰ
نو شو په مقدار د دوو لیندو بلکه زیات نژدے شو پس وحی نے وکړه
إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ ⑩ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ
بنده د الله ته هغه چه وحی نے اوکړه نه دی انکار کړے زړه د ده
مَا رَأَىٰ ⑪ أَفَتُمَارُونَهُ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ⑫
د هغه څه چه لیدلی دی. آیا تاسو جګړه کوئ د ده سره په هغه څه چه لیدلی دی
وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ⑬ عِندَ سِدْرَةِ
او یقینا دوی لیدلے دے هغه لره بل ځل نزدے د سدرة
الْمُنتَهَىٰ ⑭ عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ⑮ إِذْ
المنتهی کښے نزدے هغه ته جنة الماوی دے کله چه
يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ⑯ مَا زَاغَ الْبَصَرُ
پټتولو بیرته لره هغه چه پټولی یې نه دی کږه شوی سترګه نبی
وَمَا طَغَىٰ ⑰ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ
او نه تیرے اوتی یقینا لیدلے دے دی د نښو د رب خپل نه
الْكُبْرَىٰ ⑱ أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ ⑲ وَ
لوئی نے آیا خبر راکړئ تاسو د لات او د عزی نه او
مَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ⑳ أَلَكُمُ الذَّكَرُ
د مناة دریم روستنی نه آیا تاسو لره نارینه هم دی

امتیازات
(۱) شاهد خاصه ۱ (۲) ذکر د شعری ستوری ۴۹ (۳) نومونه د معبودانو د مشرکانو ۱۹ (۴) ذکر د مضامینو د ابراهیم او موسی صحیفو ۳۶-۳۹ (۵) ولقد راه نزلة اخری ۱۳.

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ :- او شاهد دے ستوری که چه ځکته پریوځی دا تمهید دے د باره د اثبات د صداقت د رسول الله صلی الله علیه وسلم یعنی د ستوری ځکته راتلل شاهد دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے د آسمان نه فرښته نازلیږی او وحی راوړی او د هغوی د فرمان چه په چا باندے وحی راځی غلط نه دے او نه لرے د قیاس نه دے - (جواهر ص ۱۱۸) مَا ضَلَّ :- دا جواب د قسم دے (تمهر ص ۱۱۸) ضلال لاره نه موندل او غوایت د لارے موندلو نه پس تجاوز کول د هغه نه او د حد نه تیریدل (اوګوره جواهر ص ۱۱۸) (د دے صفحے حاشیه)

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ :- نه دے دا قران مګر وحی ده چه ده ته شوی ده (فتح ص ۱۳۲) فائده: په ۷ کښے ورته جواب نه د قسم دی او په ۵-۶ کښے په طریقه د صداقت د رسول علیه السلام دے چه جبرئیل علیه السلام ورته ښوولے او تعلیم کړے دے. شَدِيدُ الْقُوَىٰ : چه خاوند د سختو قوتونو والا دے - ذُو مِرَّةٍ : خاوند د ښائست دی (فتح ص ۱۳۲) مراد د دے نه جبرئیل علیه السلام دے. اوګورئ تکویر ص ۲. فَاسْتَوَىٰ : نو بیا برابر شو جبرئیل علیه السلام او حال دا دے چه دے په کناره اوچته باندے وو. الْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ : د آسمان (باقی په بل مخ)

(بقيه) هغه حقه چه ذ ليدے نه ذ زړګي يره ومـلا ؤ بيګاره كيدى اجواهر ، لكه ذ ښا ، بيا نږدے شو نو ښه نږدے شو - نسفي رحمه الله فرمائي پس زيات شو ـ نږديكت كنبے او تدلى ؤ يره نه نزول دـنه قرب ؤشي تل اطلاق ذ ځ ٢) فكان قاب ...

وَلَهُ الْأُنْثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾

او الله لره زنانه : دغه به دے وخت كښے قسمت وے بے انصافه :

إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَ

نه دي دا مګر نومونه دي چه اينبودلي دي دا تاسو او

آبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ

پلارانو ستاسو : نه دى رالیږلي الله تعالى په دے باندے هيڅ دليل :

إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى

تابعدارى نه كوي دوى : مګر ذ ګمان : او ذ هغه چه خوارى

الْأَنْفُسُ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنْ رَبِّهِمُ

زړونه ذ دوى : او يقيناً راغلي دي دوى ته ذ جانبه ذ رب ذ دوى نه

الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾ أَمْ لِلْإِنْسَانِ مَا تَمَنَّىٰ ﴿٢٤﴾ فَلِلَّهِ

هدايت : آيا شته ذ پاره ذ انسان چه هغه خوارى : پس خاص الله لره

الْآخِرَةُ وَالْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾ وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي

آخرت او دنيا ده : او ډير ذ ملائكو نه : په

السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا

آسمانونو كښے : فائده نه ورکوي سفارش ذ دوى : ذ هيڅ شي مګر

مِنْ بَعْدِ أَنْ يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَنْ يَشَاءُ وَ

پس ذ دے نه چه اجازه اوكړي الله تعالى : ذ چا ذ پاره چه اوغواړى او

يَرْضَىٰ ﴿٢٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

رضا به شي : يقيناً هغه كسان چه ايمان نه راوړى په آخرت باندے :

لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَىٰ ﴿٢٧﴾

خامخا نومونه اخلي دوى ملائكو لره : نومونه ذ زنانو :

وَمَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا

او نشته دوى لره په دوى باندے هيڅ پوهه : تابعدارى نه كوي دوى مګر

ع ٥

نو شو په اندازه ذ دوو ليندو قاب هغه فاصله چه ذ ليندے ذ مينځ نه ترځني پورے وي يا له ښے ونجے نه په هغه ليندے پورے قاب وي - له ونجے نه په تركيب كښے قلب منلو ته ضرورت نشته لكه بعضو ويلي دي چه په اصل كښے قابي قوسين وو - عن مجاهد والحسن القاب مابين وترها ومقبضها ولا حاجة الى القلب (روح مثله جواهر مثله) فائده : ذا ذ عربو طريقه وه چه كله به دوه كسانو په خپل مابين كښے دوستي او رورولي جوړوله نو خپلو خپلو ليندو لره به ئے ونجه ځلى جوړولے كړيـده په دا سے طريقه چه ذ يو سړي ذ ليندے ذ قاب به ذ بل ذ قاب سره برابر شو او بيا به ئے دا غشي كيښودے ذ دغه نښه به ئے يو غشے او ويشتلو ذ هغه نه ذ دوى مقصد دا وو چه ذ دوى نه به دا دواړه رونړه وي او ذ يو رضا به ذ بل رضا وي او ذ يو ناراضي به ذ بل ناراضي وي (روح ، جواهر) فاوحى الى عبده : وحى اوكړه جبرئيل بنده ذ الله ته محمد صلى الله عليه وسلم ته هغه چه وحى ورته اوكړه يا وحى اوكړه الله تعالى بنده خپل محمد صلى الله عليه وسلم ته ذ هغه چه وحى ورته اوكړه په واسطه ذ جبرئيل او دواړه معنے صحيح دى - (ابن كثير صلى ٢٤٤ ج ٤) ولقد رآه كم ... په دے كښے صداقت ذ رسول الله صلى الله عليه وسلم په روايت مره ذ كر كړه

منزل ٧

صدرق رحمه الله وائي چه زما ذ عائشے رضي الله عنها خوا ته داخل شوم نو ورمے ويل چه آيا محمد صلى الله عليه وسلم رب خپل ليدلے ؤ نو هغے اولي چه تا داسے خبره اوكړه چه زما ويښته ورله ودريده (يعني غوږنے م زيږ شو) نو ما ورته او ويلے دمه اوكړه او بيا م اولوستلو (لقد رأى من آيات ربه الكبرى) نو هغے او ويلے كوم خوا لا ہے ته ځے دا خو جبرئيل وو (باقى په بل مخ)

(بقيه) من اخبرك ان محمدا رأى ربه او كتم شيئا مما امر به او يعلم الخمس التي قال الله تعالى (ان الله عنده علم الساعة وينزل الغيث) فقد اعظم على الله الفرية . او لكن جبرئيل ئې ليدلے وو نه خلقت (بنا)

الظَّنَّ ۚ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ

گمان . او يقيناً گمان فائده نشي وركولے (په مقابله د) حق كښې هيڅ

شَيْـًٔا ۝٢٨ فَأَعْرِضْ عَنْ مَّنْ تَوَلّٰى ۙ عَنْ

هيڅ شے . پس مخ واړوه ته د هغه چا نه چه ګرځيدلے وي د

ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ۝٢٩ ذٰلِكَ

ذكر زمونږ نه . او اراده نه لري مګر د ژوند دنياوي . دغه دے

مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ

اندازه د رسيدو د دوي د پوهے نه . يقيناً رب ستا ، دا ښه پوهه دے

بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهٖ ۙ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ

په هغه چا باندے چه غلط شويدے د لارے د الله نه . او هغه ښه پوهه دے په هغه چا

اهْتَدٰى ۝٣٠ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

چه هدايت موندلے وي . او خاص الله لره اختيار د هغه شي دے چه په اسمانونو کښې دي او هغه چه

فِي الْأَرْضِ ۙ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا

په زمکه کښې دي . د دے د پاره چه بدله ورکړي هغه کسانو ته چه بد ئې کړي وي په سبب د

عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى ۝٣١

د عملونو د دوي . او بدله ورکړي هغه کسانو ته چه نيکي ئې کړيده په ښه بدله سره

الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبٰٓئِرَ الْإِثْمِ وَ

(او) هغه کسان دي چه ځان ساتي د غټو ګناهونو نه او

الْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ ۗ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ

د بے حيائي نه سوا د ورو ګناهونو نه . يقيناً رب ستا فراخه

الْمَغْفِرَةِ ۗ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنْشَأَكُمْ

بخښنے والا دے . هغه ښه پوهه دے په تاسو باندے . كله چه پيدا كړي ئې تاسو

مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنْتُمْ أَجِنَّةٌ فِي

د زمکے نه . او كله چه وئ تاسو ماشومان په

په خپل اصلي شكل كښې وو . او دغه وخت ئې ليدلے وو په ځاے د سدرة المنتهى كښې او بل ځل په اجياد (مكه) كښې ولاړ و (احمد ، ابن كثير ، طبري ، مشكوٰة).

إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى : په حديث صحيح كښې راغلي دي چه هغه پتنګان د سرو زرو وو او اكثر اهل علم وائي چه مراد د دے نه ملائک دي او په حديث د معراج كښې وارد دي چه په شپه د معراج كښے نبي ﷺ د سدرة المنتهى ته ورسيدو نو د هغے پاڼے په شان د غوږونو د هاتيانو وے او د هغے ميوے په شان د منګو (ګړو) وے او هر كله چه امر د الله تعالى هغے لره پټه كړه نو داسے بدله شوه چه هيڅ مخلوق د الله تعالى د هغے د ستائينے توان طاقت نه لري (احسن).

لَقَدْ رَأٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى : د دے نه مراد اكثر هغه لوي لوي نښے د قدرت دي لكه جبرئيل عليه السلام ... (جواهر) أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ ۱۹ : د مشهورو بتانو نومونه دي لكه لات وغيره چه خلقو د دے بتانو پوجا كوله ... مشرك لوي باچا نه (احسن). فائده : ... الْعُزّٰى ... (ابن كثير) فائده : عن ابن عباس رضي الله عنهما كانت اللات رجلا يلت سويق الحاج (بخاري) ... يعني لات يو سړے وو چه د حاجيانو د پاره به ئې ستوان

د غوړو سره ګډول او هغوي ته به ئې د خوراک د پاره ورکول هغه چه كله مړ شو نو خلقو د هغه د قبر عبادت شروع كړو ، ابن كثير فرمائي چه كله مړ شو نو د هغه د قبر عبادت كولو شروع كړو او د هغه د پاره ئې مجاور پاتے شو (ص) او قرطبي فرمائي چه كله مړ شو نو عمرو بن لحي هغوي ته د هغه د قبر عبادت كولو او هغه چه په كومه تيږه باندے ناست وو او ستوان به ئې ورته ګډول نو ثقيف قبيلے د هغے عبادت شروع كړو او د هغے د پاره ئې

بوه کوټه جوړه کړه او هغه ... به خلاف بوتو ... کړه وه او د هغه طواف به ... کولو او هر کله چه طائف فتح کړے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مغیره بن شعبه او ابو سفیان رضی الله عنهما اولېږل او هغه ئې اوړنګوله او کوټه ئې اوسیزله (ابن کثیر ج ۵)

بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ۖ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ ۖ

کښې د مېندو ستاسو کښې، نو مه پاکوئ تاسو ځانونه خپل :

هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴿٣٢﴾ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي ع

هغه ښه پوهه دے په هغه چا چه تقوی کوي ؛ آیا ولیدے تا هغه چا چه

تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُ

اوګرځېدو ؛ او ورکړو یې لږ څه او بند یې کړو ؛ آیا د ده سره

عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ﴿٣٥﴾ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ

علم دے د غیبو ، نو ده لیدل ؛ آیا خبر نه دے ورکړے شوے ده ته

بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ

په هغه مضمون چه په صحیفو د موسی علیه السلام کښې : او د ابراهیم علیه السلام کښې

الَّذِي وَفَّىٰ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ

هغه چه پوره ئې کړے حق ؛ چه نه پورته کوي پورته کوونکے نفس بار د بل

أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا

نفس ؛ او دا چه نشته ... د انسان مګر هغه چه ده

سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ

کوشش کړے دے ؛ او یقیناً کوشش د ده به زر ولیدے شي ؛ بیا به

يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ

بدله ورکړے شي ده ته بدله پوره ؛ او یقیناً رب ستا ته

الْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾

آخري رسېدل دي ؛ او یقیناً الله هم هغه خندول کوي او ژړول کوي ؛

وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ

او یقیناً الله هم هغه مړه کول کوي او ژوندي کول کوي ؛ او یقیناً الله پیدا کړي دي

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن

جوړه ؛ نارینه ؛ او زنانه ؛ د

العزى ... امام نسائي ... روایت نقل کړے دے ... [illegible]

... وكانت خزاعة والأوس والخزرج في جاهلية يعظمونها ويهلون منها للحج الى الكعبة (ابن كثير ...)

فائده: ... د دې جهېرې کښې د لات او عزی او مناة د ... نقل شوي او ... د جاهلیت والو په عقیده ... [illegible]

بوځکو به حوره کړه او هغه بسڅ به بغلا فو بو به کړي وه او دهغه طواف به سڅ کول او هرکله چه طائف فتح کړے شو نو رسول الله ﷺ مغیره بن شعبه او ابوسفیان ﷺ اوليږل او هغه ئے اونړوله او کوټه ئے اوسځوله (احسن ص ٢٠ ج ٥)

بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ

ګېډو د مېندو ستاسو کښے، نو مه پاکوئ تاسو ځانونه خپل

هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ۝٣٢ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ

هغه ښه پوهه دے په هغه چا چه تقوی کوی. ایا لیدلے دے تا هغه چا چه

تَوَلّٰى ۝٣٣ وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى ۝٣٤ اَعِنْدَهٗ

اوګرځېدو له حق نه، او ورکړل ئے لږ او بیا ئے ورکول بند کړل، ایا د دهٔ سره

عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ۝٣٥ اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ

علم د غیبو دے چه هغه ئے ویني. ایا خبر نه دے ورکړے شوے دهٔ ته

بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى ۝٣٦ وَاِبْرٰهِيْمَ

په هغه مضمون چه په صحیفو د موسیٰ علیه السلام کښے. او د ابراهیم علیه السلام کښے

الَّذِيْ وَفّٰٓى ۝٣٧ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ

هغه چه پوره کړے ئے دے حق. چه نه پورته کوی هیڅ نفس بار د بل

اُخْرٰى ۝٣٨ وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا

نفس بار. او دا چه نشته انسان ته مګر هغه چه

سَعٰى ۝٣٩ وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ۝٤٠ ثُمَّ

کوشش ئے کړے وی. او یقیناً کوشش د دهٔ زر به اولیدلے شی. بیا به

يُجْزٰىهُ الْجَزَاۗءَ الْاَوْفٰى ۝٤١ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ

بدله ورکړے شی دهٔ ته بدله پوره. او یقیناً رب ستا ته

الْمُنْتَهٰى ۝٤٢ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ۝٤٣

اخري رسیدل دی. او یقیناً الله هم هغه خندول کوی او ژړول کوی.

وَاَنَّهٗ هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ۝٤٤ وَاَنَّهٗ خَلَقَ

او یقیناً الله هم هغه مړه کول کوی او ژوندی کول کوی. او یقیناً الله پیدا کړی دی

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ۝٤٥ مِنْ

جوړے، نارینه او زنانه، د

الْعُزّٰى: امام نسائی رحمه الله روایت نقل کړے دے چه کله مکه فتح کړے شوه نو نبی ﷺ خالد بن ولید ته حکم اوکړو چه نخلې ته لاړ شی او هلته چه کومه عزی وه هغه اوغورځوی. خالد رضی الله عنه چه هلته لاړو نو ويې لیدل چه درې ونې دي او يوه کوټه، هغه ئے پرې کړې او کوټه ئے اونړوله او بیا واپس راغلو او نبی ﷺ ته ئے خبر ورکړو. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه بیا لاړ شه هیڅ کار دې نه دے کړے چه عزی ئے وژلے شوې وه. خالد رضی الله عنه بیا لاړو نو خادمان د عزی ورته راغلل او چغې ئے کولې یا عزی یا عزی. نو یوه ښځه ئے اولیده چه سر ئے خور شوے وو نو خالد رضی الله عنه هغه قتل کړه او بیا واپس راغلو نبی ﷺ ته ئے خبر ورکړو. نبی ﷺ اوفرمائیل: تلک العزی. دغه عزی وه. او بیا ئے عبادت نه کیږی (احسن ص ٢٠ ج ٥). خالد رضی الله عنه او دا شعر ئے ووئیلو: یا عزی کفرانک لا سبحانک، انی رایت الله قد اهانک. او په دے باب کښے نور روایات هم شته. مَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى: او مناة چه دریمه ده، ګڼل شوې وه. دا د هغو بتانو نه وه چه عربو ئے عبادت کولو او خزاعه او اوس او خزرج به ئے تعظیم کولو او د حج احرام به ئے د دې نه تړلو. او ابن کثیر وائی چه دا د قدید په علاقه کښے وه چه د مکے او مدینے په مینځ کښے ده. او هغه د ابن اسحاق نه نقل کوی چه نبی ﷺ علی رضی الله عنه اولیږلو او هغه ئے اونړوله. وكانت خزاعة والاوس والخزرج في جاهليتها يعظمونها ويهلون منها الى الكعبة (ابن كثير ص ٤٥٣ ج ٤) ...

فائده: ... په دې آیت کښے درې بتان ذکر شوی دی لات، عزی او منات ... اوشمیرلی شو چه ابتدا ... د ترتیب ... د جاهلیت والو عقیده ... وو۔

(حاشیه ص ۔)
وَكُم مِّن مَّلَكٍ ۔ داد ډیرے دعوے سره تعلق لري چه په الله تعالیٰ باندے غالب [illegible] (تفسیر ص ۴۳۲)
(حاشیه ص ۔) لکن چه ... [illegible] ... قالوا ... [illegible]

نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿۴۶﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ

نطفه نه چه کله ... [illegible] ... او یقیناً ... [illegible]

الْأُخْرَىٰ ﴿۴۷﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿۴۸﴾ وَ

[illegible] ... او یقیناً الله هم ... غنی کړل ... او ذخیره ئې ورکړه ... او

أَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ ﴿۴۹﴾ وَأَنَّهُ أَهْلَكَ

یقیناً الله هم رب د شعری ستوري دے او یقیناً الله هلاک کړی

عَادًا الْأُولَىٰ ﴿۵۰﴾ وَثَمُودَ فَمَا أَبْقَىٰ ﴿۵۱﴾ وَ

عادیان ... پخوانی ... او ثمودیان نو باقی ئې نه دی پریخودلي ... او

قَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ

هلاک کړے قوم د نوح ... مخکښے ددے نه یقیناً دوی وو ... دوی

أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿۵۲﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴿۵۳﴾

ډیر ظالمان ... او ډیر سرکشان ... او اړولے شوي ښارونه ئې راپرزول ...

فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ﴿۵۴﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ

نو پټ کړل هغه ... هغه څه چه پټ ئې کړل ... نو په کومو نعمتونو د رب خپل

تَتَمَارَىٰ ﴿۵۵﴾ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولَىٰ ﴿۵۶﴾

ته شک کوے ... دا ویرونکے دے د ویرونکو مخکښنو نه

أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ

رانږدے شوه نږدے کیدونکے (قیامت) ... نشته ددے دپاره ... سوا د

اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ

الله تعالیٰ ... څوک ښکاره کوونکے ... آیا نو ددے خبرے نه

تَعْجَبُونَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿۶۰﴾

تعجب کوئ تاسو ... او خندا کوئ ... او نه ژاړئ

وَأَنتُمْ سَامِدُونَ ﴿۶۱﴾ فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ﴿۶۲﴾

او تاسو غفلت کوونکي یئ ... نو سجده او کړئ الله تعالیٰ ته او عبادت وکړئ

منزل ۷

په ورته اونخښه شی او ... [illegible] ... شي په دوی باندے ... [illegible] ... مراد د ... [illegible] ... انسان ته نا ... [illegible] ... طور سره شي ... [illegible] ... او کړی او د توحید ... [illegible] ... فائده: ... استغنا، مقصد ... بعض په معنی ... او سوری باندے ... (اګوری تفسیر ص ۔)

(حاشیه ص ۹۱۶)

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ ... ددے آیت سره معتزله استدلال کړے دے ... عمل ثواب بل ته ... جائز نه دے ... فائده: ... لیکن دا قول باطل دے ... علامه خطیب شربینی ... ابن تیمیه ... نقل کړی دی چه ... د ... (من ...) احمد ... او ګوره ... سراج المنیر ... فائده: د اهل سنت والجماعت ... تر ... کړی دی ... ابن عباس ... فرمائی ... منسوخ ... حق ... فرمائی: الحقنا بهم ذریتهم ... او ګوره ... ایمان ... [illegible]

اخرت ... ایمان ... او د حدیث ... [illegible] ... فائده: ... د ... [illegible] ... توحید او ترد ... د الله تعالیٰ ... صفات ... [illegible]

(بقیه) لتی صفتونه د باری تعالی دے. (حاشیه پیره مخ د آیتونو): او دیر مال ورکوی یا معنی داده چه غریب ئیل کوی (روح ص ۹۶) رَبُّ الشِّعْرٰی ص ۵۹: او ددے ذکر نے په تخصیص سره شکه اوکړو چه بعضے عربو به ددے عبادت کولو (تسهیل ص ۳ ج ۴)

سورة القمر مکیة — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ — آیاتها ۵۵ رکوعاتها ۳

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝١ وَاِنْ
ډیره نژدے شوله قیامت، او چاودے شو سپوږمی: او که چرے

یَّرَوْا اٰیَةً یُّعْرِضُوْا وَیَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝٢
وینی دوی معجزه، نو مخ اړوی دوی او وائی دوی جادو دے همیشه (قوی)

وَکَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ وَکُلُّ اَمْرٍ
او دروغژن گنړلی حق او تابعداری کړی د خواهشاتو خپلو: او هر کار په وخت

مُّسْتَقِرٌّ ۝٣ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ
قرار نیونکے دے. او یقیناً راغلی دے دوی ته د خبرونو نه

مَا فِیْهِ مُزْدَجَرٌ ۝٤ حِکْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا
هغه چه په دیکښے پوره زوږنه ده: یعنی خبرے انتهائی ترسیدونکے دی، نو څه

تُغْنِ النُّذُرُ ۝٥ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ یَوْمَ یَدْعُ
فائده به ورکړی ویرونکی: نو مخ واړوه د دوی نه، کله چه بلنه اوکړی

الدَّاعِ اِلٰی شَیْءٍ نُّکُرٍ ۝٦ خُشَّعًا اَبْصَارُهُمْ
بلونکے: یو شی نا آشنا (ناکاره) ته: عاجزه به وی سترگے د دوی:

یَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ کَاَنَّهُمْ جَرَادٌ
راوځی به د قبرونو نه، گویا که دوی ملخان دی

مُّنْتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِیْنَ اِلَی الدَّاعِ ؕ یَقُوْلُ
خوارهٔ واره کیدونکے: منډے کونکی به وی طرف د بلونکی ته، وائی به

الْکٰفِرُوْنَ هٰذَا یَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨ کَذَّبَتْ
کافران: دا ورځ سخته ده: تکذیب کړے وو

قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَکَذَّبُوْا عَبْدَنَا وَ
مخکښے د دوی نه قوم د نوح، نو دروغژن بللے او گڼلو بنده زمونږ: او

سورة القمر

فائده ۱ - د دے نه هم ذکر د تصرف د باری تعالی دے او تخویف دنیوی دے په ذکر د هلاک شوو قومونو سره. فائده: په دے کښے صداقت د رسول الله ﷺ دے. په دے کښے تخویف اخروی او د قیامت د نوموړونه په یوم الآزفة دے او په آخری آیت کښے دوه قسمے د توحید دی: سجده کول او د ده عبادت کول او تعمیم بعد التخصیص دے.

(د دے شکځ) سورة القمر: دا په ترتیب کښے ۵۴ سورت دے روستو د نجم نه او په نزول کښے ۳۷ دے پس د سورة الطارق نه نوم ئے په اول آیت کښے ذکر دے د دے سورت نه ئیه باب شروع کړی او په دے کښے درے سورتونه دی قمر، رحمن، واقعه. دعوی: نفی د شرک فی البرکات ص ۵۵.

ربط ونه: (۱) د مخکښے سورت نوم نجم و او نوم دا سورت قمر شو. (۲) مخکښے رد د شرک اعتقادی وو او دلته رد د شرک فعلی کوی. (۳) هلته ئے اوفرمائیل: اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ص ۵۳ او دلته فرمائی: اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ۱. (۴) هلته ذکر د هلاک شوو قومونو اجمالی وو او دلته د هغه هلاک شوو قومونو تفصیل دے. (۵) مخکښے صداقت د رسول ﷺ وو او دلته تسلی ورکوی ص ۵۵.

خلاصه: په دے سورت کښے اته خبرے یوځای دی (۱) اثبات د قیامت او زجر منکرینو ته ص ۱ (۲) صداقت د قرآن ص ۵ (۳) تسلی د ص ۶ نه سره د تخویف اخروی نه (۴) د تخویف دنیوی پنځه نمونے د ص ۹ نه تر ص ۴۲ (۵) زجر دے بار بار د ص ۴۳ نه سره د تخویف نه (۶) دعوی د سورت ص ۴۹ (۷) بشارت ص ۵۵. امتیازات (۱) معجزه د چاودلو د سپوږمی ص ۱ (۲) تکرار د وَلَقَدْ یَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ (باقی په بل مخ)

(بقیه) خلور ځلې شي مثلاً (۳) ذکرد بعضې انبیاؤ په مختصر طریقه سره (۴) انا کل شئ خلقنه بقدر ژ چې مسئله د تقدیر. اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ د نزدې شو قیامت او حال دا دے چې وچو ده سپوږمۍ یعنې بیله شوه. بعضې وائي فَلَمَّا تَجَلَّىٰ

قَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ﴿٩﴾ فَدَعَا رَبَّهُ

وئیل لیونے دے او ورټلے شو دے پس دعا وکړه او غوښتنه وکړه رب خپل ته

أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ﴿١٠﴾ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ

یقیناً زه کمزورے کړے شوم نو بدله واخله زما پس پرانستل کړل مونږ دروازے

السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ

د آسمان په اوبو زیاتو بهیدونکو سره او روان کړل مونږ د زمکے نه

عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾

چینے نو یو ځائے شوے اوبه په کار باندې چې اندازه کړے شوے وو

وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ﴿١٣﴾ تَجْرِي

او سور کړے دے مونږ نوح په (کشتۍ) خاوند د تختو او د میخونو باندې روانه وه

بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ

په نګرانۍ زمونږ دا بدله د هغه چا لپاره چې ناشکري کړے شوے وه او یقیناً

تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿١٥﴾ فَكَيْفَ

پریښودو مونږ کشتۍ لره نښه نو شته څوک نصیحت قبلوونکے نو څنګه

كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

وو عذاب زما او ویره زما او یقیناً اسان کړے دے مونږ

الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿١٧﴾ كَذَّبَتْ

قرآن د پاره د نصیحت قبلولو نو آیا شته نصیحت قبلوونکے دروغژن ګڼل

عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّا

عادیانو نو څنګه وو عذاب زما او ویرول زما یقیناً

أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ

رالیږلو مونږ په دوي باندې سیلۍ تیزه په ورځ

نَحْسٍ مُسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنْزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ

سپیره (په دوي باندې) دیره سخته راښکل یے خلقو لره ګویا که دوي

ذ بعضې او دوه ټوټے شوه او دا په زمانه د رسول الله ﷺ کښې د هجرت نه مخکښې په اتفاق د ټولو باندې شوے ؤ. یقیناً صحیح ثابت شوے ده د روایتونو صحیحو او د ابن جریر د انس رضي الله عنه نه چې خلکو ولاړو نبي ﷺ ته سوال او کړو چې دوي ته معجزه د اثبات د نبوت وښیه دوي ته سپوږمۍ دوه ټوټے کړے شوه چې حرا غر په مابین د دواړو ټوټو کښې وو (روح ۲۷) او دا په اتفاق د ټولو په مابین د علماؤ کښې واقع شوے. وانه کان اَحَقّ المعجزات ابن باهرات (ابن کثیر). او دا متواتر خبر دے د صحابو نه. اَغلې دي او صحابه د مخکې نه شوه وفي نه وه کړے (جصاص) او اتفاق کړے امت په وقوع د دے باندې (السیل ۲۲) او په کشاف کښې او کړیدے مفسرينو. زاد المسير. فائده: د ساعت نه مراد یا فنا کیدل د عالم دي یا هغه ساعت چې پس د شپیلۍ وهلو نه بیا اوچتیدل دي لو ساعت دے. او انشق القمر جمله حالیه ده. او ځنے د ترجمه پوره په ځای ازجره په مینځ د دوي حالات ذکر دي. مُسْتَمِرٌّ: مضبوط او پوخ یا تلونکے. مُسْتَقِرٌّ: په پوخ ځائے کیدونکے دے. مُزْدَجَرٌ: د ورټلو مقام او ځائے د عبرت. حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ: دا د ما نه بدل دے یا د مبتدا محذوف د پاره خبر دے (جوابرۃ ۲). فَتَوَلَّ عَنْهُمْ: تسلي د نبي ﷺ ته پس د ذکر کولو د قبائحو د منکرينو نه او تخویف دے منکرينو لره.

الداع: مراد اسرافیل علیه السلام دے. خُشَّعًا: ښکته به وي ذلیله به وي سترګے د دوي. او ګوره قلم ۴۳. شوری ۴۵. كَذَّبَتْ دا د تخویف دنیوي او تنبیه نمبر دنده د تیرشوو سرکشو قومونو حال بیانول دي مشرکینو د قریش ته عبرت ورکول مقصود دي (ابن عاشور)

(د دے مخ حاشیه) وَازْدُجِرَ او زورولے شوے دے، رټلے شوے دے یعنې پیریانو دروند ضرر رسولے دے (باقي پسې مخ)

ایضیه: یعنی دوی د ډیر حق تواضع غلط دے یا په دوی پیریان دی (فضل مشـ) . لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ۱۴ : د پاره د هغه چې انکار کړے شوے وو
د هغه: چا چه ناشکری کړے شوے وه په هغه نوح علیه السلام وو ځکه چه نبی نعمت وی او دوی نے ناشکری کړے وه .

أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي
لکه د کجورو را وتو ګډو ونو تنې شو . نو څنګه وو عذاب زما

وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ
او ویرول زما ، او یقیناً آسان کړے مونږ قرآن لره د پاره د نصیحت ،

فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ
نو شته څوک نصیحت قبلوونکے . دروغژن ګڼلی وو ثمود د پاره

بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ
په ویرونکو باندې . نو اوویل دوی : آیا یو بشر د جنسه زمونږ دے یو تابعداري کوو د هغه

إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَأُلْقِيَ الذِّكْرُ
یقیناً مونږ په دغه وخت خامخا په ګمراهۍ او لیونتوب کښې یو . آیا نازل کړے شوے دے وحی

عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾
په ده باندې د مینځه زمونږ نه ، بلکه دے ډیر دروغژن لوئی کوونکے دے .

سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾
زر دے چه پوه به شی دوی صبا له چه څوک دے ډیر دروغژن لوئی کوونکے دے .

إِنَّا مُرْسِلُو النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ
یقیناً مونږ رالیږونکی یو اوښې لره د پاره د امتحان د دوی ، نو انتظار کوه د دوی

وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ
او صبر کوه . او خبر ورکړه دوی ته چه یقیناً اوبه تقسیم دی

بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا
په مینځه د دوی کښې ، هر وارد اوبو به حاضری کړے شی . نو آواز اوکړو دوی

صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيْفَ كَانَ
ملګری خپل ته ، نو لاس په ونیولو ، نو زخمی نے کړه اوښه . نو څنګه وو

عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً
عذاب زما او ویرول زما . یقیناً رالیږلو مونږ په دوی باندې چغه

ع ۲۲

کړے وه . په دلیل د دے قول
د الله تعالیٰ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ (آل عمران) ، وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا
رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ (انبیاء) .
وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ : دا جمله قسمیه ده چه راغلے ده په آخر د
هلوړو وارو قصو کښے د پاره د تقریر
د مخکښنی مضمون (باسعود) .
او فائده — د مکرر ذکر د دے
جملو دا ده چه نوے حاصل کړی د وګی
نصیحت او وعظ په تره د آوریدلو
د هر خبرې نیوی نوی تنبیه او
چه ده په حاصل کړی تنبیه او
بیدارېدل (مدارک صـ ۲۳ ج ۴) .
فائده : د حفظ او د نصیحت
حاصلولو د پاره یے قرآن آسان
کړے شوے نه د اجتهاد او استنباط
د احکامو د پاره (معارف صـ ۲۳ ج ۴) .
كَذَّبَتْ عَادٌ : دا دوهم نمونه
د عذاب د دنیا (فصل ۵۳) . فِي
يَوْمِ نَحْسٍ : په ورځ سپیره کښے
په دوی باندے یعنی دا ورځ یا
دا د هغوی د پاره نه دو مخکے عذاب
را تلو نه په هغوی باندې . شر
سره اکوری . مُّسْتَمِرٍّ : یعنی
د عذاب اثر نے تر قبر پورې
او بیا د حشر پورې همیشه دے
(روح حاشیه) .
مُّنقَعِرٍ : د ونې نه وتلے شوے .
كَذَّبَتْ ثَمُودُ ۲۳ : دا دریمه
نمونه د تخریف ده او دا
تعبیر ونه د تکذیب دهغوی
دی . كَذَّابٌ أَشِرٌ : ډیر
دروغژن متکبر دے .
شیخ القرآن رحمه الله
په دلته دا شعر ویلو .
سه و آخر العداوة لا یسر بصالح ۞ إلا ویدرمه بکذاب أشر .

وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ

یوه (نو شو دوی پشان د ماتو شوو ښوو د هغه چا چې جوړوکي: او یقینا

يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾

اسان کړی دے موږ قرآن د پاره د نصیحت نو آیا شته څوک نصیحت قبلونکے؟

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا

دروغ ګڼلي وو قوم د لوط (ع) ویره ورکونکو. یقینا رالیږلی وو موږ

عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ ۖ نَّجَّيْنَاهُم

په دوی باندے باران د کاڼو سوا د کورنۍ د لوط نه. بچ کړو موږ هغوی

بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا ۚ كَذَٰلِكَ

په وخت د سحر کې. د ده احسان د طرفه زموږ نه. دغه شان

نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم

بدله ورکوو هغه چا لره چې شکر وباسي. او یقینا ویره ورکړې وه دوی ته لوط

بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ

د نیولو زموږ نه. نو شک کړے وو دوی په ویرولو باندے. او یقینا مطالبه کړے وه دوی د هغه

عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا

د پاره د میلمنو هغه ګټې له پس دا نه ګټ وت موږ سترګي د هغوی. نو وڅکئ

عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً

عذاب زما او ویرول زما. او یقینا راغے ورودی ته سبا ملے وختي

عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَ

عذاب چې همیشه دے. نو اوڅکئ عذاب زما او

نُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ

ویرول زما. او یقینا آسان کړی دے موږ قرآن د پاره د نصیحت

فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَاءَ آلَ

نو آیا شته دے څوک نصیحت قبلونکے؟ او یقینا راغلی وو

ع

منزل ٧

کَهَشِیْمِ الْمُحْتَظِرِ: محتظر د حظیرے نه مشتق دے او حظیره هغه ځای ته وئیلے شي چې په آګیر کړے شي د څیرول د خنو یا په دیوال سره او محتظر وی او آکثر د کورو پیرو جوړے نه و څخه کیږي او محتظره هغه جوړوکي ته د څخه شي (احسن ج ٢)

کَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ: دا څلورمه واقعه ده د پاره د تخویف. اِلَّا آلَ لُوْطٍ، دا استثناء منقطع ده.

فائده ١: په دے څلور واقعاتو کښے راغلي چې تکذیب یې کړے وو د نذر او دا هم د نذیر د څکه چې د یو پیغمبر تکذیب د ټولو تکذیب دے.

وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ: هر کله چې صباح راتلو کښے تولے وریکے نه هم و یکے کیږي، نو بکرة سره وفرمائیل چې صبا وختي تره مراد دے (احسن ص٢٠٣)

وَلَقَدْ جَآءَ آلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ: دا پنځمه واقعه د تخویف د پاره ذکر شوي ده.

فائده ٥: په دے قصه کښے وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ نه دے ذکر کړے شوي څکه چې د دے مخکښینو څلورو قومونو نه میخوک نه دي پاتے شوي نو هغوی قصے صرف تاریخي ذکر کیدے چې د قرآن کریم نه په اسانه معلومیږي او د قوم د موسی علیه السلام نه بني اسرائیل پاتے وو چې هغوی د هلاکت د فرعون اقرار کوو د هغې د تفصیل او د تذکیر د پاره د کتاب ضرورت نشته. (احسن ص٢٠٣ ج ٥)

أَكُفَّارُكُمْ ۴۳: دا التفات په طرف د اهل مکې ته دے او زجر دے (جواهر ص۱۴۳) په ۴۳، ۴۴، ۴۵ کښې تخجيلات
د روستو منکرينو ذکر کوي. او په ۴۶، ۴۷، ۴۸ کښې تخويف اخروي دے. دا تخويف هم په تخو طريقه دے.

فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا

فرعونيانو ته ، ويره ورکونکي . دروغجن يې کړے وو دوی په ايتونو زمونږ ټولو ،

فَأَخَذْنَاهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾

پس ونيول مونږ دوی په نيولو د زورور ، قدرت والا ،

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم

ايا کافران ستاسو د زمانے غوره دي د دغه تېرشوو کفارو ستاسو ؟ اياستاسو لپاره

بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ

بچ ولے د عذاب نه په کتابونو کښې ، ايا وائي دوی ... مونږ ،

جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ

ټول ، انتقام اخستونکي يو . زر دے چه شکست به ورکړے شي ډلے د دوی ته او وبه ګرزوي

الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ

شاګانے . بلکه قيامت ، وخت مقرر شوے د دوی دے ، او قيامت

أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي

ډير سخت دا او ډير ترخ دے . يقينًا مجرمان ،

ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ

ګمراهئ ، او په اور کښې دي . په ورځ د کش کړے شي په اور کښې

عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

په مخونو خپلو باندے ، او څکئ خوند د دوزخ (اور)

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا

يقينًا مونږ هر شي ، پيدا کړے دے مونږ هغه په تقدير سره ، او نه دے حکم زمونږ

إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا

مګر يوه خبره ده ، په شان د رپ د سترګے ، او يقينًا هلاک کړي دي مونږ

أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ

مثلونه ستاسو ، نو ايا شته څوک نصيحت قبلونکے ، او هر شي چه

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ۴۹: دا په اخر کښې د سورت دعوي ده چه هر شي لره په اندازه سره پيدا کوونکے الله تعالى دے. د دے وجے نه هغه کارساز دے او په حاجاتو کښې صرف هغه ته چغے وهئ . (جواهر ص۱۴۳)

فائده : دَ كُلَّ شَيْءٍ د پاره فعل مخکښې پټ دے نو دلالت کوي په خلق مطلق او عام خلق (پيدائش) باندے. خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ دا اشاره خلق ته چه مقيد دے په تقدير سره. نو معلومه شوه چه خلق د تقدير نه بغير دے دا صريح نص دے په مسئله د تقدير کښې. (احسن ص۳۱۶)

حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چه په دے ايت کريمه باندے امامانو د سنت دليل نيولے دے په اثبات د تقدير مخکښې د الله تعالى د مخلوق لره. او دا علم د الله تعالى دے په شيونو مخکښې د وجود د هغې او په ليک د الله تعالى دے مخکښې د پيدا کولو د هغې نه (ص۲۶۲) او ابن الجزي رحمه الله فرمائي چه دليل دے د اهل سنتو د پاره په قدريو (منکرينو د تقدير) باندے (التسهيل ص۸۳) علامه خازن رحمه الله فرمائي چه دلائل قطعيه د کتاب او د سنت او د اجماع د صحابو او د اهل حل او عقد د مخکښينو او د روستنو په اثبات د تقدير د الله سبحانه وتعالى راغلي دي (خازن ص۲۴۱) د تقدير مسئله د

اسلام قطعي عقيده ده. د دے منکر کافر دے او کوم فرقے چه په تاويل سره انکار کوي هغه فاسقان دي (معارف ص۲۴۷)
إِلَّا وَاحِدَةٌ : او نه دے حکم زمونږ مګر يوه کلمه د كُنْ وي يعني د سترګے د اشارے په مثل (جواهر ص۱۴۳) أَشْيَاعَكُمْ يعني
مشابه ستاسو په کفر کښې د امتونو تيرشوو (قرطبي ص۱۴۸) وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۵۵. په دے کښې د الله تعالى دوه تصرفات نور ذکر کړي دي.

وَكُلُّ صَغِيرٍ: مراد ترینه قول انسانان او عملونه او لوئ اعمال دي. ملک قول شیزونه دي چه په هر یو کښې لوئ او وړه شته وي (روح ج ۲۷ ص ۹۰) مُسْتَطَرٌ: لیکلے شوی دے وَلوح محفوظ کښے (قرطبی) إِنَّ الْمُتَّقِينَ ج ۵۴ تا ۵۵ د ابشارت اُخرویه ده (۲ و ۳ مرحلا)

فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ

کوی دا خلق هغه په کتابونو (اعمال ناموکښے) او هر وړو کے او لوئے

مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾

لیکلے شوی دے یقیناً پرهیزګاران په باغونو او نهرونو کښے به وی

فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

په ځائے د ناستے رښتیا کښے په نزد د باچا پوره قدرت والا

سُورَةُ الرَّحْمَٰنِ

سورة الرحمٰن مدنیة — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — آیاتها ۷۸ — رکوعاتها ۳

الرَّحْمَٰنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿٢﴾ خَلَقَ

مهربان بادشاه ښودلے دے قرآن لره پیدا کړے ئے دے

الْإِنسَانَ ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾ الشَّمْسُ

انسان ښودلے ئے دے هغه ته بیان کول نمر

وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ

او سپوږمۍ چلیږی په حساب مقرره سره او بوټی او ونے

يَسْجُدَانِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ

سجده کوی الله ته او آسمان پورته کړے دے هغه او ایښودے ئے دے

الْمِيزَانَ ﴿٧﴾ أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ ﴿٨﴾ وَ

تله د دے دپاره چه زیاتے مه کوئ په تله کښے او

أَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا

ودروئ تول په انصاف سره او مه کموئ

الْمِيزَانَ ﴿٩﴾ وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾

تله (انصاف) او زمکه خوره کړے ده الله تعالیٰ دے لره د پاره د خلقو

فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ ﴿١١﴾

په دے کښے میوے دی او کجورے خاوندانے د ګیډو

سورة الرحمٰن واحد فی سورت دے ترتیب کښے پس د قمر نه ۵۵ او نزول کښے ۹۷ پس د رعد نه. نوم ئے په اول آیت کښے ذکر دے. دعوی برکت ورکونکے یوا الله تعالیٰ دے ۵۵ (ربط ونه) (۱) مخکښے دعوی ذکر شوه نو دلته پرے دلائل عقلیه ذکر کوی (۲) مخکښے تخویف دنیوی وو دلته تخویف اخروی ذکر کوی (۳) مخکښے بشارت ؤ مختصر او دلته ئے تفصیل ذکر کوی (۴) مخکښے ئے د فرمائیل چه هر شئ الله تعالیٰ په اندازه پیدا کړے نو دلته فرمائی چه په هر شئ کښے برکت اچونکے یو الله تعالیٰ دے. خلاصه د سورت دریے رکوعګانے او دریے مسئلے (تفصیل) په اوله رکوع کښے ۱۲ دلائل عقلیه ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۹ ۲۰ ۲۲ ۲۴ ۲۹ په دویمه رکوع کښے د تخویف لوو ۷ مرتبے ۳۱ ۳۵ ۳۷ ۳۸ ۴۱ ۴۳ ۴۴ په دریمه رکوع کښے بشارت. آت د اولے ډلے د پاره ۴۶ ۴۸ ۵۰ ۵۲ ۵۴ ۵۶ ۵۸ ۶۰ او آت د دویمے ډلے د پاره ۶۲ ۶۴ ۶۶ ۶۸ ۷۰ ۷۲ ۷۴ ۷۶. او خلورمه مسئله د توحید په آخر کښے ده. فضیلت د علی رضی الله عنه روایت دے چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئے. لکل شئ عروس وعروس القرآن الرحمٰن. (بیهقی، مشکوٰة ص) امتیازات (۱) کنز دلائل عقلیه (۲) تخویف تفصیلی (۳) بشارت تفصیلی.

ع ۵ ۱۰

(۲) فبای الاء ربکما تکذبان ۳۱ جمله. الرَّحْمَٰنُ: دا خبره مبتداء محذوف ده. هو الرحمٰن او دا مبتداء او دوستو ایتونه خبر دے. عَلَّمَ الْقُرْآنَ: ښودلے ئے دے قرآن خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته د پاره د دے چه دے رسول ئے ئے تبلیغ اوکړی. خَلَقَ الْإِنسَانَ: پیدا کړے ئے دے انسان ښودلے ئے دے هغه ته بیان کول او (باقی په بل مخ)

(بقيه) طريقه ذ بكاره كولو ذ مقصد. فائده: قرآن حكيم نعمت ذ تعليم ذ قرآن مخكښې كولو او پيدا ئش ذ انسان مؤخر كولو كښې دې طرفته اشاره اوكړه چې ذ تخليق ذ انسان اصل مقصد فقط تعليم ذ قرآن او ذ هغه په

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ⑫ فَبِأَيِّ آلَاءِ

او دانے دي بوسو والا او خوشبوئي دي نو په كوم نعمتونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ⑬ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ

ذ رب خپل انكار كوئ تاسو دواړه پيدا كړے يې دے انسان (آدم) ذ كړنګيدونكي خټې ذ

كَالْفَخَّارِ ⑭ وَخَلَقَ الْجَانَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ⑮

پشان ذ كودے او پيدا كړے يې دے پيريه ذ خالصې لمبې ذ اور نه

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ⑯ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ

نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل تكذيب كوئ تاسو دواړه رب ذ دواړو مشرقونو دے او رب ذ

الْمَغْرِبَيْنِ ⑰ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ⑱ مَرَجَ

دواړو مغربونو دے نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل تكذيب كوئ دواړه يو ځائے كړل

الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ⑲ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ⑳

يې دوه دريابونه چې ملاويږي په مينځ ذ دواړو كښې پرده ده چې يو بل باندے زياتے نه كوي

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ㉑ يَخْرُجُ مِنْهُمَا

نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل دروغجن كوئ دواړه راوځي ذ دواړو نه

اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ㉒ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

لوئي ملغلرے او وړے ملغلرے نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل

تُكَذِّبَانِ ㉓ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنشَآتُ فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ㉔

تكذيب كوئ دواړه او خاص الله لره چليدونكے كشتئ دي اوچتې كړے شوي په درياب كښې پشان ذ غرونو

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ㉕ كُلُّ مَنْ

نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل تكذيب كوئ دواړه ټول هغه چې په

عَلَيْهَا فَانٍ ㉖ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ

زمكه باندے دي فنا كيدونكي دي او باقي به وي ذات ذ رب ستا

ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ㉗ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

څښتن ذ لوئي او ذ عزت ورکولو نو په كوم نعمتونو ذ رب خپل

بنو د هغه شو خلاصه يې دا ده چې يو بل تلل دي (معارف ص٢٣٢) بِحُسْبَانٍ: چليږي په حساب معين باندے شمس او قمر. وَالنَّجْمُ: او بوټي او ونې تابعداري كوي الله تعالى ته. الْمِيزَانَ: په معنى مشهوره سره د هغې معنى تله او په معنى ذ عدل او په معنى ذ شريعت او په معنى ذ قرآن سره هم مفسرينو ذكر كړې ده (احسن ص٢٣٢ وحديد ٢٥) او ګوره ئې.

(ذ دے صفحه حاشيه)

وَالرَّيْحَانُ: ذ غذائي اجناسو او ذ ميوو نه علاوه په زمكه كښې خوشبوداره بوټي هم كيږي ذ هغې خوشبوئي زړه او دماغ لره معطر او تازه كوي. (جواهر ص٣٤)

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ: دا جمله په دے سورت كښې ٣١ ځله راغلې ده. او دا ذ دے سورت امتياز دے. ذ رستم شيخ القرآن صاحب حفظه الله فرمائي اګرچه ذ لفظ په لحاظ سره تكرار دے ليكن ذ مقصد په لحاظ سره تكرار نشته ځكه چې په هر ځائے كښې ذ دے جملې جدا جدا مقصد دے ځكه چې په هغې پورے معلومه شي په اول ځائې اتيه جملے كښې ذ نعمتونو سره (٨) آتې كړيه ذكر كړې دي ځكه چې اصول ذ نعمتونو اته قسمونه دي. (١) باطني (٢) ظاهري (٣) انفسي (٤) آفاقي (٥) برې (٦) بحري (٧) علوي (٨) سفلي او دا ټول قسمونه ئې ذكر كړي شوي دي او دا اته جملے ذ تخريف اخروي سره او ورته جملې ذكر كړې اشاره ده چې ذ جهنم او ورته درواز وي ذ ټولو ته ذ جوړيدو سبب ذ تكذيب نه عماني سائل دي او ذ بشارت سره او لا اته جملے او ثمانيا هم اته كړې ذكر كړيده. اشاره ده چې ذ جنت اته دروازے دي كه اول قسم جنتونه دي او كه دويم قسم. فائده: شيخ الحديث مولانا عنايت الرحمن صاحب رحمه الله په دولت درس كښې فرمائيلي ذ چې يو وجه (٣١) ځله (باقي په بل مخ)

(بقيه) د حکمه ذکر کړه چه اودوئ دوزخونه دی او آن جلتونه نوه آخرونو خطاب دے پیریانو او انسانانو ته نو دېر ترغيب او ترهيب اصل حدوده دے نو اهم شو۔ **فائده**: شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په استفتاء القرآن کښے فرمائيلى دى چه ذکر قال بالعکر،

تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾ يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَ

تکذيب کوئ تاسو: سوال کوی د الله تعالیٰ نه هغه مخلوق چه په اسمانونو کښے دی او

الْاَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِىْ شَاْنٍ ﴿۲۹﴾ فَبِاَىِّ

په زمکه کښے: هر وخت هغه په جدا جدا کار کښے دے: نو په کومو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ

نعمتونو د رب خپل تکذيب کوئ تاسو، زر دے چه حساب به اوکړو تاسو سره اے

الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾

دوو درنو ډلو: نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذيب کوئ:

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ

اے ډلے د پیریانو او انسانانو: که طاقت لرئ تاسو

اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

چه اووځئ د طرفونو (غاړو) د اسمانونو او د زمکے نه:

فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾

نو اووځئ، نشئ وتلے تاسو مګر په غلبه سره:

فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا

نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذيب کوئ تاسو: رالیږلے به شی په تاسو دواړو

شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾

لمبے د اور نه، او دود لوګے، نو بدله نشئ اخستے تاسو:

فَبِاَىِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ

نو په کومو نعمتونو د رب خپل دروغ ګڼئ تاسو: نو کله چه اوچوی (

السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ فَبِاَىِّ

اسمان: نو شی به ګلاب رنګے پشان د سرے غوړے: نو په کومو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ

نعمتونو د رب خپل تکذيب کوئ تاسو: نو په هغه ورځ به تپوس نشی کیدے

منزل ۷

شوی شه دا آیت به د فرق کړے آیته ذکر شو د دے دے رهبتو د هغه آیتونو په منځ کښے دا عجائباتو د مخلوقاتو د الله ص او د دا اشیا مصنوعاتو نعمتونه دے او شروع د مخلوق او معاد د هغو ده. بیا اوګوره د دے رهبتو د هغه آیتونو دی چه په منځ کښے ذکر د او ریدے او د تخویف هغه په اندازه د شمیر د دروازو د هغه. او بیا ذکر د نعمتونو او رهبتو دی چه منځ من جمله د نعمتونو نه چه د واپس د عذاب او تاخیر د عقاب دے. بیا پس د دے دا او د دا آیته وی په صفت د جنتونو او د اهل د هغو په اندازه د شمیر د دروازو د جنت او آته نو زرونی رهبتو دی نو بله د هغه جنتونو کښے چه کم د هغه جنتونو نه دی چه ذکر دی په دے قول د الله تعالیٰ کښے وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ، فمن اعتقدها التي لشقها ورجل برجيها السحق ها بين الراجي من الله ورفاه السبعة السابقة (محاسن التأويل ۱۲ / ۹۰) عالم مشارق الآيات: اوګوری الصفت ۱۷۔ رب المشرقين ورب المغربين: يو مشرق د اوړي او بل د ژمي دے او د هرے ورځے جدا جدا مشرق دے نو ټول د مشارق او مغاربو ذکر په معارج دے. کم صحيح دے. او دا اقوال په مشرق او مغرب دے نو په مشرق او د مغرب (رب مزمل) هم صحيح دے (الفضل ۱۲) مرج البحرين جاری کړيدی دوه دریابونه ترخه او خوږ. خبرک فرمائی چه پیلتو په منځ د دواړو په ظاهری کتو کښے

يَلْتَقِيٰنِ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ: په منځ د دواړو کښے پرده ده د قدرت د الله تعالیٰ (مدارک ۴/ ۱۲۳)، يخرج منهما اللؤلؤ: راوځی د دواړو نه موتی، منقطعه او مرجان. تنبيه: اوکړه دواړو ته او وحده لا تک ما د ترخو نه راوځی څکه چه د واړه خبرک روان دی نو دواړه په متصله د يو شی شو لو (مدارک ۴/ ۲۰۷) كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا، اوګوری ۱۲ انبيا، ۱۸۵ آل عمران (د دے صفحه حاشیه په بل مخ اوګورئ)

عَنْ ذَنْۢبِهٖۤ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿٣٩﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

د ګناه د هغه نه د بل انسان او نه د پیریانو. نو په کوم نعمتونو د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٠﴾ یُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ

رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛ پیژندلے به شي مجرمان

بِسِیْمٰهُمْ فَیُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ ﴿٤١﴾

په علامو د هغوي؛ نو نیولے به شي په تندي د اوچولو او قدمونو نه؛

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ

نو په کوم نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ؛ دا جهنم

الَّتِیْ یُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٤٣﴾ یَطُوْفُوْنَ

هغه دے، چه تکذیب کولو په دے مجرمانو؛ ګرځي به (چورلي به) دوي

بَیْنَهَا وَبَیْنَ حَمِیْمٍ اٰنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

په مینځ د دے کښے او په مینځ د ګرمو اوبو سختو کښے؛ نو په کوم نعمتونو د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ

رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛ او د هغه چا دپاره چه ویریږي د ودریدو د

رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾

رب خپل نه، باغونه دوه قسمه دي. نو په کوم نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛

ذَوَاتَاۤ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾

خاوندان د ښاخونو دي (اګور)؛ نو په کوم نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛

فِیْهِمَا عَیْنٰنِ تَجْرِیٰنِ ﴿٥٠﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

په هغو کښے دوه قسم چینے دي چه بهیږي به؛ نو په کوم نعمتونو د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾ فِیْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ

رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛ په هغو کښے د هر قسم میوے

زَوْجٰنِ ﴿٥٢﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٣﴾

جوړے دي؛ نو په کوم نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو؛

د تقدیر د ات چه اوس ئے شروع کوي (ابن کثیر). مفسرین رحمهم الله فرمائي چه هغه شان د الله تعالیٰ دا دے چه (وندی) ګول کوي او مړه ژوندي کوي او رزق ورکوي او عزت ورکوي یو قوم له او ذلت ورکوي بل قوم له او شفا ورکوي مریض له او مریض کوي روغ له او خلاص وي قرضدار له او خلاف ورکوي غم خپلي له او اجابت کوي د بلونکي او عطا ورکوي سوالګر له او بخښنه کوي د ګناه ونو. چه شي حساب به اعمال د هغه او ایجادات د هغه او پیدا کول د هغه شمار له چه څوک دي سبحانه وتعالیٰ (خازن ص). سنفرغ لکم: تر دے دلائل دو په دعوی بیان شو اوس د عذاب بیان دے د پاره د منونکو د دعوے. فائده: بیان د عذاب نعمت دے د پاره د مومنانو ځکه چه تعذیب د دشمن لوی نعمت دے او بل دا چه بیان د عذاب د اسبابو څخه بچ کیدو د پاره لوی نعمت دے (افضل ص). فائده: ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چه دا وعید دے د طرف د الله تعالیٰ نه بندګانو له او د الله تعالیٰ شغل نشته او هغه فارغ دے (ابن کثیر ص) امام بخاری رحمه الله فرمائي: سنحاسبکم، زر دے چه حساب او کړو تاسو سره، بیا ئے فرمائي: بحر معروف فی کلام العرب، یقال لا تفرغن لك و ما به شغل، یقول لا خذنك على غرة (ابن کثیر ص). فائده: د دویم نعمتونو

روستو اوس تخویفات دي. د ثقلان نه مراد انسانان او پیریان دي ځکه چه دوي د دواړو شان اوچت دے د نورو ځیناوو نه ځکه دا مکلف دي په عبادت کولو سره. یا ځکه چه دوي د بدنونو بوجونه د ځمکے دپاسه دي په نسبت سره د نورو شیزونو نه.

(د دویم حاشیه) یسئله من فی السموات: هر شی د الله تعالیٰ نه سوال کوي یا په ژبه یا په ژبه حال سره (افضل ص). کل یوم هو فی شان: مراد د دے هغه کارونه او تصرفات د الوهیت دي چه الله تعالیٰ ئے بیکاره کوي روستو

(دوهم شو) لا یسئل عن ذنبه: په عبارت کښے تقدیم او تاخیر دے یعنی سوال به نشي کیدے د انسان (باقی په بل مخ)

(بقیه) او د پېرۍ نه د ګناه د خفه. فائدة: سوال به د ځان د پوښته د پاره نه کېږي نه ځکه چه باری تعالیٰ پوهه دے
او که سوال کېږي نو هغه به د زورنې د پاره وي لکه لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ (حجر ۹۲)، (افتحص ۷۲) لِيَسْـَٔلَهُمْ، په خاص

مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ
تکیه به لګولي وي دوي په بسترو باندې چه استرونه د هغو به د
إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ۵۴ فَبِأَىِّ
پیرو ریښمو نه وي، او مېوې د دواړو جنتونو به ډېرې نزدې وي: نو په کومو
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۵۵ فِيهِنَّ قَـٰصِرَٰتُ
نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو: په دغه باغونو کښې به (حورې) ښکته
ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا
کوونکې د سترګو: نه به وي رسیدلې دوي ته هیڅ انسان مخکښې د دوي نه او نه
جَآنٌّ ۵۶ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۵۷ كَأَنَّهُنَّ
پېرې: نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ دواړه: ګویا که دوي
ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ۵۸ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
یاقوت دي (په رنګ کښې) او ملغلرې دي (په صفائۍ کښې) نو په کومو نعمتونو د رب خپل
تُكَذِّبَانِ ۵۹ هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَـٰنِ إِلَّا
تکذیب کوئ تاسو: نه دې بدله د نیکۍ مګر
ٱلْإِحْسَـٰنُ ۶۰ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۶۱
نیکي ده (جنت) نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو:
وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ۶۲ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ
او سیوا د دغو جنتونو نه باغونه قسما قسم دي: نو په کومو نعمتونو د
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۶۳ مُدْهَآمَّتَانِ ۶۴ فَبِأَىِّ
رب خپل، ور دغو نه یا کوئ تاسو: تک شنه (تور ښکاري به دي) نو په کومو
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۶۵ فِيهِمَا عَيْنَانِ
نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو: په هغو کښې به چینې دي
نَضَّاخَتَانِ ۶۶ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۶۷
جوش وهونکې: نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو:

علامو د دوي لکه چه مخزنه به تور وي او سترګه به لې ځخه وي۔ راندۀ کاٰنها به هغې او ګورئ الطارق ۱۰ یونس ۲۶ صف ۳۹ طه ۱۰۵، اسراء ۹۹ فرقان ۲۲۔ بَطَآئِنُهَا: هغه ته چه په ګرهي کښې اتنها، د ویلو وي (جواهر ص۱۲۱۹)، وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ: او د هغه چا د پاره چه ویرېږي د اودرېدلو نه دیدار د رب خپل کښې د حساب کتاب د پاره د دغه خاص د بشارت اخروي دي جَنَّتَانِ، تثنیه د پاره د تکرار دي۔ یعنې قسما قسم باغونه دي۔ (جواهر ص۱۲۱۹)

(دوهم صفحه حاشیه)

قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ: موصوف یې محذوف دے یعنې داسې حورې چه بندوونکې د نظر به وي یعنې په غیرو خاوندانو به بل چا ته نه ګوري۔ لکه چه شیان د ویر ته چه داسې صفت دے په تخزنه کښې او ګورئ صفت ص۴۸، ص ۵۲ —

هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَـٰنِ: نه ده بدله د هغه چا چه نیکي کوي په دنیا کښې مګر دا چه نیکي ورته او کړے شي په آخرت کښې (خازن ۲۲۳) نه ده بدله د — نیکۍ په عمل کښې مګر احسان دے په ثواب کښې او ګورئ غوريږي چه نه ده بدله د هغه چا چه لَا إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وايي مګر جنت او د ابراهیم خواص نه په دے کښې نقل دے چه نه ده بدله د اسلام مګر دار السلام (مدارک ۲۱۴) او ګورئ یونس ۲۶۔ وَمِن دُونِهِمَا: د دغه آیت نه دوهم قسم جنتونه د دوهم قسم مؤمنانو د پاره په بشارت کښې ذکر کوي۔ مُدْهَآمَّتَانِ: د دغه باغونو نه به نهایت شنه وي او د تېزۍ د رنګ د وجې نه به تور والی ته مائیل به نظر راځي۔ (جواهر ص۱۲۱۹)

عبقری، حدیث کښې دے نبی علیه السلام اوږ سلے، منځ ئې ښکلے تفسیر بیان کړې دے فرمائی: خیرات الاخلاق وحسان الوجوه (بحر ۱۹۹ جواهر ۱۲۰۹) متکئین علی رفرف: تکیه وهونکی به وی په بالښتونو شنو باندے او په بسترو ښائسته و باندے (فتح ۲۴۲) په غالیو او نوښتو (مدارک ۲۴۳)

فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِأَيِّ

په هغو کښې به میوے وی، او کجورے او انار: نو په کومو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٩﴾ فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ

نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو: په هغو کښې به ښځې ښے

حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾

ښائسته ښکلو والا: نو په کومو نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو:

حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ

حورے به وی بندے ساتلے شوے په خیمو (د ملغلرو) کښې: نو په کومو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ

نعمتونو د رب خپل تکذیب کوئ تاسو: نه به وی رسیدلے دوی ته

إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

هیڅ انسان مخکښې د دوی نه او نه پیریان، نو په کومو نعمتونو د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ

رب خپل تکذیب کوئ تاسو: تکیه به لګونکی وی دوی: په بالښتونو

خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

شنو او په غالیو ښائسته باندے: نو په کومو نعمتونو د

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾ تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ

رب خپل تکذیب کوئ: برکتی دے نوم د رب ستا،

ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

چه خاوند د لوئی او د عزت دے:

سورة الواقعة مکیة ۵۶ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — آیاتها ۹۶ رکوعاتها ۳

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

کله چه واقع شی واقعه کیدونکې (قیامت): نشته د واقع کیدو د هغے دپاره

منزل ۷

وعبقری: او په قیمتی غالیو باندے چه ښائسته به وی (ختم شو بعون الله تعالی په وخت د ۵ بجے مخکښې د ماښام د عصر نه پس ۲۳ جمادی الاولی ۱۴۲۰ هجری بتر حیب اباد ترخو کښې)

سورة الواقعة: مکی سورت دے ۵۶ ترتیباً پس د سورة رحمن نه او ۴۶ دے نزولاً پس د سورة طٰهٰ نه. وجه تسمیه ئے په واقعه باندے دا ده چه دا لفظ په اول آیت کښې ذکر دے. دعوی: فسبح باسم ربک العظیم ۷۴، ۹۶. ربط: (۱) مخکښې ئے نفی د ذوالجلال ذکر کړے او واضحه ئے کړه چه په هر شی کښې برکت ا چوړ لو والا برائته رحمن دے نو دلته فرمائی چه پاکی ورله بیان کړه (۲) په دے سورت کښې تفصیل د هغه تخویف دے چه په مخکښې سورت کښې ذکر شوی وو د ئے نه (۳) د هغه نګے تفصیل د بشارت دے د ئے نه (۴) په هغه رنګے هلته دلائل عقلیه وو نو دلته په بل قسم دلائل عقلیه ذکر کوی د دے نه (۵) مخکښې دوه قسمه جنتونه ذکر شو نو دلته د هغو اهل بیانوی. السابقون: اصحٰب الیمین دی. خلاصه: په دے سورت کښې دوه بابونه دی اول تر ۵۶ پورے او دویم تر آخره پورے. په اول باب کښې شلور خبرے دی (۱) اثبات د قیامت د ۷ پورے (۲) ذکر د دریو فریقو د ۷ نه (۳) د اولے فریقے نتیجه جزا کانے د ۱۰ نه تر ۲۶ پورے او د دویمے فریقے آخرت جزا کانے د ۲۷ نه تر ۴۰ پورے او د دریمے فریقے سزا کانے د ۴۱ نه تر ۵۶ پورے (۴) منکرین کښې د دے جملو نه د مننا ابن ۴۵ تر ۴۸. په دویم باب کښې څلور خبرے دی (۱) څلور عقلی دلائل د ۵۷ تر ۷۴ (۲) دعوی د توحید ۷۴ (۳) صداقت د قرآن کریم د ۷۵ نه. (۴) زجر اعراض کوونکو د قرآن له ۸۱ (۵) تخویف په ذکر د څنکدن (باقی په بل مخ)

(بقيه) او روح د تلو سره د ... شو (٩) اعاده د ... توحيد ... فضيلت: عن ابي مسعود رضي الله عنه من قرأ سورة الواقعة في كل ليلة لم تصبه فاقة ابدا وكان ابن مسعود يأمر بناته ان يقرأن بها في كل ليلة (بيهقي مشكوة ص١٨٩ او منثور ج٦ روح ج٢٧ قرطبي ج١٧). فائده: مفتي صاحب رحمه الله د ابن كثير رحمه الله نه نقل كړي د ابن مسعود رضي الله عنه د مرض وفات او د عثمان رضي الله عنه د ورتلو سوال او جواب ذكر كړي دي. اوګورئ معارف ج٨ ص٢٦٩. امتيازات: (١) دا سورت ممتاز دی په ذكر كولو د دريو فريقو باندې (٢) دا سورة ممتاز دی په ذكر د معقولو دلائلو د پاره د تربيت د انسان (٣) او په ذكر د حالت نزع (٤) په ذكر د لا يمسه الا المطهرون.

كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ

دروغ هم نه ده : ښکته كوونكې ده (ځينو) پورته كوونكې ده (ځينو) : كله چې وخوځولی شي

الْأَرْضُ رَجًّا ۝٤ وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝٥

ځمكه په خوځېدو سخت سره : او ريزه ريزه كړی شي غرونه په ريزه كولو سره :

فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنۢبَثًّا ۝٦ وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا

نو شي به ګرد الوتونكې خوره : او شئ به تاسو قسمونه

ثَلَٰثَةً ۝٧ فَأَصْحَٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَا

درې : پس خاوندان د ښي طرف والا : څه لوی شان

أَصْحَٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝٨ وَأَصْحَٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ

دی د خاوندانو د ښي طرف : او خاوندان د ګس طرف :

مَا أَصْحَٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۝٩ وَالسَّٰبِقُونَ

څه بد حال دی د خاوندانو د ګس طرف : او مخكې كېدونكي (ايمان ته)

السَّٰبِقُونَ ۝١٠ أُولَٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ۝١١ فِي

مخكې كېدونكي دي (جنت ته) : دغه كسان نږدې كړی شوي دي : په

جَنَّٰتِ النَّعِيمِ ۝١٢ ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ۝١٣

باغونو د نعمتونو كې به وي : لويه ډله به وي د مخكينو نه :

وَقَلِيلٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ۝١٤ عَلَىٰ سُرُرٍ

او لږ به وي د روستنو نه : په تختونو د سرو

مَّوْضُونَةٍ ۝١٥ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَٰبِلِينَ ۝١٦

اوبدلو : ډډه لګوونكي به وي په هغو باندې مخامخ

يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ۝١٧

ګرځي به دوی باندې : هلكان همېشه كېدونكي به وي عمرونو :

بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن

په كوزو باندې او جګونو باندې : او په جامونو ..... د

منزل ٧

اذا وقعت الواقعة: دا نوم دی د پاره د ورځې د قيامت. كاذبة: نشته په وخت د واقع كېدو د هغې كښې دروغ. فائده: په معنی د مصدر دی. او وايي معتزله ده د پاره د تاكيد (ابو السعود ج٢١). ثانيه په معنی د مكذبة دی، نو معنی به وي په وخت د وقوع د هغې كښې څوک نفس تكذيب كوونكی.

(د دې مخ حاشيه)

خافضة رافعة: دا خبره مبتدأ محذوف ده، اي هي: يعنی دا به ښكته كوونكې وي او پورته كوونكې وي او چتوي به هغه قومونه او ښكته كړي به نورو لره. (مدارک ص١٢٣٣) اذا رجت الارض: دا بدل دی د اذا وقعت نه. وبست الجبال: دا په دې عطف دی. فائده: اذا ظرف دی نو يا جزاء نه غواړي او يا شرط دی نو يا جزاء فاصحب الميمنة ده او يا محذوف ده اي انتجاكنتم حسب حالكم (او ګورئ احسن ج...)

وكنتم ازواجا ثلثة: دا تقسيم د خلقو دی په اعتبار د عقيدې او اعمالو سره. او خطاب دی ټولو خلقو ته شكه دوی به تقسيم كړی شي دريو قسمونو ته (تسهيل ص٣٥ ج٤). ما اصحب الميمنة: دا استفهام د تعجب د پاره دی معنی دا شو څه لوی شان دی د خاوندانو د ښي طرف او په دې قياس باندې ما اصحب المشئمة دی. (باقي په بل مخ)

(بقیه) وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ: په دې کښے درې قوله د مفسرینو دی (١) انبیاء علیهم السلام دی (٢) په هر اُمت کښے صحابه د انبیاء علیهم السلام (٣) زمونږ د اُمت صحابه کرام (٤) هغه صحابه کرام چه قبلتینو ته ئے مونځونه کړی دی

مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا

د چینه وارو شرابو: نه به سر دردی راځی پرې دوی ته د هغو نه: او نه به

يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾

ګډوډ کړے شی (د هغو نه) او په میوو سره د هغو نه چه خوښه به کوی دوی:

وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ

او په غوښه د مرغو د هغه نه چه دوی به ئے غواړی: او (د دوی لره) حورے

عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾

وی غټو سترګو والا: په شان د ملغلرو ساتلو شوو:

جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ

بدله به ورکړے شی په سبب د هغه عملونو چه دوی به کول: نه به اوری په

فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا

هغو کښے بے فائده خبرے: او نه د ګناه خبرے، مګر وینا به وی سلام

سَلَامًا ﴿٢٦﴾ وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ

سلام: او خاوندان د ښی طرف، څه ښه حال به وی د خاوندانو

الْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ

د ښی طرف: په بیرو بے ازغو کښے به وی: او په کیلو

مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾ وَمَاءٍ

لاندې باندې کیښودے شوی: او په سوری اوږده کښے: او په اوبو

مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا

بهیدونکو کښے: او په میوو ډیرو کښے: نه به وی

مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٍ

قطع کړے شوے: او نه منع کړے شوے: او په بسترو

مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً ﴿٣٥﴾

اوچتو کړے شوو کښے: یقینًا پیدا کړی مونږ هغوی لره په پیدا کولو سره:

منزل ٧

(٥) سبقت کونکی دی مونځونو ته (٦) سبقت کونکی دی جهاد ته (٧) هغه شخص چه د اول عمر نه په صحیح دین کښے لګیدلے دے تر مرګه پورے (روح ج ٢٧) حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی: وهذه الاقوال کلها صحیحة (ص ج ٤)

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ: ثلة لوئی ډلے ته وئیلے کیږی. حافظ رحمه الله فرمائی: چه اختلاف کړیدے مفسرینو په مراد د اولینو او اخرینو کښے. نو ځینی وائی چه مراد د اولینو نه تیر شوی اُمتونه دی. او اخرینو نه دا اُمت دے. بیا روستو فرمائی چه دویم قول په دے مقام کښے دا دے او هغه غوره دے چه مراد د اولینو نه اول حصه د دے اُمت ده او د روستنو نه مراد اخر حصه د دے اُمت ده. اوګورئ ابن کثیر ص جواهر ص٢٢٣ جناب مفتی صاحب رحمه الله فرمائی چه په روح المعانی کښے د دې تفسیر په تائید کښے یو مرفوع حدیث د حضرت ابوبکره رضی الله عنه په روایت سره رانقل کړیدے: کلاهما جمیعا من هذه الامة (روح ج ٢٧، معارف ص)

(د دے مخ حاشیه)

وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ ٢٧: د دے ځائے نه د دویم قسم مؤمنانو بیان شروع شو. وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ٣٤: او په بسترو اوچتو کړے شوو کښے به وی. مراد د دے فراشو (قالینو) نه مَرْفُوعَةٍ، اوچت به وی مکانونه هغې اګر چه وخت د کیناستلو کښے به کوزیږی یا قدر او شان به ئے اوچت وی (احسن ج٣) او ځینې مفسرین وائی د فراش نه مراد ښځے اخیستے دی ځکه چه د ښځے هم په لفظ د فراش سره تعبیر کولے شی. حدیث کښے دی: الولد للفراش (معارف ص)

فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا اَتْرَابًا ﴿۳۷﴾
نو ګرځولي مونږ دوی لره پیغلې ، مینه کوونکې ، همزولې ،
لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۹﴾ ع
د پاره د خاوندانو د ښي طرف ؛ لویه ډله به وي د مخکښینو نه ؛
وَثُلَّةٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَاَصْحٰبُ
او لویه ډله به وي د روستنو نه ؛ — او خاوندان د
الشِّمَالِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِيْ
ګس طرف ، څه به حال وي د خاوندانو د ګس طرف ؛ — به
سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ﴿۴۲﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿۴۳﴾
هوا ګانو ګرمو کښې او اوبو ګرمو کښې ؛ او په سوري د لوګي کښې به وي ؛
لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ﴿۴۴﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ
نه به یخ وي او نه عزتمند ؛ یقیناً دوی وو — مخکښې
ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى
د دې نه عیش کوونکي ، او دوی وو ټینګیدل به په
الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ﴿۴۶﴾ وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ
ګناه لویه باندې ؛ او دوی وو چې ویلې به یې
اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا
آیا کله چې مړه شو مونږ او شو خاورې او هډوکي ؛
ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۴۷﴾ اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۴۸﴾
آیا مونږ به ضرور راپورته کړې شو ؛ او آیا پلاران زمونږ مخکیني ؛
قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۹﴾
او وایه یقیناً ؛ اولني ، او روستني ؛
لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ
خامخا راجمع به کړې شي ؛ وخت ته د ورځې

ثُلَّةٌ مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ۳۹ په اصحٰب اليمين کښې د امتونو مخکنیو د صدر اول او د صدر آخر مؤمنان په کښې مراد دي (ابن کثیر)
عن ابن عباس رضي الله عنهما ثلة من الاولين وثلة من الآخرين قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم هما جميعا من امتي (ابن کثیر صفحه ۲۹۳ ج ۴)
وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ـ د دې خائ نه تخویف اخروي په شروع دے ... د کړو ذکر کوي او د ... د دې طرف د عذاب ذکر کوي په مابین کښې ... ذکر شوي دي او د روستنو اول په ... او بیا په ... سنه ... کښې .

عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ
او دوی وو چې ټینګیدل به په ګناه لویه باندې
ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : چې حنث عظیم دا شرک دے . او ګوره (ابن کثیر صفحه ۲۹۵ ج ۴)

مَعْلُومٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ
معلومې ته: بیا بېشکه تاسو - اې ګمراهانو!
الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَآكِلُونَ مِن شَجَرٍ
تکذیب کوونکو! خامخا خوړونکي به یئ د اونې د
مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٥٣﴾
زقوم نه، نو ډکوونکي به یئ د هغې نه ګېډې خپلې لره،
فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾
پس سکونکي به یئ د پاسه د هغې نه د ګرمو اوبو نه،
فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمْ
پس سکونکي به یئ پشان د سکلو د تږو اوښانو، دا میلمستیا د دوی ده
يَوْمَ الدِّينِ ﴿٥٦﴾ نَحْنُ خَلَقْنَاكُمْ فَلَوْلَا
په ورځ د بدلې، موږ پیدا کړي یئ تاسو لره، نو ولې
تُصَدِّقُونَ ﴿٥٧﴾ أَفَرَأَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿٥٨﴾
تصدیق نه کوئ، آیا پس خبر راکړئ ما ته د هغه نطفې نه چې تاسو یې غورځوئ،
أَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُ أَمْ نَحْنُ الْخَالِقُونَ ﴿٥٩﴾
آیا تاسو شکل جوړوئ د هغې نه، که موږ یو چې جوړوونکي یو،
نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ
موږ اندازه کړې ده موږ، په مینځ د ستاسو کښې مرګ، او نه یو موږ
بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ
عاجزه کړې شوي، په دې باندې چې بدل کړو
أَمْثَالَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾
مثلونه ستاسو، او پیدا کړو تاسو لره په هغه شکل کښې چې تاسو نه پوهیږئ،
وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا
او یقیناً پوهه یئ تاسو په پیدائش اول، نو ولې

نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ ۵۷، د دې
عالي نه دویم باب شته تر آخره
پورې. په دې کښې اول آیت کښې
پیدائش د انسان ذکر شوې او
بیا د تربیت ذکر دی. د دې متعلق
څلور دلائل دي چې د هر یو
په سر کښې أَفَرَأَيْتُمْ دی. د
پنډو شیخ رحمه الله فرمائي چې
په هر دلیل کښې أَفَرَأَيْتُمْ سره
خبر دار شه ورکړې شوې چې هر
دلیل بالکل واضح او روښانه
دې تاسو په خپله سوچ او کړئ
او وینئ چې په دې دلائلو کښې
کوم حقائق ذکر شوي دي او څه
ورسره دي. یا دا دي (جواهر ص...)
د رستم شیخ صاحب حفظه الله وائي
او د هر نعمت سره زوال ته اشاره
کړې. د پیدائش سره مرګ، او د
فصلونو سره حطام (وچ مات)
د اوبو سره اُجاج (تروې ترخې)
او د اور سره د آخرت اور ته
اشاره کول ذکر کړي دي (احسن ...)
أَفَرَأَيْتُمْ (۱) آیا دا خو وښایئ
... (۲) آیا سوچ کړې دې تاسو په
هغه نطفه باندې (احسن ص ۲۳) (۳)
خبر راکړئ ما ته چې آیا لیدلي دي تاسو
په سترګو او بصیرت سره (...)
او ګوري سورة حجر ۵۵ او مؤمنون
۶۰. بِمَسْبُوقِينَ، مسبوق هغه
چا ته وئیل شي چې بل پرې مخکښې شي
یعني نه یو موږ مغلوب کړې شوي
او عاجزه کړې شوي. أَمْثَالَكُمْ
چې بدل کړو مثلونه ستاسو یعني
انسانانو نه خلاف نور مخلوق پیدا کړو
او ګوري نساء ۱۳۳ او انعام ۱۳۳. او یا تاسو
ختم کړو او نوی خلق او اولاد ستاسو په
ځای کښې راولو او ګوري فاطر ۱۶، ابراهیم ۱۹.

تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾
نصيحت نه قبلوئ ؛ آيا پس خبر راكړئ ما ته دهغه تخم نه چه تاسو ئے كرئ ؛
ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾
آيا تاسو زرغونوئ هغه ؛ كه مونږ زرغونونكي يو ؛
لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ
كه چيرے اوغواړو مونږ نو خامخا به ئے وګرځوو دا ؛ ذبيله ذبيله ؛ نو ؤبه ګرزئ
تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلْ
تعجب به كوئ ؛ يقيناً مونږ خامخا تاوانى كړے شوى يو ؛ بلكه
نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ
مونږ بے نصيبه كړے شوى يو ؛ آيا پس خبر راكړئ ؤ اوبو
ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ
هغو نه چه تاسو ئے څښكئ ؛ آيا تاسو راكوزوئ دا
مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ
ؤ سپينے وريځے نه ؛ كه مونږ راكوزونكي يو ؛ كه چيرے
نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾
اوغواړو مونږ ؤ به ګرزوو دا ؛ تروش ؛ پس ولے شكر نه ؤباسئ ؛
أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ
آيا نو خبر راكړئ ؤ اور هغه نه چه تاسو ئے بلوئ ؛ آيا تاسو
أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾
پيدا كړے ده ونه ؤ هغه ؛ او كه مونږ ورله پيدا كوونكي يو ؛
نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً وَمَتَٰعًا
مونږ ګرزولے ده دا اور ؛ يادداشت ؛ او نفعه
لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ
ؤ پاره ؤ مسافرو ؛ خو پاكي وايه ؤ نوم ؤ رب خپل

آو نحن الزّٰرعون ٣٢ : او كرلى نبتى ٣٥ ، تسهل ٥٦ . فظلتم تفكهون ٦٥ ، پس ؤبه ګرزئ تاسو چه تعجب به كوئ او وائي به چه يقيناً مونږ خو تاوانى كړے شوى يو . تفكه ؤ اصل كښ عن خيالي كولو او علم كولو ته وائي ليكن دلته ورسره معنى صراوده او پښيمانتيا كول تعجب كول ايسه فائده وغيره كولو ته علم تفكه ويلے كيږي .
(احسن ص ٢٣٦ ج ٥)

فائده :
راغب اصفهاني رحمه الله فرماي ، ظلت ظللت وه په حذف ؤ يو دال لامونو باندے او چليږي په خاني ؤ ځليږي ؤ حيرت ، او بيانے د آيت ذكر كړے وه (مفردات ص ٣١٥) نو معنى دا شوه او ګرځئ تاسو : مِنَ الْمُزْنِ ٦٩ الآية سپينه وريځه او وايے خوږے اوبه وي أُجَاجًا : تروش ، يا تريخ چه قدرت نه وي په څښلو ؤ هغو باندے صدا
ص ٢١٩ ج ٢)

لِلْمُقْوِينَ ٧٣ :
ؤ پاره ؤ مسافرو :
ومسافرانو ، فسبح ٧٤ دا دعوى او مقصود ؤ سورت دے .
(افضل ص ٤٢٨)

فَلَآ أُقْسِمُ ﴿۷۵﴾ : د دے عاى نه د عظمت د قرآن بيان شروع كيږى او لَآ زائده دے په محاوراتو كښے قسم بانديے اکثر لَآ زائده استعماليږى لكه لَا وَاللهِ او د مَوٰقِعِ النُّجُوْمِ نه مراد د ستورو د غروب كيدلو ځايونه مراد دى او د ستورو پريوتل دا د دې په فنا كيدو او زائل كيدو دليل دے. د دينه معلوميږى چه دا ډيرو اوچت طاقت والا زبير تصرف دى. وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ دا د قسم او جواب د قسم په مابين كښے جمله معترضه ده (روح المعاني ۱۳۰). لَّا يَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ په دے كښے ډير احتمالات دى. مس حقيقى او مجازى (پوهه) ه ضمير راجع دے قرآن ته يا لوح محفوظ ته. او طهارت ظاهريه مراد دے يا باطنيه تفصيل (۱) دا جمله صفت د قرآن دے. او مطهرون نه مراد پاك د جنابت او بے اودسى نه. او دا نفى په معنى د نهى ده معنى دا شوه چه لاس دې نه وهى څوك قرآن له مگر پاك كړے شوى خلق او بايد او دسى او جنابت نه. او ګوره ابن كثير ۲۹۹ (۲) دويم احتمال دا دے چه مس په معنى مجازى سره او د طهارت نه مراد باطنى پاكوالے دے. معنى دا شوه چه نه پوهيږى په قرآن باندے مگر پاكے عقيدے والا. قَالَ الْفَرَّاءُ لَا يَجِدُ طَعْمَهٗ اِلَّا مَنْ اٰمَنَ بِهٖ (ابن كثير ۲۹۹) لَا يَقْرَأُهٗ اِلَّا الْمُوَحِّدُوْنَ (قاسمى ۲۵۶) او ګوره اعراق ۲۶) (۳) دريم احتمال دا دے چه د مس معنى حقيقى مراد ده او دا صفت د لوح محفوظ دے او د مطهرون نه مراد ملائك دى. معنى دا شوه

الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾

چه لوئى دے : پس نه ده داسے قسم کوم زه په ځايونو د پريوتو د ستورو :

وَاِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُوْنَ عَظِيْمٌ ﴿۷۶﴾ اِنَّهٗ

او يقيناً دا خامخا قسم دے كه چيرے پوهيږئ تاسو لوئى : يقيناً دا كتاب

لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾ فِىْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ ﴿۷۸﴾

خامخا قرآن عزتمن دے : په كتاب محفوظ ساتلے شوى كښے :

لَّا يَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿۷۹﴾ تَنْزِيْلٌ

لاس نه وروړى دے ته مگر پاك كړے شوى ملائك : نازل كړے شوے دے

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۰﴾ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ

د جانبه د رب د مخلوقاتو نه : آيا نو په دے خبره

اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ

تاسو : سستى كوونكى يئ : او ګرځوئ تاسو برخه خپله

اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ

دا چه يقيناً : تاسو تكذيب كوئ : نو ولے نه ده كله چه ورسيږى

الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾

روح مرئ ته : او تاسو په دغه وخت كښے ګورئ :

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ

او موږه ډير نزدے يو ده ته : ستاسو نه : او لاكن

لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ

نه وينئ تاسو : پس ولے نه ده كه چيرے يئ تاسو نه

مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ

قابو كړے شوى : چه واپس كړئ روح لره كه چيرے يئ تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾ فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ

رښتونى : پس كه چيرے وى دا ساه والا د

چه لاس نشى لګولے د لوح محفوظ ته مگر پاك ملائك دى. (ابن كثير ۲۹۹). اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ پس د صداقت د قرآن نه زجر دے منكرينو د هغے. فَلَوْلَآ. دا هغه د پاره د زورنے ده. شاه ولى الله رحمه الله فرمائى لفظ د لولا داخل دے په تَرْجِعُوْنَهَا بانديے او اعاده د دے د پاره د تاكيد ده (فتح ۹۳۶) غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ : نه بدله كړے شوى (روح) (باقى په بل مخ)

(بقیه) نه یې مملوک کړې شوي او مغلوب کړې شوي (قرطبی) حاصل د معنی دا دے چه که چیرې تاسو بختیا کمزوري نه یئ او حساب وغیره نشي کیدے نو بیا روح ولې نه راګرځوئ کله چه ستونی ته ورسیږي

الْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ

نږدې کړې شوو نه : نو (د ده لره) راحت دے او ښه رزق او جنت د

نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّا إِن كَانَ مِنْ أَصْحَابِ

نعمتونو دے : او که چیرې وي دا د خاوندانو د

الْيَمِينِ ﴿٩٠﴾ فَسَلَامٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَابِ

ښي طرف نه نو (ویلې کیږي به) سلامتیا ده تا لره (اے ښیه) د خاوندانو د

الْيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ

ښي طرف نه : او که چیرې وي دا : د

الْمُكَذِّبِينَ الضَّالِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ

دروغ ګڼونکو ګمراهانو نه : نو (د ده لره) میلمستیا ده د

حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا

ګرمو اوبو نه : او داخلول د دوزخ دي : یقینًا دا

لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ

خبره ضرور دا حقه یقیني ده : نو پاکي وایه د نوم د

رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾

رب ستا چه لوئ دے :

سورة الحديد ٥٧ مدنية ٩٤	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	آیاتها ٢٩ رکوعاتها ٤

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

پاکي وائي الله تعالیٰ لره هغه چه په اسمانونو کښې دي : او په زمکه کښې :

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١﴾ لَهُ مُلْكُ

او الله زورور او د حکمت والا دے : خاص الله تعالیٰ لره باچاهي

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ

د اسمانونو — او د زمکې ده : ژوندي کول کوي او مړه کول کوي

منزل ۷

نفي نه د ګرځیدلے نو معلومه شوه چه تاسو په تکذیب د قرآن او په انکار د توحید او د قیامت کښې دروغژن یئ (احسن ص۲۲۲). فَأَمَّا إِن كَانَ . د دې نه خلاف اعاده د دریوارو ډلو ده. (د دې صفحې حاشیه) مِنْ أَصْحَابِ الْيَمِينِ ۹۱ ای یقینًا ته د خاوندانو د ښي طرف نه یې (جواهر) إِنَّ هَٰذَا یقینًا دا قول چه ذکر شو د دې سورت کښې حق یقیني دي (ابن کثیر ص۲۹۸). فَسَبِّحْ ۹۶ عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قال لما نزلت فسبح باسم ربك العظيم قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اجعلوها في ركوعكم فلما نزلت سبح اسم ربك الأعلى قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اجعلوها في سجودكم (رواه ابوداود وابن ماجه والدارمي مشكوة ص۸۳)

(سُورَةُ الْحَدِيدِ) دا سورت مدني دے په ترتیب کښې پس د سورة واقعه نه او په نزول کښې ۹۴ پس د سورة زلزال نه. نوم ئې په ۲۵ کښې راغلے دے. فائده: د دې معانی نه او ډوم باب د دے ترسورة صف پورې دے او په دې کښې لس سورتونه دي. دعوی: (۱) ترغیب انفاق ته په بخځ طریقو سره ۷ ۱۰ (۲) توحید ۱۱ (۳) قتال ۲۵

ربطونه: (۱) هر کله چه نفي د شرك فعلي یعني شرك في البرکات مخکښې او شوه نو ارشاد ئې ورکړو قتال او انفاق ته او زجر ئې ورکړو منکرانو سلیمانو ته لکه چه دا طریقه چلیدلې ده په مخکښې سورتونو کښې

(۲) الله تعالیٰ امر کړې په تسبیح سره په اخره د سورت واقعه کښې نو دلته فرمائي: سَبَّحَ لِلَّهِ الخ چه متصل شي اول سر د سورة حدید د آخري سر د سورة واقعه سره (۳) هر کله چه ثابته شوه چه برکات د الله تعالیٰ دي نو ارشاد ئې ورکړو انفاق لره په لاره د حق کښې د دې د پاره چه برکت واچوي تاسو لره په مالونو ستاسو کښې (سمط الدرر ص۲۳۲) (باقي په بل مخ)

(بقیه) خلاصه (۱) په دې سورت کښې دوه قسمونه (بابونه) دي. اول تر ۱۶ پورې او دویم تر آخره پورې. په اول کښې غلو خبرې دي. (۱) توحید سره د دلائلو (۲) بیا ځني وجوه د پاره د انفاق في سبیل الله سره د ۱۰ حکم

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢﴾ هُوَ

او الله تعالیٰ په هر شي باندې قدرت والا دے : الله تعالیٰ

الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ

اول دے : او آخر دے : او ښکاره دے : او پټ دے

وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٣﴾ هُوَ الَّذِىْ

او الله تعالیٰ په هر شي باندې پوهه دے : الله تعالیٰ هغه ذات دے

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِىْ سِتَّةِ

چه پیدا کړیدي آسمانونه : او زمکه : په شپږو

اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ

ساعتونو کښې : بیا برابر شو هغه : په عرش باندې

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى الْاَرْضِ وَمَا

پوهیږي په هغه چه ننوځي : زمکه کښې : او په هغه چه

يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ

راوځي د زمکې نه : او په هغه چه نازلیږي د بره نه :

وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ۭ وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ

او په هغه چه خیژي په آسمان کښې : او الله تعالیٰ تاسو سره دے په هر ځای

مَا كُنْتُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٤﴾

چه یئ تاسو : او الله تعالیٰ په هغه چه تاسو یې کوئ لیدونکے دے :

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَ

خاص هغه لره باچاهي د آسمانونو : او د زمکې ده : او

اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٥﴾ يُوْلِجُ

خاص الله تعالیٰ ته واپس کولے شي ټول کارونه : ننباسي

الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى

شپه : په ورځ کښې او ننباسي ورځ : په

منزل ٧

اول کښې غلو خبرې دي. (۱) توحید سره د دلائلو (۲) ... (۳) صیغو کښې بشارات دي ۱۲ (۴) او زجرونه او تعریف دشته خرخرکو کوم ۱۳ او په دویم باب کښې د ۲ خبرې دي (۱) ترغیب دشته جهاد ته په رالیږلو د رسولانو سره ۲۵ (۲) زورنه ده شستي کونکو ته د جهاد شپه غورځولو د رهبانیت سره ۲۷ (۳) ترغیب اهل کتابو ته د پاره د ایمان راوړلو ۲۸.

امتیازات: (۱) ځني وجوه د پاره د انفاق دي (۲) د وخت او د دوزخ په مابین کښې دیوال (سورت ۱۳) (۳) ذکر د انزال الحدید ۲۵ (۴) ذکر د رهبانیت ۲۷ (۵) دوه مرتبې په دلائلو د توحید کښې دي (درمنثورات ...)

سَبَّحَ لِلّٰهِ: ابن جزي رحمه الله فرمائي ما تسبیح چه دلته ذکر شویده او په اول سره د نور د ښکاروالي مسیحیانو سورتونو کښې احتمال لري چه حقیقة وي او یا وي بلسان الحال محکه چه قول هغه چه په آسمانونو او په زمکه کښې دي دلیل دے په وجود د الله تعالیٰ او په قدرت د هغه او په حکمت د هغه باندې او اول احتمال خوره دے د وجه د دې قول د الله تعالیٰ نه " وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ " - الاسراء (التسهیل ...)

فائده: په اول آیت کښې دعوی د توحید ده او بیا کښې اوله مرتبه او په ۲ کښې دویمه مرتبه او په ۳ کښې دریمه مرتبه د توحید ذکر ده (ام اعراف ۱۳۲) (د دې مخ حاشیه)

هُوَ الْاَوَّلُ ۳: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه د مفسرینو رحمهم الله عبارات او اقوال په اندازه د خه دیرو لس په دے یکښې راغلي دي ۴ او په صحیح مسلم ۳ باب الدعاء عند النوم کښې د دے تفسیر دا سے راغلے دے او دا دعاء په آخر کښې دے وادي. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْاَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الْاٰخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَاَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ (باقي په بل مخ)

(بقیه) وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ الخ. او ابن کثیر ص۳۳ هم اوګوری. وَهُوَ مَعَكُمْ: او الله تعالیٰ
ستاسو سره دے په علم او قدرت د هغه سره (زاد المسیر ص۳) شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه ثابت
قَالَ الْمُفَسِّرُونَ ...

الَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٦﴾

شپه کښے: او دا الله تعالیٰ پوهه دے په رازونو د سینو باندے:

اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا

ایمان راوړئ په الله تعالیٰ: او په رسول د هغه: او خرچ اوکړئ د هغه مال نه

جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ۚ فَالَّذِيْنَ

چه ګرځولی دے دی تاسو لره: خلیفه ګان په هغه کښے: پس هغه کسان چه

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿٧﴾

ایمان یے راوړے ستاسو نه: او خرچ یے کړی دوی لره اجر لوئی دے:

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ

او څه (عذر) دے: تاسو لره چه ایمان نه راوړئ په الله تعالیٰ: او رسول

يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ

بلی تاسو لره چه ایمان راوړئ په رب خپل باندے: او یقیناً

اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٨﴾

اخستے دے دلا وعده ستاسو نه که یئ تاسو ایمان راوړونکی:

هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖۤ اٰيٰتٍۢ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږی: په بنده خپل: آیتونه

بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

واضح: چه راوباسی تاسو لره د تورتمونو نه

اِلَى النُّوْرِ ۚ وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ

رڼا ته: او یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے

لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩﴾ وَمَا لَكُمْ اَلَّا

خامخا شفقت کونکے: رحم کونکے دے: او څه عذر دے تاسو لره چه

تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ

خرچ نه کوئ په لاره د الله تعالیٰ کښے او خاص الله تعالیٰ لره میراث

شرعی سره تفسیر دے د سلفو نه په علم سره والی دوی چه الله د دوی سره دے په علم خپل سره (محاسن التاویل ص۳۳) په اعتبار د تصرف سره (الفصل ص۲)

(سوال): دا خو تاویل دے په معنی د علم کښے او تاویل خو په صفاتو د الله تعالیٰ کښے خلاف دے د منهج د سلف صالحین نه او جهت دے.

جواب: ابن قدامه المقدسیؒ په کتاب "ذم التاویل" کښے جواب ذکر کړیدے چه دا تاویل نه دے ځکه چه تاویل اړول د لفظ دی د ظاهر خپل نه او د معنیٰ ظاهری معنیٰ هم داده چه په علم او قدرت سره د دوی سره دے ځکه لفظ د مَعَ د اختلاط (ګډیدلو) د پاره نه دے وضع شوے او که اومنلے شی چه دا تاویل د سلفو صالحینو نه نقل دے نو دے ته تاویل محمود وئیلے کیږی او هغه تاویل منع مذموم دے چه د سلفو صالحینو نه نقل نه وی (الحن ص...)

(ذوے منځ حاشیه)

وَاَنْفِقُوْا: اول توحید ذکر کړی او بیا انفاق. فائده: شیخ القرآن نور الله مرقده په "حفظ الدرر ص۱۱" کښے لیکلی دی چه دا دے وادے چه دلته نیمه طریقے د پاره د انفاق فی سبیل الله دی. اوله داده چه دا مالونه د الله تعالیٰ دی او تاسو یے کښے خلیفه ګان کړی یئ نو دے کښے د هغه د پاره چه تاسو په امر کوی او دوم وجه: مَا لَكُمْ اَنْ لَّا تُنْفِقُوْا کښے ده چه دا مالونه به پاتے شی ستاسو او تاسو ترینه تلونکی یئ او دے لګوی. او دریمه وجه دا قول د الله تعالیٰ دے "مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ" دا چه څه ورکے مثله چه دا مالونه ستاسو دی لیکن قرض ترینه ورکړی په لاره د الله تعالیٰ کښے چه زیات یے کړی تاسو لره او څلورمه طریقه دا قول د الله تعالیٰ دے "وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا" نو نفقه د دنیا ځه بلغا مُعجه (باقی په بل مخ)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا يَسْتَوِيْ
د اسمانونو او د زمکې دے، نه دي برابر
مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ
ستاسو نه هغه خوک چه خرچ ئے کړې مخکښې د فتح نه
وَقٰتَلَ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ
او جنګ ئے کړے، دغه کسان لوئی درجے والا دي د
الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَقٰتَلُوْا ؕ
هغه کسانو نه چه خرچ ئے کړے روستو د دے نه او جنګ ئے کړے
وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ
او د هر یو سره وعده کړے الله تعالیٰ د نیکئ (جنت) او الله تعالیٰ
بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ١٠ مَنْ ذَا الَّذِيْ
په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ خبردار دے، خوک دے هغه کس چه
يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ
قرض ورکړي الله ته قرض حسنه، نو زیات به ئے کړي
لَهٗ وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ١١ يَوْمَ تَرَى
د ده لره، او خاص د ده لره اجر عزتمند دے، په هغه ورځ چه وبه وینے ته
الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ
مؤمنان سړي او مؤمنانے ښځے، منډه به وهي رڼا د دوي
بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ
مخکښې د لاسونو د دوي نه او په ښي طرف د دوي (وبه ویلے شي) زیرے ستاسو
الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
نن ورځے باغونه دي بهیږي به لاندے د ونو د دې نه ویالے
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ١٢
همیشه به اوسیږي په هغوي کښے، دغه هم دا کامیابي لويه ده

ع

(بقیه) نغښے لګوي په لاره د الله کښے. او څخه وجه د اقول د الله تم دے مَا اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ جواب دے د هغوي چه وسوسے هغو زیږي په زړونو د دوي کښے چه یقیناً د خیرو کوم مومنو مالونه د پاره د دفع د مصائبو نه

بدے شه، نو جواب ئے دا شه چه څه تاسو لره په تقدیر کښے لیکلے شوي دي هغه نه د نغم کیږي په مالونو باندے. فائده: اَنْفَقَ آیت متعلق دے د تیر شوي ترغیب سره او دا هم د ترغیب سره متعلق دے یعني د ایمان نه راوړلو د پاره هیڅ عذر نشته او اسباب داعیه د ایمان شته دے. موجود دي.

(د دے ځو حاشیه)

مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ مراد نه دي برابر ستاسو نه هغه خوک چه خرچ کړے وي په مخکښې د فتحې او جنګ ئے کړے وي. د دے مقابل محذوف دے. وَمَنْ اَنْفَقَ بَعْدَ الْفَتْحِ او هغه خوک چه خرچ کړي پس د فتح نه (مدارک ص۲۳۳). فائده: د فتح نه مراد د بعضو په نزد صلح د حدیبیه ده. او د جمهورو په نزد فتح مکه ده. او مولانا حسین علي رحمه الله فرماني چه مراد د فتح نه غلبه د اسلام ده. اوګوره جواهر ص۲۲۲. فائده: ابن جزي رحمه الله فرماني چه د دے آیت نه دا راخستلے شي چه یقیناً هغه خوک چه خرچ کوي په سختئ کښے د لوئي اجر والا دي د هغه چا نه چه خرچ کوي په حالت د آسانتیا کښے (التسهیل).

وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى او د هر یو لے د دواړو نه وعده ورسره کړے ده الله تعالیٰ د جنت (زاد المسیر ص۲۳۳). اوګوره تفسیر توبه ص۱۱، انبیاء ص۱۰۱، فتح ص۲۹.

فائده: جناب مفتي صاحب رحمه الله فرماني: د صحابه کرامو رضي الله عنهم مقام د قرآن او حدیث نه معلومیږي نه د تاریخي روایاتو نه (معارف ص۲۹۹ ج۸). بیا فرماني ... ن صبا د تاریخ د دروغو پرشتیا، قوي او ضعیفو روایاتو په بنا، باندے بعضو خلقو بعض حضراتو صحابه رضي الله عنهم لره مورد د طعن او د الزام جوړ کړي دي. اول خو چه د دغو بنیاد چه په تاریخي روایاتو دے. (باقي په بل مخ)

(بقیه) نو بنیاد سے متزلزل دے او که چرے په کومه درجه کښے دغه روایات د بن السفات او منلے شی نو د قرآن او د حدیثو کهلاؤ نصوص او ارشاداتو خلاف دی دغه ته حیثیت نه پاتے کیږی. هغوی تاویل کښلے شوی دی (معارف صـ). فائده ۲ به د ابو سعید خدری رض نه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی لا تسبوا اصحابی فلو ان احدکم انفق مثل احد ذهبا ما بلغ مد احدهم ولا نصیفه (متفق علیه، مشکوٰة صـ ۵۵۳، ابن کثیر صـ ۲۹، الرحمن صـ). متن د الذی کی د آو ریعه وجه ده. تائید د سنه بقره صـ ۲۴۵، تغابن ۱۷، مزمل ۲۰. فائده ۳ به د کښے بشارت دے خرچ کونکو ته. او ملا ته زجر دے او تخویف دے منافقانو لره چه دعوی د ایمان کوی او ایمان پکښے نه وی او انفاق هم نه کوی.

يَوْمَ يَقُولُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ

کله چه اوائی: منافقان سړی: او منافقانے ښځے:

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ

هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے: انتظار او کړئ زمونږ چه لږ واخلو مونږ د

نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ

رڼړا ستاسو نه، او به وئیلے شی واپس لاړ شئ شا ته خپلو:

فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ۗ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ

نو ولټوئ: رڼړا لره: نو جوړ به کړے شی په مینځ د دوی کښے

بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ۗ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ

یو دیوال: هغه لره به دروازه وی: د ننه طرف د هغے نه په هغه کښے به رحمت وی:

وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ⑬

او بهر طرف د هغے: د طرف د هغه نه به عذاب وی:

يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۗ قَالُوْا

اوازونه به کوی دوی هغوی ته: آیا نه وو مونږ ستاسو سره: او به وائی هغوی

بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ وَ

ولے نه: او لیکن تاسو گمراه کړی وو ځانونه خپل: او

تَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ

انتظار مو کولو: او شک کولو تاسو: او دهوکه کړی وو تاسو لره

الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ وَ

امیدونو، تر دے چه راغے: امر د الله تعالیٰ: او

غَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ⑭ فَالْيَوْمَ

دهوکه کړی وو تاسو لره په الله تعالیٰ دهوکه ورکونکی: نو نن ورځ

لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ

نه شی اخستلے ستاسو نه: فدیه (جرمانه): او نه د هغو

(د دے مخ حاشیه)

قِيْلَ ارْجِعُوْا: ورته او به وئیلے شی چه واپس شئ په شا خپلو نو د لته رڼړا لټوئ. مطلب دا چه مرتد نه واپس شئ. کوم ځائی کښے چه مونږ ته دا رڼړا ورکړے شویده او هغه دنیا ده او د ایمان رڼړا راواخلئ. (اوگورئ صد ارك صـ ۲۲۵) دا په ورته د ټکے د پاره وئیلے شی اوگورئ بقره ۹ صـ ۱۵. بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ: د دے نه پس به د دوارو ډلو په مابین کښے دیوال حائل کړے شی. دا د جنت او د دوزخ په مابین کښے به وی چه په هغه کښے به دروازه وی. د دے دیوال اندرونی طرف ته به د الله رحمت وی او د باهر جانب به عذاب وی (ابو السعود صـ ۲۲۳) او دغه ته حجاب او اعراف هم وئیلے شی. اوگورئ اعراف

۴۶. فَتَنْتُمْ: په فتنه او شرك کښے غورزولی وو تاسو ځانونه خپل. په دے ایت کریمه کښے پنځه صفات د منافقانو ذکر شویدی. او په صـ ۱۵ کښے تخویف دے.

الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ مَأْوٰىكُمُ النَّارُ ۚ

کسانو نه چه کفر ئے کړے ، ځائ د اوسيدو ستاسو اور دے ؛

هِيَ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۵﴾

دا اور لائق دے تاسو لره ، او بد ځائ د ورتللو دے دا اور ؛

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ

آيا نه دے راغلے ؛ هغه کسانو ته ، چه ايمان ئے راوړے ، چه

تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ

عاجزه شي زړونه د دوی ، دپاره د ذکر د الله تعالیٰ ؛

وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا

او د هغه دپاره چه نازل شوي دي ؛ د حق نه ؛ او نه

يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ

کيږي ، پشان د هغه کسانو ، چه ورکړے شوي ئے کتاب

مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ

مخکښے د دے نه ؛ نو اوږده شوه په دوی باندے موده ؛

فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ

نو سخت شول زړونه د دوی ؛ او ډیر د دوی نه

فَاسِقُونَ ﴿۱۶﴾ اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي

فسق کونکي دي ؛ پوهه شئ چه يقيناً الله تعالیٰ تازه کوی ؛

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا

زمکه ؛ پس د وچوالی د هغے نه ؛ يقيناً واضحه بيان کړل

لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۱۷﴾

تاسو ته آيتونه ؛ دپاره د دے چه تاسو د عقل نه کار واخلئ ؛

إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَ

يقيناً صدقه کونکي سړي ؛ او صدقه کونکے ښځے ؛ او

هِيَ مَوْلٰىكُمْ ، دا اور لائق دے په تاسو باندے (خيرالقرآن) او کوري ابن کثير صفحه تسهيل صفحه ۹۰ . أَلَمْ يَأْنِ ، آيا نه دے راغلے وخت هغه کسانو ته الخ (مدارك صفحه ۲۲۶) ، دا زجر دے روستو د تخويف نه . اعْلَمُوا ، په دے کښے ترغيب دے قرآن ته په طريقه د مثال سره . إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ ، روستو د زجر او تخويف نه بشارت دے انفاق کونکو ته .

(د اشرف الحواشي حاشيه)

هُمُ الصِّدِّيقُونَ

دوی نهايت رشتوني دي چه دا مرتبه پس د مرتبے د نبوت نه . او کوري سورة نساء صفحه ۹۹ . وَالشُّهَدَاءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ (۱) شهادت کونکي په توحيد او رسالت سره (۲) شهادت کونکي په ورځ د قيامت په خلقو باندے په دعوت او تبليغ سره (۳) دعوت او بيان کونکي په دنيا کښے (۴) او قتل کړي شوي في سبيل الله په دے کښے دا ټول احتمالات جائز دي (احسن صفحه ۲۹۰) .

وَنُورُهُمْ

او رڼا د دوی ، مطلب دا دے چه دوی ته به رڼا په قدر د عملونو د دوی

أَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ
چه قرض ورکوی الله تعالیٰ ته قرض ښه زیات به کړے شی

لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَالَّذِيْنَ
دوی لره، او دوی د پاره اجر عزتمند دے، او هغه کسان چه

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ
ایمان یے راوړے دے په الله او په رسولانو د هغه، دغه کسان دوی

الصِّدِّيْقُوْنَ ۖ وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ
ډیر رښتونی دی، او شهداء دی په نزد د رب خپل

لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ۖ وَالَّذِيْنَ
دوی لره بدله د دوی ده، او رڼا د دوی ده، او هغه کسان چه

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ
کفر یے کړے دے او دروغ ګڼلی یے دی آیتونه زمونږ، دغه کسان خاوندان

ع ۳
۱۸

الْجَحِيْمِ ﴿۱۹﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا
د دوزخ دی، پوهه شئ یقیناً ژوند د دنیا دے

لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَ
لوبے دے او مشغله ده، او ښائست دے او یو بل باندے فخر کول ستاسو په مینځ کښے او

تَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ۖ كَمَثَلِ
سیالی د ډیرولو ده په مالونو کښے او په اولاد کښے، پشان د

غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ
فائده مند باران چه تعجب کښے اچوی زمیندارو لره شینکی د هغه، بیا اوچ شی

فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا ۖ وَ
نو وینے به ته هغه لره زیړ ګرځیدلے شوے، بیا شی ذرے ذرے، او

فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ وَّمَغْفِرَةٌ
په آخرت کښے عذاب سخت دے، او بخښنه ده

ورکړلے شی. اِعْلَمُوْٓا: دا
تعلق رحمه وجه ده انفاق نه پعنی
که په دنیا کښے خه ملاؤ نه شی
نو دنیا خه شئ نه دے په
آخرت کښے به د بیته لوئی اجر
ملاؤ شی. (انفضل ملخصًا)
پوهه شئ یقیناً ژوند
د دنیا دی لوبے دی په شان
د لوبو د ماشومانو او مشغله
ده پشان د مشغلے د ځوانانو
او ښائست دے په شان ښائست
د زنانو. او فخر کول دی په
مابین ستاسو کښے پشان د
تفاخر د همزولو او زیاتوالے
دے په مالونو او اولاد کښے
پشان د زیاتوال د دهقانانو
(صداف ملخصًا) اَعْجَبَ الْكُفَّارَ:
چه تعجب اچوی زمیندارو لره:
د کفارو نه زمینداران مراد دے
ځکه چه دے خپل فصل سرسبز
او شاداب او وینی نو انتهائی
خوشحالی ئے کیږی (جواهر ملخصًا)
فائده، بیکی مؤمنان د
دنیا د هر خوبصورت څیز نه د
الله تعالیٰ په قدرت او وحدانیت
باندے استدلال کوی لکه چه
ابونواس د ګل نرګس په تعریف
کښے وائی: عُيُوْنٌ مِنْ لُجَيْنٍ
شَاخِصَاتٌ: عَلٰى اَطْرَافِهَا ذَهَبٌ
سَبِيْكٌ ؛ عَلٰى قُضُبِ الزَّبَرْجَدِ
شَاهِدَاتٌ ؛ بِاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ لَهٗ
شَرِيْكٌ (روح) جواهر ملخصًا.
فائده: حاصل د مثال دا دے
چه باران او شی نو بوټی خائسته
پیدا شی بیا اوچ شی بیا ئے رنګ
بدل شی نو بیا ریزه ریزه شی
(باقی په بل مخ)

مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ

دَ جانبه دَ الله تعالیٰ نه ، او رضا دَ هغه وه ، او نه ده ژوند دُنیا وی :

اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ

مګر سامان دَ دهوکې ، منډې وهئ او مخکې کیږئ بخښنې ته

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ

دَ جانبه دَ رب ستاسو نه ، او جنت ته چې پلنوالے دَ هغه پشان دَ پلنوالي

السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۙ اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دَ آسمان او زمکې دے ، تیار کړے شوے دے دپاره دَ هغه کسانو چې ایمان ئې راوړے دے

بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ

په الله تعالیٰ او په رسولانو دَ هغه ، دغه فضل دَ الله تعالیٰ دے ، ورکوي ئې

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۱﴾

چا له چې اوغواړي ، او الله تعالیٰ خاوند دَ فضل لوئي دے :

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِى الْاَرْضِ وَ

نه رسیږي هیڅ مصیبت په زمکه کښې او

لَا فِىٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ

نه په نفسونو ستاسو کښې ، مګر لیکلے شوے په کتاب کښې مخکښې

اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۲۲﴾

دَ پیدا کولو دَ هغوی نه ، یقیناً دغه په الله تعالیٰ باندې آسان دي :

لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا

(خبر مو درکړو) چه خفګان نه کوئ په هغه نعمت چه فوت شو ستاسو نه ، او خوشحالي

تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ

(ونه کړئ) او نکړئ په هغه چه درکړے دي تاسو ته ، او الله تعالیٰ نه خوښوي دَ هر

مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَ

تکبر کونکي فخر کونکي سړي : هغه کسان چه بخل کوي او

(بقیه)

شي دا یګ انسان اول پیدا شي نو شا زمانه پورے تازه او خوشحاله وي بیا ورباندې زوړ والے او غم را شي نو او چیري او رنګ ئې زیړ شي او بیا ئې ورباندې ناشي بیا بوډا شي او مړ شي . (احسن بیان ۲۹) فائده : دا ده شکم آیت په آخر کښې تخویف اُخروي دے او په ۲۱ کښې ترغیب الی الآخرة دے (از ده صفحه حاشیه)

مَا اَصَابَ ، دا اخري څلورم وجه دَ انفاق ده کله مال خلک نه خرچ کوي چه په مصیبت کښې به بکار شي نو دا خبره غلطه ده کوم مصیبت چه راځي نو هغه مقرر دے هغه به مال سره نه دفع کیږي (احسن الترجمه)

لِّكَيْلَا تَاْسَوْا

دا دے متعلق محذوف دے . الوسي رحمه الله فرمائي چه خبر مو درکړو تاسو له په دے باندې دپاره دَ دے چه غم ژن نه شئ (روح ص)

فائده

په دے آیت کریمه کښې دوه فائدے دي ایمان راوړلو په تقدیر باندې بناء او بیا په دے کښې او په ۲۴ کښې به پته شي کاره صفتونو باندې زور نه ورکوي (وګورئ سورة نساء ع ۳۷ ص ۳۷ هم)

يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۗ وَمَنْ يَتَوَلَّ

أمر کوی خلقو ته : په بخل کولو باندے ، او چا چه مخ وار وګرځولو

فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ

نو یقیناً الله تعالیٰ هغه غنی ، ستائیلے شوے دے ؛ یقیناً

أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ

رالیږلی دی مونږ رسولان خپل ؛ په ښکاره دلیلونو سره او رالیږلے مونږ دے د دوئ سره

الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ

کتاب ؛ او تله ؛ چه اودریږی خلق ؛

بِالْقِسْطِ ۖ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ

په انصاف سره ، او پیدا کړیدے مونږ اوسپنه په هغے کښے (سامان) د جنګ

شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ

سخت دے او اور شته نفعے دی د پاره د خلقو ، او د دے د پاره چه ښکاره کړی الله تعالیٰ

مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّ

هغه څوک چه امداد کوی د هغه او د رسولانو د هغه په غیب سره ؛ یقیناً

اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا

الله تعالیٰ قوت والا زورور دے ؛ او یقیناً رالیږلی دی مونږ ، نوح او

وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ

او ابراهیم ، او ګرځولی دی مونږ په اولاد د دواړو کښے ؛ نبوت ؛

وَالْكِتَابَ ۖ فَمِنْهُمْ مُهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ

او کتاب لره ، نو بعضے د دوی نه هدایت موندونکی دی ؛ او ډیر د دوی نه

فَاسِقُونَ ﴿۲۶﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِمْ

فسق کونکی دی ؛ بیا پرله پسے اولیږل مونږ په روستو د دوی باندے

بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَ

رسولان خپل ؛ او په دوی پسے اولیږلو مونږ عیسیٰ علیه السلام ؛ د مریم ؛ او

تکذ أرسلنا ، دا دویم حصه د سورت ده او د انفاق نه پس قتال ذکر کوی .

د المیزان ، میزان تفسیر دے د کتاب ؛ انزل معهم بالقسط ، د آسمانی کتابونو او د انبیاء علیهم السلام د رالیږلو اصل مقصد خلقو لره په عدل او انصاف باندے اودرول دی ، (معارف ۳۳۰ ج ۸) وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ او پیدا کړیدے دے مونږ اوسپنه چه په هغے کښے سامان د جنګ سخت دے او نفعے دی د پاره د خلقو .

فائده :

چه سوچ او کړے شی نو ټول جنګی سامانان او د نفع سامان چه هم دے نو د اوسپنے نه جوړیږی . وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا ، د اجمال نه روستو تفصیل دے او دا دواړه ئے خاص ذکر کړل ، ځکه چه دعوت په طریقه د رد د مشرکانو سره او جهاد د وخت د نوح علیه السلام نه شروع دے او د دوی په اولاد کښے پیغمبران راغلی دی یعنی نوح علیه السلام دویم ابو البشر دے او ابراهیم علیه السلام خو ابو الانبیاء والرسل دے (احسن ص ۳۳۲ ج ۴)

وَقَفَّيْنَا :

او د دے تخصیص ئے په دے وجه سره کړے دے چه دا دعوت او مجاهده په ډیر محنت سره کړے وه (احسن

وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا: او په کومو تونو کښې کیناستل دوی دخان نه نوی شروع کړه. راغب رحمه الله فرمائي رهبانیت زیاتے کول دی په باره ولوه ستوماني کښے د ویرے د ویرے ویریده نه (مفردات ص ۲۰۴) اتین جنګا رحمه الله لیکی چې رهبانیت عبادت لولے دے په غرونو کښې او انقطاع دوه د خلقو نه په غرجو کښې او جدا کول د بنځو او پرېښودل د دنیا دی او معنی د ابتدعوها دا ده خان نه نے شروع کړه بغیر د امر د الله تعالی دوی لره (التسهیل ج ۴)

ابتدعوها: په دېکښې دوه توجیه دی اول دا چې رهبانیت کېرے په دوی کښې جائز وو نو د ابتداع نه مراد دا هغه کیفیت او طریقه بدلول او مقصد بدلول دی او دیته بدعت اضافیه ویلے کېږی دویم توجیه دا ده چې رهبانیت په دوی کښې د اصل نه منع وو نو د ابتداع نه ابتداع حقیقی مراد ده. إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ په دے استثنا کښے هم دوه احتماله دی. اول احتمال دا دے چې استثنا متصله ده او دا په اوله توجیه بانسته بنا ده یعنی رهبانیت په اصل کښے جائز وو او په دوی باندے نے فرض نه وو مګر صرف د الله تعالی د رضا د پاره یعنی رهبانیت مقید د جائز وو.

فَمَا رَعَوْهَا: ضمیر رهبانیت ته راجع دے یعنی دوی په رهبانیت د الله تعالی د رضا حاصلول پرېښودل او د هغے لحاظ ئے اونکړو او د دنیا د حصول د پاره ئے ذریعه اوګرځوله دویم احتمال دا چې استثنا منقطع ده او دا په دویمه توجیه بنا ده یعنی رهبانیت د اصل نه ناجائز وو معنی دا چې رهبانیت مونږ دوی لره نه وو جائز کړے لیکن فرض کړے مونږ په دوی د الله تعالی رضا حاصلول په طریقه د جهاد او د دعوت.

ءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ ۖ وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ
ورکړو مونږ هغه ته انجیل او واچوله مونږ په زړونو د
ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً
هغه کسانو کښې چې تابعداری ئے کړے وه د هغه نرمی او رحم کول او ګوښه نشینی
ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ
نوے جوړه کړې وه دوی هغه لره نه وو فرض کړے مونږ هغه په دوی باندے مګر لټول د
رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ
رضا د الله تعالی نو لحاظ اونکړو دوی د هغے په پوره لحاظ کولو د هغے
فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ
نو ورکړو مونږ هغه کسانو ته چې ایمان ئے راوړے وو د دوی نه بدله د هغوی او ډیر د
مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟
دوی نه فاسق کږلیچ دی. اے هغه کسانو چې ایمان ئے راوړے وېرېږئ
ٱللَّهَ وَءَامِنُوا۟ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن
د الله تعالی نه او ایمان راوړئ په رسول د هغه ورکوی به تاسو ته دوه برخې د
رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَ
رحمت خپل نه او وبه ګرځوی تاسو لره رڼا چې ځئ به په هغے سره او
يَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ
بخښنه به اوکړی تاسو ته او الله تعالی بخښونکے رحم کونکے دے د دے د پاره چې پوهه شی
أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّن
کتاب والا چې دوی قدرت نه لری په هیڅ شی د
فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ
فضل د الله تعالی نه او یقینا فضل په لاس د الله تعالی کښې دے ورکوی ئے
مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾
هغه چا ته چې اوغواړی او الله تعالی خاوند د فضل لوی دے

منزل ۷

فَمَا رَعَوْهَا ضمیر رضوان ته راجع دے په تاویل الخصلة ... ابن کثیر فرمائی هذا ذم لهم من وجهین ...

(۱) الابتداع في الدين ... فائده ... تعریف ...

سُوْرَةُ مُجَادِلَة: مدني سورت دے ۲۲ آیتونه او ۳ رکوع دي. د حديد نه پس نازل شوې ده. په ترتيب کښې ۵۸ ده د ترتيب نزول کښې ۱۰۵ ده پس د سُورة منافقون نه.
په اول آیت کښې لفظ د تُجَادِلُكَ راغلے دے او دا د دې سورت نوم دے او د دې مقصد زجر دے هغه خلقو ته چې د جهاد نه مخ اړوي. **دعوى**:

زجر دے ځيلانو او سستي کوونکو ته په جهاد کښې. **ربطونه**: (۱) هر کله چې الله سبحانه ذکر کړه ترغيب جهاد او انفاق ته په تېر سورت کښې نو دلته ئې زجر ورکړه ځيلانو او منافقانو ته. (۲) ... هغه کسانو له چې فساد اچوي په ما بين د مومنانو کښې. ... او فرمايل چې انفاق وکړئ چې جهاد وشي نو دلته ضعف کوي د هغه طريقې نه چې ... قسما ورا زي. (۳) ... دغه درې واړه وصفونه بيان شوي دي نو دلته ئې توضيح ذکر کړې حزب الله او حزب الشيطان ...

خلاصه: په دې سورت کښې دوه بابونه دي: اول تر ... پورې دويم تر آخره پورې. په اول باب کښې پنځه خبرے دي: (۱) رد د رسم باطله د ظهار: (۲) زجر او تخويف خلاف کوونکو ته. (۳) زجر په خلط ... (۴) زجر په خلط ... (۵) درے قاعدے د پاره د امتياز د مومنانو او منافقانو ... په دويم باب کښې زجر او تخويف ... منافقانو له او د هغوى ... او صفات قبيحه ...

تنفره منافقانو نه او د حزب الله صفتونه ...

امتيازات: (۱) مجادلے د ... صحابيه ... (۲) اقسام د ... (۳) حزب الشيطان او حزب الله ... (۴) درے قواعد د پاره

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قَدۡ سَمِعَ اللّٰهُ قَوۡلَ الَّتِىۡ تُجَادِلُكَ فِىۡ
يقيناً واورېدو الله تعالى: وينا د هغے زنانه چې بحث ئې کولو تاسره په باره د
زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِىۡۤ اِلَى اللّٰهِ ‌ۖ وَاللّٰهُ
خاوند خپل کښې او ګيله ئې کوله الله ته، او الله تعالى
يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ‌ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ ۢ
اورېدې خبرے اترے ستاسو دواړو، يقيناً الله تعالى اورېدونکے دے
بَصِيۡرٌ ۞ اَلَّذِيۡنَ يُظٰهِرُوۡنَ مِنۡكُمۡ مِّنۡ
ليدونکے دے. هغه کسان چې ظهار کوي ستاسو نه د
نِّسَآئِهِمۡ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمۡ‌ ؕ اِنۡ اُمَّهٰتُهُمۡ
ښځو خپلو سره، نه دي هغوى ميندے د دوى، نه دي ميندے د دوى
اِلَّا الّٰٓـىِٔۡ وَلَدۡنَهُمۡ‌ ؕ وَاِنَّهُمۡ لَيَقُوۡلُوۡنَ
مګر هغه زنانه چې زيږولي ئې دي دوى، او يقيناً دوى خامخا وائي
مُنۡكَرًا مِّنَ الۡقَوۡلِ وَزُوۡرًا‌ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ
بده د وينا نه او دروغ، او يقيناً الله تعالى
لَعَفُوٌّ غَفُوۡرٌ ۞ وَالَّذِيۡنَ يُظٰهِرُوۡنَ مِنۡ
خامخا معاف کوونکے بخښونکے دے. او هغه کسان چې ظهار کوي د
نِّسَآئِهِمۡ ثُمَّ يَعُوۡدُوۡنَ لِمَا قَالُوۡا فَتَحۡرِيۡرُ
ښځو خپلو سره، بيا دا ګرځي د پاره د هغه چې وئيلي ئې دي نو آزادول د
رَقَبَةٍ مِّنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّتَمَآسَّا‌ ؕ ذٰلِكُمۡ
مريي دي مخکښې د دې نه چې يو بل لاس ووهي، دا تاسو ته
تُوۡعَظُوۡنَ بِهٖ‌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ
وعظ کولے شي تاسو ته په دې، او الله تعالى په هغه عملونو چې تاسو ئې کوئ
خَبِيۡرٌ
خبردار دے.

منزل ۷

د اصلاح ... (۵) ګټه صفات د منافقانو (۶) لفظ د الله ... **شانِ نزول**:
يو صحابي (رضي الله عنه) اوس بن صامت رضي الله عنه د خپلے بي بي خولے لور د ثعلبه خوله د مالک رضي الله عنها سره په ... کوم معامله کښې تکرار اوشو نو هغوى د دے سره ظهار اوکړو ليکن روستو پښيمانه شو. د هغوى بي بي د ...

حسه رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه عرض ئې اوکړو اے د الله رسوله! اوس په خوانئ کښې شلمره
واده کړے وو او اوس چه کلاں بوډا شو او د ویړ د یو سور جوړه شوم نو هغه مالره د مور په شان مشابه کړه

خَبِيرٌ ۝٣ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ

خبردار دے: پس هغه څوک چه نه بیا موی: نو روژے د دوو میاشتو

مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ۖ

پرله پسې: مخکښې د یو بل لمسه کولو نه:

فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ

پس هغه څوک چه طاقت نه لری د روژو نیولو: نو طعام ورکول دی: شپیتو (۶۰)

مِسْكِينًا ۚ ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ

مسکینانو ته: دا د دے دپاره چه ایمان راوړئ: په الله تعالیٰ

وَرَسُولِهِ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۗ وَ

او په رسول د هغه: او دغه پولے د الله تعالیٰ دی: او

لِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٤ إِنَّ الَّذِينَ

دپاره د کافرانو: عذاب دردناک دے: یقیناً هغه کسان

يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا

چه خلاف کوی د الله تعالیٰ نه: او د رسول د هغه نه: ذلیل کړے شو: لکه چه

كُبِتَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَقَدْ

ذلیل کړے شوی هغه کسان: چه مخکښې د دوی نه وو: او یقیناً

أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ۚ وَلِلْكَافِرِينَ

رالیږلی دی مونږ: آیتونه واضح: او دپاره د کافرانو:

عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝٥ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ

عذاب خوارونکے دے: کله چه راپورته کړی د دوی لره: الله تعالیٰ

جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۚ أَحْصَاهُ

ټولو: نو خبر به ورکړی دوی ته: په هغه عملونو چه دوی کړی دی: راګیر کړی هغه لره:

اللَّهُ وَنَسُوهُ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

الله تعالیٰ: او دوی هیر کړی هغه عمل: او الله تعالیٰ په هر شی باندی:

زړه ئې پریکړو دے، حالات ډیر نهایت
قابل د رحم دی. نبی ﷺ ورته
وفرمایل چه زما رائے خو دا ده چه
اوس ته په هغه حرامه شوے یې. ما
اراه الا قد حرمت علیه، ولم اومر
فی شانک بشیئ. (خازن، معالم ص ۲۴)
باربار عرض کولو اے د الله رسوله!
چه مالره په شه صورت وی چه زه
دوباره د اوس سره کور کښې اباد شم
لیکن هر وار به هغوی همدغه جواب
ورکولو. هغه عاجزه مجبوره شوله
د الله تعالیٰ په مخکښې په عاجزئ او زارئ
سره د خپل غم اظهار کولو. د نبی
ﷺ او د دوی په مینځ کښې
باربار سوال او جواب اوشو او دغه
په مینځ کښې حوار به الله پاک د اظهار
وکړو. اخوا الله تعالیٰ د هغې الا او زارئ
قبوله کړه او د کفارے د ظهار حکم ئې
نازل کړو، او ئې فرمایل چه د کفارے
د ظهار نه پس هغه دوباره د خپل
خاوند سره اوسیدل شی. (جواهر
ص ۲۳) فائده: ظهار په مینځ کښې
ته مور یا خور ویل. مخکښې دا
حکم وو چه بیا به ښځه په شان د مور
یا خور اوسی نو د آیت هغه بیول
عمر حرامه وه. (افضل ص ۵۷).
یظهرون د ظهار نه ماخوذ دے
او ظهار د ظهر نه دے. ظهر په
اصل کښې ملا (شا) ته ویلے شی او
د کنایه وی د سورلئ نه او سور لی
نه مراد جماع کول دی. هر وړه د الله
اقل سره تشبیه وی چه او وائی ښځے ته
انت علی کظهر امی. او د ارنبا د
مور په خلقه چه نیا ذکر کړی او
یا مور نه او خور یا نور محرمانو
سره تشبیه ورکړی نو په هغې

کښې د اصل علم اختلاف دے. ابن کثیر رحمه الله وئیلی دی چه صحیح دا ده چه په هغې سره هم ظهار لازمیږی (احسن
ص ۳۱) ګوره د ابن کثیر ص ۳. فائده: په اول باب کښې بیان د حکم د ظهار دے بطور تمهید او بیا ئې کښې د
ظهار کوونکو دپاره تنبیه او د اصل حقیقت اظهار دے او د ځائے نه د رغبت په کفاره د ظهار دی. قد سمع الله

دسماع نه مجاز اقبول راے او اجابت مراد ده : تَحَاوُرَكُمَا : چه بحث کوی تاسره په باره د خاوند خپل کښې :
وَتَشْتَكِيْ : او ژړا ئے کوله الله تعالیٰ ته خاوند خپل د : تَحَاوُرَكُمَا : خبرے اترے ستاسو : فائده : حکایت

شَهِيدٌ ۝ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي

حاضر دے : آیا نه گورے ته چه یقیناً الله تعالیٰ پوهیږی په هغه څه چه په

السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ

آسمانونو کښې دی او په هغه څه په زمکه کښې دی : نشته کیږی

مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا

د جرگے د دریو نه : مگر الله تعالیٰ څلورم د هغوی دے : او نه

خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَىٰ

د پنځو کسانو نه مگر الله تعالیٰ شپږم د هغوی دے : او نه کم

مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ

د دیو نه : او نه زیات : مگر الله تعالیٰ د دوی سره دے :

أَيْنَ مَا كَانُوا ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا

چرته چه وی دوی : بیا به خبر ورکړی دوی له په هغه عملونو چه دوی کړی

يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۝

په ورځ د قیامت : یقیناً الله تعالیٰ په هر شی باندے پوهه دے :

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ

آیا نه گورے ته هغه کسانو ته چه منع کړے شویدی دوی : د جرگو کولو نه :

ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ

بیا راګرځی دوی هغه کار ته چه منع کړے شوی دی دوی د هغه نه : او زوړیږی جرگے کوی

بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

په گناه : او په ظلم کولو : او په نافرمانئ :

الرَّسُولِ وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا

د رسول الله باندے : او کله چه راشی دوی تا ته : دعا کوی تا ته په هغه چه

لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ وَيَقُولُونَ فِي

دعا نه ده کړے تا ته په هغه باندے الله تعالیٰ : او وائی دوی : په

کول ائے خالق ته او هغه ته خپل غم بنکاره کول جائز دی وگورئ یوسف ۸۶ صم : حَتَّىٰ أَنفُسِهِمْ : نه دی دوی میندے د هغوی : وگورئ احزاب ۶ : مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ : بد ه وینا چه شرعاً ناجائزه وی او عقلاً او طبعاً : وَزُورًا : او دروغ دی باطل گرزیدونکی د حق نه (روح المعانی) : يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا : دا گرزی دی باره د ما تولو د هغه وینا چه دوی ویلے ده (مدارک مظهری) : كَبِتُوا : ذلیله کړے شویدی دوی. په دے کښې د حد و دو ذکر کولو نه روستو مخالفت کونکو د حد و دو له تخویف دے د دنیا او د آخرت : أَلَمْ تَرَ : د لفظ د الم اول خطے دے او د ما قبل آیت تائید دے : إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ : مگر الله تعالیٰ د دوی سره دے چرته چه دوی وی. حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه اجماع ده په دے خبره باندے چه مراد په دے آیت سره معیت د علم د الله تعالیٰ دے او شک نشته په اراده کولو د دے کښې او لاکن اوریدل د الله تعالیٰ هم سره د علم د هغه نه محیط دی په دوی باندے او لیدل د الله تعالیٰ (نافذ) جلید ونکی دی په دوی کښې : فهو سبحانه مطلع على خلقه لا يغيب عنه من امورهم شيء (مظهری) : نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ : چه منع کړے شوی دی د جرگو کولو نه. وگورئ ۱۱۴ نساء : وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا ... : دعا کوی تا ته (فتح ۲۹۵) : سلام کوی تا ته په هغه طریقه چه سلام نه دے خودلے په هغے سره تا ته الله تعالیٰ : (احسن ۳۲) د السلام علیکم په ځائے السام علیکم وائی : سام مرگ ته وائی او بیا دا فخر کوی چه مونږ که نبی وے الله تعالیٰ به خبرے کړو او مونږ ته

سه خوځښت: زوال نشته نو باري تعالیٰ ورته وفرمائیل چه صبر وکړه جهنم ته به لاړ شي هغه نا کاره ځائے دے او
نا کاره خلقو لره تیار دے (فضل ...) یهود به چه نبي ﷺ والخطید ... نو السام علیك به ئې وئیلے او سام مرګ له

أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللَّهُ بِمَا

زموږ په خپلو کښې : ولې عذاب نه راکوي موږ ته : الله تعالیٰ : په هغه چه

نَقُولُ ۚ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ

موږ ئې وایو کافي دے دوی لره : دوزخ : ور ننوځي به دوی هغه ته :

فَبِئْسَ الْمَصِيرُ ⑧ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

نو بد ځائے دے (دا دوزخ) : اے هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے ،

إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ

کله چه جرګے کوئ تاسو : نو جرګے مکوئ د یو بل سره : په ګناه

وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَ

او په ظلم : او په نافرماني : د رسول ﷺ سره : او

تَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا

جرګے کوئ یو بل سره په نیکئ کولو : او په پرهیزګارئ : او ویرېږئ د

اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ⑨ إِنَّمَا

الله تعالیٰ نه هغه ذات دے چه خاص هغه ته به راجمع کولے شئ تاسو : یقیناً

النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ الَّذِينَ

دا قسم جرګے : د وسوسے د شیطان نه دي : د دې دپاره چه غمژن کړي هغه کسان چه

آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا

ایمان ئې راوړے دے او نه دے دا ضرر ورکونکے دوی ته : د هیڅ شي : مګر

بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

په اذن د الله تعالیٰ سره : او خاص په الله تعالیٰ دې توکل وساتي

الْمُؤْمِنُونَ ⑩ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا

ایمان داران ، اے هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دے : کله چه

قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ

وویلے شي تاسو ته : فراخي ورکړئ په ځایونو د کیناستلو کښې :

وجه اردا بیانوي هغوی ته په وهم
کښې اچولو چه دوی سلام اچوي
هغوی به نو اوس نبي ﷺ به ورته
علیکم وئیلو ، وګورئ خازن ۲۳۹/۴
ابن کثیر ص۳۲۴ ، قرطبي ... : په
بخاري او بل حدیث کښې راغلي چه
عائشې رضي الله عنها هغوی ته ووئیلے
السام علیکم ، لعنکم الله وغضب
علیکم ، نو رسول الله ﷺ
ورته اوفرمائیل چه دمه وکړه
اے عائشې ! لازم نه دی نرمي
سره او خیال وساته د سختئ او
بد ژبي وینا نه ، نو هغې اوویل
آیا تا نه اوریدل هغه چه دوی
وائي نو نبي ﷺ اوفرمائیل
او تا نه اوریدل هغه چه ما وویلے
رددت علیهم فیستجاب لي منهم
ولا یستجاب لهم فيّ ، (مشکوٰة
ص۳۹۸ باب السلام ۱) ؛ لولا یعذبنا
الله ؛ یعني وائي دوی په خپل
مابین کښې که دا نبي وے نو
عذاب به راغلے وے الله تعالیٰ
په هغه څه چه موږ ئې وایو راوړ
بیا ، (مدارك ص۳) ؛ یا ایها الذین
... : د دے ځائے نه د دے
قاعدے په لفظ د یا ایها الذین
سره د یاره د اصلاح د منافقانو
ذکر کوي ... : انما النجوی
یقیناً دا قسم جرګے ، نسفي رحمه الله
لیکي یعني په ګناه او په ظلم سره
(مدارك ص۳) ؛ یا ایها الذین
آمنوا : دا د اصلاح د
منافقانو د یاره دویم قانون
دے ، منافقانو به د رسول الله
ﷺ په مجلس کښې د هغوی
خوا ته کیناستل او ځائے به ئې
نه کولو ترڅو پورې چه د مشرانو صحابو ته په رانللو به هم هغوی هغه ځائے نه خالي کولو او هغه شانے
به هغوی ته ناست وو او په بعض اوقاتو کښې به مشران صحابه د ځائے نه ملاویدو په وجه
ولاړ پاتے شو ، په دے بانډې دا آیت نازل شو ، (جواهر ص۱۲۳۵) ؛

فَافْسَحُوْا يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ

نو ځائی ورکړئ : فراخی به درکړی الله تعالیٰ تاسو لره : او کله چه وویلی شی :

انْشُزُوْا فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

پاڅئ د ځائے نه نو پاڅئ : پورته به کړی الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

ایمان ئے راوړے ستاسو نه ، او هغه کسانو لره چه ورکړے شوے هغوی ته علم :

دَرَجٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾

ډیرے درجے : او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسے کوئ : خبردار دے :

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَاجَيْتُمُ

اے ایمان والو : کله چه تاسو پټ خبرے کوئ :

الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

د رسول الله سره : نو وړاندے ئے کړئ د پټ خبرے ستاسو نه :

صَدَقَةً ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ

صدقه لره : دا غوره دی تاسو لره : او ډیره پاکیزه دی :

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

نو که ونه مومئ (صدقه) : پس یقیناً الله تعالیٰ : بخښونکے :

رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ

رحم کوونکے دے : آیا وویریدئ تاسے : چه وړاندے کړئ تاسے : مخکښ

يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ

د پټ خبرے ستاسو نه ، صدقو لره : پس کله چه تاسے ونکړو

تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَاَقِيْمُوا

تاسے دا کار (او معاف کړو) او مهربان شو الله تعالیٰ په تاسے : نو ودروئ

الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ

مانځه لره : او ورکوئ زکوٰة لره : او اطاعت کوئ د الله تعالیٰ :

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اذا : دا د اصلاح دویم قانون دے. فائده :- مفسرین رحمهم الله فرمائی چه کومه آیت وجوب منسوخ شوے دے په دا روان آیت باندے او کوری ابن کثیر (معارف) ; شیخ المشائخ مولانا حسین علی رحمه الله فرمائی چه دا آیت منسوخ شوے دے ځکه دا حکم استحبابی وو ، او دے استحباب اوس هم باقی دے . (بلغة الحیران) قتاده رحمه الله فرمائی چه دا آیت په مجالسو د ذکر کښې راغلے دے (ابن کثیر) امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه زه وایم چه صحیح دا ده چه دے آیت کښې چه دا عام دے په هر هغه مجلس کښې چه مسلمانان پکښې راجمع شوے وی د خیر د پاره او د اجر د پاره خواه مجلس د جنګ وی او که مجلس د ذکر وی او که مجلس د ورځے د جمعے وی . (قرطبی) . فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا الخ ، فائده : منافقانو به د ے باندے عمل اونکړو د وجه د نفاق نه لیکن مومنانو هم عمل اونکړو د دے وجے نه چه فرصت د صدقے ورکولو ورته ملاؤ نشو ځکه چه حکم تیر شو په بیړه زر (احسن التفاسیر) . فائده : مفسرینو رحمهم الله په تفسیر د دے آیت کښې دغه روایتونه د علی رضی الله عنه نقل کړیدی چه یوازے هغه عمل کړے وو په دے آیت باندے او نورو صحابو ته موقعه ملاؤ نشوه لیکن هغه روایت د لفظ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا نه مخالف دے او قرطبی رحمه الله ویلی دی چه هغه روایت ضعیف دے . او دویم روایت په سند د امام ترمذی او ابن جریر رحمهما الله سره نقل دے چه په صحیح کښې ثابت شوے دے چه علی رضی الله عنه په دے عمل نه دے کړے لیکن نبی علیه السلام ته ئے مشوره ورکړه چه دا صحابه کرام خو د دے طاقت نشی لرلے نو الله تعالیٰ د هغه د وجه نه تخفیف راوستلے دے . (احسن التفاسیر) ، احقر وائی او کوری قرطبی ، ترمذی ، ابن جریر .

وَرَسُولَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ (١٣)

او د رسول د هغه: او الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسے کوئ؛

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ

آیا نه دی کړے نظر تا هغه کسانو ته: چه دوستی کړے ده د هغه قوم: چه غضب کړے

ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ

الله تعالیٰ په هغوی باندې: نه دوی له تاسے نه؛ او نه د هغوی نه؛

وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ

او قسمونه کوی: په دروغو باندې؛ او دوی

يَعْلَمُونَ (١٤) أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا

پوهیږی: تیار کړے دے الله تعالیٰ دوی لره عذاب:

شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟

سخت؛ یقینًا دوی: بد دی هغه عملونه چه دوی ئے

يَعْمَلُونَ (١٥) ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً

کوی: نیولی دی دوی: قسمونه خپل: ډال؛

فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ

نو منع کوی خلق: د لارے د الله تعالیٰ نه، نو دوی د پاره عذاب:

مُّهِينٌ (١٦) لَّن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ

خوارونکے دے؛ هیڅ به دفع نکړی د دوی نه، مالونه د دوی؛

وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ

او نه اولاد د دوی، د (عذاب) د الله تعالیٰ نه هیڅ هم. دغه کسان

أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ (١٧)

خاوندان د اور دی: دوی به په هغه کښې همیشه اوسیږی؛

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ

کومه ورځ چه راپورته کړی دوی لره الله تعالیٰ؛ ټول: نو قسمونه به کوی هغه ته؛

أَلَمْ تَرَ: د دے ځائے نه تر آخره پورے دویم باب دے او په دے کښې قبا حتونه د منافقانو ذکر کوی لکه څنګه چه خلاصه کښې بیکلی شوی دی او په آخر کښې بایکاټ دے: ارد ایه دریم مخ

ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا: غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مراد د دے نه یهودیان دی لکه چه په دے آیتونو کښې په هغوی باندې د غضب ذکر شوے دے۔ بقره ۹۰، ۶۱ متحنه ۱۳۔ فَيَحْلِفُونَ لَهُ: نو قسمونه به کوی الله تعالیٰ ته لکه چه مشرکان به هم وائی چه مونږ شرک نه دے کړے: دګورئ انعام ۲۳: حافظ رحمه الله فرمائی چه چا په کوم عمل باندې ژوند تیر کړے وی نو په هغه باندې به مړکیږی او په هغه باندې به بیا ژوندے کیږی؛

(ابن کثیر ص ۳۲۸)

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللهَ : په دې آيت کريمه کښې سخت زجر دے خلاف کونکو ته عموماً په هر دور کښې چه وي او په مثل آيت کښې خصوصاً زجر دے خلاف کونکو دوے اُمت ته . او ګوره سورة توبه ۱۰۳ . كَتَبَ اللهُ

كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ
لکه چه قسمونه کوي دوي تاسو ته : او ګمان کوي چه يقيناً دوي

عَلَىٰ شَيْءٍ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْكَاذِبُونَ (١٨)
په څه شي (فائده) باندې دي ، خبردار يقيناً دوي : هم دوي دروغ ويونکي دي :

اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ
غلبه کړې ده په دوي باندې شيطان : نو هير کړے ئې دوي نه

ذِكْرَ اللهِ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا
ذکر د الله تعالیٰ ، دغه کسان ، ډله د شيطان دي : خبردار

إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ (١٩)
يقيناً ډله د شيطان ، دوي تاوان کونکي دي :

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللهَ وَرَسُولَهُ
يقيناً هغه کسان چه خلاف کوي : د الله تعالیٰ او د رسول د هغه :

أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ (٢٠) كَتَبَ اللهُ
دغه کسان په ډيرو ذليلانو کښې دي : ليکلي دي : الله تعالیٰ :

لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللهَ قَوِيٌّ
چه خامخا يقيناً غالب به کېږم زه ، او رسولان زما : يقيناً الله تعالیٰ قوت والا

عَزِيزٌ (٢١) لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللهِ
زورور دے : بيا به نه مومے ته داسے قوم چه ايمان راوړي په الله تعالیٰ :

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ
او په ورځ د روستنۍ : چه دوستي به کوي د هغه چا سره چه خلاف کوي :

اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ
د الله تعالیٰ او د رسول د هغه سره ، او اګر که وي هغوي : پلاران د دوي :

أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ
يا ځامن د دوي : يا ورونه د دوي : يا قبيله د دوي :

منزل ۷

لره حمد ثنا . او د اهل اسلام د پاره بشارت ذکر شوے دے . الله تعالیٰ په يوم الحشر ليکلي دي پاڼے فيصله فرمائيلي ده چه آخري غلبه به زما او د زما د رسولانو او د هغوي تابعينو نصيب کيږي ځکه چه الله تعالیٰ فقط د قوت او د شوکت او د عزت او د غلبے مالک دے الخ (روح المعاني ۱۳۶)

لَا تَجِدُ قَوْمًا : هر کله چه په سورت کښې د خلاف کونکو سره اوصاف ذکر شو ، نو اوس ترغيب ورکوي مؤمنانو ته چه تعلق سره د هغوي نه او د نورو باتيانو سره د هغوي نه . سورة توبه ۲۳ هم وګورئ . مفتي صاحب رحمه الله ليکلي دي چه د مسلمان د دښمنانو دوستي د کوم کافر سره نشي کيدے (معارف القرآن ۳۴۲) د سهل رحمه الله نه نقل شوي دي فرمائي چه څوک ايمان صحيح کړي او توحيد خالص کړي نو هغه الفت نه حاصلوي کوم بدعتي نه او نشي ورسره پوهاڅے کيني او نشي ورسره خوراک کوي او نشي ورسره سکالے کوي او نشي ورسره سلګوے ښکاري او نه ښکاره کوي هغه ته د نفس خپل نه دښمني او بغض او ځکه چه څوک مداهنت او کړي بدعتي ته سلب به کړي الله تعالیٰ د ده نه خوند د سنتو او چا چه خان محبوب کړو بدعتي ته طلبو لپاره د عزت د دنيا يا غنا سامان د دنيا ذليل به کړي ده لره الله تعالیٰ په سبب د دغه عزت او فقير به ئې کړي په دغه غنا باندې او چا چه بدعتي ته وخندل نو وباسي الله تعالیٰ

رڼا د زړه د دوي نه ومن لم يصدق فليجرب (روح ۳۶) او وګورئ مدارك ، مسائل السلوك ۳۶ . پس د ۳۶) چه فضل خپل سره (النفل ۲۶) په کتاب سره چه راليږلے دے په دوي کښې ژوندي زياره . (مدارك) مراد د روح نه قرآن دے په روايت د ترتيب سره نو اشاره ده چه تقويت د ايمان په قرآن کريم سره

هم ربقیه ذوے هم) سوره راغلی (الحشر ۳) ... رضی الله عنهم ... فتحهنا ... احترم ... الله
... صدرالشانیه ... ۱۰ ... بعون ... بمقام توحید ... او ترجمه ... خالی ... ده ...

أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَ
دغه کسان لیکلے دے الله تعالیٰ په زړونو ددوی کښ ایمان او

أَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ
مضبوط کړی دی دوی لره په فیض غیبی ... او داخل به کړی دوی لره

جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ
باغونو ته بهیږی به لاندے ددوو وخونه ... ولے

خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَ
همیشه به وی په هغو کښ راضی دے الله تعالیٰ ددوی نه او

رَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ
دوی راضی دی د هغه نه دغه کسان ډله د الله تعالیٰ ده

أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾
خبردار! یقینا ډله د الله تعالیٰ خاص دوی بریالی دی

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه شے چه په اسمانونو کښ دی او هغه چه په

الْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١﴾
زمکه کښ دی او خاص هغه زورور حکمت والا دے

هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا
خاص هغه ذات دے چه را وایستلی دی هغه کسان چه کفر یے کړے دے

مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن دِيَارِهِمْ
د اهل کتابو نه د کورونو ددوی نه

لِأَوَّلِ الْحَشْرِ ۚ مَا ظَنَنتُمْ أَنْ
په اول جمع کیدو کښ گمان نه کولو تاسو چه

منزل ۷

سُورَةُ الحشر: مدنی سورت دے پس د مجادله نه ... ترتیب کښ او په نزول کښ (۱۰۱) دے پس د سورة بینة نه. الحشر لفظ په ۲ ایت کښ راغلے دے

دعوے: الزجر ... تخویف ...

ربطونه: (۱) په دے سورت کښ مثال د تخویف دنیوی دے پس د زجرونو ... د مخکښی سورت دیارو. (۲) مخکښی سورت ختم شوے په اولئک حزب الله ... فرمائی چه حزب الله هغه خلق دی چه د الله تسبیح بیانوی. (۳) مخکښی د منافقانو د صفات ذکر شوی وو ... دیارلس صفات ذکر کوی. (۴) هلته یے اوفرمایل حزب الله ... فرمائی اتقوا الله ... (۵) هلته یے حزب الله او حزب الشیطن ... ذکر کړه ... اصحب الجنة او اصحب النار ... ذکر کوی ...

خلاصه: په سورة کښ دوه بابونه دی اول ... دے په کښ ... خبرے ذکر دی: (۱) مسئله د توحید ... (۲) واقعه د بنو نضیر د ... تخویف ... (۳) تقسیم د مال فئ او ... د صحابو ... دویم باب ... (۱) زجر او دیارلس خبائث د منافقانو ... (۲) تخویف دنیاوی ... او اخروی ... (۳) ترغیب اخرت ته ... (۴) ترغیب قران پاک ته په مثال ورکولو سره ...

امتیازات: (۱) جلا وطنی د بنو نضیر ... (۲) دیارلس صفات د منافقانو (۳) ... (۴) مسئله د توحید ... (۵) الاسماء الحسنی ... (۶) اوصاف د صحابه کرامو ... (۷) عظمت د قران پاک ... تقسیم د مال فئ ...

تشبیح ... : پاکی بیانوی الله تعالیٰ لره هغه چه په اسمانونو کښ دی او هغه چه په زمکه کښ دی ... حال ...

اوخله په زبان قال سره ذکر دی ۔۔۔ اعتراض ، په ځینې وخت کې اعتراض دی چه د بنو نضیر و شر ل ظلم وسے نو جواب
راغے چه اللہ تعالیٰ د ظلم کولو نه پاک دے اهغه خپل عزت حاصلولو د پاره دا نکوی هغه خو عذیز دے او بے فائدہ

کار هم نکوی ځکه چه هغه حکیم دے۔
هُوَ الَّذِیْٓ اَخْرَجَ ۔۔۔ واو تخویف
دُنیاوی دی یعنی اوله سزا نمونه ده او الَّذِیْنَ
کَفَرُوْا نه یهود د بنو نضیر مراد
دی۔ **واقعه**:۔ تفسیر
سراج منیر (۲۵۵) نه او ابن کثیر
(۳۳۲) نه د بنو نضیر و تفصیلی
واقعه ذکر کړے ده۔ حاصل ئے
دا دے چه دوی د نبی صلی الله علیه وسلم سره
اول عهد کړے وو چه مونږ به
یو بل سره جنګ نه کوو او نه به
د یو بل د دشمن سره ملګرتیا
کوو لیکن د اُحد د غزوه نه روستو
دوی د مشرکین مکه سره د
ملګرتیا وعده وکړه او د نبی علیه السلام
د وژلو اراده ئے اوکړه نو نبی علیه السلام
اول کعب بن اشرف د محمد بن مسلمه
رضی الله عنه په ذریعه قتل کړو او بیا ئے
سره د صحابه کرامو نه د بنو نضیر
د قلعه نه لښکر په شپږ ورځے
محاصره وکړه نو دوی د صلحے کولو
مطالبه وکړه نو نبی علیه السلام د صلح اړول
نه انکار اوکړو او دوی په جلاوطن
کولو سره او اجازت ئے ورکړو چه په
اوښ باندې چه څومره سامان تړلے
او وړلے شی نو هغه ته اجازت دے
د اوړلو ۔ نو هغوی خپلے کورونه په خپلو
لاسونو سره اوشړول او د مومنانو
نه ئے هم مدد طلب کړو او لرګی وغیره
ئے په اوښانو باندې بار کړل او اکثر
کسان د دوی په شام کښې اذرعات
او اریحا مقام ته لاړل او دوه کورنۍ
د دوی (آل د بنی حقیق او آل د
حیی بن اخطب) خیبر ته لاړل او څه
خیبر مقام ته لاړل او د هغوی
باقی منقول او غیر منقول جائیداد
نبی صلی الله علیه وسلم ته په مال فئ کښې پاتے شو او منافقانو د مدینے د هغوی سره د مدد کولو لوظ کړے وو لیکن هر کله چه هغوی د
مدینے نه اوشړلے شول نو منافقانو هیڅ امداد اونکړو او مومنانو ته د هغوی منافقت هم ښکاره شو۔ (احسن ۲۳۳)
فائده:۔ ابن اسحاق رحمه الله ویلی دی چه غزوه د بنو نضیر و په ربیع الاول سنه ۴ هـ کښې وه او نبی علیه السلام دوی سره ۔۔۔

يُخْرِجُوا وَظَنُّوٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ
راوباسلے شی دوی : او دوی ګمان کړے وو چه یقیناً دوی لره : منع کوونکی دی کلاګانے د دوی
مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ
(د عذاب) د الله تعالیٰ نه : نو راغے دوی ته (عذاب) د الله تعالیٰ : د داسے ځائے نه چه دوی
يَحْتَسِبُوْا ۙ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ
ګمان نه کولو : او واچولو الله په زړونو د دوی کښې : ویره :
يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي
وړانول ئے : کورونه خپل : په لاسونو خپلو : او په لاسونو
الْمُؤْمِنِيْنَ ۖ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۲﴾
د مومنانو : نو عبرت واخلئ اے خاوندانو د بصیرت :
وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ
او که چرے نه وے لیکلے الله تعالیٰ : په دوی باندې : شړل د وطن نه
لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي
نو خامخا عذاب به ئے ورکړے وو دوی ته په دنیا کښې : او خاص دوی لره : په
الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
آخرت کښې عذاب : د اور دے : دا عذاب په دے وجه چه یقیناً دوی
شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ
خلاف کړے دے د الله تعالیٰ : او د رسول د هغه نه : او چا چه خلاف وکړو د
اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾
الله تعالیٰ : پس یقیناً الله تعالیٰ : سخت عذاب ورکوونکے دے :
مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا
هغه چه تاسو په کمی کړی دی : د ونو د کهجورو نه : یا پریښی دی تاسو هغه
قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ
ولاړے : په بیخونو د هغو : نو دا په حکم د الله تعالیٰ دی :

وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٥ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ
او دَ دې دَپاره چه رسوا کړي الله تعالیٰ فاسقانو لره ؛ او هغه مال چه واپس کړے الله تعالیٰ
عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ
په رسول خپل : د دوی نه ، نو نه دي زغلولي تاسو
عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ
په هغه باندې : هیڅ آسونه : او نه اوښان : او لاکن
اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ
الله تعالیٰ زور اور کوي رسولان خپل : په هغه چا باندې چه وغواړي ؛
وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٦ مَآ
او الله تعالیٰ : په هر شي باندې قدرت والا دے : هغه مال چه
اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ
واپس کړے الله تعالیٰ : په رسول خپل : د خاوندانو
الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى
د کلو نه ، وخاص د الله دپاره دي ، او د رسول دپاره دي ، او دپاره د خپلوانو د هغه
وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ
او یتیمانو دپاره ؛ او مسکینانو دپاره ؛ او مسافر دپاره ؛
كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ
د دې دپاره چه نشي آړول راړول : په مینځ د غنیانو کښې :
مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۗ
ستاسو نه : او هغه حکم چه درکوي تاسو ته رسول ﷺ ، نو ونیسئ هغه :
وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا
او هغه چه منع کړي تاسو د هغه نه ، نو منع شئ : او ویریږئ
اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝٧
د الله تعالیٰ نه ؛ یقیناً الله تعالیٰ د سخت عذاب والا دے ؛

منزل ۷

محاصره وکړه او د اسلام ... اوبل حشر په زمانه د عمر رضی الله عنه کښې د خیبر نه شام ته ... وليكن تحويله خيبر الى ... فرمائي چه ... خلاف دے او بل وايي د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې یهود د خیبر نه ... شوی وو (جواهر) یعنی اول حشر چه ... تو وړی شکست اوکړو (فصل ...) ؛ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ؕ نو عبرت حاصل کړئ اے خاوندانو د بصیرت او د ... فائدہ : اعتبار ... ته وایي ... دلالت کوي په انتقال او تلو له عبور ... ته (راغب) ... عبرة او ... د ... او ... وار ... اعتبار او عبرت ... د ... معلوم ... معلوم شي غیر معلوم ته په طریقه د تفکر او سوچ . راغب ... فرمائي : والاعتبار والعبرة بالحالة التي يتوصل بها من معرفة المشاهد الى ما ليس بمشاهد قال ان في ذلك لعبرة . فاعتبروا يا اولي الابصار (مفردات) ؛ فائده : مفسرین رحمهم الله فرمائي چه دا دلیل دے په جواز د قیاس او په حجت د قیاس . وګوره مدارک ، بحر المحیط ، جصاص ، مظهري ، تفسیر احکام القرآن د کیا هراسی ... البیان ... ؛ فائده : په دې آیت کښې سبب د عذاب ذکر دے او په دې کښې دفع د سوال دے چه فساد نه دے بلکه په حکم د الله تعالیٰ سره شوے دے . مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ ... په دې کښې ارشاد دے تقسیم د مال فئ ته ، او فرق ته اشاره ده په مینځ د مال فئ او غنیمت کښې . فائده : مال فئ هغه مال دے چه شي چه د قتال او جهاد نه بغیر د کفارو نه د مسلمانانو لاس ته راشي لکه چه یهود د بني نضیر د مسلمانانو د حملې نه مرعوب شول او خپل مالونه ئې بغیر د جنګ نه مسلمانانو ته حواله کړل (جواهر) ؛ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى : د کلو والو نه لکه اهل فدك او عرینه او بني قریظه وغیره (جواهر) ؛ فَلِلّٰهِ : دلته د الله تعالیٰ ذکر د برکت شوے دے او بیائے پنځه مصارف ذکر کړي دي ...

الحشر ...

اود نبی اکرم ﷺ د تشریف اوړلو نه پس په هغوی د دا امر عرفی طلاع شو ــه امنت د فقراؤ محض حیثیت د
فقیر ئی او احتیاج په مالی فئ کښی ئی د هٔ او دوی سره نه د فقراؤ او مسکینو سره ملګرو کښی مقدم کړلے شو د کوری

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا
(د مالو نو) د پاره د فقیرانو مهاجرینو هغه کسانو دی چه ویستلی شوی دی

مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ
د کورونو خپلو نه : او د مالونو خپلو نه ، چه لټوی ،

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا وَّ يَنْصُرُوْنَ
فضل د الله تعالیٰ : او رضا د هغه : او امداد کوی ،

اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ۸
د الله او د رسول د هغه : دغه کسان دوی رښتونی دی :

وَ الَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَ الْاِيْمَانَ
او هغه کسان چه ځائی نیولے ئے کور (مدینه) کښی او اخلاص کړے ئے ایمان

مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ
مخکښی د راتللو د دوی نه ، خوښه ساتی د هغه چا سره چه هجرت ئے کړے دے

اِلَيْهِمْ وَ لَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ
دوی ته : او نه مومی دوی : په سینو خپلو کښی :

حَاجَةً مِّمَّاۤ اُوْتُوْا وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى
تنګی خفګان د هغه نه چه ورکړے شی دوی ته : او غوره کوی : په

اَنْفُسِهِمْ وَ لَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ؕ۫
ځانونو خپلو باندی (نورو) اګرچه وی په دوی باندی : او لوږه ،

وَ مَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
او هر څوک چه بچ کړے شو : د بخل د نفس خپل نه : نو دغه کسان : دوی

الْمُفْلِحُوْنَ ۚ۹ وَ الَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ
بریالی شونکی دی : او هغه کسان چه راغلی : راوروستو

بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ
د دوی نه : وائی دوی : اے ربه زمونږه ! بخښنه وکړه مونږ ته : او

منزل ۷

معارف ﷺ ۳۲۰ : لِلْفُقَرَآءِ : ذا ئی ،
د پاره دو دے چه ښی اوځول اوځول
په میراث د غنیا نو ستا ہے کښی اسلام
سر ﷺ ۳۲۹ : مفتی صاحب رحمه الله
په سر خطی کښی لیکلی دی : او دغه
په ذخیره اندازی باندی د اسلامی
قوانینو پابندی . (معارف ﷺ ۳۲۹)
وَمَاۤ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ ؕ مفسرین
رحمهم الله فرمائی چه د الفاظ عام دی
ټولو اوامرو د قرآن او سنت
ته او مالی فئ کښی داخل دے .
او عام دے ټولو نواهیو لره ،
وګورئی معالم ، ماجدی ﷺ ،
تسهیل ﷺ ، مدارک ﷺ ، روح
ﷺ ، خازن ﷺ ، سراج منیر
ﷺ ، الهام ﷺ ، حدیث شریف
کښی په روایت د ابو هریره رضی الله عنه
رازی مذکور دے چه رسول الله ﷺ فرمائی : هر کله
چه خه تاسو ته د امر وکړم نو
په هغه باندی عمل د استطاعت
سره عمل کوئی او د کوم نهی نه چه
منع کړم نو د هغه نه ځان
بچ وساتئی (بخاری ﷺ) ،
لِلْفُقَرَآءِ اٰمنه ۳ د ابدال د دے
قول نه : وَ لِذِی الْقُرْبٰی الخ ګویا
کم او وسطے شو چه مراد په دے
ځلورو قسمونو د فقیران مهاجرین
هغه دی چه دا صفات ئے وی
(اکبیر ﷺ) ، وَ الَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ
د اعطف دے په الْمُهٰجِرِيْنَ
باندی او په دے کښی پنځه اوصاف
د انصارو دی : معنی ئے دا ده
چه سکونت ئے اختیار کړے
په مدینه کښی او خالص کړے ئے
وے ایمان خپل الخ د

راتللو د مهاجرینو نه ، وګورئی مدارک ﷺ ، حَاجَةً : کینه ، غضب ، خفګان ، تنګی : وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ ،
او غوره کوی په خپلو ځانونو باندی نورو لره اګر که دی په دوی باندی لوږه عربی ، حاجت ، فاقه : جناب مفتی صاحب
رحمه الله په معارف ﷺ ۳ کښی په دے ځائے باندی ګڼ تعداد د ایثار د صحابه کرامو عموما او خصوصا د انصارو

رضي الله عنهم ذکر کړے دے هغه له وګوره ... او نصرت کښې هم ذکر کړي وَالَّذِينَ جَاءُوا مِن بَعْدِهِمْ : په دے آیت کریمه کښې دریم قسم مصرف د مال فئ ذکر کوي چې هغه تابعدارۍ کونکي او دعا کونکي دي صحابه کرامو رضي الله عنهم ته ترقیامته پورے : دا درے قسمه سورة توبه ۱۰۰ کښې هم ذکر دي. غِلًّا : خیانت، کینه. فائده : دا آیت عام دے تولو تابعدارو کونکو ته چې د راز ترقیامته پورے. سراج منیر. فائده : په دے آیت کریمه کښې تعلیم د هغه خلقو د دی په دعا کولو ته صحابه کرامو ته او زړه صفا کول دی د بغض د هر یو کس د هغوی نه (روح ۲۸ ، مسائل السلوک ۳) فائده : د ابن عباس نه روایت دے چې خلقو ته امر شوے چې استغفار غواړي د یاره د ملګرو د نبي ﷺ نو دوي ورته کنځل او وهل ... نو بیا ئې شروع کړه وګوره روح ۲۸ ، مدارک ۳ درمنثور ۴۶ فائده : او دے نه استدلال کړے دے امام مالک رحمه الله د دے آیت کریمه نه چې څوک رافضي چې د زړه کښې وي نو د صحابه کرامو نه او یا شے په زړه کښې د هغوی نه خیر او کینه وي او یا د رسول ﷺ بغض کوي نو په مال فئ کښې د هغه برخه نشته. صفات چې ذکر کړي الله تعالی د روستنو خلقو د پاره په دے آیت کریمه کښې وګوره ابن کثیر ۳ ، تسهیل ۱۱ ، خازن ۴ ، معارف ۳ ، قرطبي ۱۸ ، جواهر ۱۲ ، احسن ۱ ، عثماني ، الهام الرحمن ۵ : أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا : د دې نه دریم باب وسه او لاړ د صفات قبیحه د منافقانو ذکر کوي لکه چې مخکښې خلاصه کښې ذکر شوي دي.

لِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَ

ورونو زمونږ ته هغه کسانو ته چې مخکښې تېر شوي دي زمونږ نه په ایمان سره او

لَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ

مه ګرځوه په زړونو زمونږ کښې خیره کینه د هغه کسانو دپاره چې

آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾

ایمان ئې راوړے دے اے ربه زمونږه یقیناً ته شفقت کونکے رحم کونکے یې

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ

آیا نه ګورې ته هغه کسانو ته چې منافقت ئې کړے دے وائي

لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ

ورونو خپلو ته هغه کسانو ته چې کفر ئې کړے دے د

أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ

اهل کتاب نه که چرې او وایستلے شوئ تاسو نو خامخا او به وځو مونږ

مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا

تاسو سره او خبره به نه منو ستاسو په باره کښې د هیچا همیشه

وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ

او که چرې جنګ اوکړے شو تاسو سره نو خامخا امداد به وکړو ستاسو او الله

يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ

ګواهي کوي یقیناً دوی خامخا دروغژن دي که چرې

أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن

اوویستلے شي هغوی نو نه به وځي دوی د هغوی سره او که چرې

قُوتِلُوا لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ

جنګ وکړے شي د هغوی سره امداد به نه کوي د هغوی او که چرې امداد اوکړه دوی د هغوی

لَيُوَلُّنَّ الْأَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾

خامخا او به ګرځوي دوی شاګانے بیا به دوی سره امداد نشي کولے

لِإِخْوَانِهِمُ : چې وائي ورونو خپلو ته : چې بني قریظه دي خکه چې بنو نضیر خو مخکښې شړلي شوي وو - او ورور ئې د وجې د اعتقاد او د دوستانې ده. لَئِنْ أُخْرِجُوا : په دے آیت کښې بیان د دروغو د منافقانو دے او د أُخْرِجُوا او قُوتِلُوا او مَعَهُمْ او هُمْ ضمیر ونه یهودیانو ته راجع دي او د

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِیْ صُدُوْرِهِمْ

خامخا تاسو : ډیر هیبت والا یئ په سینو ددوی کښی

مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾

د الله تعالی نه : دا په دے وجه چه یقینا دوی داسے قوم دے چه نه پوهیږی :

لَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِیْعًا اِلَّا فِیْ قُرًی

جنګ به نه کوی تاسے سره ټول (یو ځائے) مګر په کلو :

مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ

خامخا شو (قلعه بند) کښی : یا اخوا د دیوالونو نه : جنګ ددوی :

بَیْنَهُمْ شَدِیْدٌ ؕ تَحْسَبُهُمْ جَمِیْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ

په مینځ ددوی کښی سخت دے : ګمان کوے ته په دوی باندے ټولوالے (اتفاق) او زړونه ددوی

شَتّٰی ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾

مختلف دی : دا په دے وجه چه یقینا دوی داسے قوم دے چه عقل نه لری :

كَمَثَلِ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِیْبًا

(حال ددوی) پشان د حال د هغه کسانو دے چه مخکښی ددوی نه تیر شو په نږدے زمانه کښی

ذَاقُوْا وَبَالَ اَمْرِهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

چه وڅکله هغوی سزا د کار خپل : او خاص دوی له عذاب

اَلِیْمٌ ﴿۱۵﴾ كَمَثَلِ الشَّیْطٰنِ اِذْ قَالَ

دردناک دے : (حال ددوی) پشان د حال د شیطان دے : کله چه ووائی :

لِلْاِنْسَانِ اكْفُرْ ۚ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ اِنِّیْ

انسان ته چه کفر وکړه : نو کله چه کفر وکړی دا نو وائی زه بیزاره

بَرِیْٓءٌ مِّنْكَ اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ

بیزاره یم ستا نه : یقینا زه ویریږم د الله تعالی نه :

رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ

چه رب د مخلوقاتو دے : نو شو انجام ددواړو چه

ف : لا یخرجون او ولا ینصرونہم او ولئن نصروهم لیولن او ولا ینصرون ضمیرونه راجع دی منافقانو ته : په دغه ایت کښی علت د ماقبل دے او په دغه کښی نتیجه د ویرے د هغوی ده : وقلوبهم شتّٰی : دا جمع د شتیت ده : یعنی زړونه ئے متفرقه دی ځکه اتفاق ئے په مابین کښی نشته : (روح بحث) : كَمَثَلِ الَّذِیْنَ : دیکښی تخویف دنیاوی دے : او دا خبر د مبتدا محذوف دے یعنی مثال د دوی پشان د هغه چا دے چه مخکښی ددوی نه وو چه یهود د بنی قینقاع دی یا د قریش د بدر د جنګ واله مراد دی : كَمَثَلِ الشَّیْطٰنِ : دا د منافقانو د یهودو د پاره بل مثال دے او عطف کړے شوے په ما قبل باندے دے چه په هغه کښی مثال د تخویف د دنیاوی وو او په دیکښی مثال د دهوکے د منافقانو دے : سورة انفال کښی هم او ګوره ئے ✤ ✤ ✤ ✤ ✤

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اعْ: د منافقانو د خبرو نه تاوولو اونا کاره صفتونو ذکر کولو نه پس مومنانو سره خطاب وشے چه د هغوی د صفتونو نه ځان بچ اوساتئ. ددے ضرورت څه وو؟ او په دے کښې څوک ښي ده: او

أَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَ

يقينا دواړه به په اور کښې وي همیشه به وسیږي په هغې کښې او

ذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿١٧﴾ يَا أَيُّهَا

دغه بدله د ظلم کوونکو ده: اے

الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ

ایمان والو! ویرېږئ د الله تعالیٰ نه او ووړي (فکر دې کړي)

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ

هر نفس د هغه عمل چه مخکښې ئې لیږلے دے د پاره د صبا او ویرېږئ د الله تعالیٰ نه:

إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا

یقینا الله تعالیٰ خبر دے په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ. او مه

تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ

کیږئ په شان د هغه کسانو چه هیر کړے ئې دے الله تعالیٰ نو هیر کړی الله تعالیٰ دوی

أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١٩﴾

نفسونه ددوی: دغه کسان: دوی فسق کوونکی (فاسقان) دی:

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ

نه دی برابر خاوندان د اور: او خاوندان:

الْجَنَّةِ ۚ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ

د جنت: خاوندان د جنت: دوی دی

الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ

بریا مومونکی: که چرته نازل کړے وے مونږ: دا قرآن:

عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا

په غره باندې ضرور لیدلے به دے تا هغه عاجزی کوونکے، ټوټه کیدونکے

مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۚ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ

د ویرې د الله تعالیٰ نه: او دغه: مثالونه:

اوپه منافقانو کښې وجه ذکر کوی چه ځان سره ځکه بچ ساتئ د هغوی د صفتونو نه چه ددواړو ډلو به برابر نه دی. او په انجام کښې ئې فرق دے.

لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا: دا مثال وئیلې شو. که الله تعالیٰ غرله شعور ورکړے نو هغه به د قرآن د عظمت د وجے نه مات شی او منافقانو ته سره کښې څه اثر نه کیږی (تفسیر عثمانی وګورئ حاشیه ۵) ددے قرآن پاک کښې فکر او د عمل ترغیب دے او په غرونو باندې د نازل کولو نه په تمثیل مراد دے یا مقصد دا دے چه که مونږ دا سخت شی لره عقل ورکړے وے او قرآن مونږ هغه نازل کړے وے نو د قرآن د اثر نیولو نه به دومره متاثره شوے وے چه د ویرے د وجے لرزیدلے ټکړے ټکړے شوے به وے (جواهر ص ١٢٣٥) وګورئ صفحه نمبر

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ په آخر کښې د توحید د درېو مرتبو ذکر دے چه د الله تعالیٰ نه سیوا څوک د عبادت او بلنې لائق نشته. او عَالِمُ الْغَيْبِ الخ ورله علت دے. په څلورم کښې د دعوی توحید دوهمه مرتبه ده او په شروع کښې اعاده د دعوی ده او دوهم علت ئې ذکر دے. په څلورم کښې د دعوی توحید دریمه مرتبه ده او دریم علت ئې دے. (جواهر ص ١٢٣٥)

فائده: د پیدائش درے مرتبے دی، اول خلق یعنی د هر څیز د پیدائش موافق د حکمت منصوبه تیارول: دوهمه برء یعنی د عدم نه وجود ته اوړل: دریمه صورت ورکول. (جواهر ص ١٢٣٦)

فائده: آخر سره د اول سره لګی چه په دواړو کښې تسبیح ذکر ده. د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائی: نو معلومه شوه چه په هره زمانه کښې باری تعالیٰ لره هر څه پاکی بیانوی یا په حال یا په زبان سره. (انفس ص ١٠٩١) بس

(تقسیم ووسے مو): **فائدہ**: پہ دے ورستو ایتونو کښے اسماء حسنی جواجۃً او د ضمیر پہ طریقہ تقریباً ۱۷ ذکر شوی دی. علامہ ← اعراف ۱۸۰ ← ہم ذکر دی. **سُوْرَۃُ الْمُمْتَحِنَۃ**: مدنی سورت دے:

نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

بیانوو مونږ د خلقو د پارہ چې دوی فکر اوکړی

هُوَ اللّٰهُ الَّذِيۡ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

خاص ھغہ اللہ ھغہ ذات دے چې نشتہ حقدار د بندګئ سوا د ھغہ نہ،

عٰلِمُ الۡغَيۡبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ

پوھہ دے پہ غیب او ښکارہ ; ھغہ

الرَّحۡمٰنُ الرَّحِيۡمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيۡ

مھربان او ډیر رحم کونکے دے ; خاص ھغہ اللہ تعالیٰ ھغہ ذات دے چې

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡمَلِكُ الۡقُدُّوۡسُ

نشتہ حقدار د بندګئ سوا د ھغہ نہ ; باچا دے ، ډیر پاک دے

السَّلٰمُ الۡمُؤۡمِنُ الۡمُهَيۡمِنُ الۡعَزِيۡزُ

سلامت ورکوونکے ، امن ورکوونکے ، ساتنہ کوونکے دے ; زور اور دے

الۡجَبَّارُ الۡمُتَكَبِّرُ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا

زور اور دے ، خاوند د لوئی دے ; پاکی دہ اللہ تعالیٰ لرہ د ھغہ نہ چې

يُشۡرِكُوۡنَ ﴿٢٣﴾ هُوَ اللّٰهُ الۡخَالِقُ الۡبَارِئُ

دوی ورسرہ شریک جوړوی ; خاص ھغہ اللہ پیدا کوونکے ، جدا جدا کوونکے

الۡمُصَوِّرُ لَهُ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰى ؕ

شکلونہ ورکوونکے ; خاص ھغہ لرہ نومونہ دی ښائستہ دی :

يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ

پاکی بیانوی ھغہ لرہ ھغہ چې اسمانونو کښے دی ; او پہ زمکہ کښے ;

وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿٢٤﴾

او خاص ھغہ زور اور ، حکمتونو والا دے ؛

ع ۳/۶

(۱۳) بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ (آیاتھا ۱۳)

منزل ۷

ترغیب کښے دے ; پس د سورۃ الحشر نہ او ربط لا (۱۴) پس د سورۃ الاحزاب نہ : پہ ایت ۵۷ کښے رازی فامتحنوھن ذکر دے اسم فاعل ممتحنہ دے :

دعویٰ: التبراء من الکافرین والزجر لمن تولاھم : (۱) اللہ د کافرانو نہ او رسول د ھغہ بیزار دے چې د دوی سرہ دوستانے کوی (اسوۃ ابراھیم ؑ) **الخ** (۲): محکمہ سورت کښے دعوی د توحید او پہ ھغہ و لاتتل ذکر شوی ، تو دلتہ زور د ورکوی ھغہ چا لرہ چې دوستی کوی د ھغہ چا سرہ چې شرک کوی او توحید نہ منی : (۲): محکمہ کښے تخویف د دنیاوی و خلاف کو بکو لرہ تو دلتہ زور دے چې ھغہ علمو تہ چې لائق نہ دی د شان د مومنانو سرہ : (۳) محکمہ کښے توحید بیان شو اولا او اخرا تو دلتہ فرمائی چې څوک توحید نہ منی تو جدا شئ ترینہ. **خلاصہ**: پہ دے سورت کښے دوہ بابونہ دی اول تر ۹ پورے : پہ دے کښے اول زجر دے مومنانو تہ پہ دوستانے د کافرانو باندے او (۲) علتونہ دے ، پہ ۱ ، ۲ : او مثال پیش کوی پہ واقعہ د ابراھیم علیہ السلام او دعاء د تثبیت ۵ : دوم باب تر اخرہ پورے : پہ دے کښے اول تقسیم د کفارو د دوہ ولو تہ ۸ ، ۹ : بیا دوہ قوانین تو مومنانو تہ ۱۰ او بیا مسئلے ۱۱ دوئم رسول علیہ السلام تہ پہ حیثیت د امیر سرہ ۱۲ : او پہ اخر د سورت کښے اعادہ د دعوے د سورت دہ او اخر سرہ مرتبط دے. **امتیازات**: (۱) دا سورۃ شروع پہ لفظ د یاایھا الذین امنوا سرہ شوے دے (۲) متعدد معاملات د مشرکانو نہ (۳) تقسیم د کفارو دوہ ولو تہ غیر مقاتلین ۸ او مقاتلین ۹ (۴) شرائط ...

وبیعت ده د امتحان د مهاجرانو سبب نزول د یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا : سبب د نزول د دې ایت په حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه کې دی کوم چه مشتمل دی د خلقو په نبي صلی الله علیه وسلم د ذکر کړی دی حاصل ئې دا دی چه
هغوی مکې والو ته خط لیکلی و او
یوې ښځې ته ئې ورکړی وو او نبي
صلی الله علیه وسلم علي رضی الله عنه او نورو صحابه
اولیږل چه روضه خاخ مقام
ته ځان ورسوئ او د هغې نه
کوم خط ئې چه پټ کړی دی
دوی هغه ته اورسیدل او خط ئې
برامد کړو او نبي صلی الله علیه وسلم ته ئې
راوړو، نبي صلی الله علیه وسلم حاطب
رضی الله عنه ته وفرمائیل چه څه
باعث کړی دې په دې باندې هغه
عرض وکړو : والله ما بي
الا ان اکون مؤمنا بالله
ورسوله صلی الله علیه وسلم
اردت ان تکون لي عند
القوم ید یدفع الله بها
اهلي ومالي ولیس احد من
اصحابك الا له هناك من
عشیرته من یدفع الله به
عن اهله وماله. عمر رضی الله عنه
د قتل اجازت او غوښته
نو نبي صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه
دا خو بدري دی او الله تعالی
په بدریانو ئې فرمائیلي دي :
اعملوا ما شئتم فقد وجبت
لکم الجنة وقد غفرت لکم
نو د عمر رضی الله عنه د سترګو نه
اوښکې او بهیدلې او وې ویل
الله ورسوله اعلم. وګورئ
ابن کثیر رحمه الله، بخاري ...
... الاهام الرحمٰن ... : ابن
جوزي رحمه الله وائي چه دا عتاب
دی حاطب رضی الله عنه ته او زجر دی
هغه چالره چه دا فعل کوي او

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا

اے ایمان والو! مه نیسئ

عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ

دښمنان زما او دښمنان ستاسې دوستان چه غورځوئ تاسې

إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا

هغوی ته پیغام د دوستۍ او حال دا چه هغوی کفر کړی دی په هغه چه

جَاءَكُم مِّنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ

راغلی دی تاسو ته د حق نه، راوباسي دوی

الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُوا

رسول لره او تاسې لره د دې وجې نه چه ایمان راوړئ تاسې

بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِنْ كُنتُمْ خَرَجْتُمْ

په الله چه رب ستاسې دی، که چرې وتلي یئ تاسې

جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي

د پاره د جهاد په لاره زما کې او د پاره د لټولو د رضا زما

تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ

پټ لیږئ هغوی ته دوستانې، او زه ښه پوهه یم

بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنتُمْ وَمَن

په هغه چه تاسو پټوئ او په هغه چه تاسو ښکاره کوئ، او چا چه

يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ

وکړو دا کار په تاسو کې ستاسې، نو یقینا بې لارې شو د سمې

السَّبِيلِ ﴿١﴾ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا

لارې نه، که چرې وس برلاسي شي دوی په تاسې باندې نو ګرځیږي

لَكُمْ أَعْدَاءً وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ

تاسې لره دښمنان، او اوږدوي به تاسو ته

منزل ۷

په دې کښې شرافت ذکر کول د هغه دی ځکه چه الله تعالی ورله شهادت په ایمان ورکړی دی (تسهیل ...)

فائده : په دې اول ایت کښې د کفارو سره د منع د دوستۍ د هغوی نه ذکر کړی دی : ممتحنه ...، مائده ...، ال عمران ...، توبه ...، وګورئ : إِنْ كُنتُمْ خَرَجْتُمْ : د دې شرط جزاء محذوف ده په قرینه د ماقبل

أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوءِ وَوَدُّوا

لاسونه خپل ؛ او ژبې خپلې ؛ په بدئ سره ؛ او خوښه كړه دوی

لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾ لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ

چه كفر وكړئ تاسې ؛ هېڅ به نفع ونه رسوی تاسې ته ؛ خپلوۍ ستاسې

وَلَا أَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ يَفْصِلُ

او نه اولاد ستاسې ؛ په ورځ د قيامت ؛ جدائي به راولي ؛

بَيْنَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾

په مينځ ستاسې كښې ؛ او الله تعالى په هغه عملونو چه تاسې كوئ ؛ ليدونكې دے ؛

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي

يقيناً شته دے ؛ تاسو لره ؛ نمونه ښائسته ؛ په

إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا

ابراهيم عليه السلام كښې ؛ او په هغو كسانو كښې چه د هغه سره وو ؛ كله چه ووئيلې هغوی ؛

لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا

قوم خپل ته ؛ يقيناً مونږ ؛ بېزاره يو ستاسې نه ؛ او د هغه چه

تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ

تاسې يې عبادت كوئ ؛ سوا د الله تعالى نه ؛ انكار كړے مونږ په طريقه ستاسې

وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَ

او ښكاره شوه په مينځ زمونږ كښې ؛ او مينځ ستاسې كښې ؛ دشمني ؛ او

الْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ

بغض (ترېخوالى) هميشه ؛ تر دې چه ايمان راوړئ تاسې ؛ په الله تعالى

وَحْدَهُ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ

يك يواز ؛ مگر استثنى په ويناد ابراهيم عليه السلام پسې پلار خپل ته ؛

لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ

خامخا يقيناً بخښنه غواړم تا لره ؛ او مالك نه يم ؛ تا لره ؛

تاسې باندې معنى دا شوه كه چرته تاسې د جهاد او زما د رضا د پاره اوځئ يعنې د كورونو نه د دښمنانو د احتياط نه كار واخلئ او كافرانو ته خپل جگړې راز ونه ښائي او په دوستئ كښې ئې ونه نيسئ : (كورانئ جواهر ۲۲)؛ تُسِرُّونَ : دا جمله مستانفه ده په تقدير د انتم مبتدأ سره او يا بدل دے د تلقون نه ؛

فائده : په دويم آيت كښې خلور ملتونه او ك كښې تو په تول اووه عملونه د قطع د تعلق د پاره شو په ؛

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ : يقيناً شته دے تاسې لره نمونه د تابعدارئ ښائسته په ابراهيم عليه السلام او د هغه په ملگرو كښې ؛

إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ : دا استثناء ده د اسوة حسنة نه : معنى دا شوه چه د ابراهيم عليه السلام په هر فعل او قول كښې ښائسته نمونه د اقتداء ده او د هغه تابعداری وكړئ مگر په دے قول كښې تابعداری مكوئ چه د مشرك د پاره د استغفار دعاء غوښتل دی ؛ سورة مريم ۴۷ كښې د هغوی د دعا غوښتلو وعده وه خو بيا سورة توبه ۱۱۴ كښې د هغوی عذر ذكر شوے دے

مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ رَبَّنَا عَلَیْكَ

د عذاب د الله تعالی نه : د هیڅ شی : اے ربه زمونږه ! خاص په تا باندې

تَوَكَّلْنَا وَ اِلَیْكَ اَنَبْنَا وَ اِلَیْكَ

ځان سپارلے دے مونږه : او خاص تا ته رجوع کړے مونږه : او خاص تا ته

الْمَصِیْرُ ۝٤ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً

واپسی ده : اے ربه زمونږه ! مه ګرځوه مونږه : امتحان

لِّلَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَ اغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ

د پاره د هغه کسانو چه کفر کړے دے : او بخښنه وکړه مونږه ته : اے ربه زمونږه !

اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۝٥ لَقَدْ

یقینا ته : خاص ته : زورور : حکمت والا یے : یقینا

كَانَ لَكُمْ فِیْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ

شته : تا سو د پاره په دوی کښې : نمونه د تابعداری ښائسته : د پاره د هغه چا

كَانَ یَرْجُوا اللّٰهَ وَ الْیَوْمَ الْاٰخِرَ ؕ

چه وی : امید لری د الله تعالی : او د ورځے د روستنی :

وَ مَنْ یَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِیُّ

او چا چه مخ واړوو : نو یقینا الله تعالی : هغه بے حاجته

الْحَمِیْدُ ۝٦ عَسَی اللّٰهُ اَنْ یَّجْعَلَ

ستائلے شوے دے : نزدے ده الله تعالی : چه پیدا به کړی

بَیْنَكُمْ وَ بَیْنَ الَّذِیْنَ عَادَیْتُمْ مِّنْهُمْ

په مینځ ستاسو او په مینځ د هغه کسانو کښې چه دشمنی کوی تاسو د هغوی سره

مَّوَدَّةً ؕ وَ اللّٰهُ قَدِیْرٌ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ

دوستانه : او الله تعالی قدرت والا دے او الله تعالی بخښونکے

رَّحِیْمٌ ۝٧ لَا یَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِیْنَ

رحم کونکے دے : نه منع کوی تاسو له : الله تعالی : د هغه کسانو نه چه

منزل ٧

ع ٢ ربع

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ : دَ دوبارہ ذکر کولو یو وجه داده چه دلته ئے ورسره قید دَ لِمَنْ كَانَ یَرْجُوا اللّٰهَ ولګولو چه اقتدا په صحیح عقیده او نیت سره بکار ده - دو یم ځکه چه اقتداءو په براءت دَ کفارو کښے او دلته ترغیب دے اقتداء ته په ټول ملتِ ابراهیمیه باندې او کوره احسن ص ٣ ج ٥ -

عَسَی اللّٰهُ : دَ دے ایت نه دریم باب شروع شو : اول تسلی ده ، او بیا دَ کفارو دوه ډلے ذکر کوی ؛

✿ ✿ ✿ ✿

لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ

نه جنګیږي تاسې سره : په دین (اسلام) کښې : او نه

يُخْرِجُوكُمْ مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ

راوباسي تاسې لره : د کورونو ستاسې نه ، چه نیکي وکړئ د هغوی سره

وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ

او انصاف وکړئ د هغوی سره : یقیناً الله تعالیٰ : مینه ساتي :

الْمُقْسِطِينَ ⑧ إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ

د انصاف کوونکو سره ؛ یقیناً منع کوي تاسې لره الله تعالیٰ : د

الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَ

هغه کسانو نه ، چه جنګ کړی تاسې سره : په دین کښې : او

أَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا

راو باسي تاسې لره : د کورونو ستاسې نه ، او امداد ئې کړی وي

عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن

په راویستلو ستاسو باندې : چه دوستانه وکړئ د هغوی سره ، او چا چه

يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ⑨

دوستانه وکړه د هغوی سره نو دغه کسان : دوي ظالمان دي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ

اې ایمان والو ! کله چه راشي تاسې ته :

الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ ۖ

مؤمنانې ښځې ، هجرت کوونکې : نو امتحان واخلئ د هغوی نه :

اللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ ۖ فَإِنْ

الله تعالیٰ ښه پوهه دې ، په ایمان د هغوی : نو که چرې :

عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ

معلومې کړې تاسې هغوی لره : مؤمنانې : نو مه واپس کوئ هغوی لره :

منزل ٧

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ـ هرکله چه حکم وکړے شو په براءت د کافرانو سره په اول سر د سورت کښې نو تقاضا د براءت دا وه چه د کافرانو او مومنانو په مینځ کښې تعلق د نکاح هم ختم شي نو په دې وجه ایت کښې د احکامو ذکر کوي او حاصل د دې ایت دا دے : اول امتحان د مهاجرو د ښځو د کافرانو ؛ واپس کول ، ورثم حرمت د نکاح د مومنې زنانه د کافر سره په یو او برعکس هم ، څلورم د مشرکانو مهر او مال واپس کول : پنځم مشرکې زنانه د نکاح نه وېستل ، شپږم د مشرکانو نه خپل مال (حق) طلب کول او سبب د دې دے چه هر کله په صلح حدیبیه کښې یو شرط دا مقرر شوے وو چه د مشرکانو نه کوم کوم مومنان تو ته راشي (هجرت وکړي) نو هغه به کافرانو ته واپس ورکولے شي ، نو هرکله چه په دغه وخت کښې بعض زنانو د مکې نه هجرت وکړو صحابه متوجه شو چه ته نو کافرانو د هغوی د واپسئ مطالبه وکړه نو الله تعالیٰ دا ایت نازل کړو او په دې کښې تشریح اوشوه چه شرط د واپسئ په نارینو پورے خاص دے زنانو ته شامل نه دے د دوه وجوهو نه : اول دا چه د هغوی نکاح د مشرک سره ختمه شوه نو واپس کول لوکښې ئے نقصان دے ، دویم دا چه هغوی کمزوری دي ، هسې نه چه کافران ئے مرتدې کړي (احسن الکلام)

فَامْتَحِنُوهُنَّ : نو امتحان وکړئ په هغوی باندې : چه هغوی کلمه او وائي نو دا پوره ده : د هغوی د زړونو معامله الله تعالیٰ سره ده :- (فضل الله)

وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا: او ورکړئ هغوی ته هغه مهر چه هغوی پرے خرچ کړے وو۔ دا حکم خاص وو دے حالت د صلح پورے چه مابین د مومنانو او کافرانو کښې لګ یو وخت د صلح حدیبیه کښې۔ وَلَا تُمْسِكُوْا

اِلَى الْكُفَّارِ ۭ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ

کافرانو ته: نه دوی حلالے دی هغوی ته او نه هغوی

يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ۭ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ۭ

حلال ګیدی دوی لره: او ورکړئ هغوی ته هغه خرچ چه کړیدے هغوی

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ

او نشته ګناه دیتاسے باندی په نکاح کولو د دوی سره

اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۭ وَلَا

کله چه ورکوئ تاسے دوی ته مهرونه د دوی: او مه

تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْـَٔــلُوْا مَآ

ساتئ نکاحونه د کافرانو ښځو: او اوغواړئ تاسے هغه

اَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔــلُوْا مَآ اَنْفَقُوْا ۭ

خرچ کړی تاسے: او دې غواړی هغوی هغه چه خرچ کړیدے هغوی:

ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ ۭ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۭ

دا حکم د الله کړی دے: فیصله کوی په مینځ ستاسے کښې:

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝١٠ وَاِنْ فَاتَكُمْ

او الله ښه پوهه حکمت والا دے: او که تاسے فوت شی (لاړه شی)

شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ

څه کسانے د بیبیانو ستاسے نه: په طرف د کافرانو:

فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ

پس نوبت راشی ستاسے نو ورکړئ هغه کسانو ته: چه تلے دی:

اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۭ وَ

ښځے د هغوی: په مثل د هغه چه خرچ کړیدی دوی: او

اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝١١

ویریږئ د الله هغه ذات نه: چه تاسے په هغه ایمان راوړونکی یئ:

بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ: او مه ساتئ نکاح د کافرو ښځو: عصم جمع د عصمت ده او دا هغه څه دے چه ساتلے شی۔ دلته تری مراد نکاح ده۔ وګوری قرطبی ﷺ: یعنی چاله چه ښځه کافره په مکه کښې وی او دے هجرت اوکړی او یا د هجرت نه وړاندے په نکاح کښې کافره ښځه وی نو نکاح لے ختمه شوه البته کتابیه ترے مستثنی ده په سوره مائده باندی:

وَاسْـَٔــلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ: دا هم خاص وو په زمانه د عهد او صلح پورے۔ وَاِنْ فَاتَكُمْ: یعنی کافرانو حکم تسلیم نکړو نو اینده حکم راغے۔ (الفصل ٢٠) دا متعلق دے د ځکښې حکم مرګ یعنی مهر د مرتدے زنانه د کافرانو او غواړئ نو چرے هغوی انکار اوکړو د مهر د واپس کولو نو هغه کله چه تاسو څه مال فئی یا غنیمت درله کافرانو نه حاصل کړئ نو د تقسیم نه مخکښې دغه سړی ته مهر مثل د ښځے د هغه ورکړئ۔ د مجاهد او قتادة نه روایت دے چه دا حکم عام دے چه د کوم کافرانو سره عهد وی او که نه وی او ښځے مرتدے شی او د هغوی خاوند ته مهر ورکړے شی دا په وخت د عهد پورے:

(احسن ٥/٣١١): فَعَاقَبْتُمْ: دا د عقبے نه ماخوذ دے: وار ته ویلے شی یعنی چه کله ستاسو د مهر ورکولو نوبت او وار راغلو۔ ﷺ یا د عقاب نه دے یعنی چه تاسے کافرانو ته سزا ورکړه او د هغوی سره مو جنګ اوکړو او مال غنیمت په لاس کښې راغلو۔ (جواهر ٣٥٢): يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ: دا قانون د مخکښې نا محنوهن د پاره تفسیر دے او دا بیعت په شیر د خیر و بانو مشتمل دے: د عائشے رضی الله عنها روایت دے چه رسول الله ﷺ به په بیعت د ښځو کښې امتحان اخستلو په دے ایت سره چه

رقیقه ده ویلی، په اقرار بیعت شرطونو اوکړو نو ورته فرمائیل چه یقیناً بیعت مې کړے ستاسو دا خبره به کے ورته وکړه، والله ما مسّت ید رسول الله ﷺ ید امرأة قط فی المبایعة (متفق علیه، مشکوٰة ...، ابن ماجه) او په حدیث د امیمه لورد رقیقه

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ

اے نبی ﷺ! کله چه راشی تاته مؤمنانې ښځې

يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ

چه بیعت کوی له تا سره دے شرط چه شریکوی به نه

بِٱللَّهِ شَيْـًٔا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ

د الله سره هیڅ شے او غلا به نه کوی او زنا به نه کوی

وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ

او نه به وژنی اولاد خپل او را به نه وړی

بِبُهْتَٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ

په بدنامئ لګولو چه جوړ کړی دی دوی تړلے د مخونو د لاسونو د دوی

وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِى

او د خپو د دوی نه او نافرمانی به نه کوی ستا نه په

مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ

نیکئ کښې نو بیعت وکړه د دوی سره او بخښنه وغواړه د دوی دپاره

ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا

د الله نه یقیناً الله بخښونکے رحم کونکے دے اے

ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَوَلَّوْا۟ قَوْمًا

هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے دوستی مه کوئ د داسے قوم سره چه

غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا۟ مِنَ

غضب کړے الله په هغوی باندے یقیناً نا امیده شوی دی د ثواب

ٱلْءَاخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلْكُفَّارُ مِنْ

د آخرت نه لکه چه نا امیده شوی دی کافران د والیکئ د

أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴿١٣﴾

خاوندانو د قبرونو نه

ع ٢

منزل ٧

کښی دی: یا رسول الله الا تصافحنا قال انی لا اصافح النساء، انما قولی لمائة امرأة کقولی لامرأة واحدة (… ج ٢، ابن ماجه، مشکوٰة …)

بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ: په دیکښې د مفسرینو دیر اقوال دی: اول دا چه مراد د بهتان نه موندے شوے ځوے دے چه خاوند ته ئے نسبت کیږی او ولد به وخت د پیدائش کښې د مخونو د لاسونو او خپو په مینځ کښې پیروت وی. دویم دا چه مراد د دینه ولد د زنا دے چه اول خو به ئے قتل کولو او که د قتل نه به بچ شو نو بیا به ئے خاوند ته نسبت کولو او حمل په خیټه کښې وی او خیټه په مینځ د لاسونو او خپو کښې ده. د دے وجے نه زنا او قتل د ولد او بهتان ئے په ترتیب سره ذکر کړل. دریم دا چه مراد د بهتان نه په چا باندې د پوځے ګناه د بد نامئ کول دی او ځان ترے جوړ وی دلیل ورسره نه وی نو د دے نه تعبیر کیږی په بین ایدیهن و ارجلهن سره او په دیکښې دروغ نسبت، چغلی کول، تهمت لګول د زنا داټول داخل دی (احسن …)

فائده: قرطبی رحمه الله ویلی دی چه دلته ئے د منهیاتو ذکر په تفصیل سره اوکړو او د معروف تفصیل ئے نه دے کړے ځکه چه په انسانانو او خصوصاً په ښځو کښې د منهیاتو ارتکاب ډیر دے په نسبت د ترک د ماموراتو سره (…). فائده: مامورات هم شپږ دی: شهادتین، او زکوٰة او مونځ او روژے او حج او غسل د جنابت نه او (…). مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ: من بیانیه دے یا ابتدائیه دے: په اول صورت کښې معنے دا شوه: اے ایمان والو! د داسے کفارو سره دوستی مکوئ چه په هغوی باندې د الله تعالیٰ قهر غضب

اوغضب نازل شوے او هغوی د آخرت د اجراو ثواب نه بالکل داسے محروم او مایوسه شوی دی څنګه چه
هغه کفار چه مړه شوی قبر ولو ته رسیدلی دی او په دوهم سورت کښ الکفار مظهر په ځائے د ضمیر راغلے دے او

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا
پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او هغه څه چه
فِى الْاَرْضِۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ①
په زمکه کښ دی او هغه زورور حکمتونو والا دے.
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ
اے ایمان والو! ولے وائی په ژبو
مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ② كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ
هغه څه چه تاسو یې نه کوئ! لوئے دے د غضب په لحاظ نزد د الله تعالیٰ
اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ③ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
دا چه ووایئ هغه څه چه تاسو یې نه کوئ. یقینًا الله تعالیٰ مینه ساتی
الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا
د هغه کسانو سره چه جنګ کوی په لاره د هغه کښ صفونه صفونه
كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ④ وَاِذْ قَالَ
ګویا که دوی ابادی یو بن کښی شوی دی. او کله چه ووئیل
مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِىْ
موسیٰ علیه السلام قوم خپل ته اے قوم زما! ولے ضرر راکوئ ماته
وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ
او حال دا دے چه تاسو پوهیږئ چه یقینًا زه استادے د الله تعالیٰ یم
اِلَيْكُمْؕ فَلَمَّا زَاغُوْۤا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْؕ
تاسو ته. نو هر کله چه کاږه شو دوی کاږه کړل الله تعالیٰ زړونه د دوی
وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ⑤
او الله تعالیٰ هدایت نه کوی قوم فاسقانو ته

مفهوم ئے دا دے چه دا کفار د آخرت د ثواب نه داسے مایوسه دی څنګه چه دوی د خپلو مړو شوو
مشرانو د دوباره ژوندی کیدلو نه مایوسه دی. (جواهر ص ١٤٣) رحمت بفضل الله تعالیٰ و... جماد الثانیه ١٤٢٠ هـ

سُوْرَةُ الصَّفِّ

مدنی ده. ترتیبًا ٦١ روستو د سورة ممتحنه او په نزول کښ ١٠٩ روستو د سورة تغابن نه. نوم ئے په څلورم آیت کښ راغلے دے. دعوی: زجر دے صحابه ته په خلاف وائی هغه چه عمل ئے نکوی مثلا او ترغیب دے جهاد ته. ملګے ومطالب: ... (ربطونه): ١: مخکښې سورت کښ زجر وه په افعالو غیر مرضیه باندے او په دې سورت کښ زجر دے په اقوالو غیر مرضیه باندے. ٢: مخکښې او دلته په دې سورت کښ باب کتاب ذکر شو او دلته فرمائی جهاد ورسره او کړه. ٣: مخکښې قم درسے قاعدے وے او دلته هم درے قاعدے دی په یاایها الذین امنوا سره.

خلاصه: اول دعوی د زجر بیا درے خطابات. اول د دے نه جهاد د کړئ او د ډیر د عوس ... مه کوئ چه په خلاف وائی او عمل پرے نه کوئ. او موسیٰ علیه السلام ته ... وئیل ... نا هو قاعدون (د مائده). او عیسیٰ علیه السلام زیرے ورکړے دے محمد نبی علیه السلام باندے ورکړے او د ... دوهم خطاب دے ... جهاد او کړئ او ... سوال دے ... او دریم خطاب ... جهاد او کړئ ... د حواریینو.

امتیازات: (١) زجر په قول بلا عمل باندے. (٢) د مجاهدینو صفتونه دی. (٣) درے قاعدے په یاایها الذین امنوا سره. (٤) بشارت د رسول د عیسیٰ علیه السلام په آخری نبی باندے چه نوم ئے احمد دے. سَبَّحَ لِلّٰهِ: دا د توحید مسئله ده کوم چه په اول سورة دے کښ ذکر ده او دفع د سوال ده چه فائده د قتال تاسو لره ده الله تعالیٰ ورته محتاج نه دے

فائده: ډهر عجیب نه پاک وه. یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا: دلته اول خطاب وه او په دلته تجارت کولو سره حق
په جهاد باندې او زجر وه په وینا بلا عمل. فائده: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي د ... کاروې په صف چې وي،

وَاِذْ قَالَ عِیْسَی ابْنُ مَرْیَمَ یٰبَنِیْۤ
او کله چې وویلې عیسیٰ ؑ ځوی د مریم ؑ: اے بنی

اِسْرَآءِیْلَ اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْکُمْ
اسرائیلو! یقیناً زه استازے د الله تعالیٰ یم تاسو ته

مُّصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیَّ مِنَ
تصدیق کوونکے د هغه کتاب چې مخکښې نازل شوے دے: چې

التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ یَّاْتِیْ
تورات دے او زیرے ورکوونکے یم په داسې رسول چې راځي به

مِنْۢ بَعْدِی اسْمُهٗۤ اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا
روستو زما نه: نوم د هغه به احمد ﷺ وي: پس هر کله چې

جَآءَهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ
راغے دوئ ته په ښکاره معجزو سره نو وویلې دوئ: دا جادو

مُّبِیْنٌ ۝ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی
ښکاره دے: او څوک دے لوئے ظالم د هغه چا نه چې جوړوي

عَلَی اللّٰهِ الْکَذِبَ وَهُوَ یُدْعٰۤی
په الله تعالیٰ باندې دروغ او حال دا چې رابللے شي

اِلَی الْاِسْلَامِ ؕ وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ
اسلام ته: او الله تعالیٰ هدایت نه کوي قوم

الظّٰلِمِیْنَ ۝ یُرِیْدُوْنَ لِیُطْفِـُٔوْا نُوْرَ
ظالمانو ته: اراده کوي دوئ چې مړ کړي رڼا

اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ
د الله تعالیٰ په خولو خپلو باندې: او الله تعالیٰ پوره کوونکے د رڼا خپلې دے

وَلَوْ کَرِهَ الْکٰفِرُوْنَ ۝ هُوَ الَّذِیْۤ
او که څه هم بد ګڼي کافران: خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

منزل ۷

ذکري په وعده او په وعيد وفا نه وي نو ځکه په دې وعده وفا نکوي.
شیخ مفتي صاحب رحمه الله فرمائي چې په وعده او وعيد کښې فرق دے. یا فرمائي چې
دغه آیت تعلق د هغه سړي سره دے چې د کوم کار د ښکاره کول نه وي د هغه د مرتبې کول
د الله تعالیٰ د نارضګئ سبب ګرځي شو هغه به هغه خو صرف او تبلیغ او د نصیحت، چې کوم
کار چې ښه نکوي او د هغه نصیحت نورو ته کوي او د هغه طرف ته نور مسلمانان نه شو ته د صرف
ورکوي نو هغه د دے آیت په مفهوم کښې خو شامل نه دي (معارف القرآن). مرصوص: ګویا
که دوي دي دیوال تعمیر کړے شوي. (نفس) ګویا که دوي دیوال وي چې په یو بل کښې نښتي
(ابن). ګویا که دوي آبادي محکمه ده یو بل سره نښتي شوي (نیز) پیوست شوے
بعضې په بعضې پورې (مدیث) نقش په سیسې ډ بعضې آبادي وي
په جنګ پورې او مضبوطولے ډ دے دے (منجد ٤٠٢/٩).
وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی: هر کله چې امر د جهاد دے ذکر کړو نو بیان ئې کړه چې موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام
امر په توحید کړے وو او جهاد ئې کړے وو او په لاره د الله تعالیٰ کښې
او نازل شوے وو عذاب په مخالفینو باندې (قرطبي رحمه الله).
وَمَنْ اَظْلَمُ: په دے آیت کښې زجر دے مفترینو او په مکذبینو
زجر دے په انکار د رسول ﷺ او قرآن سره. د توحید خلاف واے دے لکه چې په یو کې سره د نور رڼا مړه کول
په دے آیت کښې د پوره کولو او د اتمام د نور بیان دے. وګورئ سورة فتح ع۲۸ ؛ سورة توبه ع۳۳ ✽

أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ

چې رالیږلے ئې رسول خپل : په هدایت : او د دین حق سره :

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ

د دې دپاره چې غالبه ئې کړي د دینونو ټولو باندې : او اګر چه بد ګڼي :

الْمُشْرِكُونَ ⑨ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

مشرکان : اے ایمان والو :

هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ

آیا وښایم تاسو ته : داسې تجارت : چې نجات درکړي تاسې لره :

مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ⑩ تُؤْمِنُونَ

د عذاب دردناک نه : ایمان به راوړئ :

بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ

په الله تعالی او په رسول د هغه : او جهاد به کوئ :

فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَ

په لار د الله تعالی کښې : په (ذریعه د) مالونو خپلو : او په ذریعه

أَنْفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ

د نفسونو خپلو : دا : غوره دی تاسې لره : که چرته

كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ⑪ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ

یئ تاسې : چې پوهیږئ : بخښنه به وکړي تاسې ته : د ګناهونو ستاسې

وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ

او داخل به کړي تاسې لره : باغونو ته : چې بهیږي به

تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي

لاندې د هغو نه : نهرونه : او کورونو مزیدارو ته : په

جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ⑫

باغونو د همیشوالي کښې : دغه : کامیابي : لویه ده ۱

يُظْهِرَهُ : چه غالبه ئې کړي په نورو او دلیل باندې : (مظهري مخفي تسلی) رحمة فرمائي چه دا دقسم وعده الله تعالی دا ے او کړې نو شوې پاتې شوے یو دین د دینونو نه مګر هغه مغلوب او کمزور وے شوے په مقابله د دین اسلام کښې (مرقات شرح) او ورته ئې ابوالسعود ۲۳۵ خازن ۲۶۱ هم ذکر کړي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : دا دویم خطاب دے او ترغیب دے جهاد ته : او بشارت دے مجاهدینو لره دلته ئې ورته تعبیر په تجارت ویلے دے او تو به کښې په ۱۱۱ کښې ورته اشتراء ویلے ده مطلب ئې یو دے : او د صنا فقانو خبائثو نو ته ئې په بقره ۱۶ کښې ویلے دي چه د دوي تجارت ګټه نه ده کړے :

لطيفه : اختر وائي چه دا ګټور تجارت جوړ شوے دے د دوه شیونو نه : ایمان او جهاد او د ایمان دوه مصداقه دي : په الله تعالی او په رسول د هغه : او جهاد غټ قسمونه دوه دي په مالونو او په نفسونو او په دې دوه قسمونه بشارتونه مرتب دي : د آخرت او د دنیا : او د اول دوه قسمونه مغفرت او دخول د جنت : او دویم هم په دوه قسمه : نصرت د الله تعالی نه او فتح نزدې ✽

وَأُخْرَىٰ: او تاسو لره خصلت بل دے او تجارت بل دے. (قرطبی، بیضاوی) او دا بل ډول نعمت بل دے. (تسهیل) او ډیر کرم تاسو لره په دے زیات وی. (رازی) په دے او وجه کښی: اخری مرفوع دے په حذف د خبر مقدم سره او په خطورت سره معنی منصوب دے په حذف د عامل ناصبه یعنی ازیدکم زیادة اخرى. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا: دا دریم خطاب دے د پاره د تاکید د حکم د جهاد او په دے کښی ترتیب دے چه اول اعلان دے د نصرت کولو بیا دعوت کول دی بیا مقابله کول وی د دشمنانو د دین سره بیا حصول د تایید د الله تعالی دے. (تسهیل) الْحَوَارِيِّينَ: د حور نه ماخوذ دے سپین والی ته وئیلے شی لکه حواری عیسیٰ ؑ نو حواری سپین زړی مخلص رازدار دوست ته وئیلے کیږی. مخکښی ال عمران ۵۲ ، مائده ۱۱۱ کښی تیر شوی دی. سُورَةُ الْجُمُعَةِ: وجه د تسمیے یے په ۹ ایت کښی راغلے دے. مدنی سورت دے، ۶۲ دے ترتیبا او ۱۱۰ دے نزولا، د وړاندې پس د سورة صف نه. دعوىٰ: ترغیب دے انفاق فی سبیل الله ته ۹ او توحید دے ۱. خلاصه: په دے سورت کښی څو اهمی خبرے دی: (۱) دعوىٰ د توحید ۱. (۲) صداقت د رسول عليه السلام ۲ ، ۳. (۳) زجر بحرضینو د کتاب ته ۵. (۴) اعلان د مباهلے ۶. (۵) مومنانو د جمعے او بیا حکم د تجارت د پاره د انفاق فی سبیل الله ۹ ، ۱۱. ربطونه: (۱) مخکښی سورة کښی ترغیب و وجهاد ته نو دلته ترغیب دے انفاق ته.

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ

او بل خصلت درکوی چه تاسو یے خوښوئ (هغه) مدد دے د طرف د الله تعالی نه

وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

او فتح نزدے ده ، او زیرے ورکړه مؤمنانو ته :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ

اے هغه کسانو چه ایمان یے راوړے دے شئ امداد ورکونکی د دین د الله تعالی

كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ

لکه چه ووئیل عیسیٰ ؑ ځوئی د مریم : خالصو ملګرو ته :

مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ

څوک دی امداد کونکی زما طرف د الله تعالی ته : ووئیل

الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ ۖ

حواریینو : مونږ : امداد ورکونکی د دین د الله تعالی یو :

فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ

نو ایمان راوړو یوے ډلے ، د بنی اسرائیلو نه

وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ

او کفر وکړو : بلے ډلے ، نو مضبوط کړل مونږ هغه کسان چه

آمَنُوا عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا

ایمان یے راوړے وو په دشمنانو د دوی : نو شول

ظَاهِرِينَ ﴿١٤﴾

غلبه کونکی :

ع ۲ ، ۱۰

ایاتها ۱۱ سورة الجمعة مدنية	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	رکوعاتها ۲

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا

پاکی وائی الله تعالی لره هغه شیونه چه په اسمانونو کښی دی ، او هغه چه

(۱) مخکښی دعوی د توحید وه په سَبَّحَ ماضی سره او دلته په يُسَبِّحُ مضارع سره. (۲) هلته نے د نبی ؑ د دعوت طریقے او خود لے نو دلته نصاب تعلیم ذکر کوی. (۳) مخکښی د جهاد صفونه ذکر کړه نو دلته د مانځه د جمعے ذکر کوی. (۵) هلته د رے قاعدے په يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا سره ذکر کړے نو دلته هم بل قاعده د نصر تکے ذکر کوی په دے کښی:

امتیازات: (۱) ذکر د جمعے ﷺ (۲) د یهودو د مزو او مباهلے اعلان ﷺ (۳) د نبی اکرم ﷺ فرائض او دعوه اری.
(۴) د بے عمله عالمانو تشبیه د خره سره (العاذ بالله من ذلک) ﷺ شوی دی ... دعوی د توحید او د ...

فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ

په ځمکه کښې دی : چې باچا : ډیر پاک : زور اور :

الْحَكِيمِ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي

حکمتونو والا دے : خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چې راولیږلے دے په

الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ

امیانو کښې : استاذ دے د جنسه د دوی نه چې لولی په دوی باندې :

آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ

آیتونه د الله : او پاکوی دوی لره : او ښائی دوی ته : کتاب :

وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ

او سنت : او اګرچه د وو دوی : مخکښې د دے نه

لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢﴾ وَآخَرِينَ

خامخا په ګمراهئ : ښکاره کښې : او نورو لره :

مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ

د جنسه د دوی : چې نه دی یوسته شوی په دوی پسے : او خاص هغه

الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣﴾ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ

زوراور : حکمت والا دے : دغه فضل د الله تعالیٰ دے :

يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ

ورکوی الله دا : چا ته چې وغواړی : او الله تعالیٰ خاوند د فضل

الْعَظِيمِ ﴿٤﴾ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا

لوئ دے : مثال د هغه کسانو چې بار کړے شوے په هغو

التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ

تورات : بیا نه بار وړی دوی هغه لره (په عمل کولو سره) په شان د

الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ بِئْسَ

خره دے : چې بار وړی : کتابونه : بد دے :

مومنانو چې انشاء الله وکړے شو خبر ورکړی چې د الله تعالیٰ استحقاق د تسبیح د ذات او صفتونو د وجه د دے. هُوَ الَّذِي بَعَثَ مَنه د توحید نه بعد صداقت د رسول ﷺ ثابت کړی چې لا اله الا الله سره محمد رسول الله ﷺ وړاندې کړی. فِي الْأُمِّيِّينَ: امیان چې په اصل کښې هغه څوک دی چې لیکل لوستل نه کوی او نه لیکل زده لری. خو دلته د اهل کتابو په مقابل کښې راغلی دے. وګورئ آل عمران ۲۰. د دے نه مراد عرب دی. (تسهیل ﷺ ابن کثیر ﷺ) مِنْهُمْ: د جنسه د دوی نه یعنی بشر دے. وګورئ کهف او حدیث کښې راځی د عائشے رضی الله عنها نه روایت دے: قالت كان بشرا من البشر (ترمذی، مشکوة ...) وَيُزَكِّيهِمْ: او پاکوی دوی لره د عقیدو او عملونو د ګندګی نه (ابو السعود ﷺ) د شرک او خبیثو نه (مظهری ﷺ) د عقائدو باطلو او اخلاقو رذیلو نه (ابحر المحیط) وَآخَرِينَ: حاکم او په نورو کښې د امتیانو نه چې اوس نه دی یوسته شوی په دوی پورے او زر دی چې یوسته به شی (مدارک ﷺ) او دا هغه دی چې وروستو د صحابه کرامو نه راځی تر قیامته پورے ځکه چې دعوت او تعلیم د نبی علیه السلام عام دے ټولو لره. (ابو السعود ﷺ) ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ: په دیکښې رد دے په یهودو باندې چې هغوی رسالت په خپل قوم پورے خاص کړے وو. مَثَلُ الَّذِينَ

په دیکښې رد دے د یهودو د دعوے چې تاسو امیان یئ او مونږ ملایان یو: حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ: چې دوی مکلف شوی وو په علم د تورات او په عمل د هغه باندې: مفسرین رحمهم الله فرمائی چې دا حکم د هر هغه عالم لره دے چې عمل نکوی په علم خپل باندې: وګورئ مظهری ﷺ، مدارک ﷺ، احسن ﷺ

اوږ خبرهٔ سره نے تشبیه ځکه ورکړه چه هغه خپلو بوچو جاهل کښې سعدی بابا رحمه الله فرمائی: سه
ده محقق بود نه دانشمند چارپائے برو کتابے چند- (مثنوی ۳۳۳) ته فتمنوا الموت ۲ دا اعلان د مباهلے

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ
مثال د قوم هغه چه دروغ ئے اوګڼلې آیتونه د

اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ⑤
الله تعالیٰ او الله تعالیٰ هدایت نکوی قوم ظالمانو ته

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ
ووایه: اے هغه کسانو چه یهودیان شوی دی که چرے چې تاسو ګمان کوئ

اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ
چه یقیناً تاسو دوستان د الله تعالیٰ یئ سوا د نورو خلقو نه

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ⑥
نو وغواړئ مرګ که چرے یئ تاسو رښتونی

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًاۢ بِمَا قَدَّمَتْ
او نه به غواړی دوی مرګ هیچرے په سبب د هغه عملونو چه مخکښې کړی دی

اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ⑦
لاسونو د دوی او الله تعالیٰ ښه عالم دے په ظالمانو باندے

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِىْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ
ووایه: یقیناً مرګ هغه چه تختئ تاسو د هغه نه

فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى
نو یقیناً هغه ملاویدونکے دے تاسو سره بیا به واپس کړے شئ طرف د هغه ذات ته

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ
چه پوهه دے په پټو او په ښکاره باندے نو خبر به درکړی تاسو ته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑧ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ
په هغه عملونو چه تاسو به کول اے هغه کسانو چه

ع ۱ ۱۱

اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِىَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ
ایمان ئے راوړے دے کله چه اواز وکړے شی د پاره د مانځه د ورځے

منزل ۷

وښے د یهودو و مبرهٔ ځکه کښې آل عمران ۶۱ کښې مباهلے یا ئے اسره وکړشوے وه، ابن کثیر رحمه الله چه دعا د مرګ وغواړی په ګمراه باندے د دواړو فریقو نه څوک چه رښتونے دے په زعم خپل کښې (الخ) د سورهٔ بقرے ۹۴ آیت لاندے هم د ابن کثیر رحمه الله حواله ذکر شوه ده چه دا مباهله ده چه ۹۴ کښې تحریف دے ✧ ✧ ✧ ✧ فاسعوا ۹ اے ایماندارو! کله چه اواز (اذان) وشی د مانځه ته په ورځے د جمعے نو ځان ورسوئ، الا یمشی، کوشش وکړئ د ذکر د الله تعالیٰ ته د سعی نه مراد منډے وهل نه دی بلکه تلل دی او اهتمام د جمعے دے، وګورئ مدارک ۲۵ ابن کثیر رحمه الله فانتشروا: خوارهٔ شئ په زمکه کښې: دا امر د اباحت د پاره دے: فائده: په ۱۰ آیت کښې دوه اوامر او په ۹ کښې درې دی: د جمعے اجتماع چونکه په اوو ورځو کښې یو ځل وی او ټول خلق جمع کیږی نو ځکه به نبی علیه السلام خطبه د جمعے کښې د ډیر اهمیت مسائل بیانول لکه په جهاد کښې خرچ کول او په جهاد کښې د شمولیت ترغیب وغیره، له دے وجے نه ئے ارشاد اوفرمایئ چه کله د جمعے اذان اوشی نو تجارت او نور کاروبار پریږدئ د خطبے طرف ته لاړ شئ او په اهمیت سره احکام واورئ او په دے باندے عمل وکړئ- ستاسو دینی او دنیوی بهتری په دے کښې ده (جواهر ص ۱۲۰) فائده: حدیث د بخاری شریف کښې راغلی چه اذان اولنے په ورځے د جمعے کښې کله چه به امام په منبر کینا ستلو په زمانه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر او د عمر رضی الله عنهما کښې، نو کله چه ...

زمانه دَ عثمان رضی الله عنه شوه او خلق ډیر شو نو دویم اذان یعنی دا موجوده اول نے اذان (لمے جمعه) (بخاری)؛ زیات کړو په زوراء مقام باندې (مشکوٰة ص۱۲۳)؛ فائده: په دې آیت کښې انتفاق سره مراد دَ اذان نه اذان دَ خطبې دے اګرچه اذان عثمانی هم سنت دَ خلیفه دے؛ هغه ته شرعًا بدعت نه ویلے کیږي (احسن البیان)، وَذَرُوا الْبَيْعَ: په دیکښې زور نه دے په بیع عمل سره چه دَ خطبې دَ نبی صلی الله علیه وسلم په وخت کښې هغوی تجارتی سامانونه خوارهٔ شو صرف دولس کسان پاتے شو، دا خو په هغه وخت کښې ګناه نه شوه ځکه چه دَ دغه وخت نه مخکښې الله تعالیٰ دا سے حکم نه وو رالیږلے لیکن تنبیه شوه دَ اینده وخت دَپاره (احسن البیان) دا دَ استماع دَ وجوب دَ خطبې نه مخکښې واقعه ده؛ ځکه دا نو دَ نزول نه پس ثابت نه دی چه کوم صحابی رضی الله عنه خطبه پریښے څوک ته تلے وی؛ (جواهر ملخصًا)؛

الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا

جمعې نه، نو کوشش وکړئ (ځئ) یاد دَ الله تعالیٰ ته، او پریږدئ

الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ

خرڅول؛ دغه غوره دی تاسو لره، که چیرے تاسو

تَعْلَمُونَ ﴿٩﴾ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ

پوهیږئ؛ - پس کله چه پوره کړے شی مونځ؛

فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا

نو خوارهٔ شئ په زمکه کښې؛ او ولټوئ تاسو

مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ

دَ فضل دَ الله تعالیٰ نه؛ او یاد وئ؛ الله تعالیٰ لره

كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا

ډیر؛ دَپاره دَ دے چه تاسو کامیاب شئ؛ او کله چه

رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا

وینی دوی سودا اګری؛ یا مشغله؛ نو خوریږی دوی هغې ته؛

وَتَرَكُوكَ قَائِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ

او پریږدی تا لره ولاړ؛ ووایه؛ هغه ثواب چه دَ الله تعالیٰ

اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۚ

سره دے؛ غوره دے دَ لوبو (مشغلې) نه؛ او دَ سودا اګرئ نه؛

وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١﴾

او الله تعالیٰ غوره دَ رزق ورکوونکو نه دے؛

رکوع ۱۴

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ قَالُوا نَشْهَدُ

کله چه راشی تاته؛ منافقان؛ وائی دوی؛ ګواهی کوو؛

وَتَرَكُوكَ قَائِمًا: او پریږدی تا لره ولاړ په منبر باندې په خطبه ویلو کښې؛ حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه دا آیت دلیل دے چه امام به دَ جمعې په ورځ دَ جمعې خطبه په ولاړه وائی؛ (ابن کثیر ص۴۱، حصص من تفسیر، معالم، و بغوی ص۳۱) الحمد لله تفسیر دَ سورة جمعې دَ جمعې په ورځ په توحید آباد کښې په ۶ دَ جمادی الثانیة ۱۴۲۸ھ مطابق ۲۲ جون ۲۰۰۷ء په وقت سره ۱۰ بجے ختم شوه؛

سورة مُنَافِقُون:

دا مدنی سورت دے په ترتیب کښې ۶۳ پس دَ سورة جمعې نه او په نزول کښې ۱۰۳ پس دَ سورة حج نه؛

دعوی: زجر هغه چا لره چه خرڅه نکوی؛ **ربطونه:**

(۱) مخکښې سورت کښې ترغیب ورکړو انفاق ته نو دلته زجر ورکوی هغه چا لره چه منکر دی دَ انفاق نه؛ (۲) مخکښې او فرمایل چه پیغمبر به کتاب زده کوی نو دلته فرمائی چه کتاب دَ ورسیدو نه عمل پرے وکړئ؛ (۳) مخکښې سورت کښې توحید ذکر وو نو دلته صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم دے ...

خلاصه: دَ سورت په اوله رکوع کښې اَلتشنیع صفتونه دَ منافق ذکر دی. ... وجه دَ تسمیې: لفظ دَ منافقون پکښې ذکر شوی ...

امتیازات: (۱) اَلتشنیع صفات دَ منافقانو (۲) دَ صاحب الحوزة ذکر شو (۳) ترهیب من النیاسة (۴)

منافقانو لره چې غسله ناکیږي مدد وَاللّٰهُ يَشْهَدُ (۲) او الله تعالى گواهي کوي چه منافقان خامخا دروغژن دي: سوال دا راځي چه دَ منافقانو دا قول چه

نشهد انك لرسول الله خو ریښتیا او حق دے نو ځنګه ورته دروغژن اوویلے شو: جواب ئے په څو طریقو سره دے

(۱) دوی دروغژن دي په دعوے کولو دَ مواطات کښې یعنې چه دَ خُلې او دَ زړه خبره موافقه نه ده:

(۲) دوی دروغژن دي په دیکښې چه خپله خبره ئې شهادت وائي: (۳) دوی دروغژن دي په خپل زعم کښې: وګورئ ... مدارك:

تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ: غوږ به ږدې خبرے دَ دوی ته: چادر به ... دي: ازبیرون چون ګور کافر پُر حُلل وَ اندرون قهر خدای عزّ وجلّ:

إِنَّكَ لَرَسُولُ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ

یقیناً ته خامخا رسول دَ الله یې: او الله تعالى پوهیږي چه

إِنَّكَ لَرَسُولُهُ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ

یقیناً ته خامخا رسول دَ هغه یې: او الله تعالى گواهي کوي چه یقیناً

الْمُنَافِقِينَ لَكَاذِبُونَ ۝١ اتَّخَذُوا

منافقان: خامخا دروغژن دي: نیولي دي دوی:

أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا عَن

قسمونه خپل: ډال: نو اړولي دي (خلق): دَ

سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا

لارے دَ الله تعالى نه: یقیناً دوی بد دی هغه عملونه چه دوی کولے

يَعْمَلُونَ ۝٢ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ

کوي: دا په دے وجه چه یقیناً دوی ایمان راوړے دے: بیا ئے

كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ

کفر کړے دے: نو مُهر لګولے شو په زړونو دَ دوی: نو دوی

لَا يَفْقَهُونَ ۝٣ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ

نه پوهیږي: او کله چه ووینے ته دوی لره: نو تعجب به درکوي تا لره

أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ

جُثے دَ دوی: او که وینا کوي دوی نو غوږ به ږدے

لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ

وینا دَ دوی ته: ګویا که دوی لرګي دي (اولوته) اړم کړے شوي دیوال ته

يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ

ګمان کوي دوی: دَ هرے چیغے: په دوی باندے: هم دوی

الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ

دښمنان دي: نو ځان وساته دَ دوی نه: تباه دِ کړي دوی لره الله تعالى

منزل ۷

ازبیرون طعنه زنی بر بایزید ❋ واز درونت ننګ می دارد یزید ❋ خُشُبٌ: لرګي دي: اولونه دي: مُسَنَّدَةٌ: اودرولی شوي: اړم کړے شوي دیوال ته ❋

أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٤﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ

کوم خوا ته اړولی شي دوی ؛ او کله چې وویلی شي ؛ دوی ته ؛

تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ

راشئ چې بخښنه وغواړي تاسو لره ؛ رسول د الله تعالیٰ ؛

لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ

تاؤ کړي سرونه خپل ؛ او وینې به ته دوی لره ؛ چې مخ اړوي ؛

وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ ﴿٥﴾ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ

او دوی لوئي کوونکي دي ؛ برابره خبره ده په دوی باندې ؛

أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ

که بخښنه وغواړې ته ؛ دوی لره ؛ یا بخښنه ونه غواړې ته ؛

لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ

دوی لره ؛ هیڅکله بخښنه نکوي الله تعالیٰ دوی لره ؛ یقیناً الله تعالیٰ ؛

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٦﴾ هُمُ

هدایت نکوي ؛ قوم ؛ فسق کوونکي ته ؛ دوی

الَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنْفِقُوا عَلَىٰ مَنْ

داسې خلق دي چې وائي دوی ؛ خرچ مه کوئ په هغه چا چې

عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ يَنْفَضُّوا

په نزد د رسول د الله تعالیٰ کښې دي ؛ تر دې پورې چې خواره واره شي دوی

وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او خاص الله تعالیٰ لره خزانې ؛ د اسمانونو ؛ او د زمکې دي ؛

وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٧﴾

او لاکن منافقان ؛ نه پوهیږي ؛

يَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ

وائي دوی ؛ که چرې واپس شو موږ ؛ مدینې ته ؛

لَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ؛ د کوري توبه عنه ؛ وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ ؛ د کوري محرف ؛

✧ ✧ ✧

لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ؛ امام قرطبي رحمه الله فرمائي چې د دوی خیال وو چې عزت په ډېروالي د مالونو او تابعدارو سره دے نو الله تعالیٰ واضحه کړه چې عزت الله تعالیٰ لره دے (قرطبي ۱۲۹/۱۸) :

و غلبه و عزت ذات الله ګي ده

سوال :- په سورة نساء ۱۳۹ او فاطر ۱۰ کښې تخصیص د عزت په الله تعالیٰ پورې شوے دے او په دے ایت کښې ورسره رسول ﷺ او مومنان هم ذکر شو ؟

جواب :- په هغه دواړو ایتونو کښې مراد اختیار عزت

لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَ لِلّٰهِ

نو خامخا به وباسی عزتمند ور نه ذلیل لره ، او خاص الله لره

الْعِزَّةُ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ

صفت د عزت دے ، او رسول د هغه لره ، او مؤمنانو لره ، او

لٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۟ ۸

لاکن منافقان ، نه پوهیږی ،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ

اے هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے ، غافله دے نه کړی تاسو لره ،

اَمْوَالُكُمْ وَ لَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ

مالونه ستاسو ، او نه اولاد ستاسو ، د یاد د

اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ

الله نه ، او چا چه وکړو دا کار ، نو دغه کسان

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۟ ۹ وَ اَنْفِقُوْا مِنْ مَّا

دوی تاوانیان دی ، او خرچ وکړئ د هغه نه چه

رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ

موږ درکړی دی تاسو ته ، مخکښ د دے نه چه راشی

اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَاۤ

یو کس ستاسو ته مرګ ، نو وائی به : اے ربه زما ! ولے دې

اَخَّرْتَنِيْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ

روسته نکړم زه ، تر نیټے نږدے پورے ، نو صدقه به وکړم

وَ اَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۟ ۱۰ وَ لَنْ

او شم به زه د نیکو کارانو نه ، او هیچرے نه

يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ

روسته کوی الله تعالیٰ هیڅ نفس لره کله چه راشی نیټه د هغه

بقیه ده ٦ محو ، د عزت

وصف او صفت خاص وصف په

الله تعالیٰ پورے او بیا وصف

ایستو ذکښ توصیف وصف په

عزت سره یعنی موصوف

په عزت سره الله تعالیٰ

او رسول او مومنان دی ،

منافقانو او کافرانو لره په

نزد د الله تعالیٰ هیڅ عزت

نشته وصف ، بیا د دیخوا ره

سره حرف د لام جدا جدا

ذکر کړے وصف اشاره ده

چه مونږ دوی په عزت کښ د

یو بل سره ډیر فرق دے (احسن

[illegible]) د جابر بن عبدالله

رضی الله عنه روایت دے چه مونږ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په

یو غزا کښ وو نو کوشته ولګوله

یو سړی د مهاجرینو د یو

سړی د انصارو ته ، نو انصاری

انصارو ته او مهاجر مهاجرینو ته

آواز او کړو نو رسول الله صلی

الله علیه وسلم اوفرمایل : ما بال دعوی

الجاهلیة ، دعوها فانها منتنة

نو عبدالله بن أبی بن سلول ووئیل

او ایا دا کار ئے اوکړو والله لئن

رجعنا الی المدینة لیخرجن الخ ؛

تفسیر ابن کثیر ، معارف [illegible]

فَاَصَّدَّقَ : په معنیٰ د اتصدق

یعنی خیرات به مے درکړے وے

او صدقے به مے کړے وے ؛

(بیضاوی [illegible] ، روح [illegible] ، مدارک

[illegible] ، البام الرحمن [illegible])

سُورَةُ التَّغَابُن: نوم ئے په ۹ آیت کښ راغلے دے او دا مصحفي سورت دے او په ترتیب کښ ۶۴ پس د سورة منافقون نه او په نزول کښ ۱۰۸ دے پس د سورة تحریم نه. **دعویٰ:** اثبات د خلورو اېو اصولو او مقاصدو: (۱) توحید مله ۱۳ (۲) رسالت ۸ (۳) آخرت ۷ (۴) صداقت ۸:

ربطونه: ما قبل کښ ترغیب وو قتال او انفاق ته نو دلته ذرملی چه دا دواړه به د مسئلے د توحید د پاره وي (۲) مخکښ د سورت آخري سرکښ مسئله د توحید اجمالاً ذکر شوه نو دلته ئے تفصیل په دلائلو سره کوي، (۳) مخکښ زجر د و منافقانو لره په اعراض کولو باندے نو دلته ترغیب ورکوي اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ د هغه ته ۱۲. **خلاصه:** سورت کښ دوه قسمه دي: اول تر ۱۰ پورے، دویم تر آخره پورے. په اول کښ دعویٰ د توحید او په دے باندے درے دلائل ۲، ۴، ۷. (۲) تخویف دنیاوي ۵: (۳) زجر منکرینو د آخرت لره ۷: (۴) اثبات د آخرت او په دے باندے قسم ۷: (۵) ترغیب ایمان او قرآن ته ۸: (۶) تخویف اخروی ۱۰: (۷) بشارت ۹: په دویم قسم کښ ترغیب دے قتال ته ۱۱ (۲) ترغیب دے اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ ته ۱۲: (۳) دعویٰ د توحید ۱۳ (۴) ترهید د دنیا نه ۱۴، ۱۵: (۵) ترغیب انفاق ته ۱۶. **امتیازات:** (۱) قسم په راتللو د قیامت ۷ (۲) د قیامت یو نوم یوم التغابن ۹: (۳) اولاد او بیبیانے فتنه دي ۱۵: (۴) ښائسته صورت د انسان ۳. **يُسَبِّحُ لِلّٰهِ:** دلته دعویٰ د توحید په لفظ د تسبیح سره او د دے د پاره ذباري تعالیٰ درے

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ⑪	ع ۱۴
او الله تعالیٰ خبر دار دے په هغه عملونو چه دوی ئے کوي:	

(۱۸ سُورَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ) **بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ** (رکوعاتها ۲ — آیاتها ۱۸)

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي
پاکي بیانوي الله تعالیٰ لره هغه شیونه چه په اسمانونو کښ دي: او هغه چه په
الْاَرْضِۚ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ
زمکه کښ دي: خاص هغه لره باچاهي ده: او خاص هغه لره ستاینه ده:
وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ① هُوَ
او هغه په هر شي باندے قدرت والا دے: خاص الله
الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ
هغه ذات دے چه پیدا کړي دي تاسو لره: نو بعضے ستاسو کافر دي: او بعضے ستاسو نه
مُّؤْمِنٌؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ②
مؤمن دي: او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے:
خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ
پیدا کړي ئے دي اسمانونه: او زمکه: په حقه سره:
وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْۚ
او شکلونه ئے درکړي دي، نو ښائسته کړي ئے دي شکلونه ستاسو:
وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③ يَعْلَمُ مَا فِي
او خاص هغه ته واپسي ده: پوهیږي په هغه څه چه په
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ
اسمانونو کښ دي: او په زمکه کښ دي: او پوهیږي په هغه چه پټوئ ئے تاسو
وَمَا تُعْلِنُوْنَؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ
او په هغه چه ښکاره کوئ ئے تاسے: او الله تعالیٰ پوهه دے په رازونو:

صفتونه ذکر شوي دي: حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه دا سورت آخري د مسبحاتو نه دے (ابن کثیر) او په ابتداء د دے ایتونو کښ درے دلائل عقلیه ذکر شوي دي: **فَمِنْكُمْ كَافِرٌ:** آلوسي رحمه الله فرمائي: بعضے ستاسو نه کفر کوونکي دي په پیدا کوونکي باندے او دا دهریه دي (روح ۲۸)، بعضے ستاسو نه تر کسان کافر دي

ختم او وتل چه د الله تعالیٰ د توحید او د هغه د رسولانو نه ئې انکار اوکړو (...) جناب مفتی صاحب
رحمه الله فرمائی : د دوه قومی نظریه . قرآن حکیم په دے ځائے کښې انسانانو لره په دوو ډولونو تقسیم کړی دی ،
کافر ، مؤمن : ددے نه معلوم شوه چه اولاد د آدم علیه السلام ټول یوه برادری ده او په دُنیا کښې ټول انسانان د یوے برادرئ افراد دی - ددے برادرئ قطع کونکے او یو جدا ډله جوړونکے شئ صرف کفر دے . کوم سړے چه کافر شو نو هغه د انسانی برادرئ نه جدا شو ، ... رنګ ... په دُنیا کښې د انسانانو تعصب او ګروه بندی صرف د ایمان او د کفر په بنا کیدے شی الخ (معارف ...)

فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ : مفتی صاحب رحمه الله فرمائی ، انسانی څهره چه د شپږ انچه مربع نه زیاته نه ده په اربونو انسانانو کښې د یو شانے د څو کیدو با وجود یو صورت د بل صورت سره بالکلیه مشابه نه دے چه پیژندل ئې دشوار وی : دا داسے حیرت انګیز صورت ګری ده چه عقل ورته حیرانیږی : (معارف ... د تفسیر نه ...) ، کوری مومن ... ، سورة تین ...

قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي : ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه دا دریم هغه آیت دے چه الله تعالیٰ پرے امر کړے دے خپل رسول خاتم النبیین ته چه قسم اوکړی په رب خپل عزوجل ، په واقع کیدو د قیامت باندې (... قاسمی ...) : وَالنُّورِ : مراد ترینه ټوله وحی او خصوصاً قرآن پاک دے چه ددے

الصُّدُورِ ﴿٤﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ

د سینو باندې : آیا نه دی راغلی تاسو ته خبر د هغه کسانو چه

كَفَرُوا مِن قَبْلُ فَذَاقُوا وَبَالَ

کفر ئې کړے و : مخکښې ددے نه ، نو وڅکله هغوی : سزا د

أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٥﴾ ذَٰلِكَ

د کار خپل ، او دوی لره : عذاب دردناک دے : دا په دے وجه

بِأَنَّهُ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم

چه یقینا وو دوی : چه راتلل دوی ته ، استازی ددوی :

بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا

په ښکاره معجزو : نو وویل دوی : آیا انسانان به مونږ ته لار ښکاره کوی ؛

فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا ۚ وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ ۚ وَاللَّهُ

نو کفر ئې وکړو دوی : او مخ واړولو دوی ؛ او بے پرواهی ښکاره کړه الله : او الله تعالیٰ

غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٦﴾ زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا

بے حاجته ستائیلے شوے دے : ګمان کوی هغه کسان چه کفر ئې کړے دے :

أَن لَّن يُبْعَثُوا ۚ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي

چه هیچرې به دوباره ژوندی نه کړے شی دوی : ووایه ولے نه ؛ قسم دے په رب زما ؛

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَ

خامخا یقینا دوباره به ژوندی کړے شئ بیا به خامخا خبر درکړے شی تاسو په هغه عملونو چه

ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧﴾ فَآمِنُوا بِاللَّهِ

دا کار : په الله تعالیٰ باندې آسان دے : پس ایمان راوړئ په الله باندې

وَرَسُولِهِ وَالنُّورِ الَّذِي أَنزَلْنَا ۚ

او په رسول د هغه باندې : او په رڼا هغې باندې چه نازل کړے ده مونږ ،

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ

او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ : خبردار دے : کله چه

په وجه د جهل د تیارو نه خلاصے او نجات حاصلیږی : وګورئ نهر ... ، ابن کثیر ... ، مدارک ... ، روح ... ، زاد المسیر ... ، قاسمی ... ، الهام الرحمٰن ...

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ: داورځ د ګټے او د سیلئے ده ((فضل ص ...)) دغه ورځ د غبن ښکاره کیدو ده (جمل ص ...) راغب رحمه الله فرمائي: د تغابن ورځ د قیامت ورځ ده ددے د ظهور د غبن نه په هغه لین دین کښې

يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ

راجمع کړي تاسو به ورځ د جمع ایل کښې: دغه ورځ

التَّغَابُنِ ۗ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ

د تاوان ښکاره کیدو ده: او چاچه ایمان راوړو په الله تعالی او عمل ئے وکړو

صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ

نیک: لرے به کړي الله تعالی د ده نه بدی: او داخل به ئے کړی

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

باغونوته: بهیږی به د لاندے د هغونه: نهرونه

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

همیشه به وسیږي په هغوکښې: تل تر تله: دغه: کامیابي

الْعَظِيْمُ ﴿٩﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

لویه ده: او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے: او دروغ ئے ګڼلی دی

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ

په ایتونو زمونږ: دغه کسان: خاوندان: د اور دی:

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿١٠﴾ ع ۱

همیشه به وسیږي په هغوکښې: او بد ځائے د ګرځیدو (او رد) دے:

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ

نه رسیږی: هیڅ مصیبت: مګر په اذن (تقدیر) د الله

وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ۭ وَاللّٰهُ

او چاچه ایمان راوړو په الله باندے: کلک به کړي زړه د ده: او الله

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿١١﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ

په هر شي باندے پوهه دے: او تابعداري وکړئ د الله

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ

او تابعداري وکړئ د رسول ﷺ: نو که چرته مخ واړوئ تاسو

منزل ۷

چه اهاره ورته شوے په دے قول د الله تعالی کښې: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَاۗءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ، او په دے قول د الله تعالی کښې: اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ الاية (مفردات ص ۳۶۲) د شاه پور شیخ رحمه الله فرمائي: کله چه اوسیلنه خو خلقو کړے وه په دُنیا کښې خو دغه کله اوسیلنه به ښکاره شي په قیامت کښې: سیلنه داده: اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ (بقره ص ۱۷۵) دا د کافرانو سیلنه ده او د مسلمانانو ګټه داده: اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ (توبه ص ۱۱۱) (فضل ص ...)

مَآ اَصَابَ: دَ دے ځائے نه دریم قسم د سورت شروع شو تاکید ... دی ته په اعتلا حدید. يَهْدِ قَلْبَهٗ: هدایت کوی زړه د ده ته: مضبوطا کوی زړه د ده: په مظهری کښې دی چه توفیق به ورکوی دپاره د صبر او د رضا او د تسلیم. په مدارک کښې دی چه توفیق به ورله ورکوی په وقت د مصیبت کښې د ویلو د اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ، او په سراج منیر کښې دی: هر کله چه زړه په هدایت مضبوط شی نو زائد شی د دلانه هر اعتقاد باطل چه کفر دے یا بدعت دے یا صفت خبیثه دے.

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ الخ: زهری رحمه الله فرمائي چه د الله تعالی له طرفه نه رسالت دے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه نه تبلیغ دے: او زمونږ په له طرفه نه تسلیم دے: (ابن کثیر ص ۳۷۵ ج ۴)

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ: په دې کښې وصف دَ توحید دې حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی چه په اول جمله کښې معنی دَ طلب پرته ده یعنی اخلاص وکړئ الله تعالی ته په هر قسم شرک پریږدو وسیلې (سیلح) سورة مزمل ۹ وګورئ.

فَاِنَّمَا عَلٰی رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِیْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ

نو یقینا په رسول زموږ باندې رسول ښکاره دې، الله

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَی اللّٰهِ فَلْیَتَوَکَّلِ

نشته حقدار دَ عبادت سوا دَ هغه نه، او خاص الله تعالی باندې دې توکل او سپارل کوي

الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ

مؤمنان، اے ایمان والو، یقینا

مِنْ اَزْوَاجِکُمْ وَاَوْلَادِکُمْ عَدُوًّا

بعضې دَ ښځو ستاسو نه او دَ اولاد ستاسو نه دشمنان

لَّکُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَ

ستاسو دي، نو ځان وساتئ دَ هغوی نه، او که عفوه وکړئ او

تَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

مخ واړوئ ترې (ملامته یې نه کړئ) او بخښنه وکړئ نو یقینا الله تعالی بخښونکے

رَّحِیْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَاۤ اَمْوَالُکُمْ وَاَوْلَادُکُمْ

رحم کوونکے دے، یقینا مالونه ستاسو او اولاد ستاسو

فِتْنَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۵﴾

امتحان دے، او الله تعالی خاص دَ هغه سره بدله لویه ده

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا

نو ویریږئ دَ الله تعالی نه څومره چه طاقت وي ستاسو، او واورئ

وَاَطِیْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَیْرًا لِّاَنْفُسِکُمْ ؕ

او حکم ومنئ او خرچ وکړئ تو غوره به وي دپاره دَ نفسونو ستاسو

وَمَنْ یُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِکَ هُمُ

او څوک چه بچ کړے شو دَ بخل دَ نفس خپل نه نو دغه کسان دوی

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا

بریالي خوښ وګړي دي، که چیرے قرض ورکړئ تاسو الله تعالی ته قرض

ښه او وګورئ: عدوا لکم: اولاد او ازواج حیف دې فقط دَ خدائ نو دشمنئ باعث جوړیږی: (الف ۲۹ جواهر)، دَ دښمنۍ وجه دا چه دوی حائل کیږي په منځ دَ سړي او طاعتونو او نیک عمل او کار روتو وده وی کښې په آخرت کښې. او کله بیا باعث کیږي په کوشش کولو دَ شهود حرام کښې الخ (روح ۱۳۳). فتنة: امتحان دے، څه وخت ولې نه خالي کیږي دَ امتحان نه او دَ مشغولوالي دَ زړه نه په دوی پوری. (زاد المسیر ۱۵۷):

فاتقوا الله: په دې ایت کریمه کښې ځلور امور دي او په دې ایت کښې امور دَ هغه ایت ذکر کوي د وستو دَ اسبابو دَ فتنې او عداوت نه.

ما استطعتم: الوسي رحمه الله فرمائي چه صرف کړئ په تقوی دَ الله عزوجل کښې کوشش او طاقت خپل: (روح ۱۴۷)، مقصد دا دے چه هر انسان دَ خپل پوره استطاعت صرف کوي په اقامت دَ حدود دَ شرعیه وسره: نور وارو ایتونو په ما بین کښې منافات نشته وګورئ احسن ۴۳۰: خیرا: تقدیر دَ عبارت دا دے: یکن خیرا: شي به غوره تاسو لره په دُنیا او آخرت کښې: (ابن کثیر ۱۹۳۸): ان تقرضوا الله: په دې حرکښې دَ انفاق في سبیل الله بیان دے او په سورة منافقون کښې دَ امر دَ انفاق نه بطور دَ ترقي او فرمایل چه تاسو الله تعالی ته قرض ورکړئ هغه تاسو ته ډیر زیات اجر او ثواب ورکوي او ستاسو ګناهونه به هم معاف کړي الخ (جواهر ۱۲۶۹) ب (تمت سورة التغابن بفضل الله تعالی وکرمه: ۱۲/۳ بجې قبل از نماز ظهر: ۱۰ جمادی الثانية ۱۴۲۸ هـ) ❁

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ: نوم ئے د اول آیت نه معلومیږي، دا مدني سورت دے په ترتیب کښ ۶۵ یم د سورة تغابن نه او په نزول کښ ۹۹ دے پس د سورة دهر نه. دعوىٰ: بیان د امور انتظامیو. ربطونه: (۱) دا سورة تتمه د سورة تغابن ده خو اول ئے د اخر سره او اخر ئے د اول سره لګي. (۲) مخکښ ترغیب وو جهاد ته نو دلته فرمائي چه مخکښ ترغیب د امور انتظامیو پابندي ضروري ده (۳) مخکښ سورة آخر کښ توحید وو نو دلته هم اخر کښ هم دے.

حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَ

ښائسته، زیات به ئے کړي تاسو ته او بخښنه به وکړي تاسو ته، او

اللّٰهُ شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَ

الله قدر زدونکے صبر ناک دے، عالم دے په پټو، او

الشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾

ښکاره وباندې زورور حکمتونو والا دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ

اے نبیه او وایه امت خپل ته کله چه طلاق ورکول غواړئ د ښځو خپلو ته

فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ

نو طلاق ورکوئ دوئ ته مخکښ د زمانې د عدت د دوی نه، او شمارئ شمار د عدت

وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ

او ویریږئ د الله نه چه رب ستاسو دے، مه باسئ دوی

مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ

د کورونو د دوی نه، او نه دې وځي دوی خپله، مګر چه

يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۗ وَتِلْكَ

راتلل وکړي په بدئ ښکاره سره، او دغه

حُدُوْدُ اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ

پولے د الله تعالى دي، او چا چه تجاوز وکړو د پولو د

اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۗ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ

الله نو یقینا ظلم ئے اوکړو په ځان خپل باندې، نه پوهیږې ته، کیدے شي چه

اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿١﴾ فَاِذَا

الله تعالى پیدا کړي روستو د دے نه بله خبره (کار)، نو هرکله چه

منزل ٧

خلاصه: دا سورة تقسیم دے دوو قسمونو ته: اول ترمشر پورے، دویم قسم تر آخره پورے. په اول قسم کښ امور انتظامیه دي: (۱) دیارلس اوامر (۲) دوه نواهي (۳) فائدے د تقوىٰ پنځه. په دویم قسم کښ څلور مقاصد دي: د تخویف دنیاوي او اخروي او بشارت اخروي، صداقت رسالت وحدانیت سره د دلیل نه. امتیازات: (۱) ۱۳ اوامر (۲) پنځه فائدے د تقوىٰ (۳) طریقه د طلاقو (۴) مماثلت د زمکې د آسمانونو سره (۵) اقسام د عدت.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ: خطاب اوکړے شو نبي ﷺ ته اول د باره د تشریف او تکریم د هغوی، بیا خطاب اوکړو امت ته تبعا (ابن کثیر) زمخشري رحمه الله فرمائي چه خاص ئے کړو نبي ﷺ په آواز سره او خطاب ئے عام اوکړو ځکه هغوی امام د امت خپل دے او مقتدا د دوی دے (نهر) شاه ولي الله رحمه الله معنى لیکي: اے نبي! دوایه امت خپل ته (فتح) اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ: کله چه اراده وکړئ تاسې د طلاق ورکولو (تسهیل). فائده: په دے آیت کښ اته جملے دي او په هره جمله کښ بیا احکام او حکمتونه شرعیه دي: اته درے اوامر دي او دوه پکښ نواهي دي او درے ... فَطَلِّقُوْهُنَّ: نو طلاق ئے ورکړئ مخکښ د زمانې د عدت د هغوی نه: یعنې په داسې طریقه سره

طلاق نوی نحه چه عدت نے شمارے کیدا شی یعنی چه ښځه د حیض نه پاکه شی او تعلق ورسره نه وی شوے نو که د سړی طلاق ورکولو ضرورت وی نو دا ښځه به چه د هغه وخت کښې طلاق ورکړے شی د عدت معلومیدل ئے هم اسانه شی ځکه چه واضحه ده (تدبر القرآن[28])

بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

نزدے شو کوم وخت چه خپلے نیټے ته: نو حساب کړئ دوی لره په ښه طریقے سره،

اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا

یا جدا کړئ دوی لره په ښه طریقے سره: او ګواهان ونیسئ

ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ

دوه خاوند د انصاف ستاسو نه: او دا ګواهی پوره کړئ صحیح

لِلّٰهِ ۭ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ

د پاره د الله: دغه حکم وعظ کوله شی په دے: هغه چا ته چه وی: ایمان لری

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ڛ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ

په الله او: او په ورځ روستنئ: او څوک چه بیره کوی د الله تعالیٰ

يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ

مقرر به کړی دے لره: ځائے د وتلو (نجات): او روزی ورکوی دے ته دغه ځائے

حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۭ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى

ځائے نه چه دے په دے ګمان نه کوی: او څوک چه ځان سپاری: په

اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ ۭ

الله باندے: نو هغه کافی دے دے لره: یقیناً الله تعالیٰ پوره کوونکے د کار خپل دے:

قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝

یقیناً مقرر کړے دے الله تعالیٰ د هر شی د پاره: خاص اندازه،

وَالّٰٓـِٔيْ يَىِٕسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ

او هغه زنانه چه نا امیده دی د حیض نه: د بیبیانو

نِّسَاۗىِٕكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ

ستاسو نه: که چرے شک کوئ تاسو (د عدت د هغوی کښې): نو عدت د هغوی

ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓـِٔيْ لَمْ يَحِضْنَ ۭ وَ

درے میاشتے دی: او هغه زنانه چه نه وی حائضه شوے: او

منزل ۷

ته دوو (استثنیٰ)، اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ: مراد د دینه وتل دی بلا اجازته او وتل د ښځے بغیر د ضرورت نه یا فحاشی نه پکښې مراد په ژبه د خاوند او د هغه د کور سره بد ژبې یا مراد تری زنا ده لیکن وتل د پاره د حق ئے کولو دی قول مراد نه دی: (کورتي ابن کثیر[2] وغیره). لعل الله واحکمت حکمت د مشروعیت د عدت یعنی که خاوند خپیمانه شو نو په عدت کښې به ورته رجوع اوکړی، که طلاق صریح او نو رجوع په قول سره او که کنائی وو نو رجوع په نوے نکاح سره ده او که عدت د خلع وو نو رجوع په رضا د ښځے سره. (افضل ص[62])

وَاَشْهِدُوْا[4] او د ګواهانو نیول سنت دی وجه د پاره چه منکر کیدل په مستقبل کښې دے وار وکړی (النکی (مدارک ص[62]). وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ: په دیکښې او لنډ فائده د تقویٰ ده او په دے ایت کښې دوه فائدے دی: ابوذر غفاری رضی الله عنه وائی چه دا ایت ما رسول الله صلی الله علیه وسلم تلاوت او فرمایئ بیان او وئیل: یا اباذر لو ان الناس کلهم اخذوا بها لکفتهم الخ: (ابن کثیر ص[ ] فتح القدیر ص[ ] بسراج منیر ص[ ] مشکوٰة ص[ ]).

الهام الرحمٰن ص[ ]: وَالّٰٓـِٔيْ يَىِٕسْنَ: په دے ایت کریمه کښې د عدت اقسام ذکر شوی دی: او هغه زنانه چه نا امیده ۲ دی د حیض نه که چرے شک کوئ تاسو په مقدار د عدت د هغوی کښې (جواهر ص[ ]) چه بوډۍ وی او د هغے حیض ختم شی یا وړه وی د هغے حیض نه کیدو نو بیا به درے میاشتے تیروی: (افضل ص[ ])

۞ ۞ ۞ ۞ ۞

أُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ
خاوندانې د اُمید وَنو : نهایته د عدت د هغوی : زېږول د هغوی دی
حَمْلَهُنَّ ۚ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ
حملونو خپلو لره ؛ او څوک چه وېره کوي د الله تعالیٰ نه وبه ګرځوي دا لره ؛
مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴿٤﴾ ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ
د کار د ده نه : اساني ؛ دغه : امر د الله تعالیٰ دے :
أَنْزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ
نازل کړے دے تاسو ته ؛ او څوک چه وېرېږي د الله تعالیٰ نه لرے به کړي
عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴿٥﴾
د ده نه بدي د ده ؛ او لوئے به کړي : ده لره اجر د ده ؛
أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ
اوسوی دوی لره ؛ په هغه ځائے کښې چه تاسې پکښې اوسېږئ ؛ د
وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا
طاقت ستاسې نه ؛ او مه ورکوئ ضرر دوی ته ؛ چه تنګي راولئ تاسې :
عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ
په دوی باندې ؛ او که چرے وي دوی خاوندانې : د اُمید وَنو ،
فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ
نو خرچ کوئ په دوی باندې : تر دے چه : او زېږوي دوی :
حَمْلَهُنَّ ۚ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ
حمل خپل : بچي نے ورکوي دوي (پئ) ستاسې لره : نو ورکوئ
أُجُورَهُنَّ ۖ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ ۖ وَ
مزدورۍ د دوي ؛ او مشوره کوئ په مېنځ خپل کښې ؛ په ښه طريقے سره ؛ او
إِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ﴿٦﴾
که چرے سختي کړي تاسو د پاره ؛ نو زر دے چه تے به ورکوي ده ته ؛ بله ښځه :

دَ اُولَاتُ الْأَحْمَالِ : دغه رنګے وضع د حمل هم د دوو ډولو ښځو د پاره ده ۱۱) هغه حامله چه ښځه په حالت د حمل کښې طلاق ورکړے شوے وي (۲) هغه حامله چه د ښځے خاوند مړ شوے وی (جواهر ۱۳۸/۱۲)
فائده : د شلورم ايت په آخر کښې ذريعه فائده د تقوی او د پنځم په آخر کښې شلورمه او پنځمه فائده د تقویٰ ده : أَسْكِنُوهُنَّ الخ : په دے ايت کريمه کښې شپږ جمله او شپږ احکام ذکر شوی دی —
فائده : په عدت کښې به مطلقے لره د کور او د خرچ انتظام کوي : مطلقه عامه ده که په طلاق رجعي سره وی او که په طلاق بائن سره او که په طلاق مغلظه سره (انفس ملخص) فائده : په دے ايت کښې شلور جملے دی او د مسئلے د انفاق سره تعلق لري
فائده : په دے او مخکښې تحريف د نياوي دے پس د پيغمبرانو د شرعي احکامو او حدود ونه : فائده : جناب مفتي صاحب رحمه الله تقريب د احکام د دے تولو ايتونو نه راويستلے او ذکر کړي دی : وګورئ معارف د ۵۷۲ نه تر ۴۹۳ پورے ❊ ❊ ❊

قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا : يقينا راليږلے دے الله تعالیٰ تاسو ته پند نصيحت : يعني قرآن لره : (مدارک ۲۶۸/۴)
رَسُولًا : رالېږلے دے رسول الله صلى الله عليه وسلم لره : غمه

ف ؛ شپږ ورځے د اعمال ؟

(بقیه د وړمې مخ): ارسل رسولاً، وهو الذي اختاره ابن عطية وهو الظهر الاقوال (السبيل ﷺ) په مخکښې ایت کښې صداقت د قران او په دیکښې د رسول ﷺ دے او په دے ایت مبارکه کښې بشارت اخروي هم وحصه (اَللّٰهُ

لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ ۖ وَمَن

خرچ دې وکړي: خاوند د فراخئ: د فراخئ خپلې نه: او هغه څوک چه

قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ

تنګه شوې په دۀ باندې: رزق د دۀ: نو خرچ دې وکړي د هغه نه چه ورکړې دے دۀ ته

اللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا ۚ

الله: تکلیف نه ورکوي: الله هیچ نفس لره مګر د هغه چه ورکړې دے هغې ته

سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾ وَكَأَيِّن

زر دے چه وبه ګرځوي الله: پس د سختئ نه اسانی: او ډیرو

مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَ

د کلو والو نه: نافرمانی وکړه: د امر د رب خپل نه: او د

رُسُلِهِ فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَ

رسولانو د هغه نه: نو حساب وکړو مونږ د هغوی: حساب سخت: او

عَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ

عذاب ورکړو مونږ هغوی ته: عذاب نا اشنا: نو وڅکله: سزا د

أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾

کار خپل: او دے انجام: د کار د هغوی: تاوان

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَاتَّقُوا

تیار کړې دے الله: هغوی لره: عذاب: سخت: نو ویریږئ د

اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ۚ الَّذِينَ آمَنُوا ۚ

الله نه: اے خاوندانو د عقلونو: هغه کسان چه ایمان ئې راوړې دے

قَدْ أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُولًا

یقیناً رالیږلې الله: تاسو ته نصیحت: پیغمبر چه

يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَ

لولي په تاسو باندې: ایتونه د الله: واضح بیانونکي: چه راوباسي

منزل ۷

ع ۱۲ دوم قسم ترهیب

منع عما یستعین بتسلیط (بل الله والرسول ...)

اَلَّذِیْ: په دے ایت کښې چه خلے دي او دوه دلالت کوي په توحید باندې په رد د شرک فی التصرف او فی العلم سره (احسن ص ۲۵) دلیل د توحید دے چه اصلي مسئله هم دا ده چه دفعه عذاب د دنیا او دفعه امو انتظامیه د سلے دیاره دي (انفعل ۱۲۹) وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ: او د زمکے نه ئې پیدا کړے په مثل د اسمانونو د بنتو ئې شپږ ﷺ فرمائي چه څنګه اسمانونه اووه دي دغسے زمکے هم اووه دي لیکن اووه اسمانونه خو قطعي دي څکه چه د اسمانونو په باره کښې طباقاً راغلي دي لیکن زمکے دغسے نه دي بلکه د وسعه نه د مخو د زمکے اووه حصے مراد دي مثلاً ایشیا، یورپ، شمالي افریقه، جنوبي افریقه، امریکه، نیوزی لینډ او اسټریلیا (جواهر ص ۱۹) او اکثر ر حمه سلف او امام (ص ۱۰) او افضل ص ۱۲: (۲) زمکے هم اووه پیدا کړي دي او هما ثلث په عدد کښې دے او دا صحیح قول دے: او په احادیثو صحیحو کښې په دے تصریح راغلے ده: وګورئ قرطبي ﷺ، (روح ص ۱۴۸)، عثماني ﷫، ابن کثیر ﷫) د بخاري شریف په حدیث کښې راځي: چا چه په ظلم سره د بل چا د زمکے نه ډیرے لوېشت په مقدار سره راخستے نو د قیامت په ورځ به د دۀ غاړے ته د اوو زمکو نه راچوله شي: وګورئ مشکوٰة ص ۲۵۴،

بخاري ص ۷۳۰ (۱) سُورَةُ التَّحْرِيْمِ: دا مدني سورت دے په ترتیب کښې ۶۶ پس د سُورَةُ طلاق نه، او په نزول کښې ۱۰۷ دے پس د سُورَةُ حجرات نه: په اول ایت کریمه کښې تُحَرِّمُ د مضارع صیغه ذکر دا او مصدر ئې تحریم دے نو دا ئې وجه د تسمیے په تحریم شوه. دعوی: بیان د حقوقو د عه

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ

هغه کسانو لره چې ايمان راوړی دی او عملونه ئې کړي دي نيک د تورتمونو نه

إِلَى النُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ

رڼا ته : او هغه چې ايمان راوړي په الله باندې او عمل کوي

صَالِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن

نيک ، داخل به ئې کړي : باغونو ته : بهيږي به لاندې

تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ

د هغوی نه : ولې : هميشه به وسيږي : په هغو کښې : تل تر تله :

قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا (11) اللَّهُ

يقيناً ښائسته کړی : الله تعالی هغه لره : رزق : الله تعالی

الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ

هغه ذات دی چې پيدا ئې کړي : اووه آسمانونه : او د زمکې نه

مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوا

مثال د آسمانونو : نازليږي حکم د الله تعالی په منځ د دوی کښې : چې پوهه شئ تاسو

أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ

چې يقيناً الله تعالی په هر شي باندې : قدرت والا دی : او يقيناً

اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا (12)

الله تعالی احاطه کړې ده : په هر شي باندې په پوهې خپلې :

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ

اے نبی ! ولې حراموې هغه شے چې حلال کړې الله تعالی

لَكَ ۖ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ ۚ وَاللَّهُ

تا لره : لټوې : رضا : د بيبيانو خپلو : او الله تعالی

(تفسير) وړه ده اوغټه هم) زه جنت او ترغيب دے اطاعة الرسول ته ، (ربط) : د اسورة خلاصه ده د حصه د خپلو نوو د سورة محمد نه تر ده خاتمې پورې ده وی (حمط الدرر ص٣) (١) مختصر امر د کورنی بيان شو نو د لته حقوق د هغې بيان شوي (٣) مختصر ترغيب د اطاعت د رسول الله ﷺ ته ده نو د لته زجر د هغې خلاف کولو د رسول الله ﷺ ته شو ـ

خلاصه : شيخ القرآن نورالله مرقده په حمط الدرر ص٣٤ کښې فرمائي حاصل شو د ادے چه په د ے سورة کښې نهه خبرے دی : (١) تعليم امت او رسول الله ﷺ ته د پاره د سپيره دولو د قسمونو او د پاره د ترسے د حلالو مال : (٢) تحذير ورکول دی مومنانو لره په ضرر د رسول او په خلاف کولو د رسول ﷺ بانديے : (٣) بيان د قيامت او تخويف دے (٤) بشارت مومنانو لره او ترغيب توبے ته : (٦) ذکر د دوه قسمونو د جهاد د کفارو او منافقانو سره : (٧) قرابت نفع نه ورکوی چه په يو دين نه وی او مثالونه د د ے ورکړی شوی د ښځو د نوح او د ښځے د لوط عليهما السلام : (٨) او قرابت ضرر نه ورکوی کله چه مومنان بری وی د کفر د کافرانو : (٩) او بهادری ورکول دی مومنانو لره په برداشت کولو د مصائبو باندي کله چه برداشت کړے ښځے د فرعون او مجاهده کړے وه حضرت مريم رضی الله عنهما :

امتيازات : (١) ذکر د بعضے حادثاتو په مابين د نبی ﷺ او ازواج مطهراتو رضی الله عنهن : (٢) صفات د نيکو بيبيانو : (٣) ترغيب توبے خالصے ته شو : (٤) ذکر د دوه قسمونو د جهاد دے (٥) مثال د دوه کافرانو ښځو : (٦) مثال د دوه مومنانو بيبيانو :

شان نزول : په دے باره کښې حديث شريف د عائشے رضی الله عنها کښې راغلی : حاصل ئے دا دے : فرمائي چه نبی ﷺ به د مازيګر نه پس د بيبيانو نه حال احوال معلومولو د پاره ګرزيدلو : نو د

زینب بنت جحش رضی اللہ عنہا سره به ئے د گبینې شربت څکلو او ساعت به ئے تیرولو نو ما او حفصه رضی اللہ عنہا سره معاهده اوکړه چه د کوم یو څه خوا ته رسول الله صلی الله علیه وسلم راشي نو ورته وایئ چه ایا تا خو مغافیر؟ اوزه ستا څخه د مغافیرو بوی محسوسوم، نو ځکه ئے د حفصې ورته دا خبره وکړه نو حضور وفرمایل چه ما د گبینه شربت څکلې ده او کره نور به ئے ونه څکم ... نو په دې وخت کښې الله تعالیٰ د دې سورت ابتدائی ایتونه نازل کړل (ابن کثیر، بخاری، معارف ...).

ف ائده: روایت صحیح دا معلومیږي چه د دې نه مراد د گبینه حراموول دي چه د حضرت حفصې کره ئے څکلو او دا ئے ورته هم فرمایلي وو چه د دې ذکر به چا ته نه کوے لکه علامه الوسي رحمه الله د بخاری، ابن سعد، عبد بن حمید، ابن المنذر او ابن مردویه رحمهم الله په حواله نقل کړې دي: فقال لا بل شربت عسلا عند زینب بنت جحش ولن اعود وفي روایة وقد حلفت فلا تخبري بذلك احدا (روح المعاني ... جواهر ...). تحلة: د حل نه ما خوذ دے معنی دا شوه: یقینا مقرر کړې دي الله تعالیٰ تاسو له سپړودل او پرانستل د قسمونو ستاسو: د کوری مائده ۸۹. بعض ازواجه: مراد ترینه حفصه رضی الله عنها ده. واعرض عن بعض: نو نبی علیه السلام د هغې نه د رازد فاش کیدو تپوس اوکړو او د نبی علیه السلام خوش اخلاق دا چه بیعا ئے د ټول راز نه کښې هغې له نه دے ورښکاره کړے (المنیر ...).

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١﴾ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ
بخښونکے، رحم کونکے دے: یقینا مقرر کړې دي الله تعالیٰ تاسو له سپړودل
أَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ
د قسمونو ستاسو: او الله تعالیٰ مولیٰ ستاسو دے: او هغه ښه پوهه
الْحَكِيْمُ ﴿٢﴾ وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلٰى بَعْضِ
حکمت والا دے: او کله چه پټه وکړه نبی علیه السلام: بعضې د
أَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهٖ وَ
بیبیانو خپلو ته: یوه خبره: نو هر کله چه خبر کړے ئے ...
أَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَأَعْرَضَ
خبر کړے ئے الله تعالیٰ په هغې: نو خبر ورکړو بعضې خبرو: او مخ ئے واړوو
عَنْ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ
د بعضې نه: نو هر کله چه خبر کړه هغې له په دې خبره: وویلے دے: چا
أَنْبَأَكَ هٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيْمُ
خبر درکړو تا ته په دې خبره: وویلے هغه: خبر راکړے دے ما ته: پوهه
الْخَبِيْرُ ﴿٣﴾ إِنْ تَتُوْبَا إِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ
خبردار: که چیرے توبه وباسئ دواړه الله تعالیٰ ته نو یقینا مائل شوي دي
قُلُوْبُكُمَا ۚ وَإِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللّٰهَ
زړونه ستاسو: او که چیرے یو بل مدد کوئ په هغه: نو یقینا الله تعالیٰ
هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ
دا مولیٰ د هغه دے: او جبرئیل علیه السلام: او نیکان: مؤمنان:
وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ﴿٤﴾ عَسٰى
او ملائک: پس د دې نه: امداد کوونکي دي: نژدې ده چه
رَبُّهٗٓ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُّبْدِلَهٗٓ أَزْوَاجًا
رب د هغه: که چیرے طلاق ئے درکړو تاسو ته: بدل به ورکړي هغه ته: بیبیانې

تتوبا الی الله: جواب د شرط محذوف دے: فهو الواجب: که چیرے توبه اوباسئ الله تعالیٰ ته نو دا ورله واجب ده (مدارک ...). فقد صغت قلوبكما: دا قائم مقام د جزاء محذوف دے: معنی دا شوه: ځکه یقینا مائل شوي دي زړونه ستاسو تو به ته (قرطبی ... جواهر ...): ما تقدم شوی دی حق ته: (قاسمی ...) عسٰی

عنه
مائله شوېدي په (صواب) حق باندې (نهر ...) تهانوي رحمة الله فرمائي: اے د پیغمبر د دواړو بیبیانو! اګر څه تاسې
د الله تعالى په مخکښې توبه کوئ نو بهتره دي ځکه چه مقتضي د توبې موجود دے هغه دا چه ستاسې زړونه
(د ے طرفته) مائل شوېدي چه د نورو بیبیانو نه ځدا کړې هغې له د ځان خپل له جوړ کړي او ګویا دا کار یه دے اعتبار رچه اصل مقتضي ددے مینه د رسول ﷺ دے قبیح نه دے لیکن چونکه په دیکښې د نورو د حقونو اتلاف او د زړه نوماتول لازمیږي او لازمونکے د قبیح قبیح وي نو په دے اعتبار دا کار قبیح او موجب د توبے دے (بیان القرآن) غِلَاظٌ: شدید خوئي: شِدَادٌ: د سختو نیولو والا (جواهر ...): سوال په سورة بقره ... کښې النَّار ئے معرفه په الف لام سره او صفت د هغې ئے معرفه په الّتي سره ذکر کړے دے او په دے سورة کښې نکره دے، وجه د فرق څه دے؟؟ جواب: الف لام دلالت کوي په کمال او مبالغه باندې او نکره دلالت کوي په قلت او تخفیف باندې نو سورة بقره کښې خطاب دے کافرانو ته او دلته مؤمنانو ته چه هغه مبالغه او سختي نه غواړي (احسن ...) د دغو ملائکو بیان په مدثر ... کښې دے او نوم ئے زبانیه دے : مظاهري. لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ : دا آیت دلیل دے په عصمت د ملائک علیهم السلام د معاصیو نه : تَوْبَةً نَّصُوحًا : دا موصوف صفت دے

خَيْرًا مِّنكُنَّ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ
غوره : ستاسې نه : مسلمانانې : مؤمنانې :

قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ
تابعداري کوونکې : توبه ایستونکې : عبادت کوونکې : روژه نیوونکې :

ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ۝ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
کونډې : او پیغلې : اے ایماندارو :

قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا
بچ کړئ ځانونه خپل : او اهل خپل : د اور نه چه خشاک د هغې

ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ
خلق : او ګټې دي : مقرر دي په هغه باندې : ملائک :

غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ
سخت خوئي والا : طاقت والا : نافرماني نکوي د الله تعالى : د هغه چه

أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝٦
امر ئے کړے وي دوي ته : او کوي دوي هغه چه دوي ته پرے امر کولے شي :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَ
اے هغه کسانو چه کفر ئے کړے دے : بهانې مکوئ : نن ورځ :

إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٧ ع ١ ١٩
یقیناً بدله درکولے شي تاسو ته د هغه عملونو چه وئ تاسو چه کوالو مو :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ
اے ایمان والو ! توبه اوباسئ : الله تعالى ته

تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ
توبه خالصه : زر دے چه رب ستاسې به لرې کړي :

عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّٰتٍ
تلے نه : بدۍ ستاسې : او داخل به کړي تاسې : باغونو ته چه

یعنې رشتونې توبه (بیان)، د صاف زړه توبه (شیخ الهند) رشتونې او خالصه توبه (مدارک، الهام منتوع) فائده ١ :- د نصوحا قصه د قرآن نه نه معلومیږي : (نشر المرجان ص ٣٠٢) ❖ ❖

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا

بهيږي به لاندې د ونو د دغو جنتونو نهرونه : په هغه ورځ چې نه به

يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِىَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ

رسوا كوي : الله تعالىٰ نبي ﷺ او هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى سره د هغه

نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

رڼا د دوى به منډې وهي : مخې د دوى ته او په ښي طرف د دوى

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَ

وايي به اے ربه زموږه : پوره او سلامته كړه موږ ته : رڼا زموږه : او

اغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۸﴾

بخښنه وكړه موږ ته : يقيناً ته : په هر شي باندې قدرت والا يې

يٰٓاَيُّهَا النَّبِىُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ

اے نبي ﷺ : جهاد وكړه كافرانو : او منافقانو سره

وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ

او سختي وكړه په دوى باندې : او ځاے د اوسيدو د دوى جهنم دے

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۹﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا

او بد ځاے د ګرځيدو دے (جهنم) : بيان كړے : الله تعالىٰ : مثال

لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّ

د پاره د هغه كسانو چې كفر يې كړے دے : د ښځې د نوح عليه السلام : او

امْرَاَتَ لُوْطٍ ۭ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ

د ښځې د لوط عليه السلام : وې دا دواړه د نكاح د دوو بندګانو :

مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا

د بندګانو زموږ نه : چې نيكان وو : نو خيانت وكړو د دواړو ښځو

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا

نو دغو نيكو خاوندو د دوى نه : د عذاب د الله تعالىٰ نه : هيڅ شى لرې نه كړو

جَاهِدِ الْكُفَّارَ : د كوريف توره سره : فَخَانَتٰهُمَا : نو خيانت وكړو هغو دواړو د خاوندو په كفر كولو او د منافقت كولو سره : (مظهري ۲۳): فائده : مفسرين رحمهم الله فرمائي چې د هيڅ نبي عليه السلام بي بي په فعل بدكاره نه ده شوې ، او مراد ترينه كفر او شرك دے ، په دے د مفسرينو اجماع دے چې دوى به پټ پټه د خاوندانو نه كفر او شرك كولو : وګورئ جصاص ۴۲۵ قرطبي ۲۰۲ ابن كثير ۳۸۰ شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائي چې نكاح كول د بد چلنے سره فساد راولي په مقصود د نكاح كښې نه نكاح كول د كافرے سره : (فتاوى ابن تيميه ۶۵): فائده : يعني خپل عمل بكار دے د پيغمبر ﷺ رشته منجي نه ده نو ځكه جهاد كوئ او انفاق كوئ في سبيل الله : (الفضل ۸۶)

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا : د كافر نسبت مضر نه دے چې ستاسو پخپله بنده وي چې جهاد او انفاق كوئ ✤

✤ ✤ ✤

وَقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ﴿١٠﴾

او دوي ته به وويلې شي: ننوځئ دواړه اور ته: سره د ننوتونکو سره:

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا

او بيان کړے الله تعالیٰ: مثال: د هغه کسانو دپاره چه ايمان ئې راوړے

امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ

ښځه د فرعون: کله چه ووئيل هغې: اے ربه زما:

ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي

جوړ کړه ماله: په دربار ستا کښې: کور: په

الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ

جنت کښې: او بچ کړه ماله: د فرعون نه:

وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ

او د عمل د هغه نه: او بچ کړه ماله: د قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١١﴾ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ

ظلم کوونکي نه: او بيان کړے دے مثال د مريم لور د

عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

عمران: د هغې زنانه چه بچ ئې ساتلې وو: عورت خپل:

فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا

نو پو کړے وو موږ په هغې کښې: د روح د طرفه خپل نه:

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا

او تصديق ئې کړے وو: په کلمو: د رب خپل:

وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ

او په کتابونو د هغه: او وه دا: د

الْقٰنِتِيْنَ ﴿١٢﴾

تابعداري کوونکو نه:

وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ: کمال د زنانه خلقو په خاوند موقوف نه دے کله چه هغه د خپل عمل اصلاح کړي: (الفصل هذه) فَنَفَخْنَا فِيْهِ: دلته مضاف محذوف دے اي في جيب درعها، تائيد سورة انبياء ٩١ هم اوګورئ: مِنْ رُّوْحِنَا: اضافت د تشريف دپاره دے يعني روح چه له طرفه زمونږه نه وه: (تمت سورة التحريم بفضل الله تعالیٰ: بروز پنجشنبه ١٢ جمادي الثانية ١٤٣٨ هـ سره د ډير و مصروفيا تو او سبقونو نه) اللهم اغفر لمؤلفه و لكاتبيه ولوالديهم ولمن سعیٰ فيه) ✤ ✤



سُوْرَةُ الْمُلْكِ: دا مکی سورت دے په ترتیب کښې ددې نه پس د سورة تحریم نه او نزول کښې ددې نه پس د سورة الطور نه نوسته په اولنی آیت کریمه کښې د ملک نه، د دې سورة نوم ... الم سباب د خصوصیت عظمت شروع دے په نفی د شرك فى البركات کښې او په دې کښې شپږ سورتونه دی.

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰياتها ٣٠	ركوعاتها ٢

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَ

ډیر برکت والا دے هغه ذات: چه په لاس د هغه کښې باچاهی ده، او

هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ۝١ الَّذِيْ

هغه په هر شي باندې قدرت والا دے. دا هغه ذات دے چه

خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ

پیدا کړے یې دے مرګ او ژوند، د دې دپاره چه امتحان اوکړی ستاسو

اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

چه کوم یو ستاسو ډیر ښائسته عمل والا دے، او هغه زورور

الْغَفُوْرُ ۝٢ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ

بخښونکے دے. دا هغه ذات دے چه پیدا کړی یې دی اووه آسمانونه

طِبَاقًا ۖ مَا تَرٰى فِيْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ

لاندې باندې، نه وینې ته په پیدا کولو د مهربان ذات کښې هیڅ

تَفٰوُتٍ ۖ فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰى مِنْ

فرق، نو اوګرځوه سترګے، آیا وینې ته [illegible] هیڅ

فُطُوْرٍ ۝٣ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ

چاودونه، بیا اوګرځوه سترګے بار بار (بیا بیا)، واپس به شی

اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ۝٤ وَلَقَدْ

تاته سترګے (نظر) عاجزه او هغه ستړے به وی. او یقیناً

زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَ

ښائسته کړے مونږ آسمان نزدې په ډیوو سره، او

جَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا

ګرځولی دی مونږ هغه لره ویشتونکی د شیطانانو، او تیار کړے مونږ

منزل ٧

شرك فى البركات کښې او په دې کښې شپږ سورتونه دی. دعوىٰ: نفی د شرك فى البركات هغه چه هغه وړه دلګے فیرلد دے له دے ... تبرکه هغه ملکه ...
فضیلت: وعن جابر رضي الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم كان لا ينام حتى يقرأ الم تنزيل وتبارك الذى بيده الملك (رواه احمد والترمذی والدارمی مشكوٰة).
وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان سورة فى القرآن ثلاثون اية شفعت لرجل حتى غفر له وهى تبارك الذى بيده الملك. (رواه احمد والترمذی وابوداؤد والنسائى وابن ماجة مشكوٰة).
ربط: (١) مخکښې ترغیب وو په انفاق فى سبيل الله ته نو دلته ارشاد وو کوی چه الله ته برکت اچوی په مالونو ستاسو کښې ... او عقب د ترتیب د برکت ...
(٢) مخکښې حقوق الزوجية بيان شو نو دلته حقوق الله بيان كوى.
(٣) ما قبل کښې ترغيب اطاعة الرسول ذکر شو نو دلته ترغیب توحید ته ورکوی (٤) مخکښې د اورد جهنم بیان اوشو نو دلته ... حالت په ترتیب سره بیانوی.
خلاصه: په دې سورت کښې یولس خبرے دی (١) دعوىٰ ... (٢) دلائل عقلیه په دے باندې او هغه هم یولس دی ... او باقی خاصه ... (٣) تخویف

اُخروی ... (٤) بشارت ... (٥) تخويف دنيوى ... (٦) زجر په شرك ... (٧) زجر په اعراض د قرآن باندې ... (٨) زجر په انكار د قيامت ... (٩) نفى د علم غيب ... (١٠) نفى د تصرف د غير الله ... (١١) طريقه د تبليغ ... **لطيفه**: بدعتيان د جمعې په شپه د سورة ملك د لوستلو التزام په امام باندې کوی او په حق پرستو اعتراض کوی چه تبارك الذى نه منى. (باقى بيل مخ)

(بقیه) حالانکه د نبي علیه السلام نه دوه سورتونه په هره شپه لوستل ثابت دي څنګه چه مخکښې حدیث شریف کښې ذکر شو. رد بدعات ص۲۵۳ کښې احقر لیکلي دي چه بنا په دې ددغو دوو سورتونو نوټ یو کول. او د عامو خلقو د فقط

لَهُمْ عَذَابُ السَّعِيرِ ۝٥ وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا

د دوی د پاره عذاب د اور سوزوونکي. او دغه کسانو د پاره چه کفر یې کړی دی

بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝٦

په رب خپل، عذاب د جهنم دی، او بد ځای دی دا (جهنم)

إِذَا أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَ

کله چه او غورځولی شي دوی په هغه کښې، آوري به دوی هغه لره آواز، او

هِيَ تَفُورُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ۖ

هغه به جوش کوونکې وي؛ نږدې ده چه ټوټې ټوټې شي د ډېرې غصې نه؛

كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا

هر وارې چه او غورځولی شي په هغه کښې یوه ډله نو تپوس به کوي له هغوی نه ساتونکي د دوزخ

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ۝٨ قَالُوا بَلَىٰ قَدْ

آیا نه وو راغلی تاسو ته ویروونکی، دوی به وائي ولې نه، یقیناً

جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا

راغلی وو مونږ ته ویروونکی؛ نو دروغژن کړو مونږه؛ او ویلي مونږه: نه دی

نَزَّلَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ إِنْ أَنْتُمْ

رالیږلي الله تعالی هیڅ شی؛ نه یئ تاسو

إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ۝٩ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا

مګر په ګمراهئ لویه کښې؛ او دوی به وائي دوی که چېرې مونږه

نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي

اورېدلي، یا پوهېدلي؛ نو نه به وي مونږه په

أَصْحَابِ السَّعِيرِ ۝١٠ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ

خاوندانو د دوزخ کښې؛ نو اقرار به او کړي دوی په ګناهونو خپلو:

فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ ۝١١ إِنَّ

نو هلاکي ده د پاره د خاوندانو د دوزخ؛ یقیناً

امام استاذ صاحب خاص کول او په نورو شپو پرې ځانله د ځینې شپې مقرر ول د کوم ځای نه ثابت شو.

مسئله: شیخ القرآن رحمه الله فرمائي چه هیئت او مقدار او تخصیص په یو وخت پورې په عباداتو کښې حق د شارع دی (اصول السنة ص۱۲) آو فرمائي چا چه د ځان نه ایجاد کړو هیئت د پاره د عباداتو نو که هیئت د اجتماع د پاره د دعا، یس د ختمونو او تعین د وخت لکه د جمعې شپې د پاره د لوستلو سوره ملک او د پاره د مړی د کولو او بیا ئې د ځان نه ایجاد کړه دغه شیان نو یقیناً راتلی ئې او کړه په نوي شریعت سره (اصول السنة مع البدعة ص۱۲)

امتیازات: (۱) د سورة تبارک په بوټو دلائلو عقلیه سره (۲) په ذکر د دعوت د تبارک نمره (۳) بیان کولو د جهنمیانو سره (۴) د کافر او منافق په فرق سره ؟

تبارک: هر برکت د هغه له طرف نه دی (جواهر ص۲۴۰) او چت دی او لوی دی د صفاتو د مخلوقاتو نه (مدارک ص۲۶۳) په دې آیت کریمه کښې په دې دعوی دوه دلائل او په کښې بیان دی. نعیم و بیان عامه دی.

فائده: د سورة فرقان د په تفسیر کښې هم نظر واکړئ. لِيَبْلُوَكُمْ کم چه امتحان او کړي په تاسو باندې چه کوم یو ستاسو د ښائسته عمل والا دی. د هود د کهف ۷ بقره او ګورئ. ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه د مړ عمل ئې نه دی وئیلي (ص۳۹۶) یعنې بوره خالص او د حق موافق عمل. خالص دا دی چه د الله تعالی د رضا د پاره وي. او صواب دا چه په سنت طریقه باندې وي (مدارک ص۲۶۳) او دغه شان فضیل بن عیاض هم وئیلي دي. او ګورئ خازن ص۴۵۲. حاصل دا چه ډېرولی د عمل مقصود نه دی بلکه ښائست د عمل مقصود دی او د دې د پاره دوه شرطونه دي. اخلاص او د سنت طریقې سره موافقت. مِنْ تَفَاوُتٍ: څه فرق، څه اختلاف. (باقی په بل مخ)

(بقیه) نه نقصان، نه ده په شان نکی زخوما، اُکه دویشتلو، ویشتلو والا قتاده رحمه الله فرمائی چه الله تعالیٰ ستوری د دریو فائدو د پاره پیدا کړیدی، ۱: ښائست د آسمان ۲: ویشتل د پاره د شیطانانو ۳: علامې چه لاره په معلومیږی تفسیر ابن کثیر

الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَیْبِ لَهُمْ
هغه کسان چه ویریږی د رب خپل نه په نه لیدو د دوی لره
مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِیْرٌ ﴿۱۲﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ
بخښنه او اجر لوی دے او پټه وئی تاسو خبره خپله
اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ۗ اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾
یا په زوره ئی کوئی هغه، یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په رازونو د سینو باندے.
اَلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِیْفُ
خبردار: پوهیږی الله تعالیٰ په هغه چاچه پیدا کړی ئی دی او هغه باریک بین
الْخَبِیْرُ ﴿۱۴﴾ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ
خبردار دے، خاص هغه داسے ذات دے چه گرځولے ئی ستاسو د پاره
الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِیْ مَنَاكِبِهَا
زمکه تابعداره: نو ځئی تاسو په طرفونو د هغے کښے
وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾
او خورئی د رزق د الله تعالیٰ نه او خاص هغه ته بیرته ژوندی کیدل دی
ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِی السَّمَآءِ اَنْ یَّخْسِفَ
آیا په امن کښے یئی تاسو د هغه ذات نه چه په آسمان کښے دے چه ننوځی
بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِیَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾ اَمْ
تاسو لره په زمکه کښے: پس ناڅاپه هغه به خوزیږی، آیا
اَمِنْتُمْ مَّنْ فِی السَّمَآءِ اَنْ یُّرْسِلَ
په امن کښے یئی تاسو د هغه ذات نه چه په آسمان کښے دے چه رالیږی
عَلَیْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَیْفَ
په تاسو باندے کانړی: نو زر دے چه پوهه به شئی تاسو چه څرنګه دی
نَذِیْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِیْنَ مِنْ
ویرول زما: او یقیناً دروغ ګڼړلی ؤ هغه کسانو چه

منزل ۷

(مدارک ص ۲۴۰) او ګوره صفت: تحلّ
فائده: دا دواړه آیت د تخویف سره خورهٔ هم دی، اکثر تبرئه شوی و دا دواړه زخمیان په هغه اینیه کوی، او وائی فرمائی چه ورنتم په وروسته هغه ری ئی مطلب دا دے چه دا دواړه قسمه عذاب په ورله دی.
(د تیر مخ حاشیه)
نُذُرٌ: ویره ورکونکے، که رسول دی او که نائب د هغه دی.
اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ كَبِیْرٍ یعنی کفارو به ویرونکو ته وئیلے چه نه یئی تاسو مګر په ګمراهئ لویه کښے (مدارک ص ۲۴۰) وَقَالُوْا: علامه قرطبی رحمه الله فرمائی چه دوی به اعتراف اوکړی په تکذیب د رسولانو باندے، اعتراف اوکړی په جهل خپل نو ډیر وائی دوی او دوی به په اور کښے وی لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ (قرطبی ص ۲۱۲) د ټنوی شیخ رحمه الله فرمائی چه دوی به اووائی چه که چیرے مونږ د الله تعالیٰ آیتونه اوریدلی وے نو بیا تفکر او تامل به مونږ کړے وے یا په سمجهه او سوچ به مو قبول کړی وے، نو نن به د دوزخیانو سره نه وے. د دے نه معلومه شوه که چیرے د داعی حق خبره خالص په اوریدو د بحث او تفتیش نه بغیره هغه په دیانت او امانت باندے اعتماد کړے د هغه دعوت قبول کړے شی نو هم ذریعه د نجات ده (جواهر ص ۱۲۹) فائده: په ۱۲ کښے بشارت په ۱۳ کښے عقلی دلیل دے په ۱۵ کښے هم عقلی دلیل دے.
(حاشیه د دے مخ)
ذَلُوْلًا: نرمه، آسانه کړے شوے نو ځئی په طرفونو د هغے کښے. ءَاَمِنْتُمْ: دا دواړه آیتونه کښے تخویف دنیوی دے، په اول آیت کښے د زمکے عذاب او په دوهم کښے آسمانی عذاب ذکر دے او بیا په ۱۸ کښے نمونے د عذاب د پخوانو مکذبینو دی. دا آیتونه د متشابهاتو نه دی، په روح المعانی ص ۱۶ کښے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه ایمان راوړی په متشابه د قرآن او (باقی په بل مخ)

(بقیه) دا نه دی ورځنې چه تاویل یکښې وکړی نو بخوانی اماماني ایمان ترو تلی دی په دے باندے چه الله عزوجل په آسمان کښې دے په هغه معنے سره چه هغه ترینه اراده کړیده سره د کمال تنزیه نه په جواهر ص۲۴۵ کښې دی چه مَنْ فِي السَّمَاءِ نه الله تعالیٰ مراد دے او د الله تعالیٰ په آسمانونو کښې کیدل نه چه د الله تعالیٰ ذات مراد دے هغه حق دے او په هغه باندے ایمان راوړل ضروری دی او د کیفیت بحث کول نے جائز نه دی. قرطبی رحمه الله وائی چه فِي په معنیٰ د فوق یا په معنیٰ د علیٰ سره دے (ص۲۱۶). فائده: پهلا کښې بل دلیل عقلی دے ۱۹ تمل هغه اُوګوری.

قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا

(ایا نه ګوری) د دوی نه وو نو څرنګه وو عذاب زما (دوی لره) دی

إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ مَا

مرغانو ته د پاسه د دوی په داسے حال کښې چه خوروی وزرونه او غونډوی

يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ إِنَّهُ بِكُلِّ

نه ساتی دوی لره مګر مهربان (الله) یقیناً الله تعالیٰ په هر شی

شَيْءٍ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ

باندے ښه وینونکے دے بلکه څوک دی چه هغه

جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ

لښکر ستاسو لره امداد او کړی ستاسو سوا د مهربان الله نه

إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ

نه دی کافران مګر په دهوکه کښې دی بلکه

هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ

هغه څوک دی چه روزی ورکړی تاسو ته که چرے بند کړی الله

رِزْقَهُ بَل لَّجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾

روزی خپله بلکه ټینګ دی دوی په سرکشئ او نفرت کولو کښې

أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِ

ایا هغه څوک چه ځی نسکور ریدونکی په مخ خپل باندے

أَهْدَىٰ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ

ښه لار موندونکے دے یا هغه څوک چه ځی برابر په

صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ الَّذِي

لارے نیغے باندے اووایه الله داسے ذات دے

أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ

چه پیدا کړی ئے دی تاسو لره او جوړ کړی ئے دی تاسو لره غوږونه او سترګے

منزل ۷

(ددے مخ حاشیه) دا آیت او دے پسے آیت مشکل دی. دا تخویف دنیوی دے او دا دواړه آیتونه د ماقبل ثمره ده (جواهر). نسفی رحمه الله فرمائی أَمَّنْ مبتدا ده. او خبر ئے هٰذَا دے او الَّذِي هو جند لکم بدل دے د هٰذَا نه. او ينصركم من دون الرحمٰن صفت د جُند دے (مدارک). أَمَّنْ په اصل کښې أَمْ مَنْ دے. استفهام د پاره د الزام د حجت دے. او مَنْ مبتدا. هٰذَا ئے خبر دے او دا اشاره ده هر هغه معبود من دون الله ته چه مشرکانو به پرې کاتو ورکولو کښې شریک ګڼړي او هغه د هر مشرک په ذهن کښې پشان د حاضر محسوس وی ددے وجے نه ئے په هٰذَا سره اشاره اوکړه (احسن ص۱۵۲). ينصركم: دا جمله صفت د جُند دے او داخل د پاره د استفهام دے او استفهام انکاری دے. قرطبی رحمه الله فرمائی یعنی نشته داسے لښکر ستاسو د پاره چه دفع کړی ستاسو نه عذاب د الله تعالیٰ (ص۲۱۶) تاثیر ۳۰ زمر ۳۸ مؤمنون کښې دے. إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ: که چرے بنده کړی الله تعالیٰ روزی خپله. خطیب شربینی رحمه الله فرمائی چه جواب د شرط محذوف دے دلالت پرې ماقبل کوی ای فَمَنْ يَرْزُقُكُمْ. نو څوک به رزق ورکړی تاسو لره یعنی نشته هیڅوک رزق تاسو لره. (سراج منیر ص۳۵۲) فائده: په ۲۲ کښې مثال د مشرک او د مؤمن دے. (باقی په بل مخ)

(بقیه) په ۲۳ کښې عقلي دلیل دے تائید یې نحل ۷۸ مؤمنون ۷۸ په ۲۴ کښې دلیل عقلي په ۲۵ کښې زجر دے په نه منلو د قیامت تائید یې یونس ... اسراء ... نحل ... سبا ... یٰس ... په ۲۸ کښې جواب نه دی. تائید یې اعراف

وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ

او زړونه ؛ ډیر کم شکر وباسئ تاسو ؛ او وایه

هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ

الله داسې ذات دے چه خواره کړیدي تاسو لره په زمکه کښې او خاص هغه ته

تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا

به راجمع کړے شئ ؛ او وائي دوئ کله به وي دا

الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا

وعده ؛ که چیرې یئ تاسو رښتوني ؛ او وایه یقیناً

الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾

پوهه د دې په نزد د الله تعالى ده ؛ او یقیناً زه ویروونکے ښکاره یم ؛

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ

پس هرکله چه وبیني دوئ هغه نژدې ، متغیره به شي مخونه د هغه کسانو چه

كَفَرُوا وَقِيلَ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ

کفر یې کړیدے او وبه ویلے شي : دا هغه شے دے چه وئ تاسو به دے

تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ

چه غوښتنه مو کوله ؛ او وایه خبر راکړئ که چیرې هلاک کړي ما لره

اللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ

الله تعالى او هغه چه له ما سره دي یا رحم اوکړي په مونږ ؛ نو څوک به پناه ورکړي

الْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ

کافرانو لره ؛ د عذاب دردناک نه ؛ او وایه هغه

الرَّحْمَٰنُ آمَنَّا بِهِ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ

مهربانه ذات دے ایمان مونږ راوړے په هغه ؛ او خاص په هغه باندې توکل کړے مونږ

فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾

نو زر دے چه پوهه به شئ تاسو چه څوک دے هغه چه په ګمراهئ ښکاره کښې دے ؛

(د دې مخ حاشیه)

سِیْٓـَٔتْ ، متغیره به شي یا تور به شي مخونه د دوئ (فتح ...)

قُلْ اَرَءَیْتُمْ دا طریقه د تنبیه او نفي د تصرف ده د نبي علیه السلام نه. او د شرط جزاء محذوف ده. یعني نشته مونږ لره بل څوک د الله تعالى نه. حاصل دا چه د الله تعالى نه سوا عذاب ورکوونکے او رحم کوونکے څوک نشته (روح ...) فَمَنْ یُّجِیْرُ الْکٰفِرِیْنَ یعني نشته بیا څوک چه دوی لره د عذاب د الله تعالى نه (سراج منیر ...)

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ دا دویم طریقه د تسلیه ده.

(د آئنده مخ حاشیه)

قُلْ اَرَءَیْتُمْ دا آخري دلیل عقلي دے. غَوْرًا زور دے وبه اوچې نو څوک به راوړي تاسو ته اوبه چینه داره. نقل ... فرمائي: وتلیت عند ملحد فقال یأتي بالمعول والقدوم فذهب ماء عینه في تلك اللیلة وعمي (...)

سُوْرَةُ الْقَلَمِ

نوم دے په اول آیت کریمه کښې ذکر دے او مکي سورت دے ترتیباً پس د سورة ملك نه ۶۸ او نزول کښې دویم دے پس د سورة العلق نه. دعوٰی: تیزي ورکول دي په تبلیغ باندې او ډیره ورکول د مداهنت نه دی (سمط الدرر ...) ربطونه: (۱) هرکله چه نفي د تبارك في البرکات په مخکښني سورت کښې ذکر شوه. نو دلته تیزي ورکوي

په رسول الله ﷺ دے مثلاً (۲) مخکښې سورت کښې اثبات د توحید او شو نو دلته اثبات د نبوت کوي. او په دے سورت کښې شان د هغه چا دے چه تبرك في البرکات دے کړے وُو (۳) ما قبل کښې مراد او وُو نو د پاره د ابتلاء ذکر کړے شو نو دلته بل ابتلاء او امتحان ذکر کوي. خلاصه: دے سورت کښې دوه بابونه دي.

اول تر ۳۳ پورې دویم تر آخره پورې. په اول باب کښې پنځه خبرې دي (۱) د صداقت د رسول ﷺ د پاره شهادت د ۱ نه ۷ پورې (۲) زجر منکرینو د رسالت لره ۸ نه ۱۶ (۳) دعوی د سورت ۱۷ نه ۳۳

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا

او وايه اوګورئ تاسو، که چيرته شي اوبه ستاسو ژورې (ډوبې)

فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾

نو څوک به راوړي تاسو ته اوبه چينې والې

سُورَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — آياتها ۵۲ — ركوعاتها ۲

ن ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴿١﴾ مَا أَنتَ

(الله خبر دے په معنی د دې حرف) قسم دے په قلم او هغه چه قلم والا ئې ليکي ..... نه ئې ته

بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ﴿٢﴾ وَإِنَّ لَكَ

په مهرباني د رب خپل باندې ليونے. او يقيناً تا لره

لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴿٣﴾ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ

خامخا اجر دے چه نه به قطع کړې شي. او يقيناً ته خامخا په خوئ

عَظِيمٍ ﴿٤﴾ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ﴿٥﴾ بِأَييِّكُمُ

لوئي باندې ئې. نو زر دے چه ته به ووينې او دوی به ئې او وينې. چه په کوم يو ستاسو باندې

الْمَفْتُونُ ﴿٦﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن

ليونتوب دے. يقيناً رب ستا هغه ښه پوهه دے په هغه چا چه

ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٧﴾

ګمراه شو دے د لارې د الله تعالی. او هغه ښه پوهه دے په لاره موندونکو باندې.

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٨﴾ وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ

پس مه منه خبره د دروغ ګڼونکو. غواړي دوی چه که نرمي ته وکړې

فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ

نو دوی به نرم شي. او اطاعت مه کوه د هر ډير قسم کونکي

مَّهِينٍ ﴿١٠﴾ هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾ مَّنَّاعٍ

سپک. طعنه کونکي، تلونکي په چغلئ باندې. ډير منع کونکي

(۴) لش اوصاف قبيحه د معاند (۵) او د تخويف دنيوي يو مثال ۱۷. او په دويم باب کښې شپږ خبرې دي (۱) بشارت د ۳۴ نه (۲) تخويف اخروي ۳۵ (۳) رد په دلائلو د منکرينو ۳۶ نه ۴۱ (۴) زجر و نه منکرينو د کتاب ته ۴۲ منکرينو د توحيد ته ۴۳ (۵) تسلي ۴۸ نه ۵۰ (۶) صداقت د رسول صلى الله عليه وسلم ۵۱. آخر سره د اول سره لګيدلے دے.

امتيازات

(۱) لس اوصاف د مکذب (۲) منع د مداهنت نه ۹ (۳) ذکر د صاحب الحوت ۴۸ (۴) ذکر د آم آم پنځه ځله د ۳۴ نه (۵) مثال د باغ والو د ۱۷ نه.

وَالْقَلَمِ: قلم مراد دے او هغه چه قلم والا ئې ليکي. قرطبي رحمه الله فرمائي چه الله قسم اوکړو په قلم باندې ځکه چه په دې کښې بيان دے پښان د رب او دا واقع کيږي په قلم چه ليک په دې کوي هغه څه چه په آسمان کښې دي او هغه چه په زمکه کښې دي الخ ص ۲۲۵.

فائده: شهيد اذان مولنا خان بادشاه رحمه الله تعالی د دې کلمې معنی دوه ليټ درس کښې کړيدي. حافظ ابن قيم رحمه الله په التبيان في اقسام القرآن ص ۱۱ کښې تقسيم د قلمونو دولسو پورې کړيدے. د رستم شيخ صاحب حفظه الله په احسن الکلام ص ۲۳ کښې ليکلي دي چه په باره د قلم کښې د مفسرينو ډير اقوال دي غوره دا ده چه جنس قلم مراد دے چه د هغې لاندې تفسير عزيزي کښې شل قسمونه ليکلي دي او دا اقسام په سبب د اقسام مود ليکونکو دي او په اقسام د ليکونکو باندې هم قسم ذکر دے بيائې هغه شل داړه ذکر کړيدي (باقي په بل مخ)

(بقيه) فائده: په دې ټولو آيتونو کښې جواب قسم او تسلي دی. وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا: او يقيناً تا لره خامخا اجر دی چې نه به وي قطع کړې شوی (بدل) مظهري ۲۴۲ کښې دی او يقيناً تا لره اجر دی په بار وړلو د تکليف او په رسولو د رسالت باندې.

لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ⑫ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ

د نيکۍ (ښېګڼې) زيات تېرى کوونکي، ډېر ګنهګار، بد خويه سخت زړي، پس د دې نه

زَنِيمٍ ⑬ أَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ⑭ إِذَا

بد نامه حرامزاده، د دې وجې نه چې دی څښتن د مال او د ځامنو دی کله چې

تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ⑮

اولوستې شي په ده باندې آيتونه زمونږ، وايي دا قصې د مخکنو دي.

سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ⑯ إِنَّا بَلَوْنَاهُمْ

زر دې چې داغ به ولګوو مونږ په دې د خرطوم باندې، يقيناً مونږ امتحان کړی دی د دوی

كَمَا بَلَوْنَا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا

لکه چې امتحان کړی وو مونږ د خاوندانو د باغ، کله چې قسم وکړو هغوی

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ⑰ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ⑱

چې خامخا يقيناً به يې وخت د سهار پرې کوي، او نه يې وئيل ان شاء الله

فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ

نو راغلې په هغه باندې يوه آفت د عذاب د طرف د رب ستا او دوی

نَائِمُونَ ⑲ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ⑳ فَتَنَادَوْا

اوده وو، نو شو هغه په شان د پرې کړې شوي، نو آواز وکړو يو بل ته

مُصْبِحِينَ ㉑ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ

د سهار په وخت کښې چې صبا وختي لاړ شئ په فصل خپل باندې

إِنْ كُنتُمْ صَارِمِينَ ㉒ فَانطَلَقُوا وَ

که يئ تاسو شوکوونکي (د ميوو) نو لاړل دوی او

هُمْ يَتَخَافَتُونَ ㉓ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا

دوی پټې خبرې کولې (اوويل) چې داخل نه شي دې باغ ته

الْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ㉔ وَغَدَوْا عَلَىٰ

نن ورځ په تاسو باندې هيڅ مسکين، او صبا وختي لاړل په

منزل ۷

اجر دی په بار وړلو د تکليف او په رسولو د رسالت باندې.

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ: او يقيناً ته خامخا په خوی لوی باندې يې. حديث شريف کښې د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې کان خلقه القرآن چې د هغوی خوی قرآن وو. مشکوٰة ۵۱۲، ابن جرير ۲۹، قرطبي ۱۸، مظهري ۲۴، البيان الرحمن ۵۵. حافظ ابن کثير فرمائي په معنی د دې دا ده چې قرآن کريم کښې کوم اوامر او نواهي ذکر شوي دي نو په هغه باندې عمل کول د هغوی خلق او عادت وو.

بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ: چې په کوم يو ستاسو باندې لېونتوب دی. (ابو السعود ۲۸۱) په دې آيتونو کښې زجر دی منکرينو لره او تسلي دی نبي صلی الله عليه وسلم لره.

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ: دا تېزي ورکول دي په تبليغ او منع ده د مداهنت نه او نا کاره صفتونه د منکرينو. كُلَّ حَلَّافٍ: هر ډېر قسم خور. مَهِيْنٍ: سپک. هَمَّازٍ: عيب لټوونکي طعن کوونکي. مَشَّاءٍ: ډېر تلونکي په چغلۍ سره. مَنَّاعٍ: ډېر منع کوونکي د خير.

(د دې مخ حاشيه)

مُعْتَدٍ: د حد نه تجاوز کوونکي. اَثِيْمٍ: ډېر ګنهګار. عُتُلٍّ: بد خويه، سخت زړي. زَنِيْمٍ: بد نامه. (الفضل) (د عی) يعنې حرامزاده پيوست شوی په يو قوم پسې چې د هغوی نه نه دی. شعر کښې راغلي دي زنيم ليس يعرف من ابوه. بغي الامر ذو حسب لئيم. (روح ۲۹) فائده: دا آيتونه د خپل عام مفهوم په لحاظ سره د هر خبيث او د دې بدو خصلتونو والا کافر معاند حق په باره کښې عام دي. (ماجدي ۱۱۳) سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُوْمِ زر دې چې داغ به ولګوو مونږ په خرطوم د ده باندې. نسفي رحمه الله فرمائي چې په پوزه د ده (باقي په بل مخ)

(القصہ) بانده ئے د پاره د دلیل کولو د د ۀ او د پاره د ښایلے چه محلومیږی به پیښه دا او پوزه ئے د رله
هک خاص کړه چه داغ به پوښه دیر ناکاره دی (مدارک ص۲۵۲) إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ. د باغ والو واقعه د پاره
د تحریف د نیا دی ده. —

حَرْدٍ قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوٓا۟ إِنَّا

بندولو د غلا : قدرت کوونکی : پس هرکله چه اولیده دوی باغ، او ویل دوی یقینا

لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾

مونږ خطا کوونکی د لارے یو : بلکه مونږ بے نصیبه کړے شوی یو :

قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا

او ویلے غوره (هوښیار) د دوی نه : آیا نه مې ویلی وو تاسو ته — ولے

تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا

پاکی نه کوئ (الحمد نه وئیلو) : او ویلے دوی پاکی ده رب زمونږ لره : یقینا مونږ وو

ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ

ظلم کوونکی (ظالمان) : پس تو مخامخ شو بعضے د دوی نه : په

بَعْضٍ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا

بعضو بانده : چه یو بل ئے ملامت کول : او ویلے دوی افسوس دے مونږ ته یقینا

كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبْدِلَنَا

مونږ وو د حد نه تیریدونکی : زر دے چه ربّ زمونږ : په بدل کښے به راکړی مونږ ته

خَيْرًا مِّنْهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴿٣٢﴾

غوره د دے نه : یقینا مونږ رب خپل ته : رغبت کوونکی یو :

كَذَٰلِكَ ٱلْعَذَابُ ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ

دغه رنګې وی عذاب : او خامخا عذاب د اخرت

أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّ

ډیر لوئی دے : کاش چه دوی پوهیدلے : یقینا

لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾

د پرهیزګارو د پاره : په نزد د رب د دوی باغونه : د نعمتونو دی :

أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾

آیا او ګرزو به مونږ — مسلمانانو لره : پشان د مجرمانو :

مُصْبِحِينَ : داخلید ونکی به صبا کښے یعنی د صبا په وخت کښے
فَلَا يَسْتَثْنُونَ : په دے کښے دیر اقوال د مفسرینو دی .
(١) ان شاء الله ئے نه وئیله .
(٢) د مسکینانو حصے ئے نه بیلوله . ځکه ئے ځان له بخیل ګڼل چه به ئے پلار د هغو حصه ایستله اوګورئ تسهیل ص۲۹۰
مظهری ص۲۲ (٣) ابو صالح (رح) فرمائی چه سُبْحَانَ الله ئے نه وئیلو . او ګورئ ص۲۴ قرطبی جامع الشیخ القرآن نورالله مرقده به فرمائیل چه دوی پاک نه ګڼلو الله تعالی لره د شریک نه
كَالصَّرِيمِ : په دیکښے هم دیر اقوال دی (١) پشان د پریکړے شوی (٢) پشان د تور کړے شوی
(٣) پشان د ایره کړے شوی .
اوګورئ تسهیل ص۲۹۰ ج ٢
وَغَدَوْا۟ عَلَىٰ حَرْدٍ قَٰدِرِينَ : او صبا وختی لاړل دوی په غصه سره ځان ئے قادر ګڼلو (احسن) او سحر وختی لاړل په نیت د بخل (فتح ص۲۶۳) په پوره کوشش د منع بانده (مدارک ص۲۵۴ ج٤)
(د دے نه حاشیه)
قَالَ أَوْسَطُهُمْ : او وئیلے غوره د دوی نه په رائے او عقل او په کالونو او په فضل کښے انکار کوونکے د دوی په دوی بانده ئے (ارتخ منیر ص۱۶) دلیل دے چه دغه شخص دوی ته تبلیغ او دعوت کړے د تسبیح و شیلو تو لیکن دوی دعوت او نه منلو او هغه هم د دوی نه برات او نکړو نو د هغه په حصه هم عذاب رسید الخ (احسن ص۳۲) د اپکښے موحد وو . (افضل ص۱۹۳)

فائده : د باغ والو نه د تیرشه زمانے هغه ورونړه مراد دی چه هغوی یو نهایت عمده باغ د خپل پلار نه په وراثت کښے موندلے وو . د صنعاء الیمن په قرب وجوار کښے یو سرے اوسیدو چه د هغه (باقی په بل مخ)

(بقيه) يو ويرښا نسته باغ ورځه به ختم کړے ځه قسمه ميوو نه وسه دا ضرب ے د ويرنيک وو او د صرف الله تعالیٰ به نے برکات حضد و کنزلو د باغ د پيداوار نه به ئے د زړه په اخلاص د خدائی په لاره کښے خرڅ کړلو او په مسکينانو باندے به ئے خرڅولو مسکينان تحروخش د دوی باغ ته رسيدل او ميوه به ئے ترے وړے د دوی به ئے خيرات او د ځان سره او بلو د پاره به ئے وړے کړلے - هغه وفات شو نو د هغه ځامنو سوچ اوکړو چه زموږ د پلار څه عقلمند نه وو هغه خپل دولت فضول په مسکينانو او غريبانو کښے تقسيمولو (جواهر ص٢٩٢)

فائده: د ٣٤ نه دوه بابه اول بشارت بيا زجره شاو تخويف او لفظ أَمْ أَمْ نخه حيله -

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ: دا هس او ٢١ جاثيه او گورئ په ٢٥ كښے نفی د دليل نقلی د دوی ده او په ٢٦ ٢٩ كښے نفی د دليل وحی ده.

(د دے مخ حاشيه)

يَوْمَ يُكْشَفُ: كله چه پرده لرے شی د پنډوئ د الله تعالیٰ نو دلته مضاف اليه محذوف دے. بلکه بخاری ط ٧٣٢ كښے راغلی يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهِ چه پرده به کړی رب زموږ د پنډوئ خپله الوسی رحمه الله فرمائی چه دا او نظائر د دے د متشابهاتو نه دی په نزد د سلفو رحمهم الله منه - او که مضاف اليه محذوف نفی نو بيا دا ايات الصفات نه نه دے او په ديکښے تاويلات د سلفو صالحينو نه منقول دی لکه ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دے چه دا عبارت دے د سختوالی د امر نه تعبيت د ورځے د قيامت نه او گورئ

مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ

څه دی تاسو لره څنگه فيصله کوئ تاسو ، آيا تاسو لره

كِتَابٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ

كتاب دے چه په هغے كښے لوستل کوئ تاسو ، چه يقيناً تاسو لره به هغے کښے

لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا

خامخا هغه دی چه تاسو ئے خوښوئ ، آيا تاسو لره قسمونه دی په موږ باندے

بَالِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا

رسيدونکی تر ورځے د قيامت پورے ، چه يقيناً تاسو لره خامخا هغه

تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُمْ بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾

دی چه تاسو ئے فيصله کوئ ، تپوس اوکړه د دوی نه چه کوم يو د دوی په دے خبره ذمه وار دے

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ فَلْيَأْتُوا بِشُرَكَائِهِمْ

آيا دوی لره شريکان شته ، نو راوه دی وړی دوی شريکان خپل ،

إِنْ كَانُوا صَادِقِينَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ

که چيرته وی دوی رښتونی ، په هغه ورځ چه کرشے شی پرده د

سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا

پنډوئ نه او به بللے شی دوی سجدے کولو ته ، نو

يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

طاقت به نه لری دوی ، عاجزه (کوزے) به وی سترگے د دوی ،

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ

پټوی به دوی لره ذلت ، او يقيناً وو دوی چه رابللے شو

٤٠

إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِي

سجدے کولو ته ، او دوی به روغ جوړ وو ، نو پريږده ما او

وَمَنْ يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ

او هغه څوک چه دروغ نسبتوی دے خبرے (قرآن) ته زر دے چه ورو ورو به ئے راکاږو

قاسمی ص٣٦٢ . جواهر ص٢٩ ، ماجدی ص١١٣٣ . فَذَرْنِي : تخويف دے او ورسره تسلی ده رسول اکرم صلی الله عليه وسلم لره.

فائده: دا نبی کریم ﷺ لره تسلی ده چه تا سره د مشرکانو د تکذیب او ضرر رسولو نه چه تنګ راغلی
نو څه اقدام مه کوه بلکه په صبر او تحمل سره هر څه برداشت کړه! الخ (جواهر ص۲۹۰)

مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمْلِي لَهُمْ

د داسې ځایه چه دوی به نه پوهیږي: او مهلت ورکوم زه دوی ته:

إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا

یقینًا تدبیر زما مضبوط دے: آیا غواړے ته د دوی نه څه بدله:

فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ عِندَهُمُ

نو دوی د تاوان نه: د رانه کیښے ظلموي دي: آیا دوی سره

الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ

غیب (وحی) ده: نو دوی (ترینه) لیکل کوي: نو صبر کړه د پاره د فیصلې

رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ

رب خپل: او مه کیږه ته په شان د خاوند د مَحْلي (یونس ؑ) کله چه

نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ

آواز ئے او کړو او دوه ډک کیږه خفګانه د غم نه: که چیرته نه وے رسیدلې ورته د لو

نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ

نعمت د طرفه د رب د ده نه: نو خامخا غورزولے شوی و په خالي میدان او دے به

مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَجَعَلَهُ

بد حال کړیے شوے وے: نو غوره کړیه وو ده لره رب د ده، نو وګرځوله ئے دی

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ

د نیکانو (کامیابو) نه: او یقینًا نزدے دي هغه کسان: چه

كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا

کافران دي: چه را وخښوي تا لره په نظرونو خپلو: کله چه

سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾

واوریدو دوی نصیحت (قرآن) او وائي دوی چه یقینًا دے لیونے دے:

وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾

او نه دے دا (قرآن) مګر نصیحت دے د پاره د ټولو خلقو:

كَصَاحِبِ الْحُوتِ: منع ده د تشبیه د یونس علیه السلام نه په جلتۍ کولو کښے، د قوم نه په وتلو کښے په خپل اجتهاد سره۔
إِذْ نَادَىٰ: او ګورئ انبیاء ۲۵۔
فَاجْتَبَاهُ: نو غوره کړیے وو الله تعالیٰ او او نو دے ګرځولے وو کامل صالحانو نه (بیضاوی ص۲۹۹)

وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا: دا زجر دے منکرینو لره او تسلی ده رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لره۔ فائده: د حسن بصری رحمه الله نه نقل دی چه دم د نظر بازئ دا ایت دے۔ (مدارک ص۲۹۸، ابو سعود ص۲۹۵ ج۹)
(د انتهٰ صفحه حاشیه)

سُورَةُ الْحَاقَّةِ: دا مکی سورت دے په ترتیب کښے ۶۹ دے، روستو د سورة القلم نه او نزول کښے ۷۸ دے روستو د سورة الملك نه۔ په اولنو دریو ایتونو کښے نوم ذکر شویدے۔ دعوٰی: تخویف منکرینو لره په راتللو د قیامت باندے ۱ نه تر ۳ او دعویٰ د توحید هم په ۵۲ ایت کښے ذکر ده۔ ربطونه: (۱) تفصیل د تخویف اخروی هغه دے چه ذکر شویدے په سورة القلم کښے۔ (۲) مخکښے تیره شوه نمونه د تخویف دنیوی او دلته پنځه نمونے د تخویف دنیوی ذکر دی (۳) مخکښے ئے تیزی ورکړه په تبلیغ باندے او دلته نه منونکو لره تخویف دے (۴) هلته په اول او اخر کښے صداقت د رسول علیه السلام وو او دلته هم په اخر کښے دے۔ خلاصه: په دے سورت مبارکه کښے اتهه خبرے شویدي (۱) اثبات د قیامت ۱ نه ۳ (۲) د تخویف دنیوی پنځه نمونے ۴ نه ۱۲ (۳) د تخویف اخروی دوه حالتونه ۱۳ نه ۱۸، ۲۵ نه ۳۷ او بشارت ۱۹ (۴) دوه جلتونه

دَ پارې دَ عذاب دَ مَنکرینو بیان (۵) صداقت دَ کتاب او دَ رسول علیه السلام دَ شکوه (۶) دعوی دَ توحید ۴۸ تفریع په ماقبل باندې. امتیازات: (۱) دریش تو موځو دَ قیامت دَ (۲) بیان دَ اصحاب الیمین ۱۹ او اصحاب الشمال ۲۵ (۳) ذکرة دَ ویرې حالو دَ قیامت ۱۳ تر ۱۸ (۴) په عادیانو دَ سیلئی حملو ترڅوره ورځو.

سُورَةُ الْحَاقَّةِ مَكِّيَّةٌ ۶۹ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — آياتها ۵۲ — رکوعاتها ۲

الْحَاقَّةُ ﴿۱﴾ مَا الْحَاقَّةُ ﴿۲﴾ وَمَا أَدْرَاكَ

ثابتېدونکې ورځ: څه لوئې شان لري ثابتېدونکې ورځ: او څه شی خبر کړې ته

مَا الْحَاقَّةُ ﴿۳﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ

چې څه ده ثابتېدونکې ورځ: دروغ ګڼلې وه ثمودیانو: او عادیانو

بِالْقَارِعَةِ ﴿۴﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا

په ټکولونکې ورځ: نو هرچه ثمودیان دي: نو هلاک کړی شو

بِالطَّاغِيَةِ ﴿۵﴾ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ

په چغه تېره باندې: او هرچه عادیان دي نو هلاک کړی شو: په سیلئی

صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿۶﴾ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ

یخه تجاوز کونکې دَ حد نه: چلولې وه الله تعالی په هغوی باندې: اووه

لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى

شپې: او اته ورځې: پرله پسې: نو لیدلو به تا

الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ

دغه قوم لره په هغه کښې پرېوتي: ګویا که هغوی: تنې دَ

نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿۷﴾ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّن

کجورو: غورځېدلو دي: نو آیا وینې ته هغوی لره: څه

بَاقِيَةٍ ﴿۸﴾ وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ

پاتې (نښه): او راغلو فرعون: او هغه خلق چه مخکښې ده نه وو

وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴿۹﴾ فَعَصَوْا

او نسکورېدونکې کلی: په ګناه سره: نو نافرماني کړې وه

رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً

دَ استازی دَ رب خپل نه: نو ونیولو دَ الله تعالی دوی لره په نیولو

الْحَاقَّةُ: دا دَ نوموځو ورځې دَ قیامت نه دې ځکه چې په دغې ثابتیدونکې دَ حق او وعید (ابن کثیر ۴۱۲) دَ قیامت ورځې معنی شوې ده په الحاقة. دا ځکه کاروئ ثابتیدونکې په دغې ورځ (ابن جریر ۳۷ / قرطبی ۲۵۷).

مَا الْحَاقَّةُ: دلته ما استفهامیه ده دَ پارې دَ تعظیم. دا جمله مبتدا او خبر دی. او بیا غونډه جمله خبر دَ مبتدا الحاقة دَ پاره ده. او دَ مَا تعظیم په ځای ما الحاقه یعنی مظهر په ځای دَ ضمیر ذکر کړی شوی دی دَ پاره دَ زیاتوالی په تعظیم کښې. معنی دا ده: ثابتېدونکې ورځ څه لوئې شان لري ثابتېدونکې ورځ. او ګورئ قرطبی ۲۵۶ زاد المسیر ۳۴۷.

وَمَا أَدْرَاكَ: او څه شی خبر کړی ته تا لره چې څه ده ثابتېدونکې ورځ. دلته ما الحاقة جمله دویم مفعول ده دَ پاره دَ ما ادراك.

بِالْقَارِعَةِ: دا هم دَ نومونو دَ قیامت نه یو نوم دی. دَ قرع نه ماخوذ دی. سخت ټکولو ته وایي. ګېرې نو قیامت په سبب دَ هیبتونو سره زړونو لره سخت ټکوی (احسن ۲۵۳).

بِالطَّاغِيَةِ: موصوف یې محذوف دی. قتاده رحمه الله وائي: بالصیحة الطاغیة، په داسې چغه چې دَ حد نه تجاوز کونکې وه (قرطبی ۲۵۸/۱۸). حُسُومًا: پرله پسې (غریب القرآن ۴۳۲) نهایت سیری (فتح) دَ ګوتو غوڅ وی ستوری. تجربه کونکې (احسن). فائده: په دې آیت کریمه کښې په عادیانو باندې دَ سیلئی دَ چلولو وخت ذکر شوی دی او دا دَ دې سورت امتیاز دی. خَاوِيَةٍ: غورځېدلي. (باقی په بل مخ)

رَّابِيَةً ۝١٠ إِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ فِى

سخت تر سره ؛ یقیناً موږ هر کله چه تجاوز او کړو اوبو ډیر حد نه، بار کړی وو موږ تاسو په

الْجَارِيَةِ ۝١١ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً

کشتئ روانه کښے ؛ د دے د پاره چه او ګرځوو دا ستاسو د پاره نصیحت ؛

وَّتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ۝١٢ فَإِذَا نُفِخَ

او یاد او ساتی دے له غوږونه یادونکی ؛ پس کله چه پو کے او کړے شی

فِى الصُّوْرِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ۝١٣ وَّحُمِلَتِ

په شپیلئ کښے ، پو کے یو ؛ او را پورته کړے شی

الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً

زمکه ، او غرونه ؛ نو اودے ټکولے شی په ټکولو

وَّاحِدَةً ۝١٤ فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝١٥

یو ځلے سره ؛ نو په دغه ورځ واقع به شی واقع کیدونکے قیامت ؛

وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِىَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ۝١٦

او او به چوی آسمان ، نو هغه به په دغه ورځ سست وی ؛

وَّالْمَلَكُ عَلٰى أَرْجَآئِهَا ۚ وَيَحْمِلُ عَرْشَ

او ملائک به ؛ په طرفونو د هغه وی ؛ او بار وی به عرش

رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ۝١٧

د رب ستا ؛ د پاسه خپل نه به په دغه ورځ آته (قسمه) ملائک ؛

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ

په دغه ورځ ؛ پیش به کړے شی تاسو ، نه به پټیږی ستاسو نه

خَافِيَةٌ ۝١٨ فَأَمَّا مَنْ أُوْتِىَ كِتٰبَهٗ

هیڅ پټیدونکے ؛ نو هغه څوک چه ورکړے شی هغه ته عملنامه د هغه

بِيَمِيْنِهٖ ۙ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ۝١٩

په ښی لاس د هغه ؛ نو وائی به واخلئ ؛ او لولئ عملنامه زما ؛

(بقیه)

رابیه ، ګټونو نے خوړلے شوے مطلب دا چه په خونړئ کښے پشے د مونږو ونو او شنو د کجورو وُو او د هغه لاکټ نه پس دیند ے ورغے پراته وُو . مِنْ بَاقِيَةٍ څه پاتے شه . یا څه نفس باق پاتے کیدونکے . (الکوری مدارک) . بِالْخَاطِئَةِ ؛ په ګناهو نو سره . مراد د هغه نه جنس دے یعنی کفر او ګناهونه او شرک تا ئید ے هود .

(د دے مخ حاشیه)

فَإِذَا نُفِخَ ١٣ : دا اولنئ حالت د تخویف دے . وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ دا بل نوم د قیامت دے ، دا واقعه کښے هم ذکر شوے وُو . ثَمٰنِيَةٌ : آته ملائک . دا د احادیثو صحیح مرفوع نه معلومیږی (احسن ص ١٣٣) ابن عباس رضی الله عنه فرمائی آته صفونه د ملائکو . قرطبی ص ٢٦٦ ج ١٨ ، سورة المؤمن کښے او ګوری .

فائده :

د ١٩ آیت نه بشارت دے او د ٢٥ نه دویم حالت د تخویف دے .

إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ

يقيناً ما عقيده ساتلې چه يقيناً زه به مخامخ کيږم د حساب خپل سره. نو هغه

فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾

به ژوند د خوشحالۍ کښې به وي، په جنت اوچت کښې

قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا

ميوې د هغه به نږدې وي. (او به ورته ويلی شي) خورئ او څښئ مبارک

بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

په سبب د هغه عملونو چه مخکښې ليږلي وو تاسو په ورځو تيرو شوو کښې

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ

او هغه څوک چه ورکړے شي ده ته عملنامه د هغه په ګس لاس د هغه، نو وائي به

يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ

هلے ارمان دے چه نه وے راکړے شوے ماته عملنامه زما، او نه پوهيدلے زه

مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَا لَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾

چه څه دے حساب زما، هلے ارمان چه دا مرګ وے فيصله کړونکے (ختمونکے) زما

مَا أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّي

هيڅ فائده رانکړه ما له مال زما، هلاک شو زما نه

سُلْطَانِيَهْ ﴿٢٩﴾ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيمَ

غلبه زما. (او به ويلے شي) ونيسئ دے لره نو طوق وا چوئ په غاړه د ده، بيا دوزخ

صَلُّوهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ

ننباسئ ده لره، بيا په هغه زنځير کښې چه اوږدوالے د هغه اويا

ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ ﴿٣٢﴾ إِنَّهُ كَانَ لَا

ګزه دے زور بند کړئ ده لره، يقيناً دا ده چه

يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ

ايمان نه راوړو په الله عظيم لوئ باندے، او ترغيب نه ورکوله

قُطُوفُهَا: ميوے د هغه به قريب الحصول (اسانه به وي) (فتح). كُلُوا وَاشْرَبُوا: او او به ويلے شي ورته خورئ او څښئ په مزه سره (مبارک) په خوشحالۍ سره. خُذُوهُ: نسفي رحمه الله فرمائي چه الله تعالى به او وائي ملائکو ته چه ده لره ونيسئ (مدارک ص ٢٨٩ ج ٤)

فَغُلُّوهُ: نو طوق وا چوئ په غاړه د ده کښې (السهيل ص ١٤٢)

فَاسْلُكُوهُ: زور بند کړئ ده لره (افضل) ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چه زنځير به ئے په کونې کښې داخل کړے شي او د پوزے نه به ئے راوويستلے شي بيا به او ويلے شي په دغه کښې څنګه چه ويلے شي ملخان په لرګی کښې په وخت د وريتولو کښې (ابن کثير ص ٤١٣ ج ٤)

(اعاذنا الله من ذالك)

فائده: د دے ايت کريمه نه دريم حالت د تخويف ذکر شوے دے.

فائده: په ٣٣، ٣٤ کښې علتونه دوه د عذاب ذکر شوي دي. قاضي ثناء الله رحمه الله فرمائي چه د دے دوو کارونو ذکر ئے ځکه خاص کړو ځکه چه په ترتيب د قباحت نه کفر په الله تعالى دے او ورپسې کاره د دے کارو نه بخل او سختي د زړه ده.

(مظهري ص ٥٦ ج ١٠)

بخشولې ٣٦ د زخمونو د وینو او زوو نه (حسن) او دا ویله زوب د دوزخیانو دی چه بهیږي د زخمونو
او عورتونو د هغوی نه (قرطبي ٢٧٢/١٨) فَلَآ اُقْسِمُ ٣٨ په دنیا کښې چه څیزونه تاسو وینئ

عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ لَهُ

په طعام د مسکین باندې : نو نشته دی ده لره

الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾ وَّلَا طَعَامٌ اِلَّا

نن ورځ دلته هیڅ گرم دوست : او نه خوراك ؛ مگر

مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَاْكُلُهٗۤ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴿٣٧﴾ ع

د وینو زوو د زخمونو نه : چه نه یې خوري دغه لره مگر خطا کار :

فَلَاۤ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا

پس قسم دی وا رنگه قسم کوم په هغه چه تاسو یې وینئ : او په هغه چه

تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ

تاسو یې نه وینئ : یقینا دا قرآن خامخا وینا د استازي

كَرِيْمٍ ﴿٤٠﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ

عزتمند دی : او نه دی دا : وینا د شاعر

قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ

ډیر کم ایمان راوړئ تاسو : او نه ده وینا

كَاهِنٍ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾ تَنْزِيْلٌ

د کاهن : ډیر کم نصیحت قبلوئ تاسو : نازل کړی شوی دی

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ

د رب د مخلوقاتو نه : او که چیرته جوړې کړې وې ده

عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا

په موږ باندې بعضې د وینا گانو نه : نو خامخا نیولی به مو

مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ

دده په ښي لاس : بیا به خامخا غوڅه کړې وې مونږ د ده نه

الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ

زړه رگ د زړه : نو نه به وی ستاسو هیڅوك : د ده نه

منزل ٧

او بعضې نه وینئ او هغه
مخلوقات چه قرآن هم د منبع
او سرچینه ده او نزول د قرآن نه وینئ
دا ورته ده (الصفوة ٤٤٥)
اِنَّهٗ لَقَوْلُ : یقینا دا وینا
د رسول عزتمند ده. مراد
ترینه دلته نبي علیه السلام دی
او دا جواب د قسم دی او د دی
شاهو جواب ته دی (١) شاعر
کلام نه دی (٢) کاهنانو کلام
نه دی اوگورئ سورة الشعراء
٢٢٤ ، ٢٢٦ تَنْزِيْلٌ ٤٣ نازل
شوی دی د رب د مخلوقاتو نه
اوگورئ شعراء ١٩٢ ، وَلَوْ تَقَوَّلَ
عَلَيْنَا : په دې ایتونو کښې هم
اشاره ده صداقت د قرآن او
د رسول صلی الله علیه وسلم ته .
لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ :
اخذ په معنی د انتقام دی
او مننه په خپله معنی سره دی
او یمین په معنی د قوت او
قدرت سره دی . تفهیم القرآن
د پښتو ژباړه فرمائی : اگر
بالفرض محمد صلی الله علیه وسلم زمونږ
په ذمه څه د روغو خبره
او لگوي نو مونږ به ده لره په
پوره قوت سره ونیسو او گرد
او د ده د ژوند رگ به پرې کړو
(جواهر ١٩٦٢) اَخَذ په معنی
د قطع سره دی او با په یمین
کښې زائده ده . او مراد د یمین
نه ښي لاس دی لکه چه بادشاهان
باغیانو ته سزا ورکوي نو اول د
ښي لاس پرې کوي بیا ئې د غاړې
رگ پرې کوي او وهي ئې (احسن مجلد ١)
الْوَتِيْنَ : زړه د زړه او دا
هغه رگ دی چه معلق دی په دې وجه یې زړه ، کله چه غوڅ شی نو خاوند ئې مړ شي (غرائب القرآن ٩٤٣) دا هغه رگ
دی چه د سر نه د زړه پورې رسیدلې دی (حسن) دا هغه رگ دی چه غوڅ شی نو انسان ترینه مړ شي (مفصل)

فائده : په دې کښې نه کوم عامه ضابطه نه ده بیان کړې چه کوم سړی هم د نبوت دعوی کوي (باقي بیل مخ)

(بقيه) دعوى اوكړي صحيفه به ورته هلاک کولے شي. ورته وجه دوه ده چه په دنيا کښے به ده خلقو د نبوت د دعوے کړيدي په هغوی کښے وليے عذاب نه دے نازل شوے (معارف صاحب ۶ ۵۰۸) په جواهر ص۲۹ کښے د قاديانی دجال د بکواس نه د جواب امر کښے ليکلی دی د دے توجه په الله تعالی مرزا غلام محمد قاديانی او د دے قسم نور د جالانو او مفتريانو ته مهلت ورکول په طريقه استدراج دی او د دے مفتريانو رښتونوالی دليل نه دے بلکه د دوی د سفتری او دروغژن کيدو برهان دے.

(د دے صفحے حاشيه)

وَاِنَّهٗ: او دا قرآن خامخا يو کتاب دے (قرطبی مبينه) لَحَقُّ الْيَقِيْنِ کښے اضافت د صفت دے موصوف ته يعنی امر يقينی واقعی او ثابت دے. فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ آخر کښے دعوی د توحيد ذکر دے او تفريع ده په ماسبق باندے دغه رنگے سورة واقعه ۵۶ کښے هم ذکر شوی ده (ختم شد بتوفيق باری تعالی برقت ۵ بجے صبح ۱۶ جمادی الثانيه ۱۴۰۴هـ)

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ

نوم ئے په دے آيت کريمه کښے ذکر شوے او مکی سورت دے. ۷۰ دے په ترتيب کښے او ۷۹ دے په نزول کښے پس د سورة الحاقة نه.

دعوى تخويف د منکرينو ته. (ربطونه) (۱) په دے کښے وضاحت کول او تفصيل کول د هغه دی چه په سورة الحاقه کښے ذکر دی. (سط البرده ص۱۳۶) (۲) ما قبل کښے اجمال و د فنا د عالم نو دلته د بعضے احوالو تفصيل دے (۳) هلته تيزی ورکول وو په طعام د مسکين ۳۴ نو دلته فرمائی چه دے بخيل حريص دے (تربي) دے. (۳) هلته اوصاف د کافرانو بيان شوی ۳۳ نو دلته اوصاف د مومنانو بيان شوی د ۳۳ نه. **خلاصه:** (۱) زجر دے منکرينو د عذاب لره ۱ نه (۲) تسلی دے (۳) بعض احوال د قيامت د ۸ نه (۴) فديه ورکول په بعض شيونو د ۱۱ نه (باقی په ۱۰۰۴)

حٰجِزِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۸﴾

منع کونکے. او يقينا دا قرآن خامخا نصيحت دے د پاره د متقيانو

وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَ

او يقينا موږ خامخا پوهيږو چه يقينا ستاسو نه بعضے تکذيب کونکی دی. او

اِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَاِنَّهٗ

يقينا دا (قرآن) خامخا افسوس دے په کافرانو. او يقينا دا قرآن

لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿۵۱﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ

خامخا حق يقينی دے. نو پاکی بيانوه په نوم د رب خپل

الْعَظِيْمِ ﴿۵۲﴾

چه لوی دے.

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ ۷۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۴۴ رُكُوْعَاتُهَا ۲

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ﴿۱﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ

غوښتنه اوکړه يو غوښتونکی د عذاب چه واقع کيدونکے دے. کافرانو لره.

لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِى الْمَعَارِجِ ﴿۳﴾

چه نشته هغه لره دفع کونکے. د طرف د الله نه چه خاوند د درجو دے.

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِىْ

ختيږی ملائکے او جبرئيل هم هغه ته په ورځ

يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ

ورځ کښے چه دے مقدار د هغے پنځوس زره

سَنَةٍ ﴿۴﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا ﴿۵﴾ اِنَّهُمْ

کاله دے. نو صبر کوه صبر ښائسته. يقينا دوی

يَرَوْنَهٗ بَعِيْدًا ﴿۶﴾ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ﴿۷﴾ يَوْمَ

ويني دغه ورځ لره لرے. او موږ ويني هغه لره نزدے. په ورځ

(بقيه) (۵) اووه اوصاف قبيح چې خاوند ئے حقدار د عذاب ګرځي د ۱۱ نه (۶) لسه صفات د مؤمنانو
د باره د مخه د عذاب د ۲۲ نه ... د بشارت ... زجر پشان د اول ... تخويف اخروي ...

امتيازات

(۱) انسان تريا ... (۲) او د والے د ورځے د قيامت ... (۴) فنا د عالم په بد طريقه ... (۵) صفات المومنين د ۲۲ نه.

سَأَلَ سَائِلٌ، مراد د سوال نه غوښتل دي. شيخ القرآن ... معنى کړې ده غواړي غوښتونکے عذاب واقع کيدونکے لره مفسرين رحمهم الله فرمائي چې دا آيت نازل شوے دے په باره د نضر بن حارث کښے. او کوريئ زاد المسير ... قرطبي ... معارف ... خو بيا دا حکم عام دے غواړي چې ولے سوال کوي نو هغه لائق د دائے زجر دے. تائيد ورته انفال ... ذِي الْمَعَارِجِ، خاوند د مرتبو دے (فتح) مالک د لارو د ختو (فضل) چې آسمانونو والا دے ... خاوند د درجاتو دے (ابن کثير)

فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ، د ختلو الله ته ملائک او جبرئيل ... کښې چې مقدار ئے پنځوس زره کاله دے. په دې کښې مختلف اقوال دي. غوره دا دے چې مراد ترې نه ورځ د قيامت ده (ابن کثير ...) يعنې ورځ د قيامت لکه دا د ابن عباس رضي الله عنه منقول دي. (مظهري ...) يعنې د ... لوئي بادشاه عذاب غواړي چې د هغه مخلوق جبرئيل عليه السلام لره الله تعالى دومره لوئي طاقت ورکړے دے چې په يوه ورځ کښې د پنځوس زره کاله مسافت هغه قطع کوي نو د الله د طاقت څرګند حد نشته (فضل ...)

تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ⑧ وَتَكُونُ الْجِبَالُ
شي به آسمان، پشان د ټاکلو (ويلي شوي) سرو زرو. او شي به غرونه
كَالْعِهْنِ ⑨ وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ⑩
پشان د رنګ ارنګ وړيو. او پوښتنه به نه کوي هيڅ دوست د بل دوست نه
يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي
ښکاره کولے به شي هغوی دوی ته. ارمان به کوي مجرم چې فدیه ورکړي
مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ⑪ وَصَاحِبَتِهِ
د عذاب د دغه ورځې نه په ځامنو خپلو. او په ښځه خپله
وَأَخِيهِ ⑫ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ⑬
او په رور خپل. او په قبیلې خپلې، هغه چې ځائے ورکوي دغه لره
وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ ⑭
او په هغه چا چې په زمکه کښې دي، ټول. بیا چې خلاص کړي دغه لره
كَلَّا إِنَّهَا لَظَىٰ ⑮ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ⑯ تَدْعُو
هیڅ به نه شي. یقینًا دا اور لمبې وهونکے دے. راايستونکے د څرمنې د سر او لاسونو او پښو. رابلي به
مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ⑰ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ⑱
هغه څوک چې شا کړې وه او مخ ګرځولے وه. او جمع کړي وو مال نو په لوښو کښې ساتلي وو
إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ⑲ إِذَا
یقینًا انسان پیدا کړے شوے دے تروپیا. کله چې
مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ⑳ وَإِذَا مَسَّهُ
اورسیږي ده ته مصیبت، فریاد کوونکے وي. او کله چې اورسیږي ده ته
الْخَيْرُ مَنُوعًا ㉑ إِلَّا الْمُصَلِّينَ ㉒ الَّذِينَ
خیر، منع کوونکے وي. لیکن مونځ کوونکي، هغه کسان چې
هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ㉓ وَالَّذِينَ
هغوی په مونځ خپل باندې همیشګي کوونکي وي. او هغه کسان چې

فائده: دلته د عذاب پنځه احوال ذکر شوي دي. (د دې نه حاشيه) يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ، دا د هيبتونو د قيامت بيان دے. (فِي ضِيزٍ ...) ويکښې تسلي ده.

كَالْمُهْلِ: پشان د ټاکلو ويلي کړے شوے. پشان د مخ د تيلو. تائيد ورته کهف ۲۹ دخان ۴۵ (باقي بل مخ)

(بقيه) وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيْمٌ حَمِيْمًا، اوګورئ زخرف ۶۷، مؤمنون ۱۰۱، عبس ۳۴. يُبَصَّرُوْنَهُمْ: ښکاري به دوی ملګري ته. يَتَوَلّٰى: بېرته مخ ګرځوي دوی ته. ښکاره کولے به شي تا بعدا ران متبوعينو ته. كَلَّا اِنَّهَا

فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿۲۴﴾ لِّلسَّآئِلِ

په مالونو د دوی کښې، حق معلوم (مقرر) وي، د پاره د سوال کونکي

وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۲۵﴾ وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ

او د بے نصيبه کړے شوي، او هغه کسان چه تصديق کوي

بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۲۶﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ

د ورځې د بدلے پاره، او هغه کسان چه دوی د

عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ اِنَّ عَذَابَ

عذاب د رب خپل نه ويره کونکي دي، يقيناً عذاب د

رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿۲۸﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ

رب د دوی نه دے امن کړے (له ويرے کړے شوے)، او هغه کسان چه دوی

لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِلَّا عَلٰٓى

د پاره د عورتونو خپلو حفاظت کونکي وي، مګر په

اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ

بيبيانو خپلو، او په هغه (وينځو) چه مالکان دي ښي لاسونه د دوی

فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿۳۰﴾ فَمَنِ ابْتَغٰى

نو يقيناً دوی نه دي ملامت کړے شوي، پس چا چه ولټوله لاره

وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿۳۱﴾

سوا د دے نه، نو دغه کسان دوی زياتي کونکي دي.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ

او هغه کسان چه دوی د پاره د امانتونو خپلو، او د لوظونو خپلو

رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ

لحاظ کونکي دي، او هغه کسان چه دوی په ګواهو خپلو

قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

ټينګ او درېدونکي دي، او هغه کسان چه دوی په مونځونو خپلو

تَلَظّٰى ۱۵: هيڅکله داسے نه، يقيناً دا اور دوه تېزه لمبه ده. نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى: راکاږونکي د طرفونو د انسان لره لکه لاسونه او ځپے څرمے او پاڅرمنے د سر لره (مدارک ۱۹) مراد ترې تول بدن دے. تَدْعُوْا: را بلل به هغه څوک چه شا کړي وي حق ته او اړخے دے د طاعت نه نو وائي به اور ما طرف ته راځه اے مشرکه ما طرفته راځه يا منافقه. الى الخ - (مظهري) خُلِقَ هَلُوْعًا: يقيناً انسان پيدا شوے حرصناک. حافظ ابن کثير رحمه الله وائي چه دا ورستو نے تفسير دے يعني ۲۰ او ۲۱، شيخ القرآن رحمه الله ئے معنى کوله (تنګ پا). اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ ۲۲: دا د نا کاره صفتونو په مقابله کښے نيک صفات د مؤمنانو ذکر کولے شي -

فائده: د سورة مؤمنون په سرکښے هم د نيکانو صفتونه ذکر شوي دي -

(د دے مخ حاشيه)

فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ: پس چا چه اولټوله سوا د دے نه (بل څه) نو دوی دی تجاوز کونکي. مفسرين رحمهم الله فرمائي چه دا دليل دے په حراموالي د متعه او د استعمالولو د نارينو او د چارپايانو، او د خواهش پوره کولو په لاس سره او ګورئ مدارک ۲۹۶، مظهري ۲۸، معارف ۵۵۵، جواهر ۱۳۹۹، ماجدي ۱۱۲۲، الهام الرحمن ۳۶.

عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۰ حافظ رحمه الله فرمائي چه شروع د کلام ئے په ذکر د مانځه اوکړه ۲ او اختتام ئے هم په ذکر د مانځه اوکړه نو دا دلالت کوي په مقصودوالي د مانځه او په غټوالي د شرافت د دے.
(ابن کثير ص ۴۲۲ ج ۴)

فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا: په دے ایتونو کښے زجر دے منکرینو ته د مستو د حال د مؤمنانو نه. عِزِيْنَ. ولے ولے دی. (الشیخ القرآن) طریبۃ القرآن ص۲۰۳. بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ، د نمر او سپوږمۍ او

يُحَافِظُوْنَ ﴿٣٤﴾ أُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ

ساتنه کوونکی دی: دغه کسان به باغونو کښے

مُّكْرَمُوْنَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

عزتمند کړے شویدی: نو څه دی هغه کسانو لره چه کفر یې کړیدے

قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِيْنِ وَ

طرف ستا ته منډے وهونکی دی: د ښی طرف او

عَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿٣٧﴾ أَيَطْمَعُ كُلُّ

د گس طرف نه ولے ولے دی: ایا طمع کوی هر یو

امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ

انسان د دوی نه: چه داخل به شی جنت د

نَعِيْمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّا ۖ إِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّمَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾

نعمتونو ته: هیچرے نه: یقینا مونږ پیدا کړیدی دوی ترو د هغی شی نه چه دوی پوهیږی

فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشٰرِقِ وَالْمَغٰرِبِ

نو داسے نه ده: قسم کوم زه په رب د مشرقونو او د مغربونو:

إِنَّا لَقٰدِرُوْنَ ﴿٤٠﴾ عَلٰٓى أَنْ نُّبَدِّلَ

یقینا مونږ خامخا قدرت والا یو: په دے باندے چه بدل کړو

خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٤١﴾

غوره د دوی نه: او نه یو مونږ عاجزه کړے شوی

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى

نو پریږده دوی چه ننوځی په خبرو کښے او لوبے کوی: ترڅو چه

يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٤٢﴾

ملاو شی دوی د ورځے خپلے هغه سره: چه دوی سره وعده کړے شی

يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا

په هغه ورځ راوبه وځی دوی د قبرونو نه: جلتی کوونکی

منزل ۷

د هر ستوری د پاره جُدا جُدا مشرق او مغرب دے. یا د نمر او د سپوږمۍ د پاره په خپلو منزلونو کښے مشرق او مغرب دے د دے وجے نه جمع سره ذکر کړیدی (احسن ص۱۴۰) خَيْرًا مِّنْهُمْ او گوره محمدی ص۱۰۰. مِنَ الْأَجْدَاثِ، کله چه راوځی دوی د قبرونو نه جلتی کوونکی گویا که دوی نښانو طرفته منډے وهی (جواهر ص۱۳۱) د عبادت ځایونو ته منډے وهی (ماجدی ص۲۳۱) خپلو معبودانو ته ورځغلی (احسن) گویا که دوی بُتانو ته منډے وهی. (افضل ص۱۳)

(د اشاره ۸ مخ حاشیه) خَاشِعَةً، عاجزه به وی نظرو د دوی. گوره به وی سترگے د دوی. (تمت سورة المعارج یوم الجمعة مابین الاذان و صلوة الصبح ۲۰ جمادی الثانیة ۱۴۲۸ھ. بفضل الله و حسن توفیقه ساعة ۴/۶)

سُوْرَةُ نُوْحٍ:

دا مکی سورة دے ترتیب کښے پس د سورة المعارج نه دے. او په نزول کښے هم په تقریب د سورة النحل نه پس دے کښے د نوح علیه السلام نوم دے ځکه دا نوم ورته ورکړے شو. دعوی: تخویف دُنیوی په واقعے د نوح علیه السلام (سمط الدرر)

ربطونه: مخکښے سورت کښے تخویف اُخروی وو نو په دے کښے تخویف دُنیوی ذکر شو. (۲) مخکښے سورتونو کښے دعوی د تبارك ثابته شوه. نو د لته پرے دلیل نقلی د نوح علیه السلام نه (۳) مخکښے مسئله ثابته شوه نو د لته تیزی ورکوی په رسولو د فیض باندے.

كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً

ګویا کې دوی چې طرف د درکاهونو منډې وهي . ښکته به وي

أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ

سترګې د دوی ، پټوی به دوی لره رسواني ، دغه ورځ

الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

هغه ده چې دی دوی چې وعده ورسره کړے شوې

سُورَةُ نُوحٍ مَكِّيَّةٌ ٧١ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — آيَاتُهَا ٢٨ رُكُوعَاتُهَا ٢

إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنذِرْ

یقیناً موږ رالیږلے وو نوح ، قوم د هغه ته ، چې ویروه

قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ

قوم خپل ، مخکښې ، د دې نه چې راشي دوی ته

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١﴾ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ

عذاب دردناک ، او وئیل هغه اے قومه زما یقیناً زه تاسو لره

نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢﴾ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَ

ویروونکے ښکاره یم ، چې عبادت اوکړئ د الله تعالیٰ او

اتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ﴿٣﴾ يَغْفِرْ لَكُم مِّن

ویره کوئ د هغه نه او اطاعت کوئ زما ، بخښنه به اوکړي تاسو ته د

ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ

ګناهونو ستاسو ، او وخت به ورکړي تاسو لره تر نیټې

مُّسَمًّى ۚ إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا

مقرر شوي پورې ، یقیناً نیټه د الله تعالیٰ : چې کله راشي : نه به

يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ قَالَ

روستو کړے شي ، که چرته یئ تاسو چې پوهیږئ : او وئیل هغه

خلاصه : په ټوله سورت کښې تفصيل واقعه د نوح عليه السلام ده . البته څو خبرې بکښې ښیې دی . (۱) بیان د نوح عليه السلام د بلنه (۲) وخت د تبلیغ د هغه د بلنه (۳) مخالفت د قوم د هغه سره (۴) کیفیت د تبلیغ د هغه د بلنه (۵) ترغیب ورکول د هغه په انعاماتو سره او په دلائلو سره بلنه (۶) ښیرے د نوح عليه السلام ته ده .

امتیازات

(۱) تومونه د معبودانو د قوم د نوح عليه السلام د بلنه (۲) فائدے د استغفار د بلنه (۳) وخت او طریقه د تبلیغ د نوح عليه السلام د بلنه (۵) اثبات د عذاب قبر ۲۵ . إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا (۱) دا دعوت د نوح عليه السلام دے تر ۴ پورې قوم ته خطاب په دے کښې او دریے اوامر د هغوی په دے کښې او د دعوت دوه فائدے په دے کښې . وَيُؤَخِّرْكُمْ او روستو به کړي تاسو لره تر معلومے نیټې پورې چې هغه مرګ طبعی دے (الفضل منه) د بے رسوی تاسو لره نیټې مقرر شوے ته (شیخ القرآن)

قَالَ رَبِّ (۵) : په دې آیتونو کښې وخت د تبلیغ د هغه دے چې شپه او ورځ او قوم خپل حسب موقعه د شپې او د ورځې .

رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَ
اے ربه زما یقیناً ما بللو ما قوم خپل د شپې او د
نَهَارًا ۝٥ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا
ورځې ، پس زیات نکړو دوی لره بللو زما مګر
فِرَارًا ۝٦ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ
تښتېدو ګول ، او یقیناً ما هر وار چه راوبللو دوی لره چه بخښنه وکړې
لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ
دوی ته نو دوی کېښودې ګوتې خپلې په غوږونو خپلو کښې
وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا
او پټ نه کړل (ځانونه) په جامو خپلو کښې او ټینګ اشو په حق نه منلو او لوئي وکړه
اسْتِكْبَارًا ۝٧ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝٨
په لوئي کولو سره ، بیا یقیناً ما راوبللو دوی لره په زوره سره
ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ
بیا یقیناً ما ښکاره وینا اوکړه دوی ته او پټه وینا م اوکړه دوی ته
إِسْرَارًا ۝٩ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ط
په پټوالي سره ، نو اووې ما بخښنه اوغواړئ د رب خپل نه
إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ
یقیناً هغه دے ډیر بخښونکے ، راوبه لیږي باران په تاسو باندې سره
مِدْرَارًا ۝١١ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ
پیهم پیهم ، او امداد به اوکړي ستاسو په مالونو او ځامنو سره
وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ
او دربه کړي تاسو لره باغونه او درکوي به تاسو لره
أَنْهَارًا ۝١٢ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ۝١٣
ویالے ، څه دي تاسو لره چه عقیده نه لرئ د پاره د الله تعالی د عظمت

وَاِنِّیْ کُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ : په دې کښې
ښکاره قصه د قوم د هغوی د شو په
... تر قومونو چه ګوته نه
په غوږونو کښې کېښوده او ځان
ئې په جامو کښې پټ کړو او خپل
ضد باندې ټینګ پاتې شو او
لوئي ئې اوکړه . ثُمَّ اِنِّیْ دَعَوْتُهُمْ
په دې کښې بیان د کیفیت د
دعوت او د تبلیغ د هغوی دی
علامه نسفي رحمه الله فرمائي او د
ښکاره کوي امر کولے په نیکئ باندې
عمر وکړي په آسان بیا یعنې
بیا په بنده سخت باندې شو دوی
فکر وکړو په خیر خواهئ ئې سره
توجه کلمے د قبولولو اکړو نو
دو بار د نه ورته په ښکاره په دا ګه
دعوت ورکړو هر کله چه دا شو اثر
او نکړو نو په دریم حل ئې جمع اوکړه
په مینځ د اسرار او د اعلان کښې
او لفظ د ثُمَّ دلالت کوي په
جدا والي د احوالو ځکه چه د ...
دعوت ورکول ګران دی د ...
او جمع والے د دواړو په سخت ...
د خان والي د یو د دوو ... مدارک
ص۲۹۵) علامه قاسمي رحمه الله
لیکلي دي چه دا امر په انتهائي
دې چه ممکن دي د پاره د امر کولو
په نیکئ او منع کولو د بدئ نه
(محاسن التاویل ص۲۹۵) فَقُلْتُ
اسْتَغْفِرُوْا الخ : په دې آیتونو کښې
ترغیب ورکول دی توحید او استغفار
بخښنې غوښتلو ته او د دې نفع
فوائد ذکر کوي . مَالَکُمْ لَا تَرْجُوْنَ
لِلّٰهِ وَقَارًا : حافظ ابن کثیر رحمه الله
فرمائي چه دا مقام د دعوت د ...
په ترغیب سره او بیا په ترهیب سره
(وګورئ ص۲۳۵ ج ۴)

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا: او یقیناً پیدا کړی دی تاسو لره په مختلفو حالتونو سره اوګورئ چونه. حقه خالق دی دلائل عقلیه ترڅو پورې اول انفسي دلیل بیا دویم افاقي دلیل دی بیا دریم افاقي دلیل

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ⑭ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ

او یقیناً پیدا کړی نې دی تاسو لره په مختلفو حالتونو: آیا نه ګورئ تاسو چې څرنګه

خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ⑮ وَّ

پیدا کړی دی الله تعالیٰ: اووه آسمانونه: لاندې سره باندې سره: او

جَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَّجَعَلَ

جوړ کړی یې سپوږمۍ په دغو کښې: رڼا: او جوړ کړی یې

الشَّمْسَ سِرَاجًا ⑯ وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِّنَ

نمر: ډیوه بلیدونکې: او الله تعالیٰ رازرغون کړي تاسو لره: د

الْأَرْضِ نَبَاتًا ⑰ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَ

زمکې نه: په زرغونتیا سره: بیا واپس کوي تاسو لره په هغې کښې: او

يُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ⑱ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ

راوبه باسي تاسو لره په بیا راویستلو سره: او الله تعالیٰ جوړه کړېده: تاسو لره

الْأَرْضَ بِسَاطًا ⑲ لِّتَسْلُكُوا مِنْهَا

زمکه: غوړیدلې (فرش) چې ځئ: د دې نه:

سُبُلًا فِجَاجًا ⑳ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ

په لارو فراخو باندې: اووئیلې نوح علیه السلام: اے ربه زما

إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَّمْ

یقیناً دوی: نافرماني اوکړه زما: او تابع شو دوی د هغه چا چې نه

يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ㉑ وَ

زیاتوي هغه لره مال د هغه: او اولاد د هغه مګر تاوان: او

مَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ㉒ وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ

چلونه اوکړل دوی چلونه لوئي: او اووئیلې دوی یقیناً مه پریږدئ

آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا

خدایان خپل: او مه پریږدئ ود: او نه سواع:

دا ګنجې په مدارئ کښې شلو دم بیا په ...ئ کښې پنځم او په بیولو کښې نعمتونه د الله تعالیٰ ذکر کړیدي. طِبَاقًا: لاندې باندې سره چپت په چپت د یو بل د پاسه دے مینګ اوګورئ.

فائده: نور هغه رڼا ده چې سره د تیرشه نه وي او سراج وجود د تیرشه نه حرارت نو د قمر (سپوږمۍ) رڼا کښې تیاره د نشته وی: او د شمس (نمر) په وخت کښې شپه ورکه شي. نور رڼا هغه ته وئیلې شي چې د بل څیز نه اخستلې شوې وي. او سراج هغه رڼا چې د ځان نه نه اخستلې شي و دغه وجې نه رسول الله ﷺ ته په سورة احزاب کښې سراجًا منیرًا وئیلې شوی دے (احسن البیان / احزاب ۴۶) اوګورئ.

قَالَ نُوحٌ ۲۱: په دے آیتونو کښې مخالفت د قوم د هغه دے په پنځو طریقو سره ذکر کوي. وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ: او اووئیلې دوی چې مه پریږدئ معبودان خپل. معلومه شوه چې دوی کښې معبودان سوا د الله تعالیٰ نه نیولی او جوړ کړي وو لیکن دا ښکاره کښې د دوی په عقیده د غټ شان والا وو.

فائده: امام بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت ذکر کوي چې دا نومونه د نیکانو سړو وو د قوم د نوح علیه السلام نه. کله چې وفات شو نو وسوسه او غوررزوله شیطان قوم لره د دوی ته چې اودروئ په مجالسو د دوی هغو کښې چې دوی به پکښې کیناستل مجسمې د دوی او نومونه ورله د دوی کیدی نو دوی دا کار اوکړو خو بندګئ نه اوشوه شروع تر دې چې دغه خلق مړه شو. د نسخ انعلام عبادت او علم پورته کړے شو نو عبادت نې شروع شو. (باقي په بل مخ)

(بقيه) بخاري ص۷۳۲ ، كبير او مفسرينو دغه ذكر كړي دي لكه چه احقر الهام الرحمن ص۳۱ ، ۷۶ د دغو پنځه
زيانو حواله ذكر كړې دى هغه نه اوګورئ. فائده: امام بخاري رحمه الله دا هم ذكر كړي دي

وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ
او نه يغوث : او يعوق : او نسر : او يقيناً
أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا
ګمراه كړي دي ډېر خلق : او مه زياتوه ظالمانو له : مګر
ضَلَالًا ﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا
ګمراهي : د وجې د ګناهونو د دوى نه : دوب كړے شول
فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم
بيا داخل كړے شول دوى اور ته : نو بيا ئې نه موندل دوى د ځانونو دپاره
مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ
سوا د الله تعالى نه : امداديان : او ووئيل
نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ
نوح : اے ربه زما مه پرېږده : په زمكه باندې
مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن
د كافرانو نه : هېڅ اوسېدونكے : يقيناً ته كه چرته
تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا
پرېږدې دوى له : ګمراه كړي به بندګان ستا : او نه به زېږوي دوى
إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَ
مګر بدكار : ډېر كفر كوونكي : اے ربه زما بخښنه اوكړه ماته او
لِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا
مور پلار زما ته : او هغه چا ته چه داخل شوے كور زما ته : ايمان راوړونكى
وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۖ وَلَا تَزِدِ
او مؤمنانو سړو : او مؤمنانو ښځو له : او مه زياتوه
الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾
ظالمانو له : مګر تباهي

چه شيطان بيا د دې بتو معبودانو عبادت مشركينو عربو ته هم رانقل كړو - اوګورئ ص۷۳۲

(د دې مخ حاشيه)

فَأُدْخِلُوا نَارًا : په دې كښې د قوم نوح عذاب ذكر كوي. مفسرين رحمهم الله فرمائي چه دا آيت دليل دے په اثبات د عذاب قبر باندې. اوګورئ مظهري ص۵۸ ، قرطبي ص۳۱۳ ، مدارك ص۲۸۶ ، ماجدي ملك ، جواهر ص۱۳۷ ، معارف ص۵۶۹ ، روح ص۸۲ ، كبير ص۱۴۵ ، الهام ص۹۶ -

وَقَالَ نُوحٌ ۲۶ : دا ښيرې د نوح عليه السلام وفې سوره هود كښې دي چه دوى ته وحي شوے وه چه د دوى نه نور كسان ايمان نه راوړي نو دلته ځكه فرمائي چه وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا.

رَّبِّ اغْفِرْ لِي : د ښيرو نه پس دا دعا د مغفرت د نوح عليه السلام نه او په آخر كښې ښيرې دي عام كافرانو له او مخكښې ښيرې وې د قوم خپل له.

فائده : ابن جزي رحمه الله فرمائي چه سنت طريقه په دعا كښې دا ده چه ځان مخكښې كړي انسان په دعا كښې په دعا د نورو باندې (تسهيل ص۱۴۳) ابن كثير رحمه الله فرمائي دا دعا ټولو مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو له ده او دا عامه ده ژوندو د هغو له او مړو د هغو له او د دې وجې نه مستحب ده دا قسم دعا كول د وجې د اقتدا كولو نه په نوح عليه السلام پسې او د هغو دعا ګانو د وجې نه چه اشاره او دعا ګانو مشروعه ده كښې راغلي دي (ص۴۳۲ ج۴)

سُوْرَةُ الْجِنّ

سُوْرَةُ الْجِنّ دا مکي سورت دے په ترتیب کښې ۷۲ دے پس د سورة نوح نه او په نزول کښې ۳۰ پس د سورة الاعراف نه. وجه د تسمیې دے په جن سره دا دوه حروفه لفظ په ... کښې راغلے دے. دعویٰ نفي د شرک اعتقادي ده.

ربطونه: (۱) مخکښې سورت کښې دلیل نقلي وو د نوح علیه السلام دلته نقلي دے د جنانو نه (۲) مخکښې ترغیب وو تبلیغ ته په بیان د نوح علیه السلام دلته ترغیب دے په بیان د جنانو سره (۳) مخکښې رد د مشرکانو بالعباد والصالحین وو دلته رد دے په مشرکانو بالجن باندې شروع دے. خلاصه: په دې سورت کښې آته څیزونه دي: (۱) دلیل وحي او ترغیب قرآن پاک ته دے (۲) نفي د شرک په دلیل نقلي سره د جنانو نه دے (۳) رد د شرک فی الاستعانت او د مشرکینو بالجن دے (۴) اثبات د نبوت په علامو سره دے ۹ پورې (۵) ترغیب توحید او قرآن ته دے (۶) دوه ... په پېریانو کښې دے (۷) اِنَّمَا اَدْعُوْا ترغیب او ترهیب دے (۸) نفي د شرک فی الدعاء دے (۹) اظهار د عجز د نبي علیه السلام دے په نفي د تصرف او علم د غیب دے. امتیازات: (۱) تفصیل د بیان د جنانو. (۲) ذکر د اصولو ثمانیه. (۳) وَاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ الخ (۴) نفي د علم غیب د غیر الله نه دے. قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ ... د بخاري شریف په یو اوږد حدیث کښې دي روایت د ابن عباس رضي الله عنهما باندې چې روان وو رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو څو ملګري د ملګرو خپلو نه قصد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ

او وایه چې وحي کړے شوې ده ما ته چې یقیناً غوږ ایښے دے یوې ډلې د

الْجِنِّ فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ۙ﴿۱﴾

پېریانو نه، نو اوویلے دوی چې یقیناً مونږ واورېدو قرآن عجیبه

یَّهْدِیْٓ اِلَی الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَلَنْ

ښودنه کوي سمې لارې ته نو ایمان راوړے دے مونږ په دې او هیڅکله به نه

نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۙ﴿۲﴾ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰی جَدُّ

شریک نه جوړوو د رب خپل سره هیڅوک. او یقیناً شان دا دے چې اوچت دے شان

رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۙ﴿۳﴾ وَّ

د رب زمونږ نه دے نیولې ښځه (بي بي) او نه بچے، او

اَنَّهٗ كَانَ یَقُوْلُ سَفِیْهُنَا عَلَی اللّٰهِ

یقیناً شان دا دے وو ویلے به بې عقله زمونږ په الله تعالیٰ باندې

شَطَطًا ۙ﴿۴﴾ وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ

ناحقه خبره. او یقیناً ګمان کړے وو مونږ چې هیڅکله به نه وائي

الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا ۙ﴿۵﴾ وَّ

انسانان او پېریان په الله تعالیٰ باندې دروغ. او

اَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ

یقیناً شان دا دے وو څه سړي د انسانانو نه

یَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ

چې پناه به یې غوښتله په څه سړو د پېریانو باندې

فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۙ﴿۶﴾ وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا

نو زیات کړے وو دوی غرور د هغوی. او یقیناً دوی ګمان کړے وو لکه چې

منزل ۷

... کول بازار د عکاظ ته (د تبلیغ د پاره) او دا هغه زمانه وه چې په مینځ د پېریانو او د خبرو د آسمان کښې بندونې شوې وې او په دوی باندې شعلې به راتلې، نو د پېریانو یوه جماعت مقام نخلې ته راغلو او نبي علیه السلام ملګرو ته د سحر مونځ ورکولو نو پېریانو غوږ کېښودو. (باقي په بل مخ)

(بقيه) قرآن ئې واورېدو نو وې وئيل چه دا وحى مُنزل دى نوستا سو د خبرو نو د آسمان نه نو ايمان ئې
راوړو. اوګورئ بخارى ص۷۳۲ د پېريانو د دې جماعت چه قوم ته ئې تبليغ اوکړو نو الله تعالى د وحى په ذريعه

ظَنَنْتُمْ أَنْ لَنْ يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا ۝ وَ
ګمان کوئ تاسو چه هيچرې به دوباره ژوندى نه کړى الله تعالى هيچا لره: او
أَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ
يقيناً موږ تلاش کولو د خبرو د آسمان لره: نو اومونده موږ هغه چه ډک کړے شو
حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ۝ وَأَنَّا كُنَّا
د چوکيدارانو سختو نه: او د شغلو نه: او يقيناً موږ وو چه
نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَنْ
کيناستلو په د هغه نه په ځايونو د کيناستو د پاره د آورېدو: نو څوک چه
يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَصَدًا ۝
غوږ ځاروي اوس: او به مومي ځان د پاره شغله تياره:
وَأَنَّا لَا نَدْرِي أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَنْ فِي
او يقيناً موږ نه پوهيږو چه آيا د شر اراده شوې په هغه چا چه په
الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ۝
زمکه کښې دى، آيا اراده کړې ده په دوى باندې رب د دوى د خير:
وَأَنَّا مِنَّا الصَّالِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ
او يقيناً موږ بعضے زموږ نه نيکان دى: او بعضے زموږ نه بېواد دى:
كُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا ۝ وَأَنَّا ظَنَنَّا أَنْ
وو موږ د لارو مختلفو (والا) او يقيناً ګمان کوو چه
لَنْ نُعْجِزَ اللَّهَ فِي الْأَرْضِ وَلَنْ
هيچرې نه شو عاجزه کولے الله تعالى لره: په زمکه کښې: او هيچرې نه شو
نُعْجِزَهُ هَرَبًا ۝ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا
عاجزه کولے هغه لره په تښتيدو: او يقيناً موږ هر کله چه واورېدلو موږ:
الْهُدَىٰ آمَنَّا بِهِ ۖ فَمَنْ يُؤْمِنْ
هدايت: ايمان راوړو موږ په هغه باندې: نو هغه څوک چه ايمان لري

نبى ﷺ لره د دې اطلاع
ورکړه دغه رنګے د پېريانو راتلل
او د قرآن د آورېد و اطلاع
هم هغوى ته ئې د وحى په ذريعه
سره ورکړه (جواهر ص۳۰۱) الدکتور
رحمه الله فرمائى چه مشهوره دا
ده چه د سورة احقاف او سورة
جن واقعه يوه ده او ځينې شوى
دى چه دوه واقعې دى عکرمه
وائى چه نبى ﷺ سورة اقرأ
لوستلو او ځينې شوى دى چه
سورة رحمن ئې لوستلو اعرفت
فائده: قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ
دا دلالت کوى چه نبى ﷺ
په وخت د استماع د قرآن کښې
د پېريانو نه وو ليدلى او نه د
هغوى نه خبر وو بلکه روستو
الله تعالى ورته په وحى سره خبر
ورکړو او په دې سره معلوم
شوه چه نبى ﷺ عالم الغيب
نه وو (احسن ص۳۲) قُرْآنًا
عَجَبًا: قرآن نا آشنا عجيبه
په نهايت فصاحت او بلاغت کښې
إِلَى الرُّشْدِ: چه ښودنه کوى
حق طرفته. جَدُّ رَبِّنَا: اوچت
دے عظمت او قدرت او بادشاهى
شان د رب زموږ. يَعُوذُونَ
بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ: پناه مې
به ئې غوښتله په سړو د پېريانو
چه کله به ئې شپه په صحرا او
دښته کښې راغله نو وئيلے به ئې
أَعُوذُ بِسَيِّدِ هَٰذَا الْوَادِي مِنْ
سُفَهَاءِ قَوْمِهِ: چه پناه غواړم
په سردار د دې صحرا د بېوقوفو
د قوم د ده نه. نو په دې به د
پېريانو غرور کښې اضافه شوه چه
چه موږ خو د انسانانو هم سرداران شو. اوګورئ انعام ص۱۲ هم. (د دې تفصيل حاشيه) طَرَائِقَ قِدَدًا
قدد جمع د قِدَّة ده. نکره ده د ځينې شي. او طرائق جمع د طريقت ده په معنى د مذهب او مسلک
او مضاف محذوف دے. معنى دا شوه او وو موږ اهل د مذاهبو مختلفو. (باقى په بل مخ)

(بقيه) او يا طرائق په معنیٰ د ډلو. يعنی د مومنو ډلې مختلفې. وَ اَنَّا ظَنَنَّآ، دا حال د ځينو روستوو اوريدلو د قرآن نه او وَ اَنَّا لَمَّا کښې هُم حال دے د روستوو اوريدلو د قرآن نه او په مثلا کښې بيان د ډلے د اوريدلو د قرآن نه. مونږ د اوريدلو قرآن نه. سره د بشارت او تخويف نه. حاصل دا دے چه د ټولو ډلو خلاصه دا ده ولے دے اوګوره (د دے مخ حاشيه)

بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ⑬

په رب خپل، نو نه به ويريږی د کمی نه او نه د زياتی نه.

وَّ اَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ

او يقيناً مونږ بعضے زمونږ مسلمانان دی او بعضے زمونږ ظالمان دی.

فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ⑭ وَ

نو چا چه اسلام قبول کړو نو دغه کسانو قصداً اوکړو د هدايت. او

اَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ⑮ وَّ

هر چه ظالمان دی نو دی وی د جهنم د پاره خشاک. او

اَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا عَلَى الطَّرِيْقَةِ لَاَسْقَيْنٰهُمْ

که چرته اوس دوی ودی برابر شوی په سمے لاره نو خامخا به څکولو مونږ دوی ته

مَّآءً غَدَقًا ⑯ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَمَنْ

اوبه فراخه د دے د پاره چه امتحان اوکړو د دوی په دغے کښے. او هغه څوک چه

يُّعْرِضْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهٖ يَسْلُكْهُ

مخ اړوی د ذکر د رب خپل نه داخل به کړی دے لره

عَذَابًا صَعَدًا ⑰ وَّ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا

عذاب سخت ته. او يقيناً جماتونه الله تعالیٰ لره دی نو مه

تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ⑱ وَّ اَنَّهٗ لَمَّا

بلئ تاسو د الله تعالیٰ سره هيڅوک. او يقيناً شان دا دے هر کله

قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا

چه اودريدو بنده د الله تعالیٰ چه بلنه کوله د هغه نزدے وو دوی

يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ⑲ قُلْ اِنَّمَآ

چه شی به د هٔ باندے د ګڼو. ووايه يقيناً

اَدْعُوْا رَبِّیْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ⑳

بلنه کوم رب خپل او نه شريکوم د هغه سره هيڅوک.

منزل ٧

ع ١٩

د بشارت او تخويف نه. حاصل دا دے چه د ټولو ډلو خلاصه دا ده ولے دے اوګوره (د دے مخ حاشيه)

وَ اَنَّا مِنَّا الْقٰسِطُوْنَ: او هر چه ظالمان دی (غريب ص۳۹) وَ اَنْ لَّوِ اسْتَقَامُوْا: دا عطف دے په اَنَّهُ اسْتَمَعَ باندے مستقله وحی ده او د جنانو کلام نه دے. په دے کښے اهل مکه و طرف ته التفات دے (جواهر ص۱۳۰) په ادخال الهی دے د پاره د تخويف او د ترغيب (احسن البيان ص۱۳۰)

فائده: په دے آيت کريمه کښے دوه قوله د مفسرينو رحمهم الله دی يو دا چه د طريقے نه طريقه د اسلام او د توحيد او د ايمان ده. اوګورئ مدارك ص۲۹۴ تاشی و ن ص۲۹ مائده. ص۶۹ اعراف. ص۱۲ نوح. دويم قول دا دے چه مراد د طريقے نه ضلالت او ګمراهی ده يعنی فراخی د رزق به ورکړے اوکړم د پاره د استدراج. اوګورئ ابن کثير ص۴۳۲. تاشی ص۴۴ انعام

وَ اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ: دا هم د اُوْحِیَ اِلَیَّ لاندے په اَنَّهُ اسْتَمَعَ باندے معطوف دے او دريمه وحی ده. او د مساجد لفظ عام دے شامل دے جماتونو لره هم او ان امونو مځکے ته يکڅولو لره هم. او اضافت

او نسبت د الله تعالیٰ ته د تشريف د پاره دے. په دے وجه چه تو تونه د الله تعالیٰ کورونه ويلے شی. او کوم ښه د ته دے چه نسبت کيږی په صفت د وقف په وجه يا د تعارف په وجه. امام بخاری رحمه الله په صحيح کښے باب تړلے دے "باب هل يقال مسجد بنی فلان" ص۵۹ (باقی په بل مخ باندے)

(بقيه) فائده: عکرمه رحمه الله فرمائي چې دا په باره د تولو جماتونو کښې نازل شوې ده. او د سعيد بن جبير رحمه الله روايت دے چې دا نازل شوې ده په باره د اندامونو د سجدې کولو کښې (ابن کثير ص ۲۳۱، ج ۴) آلوسي رحمه الله فرمائي چې معنی د دا ده چې د الله تعالى مسجدونه چې جوړ کړی شوي دي او شريک وغيره څوک چرته نۀ شي اوکړے په نور د عباداتو کښې په غير الله پسې نۀ شي نو صدقه نذر وغيره په جماتونو کښې مېچ ليکل لره. څنګه چې جماتونه خاص کړے شوي دي په الله عز وجل پورې نو شريک وغيره کول په دې کښې ډير قبيح دي. (روح ص ۲۹۰) فائده: په دې کښې هغه چا لره لوئ عبرت دے چې جماتونو کښې عمل تړل کوي يا شرکي وظيفې کوي يا په ديوالونو کښې د غير الله نومونه يا نښانې ليکلي دي. دوئ نۀ پوهېږي چې يا حرف ندا قائم مقام د ادعو دے او الله تعالى فرمائي فلا تدعوا مع الله احدا

قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا

اووايه يقيناً زۀ نۀ مالک يم تاسو ته د هيڅ ضرر او نۀ

رَشَدًا ﴿۲۱﴾ قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي

د خير فائدې ته. اووايه يقيناً زۀ هيڅوک پناه نۀ شي ورکولے ما له

مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن

د الله تعالى نه هيڅوک. او نۀ به ومومم سوا

دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾ إِلَّا بَلَاغًا مِّنَ اللَّهِ

د هغۀ نه ځاے د پناه هيڅ. مګر رسول کوم د جانبه د الله تعالى نه

وَرِسَالَاتِهِ ۚ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَ

او پيغامونه د هغۀ. او څوک چې خلاف کوي د الله تعالى او د

رَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ

رسول د هغۀ نو يقيناً هغۀ لره اور د جهنم دے همېشه به اوسيږي

فِيهَا أَبَدًا ﴿۲۳﴾ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ

په هغۀ کښې همېشه. تر هغې پورې چې ووينې دوئ هغه عذاب چې وعده ئې ورسره کولے شي

فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَ

نو ژر دوئ به پوهه شي چې څوک دے کمزورے په امداد او

أَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾ قُلْ إِنْ أَدْرِي

کم دے په شمار والا. اووايه نۀ پوهېږم زۀ

أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ

آيا نزدې دے هغه چې تاسو سره ئې وعده کولے شي يا به مقرر کړي

لَهُ رَبِّي أَمَدًا ﴿۲۵﴾ عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا

هغۀ لره رب زما موده. خبردار په هر غيب دے نو نۀ

يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا ﴿۲۶﴾ إِلَّا مَنِ

خبروي په غيبو خپلو هيڅ چا لره. ليکن هغه څوک

د أَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ دا هم په أَنَّهُ اسْتَمَعَ باندې عطف دے او د اعلوم وي دلته نور اقوال هم شته.

فائده: دلته نبي الله يا رسول الله نۀ، اوْ وئيلو محکه عبد ډير محبوب وو د نوموړي نبي صلى الله عليه وسلم ته (مدارک ص ۲۹۰)

کادوا يکونون عليهم لبدا دلته ډير اقوال دي (۱) د عبد الله نه مراد رسول الله صلى الله عليه وسلم دے کله چې هغوي د توحيد دعوت ورکولو او تبليغ ئې کولو نو مشرکين د مخالفت د باره په هغوي باندې راجمع شو. (مواهب ص ۱۳۱) (۲) دا قول د هغه پيريانو دے چې قرآن ئې آوريدلے وو او حال د نبي صلى الله عليه وسلم او د صحابه کرامو ئې ليدلے وو. نو د عبد الله نه مراد نبي صلى الله عليه وسلم دے (احسن ص ۲۰۰، ج ۲) (۳) مسلمانان د محبت نه او کافران د عداوت نه به راپنډ شو. فائده: څومره چې د سړي د دين ذوق زيات وي نو دومره به د دښمنان زياتيږي. (باقي په بل مخ)

(بقيه) نو د هغوئ به زيات د هغه دوستان زيات شي (الفصل ...) . قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ ... مع
دا ټول أمور وحيه دي د الله تعالی له طرفه نبي عليه السلام ته ... اوګورئ ... يونس ... الاعراف .

إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ
چه غوره يې کړي د پيغمبرو نه نو يقيناً الله چلوي
مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿٢٧﴾
مخکښې د هغه نه او د روستو د هغه نه څوکيداران
لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَ
د دې د پاره چه ښکاره کړي الله تعالی چه يقيناً رسولانو رسولي دي پيغامونه د رب خپل او
أَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ
احاطه کړې په هغه څه چه دوی سره دي او حساب کړې هر
شَىْءٍ عَدَدًۢا ﴿٢٨﴾
شي لره په پوره شمېره

ع ۱۲

سورة المزمل مكية ۳ | بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ | آياتها ۲۰ | ركوعاتها ۲

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾
اے جامه راتاوونکے پاڅه د شپه مګر لږ
نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوْ
نيمه د شپې يا کم کړه د هغې نه لږ او يا
زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾
زيات کړه په هغې باندې او واضح لوله قرآن په واضحه ويلو سره
إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ
يقيناً موږ نازلوو په تا باندې وينا درنه يقيناً
نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ هِىَ أَشَدُّ وَطْـًٔا وَأَقْوَمُ
پاڅيدل د شپې دا زيات دي د موافقت د ژبې د زړه سره
قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبْحًا
او سيده لوستل کوي يقيناً تا لره په ورځ کښې شغل دے

(د تېر مخ حاشيه)
قُلْ إِنِّىٓ ... واهم أمور وحيه دي او د شرك في الاستعانة رد كښې دے ... كښې تخويف دے . قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ : دا جواب د سوال مقدر دے په دې كښې نفي د علم غيب ده . فَلَا يُظْهِرُ : نه خبروي په غيب خپل باندې هيچا لره (مفردات ... خازن ...) إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ : دا استثناء منقطع ده . من ارتضى مبتدا او فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ ... خبر دے (...) او ګورئ آل عمران ... . فائده : په دې آيتونو كښې رد د كتنو شركونو دے . (۱) في العبادة (۲) في الدعاء (۳) في الاستعانة (۴) في ... (۵) في العلم .

(د دې مخ حاشيه)
لِّيَعْلَمَ : چه ښكاره كړي الله تعالی خلقو ته (۲) چه پوهه شي محمد ﷺ چه پيغمبرانو رسولي دي پيغامونه د رب خپل .

سُورَةُ ٱلْمُزَّمِّلِ : نوم ئے په اول آيت كښې ذكر دے مكي سورت دے ترتيباً ۷۳ ... د سورت الجن نه او نزولاً ۳ دے پس د سورة القلم نه . د دې نه څانلي نه نهم باب د خلور محے جقے دے او په دې كښې دوه سورتونه دي .

دعوىٰ : ترغيب دے لوستلو د قرآن ته ... دغه شانے دعوى د توحيد كښې هم ده ... .

ربطونه : (۱) مخكښې سورت كښې صداقت د قرآن د وييان د جنانو شمېره ... نو دلته ترغيب د هغه ته دے (۲) مخكښې نفي د شرك مكمل او شوه نو دلته فرمائي چه قرآن د دے د پاره راغلے دے (۳) مخكښې نقلي دليل د و د پيريانو نه . دلته د موسیٰ عليه السلام نه دے . خلاصه : (۱) اول ترغيب دے قرآن ته (۲) بيا دعوى د توحيد ده ... (۳) بيا تسلي ده نبي عليه السلام لره ... (۴) تخويف د ... نه (باقي په بل مخ)

(بقيه) (٥) تخويف د نبوى دسے په واقعے د فرعون ره سره (٦) ترغيب دسے جهاد او انفاق ته د پاره
د ختم د عوت او د قائم ولي د جماعت سره او تفصيل د اول سره سورت. امتيازات: (١) ترغيب

طَوِيلًا ﴿٧﴾ وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ
او ورد (ذکر) او یاد وه نوم د رب خپل: او منقطع شه

إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴿٨﴾ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ
طرف ته منقطع کیدو سره: رب د مشرق دسے: او د مغرب

لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾
نشته لائق د بندګئ سوا د هغه نه: نو ونیسه هغه لره کارساز

وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ
او صبر کوه په هغه وینا چه دوی کوي یې: او پریږده دوی لره

هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾ وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ
په پریښودو ښو سره: او پریږده ما سره د تکذیب کوونکو نه

أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ﴿١١﴾ إِنَّ
چه خاوندان د نعمت دي: او مهلت ورکړه دوی لره لږ: یقینا

لَدَيْنَا أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَامًا ذَا
زموږ سره بیړئ د خپودو دي او دوزخ: او خوراک نښتلو والا

غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ
په مرئ کښے: او عذاب دردناک: کومه ورځ چه د جښیږي

الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ
زمکه او غرونه: او شي به غرونه

كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ
ډیرۍ د شګو بهیدونکے: یقینا موږ رالیږلی دے تاسو ته

رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا
پیغمبر: بیانوونکے په تاسو باندے: څنګه چه رالیږلے وو موږ

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ
فرعون ته رسول: نو نافرماني اوکړه فرعون

قيام الليل ته (٢) ترغيب قرآن پاک ته (٣) ذکر د بعضے عذابونو (٤) د اوامرو ...
يايها المزمل: اصل کښے متزمل دے دا هغه چا ته ویلے شي چه څان رانغاړي په جامه کښے. او د وړ ئي صد ارګ (غريب القرآن ٤٩٣) - دا لفظ ماخوذ دے د زمل نه د هغے معنی حمل ده دويمه معنى التغتل دی په جامه نو په دیکښے دوه قولونه دی (احسن ...) یوه معنی څکښے ذکر شوه بله معنی قاسمی رحمه الله هم ذاکر کړیده. فرمائي او دروند شویدی. اسے پورته کړونکے بوجونو او زمه دارئ د نبوت لره شپے. فائده :- ابن کثیر رحمه الله فرمائي چه امر کوی الله تعالی خپل رسول ﷺ ته چه پریږدی تزمل چغی پټیدل په شپه کښے او پورته شي قیام ته د پاره د رب خپل چه غالب او لوئي دے (...) فائده: د قیام اللیل نه مراد څونو د تهجد دے په عرف د شرع کښے مطلق ویښیدل یا بیداري مراد نه ده. د قیام اللیل په نبی ﷺ باندے د فرض کیدو کښے اختلاف دے. لیکن قرطبي رحمه الله غوره کړیده چه اول وخت کښے فرض وو ځکه چه د ابتداء د دعوت د تربیت ضرورت وو او روستو بیا تخفیف راغے یعنی فرضیت ئے معوف شو، سنتیت ئے باقي پاتے شولو. لکه د سورة په اخري آیت کښے به راشي (احسن ...) فائده: په دے کښے اختیار ورکول دی دریو شیونو ته. نیمه شپه د دریدل. د نیمه حصه (ثلث) دوه حصے د دریو نه (ثلثان) نصفه: په دے کښے سوال راځي چه دا بدل د قلیلا نه دے. او دا نه صحیح کیږي. (باقي په بل مخ)

(بقیه) څکه چه قلیل د نیم د کم د وېلے شی جواب په مخوطریقو سره وشے ۱. نیمائی د نے قلیل و ېلے وشے په نسبت سره ... (روح المعانی ...) ۲) مراد داد شے چه کوم ...

الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ
د هغه رسول نه : نو ونیولو موږ هغه په نیولو سختو سره . نو څرنګه
تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ
به تاسو بچ کیږئ که چیرے کفر کوئ ، د هغه ورځے نه چه وګرځوی به
الْوِلْدَانَ شِيْبَا ﴿١٧﴾ السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ
ماشومان ، بوډاګان : آسمان به شلید وګے وی په هغه ورځ
كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿١٨﴾ اِنَّ هٰذِهٖ
داده وعده د الله تعالیٰ کړے شوے : یقیناً دا سورت
تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى
نصیحت دے نو د چا چه خوښه شی اونیسی
رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿١٩﴾ اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ
رب خپل ته لاره : یقیناً رب ستا پوهیږی چه یقیناً ته
تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَ
ودریږے : کم د دوو حصو د شپے ، او
نِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ
نیمه د شپے نه : او دریمه حصه د شپے ، او ډیره ډله د
الَّذِيْنَ مَعَكَ ۚ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ
هغو کسانو نه چه تا سره ملګری دی : او الله تعالیٰ اندازه کوی شپے
وَالنَّهَارَ ۚ عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ فَتَابَ
او ورځے لره : پوهه دے چه هیچرے تاسو احاطه نشئ کولے د دے ، نو مهربانی ...
عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ۚ
په تاسو باندے : نو لوئی هغه چه آسان وی د قرآن نه :
عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ وَ
پوهه دے چه خامخا وی به بعضے ستاسو نه : ناجوړه ، او

ع ۱۹ / ۱۲

منزل ۷

... شپه کښے یعنی دوه ثلث . او یا د دریمه په نیمائی کښے یعنی وخت او حذف دے (الوری کبیر ص ...) (۳) نِصْفَهٗ : بدل دے د اَلَّيْل نه او دے مراد لږ دے ، او اِلَّا قَلِيْلًا استثناء د اَلَّيْل نه دے یعنی کل کل قیام مه کوه د نفسه د وجے نه او چه کله قیام کوے نو په نیمائی کښے کوه یا د دغه نه کم کړه یا د دغه نه زیات کړه . شاه ولی الله رحمه الله فرمائی : یعنی اگر ... کم ... باشد (جواهر القرآن ص ...)

وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ : او واضح وایه قرآن په واضح وئیلو سره (شیخ القرآن)

فائده ۱: سیوطی رحمه الله فرمائی چه په دے آیت کښے استحباب د ترتیل د قرآن دے او اشاره دے د جلتی کولو ته په دے باندے (الاکلیل) اِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيْلًا یعنی تا لره په ورځ کښے کرزیدل کول دی په مهمانو او مشاغلو کښے (مدارک ...)

فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا : نو ونیسه هغه لره کارساز . کارجوړونکے ، شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل ... م ... د زړه او د فریاد ... ستا به سر فریاد ... (...)

وَّجَحِيْمًا وَّطَعَامًا ... : دیری د شکمو ... (اغریب ص ...) كَثِيْبًا مَّهِيْلًا ...

عَلَيْكُمْ : حق بیان کولو والا او شاهد والا په تاسو باندے (روح ص ... جواهر ص ...)

(د دے مخ حاشیه)

مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ : شلیدونکے به دی په دغه ورځ (الکوری التسهیل ...) اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ : یقیناً دا

آیتونه د قرآن نصیحت او موعظة دی (خازن ص ... زاد المسیر ص ...) عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ : پوه دے الله تعالیٰ چه تاسو طاقت نه لری د دے (اغریب القرآن ص ...) فائده ۱: شیخ القرآن رحمه الله به فرمائیل چه په دے آیت کریمه کښے د څلور د افراد و ذکر دے . یوه ډله به مالداران وی ، بله به مسافرین وی ، او بله به داعیین وی ، قرآن به بیانوی (باقی بل مخ)

(بقيه: فائده: ابن كثير رحمه الله فرمائي چه قتال ذكر دے سورت د نزول په وخت كښے نه وو مشروع شوے نو دا د نبوت د صداقت د نبوت د نبوت دلائل دي ۲۹) (دا د ے مح حاشیه) سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ: نوم د دا لوبو دلائلو د صداقت د نبوت د محمد ﷺ د امت

اٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ

نور كسان به سفر كوي په زمكه كښے چه لټوي به

مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ

د فضل د الله تعالىٰ نه: او نور كسان به وي چه جنګيږي به

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ

په لاره د الله تعالىٰ كښے: نو لولئ هغه چه اسان وي

مِنْهُ ۙ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

د دے نه: او ودروئ مانځه لره، او وركوئ زكوة لره

وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ۭ وَمَا

او قرض وركوئ الله تعالىٰ ته: قرض ښه (نيك) په اخلاص او هغه

تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ

چه مخكښے ليږئ تاسو د پاره د ځانونو خپلو، د خير نيك عمل ومومئ به د هغے

عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا ۭ وَ

په نزد د الله تعالىٰ هغه غوره، او لوئ اجر والا، او

اسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۲۰

بخښنه غواړئ د الله تعالىٰ نه: يقيناً الله تعالىٰ بخښونكے رحم كونكے دے:

ركوعاتها ۲	اٰياتها ۵۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	سورة المدثر مكية ۷۴

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۱ قُمْ فَاَنْذِرْ ۲ وَرَبَّكَ

اے جامه تاوونكيه: پاڅه نو ويروه خلق: او خاص د رب خپل

فَكَبِّرْ ۳ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۴ وَالرُّجْزَ

لوئي بيان كړه: او جامے خپلے پاكے ساته: او د بتانو عبادت نه

فَاهْجُرْ ۵ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ۶ وَ

ډډه كوه: او احسان مه كوه چه ډيره غواړے بدله د هغه: او

سورت په اولني ايت كريمه كښے ذكر دے. او مكي سورت دے. ترتيب كښے ۷۴ نزول كښے ۴ پس د سورة المزمل نه دے.

دعوى: تخصيص (تيزي وركول) په تبليغ د قرآن باندے دے.

ربط: (۱) مخكښے سورت كښے ترغيب وو قرآن پاك ته نو دلته تيزي وركول دي په رسولو د هغه باندے (۲) مزمل كښے احوال د ښځو اعراض كوونكو كافرانو وو، دا نو دلته د دے امت د معرضينو بيان دے (۳) دے سورت كښے تفصيل د هغه خير دے چه هلته په ۲۰ كښے ذكر وو چه هغه تبليغ او لوستل د قرآن دي (۴) هلته په صبر باندے حكم وو نو دلته هم فرمائي: وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ۷

خلاصه: شيخ القرآن رحمه الله فرمائي چه حاصل د دے سورت اووه امور دي. (۱) تيزي په تبليغ او تسلي نبي ﷺ لره د ۱ نه (۲) تخويف اخروي د ۸ نه (۳) صفات د معاند نه په وخت د لوستلو د قرآن كښے د ۱۱ نه (۴) صداقت د رسول ﷺ او مثال وركول د دے د پاره په سيوري مثل سره د پاره د تسلي په كاملولو سره لكه سيوري مثل اول وړه تري وي بيا ډيره خواسے جوړشي د هغه رنګے ستا ياد به او چتوي (۵) تخويف اخروي په دويم ځل سره د علت د دے نه چه تكذيب دے ۳۵ (۶) نفي د شفاعت قهريه ۴۸ (۷) زجر معرضينو د قرآن نه او ختم د سورت په بشارت د موحدينو ۵۶ (سمط الدرر ص ۱۴۹)

امتيازات: (۱) ذكر د دعوت او د امورو (۲) هر شي په مشيت د الله باندے دے ۵۶ (۳) ذكر د عدد خاص د ملائكو ۳۱ (۴) اوصاف د معاند د ۱۱ نه (۵) علتونه د داخلېدو د جهنم د ۴۳ نه. يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ: په اصل كښے الْمُتَدَثِّرُ وو نو ت بدل شوه په دال سره (باقي په بل مخ)

(بقیه) او دال په دال کښے مدغم شو او دغه معنیٰ د مبالغه ده . دثار هغه جامے ته وائي چه د پاسه د شعار
وي او شعار هغه جامه ده چه جسد سره نږدے وي ، اوګوری مدارك منثور . فائده : اول چه
اقرأ نازل شو نو بیا وحی بنده شوه نو په نبي صلی الله علیه وسلم باندے خفیف
وو نو نبي علیه السلام په غار حراء
کښے معتکف وو بیا راکوز شو
نو اواز ورته او شو نو نبي صلی الله علیه وسلم
روستو اوکتل نو څه نه وو بیا
یے چه پورته اوکتل نو هغه ملک
یے اولید د کوم چه غار حراء کښے
ده لیدلے وو او تمام اسمان
هغه بند کړے وو نو نبي صلی الله علیه وسلم
کورته راغے او خدیجے ته یے
اووئیل چه جامه په ما کړه نو دا حکم
نازل شو نو په اقرأ سره نبي شو
او په دے سورت سره رسول شو
(انفصل منثور) فَاهْجُرْ مراد د
دے نه د عیوب او د ګناهونو نه
بیزاریدل او تیاری کول او کار
شروع کول دي . صرف د خپل
او د رسول مراد نه دي (احسن نبت)
فَأَنذِرْ : دلته مفعول د
تعمیم د پاره حذف دے یعنی
انذر الناس اجمعین یعنی
ویروه خلق ټول په عذاب د
رب العلمین سره د هغے د پاره
چه شریك ورسره جوړوي
(مظهری منثور) وَثِيَابَكَ
فَطَهِّرْ : په دے کښے ډیر اقوال
دي (١) او جامے پاکے ساته
د پلیتئ نه په اوبو سره ځکه چه
مونځ نه صحیح کیږي بغیر د
دے نه (مدارك منثور) یا معنیٰ
مجازي ده (٢) یعنی نفس پاك
ساته (٣) د عمل اصلاح اوکړه
(ذا المرء لم یدنس من اللؤم عرضه)
فکل رداء یرتدیه جمیل
(ابن کثیر منثور) وَلَا تَمْنُن : او
احسان مه کوه یا زیاتے مه کوه . تَسْتَكْثِرُ ، دا مرفوع دے او د لا تمنن د فاعل نه حال دے او د نهی جواب
نه دے ځکه مجزوم نه دے تاسو د الله تعالیٰ استازي یئ او د الله تعالیٰ د طرفه په تبلیغ باندے مامور یئ نو دے وجے
نه تاسو په خلقو باندے د نبوت او تعلیم او تبلیغ احسان مه زیاتوئ چه تاسو ته ډیر دولت حاصل شي ، باقی په بل مخ

تبارك الذي ٢٩ — ١٠١٩ — المدثر ٧٤

لِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴿٨﴾
خاص د رب خپل د پاره صبر کوه ، کله چه پوکی اوشي په شپیلئ کښے
فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى
نو دغه ، په دغه ورځ به ورځ سخته وي ، په
الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾ ذَرْنِي وَمَنْ
کافرانو باندے ، نه وي اسانه ورکښے ، پریږده ما او هغه څوك
خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا
چه پیدا کړے دے ما یواځے ، او ورکړي دي ما ده لره مالونه
مَّمْدُودًا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ
خوارهٔ وارهٔ ، او ځامن حاضر په مجلس کښے ، او تیار کړي دي ما
لَهُ تَمْهِيدًا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴿١٥﴾
ده لره اسباب ، بیا طمع کوي دا چه زیات به ورکړم
كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾
هیڅ نه ، یقیناً دا وو د ایتونو زمونږ سره عناد کونکے
سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُ فَكَّرَ وَ
زر دے چه ورله خیژ کړمه د لوړ غرهٔ او رته ، یقیناً دهٔ فکر اوکړو او
قَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ
اندازے اوکړو ، نو تباه دے کړے شي څنګه یے دا اندازه اوکړه ، بیا
قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ
تباه دے کړے شي څنګه یے اندازه اوکړه ، بیا نظر اوکړو ده ، بیا یے
عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾
تندے تریو کړو او رنګ یے بدل شو ، بیا شا اوګرځوله ده او تکبر یے اوکړو
فَقَالَ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ
نو اووئیل نه دے دا قرآن ، مګر جادو دے نقل کړے شوے ، نه دے

منزل ٧

صفات د معاندینو

(بقيه) ستاسو اجر و ثواب دَ الله ﷻ په ذمه دے او جنت [٣٩] ، (١٠) هيڅ څيز چاړه وړنے اراده مه دکوه
چه دَ هغه عوض کښے به درخوار شے (احسن مت [٣٩]) فائده : په ... دَ ايتونو کښے اداب دَ علم حق
اوبه شه ... کښے تم بعد ... (دَ تيرمخ حاشيه)

هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

دا : مګر وینا دَ بني ادم ده : زر به داخل کړم دوی لره سقر ته

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِيْ وَلَا

او څه شي خبر کړے ته چه څه دے دوزخ ، باقي نه پريږدي هيڅوک او نه

تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ

پريږدي هغه څيز : سوزونکے دے څرمنے لره : مقرر دي په دے باندے نورلس

عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ اَصْحٰبَ النَّارِ اِلَّا

(١٩) ملائک ، او نه دي مقرر کړي موږ دارو غګان دَ اور : مګر

مَلٰٓئِكَةً وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ اِلَّا فِتْنَةً

ملائک ، او نه دے ګرځولے موږ شمار دَ دوی : مګر امتحان

لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ

دَ پاره دَ هغه کسانو چه کفر ئے کړے دے ، دَ دے دَ پاره چه يقين اوکړي هغه کسان

اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

چه ورکړے شوے دے کتاب : او زيات شي هغه کسان چه ايمان ئے راوړے

اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

دَ ايمان کښے : او شک نه کوي هغه کسان چه ورکړے شوے دے کتاب :

وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ

او مؤمنان : — او چه او وائي هغه کسان : چه په

قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ

زړونو دَ هغوي کښے مرض دے : او (نور) کافران — چه څه

اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا كَذٰلِكَ يُضِلُّ

اراده کړے الله تعالیٰ په دے مثال : دغه رنګے ګمراه کوي

اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

الله تعالیٰ هغه چاله چه او غواړي : او هدايت کوي هغه چاله چه اوئے غواړي :

ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيْدًا ؛ دا ايتونه خو دَ وليد بن مغيره په باره کښے دي خو حکم ئے عام دے . مَالًا مَّمْدُوْدًا : په قول دَ ابن عباس رضي الله عنه دَ ده دَ مکے او طائف ترمنځ باغات او جائيداد وو ... پورے خوارۀ شوي وو او په قول دَ نوري رحمه الله دَ ده سل لکه اشرفئ وے دَ بعضو ... ګم هم ښودلي دي (معارف) صَعُوْدًا : غرۀ او رته (حواهر) په دے لوړه چړهائي باندے . يعني کنايه ده دَ احتڼه کولو نه په مشقت باندے . په ... کښے تفسير دَ عناد دَ هغه دے . وَبَسَرَ : او مخ ئے خفه کړو (فضل) او رنګ ئے بدل شو (احسن) او زيات ئے اوکړو په تريو لوا و بوت کولو کښے (مدارک) په ... کښے تفصيل دَ اندازے دَ هغه دے . دَ دے نه عذاب اخروي دے دَ ده لره (دَ دے مخ حاشيه)

لَا تُبْقِيْ وَلَا تَذَرُ : نه به پريږدي غوښے او نه به پريږدي هډوکي (مدارک ...) بلا معني لا نوے ذکر شوي دي . لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ : متغيره کونکے ده څرمنے لره ترو دے چه تور ئے کړي (خازن مت [٣٢٩]) ، عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ : قرطبي رحمه الله وئيلي دي صحيح دا دے چه دا نول به سرداران او نقيبان دي او دَ دوی لاندے بې شماره نور ملائک دي لکه چه روستو راځي . وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ . او دا عدد دَ ډيرو حکمتونو نه ډک دے حروف دَ بسم الله الرحمن الرحيم نورلس[١٩] دي حروف دَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ هم نورلس[١٩] دي (احسن مت [٣٩]) لطيفه : يو سړے مزدور ئے له تلے وو نو چه راغے نو ئے ورته اوو ګنے خو مره روپئ دِ ګټلے دي نو هغه اوويل نورلس[١٩] نو ئے يوه روپئ ساتلے وه (باقي په بل مخ)

(بقيه) هغه ئے وړله ورکړه او دے وئیل چه بے تو به و شل نکړے. حاصل دا چه ملائک الله تعالیٰ دی بغیره الله نه ئے شل کولے نه شي. اصحٰب النار: خشية القرآن رحمه الله په معنیٰ کړله. مقرب په

وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِيَ إِلَّا

او نه پوهیږی لښکرو د رب ستا مگر هغه. او نه ده دا مگر

ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۝٣١ كَلَّا وَالْقَمَرِ ۝٣٢ وَاللَّيْلِ إِذْ

پند د پاره د انسانانو: حقه دا او قسم دے په سپوږمئ او په قسم په شپه چه

أَدْبَرَ ۝٣٣ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ۝٣٤ إِنَّهَا لَإِحْدَى

شا اوګرځوي: او په صبا باندے کله چه رڼا اوکړي: یقیناً دا دوزخ یو د

الْكُبَرِ ۝٣٥ نَذِيْرًا لِّلْبَشَرِ ۝٣٦ لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ

لویو شیانو نه دے، ویرونکے د پاره د انسانانو: د هغه چا د پاره چه خواړي ستاسو نه

أَنْ يَّتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ۝٣٧ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا

چه مخکښے شي یا وروستو شي: هر نفس په هغه عمل چه

كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ ۝٣٨ إِلَّا أَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ ۝٣٩

کړے ئے دے، ګروه به وي: مگر خاوندان د ښي طرف:

فِيْ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَاءَلُوْنَ ۝٤٠ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝٤١

په باغونو کښے به وي: تپوس به کوي د یو بل نه: په حق د مجرمانو کښے:

مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ۝٤٢ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ

څه شي داخل کړی یئ تاسو لره په دوزخ کښے: او به وائي دوي نه وو مونږ د

الْمُصَلِّيْنَ ۝٤٣ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ۝٤٤

مونځ کوونکو نه: او نه وو مونږ چه طعام مو ورکړو مسکین ته:

وَكُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ۝٤٥ وَكُنَّا

او وو مونږ چه مشغولیدو به سره د عبث مشغولیدونکو: او وو مونږ

نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝٤٦ حَتّٰى أَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ۝٤٧

چه تکذیب مو کولو په ورځے د بدلے: ترو ے چه راغلو مونږ ته مرګ:

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ۝٤٨ فَمَا لَهُمْ

نو نفع به نه ورکوي دوي ته شفاعت د شفاعت کوونکو: نو څه دي دوي لره

منزل ۷

اور مظهری ص۱۳۹ کښے دي چې غوښه ئے ازت د تورات ئے ایت نه پنځه قائشت د هغه ص و ذکر کوي. فائده: د الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ نه مراد حاملان د تورات او د انجیل دي او د الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا نه بخواني مؤمنان او د الْمُؤْمِنُوْنَ نه د ئے امت مؤمنان او د مرضیانو نه مراد منافقات او د کافرون نه عام کافران مراد دي. پهٔ اضلال بقره ص۲۶ اګوری.

(د د ے مخ حاشیه)

كَلَّا وَالْقَمَرِ: حقه دا او سپوږمئ ګواه دے. د دریواړو قسمونو جواب یا لتركبن طبقا عن طبق محذوف دے اوګوری ص۱۹ انشقاق یا اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ دے. فائده: شيخ القرآن رحمه الله بفرمائیل چه ستا مثال د سپوږمئ دے په اول کښے نښی لیدلے شي نظر راز ټکے ابوبکرؓ او په دوهم درجه کښے زیدؓ او چه کله کامله شي نو هر څوک ئے وینی په مدینه کښے به ستا دین خور شي او سپوږمئ په دیرشم کمیږي نو ته به هم د دنیا نه ځے. اِنَّهَا لَاِحْدَى الْكُبَرِ: دا دوزخ یا دا آیتونه او دلیلونه د قرآن یو د لویو هیبتناکو څیزونو نه دي. په ص۳۰ کښے تخويف دے. اِلَّا اَصْحٰبَ الْيَمِيْنِ: مگر خاوندانان د ښي طرف دا بشارت دے. لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ: نه وو مونږ چه عقیده مو ساتله د فرضیت د مانځه (مدارک ص۳۱۳ ج۴) اَلْيَقِيْنُ: ترو ے چه راغے مونږ له مرګ (خازن، مدارک تسهیل، بحر، ماجدی، الهام ص۶۱۳) په ص۴۸ کښے نفی د شفاعت قهری د ص۴۹ نه زجر معرضینو د قرآن لره دے. او په آخر کښے بشارت دے. تذكره: اوګورئ مزمل ص۱۹.

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ : نوم ئے په اوّلنی آیت کښے ذکر دے مکی سورت دے ترتیباً پس د مدثر نه دے او نزولاً
پس د قریش نه ۳۱. او دَ دے سورت نه لسم پاره د خلورمے حصے دے او په دے کښے دوہ سورتونه دی.

عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ
دَ نصیحت (قرآن) نه مخ اړونکی دی : گویا که دوی خرہ دی
مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ
تښتیدونکی : چه تښتیدلی وی دَ مزری نه : بلکه اراده لری
كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾
هر یو کس دَ دوی نه : چه ورکړے شی دَ ده ته پاڼے خورے کړے شوے
كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّا إِنَّهُ
هیچرے نه بلکه نه ویریږی دوی : دَ آخرت نه : یقیناً دا قرآن
تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿٥٥﴾ وَمَا يَذْكُرُونَ
نصیحت دے : نو د چا چه خوښه شی یاد دِ کړی دا : او دوی نشی اخستے نصیحت
إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾
مگر چه او غواړی الله تعالیٰ : دا لائق دے : چه ویره ترے او کړے شی او لائق دے د بخښنے کولو د

آیاتها ۴۰	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	سورة القیٰمة مکیة ۳۱
رکوعاتها ۲		

لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴿١﴾ وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ
نه دوے قسم کوم په ورځ دَ قیامت : او نه دوے قسم کوم په نفس
اللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّن نَّجْمَعَ
ملامت کونکی باندے : آیا گمان کوی انسان : چه هیچرے را جمع به نکړو موږ
عِظَامَهُ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَادِرِينَ عَلَىٰ أَن نُّسَوِّيَ
هډوکی دَ ده : ولے نه : قدرت لرونکی یو په دے باندے چه برابر کړو
بَنَانَهُ ﴿٤﴾ بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ ﴿٥﴾
سرونه دَ گوتو دَ ده : بلکه اراده لری انسان : چه گناه او کړی په مخے تلل ته :
يَسْأَلُ أَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾
تپوس کوی چه کله به وی ورځ دَ قیامت : نو کله چه برګے شی سترگے :

دعوی : اثبات دَ قیامت دے.
ربطونه : (۱) مخکښے زجر وو اعراض کونکو قرآن نه نو دلته وبله تخویف دے (۲) مخکښے تکذیب دَ دوی دَ قیامت نه ذکر وو نو دلته رد دے په منکرینو. او مکذبینو دَ قیامت باندے.
(۳) مخکښے تخویف اخروی وو نو دلته احوال دَ آخرت ذکر کوی. خلاصه : اهم امور په دے سورت کښے اووه دی.
(۱) دوه شواهد دَ پاره دَ دعوے دَ سورت (۲) زجر منکرینو ته دَ نه او علامے دَ قیامت (۳) مثال دَ پاره دَ دعوے دَ سورت (۴) بشارت او تخویف دَ مئا نه (۵) دَ نزع حالت تخویف دَ نیوی نه (۶) زجر په انکار دَ خلورو شیو دَ مئے نه (۷) آخر کښے بیا زجر دے په انکار دَ قیامت. فائده : شیخ القرآن رحمه الله فرمائی چه آخرنی دَ سورت مرتبط دے دَ اول سر سره په اثبات دَ دعوے کښے (سطع الدرر ۳۹۱) امتیازات (۱) قسمونه دَ مخونو ۳۲۳ (۲) حالت دَ نزع دَ انسان دَ مئے نه (۳) جمع والے دَ هډوکو (۴) جمع والے دَ نمر او دَ سپوږمئی (۵) جمع والے دَ قرآن په سینه دَ نبی علیه السلام کښے. لَآ اُقْسِمُ : لَآ په مقام دَ قسم کښے زائد عادت دَ عربو دے. اکثر په منځ دَ کلام کښے او په اول دَ کلام کښے هم کله کله راځی ځکه چه دا کلام دَ الله دَ مخکښے کلام سره په ربط او ترتیب سره ذکر کړے شوے

لکه چه مخکښے سورت کښے تکذیب دَ قیامت نے ذکر کړو نو دلته فرمائی لَآ : یعنی تکذیب نه دے جائز نو په دے کښے نفی دَ انکار سابق دے (احسن ...) تهانوی رحمه الله فرمائی چه نشته حاجت قسم کولو ته (تحبیر الرحمٰن ...)
دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه (صحیح دادے) قسم کوم او لَآ زائد دے لکه په لِئَلَّا يَعْلَمَ (باقی په بل مخ)

(بقیه) اوګورئ مدارک ص۳۰۳ «بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ» او قسم کوم په نفس ملامت کوونکي چې ګناه اوکړه نو ځان ملامتوي او ویاسي. اوګورئ آل عمران ص۱۳۵. جواب د قسم محذوف دے «لَتُبْعَثُنَّ» چې خامخا ـ

وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾

او تیاره شي سپوږمۍ ، او راجمع کړے شي نمر ـ او سپوږمۍ ،

يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا

وائي به انسان په دغه ورځ چرته دے ځائ د تیښتې ، هیچرې ،

لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾

نشته پناه ځائ ، طرف د رب ستا ته په دغه ورځ ځائ د قرارې دے ،

يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾

خبر به ورکړے شي انسان ته په دغه ورځ په هغه عمل چې وړاندې ئې لیږلے او وروستو ئې پریښے ،

بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ

بلکه انسان په نفس خپل باندې ښه بینا لیدونکے دے ، اګرچه

أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ

راوړي ډیرې بهانې خپلې ، مه خوزوه په دے قرآن سره ژبه خپله

لِتَعْجَلَ بِهِ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴿١٧﴾

چې جلتي اوکړې په ده سره ، یقیناً په مونږ باندې دے جمع کول د ده او لوستل د ده ،

فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا

نو کله چې اولولو مونږ دے لره ، نو تابعداري د لوستلو د ده کوه ، بیا یقیناً په مونږ باندې دے

بَيَانَهُ ﴿١٩﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَ

واضح کول د ده ، هیچرې نه ، بلکه مینه کوئ تاسو د دنیا سره ، او

تَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾

پریږدئ اخرت لره ، ډیر مخونه به په دغه ورځ تازه وي ،

إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾

رب خپل ته به کتونکي وي ، او ډیر مخونه به په دغه ورځ تروه وي ،

تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّا إِذَا

ګمان به کوي چې کړے شي به دوي سره ملا ماتونکے مصیبت ، هیچرې نه ، کله چې

منزل ۷

یقیناً راپورته به کړے شئ ویل شوي دي ، اوګورئ مدارک ص۳۰۴ «بَنَانَهُ» ښه جوړ کړو ئې د ده تخصیص دے پیدا ، شوي اندامونو اوکړو د وجې د نرۍ والي د هغې د کومې د دیو اوجلې اوالي د دیو اوسې ص۳۰۳ «لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ» انکار اوکړي په هغه چې مخې ته ورته دي چې دوباره ژوندي کول او حساب دے او هغې ته هیڅکلې اوکړي ګناه هغه به او ړاوړي رساني ګرګے (مدارک ص۳۰۴)

(ذکر شوي حاشیه)

«وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ» او جمع کړے شي نمر او سپوږمۍ دواړه په دې ... ځنې ګنې زنړے لا رانشي (قرطبي ص۹۰) ، ځنې خسوف په رانشي ، په جمع کړے او شي د دواړو ما بین ګنې په رانځلو ګنې ملنکل ، «لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ» ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې نبي صلی الله علیه وسلم به کله چې وحي نازلیدله نو ملا وینا به ترینه د تکلیف سره او دا به ئې د شونډو د خوزیدو نه معلومیده ـ وروسته چې دا ولی سره به ترینه هیر نشي تحقیق د فراغت د اخره نه الله تعالی دا آیت راولیږلو (ابن کثیر ص۴۴۹) د دے آیت ګنې وله تسلی ده او ادب د آورېدلو د قرآن دے حدیث ګنې د شونډو د خوزیدو ذکر دے او قرآن ګنې د ژبې تحرکه چې شونډو ته تبعاً په بعضې حروفو ادا کولو ګنې د ژبې سره خوزي وصعاً ونت ورسره کوي (ط حاشیه)

«إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ» یقیناً زمونږ په ذمه جمع کول د قرآن دي ستا په سینه ګنې او لوستل دي ستا په ژبه باندې «وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ» د دے آیتونو نه ثبوت د دیدار د باري تعالی دے او دا په احادیثو صحیحو متواترو سره ثابت دے ـ اوګورئ قرطبي ص۱۹ ج۱۹ ، ابن کثیر ص۴۵۰ ، التسهیل ص۱۶۵ ، زاد المسیر ص۴۲۸ ـ (باقي په بل مخ)

(بقيه) كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ ... يو مصيبت دے چه د ملا هډو کي ماتوي (مدارك صفحه) طيو القرآن رحمه الله فرمائيلي چه خيال به کوي چه د سختۍ نه د ملا هډوکے مات شويدے (د دے شرح حاشيه) وَالْتَفَّتِ السَّاقُ

بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَ

او وبه ويلے شي څوک دے دم کوونکے : او

ظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾

گمان به او کړي چه يقيناً او وخت د جدائي دے : او بيوست به شي پنډۍ د خپے پنډۍ سره :

إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَ

ربستيا نه په دغه ورځ چليدل (تلل) دي : نو نه وه د ده تصديق کړے او

لَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ

نه ئے مونځ کړيدے : او لاکن تکذيب ئے کړيدے او مخ ئے اړولے دے : بيا

ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ

لاړو به طرف د اهل خپل چه اوړې کوي : هلاکت دے تا لره :

فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ

نو هلاکت دے : بيا هلاکت دے تا لره : نو هلاکت دے : آيا خيال کوي

الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ

انسان : چه پريښے به شي بے کاره (عبث) : آيا نه وو دے :

نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً

نطفه (څاڅکے) د مني نه چه تو ييدے شي په رحم کښے : بيا شو ټکړه د وينے

فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ

نو جوړ ئے کړو نو برابر ئے کړو : نو ئے گرزول د هغه نه : جوړے

الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ

نارينه او زنانه : آيا نه دے : دغه ذات : قدرت لرونکے : په

أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

دے باندے چه ژوندي به کړي مړو لره :

آياتها ٣١	بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ	سُورَةُ الدَّهْرِ مَدَنِيَّةٌ ٩٠	ركوعاتها ٢

اوپورته کړي شي پنډۍ د پلے پنډۍ سره او عبارت دے د سختۍ د مصيبتونو د مرګ نه او ګورئ تسهيل صفحه ١٥١. د کره نه ورله زجر دے په نا کاره صفتونو باندے. أَوْلَىٰ لَكَ: تکرار د پاره د تاکيد دے. او څلور څيزونه دي. ويل لك يوم الموت وويل لك في القبر وويل لك حين البعث وويل لك في النار. (مدارك صفحه) أَن يُتْرَكَ سُدًى آيا خيال کوي انسان چه پريښودے به شي عبث بيکاره چه نه به ورته څه امر کولے شي او نه څه نهي او نه به دوباره ژوندي کيږي او نه به بدله ورکولے شي (مدارك صفحه) ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً او ګورئ تحويلت مومنون ١٣. أَلَيْسَ ذَٰلِكَ: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه څوک لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ اولولي او د آخر ئي أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ته نو ورته دې وائي بَلَىٰ وايي نه (قاسمي صفحه)

سُورَةُ الدَّهْرِ

نوم ئے په اولني آيت کښے ذکر شوے دے په ترتيب کښے ٩٨ په نزول کښے پس د سورة رحمن نه. مکي سورت دے. دعوىٰ: اثبات د قيامت دے په تمثيل سره د ربطونه (١) په مخکښے سورت کښے په اثباع د قيامت شواهد نه پيش کړي وو دلته ئے اثبات په تمثيل سره کوي (٢) مخکښے مينځ کښے صرف د قرآن ذکر وو ١٦ او دلته په آخر کښے په ٢٣ کښے ذکر کوي (٣) مخکښے کښے بشارت مختصره ذکر شوے وو ٢٢ ـ ٢٣ کښے دلته ئے تفصيلاً بيانوي د ٥ نه ٢٢. خلاصه: په دے سورت کښے څه خبرے او وه دي (١) مثال ٣ (٢) تخويف ٤ (٣) بشارت د ٥ نه تفصيلاً او د نيکانو صفات. (٤) ترغيب قرآن نه ٢٣ ـ ٢٩ (٥) تسلي ٢٤ (٦) مسئله د توحيد ٢٥ (٧) زجر په مينه د دنيا ٢٧ (باقي په بل مخ)

